الدر المنضود

على

سنن أبي داود

افادات

حضرت مولانا محمد عاقل صاحب

صدر مدرس مظاہر العلوم سہارنپور، ہند

خصوصیات



الدر المنضود

فی حل

سنن أبي داؤد

افادات:- حضرت مولانا محمد عاقل صیب
صدرمدرّس مظاهرالعلوم سهارنپور(هند)

مترجمین:
[رفقاء] دار التصنيف والتحقيق

زیر نګرانی
مولانا شاه فیصل فاضل وفاق المدارس

پښتو..............................دریم جلد

خصوصیات

① دکتاب په اول کښې د اصول حدیث مفیده مقدمه.
② د بذل المجهود شرح أبي داود عربی شرحي خلاصه اونجوړ
③ د متن ټولو احادیث ته اعراب ورکول
④ د هرکتاب په اول کښې هغې سره متعلقه ضروری مباحث.
⑤ د هر حدیث تخریج د مصدر، کتاب او رقم په حوالې سره.
⑥ د مشکلولغاتو حل.
⑦ په فقهی مباحثوکښې د مذاهبو بیان.
⑧ دفریق مخالف دلائل
⑨ د فریق مخالف ددلائلو ښخه جوابونه.
⑩ د مذهب حنفی دلائل او وجوه ترجیح.

خوړونکی
فیصل کتب خانه محله جنګی پیښور

د کتاب نوم: الدر المنضود في حل سنن أبي داؤد

مؤلف: حضرت مولانا محمّد عاقل صاحب دامت برکاتہم

زیرنګراني:- مولانا شاه فیصل فاضل وفاق المدارس

خورونکی : فیصل کتب خانه محله جنګی پیښور

دملاویدو پتې

- مکتبه فخر الدین رازی هرات [نمائندہ فیصل کتبخانه درهرات]
- جدید اسلامی کتب خانه خوست
- المصباح کتب خانه کابل
- روغانیوال کتب خانه جلال آباد
- رحیمی کتب خانه خوست
- حرم کتب خانه کابل
- فلاح کتب خانه جلال آباد
- موئے مبارک کتب خانه غزنی
- مکتبه خواجه عبدالله انصاری غزنی
- واحدی کتب خانه خوست
- مکتبه رحمانیه قندهار
- دعوت کتب خانه جلال آباد
- تقوٰی کتب خانه جلال آباد
- نعمت کتب خانه کابل
- شریف الله کتب خانه کابل
- حقانیه کتب خانه ګردیز
- مسلم کتب خانه جلال آباد
- مکتبه نعمانیه غزنی
- ګودر کتب خانه جلال آباد
- مسلم کتب خانه خوست
- حاجی سردار کتب خانه کابل
- مکتبه رشیدیه کابل

خپرونکي

فیصل کتب خانه

مدینه تاور محله جنګی پیښور قصه خوانئ پیښور

موبائیل ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

فهرست ابواب و مضامین

شمار	مضمون	صفحه

شمار	مضمون	صفحه

شمار	مضمون	صفحه

....

....

باب التأمين وراء الإمام

باب دی په بیان د امین کې وروسته د امام نه

د آمين په باره کښې څو بحثونه دی اولاً هغه واورئ د دينه روستو مشهور اختلافي مسئله آمين بالجهر والسر به بيان کړو.

۱. آمين د قرآن کريم يا د سوره فاتحې جزء دې يا نۀ دې.

۲. دلفظ د آمين لغوي معنى او لفظي تحقيق.

۳. په مانځه کښې د آمين شرعي حکم.

۴. په مانځه کښې آمين وئيل د چا دپاره شته او د چا دپاره نشته.

۵. د آمين استحباب بالجهر دې يا بالسر

اول بحث

په دې باندې د مفسرينو اتفاق دې چه لفظ د آمين نۀ خاص د سوره فاتحې جزء دې او نۀ د مطلق قرآن ځکه چه قاعده دا ده چه د سوره فاتحه په ختميدو باندې معمولي سکته نه پس مفصولا دې لره لوستلې شي دې دپاره چه د غير قرآن د قرآن سره خلط رانۀ شي.

دويم بحث

په دې کښې مختلف لغات دی.

(۱) مشهور آمين دې د همزې په مد او په تخفيف د ميم سره.

(۲) امين د همزې په قصر سره او تخفيف د ميم.

(۳) آمّين د همزې مد او تشديد د ميم سره دأمّ يَؤُمُّ نه داسم فاعل د جمع صيغه ده يعنی قاصدين، مطلب به دا وی چه ای الله مونږ ستا قصد کونکې يو.

خو دا دې واضحه وی چه دا قول د جمهورو خلاف شاذ او مردود دې بلکه ليکلې ئې دی چه، انها من لحن العوام.

آمين د اسماء افعال نه دې او امر دې په معنى د اسمع و استجب، او وئيلې شوې دی چه د دې معنی، فليکن کذالك ده او دا هم وئيلې شوې دی چه، انه اسم من اسماء الله تعالى، او د دينه وړاندې حرف نداء مقدر ده يعنى آمين، خو دا قول ضعيف دې، او وئيلې شوې دی چه دا مُعَرب دې دفارسي دلفظ، همين است، نه.

دريم بحث

آمين وئيل د جمهورو په نيز مستحب يا سنت دې او عند الظاهريه واجب او د روافضو په نيز بدعت او مفسد د صلوة دې، دابن حزم ظاهری په نيز د امام په حق کښې سنت او د مقتدی په حق کښې فرض دې.

څلورم بحث

د ائمه ثلاثه په نيز د سوره فاتحې نه پس په مانځه کښې آمين وئيل دامام او منفرد او مقتدی ټولو په حق کښې سنت دې، د امام مالك په دې کښې مختلف روايات دی د دوئ مشهور قول دا دې چه آمين د غير امام دپاره دې د امام په حق کښې مشروع نۀ دې، او يو

روایت د دوئ نه دا دې چه په امام باندې صرف په سرى مونځونو کښې دې جهرى کښې نهٔ دې، دریم روایت د جمهورو په مثل دې.

پنځم بحث

داحنافو په نیز باندې آمین مطلقا بالسر دې او امام احمد مطلقا د جهر قائل دې، او حضرت امام شافعي د امام په حق کښې د جهر قائل دې او د مقتدى په حق کښې د دوئ نه دوه روایتونه دي، قول قدیم کښې جهر دې او د دوئ په نیز په دې باندې فتوى ده، او قول جدید کښې سرا دې، دا ټول اختلاف په جهرى مونځونو کښې دې او په سرى مونځونو کښې آمین په اتفاق سره سرا دې.

[۹۳۲]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ سَلَمَةَ، عَنْ حُجْرٍ أَبِي الْعَنْبَسِ الْحَضْرَمِيِّ، عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَرَأَ: وَلَا الضَّالِّينَ سورة الفاتحة آية ٧، قَالَ: آمِينَ وَرَفَعَ بِهَا صَوْتَهُ".

ترجمه: د وائل بن حجر نه روایت دی هغه ویلي دي وو رسول الله ﷺ چې کله به یي ولوستلو و لا الضالین، هغه به ویل: آمین. او خپل اواز به یي اوچت کړو.

تشریح: قوله:حدثنا محمد بن کثیر انا سفیان عن سلمة عن حجر ابی العنبس عن وائل بن حجر قال کان رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا قراء ولاالضالین قال آمین و رفع بها صوته، د وائل بن حجر د دې حدیث نه شافعیه وغیره په خپل مسلك باندې استدلال کوی.

د شافعیه اهم مستدل

دې حضراتو سره په دې مسئله کښې یو بل حدیث دابوهریره رضی الله عنه دې د کوم تخریج چه دار قطنی او حاکم کړې دې او هغه د دوئ اهم دلیل دې، اصل استدلال د دوئ د هغې نه دې نو ځکه حافظ ابن حجر په خپل مشهور تصنیف بلوغ المرام کښې اولاً په دې سره استدلال کړې دې، او امام بخاری په دې مسئله کښې په یو بل حدیث سره استدلال کړې دې کوم چه په دې باره کښې غیر صریح او غیر واضح دې بلکه هغه محض د دوئ یو استنباط دې کوم چه دلته په ابوداؤد کښې هم راروان دې مونږ به ئې هلته په رسیدلو سره اوښایو.

په حدیث د وائل باندې کلام

اوس تاسو د باب ړومبي حدیث د وائل دحدیث متعلق واورئ، زمونږ د طرف نه په جواب کښې وئیلې شوې دی چه دا حدیث مضطرب دې ځکه چه د دې روایت کونکی دوه دی، سفیان ثوری او شعبة بن الحجاج، دواړه لوئې محدث او امامان دی، سفیان ثوری دې حدیث لره رفع بها صوته سره او د دوئ معاصر او هم پله یعنی شعبه دې لره خفض بها صوته سره نقل کوی، د تعارض په صورت کښې د ترجیح وار راغلو هغه حضرات د سفیان ثوری روایت ته ترجیح ورکوی او احناف د دې برعکس دشعبه روایت ته د ترجیح قائل دی.

د شعبه په حدیث باندې د امام بخاری نقد او زمونږ د طرف نه د دې جواب

حضرت امام بخاری رحمه الله د سفیان روایت لره ترجیح ورکوی او دا لاندینی وجوهات بیانوی

[1]: سنن الترمذي/الصلاة ۷۲ (۲٤۸)، (تحفة الأشراف: ۱۱۷۵۸)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الافتتاح ٤ (۸۸۰)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٤ (۸۵۵)، مسند احمد (۳۱٦۷٤)، سنن الدارمي/الصلاة ۳۹ (۱۲۸۳) (صحيح)

کوم چه امام ترمذی رحمه الله په سنن ترمذی کښې نقل کړې دی. و حدیث سفیان اصح من حدیث شعبة و اخطاء شعبة فی مواضع من هذا الحدیث، او بیا د دې نه پس د شعبه د اوهامو نشاندهی فرمائی.

اول دا چه هغوی په سند کښې عن حجر ابی العنبس وئیلې دې حال دا دې چه صحیح حُجر بن العنبس دې، او فرمائیلې ئې دی چه د حجر کنیت ابوالعنبس نۀ دې بلکه د دوئ کنیت ابوالسکن دې، ۲، شعبه دا غلطی کړې ده چه هغوی د حجر بن العنبس او د وائل په مینځ کښې د علقمه اضافه کړې ده حال دا دې چه داسې نۀ ده بلکه حجر بن العنبس براه راست د وائل بن حجر نه روایت کوئ، ۳، شعبه خفض بها صوته نقل کړې دې حال دا دې چه صحیح مد بها صوته دې[1] زمونږ دطرف نه په دې کښې دهرې یوې خبرې جواب ورکړې شوې دې،

(د احنافو د طرفه جوابونه)

۱، دا خبره صحیح نه ده چه صحیح حجر بن العنبس دې او ابوالعنبس غلط دې چنانچه ابن حبان د دوئ کنیت ابو العنبس لیکلې دې، په خپله حافظ ابن حجر په تهذیب التهذیب او تقریب دواړو کښې لیکلی دی او پاتې شوه دا خبره چه د دوئ کنیت ابوالسکن دې نو د دې مقتضی دا نۀ ده چه د دوئ کنیت دې ابوالعنبس نۀ وی دواړه کیدې شی لکه چه څنګه د حضرت علی رضی الله عنه دوه کنیت دی ابوالحسن او ابوتراب، دغه شان د سنن ابوداؤد په ټولو نسخو کښې په خپله د سفیان روایت کښې عن حجر ابی العنبس واقع دې څنګه چه د شعبه په روایت کښې دی.

هم دغه شان علامه شوق نیموی فرمائی چه شعبه ابوالعنبس په وینا کولو کښې متفرد نۀ دې بلکه د دۀ متابعت کړې دې محمد بن کثیر او وکیع او محاربی، دا ټول رواة د سفیان ثوری نه هم داسی روایت کوی کما فی البیهقی والدار قطنی،

او د محمد بن کثیر روایت خو په خپله دلته په ابوداؤد کښې دې چه هغی طرف ته ړومبې هم اشاره شوې ده.

۲، د دې جواب دا دې چه دا نقد صحیح نۀ دې بلکه کیدې شی چه د حُجر روایت د دواړو نه وی اولاً هغه دا په واسطه د علقمه روایت کوی او بیا ورته د سند علو حاصله شوې وی او براه راست د وائل نه روایت کوی، علامه شوق نیموی فرمائی چه دا روایت په دواړه شانه دې بالواسطه او بلا واسطه، مُسند احمد او مسند ابوداؤد طیالسی کښې د دې تصریح شته دې، چنانچه په دې دواړو کتابونو کښې داسې دی، سمعت علقمة یحدث عن

---

[1] د امام بخاری په دې باره کښې یو اشکال دا هم منقول دې چه د شعبه په روایت کښې علقمه دې حال دا دې چه د علقمه سماع د خپل پلار وائل نه ثابته نۀ ده، د دې جواب زمونږ د طرف نه دا ورکړې شوې دې چه دا خبره د تحقیق خلاف ده، تحقیقی خبره دا ده چه د وائل دوه ځامن دی علقمه او عبد الجبار، عبدالجبار وړوکې دې د دوئ سماع واقعی د خپل پلار نه ثابته نۀ ده، علقمه لوئې دې د دوئ سماع د خپل پلار نۀ ثابته ده، امام ترمذی رحمه الله په کتاب الحدود کښې د پورته ذکر شوې مضمون تصریح کړې ده د هغې تفصیل زمونږ په نیز په رفع یدین په بحث کښې تیر شوې دې. والله اعلم بالصواب.

وائل و سمتعت وائلا.
۳، دا خبره چه شعبه مد بها صوته په ځائې خفض بها صوته په غلطئ سره نقل کړې دې ډیره عجیبه ده ځکه چه دا خو ستاسو بعینه دعوی او متنازع امر دې عین مدعٰی لره وجه د ترجیح څنګه جوړولې شی، چه څنګه تاسو خفض بها صوته وایئ ستاسو خصم درفع بها صوته په حقله هم دا وئیلې شی او په دلیل کښې د شعبه روایت پیش کولې شی.
واخلئ د امام بخاری رحمه الله بیان کړې شوې وجوه د ترجیح ټول ختم شول.

دعوی البیهقی

شوافعو حضراتو د سفیان د روایت یوه وجه د ترجیح بله بیان کړې ده هغه دا چه قال البیهقی لا اعلم خلافا بین العلماء انهم قالوا ان سفیان و شعبة اذا اختلفا فالقول قول سفیان، او بیا د دینه پس د دې په ثبوت کښې هغوی د یحیٰ بن سعید قول پیش کړې دې، لیس احد احب الی من شعبة و لا یعدله عندی احد و اذا خالفه سفیان اخذت بقول سفیان، په دې باندې زمونږ د طرف نه وئیلې شوې دی، کما فی البذل) دا خو صرف د یحیٰ القطان قول او د هغوی رائې شوه په دې سره اجماع څنګه ثابت شوه. غرض دا چه فریقینو د دې دواړو په یو بل باندې فوقیت باندې د ائمه حدیث اقوال پیش کړې دی.

شوق نیموی حنفی

علامه شوق نیموی فرمائی چه په دې دواړو کښې د یو ترجیح په بل باندې متفق علیه نۀ ده بلکه د دواړه قسمه اقوال د ائمه فن نه ملاویږی، د بعضو نه د شعبه ترجیح معلومیږی په سفیان باندې او د بعضو نه د دې په عکس، هغوی فرمائی چه زما په ذهن کښې د شعبه روایت یوه ډیره ښۀ وجه د ترجیح ده او هغه دا چه سفیان ثوری اګر که ثقه او حجة دې خوځنې وختونو کښې هغه تدلیس کوی،
قال الذهبی انه ربما کان یدلس عن الضعفاء و لکن له نقد و ذوق، او هغه دا په عن سره روایت کوی او د شعبه عادت د تدلیس نۀ وو، لاعن الثقات و لا عن الضعاف، او دی باوجود هغه په لفظ د اخبار سره روایت کوی.

د حافظ ابن القیم بیان کړې وجه د ترجیح

دغه شان حافظ ابن القیم په اعلام الموقعین کښې د سفیان د روایت وجه د ترجیح یوه دا بیان کړې ده چه علاء بن صالح او محمد بن سلمة بن کهیل دې دواړو د دۀ متابعت کړې دې، د دې جواب دا دې چه علاء بن صالح د ثقاتو نه نۀ دې په تقریب التهذیب کښې ئې لیکلې دی چه، صدوق له اوهام و قال الذهبی فی المیزان قال ابوحاتم کان عنق الشیعة و قال ابن المدینی روی احادیث مناکیر، او هم داسې محمد بن سلمه هم ضعیف دې لهذا دا متابعت مفید نۀ دې.
حضرت رحمه الله په بذل کښې فرمائی که کوم سرې د سفیان په متابعت کښې علی بن صالح پیش کړی لکه چه د دې باب په حدیث ثانی کښې راروان دی نو د دې جواب دا دې چه علی بن صالح خو واقعی ثقه دې خو په صحیح سند کښې علاء بن صالح دې لکه چه په نورو

کتابونو د حدیث سنن ترمذی او مصنف ابن ابی شیبه نه معلومیږی بلکه حافظ تصریح کړې ده په دې خبره باندې چه د ابوداؤد روایت وهم دې او د علاء په باره کښې اوس تیر شو چه هغه ضعیف دې.

د شافعیه یو بل دلیل

دې حضراتو د خپل مذهب په تائید کښې ځنې نور احادیث هم پیش کړې دی مثلا حدیث د ابوهریره رضی الله عنه کوم چه دار قطنی او حاکم روایت کړې دې، کان النبی صلی الله علیه وسلم اذا فرغ من قراءة ام القران رفع صوته و قال آمین، حاکم وائی دا حدیث صحیح او علی شرط الشخین دې او دا هغه حدیث دې د کوم طرف ته چه زمونږ په نیز اشاره د باب په شروع کښې راغلې ده او دا چه دا د دوئ اهم مستدل دې، چنانچه په سبل السلام په شرح د بلوغ المرام کښې امیر یمانی (اهل حدیث) فرمائی چه، والحدیث حجة بینة للشافعیه، د دې جواب زمونږ د طرف نه په آثار السنن کښې علامه شوق نیموی دا ورکړې دې چه حافظ ابن القیم ته د حاکم د تصحیح نه دهوکه شوې ده چنانچه هغه په اعلام الموقنین کښې فرمائی چه، رواه الحاکم باسناد صحیح، حال دا دې چه د دې حدیث په سند کښې اسحاق بن ابراهیم چا ته چه اسحاق بن زبریق هم وئیلې شی دا ډیر ضعیف دې، ضعیف جدا، د صحاح سته په مصنفینو کښې چا هم د هغهٔ نه روایت نهٔ دې اغستې، و ضعفه النسائی و ابوداؤد و کذبه محمد بن عوف الطائی و قال الحافظ فی التقریب صدوق یهیم کثیرا.

تاسو ته د دې روایت حال معلوم شو او حافظ ابن حجر په بلوغ المرام کښې په دې مسئله کښې صرف دا یو حدیث او دویم د وائل بن حجر حدیث ذکر کړې دې.

[۹۳۳](۱)حَدَّثَنَا مَخْلَدُ بْنُ خَالِدٍ الشَّعِيرِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ نُمَيْرٍ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ صَالِحٍ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ كُهَيْلٍ، عَنْ حُجْرِ بْنِ، عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ، أَنَّهُ صَلَّى خَلْفَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "فَجَهَرَ بِآمِينَ، وَسَلَّمَ عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ شِمَالِهِ حَتَّى رَأَيْتُ بَيَاضَ خَدِّهِ".

د وائل بن حجر نه روایت دی، بېشکه هغه مونځ وکړو وروسته د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه، نو جهریې وکړو په آمین سره، او سلام یې وګرځولو ښي خوا ته، او چپ خوا ته تردې چې ما ولیدلو سپینوالی د اننګو د هغه.

[۹۳۴](۲)حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، أَخْبَرَنَا صَفْوَانُ بْنُ عِيسَى، عَنْ بِشْرِ بْنِ رَافِعٍ، عَنْ أَبِي عَبْدِ اللَّهِ ابْنِ عَمِّ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَلَا غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ سورة الفاتحة آية ۷، قَالَ: آمِينَ، حَتَّى يَسْمَعَ مَنْ يَلِيهِ مِنَ الصَّفِّ الْأَوَّلِ".

د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی هغه ویلي دي، وو رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کله به یې ولوستلو غیر المغضوب علیهم و لا الضالین نو ویل به یې آمین تردې چې څوک به په اول صف کې وو هغوی به اوریدلو.

(۱): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۱۷۵۸) (حسن صحيح)
(۲): سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۴ (۸۵۳)، (تحفة الأشراف: ۱۵۴۴۴) (ضعيف)

د، حتی یسمع من یلیه من الصف الاول، جواب

حضرات شافعیه په دې سلسله کښې د یو بل حدیث نه استدلال کوی دابن عم دابی هریره حدیث چه کوم وړاندې راروان دې او په ابن ماجه کښې هم دې چه دهغې الفاظ دا دې، کان رسول الله ﷺ اذا تلا غیر المغضوب علیهم ولا الضالین قال آمین حتی یسمع من یلیه من الصف الاول، او د ابن ماجه په روایت کښې، فیرتج بها المسجد زیادت هم دې.

زمونږ د طرف نه د دې جواب دا دې چه دا حدیث ضعیف دې ځکه چه د دې په سند کښې بشر بن رافع دې د چا چه امام بخاری، یحيٰ بن معین او امام نسائی تضعیف کړې دې او ابن حبان خو دا فرمائی چه دا سړې موضوعی احادیث روایت کوی د دېنه علاوه یوه خبره بله هم ده او هغه دا چه دا حدیث ستاسو په حق کښې مفید د مدعٰی نهٔ دې ځکه چه د دې حدیث نه خو دا معلومیږی چه د دوئ آمین لره د صف اول په مقتدیانو کښې څو خلقو کوم به چه حضور ﷺ ته به نژدې وو هغوی به اوریدلو، د دېنه خو د جهر ثبوت نهٔ کیږی، او دا مطلب دې دپاره دې چه من الصف الاول کښې من تبعیضیه دې بیانیه نهٔ دې او دا من بیانیه کیدې هم نهٔ شی چه ټول اول صف واله به اوریدلو ځکه چه په دې مطلب باندې دا عقلی اشکال به وی چه دا څهٔ خبره ده چه رومبی صف واله خو به ټولو د دې ځائې نه تر هغه ځائې پورې اوریدو او د دویم صف او دریم صف واله هغه مونږ کونکی به نهٔ اوری کوم چه د امام په محاذات کښې وی حال دا دې چه د دوئ فاصله امام ته په نسبت سره د ډیرو اول صف واله نه کم ده.

[۹۳۵](۱) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ سُمَيٍّ مَوْلَى أَبِي بَكْرٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ السَّمَّانِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا قَالَ الْإِمَامُ: غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ سورة الفاتحة آية ۷، فَقُولُوا: آمِينَ، فَإِنَّهُ مَنْ وَافَقَ قَوْلُهُ قَوْلَ الْمَلَائِكَةِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ".

د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی بیشکه نبي ﷺ ویلي دي: کله چې ووايي امام غير المغضوب عليهم و لا الضالين نو تاسو وايې آمين، بېشکه د چا وینا چې برابره شي د وينا د ملائکو سره نو بخښنه به وشي د مخکنو ګناهونو.

[۹۳۶](۲) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، أَنَّهُمَا أَخْبَرَاهُ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا أَمَّنَ الْإِمَامُ فَأَمِّنُوا، فَإِنَّهُ مَنْ وَافَقَ تَأْمِينُهُ تَأْمِينَ الْمَلَائِكَةِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ". قَالَ ابْنُ شِهَابٍ: وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "آمِينَ".

د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی بېشکه رسول الله ﷺ ویلي دي: کله چې امین ووايي امام نو تاسو هم امین وايي، بېشکه د چا امین چې امین د ملائکو سره برابر شو، نو هغه ته به وبخښلی شي هغه ګناهونه چې مخکې یې کړي وي. ویلي دي ابن شهاب: وو رسول الله ﷺ چې ویل یې آمین.

---

(۱): صحيح البخاري/الأذان ۱۱۱ (۷۸۰)، ۱۱۳ (۷۸۲)، وتفسير الفاتحة ۳ (۴۴۷۵)، والدعوات ۶۳ (۶۴۰۲)، سنن النسائي/الافتتاح ۳۴ (۹۳۰)، موطا امام مالك/الصلاة ۱۱ (۴۵)، مسند احمد (۲/۲۳۸، ۴۵۹)، سنن الدارمي/الصلاة ۳۸ (۱۲۸۱)، (تحفة الأشراف: ۱۲۵۷۶)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الصلاة ۱۸ (۴۱۰)، سنن الترمذي/الصلاة ۷۳ (۲۵۰)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۴ (۸۵۱) (صحيح)

(۲): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۳۲۳۰، ۱۵۴۲) (صحيح)

د حضرت امام بخاری استدلالات

امام بخاری رحمه الله زمونږ دلته په باب کښې چه کوم څلورم حديث دې، عن ابی هريره رضي الله عنه ان النبی صلی الله عليه وسلم قال اذا قال الامام غير المغضوب عليهم و لا الضالين فقولوا آمين، د دې حدیث نه د مقتدی په آمين بالجهر وئيلو باندې استدلال فرمائيلې دې هغه داسې چه حضور صلی الله عليه وسلم فرمائی چه کله امام فاتحه پوره کړی نو مقتديانو لره پکار دی چه هغوی دې آمين اووائی، د امام بخاری په ذهن کښې دا دی چه د قول متبادر معنی قول بالجهر دې يعنی په زوره دې اووئيلې شی حالانکه دا بس هسې خبره ده دغه شان حضرت امام بخاری رحمه الله د دې باب په پنځم حديث سره چه دهغې الفاظ دا دی. عن ابی هريره رضي الله عنه ان رسول الله صلی الله عليه وسلم قال اذا امّن الامام فأمّنوا، په دې سره هغوی د امام په آمين بالجهر باندې استدلال فرمائيلې دې ځکه چه مقتديانو ته د امام دآمين وئيلو علم هغه وخت کيدې شی کله چه هغه جهراً اووائی خو دا خبره هم څۀ زياته صفا او صريح نۀ ده ځکه چه د دې معنی دا هم کيدې شی چه کله امام د آمين مقام ته اورسی نو تاسو هم آمين وائی او دا د وړاندې نه معلومه ده چه د آمين مقام د فاتحې په ختميدو باندې دې.

د حنفيه دلائل

اوس په دې سلسله کښې د حنفيه او مالکيه دلائل واورئ.

اول دليل : قال تعالی ،اُدعوا ربّکم تضرُّعا و خُفيه، آمين هم دعا ده لهذا هغه هم خفية پکار ده،

دليل ثانی : د وائل بن حجر حديث په طريق د شعبه کوم چه په مسند احمد ترمذی او مسند ابوداؤد طيالسی کښې موجود دې او دا وړاندې تير شوې دی چه روايت د شعبه زمونږ په نيز د سفيان په روايت باندې راجح دې.

دليل ثالث : حديث د ابوهريره رضي الله عنه يعنی د باب څلورم حديث کوم چه په بخاری شريف کښې هم موجوددې ،اذا قال الامام غير المغضوب عليهم ولاالضالين فقولوا آمين، د دې حديث نه معلوميږی چه امام آمين سرا وائی ځکه که دا تسليم کړې شی چه امام آمين بالجهر وائی نو د دې تقاضا دا وه چه د مقتدی آمين دې د امام په آمين باندې مرتب کړې شی نۀ د سورة فاتحه په آخری آيت باندې. په آخری آيت باندې ځکه معلق کړې شوې دې چه جهرا هغه لوستلې شی، او که کوم سړې دا اووائی چه د دې باب په پنځم حديث کښې، اذا امن الامام فامنوا، راغلې دی، نو مونږ په اووايو چه د دې توجيه خوممکن ده کوم چه وړاندې تيره شوې ده، خو تاسو اوښائې که د امام آمين جهرا اومنلې شی نو په دې باندې پورتنې حديث په کوم کښې چه د مقتدی آمين لره غير المغضوب عليهم ولا الضالين باندې معلق کړې شوې دې څۀ توجيه به وی؟

دليل رابع : د سمرة بن جندب حديث يعنی حديث السکتتين په کوم باندې چه کلام مخکښې په خپل مقام باندې تير شوې دې دا حديث په دې باندې دال دې چه امام آمين سرا وائی ځکه چه د حديث مضمون دا دې چه حضور صلی الله عليه وسلم مونځونو کښې دوه سکتی کيدې شی يو د افتتاح صلوة په وخت کښې دا سکته خو د ثناء لوستلو دپاره وه او دويمه سکته غير المغضوب عليهم ولا الضالين باندې، دا سکته د آمين دپاره وه، او که دا سکته د امام د آمين

دپاره اونهٔ منلې شی بلکه د بل کوم مقصد دپاره وی او دا اووئیلې شی چه امام لره آمین بالجهر وئیل دی د دې سکتې نه پس، نو تقدم المقتدی علی الامام فی التامین به لازم شی ځکه چه په دې حدیث د ابوهریره رضی الله عنه کښې پورته ذکر شوې په دې خبره باندې تصریح ده چه کله امام غیر المغضوب علیهم و لا الضالین اولولی نو تاسو آمین وایئ، نو چه کله د مقتدی تامین د سوره فاتحې په ختم باندې د امام دسکتې په وخت کښې اوشی او ستاسو په قول باندې امام د سکتې نه پس آمین اووائی نو په دې صورت کښې تقدم علی الامام موندل ظاهر دی کوم چه په اتفاق سره ممنوع دی.

حضرت سهارنپوری رحمه الله رائې

د باب رومبی حدیث یعنی د وائل بن حجر حدیث چه دهغی یو طریق کښې رفع بها صوته او په بل طریق کښې خفض بها صوته مذکور دې، په دې باندې تفصیلی کلام په شروع کښې تیر شوې دې، هغه حضرات د سفیان طریق لره او احناف د شعبه طریق لره ترجیح ورکوی، د حضرت سهانپوری رائې په بذل المجهود کښې دا ده چه دواړه حدیثونه په خپل خپل ځائې باندې صحیح دی هیڅ یو لره په بل باندې هیڅ ترجیح نشته دې او په هر حال کښې په دوئ کښې په ظاهر کښې تعارض دې، نو ځکه د رفع د تعارض شکل دا دې چه داسې اووئیلې شی چه حضور صلی الله علیه وسلم کله کله آمین بالجهر وئیلې دې د امت د تعلیم دپاره او دا مطلب نهٔ دې چه دوئ به همیشه دې لره په جهر سره وئیلو ځکه چه آمین دعا ده او اصل په دعا کښې اخفاء ده، قرینه په دې باندې د اکابرو صحابه کرامو رضی الله عنهم عمل دې (۱) لکه حضرت عمر او علی رضی الله عنهما، چنانچه علامه عینی د حضرت عمر او علی رضی الله عنهما په باره کښې په روایت د طبرانی فی تهذیب الآثار کښې نقل کړې دی، لم یکن عمر و علی رضی الله عنهما یجهران بسم الله الرحمٰن الرحیم و لا بآمین، او دغه شان امام طحاوی رحمه الله هم د دې تخریج کړې دې، او هم داسې د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه هم عدم الجهر مروی دې.

د شوق نیموی رائې

او علامه شوق نیموی د رفع د تعارض یو بل صورت اختیار کړې دې، هغه دا چه د رفع نه مراد رفع یسیر واغستلې شی (معمولی غوندې جهر) او د خفض نه مراد خفض غیر شدید یعنی څهٔ اندازه رو، لهذا اوس په دواړو کښې هیڅ تعارض پاتې نهٔ شو او مطلب دا دې چه حضور صلی الله علیه وسلم به په مانځه کښې آمین نهٔ ډیر په زوره وئیلو او نه بالکل ورو بلکه داسې چه صرف د رومبی صف خنې نزدې ولاړ ئې واوری، کما جاء فی حدیث ابن عم ابی هریره حتی یسمع من یلیه من الصف الاول.

---

(۱) احقر عرض کوی که مقصود مطلقًا په دې سلسله کښې د متعارضه روایاتو جمع کول وې نو دا تقریر ډیر مناسب وو خو داسې نهٔ ده بلکه دلته مقصود په روایت د سفیان او روایت د شعبه کښې تطبیق ورکول دی نو په دې کښې اشکال دې ځکه چه دا دواړه دوه مستقل حدیثه نهٔ دی بلکه هم یو حدیث په دوو مختلفو طریق باندې دې پس مخرج د حدیث واحد دې او د دې راوی صحابی هم یو دې نو بیا دې لره جدا جدا په دوو وختونو باندې محمول کول مشکل دی.۱۲منه

د امام بیهقي یو نقد

امام بیهقي په سنن کبری کښې فرمائي چه دا حدیث یعنې حدیث د وائل خپله د شعبه نه داسې مروي دې څنګه چه سفیان روایت کوي یعنې په ځائې د خفض بها صوته رفع بها صوته دې، د دې جواب په بذل المجهود کښې دا لیکلې دې چه د شعبه دا روایت روایت شاذه دې، بعضې رواتو د شعبه نه داسې روایت کړې دې خو هغوی په دې کښې متفرد دی، د دېنه علاوه د شعبه ټول تلامذه او ملګرو خفض بها صوته روایت کړې دې،

و هذا أخر ما اردنا ذكره في هذا البحث، والله الموفق.

په دې باب کښې مصنف د اووۀ احادیثو تخریج کړې دې په کومو کښې تر اوسه پورې په پنځو احادیثو باندې کلام تیر شو.

[۹۳۷]()حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ رَاهَوَيْهِ، أَخْبَرَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ، عَنْ بِلَالٍ، أَنَّهُ قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، "لَا تَسْبِقْنِي بِآمِينَ".

دبلال نه روایت دی، بېشکه هغه ویلي دي: ای دالله رسوله! مه مخکې کېږه زمانه په امین سره.

قوله، عن بلال انه قال يا رسول الله لا تسبقني بآمين،

شرح حدیث

د حدیث بظاهر مطلب دا دې چه حضرت بلال رضي الله عنه په مانځه کښې امام پسې قراءت کولو څۀ حصه د دې په رومبئ سکته کښې کومه چه د دعا د استفتاح دپاره وی، یا د امام د قراءت دسکتو په مینځ کښې به ئې اغستلو او کومه حصه به چه باقی پاتې شوه د هغې په باره کښې به ئې د حضور صلی الله علیه وسلم نه عرض اوکړو چه کله تاسو د قراءت فاتحه نه فارغ شئ نو روستو په آمین وئیلو کښې تیزی مۀ کوئ لږ غوندی توقف کوئ چه زۀ د فاتحې باقی حصه اولولم او بیا تاسو سره په آمین کښې شریك شم او دموافقت امام فی التامین فضیلت راته حاصل شی.

مذکوره حدیث د فاتحه خلف الامام سره متعلق دې خو چونکه په دې کښې د آمین ذکر هم دې نو څکه مصنف دا دلته راوړې دې، د دې حدیث نه هم ظاهری او سطحی طور باندې د آمین بالجهر ثبوت کیږی خو تحقیقی او یقینی طور باندې نۀ.

تحقیق روایت

دویمه خبره دا ده چه په دې حدیث باندې د محدثینو کلام دې، ابوحاتم فرمائي، رفعه خطاءٌ. دابن ابی شیبه د روایت نه معلومیږی چه دا جمله لا تسقبنی بآمین د حضرت ابوهریره رضي الله عنه ده کله چه هغه په بحرین کښې مؤذن وو، او دا خبره هغوی دخپل جومات امام علاء بن الحضرمی ته کړې وه، او د بیهقی د روایت نه دا معلومیږی چه د ابوهریره رضي الله عنه دا خطاب مروان سره وو ابوهریره رضي الله عنه د هغۀ مؤذن وو، نیز دا دې واضح وی چه د ابن ابی شیبه واله روایت لره امام بخاری رحمه الله هم تعلیقا ذکر کړې دې، زمونږ د دې بیان نه دا ثابته شوه چه دا حدیث موقوف علی ابی هریره رضي الله عنه دې او د دې تعلق د حضرت بلال رضي الله عنه او د حضور صلی الله علیه وسلم سره هیڅ نشته دې، نیز دا روایت منقطع هم دې د ابوعثمان سماع د بلال نه نۀ

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢٠٤٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٢/٦) (ضعيف)

ده ثابته، او زهٔ دا هم وايم چه دغه شان خطاب د حضور ﷺ سره مناسب هم نهٔ دې خلاف د ادب محسوسيږي.

[۹۳۸]()حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ عُتْبَةَ الدِّمَشْقِيُّ، وَمَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا الْفِرْيَابِيُّ، عَنْ صُبَيْحِ بْنِ مُحْرِزٍ الْحِمْصِيِّ، حَدَّثَنِي أَبُو مُصَبِّحٍ الْمَقْرَائِيُّ، قَالَ: كُنَّا نَجْلِسُ إِلَى أَبِي زُهَيْرٍ النُّمَيْرِيِّ، وَكَانَ مِنَ الصَّحَابَةِ، فَيَتَحَدَّثُ أَحْسَنَ الْحَدِيثِ، فَإِذَا دَعَا الرَّجُلُ مِنَّا بِدُعَاءٍ، قَالَ: اخْتِمْهُ بِآمِينَ، فَإِنَّ آمِينَ مِثْلُ الطَّابَعِ عَلَى الصَّحِيفَةِ. قَالَ أَبُو زُهَيْرٍ: أُخْبِرُكُمْ عَنْ ذَلِكَ، خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ، فَأَتَيْنَا عَلَى رَجُلٍ قَدْ أَلَحَّ فِي الْمَسْأَلَةِ، فَوَقَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَمِعُ مِنْهُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَوْجَبَ إِنْ خَتَمَ"، فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ: بِأَيِّ شَيْءٍ يَخْتِمُ؟ قَالَ: "بِآمِينَ، فَإِنَّهُ إِنْ خَتَمَ بِآمِينَ فَقَدْ أَوْجَبَ"، فَانْصَرَفَ الرَّجُلُ الَّذِي سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَتَى الرَّجُلَ، فَقَالَ:
اخْتِمْ يَا فُلَانُ بِآمِينَ وَأَبْشِرْ. وَهَذَا لَفْظُ مَحْمُودٍ. قَالَ أَبُو دَاوُد: الْمَقْرَاءُ: قَبِيلٌ مِنْ حِمْيَرَ.

مونږ ته حديث بيان کړی دی ابو مصبح المقرائي، هغه وايي: وو مونږ چې کېناستلو به زهير النميري سره، او هغه د صحابو نه وو، نو ښائسته خبرې به يې کولې، کله چې به يو سړي زمونږ نه دعا کوله هغه به ويل: ختم يې کړه په امين سره، بېشکه امين پشان د مهر دی په کاغذ باندې، ويلي دي ابو زهير: زه خبر درکوم تاسو ته د هغې نه؟ مونږ ووتلو د رسول الله ﷺ سره يوه شپه، مونږ يو سړي ته راغلو چې په اصرار يې کولو په سوال کې، نو ودريدلو نبي ﷺ اوريدل يې د هغه نه، نو نبي ﷺ وويل: واجب شوه که چېرې مهريې ولګوه. نو يو سړي وويل د قوم نه: په کوم شي باندې مهر ولګوي؟ هغه وويل: په آمين سره، که چيرې هغه په امين سره مهر ولګوه نو واجب شوه. لاړلو هغه سړی چې تپوس يې کړی د نبي ﷺ نه نه، نو راغی هغه سړي ته، ويې ويل: مهر لګوه په آمين سره ای فلانی، او زيری واخله. دا لفظ د محمود دی. ويلي دي ابوداود: ويلي شوي دي چې مقراء د حمير نه دی.

تشريح: قوله: حدثنا الوليد بن عتبة.. عن صبيح بن محرز الحمصي..، صُبيح په ضمه د صاد او فتح د صاد يعنی مصغر او مکبر دواړه شان سره منقول دي.

د لفظ المقرئي تحقيق

حدثني ابو مصبح المقرئي : په بعضو نسخو کښې داسې دی يعنی د راء پس همزه او ياء او په بعضو نسخو کښې المقری په وزن د المعطی بغير د همزې، او په بعضو نسخو کښې المقرائی درا او همزې په مينځ کښې الف سره، يو اختلاف خو دا دې چه دا لفظ ممدود دې يا مقصور، دويم اختلاف دا دې چه دا په ضمه د ميم او فتح د ميم دواړه شانه ضبط کړې دې (د دې تحقيق تعلق خودضبط د کلمې سره وو، وړاندې د دې نسبت په باره کښې واورئ) بعض علماء وائی چه دا نسبت مقرا طرف ته دې کوم چه په دمشق کښې يو قريه ده په دې صورت کښې به ميم مفتوح وی، او بعضې وائی چه دا نسبت مقرا په وزن د مکرم طرف ته دې کوم چه په يمن کښې يو ښار دې په کوم کښې چه د عقيقو کان (معدن) دې د هغه خائې محدثينو ته المقرئيون وئيلې کيږي، د دې ټولو نه معلومه شوه چه دا د القراءت نه

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۲۰۴۲) (ضعيف)

ماخوذ نهٔ دي لکه څنګه چه وائی، القارئ المقرئ.

قوله : فاذا دعا الرجل منا بدعاء قال اختمه بامين فانّ أمين مثل الطابع على الصحيفة:

د حديث مضمون دا دي چه ابو زبير کوم چه د صحابوٴ نه دي هغوی به مونږ ته ښائسته ښائسته احاديث اورول يا ښه ښه خبري به ئې کولې د هغوی دا عادت وو چه کله به زمونږ نه چا دعا غوښتله نو هغوی به دهٔ ته فرمائيل چه په خپله دې دعاء لره په آمين سره ختموه، (يا داسې ترجمه اوکړئ) په دې باندې د آمين مهر اولګوه څکه چه آمين په شان د مهر دي کوم چه په يو کتاب يا تحرير باندې لګولې شی.

بَابُ التَّصْفِيقِ فِي الصَّلَاةِ

باب دی په بيان د تڼونو ويستلو کې په مانځه کې

[۹۳۹]([1]) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "التَّسْبِيحُ لِلرِّجَالِ وَالتَّصْفِيقُ لِلنِّسَاءِ".

د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه ويلي دي، فرمايلي دي رسول الله صلی الله عليه وسلم : تسبيح د سړو لپاره دی، او تڼ ويستل د لاس نه د ښځو لپاره دی.

تشريح: قوله: التسبيح للرجال والتصفيق للنساء، يعنی که امام ته په مانځه کښې کومه سهوه را پيښه شی نو که روستو ترينه سړې وی نو د سبحان الله په ذريعه سره دې امام له تنبيه ورکړی او که مقتدی ښځه ده نو هغه د لاس اوپړقوی د جمهور علماء او ائمه ثلاثه هم دا مذهب دې په دې مسئله کښې د امام مالك اختلاف مشهور دې هغه فرمائی چه لقمه ورکونکې سړې وی يا ښځه دواړو دپاره تسبيح مشروع دی هغه وائی چه د حديث مطلب دا نهٔ دې کوم چه جمهور وائی بلکه مطلب دا دې چه تسبيح مردانه فعل او تصفيق يعنی لاس پړقول دا زنانه فعل دې، ای التصفيق خارج الصلوة من شان النساء، يعنی حضور صلی الله عليه وسلم د انکار او مذمت په طور باندې فرمائی، او د جمهورو د مطلب تائيد د دې حديث نه کيږی چه دهغی الفاظ دا دی کوم چه په وړاندې حديث کښې راروان دی، اذا نابكم شئ فی الصلوة فليسبح الرجال و ليصفح النساء، او د تصفيح طريقه کومه چه وړاندې په کتاب کښې هم مذکور ده دا ده چه د ښی لاس دوه ګوتې د ګس لاس په تلی باندې اووهلې شی او دويم قول دا دې چه د احد الكفين پشت لره په بطن اخرى باندې اووهی او هغه تصفيق کوم چه مذوم دې هغه دا دې چه احد الكفين لره په بطن اخرى باندې اووهلې شی د کوم د وجه نه چه آواز په زوره سره پيدا کيږی دا د لهو او لعب د قبيلې نه دې او رومبې تصفيق هغه د تنبيه دپاره دې.

[1]): صحيح البخاري/العمل في الصلاة ٥ (١٢٠٣)، صحيح مسلم/الصلاة ٢٣ (٤٢٢)، سنن النسائي/السهو ١٥ (١٢٠٨)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٦٥ (١٠٣٤)، (تحفة الأشراف: ١٥١٤١)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصلاة ١٦٠ (٣٦٩)، مسند احمد (٢/٢٦١، ٣١٧، ٣٧٦، ٤٣٢، ٤٤٠، ٤٧٣، ٤٧٩، ٤٩٢، ٥٠٧)، سنن الدارمي/الصلاة ٩٥ (١٤٠٣) (صحيح)

[۹۴۰] (¹) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي حَازِمِ بْنِ دِينَارٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَهَبَ إِلَى بَنِي عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ لِيُصْلِحَ بَيْنَهُمْ، وَحَانَتِ الصَّلَاةُ فَجَاءَ الْمُؤَذِّنُ إِلَى أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، فَقَالَ: أَتُصَلِّي بِالنَّاسِ؟ فَأُقِيمَ، قَالَ: نَعَمْ، فَصَلَّى أَبُو بَكْرٍ، فَجَاءَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسُ فِي الصَّلَاةِ، فَتَخَلَّصَ حَتَّى وَقَفَ فِي الصَّفِّ فَصَفَّقَ النَّاسُ، وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ لَا يَلْتَفِتُ فِي الصَّلَاةِ، فَلَمَّا أَكْثَرَ النَّاسُ التَّصْفِيقَ الْتَفَتَ فَرَأَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَشَارَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنِ امْكُثْ مَكَانَكَ، فَرَفَعَ أَبُو بَكْرٍ يَدَيْهِ فَحَمِدَ اللَّهَ عَلَى مَا أَمَرَهُ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ ذَلِكَ، ثُمَّ اسْتَأْخَرَ أَبُو بَكْرٍ حَتَّى اسْتَوَى فِي الصَّفِّ، وَتَقَدَّمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى، فَلَمَّا انْصَرَفَ، قَالَ: "يَا أَبَا بَكْرٍ، مَا مَنَعَكَ أَنْ تَثْبُتَ إِذْ أَمَرْتُكَ؟" قَالَ أَبُو بَكْرٍ: مَا كَانَ لِابْنِ أَبِي قُحَافَةَ أَنْ يُصَلِّيَ بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا لِي رَأَيْتُكُمْ أَكْثَرْتُمْ مِنَ التَّصْفِيحِ؟ مَنْ نَابَهُ شَيْءٌ فِي صَلَاتِهِ فَلْيُسَبِّحْ، فَإِنَّهُ إِذَا سَبَّحَ الْتُفِتَ إِلَيْهِ، وَإِنَّمَا التَّصْفِيحُ لِلنِّسَاءِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذَا فِي الْفَرِيضَةِ.

د سهل بن سعد نه روایت دی بېشکه رسول الله ﷺ لاړلو بني عمرو بن عوف ته د صلح دپاره، او نزدې شو وقت د مونځ، راغی مؤذن ابوبکر رضی الله عنه ته، وېي ویل: ایا ته خلقو ته مونځ کوې چې اقامت وکړم؟ هغه وویل: آو، نو مونځ وکړو ابوبکر نو راغی رسول الله ﷺ او خلق په مانځه کې وو، نو راغی تردې چې په صف کې ودرېدو، نو لاسونه ټق وهل خلقو، او ابوبکر نه کتل په مانځه کې، هرکله چې خلقو ټقې زیاتې کړې نو ویې کتل، نو رسول الله ﷺ یې ولیدلو، نو هغه ته رسول الله ﷺ اشاره وکړه چې په خپل ځای باندې پاتې شه، نو ابوبکر خپل لاسونه اوچت کړل، د الله حمدیې ووېله په هغې باندې چې د الله رسول ورته امر وکړو، بیا ابوبکر وروسته شو تردې چې په صف کې ودرېدو، او مخکې شو رسول الله ﷺ، هرکله چې فارغ شو ویې ویل: ای ابوبکر! ته څه شي منع کړې کله چې درته ما امر وکړو چې په خپل ځای پاتې شه. وویل ابوبکر: مناسب نه د ابن ابي قحافه لپاره چې مونځ وکړي مخکې د رسول الله ﷺ ته، وویل رسول الله ﷺ: څه دې مالره چې تاسو مې ولیدلئ چې لاسونه ټقول مو زیات کړل؟ چاته چې په مانځه کې څه شی پېښ شي نو تسبیح دې وایي، کله چې څوک تسبیح ووایي نو هغه ته به کتل کېږي، بېشکه لاسونه ټقول دا د ښځو لپاره دی. ویلي دي ابوداود: دا په فرضو کې.

تشریح: قوله: ان رسول الله صلی الله علیه وسلم ذهب الی بنی عمرو بن عوف لیصلح بینهم. الخ،

مضمون حدیث

یو ځل د قبیله عمرو بن عوف کومه چه د انصارو یوه قبیله وه او قبا ته راغلی وو په اتفاق سره د دوئ په خپلو کښې جنګ اوشو نو حضور ﷺ د دوئ په مینځ کښې د صلحې کولو دپاره د ماسپښین مونځ کولو نه پس تشریف یوړو او د تلو په وخت کښې حضور ﷺ حضرت بلال رضی الله عنه ته اوفرمائیل که زما واپسی تر مازیګر پورې او نۀ شوه نو د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه باندې مونځ اوکړه، چنانچه د مازیګر وخت راغلو او د حضور ﷺ

¹): صحيح البخاري/العمل في الصلاة ٥ (١٢٠٤)، صحيح مسلم/الصلاة ٢٢ (٤٢١)، (تحفة الأشراف: ٤٧٤٣)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الإمامة ٧ (٧٨٥)، ١٥ (٧٩٤)، السهو ٤ (١١٨٣)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٦٥ (١٠٣٤)، موطا امام مالك/قصة الصلاة ٢٠ (٦١)، مسند احمد (٥/٣٣٦)، سنن الدارمي/الصلاة ٩٥ (١٤٠٤) (صحيح)

واپسی تر هغه وخته پورې نۀ وه شوې نو ځکه صدیق اکبر په جومات کښې مونځ شروع کړو اوس ړومبې رکعت ئې کړې وو چه حضور ﷺ تشریف راوړلو او صفونه ئې څیرې کړل او ړومبی صف ته اورسیدو او شامل شو خلقو دصدیق اکبر رضی الله عنه متوجه کولو دپاره تصفیق اوکړو، کله چه خلقو تصفیق زیات کړو نو بیا هغه متوجه شو او محسوس ئې کړه چه حضور ﷺ تشریف راوړې دې نو په دې باندې دوئ د واپس کیدو اراده اوکړه دې دپاره چه حضور ﷺ مونځ ورکړی نو دوئ په اشارې سره منع کړو (کله چه صدیق اکبر رضی الله عنه دا اوکتل چه حضور ﷺ ما پسې مونځ کولو دپاره تیار دې نو هغوی په دې باندې د الله پاک شکر ادا کولو دپاره) دواړه لاسونه اوچت کړل (ځنګه چه په دعا کښې پورته کوی) د الله حمد او ثناء ئې اوکړه خو ابوبکر صدیق رضی الله عنه هلته پاتې نۀ شو تر دې چه روستو راغلو او صف کښې اودریدو او حضور ﷺ د امام په ځائې باندې اورسیدو او مونځ ئې ورکړو.

د مونځ په حالت کښې استخلاف د امام کله جائز دې

په دې حدیث کښې یوه اختلافی مسئله ده هغه دا چه یو مونځ یو امام شروع کړی او په مینځ کښې په خپله روستو شی او بل سړې مونځ کولو دپاره وړاندې کړی داسې کول د شوافعو او مالکیه په نیز جائز دی، نووی د شوافعو قول صحیح او صاحب منهل د مالکیه قول هم دا لیکلې دې او داحنافو په نیز لکه څنګه چه په بذل کښې د درمختار نه نقل کړې دی چه بلا عذره استخلاف جائز نۀ دې آو که اول امام د قراءت مفروض اندازه او نۀ کړې شی د څه وجه نه ورته حصر پیښ شی نو بیا بل سړې مونځ ورکولې شی ګینې نۀ شی ورکولې، زمونږ علماء د دې واقعې توجیه دا کوی چه دلته صدیق اکبر رضی الله عنه باندې د حضور ﷺ د راتلو د وجه نه حصر واقع شوې وو، والله تعالی اعلم.

فائده: هم داسې قسمه قصه په کتاب الطهارت کښې د مسح علی الخفین په باب کښې تیره شوې ده هلته د ړومبې نه مونځ ورکونکې حضرت عبدالرحمن بن عوف وو په دواړو کښې فرق دا دې لکه چه هلته تیر شوې دی چه حضرت عبدالرحمن بن عوف هم د حضور ﷺ په راتلو باندې روستو کیدل اوغوښتل خو د حضور ﷺ په اشاره باندې هم هلته ئې مونځ اوکړو اودلته قصه د صدیق اکبر رضی الله عنه د روستو کیدو ده په دې باندې کلام هلته تیر شوې دې.

[۹٤۱] (۱) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، أَخْبَرَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، قَالَ: كَانَ قِتَالٌ بَيْنَ بَنِي عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ، فَبَلَغَ ذَلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَتَاهُمْ لِيُصْلِحَ بَيْنَهُمْ بَعْدَ الظُّهْرِ، فَقَالَ لِبِلَالٍ: "إِنْ حَضَرَتْ صَلَاةُ الْعَصْرِ وَلَمْ آتِكَ، فَمُرْ أَبَا بَكْرٍ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ،" فَلَمَّا حَضَرَتِ الْعَصْرُ أَذَّنَ بِلَالٌ، ثُمَّ أَقَامَ، ثُمَّ أَمَرَ أَبَا بَكْرٍ فَتَقَدَّمَ، قَالَ فِي آخِرِهِ: إِذَا نَابَكُمْ شَيْءٌ فِي الصَّلَاةِ فَلْيُسَبِّحِ الرِّجَالُ، وَلْيُصَفِّحِ النِّسَاءُ".

د سهل بن سعد نه روایت دی هغه ویلي دي: د بني عمرو بن عوف په مینځ کې جنګ وو، نو دغه خبره رسول الله ﷺ ته ورسیده نو هغه راغی دوی ته چې صلح وکړي د دوی په مینځ کې د ماسپخین نه وروسته، هغه وفرمایل بلال ته: که چېرې د مازیګر مانځه وخت راغی او

(۱): صحيح البخاري/الأحكام ٣٦ (٧١٩٠)، سنن النسائي/الإمامة ١٥ (٧٩٤)، (تحفة الأشراف: ٤٦٦٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٣٣٢، ٣٣٦)، دي/الصلاة ٩٥(١٤٠٤) (صحيح)

زه راغلی نه وم، نو امر وکړه ابوبکر ته چې مونځ وکړي خلقو ته. کله چې مازيګر راغی اذان وکړو بلال، بيايي اقامت وکړو، بيايي امر وکړو ابوبکر ته، نو مخکې شو، هغه ويلي دي په اخير د هغې کې: کله چې تاسو ته څه شی پېښ شي په مانځه کې نو سړي دي تسبيح وايي، او تصفيح دې کوي زنانه.

[٩٤٢](١)حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، عَنْ عِيسَى بْنِ أَيُّوبَ، قَالَ: قَوْلُهُ التَّصْفِيحُ لِلنِّسَاءِ: تَضْرِبُ بِأُصْبُعَيْنِ مِنْ يَمِينِهَا عَلَى كَفِّهَا الْيُسْرَى.

د عيسى بن ايوب نه روايت دی هغه ويلي دي: قول د هغه (التصفيح للنساء) مونږ به وهلو په دوه ګوتو د ښي لاس سره ورغوی د چپ لاس.

بَابُ الإِشَارَةِ فِي الصَّلَاةِ

باب دی په بيان د اشاره کې په مانځه کې

[٩٤٣](٢)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ شَبُّوَيْهِ الْمَرْوَزِيُّ، وَمُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُشِيرُ فِي الصَّلَاةِ".

د انس بن مالک ﷛ نه روايت دی بېشکه نبي ﷺ وو چې اشاره يې کوله په مانځه کې.

قوله، عن انس بن مالك ان النبی ﷺ كان يشير فی الصلوة.

شرح حديث

په دې کښې دوه احتماله دی يو دا چه په اشارې سره مراد اشاره بالسبابه وی کومه چه په تشهد کښې وی خو چونکه تشهد او د دې د متعلقاتو ابواب خو به وړاندې راځی نو ځکه د مصنف مراد دا نه شي کيدې لهذا د اشارې نه اشاره لاجل الحاجة مراد ده لکه چه د سلام په جواب کښې اشاره کول يا بله خبره پوهه کولو دپاره.

[٩٤٤](٣)حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ بُكَيْرٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ يَعْقُوبَ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ الْأَخْنَسِ، عَنْ أَبِي غَطَفَانَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "التَّسْبِيحُ لِلرِّجَالِ، يَعْنِي فِي الصَّلَاةِ، وَالتَّصْفِيقُ لِلنِّسَاءِ، مَنْ أَشَارَ فِي صَلَاتِهِ إِشَارَةً تُفْهَمُ عَنْهُ فَلْيَعُدْ لَهَا، يَعْنِي الصَّلَاةَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا الْحَدِيثُ وَهْمٌ.

د ابو هريره ﷛ نه روايت دی هغه ويلي دي، چې فرمايلي دي رسول الله ﷺ: تسبيح د سړو لپاره دی. يعني په مانځه کې. او تصفيق د زنانو لپاره ديز، چا چې مانځه کې داسې اشاره وکړه چې سړي ترېنه فهم اخسته نو اعاده دې وکړي. يعني د مانځه. ويلي دي ابوداود: دا حديث وهم دی. خو د رد السلام دپاره د اشارې باب وړاندې تير شوې دې نو ځکه هم دويم احتمال مراد دې، زمونږ فقهاؤ تصريح کړې ده چه که کوم سړې مونځ کونکی سره خبرې اوکړي او دې په څۀ باندې پوهه کړی نو دا جائز ده او مونځ کونکې په خپله د دې جواب په لاس يا د سر په اشارې سره ورکولې شی خو ردالسلام بالاشاره لره زمونږ فقهاؤ

---

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٩١٨٨) (صحيح)
(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٤٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/١٣٨) (صحيح)
(٣): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٤٥٥) (ضعيف)

مکروه لیکلې دی، کما تقدم فی بابه.

قوله، من اشار فی صلوته اشارة تفهم عنه فلیعد لها، د حدیث دا جمله د وړاندینی حدیث خلاف ده ځکه چه د دینه معلومیږی که کوم سړې په مانځه کښې اشارةً کومې خبرې باندې بل پوهه کړی نو دهٔ لره د مونځ اعاده کول پکار دی، نو ځکه مصنف فرمائی، قال ابوداؤد هذا الحدیث وهم، دارقطنی او بیهقی هم دې زیادت لره غیر صحیح ګرځولې دې او دا کیدې شی چه دا د ابن اسحاق راوی قول وی، دغه شان د دې حدیث په سند کښې ابوغطفان دې، وئیلې شوې دی چه هغه رجل مجهول دې خو دا صحیح نهٔ ده ابوغطفان چه دهغه نوم ابوطریف دې ثقه راوی دې، او یا د دې حدیث به دا توجیه کولې شی چه په دې کښې داعاده صلوة امر په طریقې د استحباب سره دې نهٔ په طریقې د وجوب سره، فلیعد لها، په دې کښې لام زائد دې او ضمیر راجع دې صلوة طرف ته یعنی فلیعد الصلوة، یا لام د الی په معنی کښې دې او، فلیعد د عود نه دې، ای فلیعد الی الصلوة، پکار ده چه مونځ ګذار طرف ته رااوګرځی.

بَابٌ فِي مَسْحِ الْحَصَى فِي الصَّلَاةِ

باب دی په بیان دهوارولو د کا نوکې په مانځه کې

[٩٤٥][1] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ شَيْخٌ مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا ذَرٍّ يَرْوِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا قَامَ أَحَدُكُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَإِنَّ الرَّحْمَةَ تُوَاجِهُهُ فَلَا يَمْسَحِ الْحَصَى".

د ابو الاحوص نه روایت دی، د مدینې یو شیخ دی، هغه اوریدلې دې د ابوذر نه، هغه روایت کوې د نبي ﷺ نه، هغه ویلې دې: کله چې پاڅېږي یو کس ستاسو نه مانځه ته بېشکه رحمت د هغه سره مخ کېږي، نو نه دې مسح کوي کاڼي.

تشریح: د حدیث مضمون دا دې چه کله سړې مونځ شروع کړی نو د مونځ په حالت کښې د الله تعالی رحمت دهٔ طرف ته متوجه وی لهذا د دې رحمت حاصلولو دپاره مونځګذار لره هم دې طرف ته متوجه کیدل پکار دی په یو داسې مشغولیدل نهٔ دی پکار د کوم د وجه نه چه د مونځ نه توجه لرې شی مثلا سجدې ته د تلو په وخت کښې د سجدې د ځائې نه خاوره یا کاڼړی نهٔ دې لرې کول پکار، په حدیث کښې د کاڼړی ذکر دې ځکه چه په هغه زمانه کښې په مسجد نبوی کښې کاڼړی خواورهٔ کړې شوې وو.

د جمهورو علماؤ په نیز باندې مسح الحصیٰ په مانځه کښې مکروه دی او د ظاهریه په نیز حرام دی خو یو ځل لرې دکولو اجازت په حدیث کښې مذکور دې، بعضو د دې ممانعت حکمت دا لیکلې دې چه دا د تواضع منافی دې او بعضې دا وائی چه د دې مصلحت دا دې چه کاڼړی د سجدو نه محروم نشی ځکه چه هر کاڼړی دا غواړی چه مونځګذار په ما باندې سجده اوکړی لکه چه د مصنف ابن ابی شیبه په روایت مقطوعه کښې دی.

[1]: سنن الترمذي/الصلاة ١٦٣ (٣٧٩)، سنن النسائي/السهو ٧ (١١٩٢)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٦٣ (١٠٢٧)، (تحفة الأشراف: ١١٩٩٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٥٠/٥، ١٦٣)، سنن الدارمي/الصلاة ١١٠ (١٤٢٨) (ضعيف)

[۹۴۶]([1])حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنْ يَحْيَى، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ مُعَيْقِيبٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا تَمْسَحْ وَأَنْتَ تُصَلِّي، فَإِنْ كُنْتَ لَا بُدَّ فَاعِلًا فَوَاحِدَةٌ تَسْوِيَةَ الْحَصَى".

د معیقب نه روایت دی، بېشکه نبي ﷺ ویلي دي: ته مه مسح کوه او حال دا چې ته په مانځه کې یې، که چېرې ته خامخا کونکی یې نو یو ځل برابر د کانړو دي.

تشریح: قوله: فان کنت لابد فاعلا فواحدة تسوية الحصٰی : دا آخری لفظ د یوراوی د اړخ نه د مسح الحصٰی تفسیر دې، په ترکیب کښې بظاهر دا د مبتداء محذوف خبر دې تقدیر د عبارت دا دې، وهو (ای المسح) تسوية الحصٰی، چه د مسحې نه مراد تسوية الحصٰی دی.

بَابُ الرَّجُلِ يُصَلِّي مُخْتَصِرًا

باب دی په بیان د سړي کې چې مونځ کوي او لاس ونه یې په تشو باندې ایخودي وي

دا باب مکرر دې د دینه لس، دولس بابه وړاندې باب فی التخصر تیر شوې دې خو هلته مصنف یو بل حدیث فرمائیلي دې کوم چه دلته مذکور نۀ دې هغه دې او کتلې شی هلته تیر شوې دي، حضور ﷺ د، صلب فی الصلوة، نه منع فرمائیلي ده.

[۹۴۷]([2])حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ كَعْبٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ هِشَامٍ، عَنْ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الِاخْتِصَارِ فِي الصَّلَاةِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: يَعْنِي يَضَعُ يَدَهُ عَلَى خَاصِرَتِهِ.

د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی هغه ویلي دي: منع کړي ده رسول الله ﷺ د اختصار (لاس کېخودلو نه په تشو) نه په مانځه کې. ویلي دي ابوداود: یعني چې ږدي خپل لاس په تشې باندې.

تشریح: قوله: نهي رسول الله ﷺ عن الاختصار فی الصلوة، او د بخاری شریف په روایت کښې دی، نهی عن التخصر فی الصلوة، داختصار او تخصر په تفسیر کښې ګڼ اقوال دی او د دې حکم او حکمت د منع د دې ټولو څیزونو بیان په وړاندې ځائې کښې تیر شوې دې.

بَابُ الرَّجُلِ يَعْتَمِدُ فِي الصَّلَاةِ عَلَى عَصًا

باب دی په بیان د سړي کې چې تکیا کوي په مانځه کې په امسا باندې

[۹۴۸]([3])حَدَّثَنَا عَبْدُ السَّلَامِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْوَابِصِيُّ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ شَيْبَانَ، عَنْ حُصَيْنِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ هِلَالِ بْنِ يَسَافٍ، قَالَ: قَدِمْتُ الرَّقَّةَ، فَقَالَ لِي بَعْضُ أَصْحَابِي: هَلْ لَكَ فِي رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَ: قُلْتُ: غَنِيمَةٌ، فَدَفَعْنَا إِلَى وَابِصَةَ، قُلْتُ لِصَاحِبِي: نَبْدَأُ، فَنَنْظُرُ إِلَى دَلِّهِ، فَإِذَا عَلَيْهِ قَلَنْسُوَةٌ لَاطِئَةٌ ذَاتُ أُذُنَيْنِ، وَبُرْنُسُ خَزٍّ أَغْبَرُ، وَإِذَا هُوَ مُعْتَمِدٌ عَلَى عَصًا فِي صَلَاتِهِ، فَقُلْنَا: بَعْدَ أَنْ سَلَّمْنَا؟ فَقَالَ: حَدَّثَتْنِي أُمُّ قَيْسٍ بِنْتُ مِحْصَنٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "لَمَّا أَسَنَّ وَحَمَلَ اللَّحْمَ اتَّخَذَ عَمُودًا فِي مُصَلَّاهُ يَعْتَمِدُ عَلَيْهِ".

---

[1]: صحيح البخاري/العمل في الصلاة ٨ (١٢٠٧)، صحيح مسلم/المساجد ١٢ (٥٤٦)، سنن الترمذي/الصلاة ١٦٧ (٣٨٠)، سنن النسائي/السهو ٨ (١١٩٣)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٦٢ (١٠٢٦)، (تحفة الأشراف: ١١٤٨٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٢٦/٣، ٤٢٥/٥، ٤٢٦)، سنن الدارمي/الصلاة ١١٠ (١٤٢٧) (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٤٥٤٦)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/العمل في الصلاة ١٧ (١٢٢٠)، صحيح مسلم/المساجد ١١ (٥٤٥)، سنن الترمذي/الصلاة ١٦٩ (٣٨٣)، سنن النسائي/الافتتاح ١٢ (٨٨٩)، مسند احمد (٢٣٢/٢، ٢٩٠، ٢٩٥، ٣٣١، ٣٩٩)، سنن الدارمي/الصلاة ١٣٨ (١٤٦٨) (صحيح)

[3]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٨٣٤٥) (صحيح)

د هلال بن یساف نه روایت دی هغه ویلي دي: زه راغلم رقي ته ماته زما بعضو ملګرو وویل: ایا ستا یو سړي ته شوق شته د ملګرو د نبي ﷺ نه؟ هغه وایي ما وویل: دا خو غنیمت دی، مونږ یې وابصه ته بوتلو، ما خپل ملګري ته وویل: مونږ به د هغه صفاتو ته ګورو، نو په هغه باندې خولۍ وه جوخته دوه غوږونو والا، او یو اوچته خولۍ وه د ربښمو چې خړرنګې وه، او هغه په تکیا کونکی په امسا باندې په مانځه کې، مونږ وویل وروسته د سلام نه، هغه وویل: ماته حدیث بیان کړی دی ام قیس بنت محصن: بېشکه رسول الله ﷺ چې هرکله بوډا شو او غوښه یې واخسته، یوه ستنه یې جوړه کړه د م انځه په ځای کې چې تکیایي کوله په هغې.

تشریح: قوله: عن هلال بن یسافٍ قال قدمت الرَّقة.. الخ،

شرح حدیث

د حدیث مضمون دا دې چه زهٔ مقام رقه (د یو ځائې نوم دې)ته اورسیدم نو ماته زما بعضې ملګرو اووئیل، (زیاد بن ابی الجعد، کما فی مسند احمد) آیا تالره یو صحابی سره د ملاقات رغبت شته دې، مطلب دا وو چه دلته په دې ښار کښې د یو صحابی قیام دې (یعنی اوسیږی) که هغهٔ سره لیدل غواړې نو راځه، قال کنت غنیمة، ما ورته اووئیل دا ملاقات خو یو ډیر لوئې نعمت او غنیمت دې هغه وائی بیا مونږ لاړو د وابصة بن معبد په خدمت کښې، قلت لصاحبی نبداء فننظر الی دله، بلال بن یساف وائی چه ما خپل ملګری ته اووئیل اوس مونږ په تلو سره به رومبې کار دا کوو چه د دې صحابی حلیه به ګورو، فاذا علیه قلنسوة لا طیبة ذات اذنین، مونږ چه لاړو اومولیدل چه د هغهٔ په سر باندې داسې ټوپۍ ده کومه چه سر سره یوځائې ده یعنی پورته نهٔ ده او هغه ټوپۍ دوه غوګونو واله وه (ځنګه چه زمونږ په اطرافو کښې بعضې خلق د ژمی په موسم کښې د غوږونو د حفاظت دپاره په سروی) او یوه ورینه چپنه خاورینی رنګ واله ئې اغوستې وه، خزاس کپړې ته وائی کومه چه د ورئ او ریښم نه اودلي کیږی یعنی مخلوط نهٔ خالص ریښم او نهٔ خالص ورئ، د دې اطلاق په خالص ریښمی کپړه باندې هم کیږی، و اذا هو معتمد علی عصا فی صلوته، یعنی چه کله مونږ هلته اورسیدو نو اوموکتل چه هغه داسې ټوپۍ او چپنه اغوستې وه او دغه وخت هغه د لرګی په سهارې سره ولاړ وو مونځ ئې کولو، مسئله دا ده چه اعتماد فی الصلوة په نفل کښې مطلقا جائز دې او فرض کښې بغیر د عذر نه مکروه ده.

دمعذور دپاره د قیام فی الصلوة مسئله

دلته په بذل المجهود کښې دا مسئله لیکلې ده چه کوم معذور یا ضعیف سړې په فرض مونځ کښې بغیر د سهارې نه په قیام باندې قادر نهٔ وی نو دهٔ نه قیام ساقطیږی نه بلکه په سهاره باندې به په ولاړه مونځ کول ضروری دی که سهاره د چا انسان وی یا د یو لرګی وغیره، په ناسته باندې کول جائز نهٔ دی تر دې که کوم سړې په پوره قیام باندې قادر نهٔ وی نو څومره وخت چه قیام کولې شی قیام کول واجب دی او بیا که غواړی نو کیدېنی، په طحطاوی کښې لیکلې دی چه خصوصا د صاحبینو په مسلک باندې دا قیام څکه ضروری

دي چه هغوى قادر بقدرة الغير لره قادر ګرځوى، او د منهل نه معلوميږي چه دا مذكوره بالا مستندا قيام د حنفيه، حنابله او شافعيه د يو جماعت په نيز باندې هم واجب دې خو دا ده چه د مالكيه په دې كښې اختلاف دې هغوى په داسې صورت كښې د قيام د وجوب قائل نۀ دى، په بذل كښې د حضرت ګنګوهى د تقرير نه هم دا نقل كړې دى كوم چه پورته فقهاؤ نه نقل كړې شوې دى چه حتى المقدور قيام ضرورى دې.

د حضرت ګنګوهى كمال احتياط

په خپله د حضرت ګنګوهى قدس سره په سوانح كښې ليكلې دى چه حضرت په خپل آخرى زمانه كښې د شدت ضعف او مرض په حالت كښې د دو خادمانو په سهارې په اودريدو او فرض مونځ به ئې ادا كولو.

بَابُ النَّهْيِ عَنِ الْكَلَامِ فِي الصَّلَاةِ

باب دى په بيان د منع كې د خبرو نه په مانځه كې

تشريح: قوله: فنزلت و قوموا لله قانتين فامرنا بالسكوت و نُهينا عن الكلام،

(د كلام فى الصلوة نسخ په مدنيه منوره كښې)

[٩٤٩](1)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ أَبِي خَالِدٍ، عَنْ الْحَارِثِ بْنِ شُبَيْلٍ، عَنْ أَبِي عَمْرٍو الشَّيْبَانِيِّ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ، قَالَ: كَانَ أَحَدُنَا يُكَلِّمُ الرَّجُلَ إِلَى جَنْبِهِ فِي الصَّلَاةِ، فَنَزَلَتْ: وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ سورة البقرة آية ٢٣٨ "فَأُمِرْنَا بِالسُّكُوتِ وَنُهِينَا عَنِ الْكَلَامِ".

د زيد بن ارقم نه روايت دى هغه ويلي دي: وو به يو كس زمونږ چې خبرې به يې كولې د نزدې ملګري خپل سره په مانځه كې، نو نازل شو (و قوموا لله قانتين) اودريږئ الله ته په عاجزۍ سره. نو مونږ ته امر وشو په سكوت سره، او مونږ منع شو د خبرو نه.

د دې حديث نه معلومه شوه چه د كلام فى الصلوة نسخ په مدينه منوره كښې شوې ځكه چه دا آيت د كوم نه چه نسخ كيږي په اتفاق سره مدنى دې، د حضراتو شافعيو رائې دا ده چه نسخ الكلام فى الصلوة په مكه مكرمه كښې شوې دې، د دې څۀ اندازه وضاحت په باب رد السلام فى الصلوة كښې د عبدالله بن مسعود ﷛ په حديث، فلما رجعنا من عند النجاسى، په ذيل كښې تير شوې دې او زيات مفصل كلام به په باب السجود السهو كښې د حديث ذواليدين د لاندې انشاء الله تعالى راشى.

بَابٌ فِي صَلَاةِ الْقَاعِدِ

باب دى په بيان د مونځ ناست كې

دا خبره مشهوره ده كه نفل مونځ بغير د عذر نه په ناسته اوكړې شى نو د دې ثواب نيم دې او كه عذر سره وى نو بيا ثواب پوره دې.

(1): صحيح البخاري/العمل في الصلاة ٢ (١٢٠٠)، وتفسير البقرة ٤٢ (٤٥٣٤)، صحيح مسلم/المساجد ٧ (٥٣٩)، سنن الترمذي/الصلاة ١٨٥ (٤٠٥)، وتفسير البقرة (٢٩٨٦)، سنن النسائي/السهو ٢٠ (١٢٢٠)، (تحفة الأشراف: ٣٦٦١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٦٨/٣) (صحيح)

[٩٥٠]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ قُدَامَةَ بْنِ أَعْيَنَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ هِلَالٍ يَعْنِي ابْنَ يَسَافٍ، عَنْ أَبِي يَحْيَى، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: حُدِّثْتُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "صَلَاةُ الرَّجُلِ قَاعِدًا نِصْفُ الصَّلَاةِ" فَأَتَيْتُهُ فَوَجَدْتُهُ يُصَلِّي جَالِسًا، فَوَضَعْتُ يَدَيَّ عَلَى رَأْسِي، فَقَالَ: "مَا لَكَ يَا عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرٍو؟"، قُلْتُ: حُدِّثْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَنَّكَ قُلْتَ: "صَلَاةُ الرَّجُلِ قَاعِدًا نِصْفُ الصَّلَاةِ"، وَأَنْتَ تُصَلِّي قَاعِدًا، قَالَ: "أَجَلْ وَلَكِنِّي لَسْتُ كَأَحَدٍ مِنْكُمْ".

د عبد الله بن عمرو نه روايت دی هغه وېلي دي: ماته حديث بيان شوی دی بېشکه رسول الله ﷺ وېلي دي: د سړي په ناسته مونځ دا نيم مونځ دی، نو زه راغلم ما هغه وموندلو چې مونځ يې کولو په ناسته، ما خپل لاسونه په سر باندې کېخودل د تعجب د وجې نه، هغه ووېل: څه دي تالره ای عبد الله بن عمرو! نو ما ووېل: ای د الله رسوله! بېشکه تا وېلي دي: مونځ د سړي په ناسته دا نيم مونځ دی، او ته مونځ کوې په ناسته، هغه ووېل: آو، لکن زه نيم پشان د يو کس ستاسو نه.

تشريح: قوله: قال اجل و لکنی لست کاحد منکم...، د دينه معلومه شوه چه د حضور ﷺ دا خصوصيت دې چه دوئ ته به قاعدا مونځ بغير د عذر نه کولو باندې هم پوره ثواب ملاويږي.

[٩٥١]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ حُسَيْنٍ الْمُعَلِّمِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، أَنَّهُ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صَلَاةِ الرَّجُلِ قَاعِدًا، فَقَالَ: "صَلَاتُهُ قَائِمًا أَفْضَلُ مِنْ صَلَاتِهِ قَاعِدًا، وَصَلَاتُهُ قَاعِدًا عَلَى النِّصْفِ مِنْ صَلَاتِهِ قَائِمًا، وَصَلَاتُهُ نَائِمًا عَلَى النِّصْفِ مِنْ صَلَاتِهِ قَاعِدًا".

د عمران بن حصين نه روايت دی، بېشکه هغه تپوس وکړو د نبي ﷺ نه د مونځ د سړي په ناسته، هغه وفرمايل: مونځ د هغه په ولاړه دا افضل دی د مونځ د هغه نه په ناسته، او مونځ د هغه په ناسته دا نيمايي دی د هغه مونځ چې په ولاړيې کوي، او مونځ د هغه په اودو دا نيمايي دی د مونځ د هغه په ناسته.

تشريح: قوله: عن عمران بن حصين انه سال النبی ﷺ عن صلوة الرجل قاعدا فقال.. و صلوته نائما على النصف من صلوة قاعدًا، د حديث مضمون دا دې چه د صلوة قاعدا ثواب د صلوة قائما نه نيم دې او صلوة نائما يعنی مضطجعا ثواب د صلوة قاعدا نه نيم دې، معلومه شوه چه په ولاړه باندې دمونځ کولو ثواب په ملاستې مونځ کولو نه څلور چنده زيات دې.

شرح حديث باندې تفصيلی کلام

د دې حديث په تشريح کښې شراحو ډير څۀ تفصيل ليکلې دې مونږ هم مختصرا بيان کوو، روميې دوه خبرې ازده کړئ اول دا چه فرض مونځ بغير د عذر نه په ناسته يا په ملاسته په

[١]: صحيح مسلم/المسافرين ١٦ (٧٣٥)، سنن النسائي/قيام الليل ١٨ (١٦٦٠)، (تحفة الأشراف: ٨٩٣٧)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٤١ (١٢٢٩)، موطا امام مالك/ صلاة الجماعة ٦ (١٩)، مسند احمد (٢/١٦٢، ١٩٢، ٢٠١، ٢٠٣)، سنن الدارمي/الصلاة ١٠٨ (١٤٢٤) (صحيح)

[٢]: صحيح البخاري/تقصير الصلاة ١٧ (١١١٥)، ١٨ (١١١٦)، ١٩ (١١١٧)، سنن الترمذي/الصلاة ١٦٢ (٣٧١)، سنن النسائي/قيام الليل ١٩ (١٦٦١)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٤١ (١٢٣١)، (تحفة الأشراف: ١٠٨٣١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٤٣٣، ٤٣٥، ٤٤٢، ٤٤٣) (صحيح)

اتفاق سره جائز نۀ دي او که په عذر سره اوکړي نو جائز دي بلکه په ثواب کښې هم څۀ کمې نشته پوره ثواب به ورته ملاویږي، دویمه خبره دا ده چه نفل مونځ اګر که په ناسته بغیر د عذر نه جائز دي خو په دې کښې ثواب نیم دي او که عذر سره وي نو په دې کښې به ثواب پوره وي خو په ملاسته نفل مونځ کول بغیر د عذر نه عند الجمهور جائز نۀ دي.

(**اشکال**): د دې تمهید نه پس د دې حدیث په باره کښې واورئ که دا حدیث په مفترض باندې محمول کوی نو لامحاله معذور سړې به مراد وی ځکه چه فرض خو په ناسته یا په ملاسته بغیر د عذر نه جائز نۀ دي، خو په دې کښې به دا اشکال وی چه بیا د اجر تنصیف ولې دې، لهذا په مفترض باندې به محمول نۀ وی او که دې لره په متنفل باندې محمول کوی نو بیا دوه صورتونه دی یا به معذور وی یا غیر معذور، که معذور دې نو تنصیف د اجر ولې؟ او که غیر معذور دې نو قاعدا نفل کول اګر که جائز دې خو په ملاسته باندې کول جائز نۀ دی، حال دا دې چه په حدیث کښې هغه مذکور دې.

حاصل دا شو چه که حدیث لره مفترض معذور باندې محمول کوی نو تنصیف داجر ولې دې او که په متنفل غیر معذور باندې محمول کوی نو هغه نائما کله جائز دې؟ آو البته دحسن بصری رحمه الله او بعضې سلفو په نیز جائز دې، کما نقله الترمذی فی جامعه، هم داسې یو روایت د شافعیه نه هم دې، حافظ ابن حجر وائی چه متاخرین شافعیه د دې حدیث په بناء باندې هم دې قول لره (جواز التفل مضطجعا بلا عذر) ترجیح ورکړې ده، او داسې یو روایت د جواز د مالکیه نه هم منقول دې څنګه چه قاضی عیاض فرمائیلې دی، دغه شان غالبًا بعضې کتب احنافو کښې هم یو قول د دې د جواز[1] لیکلې دې خو د مشهور قول پیش نظر په مذاهب اربعه کښې نفل بلا عذره مضطجعا جائز نۀ دې،

(**رومبې جواب**): لهذا دا حدیث د تاویل محتاج دې، امام خطابی د دې توجیه دا کړې ده چه دا په هغه معذور مفترض باندې محمول دې کوم چه قیام یا قعود باندې خو قادر دې خو ډیر په سختته او مشقت سره، مثلا یو سړې دومره کمزورې دې چه هغه په ناسته خو فرض مونځ کولې شی خو ډیر په سختئ سره نو که داسې سړې په ملاسته باندې مونځ اوکړی نو جائز دې خو که په ناسته باندې اوکړی نو دوچند ثواب به وی ګینی نیم به وی، هم داسې یو سړې په ولاړه باندې مونځ کولو باندې خو قادر دې خو په ډیر مشقت سره نو که دا سړې په ناسته مونځ اوکړی نو جائز دې خو که په ولاړه مونځ اوکړی نو دوچند ثواب به وی ګینی نیم به وی.

(**دویم جواب**): او حضرت اقدس ګنګوهی رحمه الله دې حدیث لره خو محمول کړې په هغه قسمه معذور باندې دې کوم چه د خطابی په کلام کښې مذکور دې یعنی کوم چه په مشقت سره قیام او قعود باندې قادر وی خو متنفل باندې دې نۀ په مفترض باندې، هغه فرمائی (کما فی الکوکب) چه داسې معذور دپاره په ملاسته مونځ کول جائز دې خو فرض جائز نۀ دې یعنی کوم معذور چه فرض مونځ په ناسته باندې کولو باندې قادر خو دې خو د ډیر مشقت نه پس

---

[1] نو بیا په دې صورت کښې که چرې حدیث په متنفل غیر معذور باندې محمول کړې شی نو هیڅ اشکال نشته.

نو د حضرت په نیز دهٔ دپاره په ملاسته باندې فرض مونځ کول جائز نهٔ دی بلکه ناسته ضروری ده په خلاف د نفل نه چه هغه په ملاسته کولې شی.

د علامه سندی رائې

علامه سندی په حاشیه د نسائی، ص :۲۴۵، کښې په دې حدیث باندې کلام کوی او لیکی چه د دې حدیث د وړاندې زمونږ بعضې متاخرینو په نفل مونځ کښې بغیر د عذر نه مضطجعا جائز ګرځولې دې خو اکثرو علماؤ د دې انکار کړې دې او په ملاسته باندې بغیر د عذر نه نفل کول ئې بدعت ګرځولې دې، بیا د دېنه پس هغوی د دې حدیث توجیه دا کړې ده چه د دې حدیث نه مقصود صحت د صلوة او فساد د صلوة بیان کول نهٔ دی بلکه په صلوتینو صحیحینو کښې د یو په بل باندې فضیلت بیانول مقصود دی، اوس دا چه کوم مونځ صحیح دې او کوم نهٔ دې صحیح دا به د قواعدو نه معلومیږی، پس د حدیث مطلب دا دې چه کوم مونځ په ناسته صحیح وی د هغې ثواب به په ولاړه باندې کولو سره نیم وی خوا که هغه فرض وی یا نفل هم داسې کوم مونځ چه په ملاسته صحیح وی د هغې ثواب به په ناسته باندې کولو سره نیم وی، او هغه لیکی چه دا خبره چه کومه مشهور ده چه د معذور د مونځ ثواب په ناسته یا په ملاسته باندې کولو سره ناقص کیږی دا مونږ نهٔ منو، انتهی کلامه.

ځکه چه دا خبره د عمران بن حصین د حدیث د ظاهر خلاف ده، لهذا د دې حدیث د وړاندې دا به منل وی چه د عذر په صورت کښې هم په ناسته باندې مونځ کول د ثواب د نقصان باعث دې او ددې په خلاف باندې کوم صریح دلیل نشته دې،[1] والله تعالی اعلم.

[٩٥٢]([2])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ طَهْمَانَ، عَنْ حُسَيْنٍ الْمُعَلِّمِ، عَنِ ابْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، قَالَ: كَانَ بِي النَّاصُورُ، فَسَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "صَلِّ قَائِمًا، فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ فَقَاعِدًا، فَإِنْ لَمْ تَسْتَطِعْ فَعَلَى جَنْبٍ".

د عمران بن حصین نه روایت دی هغ ه ویلي دي: په ما باندې بواسیر وو، نو ما تپوس وکړو د نبي ﷺ نه، نو هغه ووېل: مونځ کوه په ولاړه، که چېرې طاقت دې نه وي نو په ناسته باندې، او که طاقت دې نه وي نو په اړخ باندې.

تشریح: قوله: عن عمران بن حصین قال کان بی الناصور : او په بعضو نسخو کښې الناسور سین سره دې او دبخاری شریف په یوروایت کښې، کان بی بواسیر، او په دویم روایت کښې، و کان مبسورا، بواسیر هم د باسور جمع ده بواسیر خو مشهور مرض دې په مقعد کښې ورم پیدا شی او ناصور زخم ته وائی د دې تعلق هم د مقعد سره وی.

قوله، فان لم تستطع فقاعدا، که په ناسته باندې مونځ اوکړې شی نو د ناستې کیفیت به څهٔ وی په دې کښې اختلاف دې د امام صاحب په نیز باندې افتراش اولی دې ځنګه چه په التحیات کښې کینی هم دا یو روایت د مزنی د امام شافعی نه دې او د امام مالك او احمد او

[1]) لهذا اوس که مونږ دا حدیث په قدرت لرونکی سړی باندې محمول کړو که هغه متنفل وی یا مفترض وی نو هیڅ اشکال به نه وی.

[2]): سنن الترمذي/الصلاة ١٥٧ (٣٧٢)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٣٩ (١٢٢٣)، (تحفة الأشراف: ١٠٨٣٢) (صحيح)

صاحبینو په نیز تربیع (یعنی پرلتئ) اولی دي هم دا یو روایت د امام شافعي دي.
د دې حضراتو دلیل دا دی چه د ناستې هیئت د قیام د هیئت نه مختلف دې او دا ناسته چونکه د قیام بدل ده نو ځکه د دې هیئت به هم د قعود اصلی نه مختلف پکار وی.

د معذور مونځ به مستلقیًا وی یا مضطجعًا؟

تشریح: قوله: فان لم تستطع فعلی جنبٍ : په ملاسته باندې دمونځ کولو دوه صورتونه دی یو مضطجعا علی یمینه، یعنی په ښی ډډه باندې او دویم مستلقیا یعنی ستونی ستغ سملی داسی چه مخ او قدمونه ئې د قبلې په اړخ وی (١) د جمهورو په نیز رومبې صورت اولی دې اګر چه دواړه جائز دی او شافعیه د وجوب قائل دی لهذا د دوئ په نیز که کوم سړې باوجود ددی چه مضطجعا کولو باندې قدرت وی او مستلقیا اوکړی نو مونځ به ئې صحیح نۀ وی، او د مالکیه او حنابله په نیز صرف د استحباب درجه ده، د جمهورو دلیل حدیث الباب دې او حنفیه دا وائی چه د مستلقی اشاره به د کعبې دهوا طرف ته یعنی د دې فضاء طرف ته به واقع وی او فضاء دکعبی آسمانه پورې قبله ده په خلاف د مضطجع نه چه د دۀ اشاره به خپلو قدمونو طرف ته وی نۀ د قبلې په اړخ.

[٩٥٣](٢)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي شَيْءٍ مِنْ صَلَاةِ اللَّيْلِ جَالِسًا قَطُّ حَتَّى دَخَلَ فِي السِّنِّ، فَكَانَ يَجْلِسُ فِيهَا فَيَقْرَأُ حَتَّى إِذَا بَقِيَ أَرْبَعُونَ أَوْ ثَلَاثُونَ آيَةً قَامَ فَقَرَأَهَا، ثُمَّ سَجَدَ".

د عائشي ﷞ نه روایت دی هغې ویلې دي: ما هېڅ کله نه دی لیدلی رسول الله ﷺ چې قراءت یي کولو دشپې مونځ کې په ناسته، تردې چې عمریي زیات شو، نو وو هغه چې کېناستلو به په هغې کې نو لوستلو به یي، تردې چې څلوېښت او یا دېرشت ایتونه به پاتې شول نو وبه دریدلو هغه به یي ولوستل بیا به یي سجده وکړه.

تشریح: قوله: ما رایت رسول الله ﷺ یقراء فی شيءٍ من صلوة اللیل جالسا قط حتی دخل فی السّنّ : یعنی د تهجد مونځ به حضور ﷺ د زوروالی نه وراندې هم په ولاړه کولو د دېنه پس په اخر عمر کښې به ئې په ناسته کولو.

قوله: حتی اذا بقی اربعون او ثلثون آیة قام.. الخ : یعنی کله به چه حضور ﷺ په ناسته باندې مونځ کولو نو هغه وخت بی ئی داسی کول چه کله به دیرش، څلویښت آیتونه باقی پاتې شو نو دا به ئې په ولاړه باندې لوستل د دېنه پس به رکوع ته تلل چه ټول مونځ په ناسته باندې نۀ وی څۀ حصه په ولاړه باندې هم اوشی.

---

(١) په دې شان چه سر او اوږو د لاندې یوه لویه تکیه کیږدی چه اشاره اوکړې شی بغیر د دېنه اشاره نۀ شی کیدې. ١٢منه.

(٢): صحیح البخاري/تقصیر الصلاة ٢٠ (١١١٨)، صحیح مسلم/المسافرین ١٦ (٧٣١)، سنن الترمذي/الصلاة ١٦٣ (٣٧٢)، سنن النسائي/قیام اللیل ١٦ (١٦٥٠)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٤٠ (١٢٢٧)، (تحفة الأشراف: ١٦٩٠٣، ١٦٨٦٧)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/صلاة الجماعة ٧ (٢٣)، مسند احمد (٦/٤٦، ٨٣، ١٢٧، ٢٣١) (صحیح)

[۹۵۴]() حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَانَ يُصَلِّي جَالِسًا فَيَقْرَأُ وَهُوَ جَالِسٌ، وَإِذَا بَقِيَ مِنْ قِرَاءَتِهِ قَدْرُ مَا يَكُونُ ثَلَاثِينَ أَوْ أَرْبَعِينَ آيَةً قَامَ فَقَرَأَهَا وَهُوَ قَائِمٌ، ثُمَّ رَكَعَ، ثُمَّ سَجَدَ، ثُمَّ يَفْعَلُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ مِثْلَ ذَلِكَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ عَلْقَمَةُ بْنُ وَقَّاصٍ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَهُ.

عائشه چې بي بي د نبي ﷺ ده روایت کوي بېشکه نبي ﷺ وو چې مونځ یې کولو په ناسته، نو قراءت یې کولو او هغه به ناست وو، کله چې به د هغه د قراءت نه په اندازه د دېرشت او یا څلوېښت ایتونو پاتې شونو وبه دریدلو هغه به یې ولوستل، بیا به یې رکوع او سجده وکړه، بیا به یې په دویم رکعت کې کوه په پشان د هغې. ویلي دي ابوداود: نقل کړی دی دې لره عقلمة بن وقاص د عائشي نه او هغې د نبي ﷺ نه په مثل د هغې.

[۹۵۵]() حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، قَالَ: سَمِعْتُ بُدَيْلَ بْنَ مَيْسَرَةَ، وَأَيُّوبَ يُحَدِّثَانِ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَقِيقٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي لَيْلًا طَوِيلًا قَائِمًا، وَلَيْلًا طَوِيلًا قَاعِدًا، فَإِذَا صَلَّى قَائِمًا رَكَعَ قَائِمًا، وَإِذَا صَلَّى قَاعِدًا رَكَعَ قَاعِدًا".

د عائشي رضي الله عنها نه روایت دی هغې ویلي دي وو رسول الله ﷺ چې مونځ یې کولو اوږده شپه په ولاړه، او اوږده شپه په ناسته، کله چې به یې مونځ کولو په ولاړه، نو رکوع به یې په ولاړه کوله، او چې کله به یې مونځ کوله په ناسته نو رکوع به یې هم په ناسته کوله.

تشریح: قوله: قوله كان رسول الله ﷺ يصلي ليلا طويلا قائما و ليلا طويلا قاعدا فاذا صلى قائما ركع قائما : یعنی بعضې اوقات به داسې اوشو چه د شپې به تر ډیره پورې حضور ﷺ نفلونه په ولاړه باندې کول اوبیا هم په دې شپه کښې به ئې نفلونه تر ډیر وخته پورې په ناستې باندې کول، که مونځ به ئې په ولاړه شروع کړو نو په ولاړه به رکوع ته تلو او که په ناسته به ئې شروع کړو نو په ناسته به رکوع ته تلو. حاصل دا چه بعضې رکعاتونه به ئې پوره په ولاړه باندې کول او بعضې به ئې پوره په ناسته باندې کول.

دفع د تعارض بين الحديثين

دا حدیث د مخکښې حدیث خلاف دې په کوم کښې چه دا دی چه کوم مونځ به حضور ﷺ په ناسته شروع کولو نو په هغې کښې به رکوع ته د تلو نه وړاندې اودریدل، د دې تعارض مشهور جواب دا دې چه دا دوه قسمه معمول دی کوم چه په مختلفو وختونو او زمانو باندې محمول دی په یو زمانه کښې به ئې داسې کول او په بله زمانه کښې به ئې داسې نۀ کول. نۀ به ئې مدام داسې کول او نۀ مدام هغه سې، او د حضرت ګنګوهي رحمه الله په تقریر کښې د دې یوه بله توجیه مذکور ده هغه دا چه د دې دویم حدیث مطلب دا دې چه کله به حضور ﷺ په مانځه کښې په ناسته باندې قرأت پوره کړو نو صرف رکوع ته د تلو دپاره به نۀ اودریدل بلکه رکوع

(): صحيح البخاري/ تقصير الصلاة ٢٠ (١١١٩)، صحيح مسلم/المسافرين ١٦ (٧٣١)، سنن الترمذي/الصلاة ١٥٨ (٣٧٤)، سنن النسائي/قيام الليل ١٦ (١٦٤٩)، (تحفة الأشراف: ١٧٧٠٩، ١٧٧٣٢)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/صلاة الجماعة ٧ (٢٣)، مسند احمد (١٧٨/٦) (صحيح)

(): صحيح مسلم/المسافرين ١٦ (٧٣١)، سنن النسائي/قيام الليل ١٦ (١٦٤٧)، (تحفة الأشراف: ١٦٢٠١،١٦٢٠٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٠٠/٦، ٢٢٧، ٢٦١، ٢٦٥) (صحيح)

به ئې هم په دې حالت کښې کوله، او په رومبی حدیث کښې رکوع ته د تلو نه وړاندې کوم چه د اودریدل مذکور دی هغه داسې چه په ولاړه به ئې څو آیاتونه اولوستل بیا به رکوع ته تلل، د اودریدلو نه پس سمدستی رکوع کول هلته مذکور نۀ دی او دلته په دویم حدیث کښې د اودریدلو نه پس سمدستی رکوع ته د تلو نفی ده، فلا تعارض بین الحدیثین.

د حدیث الباب نه یوه مسئله دا هم معلومه شوه، چه څنګه نفل مونځ ټول په ناسته باندې کول جائز دی نو بغیر د عذر نه داسې کول هم جائز دی چه بعضې حصه د مونځ په ولاړه او بعضې حصه په ناسته باندې اوکړی خو د قیام نه قعود طرف ته راشی یا د قعود نه قیام طرف ته، په منهل کښې لیکلې دی چه د امام ابوحنیفه، مالك او شافعی ﷺ وغیره د اکثرو علماؤ دا مذهب دې، او د هدایه په آخر کښې لیکلې دی چه د صاحبینو په نیز نفل مونځ په ولاړه باندې شروع کولو نه پس بغیر د عذر نه په ناسته باندې جائز نۀ دې.

[۹۵۶] (۱) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، حَدَّثَنَا كَهْمَسُ بْنُ الْحَسَنِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَقِيقٍ، قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ "أَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ السُّورَةَ فِي رَكْعَةٍ؟ قَالَتْ: الْمُفَصَّلَ، قَالَ: قُلْتُ: فَكَانَ يُصَلِّي قَاعِدًا؟ قَالَتْ: حِينَ حَطَمَهُ النَّاسُ".

د عبد الله بن شقیق نه روایت دی هغه وایي: ما تپوس وکړو د عائشې نه، ایا وو رسول الله ﷺ چې لوستلویې سورت په هر رکعت کې؟ هغه وایي: آو مفصل. هغه وایي: ما وویل: ایا هغه به په ناسته مونځ کولو، هغه وایي:

تشریح: قوله: سالت عائشة ا كان رسول الله ﷺ يقرأ السورة فى ركعة قالت المفصل : په بعضو نسخو کښې د السُّور په ځائې باندې السورة (مفردا) مذکور دې او د بیهقی د روایت الفاظ دا دی، هل كان رسول الله ﷺ يقرن بين السور قالت من المفصل، حاصل د سوال دا دې چه حضور ﷺ به څو څو سورتونه یو ځائې کول او په مانځه کښې به ئې لوستل نو هغوی جواب ورکړو چه آو د مفصل سورتونو نه به ئې یوځائې کول او لوستل به ئې، مفصل د قرآن پاك په اووه منزلونو کښې دآخری منزل نوم دې د سورة حجرات یا د سورة ق نه تر آخر د قرآن پورې څکه چه دا سورتونه واړهٔ واړهٔ دی او بیا بیا بسم الله سره فصل راځی نو څکه ئې مفصل نوم ایخودلې شوې دې، اوس دا چه حضور ﷺ به کوم کوم سورتونه یوځائې لوستل هغه کوم سورتونه دی د دې بیان هم د دې کتاب په ابواب الصلوة الیل نه پس یو باب راروان دې، ص : ۱۹۸، باب تخريج القرآن کښې راځی، چه د هغې مضمون دا دې چه، عبدالله بن مسعود ﷺ فرمائی چه حضور ﷺ به د تهجد په مانځه کښې په یو رکعت کښې دوه سورتونه یوځائې لوستل، النجم والرحمٰن فى ركعة و اقتربت والحاقة فى ركعة والطور و الذاريات فى ركعة، الحديث، دې حدیث لره به ئی په حدیث د النظائر سره تعبیر کولو څکه چه په دې کښې مذکور دی چه، كان رسول الله ﷺ يقرأ النظائر، حضرت شیخ لیکلې دی چه صاحب د بدائع تصریح کړې ده، لايكره الجمع بين السورتين فى ركعة.

(۱): صحيح مسلم/المسافرين ۱۶ (۷۳۲)، (تحفة الأشراف: ۱۶۲۲۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۷۱/۶، ۲۰۴) (صحيح) انظر التالي منه

قوله، حين حطمه الناس : یعنی نفل مونځ به ناسته باندې دوئ هغه وخت شروع کړو چه کله خلقو دوئ لره مات کړلو یعنی دوئ ﷺ د خلقو په خدمت کولو سره زړه زړه شول.

باب كَيْفَ الْجُلُوسُ فِي التَّشَهُّدِ

باب دی په بیان د کیفیت د کېناستلو کې په تشهد کې

په التحيات کښې څنګه ناسته پکار ده دا مختلف فيه مسئله ده.

مذاهب ائمه

د امام ابوحنیفه په نیز که تشهد اول وی یا آخر په دواړو کښې افتراش مسنون دې یعنی ګسه پښه غزول او په دې باندې کوناتی ایخودل او ښۍ پښه اودرول، او د امام مالك په نیز مطلقا تورك دې یعنی کوناتی په زمکه باندې ایخودل او دواړه پښې په زمکه باندې غزول او ښی طرف ته رااوښکل، د ښځو په حق کښې حنفیه هم د دې قائل دی، او د امام شافعی او احمد په نیز په اول تشهد او ثانی کښې فرق دې، اول کښې افتراش او په دویم کښې تورك او په کوم مونځ کښې چه یو تشهد وی لکه د صبا او د جمعې مونځ نو په دې کښې د امام احمد په نیز افتراش دې او د امام شافعی په نیز په دې کښې هم تورك دې نو ګویا د امام احمد په نیز تورك هغه مانځه پورې خاص شو کوم چه دوه تشهد واله وی او د امام شافعی په نیز باندې دا قید نشته دې بلکه د کوم تشهد نه پس چه سلام دې خواه هغه یو تشهد واله وی یا دوو واله په هغې کښې تورك دې.

اصل منشاء د دې اختلاف خو د احادیثو اختلاف دې خو دحکمت او مصلحت په درجه کښې د شافعیه په نیز د تورك علت طول جلوس (د ناستې اوږدوالې) دې او په افتراش کښې نسبة مشقت وی او آخری تشهد طویل وی نو څکه په دې کښې تورك کیخودلې شو په خلاف د اولې قعدې نه چه په هغې کښې د مختصر کیدو د وجه نه څۀ مشقت نۀ وو نو څکه په هغې کښې افتراش کوم چه اصل دې هغه باقی اوساتلې شو دا خو شافعیه وائی او حنابله دا حکمت بیانوی چه اصل په قعود کښې افتراش دې خو روستو راتلونکی ته دا معلومه شی چه امام په کوم تشهد کښې دې نو څکه د اول او آخر د کیناستلو په کیفیت کښې فرق اوساتلې شو او په کومو مونځونو کښې چه یو تشهد وی هلته فرق او امتیاز ته څۀ حاجت نشته دې.

[٩٥٧](١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ كُلَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ، قَالَ: قُلْتُ: لَأَنْظُرَنَّ إِلَى صَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ يُصَلِّي، "فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ، فَكَبَّرَ، فَرَفَعَ يَدَيْهِ حَتَّى حَاذَتَا بِأُذُنَيْهِ، ثُمَّ أَخَذَ شِمَالَهُ بِيَمِينِهِ، فَلَمَّا أَرَادَ أَنْ يَرْكَعَ رَفَعَهُمَا مِثْلَ ذَلِكَ، قَالَ: ثُمَّ جَلَسَ فَافْتَرَشَ رِجْلَهُ الْيُسْرَى، وَوَضَعَ يَدَهُ الْيُسْرَى عَلَى فَخِذِهِ الْيُسْرَى، وَحَدَّ مِرْفَقَهُ الْأَيْمَنَ عَلَى فَخِذِهِ الْيُمْنَى، وَقَبَضَ ثِنْتَيْنِ، وَحَلَّقَ حَلْقَةً، وَرَأَيْتُهُ يَقُولُ هَكَذَا: وَحَلَّقَ بِشْرٌ الْإِبْهَامَ وَالْوُسْطَى وَأَشَارَ بِالسَّبَّابَةِ".

د وائل بن حجر نه روایت دی هغه ویلی دي، ما وویل زه به خامخا ګورم مونځ د رسول الله ﷺ چې هغه څنګه مونځ کوي، نو ودریدلو رسول الله ﷺ مخ یي کړو قبلې ته، نو تکبیریي

(١): انظر حديث رقم (٧٢٦)، (تحفة الأشراف: ١١٧٨١) (صحيح)

وويله اوچت يې کړل لاسونه تردې چې برابريې کړل دواړه د غوږونو سره، بيايي ونيولو چپ لاس په ښي لاس، هرکله چې يې اراده وکړه چې رکوع وکړي اوچت يې کړل د هغې پشان. هغه وويل: بيا کېناستلو او خوره يې کړه چپه خپه، او کېښوده چپ لاس خپل په چپ ورون خپل باندې، او کړه يې کړه خپله ښي څنګل په ښي ورون باندې، او راغونډې يې کړې دوه ګوتې، او حلقه يې جوړه کړه، او ما هغه وليدلو چې داسې يې کول. او حلقه جوړه کړه بشر د ابهامي او وسطى نه، او اشاره يې وکړه په سبابې باندې.

[۹۵۸] (١) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: "سُنَّةُ الصَّلَاةِ أَنْ تَنْصِبَ رِجْلَكَ الْيُمْنَى وَتَثْنِيَ رِجْلَكَ الْيُسْرَى".

د عبد الله بن عمر نه روايت دى هغه ويلي دي: سنت د مانځه دا دى چې ودروې ته خپله ښي خپه او راتاو کړې خپله چپه خپه.

تشريح: قوله: عن ابن عمر قال سنة الصلوة ان تنصب رجلك اليمنى و تثنى رجلك اليسرى: ابن عمر رضي الله عنه فرمائي چه په تشهد کښې د ناستې مسنون طريقه دا ده چه ښئ پښه ولاړه اوساتې او ګسه پښه راماته کړې يعنې راتوئې کړې او په زمکه باندې خورهٔ کړې.

دا اثر د ابن عمر مجمل دې په دې کښې دا نهٔ دى بيان کړې شوې چه ګسه پښه په زمکه باندې خورهٔ کړې؟ پښه دې په کوناټو باندې اوساتى يا په زمکه باندې، که پښې باندې ايخودل مراد دى نو بيا خو به افتراش شى او که په زمکه باندې کيخودلې شى نو بيا خو به دا تورك شى دا روايت په اصل کښې د مؤطا امام مالك دې د دې په بعضو طريقو کښې خو هم داسې مجملا دې، او په يو بل روايت کښې د دې وضاحت مذکور دې هغه دا چه کوناټى په زمکه باندې اوساتى نهٔ په قدم باندې لهذا دا به تورك شى، په دې روايت کښې په يو بل اعتبار سره هم اجمال دې هغه دا چه دا کيفيت د جلوس مطلقا دې لکه څنګه چه مالکيه وائي يا صرف په قعده آخيره کښې دې.

حافظ ابن حجر په فتح البارى کښې يو بل روايت وړاندې ايخودې دې او فيصله ئې کړې ده چه دلته په دې حديث کښې قعده آخيره مراد ده **كما هو مسلك الشافعيه.**

د حنفيه دلائل

او حنفيه کوم چه مطلقا د افتراش قائل دې د هغوى استدلال حديث د عائشه او حديث المسئ فى الصلوة او هم داسې د وائل بن حجر روايات دى. (بذل ص ۱۵)

[۹۵۹] (٢) حَدَّثَنَا ابْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ، قَالَ: سَمِعْتُ يَحْيَى، قَالَ: سَمِعْتُ الْقَاسِمَ، يَقُولُ: أَخْبَرَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّهُ سَمِعَ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ، يَقُولُ: "مِنْ سُنَّةِ الصَّلَاةِ أَنْ تُضْجِعَ رِجْلَكَ الْيُسْرَى وَتَنْصِبَ الْيُمْنَى".

عبد الله بن عمر ويلي دي: د سنت د مانځه نه دا خبره ده چې ته تکيا کړې خپله چپه خپه او

---

[1]: صحيح البخاري/الأذان ١٤٥ (٨٢٧)، سنن النسائي/التطبيق ٩٦ (١١٥٧)، (تحفة الأشراف: ٧٢٦٩)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الصلاة ١٢(٥١) (صحيح)

[2]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٧٢٦٩) (صحيح)

ودروي نبي خپه.

[٩٦٠]()حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ يَحْيَى بِإِسْنَادِهِ، مِثْلَهُ. قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ: عَنْ يَحْيَى أَيْضًا، مِنَ السُّنَّةِ. كَمَا قَالَ جَرِيرٌ.

د يحيى نه روايت دى په په اسناد خپل سره د هغې پشان. ويلي دي ابوداود: ويلي دي حماد بن زيد هغه روايت کوي د يحيى نه هم دغه رنګه: د سنت نه دا خبره ده، لکه څنګه چې جرير ويلي دي.

[٩٦١]()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، أَنَّ الْقَاسِمَ بْنَ مُحَمَّدٍ أَرَاهُمُ الْجُلُوسَ فِي التَّشَهُّدِ، فَذَكَرَ الْحَدِيثَ.

د يحيى بن سعيد نه روايت دى ببشکه قاسم بن محمد، وښودلو دوى ته کېناستل په تشهد کې. نو ذکر يې کړو حديث.

[٩٦٢]()حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، عَنْ وَكِيعٍ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ الزُّبَيْرِ بْنِ عَدِيٍّ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، قَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جَلَسَ فِي الصَّلَاةِ افْتَرَشَ رِجْلَهُ الْيُسْرَى حَتَّى اسْوَدَّ ظَهْرُ قَدَمِهِ".

د ابراهيم نه روايت دى هغه ويلي دي: وو نبي ﷺ کله چې په کېناستلو په مانځه کې، خوره يې کړه خپله چپه خپه تردې چې توره شوه شا د خپې د هغه.

تشريح: قوله: اذا جلس فى الصلوة افترش رجله اليسرى حتى اشوى ظهر قدمه: او چونکه ګسه پښه به دوئ راتاوهلو سره به غزوله نو څکه د قدم په شا باندې به ښنه جوړه شوه، په لغت کښې دى، اشوى الصف، اى الصفر لليبس، کله چه واخلئ او داونو څانګې د اوچيدو د وجه نه زيږې شى. د باب آخرى حديث مرسل نخعى دې څکه چه ابراهيم نخعى کوم چه تابعي دې هغه دې لره براه راست د حضور ﷺ نه نقل کوى خو مشهور بين المحدثين دا دې چه مراسيل النخعى اقوى من مسانيده، کما مر فى البذل.ص، ٥. ج، ١.)

بَابُ مَنْ ذَكَرَ التَّوَرُّكَ فِي الرَّابِعَةِ

باب دى په بيان د ذکر د تورک کې په څلورم رکعات کې

په دې باب کښې مصنف د ابوحميد ساعدى حديث په ګڼ طريق سره ذکر کړې دې دا حديث د رفع يدين په باب کښې هم تير شوې دې د دې په بعضې طريق کښې په قعده اولى کښې افتراش او په قعده اخيره کښې تورك مذکور دې، لکه څنګه چه د شافعيه او حنابله مسلك دې خو په دې سلسله کښې دا حديث مضطرب دې لکه څنګه چه د دې بيان په بذل،ص، ١٧، ج، ٢، کښې تيرشوې دې اودلته هم مصنف په متن کښې بيان کړې دې.

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٧٢٦٩) (صحيح)
[2]: انظر حديث رقم (٩٥٨)، (تحفة الأشراف: ٧٢٧٩، ١٩١٢٠٤) (صحيح)
[3]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٧٢٦٩، ١٨٤٠٤) (ضعيف)

[٩٦٣]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ الضَّحَّاكُ بْنُ مَخْلَدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الْحَمِيدِ يَعْنِي ابْنَ جَعْفَرٍ. ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْحَمِيدِ يَعْنِي ابْنَ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُهُ فِي عَشَرَةٍ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَالَ أَحْمَدُ: قَالَ: أَخْبَرَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ عَطَاءٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا حُمَيْدٍ السَّاعِدِيَّ فِي عَشَرَةٍ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهُمْ أَبُو قَتَادَةَ، قَالَ أَبُو حُمَيْدٍ: أَنَا أَعْلَمُكُمْ بِصَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالُوا: فَاعْرِضْ، فَذَكَرَ الْحَدِيثَ، قَالَ: "وَيَفْتَحُ أَصَابِعَ رِجْلَيْهِ إِذَا سَجَدَ، ثُمَّ يَقُولُ: اللَّهُ أَكْبَرُ، وَيَرْفَعُ وَيَثْنِي رِجْلَهُ الْيُسْرَى فَيَقْعُدُ عَلَيْهَا، ثُمَّ يَصْنَعُ فِي الْأُخْرَى مِثْلَ ذَلِكَ"، فَذَكَرَ الْحَدِيثَ، قَالَ: "حَتَّى إِذَا كَانَتِ السَّجْدَةُ الَّتِي فِيهَا التَّسْلِيمُ أَخَّرَ رِجْلَهُ الْيُسْرَى، وَقَعَدَ مُتَوَرِّكًا عَلَى شِقِّهِ الْأَيْسَرِ". زَادَ أَحْمَدُ، قَالُوا: صَدَقْتَ، هَكَذَا كَانَ يُصَلِّي، وَلَمْ يَذْكُرَا فِي حَدِيثِهِمَا الْجُلُوسَ فِي الثِّنْتَيْنِ كَيْفَ جَلَسَ.

د ابو حميد الساعدي نه روايت دى هغه ويلي دي: ما د هغه نه واوريدل او هغه د لسو كسانو سره وو د ملګرو د رسول الله ﷺ نه، او ويلي دي احمد: ماته خبر راکړى دى محمد بن عمرو بن عطاء، هغه وايي: ما اوريدلي دي د ابو حميد الساعدي نه، هغه د لسو كسانو سره وو د ملګرو د نبي ﷺ نه، بعضي د هغوى نه ابو قتادة دى، ويلي دي ابوحميد: زه ډېر پوهه يم د تاسو نه په مونځ د رسول الله ﷺ، هغوى وويل: پېش کړه، نو ذکر يي کړو حديث. هغه وايي: او کولاوولي به يي ګوتې د دواړو خپو چې کله به يي سجده کوله، بيا به يي ويله: الله اکبر، او اوچتول به يي لاسونه، او راغونډوله به يي چپه خپه، کښناستلو به په هغې، بيايي کول په دويم رکعات کې د هغې پشان. نو ذکر يي کړو حديث هغه وويل: تردې چې کله به وروستنى سجده شوه نو وروسته به يي کړه چپه خپه، او کښناستلو به په تورک سره په خپل چپ طرف باندې. زيات کړي دي احمد: هغوى وويل: تا رشتيا وويل، همدغسې مونځ يي کولو، او هغو دواړو ذکر کړى دى په خپل حديث کښناستل په دوه رکعاتونو کې چې هغه به څنګه کښناستلو.

قوله، و يفتح اصابع رجليه اذا سجد: يعنى په سجده کښې د پښو ګوتې اودروى او دې لره لږ غوندې قبلې طرف ته مائله کړي، دا لفظ په خاء معجمه سره دى.

[٩٦٤]()حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ إِبْرَاهِيمَ الْمِصْرِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنِ اللَّيْثِ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ مُحَمَّدٍ الْقُرَشِيِّ، وَيَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَلْحَلَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَطَاءٍ، أَنَّهُ كَانَ جَالِسًا مَعَ نَفَرٍ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِهَذَا الْحَدِيثِ، وَلَمْ يَذْكُرْ أَبَا قَتَادَةَ، قَالَ: "فَإِذَا جَلَسَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ جَلَسَ عَلَى رِجْلِهِ الْيُسْرَى، فَإِذَا جَلَسَ فِي الرَّكْعَةِ الْأَخِيرَةِ قَدَّمَ رِجْلَهُ الْيُسْرَى وَجَلَسَ عَلَى مَقْعَدَتِهِ".

د محمد بن عمرو بن عطاء نه روايت دى، هغه ناست وو د څه نفرو سره د ملګرو د رسول الله ﷺ نه د دې حديث، او ابو قتادة يي نه دى ذکر کړى، هغه وايي: چې کله به هغه کښناستلو په دوه رکعاتو نو کښناستلو به په چپه خپه باندې، کله چې به په وروستني رکعات کې کښناستلو نومخکې به يي کړه خپله چپه خپه، او کښناستلو به په مقعد خپل باندې.

[1]): انظر حديث رقم: ٧٣٠، (تحفة الأشراف: ١١٨٩٧) (صحيح)

[2]): انظر حديث رقم: ٧٣٠، (تحفة الأشراف: ١١٨٩٧) (صحيح)

[٩٦٥]()حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَلْحَلَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو الْعَامِرِيِّ، قَالَ: كُنْتُ فِي مَجْلِسٍ، بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ فِيهِ: "فَإِذَا قَعَدَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ قَعَدَ عَلَى بَطْنِ قَدَمِهِ الْيُسْرَى وَنَصَبَ الْيُمْنَى، فَإِذَا كَانَتِ الرَّابِعَةُ أَفْضَى بِوَرِكِهِ الْيُسْرَى إِلَى الْأَرْضِ وَأَخْرَجَ قَدَمَيْهِ مِنْ نَاحِيَةٍ وَاحِدَةٍ".

د محمد بن عمرو بن العامري نه روايت دی، هغه ويلي دي: زه وم په يو مجلس کې، (د دې حديث) هغه ويلي دي په هغې کې: چې کله به کېناستلو په دويم رکعات نو کېناستلو به په خېټه د چپې خپې، او ودروله به يې ښې خپه. کله چې به څلورم رکعات وو نزدې به يې کړو خپل چپ کوناټې په ځمکه، او راوېستل به يې دواړه قدمونه يو طرف ته.

[٩٦٦]()حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ الْحُسَيْنِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا أَبُو بَدْرٍ، حَدَّثَنِي زُهَيْرٌ أَبُو خَيْثَمَةَ، حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ الْحُرِّ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ عَبَّاسٍ أَوْ عَيَّاشِ بْنِ سَهْلٍ السَّاعِدِيِّ، أَنَّهُ كَانَ فِي مَجْلِسٍ فِيهِ أَبُوهُ، فَذَكَرَ فِيهِ، قَالَ: "فَسَجَدَ فَانْتَصَبَ عَلَى كَفَّيْهِ وَرُكْبَتَيْهِ وَصُدُورِ قَدَمَيْهِ وَهُوَ جَالِسٌ، فَتَوَرَّكَ وَنَصَبَ قَدَمَهُ الْأُخْرَى، ثُمَّ كَبَّرَ فَسَجَدَ، ثُمَّ كَبَّرَ فَقَامَ وَلَمْ يَتَوَرَّكْ، ثُمَّ عَادَ فَرَكَعَ الرَّكْعَةَ الْأُخْرَى فَكَبَّرَ كَذَلِكَ، ثُمَّ جَلَسَ بَعْدَ الرَّكْعَتَيْنِ حَتَّى إِذَا هُوَ أَرَادَ أَنْ يَنْهَضَ لِلْقِيَامِ قَامَ بِتَكْبِيرٍ، ثُمَّ رَكَعَ الرَّكْعَتَيْنِ الْأُخْرَيَيْنِ فَلَمَّا سَلَّمَ سَلَّمَ عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ شِمَالِهِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: لَمْ يَذْكُرْ فِي حَدِيثِهِ مَا ذَكَرَ عَبْدُ الْحَمِيدِ فِي التَّوَرُّكِ وَالرَّفْعِ إِذَا قَامَ مِنْ ثِنْتَيْنِ.

د عباس او يا د عياش بن سهل الساعدي نه روايت دی، بېشکه هغه په يو مجلس کې وو چې د هغه پلار هم پکې وو، نو هغه ذکر کړه په هغې کې، هغه ويلي دي: نو هغه سجده وکړه په دواړو ورغوو، او زنګونانو، او په سينو د قدمونو او هغه ناست وو، تورک يې وکړو، او وېې دروله خپله بله خپه. بيايي تکبير وکړو او سجده يې وکړه، بيايي تکبير وکړو ودرېدلو او تورک يې ونه کړو، بيا واپس شو هغه بل رکعت يې وکړو، نو همدغسې تکبير يې وکړو بيا کېناستلو وروسته د دوه رکعاتو نه تردې چې کله به چې هغه اراده وکړه چې اوچت شي پاڅېدو ته پاڅېدلو به تکبير ته، بيايي وکړل دوه رکعاته نور، هرکله به يې چې سلام ګرځولو نو سلام به يې ګرځولو خپل ښي طرف ته، او چپ طرف ته. ويلي دي ابوداود: هغه نه دې ذکر کړي په خپل حديث کې هغه چې ذکر کړي دي عبد الحميد په تورک کې او په رفع کې چې کله به پاڅېدلو د دويم رکعات نه.

[٩٦٧]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ عَمْرٍو، أَخْبَرَنِي فُلَيْحٌ، أَخْبَرَنِي عَبَّاسُ بْنُ سَهْلٍ، قَالَ: اجْتَمَعَ أَبُو حُمَيْدٍ، وَأَبُو أُسَيْدٍ، وَسَهْلُ بْنُ سَعْدٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ، فَذَكَرَ هَذَا الْحَدِيثَ، وَلَمْ يَذْكُرِ الرَّفْعَ إِذَا قَامَ مِنْ ثِنْتَيْنِ وَلَا الْجُلُوسَ، قَالَ: "حَتَّى فَرَغَ، ثُمَّ جَلَسَ فَافْتَرَشَ رِجْلَهُ الْيُسْرَى، وَأَقْبَلَ بِصَدْرِ الْيُمْنَى عَلَى قِبْلَتِهِ".

خبر راکړی دی ماته عباس بن سهل، هغه ويلي دي: راجمع شو ابو حميد او ابو اسيد او سهل بن سعد او محمد بن مسلمة، ذکر يې کړو دا حديث. او ذکر يې نه کړه رفع د دوه رکعاتو نه، او نه جلوس، هغه ويلي دي: تردې چې فارغ شو بيا کېناستلو خوره يې کړه چپه خپه، او د ښې سينه يې قبلې ته مخامخ کړه.

[1]: انظر حديث رقم: ٧٣٣، (تحفة الأشراف: ١١٨٩٧) (صحيح)
[2]: انظر حديث رقم: ٧٣٣، (تحفة الأشراف: ١١٨٩٢) (ضعيف)
[3]: انظر حديث رقم: ٧٣٣، (تحفة الأشراف: ١١٨٩٢) (صحيح)

بَابُ التَّشَهُّدِ

باب دی په بیان د تشهد کښې

ابحاث ثلاثه

په دې ځائې کښې دوه مسئلې دی، اول د تشهد حکم، دویم دا چه دا د کوم امام په نیز کوم تشهد راجح دې ځکه چه تشهد د ګڼړو صحابؤ د روایاتو نه په مختلف الفاظو سره وارد دې، دریمه خبره د تشهد د الفاظو تشریح.

بحث اول : (د تشهد حکم)

د امام مالك په نیز تشهد اول او آخر دواړه سنت مؤکده دی، د امام شافعی او امام احمد علی القول الصحیح په نیز تشهد اول واجب او تشهد ثانی فرض دې، او د حنفیه په ظاهر الروایة کښې دواړه واجب دی او روایت ثانیه دا دې چه اول سنت او ثانی واجب دې.

بحث ثانی : (راجح تشهد)

په روایات د حدیثو کښې درې تشهد زیات مشهور دی، ۱، تشهد ابن مسعود رضی الله عنه، ۲، تشهد ابن عباس رضی الله عنه، ۳، تشهد عمر بن الخطاب رضی الله عنه، د ابن مسعود رضی الله عنه د تشهد الفاظ هغه دی کوم چه مونږ او تاسو لولو او د تشهد د ابن عباس رضی الله عنه کوم چه په خپله وړاندې په دې کتاب کښې ځو احادیثه روستو راروان دې د هغې الفاظ دا دی، التحیات المبارکات الصلوات الطیبات لله السلام علیك ایها النبی و رحمة الله و برکاته الی أخره، او تشهد عمر کوم چه په مؤطا امام مالك او مشکوٰة کښې هم دې د هغی لفظ دا دی، التحیات لله الزاکیات لله الطیبات الصلوات لله السلام علیك ایها النبی الی أخره، په دې دریواړو کښې حنفیه او حنابله اول تشهد او امام شافعی تشهد ثانی او امام مالك تشهد ثالث اختیار لره کړې دې،

(د تشهد ابن مسعود رضی الله عنه وجوه د ترجیح)

د تشهد ابن مسعود ګڼړې وجې د ترجیح دی :

۱. دا تشهد د شلو نه په زیاتو طریق سره مروی دې.

۲. د ګڼړو صحابه نه مروی دې، ابوموسی اشعری، ابن عمر و عائشه رضی الله عنهم اجمعین، امام ترمذیؒ فرمائی، هو اصح حدیث رُوی فی التشهد، په دې کښې دوه واو راځی په خلاف دتشهد دابن عباس او عمر رضی الله عنهم نه چه په هغې کښې یو واو هم نشته دې،

(د امام اعظم رحمه الله د ذهانت یوه عجیبه واقعه)

نو ځکه یوه قصه مشهوره ده کومه چه په حاشیه د ترمذی کښې د شرح السنة نه نقل کړې ده، یو اعرابی امام ابوحنیفه رحمه الله ته راغلو امام صاحب خپلو ملګرو سره ناست وو دې راغلو او سوال ئې اوکړو، بواو او بواوین، امام صاحب جواب ورکړو، بواوین، په دې باندې اعرابی اووئیل، بارك الله فیك کما بارك فی لا و لا، حاضرینو ته هیڅ پته او نۀ لګیده چه څۀ سوال اوشو او د دې څۀ جواب ورکړې شو، د شاګردانو په پوښتنې کولو باندې امام صاحب اوفرمائیل چه دې سړی زما نه د تشهد په باره کښې سوال کړې وو چه ستاسو په نیز

کوم راجح دي يو واو واله لکه چه د ابوموسی اشعری په تشهد کښې دي يا دوو واو واله لکه چه د ابن مسعود په تشهد کښې دي نو ما جواب ورکړو چه دوو واو واله نو هغۀ ما ته دعاء اوکړه چه څنګه الله تعالی د زيتون په اونه کښې برکت فرمائيلي دي دغه شان دې ستا په علم کښې هم برکت اوفرمائی، قال الله تعالی، من شجرة مباركة زيتونة لا شرقية و لا غربية،

۳. د دې تشهد خصوصيت دا دې چه د دې الفاظ په ټولو رواياتو کښې هم يو دی هيڅ اختلاف په کښې نشته دې.

۴. دا تشهد متفق عليه دې بخاری او مسلم دواړو دې لره اختيار کړې دې.

بحث ثالث : (دتشهد دالفاظو تشريح)

التحيات لله، يعنی ټول انواع د تعظيم او تسليم د الله تعالی شانه دپاره دی. ابوسليمان خطابی مشهور شارح د حديث دې فرمائی چه په هره زمانه کښې د هر بادشاه دپاره د سلام او آداب جدا جدا طريقې دی خو د الله پاک شايان شان په دې کښې يو هم نۀ وو نو څکه حضور ﷺ دې ټولو انواعو د سلام ته اشاره فرمائی(۱) او دا ټول د الله پاک پورې خاص فرمائی يعنی ټول انواع دتعظيم او تسليم صرف د الله پاک دپاره دی.

په اصل کښې د تشهد دا الفاظ کوم چه د مانځه په آخر کښې لوستلې کيږی د الله پاک د تعظيم په اظهار کښې ډير جامع او مانع دی، زمونږ د عجمو په ژبه باندې چونکه دا ختلې دی مونږ دا فرافر يعنی په جلتۍ سره لولو او د دې ژوروالی ته سوچ نۀ کوو، هم داسې د خطبه ماثوره دا الفاظ، الحمد لله نحمده و نستعينه و نستغفره و نؤمن به و نتوكل عليه و نعوذ بالله من شرور انفسنا و من سيات اعمالنا.. الخ، ډير لوئې جامع او مانع دی دې لره فصحاء او بلغاء د عرب ښۀ پيژنی.

د حضور ﷺ کمال فصاحت او بلاغت

د مسلم شريف په، ص، ۲۸۵، کښې په يو روايت کښې دی د يو اعرابی په وړاندې حضور ﷺ دا خطبه اولوستله هغه صحابی چه دا واوريده نو ډير متاثره شو او حضور ﷺ ته ئې عرض اوکړو چه دا کلمات لږ بيا اووايه حضور ﷺ دويم ځلې دريم ځلې اولوستله نو هغه اعرابی اووئيل چه ما د لويو لويو کاهنانو او ساحرانو او شاعرانو کلام اوريدلې دې خو ما داسې کلمات تراوسه پورې د چا نه نۀ دې اوريدلی کوم چه د سمندر ويخ ته رسيدلې وی، لقد بلغن نا عُرس البحر، د حضرت اقدس ګنګوهی په تقرير الحل الفهم کښې د دې جملې ډيره ښۀ تشريح کړې ده.

(۱) او دا اشاره کونکې حضور ﷺ دی د حضور ﷺ نه زيات فصيح او بليغ نۀ څوک تير شوې دې او نۀ شته او حضور ﷺ دا تعظيم او تکريم د الله پاک په دربار کښې د وړاندې کولو اسلوب اختيار فرمائيلې دې. په يوه بله موقعه باندې حضور ﷺ د الله پاک د حمد او ثناء په طور باندې فرمائيلې دی، اللهم لا احصي ثناء عليك انت كما اثنيت علي نفسك، ملا علی قاری ليکلې دی چه كما اثنيت علي نفسك نه غالبا دې آيت کريمه ته اشاره ده، فلله الحمد رب السموت و رب الارض رب العالمين، وله الكبرياء في السموات والارض و هو العزيز الحكيم،

بهر حال يو تفسير خو دا دي چه د التحيات نه مراد ټول انواع د تعظيم او تسليم دی او د الصلوات نه مراد صلوات خمسه يا فرائض او نوافل ټول مونځونه مراد دی او د الطيبات نه مراد كلمات طيبه دی، او يو قول دا دي چه د التحيات نه مراد عبادات قوليه او د الصلوات نه مراد عبادات فعليه او د الطيات نه مراد عبادات ماليه دی.

د يو اشكال او جواب

السلام عليك باندی دا يو اشكال كيږی چه د مانځه په حالت كښې يو انسان سره خطاب كول ممنوع او مفسد د صلوة دی، يو جواب د دې دا وركړې شوې دې چه دا د حضور ﷺ د خصائصو نه دی او د بعضو رواياتو نه دا هم معلوميږی لكه چه په بخاری شريف كښې دی چه صحابی فرمائی چه كله حضور ﷺ دنيا كښې تشريف فرما وو هغه وخت به مونږ هم دا لفظ د السلام عليك استعمالول او كله چه دوئ د دنيا نه تشريف يوړو نو مونږ د خطاب د صيغې په ځائې السلام على النبى وئيل شروع كړل، خو په بذل كښې دا ليكلې دی چه دا د بعضې صحابؤ اجتهاد وو هغوی به په خپلې رائې سره داسې كول او د حضور ﷺ تعليم كوم چه د امت دپاره وو هغه هم په صيغې د خطاب سره دې لهذا هم هغه قابل عمل دې، او دويمه خبره دا هم ده چه حضور ﷺ به په خپل ژوند كښې په كثرت سره سفرونو كښې وو كله به حضور ﷺ د صحابؤ د وړاندې وو او كله به حضور ﷺ نه غائب وو، هغه وخت ټولو حالاتو كښې كه حالت د غيب وو يا د حضور كله چه صيغه د خطاب استعماليدله نو د دوئ د وفات نه پس هم داسې كيدل پكار دی.

يو بل اشكال

كه څوك سړې اووائی چه د دينه خو دا معلوميږی چه حضور ﷺ حاضر او ناظر دې نو ځكه خو خطاب كولې كيږی، د دې جواب د دې مضمون نه مستفاد كيدې شی كوم چه وړاندې په لطيفه د التحيات كښې راروان دې هغه دا چه د دې الفاظو ابتداء خو د حضور ﷺ د معراج په موقع باندې كوم وخت چه حضور ﷺ دالله تعالى په حضور كښې سلام او نياز وړاندې كولو د هغی په جواب كښې د الله پاك د طرف نه شوې وو مونږ خو د هغی الفاظو نقل كونكې يو لكه څنګه چه تاسو به اوريدلې وی چه د اعراب يو قسم اعراب حكائی وی، نو دا الفاظ هم دلته ابتدائی نۀ دی بلكه حكائی دی، فالحمد لله اشكال رفع شو، او يو جواب د دې دا دې كوم چه د بعضې مشائخو د كلام نه مستفاد دې چه زمونږ مراد خو دا دې چه، ياالله زمونږ د عاجزانو د طرف نه د خپل نبی په بارګاه كښې السلام عليك اورسوه لكه څنګه چه زمونږ په عرف كښې په سفر باندې تلونكی واله ته وئيلې شی چه فلانكی بزرګ ته زمونږ د طرف نه السلام عليكم وړاندې كړه.

لطيفه التحيات

په شروحو د حديث كښې د التحيات په باره كښې ليكلې دی چه كله په واقعه د معراج كښې حضور ﷺ د الله تعالى په بارګاه كښې حاضر شو نو حضور ﷺ د الله پاك حمد او ثناء په دې مخصوص الفاظو سره عرض كړه، التحيات لله والصلوات و الطيبات، نو د الله تعالى د

طرف نه جواب ملاو شو السلام علیك ایها النبی و رحمة الله و برکاته (حضور ﷺ په هیڅ موقعه باندې هم خپل امت نۀ وو هیر کړې نو خکه) حضور ﷺ د الله پاك په بارګاه کښې عرض اوکړو السلام علینا و علی عباد الله الصالحین، مطلب دا وو چه اې الله ستا د طرف نه سلامتی صرف په ما باندې نۀ بلکه ما سره په نورو نیکو بندګانو باندې هم پکار ده، دا ټول منظر جبرئیل امین کتلو نو په دې باندې هغوی سمدستی اوفرمائیل، اشهد ان لا اله الا الله و اشهد ان محمدا عبده و رسوله.

یو اشکال او جواب

د حضور ﷺ حمد او ثناء د الله په دربار کښې په لیلة المعراج کښې په یو مخصوص مقام باندې دسدرة المنتهی نه وړاندې شوې وه نو په دې باندې حضرت شیخ دا اشکال لیکلې دې چه جبرئیل امین خو په سدرة المنتهی ته رسیدو باندې پاتې شوې وو نو بیا په دغه وخت کښې په حمد او ثناء کښې کوم ځائې وو چه شهادتین ئې لوستلې؟ حضرت دا اشکال په خپل مکتوب ګرامی کښې کړې دې، د بنده په ذهن کښې د دې جواب دا دې چه کیدې شي په واپسئ کښې چه کله حضور ﷺ حضرت جبرئیل ته خپله قصه اوروله وی نو بیا به هغوی داسې وئیلي وی چه اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمدا عبده و رسوله، والله تعالی اعلم.

[۹۶۸](١)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، أَخْبَرَنَا يَحْيَى، عَنْ سُلَيْمَانَ الْأَعْمَشِ، حَدَّثَنِي شَقِيقُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: كُنَّا إِذَا جَلَسْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الصَّلَاةِ، قُلْنَا: السَّلَامُ عَلَى اللَّهِ قَبْلَ عِبَادِهِ، السَّلَامُ عَلَى فُلَانٍ وَفُلَانٍ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَقُولُوا السَّلَامُ عَلَى اللَّهِ، فَإِنَّ اللَّهَ هُوَ السَّلَامُ، وَلَكِنْ إِذَا جَلَسَ أَحَدُكُمْ فَلْيَقُلْ: التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ، السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللَّهِ الصَّالِحِينَ، فَإِنَّكُمْ إِذَا قُلْتُمْ ذَلِكَ أَصَابَ كُلَّ عَبْدٍ صَالِحٍ فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ، أَوْ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، ثُمَّ لِيَتَخَيَّرْ أَحَدُكُمْ مِنَ الدُّعَاءِ أَعْجَبَهُ إِلَيْهِ فَيَدْعُوَ بِهِ".

عبد الله بن مسعود رضي الله عنه وائي دي: وو مونږ چې کله به د رسول الله ﷺ سره په مانځه کښې کیناستلو مونږ به ویل: سلام دې وي په الله باندې مخکې د بندګانو د هغه نه، سلام دې وي په فلان او فلان، وويل رسول الله ﷺ: تاسو مه وایي چې سلام دې وي په الله بیشکه الله پاک پخپله سلام دی، لکن کله چې کیني یو کس ستاسو نه نو ودې وایي: ټول قولي عبادتونه (ستائیني) الله لره دي، او بدني عبادتونه او مالي عبادتونه، سلام دې وي په تا باندې ای نبي او رحمت د الله دې وي او برکتونه د الله دې وي په هغه، سلام دې وي په مونږ او په بندګانو د الله چې نیکان دي، کله چې تاسو داسې وایي نو دا رسېږي هر یو نیک بنده ته په اسمان او ځمکه کې. او یا په مابین د اسمان او ځمکه کې. زه ګواهي کوم چې نشته لائق دی عبادت مګر یو الله، او زه ګواهي کوم چې بیشکه محمد د الله بنده او رسول دی،

(١): صحيح البخاري/الأذان ١٤٨ (٨٣١)، ١٥٠ (٨٣٥)، والعمل في الصلاة ٤ (١٢٠٢)، والاستئذان ٣ (٦٢٣٠)، ٢٨ (٦٢٦٥)، والدعوات ١٧ (٦٣٢٨) والتوحيد ٥ (٧٣٨١)، صحيح مسلم/الصلاة ١٦ (٤٠٢)، سنن النسائي/التطبيق ١٠٠ (١١٦٣، ١١٦١)، والسهو ٤١ (١٢٧٨)، ٤٣ (١٢٨٠)، ٥٦ (١٢٩٩)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٢٤ (٨٩٩)، (تحفة الأشراف: ٩٢٤٥)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصلاة ١٠٣ (٢٨٩)، والنكاح ١٧ (١١٠٥)، مسند احمد (٣٧٦/١، ٣٨٢، ٤٠٨، ٤١٣، ٤١٤، ٤٢٢، ٤٢٣، ٤٢٨، ٤٣١، ٤٣٧، ٤٣٩، ٤٤٠، ٤٥٠، ٤٥٩، ٤٦٤)، سنن الدارمي/الصلاة ٨٤ (١٣٧٩) (صحيح)

بيا دې غوره کړي يو کس ستا سو نه هغه دعاء چې هغه ته ډېره خوښه وي نو هغه دې وکړي.
قوله: حدثنا مسدد.. الخ، قوله، لا تقولوا السلام على الله فان الله هو السلام : امام نووی فرمائی چه مطلب دا دې چه سلام د الله تعالی په نومونو کښې خپله يو نوم دې بيا د السلام على الله څۀ مطلب دې، او بعضې نورو شارحينو دا ليکلي دی چه سلام چه کوم دې هغه په اصل کښې د سلامتئ دعا ده چه دهغی محتاج بندګان دی الله ته د دې ضرورت نشته دې هغه خو په خپله سلامتيا ورکونکې دې.
قوله، ثم ليتخير احدكم من الدعاء اعجبه اليه : يعنی د تشهد نه پس چه کوم سړی ته کومه دعاء خوښه وی او د دۀ د حال مناسب وی هغه دې د الله نه اوغواړي.

د تشهد په اخيره کښې دعاء

په دې حديث کښې دا مسئله اختلافی ده چه په مانځه کښې کوم کوم قسم دعاء غوختلی شی په دې باندې دلته مفصل کلام په باب دعاء الاستفتاح کښې قال مالك لاباس بالدعاء فی الصلوة فی اوله و اوسطه. الخ، په ذيل کښې تير شوې دې د خلاصې په طور باندې دومره واورئ چه په دې کښې درې مذهبه دی عند الجمهور ادعيه ماثوره يعنی هغه دعاګانې کومې چه په قرآن او حديث کښې راغلي دی لوستلې شی، او د حنفيه په کتابونو کښې ليکلي دی چه هغه دعاګانې چه د قرآن د الفاظو سره مشابه وی د کومو سوال چه د غير الله نه نۀ شی کيدې هغه لوستلې شی، او بعضې علماؤ لکه ابراهيم نخعی فرمائی، لا يدعى الا بما يوجد فی القرآن.

[٩٦٩] (¹) حَدَّثَنَا تَمِيمُ بْنُ الْمُنْتَصِرِ، أَخْبَرَنَا إِسْحَاقُ يَعْنِي ابْنَ يُوسُفَ، عَنْ شَرِيكٍ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: كُنَّا لَا نَدْرِي مَا نَقُولُ إِذَا جَلَسْنَا فِي الصَّلَاةِ، وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ عُلِّمَ، فَذَكَرَ نَحْوَهُ. قَالَ شَرِيكٌ: وَحَدَّثَنَا جَامِعٌ يَعْنِي ابْنَ أَبِي شَدَّادٍ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، بِمِثْلِهِ، قَالَ: "وَكَانَ يُعَلِّمُنَا كَلِمَاتٍ، وَلَمْ يَكُنْ يُعَلِّمُنَاهُنَّ كَمَا يُعَلِّمُنَا التَّشَهُّدَ: اللَّهُمَّ أَلِّفْ بَيْنَ قُلُوبِنَا، وَأَصْلِحْ ذَاتَ بَيْنِنَا، وَاهْدِنَا سُبُلَ السَّلَامِ، وَنَجِّنَا مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ، وَجَنِّبْنَا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ، وَبَارِكْ لَنَا فِي أَسْمَاعِنَا وَأَبْصَارِنَا وَقُلُوبِنَا وَأَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا، وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ، وَاجْعَلْنَا شَاكِرِينَ لِنِعْمَتِكَ مُثْنِينَ بِهَا قَابِلِيهَا وَأَتِمَّهَا عَلَيْنَا".

د عبد الله نه روايت دی هغه ويلي دي: وو مونږ چې نه پوهېدو چې څه شی ووايو په مانځه کې، او وو رسول الله ﷺ چې ښودلی شوی وو ورته، ذکر يې کړه د هغه پشان. ويلي دي شريک: او مونږ ته حديث بيان کړی دی جامع يعني ابن ابي شداد، د وائل نه، او هغه د عبد الله نه، په مثل د هغې، هغه ويلي دي: او وو چې رانښودلي يې مونږ ته کلمي او هغه نه وو چې مونږ ته يې ښودلي هغې لره، څنګه يې چې مونږ ته تشهد رانښودلو. آی الله ته مينه واچوي زمونږ په زړونو کې، او روغه راولې زمونږ په مينځ کې، او راوښی مونږ ته لارې د سلامتيا، او نجات راکړي مونږ ته د تيارو نه رڼا ته، او توبه قبوله کړي زمونږ، بېشکه ته توبه قبلونکی يې او رحيم يې، وګرځوي مونږ شکريه کونکي ستا د نعمت، ثنا ويونکي د

(¹) تفرد به أبو داود (ضعيف)

هغې، د هغې قبلونکې او پوره یې کړې په مونځ.

تشریح: قوله: و كان يعلمنا كلمات و لم يكن يعلمناهن كما يعلمنا التهشد : يعنى حضور ﷺ به مونږ ته یوه بله دعا خودله خو هغه به ئې دومره اهتمام سره نۀ خودله څومره اهتمام سره به ئې چه تشهد خودلو او یا مطلب دا دې چه دا دویمه دعاء به حضور ﷺ د تشهد نه هم زیات په اهتمام سره خودله هغه دعاء وړاندې په کتاب کښې مذکور ده، زۀ په سبق کښې طالبانو ته وایم چه دا ډیره ښۀ او ډیره جامع مانع دعا ده دا ضرور یادول او لوستل پکار دی د مانځه په اخیره کښې د سلام نه وړاندې او د دینه علاوه نورې دعاګانې هم لوستلې شی بلکه زۀ خو دا هم وایم چه د حدیثو په کتابونو کښې په سونو بلکه په زرګونو دعاګانې راغلې دی هر سړی لره پکار دی چه دا دعاګانې دې خپل وړاندې کیږدی او د کتابونو نه د خپل خپل حال مناسب منتخب کول او په یو کاپئ کښې لیکل پکار دی د همیشه دپاره د وظیفې په توګه باندې د لوستلو دپاره.

[٩٧٠](١)حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ الْحُرِّ، عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُخَيْمِرَةَ، قَالَ: أَخَذَ عَلْقَمَةُ بِيَدِي فَحَدَّثَنِي، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ مَسْعُودٍ أَخَذَ بِيَدِهِ، وَأَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَ بِيَدِ عَبْدِ اللَّهِ "فَعَلَّمَهُ التَّشَهُّدَ فِي الصَّلَاةِ، فَذَكَرَ مِثْلَ دُعَاءِ حَدِيثِ الْأَعْمَشِ، إِذَا قُلْتَ هَذَا أَوْ قَضَيْتَ هَذَا فَقَدْ قَضَيْتَ صَلَاتَكَ، إِنْ شِئْتَ أَنْ تَقُومَ فَقُمْ، وَإِنْ شِئْتَ أَنْ تَقْعُدَ فَاقْعُدْ".

د قاسم بن مخیمرة نه روایت دی هغه ویلې دي، علقمه زما لاس ونیولو، ماته یې حدیث بیان کړو چې عبد الله بن مسعود زما لاس ونیولو، او رسول الله ﷺ ونیولو لاس د عبد الله، ویې ښودلو هغه ته تشهد په مانځه کې، نو ذکر یې کړه پشان د دعاء د حدیث د اعمش: کله چې تا وویله دا او یا دې پوره کړه دا نو تا خپل مونځ پوره کړو، که چېرې ستا خوښه وي چې پاڅېږې نو پاڅېږه، او که چېرې دې خوښه وي چې کښېنې نو کښېنه.

تشریح: قوله: فذكر مثل دعاء حديث الاعمش : د اعمش حدیث د دې باب رومبې حدیث دې خو په دې کښې خو کومه دعا مذکور نۀ ده څکه صاحب منهل لیکلې دی چه دلته لفظ د دعا نۀ دې پکار بلکه داسې کیدل پکار دی، فذكر مثل حديث الاعمش، دویمه خبره دا ده چه د ذَكرَ د ضمیر مرجع هم یو شارح نۀ دی لیکلې لهذا ضمیر به مطلق راوی طرف ته راجع وی.

قوله، اذ قلت هذا او قضيت هذا فقد قضيت صلوتك : امام خطابی فرمائی چه د دې جملې په باره کښې د رواتو اختلاف دې بعضې دې لره مرفوعا روایت کوی او بعضې موقوفا او هغه وړاندې لیکی چه که د دې رفع ثابت شی نو بیا به دا دلیل وی په دې خبره باندې چه دتشهد نه پس صلوة علی النبی واجب نۀ دې.

په مانځه کښې د درود حکم

زۀ وایم چه مسئله مختلف فیه ده د حنفیه او مالکیه خو دا مذهب دې، البته د امام شافعی او احمد په نیز باندې فرض دې یعنی قعده اخیره کښې، دلته په بذل کښې یوه مسئله بله هم لیکلې ده هغه دا چه د دینه معلومیږی چه قعده اخیره په مقدار د تشهد باندې فرض ده،

(١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٩٤٧٤)، وانظر رقم (٩٦٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٢٢/١) (شاذ)

زهٔ وایم چه د جمهورو علماؤ او ائمه ثلاثه مذهب هم دا دې خو د مالکیه په دې کښې اختلاف دې هغوی د فرضیت قائل نهٔ دی، کما فی الانوار الساطعه، دغه شان د دې حدیث نه دا هم معلومه شوه ه تسلیم فی الصلوة فرض نهٔ دې لکه څنګه چه حنفیه وائی خلافا للجمهور، د دې بحث د باب الوضوء په شروع کښې په وتحلیلها التسلیم کښې تیر شوې دې.

[٩٧١](١)حَدَّثَنَا نَصْرُبْنُ عَلِيّ، حَدَّثَنِي أَبِي، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي بِشْرٍ، سَمِعْتُ مُجَاهِدًا يُحَدِّثُ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي التَّشَهُّدِ: "التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ الصَّلَوَاتُ الطَّيِّبَاتُ، السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ". قَالَ: قَالَ ابْنُ عُمَرَ: زِدْتُ فِيهَا" وَبَرَكَاتُهُ السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللَّهِ الصَّالِحِينَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ". قَالَ ابْنُ عُمَرَ: زِدْتُ فِيهَا" وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ".

د ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دی، هغه روایت کوي د رسول الله ﷺ نه په باره د تشهد کې: تول قولی عبادتونه (ستائیني) د الله لپاره دي چې بدني او مالي عبادتونه دي، سلامتیا دي دي وي په تا باندې ای نبي رحمت او برکت د الله دې وي. هغه وايي: ویلي دي ابن عمر: تا زیادت کړو په هغې کې: (و برکاته) سلامتیا دې وي په مونږ او په نیکانو بندګانو د الله، زه ګواهي کوم چې نشته مستحق د عبادت مګر یو الله دی. وویل ابن عمر: ما زیات کړو په هغې کې: (وحدَه لا شریکَ له . او زه ګواهي کوم چې بېشکه محمد د الله بنده او رسول دی.

[٩٧٢](٢)حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، أَخْبَرَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ قَتَادَةَ. ح وحَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ يُونُسَ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ حِطَّانَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الرَّقَاشِيِّ، قَالَ: صَلَّى بِنَا أَبُو مُوسَى الْأَشْعَرِيُّ، فَلَمَّا جَلَسَ فِي آخِرِ صَلَاتِهِ، قَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ: أُقِرَّتِ الصَّلَاةُ بِالْبِرِّ وَالزَّكَاةِ، فَلَمَّا انْفَتَلَ أَبُو مُوسَى أَقْبَلَ عَلَى الْقَوْمِ، فَقَالَ: أَيُّكُمُ الْقَائِلُ كَلِمَةَ كَذَا وَكَذَا، قَالَ: فَأَرَمَّ الْقَوْمُ، فَقَالَ: أَيُّكُمُ الْقَائِلُ كَلِمَةَ كَذَا وَكَذَا، فَأَرَمَّ الْقَوْمُ، قَالَ: فَلَعَلَّكَ يَا حِطَّانُ أَنْتَ قُلْتَهَا، قَالَ: مَا قُلْتُهَا، وَلَقَدْ رَهِبْتُ أَنْ تَبْكَعَنِي بِهَا، قَالَ: فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ: أَنَا قُلْتُهَا، وَمَا أَرَدْتُ بِهَا إِلَّا الْخَيْرَ، فَقَالَ أَبُو مُوسَى: أَمَا تَعْلَمُونَ كَيْفَ تَقُولُونَ فِي صَلَاتِكُمْ؟ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطَبَنَا، فَعَلَّمَنَا، وَبَيَّنَ لَنَا سُنَّتَنَا، وَعَلَّمَنَا صَلَاتَنَا، فَقَالَ: "إِذَا صَلَّيْتُمْ فَأَقِيمُوا صُفُوفَكُمْ، ثُمَّ لِيَؤُمَّكُمْ أَحَدُكُمْ، فَإِذَا كَبَّرَ فَكَبِّرُوا، وَإِذَا قَرَأَ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ سورة الفاتحة آية ٧، فَقُولُوا: آمِينَ، يُحِبْكُمُ اللَّهُ، وَإِذَا كَبَّرَ وَرَكَعَ فَكَبِّرُوا وَارْكَعُوا، فَإِنَّ الْإِمَامَ يَرْكَعُ قَبْلَكُمْ وَيَرْفَعُ قَبْلَكُمْ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فَتِلْكَ بِتِلْكَ، وَإِذَا قَالَ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، فَقُولُوا: اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ، يَسْمَعُ اللَّهُ لَكُمْ، فَإِنَّ اللَّهَ تَعَالَى قَالَ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، وَإِذَا كَبَّرَ وَسَجَدَ فَكَبِّرُوا وَاسْجُدُوا، فَإِنَّ الْإِمَامَ يَسْجُدُ قَبْلَكُمْ وَيَرْفَعُ قَبْلَكُمْ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فَتِلْكَ بِتِلْكَ. فَإِذَا كَانَ عِنْدَ الْقَعْدَةِ فَلْيَكُنْ مِنْ أَوَّلِ قَوْلِ أَحَدِكُمْ أَنْ يَقُولَ: التَّحِيَّاتُ الطَّيِّبَاتُ الصَّلَوَاتُ لِلَّهِ، السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ، السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللَّهِ الصَّالِحِينَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ"، لَمْ يَقُلْ أَحْمَدُ: وَبَرَكَاتُهُ، وَلَا قَالَ: وَأَشْهَدُ، قَالَ: وَأَنَّ مُحَمَّدًا.

---

(١): تفرد به أبو داود، وراجع: موطا امام مالك/الصلاة ١٣(٥٣)، (تحفة الأشراف: ٧٣٩٦) (صحيح)

(٢): صحيح مسلم/الصلاة ١٦ (٤٠٤)، سنن النسائي/الإمامة ٣٨ (٨٣١)، والتطبيق ٢٣ (١٠٦٥)، ١٠١ (١١٧٣)، والسهو ٤٤ (١٢٨١)، سنن ابن ماجه/اقامة الصلاة ٢٤ (٩٠١)، (تحفة الأشراف: ٨٩٨٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٠١/٤، ٤٠٥، ٤٠٩)، سنن الدارمي/الصلاة ٧١ (١٣٥١) (صحيح)

د حطان بن عبد الله الرقاشي نه روايت دى هغه ويلي دي: مونږ ته ابو موسى اشعري ومونځ وكړو، كله چې كېناستلو په اخير د مانځه كې، وويل يو سړي د قوم نه، ثابت شوى دى مونځ په نيكۍ او پاكۍ سره، هركله چې وګرځيدلو ابو موسى مخامخ شو قوم ته، وېي ويل: تاسو كې كوم دا فلانۍ فلانۍ كلمه وويله؟ هغه وايي: چې قوم چوپ شو، هغه وويل: په تاسو كې كوم داسې كلمه وويله؟ قوم چوپ شو، هغه وويل: شايد چې تا ويلي وي حطانه! هغه وويل: ما نده ويله، بېشكه زه ووېريدم چې ته به ما چوپ كړي په هغې سره، هغه وايي: چې يو سړي د قوم نه وويل: ما وويله زما اراده نه وه مګر د خير، نو وويل ابو موسى: آيا تاسو ته پته نشته چې مانځه كې به څه وايي، بېشكه رسول الله ﷺ مونږ ته خطبه راكړه مونږ ته يې تعليم راكړو او مونږ ته يې زمونږ سنت راوښودل او مونږ ته يې زمونږ مونځ راوښودلو، هغه وايي: كله چې تاسو مونځ كوئ نو صفونه نيغ كړئ، تاسو ته دې د تاسو نه يو كس امامت وكړي، كله چې هغه تكبير وايي نو تاسو هم تكبير وايي، او كله چې هغه غير المغضوب عليهم و لا الضالين وايي نو تاسو امين وايي، تاسو سره به الله محبت وكړي، او كله چې تكبير ووايي او ركوع وكړي، نو تاسو هم تكبير وايي او ركوع كوئ، بېشكه امام ستاسو نه مخكې ركوع كوي او سر اوچته وي مخكې ستاسو نه، رسول الله ﷺ وويل: دا دهغې په بدل كې شه، اوكله چې هغه سمع الله لمن حمده ووايي نو تاسو وايي: اى الله ربه زمونږ تالره حمد دى، الله اوري ستاسو، ځكه الله پاک ويلي دي په ژبه د نبي خپل سره: اوري الله حمد د هغه چا چې د هغه حمد وايي، او كله چې هغه تكبير ووايي او سجده وكړي نو تاسو هم تكبير وايي او سجده كوئ، بېشكه امام سجده كوي مخكې ستاسو نه او سر اوچتوي مخكې ستاسو نه، وويل رسول الله ﷺ دا د هغې په مقابل كې شو، كله چې وخت د قعدې راشي، نو تاسو نه د يو كس اولنى قول دې دا شي: چې ټول عبادتونه خاص الله لره دي، مالي او بدني عبادتونه خاص الله لره دي، سلام دې وي په تا باندې اى نبي رحمتونه د الله دې وي او بركتونه د الله دې وي، سلامتيا دې وي په مونږ او د الله په نيكانو بندګانو، زه ګواهي كوم چې نشته مستحق د عبادت مګر يو الله دى، او زه ګواهي كوم چې محمد ﷺ د الله بنده او رسول دى احمد ويلي دي «و بركاته» اونه يې «واشهد» ويلي دي، هغه ويلي دي: «و أن محمداً».

د حديث مضمون

حطان بن عبدالله وائي چه د يو ځل خبره ده چه زمونږ استاذ ابوموسى اشعرى مونږ ته مونځ راكړو كله چه تشهد كښې كيناستلو نو د روستو نه يو مقتدى د مونځ په مدح او تعريف كښې دا جمله اووئيله كومه چه پورته مذكور ده، يعنى مونځ سره د تعلق او مينې د وجه نه بيخاله او او بې ارادې د هغهٔ د ژبې نه دا الفاظ اووتل د كومو مطلب چه دا دې چه مونځ نيكئ او د ګناهونو نه پاكئ سره براقرار ساتلې شوې دې، يعنى مونځ ډير ښهٔ عمل دې او د دې سره ګناه هم معاف كيږى كله چه ابو موسىٰ اشعرى د مانځه نه فارغ شو نو خلقو طرف ته متوجه شو او پوښتنه ئې اوكړه چه دا الفاظ چا وئيلې وو؟ خلق چپ وو دويم ځلې ئې بيا

دا سوال اوکړو بیا هم هغوی چپ وو نو ابوموسی اشعری رضي الله عنه خپل مخصوص شاګرد حطان ته اوونیل چه ای حطان هم تا به دا وئیلي وی (ځکه چه چا سره د استاذ زیات خصوصیت او بې تکلفي وی هم هغه رټی) نو په دې باندې حطان اوونیل چه جی ما خو نه وو وئیلې خو ما سره دا ویره وه چه تاسو به هم ما رټئ، بیا وړاندې په حدیث کښې دا دی چه کوم څه سړی دا الفاظ وئیلي وو ابوموسی هغه پوهه کړو چه په مانځه کښې دننه د خپل ځان نه څۀ نۀ دې وئیل پکار بلکه چه کوم مونږ ته حضور ﷺ خودلي دی هم هغه لوستل پکار دی. او بیا د مونځ مفصل طریقه کومه چه حضور ﷺ صحابه کرامو ته تعلیم فرمائیلي وه هغه ئې بیان کړه.

[٩٧٣]() حَدَّثَنَا عَاصِمُ بْنُ النَّضْرِ، حَدَّثَنَا الْمُعْتَمِرُ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبِي، حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، عَنْ أَبِي غَلَّابٍ يُحَدِّثُهُ، عَنْ حِطَّانَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الرَّقَاشِيِّ، بِهَذَا الْحَدِيثِ، زَادَ "فَإِذَا قَرَأَ فَأَنْصِتُوا، وَقَالَ فِي التَّشَهُّدِ بَعْدَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ زَادَ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَقَوْلُهُ فَأَنْصِتُوا لَيْسَ بِمَحْفُوظٍ لَمْ يَجِئْ بِهِ إِلَّا سُلَيْمَانُ التَّيْمِيُّ فِي هَذَا الْحَدِيثِ.

ابو قتادة ته ابو غلاب بیان کړی دی، هغه ته حطان بن عبد الله الرقاشي بیان کړی دی، د دې حدیث. هغه زیات کړي دي: کله چې هغه قراءت کوي نو چوپ شئ، او هغه وویل په تشهد کې وروسته د اشهد ان لا اله الا الله نه، هغه زیات کړو: (وحده لاشریک له) ویلي دي ابوداود: او قول د هغه (فَأَنصتُوا) دا محفوظ نه دی، په دې سره راتګ نه دی کړی مګر سلیمان التیمي کړی په دې حدیث کې.

۵، حدثنا عاصم بن النظر.. الخ، قوله، زاد فاذا قراءنا فانصتوا: په تیر شوې حدیث کښې دقتاده نه روایت کونکې هشام وو او دلته د معتمر پلار سلیمان تیمی دې د زاد ضمیر هغۀ طرف ته راجع دې،

قوله، انصتوا لیس بمحفوظ و لم یجئ بن الا سلیمان التیمی.

(و اذا قرأ فانصتوا) په دې باندې تفصیلي کلام دفاتحه خلف الامام په بحث کښې تیرشوې دې

[٩٧٤]() حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، وَطَاوُسٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّهُ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعَلِّمُنَا التَّشَهُّدَ كَمَا يُعَلِّمُنَا الْقُرْآنَ، وَكَانَ يَقُولُ: "التَّحِيَّاتُ الْمُبَارَكَاتُ الصَّلَوَاتُ الطَّيِّبَاتُ لِلَّهِ، السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ، السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللَّهِ الصَّالِحِينَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ".

د ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دی بېشکه هغه ویلي دي: وو رسول الله ﷺ چې راښودلو به یې مونږ ته تشهد لکه څرنګه چې به یې مونږ ته قرآن راښودلو، او هغه به ویل: پېشکشیاني د برکت والا، عبادتونه بدني مالي خاص الله لره دې، سلام دې وي په تا باندې ای نبي او رحمت د الله دې وي او برکتونه دې وي، سلام دې وي په مونږ او په نیکانو بندګانو د الله، زه ګواهي کوم چې نشته لائق د عبادت مګر یو الله دی، او زه ګواهي کوم چې محمد د الله رسول دی.

(١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٨٩٨٧) (صحيح)

(٢): صحيح مسلم/الصلاة ١٦ (٤٠٣)، سنن الترمذي/الصلاة ١٠٤ (٢٩٠)، سنن النسائي/التطبيق ١٠٣ (١١٧٥)، والسهو ٤٢ (١٢٧٩)، سنن ابن ماجه/الإقامة ٢٤ (٩٠٠)، (تحفة الأشراف: ٥٧٥٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٩٢) (صحيح)

تشهد ابن عباس رضي الله عنهما

قوله، عن ابن عباس انه قال كان رسول الله ﷺ يعلمنا القرآن.. الخ : دا هم هغه دتشهد دابن عباس دې کوم چه شافعیه اختیار کړې دې، مونږ وایو چه په دې سره ابن عباس متفرد دې، بله داچه د دې په الفاظو کښې ټول رواة متفق هم دی، حضرات مالکیه وائی چه زمونږ تشهد راجح دې ځکه چه حضرت عمر رضي الله عنه دې لره په منبر باندې تعلیم فرمائیلې وو، حضرت شیخ رحمه الله په اوجز کښې لیکی چه د ابن مسعود د تشهد واله الفاظو لره حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه په منبر باندې تعلیم فرمائیلې وو، كما ورد في رواية الطحاوي.

[٩٧٥](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ دَاوُدَ بْنِ سُفْيَانَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَسَّانَ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ مُوسَى أَبُو دَاوُدَ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سَعْدِ بْنِ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ، حَدَّثَنِي خُبَيْبُ بْنُ سُلَيْمَانَ بْنِ سَمُرَةَ، عَنْ أَبِيهِ سُلَيْمَانَ بْنِ سَمُرَةَ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ، أَمَّا بَعْدُ "أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ فِي وَسَطِ الصَّلَاةِ أَوْ حِينَ انْقِضَائِهَا فَابْدَءُوا قَبْلَ التَّسْلِيمِ، فَقُولُوا: التَّحِيَّاتُ الطَّيِّبَاتُ وَالصَّلَوَاتُ وَالْمُلْكُ لِلَّهِ، ثُمَّ سَلِّمُوا عَلَى الْيَمِينِ، ثُمَّ سَلِّمُوا عَلَى قَارِئِكُمْ، وَعَلَى أَنْفُسِكُمْ". قَالَ أَبُو دَاوُد: سُلَيْمَانُ بْنُ مُوسَى كُوفِيُّ الْأَصْلِ كَانَ بِدِمَشْقَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: دَلَّتْ هَذِهِ الصَّحِيفَةُ عَلَى أَنَّ الْحَسَنَ سَمِعَ مِنْ سَمُرَةَ.

د سمرة بن جندب نه روایت دی: اما بعد: مونږ ته امر کړی دی رسول الله ﷺ کله چې به د مانځه په مینځ کې وو او یا په وخت د ختمیدو د مانځه کې، چې شروع کرئ مخکې د تسلیم نه او وایئ: پېشکشیاني مالي او بدني، او بادشاهي الله لره ده، بیا سلام واروئ ښي طرف ته، بیا سلام وکرئ په قاري باندې او په خپلو ځانونو باندې. ویلي دي ابوداود: سلیمان بن موسی اصل کوفي دی او په دمشق کې وو. ویلي دي ابوداود: دې صحیفې دلالت وکړو په دې چې حسن د سمرة نه اوریدلي دي.

قوله، عن سمرة بن جندب اما بعد : دا مکتوب د سمره یا دا اووایه چه دصحیفه سمره دویم حدیث دې او رومبې حدیث په ابواب المساجد کښې باب اتخاذ المساجد في الدور کښې تیر شوې دې اوس ځلور نور پاتې دی،

د سماع الحسن عن سمرة بحث

قوله، قال ابوداؤد و دلت هذه الصحيفة ان الحسن سمع من سمرة : حضرت حسن بصری مشهور تابعی دی د تابعینو په طبقه وسطی کښې د هغوی شمیر کیږی په دې کښې خو شك نشته دې چه د بعضې صحابه نه د دوئ سماع ثابته ده او د بعضو نه د دوئ سماع مختلف فيه ده، امام احمد او ابوحاتم رازی کوم چه د فن رجال لوئې امامان دی هغوی فرمائی چه د حسن سماع د ابن عمر، انس، عبدالله بن مغفل، عمرو بن تغلب د دې ځلورو صحابؤ نه ثابته ده او د دینه علاوه نور داسې دی د کومو په سماع کښې چه ډیر اختلاف دې بعضې تسلیموی او بعضې نه، هم داسې په کتابونو د صحاح کښې ډیر روایات داسې دی کوم چه حسن د سمره بن جندب نه روایت کوی اوس نزدې په باب السكتة عند الافتتاح کښې د حسن روایت د

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٦١٧) (ضعيف)

سمره نه تیر شوې دې خو په دې کښې د محدثینو اختلاف دې چه د سمره نه د حسن سماع ثابته ده یا نهٔ، علامه زیلعی په نصب الرایه کښې په دې باندې تفصیلی کلام کړې دې په دې کښې هغوی د علماؤ درې اقوال ذکر کړې دی، ۱، د یو جماعت رائې ده په کومو کښې چه امام دار قطنی او امام نسائی هم دې چه د حسن د سمره نه صرف حدیث العقیقه اوریدلې دې چنانچه د بخاري شریف په کتاب العقیقه کښې دی، ابن سیرین یو سړی ته اووئیل چه د حسن بصری نه لاړ شه تپوس اوکړه چه هغوی حدیث العقیقه د چا نه اوریدلې دې، هغوی جواب ورکړو، سمعته من سمرة،[1] ۲، یو جماعت وائی چه د حسن سماع د سمره نه مطلقا ثابت ده یعنی د حدیث العقیقه قید نشته دې بلکه بعضې نور حدیثونه ئې هم اوریدلې دی کوم چه دوئ د هغهٔ نه روایت کوی د دې قائل دی، علی بن مدینی، امام بخاری، ترمذی او حاکم صاحب مستدرك، امام ترمذی د حسن عن سمره ډیر زیات روایتونو باندې د صحت حکم لګولې دې، ۳، د ابن حبان او یحی بن معین رائې دا ده چه، لم یثبت مطلقا.
د دې تمهید نه پس په دې پوهه شه چه مصنف چه کوم دا فرمائی چه صحیفه سمره په دې خبره دلالت کوی چه د حسن سماع د سمره نه ثابته ده.

د مصنف په کلام باندې یو اشکال

حافظ ابن حجر په تهذیب کښې فرمائی چه دا خبره زمونږ په پوهه کښې نهٔ راځی چه څنګه دلالت کوی؟ بظاهر د حافظ اشکال صحیح دې ځکه چه دا خبره وړاندې تیره شوې ده چه د صحیفه سمره ټول روایتونه په یو سند سره مروی دی او هغه هم هغه سند دې کوم چه پورته ذکر شوې دې او په دې کښې حسن نهٔ دې ذکر، باقی، د حافظ اشکال به هغه وخت زیات قوی وو که مصنف دا فرمائیلې وې چه دا حدیث په دې خبره باندې دلالت کوی حالانکه داسې ئې نهٔ دی وئیلې، اوس کیدې شی چه د دې صحیفې نه ضمنا د دې دیو عبارت یا روایت نه دا ثابته وی مګر دا که حافظ د دې پوره صحیفې مطالعه کړې وی نو بیا بله خبره ده، او صاحب منهل دا توجیه کړې ده چه د دې صحیفې په سندونو کښې سلیمان روایت کوی د سمره نه او سلیمان او حسن بصری دواړه د یوې طبقې دی لهذا کله چه په دوئ کښې د یو سماع ثابته شوه نو ظاهره ده چه د بل سماع به هم ثابته وی د اتحاد د طبقې د وجه نه.
حضرت شیخ د بذل په حاشیه کښې لیکی چه مولی عبدالجبار اهل حدیث د چا چه بنده سره خط او کتابت دې هغوی ما ته اولیکل چه شیخ حسین عرب یمنی بهوپالی په خپل کتاب قرة العینین کښې لیکلې دی چه هغوی د سنن په بعضو قلمی نسخو کښې یو سند لیدلې دې په کوم کښې چه داسې دی، حدثنا الحسن قال سمعت سمرة.. الخ، پس که دا نسخه ثابته او صحیح وی نو بیا د مصنف دا خبره هم صحیح ده. والله تعالی اعلم بالصواب.

---

[1] وحكاه الترمذي ايضاً في جامعه ص ٢٥.

بَابُ الصَّلَاةِ عَلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم بَعْدَ التَّشَهُّدِ

باب دی په بیان د درود کې په نبي صلى الله عليه وسلم وروسته د تشهد نه

مباحث اربعه متعلقه بدرود شریف

دې ځائې کښې يو څو بحثونه دی. ١، په مانځه کښې د درود شریف لوستلو حکم او په دې کښې مذاهب ائمه، ٢، د صلوة معنی او د دې تفسیر، ٣، د آل محمد مصداق، ٤، په صلوة ابراهیمی کښې په تشبیه باندې کلام.

بحث اول : (په مونځ کښې د درود شریف وئیلو حکم)

د شافعیه او حنابله په نیز د تشهد اخیر نه پس درود شریف لوستل فرض دې د شافعیه په نیز صرف اللهم صل علی محمد، او د حنابله او د بعضې شافعیه په نیز دلته دصلوة علی آل حکم هم دا دې لهذا د دوئ په نیز اللهم صل علی محمد و علی آل محمد لوستل فرض دی.([1])دا فرضیت د درود د دوئ په نیز باندې قعده اخیره کښې دې او قعده اولی کښې د ائمه ثلاثه په نیز درود نشته دې او د امام شافعی قول قدیم هم دا دې البته د دوئ په قول جدید کښې قعده اولی کښې هم صلوة علی النبی مستحب دې لکه څنګه چه علامه سخاوی په القول البدیع کښې لیکلي دی د شافعیه استدلال په فرضیت د درود کښې آیت کریمه، یا ایها الذین آمنوا صلوا علیه و سلموا تسلیما، سره دې څکه چه امر مطلق دوجوب دپاره وی، حنفیه وائی چه امر د تکرار تقاضا نه کوی لهذا درود صرف یو ځل لوستل فرض دی لکه چه حج په ټول عمر کښې صرف یو ځل فرض دې او آیت کریمه کښې د حالت صلوة تعین نشته ، قاله الکرخی، او د امام طحاوی رائې دا ده چه کله د حضور ﷺ نوم مبارک واوری نو درود شریف لوستل واجب دی.

[٩٧٦](2)حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ، قَالَ: قُلْنَا: أَوْ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَمَرْتَنَا أَنْ نُصَلِّيَ عَلَيْكَ، وَأَنْ نُسَلِّمَ عَلَيْكَ، فَأَمَّا السَّلَامُ فَقَدْ عَرَفْنَاهُ، فَكَيْفَ نُصَلِّي عَلَيْكَ؟ قَالَ: "قُولُوا: اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَآلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَآلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ".

د کعب بن عجره نه روایت دی هغه وئیلي دي، مونږ وویل ـ او یا هغوی وویل ـ ای د الله رسوله! تا مونږ ته امر کړی دی چې درود وواېو په تا، او سلام وواېو په تا، سلام خو مونږ وپېژندلو، درود به په تا څنګه واېو؟ هغه وفرمایل وواېي: ای الله ته رحمت وکړي په محمد او په آل د محمد، لکه څنګه چې تا رحمت کړی دی په ابراهیم، او برکت راولېږي په

---

[1]) او اکمل درود دا دې، اللهم صلي علي سيدنا محمد و علي ال سيدنا محمد كما صليت علي سيدنا ابراهيم و علي ال سيدنا ابراهيم و بارك علي سيدنا محمد و علي ال سيدنا محمد كما باركت علي سيدنا ابراهيم و علي ال سيدنا ابراهيم في العالمين انك حميد مجيد)

[2]): صحيح البخاري/أحاديث الأنبياء ١٠ (٣٣٧٠)، وتفسير الأحزاب ١٠ (٤٧٩٧)، والدعوات ٣٢ (٦٣٥٧)، صحيح مسلم/الصلاة ١٧ (٤٠٦)، سنن الترمذي/الصلاة ٢٣٤ (٤٨٣)، سنن النسائي/السهو ٥١ (١٢٨٨)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٢٥ (٩٠٤)، (تحفة الأشراف: ١١١١٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٤١/٤، ٢٤٤)، سنن الدارمي/الصلاة ٨٥ (١٣٨١) (صحيح)

محمد او په آل د محمد لکه څرنګه چې تا برکت رالیږلی دی په ابراهیم، بېشکه ته ستایلی شوی یې او لوی یې.
قوله، ام السلام فقد عرفناه فکیف نصلی علیك : دویٔ د سلام لوستلو طریقه خو دا ښودلې ده یعنی په التحیات کښې چه کومه راځي السلام علیك ایها النبی ورحمة الله و برکاته.

بحث ثانی : (د ال محمد ﷺ مصداق)

قوله، قولوا اللهم صلی علی محمد و آل محمد :د آل په مصداق کښې څو اقوال دی[1]
۱، په چا باندې چه د زکواة مال حرام دې لکه بنو هاشم او د شافعیه په نیز په حرمت دزکواة کښې بنو هاشم سره بنو المطلب هم دی. ۲، هر مؤمن متقی. ۳، ټول امت اجابت. ۴، ازواج مطهرات و اولاد او د دویٔ نه علاوه د حضور ﷺ هغه ټول خاندان واله په کوموباندې چه صدقه حرامه ده. ۵،اولاد د فاطمې اودهغوی نسل. ۶، دحضور ﷺ ازواج او ذریت او د آل ابراهیم نه مراد حضرت اسماعیل او اسحاق علیهما السلام او د هغوی اولاد دې.

بحث ثالث : (دصلوة معنی اوتفسیر)

د صلوة معنی او تفسیر کښې څو اقوال دی. ۱، ثناء الله تعالی علیه عند ملائکته، د ملائکو د وراندې د الله تعالی د حضور ﷺ تعریف او توصیف کول، ۲، د الله تعالی رحمت په رسول الله باندې، ۳، صلوة په معنی د تعظیم یعنی د الله تعالی شانه د طرف نه د حضور ﷺ اعزاز او اکرام په دنیا او آخرت کښې، په دنیا کښې د حضور ﷺ نوم روښانه کول او د دویٔ دراوړلې شوې دین او شریعت بقاء او ترقیٔ سره په آخرت کښې تکثیر د ثواب او دتشفیع امت په ذریعه.

بحث رابع : (په صلوة ابراهیمی کښې تشبیه باندې کلام)

تشبیه باندې اشکال یعنی په هغه درود کښې کوم ته چه درود ابراهیمی وائی صلوة محمدی لره صلوة ابراهیمی سره تشبیه ورکړې شوې ده چه اې الله څنګه صلوة چه ته په ابراهیم علیه السلام باندې لیږې هم داسې زمونږ په پیغمبر محمد ﷺ باندې هم رااولیږه، حال دا دې چه مشبه به اقوی وی د مشبه نه، نو آیا صلوة ابراهیمی زیات اقویٰ او اعلی دې د صلوة محمدی نه؟
د دې اشکال حافظ ابن حجر لس توجیهات ذکر کړې دی من جمله د ډېنه یو دا ده، دلته تشبیه په نفس صلوة او اصل صلوة کښې ده د قدر او مرتبې په اعتبار سره نهٔ ده لکه څنګه چه په دې آیت کریمه کښې دی، انا اوحینا الیك کما اوحینا الی نوح، کتب علیکم الصیام کما کتب علی الذین من قبلکم، لهذا کیدې شی چه صلوة محمدی افضل او اقوی وی د صلوة ابراهیمی نه، ۲، دکما صلیت تعلق د آل محمد سره دې علی محمد سره نهٔ دې، یعنی مشبه صرف دصلوة آل محمد سره دې، ۳، د مجموع تشبیه د مجموع سره ده لهذا مشبه به صلوة

[1] ، امام نووی په دې کښې مختصرا درې قوله لیکلې دی.۱، جمیع الامة دې لره هغوی د محققینو قول ګرځولې دی.۲، بنو هاشم و بنو المطلب، ۳، د حضور ﷺ اهل بیت او ذریت.۱۲ منه)

ابراهيم و آل ابراهيم دي او آل ابراهيم کښې په خپله حضور ﷺ هم داخل دي ځکه چه حضور ﷺ د ابراهيم عليه السلام دځوئي د اسماعيل عليه السلام د اولاد نه دي لهذا دمشبه به په جانب کښې په خپله حضور ﷺ هم شامل دي، ۴، د مشبه به د مشبه نه اقوی او افضل کيدل ضروري نۀ دی کله د دې برعکس هم وی، آو البته د مشبه به اشهر او اعرف کيدل ضروري دی، کما فی قوله تعالی، الله نور السموات والارض مثل نوره کمشکوٰة فيها مصباح، اوګورئ په دې آيت کښې نور خدا مشبه او نور د مصباح مشبه به دې، اوس ظاهره ده چه د ډيوې رڼړا د الله د نور د وړاندې څۀ څيز دې يقينا کمزورې ده خو د حسی او مشاهد کيدو د وجه نه ډير واضح او ښکاره څيز دې، دغه شان حضور ﷺ د ابراهيم عليه السلام نه اګر که اعلی او افضل دې خو په وصف د شهرت کښې ابراهيم عليه السلام د حضور ﷺ نه من وجه وړاندې دې چنانچه د ابراهيم عليه السلام تعظيم په ټولو ملتونو او طوائف کښې معروف او مسلم وو يهود او نصاری تر دې چه مشرکين ټول د دوئ د تعظيم قائل وو (١) نو ځکه دلته صلوة محمدی لره په صلوة ابراهيمی سره تشبيه ورکړې شوه.

(د ابراهيم په تخصيص باندې سوال)

په دې ځائې کښې يو سوال بل کيږی کوم چه علامه سخاوی هم په القول البديع کښې ذکر کړې دې، هغه دا چه په دې درود کښې د ابراهيم عليه السلام تخصيص ولې کړې شوې دې انبياء خو نور هم دی،

(**جواب اول**): د دې جواب يو خو دا کيدې شی چه ابراهيم عليه السلام د زمونږ د حضور ﷺ نه پس د ټولو انبياؤ نه افضل دې،

(**جواب دوم**): او يو جواب دا دې چه په شب معراج کښې د حضور ﷺ د ګڼرو انبياؤ سره ملاقات شوې وو په هغوی کښې صرف ابراهيم عليه السلام دا وو چا چه د ملاقات په وخت د حضور ﷺ په واسطې سره د دوئ امت ته سلام وئيلې وو چه خپل امت ته زما سلام وايه او دا ورته اوښايه چه جنت يو هوار ميدا دې او د دې ونې سبحان الله والحمد لله و لا اله الا الله و الله اکبر دی. (ترمذی ص، ١٧۴، ج ٢)

[٩٧٧] (٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: "صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ".

مونږ ته بيان کړی دی شعبه د دې حديث، هغه ووېل: رحمت راولېږې په محمد او په آل د محمد لکه څنګه چې تا رحمت لېږلی دی په ابراهيم.

[٩٧٨] (٣) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا ابْنُ بِشْرٍ، عَنْ مِسْعَرٍ، عَنِ الْحَكَمِ، بِإِسْنَادِهِ بِهَذَا، قَالَ: "اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَعَلَى

---

(١) اګر که د دی دا منل او د تعظيم قائل کيدل عند الله معتبر نۀ دی، قال تعالي ما کان ابراهيم يهوديا و لا نصرانيا ولکن کان حنيفا مسلما و ما کان من المشرکين، ١٢ منه)

(٢): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١١١١٣) (صحيح)

(٣): انظر حديث رقم: ٩٧٦، (تحفة الأشراف: ١١١١٣) (صحيح)

آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ الزُّبَيْرُ بْنُ عَدِيٍّ، عَنْ ابْنِ أَبِي لَيْلَى، كَمَا رَوَاهُ مِسْعَرٌ، إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: "كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَسَاقَ مِثْلَهُ".

حکم نه روایت کوي په خپل اسناد سره د دې حدیث، هغه ویلي دي: ای الله ته رحمت وکړې په محمد او په آل د محمد، لکه څنګه چې تا رحمت رالېږلی دی په ابراهیم بېشکه ته ستایلی شوی یې او لوی یې، ای الله برکت راولېږې په محمد او په آل د محمد لکه څنګه چې تا برکت رالېږلی دی په ابراهیم باندې، بېشکه ته ستایلی شوی یې او لوی یې. ویلي دي ابوداود: د دې روایت زبیر بن عدي کړی دی د ابن ابي لیلی نه لکه څنګه چې روایت کړی دی مسعر مګر هغه داسې ویلي دي: (کما صلیت علی آل ابراهیم انک حمید مجید، و بارک علی محمد) او بیان یې کړو د هغې پشان.

[۹۷۹]([1]) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ. ح وحَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي مَالِكٌ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ سُلَيْمٍ الزُّرَقِيِّ، أَنَّهُ قَالَ: أَخْبَرَنِي أَبُو حُمَيْدٍ السَّاعِدِيُّ، أَنَّهُمْ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، كَيْفَ نُصَلِّي عَلَيْكَ؟ قَالَ: "قُولُوا: اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَأَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَأَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ".

ابو حمید الساعدي ویلي دي، بېشکه هغوی وویل: ای د الله رسوله، مونږ څنګه درود ووایو په تا؟ هغه وفرمایل: تاسو وایئ: ای الله رحمت راولېږې په محمد او په بیبیانو د هغه او په اولاده د هغه، لکه څنګه چې تا رحمت لېږلی دی په ابراهیم علیه السلام، او برکت راولېږې په محمد او په بیبیانو او اولاده د هغه لکه څنګه چې تا برکت لېږلی دی په آل د ابراهیم بېشکه ته ستایلی شوی یې او لوی یې.

[۹۸۰]([2]) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نُعَيْمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْمُجْمِرِ، أَنَّ مُحَمَّدَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَيْدٍ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ زَيْدٍ هُوَ الَّذِي أُرِيَ النِّدَاءَ بِالصَّلَاةِ، أَخْبَرَهُ، عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ، أَنَّهُ قَالَ: أَتَانَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَجْلِسِ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ، فَقَالَ لَهُ بَشِيرُ بْنُ سَعْدٍ: أَمَرَنَا اللَّهُ أَنْ نُصَلِّيَ عَلَيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَكَيْفَ نُصَلِّي عَلَيْكَ؟ فَسَكَتَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى تَمَنَّيْنَا أَنَّهُ لَمْ يَسْأَلْهُ، ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "قُولُوا"، فَذَكَرَ مَعْنَى حَدِيثِ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ زَادَ فِي آخِرِهِ "فِي الْعَالَمِينَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ".

د ابو مسعود الانصاري نه روایت دی، بېشکه هغه ویلي دي: راغی مونږ ته رسول الله ﷺ په مجلس د سعد بن عبادة کې، هغه ته بشر بن سعد وویل: مونږ ته الله امر کړی دی چې په تا باندې سلام ووایو ای د الله رسوله! نو درود څرنګه ووایو په تا؟ رسول الله ﷺ چوپ شو تردې چې مونږ تمنی وکړه چې هغه تربنه تپوس نه وی کړی، بیا وویل رسول الله ﷺ تاسو وایئ: ذکریې کړه معنی د حدیث د کعب بن عجرة، زیات یې کړو په اخیر د هغې کې: (في

[1]: صحیح البخاري/أحادیث الأنبیاء ۱۰ (۳۳۶۹)، والدعوات ۳۳ (۶۳۶۰)، صحیح مسلم/الصلاة ۱۷ (۴۰۷)، سنن النسائي/السهو ۵۵ (۱۲۹۵)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۲۵ (۹۰۵)، (تحفة الأشراف: ۱۱۸۹۷)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/قصر الصلاة ۲۲ (۶۶)، مسند احمد (۴۲۴/۵) (صحیح)

[2]: صحیح مسلم/الصلاة ۱۷ (۴۰۵)، سنن الترمذي/تفسیر الأحزاب (۳۲۲۰)، سنن النسائي/السهو ۴۹ (۱۲۸۶)، (تحفة الأشراف: ۱۰۰۰۷)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/قصر الصلاة ۲۲ (۶۷)، مسند احمد (۱۱۸/۴، ۱۱۹، ۵/ ۲۷۴)، سنن الدارمي/الصلاة ۸۵ (۱۳۸۲) (صحیح)

العالمين انک حميد مجيد.

[۹۸۱](¹) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَمْرٍو، بِهَذَا الْخَبَرِ، قَالَ: "قُولُوا: اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ النَّبِيِّ الْأُمِّيِّ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ".

د عقبة بن عامر نه روايت دى، د دې خبر، هغه ويلي دي چې تاسو وايئ: اې الله ته رحمت وکړې په محمد نبي امي باندې، او په آل د محمد ﷺ باندې.

[۹۸۲](²) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حِبَّانُ بْنُ يَسَارٍ الْكِلَابِيُّ، حَدَّثَنِي أَبُو مُطَرِّفٍ عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ كَرِيزٍ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عَلِيٍّ الْهَاشِمِيُّ، عَنِ الْمُجْمِرِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَكْتَالَ بِالْمِكْيَالِ الْأَوْفَى، إِذَا صَلَّى عَلَيْنَا أَهْلَ الْبَيْتِ، فَلْيَقُلْ: اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَأَزْوَاجِهِ أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِينَ، وَذُرِّيَّتِهِ، وَأَهْلِ بَيْتِهِ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ".

د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه ويلي دي: چالره چې دا خبره خوشحالوي چې پيمانه کړي په پوره پيمانې سره، کله چې درود وايي په مونږ اهل بيتو باندې، نو وايي دې: اې الله ته رحمت وکړې په محمد او په بيبيانو د هغه چې ميندې د مؤمنانو دي، او په اولاده د هغه او په اهل بيتو د هغه، لکه څنګه چې تا رحمت کړى دى په ابراهيم عليه السلام، بېشکه ته ستايلى شوى يې او لوى يې.

قوله، من سرّه ان يکتال بالمکيال الاوفى.. الخ، يعنى کوم سړي چه دا غواړي چه هغه د خپل درود ثواب پوره يا په لوئې پيمانې سره ناپ کړى نو هغه لره پکار دى چه په دې الفاظو سره درود اولولى، اللهم صل على محمد النبى و ازواجه امهات المؤمنين و ذريته و اهل بيته کما صليت على آل ابراهيم انك حميد مجيد.

بَابُ مَا يَقُولُ بَعْدَ التَّشَهُّدِ

باب دى په بيان د هغې څه چې د تشهد نه وروسته يې وايي

د تشهد نه پس چه کوم څيز لوستلې شى هغه خو درود شريف دې د کوم ذکر چه وړاندې باب کښې تير شو لهذا دا به اوويلى شى چه مراد دا دې، بعد التشهد والصلوة على النبى.

[۹۸۳](³) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، حَدَّثَنَا الْأَوْزَاعِيُّ، حَدَّثَنِي حَسَّانُ بْنُ عَطِيَّةَ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي عَائِشَةَ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا فَرَغَ أَحَدُكُمْ مِنَ التَّشَهُّدِ الْآخِرِ فَلْيَتَعَوَّذْ بِاللَّهِ مِنْ أَرْبَعٍ: مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَمِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ، وَمِنْ شَرِّ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ".

ابو هريره رضي الله عنه به ويل چې رسول الله ﷺ ويلي دي: کله چې يو سړى فارغه شي د وروستنې

---

¹): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۰۰۰۷) (حسن)

²): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱٤٦٤٥) (ضعيف)

³): صحيح مسلم/المساجد ۲۵ (۵۸۸)، سنن النسائي/السهو ٦٤ (۱۳۱۱)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۲٦(۹۰۹)، (تحفة الأشراف: ۱٤۵۸۷)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الجنائز ۸۷ (۱۳۷۷)، مسند احمد (۲/۲۳۷)، سنن الدارمي/الصلاة ۸٦ (۱۳۸۳) (صحيح)

تشهد نه نو پناهي د غواړي په الله باندې د څلورو نه: د عذاب د جهنم نه، او د عذاب د قبر نه، او د فتنې د ژوند او مرګ نه، او د شر د مسيح الدجال نه.

قوله، اذا فرغ احدكم من التشهد الأخر فليتعوذ بالله من اربع، الخ، په بعضې رواياتو کښې دا دعا داسې راغلې ده، اللهم انی اعوذبك من عذاب القبر و اعوذبك من عذاب فتنة المسيح الدجال و اعوذبك من فتنة المحيا و الممات، دې سره نزدې الفاظ په راتلونکې حديث کښې راروان دی.

بعضې علماء لکه طاؤس په اخری تشهد کښې د دې دعاء د وجوب قائل دې او جمهور صرف د استحباب، دغه شان د جمهورو په نيز دا دعاء به په اخری تشهد کښې لوستلې شي لکه څنګه چه په حديث کښې تصريح ده، او ابن حزم ظاهری په اول تشهد کښې هم د دې دعاء د وجوب قائل دې.

[۹۸٤] (¹) حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، أَخْبَرَنَا عُمَرُ بْنُ يُونُسَ الْيَمَامِيُّ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ طَاوُسٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ طَاوُسٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ بَعْدَ التَّشَهُّدِ: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُبِكَ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَأَعُوذُبِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَأَعُوذُبِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ، وَأَعُوذُبِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ".

د ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی، هغه روايت کوي د رسول الله ﷺ نه بېشکه هغه وو چې ويل به يې وروسته د تشهد نه: ای الله زه پناه غواړم په تا باندې د عذاب د جهنم نه، او پناه غواړم په تا باندې د عذاب د قبر نه، او پناه غواړم په تا باندې د فتنې د دجال نه، او پناه غواړم په تا باندې د فتنې د ژوند او مرګ نه.

[۹۸٥] (²) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرٍو أَبُو مَعْمَرٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ الْمُعَلِّمُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ حَنْظَلَةَ بْنِ عَلِيٍّ، أَنَّ مِحْجَنَ بْنَ الْأَدْرَعِ حَدَّثَهُ، قَالَ: دَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَسْجِدَ، فَإِذَا هُوَ بِرَجُلٍ قَدْ قَضَى صَلَاتَهُ وَهُوَ يَتَشَهَّدُ، وَهُوَ يَقُولُ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ يَا اللَّهُ الْأَحَدُ الصَّمَدُ الَّذِي لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ، أَنْ تَغْفِرَ لِي ذُنُوبِي إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ، قَالَ: فَقَالَ: "قَدْ غُفِرَ لَهُ، قَدْ غُفِرَ لَهُ" ثَلَاثًا.

محجن بن الادرع حديث بيان کړی دی هغه ويلي دي: داخل شو رسول الله ﷺ مسجد ته، هغه داسې سړی وليدو چې خپل مونځ يې پوره کړی وو، او هغه تشهد ويلو او هغه ويل: ای الله زه سوال کوم د تا نه، ای الله احد او بېنيازه ذاته، هغه چې څوک ترې پيدا نه دې او نه هغه د چانه پيدا دی، او نشته د هغه مثال هېڅوک، دا چې وبخښې ماته ګناهونه زما بېشکه ته بښونکی او مهربان يې. هغه وايي: چې هغه وفرمايل: بېشکه بخښنه به وشي هغه ته، بېشکه بخښنه به وشي هغه ته. درې ځل

فائده : امام نسائی د تشهد نه پس په دعاګانو کښې هغه مشهوره دعاء هم ذکر کړې ده کومه چه ټول لولی، يعنی اللهم انی ظلمت نفسی، ، الخ، دا دعاء د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه نه مروی ده هغوی يو ځل حضور ﷺ ته عرض کړې وو چه ما ته په مانځه کښې ديو دعاء

¹): صحيح مسلم/المساجد ۲٥ (٥٨٨)، سنن الترمذي/الدعوات ۷۷ (۳٤۹٤)، سنن النسائي/الجنائز ۱۱٥ (۲۰٦٥)، سنن ابن ماجه/الدعاء ۳ (۳۸٤۰)، (تحفة الأشراف: ٥۷۲۱)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/القرآن ۸(۳۳)، مسند احمد (۱/۲٤۲، ۲٥۸، ۲۹۸، ۳۱۱)، ويأتي برقم (۱٥٤۲) (حسن صحيح)

²): سنن النسائي/السهو ٥۸ (۱۳۰۲)، (تحفة الأشراف: ۱۱۲۱۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/۳۳۸) (صحيح)

دلوستلو تعليم اوفرمائيږ په دې باندې حضور ﷺ هغوى ته اوفرمائيل چه دا دعاء لولئ، دا دعاء په اصل کښې ډير اهمه ده علامه سندي د نسائي په حاشيه کښې د دې دعا تشريح کوي او ليکي چه د دينه معلوميږي چه هر انسان اګر که هغه مرتبې د صديقينو ته ولې نۀ نوي رسيدلې کثير التقصير ډير کمې کونکې دې، وجه د دې دا ده چه په انسان باندې د الله تعالى نعمتونه بيشميره او بې حده او بې حسابه دى په کومو کښې چه د ټولو نه کم د شکر ادا کولو هم طاقت نشته دې بلکه حقيقت خو دا دې چه د بنده د الله تعالى په نعمتونو کښې د کوم نعمت شکر ادا کول دا په خپله يو مستقل نعمت دې کوم چه موجب د شکر دې ګويا زمونږ شکر په خپل محتاج د شکر دې، لهذا که مونږ د دې شکر په توفيق باندې شکر اوکړو نو دا شکر الشکر به هم يو نعمت وى لهذا د دې شکر به هم واجب وى،(١) و هکذا الى غير النهاية، لهذا ثابته شوه چه بنده د يو نعمت شکر هم نۀ شى ادا کولې نو د ټولو نعمتونو شکربه څۀ اداکړى اودا سراسر تقصير اوظلم دې نو ځکه ئې اووئيل ظلمت نفسى ظلما کثيرا.

باب إخفاء التشهد

باب دى په بيان د پټوالي د تشهد کې

هم دغه شان ترجمة الباب په ترمذى کښې هم دې، باب ما جاء انه يخفى التشهد، دا مسئله اجماعى ده د ټولو په دې باندې اتفاق دې چه تشهد به په پټه باندې لوستلې شى.

[٩٨٦](٢) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَعِيدٍ الْكِنْدِيُّ، حَدَّثَنَا يُونُسُ يَعْنِي ابْنَ بُكَيْرٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "مِنَ السُّنَّةِ أَنْ يُخْفَى التَّشَهُّدُ".

د عبد الله نه روايت دى هغه ويلي دي: د سنت نه دا خبره ده چې سرى پټ ووايي تشهد.

قوله، من السنة ان يخفى التشهد، د صحابى قول من السنة کذا د حديث مرفوع په حکم کښې دې، صرح به الاصوليون.

باب الإشارة في التشهد

باب دى په بيان د اشاره کې په تشهد کې

په تشهد کښې د اشارې روايات

په تشهد کښې اشاره بالمسبحه دصحيح مسلم او د سننن د رواياتو نه ثابته ده، په بخارى شريف کښې ما داسې حديث اونۀ موندلو او نۀ د چا په کلام کښې مې د دې حواله اوموندله، خو امام نووى په شرح د مسلم کښې په دې باندې څه مستقله ترجمة نۀ ده قائمه کړې بلکه هغوى د اشاره فى التشهد حديث لره په باب صفة الجلوس فى الصلوة په ذيل کښې ذکر کړې دې، هم دغه شان جمهور علماء سلفا و خلفا او مذاهب اربعه د دې په استحباب باندې متفق دى خو حنفيانو کښې بعضې متاخرينو دې لره مکروه ګڼړلې ده، په تنوير

١) يعنى شکر الشکر به هم يو نعمت شى لهذا شکر د شکر الشکر به هم واجب وى، هکذا الى غير النهاية، لهذا ثابته شوه چه بنده صرف د يو نعمت شکر هم نۀ شى ادا کولې نو بيا د باقى نعمتونو نوبت څنګه راتلې شى، والله الموفق و لا حول و لاقوة الا بالله.)

٢): سنن الترمذي/الصلاة ١٠٤ (٢٩١)، (تحفة الأشراف: ٩١٧٢) (صحيح)

الابصار (د درمختار متن) کښې دی، ولا یشیر بسبابة عند الشهادة و علیه الفتوی) صاحب درمختار د ځنې نورو کتابونو حواله هم ورکړې ده په کومو کښې چه اشاره بالسبابه مکروه لیکلې ده، خو هغه په خپله فرمائی چه دا روایت معتمدنهٔ دې صحیح هم دا ده چه اشاره کول پکار دی لکه ځنګه چه حضور د ﷺ د فعل نه ثابت ده.

د ملا علی قاری تالیف

او ملاعلی قاری د دې اشارې په ثبوت کښې یوه مستقله رساله لیکلې ده، تزیین العبارة فی تحقیق الاشارة، په اصل کښې دا رساله د خلاصه کیدانی (د کتاب نوم) په رد کښې لیکلې شوې ده ځکه چه کیدانی په خپله رساله کښې اشاره بالسبابه حرام ګرځولې ده چه دهغی ملا علی قاری په خپل دې تصنیف کښې په سخته سره تردید فرمائیلې دې، هغه لیکی چه بعضې د ماوراء النهر اوسیدونکي او اهل خراسان او عراق او روم او بلا دهند چا چه دا سنت ترك کړې دې هغه قابل اعتبار نهٔ دې ځکه چه دا د تحقیق نه هم خلاف ده او د خپل مسلك بلکه د ائمه اربعه د مسلك نه هم خلاف ده، حضرت شیخ د بذل په حاشیه کښې لیکلې دی چه حضرت مجدد الف ثانی هم په خپل مکتوباتو کښې د اشاره بالمسبحه انکار فرمائیلې دې او د حضرت مجدد صاحب د طرف نه مرزا مظهر جان جانان په خپلو مکاتیب،ص، ۴۰، کښې دا عذر وړاندې کړې دې چه د مجدد صاحب په زمانه کښې په هندوستان کښې د احادیثو کتابونه مشتهر شوې نهٔ وو.

د دېنه پس دا ازده کړئ چه داشاره بالمسبحه په کیفیت کښې د ائمه ثهٔ اختلاف دی هغه هم واورئ.

د اشارې سره متعلق مباحث اربعه

بحث اول : (د اشارې کیفیت)

د جمهور علماؤ په نیز دا اشاره به قبض اصابع سره وی او د مالکیه مذهب تصریح په الشرح الکبیر کښې موجود ده، خو حضرت شیخ په اوجز کښې لیکلې دی چه ما په مدینه منوره کښې اهل مدینه لره په بسط اصابع سره اشاره کونکې لیدلې دی او خطابی هم دا عمل د اهل مدینه لیکلې دې.

بیا حنفیه او حنابله په صورت د اشارې کښې د تحلیق قائل دی یعنی خنصر او بنصر به راماته کړی او ابهام او وسطی سره به حلقه جوړه کړې شی بیا به مسبحه سره اشاره اوکړې شی، او د شافعیه په نیز په دوو صورتونو کښې دې یو صورت اختیار کړی، عقد درې پنځوس، ۵۳، یا عقد دریویشت، ۲۳، د رومبی شکل دا دې چه د ابهام راس د مسبحه اصل سره اوساتی او دعقد د دریویشتو شکل دا دې چه راس ابهام لره د وسطی په بیخ کښې اوساتی،اودمالکیه په نیز(کما فی الشرح الکبیر) ص، ۲۵۰،ج،۱. د اشارې په وخت د اصابعو عقد هغه هیئت مستحب دې کوم چه تقریبا د یو کم دریشو عقد وی په دې شان چه په شروع کښې دریواړه ګوتې راماتې کړی (د ابهامې د غوښې سره ئې یوځائې کړی) او مسبحه دې خوره کړی او ابهامه دې په شا د وسطی باندې کیږدی.

بحث ثاني : (ګوته به کله اوچتولې شي)

د اشارې په وخت کښې د حنفیه په نیز د نفی په وخت کښې به ګوتې پورته کړی یعنی لا اله باندې او عند الاثبات یعنی الا الله باندې دې دا کیږدی،[1] او د شافعیه په نیز باندې الا الله په وخت کښې دې اشاره اوکړی او بیا آخره پورې دې مسبحه ګوته اوچته اوساتی دا حضرات د ادامت رفع قائل دی.

حنابله وائی یشیر کلما مر علی لفظ الجلاله، یعنی کله چه هم په تشهد کښې لفظ د الله راشی نو په هغې باندې دې اشاره اوکړی، او د مالکیه مسلك دا دې چه اشاره بالمسبحه د تشهد د شروع نه تر آخره تشهد پورې او د دېنه پس هم تر سلام پورې دې اوکړی.

بحث ثالث : (د اشارې په وخت حرکت ورکول)

مالکیه داشارې په وخت دمبسحه ګوتې یمینا او شمالا دتحریك (خوزؤلو) قائل دی ائمه ثلاثه د دې تحریك قائل نۀ دی د دې ذکر په راتلونکې حدیث الباب کښې هم راروان دې.

بحث رابع : (ایا باقی ګوتې د اول نه بندول پکار دی؟)

د حنفیه په نیز قبض اصابع به د اشاره په وخت کښې وی په شروع کښې به ګوتې مبسوط وی او د ائمه ثلاثه په نیز باندې څۀ وخت چه د تشهد دپاره کینی د هغه وخت نه به ګوتې راماتې کړی.

(خبرداری) د اشارې په وخت مسبحه دی بیخی نیغه او د آسمان طرف ته نۀ کړی بلکه دا دې دقبلې طرف ته مائله کړی لکه څنګه چه وړاندې په حدیث کښې راروان دی،قدحناها شیئاً.

[۹۸۷] ([2]) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ مُسْلِمِ بْنِ أَبِي مَرْيَمَ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمُعَاوِيِّ، قَالَ: رَآنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ وَأَنَا أَعْبَثُ بِالْحَصَى فِي الصَّلَاةِ، فَلَمَّا انْصَرَفَ نَهَانِي، وَقَالَ: اصْنَعْ كَمَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُ، فَقُلْتُ: وَكَيْفَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُ؟ قَالَ: "كَانَ إِذَا جَلَسَ فِي الصَّلَاةِ وَضَعَ كَفَّهُ الْيُمْنَى عَلَى فَخِذِهِ الْيُمْنَى، وَقَبَضَ أَصَابِعَهُ كُلَّهَا، وَأَشَارَ بِأُصْبُعِهِ الَّتِي تَلِي الْإِبْهَامَ، وَوَضَعَ كَفَّهُ الْيُسْرَى عَلَى فَخِذِهِ الْيُسْرَى".

د علي بن عبد الرحمن المعاوي نه روایت دی هغه وئیلي دي، زه ولیدم عبد الله بن عمر او لوبې مې کولې په ګټټکو په مانځه کې، هرکله چې فارغ شو نو زه يې منع کړم، او ويې ويل: داسې کوه لکه څنګه چې به رسول الله ﷺ کولو، ما ووېل رسول الله ﷺ به څنګه

[1]) د احنافو په نیز خو مشهور هم دا ده خو په دې کښې دحضرت ګنګوهی رائې دا نۀ ده، هغه فرمائی دا اشاره تر سلام پورې باقی پاتې کیدل پکار دی د حدیث نه هم دا ثابته ده (کذافي تذکرة الرشید، ص، ۱۱۳. والکوکب، ۳۰۸. ج ۲. خو د کوکب د حاشې نه معلومیږی حضرت شیخ په دې باندې منشرح نۀ دې په امداد الفتاوی،ص. ۲۰۷. ج، ۱، کښې هم په دې باندې تفصیلی کلام دې د دې حاصل هم دا دې چه عند الاثبات اشاره دې ختم کړې شی، ما بعضې اساتذه لیدلې دی چه هغوی به مسبحه لره عند الاثبات بیخی خو نۀ کیخوده خو لږه غونډې به نې رابښکته کوله د دېنه پس ما ته په فتاوی محمودیه کښې هم دا خبره ملاؤ شوه. والله تعالی اعلم.)

[2]): صحیح مسلم/المساجد ۲۱ (۵۸۰)، سنن النسائي/التطبیق ۹۸ (۱۱۶۱)، والسهو ۳۲ (۱۲۶۷) ۳۳ (۱۲۶۸)، (تحفة الأشراف: ۷۳۵۱)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الصلاة ۱۱(۴۸)، سنن الدارمي/الصلاة ۸۳(۱۳۷۸) (صحیح)

کول؟ هغه وويل: وو چې کله به کېناستلو په مانځه کې نو کېخودلو به يې خپل ښۍ ورغوی په په خپل ښي ورون، او راتولې به يې کړې خپلې ټولې ګوتې، او اشاره به يې کوله په خپلې هغې ګوتې چې کومه به ابهامي ته نزدې وه، او کېخودلو به يې خپل چپ ورغوی په خپل چپ ورون باندې.

[٩٨٨](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيمِ الْبَزَّازُ، حَدَّثَنَا عَفَّانُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ زِيَادٍ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ حَكِيمٍ، حَدَّثَنَا عَامِرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَعَدَ فِي الصَّلَاةِ جَعَلَ قَدَمَهُ الْيُسْرَى تَحْتَ فَخِذِهِ الْيُمْنَى وَسَاقِهِ، وَفَرَشَ قَدَمَهُ الْيُمْنَى، وَوَضَعَ يَدَهُ الْيُسْرَى عَلَى رُكْبَتِهِ الْيُسْرَى، وَوَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى فَخِذِهِ الْيُمْنَى، وَأَشَارَ بِإِصْبَعِهِ". وَأَرَانَا عَبْدُ الْوَاحِدِ وَأَشَارَ بِالسَّبَّابَةِ.

عبد الله بن زبير د خپل پلار نه روايت کوي هغه ويلي دي: وو رسول الله ﷺ چې کله به يې قعده کوله په مانځه کې وبه يې ګرځوه خپل چپ قدم د ښي ورون او پونډۍ لاندې، او اوار به يې کړو خپل چپ قدم، او کېخودلو به يې خپل چپ لاس په چپ زنګون، او کېخودلو به يې خپل ښي لاس په ښي ورون، او اشاره به يې کوله په خپله ګوته. او عبد الواحد مونږ ته وښودلو چې اشاره يې کوله په سبابې سره.

[٩٨٩](٢) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْحَسَنِ الْمِصِّيصِيُّ، حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ زِيَادٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَجْلَانَ، عَنْ عَامِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، أَنَّهُ ذَكَرَ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يُشِيرُ بِأُصْبُعِهِ إِذَا دَعَا وَلَا يُحَرِّكُهَا". قَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ: وَزَادَ عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي عَامِرٌ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَدْعُو كَذَلِكَ، وَيَتَحَامَلُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهِ الْيُسْرَى عَلَى فَخِذِهِ الْيُسْرَى".

د عبد الله بن زبير نه روايت دی بېشکه هغه ذکر کړي دي: بېشکه نبي ﷺ وو چې اشاره يې کوله په خپله ګوته چې کله به يې دعا کوله، او هغه به يې نه خوزوله. ويلي دي ابن جريج: او زيات کړي دي عمرو بن دينار، هغه وايي: ماته خبر راکړی دی عامر د خپل پلار نه، بېشکه هغه وليده نبي ﷺ چې دعاء يې کوله هم دغسې، او پيغمبر ﷺ به باريدلو په خپل چپ لاس سره په خپل چپ ورون باندې.

قوله، کان يشير باصبعه اذا دعا ولا يحرکها، د عبد الله بن زبير رضي الله عنه د دې حديث نه معلومېږي چه د اشارې په وخت به ګوتې لږه ښۍ او ګس طرف ته حرکت نشي ورکولی لکه څنګه چه د جمهورو مسلك دې، مالکيه د تحريك قائل دی لکه څنګه چه د باب په شروع کښې تير شوې دي. د هغوی استدلال د وائل بن حجر دحديث نه دې کوم چه په بيهقي کښې مذکور دې، فرأيته يحرکها، جمع بين الحديثين داسې کړې شوې ده چه د تحريك نه مراد عين اشاره ده څکه چه اشاره هم په تحريك سره وی نو دې اشارې دپاره ګوته پورته کول او ايخودل هم دا تحريك دې.

قوله، و يتحامل النبي ﷺ بيده اليسرى على فخذه اليسرى، دتحامل معنی د بار اچولو ده او

---

(١): صحيح مسلم/المساجد ٢١ (٥٧٩)، سنن النسائي/التطبيق ٩٩ (١١٦٣)، والسهو ٣٥ (١٢٧١)، ٣٩ (١٢٧٦)، (تحفة الأشراف: ٥٢٦٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٤) (صحيح)

(٢): سنن النسائي/السهو ٣٥ (١٢٧١)، (تحفة الأشراف: ٥٢٦٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٤) (شاذ)

دلته مراد لاس په پتون باندې ایښودل او دې لره خورول دی، او د ګس لاس قید بظاهر د دې دپاره دې چه ښي لاس خو مقبوض الاصابع وی سرې لره د دې په ذریعې سره اشاره کول وی خصوصاً د مالکیه په نیز خو د التحیات په شروع کښې اخیره پورې اشاره کیدل وی نو ګویا هغه لاس په یو بل کار کښې مشغول دې په خلاف د ګس لاس نه چه د دینه هیڅ کار نۀ شی اغستلې هغه په ګس پتون باندې خور وی، او د دینه اشارة یوه بله خبره هم معلومیږی کومه چه زما په ذهن کښې راځی چه په التحیات کښې دې ملا نیغه ساتی روستو طرف ته دې نۀ کږوی لکه څنګه چه ګډئ (بالخت) ته د شا لګولو په وخت کښې کوی نو هله به تحامل علی الفخذ معنی اوموندلې شی کومه چه دلته په حدیث کښې مذکور ده او زما د دې خبرې تائید د هغه روایت نه هم کیږی په کوم کښې چه دا دی چه په ګس لاس سره دې د ګس زنګون لقمه جوړه کړی (یعنی د ګس لاس د ګوتو سرونه دی زنګون طرف ته راکاږۀ کړی) د مسلم په روایت کښې دی، ویده الیسرٰی علٰی فخذه الیسرٰی و یلقم کفه الیسرٰی رکبته.

[۹۹۰](1) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، حَدَّثَنَا ابْنُ عَجْلَانَ، عَنْ عَامِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ أَبِيهِ، بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: "لَا يُجَاوِزُ بَصَرُهُ إِشَارَتَهُ". وَحَدِيثُ حَجَّاجٍ أَتَمُّ.

عامر بن عبد الله بن الزبیر د خپل پلار نه روایت کوي د دې حیدث، هغه وایي: د هغه سترګو به تجاوز نه کولو د هغه د اشاري نه، او حدیث د حجاج ډیر پوره دی.

[۹۹۱](2) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ يَعْنِي ابْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، حَدَّثَنَا عِصَامُ بْنُ قُدَامَةَ مِنْ بَنِي بَجِيلَةَ، عَنْ مَالِكِ بْنِ نُمَيْرٍ الْخُزَاعِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "وَاضِعًا ذِرَاعَهُ الْيُمْنَى عَلَى فَخِذِهِ الْيُمْنَى، رَافِعًا إِصْبَعَهُ السَّبَّابَةَ قَدْ حَنَاهَا شَيْئًا".

مالک بن نمیر الخزاعي روایت کوي د خپل پلار نه، هغه ویلي دي: ما ولیدلو نبي ﷺ چې هغه ایښودلي وه خپله ښي څنګل په خپل ښي ورون باندې، اوچتونکی وو د خپلې سبابې ګوتې، هغه لږه شان کږه کړې وه.

قوله، رافعا اصبعه السبابة قد حناها شیئا، په دې باندې کلام د باب په شروع کښې تیر شوې دې، امام نسائی په دې باندې مستقل ترجمه قائم کړې دې، باب احناء السبابة فی الاشارة، ص، ۱۸۷، هغوی په دې باب کښې چه کوم حدیث ذکر کړې دې د هغې الفاظ دا دې، رافعا اصبعه السبابة قد احناها شیئا، او د نسائی، ص، ۱۷۳، باندې په یو بل روایت کښې دی، واشار باصبعه التی تلی الابهام فی القبلة، دا روایت زیات واضح دې د دې نه معلومیږی چه اشاره قبلې طرف ته پکار ده لا الی الفوق و لا الی الیمین و الیسار، دغه شان د نسائی هم په دې روایت کښې دی، ورمٰی ببصره الیها، یعنی د اشارې په وخت نظر هم دې ګوتې طرف ته پکار دې د دې دپاره چه کوم کار هم وی هغه دې د توجه سره وی هم د دې نوم خشوع او حضور قلب دې، اللهم ا رزقنا منه شیئا.

(1): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٥٢٦٤) (حسن صحيح)
(2): سنن النسائي/السهو ٣٦ (١٢٧٢)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٢٧ (٩١١)، (تحفة الأشراف: ١١٧١٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٤٧١) (ضعيف)

په مانځه کښې د مصلی نظر کوم طرف ته پکار دې؟

مسئله مختلف فیه ده د مالکیه مشهور مذهب دا دې کوم چه صاحب منهل هم د ابن رشد په حواله سره لیکلې دې چه د مصلی نظر په مانځه کښې قبلې طرف ته پکار دې (١) بغیر د دینه چه څه څیز ته التفات اوکړی او نه دې سر ښکته کوی (دبعضې صوفیانو پشان ځکه چه په دې صورت کښې به مخ په قبله پاتې نه شی).

شافعیه او حنابله فرمائی چه د مصلی نظر موضع سجود طرف ته پکار دې او شافعیه د تشهد حالت لره د دېنه مستثنی کړې دې دغه وخت به نظر اشارې طرف ته پکار وی، او علامه شامی لیکی چه زمونږ په نیز په ظاهر الروایة کښې صرف دومره منقول دی چه نظر د مصلی منتهی موضع سجود کیدل پکار دی، او نور مشائخ لکه امام طحاوی او کرخی نه دا تفصیل منقول دې چه د مصلی نظر د قیام په حالت کښې موضع د سجود طرف ته او په رکوع کښې قدمینو طرف ته او په حالت د سجدې کښې د پوزې نرمۍ طرف ته او په قعده کښې خپل غیږ طرف ته او د سلام په وخت کښې اوږو طرف ته.

بَابُ كَرَاهِيَةِ الِاعْتِمَادِ عَلَى الْيَدِ فِي الصَّلَاةِ

باب دې په بیان د کراهیت د تکیا کولو کښې په په لاس باندې په مانځه کښې

ددېنه وړاندې یوباب تیرشوې دې د اعتماد علی العصا، باب الرجل یعتمد فی الصلوة علی عصا،

(د اعتماد علی الید دوه قسمونه)

د اعتماد علی الید نه مراد یا خو عند النهوض یعنی د سجدې کله چه نه فارغ شی او اودریږی، دا مسئله مختلف فیه ده، حنفیه او حنابله خو دا وائی چه په رکبتینو باندې دې لاس کیږدی او اودیدریږی او د امام شافعی په نیز باندې په زمکه باندې دې کیږدی او د مالکیه د مسلك تفصیل سره د نورو ائمه نه د رفع یدین واله باب کښې د ابوحمید ساعدی د حدیث د لاندې تیر شوې دې، (٢) او یا د اعتماد نه مراد قعده کښې لاسونه د پتونو په ځائې په زمکه باندې لګول، مصنف په دې باب کښې دواړه قسمه روایتونه ذکر کړې دی بعضې په رومبۍ معنی کښې مراد دی او بعضې په دویمه معنی کښې.

[٩٩٢](٣) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، وَأَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ شَبُّوَيْهِ، وَمُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ الْغَزَّالُ، قَالُوا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أُمَيَّةَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ: أَنْ يَجْلِسَ الرَّجُلُ فِي الصَّلَاةِ وَهُوَ مُعْتَمِدٌ عَلَى يَدِهِ". وَقَالَ ابْنُ شَبُّوَيْهِ: "نَهَى أَنْ يَعْتَمِدَ الرَّجُلُ عَلَى يَدِهِ فِي الصَّلَاةِ". وَقَالَ ابْنُ رَافِعٍ: "نَهَى أَنْ يُصَلِّيَ الرَّجُلُ وَهُوَ مُعْتَمِدٌ عَلَى يَدِهِ". وَذَكَرَهُ فِي

---

(١) حافظ ابن کثیر په خپل تفسیر کښې، فولوا وجوهکم شطره، آیت د لاندې لیکلې دی چه د دینه مالکیه په دې باندې استدلال کړې دې چه د مصلی نظر مخامخ طرف ته پکار دې نه داسې لکه چه ائمه ثلاثه فرمائی چه د سجدې ځائې ته پکار دې ځکه چه د دې دپاره به سر لږ ښکته کول وی په تکلیف سره کوم چه د قیام منافی دې،١٢.

(٢) د مالکیه په نیز باندې خو چونکه د پاسیدو په وخت رکبتین د زمکې نه رومبې اوچتیږی نو ځکه لاسونه د رومبې نه په زمکه باندې وی.

(٣) تخريج: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٧٥٠٤)، وقد أخرجه: حم (١٤٧/٢) (صحيح)

بَابُ الرَّفْعِ مِنَ السُّجُودِ، وَقَالَ ابْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ: "نَهَى أَنْ يَعْتَمِدَ الرَّجُلُ عَلَى يَدَيْهِ إِذَا نَهَضَ فِي الصَّلَاةِ".

د ابن عمر رضي الله عنه نه روایت دی هغه ویلي دي: منع کړي ده رسول الله ﷺ. ویلي دي احمد بن حنبل. د دېنه چې کېني سړی په مانځه کې، او هغه تکیا کړي وي په خپل لاس. او ویلي دي ابن شبویه: منع یي کړې ده چې تکیا وکړي سړی په خپل لاس په مانځه کې. او ویلي دي ابن رافع: منع یي کړي ده د دېنه چې مونځ وکړي سړی او هغه تکیا کونکی وي په خپل لاس. او هغه ذکر کړی دی په باب د رفع کې د سجدې نه. او ویلي دي ابن عبد الملک: منع یي کړې ده چې سړی تکیا وکړي په خپلو لاسونو کله چې پاځېږي په مانځه کې.

[۹۹۳]()حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ هِلَالٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أُمَيَّةَ، سَأَلْتُ نَافِعًا عَنِ الرَّجُلِ يُصَلِّي وَهُوَ مُشَبِّكٌ يَدَيْهِ، قَالَ: قَالَ ابْنُ عُمَرَ: تِلْكَ صَلَاةُ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ.

د اسماعیل بن امیة نه روایت دی هغه وایي ما تپوس وکړو د نافع نه، په باره د هغه سړي کې چې مونځ کوي او مشبک وي (یو لاس یي په بل کې ورکړی وي) د دواړو لاسونو. هغه وایي چې ابن عمر وویل: دغه د مغضوب علیهم مونځ دی.

[۹۹۴]()حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ زَيْدِ بْنِ أَبِي الزَّرْقَاءِ، حَدَّثَنَا أَبِي. ح وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ وَهَذَا لَفْظُهُ جَمِيعًا، عَنْ هِشَامِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّهُ رَأَى رَجُلًا يَتَّكِئُ عَلَى يَدِهِ الْيُسْرَى وَهُوَ قَاعِدٌ فِي الصَّلَاةِ، قَالَ هَارُونُ بْنُ زَيْدٍ: سَاقِطًا عَلَى شِقِّهِ الْأَيْسَرِ، ثُمَّ اتَّفَقَا، فَقَالَ لَهُ: "لَا تَجْلِسْ هَكَذَا، فَإِنَّ هَكَذَا يَجْلِسُ الَّذِينَ يُعَذَّبُونَ".

د ابن عمر رضي الله عنه نه روایت دی: بېشکه هغه ولیدلو یو سړی چې تکیایي کړي وه په خپل چپ لاس او هو ناست وو په مانځه کې. ویلي دي هارون بن زید: چې پریوتی وي په چپ طرف، بیا دواړه متفق شوي دي. هغه ورته وویل: داسې مه کېنه، بېشکه داسې هغه کسان کېني چې عذاب ورکول کېږي.

بَابٌ فِي تَخْفِيفِ الْقُعُودِ

باب دی په بیان د تخفیف د قعدې کې

[۹۹۵]()حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ كَأَنَّهُ عَلَى الرَّضْفِ"، قَالَ: قُلْتُ: حَتَّى يَقُومَ؟ قَالَ: حَتَّى يَقُومَ".

ابو عبیدة د خپل پلار نه روایت کوي: بېشکه نبي ﷺ وو په دوه اولنو رکعاتونو کې گویا چې هغه په گرمو کانو باندې وو. هغه وایي: مونږ وویل: تر پاځېدلو پورې؟ هغه وویل: تر پاځېدلو پورې.

قوله، کان في اراکعتین الاولیین کانّه علی الرّضف، رضف د رضفة جمع ده په معنی د گرم کاڼې.

[1]: تخريج: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۷۵۰٤) (صحيح)
[2]: تخريج: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۸۵۱۳)، وقد أخرجه: حم (۱۱۶/۲) (حسن)
[3]: سنن الترمذي/الصلاة ۱۵۸ (۳٦٦)، سنن النسائي/التطبيق ۱۰۵ (۱۱۷۷)، (تحفة الأشراف: ۹٦۰۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۸٦/۱، ٤۱۰، ٤۲۸، ٤۳٦، ٤٦۰) (ضعيف)

د حدیث په شرح کښې دوه قوله:

د دې حدیث په شرح کښې دوه قوله دی، اول دا چه د رکعتین اولیین نه مراد قعده اولی ده او مطلب دا دې چه حضور ﷺ به قعده اولی مختصر کوله او داسې په جلتئ به پاسیدو چه ګویا توده کاڼړې دی په کوم باندې چه زیات وخت نهٔ شی کیناستلې، یعنی صرف تشهد به ئې لوستلو او بیا به پاسیدو درود او دعاء به ئې نهٔ لوستله، د جمهورو علماؤ او د ائمه ثلاثه هم دا مذهب دې او د امام شافعی قول قدیم هم دا دې او د دوئ قول جدید دا دې لکه څنګه چه رومبی باب الصلوة علی النبی کښې تیر هم شوې دې چه په قعده اولی کښې هم درود لوستل مستحب دی خو صرف په محمد ﷺ باندې بغیر د آل د محمد نه اللهم صل علی محمد.

د مصنف پشان امام ترمذی او نسائی هم د حدیث هم دا معنی مراد اغستې ده د نسائی ترجمه باب التخفیف فی التشهد الاول او د ترمذی، ص،۴۸، ما جاء فی مقدار القعود فی الرکعتین الاولیین، او د حدیث دویم مطلب دا هم کیدې شی چه درکعتین اولیین نه مراد قعده اولی نهٔ ده بلکه رومبې او دریم رکعت دې چه کله رومبې رکعت به ئې پوره کړو او دویم دپاره اودریدو، او هم دغه شان چه کله به ئې دریم رکعت اوکړو او څلورم دپاره به پاسیدله نو داسې په جلتئ به پاسیدل چه تهٔ به وائې لکه چه حضور ﷺ په تود کاڼړی باندې دی، بظاهر په دې صورت کښې د استراحت د جلسې نفی کیږی، جلسه استراحت هم په دې دوو رکعاتونو کښې کیږی دهغه خلقو په نیز څوك چه د دې قائل دی.

قوله، قلنا حتی یقوم قال حتی یقول، په دې عبارت کښې اغلاق دې د دې تشریح د ترمذی د روایت نه کیږی چه دهغې الفاظ دا دی، قال شعبة ثم حرّك سعد شفتیه بشئ فاقول حتی یقوم فیقول حتی یقوم، مطلب دا دې چه شعبه وائی چه ما دخپل استاذ سعد بن ابراهیم نه د مذکوره حدیث الفاظ په ښهٔ شان اوریدلې وو د دینه پس هغوی چه کوم لفظ وئیلې وو هغه ما ښهٔ وانهٔ وریدلو ما د خپل اطمینان دپاره د هغوی نه پوښتنه اوکړه چه وراندې دحدیث لفظ، حتی یقوم، دی نو هغوی اووئیل آو هم حتی یقوم دی.

باب فی السلام

باب دی په بیان د سلام کې

داسې اوګڼړئ چه دا د صفت صلوة آخری باب دې څکه چه سلام د افعالو د صلوة نه آخری فعل دې، او باب رفع الیدین عندالتحریمه د صفت صلوة رومبې باب وو د هغهٔ ځائې نه تر دې ځائې پوره تقریبا تول اویا بابونه دی د کومو نه چه مونږ فارغ شو. فلله الحمد و المنة.

پوهیدل پکار دی چه په کتاب الطهارة کښې د تحریمها التکبیر و تحلیها التسلیم حدیث د لاندې دوه مسئلې تیرې شوې دی، یو د سلام حکم من حیث الفرض و الوجوب او دویمه مسئله د عدد سلام.

د تسلیمه واحده او د تسلیمتینو بحث:

دلته د مصنف غرض د سلام عدد بیانول دی، ائمه ثلاثه او جمهور علماء په مانځه کښې

دتسلیمتینو قائل دی اوامام مالك د تسلیمه واحده قائل دې تلقاء وجهه مائلا الی الیمین، د امام او منفرد په حق کښې دې، او د مقتدی په حق کښې درې سلامونه ړومبې سلام بنی طرف ته دویم تلقاء وجهه او دریم سلام ګس طرف ته په دې شرط چه دې طرف ته څوك مصلی وی ګینې نشته دې، امام شافعی په یو قول کښې او بعضې صحابه کرام لکه ابن عمر او عائشه رضی الله عنها او هم داسې حسن بصری او عمر بن عبدالعزیز هم د یو سلام قائل دی، سبل السلام شرح د بلوغ المرام کښې لیکلې دی چه د تسلیمتینو روایتونه د پنځلسو صحابه کرامو نه مروی دی په کومو کښې چه بعضې صحیح دی او بعضې حسن او بعضې ضعیف دی، د عبدالله بن مسعود په حدیث کښې کوم چه دلته مصنف راوړې دې امام ترمذی د دې په حقله "حدیث حسن صحیح" لیکلې دې، حافظ په التلخیص الخیر کښې لیکلې دی، اخرجه الاربعة والدار قطنی و ابن حبان، دغه شان حافظ صاحب فرمائی چه د دې حدیث اصل صحیح مسلم کښې شته هغه دا چه په مکه مکرمه کښې یو مالدار سړې وو هغه به چه کله مونځ کولو نو دوه سلامونه بنی او ګس طرف ته به ئې ګرځول په دې باندې عبدالله بن مسعود رضی الله عنه اوفرمائیل، أنّی علقها ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کان یفعله،[1] د امام مالك استدلال د اهل مدینه عمل او حدیث عائشه سره دې چه د هغې الفاظ دا دی، ثم یسلم تسلیمة، رواه اصحاب السنن و الحاکم،

امام ترمذی فرمائی و اصح الروایات عن النبی صلی الله علیه وسلم تسلیمتان، او د یو سلام واله حدیث باندې هغوی کلام فرمائیلې دې، حافظ ابن حجر په فتح الباری کښې لیکی چه امام بخاری د سلام په سلسله کښې ګڼړ ابواب قائم فرمائیلې دی د مالکیه په رد کښې ئې هم یو باب منعقد فرمائیلې دې، خو د سلام د عدد یو صریح حدیث ئې ذکر کړې نۀ دې نۀ د تسلیمتیو او نۀ د تسلیمه واحده خو امام مسلم دوه حدیثونه د ابن مسعود او سعد بن ابی وقاص د تسلیمتینو په سلسله کښې ذکر فرمائیلې دی، دغه شان حافظ لیکی چه ابن عبدالبر د تسلیمه واحده روایتونه معلل ګرځولې دی.

د تسلیمه واحده توجیه

زمونږ حضرت ګنګوهی د دې توجیه دا فرمائیلې ده چه دا روایت محمول دې په رفع صوت او په جهر باندې، یعنی ړومبې سلام به هغوی په زوره باندې وئیلو په خلاف د دویم سلام نه، او د دې تائید د بعضې روایت د الفاظو نه کیږی، مثلاً د ابوداؤد روایت کښې دی، یسلم تسلمیة یکاد یوقظ اهله، چه یو سلام به حضور ﷺ دومره په زوره وئیلو چه اودۀ خلق به ویخ شول، او بعضې مشائخو دا تاویل کړې دې چه ممکن دا ده چه حضور ﷺ به په صلوة اللیل کښې کله کله یو سلام باندې اکتفاء فرمائیله او د دوو سلامونو واله احادیث محمول دی په فرض مونځ باندې کوم به چه حضور ﷺ په جوماتِ کښې تولو سره ادا کول.

احقر وائی غالبا څکه خو د یو سلام واله روایت مصنف دلته نۀ دې ذکر کړې بلکه هغه ئې په ابواب صلوة اللیل کښې راوړې دې.

---

[1] دا خصلت هغوی د کوم ځائې نه زده کړې وو؟ بیشکه حضور ﷺ هم داسې کول. ۱۲ منه

[۹۹۶] ([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ. ح وحَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زَائِدَةُ. ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ. ح وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ الْمُحَارِبِيُّ، وَزِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ، قَالَا: حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ عُبَيْدٍ الطَّنَافِسِيُّ. ح وحَدَّثَنَا تَمِيمُ بْنُ الْمُنْتَصِرِ، أَخْبَرَنَا إِسْحَاقُ يَعْنِي ابْنَ يُوسُفَ، عَنْ شَرِيكٍ. ح حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ كُلُّهُمْ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، وَقَالَ إِسْرَائِيلُ: عَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ، وَالْأَسْوَدِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يُسَلِّمُ عَنْ يَمِينِهِ، وَعَنْ شِمَالِهِ حَتَّى يُرَى بَيَاضُ خَدِّهِ، السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ، السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذَا لَفْظُ حَدِيثِ سُفْيَانَ، وَحَدِيثُ إِسْرَائِيلَ لَمْ يُفَسِّرْهُ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ زُهَيْرٌ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، وَيَحْيَى بْنُ آدَمَ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ أَبِيهِ، وَعَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: شُعْبَةُ كَانَ يُنْكِرُ هَذَا الْحَدِيثَ، حَدِيثَ أَبِي إِسْحَاقَ أَنْ يَكُونَ مَرْفُوعًا.

د عبد الله نه روایت دی، بېشکه نبي ﷺ وو چې سلام یې اړولو ښي طرف ته، او چپ طرف ته، تردې چې لیدلی به شو سپینوالی د اننګو د هغه (السلام علیکم و رحمة الله، السلام علیکم ورحمة الله. ویلي دي ابوداود: او دا لفظ د حدیث د سفیان دی، او حدیث د اسرائیل د هغه تفسیر نه دی کړی. ویلي دي ابوداود: او روایت کړی دی زهیر د هغې د ابی اسحاق نه، او یحیی بن آدم د اسرائیل نه او هغه د ابو اسحاق نه او هغه د عبد الرحمن بن الاسود نه او هغه د خپل پلار نه، او د علقمه نه او هغه د عبد الله نه. ویلي دي ابوداود: شعبه به دا حدیث منکر ګڼلو ـ حدیث د ابو اسحاق ـ چې دا دې مرفوع وي.

۱_حدثنا محمد بن کثیر.. الخ، مصنف د تسلیمتینو په باره کښې اولاً د عبد الله بن مسعود حدیث ذکر فرمائیلې دې او ثانیًا ئې د وائل بن حجر او ثالثًا ئې د جابر بن سمره، ددې درېواړو روایتونو نه د تسلیمتینو ثبوت کیږی، د عبدالله بن مسعود حدیث سند خو ډیرلوئې دې ځکه چه په هغې کښې پنځه تحویله دی د کوموتفصیل به چه وړاندې راشی.

قوله، کلهم عن ابی اسحاق عن ابی الاحوص، د دې حدیث د سند مدار په ابواسحاق باندې دې، د ابواسحاق نه روایت کونکی ډیر دی، د کلهم د ضمیر مرجع د هر سند آخری راوی دې نو د ړومبی سند آخری راوی سفیان دې او د دویم زائده د دریم ابوالاحوص د څلورم عمر بن عبید د پنځم شریك او د شپږم آخری راوی اسرائیل، دا ټول رواة دې حدیث لره روایت کوی د ابواسحاق نه، ابواسحاق ملتقی الاسانید دې.

اوځان پوهه کړئ چه په دریم سند کښې چه کوم ابو الاحوص راغلې دې هغه بل یو دې دهغه نوم سلام بن سلیم دې اوپه آخیره کښې چه کوم ابوالاحوص راغلې دې هغه عوف بن مالك دې.

قوله، قال ابوداؤد و هذا لفظ حدیث سفیان و حدیث اسرائیل لم یفسره، دلته په حدیث کښې دوه جملې دی یوه په شروع کښې کان یسلم عن یمینه و عن شماله، او دویمه په آخره کښې السلام علیکم و رحمة الله، دا جمله د دویمې جملې تفسیر دې مصنف فرمائی چه دا جمله

[1]): سنن الترمذي/الصلاة ۱۰۹ (۲۹۵)، سنن النسائي/السهو ۷۱ (۱۳۲۳، ۱۳۲٤، ۱۳۲۵، ۱۳۲٦)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۲۸ (۹۱٤)، (تحفة الأشراف: ۹۱۸۲، ۹۵۰٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۳۹۰، ٤۰٦، ٤۰۹، ٤۱٤، ٤٤٤، ٤٤۸)، سنن الدارمي/الصلاة ۸۷ (۱۳۸۵) (صحیح)

تفسیر یه صرف سفیان ذکر کړې ده اسرائیل نۀ ده ذکر کړې.

قال ابوداؤد و رواه زهير عن ابی اسحاق و يحيٰی بن آدم عن اسرائيل عن ابی اسحاق عن عبد الرحمٰن ابن الاسود عن ابيه،

شرح السند:

رومبی پنځه سندونه داسې دی چه په دې کښې دابواسحاق او عبد الله بن مسعود په مینځ کښې صرف یوه واسطه ده د ابوالاحوص او په شپږم سند کښې کوم چه د اسرائیل دې په هغې کښې واسطه خو یوه ده خو د ابوالاحوص سره سره اسود هم شامل دې، او و رواه زهير سره چه کوم سندونه مصنف بیانوی په هغې کښې ابواسحاق او د عبدالله بن مسعود په مینځ کښې دوه واسطې دی، د عبد الرحمان بن اسود او د اسود، نو ګویا دوه فرقه شو یو خو دا چه په تیر شوې سندونو کښې ابواسحاق او د صحابی په مینځ کښې صرف یوه واسطه وه او د زهير او يحيٰی بن آدم په روایت کښې دوه واسطې دی، او دویم فرق د واسطې د تعین دې چه هلته واسطه د ابوالاحوص وه او دلته د هغۀ په ځائې باندې دعبد الرحمٰن بن الاسود او اسود ده.

قوله، و علقمة عن عبدالله، په دې کښې یو احتمال خو دا دې چه که د علقمه عطف په عبدالرحمان باندې وی نو په دې صورت کښې به مطلب دا وی چه ابو اسحاق د روایت کوی د علقمه نه او علقمه د عبد الله بن مسعود نه، دویم احتمال دا دې چه د علقمه عطف په ابيه باندې وی نو په دې صورت کښې به مطلب دا وی چه عبدالرحمان ځنګه د خپل پلار اسود نه روایت کوی دغه شان د علقمه نه هم روایت کوی او بیا دا دواړه اسود او علقمه د عبد الله بن مسعود نه روایت کوی، په اول احتمال کښې به د ابو اسحاق روایت نیغ په نیغه د علقمه نه وی او په دویم احتمال کښې به د ابواسحاق روایت د اسود او علقمه دواړو نه په واسطې د عبد الرحمٰن وی او دا ټول سندونه به داسې شی.

۱: ابواسحاق عن ابی الاحوص عن ابن مسعود، په دې کښې دشروع شپږ سندونه راغلل،

۲: ابواسحاق عن الاسود عن ابن مسعود رضی الله عنه

۳: ابواسحاق عن عبدالرحمٰن بن الاسود عن الاسود عن عبد الله بن مسعود،

۴: ابواسحاق عن علقمه عن ابن مسعود رضی الله عنه،

قوله: قال ابوداؤد و شعبة كان ينكر هذا الحديث حديث ابی اسحاق، شعبه د دې حدیث انکار بظاهر کښې به د دې دپاره کوی چه د دې په سند کښې اختلاف او اضطراب دې ځکه چه ابواسحاق دا حدیث هم د ابوالاحوص نه روایت کوی او کله د عبد الرحمٰن بن الاسود نه او کله د علقمه نه، او په ظاهره کښې د مصنف میلان هم دې طرف ته دې ګینی د شعبه رائې به ئې نۀ وه نقل کړې یا د نقل کولو نه پس به ئې د دې تردید کړې وو، خو امام ترمذی د دې حدیث په حقله وئیلې دی، هذا حديث حسن صحيح، نو ګویا د امام ترمذی د شعبه د دې رائې سره اتفاق نشته دې ځکه چه کیدې شی چه دا روایت په دې ټولو طریق سره محفوظ او ثابت وی، والله تعالٰی اعلم.

[۹۹۷]()حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ قَيْسٍ الْحَضْرَمِيُّ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ كُهَيْلٍ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَائِلٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "فَكَانَ يُسَلِّمُ عَنْ يَمِينِهِ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ، وَعَنْ شِمَالِهِ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ".

د علقمة بن وائل نه روايت دى هغه روايت كوي د خپل پلار نه، هغه وايي: ما مونځ وكړو د نبي ﷺ سره، هغه به سلام اړولو ښي طرف ته (السلام عليكم و رحمة الله و بركاته) او چپ طرف ته (السلام عليكم و رحمة الله).

۲: حدثنا عبدة بن عبدالله.. الخ، قوله السلام عليكم و رحمة الله و بركاته:

د مونځ په سلام كښې د وبركاته زيادت

د وائل بن حُجر په دې حديث كښې دوبركاته زيارت صرف په رومبي سلام كښې موجود دې، حضرت په بذل المجهود كښې په دې باندې تفصيل سره كلام فرمائيلي دې چه د هغې چه دا دې چه د دې زيادت امام نووى او ابن الصلاح محدث انكار كړې دې خو حافظ ابن حجر دې لره ثابت ګڼړلى نو ځكه هغوى په بلوغ المرام كښې د تسليمتينو په حقله هم دا يو حديث د وائل بن حجر په كوم كښې چه د و بركاته زيادت ذكر كړې او ليكلي ئې دې رواه ابوداؤد باسناد صحيح، او علامه شوكانى ليكى چه دا زيادت په صحيح د ابن حبان كښې د ابن مسعود په حديث كښې هم مذكور دې او دغه شان په ابن ماجه كښې هم خو زمونږ حضرت سهارنپورى رحمه الله د دې رائې سره متفق نۀ دې بلكه دا فرمائى چه دا زيادت شاذ دې، او د عبدالله بن مسعود چه څومره روايتونه هم په دې حقله په صحاح سته او مسند احمد او بيهقى او طحاوى وغيره په كتب حديث كښې موجود دې په هغې كښې دا زيادت چرته هم ملاؤنشو، د ابن ماجه نسخه چه كومه مونږ سره ده په دې كښې هم زياتې نشته دې، والله تعالى اعلم.

فائده: د سلام مسنون الفاظ څۀ دى د دې تفصيل صاحب منهل ليكلي دې په هغې كښې دا ئې هم ليكلي دى چه د ائمه ثلاثه په نيز السلام عليكم و رحمة الله مسنون طريقه ده او د مالكيه په نيز دورحمة الله زياتې مسنون نۀ دې او ليكلي ئې دى چه حنابله او سرخسى من الحنفيه او روياني او امام الحرمين من الشافعيه په نيز په رومبى سلام كښې دو بركاته زياتې هم مستحب دې، احقر وائى چه دلته يو اختلاف بل دې هغه دا چه د نسائى شريف په بعضې روايتونو كښې سلام الى اليمين يعنى ښى طرف ته سلام ګرځولو كښې السلام عليكم ورحمة الله او سلام الى اليسار يعنى ګس طرف ته سلام ګرځولو كښې صرف السلام عليكم وارد دې بغير د ورحمة الله نه او امام نسائى هم جدا جدا دوه بابونه قائم كړى دى نو پس ممكنه ده چه حضور ﷺ كله داسې هم كړې وى خو چونكه اكثر روايتونو كښې دا فرق نشته دې نو ځكه جمهورو عدم فرق لره اختيار كړې دې په منهل كښې ليكلي دى حتى يرى بياض خده نه معلوميږى چه مصلى لره پكاردى چه د سلام په وخت كښې په التفات يمينا او

[۱]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۱۷۷٦) (صحيح)

شمالاکښې مبالغه اوکړی، هم دامذهب دې دائمه ثلاثه شافعیه،حنفیه اوحنابله اود مالك في رواية، او د امام مالك دويم روايت دا دی چه د سلام په وخت کښې التفات مخامخ پکار دې مائلا الی الیمین، حاصل دا چه د دوئ په نیز التفات صرف ښی طرف ته آسان دې.

[۹۹۸](۱) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ زَكَرِيَّا، وَوَكِيعٌ، عَنْ مِسْعَرٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ ابْنِ الْقِبْطِيَّةِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: كُنَّا إِذَا صَلَّيْنَا خَلْفَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمَ أَحَدُنَا أَشَارَ بِيَدِهِ مِنْ عَنْ يَمِينِهِ، وَمِنْ عَنْ يَسَارِهِ، فَلَمَّا صَلَّى، قَالَ: "مَا بَالُ أَحَدِكُمْ يَرْمِي بِيَدِهِ كَأَنَّهَا أَذْنَابُ خَيْلٍ شُمْسٍ، إِنَّمَا يَكْفِي أَحَدَكُمْ أَوْ أَلَا يَكْفِي أَحَدَكُمْ أَنْ يَقُولَ هَكَذَا"، وَأَشَارَ بِأُصْبُعِهِ يُسَلِّمُ عَلَى أَخِيهِ مِنْ عَنْ يَمِينِهِ وَمِنْ عَنْ شِمَالِهِ.

د جابر بن سمرة نه روایت دی هغه ویلي دي: وو مونږ کله چې به مونږ مونځ کولو وروسته د رسول الله ﷺ نه سلام به اړولو یو کس زمونږ نه اشاره به یي کوله هغه چاته چې د هغه ښې طرف ته وو ، او هغه چاته چې د هغه چپ طرف ته وي، هرکله چې هغه مونځ وکړو ویي ویل: څه دي یو کس ستاسو لره چې اشاره کوي په خپل لاس باندې ګویا هغه لکۍ د مستو اسونو دي؟ بېشکه بس کېږي د یو لپاره ستاسو نه۔ او ایا نه کافي کېږي د یو کس لپاره ستاسو نه۔ چې ووایي داسې: او اشاره یي وکړه په خپله ګوته سلام به یي اچولو په خپل ورور چې د هغه ښې طرف ته وو او هغه چې د هغه چپ طرف ته وو.

۳: حدثنا عثمان بن ابی شیبة.. الخ، د باب په شروع کښې مونږ دا ښودلې وو چه په دې باب کښې مصنف د دریو صحابهٔ کرامو روایات اغستې دی د ابن مسعود، وائل بن حجر، جابر بن سمره، د دې ځائې نه هم دا دریم حدیث شروع کېږی نو څکه مصنف په ګنړو طریق سره چه دهغې سیاق مختلف دی ذکر فرمائیلې دی، په دې کښې په بعضو کښې رفع یدین عند السلام مونډلې کیږی په کوم باندې چه حضور ﷺ انکار فرمائیلې دې، اکثر محدثین خو هم دا فرمائی چه د حضور ﷺ دا انکار، ما لی اراکم رافعی ایدیکم کانها اذناب خیل شُمُس، هم په دې رفع عند السلام باندې دې، او احناف علماء دا فرمائی چه د حضور ﷺ دا انکار په دواړو باندې دې رفع عند السلام باندې هم او رفع فی اثناء الصلوة عند الرکوع وغیره باندې هم، د دې نور وضاحت زمونږ په نیز د رفع یدین په بحث کښې تیر شوې دې.

[۹۹۹](۲) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو نُعَيْمٍ، عَنْ مِسْعَرٍ بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ، قَالَ: "أَمَا يَكْفِي أَحَدَكُمْ أَوْ أَحَدَهُمْ أَنْ يَضَعَ يَدَهُ عَلَى فَخِذِهِ، ثُمَّ يُسَلِّمَ عَلَى أَخِيهِ مِنْ عَنْ يَمِينِهِ، وَمِنْ عَنْ شِمَالِهِ".

مسعر روایت کړی دی په اسناد او معنی د هغه حدیث سره، هغه ویلي دي: ایا نه کافي کېږي د یو لپاره ستاسو نه، او یا د دوی نه، چې کېدي خپل لاس په خپل ورون باندې، بیا سلام وکړي په خپل ورور د ښې طرف نه، او د چپ طرف نه.

۱): صحیح مسلم/الصلاة ۲۷ (۴۳۱)، سنن النسائي/السهو ۵ (۱۱۸۶)، ۶۹ (۱۳۱۹)، ۷۲ (۱۳۲۷)، (تحفة الأشراف: ۲۲۰۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۸۶/۵، ۸۸، ۹۳، ۱۰۱، ۱۰۲، ۱۰۷) (صحیح)

۲): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۲۲۰۷) (صحیح)

[۱۰۰۰]()حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ الْمُسَيَّبِ بْنِ رَافِعٍ، عَنْ تَمِيمٍ الطَّائِيِّ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: دَخَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسُ رَافِعُوا أَيْدِيهِمْ، قَالَ زُهَيْرٌ: أُرَاهُ قَالَ: فِي الصَّلَاةِ، فَقَالَ: "مَالِي أَرَاكُمْ رَافِعِي أَيْدِيكُمْ كَأَنَّهَا أَذْنَابُ خَيْلٍ شُمْسٍ، أُسْكُنُوا فِي الصَّلَاةِ".

د جابر سمرة نه روایت دی هغه ویلي دي: راغی مونږ ته رسول الله ﷺ او خلق اوچتونکي وو د لاسونو خپلو ـ ویلي دي زهیر: زما خیال دی ـ په مانځه کې، هغه وفرمایل: څه دي ماله چې زه تاسو وینم اوچتونکي د لاسونو خپلو ګویا دا لکۍ د اسونو مستو دي؟ په ارام شئ په مانځه کې.

بَابُ الرَّدِّ عَلَى الْإِمَامِ

باب دی په بیان د جواب کې امام ته

[۱۰۰۱]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُثْمَانَ أَبُو الْجَمَاهِرِ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ بَشِيرٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ، قَالَ: "أَمَرَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَرُدَّ عَلَى الْإِمَامِ، وَأَنْ نَتَحَابَّ، وَأَنْ يُسَلِّمَ بَعْضُنَا عَلَى بَعْضٍ".

د سمرة نه روایت دی هغه ویلي دي: مونږ ته امر کړی دی نبي ﷺ چې مونږ جواب ورکړو امام ته، او مونږ محبت وکړو، او د دې چې سلام وکړي بعضې زمونږ نه بعضو نورو ته.

قوله، ان نردّ على الامام و ان نتحابّ و ان یسلم بعضنا على بعضٍ، د رد على الامام مطلب دا دې چه کله مقتدی په مانځه کښې السلام علیکم اووائی نو د کم په خطاب کښې دې امام هم شامل کړی، او د باقی حدیث مطلب ظاهر دې مونځګذارو لره پکار دی چه په خپلو کښې یو بل سره مینه وساتی او یو بل ته سلام کوی په مانځه کښې هم او د مانځه نه بهر هم، په مانځه کښې د سلام کولو مطلب دا دې چه هر مقتدی کله السلام علیکم اووائی نو چه څنګه په دې کښې د امام نیت کوی هم دغه شان دې په مانځه کښې د شریك کیدونکو مقتدیانو نیت هم اوکړی بلکه علماؤ لیکلې دی چه هغه ملائك کومې چه په مانځه کښې شریك دی د هغوی نیت دې هم اوکړې شی.

بَابُ التَّكْبِيرِ بَعْدَ الصَّلَاةِ

باب دی په بیان د تکبیر کې وروسته د مانځه نه

[۱۰۰۲]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي مَعْبَدٍ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "كَانَ يُعْلَمُ انْقِضَاءُ صَلَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالتَّكْبِيرِ".

د ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دی هغه ویلي دي: وو چې معلومولی به شو پوره والی د مانځه د رسول الله ﷺ په تکبیر سره.

قوله، عن ابن عباس قال كان یعلم انقضاء صلوة رسول الله صلى الله علیه وسلم بالتكبیر، حضرت

[1]: صحیح مسلم/ الصلاة ۲۷ (۴۳۰)، سنن النسائي/السهو ۵ (۱۱۸۵)، (تحفة الأشراف: ۲۱۲۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۸۶/۵، ۸۸، ۹۳، ۱۰۱، ۱۰۲، ۱۰۷) (صحیح)

[2]: سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۳۰ (۹۲۲)، (تحفة الأشراف: ۴۵۹۷) (ضعیف)

[3]: صحیح البخاري/الأذان ۱۵۵ (۸۴۲)، صحیح مسلم/المساجد ۲۳ (۵۸۳)، سنن النسائي/السهو ۷۹ (۱۳۳۶)، (تحفة الأشراف: ۶۵۱۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۲۲/۱) (صحیح)

ابن عباس ﷠ فرمائی چه مونږ خلقو ته به د حضور ﷺ د مونځ (کوم به چه په جومات کښې ادا کيدو) د ختميدو خبر د تکبير په ذريعې سره کيدو يعنی د فرض مونځ نه پس به د حضور ﷺ په زمانه کښې صحابه کرامو د سلام ګرځولو نه پس په جهر سره الله اکبر وئيلو په کوم سره به چه مونږ پوهه شو چه اوس په جومات کښې مونځ ختم شو.

د دې حديث نه د بالجهر ذکر استحباب د فرض مونځ نه پس ثابتيږی، بعضې سلف او ابن حزم ظاهری د دې قائل وو خو جمهور او ائمه اربعه د دې قائل نهٔ دی هغوی د دې توجيه دا کوی چه کيدې شی چه څو ورځې د اسلام په شروع کښې داسې شوې وی د ذکر د تعليم دپاره څکه چه په دغه ورځو کښې به هره ورځ خلق په اسلام کښې داخليدل او هغوی چونکه د دې نه ناخبره وو نو دې نوې مسلمانانو ته د زده کړې دپاره به داسې کيدل بيا د دې دا سلسله رستو قائمه پاتې نهٔ شوه لهذا دا يو وختی حکم وو کوم چه هغه وخت منسوخ شوې وو، او بعضې علماؤ د دې دا توجيه کړې ده چه د دې حديث د تکبير نه تکبير د تشريق مراد دې کوم چه په ايام تشريق کښې مشروع دی، او دا د هرې زمانې حکم نهٔ دې، والله تعالی اعلم.

دلته يو اشکال کيږی چه ابن عباس ﷠ په خپله په مانځه کښې ولې نهٔ شريک کيدو لړې ولې ناست وو او اوريدل ئې، د دې جواب امام نووی دا ليکلې دې چه دوئ د حضور ﷺ په زمانه کښې کم عمره وو نو دا واقعه د دوئ د وړوکوالی ده، او يو جواب دا هم کيدې شی چه د دې حديث تعلق ټولو خلقو سره نهٔ دې بلکه د هغهٔ ماشومانو او ښځو سره دې کومو به چه په کور کښې مونځونه کول او هم دغه شان معذوره خلق هم.

[۱۰۰۳](١)حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى الْبَلْخِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنِي ابْنُ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنَا عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ، أَنَّ أَبَا مَعْبَدٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ أَخْبَرَهُ، أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ أَخْبَرَهُ، أَنَّ "رَفْعَ الصَّوْتِ لِلذِّكْرِ حِينَ يَنْصَرِفُ النَّاسُ مِنَ الْمَكْتُوبَةِ، كَانَ ذَلِكَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ"، وَأَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ، قَالَ: كُنْتُ أَعْلَمُ إِذَا انْصَرَفُوا بِذَلِكَ وَأَسْمَعُهُ.

ابن عباس خبر ورکړی دی هغه ته: بېشکه اوچتول د اواز لپاره د ذکر کله چې خلق فارغه شي د فرض مونځ نه، دا وو په زمانه د رسول الله ﷺ کې. او بېشکه ابن عباس ويلي دي: زه پوهيدم په هغې چې کله به دوی فارغ شو او ما به اوريدلو هغې لره.

بَابُ حَذْفِ التَّسْلِيمِ

باب دی په بيان د اختصار د کولو د سلام کې

[۱۰۰۴](٢)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ الْفِرْيَابِيُّ، حَدَّثَنَا الْأَوْزَاعِيُّ، عَنْ قُرَّةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "حَذْفُ السَّلَامِ سُنَّةٌ". قَالَ عِيسَى: نَهَانِي ابْنُ الْمُبَارَكِ عَنْ رَفْعِ هَذَا الْحَدِيثِ. قَالَ أَبُو دَاوُدَ: سَمِعْتُ أَبَا عُمَيْرٍ عِيسَى بْنَ يُونُسَ

(١): صحيح البخاري /الأذان ١٥٥ (٨٤١)، صحيح مسلم /المساجد ٢٣ (٥٨٣)، (تحفة الأشراف: ٦٥١٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٣٦٧) (صحيح)

(٢): سنن الترمذي /الصلاة ١١١ (٢٩٧)، (تحفة الأشراف: ١٥٢٣٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٥٣٢) (ضعيف)

الْفَاخُورِيُّ الرَّمْلِيُّ، قَالَ: لَمَّا رَجَعَ الْفِرْيَابِيُّ مِنْ مَكَّةَ تَرَكَ رَفْعَ هَذَا الْحَدِيثِ، وَقَالَ: نَهَاهُ أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ عَنْ رَفْعِهِ.

د ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دی هغه ویلي دي چې رسول الله ﷺ ویلي دي: اختصار د سلام سنت دی. ویلي دي عیسی: زه منع کړی یم ابن المبارک د مرفوع کولو د دې حدیث نه، او هغه ویلي دي: هغه لره منع کړی دی احمد بن حنبل د مرفوعیت د دېنه.

قوله، قال رسول الله صلى الله عليه وسلم حذف السلام سنة، د دې دوه تفسیرونه کړې شوې دی، حذف الحركة عن لفظ الجلالة، یعنی د سلام په آخر کښې چه کوم لفظ د الله دې په ورحمة الله کښې د دې حرکت لره حذف کړه او ساکن ئې اولوله، او دویم تفسیر دا کړې شوې دې، الاسراع و ترك المد و الاطالة، یعنی د مانځه سلام په جلتئ سره ګرځول او فارغ کیدل ډیر په قلاره او تجوید سره نۀ لوستل، په دې کښې مصلحت دا دې که امام صاحب دې لفظ لره ښۀ په تجوید سره په راښکلو سره اولولی نو کیدې شی یو مقتدی د امام نه وړاندې سلام اووائی او فارغ شی نو په دې کښې به تقدم على الامام فى السلام لازم شی کوم چه د جمهورو په نیز مفسد د صلوة دې او د حنفیه په نیز مکروه دې.

زمونږ حضرت شیخ نورالله مرقده به هم دا غوغتل چه د امام سلام دی مختصر وی په دې کښې دې اوږدوالې اونۀ موندلې شی.

امام ترمذی د دې روستو فرمائی، قال ابن المبارك يعنى ان لا تمده مدًا و روى عن ابراهيم النخعى انه قال التكبير جزمٌ و السلام جزم، په منهل کښې لیکلې دی دا مسئله اجماعی ده په دې کښې هیڅ اختلاف نشته دې او مصلحت په دې کښې هم هغه دې کوم چه پورته ذکر شو، خو صاحب دعون المعبود په دې کښې د بعضې اهل تشیع اختلاف نقل کړې دې چه هغوی وائی چه په دې کښې جلتی کول مکروه ده بلکه سکون او وقار سره کیدل پکار دی، خو علامه شوکانی فرمائی، و هو مردود بهذا الدليل الخاص،

بَاب إِذَا أَحْدَثَ فِي صَلَاتِهِ يَسْتَقْبِلُ

باب دی، کله چې بې اودسه شي په مانځه کې

دا قسمه باب په کتاب الطهارة کښې هم تیر شوې دې دا باب دلته مکرر دې، لهذا په دې مسئله کښې اختلاف او دلائل ټول تیر شوې دی، دغه شان دې مسئلې طرف ته اشاره په باب فرض الوضوء کښې لايقبل الله صلوة احدكم اذا أحدث حتى يتوضاء د لاندې هم تیرشوې ده.

[۱۰۰۵](۱)حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرُ بْنُ عَبْدِ الْحَمِيدِ، عَنْ عَاصِمٍ الْأَحْوَلِ، عَنْ عِيسَى بْنِ حِطَّانَ، عَنْ مُسْلِمِ بْنِ سَلَّامٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ طَلْقٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا فَسَا أَحَدُكُمْ فِي الصَّلَاةِ فَلْيَنْصَرِفْ، فَلْيَتَوَضَّأْ وَلْيُعِدْ صَلَاتَهُ".

د علي بن طلق نه روایت دی هغه ویلي دي چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: کله چې فسکی واچوي یو کس ستاسو نه په مانځه کې نو لاړ دې شي اودس دې وکړي او اعاده د مانځه دې وکړي.

(۱): انظر حدیث رقم: ۲۰۵، (تحفة الأشراف: ۱۰۳۴٤) (ضعیف)

قوله، قال رسول الله صلى الله عليه وسلم اذا فسا احدكم في الصلوة فلينصرف فليتوضاء و ليعد صلوته، كه چرته په مانځه كښې بې اودسې پيښه شي نو د اودس نه پس په تير شوې مونځ باندې بناء كولې شي يا نه د ائمه ثلاثه په نيز جائز نه ده بلكه د مونځ اعاده او استيناف واجب دې، دحنفيه په نيز بناء جائز ده خو استيناف غوره دې او قصدا دځان بې اودسه كولو په صورت كښې د حنفيه په نيز باندې هم بناء جائز نه ده.

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَتَطَوَّعُ فِي مَكَانِهِ الَّذِي صَلَّى فِيهِ الْمَكْتُوبَةَ

باب دى په بيان سړي كې چې نفل كوي په هغه ځاى كې چې په كوم كې يې فرض كړي دي

د دې باب نه وړاندې په ابواب الامامة كښې په دې سلسله كښې باب تير شوې دې، باب الامام يتطوع في مكانه.

[١٠٠٦](١)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، وَعَبْدُ الْوَارِثِ، عَنْ لَيْثٍ، عَنِ الْحَجَّاجِ بْنِ عُبَيْدٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ إِسْمَاعِيلَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَيَعْجِزُ أَحَدُكُمْ؟" قَالَ: عَنْ عَبْدِ الْوَارِثِ، أَنْ يَتَقَدَّمَ أَوْ يَتَأَخَّرَ أَوْ عَنْ يَمِينِهِ أَوْ عَنْ شِمَالِهِ، زَادَ فِي حَدِيثِ حَمَّادٍ فِي الصَّلَاةِ: يَعْنِي فِي السُّبْحَةِ.

د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه وايي دي چې رسول الله ﷺ وايي دي: ايا كمزورى دى يو كس ستاسو نه. هغه وايي دي: د عبد الوارث نه. چې مخكې شي او يا وروسته شي، او يا ښي طرف ته او يا چپ طرف ته. هغه زيات كړي دي په حديث كې. (في الصلاة) يعني په نفلو كې

قوله، ايعجزكم احدكم ان يتقدم او يتاخر..الخ، تاسو نه دومره نه شي كيدې چه د فرض مونځ نه فارغ كيدو نه پس د خپل ځائې نه لږ شئ وړاندې يا روستو يا ښى يا گس طرف ته نفلونه يا سنتونه اوكړئ، په دې كښې ترغيب دې چه داسې كول پكار دى، په دې كښې علماؤ دوه فائدې ليكلې دى، يو ازاله د اشتباه او دويمه استكثار دشهود، ځكه كه د فرض مونځ كولو نه پس تول مونځ كونكى په خپل ځائې باندې دويم خلى د سنتونو دپاره نيتونه اوتړى نو جومات ته روستو راتلونكى خلقو ته به په رومبى ځل باندې دا شبه كيدې شى چه د جماعت مونځ ولاړ دې او مونځ كيږى، او دويم مصلحت كوم چه بيان كړې شو هغه دا دې چه د قيامت په ورځ د زمكې هره هغه حصه په كومې باندې چه انسان عبادت كړې وى هغه به گواهى وركوى، لهذا خپل ځان دپاره گواهان زياتول پكار دى، و في المنهل و ذالك لتكثير مواضع السجود كما قال البخارى و البغوى لان مواضع السجود تشهد له يوم القيامة كما في قوله تعالى، يومئذ تحدث اخبارها،

[١٠٠٧](٢)حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ نَجْدَةَ، حَدَّثَنَا أَشْعَثُ بْنُ شُعْبَةَ، عَنِ الْمِنْهَالِ بْنِ خَلِيفَةَ، عَنِ الْأَزْرَقِ بْنِ قَيْسٍ، قَالَ: صَلَّى بِنَا إِمَامٌ لَنَا يُكْنَى أَبَا رِمْثَةَ، فَقَالَ: صَلَّيْتُ هَذِهِ الصَّلَاةَ أَوْ مِثْلَ هَذِهِ الصَّلَاةِ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّه

---

(١): صحيح البخاري/الأذان ١٥٧ (٨٤٨ تعليقا)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٢٠٣ (١٤٢٧)، (تحفة الأشراف: ١٢١٧٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٤٢٥) (صحيح)

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٢٠٤١، ١٢٠٣٧) (حسن لغيره)

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ يَقُومَانِ فِي الصَّفِّ الْمُقَدَّمِ عَنْ يَمِينِهِ، وَكَانَ رَجُلٌ قَدْ شَهِدَ التَّكْبِيرَةَ الْأُولَى مِنَ الصَّلَاةِ، فَصَلَّى نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ سَلَّمَ عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ يَسَارِهِ حَتَّى رَأَيْنَا بَيَاضَ خَدَّيْهِ، ثُمَّ انْفَتَلَ كَانْفِتَالِ أَبِي رِمْثَةَ يَعْنِي نَفْسَهُ، فَقَامَ الرَّجُلُ الَّذِي أَدْرَكَ مَعَهُ التَّكْبِيرَةَ الْأُولَى مِنَ الصَّلَاةِ يَشْفَعُ، فَوَثَبَ إِلَيْهِ عُمَرُ، فَأَخَذَ بِمَنْكِبِهِ فَهَزَّهُ، ثُمَّ قَالَ: اجْلِسْ، فَإِنَّهُ لَمْ يَهْلِكْ أَهْلُ الْكِتَابِ، إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَكُنْ بَيْنَ صَلَوَاتِهِمْ فَصْلٌ، فَرَفَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَصَرَهُ، فَقَالَ: "أَصَابَ اللَّهُ بِكَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَقَدْ قِيلَ: أَبُو أُمَيَّةَ مَكَانَ أَبِي رِمْثَةَ.

د ازرق بن قيس نه روايت دی هغه ويلي دي: مونږ ته مونځ وکړو زمونږ يو امام ابو رمثه ورته ويلی کيدو، هغه ويلي دي: مونږ دا مونځ وکړو ـ او په مثل د دې مونځ ـ د نبي ﷺ سره، هغه وايي: چې ابوبکر او عمر ولاړ وو په مخکښي صف کې ښي طرف د هغه ته، او هغه يو سړی وو چې راګير کړی يي وو تکبير اولی د مانځه نه، نو مونځ وکړو د الله نبي ﷺ بيايي سلام وګرځولو ښي طرف ته، او چپ طرف ته ترديې چې مونږ وليدلو سپينوالی د اننګو د هغه، بيا پاڅيدلو پشان د پاڅيدلو د ابو رمثه ـ يعني ـ پاڅيدلو هغه سړی چې تکبير اولی يي د هغه سره موندلی وو د مانځه نه نفل يي کول، نو عمر پرې ورټوپ کړ او هغه يي د ولي نه ونيولو ويي خوزولو، بيايي وويل: کښنه بېشکه نه دي هلاک شوي اهل کتاب مګر په دې خبره چې نه وو په مابين د مونځونو د هغوی کي فصل، نو پيغمبر ﷺ خپلې سترګې اوچتې کړې، ويي ويل: صواب ته ورسولو الله ستا په وجه ای د خطاب ځويه! ويلي دي ابوداود: او ويلی شوی دی ابو امية په ځای د ابو رمثة باندې.

قوله، صلى بنا امام لنا يكنّى أبارمثة، الخ، د ابورمثه په نوم کښې اختلاف دې په تقريب التهذيب کښې ئې ليکلې دی، قيل اسمه رفاعة بن يثربی و يقال عکسه و يقال عمارة بن يثربی و يقال حيان بن وُهيب و قيل جندب و قيل خشخاش، او د بعضې کتابونو د حديث نه معلوميږي چه دا لفظ ابوريمه دې، حافظ په تقريب کښې فرمائی چه دۀ لره ابن منده هم داسې ضبط کړې دې، خو د ابوداؤد په نسخو کښې ابورمثه دې، حضرت رحمه الله په بذل کښې د دې راوی په تحقيق کښې ډير څۀ تحرير کړې دی مونږ خو دلته څۀ چه حافظ په تقريب کښې ليکلې دی په هغې باندې اکتفاء کړې ده.

دا ډير اوږد حديث دې ددې مضمون دادې:

مضمون حديث:

ازرق بن قيس وائی يو ځل مونږ ته يو امام مونځ راکړو چه دهغه کنيت ابورمثه وو هغوی د مونځ کولو نه روستو يوه واقعه واورولة چه يو ځل ما يو مونځ د حضور ﷺ سره اوکړو او د حضرات شيخين ابوبکر و عمر رضی الله عنهما معمول په مانځه کښې په رومبی صف کښې ښی طرف ته د اودريدلو وو نو داسې اوشول چه يو سړی کوم چه د شروع نه په مانځه کښې شريك وو د حضور ﷺ د سلام ګرځولو نه پس او د حضور ﷺ د قبلې نه مخ اړولو او ناستې نه پس، کانفتال ابی رمثه، د دې مطلب دا دې چه ابو رمثه وائی چه لکه څنګه چه زۀ اوس ستاسو د وړاندې سلام ګرځولو نه پس اړخ مې بدل کړو او ناست يم دغه شان حضور ﷺ هم ناست وو، غرض دا چه هغه سړې کوم چه د شروع نه په مانځه کښې شريك وو

اودریدو او په کوم ځائې کښې ئې چه فرض مونځ کړې وو هم هلته ئې نفل مونځ شروع کړو نو حضرت عمر ﷺ اودریدلو او دغه سړې ئې د دوارو اوږو نه اونیولو او په زروه ئې اوخوزولو او وئې فرمائیل د اهل کتابو هلاکت او بربادی هم د دې وجه نه شوې وه چه د هغوی په مونځونو کښې به فصل نۀ وو فرض به ئې د نفلو سره یوځائې کول، د اهل کتابو په آسمانی کتابونو کښې تحریف کول او په احکامو کښې د خپل ځانه تغیر او کمې زیاتې کول خو مشهور دی، غالبا د حضرت عمر مراد دا دې چه کوم ځائې کښې فرض مونځ اوکړې شی نو سمدستی هغه ځائې کښې اودریدل او نفل مونځ کول دا هم یو قسم خلط او تغییر دې، بیا حضور ﷺ د حضرت عمر ﷺ د دې کار تصویب او تحسین اوفرمائیلو.

بَابُ السَّهْوِ فِي السَّجْدَتَيْنِ

باب دی په بیان د سهوه کې په دوه رکعاتونو کې

د سجدتینو نه مراد رکعتین دی یعنی که کوم سړې دوه رکعاتونه ادا کول هیر کړی او د څلورو پځائې په دوو رکعاتونو باندې سلام اوګرځوی نو د دې څۀ حکم دې.

د دې ځائې نه ابواب السهو شروع کیږی یعنی سجده سهوه او د هغې احکام،

د سهوې متعلق څو مسائل او بحثونه:

دلته رومبې څو مسائل واورئ:

۱: سجده سهوه د حنفیه په نیز واجب ده او د امام شافعی په نیز سنت ده،

۲: د سجدې سهوې دپاره د تکبیر افتتاح ضرورت شته او که نۀ د ائمه ثلاثه په نیز نشته دې د امام مالك په نیز شته دې په دې شرط چه سجده سهوه بعد السلام وی او که قبل السلام وی نو بیا د دې دپاره د تکبیر تحریمې حاجت نشته دې،

۳: د سجده سهوې نه روستو تشهد لوستل ضروری دی او که نۀ، ائمه ثلاثه وائی که سجده سهوه بعد السلام اوکړې شی نوبیا خوبه دویم ځلی تشهدلوستلې شی ګینی نۀ، او د حنفیه په نیز په هر صورت کښې به لوستلې شی، او د حسن بصری مذهب دا دې چه د سجده سهوې نه روستونۀ تشهد شته دې او نۀ سلام، د دې مسئلې دپاره مصنف وړاندې یومستقل باب تړلې دې چه دهغې الفاظ دادي، باب سجدتی السهو فیهما تشهد و تسلیم،

۴: سجده سهوه قبل السلام ده او که بعد السلام، د حنفیه په نیز مطلقا بعد السلام ده او عند الشافعی مطلقا قبل السلام ده، او د امام مالك په نیز دلته تفصیل دې که هغه سهوه چه دهغې وجه نه سجده کوی د نقصان د قبیلې نه ده نو بیا به خو سجده سهوه قبل السلام وی او که سهوه د زیاتی د قبیلې نه وه نو سجده سهوه به بعد السلام وی، د دوئ د مذهب یادولو طریقه دا ده چه، القاف للقاف و الدال للدال، امام احمد فرمائی چه هر حدیث لره به د هغې په موقع باندې استعمالولې شی، یعنی په کومه سهوه باندې چه حضور ﷺ سجده قبل السلام کړې ده مونږ به هم په هغې سهوه کښې سجده قبل السلام کؤو او په کومه سهوه کښې چه حضور ﷺ سجده بعد السلام کړې ده په هغې کښې به مونږ هم سجده سهوه بعد السلام کؤو او کوم صورت چه په کوم حدیث کښې نۀ دې راغلې په هغې کښې به قبل

السلام وی، د اسحاق بن راهویه مذهب هم د امام احمد پشان دې خو هغه دا فرمائی چه د کومې سهوې په حقله د حضور ﷺ نه څۀ نۀ دی ثابت په هغې کښې به د امام مالك قول اغستلې کيږی، يعنی که هغه سهوه د نقصان د وجه نه ده نو قبل السلام او که د زياتی د قبيلې نه ده نو بعد السلام، دغه شان امام مالك فرمائی چه کله نقصان او زياتې دواړه جمع شی نو نقصان لره به غلبه ورکولې کيږی او سجده سهوه به قبل السلام وی.

[۱۰۰۸] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِحْدَى صَلَاتَيِ الْعَشِيِّ الظُّهْرَ أَوِ الْعَصْرَ، قَالَ: فَصَلَّى بِنَا رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ سَلَّمَ، ثُمَّ قَامَ إِلَى خَشَبَةٍ فِي مُقَدَّمِ الْمَسْجِدِ، فَوَضَعَ يَدَيْهِ عَلَيْهَا إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَى يُعْرَفُ فِي وَجْهِهِ الْغَضَبُ، ثُمَّ خَرَجَ سَرَعَانُ النَّاسِ وَهُمْ يَقُولُونَ قُصِرَتِ الصَّلَاةُ قُصِرَتِ الصَّلَاةُ وَفِي النَّاسِ أَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ فَهَابَاهُ أَنْ يُكَلِّمَاهُ، فَقَامَ رَجُلٌ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَمِّيهِ: ذَا الْيَدَيْنِ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَنَسِيتَ أَمْ قُصِرَتِ الصَّلَاةُ؟ قَالَ: "لَمْ أَنْسَ، وَلَمْ تُقْصَرِ الصَّلَاةُ" قَالَ: بَلْ نَسِيتَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَأَقْبَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْقَوْمِ، فَقَالَ: "أَصَدَقَ ذُو الْيَدَيْنِ؟" فَأَوْمَئُوا، أَيْ نَعَمْ، "فَرَجَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى مَقَامِهِ فَصَلَّى الرَّكْعَتَيْنِ الْبَاقِيَتَيْنِ، ثُمَّ سَلَّمَ، ثُمَّ كَبَّرَ وَسَجَدَ مِثْلَ سُجُودِهِ أَوْ أَطْوَلَ، ثُمَّ رَفَعَ وَكَبَّرَ، ثُمَّ كَبَّرَ وَسَجَدَ مِثْلَ سُجُودِهِ أَوْ أَطْوَلَ، ثُمَّ رَفَعَ وَكَبَّرَ". قَالَ: فَقِيلَ لِمُحَمَّدٍ: سَلَّمَ فِي السَّهْوِ، فَقَالَ: لَمْ أَحْفَظْهُ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَلَكِنْ نُبِّئْتُ أَنَّ عِمْرَانَ بْنَ حُصَيْنٍ، قَالَ: ثُمَّ سَلَّمَ.

د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه ويلي دي: مونږ ته رسول الله ﷺ مونځ وکړو، يو د مونځونو د بيګاه نه ـ چې ماسپخين او مازيګر دی ـ هغه ويلي دي: مونځ يې وکړو مونږ ته دوه رکعاته، بيايې سلام وګرځولو بيا پاڅيدلو يو لرګي ته چې د مسجد مخکنۍ حصه کې وو، خپل لاسونه يې يو د بل د پاسه په هغې کېښودل، پيژندلی شوه د هغه په مخ کې غوسه، بيا ووتل جلتي کونکي د خلقو نه او هغوی ويل: لنډ شوی دی مونځ، لنډ شوی دی مونځ، او په خلقو کې ابوبکر او عمر هم وو، هغوی دواړه د هغه نه وويريدل چې خبرې ورسره وکړي، نو پاڅيدلو يو سړی رسول الله ﷺ به هغه ته ذو اليدين ويلو، هغه وويل: ای د الله رسوله! ايا تاته هېر شو او که نه مونځ کې قصر راغلی دی؟ هغه وفرمايل: ما نه هېر کړی نه دی او قصر هم نه دی راغلی. هغه وويل: بلکه تا هېر کړو ای د الله رسوله! رسول الله ﷺ قوم ته رامخامخ شو، ويې ويل: ايا ذو اليدين رشتيا وايي؟ هغوی اشاره وکړه چې آو، رسول الله ﷺ خپل ځای ته لاړو، دوه باقي رکعاتونه يې وکړل، بيايي سلام وګرځولو بيا يې تکبير وويله او سجده يې وکړه پشان د سجدې د هغې او اوږده د هغې نه، بيا اوچت شو او تکبيريې وويله، بيايي تکبير او سجده يې وکړه پشان د سجدې د هغې، او يا اوږده د هغې نه، بيا اوچت شو او تکبيريې وويله. هغه وايي: وويل شول محمد ته: په سهوه کې يې سلام وګرځولو؟ هغه وويل: ماته دا حفظ نه دی د ابوهريره نه، لکن ماته خبر راکړی شوی

١): صحيح مسلم/المساجد ١٩ (٥٧٣)، (تحفة الأشراف: ١٤٤١٥)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الصلاة ٨٨ (٤٨٢)، والأذان ٦٩ (٧١٤)، والسهو ٣ (١٢٢٧)، ٤ (١٢٢٨)، ٨٥ (١٣٦٧)، والأدب ٤٥ (٦٠٥١)، وأخبار الآحاد ١ (٧٢٥٠)، سنن الترمذي/الصلاة ١٨٠ (٣٩٩)، سنن النسائي/السهو ٢٢ (١٢٢٥)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٣٤ (١٢١٤)، مسند احمد (٢٣٧/٢، ٢٨٤) (صحيح)

دی عمران بن حصین نه، هغه ویلي دي: چې بیأیي سلام وګرځولو.
۱: حدثنا محمد بن عبید،،الخ، قوله، عن ابی هریرة قال صلی بنا رسول الله صلی الله علیه وسلم احدی صلاتي العشی الظهر و العصر،

مضمون حدیث

ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چه یوه ورځ حضور ﷺ مونږ خلقو ته د ماسپخین یا د مازیګر مونځ راکړو او هم په دوو رکعاتونو باندې ئې سلام اوګرځولو او بیا په جومات کښې وړاندې طرف ته یو لرګي خخ کړې شوې وو او خپل دواړه لاسونه ئې په هغې باندې کیخودل او د غصې آثار د حضور ﷺ په مخ مبارك باندې ښکاره وو، دوه رکعاته کولو نه پس چه کوم جلتئ کونکی وو (د ځوانانو ټولګې) هغوی سمدستی د جومات نه تلونکی وو او دا وینا کونکی وو، قصرت الصلوة قصرت الصلوة، یعنی په مانځه کښې تخفیف اوکړې شو د څلورو رکعاتونو په ځائې دوه رکعاته پاتې شول په مونځ کونکو کښې حضرات شیخین ابوبکر و عمر رضی الله عنهما هم وو حضور ﷺ ته خو دځۀ عرض کولو د دوئ همت اونۀ شو (ځکه چه مشهوره ده نزدیکان را بیش بود حیرانی، یعنی کوم خلق چه نزدې وی هغوی ته ویره هم زیاته وی او د عامو خلقو څۀ خاص پرواه نۀ وی) فقام رجل کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یسمیه ذالیدین..الخ، ذوالیدین حضور ﷺ ته عرض اوکړو یا رسول الله څۀ خبره ده په مانځه کښې تخفیف واقع شو یا تاسو هیر کړو، د دې سوال او جواب نه روستو دحضور ﷺ رومبی مونځ باندې بناء اوکړه او دوه رکعاته ئې نور اوکړل او سجده سهوه ئې هم اوفرمائیله،
په دې حدیث کښې یو څو خبرې دی، ۱: ابوهریره رضی الله عنه کوم چه د دې حدیث راوی دې هغوی کله خو په شك سره دا فرمائی چه دا واقعه د ظهر یا د عصر د مونځ ده او کله د عصر تعیین او کله د ظهر تعیین فرمائی.
شارحین د دې جواب دا ورکوی چه په اصل کښې خو دوئ ته په تعیین کښې شك وو نو ځکه خو کله په شك سره بیان کوی او څنی وختونو کښې په سوچ کولو سره د ماسپخین رائې غالب شی نو د ظهر تعیین به ئې فرمائیلو او کله چه به د عصر رائې لره غلبه اوشوه نو د عصر تعیین به ئې فرمائیلو، ۲: په دې حدیث کښې ابوهریره رضی الله عنه فرمائیلي دی چه مونږ خلقو ته حضور ﷺ مونځ راکړو، حنفیه وائی چه دا مراد نۀ دې چه خپله ابوهریره رضی الله عنه ته ئې ورکړې وو ابوهریره رضی الله عنه په دې واقعه کښې شریك نۀ وو، لهذا مراد دا دې چه زمونږ قوم او زمونږ د جماعت خلقو ته حضور ﷺ مونځ ورکړو، یا دا اوایئ چه زمونږ مسلمانانو رورو ته دحضور ﷺ مونځ ورکړو او د حنفیه په نیز د دې تاویل ضرورت دې دپاره دې چه په دې واقعه کښې د ذوالیدین نۀ موجود کیدل یقینی دی ځکه چه هغه په جنګ بدر کښې شهید شوې وو تر دې وخته پورې ابوهریره رضی الله عنه اسلام نۀ وو راوړې د دوئ اسلام راوړل په اووم کال د هجرت کښې دی لهذا دا حدیث د ابوهریره رضی الله عنه مرسل شو ابوهریره رضی الله عنه به دا د یو قدیم الاسلام صحابی نه اوریدلي وی او بیان کړې به ئې وی.
۳: د کلام فی الصلوة مسئله مختلف فیه ده کومه چه وړاندې تیره شوې ده حنفیه او حنابله

په نیز باندې کلام فی الصلوة مطلقا قلیل وی یا کثیر عمدا یا نسیانا ټول ناجائز او مفسد د صلوة دې او شافعیه فرمائی چه کلام قلیل که نسیانا وی نو د دې ګنجائش او جواز شته دې، او مالکیه فرمائی چه که کلام یسیر قصدا د مونځ د اصلاح په غرض سره وی نو جائز دی او که هم هسې نسیانا وی نو ناجائز دی، دا حضرات شافعیه او مالکیه دواړه ددې حدیث نه استدلال کوی لهذا دا حدیث دحنفیه او حنابله خلاف شو.

د ذوالیدین دحدیث توجیه عند الحنابله

خلاف خو د حنابله سره هم پکار دې خو هغوی کلام فی الصلوة یو خاص شکل استثناء کړې دې کوم چه امام ترمذی په خپل سنن کښې د حضرت امام احمد دطرف نه نقل کړې دې لهذا هغوی د اشکال نه بچ شول او هغه شکل دا دې چه که کوم سړې خواه هغه امام وی یا مقتدی په مونځ کښې کلام اوکړی او دا خیال اوکړی چه زما مونځ پوره شوې دې خواه په واقع کښې پوره شوې نۀ وی نو دا صورت جائز دې او دلته قصه کښې هم داسې شوې دی ځکه چه دا خو ظاهره ده چه حضور ﷺ هم دا سوچ کړې وو چه ما مونځ پوره ادا کړې دې ځکه چه حضور ﷺ فرمائی، لم انس و لم تقصر، خو ذوالیدین هم داګڼړله چه مونځ پوره شوې دې او هغوی هم په دې سوچ سره دا وینا کړې وه.

په اصل کښې هغوی دا ګڼړله چه ورځ ترورځه د وحی په نازلیدلو سره په احکامو کښې کمې زیاتې کیږی نو بظاهر په مانځه کښې قصر شوې دې او د څلورو په ځائې دوه پاتې شوې دی خو بیا هم هغوی احتیاطا د حضور ﷺ نه تپوس اوکړو چه حضور ﷺ ته څۀ هیره خو نۀ ده پیښه شوې،

اوس پاتې شو احناف شکر الله مساعیهم، د دوئ په نیز باندې کلام فی الصلوة هیڅ ی، صورت هم مستثنیٰ نۀ دې.

د احنافو توجیه او تقریر:

هغوی د دې جواب ورکړو چه دا واقعه د کلام فی الصلوة د نسخ نه د وړاندې ده د کلام فی الصلوة نسخ د دې واقعې نه روستو شوې ده لهذا په دې سره استدلال صحیح نۀ دې، جمهور وائی چه دا واقعه د نسخ نه د روستو ده ځکه چه دکلام فی الصلوة نسخ په مکه کښې شوې ده او دا واقعه د مدینې ده قرینه د دې د عبد الله بن مسعود ؓ هغه حدیث دې کوم چه په باب رد السلام فی الصلوة کښې تیر شوې دې، فلما رجعنا من عند النجاشی، ځکه چه دلته د رجوع نه مراد اوله رجوع یعنی واپس کیدل دی کوم چه د مکې په طرف باندې شوې وه او دا قصه د ذوالیدین د آخری هجرت ده ځکه چه د دې راوی حضرت ابوهریره ؓ دې چا چه په اووم کال د هجرت کښې اسلام راوړې وو، زمونږ د طرف نه اولا خو د دې جواب دا ورکړې شوې دې چه جناب والا! دا حدیث د چا موافق هم نۀ دې نه د شافعیه او نۀ د مالکیه، ځکه چه شافعیه د نسیانا کلام د جواز قائل دی او دا کلام نسیانا کوم ځائې دې دا خو عمدا وو کما هو ظاهر، او د مالکیه خلاف هم دې ځکه چه د ذوالیدین کلام اګر که د اصلاح د صلوة په ارادې سره وو خو د سرعان الناس یعنی جلتئ کونکو خلقو کلام خو په

دي غرض سره نۀ وو دا جواب خو الزامي وو او تحقيقي جواب زمونږ دا دې چه دا واقعه د ذواليدين د نسخ الكلام فى الصلوة نه د وړاندې ده، ځکه چه زمونږ تحقیق دا دې چه نسخ الكلام په مدينه کښې د هجرت په اوله کښې شوې دې نۀ په مکه کښې او په دې باندې قرينه د زيد بن ارقم هغه حديث دې کوم چه په باب النهى عن الكلام فى الصلوة کښې تير شوې دې په کوم کښې چه داسې دي، فنزل قوله تعالى قوموا لله قانتين فامرنا بالسكوت و نهينا عن الكلام، او زيد بن ارقم رضی الله عنه انصاري صحابي دې په خپله هم مدني دې او دا آيت هم په اتفاق سره مدني دې لهذا دا به منل وي چه نسخ الكلام فى الصلوة په مدينه کښې شوې دې او هغه قرينه چه کومه تاسو وړاندې کړې ده د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه د حديث د هغې په حقله زمونږ دا وايو چه هلته د رجوع نه مراد رجوع ثانى مراد ده کومه چه د مديني طرف ته شوې وه په دې صورت کښې به د زيد بن ارقم او د ابن مسعود رضی الله عنهما دواړو حديثونه متفق شي ګڼنې په دواړو کښې به تعارض وي، او د ابن مسعود رضی الله عنه رجوع ثاني الى المدينه د هجرت په اوله کښې وو د جنګ بدر نه وړاندې كما تقرر فى محله.

پس معلومه شوه چه نسخ الكلام هم د هجرت په اوله کښې شوې دې او دا قصه د ذواليدين هم د هجرت په اوله کښې او د بدر نه د وړاندې ده، وجه دا ده چه ذواليدين په جنګ بدر کښې شهيد شوې وو لهذا دا قصه هم د بدر نه د وړاندې ده ابوهريره رضی الله عنه په خپله په دې کښې شريك نۀ وو لهذا دا حديث د صحابى مرسل دې، نو چه کله صورت حال دا دې چه نسخ الكلام فى الصلوة او دغه شان قصه د ذواليدين د دواړو وقوع د بدر نه د وړاندې ده نو اوس يقين سره نۀ شي وئيلې کيدې چه په دې کښې کومه يوه وقوع وړاندې شوې ده او کومه په اخره کښې، فلا يصح الاستدلال به لاجل احتمال النسخ.

د جمهورو د طرف نه ترديد:

هغوی زمونږ د دې تقرير دا جواب ورکړې دې چه په جنګ بدر کښې شهيد کيدونکو کښې ذواليدين نۀ دې بلکه ذوالشمالين دې او دا قصه د صاحب ذواليدين ده، د امام زهری نه په دې کښې غلطي شوې ده چه هغوی د دې واقعې په روايت کښې د ذواليدين په ځائې ذوالشمالين وئيلې دې حال دا دې چه داسې نۀ ده بلکه صاحب قصه ذواليدين دې د چا چه په خلافت د معاويه کښې انتقال شوې دې، او ذوالشمالين يو بل صحابي دې کوم چه په جنګ بدر کښې شهيد شوې دې، لهذا دې حديث لره مرسل د صحابي ګڼړلو ضرورت نشته دې دا قصه د هجرت د آخر ده ابوهريره رضی الله عنه په خپله په دې کښې شريك وو.

ذواليدين او ذو الشمالين هم يو دی:

زمونږ علماؤ جواب ورکړو چه ذواليدين او ذوالشمالين دواړه هم يو دی او د دې دليل د نسائي شريف روايت دې په نسائی،ص، ۱۸۲، حديث کوم چه ابن شهاب د ابو سلمه نه روايت کوی او ابو سلمه د ابوهريره رضی الله عنه نه په کوم کښې چه دا دې چه حضور صلی الله علیه وسلم ته يو ځل سهوه پيښه شوه، فقال له ذوالشمالين اقصرت الصلوة ام نسيت يا رسول الله فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم اصدق ذواليدين، او هم دغه شان دې لره عمران بن ابی انس هم د ابوسلمه نه

روایت کوی، او گوری په دې روایت کښې هم په یو سړی باندې د ذوالیدین او ذوالشمالین اطلاق کیږی.

علامه سندهی د نسائی په حاشیه کښې لیکی چه ابن عبدالبر فرمائیلې دی چه په دې قصه کښې ذوالشمالین وئیلو کښې زهری متفرد دې چا هم د دۀ متابعت نۀ دې کړې حال دا دې چه عمران بن ابی انس د نسائی په روایت کښې د زهری متابعت کوی، لهذا د تفرد دعوٰی باطله ده، حضرت سهارنپوری رحمه الله په بذل کښې د نسائی نه علاوه هم د څنی حدیثو کتابونو حواله ورکړې ده چه په هغې کښې هم داسې دی مثلاً مسند بزار او د طبرانی معجم کبیر نه معلومیږی چه دا دواړه یو دی هم دا رائې د ابن حبان او ابن سعد ده او هم دې لره ترجیح ورکړې ده ابن الاثیر الجزری په جامع الاصول کښې او مبرد په الکامل کښې او یو جماعت دا وائی چه دا دواړه جدا جدا دی هم د دوئ نه سهیلی دې، او بیهقی ابن الاثیر الجزری صاحب اسد الغابه [1] او ابن منده دا ټول حضرات وائی چه د زهری نه په دې کښې غلطی واقع شوې ده. دغه شان هغوی وئیلې دی چه دا دواړه یو څنگه کیدې شی حال دا چه د دواړو نوم او قبیله مختلف دی ذوالشمالین عمیر بن عمروالخزاعی دې او ذوالیدین خرباق بن عمرالسلمی دې، زمونږ د طرف نه جواب ورکړې شوې دې چه کیدې شی خرباق ئې لقب وی او عمیر ئې نوم، او د دې تائید د دېنه کیږی چه ولدیت د دواړو یو دې یعنی عمرو، پاتې شوه دا خبره چه یو خزاعی دې او بل سلمی، نو د دې جواب دا دې چه سلمی نسبت دې د سُلیم طرف ته کوم چه ددې قبیلې جداعلی دې او سُلیم په اصل کښې دوه دی سُلیم بن ملکان او سلیم بن منصور، سلیم بن منصور بېشکه غیر خزاعی دې خو سلیم بن ملکان په خپله د قبیله خزاعه نه دې لهذا دواړه یو کیدې شی.

حافظ وائی چه د بعضې ائمه رائې دا ده چه دا احتمال هم کیدې شی چه دا قصه د دواړو سره پیښه شوې وی ذوالیدین او ذوالشمالین په کومو کښې چه یو د ابوهریره رضی الله عنه سره شریك وی او دویم لره هغوی مرسلاً روایت کړې وی، دغه شان دا هم وئیلې شوې دی چه ذوالیدین او ذوالشمالین د هر دواړو لفظونو اطلاق په دواړو سړو باندې کیږی د دې وجه نه اشتباه واقع شوه، تر دې پورې د باب په ړومبی حدیث باندې تفصیلی کلام اوشو.

[۱۰۰۹] ([2]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ مُحَمَّدٍ بِإِسْنَادِهِ، وَحَدِيثُ حَمَّادٍ أَتَمُّ، قَالَ: "صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، لَمْ يَقُلْ: بِنَا، وَلَمْ يَقُلْ: فَأَوْمَئُوا، قَالَ: فَقَالَ النَّاسُ: نَعَمْ، قَالَ: ثُمَّ رَفَعَ وَلَمْ يَقُلْ: وَكَبَّرَ، ثُمَّ كَبَّرَ وَسَجَدَ مِثْلَ سُجُودِهِ أَوْ أَطْوَلَ، ثُمَّ رَفَعَ وَتَمَّ حَدِيثُهُ"، لَمْ يَذْكُرْ مَا بَعْدَهُ، وَلَمْ يَذْكُرْ فَأَوْمَئُوا إِلَّا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكُلُّ مَنْ رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ لَمْ يَقُلْ: فَكَبَّرَ وَلَا ذَكَرَ رَجَعَ.

---

[1]) ابن الاثیر الجزری صاحب جامع الاصول یو دی او دا ابن الاثیر الجزری صاحب دأسد الغابه بل دې دا دواړه ورونړه دی دلته د یو دریم سړی دې ابن الجزری، صاحب دحصن حصین محمد بن محمد بن محمد الجزری.)ـ

[2]): صحيح البخاري/الأذان ٦٩ (٧١٤)، السهو ٤(١٢٢٨)، أخبار الآحاد ١(٧٢٥٠)، سنن الترمذي/الصلاة ١٧٦ (٣٩٩)، سنن النسائي/السهو ٢٢ (١٢٢٥)، (تحفة الأشراف: ١٤٤٤٩)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الصلاة ١٥ (٦٠)، مسند احمد (٢/٢٣٥، ٤٢٣) (صحيح)

د محمد نه روایت دی په اسناد د هغي سره، او حدیث د حماد اتم دی، هغه ویلي دي: مونځ وکړو رسول الله ﷺ هغه پکې (بنا) نه دی ویلي، او نه یي دي ویلی (فأومئوا) هغه وایي: وویل خلقو آو، هغه وایي: بیا اوچت شو، او هغه نه دي ویلي: (و کبر، ثم کبر و سجد مثل سجوده، او اطول، ثم رفع) او پوره شو حدیث د هغه. هغه ذکر نه کړو هغه وروسته د دینه، او هغه ذکر نه کړو (فأومئوا) مگر حماد بن زید. ویلي دي ابوداود: او هر چا چي دا حدیث روایت کړی دی نه یي دي ویلي (فکبر) او نه یي ذکر کړی دی (رجع).

[۱۰۱۰] ([1]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا بِشْرٌ يَعْنِي ابْنَ الْمُفَضَّلِ، حَدَّثَنَا سَلَمَةُ يَعْنِي ابْنَ عَلْقَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنَى حَمَّادٍ كُلِّهِ إِلَى آخِرِ قَوْلِهِ: نُبِّئْتُ أَنَّ عِمْرَانَ بْنَ حُصَيْنٍ، قَالَ: ثُمَّ سَلَّمَ، قَالَ: قُلْتُ: فَالتَّشَهُّدُ، قَالَ: لَمْ أَسْمَعْ فِي التَّشَهُّدِ، وَأَحَبُّ إِلَيَّ أَنْ يَتَشَهَّدَ"، وَلَمْ يَذْكُرْ: كَانَ يُسَمِّيهِ ذَا الْيَدَيْنِ، وَلَا ذَكَرَ: فَأَوْمَئُوا، وَلَا ذَكَرَ: الْغَضَبَ، وَحَدِيثُ حَمَّادٍ، عَنْ أَيُّوبَ، أَتَمُّ.

د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی هغه ویلي دي: مونږ ته رسول الله ﷺ مونځ وکړو. په ټولي معنی د حماد سره تر اخیري قول د هغه پورې، چي (نبیت ان عمران بن حصین قال ثم سلم، هغه وایي: ما وویل تشهد؟ هغه وویل ما نه دي اوریدلي په باره د تشهد کي، او ماته دا خوښه ده چي تشهد ووایي، اوهغه نه دی ذکر کړی (کان یسمیه ذا الیدین) او هغه نه دی ذکر کړی (فأومئوا) او نه یي دی ذکر (الغضب) او حدیث د حماد د ایوب نه اتم دی.

۲: حدثنا عبد الله بن مسلم ..الخ، قوله، و حدیث حماد اتم، په ړومبی حدیث کښي د ایوب نه روایت کونکي حماد وو او دلته مالك دي، مصنف وائی چه د حماد حدیث د مالك د حدیث نه اتم یعني پوره دي، قال صلی رسول الله صلی الله علیه وسلم لم یقل بنا، یعنی حماد په خپل روایت کښي د ابوهریره رضی الله عنه قول، صلی بنا رسول الله، نقل کړي دي او مالك صرف صلی رسول الله ﷺ وئیلي دی، بنا، ئي نهٔ دي وئیلي

په حدیث باندي د مرسل ابوهریره کیدو کلام:

دا خبره وړاندې تیره شوي ده زمونږ د طرف نه چه په دي واقعه کښي ابوهریره رضی الله عنه شریك نهٔ وو نو که هغوی صرف صلی رسول الله ﷺ وئیلي وی نو بیا خو هیڅ اشکال نشته دي او که صلی بنا ئي وئیلي وی نو په دي کښي تاویل تیر شوي دي چه دبنا نه مراد د مسلمانانو جماعت دي په خپله متکلم په دي کښي داخل نهٔ دي، امام طحاوی رحمه الله د دي ډیر مثالونه پیش کړي دی، نزال بن سبره وائی، قال لنا رسول الله صلی الله علیه وسلم، حال دا دي چه نزال تابعي دي هغوی حضور ﷺ نهٔ وو لیدلي، او طاؤس په یو موقع باندي وئیلي دی، قدم علینا معاذ بن جبل، حال دا دي چه طاؤس هلته موجود نهٔ وو هم داسي حسن بصری فرمائی، خطبنا عتبة بن عزوان، حال دا دي چه حسن د دي خطبي په وخت کښي موجود نهٔ وو خو په یو روایت کښي دی ابوهریره رضی الله عنه فرمائی، بینا انا اصلی، د دي جواب دا دي چه کیدي شی دا روایت بالمعنی وی.

---

[1]: صحيح البخاري/السهو ٤ (١٢٢٨)، (تحفة الأشراف: ١٤٤٦٨٩) (صحيح)

[۱۰۱۱]([۱])حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ نَصْرِ بْنِ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، وَهِشَامٍ، وَيَحْيَى بْنِ عَتِيقٍ، وَابْنِ عَوْنٍ، عَنْ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قِصَّةِ ذِي الْيَدَيْنِ، "أَنَّهُ كَبَّرَ وَسَجَدَ"، وَقَالَ هِشَامٌ يَعْنِي ابْنَ حَسَّانَ كَبَّرَ، ثُمَّ كَبَّرَ وَسَجَدَ". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ أَيْضًا حَبِيبُ بْنُ الشَّهِيدِ، وَحُمَيْدٌ، وَيُونُسُ، وَعَاصِمٌ الْأَحْوَلُ، عَنْ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، لَمْ يَذْكُرْ أَحَدٌ مِنْهُمْ مَا ذَكَرَ حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ هِشَامٍ، "أَنَّهُ كَبَّرَ، ثُمَّ كَبَّرَ وَسَجَدَ". وَرَوَى حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، وَأَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ هِشَامٍ، لَمْ يَذْكُرَا عَنْهُ هَذَا الَّذِي ذَكَرَهُ حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ "أَنَّهُ كَبَّرَ، ثُمَّ كَبَّرَ".

ابو هريره ﷺ د نبي ﷺ نه روايت کوي په قصي د ذو اليدين کې چې هغه تکبير ووېلو او سجده يې وکړه، او ويلي دي هشام يعني ابن حسان: تکبيريې ووېلو بيايې تکبير ووېلو او سجده يې وکړه. ويلي دي ابوداود: دا حديث هم حبيب بن الشهيد او حميد او يونس او عاصم الاحول د محمد نه او هغه د ابو هريره نه روايت کړی دی، يو کس هم هغه شی نه دی ذکر کړی کوم چې حماد بن زيد د هشام نه ذکر کړي دي، چې هغه تکبير ووېله بيايې تکبير ووېله او سجده يې وکړه. او روايت کړی دی حماد بن سلمة او ابوبکر بن عياش د دې حديث د هشام نه، دواړو نه دی ذکر کړی د هغه نه دا کوم چې حماد بن زيد ذکر کړی دی. چې هغه تکبير وکړو بيايې تکبير وکړو.

د سجدې سهوې دپاره تکبير تحريمه:

قوله: و قال هشام يعنى ابن حسان كبّر ثم كبر وسجد، دلته دوه ځلې تکبير ذکر دې، د باب په شروع کښې د سجدې سهوې د طريقې په بيان کښې تير شوې دې چه د امام مالك په نيز که سجده سهوه بعد السلام وی نو په دې صورت کښې تکبير تحريمه به وئيلې شی، يو ځل به الله اکبر د تحريمې په نيت سره اووائي او دويم ځل به سجدې ته د تلو دپاره، د دې روايت نه د مالکيه تائيد کيږي، وړاندې مصنف فرمائي چه د حماد بن زيد نه علاوه چا هم دوه ځلې لفظ د کبّر نهٔ دې نقل کړې لهذا دا زيادت شاذ دې.

[۱۰۱۲]([۲])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، عَنِ الْأَوْزَاعِيِّ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ وَأَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ بِهَذِهِ الْقِصَّةِ، قَالَ: "وَلَمْ يَسْجُدْ سَجْدَتَيِ السَّهْوِ حَتَّى يَقَّنَهُ اللَّهُ ذَلِكَ".

سعيد بن المسيب او عبيد الله بن عبد الله د ابو هريره ﷺ نه روايت کوي د دې قصې، هغه وايي: او هغه دوه سجدې د سهوې ونه کړې تردې چې الله ورته يقين واچولو د دې.

۴: حدثنا محمد بن يحيٰى بن فارس..الخ، قوله، و لم يسجُد سجدتى السهو حتى يقّنه الله ذالك، يعنى په دې واقعه کښې حضور ﷺ سجده سهوه هغه وخت اوکړه کله چه الله تعالى د دوئ په زړهٔ کښې د دې خبرې يقين واچولو چه آو واقعى ما نه سهوه شوې ده اوه څلورو رکعاتو په ځائې مې په دوو رکعاتو سلام ګرځولې دې، په ظاهر کښې دا د هغه اشکال جواب دې چه کله حضور ﷺ ته د دې خبرې يقين اوشو چه ما نه هيڅ سهوه نهٔ ده شوې لکه څنګه چه حضور ﷺ فرمائيلې وو، لم انس و لم تقصر، نو بيا حضور ﷺ د خلقو په وينا باندې د خپل

---

[۱]: انظر حديث رقم: (۱۰۰۸)، (تحفة الأشراف: ۱۴۴۱۵، ۱۴۴۶۹) (شاذ)

[۲]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۳۱۹۲، ۱۵۲۰۵، ۱۴۱۱۵) (ضعيف)

يقين خلاف عمل ځنګه اوکړو نو راوی د دې جواب ورکړو چه حضور ﷺ صرف د خلقو په وينا باندې داسې نۀ وو کړی بلکه د الله تعالى د يقين پيدا کولو نه پس ئې کړې وو، او مسئله هم دا ده لکه چه په درمختار کښې ليکلې دی چه که د امام او مقتديانو په مينځ کښې د سهوې په حقله اختلاف رائې اوشی نو که امام لره په خپلې خبرې باندې يقين وی نو د مونځ اعاده يا سجده سهوه دې نۀ کوی او که امام لره يقين نۀ وی نو بيا به د قوم خبرې لره اختيار وی، هسې خو دا مسئله ډير تفصيل غواړی علامه شامی د دې تفصيل ليکلې دې کوم چه په بذل المجهود کښې موجود دې

تنبيه: په بعضې رواياتو کښې د، حتى يقنه الله، په ځائې باندې، حتى لقاه الناس، راغلې دې، د دې مطلب به هم دا اغستل غواړی چه د خلقو تلقين او د الله تعالى يقين ورکولو نه روستو حضور ﷺ سجده سهوه اوکړه، او په بعضې رواياتو کښې د سجده سهوې مطلقا نفى ده لکه چه وړاندې راځی، و لم يسجد سجدتى السهو، هم دغه شان شراحو ليکلې دی چه د زهری روايت په دې سلسله کښې مضطرب دې.[1]

[۱۰۱۳] ([2])حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ أَبِي يَعْقُوبَ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ يَعْنِي ابْنَ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ صَالِحٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، أَنَّ أَبَا بَكْرِ بْنَ سُلَيْمَانَ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ أَخْبَرَهُ، أَنَّهُ بَلَغَهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِهَذَا الْخَبَرِ، قَالَ: "وَلَمْ يَسْجُدِ السَّجْدَتَيْنِ اللَّتَيْنِ تُسْجَدَانِ إِذَا شَكَّ حَتَّى لَقَّاهُ النَّاسُ". قَالَ ابْنُ شِهَابٍ: وَأَخْبَرَنِي بِهَذَا الْخَبَرِ سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: وَأَخْبَرَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، وَأَبُو بَكْرِ بْنُ الْحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ، وَعُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ، وَعِمْرَانُ بْنُ أَبِي أَنَسٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، وَالْعَلَاءُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ جَمِيعًا، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، بِهَذِهِ الْقِصَّةِ، وَلَمْ يَذْكُرْ "أَنَّهُ سَجَدَ السَّجْدَتَيْنِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ الزُّبَيْدِيُّ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ سُلَيْمَانَ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ فِيهِ: "وَلَمْ يَسْجُدْ سَجْدَتَيِ السَّهْوِ".

ابن شهاب نه روايت دی چې ابو بکر بن سليمان بن ابي حصمة خبر ورکړی دی هغه ته، چې هغه ته رسيدلی دی چې بېشکه رسول الله ﷺ، دا خبر. هغه وايي: هغه هغه دوه سجدې ونه کړې چې د هغه د شک لپاره کېږي تردې چې خلقو ورته د هغې علم ورکړو. ويلي دي ابن شهاب: او ماته خبر راکړی دی د دې خبر سعيد بن المسيب د ابوه ريره نه، هغه وايي: ماته خبر راکړی دی ابو سلمة بن عبد الرحمن او ابو بکر بن الحارث بن هشام، او عبيد الله بن عبد الله. ويلي دي ابوداود: د دې روايت کړی دی يحيى بن ابي کثير او عمران بن ابي انس د ابو سلمة بن عبد الرحمن نه او د علاء بن عبد الرحمن نه او هغه د پلار نه، او ټولو د ابو هريره نه د دې قصې، او هغه نه دی ذکر کړی چې هغه دوه سجدې وکړې. ويلي دي ابوداود: او د دې روايت کړی دی زبيدي د زهيري نه او هغه د ابي بکر بن سليمان بن ابي حثمة نه او هغه د نبي ﷺ نه، هغه ويلي دي په هغې کې: او ويې نه کړې دوه سجدې د سهوې.

[1] غوره دا ده چه داسې اووئيلې شی چه مطلق نفى کوم ځائې ده هلته هم مقيد مراد دې يعنى، حتى يقنه الله تعالى،۱۲)_

[2]: سنن النسائي/السهو ۲۲ (۱۲۳۲)، (تحفة الأشراف: ۱۳۱۸۰، ۱۵۱۹۲) (صحيح)

[۱۰۱٤]()حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، سَمِعَ أَبَا سَلَمَةَ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "صَلَّى الظُّهْرَ فَسَلَّمَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ، فَقِيلَ لَهُ: نَقَصْتَ الصَّلَاةَ، فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ".

د ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دی ببشکه نبي ﷺ د ماسپخين مونځ وکړو سلام يې په دوه رکعاتو وګرځولو، هغه ته وويل شول تا مونځ کم کړو؟ هغه دوه رکعاته وکړل، بيايي دوه سجدي وکړي.

[۱۰۱٥]()حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ أَسَدٍ، أَخْبَرَنَا شَبَابَةُ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْصَرَفَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ مِنْ صَلَاةِ الْمَكْتُوبَةِ، فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ: أَقُصِرَتِ الصَّلَاةُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَمْ نَسِيتَ؟ قَالَ: "كُلَّ ذَلِكَ لَمْ أَفْعَلْ"، فَقَالَ النَّاسُ: قَدْ فَعَلْتَ ذَلِكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، "فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ أُخْرَيَيْنِ، ثُمَّ انْصَرَفَ وَلَمْ يَسْجُدْ سَجْدَتَيِ السَّهْوِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ دَاوُدُ بْنُ الْحُصَيْنِ، عَنْ أَبِي سُفْيَانَ مَوْلَى ابْنِ أَبِي أَحْمَدَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِهَذِهِ الْقِصَّةِ، قَالَ: "ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ وَهُوَ جَالِسٌ بَعْدَ التَّسْلِيمِ".

د ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دی، ببشکه نبي ﷺ فارغ شو د دوه رکعاتو د فرضو نه، هغه ته يو سړي وويل: مونځ کم شوی دی ای د الله رسوله! که د تا نه هېر شو؟ هغه وفرمايل: دا ټول مي نه دي کړي. خلقو وويل: ببشکه تا دا کړي دي ای د الله رسوله! نو هغه دوه رکعاته نور وکړل، بيا فارغ شو او د سهودي دوه سجدي يې ونه کړي. ويلي دي ابوداود: روايت کړی دی داود بن الحصين د ابو سفيان نه چي مولی د ابن ابي احمد دی. هغه روايت کوي د ابو هريره نه او هغه روايت کوي د نبي ﷺ نه د دې قصي، هغه وويل: بيايي دوه سجدي وکړي د سلام نه وروسته او هغه ناست وو.

تشريح: قوله: ثم سجد سجدتين و هو جالس بعد التسليم:

د دې روايت نه او د دې نه روستو رانلونکو دوو روايتونو نه دا معلوميږي چه په دې موقعه باندې حضور ﷺ سجده سهوه بعد السلام کړې وه لکه څنګه چه د حنفيانو مسلك دې او دا حديث د مالکيه خلاف دې څکه چه د هغوی په نيز د نقصان په صورت کښې سجده سهوه قبل السلام ده او دا هم د نقصان صورت وو خو د دې باوجود حضور ﷺ سجدې بعد السلام اوکړې

[۱۰۱٦]()حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا هَاشِمُ بْنُ الْقَاسِمِ، حَدَّثَنَا عِكْرِمَةُ بْنُ عَمَّارٍ، عَنْ ضَمْضَمِ بْنِ جَوْسٍ الْهِفَّانِيِّ، حَدَّثَنِي أَبُو هُرَيْرَةَ، بِهَذَا الْخَبَرِ، قَالَ: "ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيِ السَّهْوِ بَعْدَ مَا سَلَّمَ".

ضمضم بن جوس الهفاني وايي ماته حديث بيان کړی دی ابو هريره د دې خبر، هغه ويلي دي: بيايي دوه سجدي د سهوي وکړي پس د سلام نه.

[1]): صحيح البخاري/الأذان ٦٩ (٧١٥)، السهو ٣ (١٢٢٧)، سنن النسائي/ السهو (٢٢ (١٢٢٨) (تحفة الأشراف: ١٤٩٥٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٣٨٦، ٤٦٨) (صحيح)

[3]): سنن النسائي/السهو ٢٢ (١٢٢٥)، (تحفة الأشراف: ١٣٥١٤)، وقد أخرجه مسند احمد (٢/٤٢٣) (حسن صحيح)

[۱۰۱۷]( )حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ ثَابِتٍ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ. ح وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، أَخْبَرَنَا أَبُو أُسَامَةَ، أَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ، فَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ ابْنِ سِيرِينَ"، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "ثُمَّ سَلَّمَ، ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيِ السَّهْوِ".

د ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی هغه ويلي دي: مونږ ته رسول الله ﷺ مونځ وکړو سلام يي په دوه رکعاتو وګرځولو، ذکر يي کړو پشان د حديث د ابن سيرين د ابو هريره نه، هغه وويل: بيايي سلام وګرځولو بيايي وکړي دوه سجدي د سهوي.

[۱۰۱۸]( )حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ. ح وحَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا مَسْلَمَةُ بْنُ مُحَمَّدٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا خَالِدٌ الْحَذَّاءُ، حَدَّثَنَا أَبُو قِلَابَةَ، عَنْ أَبِي الْمُهَلَّبِ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، قَالَ: سَلَّمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ثَلَاثِ رَكَعَاتٍ مِنَ الْعَصْرِ، ثُمَّ دَخَلَ، قَالَ: عَنْ مَسْلَمَةَ الْحُجَرَ، فَقَامَ إِلَيْهِ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ: الْخِرْبَاقُ، كَانَ طَوِيلَ الْيَدَيْنِ، فَقَالَ لَهُ: أَقُصِرَتِ الصَّلَاةُ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ فَخَرَجَ مُغْضَبًا يَجُرُّ رِدَاءَهُ، فَقَالَ: "أَصَدَقَ؟" قَالُوا: نَعَمْ، فَصَلَّى تِلْكَ الرَّكْعَةَ، ثُمَّ سَلَّمَ، ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيْهَا، ثُمَّ سَلَّمَ.

د عمران بن حصين نه روايت دی هغه ويلي دي: سلام وګرځولو رسول الله ﷺ په درې رکعاتونو د مازيګر کې، بيا داخل شو. ويلي دي مسلمة. په کوټو ته، نو هغه ته يو سړی پاڅيدلو چې هغه ته خرباق ويلي کېږي، هغه د اوږدو لاسونو والا وو، هغه ورته ووېل: ای کم شوی دی مونځ ای د الله رسوله! نو په غوسه ووتلو او خپل څادريي راښکلو، هغه وويل: ايا رشتيايي وويل؟ هغوی وويل: آو، نو دغه رکعات يي وکړو، بيايي سلام وګرځولو، بيايي دوه سجدي د هغې وکړي بيايي سلام وګرځولو.

۶: حدثنا مسدد، الخ، قوله، عن عمران بن حصين،

د عمران رضي الله عنه حديث په قصه د سهوه کښې:

تراوسه پورې د ابوهريره رضي الله عنه د رواياتو سلسله روانه وه اوس دا حديث د عمران بن حصين راغلي دې دا د تير شوی روايت خلاف دې په دې کښې دا دی چه حضور ﷺ يو ځل د مازيګر په مانځه کښې په دريو رکعاتونو باندې سلام اوګرځولو، اوس که دې لره مستقل واقعه اوګرځولې شي نو بيا خو هيڅ اشکال نشته، او که دا هم هغه د ذواليدين واله واقعه ده د کوم راوی چه ابوهريره رضي الله عنه وو نو بيا به تعارض راشي، په دې کښې د محدثينو اختلاف دې امام ابن خزيمه او د هغوی د متبعينو رائې د واقعې د تعدد ده چه دا دوه جدا جدا واقعې دی، شوکانی هم دې لره ظاهر ګرځولې ده او د حافظ ابن حجر رائې د عدم تعدد ده چه دا دواړه حديثونه د يوې واقعې سره متعلق دی.

زهٔ وايم چه هم داسې وړاندې يو دريم حديث راروان دې د معاويه بن حديج په هغې کښې هم دا دی چه د حضور ﷺ يو رکعت باقی وو نو حضور ﷺ سلام اوګرځولو.

[1]: سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۳٤ (۱۲۱۳)، (تحفة الأشراف: ۷۸۳۸) (صحيح)

[2]: صحيح مسلم/المساجد ۱۹ (۵۷٤)، سنن النسائي/السهو ۲۳ (۱۲۳۷، ۱۲۳۸)، ۷۵ (۱۳۳۲)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۳٤ (۱۲۱۵)، (تحفة الأشراف: ۱۰۸۸۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٤۲۷، ٤۲۹، ٤۳۵، ٤۳۷، ٤٤۰، ٤٤۱) (صحيح)

حدیث د ابوهریره او حدیث د عمران او حدیث د معاویه:

د ابن رسلان د ابوداؤد د شارح رائې دا ده چه دا دریواړه حدیثونه جدا جدا او مختلفې قصې دی د ابوهریره ﷺ دحدیث قصه جدا ده په دې کښې د حضور ﷺ دوه رکعاته پاتې شوې وو، اوپه حدیث د عمران او معاویه بن حدیج په دې دواړو کښې د حضور ﷺ نه یو رکعت هیر شوې وو خو د عمران بن حصین ﷺ حدیث د مازیګر مونځ سره متعلق دې اود معاویه بن حدیج حدیث کښې د ماښام د مونځ قصه ده. (کذا فی حاشیة البذل)

قوله: ثم دخل قال عن مسلمة الحجر: حجر د حجرة جمع ده مصنف فرمائی د الحجر لفظ دمسلمة بن محمد په روایت کښې دې او د مصنف د دویم أستاذ یعنی مسدد په روایت کښې نشته دې، د حدیث مضمون دا دې چه یو ځل حضور ﷺ د مازیګر په مانځه کښې په دریو رکعاتونو باندې سلام اوګرځولو او د سلام ګرځولو نه پس د ازواج مطهراتو په حجرو کښې د چا په حجره کښې د خپل ځائې نه پاسیدو او تشریف ئې یوړلو ځکه چه حضور ﷺ خو دا ګنړل چه ما مونځ پوره ورکړې دې.

فائده: په تحفة الاحوذی د ترمذی په شرح کښې د علامه عینی نه نقل کړې دی چه حضور ﷺ نه په مانځه کښې پنځه قسمه سهوه واقع شوې ده، ترك القعدة الاولی، التسلیم فی الرکعتین فی الرباعیة، التسلیم علی ثلاث رکعات (لو سلّم تعدد القصتین) زیادة رکعة فصلی خمس رکعات، السجود علی الشك کما فی حدیث ابی سعید.

بَابٌ إِذَا صَلَّى خَمْسًا

باب دی، کله چې مونځ وکړي پنځه رکعاته

[۱۰۱۹](1) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، وَمُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الْمَعْنَى، قَالَ حَفْصٌ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الظُّهْرَ خَمْسًا، فَقِيلَ لَهُ: أَزِيدَ فِي الصَّلَاةِ، قَالَ: "وَمَا ذَاكَ؟" قَالَ: صَلَّيْتَ خَمْسًا، فَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ بَعْدَ مَا سَلَّمَ.

د عبد الله نه روایت دی هغه ویلي دي: مونځ وکړو رسول الله ﷺ د ماسپخین پنځه رکعاته، هغه ته وول شول: ایا زیادت شوی دی په مانځه کي؟ هغه وویل: دا څه شی دی؟ هغه وویل: تا مونځ وکړو پنځه رکعاته، نو هغه دوه سجدي وکړي وروسته د سلام نه.

تشریح: قوله: صلی رسول الله صلی الله علیه وسلم الظهر خمسا، یو ځل حضور ﷺ د ماسپخین مونځ د څلورو په ځائې پنځه رکعاته اوکړل او سلام ئې اوګرځولو خلقو لقمه بظاهر د دې وجه ورنۀ کړه چه کیدې شی په حکم کښې بدلون شوې وی او د څلورو په ځائې پنځه شوې وی، غرض دا چه حضور ﷺ ته عرض اوکړې شو، نو حضور ﷺ د دې په تلافی یعنی نقصان کښې سجده سهوه اوکړه، باقی روایت کښې دا مذکور نۀ دی چه په څلورم رکعت باندې حضور ﷺ قعده کړې وه او که نۀ.

(1): صحیح البخاري/الصلاة ۳۱ (۴۰۱)، ۳۲ (۴۰۴)، والسهو ۲ (۱۲۲۶)، والأیمان ۱۵ (۶۶۷۱)، وأخبار الآحاد ۱ (۷۲۴۹)، صحیح مسلم/المساجد ۱۹ (۵۷۴)، سنن الترمذي/الصلاة ۱۷۷ (۳۹۲)، سنن النسائي/السهو ۲۶ (۱۲۵۵، ۱۲۵۶)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۲۹ (۱۲۰۳)، ۱۳۰ (۱۲۰۵)، ۱۳۳ (۱۲۱۱)، (تحفة الأشراف: ۹۴۱۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۷۶/۱، ۳۷۹، ۴۲۹، ۴۴۳، ۴۳۸، ۴۵۵، ۴۶۵) سنن الدارمي/الصلاة ۱۷۵ (۱۵۳۹) (صحیح)

مذاهب ائمه:

جمهور علماء خو دا فرمائی چه په دواړو صورتونو کښې مونځ صحیح شی سجده سهوه کول پوره دی او احناف دا وائی چه په څلورم رکعت باندې د کیناستو په صورت کښې به مونځ صحیح شی سجده سهوه کول به کافی وی، او که بغیر د قعدې نه سرې اودریږی نو که سجدې ته د تلو نه وړاندې وړاندې ورته رایاد شی او قعدې طرف ته راوګرځی نو مونځ به صحیح شی او که سجدې ته لاړو نو د حنفیه په نیز د هغه مونځ به باطل شی، شیخین خو دا فرمائی چه د دۀ فرض به باطل شی او د دۀ دا مونځ به نفل شی لهذا یو رکعت دې ورسره بل شامل کړی، او د امام محمد په نیز مطلقا به باطل شی.

ایا دا حدیث د جمهورو دلیل دې؟

جمهور علماء د دې حدیث نه استدلال کوی، حنفیه دا وائی چه، خلط بین الفرض والنفل مفسد صلوة دې که کوم سړې فرض مونځ د دې د پوره کولو نه وړاندې د نفلو سره خلط کړی نو مونځ به باطل شی، دآخری قعده نۀ کولو د وجه نه په پنځم رکعت کښې داخلیدو سره چه دهغې تحقق په سجدې سره کیږی خلط بین الفرض والنفل قبل تکمیل الفرض لازمیږی نو ځکه به مونځ باطل شی، په خلاف د آخری قعده کولو سره چه هلته اګر که خلط لازمیږی خو بعد تکمیل الفرض، لهذا مونځ به صحیح شی، دا خبره خو د حنفیه اصولی ده خو جمهور دا وائی چه ستاسو دا تفصیل د حدیث خلاف دې حدیث خو مطلق دې، حنفیه وائی چه په حدیث کښې څۀ مذکور دی دا واقعه جزئیه ده اوس ظاهره ده چه د مطلق تحقق به د دې په دوو فردو کښې د یو فرد په ضمن کښې وی لهذا دلته په دې واقعه کښې اوس دوه احتماله دی آخری قعده کول او نۀ کول، خو یقینی وقوع به په دې کښې د یو وی نو ځکه مونږ صرف یو صورت اختیار کړو او دا صورت هغه دې د کوم قرینه چه مونږ سره موجود ده او هغه قرینه دا ده چه راوی وائی، صلی الظهر خمسًا، اوس ظهر خو به هله ظهر وی کله چه د دې ټول فرائض پوره شوې وی او یو په دې کښې آخری قعده هم ده زمونږ خبره خو دا ده اوس وړاندې ستاسو اختیار دې.([1])

---

[1]) خو احنافو چه کوم شکل اختیار کړې دې په دې کښې یو عقلی اشکال دې کم چه غالبا علامه سندهی د نسائی په حاشیه کښې لیکلې دې هغه دا که دا فرض کړې شی چه حضور ﷺ په څلورم رکعت باندې قعده کړې وه نو په دې کښې تکرار د سهوې لازمیږی او هغه داسې چه مونږ تپوس کوو چه کله حضور ﷺ په څلورم رکعت باندې ناست وو نو څۀ ئې ګنړلې وو او ناست وو که دویم رکعت ئې ګنړلې وو نو بیا اودریدو نه پس یو رکعت ئې ولې اوکړو دوه کول پکار وو، لهذا دا دویمه سهوه شوه او که څلورم رکعت ئې ګنړلې وو او ناست وو نو بیا پنځم رکعت دپاره ولې پاسیدل، لهذا وړومبې صورت به اختیارول غوارې او په هغې کښې تکرار د سهوې دې، زۀ وایم چه دا کیدې شی چه اوونیلې شی چه حضور ﷺ په څلورم رکعت باندې ناست خو وو او دې لره ئې څلورم ګنړلې وو خو وروستو ذوئ ته د دې په باره کښې تردد شوې وو چه دا څلورم دې یا دریم په دې بناء باندې حضور ﷺ یو رکعت بل اوکړو په دې باندې به دا اشکال بل وی چه بیا حضور ﷺ سجده سهوه ولې اونۀ کړه، د دې جواب باندې دې غور اوکړې شی یا دې دا اوئیلې شی چه په دې موقعه باندې حضور ﷺ به دا د بیان دجواز دپاره ترک کړې وی ځکه چه د بعضې علماؤ په نیز سجده سهوه غیر واجب ده۔

[۱۰۲۰](١)حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، قَالَ: قَالَ عَبْدُ اللَّهِ: صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ إِبْرَاهِيمُ: فَلَا أَدْرِي زَادَ أَمْ نَقَصَ، فَلَمَّا سَلَّمَ، قِيلَ لَهُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَحَدَثَ فِي الصَّلَاةِ شَيْءٌ؟ قَالَ: "وَمَا ذَاكَ؟" قَالُوا: صَلَّيْتَ كَذَا وَكَذَا، فَثَنَى رِجْلَهُ وَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ فَسَجَدَ بِهِمْ سَجْدَتَيْنِ، ثُمَّ سَلَّمَ، فَلَمَّا انْفَتَلَ أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "إِنَّهُ لَوْ حَدَثَ فِي الصَّلَاةِ شَيْءٌ أَنْبَأْتُكُمْ بِهِ، وَلَكِنْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ أَنْسَى كَمَا تَنْسَوْنَ، فَإِذَا نَسِيتُ فَذَكِّرُونِي" وَقَالَ: "إِذَا شَكَّ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ فَلْيَتَحَرَّ الصَّوَابَ فَلْيُتِمَّ عَلَيْهِ، ثُمَّ لِيُسَلِّمْ، ثُمَّ لِيَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ".

د علقمه نه روایت دی هغه وایي چې عبد الله ویلي دي: مونځ وکړو رسول الله ﷺ - ویلي دي ابراهیم: زه نه پوهیږم چې زیادت یي وکړو او که نقصان یي وکړو - هرکله چې یي سلام وګرځولو، هغه ته وویل شول ای د الله رسوله! ایا په مانځه کې څه شی پیښ شوی دی؟ هغه وفرمایل: او دا څه شی دی؟ هغوی وویل: تا مونځ وکړو دومره دومره، خپه یي راغونډه کړه او مخ یي کړو قبلي ته، نو دوه سجدي یي وکړي دوی ته، بیایي سلام وګرځولو، هرکله چې فارغ شو مخ کړو مونږ ته رسول الله وسلم، وبیي ویل: که چیري مانځه کې څه شی پیښ شوی وی نو ما به تاسو ته خبر درکړی وی په هغې سره، لیکن زه بشر یم هیروم که څنګه چې تاسو هیروئ، کله چې مانه هیر شي نو ماته یي رایاد کړئ. او ویي ویل: کله چې څوک د تاسو نه شک وکړي په مانځه کې نو یقین دي ولټوي، نو اتمام دې وکړي په هغې پسې، بیا دې سلام وګرځوي بیا دې دوه سجدې وکړي.

[۱۰۲۱](٢)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ نُمَيْرٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، بِهَذَا، قَالَ: "فَإِذَا نَسِيَ أَحَدُكُمْ فَلْيَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ" ثُمَّ تَحَوَّلَ فَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ. قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ حُصَيْنٌ نَحْوَ حَدِيثِ الْأَعْمَشِ.

د عبد الله نه روایت دی د دې حدیث هغه ویلي دي: کله چې هیر کړي یو کس ستاسو نه نو دوه سجدي دې وکړي. بیا راوګرځیدلو او دوه رکعاته یي وکړل. ویلي دي ابوداود: نقل کړی دی حصین پشان د حدیث د اعمش.

د مصنف د کلام تشریح:

دلته مصنف دا حدیث په دوو طریق سره ذکر کړې دې اولا په طریقې د منصور عن ابراهیم ثانیًا بطریق الاعمش عن ابراهیم، اوس دلته مصنف طریق الاعمش لره ترجیح ورکوی په طریق دمنصور باندې ځکه چه حصین د اعمش موافقت کړې دې او د دۀ په مقابله کښې لکه چه څنګه حضرت په بذل کښې لیکلې دی امام بیهقی د منصور روایت لره ترجیح ورکړې ده د اعمش په روایت باندې، اوس دا چه په دې دواړو روایتونو کښې څۀ فرق دې په هغې پوهیدل پکار دی او هغه دا دې چه دا واقعه کومه چه په حدیث کښې مذکور ده چه

١): صحيح البخاري/الصلاة ٣١(٤٠١)، الإيمان ١٥ (٦٦٧١)، صحيح مسلم/المساجد ١٩ (٥٧٢)، سنن النسائي/السهو ٢٥ (١٢٤٤)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٣٣ (١٢١٢)، (تحفة الأشراف: ٩٤٥١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٧٩/١، ٤١٩، ٤٣٨، ٤٥٥) (صحيح)

٢): صحيح مسلم/المساجد ١٩(٥٧٢)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٢٩٥ (١٢٠٣)، (تحفة الأشراف: ٩٤٢٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٢٤/١) (صحيح)

حضور ﷺ یو خلې د ماسپخین مونځ پنځه رکعاته اوکړل نو د سلام نه پس ئې دصحابه په خبرولو باندې سجده سهوه اوفرمائیله اویو د قاعدې خبره حضور ﷺ تنبیها اوفرمائیله، لو حدث فی الصلوة شیء البائکم به و لکن انما انا بشر انسی کما تنسون، الخ،دا قوله جمله حضور ﷺ کله ارشاد اوفرمائیله د منصور د روایت نه خو معلومیږی چه دا جمله حضور ﷺ دسجده سهوې نه فارغیدونه پس په آخره کښې اوفرمائیله او د اعمش د روایت نه معلومیږی چه دا خبره حضور ﷺ د سجده سهوې کولو نه وړاندې ارشاد فرمائیلې وه، من حیث الفقه والقواعد، د منصور روایت راجح پکار دې ګینې د اعمش د روایت مطابق به په مانځه کښې خبرې کول لازم راشی، والله تعالی اعلم.

[۱۰۲۲]([1])حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، أَخْبَرَنَا جَرِيرٌ. ح وحَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، وَهَذَا حَدِيثُ يُوسُفَ، عَنْ الْحَسَنِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سُوَيْدٍ، عَنْ عَلْقَمَةَ، قَالَ: قَالَ عَبْدُ اللَّهِ: صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَمْسًا، فَلَمَّا انْفَتَلَ تَوَشْوَشَ الْقَوْمُ بَيْنَهُمْ، فَقَالَ: "مَا شَأْنُكُمْ؟" قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، هَلْ زِيدَ فِي الصَّلَاةِ؟ قَالَ: "لَا" قَالُوا: فَإِنَّكَ قَدْ صَلَّيْتَ خَمْسًا، فَانْفَتَلَ فَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ، ثُمَّ سَلَّمَ، ثُمَّ قَالَ: "إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ أَنْسَى كَمَا تَنْسَوْنَ".

د علقمه نه روایت دی هغه ویلی دي: ویلي دي عبد الله: مونځ وکړو مونږ ته رسول الله ﷺ پنځه رکعاته، هرکله چې فارغ شو نو خلقو پټې پټې خبرې شروع کړې په خپل مینځ کې، هغه وویل: ستاسو څه حال دی؟ هغوی وویل: ای د الله رسوله! ایا زیادت شوی دی په مانځه کې؟ هغه وویل: نه، هغوی وویل: بېشکه تا مونځ وکړو پنځه رکعاته، نو وګرځیدلو دوه سجدې یې وکړې بیایې سلام وګرځولو، بیایې وویل: بېشکه زه بشر یم ستاسو په شان زه هېروم لکه څنګه چې تاسو هېروئ.

[۱۰۲۳]([2])حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ يَعْنِي ابْنَ سَعْدٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، أَنَّ سُوَيْدَ بْنَ قَيْسٍ أَخْبَرَهُ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ حُدَيْجٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "صَلَّى يَوْمًا فَسَلَّمَ، وَقَدْ بَقِيَتْ مِنَ الصَّلَاةِ رَكْعَةٌ" فَأَدْرَكَهُ رَجُلٌ، فَقَالَ: نَسِيتَ مِنَ الصَّلَاةِ رَكْعَةً، "فَرَجَعَ، فَدَخَلَ الْمَسْجِدَ، وَأَمَرَ بِلَالًا، فَأَقَامَ الصَّلَاةَ، فَصَلَّى لِلنَّاسِ رَكْعَةً" فَأَخْبَرْتُ بِذَلِكَ النَّاسَ، فَقَالُوا لِي: أَتَعْرِفُ الرَّجُلَ؟ قُلْتُ: لَا، إِلَّا أَنْ أَرَاهُ، فَمَرَّ بِي، فَقُلْتُ: هَذَا هُوَ، فَقَالُوا: هَذَا طَلْحَةُ بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ.

د معاویة بن خدیج نه روایت دی بېشکه رسول الله ﷺ مونځ وکړو یوه ورځ نو سلام یې وګرځولو، او په تحقیق سره پاتې شوی وو د مانځه نه یو رکعات، نو یو سړي هغه پیدا کړو او ویې ویل: تا د مانځه نه یو رکعاته هېر کړو، نو واپس شو او جومات ته داخل شو، او امریې وکړو بلال ته مونځ یې ودرولو، خلقو ته یې یو رکعات مونځ وکړو، نو خلق په دې سره خبر کړل، هغوی ما ته وویل: ایا ته هغه سړی پېژنې؟ ما وویل: نه، مګر دا چې یې وینم هغه، هغه تېر شو په ما، ما وویل: دا هغه دی، هغوی وویل: دا طلحه بن عبید الله دی.

۳: حدثنا قتیبة بن سعد. الخ، قوله، عن معاویة بن حدیج. الخ، په دې روایت باندې کلام په تیر شوي باب کښې تیر شوې دې

[1]: صحیح مسلم/المساجد ۱۹ (۵۷۲)، سنن النسائي/السهو ۲۶ (۱۲۵۷، ۱۲۵۸)، (تحفة الأشراف: ۹۴۰۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۳۸/۱، ۴۴۸) (صحیح)

[2]: سنن النسائي/الأذان ۲۴ (۶۶۵)، (تحفة الأشراف: ۱۱۳۷۶)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۰۱/۶) (صحیح)

بَاب إِذَا شَكَّ فِي الثِّنْتَيْنِ وَالثَّلَاثِ مَنْ قَالَ يُلْقِي الشَّكَّ

باب دی کله چې شک وکړي په دوو او درېو کې، هغه چا چې ویلي دي شک به پرېږدي

کچرته یو سړی ته د مانځه په حالت کښې د رکعاتو نو په شمیر کښې شك او شبه وی نو دهٔ لره څهٔ کول پکار دی، په دې کښې د بعضې علماؤ رائې خو دا ده چه داسې سړی لره پکار دی چه دشك پیښیدلو نه پس دې سمدستی کینی او دوه سجدې کولو نه پس دې سلام اوګرځوی نهٔ د استیناف ضرورت شته دې او نهٔ د تحری او نهٔ د بناء علی الاقل دا قول منسوب دې حسن بصری رحمه الله طرف ته.

د ائمه د مذاهبو تفصیل:

(د احنافو مسلک)

د حنفیه په نیز دا مسئله مثلثه ده د دې درې صورتونه دی په یو صورت کښې استیناف (د سرنه مونځ کول) او په یو صورت کښې بناء علی الاقل المتیقن، او په یو صورت کښې بناء علی الظن الغالب، او هم دې ته تحری وائی، کوم سړی ته چه په مانځه کښې داسې شك او شبه په کثرت سره نهٔ پیښیږی بلکه اتفاقا کله کله اوشی نو استیناف یعنی د سرهٔ دې مونځ اوکړی، او کوم سړی چه ته چه داسې شك او شبه ډیره پیښیږی د هغه دپاره تحری ده، د تحری نه پس کوم طرف ته چه رجحان زیات وی هغه دې اختیار کړی او که د سوچ نه پس یو طرف ته غلبه نهٔ وه نو بیا بناء علی الاقل ده، مثلا یو سړی ته شبه پیښه شوه چه د دهٔ درې رکعاته شوی دی یا څلور نو که د سوچ کولو نه پس ئې یو طرف ته رجحان اوشی نو هغه دې اختیار کړی ګینی چه کوم کم دې هغه
متعین دې یعنی درې رکعاتو لره دې اختیار کړی لهذا یو رکعت دې بل اوکړی،

(د شوافعو مسلک)

امام شافعی د بناء علی الاقل قائل دې او په روایاتو کښې چه کوم د تحری ذکر راځی د هغې په حقله فرمائی چه د تحری معنی د قصد کول یعنی چه کومه خبره صواب او صحیح دی هغې لره اختیارول، هغه فرمائی چه صواب او صحیح څیز هم اقل متیقن دې،

(د موالکو مسلک)

او د امام مالك مسلك دا دې چه که مصلی مستنکح یعنی چا ته چه شك او شبه ډیره پیښیږی د هغهٔ دپاره د تحری حکم دې په خپلې تحری دې عمل اوکړی او که غیر مستنکح دې نو دهٔ لره پکار دی چه بناء علی الاقل دې اوکړی،

(د حنابلؤ مسلک)

او د امام احمد مشهور مذهب دا دې چه په دې سلسله کښې د امام او منفرد په مینځ کښې فرق دې، امام دپاره تحری او په ظن غالب بانديې عمل کول دی او منفرد لره په بناء علی الاقل باندې، د امام احمد په په دې مسئله کښې دوه روایتونه دی یو د مطلق تحری، بناء علی الاقل مطلقا (ذکره الحافظ ابن القیم) تیر شوی تفصیل نه دا هم معلومه شوه چه په ائمه

ثلاثه کښې څوك هم د استيناف قائل نۀ دې بلکه د تحری يا د بناء على الاقل قائل دی، هغوی دا وائی چه د استيناف روايت ضعيف دې.

د استيناف دليل:

زۀ وايم چه د استيناف روايت په کتب صحاح کښې خو ما په کوم کښې نۀ دې ليدلې صاحب هدايه دې لره د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه مرفوعا روايت کړې دې او بعضې نورو صحابه طرف ته ئې منسوب کړې دې، خو حافظ ابن حجر په الدرايه کښې ليکلې دی چه دا حديث ماته چرته مرفوع نۀ دې ملاؤ شوې آو موقوفا على ابن عمر مصنف ابن ابی شيبه کښې ملاؤ شوې دې.

[۱۰۲۴] (۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا أَبُو خَالِدٍ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا شَكَّ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ فَلْيُلْقِ الشَّكَّ وَلْيَبْنِ عَلَى الْيَقِينِ، فَإِذَا اسْتَيْقَنَ التَّمَامَ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ، فَإِنْ كَانَتْ صَلَاتُهُ تَامَّةً كَانَتِ الرَّكْعَةُ نَافِلَةً وَالسَّجْدَتَانِ، وَإِنْ كَانَتْ نَاقِصَةً كَانَتِ الرَّكْعَةُ تَمَامًا لِصَلَاتِهِ وَكَانَتِ السَّجْدَتَانِ مُرْغِمَتَيِ الشَّيْطَانِ". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: رَوَاهُ هِشَامُ بْنُ سَعْدٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ مُطَرِّفٍ، عَنْ زَيْدٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَحَدِيثُ أَبِي خَالِدٍ أَشْبَعُ.

د ابو سعيد الخدري رضي الله عنه نه روايت دی هغه ويلې دي چې ويلي دي رسول الله ﷺ: کله چې شک وکړي يو ستاسو نه په خپل مونځ کې نو شک دې وغورځوي، او بناء دې وکړي په يقين باندې، کله چې يې يقين د تمام راغلو نو دوه سجدې دې وکړي، که چېرې د هغه مونځ پوره وو نو شي به يو رکعات نفل او دوه سجدې، او که چيرې ناقص وو شي به رکعاته پوره کونکی د مونځ د هغه، او شي به دوه سجدې ذليله کونکې د شيطان. ويلې دي ابوداود: د دې روايت کړی هشام بن سعد او محمد بن مطرف د زيد نه او هغه د عطاء بن يسار نه، او هغه د ابو سعيد الخدري نه او هغه د نبي ﷺ نه، او حديث د ابو خالد ډېر پوره دی.

۱: حدثنا محمد بن العلاء. الخ، قوله، عن ابی سعيد الخدری قال قال رسول الله صلی الله عليه وسلم اذاشك احدكم فی صلوته فليلق الشك و ليبن على اليقين، د دې حديث نه شافعيه استدلال کوی چه د شك په صورت کښې هم، بناء على الاقل، کول پکار دی هم دغه متعين دې.

د حديث توجيه:

حنفيه او نور حضرات فرمائی چه په رواياتو کښې د تحری ذکر هم راغې نو دې دپاره د حديث مطلب به دا اخستلې شی چه د تحری باوجود هم يو طرف ته رجحان او ميلان نۀ وی او شك باقی پاتې شی نو داسې سری لره بناء على الاقل کول پکار دی او د داسې سری په حقله حنفيان هم دا وائی.

قوله، فان كانت صلوته تامة كانت الركعة نافلة والسجدتان،

---

۱): صحيح مسلم/المساجد ۱۹ (۵۷۱)، سنن النسائي/السهو ۲۴ (۱۲۳۹)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۳۲ (۱۲۱۰)، (تحفة الأشراف: ۴۱۶۳، ۱۹۰۹۱)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الصلاة ۱۶ (۶۲مرسلا)، مسند احمد (۳/۳۷، ۵۱، ۵۳)، سنن الدارمي/الصلاة ۱۷۴ (۱۵۳۶) (حسن صحيح)

شرح حدیث:

یعنی د داسې سړی مونځ که د یو رکعت کولو نه وړاندې پوره شوې وی نو دا یو رکعت به نفل شی او دوه سجدې به د قائم مقام د نفلو د دویم رکعت شی. نو ګویا د داسې سړی به څلور رکعاته فرض شی او دوه نفل. او که یو رکعت یوځائې کولو نه وړاندې مونځ ناقص وو نو اوس یو رکعت کولو سره فرض مونځ به پوره شی او دوه سجدې به زیاتی شی. دې سجدتینو ته مرغمتین وئیلې شوې دی یعنی شیطان لره رسوا او ذلیل کونکې. شیطان خو په شك کښې واچولو او دا ئې غوښتل چه د دهٔ فرض مونځ هم پوره نهٔ شی او دهٔ خپل فرض مونځ پوره کړو او زیاتی دوه سجدې ئې هم اوکړې په کومو سره چه شیطان په خپل مقصد کښې ناکام او ذلیل او خوار شو.

[۱۰۲۵] (۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ أَبِي رِزْمَةَ، أَخْبَرَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ كَيْسَانَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "سَمَّى سَجْدَتَيِ السَّهْوِ الْمُرْغِمَتَيْنِ".

د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دی بیشکه نبی ﷺ مسمی یې کړې دوه سجدې د سهوې ذلیله کونکې د شیطان.

مرغمتین د ارغام نه دې وئیلې کیږی ارغم الله انفه ای الصقه بالرغام، رغام په معنی د خاورې یعنی الله تعالی دې د دهٔ پوزه په خاورو ککړه کړی. او دا ترغیم سره هم کیږی لکه چه وړاندې راځی. فالسجدتان ترغیم للشیطان.

[۱۰۲۶] (۲) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا شَكَّ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ فَلَا يَدْرِي كَمْ صَلَّى ثَلَاثًا أَوْ أَرْبَعًا فَلْيُصَلِّ رَكْعَةً وَلْيَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ وَهُوَ جَالِسٌ قَبْلَ التَّسْلِيمِ، فَإِنْ كَانَتِ الرَّكْعَةُ الَّتِي صَلَّى خَامِسَةً شَفَعَهَا بِهَاتَيْنِ، وَإِنْ كَانَتْ رَابِعَةً فَالسَّجْدَتَانِ تَرْغِيمٌ لِلشَّيْطَانِ".

د عطاء بن یسار نه روایت دی بیشکه رسول الله ﷺ وئیلې دی: کله چې شك وکړې یو کس ستاسونه په خپل مونځ کې او هغه نه پوهیدې چې څومره مونځ یې وکړو، درې او که څلور، نو یو رکعاته مونځ دې وکړې، او دوه سجدې دې وکړې په داسې حال چې هغه ناست وې مخکې د سلام نه. که چیرې وو هغه رکعات چې ده وکړو پنځم نو هغه به جوفت کړې په دې دوه سجدو سره، او که چیرې وو څلورم رکعات نو دوه سجدې ذلت شو لپاره د شیطان.

[۱۰۲۷] (۳) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْقَارِيُّ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ بِإِسْنَادِ مَالِكٍ، قَالَ: إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا شَكَّ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ فَإِنِ اسْتَيْقَنَ أَنْ قَدْ صَلَّى ثَلَاثًا فَلْيَقُمْ فَلْيُتِمَّ رَكْعَةً بِسُجُودِهَا، ثُمَّ يَجْلِسُ فَيَتَشَهَّدُ، فَإِذَا فَرَغَ فَلَمْ يَبْقَ إِلَّا أَنْ يُسَلِّمَ فَلْيَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ وَهُوَ جَالِسٌ، ثُمَّ لِيُسَلِّمْ". ثُمَّ ذَكَرَ مَعْنَى مَالِكٍ، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَكَذَلِكَ رَوَاهُ ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ مَالِكٍ، وَحَفْصِ بْنِ مَيْسَرَةَ، وَدَاوُدَ بْنِ قَيْسٍ، وَهِشَامِ بْنِ سَعْدٍ، إِلَّا أَنَّ هِشَامًا بَلَغَ بِهِ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ.

---

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦١٤٤) (صحيح)

(۲): انظر حديث رقم: (١٠٢٤)، (تحفة الأشراف: ٤١٦٣، ١٩٠٩١) (صحيح)

(۳): انظر حديث رقم: (١٠٢٤، ١٠٢٦)، (تحفة الأشراف: ٤١٦٣) (صحيح)

زيد بن اسلم په اسناد د مالک سره روايت کړی دی هغه ويلي دي: بېشکه نبي ﷺ وويل: کله چې شک وکړي يو کس ستاسو نه په خپل مونځ کې که د هغه يقين وو چې هغه درې رکعاته مونځ کړی دی نو پاځېږي به او يو رکعات به وکړي سره د سجدو نه، بيا به کيني او تشهد به وايي، کله چې فارغ شي، پاتي نه شي مګر دا چې سلام وګرځوي نو دوه سجدې دې وکړي د ناستې په حالت کې. بيا دې سلام وګرځوي. بيايي ذکر کړه معنی د مالک. ويلي دي ابوداود: او همداسې روايت کړی دی ابن وهب د مالک نه او د حفص بن ميسره نه او د داود بن قيس نه او د هشام بن سعد نه. مګر هشام دا رسولی دی ابو سعيد الخدري ته.

بَابُ مَنْ قَالَ يُتِمُّ عَلَى أَكْبَرِ ظَنِّهِ

باب د هغه چا دی چې هغه ويلي دي: پوره والی به کوي په غالب ګمان باندې

يعنی تحري دې او کړي او کوم طرف ته ئې چه ګمان غالب وی هغه دې اختيار کړي.

[۱۰۲۸]( )حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ خُصَيْفٍ، عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا كُنْتَ فِي صَلَاةٍ فَشَكَكْتَ فِي ثَلَاثٍ أَوْ أَرْبَعٍ وَأَكْبَرُ ظَنِّكَ عَلَى أَرْبَعٍ تَشَهَّدْتَ، ثُمَّ سَجَدْتَ سَجْدَتَيْنِ وَأَنْتَ جَالِسٌ قَبْلَ أَنْ تُسَلِّمَ، ثُمَّ تَشَهَّدْتَ أَيْضًا، ثُمَّ تُسَلِّمُ". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: رَوَاهُ عَبْدُ الْوَاحِدِ، عَنْ خُصَيْفٍ، وَلَمْ يَرْفَعْهُ، وَوَافَقَ عَبْدَ الْوَاحِدِ أَيْضًا سُفْيَانُ، وَشَرِيكٌ، وَإِسْرَائِيلُ وَاخْتَلَفُوا فِي الْكَلَامِ فِي مَتْنِ الْحَدِيثِ وَلَمْ يُسْنِدُوهُ.

د عبد الله نه روايت دی، هغه روايت کوي د رسول الله ﷺ نه. هغه ويلي دي: کله چې ته يې په مانځه کې او شک دې شو په درې او څلورو کې، او غالب ګمان دې په څلورو وو، نو په قعده به کيني بيا به دوه سجدې وکړې په ناسته. مخکې د سلام نه، بيا به په تشهد کيني، بيا به سلام وګرځوي. ويلي دي ابوداود: د دې روايت کړی دی عبد الواحد د خصيف نه او نه يې دی مرفوع کړی. او همدارنګه موافقت کړی دی د عبد الواحد سره سفيان او شريک او اسرائيل. او اختلاف کړی دی دوی په په متن د حديث کې او هغوی مسند کړی نه دی.

قوله: قال ابوداؤد رواه عبدالواحد عن خصيف و لم يرفعه و وافق عبدالواحد ايضا سفيان و شريك و اسرائيل. حاصل دا چه دې حديث لره مرفوعا نقل کولو کښې د خصيف د شاګردانو نه محمد بن سلمه متفرد دې چنانچه عبدالواحد دې حديث لره موقوفا روايت کړې دې او سفيان وغيره په دې کښې د عبدالواحد موافقت کړې دې اګر که د متن الفاظ په نقل کولو کښې سفيان اوشريك وغيره په خپلو کښې مختلف دی خوموقوفا په نقل کولو کښې ټول متفق دی

[۱۰۲۹]( )حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ الدَّسْتُوَائِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ، حَدَّثَنَا عِيَاضٌ. ح وحَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ هِلَالِ بْنِ عِيَاضٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ فَلَمْ يَدْرِ زَادَ أَمْ نَقَصَ

[1]: ن الكبري /السهو ١٢٦ (٦٠٥)، وانظر رقم: (١٠١٩)، (تحفة الأشراف: ٩٦٠٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٤٢٨، ٤٢٩ موقوفاً) (ضعيف)

[2]: سنن الترمذي/الصلاة ١٧٩ (٣٩٦)، سنن ابن ماجه /إقامة الصلاة ١٢٩ (١٢٠٤)، (تحفة الأشراف: ٤٣٩٦)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/المساجد ١٩ (٥٧١)، سنن النسائي/السهو ٢٤ (١٢٤٠)، موطا امام مالك/الصلاة ١٦ (٦٢)، مسند احمد (٣/١٢، ٣٧، ٥٠، ٥١، ٥٣، ٥٤)، دي/الصلاة ١٧٤ (١٥٣٦) (ضعيف)

فَلْيَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ وَهُوَ قَاعِدٌ فَإِذَا أَتَاهُ الشَّيْطَانُ، فَقَالَ: إِنَّكَ قَدْ أَحْدَثْتَ، فَلْيَقُلْ: كَذَبْتَ إِلَّا مَا وَجَدَ رِيحًا بِأَنْفِهِ أَوْ صَوْتًا بِأُذُنِهِ". وَهَذَا لَفْظُ حَدِيثِ أَبَانَ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَقَالَ مَعْمَرٌ، وَعَلِيُّ بْنُ الْمُبَارَكِ، وعِيَاضُ بْنُ هِلَالٍ: وَقَالَ الْأَوْزَاعِيُّ: عِيَاضُ بْنُ أَبِي زُهَيْرٍ.

د ابو سعيد الخدري ﷺ نه روایت دی ببشکه رسو ل الله ﷺ ویلي دي: کله چې مونځ وکړي یو ستاسو نه او هغه ته پته نه وي چې زیات یي وکړو او که نقصان یي وکړو، نو دوه سجدي دي په ناسته وکړي، کله چې ورته شیطان راشي ورته ووايي: چې ته خو بې اودسه شوي نو ودي وايي: تا دروغ وويل، مګر دا که بیاموخي باد په پوزې سره او یا اواز په غوږ سره. او دا لفظ د حدیث د ابان دی. ویلي دي ابوداود: او ویلي دي معمر او علي بن المبارک: عیاض بن هلال. او ویلي دي اوزاعي: عیاض بن ابي زهير دی.

۲: حدثنا محمد بن العلاء، الخ، قوله، اذا صلى احدكم فلم يدر زاد ام نقص فليسجد سجدتين و هو قاعدا..الخ، په دې حديث کښې تحری یا بناء علی الاقل د یوهم ذکر نشته ، غالبًا هم دا حديث ماخذ دې د هغه مسلك کوم چه حسن بصري وغیره اختيار کړې دې لکه څنګه چه په تیر شوی باب کښې تیر شول.

[۱۰۳۰] (۱) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا قَامَ يُصَلِّي جَاءَهُ الشَّيْطَانُ فَلَبَسَ عَلَيْهِ حَتَّى لَا يَدْرِيَ كَمْ صَلَّى، فَإِذَا وَجَدَ أَحَدُكُمْ ذَلِكَ فَلْيَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ وَهُوَ جَالِسٌ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَا رَوَاهُ ابْنُ عُيَيْنَةَ، وَمَعْمَرٌ، وَاللَّيْثُ.

د ابوهريره ﷺ نه روایت دی ببشکه هغه ویلي دي: بېشکه یو کس ستاسو نه کله چې پاڅېږي او مونځ کوي شیطان ورته راشي نو ګډوډی راولي په هغه تردې چې هغه نه پوهېږي چې څومره مونځ یي وکړو، کله چې بیاموخي یو کس ستاسو نه دغه نو دوه سجدي دي وکړي په ناسته باندي. ویلي دي ابوداود: همدارنګه روایت نقل کړی دی ابن عيينة او معمر او ليث.

[۱۰۳۱] (۲) حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ أَبِي يَعْقُوبَ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَخِي الزُّهْرِيِّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ مُسْلِمٍ بِهَذَا الْحَدِيثِ بِإِسْنَادِهِ، زَادَ "وَهُوَ جَالِسٌ قَبْلَ التَّسْلِيمِ".

دې طريق سره هم د محمد بن مسلم نه هم په دې سند سره همدا حديث نقل دې، په دې کښې دا اضافه ده چه هغه دې د سلام نه مخکښې کيني (دوه سجدي دي اوکړي).

[۱۰۳۲] (۳) حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ، أَخْبَرَنَا أَبِي، عَنْ ابْنِ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ مُسْلِمٍ الزُّهْرِيُّ بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ، قَالَ: "فَلْيَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ يُسَلِّمَ، ثُمَّ لِيُسَلِّمْ".

مونږ ته حديث بيان کړی دی محمد بن مسلم الزهري د هغې په اسناد او معنی سره، هغه ویلي دي: دوه سجدي دي وکړي مخکې د سلام نه بیا دي سلام وګرځوي.

---

[1]: صحيح البخاري/الأذان ٤ (٦٠٨)، والعمل في الصلاة ١٨ (١٢٢٢)، والسهو ٦ (١٢٣١)، ٧ (١٢٣٢)، وبدء الخلق ١١ (٣٢٨٥)، صحيح مسلم/الصلاة ٨ (٣٨٩)، والمساجد ١٩ (٥٧٠)، سنن النسائي/الأذان ٣٠ (٦٧١)، (تحفة الأشراف: ١٥٢٤٤)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصلاة ١٧٩ (٣٩٧)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٣٥ (١٢١٦)، موطا امام مالك/السهو ١(١)، مسند احمد (٢/٣١٣، ٣٩٨، ٤١١، ٤٦٠، ٥٠٣، ٥٢٢، ٥٣١) وتقدم برقم (٥١٦) (صحيح)

[2]: انظر ما قبله (تحفة الأشراف: ١٥٢٥٦) (حسن صحيح)

[3]: سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٣٥ (١٢١٦)، (تحفة الأشراف: ١٥٢٥٢) (حسن صحيح)

بَاب مَنْ قَالَ بَعْدَ التَّسْلِيمِ

باب دى په بيان د هغه چا کې چې وايي وروسته د سلام نه

[۱۰۳۳]([1])حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ، عَنْ ابْنِ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُسَافِعٍ، أَنَّ مُصْعَبَ بْنَ شَيْبَةَ أَخْبَرَهُ، عَنْ عُتْبَةَ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ جَعْفَرٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ شَكَّ فِي صَلَاتِهِ فَلْيَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ بَعْدَ مَا يُسَلِّمُ".

د عبد الله بن جعفر نه روايت دى بېشکه رسول الله ﷺ ويلي دي: چا چې شک وکړو په مانځه کې نو دوه سجدې دې وکړي وروسته د سلام نه.

قوله، عن عبدالله بن جعفر..الخ،

دا عبدالله د حضرت علی رضی الله عنه ورور د جعفر بن ابی طالب څوئې دې د صغار يعنى وړو صحابهٔ نه دې د حضور ﷺ د انتقال په وخت د لسو کالو وو،

سجده سهوه قبل السلام ده يا بعد السلام د دې تفصيل په شروع کښې تير شوې دې

بَاب مَنْ قَامَ مِنْ ثِنْتَيْنِ وَلَمْ يَتَشَهَّدْ

باب دى په بيان د هغه چا کې چې پاڅيږي د دوه رکعاتو نه او تشهد و نه وايي

يعنى اوله قعده هيره شى، په حديث الباب کښې دا دى چه يو ځل حضور ﷺ نه داسې اوشو نو حضور ﷺ په دې صورت کښې سجده سهوه فرمائيلې وه کومه چه قبل السلام وه، د سهوې دا شکل د نقصان وو په کوم کښې چه حضور ﷺ سجده سهوه قبل السلام اوکړه. اوس د شوافعو يه نيز خو په هر ځائې کښې داسې کيږى او ماليکه دا د نقصان واله صورت پورې خاص کوى، او زمونږ دليل د تير شوې باب حديث دې په کوم کښې چه مطلقا د سجده سهوې بعد السلام حکم مذکور دې.

[۱۰۳۴]([2])حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ ابْنِ بُحَيْنَةَ، أَنَّهُ قَالَ: "صَلَّى لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ قَامَ فَلَمْ يَجْلِسْ فَقَامَ النَّاسُ مَعَهُ، فَلَمَّا قَضَى صَلَاتَهُ وَانْتَظَرْنَا التَّسْلِيمَ كَبَّرَ فَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ وَهُوَ جَالِسٌ قَبْلَ التَّسْلِيمِ، ثُمَّ سَلَّمَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

د عبدا لله بن بحينه نه روايت دى هغه ويلي دي: مونځ وکړو مونږ ته رسول الله ﷺ دوه رکعاته، بيا پاڅيدلو او کينه ناستلو، نو پاڅيدل خلق د هغه سره، هرکله چې يي مونځ پوره کړو نو مونږ انتظار وکړو د سلام هغه تکبير ووېلو، نو دوه سجدې يې وکړې او هغه ناست وو مخکې د سلام نه، بيا يې سلام وګرځولو نبي ﷺ

[۱۰۳۵]([3])حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ، حَدَّثَنَا أَبِي، وَبَقِيَّةُ، قَالَا: حَدَّثَنَا شُعَيْبٌ، عَنْ الزُّهْرِيِّ بِمَعْنَى إِسْنَادِهِ

---

[1]): سنن النسائي/السهو ۲۵(۱۲۴۹، ۱۴۵۰)(تحفة الأشراف: ۵۲۲۴)، وقد أخرجه: مسند احمد(۱/۲۰۴، ۲۰۵، ۲۰۶)(حسن لغيره)

[2]): صحيح البخاري/الأذان ۱۴۶ (۸۲۹)، ۱۴۷ (۸۳۰)، والسهو ۱ (۱۲۲۴)، ۵ (۱۲۳۰)، والأيمان ۱۵ (۶۶۷۰)، صحيح مسلم/المساجد ۱۹ (۵۷۰)، سنن الترمذي/الصلاة ۱۷۲ (۳۹۱)، سنن النسائي/التطبيق ۱۰۶ (۱۱۷۸، ۱۱۷۹)، والسهو ۲۸ (۱۲۶۲)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۳۱ (۱۲۰۶)، (تحفة الأشراف: ۹۱۵۴)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الصلاة ۱۷(۶۵)، مسند احمد (۵/۳۴۵، ۳۴۶)، سنن الدارمي/الصلاة ۱۷۶ (۱۵۴۰) (صحيح)

[3]): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۹۱۵۴) (صحيح)

وَحَدِيثِهِ، زَادَ "وَكَانَ مِنَّا الْمُتَشَهِّدُ فِي قِيَامِهِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَلِكَ سَجَدَهُمَا ابْنُ الزُّبَيْرِ، قَامَ مِنْ ثِنْتَيْنِ قَبْلَ التَّسْلِيمِ، وَهُوَ قَوْلُ الزُّهْرِيِّ.

حديث بيان كړى دى شعيب د زهري نه په معنى د اسناد هغي او حديث د هغه سره، هغه زيادت كړى دى: او وو بعضي زمونږ نه تشهد ويونكي په قيام كې. ويلي دي ابوداود: او همدارنګه دواړه سجدي كړي دي ابن الزبير، پاڅيدلو د دوه ركعاتو نه مخكې د سلام نه، او هغه قول د زهري دى.

قوله، و هو قول الزهرى، د امام زهرى قول هم دا دې چه په مذكوره صورت كښې (وهو ترك القعده الاولى) سجده سهوه قبل السلام دې اوكړې شى.

بَابُ مَنْ نَسِيَ أَنْ يَتَشَهَّدَ وَهُوَ جَالِسٌ

باب دى په بيان د هغه چا كې چې هېر شي ترينه تشهد او هغه ناست وي

الفرق بين الترجمتين:

په سابقه ترجمه او دې ترجمه كښې د اول تشهد د هيريدو بيان دې خو فرق بين الترجمتين دا دې چه رومې ترجمه كښې دا وو چه دۀ ته تشهد د قيام نه پس راياد شى او په دې دويم باب كښې د دې قيد نشته ې بلكه عام دې نيغ اودريدو نه پس ورياد شي يا د دې نه وړاندې.

[۱۰۳٦] (۱) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَمْرٍو، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْوَلِيدِ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ جَابِرٍ يَعْنِي الْجُعْفِيَّ، قَالَ: حَدَّثَنَا الْمُغِيرَةُ بْنُ شُبَيْلٍ الْأَحْمَسِيُّ، عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا قَامَ الْإِمَامُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ فَإِنْ ذَكَرَ قَبْلَ أَنْ يَسْتَوِيَ قَائِمًا فَلْيَجْلِسْ، فَإِنِ اسْتَوَى قَائِمًا فَلَا يَجْلِسْ وَيَسْجُدْ سَجْدَتَيِ السَّهْوِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَلَيْسَ فِي كِتَابِي عَنْ جَابِرٍ الْجُعْفِيِّ إِلَّا هَذَا الْحَدِيثُ.

د مغيره بن شعبه رضي الله عنه نه روايت دى هغه ويلي دي چې فرمايلي دي رسول الله ﷺ: كله چې پاڅېږي امام د دوه ركعاتو نه، كه ورته په ياد شو مخكې د ودريدو نه نو كيني دي، كه چېري برابر ودريدلو نو نه دي كيني، او دوه سجدي دي وكړي د سهوي. ويلي دي ابوداود او نشته زما په كتاب كې د جابر جعفي نه مګر هم دا حديث.

۱: حدثنا الحسن بن عمرو، الخ، قوله، قال رسول الله صلى الله عليه وسلم اذا قام الامام فى الركعتين فان ذكر قبل ان يستوى قائما فليجلس،

په مسئلة الباب كښې مذاهب ائمه:

امام شافعى هم د دې قائل دې او د حنفيانو ظاهر الرواية هم دادې او دې لره ابن الهمام هم اختيار كړې دې يعنى كه رومبې تشهد هير كړى نو كه داودريدو نه وړاندې ورته راياد شى نو تشهد ته دې واپس راشى او كه نيغ اودريدو نه پس ورته راياد شى نو نۀ دې كيني بلكه تشهد دې پريږدى، او په دې كښې دويم روايت چه كوم د حنفيانو مشهور روايت دې هغه دا كه په داسې وخت كښې ورته راياد شو كله چه دې اقرب الى القيام وى نو اوديدريږي او كه

(۱): سنن الترمذي/الصلاة ۱۵۷ (۳٦۵)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۳۱ (۱۲۰۸)، (تحفة الأشراف: ۱۱۵۲۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۵۳/٤، ۲۵٤)، سنن الدارمي/الصلاة ۱۷٦ (۱۵٤۲) (صحيح)

اقرب الى القعود وي نو كيدينى، او د ماليكه مسلك دا دي چه كوم سړې قعده اولى پريږدي او اودريږي نو ترڅو پورې چه ئې لاسونه په زمکه باندې لګيدلي وي نو را يادېدو باندې دې واپس شي او كه لاسونه ئې د زمكې نه پورته شوې وي نو بيا دې نۀ واپس كيږي.(١).

او كه كوم سړې د دې قاعدې نه خلاف اوكړي يعنى په كوم صورت كښې چه اودريدل وو هغه د اودريدو په ځائې كيناستلو نو د دې څۀ حكم دې، د امام مالك په نيز خو هيڅ باك نشته دې مونځ نۀ باطليږي د حنفيانو نه هم يو روايت دا دې او په دې باندې فتوى ده، او دويم روايت دا دې چه مونځ باطليږي، او د شوافعو په نيز رجوع الى القعده جائز نۀ ده بلكه حرام ده او كه كوم سړې واپس شي عامدا عالما بتحريمه نو د دۀ مونځ به فاسد شي او كه ناسيا وي نو فلا تبطل صلوته و يلزمه القيام عند تذكره.

قال، ابوداؤد و ليس فى كتابى عن جابرالجعفى الا هذا الحديث،

د جابر جعفى جرح او تعديل:

د جابر جعفى توثيق او تضعيف مختلف فيه دې يو جماعت لكه شعبه او سفيان وغيره د دۀ توثيق كړې دې او يحيى بن معين او امام ابوحنيفه د دۀ تكذيب كړې دې و قال ما رايت اكذب من جابرالجعفى، په بذل كښې ليكلي دى چه دې رافضى وو بلكه سبائى دعبدالله بن سبا د ملګرو نه وو، او د ده عادت د روافضو پشان تقيه وه هم د دې وجه نه بعضې محدثينو ته ددۀ په حقله دهوكه وشوه اوهغوى ددۀ توثيق اوكړو،والله تعالى اعلم.

[١٠٣٧](٢) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ الْجُشَمِيُّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا الْمَسْعُودِيُّ، عَنْ زِيَادِ بْنِ عِلَاقَةَ، قَالَ: صَلَّى بِنَا الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ فَنَهَضَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ، قُلْنَا: سُبْحَانَ اللَّهِ، قَالَ: سُبْحَانَ اللَّهِ، وَمَضَى، فَلَمَّا أَتَمَّ صَلَاتَهُ وَسَلَّمَ "سَجَدَ سَجْدَتَيِ السَّهْوِ" فَلَمَّا انْصَرَفَ، قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُ كَمَا صَنَعْتُ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَلِكَ رَوَاهُ ابْنُ أَبِي لَيْلَى، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، وَرَفَعَهُ، وَرَوَاهُ أَبُو عُمَيْسٍ، عَنْ ثَابِتِ بْنِ عُبَيْدٍ، قَالَ: صَلَّى بِنَا الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ، مِثْلَ حَدِيثِ زِيَادِ بْنِ عِلَاقَةَ. قَالَ أَبُو دَاوُد: أَبُو عُمَيْسٍ أَخُو الْمَسْعُودِيِّ، وَفَعَلَ سَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ مِثْلَ مَا فَعَلَ الْمُغِيرَةُ، وَعِمْرَانُ بْنُ حُصَيْنٍ، وَالضَّحَّاكُ بْنُ قَيْسٍ، وَمُعَاوِيَةُ بْنُ أَبِي سُفْيَانَ، وَابْنُ عَبَّاسٍ أَفْتَى بِذَلِكَ، وَعُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذَا فِيمَنْ قَامَ مِنْ ثِنْتَيْنِ، ثُمَّ سَجَدُوا بَعْدَ مَا سَلَّمُوا.

د زياد بن علاقه نه روايت دى، هغه ويلي دي: مونځ وكړو مونږ ته مغيره بن شعبه نو اوچت شو په دوه ركعاتو كې، مونږ وويل: سبحان الله، هغه وويل: سبحان الله او روان شو، هركله چې يې مونځ پوره كړو او سلام يې وګرځولو، دوه سجدې د سهوي يې وكړې، هركله چې فارغ شو ويې ويل: ما ليدلى وو رسول الله ﷺ داسې يې وكړل لكه څنګه چې ما وكړل. ويلي دي ابوداود: او همدارنګه روايت كړى دى ابن ابي ليلې د شعبي نه او هغه د مغيره بن شعبه نه او هغه مرفوع كړو. او روايت كړى دى هغې لره عميس د ثابت بن عبيد نه، هغه ويلي دي: مونځ وكړو مونږ ته مغيره بن شعبه پشان د حديث د زياد بن علاقه. ويلي دي ابو

(١) په اصل كښې د مالكيه مذهب دا دې چه سجدې نه پورته كيدو په وخت كښې ركبتين دې د زمكې نه ورومبى پورته كړې شي او يدين وروستو، كما تقدم في محله)١٢ منه.

(٢): سنن الترمذي/الصلاة ١٥٢ (٣٦٥)، (تحفة الأشراف: ١١٥٠٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٢٤٧، ٢٥٣، ٢٥٤)، سنن الدارمي/الصلاة ١٧٦(١٥٤٢) (صحيح)

داود: چې ورور د مسعودي دی. او وکړل سعد بن ابي وقاص پشان د هغي چې کړي دي مغيره او عمران بن حصين او او ضحاک بن قيس او معاوية بن ابي سفيان او ابن عباس فتوی ورکړي ده په دې سره او عمر بن عبد العزيز. ويلي دي ابوداود: او دا د هغه چا په باره کې دی چې د دوه رکعاتو نه پاڅېږي، بيا سجده وکړي وروسته د سلام نه.

قوله، قال ابوداؤد و كذالك رواه ابن ابی لیلٰی عن الشعبی،

د مصنف د کلام تشریح:

د مصنف غرض په دې کلام سره څۀ دې، په دې کښې دوه احتماله دی اول دا چه مصنف دا فرمائی چه څنګه پورته روايت کښې د کوم راوی چه زياد بن علاقه دې سجده سهوه بعدالسلام مذکورده دغه شان د ابن ابی لیلی او ابوعمیس دې دواړو هم سجده سهوه بعدالسلام ذکر کړې ده، او بيا دوړاندې تلو نه پس مصنف د بعضې نورو صحابه لکه سعد بن ابی وقاص او عمران بن حصين وغيره مذهب هم دا نقل کوی چه دا ټول حضرات د سجده سهوه بعد السلام قائل دی خو په هر صورت کښې نۀ بلکه په هغه صورت کښې کوم چه دلته مذکور دې يعنی دقعده اولی د ترک کولو په صورت کښې.

او دويم احتمال د مصنف په غرض کښې دا دې چه د مغيره بن شعبه د دې حديث په بيان کولو کښې رواة مختلف دی، جابر جعفی خو دې لره د حضور صلی الله عليه وسلم حديث قولی ګرځولې دې لکه څنګه چه د باب په ړومبی حديث کښې دی، قال رسول الله صلی الله عليه وسلم. الخ، او د جابر نه علاوه نورو رواة لکه زياد بن علاقه او ابن ابی لیلی او ابوعمیس دې ټولو دې حديث لره بل شان بيان کړې دې هغه دا چه مغيره بن شعبه يو ځل مونځ ورکړو چه په هغې کښې ئې چه قعده اولی هيره کړه او اودريدو او بيا ئې روستو سجده سهوه بعدالسلام اوکړه او بيا ئې داسې اوفرمائيل، رايت رسول الله ﷺ يصنع كما صنعت، په دې صورت کښې دا حديث قولی نۀ بلکه فعلی به وی.

[١٠٣٨]([1])حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ، وَالرَّبِيعُ بْنُ نَافِعٍ، وَعُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، وَشُجَاعُ بْنُ مَخْلَدٍ بِمَعْنَى الإِسْنَادِ، أَنَّ ابْنَ عَيَّاشٍ حَدَّثَهُمْ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُبَيْدٍ الْكَلاَعِيِّ، عَنْ زُهَيْرٍ يَعْنِي ابْنَ سَالِمٍ الْعَنْسِيَّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ، قَالَ عَمْرٌو: وَحْدَهُ عَنْ أَبِيهِ، عَنْ ثَوْبَانَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لِكُلِّ سَهْوٍ سَجْدَتَانِ بَعْدَ مَا يُسَلِّمُ". وَلَمْ يَذْكُرْ عَنْ أَبِيهِ غَيْرُ عَمْرٍو.

د ثوبان رضی الله عنه نه روايت دی: هغه روايت کوي د نبي ﷺ نه هغه ويلي دي: د هرې سهوي دوه سجدي دي وروسته د سلام نه. او نه دی ذکر کړی د هغه د پلار نه بغير د عمر نه.

خلاصه دا چه اکثر رواتو دې حديث لره فعلی او جابر جعفی دې لره قولی ګرځولې دې.

۳: حدثنا عمرو بن عثمان.الخ، قوله، عن ثوبان عن النبی صلی الله عليه وسلم قال لكل سهو سجدتان بعد ما يُسلم، لږ په غور سره واورئ.

[1]: سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٣٦ (١٢١٩)، (تحفة الأشراف: ٢٠٧٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٨٠/٥) (حسن)

د حنفیانو مستدل:

دا حدیث د سجده سهوې بعدالسلام صریح دلیل دې او حدیث قولی هم دې نۀ فعلی او په دې کښې قاعده کلیه بیان کړې شوې ده لکه څنګه چه حنفیان وائی فالحمدلله، خو د دې په سند کښې اسماعیل ابن عیاش دې کوم چه ضعیف دې.

د امام بیهقی نقد:

پس امام بیهقی هم په دې بناء باندې حدیث لره په معرفة السنن والاثار کښې ضعیف ګرځولې دې، د دې جواب دا دې چه دا خبره بین المحدثین مشهوره ده د کومې چه بیهقی په خپله هم قائل دې چه د ابن عیاش روایت خو د اهل حجاز او عراق نه ضعیف دې خو د شامیانو نه صحیح دې او دلته دا روایت د عبیدالله بن عبید کلاعی دې کوم چه شامی دې لهذا هیڅ اشکال نشته.

دویم نقد:

د دینه پس پوهه شئ چه امام بیهقی په خپل یو بل تصنیف یعنی سنن بیهقی کښې په دې حدیث باندې معنوی حیثیت سره هم کلام کړې دې هغه دا چه د دې حدیث نه معلومیږی چه د هرې سهوې دپاره مستقل دوه سجدې پکار دی لهذا که کوم سړې په مانځه کښې دوه ځل سهوه شی نو دۀ لره څلور کول پکار دی حال دا دې چه ائمه اربعه کښې د چا هم دا مذهب نۀ دې البته ابن ابی لیلی د دې قائل دې چه په تکرار د سهوې سره تکرار د سجدو راځی لهذا د حنفیانو دا مستدل مخدوش شو د دې اشکال جواب زمونږ د طرف نه دا ورکړې شوې دې چه، لکل سهو، کښې لفظ د کل مجموعی دې افرادی نۀ دې یعنی د ټولو سهوو دپاره دوه سجدې دی لهذا هیڅ اشکال نشته دې، او یو جواب بل هم کیدې شی چه په دې حدیث کښې لفظ د کل افرادِ دمصلین په اعتبار سره راوړلې شوې دې یعنی کوم مصلی ته چه هم سهوه راپیښه شی د هر مصلی دپاره هم دا حکم دې، یا د انواعو د سهوې په اعتبار سره لفظ د کل راوړلې شوې دې یعنی د کومې نوع سهوه چه هم وی خواه دنقصان د قبیلې نه وی یا د زیاتی د قبیلې نه وی د ټولو یو شان حکم دې، وهذان الجوابان الاخیران خاطری ابوعذرهما.

د ابن ابی لیلی وغیره مسلک:

پورته د ابن ابی لیلی مذهب تیر شوې دې د دوئ په نیز تکرار د سهوې سره تکرار د سجدو واجبیږی، او امام اوزاعی د تکرار د سهوې په صورت کښې دا فرمائی چه که سهوه دوه ځلې د یو قسم نه وی د قبیلې د نقصان یا د قبیلې د زیادت نه نو په دې صورت کښې به تکرار د سجدو نۀ وی او که د دوو جدا جدا قسمونو وی نو بیا به تکرار د سجدو وی، (من المنهل)

....

بَابُ سَجْدَتَيِ السَّهْوِ فِيهِمَا تَشَهُّدٌ وَتَسْلِيمٌ

باب دی په بیان د دوه سجدو د سهوې کښې چې په دواړو کښې تشهد او سلام دی

[۱۰۳۹](¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنِي أَشْعَثُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ خَالِدٍ يَعْنِي الْحَذَّاءَ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَبِي الْمُهَلَّبِ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "صَلَّى بِهِمْ فَسَهَا فَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ، ثُمَّ تَشَهَّدَ، ثُمَّ سَلَّمَ".

د عمران بن حصین نه روایت دی، بېشکه نبي ﷺ مونځ وکړو دوی ته نو سوه شو، نو دوه سجدې يې وکړې، بیايې تشهد وويلو بیايې سلام وګرځولو.
دامسئله مختلف فیه دې داختلاف تفصیل د ابواب السهو په شروع کښې تیر شوې دې.

بَابُ انْصِرَافِ النِّسَاءِ قَبْلَ الرِّجَالِ مِنَ الصَّلَاةِ

باب دی په بیان د واپسی د ښځو کښې مخکښې د سړو نه د مانځه نه

[۱۰۴۰](²) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى، وَمُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ هِنْدٍ بِنْتِ الْحَارِثِ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَلَّمَ مَكَثَ قَلِيلًا" وَكَانُوا يَرَوْنَ أَنَّ ذَلِكَ كَيْمَا يَنْفُذُ النِّسَاءُ قَبْلَ الرِّجَالِ.

د ام سلمة رضي الله عنها نه روایت دی هغې ویلي دي: وو رسول الله ﷺ کله چې به يې سلام وګرځولو نو وخت به يې تېرولو لږ، او هغوی به لیدل دا د دې لپاره چې اوځي ښځې مخکښې د سړو نه.
ترجمه او حديث دواړه واضح دی د تشریح محتاج نهٔ دی د دې ترجمة الباب او حديث الباب حواله دلته ډېره وړاندې په باب طول القيام من الركوع و بين السجدتين د حديث دلاندې راغلې ده په کوم ځائې کښې چه، فجلسته بين التسليم والانصراف، مذکور دې.

بَابُ كَيْفَ الِانْصِرَافُ مِنَ الصَّلَاةِ

باب دی چې انصراف د مانځه نه به څنګه وي

دفع التكرار بين الترجمتين:

د دې سلسلې یو باب په ابواب الامامة کښې تیر شوې دې، باب الامام ينحرف بعد التسليم، د انحراف معنى هم انصراف ده لهذا بظاهر کښې دا تکرار دې په دې باندې تفصیلی کلام په ړومبی ځائې کښې تیر شوې دې لاحاجة الى الاعادة.

[۱۰۴۱](³) حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ قَبِيصَةَ بْنِ هُلْبٍ رَجُلٍ مِنْ طَيِّءٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ صَلَّى مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "وَكَانَ يَنْصَرِفُ عَنْ شِقَّيْهِ".

---

¹): سنن الترمذي/الصلاة ۱۷۸ (۳۹۵)، سنن النسائي/السهو ۲۳ (۱۲۳۷)، والكبرى/ صفة الصلاة ۵۸ (۱۱۵۹)، (تحفة الأشراف: ۱۰۸۸۵) (شاذ)

²): صحيح البخاري/الأذان ۱۵۲ (۸۳۷)، ۱۵۷ (۸۴۹)، ۱۶۳ (۸۶۶)، ۱۶۷ (۸۷۰)، سنن النسائي/السهو ۷۷ (۱۳۳۴)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۳۳ (۹۳۲)، (تحفة الأشراف: ۱۸۲۸۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۹۶/۶، ۳۱۰، ۳۱۶) (صحيح)

³): سنن الترمذي/الصلاة ۱۱۳ (۳۰۱)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۳۳ (۹۲۹)، (تحفة الأشراف: ۱۱۷۳۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۲۶/۵) (حسن صحيح)

ترجمه: د قبيصه بن هُلب نه روايت دی چې دا يو سړی دی د طي نه، هغه روايت کوي د خپل پلار نه، بېشکه هغه مونځ وکړو د نبي ﷺ سره او هغه به ګرځېدلو د مانځه نه په دواړو طرفونو باندې.

قوله، فکان ينصرف عن شقيه، حضرت ﷫ په بذل کښې د انصراف معنی کښې دوه احتماله ليکلې دی، **تحول الی القوم،** او **مشی الی موضع الحاجة،** يعنی پورته کيدو سره تلل، مونږ په وړاندې ځائې کښې ليکلي دی چه تير شوی باب کښې **تحول الی القيام** لره بيانول مقصود وو او په دې باب کښې **مشی الی موضع الحاجة** مراد دې، يعنی امام د مانځه نه فارغ شي او پاسي او ښي يا ګس طرف ته اوځی د دې احتمال تائيد د دينه هم کيږی چه وړاندې روايت کښې دی، قال عمارة اتيت المدينة فرايت منازل النبی صلی الله عليه وسلم عن يساره، يعنی حضور ﷺ اکثرد مانځه نه فارغيدو نه پس ګس طرف ته راتاويده، وړاندې راوی وائی ځکه چه د حضور ﷺ حجرې هم ګس طرف ته وې ګويا دې دپاره به حضور ﷺ دې طرف ته راتاويده.

د حضرت شيخ رائې:

حضرت شيخ لامع الدراری په حاشيه کښې په دې موضوع باندې تفصيلی کلام کړې دې او يوه خبره ئې دا هم ليکلې ده چه انحراف او انصراف په معنيينو کښې يو د بل تابع کړې شی يعنی اګر که دا دوو جدا جدا معنې دی د دې باوجود يو د بل تابع کولې شی، هغه داسې چه تحول الی القوم لره د موضع حاجت تابع اوګرځولې شی، يعنی که امام ته مثلا ښی طرف ته تلل وی، هغه طرف ته حجره وغيره کيدو د وجه نه تحول الی القوم به هم ښی طرف ته وی نو هم هغه طرف ته دې مخ کړی او کيدينی او که موضع حاجت ګس طرف ته وی نو هغې طرف ته دې مخ کړی او کيدينی او که داسې اونهٔ کړې شي نو بيا د پورته کيدو او تلو په وخت کښې به دوران يعنی راتاويدل وی، دا ځهٔ چه مونږ دلته اوليکل او ځهٔ چه په تير شوې باب کښې وو دا ټول چه يوځائې شی نو الحمد الله کافی او شافی بحث به شی د کوم ماخذ چه د لامع حاشيه ده.

[۱۰۴۲](۱)حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سُلَيْمَانَ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنِ الْأَسْوَدِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: لَا يَجْعَلْ أَحَدُكُمْ نَصِيبًا لِلشَّيْطَانِ مِنْ صَلَاتِهِ أَنْ لَا يَنْصَرِفَ إِلَّا عَنْ يَمِينِهِ، وَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَكْثَرُ مَا يَنْصَرِفُ عَنْ شِمَالِهِ". قَالَ عُمَارَةُ: أَتَيْتُ الْمَدِينَةَ بَعْدُ، فَرَأَيْتُ مَنَازِلَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ يَسَارِهِ.

د عبد الله نه روايت دی هغه ويلې دي: نه دې ګرځوي يو کس ستاسو نه حصه د شيطان لپاره په خپل مونځ کې، چې نه راګرځي مګر ښي طرف ته، او بېشکه ما ليدلی وو رسول الله ﷺ ډير ځل به راګرځيدلو چپ طرف ته. ويلې دي عمارة: زه وروسته مديني ته راغلم ما وليدل کورونه د رسول الله ﷺ چپ طرف د هغه ته.

(۱): صحيح البخاري/الأذان ۱۵۹ (۸۵۲)، صحيح مسلم/المسافرين ۷ (۷۰۷)، سنن النسائي/السهو ۱۰۰ (۱۳۶۱)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۳۳ (۹۳۰)، (تحفة الأشراف: ۹۱۷۷)، و قد أخرجه: مسند احمد (۳۸۳/۱، ۴۲۹، ٤٦٤)، سنن الدارمي/الصلاة ۸۹ (۱۳۹۰) (صحيح)

بَابُ صَلَاةِ الرَّجُلِ التَّطَوُّعَ فِي بَيْتِهِ

باب دی د نفلي مانځه د سړي په خپل کور کې

په دې باب کښې مصنف دوه مرفوع حديثونه ذکر فرمائيلي دی، حديث د ابن عمر، اجعلوا في بيوتكم من صلوتكم، او دويم حديث د زيد ابن ثابت، صلوة المرء في بيته افضل من صلوته في مسجدی هذا الا المكتوبة، او هم دا دوه حديثونه امام ترمذی هم ذکر فرمائيلې دی دغه شان امام بخاری په ابواب التهجد ،ص،۱۱۸، باندی باب التطوع في البيت ترجمه قائمه کړې ده په هغې کښې ئې هم دا حديث د ابن عمر ذکر فرمائيلې دې.

مذاهب علماء:

امام نووی فرمائی چه جمهور علماء (دائمه ثلاثه وغيره) مذهب هم دا دې چه نوافل مطلقا راتبه وغير راتبه په کور کښې کول مستحب دی، هغوی فرمائی چه د سلفو نه د يو جماعت رائې دا ده چه دا ټول په جومات کښې ادا کول غوره دی، او دريم مسلك د امام مالك او سفيان ثوری دې هغه دا چه د ورځې نوافل په جومات کښې ادا کول غوره دی او د شپې نوافل په کور کښې، حافظ فرمائی چه د امام مالك مستدل د بخاری يو روايت دې د کوم الفاظ چه دا دی، و بعد المغرب رکعتين في بيته، او په يو روايت کښې دی، فاما المغرب والعشاء ففي بيته، خو حافظ په دې استدلال باندې اشکال کړې دې او هغه دا چه ظاهر خو دا ده چه حضور ﷺ داسې قصدا نۀ کول بلکه د دې وجه نه چه د ورځې به دوئ د خلقو په کارونو کښې مشغول وو نو ځکه به دوئ په جومات کښې ادا کول، او د شپې به مشغولتيا د خلقو سره نۀ وه نو ځکه به هغوی دا په کور کښې ادا کول، او ابن رشد د امام مالك د مذهب حکمت دا ليکلې دې چه د ورځې دسړې د خپلو اهل بيتو سره د مشغوليدو ويره ده نو ځکه د ورځې نوافل په جومات کښې ادا کول غوره دی او د شپې په وخت کښې دا ويره څۀ زياته نۀ وی نو ځکه په کور کښې ادا کول غوره دی، لهذا که کوم سړی ته د کور والو سره د مشغولتيا ويره نۀ وی نو د ورځې نوافل هم په کور کښې ادا کول غوره دی، زمونږ په نيز په بحرالرائق وغيره کښې هم دا ليکلې دی که کوم سړی ته په کور کښې د مشغولتيا ويره وی نو بيا په جومات کښې ادا کول غوره دی.

او په معارف السنن،ص، ۱۱۱، کښې د مولانا انور شاه کشميری نه نقل کړې دی چه اصل مذهب خو هم دا دې خو روستو ارباب فتاوی دا ليکلې دی چه اداء السنن في المسجد افضل دی دې دپاره چه روافضو سره بظاهر تشبيه رانۀ شی چه هغوی سنت نۀ ادا کوی، دغه شان پوهيدل پکار دی چه د دې حکم نه هغه نوافل مستثنیٰ دی کوم چه د اسلام د شعائرو نه دې هغه هم په جومات کښې ادا کول غوره دی لکه عيدين او تراويح او کسوف او استسقاء وغيره.

[۱۰۴۳](1) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، أَخْبَرَنِي نَافِعٌ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اجْعَلُوا فِي بُيُوتِكُمْ مِنْ صَلَاتِكُمْ وَلَا تَتَّخِذُوهَا قُبُورًا".

د ابن عمر ﷺ نه روایت دی هغه ویلي دي چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: وګرځوئ په خپلو کورونو کې د مونځونو ستاسو نه، او تاسو مه نیسئ هغې لره پشان د قبرونو.

قوله، اجعلوا في بيوتكم من صلوتكم،الخ، یعنی د خپلو مونځونو نه بعضې په خپلو کورونو کښې ادا کوئ د دې بعضو نه مراد ظاهره ده چه نفلونه دی. ځکه چه فرض مونځونه خو جماعت سره ادا کولې شی او محل د جماعت جوماتونه دی.

قوله، ولا تتخذوها قبورا، یعنی څرنګه چه مړی په خپلو قبرونو کښې مونځ نه کوی هم دغه شان د مونځ په پرېخودلو سره تاسو خپل کورونه په منزله د قبرونو مۀ جوړوی، یا دا چه څنګه په مقبره کښې مونځ نشی کولې د خپلو کورونو سره دا معامله مۀ کوئ.

شرح حدیث:

په دې صورت کښې دا د حدیث ټکړه به د ماقبل دپاره تاکید وی او بعضو دې لره جمله مستانفه ګرځولې ده چه دا یو بل مستقل حکم دې په کورونو کښې قبرونه نۀ دی جوړول پکار هلته دې مړی دفن نۀ کړې شی او حضور لره چه د هغوی په کور کښې دفن کړې شوې دې نو دا د انبیاؤ خصوصیات دی، دا جمله د دویم مطلب په صورت کښې هم د ماقبل سره مربوط کیدې شی، هغه داسې که په کورونو کښې قبرونه جوړ کړې شی او هلته مړی دفن کړې شی نو هغه کور به مقبره شی او په مقبره کښې مونځ کول مکروه دی حال دا چه په کورونو کښې د مونځ کولو حکم دې، او بعضې ظرفاء د دې یو بل مطلب لیکلې دې هغه دا چه په کورونو کښې هم مونځ کول پکار دی او که میلمه راشی نو د هغۀ میلمستیا او خوراک څښکاک ورکول هم پکاردی نۀ داسې لکه چه په مقبره کښې وی چه هلته هیڅ میلمستیا کونکی نۀ وی.

[۱۰۴۴](2) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي سُلَيْمَانُ بْنُ بِلَالٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ أَبِي النَّضْرِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ بُسْرِ بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "صَلَاةُ الْمَرْءِ فِي بَيْتِهِ أَفْضَلُ مِنْ صَلَاتِهِ فِي مَسْجِدِي هَذَا إِلَّا الْمَكْتُوبَةَ".

د زید بن ثابت نه روایت دی بېشکه رسول الله ﷺ ویلي دي: مونځ د سړي په کور کې هغه ډیر افضل دی د مونځ د هغه نه زما په دې مسجد کې مګر فرض نه.

1): صحيح البخاري/الصلاة ٥٢ (٤٣٢)، والتهجد ٣٧ (١١٨٧)، صحيح مسلم/المسافرين ٢٩ (٧٧٧)، سنن الترمذي/الصلاة ٢١٤ (٤٥١)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٨٦ (١٣٧٧)، (تحفة الأشراف: ٨١٤٢)، وقد أخرجه: سنن النسائي/قيام الليل ١ (١٥٩٩)، مسند احمد (٢/٦، ١٦، ١٢٣) ويأتي برقم: (١٤٤٨) (صحيح)

2): صحيح البخاري/الأذان ٨١ (٧٣١)، والأدب ٧٥ (٦١١٣)، والاعتصام ٣ (٧٢٩٠)، صحيح مسلم/المسافرين ٢٩ (٧٨١)، سنن النسائي/قيام الليل ١ (١٦٠٠)، (تحفة الأشراف: ٣٦٩٨)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصلاة ٢١٩ (٤٥٠)، موطا امام مالك/ صلاة الجماعة ١ (٤)، مسند احمد (٥/ ١٨٢، ١٨٤، ١٨٦، ١٨٧)، سنن الدارمي/الصلاة ٩٦ (١٤٠٦) ويأتي هذا الحديث برقم (١٤٤٧) (صحيح)

بَابٌ مَنْ صَلَّى لِغَيْرِ الْقِبْلَةِ ثُمَّ عَلِمَ

باب دی په بيان د هغه چا کښې چې مونځ وکړي د قبلې نه بلې خوا ته بيا ورته پته ولګي

داسې اوګڼړئ چه دا يو بغير د استيشن پليټ فارم دې کوم چه ناڅاپه راغلو ، زما مطلب دا دې چه د مصنفينو طريقه دا ده چه کله هغوی د يوې نوع د مسائلو نه فارغ شی نو د بل قسم مسائل شروع کوی نو د هغې دپاره اول يو ښکاره سرخی (عنوان کلی) قائموی په لفظ د کتاب سره يا د دې پشان بل يو لفظ، او بيا د هغې د لاندې د هغې مناسب ابواب راوړی، دلته مصنف داسې نۀ دی کړی، آو امام نسائی کړې دی هغوی د کتابُ المساجد او د هغې د ابوابو نه فارغ کيدو نه پس د کتاب القبله سرخی قائمه کړې ده او بيا د هغې د لاندې څو ابواب د هغې مناسب راوړې دی، په هغه ټولو کښې يوه ترجمه هغوی دا قائمه کړې ده چه باب استبانة الخطاء بعد الاجتهاد ، او بيا د هغې د لاندې ئې هم هغه حديث ذکر کړې دې کوم چه امام ابوداؤد په دې باب کښې راوړې دې،د نسائی او ابوداؤد د ترجمې الفاظ اګر که مختلف دی خو مسئله دواړو يوه بيانوی.

د دې نه پس تاسو پوهه شئ چه کومه مسئله مصنف دلته بيانوی هغه وقوع الخطاء فی التحری ده کومه چه د فقهې مشهوره مسئله ده هغه دا چه چا ته د قبلې طرف دصحيح علم نۀ وی او څوك ښودنکې هم نۀ وی نو د دې سړی دا حکم دې.

په مسئلة الباب کښې د ائمه مذاهب:

چه داسې سړې دې د قبلې تحری اوکړی يعنی د قبلې په باره کښې غور او خوض اوکړی او يو رائې دې قائمه کړی او کوم طرف ته چه زيات ميلان وی هغه دې قبله اوګرځوی او دې طرف ته دې مونځ شروع کړی، او که فرض کړه په مانځه کښې دننه تحری بدله شی نو په مانځه کښې دې هغې طرف ته راتاو شی او که د دويم طرف په حقله ئې هم رائې بدله شوه نو په مانځه کښې دې هغې دريم طرف ته خپل مخ بدل کړی تر دې چه څلورو طرفونو ته د تاويدو نوبت راشی نو هم څۀ باك نشته دې مونځ به صحيح شی دا د حنفيانو مذهب دې او هم دا د حنابله قول هم دې، او د مالکيه په نيز باندې اعاده فی الوقت ده نۀ بعد الوقت، او د شوافعو په دې کښې دوه قوله دی، قسطلانی فرمائی اظهر القولين اعادۀ د وجوب ده، او قول ثانی عدم الاعاده ده خو امام نووی په شرح د مسلم کښې د حديث الباب د لاندې دا ليکلې دی چه اصح قول د شوافعو عدم الوجوب دې،(۱) او حافظ ابن حجر صرف يو قول يعنی وجوب الاعاده ليکلې دې، د دينه معلوميږی چه د قسطلانی خبره صحيح ده.

[۱۰۴۵](۲) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ ثَابِتٍ، وَحُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابَهُ "كَانُوا يُصَلُّونَ نَحْوَ بَيْتِ الْمَقْدِسِ، فَلَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَحَيْثُ مَا

---

(۱) زمونږ شيخ به فرمائيل چه د امام نووی عادت دې چه په کومه مسئله کښې د امام شافعی دوه قوله وی نو د مسلم شريف حديث چه کوم د دوئ دقول مطابق وی هم د هغې په حقله هغه (نووی) ليکی چه هم دا د شافعی مذهب دې.

(۲): صحيح مسلم/المساجد ۲ (۵۲۷)، (تحفة الأشراف: ۳۱٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۸٤/۳) (صحيح)

كُنْتُمْ فَوَلُّوا وُجُوهَكُمْ شَطْرَهُ سورة البقرة آية ۱۴۴ فَمَرَّ رَجُلٌ مِنْ بَنِي سَلَمَةَ فَنَادَاهُمْ وَهُمْ رُكُوعٌ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ نَحْوَ بَيْتِ الْمَقْدِسِ: أَلَا إِنَّ الْقِبْلَةَ قَدْ حُوِّلَتْ إِلَى الْكَعْبَةِ مَرَّتَيْنِ، فَمَالُوا كَمَا هُمْ رُكُوعٌ إِلَى الْكَعْبَةِ".

د انس ﷺ نه روایت دی، ببشکه نبي ﷺ او د هغه ملګري وو چې مونځ يې کولو طرف د بیت المقدس ته، هرکله چي نازل شو دا ایت (فول وجهک شطرَ المسجد الحرام و حیث ما کنتم فولوا وجوهکم شطره) نو تیر شو یو سړی د بنو سلمة نه، نو اواز یي وکړو دوی ته او هغوی په رکوع کې وو د سحر په مانځه کې طرف د بیت المقدس ته: خبر شئ ببشکه قبله بدله شوه کعبې طرف ته، دوه ځل، نو دوی واوړیدل څنګه چې وو د رکوع په حالت کې.

تشریح:

۱: عن انس ان النبی صلی الله علیه وسلم و اصحابه کانوا یصلون نحو بیت المقدس فلما نزلت هذه الایة.الخ، د هجرت په ابتداء کښې به حضور ﷺ بیت المقدس طرف ته مونځ کولو د دې نه پس تحویل د قبلې اوشو، تحویل د قبلې کله شوې وو او څومره مودې پورې حضور ﷺ په مدینه منوره کښې د قیام په وخت کښې د بیت المقدس طرف ته مونځ کړې دې دغه شان قبل الهجرة په مکه مکرمه کښې به حضور ﷺ کوم طرف ته مونځ کولو دا ټول بحثونه زمونږ په کتاب الاذان کښې، احلیت الصلوة الی ثلاثة احوال الحدیث، د لاندې تیر شوې دی.

قوله، فحر رجل من بنی سلمة فناداهم وهم رکوع فی صلوة الفجر نحو بیت المقدس الا انّ القبلة قد حولت الی الکعبة،الخ، پوهیدل پکار دی چه کومه قصه په دې حدیث کښې مذکور ده یعنی دا چه صحابه کرامو په یو جومات کښې د صبا مونځ کولو کله چه رکوع ته اورسیدل نو د جومات نه بهر ئې یو اعلان کونکی اعلان واوریدلو، الا ان القبلة قد حولت، خبردار شئ قبله بدله شوې ده.

د تحویل قبله په حقله دوه مختلف حدیثونه:

دا حدیث د ابن عمر دې او د صبا د مونځ قصه ده لکه څنګه چه په روایت کښې تصریح ده، دغه شان دا حدیث په بخاری او مسلم کښې هم دې، دغه شان یوه بله قصه کومه چه په بخاری او مسلم او ترمذی کښې هم مذکور ده په هغې کښې د مازیګر د مونځ ذکر دې او د هغې راوی براء بن عازب دې، دې لره دې تعارض اونهٔ ګڼړلې شی بلکه دا دوه جدا جدا قصې دی د مازیګر د مونځ قصه کومه چه د براء بن عازب حدیث کښې ده هغه د بنوحارثه د جومات ده کوم چه په مدینه کښې داخل دې او د صبا د مونځ قصه د کوم راوی چه ابن عمر دې کومه چه دلته په ابوداؤد کښې دې دا خارج د مدینې نه یعنی د قبا واقعه ده، داخل د مدینې ته دا خبر ړومبې اورسیدو یعنی د مازیګر په مانځه کښې او په قباء کښې اطلاع وریسې ورځ اوشوه کله چه خلقو د صبا مونځ کولو، دلته څو علمی بحثونه دی چه دهغې زده کول چه ضروری دی.

....

حديث الباب سره متعلق مباحث عشره

بحث اول

د قبلې تحويل د حضور ﷺ په مانځه کښې دننه شوې وو يا نهٔ؟ که د حضور ﷺ په مانځه کښې شوې وې نو بيا کوم مونځ وو او په کوم جومات کښې وو، د حضرت گنگوهی رحمه الله رائې دا ده چه تحويل خارج صلوة شوې وو د حضور اقدس ﷺ په مانځه کښې دننه نهٔ وو شوې، حضرت فرمائی چه څوك داسې وائی هغه غلط دې، علامه سيوطی د رائې نه هم دا معلوميږی، (کما فی الاوجز) خو مشهور عند الشراح دا ده چه فی وسط الصلوة شوې ده.

بحث ثانی

اوس دا چه په کوم مونځ او په کوم جومات کښې شوې دې، حافظ رحمه الله وائی چه په دې کښې روايات مختلف دی، ظاهر د حديث د براء نه معلوميږی چه هغه د ماسپخين مونځ دې هم دغه شان محمد بن سعد په طبقات کښې ذکر کړې دی چه حضور ﷺ په مسجد نبوی کښې د ماسپخين مونځ کولو دوه رکعاته ئې کړې ووو چه د قبلې د تحويل حکم نازل شو پس حضور ﷺ هم په مانځه کښې مخ واړولو، او ونيلې شوې دی چه حضور ﷺ د أم بشر د ملاقات دپاره بنوسلمه ته تشريف اوړې وو هغوی د حضور ﷺ دپاره ډوډئ تياره کړې وه چه د ماسپخين د مانځه وخت راغلو حضور ﷺ په مانځه کښې مشغول وو چه په دې حال کښې تحويل اوشو، نو گويا نيم مونځ ئې بيت المقدس طرف ته ادا کړې وو او نيم مونځ ئې بيت الله طرف ته هم د دې وجه نه دې جومات نوم مسجد القبلتين شو.

بحث ثالث: د مخبر په خبر باندې د مونځګذارو تاويدل

، په دې کښې دوه قصې دی يو د اهل قبا او دويم د بنوحارثه لکه څنګه چه د دې تفصيل په شروع باب کښې تير شو.

بحث رابع: د دې مخبر او اعلان کونکی نوم څهٔ وو؟

مشهوره دا ده چه د دهٔ نوم عباد بن بشر دې و هوالراجح و قيل عبادة بن نهيك، خو د ابوداؤد په روايت کښې، رجل من بنی سلمة، واقع دې حال دا دې چه عباد بن بشر د بنوحارثه نه دې، نو کيدې شی چه په يو واقعه کښې عباد بن بشر وی او په بله کښې بل څوك وو.

بحث خامس: نسخ القطعی بخبر الواحد

نسخ القطعی بخبر الواحد، يعنی څنګه چه صحابه د رومبې نه مونځ کولو د هغوی قبله خو قطعی او يقينی وه او د مخبر دا خبر خو خبر واحد دې نو حکم قطعی په خبر واحد سره څنګه منسوخ شو، د دې دوه جوابونه دی، اول دا چه دا خبر واحد محتف بالقرائن وو او کوم خبر واحد چه محتف بالقرائن وی هغه مفيد د يقين وی لکه څنګه چه تاسو په شرح نخبه کښې لوستلې دی او د دې مثال هم هلته تير شوې دې لهذا دا نسخ القطعی بالقطعی ده نهٔ بالظنی، او دويم جواب دا دې چه د صحابه کرامو په زمانه کښې نسخ القطعی بخبر الواحد جائز وه د دې وجه دا ده چه د احاديثو چه کومې درجې او مراتب دی يو حسن دې بل صحيح بل ضعيف، دا احتلاف د سند د احوالو په اعتبار سره دې چه د کومې درجې سند

وی د هغې درجې حدیث منلي شی ګینی حدیث من حیث الحدیث یعنی فی حد ذاته قطعی او یقینی دې د دې د ضعیف کیدو هیڅ سوال نهٔ پیدا کیږی بلکه د سند او رواتو د ضعف د وجه نه حدیث ته ضعیف وئیلې کیږی او چونکه صحابه کرام او د حضور ﷺ په مینځ کښې څه واسطه او سند حائل نشته نو ځکه د صحابی په حق کښې هیڅ یو حدیث هم ضعیف کیدې نهٔ شی ځکه چه هغه نیغ په نیغ د حضور ﷺ د ژبې مبارکې نه اوریدلو لهذا د صحابی په حق کښې خبر واحد هم قطعی او یقینی وو د دې انکار کفر وو.

بحث سادس: کیفیة الاستداره

کیفیة الاستداره یعنی دا خلق څنګه په مانځه کښې تاو شو د دې بیان د طبرانی په روایت کښې داسې دې، فتحول النساء مکان الرجال و الرجال مکان النساء، د دې تشریح دا ده چه بیت المقدس د مکې نه بالکل په جانب مقابل کښې دې، بیت المقدس د مدینې نه په جانب د شمال کښې دې او مکه په جانب د جنوب کښې ده اوس چه قبله د شمال په ځائې جنوب طرف ته شوه نو دا ممکنه نهٔ ده چه امام او مقتدی ټول په خپلو ځایونو باندې پاتې شی او صرف مخ واړوی ځکه چه په دې صورت کښې امام به د ټولو نه روستو پاتې شی د دهٔ نه وړاندې به د سړو صف شی او د هغوی نه وړاندې به د ښځو صف نو د ټولو نه وړاندې به د ښځو صف شی، او دا کیدې نهٔ شی چه امام خو دې په خپل ځائې باندې وی او مخ دې واړوی او د سړو او ښځو صفونو دې د خپل ځائې نه بدل شی او امام پسې روستو راشی، ځکه چه امام پسې روستو په جومات کښې دومره ځائې نشته چه هلته ټول راځائې شی نو ځکه د دې شکل دا شو چه امام به د خپل ځائې نه یعنی مقدم د مسجد نه منتقل شو او مؤخر یعنی آخر د جومات ته راغلو او د ښځو صف د خپل ځائې نه د سړو ځائې ته او سړی د خپل ځائې نه منتقل شو او د ښځو ځائې ته راغلل، (افاده الحافظ ابن حجر)

بحث سابع:

پورته تیر شوې صورت کښې ظاهره ده چه د مانځه په مینځ کښې مشی او عمل کثیر اوموندلې شو، او دا خبره موجب د اشکال ده، حافظ رحمه الله د دې دوه جوابونه لیکلې دی، اول دا چه کیدې شی دا واقعه د عمل کثیر د تحریم نه وړاندې وی ځکه چه یوه زمانه هغه وه په کومه کښې چه کلام فی الصلوة او عمل کثیر فی الصلوة جائز وو روستو دا ټول منسوخ شو، دویم جواب دا دې چه کیدې شی دا واقعه د تحریم نه روستو وی خو چونکه عمل کثیر د مونځ د مصلحت دپاره وو نو ځکه دې لره مغتفر اوګرځولې شو.

بحث ثامن: اختلاف الروایات فی مدة النسخ،

بحث تاسع: صلوته علیه الصلوة والسلام بمکة این کانت ای فی ایّ جانب، دا دواړه بحثونه وړاندې تیر شوې دی په کتاب الاذان کښې.

بحث عاشر:

هغه کوم احکام دی په کومو کښې چه د نسخې وقوع دوه یا درې ځلې شوې، د یو قول په بناء باندې تحویل قبله هم د دې قبیلې نه ده د دې بیان په باب الوضوء مما مست النار کښې

تیر شوي دي، تلك عشرة كاملة فلله الحمد والمنة.

قوله، فمالوا كما هم ركوع الى الكعبة، په دې کښې کاف دمفاجاة او مبادرة دپاره دی او د رکوع لفظ د راکع جمع ده یعنی اعلان اوریدو سره هغه خلق سمدستی د رکوع په حالت کښې کعبې طرف ته اوګرځیدل، د دې حدیث نه ډیر فوائد مستفاد شو کوم چه د حدیث شارحینولیکلې دی یودهغې نه دا دې چه د نسخې حکم د مکلف په حق کښې تر هغه وخت پورې ثابت نۀ وی ترڅو پورې چه دۀ ته اطلاع نۀ وی، اوګورئ دلته نسخ د قبلې یوه ورځ وړاندې شوې وه خو اهل قبا ته د دې خبر ورپسې ورځ باندې د صبا په مانځه کښې اوشو نو بیا هغوی په دې باندې عمل شروع کړو او د دېنه وړاندې هغوی په خپل اجتهاد او د استصحاب حال په توګه باندې د بیت المقدس طرف ته مونځ کولو حال دادې چه د دوئ دا اجتهاد غلط وو نو څکه فقهاؤ دا مسئله مستبط کړې ده چه د قبلې په حقله که په تحری او اجتهاد کښې غلطی واقع شی نو هغه معاف ده د ائمه مذاهب په دې کښې تیر شوې دی.

تفريع أبواب الجمعة

د جُمعې مبارکې احکام او مسائل

بَابٌ فَضْلِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ وَلَيْلَةِ الْجُمُعَةِ

باب دی په بیان د فضیلت د ورځ د جمعې کې او په شپې د جمعه کې

ماقبل سره مناسبت:

تراوسه پورې د صلوة خمسه او هغې سره متعلق احکامو او مسائلو بیان روان وو اوس د دې ځائې نه مصنف د صلوات مخصوصه لکه جمعه او استسقاء، کسوف او د عیدینو بیان شروع کوی د تفریع معنی تفصیل او تجزیه ده، کوم مضمون چه تفصیل غواړی او د هغې په باره کښې مصنف قصد د ګڼړو ابوابو قائمولو وی نو د هغې په شروع کښې مصنف اکثر د تفریع لفظ راوړی لهذا دا عنوان په منزله د کتاب دې لکه څنګه چه د هغې د لاندې ډیر بابونه دی دغه شان په دې کښې هم څو بحثونه دی.

بحث اول: د ما قبل سره مناسبت

د ماقبل سره مناسبت، د دې بیان اوس پورته ذکر شو.

بحث ثاني: د لفظ جمعه تحقيق

د جمعه د لفظ لغوی تحقیق او وجه تسمیه، دا مضمون په کتاب الطهارة باب غسل الجمعة کښې تیر شوې دې.

بحث ثالث: خصائص الجمعة

حافظ ابن قیم په زاد المعاد کښې د جمعې د ورځې دري دیرش، ۳۳، خصوصیات ذکر کړې دی په هغې کښې حافظ ابن حجر د پنځویشتو اختصار کړې دې کوم چه حضرت په بذل المجهود کښې نقل فرمائیلې دی، او علامه سیوطی رحمه الله په دې باندې یوه مستقله رساله لیکلې ده، اللمعة من خصائص الجمعة، په دې کښې هغوی د جمعې سره متعلق سل، ۱۰۰، خصائص او احکام ذکر فرمائیلې دی.

بحث رابع: د افضل الايام مصداق او د دې تعين

نو زده کول پکار دی چه په دې سلسله کښې روايات مختلف دی، مصنف په دې باب کښې د دینه چه رومبې کوم حديث ذکر کړې دې د هغې معلومیږی چه افضل الايام د جمعې ورځ ده، حافظ منذری ليکی چه د دې حديث تخريج د امام ابوداؤد نه علاوه امام ترمذی او نسائی هم کړې دې، او امام ترمذی رحمه الله فرمائيلې دی چه هذا حديث صحيح، او امام بخاری رحمه الله د دې حديث يوه ټکړه کومه چه د جمعې د اجابت د وختونه سره متعلق ده هغه ذکر کړې ده، او امام مسلم رحمه الله د دې حديث روميئ حصه، خير يوم طلعت عليه الشمس يوم الجمعة، ذکر فرمائيلې ده، شوکانی فرمائی چه د دې حديث نه معلومیږی چه يوم الجمعة افضل الايام ده او په دې سره جزم کړې دی ابن العربی خو په صحيح د ابن حبان کښې د عبدالله بن قرط حديث سره مرفوعا مروی دی، افضل الايام عند الله تعالى يوم النحر، او په صحيح د ابن حبان کښې د جابر رضی الله عنه نه مرفوعا راغلې دی، ما من يوم افضل عند الله تعالى من يوم عرفة، حافظ عراقی په دې مختلفو روايتونو کښې جمع داسې کړې ده چه داسې اووئيلې شی چه ايام اسبوع (هفته) کښې يوم الجمعة افضل ده، او د ټول کال په ورځو کښې يوم عرفه افضل ده يا يوم النحر، دغه شان هغوی دا هم فرمائيلې دی چه د يوم الجمعة د افضليت حديث زيات صحيح دی.

[١٠٤٦](1)حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْهَادِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "خَيْرُ يَوْمٍ طَلَعَتْ فِيهِ الشَّمْسُ يَوْمُ الْجُمُعَةِ، فِيهِ خُلِقَ آدَمُ، وَفِيهِ أُهْبِطَ وَفِيهِ تِيبَ عَلَيْهِ، وَفِيهِ مَاتَ، وَفِيهِ تَقُومُ السَّاعَةُ، وَمَا مِنْ دَابَّةٍ إِلَّا وَهِيَ مُسِيخَةٌ يَوْمَ الْجُمُعَةِ مِنْ حِينَ تُصْبِحُ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ شَفَقًا مِنَ السَّاعَةِ إِلَّا الْجِنَّ وَالْإِنْسَ، وَفِيهِ سَاعَةٌ لَا يُصَادِفُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ وَهُوَ يُصَلِّي يَسْأَلُ اللَّهَ حَاجَةً إِلَّا أَعْطَاهُ إِيَّاهَا". قَالَ كَعْبٌ: ذَلِكَ فِي كُلِّ سَنَةٍ يَوْمٌ؟ فَقُلْتُ: بَلْ، فِي كُلِّ جُمُعَةٍ، قَالَ: فَقَرَأَ كَعْبٌ التَّوْرَاةَ، فَقَالَ: صَدَقَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: ثُمَّ لَقِيتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ سَلَامٍ فَحَدَّثْتُهُ بِمَجْلِسِي مَعَ كَعْبٍ، فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَلَامٍ: قَدْ عَلِمْتُ أَيَّةَ سَاعَةٍ هِيَ، قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: فَقُلْتُ لَهُ: فَأَخْبِرْنِي بِهَا، فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَلَامٍ: هِيَ آخِرُ سَاعَةٍ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ، فَقُلْتُ: كَيْفَ هِيَ آخِرُ سَاعَةٍ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ، وَقَدْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يُصَادِفُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ وَهُوَ يُصَلِّي" وَتِلْكَ السَّاعَةُ لَا يُصَلِّي فِيهَا؟ فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَلَامٍ: أَلَمْ يَقُلْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ جَلَسَ مَجْلِسًا يَنْتَظِرُ الصَّلَاةَ فَهُوَ فِي صَلَاةٍ حَتَّى يُصَلِّيَ"؟ قَالَ: فَقُلْتُ: بَلَى، قَالَ: هُوَ ذَاكَ.

د ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دی هغه ويلې دې، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ويلې دي: بهترينه ورځ چې نمر په هغې کې راختلی دی ورځ د جمعې ده، په هغې کې آدم پيدا شوی دی او په هغې کې راخکته شوی دی، او په هغې کې يې توبه قبوله شوې ده، او په هغې کې وفات شوی دی،

(1): سنن الترمذي/الجمعة ٢ (٤٩١)، سنن النسائي/الجمعة ٤٤ (١٤٣١)، (تحفة الأشراف: ٢٠٢٥، ١٥٠٠٠)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الجمعة ٣٧ (٩٣٥)، والطلاق ٢٤ (٥٢٩٤)، والدعوات ٦١ (٦٤٠٠)، (في جميع المواضع مقتصراً علي قوله: فيه الساعة ...) صحيح مسلم/الجمعة ٤ (٨٥٢)، ٥ (٨٥٤ ببعضه)، سنن النسائي/الجمعة ٤ (١٣٧٤)، ٤٥ (١٤٣١)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٩٩ (١١٣٧)، موطا امام مالك/صلاة الجمعة ٧ (١٦)، مسند احمد (٢/٢٣٠، ٢٥٥، ٢٥٧، ٢٧٢، ٢٨٠، ٢٨٤، ٤٠١، ٤٠٣، ٤٥٧، ٤٦٩، ٤٨١، ٤٨٩)، سنن الدارمي/الصلاة ٢٠٤ (١٦١٠) (صحيح)

او په دې کې به قیامت قائمېږي،نشته هېڅ یوه دابه مگر هغه چغې وهي په ورځ د جمعه کې، د صباح نه واخله تر نمر ختلو پورې د وجې د ویرې د قیامت نه، مگر پیران او انسانان نه، او په دې کې یو ساعت دی چې نه مخ کېږي د هغې سره بنده مسلمان او هغه مونځ کوي او سوال وکړي د الله نه د څه حاجت، مگر وربه کړي هغه هغه ته. ویلي دي کعب: دا په ټول کال کې هره ورځ، ما وویل: بلکه په هره جمعه کې. هغه وایي: چې کعب تورات ولوستلو، هغه وویل: چې نبي ﷺ رشتیا ویلي دي، ویلي دي ابوهریره: بیا زه مخامخ شوم د عبد الله بن سلام سره نو ورته بیان وکړو زما د مجلس د کعب سره، نو وویل عبد الله بن سلام: یقیناً ماته پته ده چې هغه کوم ساعت دی، وویل ابو هریره: ما وویل هغه ته: ماته د هغې خبر راکړه، نو وویل عبد الله بن سلام: دا اخیري ساعت دی د ورځې د جمعې نه، او بېشکه رسول الله ﷺ ویلي دي: نه مخامخ کېږي ورسره د مانځه په حالت کې. او په دغه وخت کې مونځ نه کوي، وویل عبد الله بن سلام: آیا نه وو ویلي رسول الله ﷺ څوک چې کېناستلو چې انتظاریي کولو د مانځه تردې چې مونځ وکړي، هغه وایي: چې ما وویل: ولې نه، هغه وویل: هغه هم دا دی.

په شرح د حدیث کښې د شراحو دوه قوله دی:

قوله، فیه خلق آدم و فیه اهبط. الخ: د جمعې په ورځې راتلونکی د کومو کارونو ذکر چه په دې حدیث کښې دې ددې په حقله د شراحو دوه قوله دی کوم چه امام نووی نقل کړې دی،

۱: دقاضی عیاض رائې دا ده چه د دې امورو ذکر کولو مقصود د دې ورځې فضیلت ثابتول نهٔ دی بلکه کوم لوئې کارونه چه په دې ورځ پیښیدونکې یا راتلونکی دی صرف د هغې اطلاع ورکول مقصود دی دې دپاره چه انسان په دې ورځ باندې اعمال صالحه کولو دپاره تیار شی د نعمت د حصول دپاره او د نقمة یعنی د ضرر د لرې کولو دپاره، ځکه چه د آدم ﷺ د جنت نه وتل او په دې ورځ باندې قیامت قائمیدل دا څهٔ د فضیلت خبره نهٔ ده.

۲: د دې په مقابله کښې دابوبکر بن العربی رائې په عارضة الاحوذی شرح د ترمذی کښې دا ده چه دا ټول امور د فضیلت د ثابتولو دپاره ذکر کړې شوې دی ځکه چه د آدم ﷺ د جنت نه وتل او دنیا ته راتلل د لوئې نسل او د آولاد په وجود کښې د راتلو سبب دې کوم چه په انبیاء او اولیاء باندې مشتمل دې، دغه شان د هغوې د جنت نه وتل طردا نهٔ وو بلکه د څهٔ وخت دپاره د حوائجو پوره کولو دپاره وو او بیا هم هلته واپس تلل وؤ، دغه شان د اهل حق جنت کښې داخلیدل او د اهل باطل په جهنم کښې داخلیدل دا د قیامت په ورځ باندې موقوف دی لهذا د دې نه د دې ورځې فضیلت ظاهر دې.

قوله، و ما من دابة الا وهی مسیخة یوم الجمعة من حین تصبح حتی تطلع الشمس شفقا من الساعة الا الجن والانس، یعنی د جمعې په ورځ د صبح صادق نه واخله تر نمر ختلو وخت پورې څومره حیوانات چه دی غیر د جن او انس نه هغوی غوږونه لګولې وی (د شپیلۍ آواز اوریدلو دپاره) د قیامت د ویرې نه ځکه چه قیامت به په دې ورځ راځی لکه څنګه چه د دې نه وړاندې حدیث کښې تیر شوی دی، د دینه دا هم معلومه شوه چه د قیامت وقوع به د

جمعې په ورځ د صبح صادق په وخت کښې وی، دا ډیر د عبرت ځائې دې چه د قیامت ویره او د دې فکر عامو ځناورو ته خو وی او انسان ته نۀ وی.

وړاندې په دې حدیث کښې د اجابت د وختونو ذکر دې کومو لره په اوریدلو سره کعب احبار (چه دمخضرمینو نه دې د ابوبکر صدیق رضی الله عنه په زمانه کښې ئې اسلام راوړلو او د توراة لوئې عالم وو) هغه ابوهریره رضی الله عنه مخاطب کولو سره اوئیل او وائی چه دا د اجابت وختونه په کال کښې صرف یو جمعه کښې وی ابوهریره رضی الله عنه اوفرمائیل نۀ په هره جمعه کښې وی نو په دې باندې کعب توراة راپورته کړو او وئې کتلو او بیا ئې د ابوهریره رضی الله عنه تصدیق اوکړو او وئې وئیل، صدق رسول الله صلی الله علیه وسلم، د دینه معلومه شوه چه شریعت محمدیه د مخکښنی آسمانی کتابونو دپاره مصدق دې، او داسې هم وئیلې شی چه مخکښنې آسمانی کتابونه د دې دپاره مصدق دی. قال ابوهریرة رضی الله عنه ثم لقیت عبدالله بن سلام، حضرت ابوهریره رضی الله عنه روستو د عبدالله بن سلام رضی الله عنه سره ملاؤ شو او کومې خبرې اترې چه د دوئ د کعب احبار سره شوې وې هغه ئې دوئ ته ذکر کړې په دې باندې عبدالله بن سلام رضی الله عنه اوفرمائیل زۀ پیژنم چه هغه کوم وخت دې، د ابوهریره رضی الله عنه په تپوس کولو سره هغوی اوښودل چه هغه د جمعې د ورځې آخری وختونه دی

وړاندې د حدیث مضمون واضح دې.([1])

[۱۰۴۷]([2])حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ عَلِيٍّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ بْنِ جَابِرٍ، عَنْ أَبِي الْأَشْعَثِ الصَّنْعَانِيِّ، عَنْ أَوْسِ بْنِ أَوْسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ مِنْ أَفْضَلِ أَيَّامِكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، فِيهِ خُلِقَ آدَمُ، وَفِيهِ قُبِضَ، وَفِيهِ النَّفْخَةُ، وَفِيهِ الصَّعْقَةُ، فَأَكْثِرُوا عَلَيَّ مِنَ الصَّلَاةِ فِيهِ فَإِنَّ صَلَاتَكُمْ مَعْرُوضَةٌ عَلَيَّ" قَالَ: قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَكَيْفَ تُعْرَضُ صَلَاتُنَا عَلَيْكَ وَقَدْ أَرِمْتَ؟ يَقُولُونَ: بَلِيتَ، فَقَالَ: "إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ حَرَّمَ عَلَى الْأَرْضِ أَجْسَادَ الْأَنْبِيَاءِ".

د اوس بن اوس نه روایت دی هغه وئیلي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وئیلي دي: بېشکه ستاسو په ورځو کې بهترینه ورځ د جمعې ده، په دې کې ادم پیدا شوی دی، او په هغې کې

[1] دا روایت دلته مختصر دې پوره مفصل روایت په نسائی شریف، ص، ۲۱۰، کښې دې په هغې دا هم دي چه ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چه زۀ یو ځل کوه طور ته اورسیدلم ما هلته کعب احبار اوموندلو یوه ورځ هلته ایسار اوم ما هغوی ته د حضور صلی الله علیه وسلم حدیثونه واورول او هغه ماته توراة اوروُلو د دې په ضمن کښې ابوهریره رضی الله عنه هغوی ته د جمعې د ورځې د فضیلت حدیث هم واورولو په کوم باندې چه کعب احبار اووئیل دا وختونه د اجابت په کال کښې صرف یو ځل وی او په دې کښې دا هم دی چه په واپسئ کښې زما لیدل د عبدالله بن سلام رضی الله عنه سره اوشو او ما هغوی ته عرض اوکړو چه زۀ د کوه طور ته واپس راروان یم هلته زما د کعب احبار سره لیدل اوشول، او څۀ خبرې اترې چه د هغۀ سره شوې وې هغه چه کله عبدالله بن سلام رضی الله عنه ته نقل کولې نو کله ئې چه نقل کولې تر دې چه اورسیدو دې پورې چه کعب احبار دا وئیلي وو چه، ذالك یوم فی کل سنة، نو په دې باندې سمدستی عبد الله بن سلام رضی الله عنه اووئیل، کذب کعب، بیا وړاندې ابوهریره رضی الله عنه پوره خبره اوښودله چه آو ما هم د هغۀ تردید کړې وو او روستو بیا هغوی دا اومنله. ۱۲ منه.

[2]: سنن النسائي/الجمعة ٥ (١٣٧٥)، سنن ابن ماجه/الجنائز ٦٥ (١٦٣٦)، (تحفة الأشراف: ١٧٣٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٨/٤)، سنن الدارمي/الصلاة ٢٠٦ (١٦١٣) (صحيح)

وفات شوی دی، او په هغې کې قیامت دی، او په هغې بېهوشه کیدل دي، زیات کړئ په ما باندې درود په دې کې، بېشکه ستاسو درود پیش کېږي په ما باندې. هغه وایي: چې وویل دوی: ای د الله رسوله، او څنګه به زمونږ درود پیش کېږي په تا باندې او بېشکه ته به زوړ شوی یې. هغوی وایي: ته به زوړ شوی یې؟ هغه وویل: بېشکه الله عز وجل حرام کړي دي اجساد د انبیاو.

قوله، و فیه النفخة و فیه الصعقة:

شرح حدیث او د نفخاتو په شمیر کښې د علماء اختلاف:

د نفخه نه مراد نفخة البعث ده کومې ته چه نفخة الاحیاء هم وئیلې کیږي یعنی نفخه ثانیه په کوم سره به چه ټول خلق ژوندې شي او د قبرونو نه به راپاسي، او د صعقې نه مراد نفخة الصعق ده یعنی نفخه اولی په کومې سره به چه ټول ذی روح څیزونه مړ شي، کما فی قوله تعالی و نفخ فی الصور فصعق من فی السمٰوٰت و من فی الارض الا من شاء الله ثم نفخ فیه اخری فاذا هم قیام ینظرون، د دې آیت نه بظاهر هم دا معلومیږي چه نفخة الصعق نفخه اولی ده په کومې سره به چه ټول مړۀ شی د دینه پس به شپیلۍ پوك وهلې شی په کومې سره به چه ټول ژوندې شی کومې ته چه نفخة البعث وئیلې کیږي، خو د آیت شریف ترتیب خو د قیاس مطابق دې چه اول ئې اولا ذکر کړو ثانی ئې ثانیاً، خو په حدیث کښې ترتیب د دې برعکس دې، پوهیدل پکار دی چه د نفخاتو په عدد کښې اختلاف دې دوه خو متفق علیه دی نفخة الاماتة او نفخة البعث، (نفخة الاحیاء) او د بعضې علماؤ رائې دا ده چه نفخات درې دی دوه خو هغه کومې چه پورته ذکر شوې او یوه به د دې دواړو نه رومبې وی په کومې سره به چه په زمکه باندې زلزله راشی او تسییر الجبال او تکویر شمس او انکدار نجوم او تسجیر البحار وغیره لوئې کارونو وقوع به کیږي خو په دې نفخې سره به خلق مری نۀ خو سخت حیران او سرګردانه به شی بیا به د دې نه پس نفخه ثانیه او ثالثه اوموندلې شی د کومو ذکر چه په حدیث کښې دې او بعضو څلورم او پنځم قسم هم ذکر کړې دې د کومو تفصیل چه په لامع الدراری، ص، ۴۷، ج، ۳، کښې دې.

۲: حدثنا هارون بن عبدالله. الخ، قوله، فاکثروا علی من الصلوة فیه، د دینه د جمعې په ورځ په خاص توګه د صلوة علی النبی ﷺ ماموربه کیدل معلومیږي، او په نورو ډیرو روایتونو کښې هم د جمعې په ورځ خصوصیت سره د درود ترغیب راغلې دې.

باب الإجابة أية ساعة هي في يوم الجمعة

باب دی په بیان د اجابت کښې چې دا کوم ساعت دی د جمعې په ورځ

د جمعې د ورځې فضیلت د دې وجه نه هم دې چه په دې کښې یو وخت د اجابت دې په کوم کښې چه کومه دعاء هم د الله تعالی نه اوغواړی حضور ﷺ فرمائیلې دی هغه قبلیږي، د دې اجابت د وخت ذکر په صحیحینو بلکه په ټولو صحاح سته کښې موجود دې، البته د دې وخت په تعین کښې په روایاتو کښې ډیر اختلاف دې.

[۱۰۴۸](¹)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي عَمْرٌو يَعْنِي ابْنَ الْحَارِثِ، أَنَّ الْجُلَاحَ مَوْلَى عَبْدِ الْعَزِيزِ حَدَّثَهُ، أَنَّ أَبَا سَلَمَةَ يَعْنِي ابْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ حَدَّثَهُ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "يَوْمُ الْجُمُعَةِ ثِنْتَا عَشْرَةَ يُرِيدُ سَاعَةً لَا يُوجَدُ مُسْلِمٌ يَسْأَلُ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ شَيْئًا إِلَّا آتَاهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ، فَالْتَمِسُوهَا آخِرَ سَاعَةٍ بَعْدَ الْعَصْرِ".

د جابر بن عبد الله نه روایت دی، هغه روایت کوي د رسول الله ﷺ نه، بېشکه هغه ویلي دي: دجمعي ورځ دولس ـ دده اراده دساعت وه، نه موندل کېږي هېڅ مسلمان چي سوال کوي دالله عز وجل نه دخه شي، نو ولټوئ هغي لره په اخرني ساعت کي وروسته د مازيگر نه.

[۱۰۴۹](²)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي مَخْرَمَةُ يَعْنِي ابْنَ بُكَيْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ بْنِ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ، قَالَ: قَالَ لِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ: أَسَمِعْتَ أَبَاكَ يُحَدِّثُ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي شَأْنِ الْجُمُعَةِ؟ يَعْنِي السَّاعَةَ، قَالَ: قُلْتُ: نَعَمْ، سَمِعْتُهُ يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "هِيَ مَا بَيْنَ أَنْ يَجْلِسَ الْإِمَامُ إِلَى أَنْ تُقْضَى الصَّلَاةُ". قَالَ أَبُو دَاوُد: يَعْنِي عَلَى الْمِنْبَرِ.

د ابو بردة بن ابي موسى الاشعري نه روایت دی هغه ویلي دي، وويل ماته عبد الله بن عمر: ايا تا د خپل پلار نه اوريدلي دي چي د رسول الله ﷺ نه حديث بيانوي په باره د جمعي کي ـ يعني هغه ساعت ـ؟ هغه وايي: چي ما وويل: آو، ما د هغه نه اوريدلي دي چي ويل يي: ما اوريدلي دي د رسول الله ﷺ نه چي ويل يي: هغه د وخت د کېناستلو د امام نه تر پوره کېدو د مانځه پوري دی. ویلي دي ابوداود. يعني په منبر باندي.

ساعت اجابت کښې اقوال او دقول راجح تعین سره د وجه د ترجیح نه:

حافظ ابن حجر په دې کښې دوه څلوېښت اقوال په تفصیل سره لیکلي دي او د هر قول په حقله ئې د حديثو د کتابونو نه روایتونه پیش کړي دی،(³) او بیا په آخر کښې د يو بل قول اضافه کړې ده د کوم په حقله چه هغه فرمائی چه هغه ما د شمس الدین الجزری په مشهور کتاب الحصن الحصين کښې ملاؤ شوې دې، صاحب حصن حصین په دې سلسله کښې اتۀ اقواله ذکر کولو نه پس دا لیکلي دی چه زما رائې دا ده چه، انها وقت قراءة الامام الفاتحة فی صلوة الجمعة الى ان يقول امين، او بیا حافظ په آخره کښې لیکلي دی چه په دې ټولو اقوالو کښې ارجح الاقوال دوه قوله دی يو هغه چه کوم په حدیث د ابوموسیٰ اشعری رضی الله عنه کښې مذکور دې او دويم هغه کوم چه د عبدالله بن سلام رضی الله عنه په حدیث کښې دې.

زۀ وایم چه د عبدالله بن سلام رضی الله عنه حدیث خو دلته تیر شوې دې په کوم کښې چه دی، هی آخر ساعة من يوم الجمعة، دا روایت د ابوداؤد نه علاوه په ترمذی او نسائی کښې هم شته دغه شان په ابوداؤد کښې د حضرت جابر رضی الله عنه نه هم مرفوعا هم دا منقول دی او د ابوموسیٰ اشعری رضی الله عنه حدیث وړاندې په ابوداؤد کښې راروان دې چه د کوم الفاظ دا دی، هی ما بين

(¹): سنن النسائي/الجمعة ١٤ (١٣٩٠)، (تحفة الأشراف: ٣١٥٧) (صحيح)
(²): صحيح مسلم/الجمعة ٤ (٨٥٣)، (تحفة الأشراف: ٩٠٧٨) (صحيح)
(³) حضرت سهانپوری رحمه الله په بذل کښې دا ټول اقوال په اختصار او حذف د رواياتو سره ذکر فرمائيلي دی.)١٢منه.

ان يجلس الامام الى ان تقضى الصلوة، يعنى كوم وخت چه امام د خطبه وركولو دپاره په منبر باندې كينى د هغه وخت نه واخلې تر مونځ پوره كولو پورې، حضرت امام شافعى، امام نووى، بيهقى، ابن العربى، قرطبى دې ټولو حضراتو دې لره اختيار كړې دې ځكه چه د عبدالله بن سلام رضی الله عنه حديث خو د سننو روايت دې او د ابوموسى اشعرى رضی الله عنه حديث په احد الصحيحين يعنى صحيح مسلم شريف كښې موجود دې، عرف الشذى كښې ليكلې دى چه امام ابوحنيفه او احمد د سنن روايت لره اختيار كړې دې[1]

امام ترمذى د امام احمدنه نقل كړې دى چه، اكثر الاحاديث على ذالك، ددې قول واله دا وائى چه دصحيحين يا احد الصحيحين روايت لره ترجيح هغه وخت وى كله چه محدثينو نقد نۀ وى كړې او دلته داسې نۀ ده بلكه دابوموسى په حديث باندې جرح كړې شوې ده چه صحيح داده چه هغه د ابوبرده رضی الله عنه قول دې دمخرمه نه علاوه بل چا دا مرفوعاً نۀ دې روايت كړې، دغه شان منقطع هم دې ځكه چه د مخرمه سماع د خپل پلار نه ثابته نۀ ده، او بعضو رواتو دې لره موقوفا على ابى موسى روايت كړې دې، غرض دا چه د مسلم روايت معلل دې.

د دې ټولو اقوالو نه يو قول دا دې چه دا ساعت اوس باقى نۀ دې پاتې شوې په شروع كښې د حضور صلی الله علیه وسلم په وخت كښې وو روستو پورته كړې شو، خو محدثين لكه قاضى عياض او ابن القيم ابن عبدالبر وغيره حضراتو د دې قول ترديد فرمائيلې دې چه دا غلط دې، ابن القيم فرمائى چه دا خو وئيلې شى چه د دې تعين پورته كړې شوې لكه څنګه چه په يو روايت كښې دى، ثم النسيتها، رواه الحاكم، او داصل ساعت په حقله دا وينا غلطه ده، چنانچه د يو جماعت رائې دا ده چه دا ساعت د جمعې په ورځ كښې پټ دې د دې صحيح علم چا ته نشته دې په شان د ليلة القدر او اسم اعظم لهذا دجمعې په ورځ كثرت سره دعاء كول پكار دى په دې اميد او طمع باندې چه ساعت د اجابة ميسر شى درافعى او صاحب مغنى ميلان هم دې طرف ته دې.

بَاب فَضْلِ الْجُمُعَةِ

باب دى په بيان د فضيلت د جمعې كې

مقصود د جمعې د مونځ فضيلت لره بيانول دى، او مصنف په دې باب كښې چه كوم حديث ذكر كړې دې په دې كښې دصلوة جمعه او خطبه د دوارو فضيلت مذكور دې، امام بخارى هم دا ترجمه قائمه كړې ده او بيا په دې باب كښې هغوى تبكير الى الجمعة واله روايت ذكر فرمائيلې دې، فكانما قرب بدنة فكانما قرب بقرة،الخ،

[۱۰۵۰] ([2]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ، ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ فَاسْتَمَعَ وَأَنْصَتَ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَ الْجُمُعَةِ إِلَى

---

[1]) دغه شان اسحاق بن راهويه و من المالكية الطرطوشي و حكي العلائي ان شيخه ابن الزملكاني شيخ الشافعية في وقته كان يختاره و يحكيه عن نص الشافعي و قال ابن عبد البر انه اثبت شئ في هذا الباب)۱۲_

[2]): صحيح مسلم/الجمعة ۸ (۸۵۷)، سنن الترمذي/الجمعة ۵ (۴۹۸)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۶۲ (۱۰۲۵)، ۸۱ (۱۰۹۰)، (تحفة الأشراف: ۱۲۵۰۴)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۴۲۴) (صحيح)

الْجُمُعَةِ، وَزِيَادَةَ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ، وَمَنْ مَسَّ الْحَصَى فَقَدْ لَغَا".

د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه ويلي دي، چې رسول الله ﷺ ويلي دي: چا چې اودس وکړو او ښائسته اودس يې وکړو، بيا جمعې مانځه ته راغی غوږيې کېښوده او چوپ شو نو وبه بخښل شي هغه ته مابين د دې جمعې کې تر بلې جمعې پورې، او درې ورځې نورې، او چا چې کانی مس کړو نو هغه لغوه کار وکړو.

[۱۰۵۱] (۱) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا عِيسَى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ يَزِيدَ بْنِ جَابِرٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي عَطَاءٌ الْخُرَاسَانِيُّ، عَنْ مَوْلَى امْرَأَتِهِ أُمِّ عُثْمَانَ، قَالَ: سَمِعْتُ عَلِيًّا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَلَى مِنْبَرِ الْكُوفَةِ، يَقُولُ: "إِذَا كَانَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ غَدَتِ الشَّيَاطِينُ بِرَايَاتِهَا إِلَى الْأَسْوَاقِ فَيَرْمُونَ النَّاسَ بِالتَّرَابِيثِ أَوِ الرَّبَائِثِ، وَيُثَبِّطُونَهُمْ عَنِ الْجُمُعَةِ، وَتَغْدُو الْمَلَائِكَةُ فَيَجْلِسُونَ عَلَى أَبْوَابِ الْمَسْجِدِ، فَيَكْتُبُونَ الرَّجُلَ مِنْ سَاعَةٍ وَالرَّجُلَ مِنْ سَاعَتَيْنِ حَتَّى يَخْرُجَ الْإِمَامُ، فَإِذَا جَلَسَ الرَّجُلُ مَجْلِسًا يَسْتَمْكِنُ فِيهِ مِنَ الِاسْتِمَاعِ وَالنَّظَرِ فَأَنْصَتَ وَلَمْ يَلْغُ كَانَ لَهُ كِفْلَانِ مِنْ أَجْرٍ، فَإِنْ نَأَى وَجَلَسَ حَيْثُ لَا يَسْمَعُ فَأَنْصَتَ وَلَمْ يَلْغُ كَانَ لَهُ كِفْلٌ مِنْ أَجْرٍ، وَإِنْ جَلَسَ مَجْلِسًا يَسْتَمْكِنُ فِيهِ مِنَ الِاسْتِمَاعِ وَالنَّظَرِ فَلَغَا وَلَمْ يُنْصِتْ كَانَ لَهُ كِفْلٌ مِنْ وِزْرٍ، وَمَنْ قَالَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ لِصَاحِبِهِ صَهٍ فَقَدْ لَغَا، وَمَنْ لَغَا فَلَيْسَ لَهُ فِي جُمُعَتِهِ تِلْكَ شَيْءٌ". ثُمَّ يَقُولُ فِي آخِرِ ذَلِكَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ ذَلِكَ. قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، عَنِ ابْنِ جَابِرٍ، قَالَ: بِالرَّبَائِثِ، وَقَالَ مَوْلَى امْرَأَتِهِ أُمِّ عُثْمَانَ بْنِ عَطَاءٍ.

د عطاء الخراساني نه روايت دی، هغه روايت کوي د مولی د ښځې هغه نه چې هغه ام عثمان ده، هغه وايي: ما اوريدلي دي د علي رضي الله عنه نه په منبر د کوفه کې هغه ويل: کله چې شي ورځ د جمعه، روان شي شيطانان د خپلو بيرغونو سره بازارونو ته، خلق ولي په موانعو سره، او دوی وروسته کوي د جمعې نه، او ځي ملائکې سحر او کيني په دروازو د مسجد کې، هغوی ليکي سړي لره د يو ساعت نه، او سړی د دوه ساعتونو نه، تردې چې امام راوځي، کله چې کيني سړی په داسې ځای کې چې قادر وي په هغې کې د اوريدو نه او د نظر کولو نه امام ته، او چوپ شي او لغوه ونه کړي وي به د هغه لپاره دوه حصې د اجر وي، که چيرې لرې شو او کېناستلو په داسې ځای کې چې آواز نه اوري او چوپ شو او لغوه يې ونه کړه د هغه لپاره يو اجر دی، او که چېرې په داسې ځای کې کېناستلو چې په کتلو او اوريدلو قادر وو او لغوه يې وکړه او چوپ نه شو نو وې به د هغه لپاره يوه حصه د ګناه نه، او چا چې ووېله خپل ملګري په ورځ د جمعه کې: چې چوپ شه، بېشکه هغه لغوه وکړه، او چا چې لغوه وکړه نو نشته د هغه لپاره د جمعې د هغه نه هېڅ شی. بيا به يې ويل په اخير د هغې کې: ما اوريدلي دي د رسول الله ﷺ نه دغه يې ويل. ويلي دي ابوداود: د دې روايت کړې دی وليد بن مسلم د ابن جابر نه هغه ويلي دي: بالربائث، او هغه ويلي دي مولی د ښځې د هغه چې مور د عثمان بن عطاء ده.

مضمون حديث:

قوله، اذا كان يوم الجمعة غدت الشياطين براياتها الى الاسواق: يعنی چه کله د جمعې ورځ وی نو د شيطانانو ډلې په خپلو مخصوصو جهنډو او علامو سره سحر وختی بازارونو طرف ته اوځی

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۰۳۴۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۹۳/۱) (ضعيف)

دې دپاره چه کوم خلق بازارونو ته د خپلو خپلو ضرورتونو دپاره راغلی دی یا هم په بازارونو کښې دکانو باندې کارونه کوی نو د هغوی دپاره دا شیطانان موانع او بندونه پیدا کړی د جمعې طرف ته د تلونه، او ددې په مقابله کښې فرښتې د جمعې په ورځ دسحر نه د جوماتونو په دروازو باندې لاړې شی او کینی دې دپاره چه د هر راتلونکی نوم د هغهٔ په خانه کښې اولیکی، په رومبی وخت کښې راتلونکی نوم د هغهٔ په خانهٔ کښې او په دویم وخت کښې د راتلونکی نوم په دویمه خانه کښې و هکذا، او دا د نومونو لیکلو سلسله د خطیب منبر ته د رسیدلو پورې وی د دینه پس فرښتې خپلې صحیفې او رجسرونه رااونغاړی او کیږدی.
قوله، بالترابیث او الربائث، اول د تربیثه جمع ده او ثانی د ربیثه جمع ده، تربیثه په معنی د بندولو او ربیثه په معنی د مانع او عارض.

بَابُ التَّشْدِيدِ فِي تَرْكِ الْجُمُعَةِ

باب دی په بیان د تشدید کې په پرېښودلو د جمعه کې

[۱۰۵۲] (۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: حَدَّثَنِي عَبِيدَةُ بْنُ سُفْيَانَ الْحَضْرَمِيُّ، عَنْ أَبِي الْجَعْدِ الضَّمْرِيِّ وَكَانَتْ لَهُ صُحْبَةٌ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ تَرَكَ ثَلَاثَ جُمَعٍ تَهَاوُنًا بِهَا طَبَعَ اللَّهُ عَلَى قَلْبِهِ".

د ابوالجعد الضمري نه روایت دی، اودهغه صحبت وو، بېشکه رسول الله ﷺ ویلي دي: چا چې درې جمعې پرېښودې د وجې دسپکوالي دهغې نه، نو الله به مهر ولګوي د هغه په زړه.
قوله. من ترک ثلاث جمعٍ تهاونا بها طبع الله علی قلبه،

شرح حدیث:

د تهاون نه مراد تساهل او عدم اهتمام دې یعنی کوم سړې چه صرف د غفلت او سستئ د وجه نه بغیر د شرعی عذر نه د درېو جمعو مونځ ترک کړی نو الله تعالی د دهٔ په زړهٔ باندې مهر اولګوی، یعنی داسې سړې په قساوت قلب یعنی د زړهٔ په سختوالی کښې اخته شی د کوم د وجه نه چه بیا د خیر خبره دننه نهٔ ننوځی، او د طبع نه مراد د کفر مهر نهٔ دې لکه څنګه چه په آیت کریمه کښې دی، ختم الله علی قلوبهم و علی سمعهم الاية، ځکه چه د جمعې په ترک کولو سره سړې کافر کیږی نهٔ، او هم داسې د تهاون نه مراد استخفاف او اهانت نهٔ دې ځکه چه استخفاف خو د یوې جمعې هم کفر دې بیا د دریو قید څنګه دې؟ او هم داسې د طبع نه هم دکفر مهرمراد نهٔ شی اغستلې خو البته دلته د ثلاثا قید که نهٔ وې نو دا ممکنه وه چه د تهاون نه مراد استخفاف او دطبع نه مراد طبع د کفر واغستلې شی، والله تعالی اعلم.
په دې حدیث کښې د ثلاث سره د متوالیا قید مذکور نهٔ دې ځکه چه علماؤ لیکلې دی چه که یو سړې په ټول کال کښې د یوې جمعې مونځ هم ترک کړی او بیا دویم کال کښې د دویمې جمعې او په دریم کال کښې د دریمې جمعې نو بیا به هم هغه د دې وعید مستحق

[1]): سنن الترمذي/ الصلاة ۲٤۲ (الجمعة ۷) (۵۰۰)، سنن النسائي/الجمعة ۲ (۱۳۷۰)، سنن ابن ماجه/اقامة الصلاة ۹۳ (۱۱۲۵)، (تحفة الأشراف: ۱۱۸۸۳)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الجمعة ۹ (۲۰)، مسند احمد (۳/٤۲٤)، سنن الدارمي/الصلاة ۲۰۵ (۱۶۱۲) (حسن صحيح)

وی، اللهم احفظنا منه، البته په مسند الفردوس کښې یو مرفوع حدیث کښې کوم چه د حضرت انس رضی الله عنه نه مروی دې متواليا قيد په کښې شته دې، من ترك ثلاث جمع متواليات (من المنهل)

بَابُ كَفَّارَةِ مَنْ تَرَكَهَا

باب دی په بیان د کفارې د هغه چا کښې چې جمعه پرېږدي

د جمعې ترک کول بغیر د عذر نه ظاهره ده چه گناه کبیره ده رومبې خو د مسلمان نه د دې کیدل نۀ دی پکار او که اوشی نو د دې دتلافی دپاره توبه او استغفار لازم دې بلکه د کفارې په توګه دینار یا نیم دینار لکه څنګه چه په حدیث کښې مذکور دی چه د وس مطابق صدقه ورکول غوره دی، او دا امر د ندب او استحباب دپاره دې خو د جمعې د مونځ په بدله کښې قضاء د ماسپخین واجب ده او هم هغه د دې اصل بدل دې.

[۱۰۵۳] (۱) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا هَمَّامٌ، حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، عَنْ قُدَامَةَ بْنِ وَبَرَةَ الْعُجَيْفِيِّ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ تَرَكَ الْجُمُعَةَ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ فَلْيَتَصَدَّقْ بِدِينَارٍ، فَإِنْ لَمْ يَجِدْ فَبِنِصْفِ دِينَارٍ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَكَذَا رَوَاهُ خَالِدُ بْنُ قَيْسٍ، وَخَالَفَهُ فِي الْإِسْنَادِ وَوَافَقَهُ فِي الْمَتْنِ.

د سمرة بن جندب نه روایت دی، هغه روایت کوي د نبي ﷺ نه هغه ویلي دي: چا چې جمعه پرېخوده بغیر د عذر نه نو صدقه دې کړي یو دینار، که چیرې یې نه موندلو نو نیم دینار دې صدقه کړي. ویلي دي ابوداود: او همداسې روایت کړی دی خالد بن قیس، او مخالفت یې ورسره کړی دی په اسناد کې او موافقت یې ورسره کړی دی په متن.

قوله، قال ابوداؤد و هكذا رواه خالد بن قيس خالفه فى الاسناد و وافقه فى المتن،

د قول ابوداؤد تشریح:

د دې حدیث په سند او متن دواړو کښې د رواتو اختلاف دې، د متن اختلاف د همام په روایت کښې داسې دې، فليتصدق بدينار و ان لم يجد فبنصف دينار، او په دویم روایت کښې د دینار په ځائې د درهم لفظ دې، او په هغې کښې دصاع حنطة او نصف صاع اضافه ده او وراندې یو دریم روایت کښې د کوم راوی چه سعید بن بشر دی په هغې کښې د مُد او نصف مد ذکر دې، او په سند کښې د اختلاف تفصیل دا دې چه د دې حدیث مدار په قتاده باندې دې د قتاده نه روایت کونکی ګڼر دی یو همام دې د چا روایت چه د باب په شروع کښې دې هغوی دا د قتاده نه داسې روایت کوی، عن قدامة بن وبرة عن سمرة بن جندب، د قتاده دویم شاګرد خالد بن قیس دې مصنف وائی چه خالد د همام په اسناد کښې مخالفت کړې دې خو مصنف دې لره نۀ دې بیان کړې، بیهقی کښې د خالد روایت موجود دې د کوم سند چه داسې دې، عن قتادة عن الحسن عن سمرة، یعنی دقتاده او سمره په مینځ کښې د قدامه په ځائې د حسن واسطه ده او دریم شاګرد د قتاده ایوب دې د چا کنیت چه ابوالعلاء دې هغوی دا

(۱): سنن النسائي/الجمعة ۳ (۱۳۷۳)، سنن ابن ماجه/اقامة الصلاة ۹۳ (۱۱۲۸)، (تحفة الأشراف: ۴۶۳۱، ۱۹۲۳۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۵/۸، ۱۴) (ضعيف)

حدیث مرسلاً ذکر کړې دې د صحابی نوم ئې ترک کړې دې، څلورم شاګرد د قتاده سعید بن بشیر دې هغوی متن داسې بیان کړې دې څنګه چه ایوب بیان کړې دې یعنی بِدرهم او نصف درهم،[1] خو یو بل فرق ئې کړې دې او هغه دا چه د صاع حنطة په ځائې ئې مد ذکر کړې دې او په سند کښې د دوئ دا مخالف ئې کړې دې چه سمره ئې هم ذکر کړې دې په خلاف د ایوب نه چه هغوی سمره نۀ دې ذکر کړې بلکه حدیث ئې مرسلاً ذکر کړې وو.

[۱۰۵٤] (۲) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَزِيدَ، وَإِسْحَاقُ بْنُ يُوسُفَ، عَنْ أَيُّوبَ أَبِي الْعَلَاءِ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ قُدَامَةَ بْنِ وَبَرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ فَاتَتْهُ الْجُمُعَةُ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ فَلْيَتَصَدَّقْ بِدِرْهَمٍ، أَوْ نِصْفِ دِرْهَمٍ، أَوْ صَاعِ حِنْطَةٍ، أَوْ نِصْفِ صَاعٍ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ سَعِيدُ بْنُ بَشِيرٍ، عَنْ قَتَادَةَ هَكَذَا، إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: "مُدًّا أَوْ نِصْفَ مُدٍّ"، وَقَالَ: عَنْ سَمُرَةَ. قَالَ أَبُو دَاوُد: سَمِعْتُ أَحْمَدَ بْنَ حَنْبَلٍ يُسْأَلُ عَنِ اخْتِلَافِ هَذَا الْحَدِيثِ، فَقَالَ: هَمَّامٌ عِنْدِي أَحْفَظُ مِنْ أَيُّوبَ يَعْنِي أَبَا الْعَلَاءِ.

د قدامة بن وبرة نه روایت دی هغه وایي: رسول الله ﷺ ویلي دي: د چانه چې جمعه فوت شوه بغیر د عذر نه نو صدقه دي وکړي په یو درهم سره او یا په نیم درهم سره، او یا په یوه پیمانه د غنمو سره، او په نیمه پیمانه سره. ویلي دي ابوداود: ما اوریدلي دي د احمد بن حنبل نه چې تپوس یي کولو د اختلاف د دې حدیث، نو وویل همام: زما په نزد هغه ډیر احفظ دی د ایوب نه، قصد یي ابو العلاء وو.

بَابُ مَنْ تَجِبُ عَلَيْهِ الْجُمُعَةُ

باب دی په بیان د هغه چا کې چې جمعه پرې واجب ده

یعنی په کومو کومو خلقو باندې د جمعې مونځ فرض دې صرف په اهل مصر باندې یا په اهل قریه یعنی د کلی په اوسیدونکو باندې هم، او هم داسې د مصر نه بهر چه کوم خلق په اطرافو کښې اوسیږی په هغوی باندې هم واجب دې او که نۀ، د بخاری او ترمذی ترجمه دغه شان ده چه، باب ما جاء من کم یؤتی الی الجمعة، یعنی د آبادئ نه څومره فاصلې باندې اوسیدونکو دپاره د جمعې مونځ له راتلل ضروری دی.

د دینه پس دا زده کول پکار دی چه دلته دوه مسئلې دی یوه خو مسئلة الباب یعنی من تجب علیه الجمعة، کومه چه مصنف دلته بیانوی او دویمه مسئله د محل اقامة جمعه یعنی د جمعې مونځ کوم ځائې کښې کیدې شی او کوم ځائې نۀ، د دې باب وړاندې راروان دې، باب الجمعة فی القریٰ.

[۱۰۵۵] (۳) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي عَمْرٌو، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي جَعْفَرٍ، أَنَّ مُحَمَّدَ بْنَ جَعْفَرٍ حَدَّثَهُ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهَا قَالَتْ: كَانَ النَّاسُ يَنْتَابُونَ الْجُمُعَةَ مِنْ مَنَازِلِهِمْ، وَمِنَ الْعَوَالِي.

---

[1]) په خلاف د همام نه چه هغوی د درهم په ځائې باندې دینار ذکر کړې دې.

[2]): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٤٦٣١، ١٩٢٣١) (ضعيف)

[3]): صحيح البخاري/الجمعة ١٥ (٩٠٢)، والبيوع ١٥ (٢٠١٧)، صحيح مسلم/الجمعة ١ (٨٤٧)، (تحفة الأشراف: ١٦٣٨٣)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الجمعة ٩ (١٣٨٠) (صحيح)

د عائشي ﷞ نه روايت دی چې بي بي د پيغمبر ﷺ ده، هغې ويلي دي: خلق به تلل جمعي ته د خپلو کورونو نه او د باندو نه.

۱:حدثنا احمد بن صالح، الخ، قوله کان الناس ينتابون الجمعة من منازلهم و من العوالى، دا حديث د حضرت عائشه ﷞ دې امام بخاری دې لره هم په دې باب کښې ذکر کړې دې، د دې حديث نه امام بخاری او دغه شان امام ابوداؤد وغيره حضرات دا ثابتول غواړی چه په اهل قريه باندې هم جمعه واجبه ده.

د حديث نه د حنفيه خلاف استدلال او د هغې ترديد:

او قرطبی وغيره علماؤ دا هم ليکلي دی چه دا حديث د حنفيانو خلاف دې ځکه چه هغوی په اهل قريه باندې جمعه واجب نۀ ګرځوی، خو په خپله حافظ ابن حجر او نور شراحو د شوافعو د دې ترديد کړې دې او دا ئې وئيلي دی چه دا د حنفيانو خلاف نۀ دې بلکه د دې نه خو دا ثابتيږی چه په اهل قريه باندې د جمعې مونځ واجب نۀ دې ځکه که واجب وې نو هغه خلق به وار په وار ولې راتلل ټولو لره راتلل پکار وو، د دې اشکال نه د بچ کيدو دپاره امام خطابی يوه عجيبه خبره کړې ده او هغه دا چه د شوافعو په نيزد دا مسئله مختلف فيه ده چه د جمعې مونځ فرض لعينه دې يا فرض على الكفايه، او دائې وئيلي دی چه داکثرو فقهاؤ رائې هم دا ده چه هغه فرض على الكفايه دې، خو نورو شوافعو شارحينو د خطابی د دې قول ډيرسخت ترديد کړې دې چه مذاهب اربعه په دې خبره باندې متفق دی چه جمعه فرض عين ده.(من البذل)

[۱۰۵۶][1] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سَعِيدٍ يَعْنِي الطَّائِفِيَّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ نُبَيْهٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ هَارُونَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْجُمُعَةُ عَلَى كُلِّ مَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ جَمَاعَةٌ، عَنْ سُفْيَانَ مَقْصُورًا عَلَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَلَمْ يَرْفَعُوهُ وَإِنَّمَا أَسْنَدَهُ قَبِيصَةُ.

د عبد الله بن عمرو نه روايت دی، هغه روايت کوي د نبي ﷺ نه هغه ويلي دي: جمعه لازم ده په هر هغه چا چې اذان اوري. ويلي دي ابوداود: د دې حديث روايت يو جماعت کړی دی د سفيان نه په داسې حال کې چې دا موقوف دی په عبد الله بن عمرو، او دوی نه دی مرفوع کړی، او قبيصه مسند ذکر کړی دی.

۲: حدثنا محمد بن يحيٰ بن فارس، الخ، قوله، عن عبد الله بن عمرو عن النبى صلى الله عليه وسلم قال الجمعة على كل من سمع الندء، په دې باب کښې مصنف دوه حديثه ذکر کړې دی، رومبې حديث کان الناس ينتابون الجمعة، او دويم دا چه امام ترمذی په دې حديث باندې ليکی چه، و به قال الشافعي و احمد، او ابن العربی مالکی شارح د ترمذی د امام مالك طرف ته هم دا منسوب کړې دې، ګويا د ائمه ثلاثه هم دا مذهب دې.

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۸۸۴۵) (حسن لغيره) (ملاحظه هو: صحيح ابي داود: ۱۰۵۶، وارواء الغليل: ۵۹۳)

شرح حدیث:

د حدیث ترجمه دا ده چه جمعه په هر هغه سړی باندې واجب ده کوم چه د جمعې آذان واوري بظاهر د دینه معلومیږی چه کوم سړې د جمعې آذان وانهٔ وری په هغهٔ باندې واجب نهٔ ده، خو ډېر داوسید ونکو په حقله د ټولو علماؤ دا اتفاق دې چه په هغوی باندې د جمعې مونځ واجب دې که آذان واوری او که نهٔ، حافظ ابن حجر وغیره شارحینو د دې توجیه دا کړې ده چه د اوریدلو نه مراد عام دې که حقیقة وی یا حکما یعنی بالفعل سماع اوموندلې شی یا بالقوه، ځکه چه د ښار واله که وانئوری خو که متوجه وی نو اودریدلې شی.

محمل حدیث الحنفیه:

او احقر ته په دې کښې د شیخ ابن الهمام خبره خوښه شوې ده هغه فرمائی چه د دې حدیث تعلق د اهل مصر سره نهٔ دې بلکه هغه خلقو سره دې کوم چه په فناء د مصر یعنی د ښار په اطرافو کښې اوسیږی یعنی که هغوی ته د آذان آواز رسی نو هغوی دې ښار ته راشی او د جمعې مونځ دې ادا کړی او که نهٔ رسی نو بیا په هغوی باندې د جمعې مونځ واجب نهٔ دې.
د دې نه پس دا زده کول پکار دی چه د ښار د فناء په مصداق کښې د فقهاؤ مختلف اقوال دی په حاشیه دترمذی کښې په حواله د ابن الهمام لیکلې دی چه، واختلفوا فیه، او بیا هغوی یو څو اقوال ذکر کړې دی، ۱: تر کوم ځائې پورې چه د ښار آواز رسی،
۲: په دریو فرسخو کښې دننه، ۳: د یو میل په اندازه، ۴: د دوو میلو په اندازه، ۵: د شپږو میلو په اندازه، ۶: کوم خلق چه د ښار نه دومره لرې اوسیږی چه هغوی په ښار کښې د جمعې مونځ ادا کړی نو د ماښام کیدو نه وړاندې بغیر د تکلیف نه خپل ځائې ته رسیدې شی نو بیا په هغوی باندې جمعه واجب ده ګینی نهٔ ده، صاحب بدائع دې قول لره خوښ کړې دې، وهذا احسن، اهـ
زهٔ وایم چه آخری قول لره په مسافة غدوية سره تعبیر کوی او په اصل کښې دا خبره د حدیث نه ماخوذ ده کوم چه په ترمذی کښې په روایت د ابوهریره ﷺ مذکور دې چه حضور ﷺ اوفرمائیل، الجمعة علی من آواه اللیل الی اهله، خو دا حدیث په اتفاق سره ضعیف دې امام ترمذی هم په دې باندې کلام کړې دې، په ترمذی کښې دی دی چه یو سړی د امام احمد په وړاندې دا حدیث پیش کړو نو هغه په دې باندې سخت خفه شو او وئې فرمائیل، استغفر ربك استغفر ربك،

حدیث الباب د امام محمد د قول دلیل دې:

د دېنه پس واورئ چه حضرت سهارنپوری رحمه الله په بذل المجهود کښې د شرح منیه نه د ښار د اطرافو واله په حقله نقل کړې دی چه کوم خلق د ښار نه بهر اوسیږی او د هغوی او د ښار په مینځ کښې فُرجه یعنی خلاء نهٔ وی بلکه عمارتونه د هغه ځائې پورې رسیدلې وی نو په هغوی باندې جمعه واجب ده که آذان اوری اوکه نهٔ ده، اوکوم خلق چه داسې دی چه دهغوی او د ښار په مینځ کښې مزرعه (پټې) یا مرعی (چراګاه یعنی ورشو) جدائی وی نوپه داسې خلقو باندې د جمعې مونځ واجب نهٔ دې اګرچه د اذان آواز آوری خود امام محمد رحمه الله نه

روایت دې چه که داسې خلق د جمعې اذان آوری نو په هغوی باندې د جمعې مونځ واجب دې او که نه آوری نو واجب نه دې. زه وائم چه د باب دا دویم حدیث د امام محمد رحمه الله د روایت ډیر نزدې دې.

قال ابوداؤد روی هذا الحدیث جماعة عن سفیان مقصورا علی عبدالله بن عمرو، یعنی په دې حدیث کښې د رواتو اختلاف او اضطراب دې دې لره د سفیان نه روایت کونکی ډیر دی اکثرو دې حدیث لره موقوفا ذکر کړې دې او قبیصه کوم چه په پورته سند کښې مذکور دې دې لره د سفیان نه مسندا یعنی مرفوعا ذکر کړې دې.

بَابُ الْجُمُعَةِ فِي الْيَوْمِ الْمَطِيرِ

باب دی په بیان د جمعه کې د باران په ورځ

یوم مطیر او یوم ماطر او یو مُمطر او یو مَطَر هر شان لوستلې شی، یعنی د باران ورځ په اصل کښې د جمعې د وجوب او صحت د جمعې دپاره ډیر شرطونه دی څنګه چه د جماعت د وجوب دپاره هم بعضې شرطونه دی که په هغه شرطونو کښې کوم شرط اونهٔ موندلې شی نو د جماعت مونځ ساقطیږی، مطر کثیر یعنی ډیر باران هم د دې عذرونو نه دې کوم چه جماعت ساقطوی نو چه هر کله په دې سره جماعت ساقطیږی نو جمعه به هم ساقطیږی څکه چه د جمعې مونځ بغیر د جماعت نه صحیح نهٔ دې.

[۱۰۵۷]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي الْمَلِيحِ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ يَوْمَ حُنَيْنٍ كَانَ يَوْمَ مَطَرٍ "فَأَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُنَادِيَهُ أَنَّ الصَّلَاةَ فِي الرِّحَالِ".

ابو الملیح روایت کوي د خپل پلار نه، بېشکه ورځ د حنین وه ورځ د باران، نو امر وکړو نبي ﷺ خپل اواز کونکي ته: بېشکه مونځ په خپلو ځایونو کې وکړئ.

۱: حدثنا محمد بن کثیر الخ، عن ابی الملیح عن ابیه، د ابوالملیح په نوم کښې اختلاف دې قیل اسمه عامر و قیل زید، او د دوئ د پلار نوم اسامة بن عُمیر دې، (قاله الترمذی،ص،۲)

ان یوم حنین کان یوم مطر فامر النبی صلی الله علیه سلم منادیه ان الصلوة فی الرحال، یعنی د جنګ حنین په ورځ باران وریدو نو حضور ﷺ په مؤذن باندې اعلان اوکړو، الصلوة فی الرحال، یعنی قافلې واله دې په خپلو خپلو خیمو کښې ځانله ځانله بغیر د جماعت نه مونځ اوکړی، یعنی د ماسپخین څکه چه د جمعې مونځ خو بغیر د جماعت نه نهٔ کیږی.

مناسبة الحدیث بالترجمة:

د دې حدیث نه معلومه شوه چه د باران د وجه نه جماعت ساقطیږی لهذا د دې په وجه سره به جمعه هم ساقطیږی، کما تقدم آنفا.

[۱۰۵۸]([2]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى، حَدَّثَنَا سَعِيدٌ، عَنْ صَاحِبٍ لَهُ، عَنْ أَبِي مَلِيحٍ، أَنَّ ذَلِكَ كَانَ يَوْمَ جُمُعَةٍ.

[1]: سنن النسائي/الإمامة ٥١ (٨٥٥)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٣٥ (٩٣٦)، (تحفة الأشراف: ١٣٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٤/٥، ٧٤، ٧٥) (صحيح)

[2]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٣٣) (صحيح)

د ابو مليح نه روايت دی، بېشکه دغه د جمعې ورځ وه.

[۱۰۵۹]()حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، قَالَ سُفْيَانُ بْنُ حَبِيبٍ: أَخْبَرَنَا، عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَبِي الْمَلِيحِ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ شَهِدَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَمَنَ الْحُدَيْبِيَةِ فِي يَوْمِ جُمُعَةٍ، وَأَصَابَهُمْ مَطَرٌ لَمْ تَبْتَلَّ أَسْفَلُ نِعَالِهِمْ "فَأَمَرَهُمْ أَنْ يُصَلُّوا فِي رِحَالِهِمْ".

ابو المليح د خپل پلار نه روايت کوي، بېشکه هغه حاضر شوی وو نبي ﷺ ته په زمانه د حديبيه کې په ورځ د جمعه کې، او دوی ته باران ورسيدو چې د دوی د پيزار لاندې حصه يې لمده نه کړه، نو امر يې وکړو دوی ته چې مونځ وکړي په خپلو ځايونو کې.

په دې حديث کښې اګر که د جمعې ذکر نشته، خو طريقه د استدلال هغه ده کومه چه پورته ذکر شوه، او حضرت ﷺ په بذل کښې دا ليکلې دی چه مطابقت په دغه شان دې چه د راتلونکی حديث نه معلوميږی چه دا واقعه د جمعې د ورځې وه.

۲: حدثنا نصر بن علی الخ، قوله، عن ابی المليح عن ابيه انه شهد النبی صلی الله عليه وسلم زمن الحديبية فی يوم جمعة و اصابهم مطرٌ.. الخ، اوګورئ په دې کښې د جمعې د ورځې تصريح ده، خو زۀ وايم چه د جمعې د ورځې کيدو نه دا نۀ لازميږی چه د دې تعلق به هم د جمعې د مونځ سره وی، بلکه دا کيدې شی چه د دې تعلق د ماسپخين مونځ يا د مازيګر د مونځ سره وی، ځکه چه د حضور ﷺ په خپلو سفرونو کښې په براری (صحراء) کښې جمعه کول ثابته نۀ ده، لهذا که په دې واقعه کښې باران نۀ وو نو بيا به هم دوئ جمعه نۀ ادا کوله، لهذا د استدلال طريقه هم هغه غوره ده کومه چه مونږ پورته ذکر کړه.

د صاحب بذل توجيه:

په بذل المجهود کښې يو بله توجيه ليکلې ده هغه دا که اومنلې شی چه حضور ﷺ د سفر په دوران کښې د حديبيه په مقام کښې د جمعې مونځ ادا کولو، خو په دې موقعه کښې د باران د وجه نه ئې ادا نه کړو، نو د دې وجه دا کيدې شی چه حديبيه اګر که د براری نه ده خو د مکې د توابع نه ده لکه څنګه چه منی، د شيخينو په نيز د مکې د توابع نه ده ځکه چه هغوی هلته د جمعې د مونځ قائل دی په خلاف د امام محمد چه د هغوی په نيز هلته د جمعې مونځ جائز نۀ دې، والله تعالی اعلم.

بَابُ التَّخَلُّفِ عَنِ الْجَمَاعَةِ فِي اللَّيْلَةِ الْبَارِدَةِ

باب دی په بيان د وروستوالي د جمعې نه په يخه شپه کې او په شپه د باران کې

د ترجمة الباب حاصل دا دې چه په سخت ژمی خصوصا چه کله د شپې وخت وی د هغه عذرونو نه دې کوم چه د جماعت ساقطونکی دی نو چه هر کله سختې يخنئ سره جماعت ساقطيږی نو د دې نه معلومه شوه چه د جمعې ساقطونکې هم دې ځکه چه جمعه بغير د جماعت نه صحيح نۀ ده.

۱: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۳۳) (صحيح)

مناسبة الحديث بالترجمة:

هم د دې مناسبت دوجې نه مصنف دې ترجمة الباب لره په كتاب الجمعة كښې راوړې دې، ګينې د شپې د جمعې مونځ كوم ځائې وی؟

حضرت رحمه الله په بذل كښې ليكلې دى چه ابن بطال په دې خبره باندې اجماع نقل كړې ده چه بَرْد او مطر يعنى يخنى او باران دواړه د تاخر عن الجماعة عذرونه دى، او علامه شامى رحمه الله هغه عذرونه كوم چه د جماعت ساقطونكى دى شل شمار كړې دى او هغهٔ ئې په نظم كښې ذكر كړې دى په حاشيه دلامع، ص، ۲۵۰، ج، ۱، كښې هم مذكور دى يو د هغې سخت ژمې هم دې.

[۱۰۶۰](¹)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ نَافِعٍ، أَنَّ ابْنَ عُمَرَ نَزَلَ بِضَجْنَانَ فِي لَيْلَةٍ بَارِدَةٍ، فَأَمَرَ الْمُنَادِيَ فَنَادَى أَنِ الصَّلَاةُ فِي الرِّحَالِ. قَالَ أَيُّوبُ، وَحَدَّثَنَا نَافِعٌ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ إِذَا كَانَتْ لَيْلَةٌ بَارِدَةٌ أَوْ مَطِيرَةٌ أَمَرَ الْمُنَادِيَ فَنَادَى الصَّلَاةُ فِي الرِّحَالِ".

د نافع نه روايت دى چې بېشكه ابن عمر راغى ضجنان ته په يخه شپه كې، امريې وكړو اذان كونكي ته نو اذان يې وكړو: بېشكه مونځ په كورونو كې دى. ويلي دي ايوب: او مونږ ته حديث بيان كړى دى نافع د ابن عمر نه، بېشكه رسول الله ﷺ وو كله چې به شپه يخه وه او يا به باراني وه، امربه يې وكړو اواز كونكي ته هغه به اواز وكړو: مونځ په خپلو ځايونو كې دى.

[۱۰۶۱](²)حَدَّثَنَا مُؤَمَّلُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، قَالَ: نَادَى ابْنُ عُمَرَ بِالصَّلَاةِ بِضَجْنَانَ، ثُمَّ نَادَى أَنْ صَلُّوا فِي رِحَالِكُمْ، قَالَ فِيهِ: ثُمَّ حَدَّثَ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ: "كَانَ يَأْمُرُ الْمُنَادِيَ فَيُنَادِي بِالصَّلَاةِ، ثُمَّ يُنَادِي أَنْ صَلُّوا فِي رِحَالِكُمْ فِي اللَّيْلَةِ الْبَارِدَةِ وَفِي اللَّيْلَةِ الْمَطِيرَةِ فِي السَّفَرِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ أَيُّوبَ، وَعُبَيْدِ اللَّهِ، قَالَ فِيهِ: "فِي السَّفَرِ فِي اللَّيْلَةِ الْقَرَّةِ أَوِ الْمَطِيرَةِ".

د نافع نه روايت دى هغه ويلي دي اواز وكړو ابن په مونځ كولو په ضجنان كې، بيايې اواز وكړو: مونځ په خپلو ځايونو كې وكړئ، هغه وويل په هغې كې: بيايې حديث بيان كړو د رسول الله ﷺ نه: هغه به امر كولو اذان كونكي ته نو اذان به يې وكړو، بيا به يې اواز وكړو چې مونځ وكړئ په خپلو ځايونو كې په يخه شپه كې، او په شپه د باران كې په سفر كې. ويلي دي ابوداود: او د دې روايت كړى دى حماد بن زيد د ايوب نه او د عبيد الله نه، هغه ويلي دي په هغې كې: په سفر كې په يخه شپه كې، او يا د باران په شپه كې.

[۱۰۶۲](³)حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّهُ نَادَى بِالصَّلَاةِ بِضَجْنَانَ فِي لَيْلَةٍ ذَاتِ بَرْدٍ وَرِيحٍ، فَقَالَ فِي آخِرِ نِدَائِهِ: أَلَا صَلُّوا فِي رِحَالِكُمْ، أَلَا صَلُّوا فِي الرِّحَالِ، ثُمَّ قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْمُرُ الْمُؤَذِّنَ إِذَا كَانَتْ لَيْلَةٌ بَارِدَةٌ أَوْ ذَاتُ مَطَرٍ فِي سَفَرٍ يَقُولُ: "أَلَا صَلُّوا فِي رِحَالِكُمْ".

---

¹): سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۳۵ (۹۳۷)، (تحفة الأشراف: ۷۵۵۰)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الأذان ۱۷ (۶۳۲)، ۴۰ (۶۶۶)، صحيح مسلم/المسافرين ۳ (۶۹۷)، سنن النسائي/الأذان ۱۹ (۶۵۵)، موطا امام مالك/الصلاة ۲ (۱۰)، مسند احمد (۲/۴، ۱۰، ۵۳، ۶۳)، سنن الدارمي/الصلاة ۵۵ (۱۳۱۱) (صحيح)

²): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۷۵۵۰) (صحيح)

³): صحيح مسلم/المسافرين ۳ (۶۹۷)، (تحفة الأشراف: ۷۸۳۴) (صحيح)

نافع د ابن عمر ﷠ نه روایت کوي، بېشکه هغه اذان وکړو د ماښخه لپاره په ضجنان کې په شپه کې چې یخه وه او د باد والا وه، هغه وفرمایل په اخیر د اذان کې: خبردار! مونځ وکړئ په خپلو کورونو کې، بیایي وفرمایل: بېشکه رسول الله ﷺ وو چې امر یې کولو مؤذن ته کله چې به شپه یخه وه، او یا د باران والا وه په سفر کې، چې ووایي: خبردار! مونځ وکړئ په خپلو کورونو کې.

۱: حدثنا عثمان بن ابی شیبه، الخ، قوله، فقال فی أخر ندائه الا صلوا فی رحالکم، د فی آخر ندائه مطلب دا نهٔ دې چه په آذان کښې دا کلمات اووائی بلکه د آذان نه فارغیدو نه پس مراد دې ځکه چه د دینه وړاندې روایت کښې تیر شوې دی، نادٰی ابن عمر بالصلوة بضجنان ثم نادٰی ان صلوا فی رحالکم، د لفظ ثم نه دا معلومیږی چه بعد الفراغ وو.

[۱۰٦۳](۱) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، أَنَّ ابْنَ عُمَرَ يَعْنِي، أَذَّنَ بِالصَّلَاةِ فِي لَيْلَةٍ ذَاتِ بَرْدٍ وَرِيحٍ، فَقَالَ: أَلَا صَلُّوا فِي الرِّحَالِ، ثُمَّ قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْمُرُ الْمُؤَذِّنَ إِذَا كَانَتْ لَيْلَةٌ بَارِدَةٌ أَوْ ذَاتُ مَطَرٍ، يَقُولُ: "أَلَا صَلُّوا فِي الرِّحَالِ".

د نافع نه روایت دی چې بېشکه ابن عمر - یعني - اذان یې وکړو یخه شپه کې چې د یخنۍ او باد والا وه، هغه وویل: خبر شئ مونځ وکړئ په خپلو کورونو کې، بیایي وویل: بېشکه رسول الله ﷺ وو چې امر به یې کولو مؤذن ته کله چې شپه یخه وي او یا د باران والا وي، هغه دي وایي: خبر دار مونځ وکړئ په خپلو کورونو کې.

[۱۰٦٤](۲) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: نَادَى مُنَادِي رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِذَلِكَ فِي الْمَدِينَةِ فِي اللَّيْلَةِ الْمَطِيرَةِ وَالْغَدَاةِ الْقَرَّةِ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَى هَذَا الْخَبَرَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْأَنْصَارِيُّ، عَنِ الْقَاسِمِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ فِيهِ: فِي السَّفَرِ.

نافع د ابن عمر نه روایت کوي هغه ویلي دي: اذان وکړو اذان کونکي د رسول الله ﷺ په دغې سره په مدینه کې په بارانۍ شپه کې، او په سحر یخ کې. ویلي دي ابوداود: او روایت کړی دی د دې خبر یحیی بن سعید الانصاري د قاسم نه او هغه د ابن عمر نه او هغه د نبي ﷺ نه، هغه پکې ویلي دي: (في السفر).

۲: حدثنا عبدالله بن محمد النفیلی، الخ، قوله، نادٰی منادی رسول الله صلی الله علیه وسلم بذالك فی المدینة، د ابن عمر دتیر شوی او راتلونکی ټولو روایتونو نه دا معلومیږی چه دا واقعه د سفر ده خو د ابن اسحاق په روایت کښې د دې ټولو نه خلاف دې، د دې حدیث مدار په نافع باندې دې د نافع په شاګردانو کښې صرف محمد ابن اسحاق په فی المدینة لفظ وئیلي دي او نور شاګردان ایوب او عبیدالله فی السفر وئیلي دي، ظاهره دا ده چه ابن اسحاق ته په دې کښې وهم شوې دې.

---

۱): صحیح البخاري/الأذان ٤۰ (٦٦٦)، صحیح مسلم/المسافرین ۳ (٦۹۷)، سنن النسائي/الأذان ۱۷ (٦٥٥)، موطا امام مالك/الصلاة ۲(۱۰)، مسند احمد (۲/٦۳)، (تحفة الأشراف: ۸۳٤۲) (صحیح)

۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۸٤۱۳) (منکر)

[۱۰٦٥](¹)حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ دُكَيْنٍ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَمُطِرْنَا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لِيُصَلِّ مَنْ شَاءَ مِنْكُمْ فِي رَحْلِهِ".

د جابر ﷺ نه روايت دی هغه ويلي دي: وو مونږ د رسول الله ﷺ سره په سفر کې نو په مونږ باران وشو، رسول الله ﷺ وفرمايل: مونځ دي وکړي د چا چې خوښه وي ستاسو نه په خپل ځاى کې.

[۱۰٦٦](²)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، أَخْبَرَنِي عَبْدُ الْحَمِيدِ صَاحِبُ الزِّيَادِيِّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْحَارِثِ ابْنِ عَمِّ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ، قَالَ لِمُؤَذِّنِهِ فِي يَوْمٍ مَطِيرٍ: "إِذَا قُلْتَ: أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، فَلَا تَقُلْ: حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، قُلْ: صَلُّوا فِي بُيُوتِكُمْ"، فَكَأَنَّ النَّاسَ اسْتَنْكَرُوا ذَلِكَ، فَقَالَ: قَدْ فَعَلَ ذَا مَنْ هُوَ خَيْرٌ مِنِّي، إِنَّ الْجُمُعَةَ عَزْمَةٌ، وَإِنِّي كَرِهْتُ أَنْ أُخْرِجَكُمْ فَتَمْشُونَ فِي الطِّينِ وَالْمَطَرِ.

بېشکه ابن عباس ويل خپل مؤذن ته د باران په ورځ: کله چې تا وويل ان محمدا رسول الله بيا حی علی الصلاة، بلکه ووايه: مونځ وکړئ په خپلو کورونو کې. ګويا چې خلقو دغه بد وګڼه، نو هغه وويل: بېشکه دا کار کړی دی هغه چا چې د مانه ډېر غوره دی، بېشکه جمعه لازم ده، او بېشکه ما بد وګڼل چې تاسو اوباسم او په ختو باران کې روايان يې.

۳: حدثنا مسدد، الخ، قوله، عن ابن عباس قال لمؤذنه في يوم مطير اذا قلت، الخ، په دې روايت کښې دی چه حضرت ابن عباس ﷺ د باران په ورځ خپل مؤذن ته کله آذان ورکوی نو په ځائې د حی علی الصلوة صلوا في بيوتكم اوايه.

د ابن عمر ﷺ دتير شوې روايت نه دا معلومېږی چه حضور ﷺ به دا اعلان د آذان نهد روستو کولو نه د آذان په مينځ کښې، بظاهر ابن عباس ﷺ داسې اجتهاد د خپل ځانه کړې دې، او وړاندې روايت کښې چه راروان دې چه خلقو دې لره بنۀ اونۀ ګڼړل نو په دې باندې هغوی اوفرمائيل چه حضور ﷺ داسې کړې وو، کيدې شی چه د دې تعلق د مطلق اعلان سره وی نۀ د هغه اعلان سره چه په مينځ د آذان کښې وی.

الكلام فی اثناء الاذان:

خو امام احمد ﷫ د ابن عباس ﷺ د حديث نه په دې خبره باندې استدلال کړې دې چه د آذان په مينځ کښې خبرې کول بلا کراهيت جائز دی، او داؤدی کوم چه مشهور محدث دې هغه دا فرمائی چه د آذان په مينځ کښې کلام خو جائز نۀ دې او نۀ په دې باندې په حديث سره استدلال صحيح دې بلکه داسې ده چه په داسې وخت کښې کوم آذان کولې کيږی نو داسې کلمات په خپله د دې آذان جزء جوړ شی نو دې لره نه هم په آذان کښې شاملولې شی، او د حنفيانو په نيز کلام في الاذان مکروه دې او د امام مالك او شافعی په نيز خلاف اولی دې.

¹): صحيح مسلم/المسافرين ۳ (٦٩٨)، سنن الترمذي/الصلاة ۱۸۹ (٤۰۹)، (تحفة الأشراف: ۲۷۱٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/۳۱۲، ۳۲۷، ۳۹۷) (صحيح)

²): صحيح البخاري/الأذان ۱۰ (٦۱٦)، ٤۱(٦٦۸)، والجمعة ۱٤ (۹۰۱)، صحيح مسلم/المسافرين ۳ (٦۹۹)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۳۵ (۹۳۹)، (تحفة الأشراف: ۵۷۸۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۲۷۷) (صحيح)

بَابُ الْجُمُعَةِ لِلْمَمْلُوكِ وَالْمَرْأَةِ

باب دی په بیان د جمعه کې د غلام او ښځې دپاره

[۱۰٦۷]() حَدَّثَنَا عَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ الْعَظِيمِ، حَدَّثَنِي إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا هُرَيْمٌ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْتَشِرِ، عَنْ قَيْسِ بْنِ مُسْلِمٍ، عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْجُمُعَةُ حَقٌّ وَاجِبٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ فِي جَمَاعَةٍ إِلَّا أَرْبَعَةً: عَبْدٌ مَمْلُوكٌ، أَوِ امْرَأَةٌ، أَوْ صَبِيٌّ، أَوْ مَرِيضٌ". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: طَارِقُ بْنُ شِهَابٍ قَدْ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَسْمَعْ مِنْهُ شَيْئًا.

د طارق بن شهاب نه روایت دی، هغه روایت کوي د نبي ﷺ نه، هغه فرمایلي دي: جمعه ثابته ده واجب ده په هر مسلمان د جمعي سره، مګر په څلورو نه، یو په عبد مملوک، او په ښځه، او په ماشوم، او په مریض. ویلي دي ابوداود: طارق بن شهاب پیغمبر ﷺ لیدلی دی او هېڅ یي ترېنه نه دي اوریدلي.

۱: حدثنا عباس بن عبدالعظیم، الخ، قوله، الجمعة حقٌ واجبٌ على كلِ مسلم الا اربعة عبد مملوك او امرأة او صبی او مریض، دا حدیث د صحابی مرسل دي طارق بن شهاب اګر که صحابی دي خو صغیر السن دي د هغوی سماع د حضور ﷺ نه ثابت نهٔ ده.

د دې حدیث مضمون دا دې چه په څلورو کسانو باندې جمعه واجب نهٔ ده، غلام، ښځه، صبی، مریض،

پوهیدل پکار دی چه د جمعې مونځ په هر چا باندې واجب نهٔ دې بلکه په هغه مسلمان باندې واجب دې کوم چه سړې وی مقیم وی او آزاد وی، د ابوداؤد په دې حدیث کښې د مسافر استثناء نشته دې، د مسافر حکم د طبرانی په روایت کښې دې د کوم راوی چه ابن عمر رضي الله عنه دې، لیس على المسافر جمعةٌ، (سبل السلام) د ائمه اربعه مذهب دا دې چه په دې تولو باندې جمعه فرض نهٔ ده خو داؤد ظاهری په عبد یعنی غلام کښې اختلاف کړې دې د دوئ په نیز باندې په مملوك باندې هم جمعه واجب ده، لقوله تعالی فاسعوا الى ذكر الله، هم دغه شان په لیونی باندې هم واجب نهٔ ده، په بذل المجهود کښې لیکلې دی چه د حنفیانو په نیز باندې دوجوب د جمعې دپاره شپږ شرطونه دی، العقل، والبلوغ والحرية، والذكورة والاقامة، و صحة البدن.

بَابُ الْجُمُعَةِ فِي الْقُرَى

باب دی په بیان د جمعه کې په کلو کې

دا دویمه مسئله ده د کومې ذکر چه زمونږ په نیز د دې نه وړاندې په باب من تجب عليه الجمعة په شروع کښې راغلې وو یعنی محل اقامة جمعه.

محل اقامة جمعه او په دې کښې د ائمه اربعه مذاهب:

پوهیدل پکار دی چه د جمعې مونځ په هر ځائې کښې نهٔ کیږی چنانچه په دې کښې د علماء اتفاق دې چه براری او منابل الاعراب یعنی ځنګل او بیابان او د اوبو چینې کوم ځائې کښې

۱: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤٩٨١) (صحيح)

چه اهل خیام (خانه بدوش) څو ورځو دپاره مقیم کیږي په داسې مقاماتو باندې اقامت د جمعې په اتفاق سره صحیح نهٔ دې، هم دا وجه ده چه په دې باندې د ټولو اتفاق دې چه په میدان عرفات کښې د حجاجو دپاره جمعې مونځ کول صحیح نهٔ دی.

بلکه محل اقامهٔ جمعه مستقل کلې او آبادی کیدل پکار دی خواه که مختصر کلې وی چنانچه دشافعی او حنابله په نیز لکه څنګه چه د هغوی د کتابونو نه معلومیږی دادې چه د جمعې مونځ په هر داسې کلی کښې قائمولې شی کوم چه مستقل آباد وی، یعنی څو ورځو دپاره عارضی هلته مقیم نهٔ وی هلته باقاعده کورونه جوړ شوی وی خواه که کچه او پاخهٔ نزدې نزدې وی څنګه چه په آبادئ کښې وی داسې نهٔ وی چه یو کور دلته وی او دویم مثلاً په یو فرلانګ باندې وی، د دوئ په کتابونو کښې لیکلې دی چه د دوو کورونو په مینځ کښې که د درې سو وذراعو یعنی ګزونو فاصله که وی نو په داسې کلی کښې اقامت د جمعې جائز نهٔ دې [1] دغه شان دا چه په مانځهٔ کښې کم نه کم څلویښت کسان شریك وی، او د مالکیه په کتابونو کښې لیکلې دی چه هلته بازار او جومات هم وی څکه چه د دوئ په نیز باندې غیر د جومات نه د جمعې مونځ صحیح نهٔ دې اګر که هغه ښار وی. الحاصل د جمهورو علماؤ په نیز مطلقا که کلې وړوکې وی یا لوئې په دواړو کښې جمعه جائز ده.

او په حنفی مذهب کښې د دې تصریح ده چه مصر د شرائطو د جمعې نه دې او اهل فتاوىٰ د قصبې او لوئې کلی لره هم په دې حکم کښې لیکلې دې د کوم کلی مردم شماری چه درې څلور زره وی مطلقا مسلمانان وی اوکه غیر مسلم، او هلته د حاجت ضروری څیزونه هم ملاویږی، دوکانونه وی دا قریه کبیره یعنی لوئې کلې او قصبه ګنړلې شی په دې کښې هم اقامت د جمعې جائز دې، او د مصر تعریف کښې دا لیکلې دی چه، بلدة کبیرة فیها سکك و اسواق و کذا فیها امیر او قاض، یعنی هغه لوئې کلې په کوم کښې چه باقاعده سړکونه او کوڅې او بازار وی امیر یا قاضی وی.

په جمعه کښې د څومره کسانو شرکت ضروری دی:

او دا چه مونږ کوم اوونیل چه د شافعیه او حنابله په نیز باندې د څلویښتو کسانو شرکت ضروری دې په دې کښې د نورو ائمه مذاهب دا دی، د امام مالك په نیز باندې د دولسو کسانو حاضریدل ضروری دی، او د امام ابوحنیفه په نیز د امام نه علاوه ددرې کسانو کیدل ضروری دی، او د صاحبینو په نیز باندې د امام نه علاوه د دوو کیدل پوره دی، اوس د دلائلو بحث باقی پاتې شو.

[۱۰۶۸] ([2]) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، وَمُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْمُخَرِّمِيُّ لَفْظُهُ، قَالَا: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ طَهْمَانَ، عَنْ أَبِي جَمْرَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: إِنَّ أَوَّلَ جُمُعَةٍ جُمِّعَتْ فِي الْإِسْلَامِ بَعْدَ جُمُعَةٍ جُمِّعَتْ فِي مَسْجِدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمَدِينَةِ لَجُمُعَةٌ جُمِّعَتْ بِجُوَاثَاءَ قَرْيَةٍ مِنْ قُرَى الْبَحْرَيْنِ. قَالَ عُثْمَانُ: قَرْيَةٌ مِنْ قُرَى عَبْدِ الْقَيْسِ.

---

[1]: کذا في الاوجز، وفي المنهل ذهبت الشافعية والحنابلة الي انها تقام في كل قرية فيها اربعون رجلا احرارا بالغين عقلاء مقيمين بها لا يتقلون عنها الا لحاجة) ۱۲منه_

[2]: صحيح البخاري/الجمعة ۱۱ (۸۹۲)، والمغازي ۶۹ (۴۳۷۱)، (تحفة الأشراف: ۶۵۲۹) (صحيح)

د ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دی هغه ویلي دي: بېشکه اولنۍ جمعه چې خلق پکې راجمع شوي دي په اسلام کې ورسته د هغه جمعې نه چې جمع کړی شوي وو په مسجد د رسول الله ﷺ کې په مدینه کې، خامخا هغه جمعه ده چې جمع شوې ده په جوثاء کې، دا یو کلی دی د کلو د بحرین نه. ویلي دي عثمان: د کلو د عبد القیس نه.

۱. حدثنا عثمان بن ابی شیبه الخ، قوله، عن ابن عباس قال ان اول جمعة جُمعت فی الاسلام بعد جمعة جمعت فی مسجد رسول الله صلی الله علیه وسلم بالمدینة لجمعة جمعت بجوائی قریة من قری البحرین، مصنف رحمه الله په دې باب کښې د جُمعه فی القری د اثبات دپاره دوه حدیثه ذکر کړې دی، یو د ابن عباس رضي الله عنه دا حدیث یعنی حدیث جواثی او دویم د کعب بن مالک رضي الله عنه حدیث کوم چه د دینه روستو راځی.

د ړومبی حدیث نه استدلال په دې شان دې، د دینه معلومیږی چه د حضور ﷺ په زمانه کښې جواثی کښې کومه چه یوه قریه وه د جمعې مونځ قائم کړې شوې وو د دینه صفا ښکاره کیږی چه اقامت د جمعې فی القریه جائز دې.

حدیث الباب د جمعه فی القریٰ خلاف دې:

د دېنه پس زده کول پکار دی چه ړومبې حدیث د بادی الرائ کښې خو د امام شافعی او جمهورو دلیل دې خو په حقیقت کښې دا حدیث د حنفیانو دلیل دې لکه څنګه چه په بذل المجهود کښې علامه شوق نیموی نه نقل کړې دی، هغه داسې چه په دې حدیث کښې تصریح ده د دې خبرې چه دقریه جواثی نه وړاندې د مدینې منورې په چارچاپیره کښې هیڅ کلی کښې جمعه نهٔ وه قائم شوې، اوس کتل پکار دی چه دا اقامة الجمعة فی الجواثی د کوم کال واقعه ده چنانچه واقدی او دغه شان حافظ ابن حجر د دې تصریح کړې ده چه دا واقعه د هغه وخت ده کله چه وفد عبدالقیس د حضور ﷺ په خدمت کښې راغلې وو نو په واپسۍ کښې هغوی هلته په رسیدو سره جمعه قائمه کړه دا واقعه د اتم کال د هجرت ده یعنی د حضور ﷺ د وصال نه تقریبا دوه کاله وړاندې واقعه ده، اوس سوال دا دې چه آیا په دې دومره اوږده موده کښې د مدینې په چارچاپیره کښې څلویښت کسانو هم اسلام نهٔ وو قبول کړې، ظاهره چه تر اتم کال د هجرت پورې ډیرو کلو ته اسلام رسیدلې وو د اسلام خوریدل او اشتهار شوې وو د دېنه باوجود هلته د جمعې مونځ نهٔ کیدو نو د دې وجه سوا د دینه څهٔ کیدې شی چه اقامت جمعه فی القریٰ جائز نهٔ ده. فریق ثانی د دې حدیث نه چه کوم رخ د استدلال اختیار کړې دې یعنی لفظ د قریه د دې په حقله زمونږ علماء فرمائیلی دی چه دلته دوه امره قابل تحقیق دی، اول دا چه د قریه اطلاق صرف په کلی باندې کیږی یا مصر او ښار باندې هم، دویمه دا چه دا واقعه او نفس الامر څهٔ وو، آیا جواثی یو وړکې شان کلې وو یا لویه قصبه او ښار وو.

(آیا د قریه اطلاق صرف په کلو باندې کیږی؟)

اول امر سره متعلق عرض دې چه قرآن او حدیث کښې په ګڼرو مقاماتو باندې لوئې لوئې ښارونو او کلو باندې د قریه اطلاق شوې دې، مثلاً، قالوا لو لا نزل هذا القرآن علی رجل من

القريتين عظيم الايه، دلته د قريتينو نه مراد مکه او طائف دي د کومو چه ښار کيدل منلې شوې دی او مثلا ، واسئل القرية التي كنا فيها الايه،
په دې آيت کښې د قريه نه مراد ملك مصر دې، لهذا صرف دلفظ قريه د اطلاق د وجه نه په دې حديث سره استدلال کول صحيح نۀ دی ځکه چه معلومه شوه چه د قريه اطلاق په لوئې ښار باندې هم کيږي.

‹ايا جواثی کلې وو؟›

د امر ثانی متعلق عرض دې چه ډيرو ائمه جواثی لره ښار ښودلې دې چنانچه ابن التين او ابن الاعرابی وغيره په دې باندې د مدينې اطلاق کړې دې، دامرء القيس شاعر د کلام نه هم دا معلوميږی چه جواثی يووړوکې غوندې کلې نۀ وو ځکه چه دۀ خپلې قافلې لره د جواثی تاجرانو سره تشبيه ورکړې او وائی،

و رحنا کانًا من جواثی عشية تعالی النعاج بين عدل و محقب

يعنی زمونږ قافله سامان او ښکار سره را واپس شوه نو داسې معلوميدله چه هغه د جواثی د تاجرانو قافله ده کوم چه سامان پورته کوی او ځی، د جواثی تاجرانو سره تشبيه هغه وخت مناسب ده کله چه هغه وړوکې کلې نۀ وی، د دې دواړو نه علاوه يو دريم څيز هم د کتلو دې هغه دا چه د اهل جواثی د عمل له استدلال کولو دپاره دا هم ضروری دی چه حضور ﷺ ته دغه وخت د تجميع علم هم شوې وی، پس خلاصه د کلام دا شوه چه په دې حديث سره د استدلال کولو صحت په دريو امورو باندې موقوف دې، په کومو کښې چه يو هم ثابت نۀ دې، ١، عدم اطلاق القريه علی المدينه، ٢، کون جواثی قرية لا مدينة، ٣، اطلاعه ﷺ علی هذا التجميع و تقريره، والله تعالی اعلم بالصواب.

[١٠٦٩](١)حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ إِدْرِيسَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي أُمَامَةَ بْنِ سَهْلٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، وَكَانَ قَائِدَ أَبِيهِ بَعْدَ مَا ذَهَبَ بَصَرُهُ، عَنْ أَبِيهِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّهُ كَانَ إِذَا سَمِعَ النِّدَاءَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ تَرَحَّمَ لِأَسْعَدَ بْنِ زُرَارَةَ، فَقُلْتُ لَهُ: إِذَا سَمِعْتَ النِّدَاءَ تَرَحَّمْتَ لِأَسْعَدَ بْنِ زُرَارَةَ، قَالَ: لِأَنَّهُ أَوَّلُ مَنْ جَمَّعَ بِنَا فِي هَزْمِ النَّبِيتِ مِنْ حَرَّةِ بَنِي بَيَاضَةَ فِي نَقِيعٍ، يُقَالُ لَهُ: نَقِيعُ الْخَضِمَاتِ، قُلْتُ: كَمْ أَنْتُمْ يَوْمَئِذٍ؟ قَالَ: أَرْبَعُونَ.

د عبد الرحمن بن کعب بن مالک نه روايت دی او هغه راهنما د خپل پلار وو وروسته د هغې نه چې نظريې لرې شو، هغه روايت کوي د خپل پلار کعب بن مالک نه، هغه به چې به کله د جمعې اذان واوريدلو نو د رحم دعاء به يې کوله د اسعد بن زراره دپاره، نو ما ورته وويل هغه ته: کله چې ته اذان واورې د رحم دعاء کوې اسعد بن زراره ته، هغه ويل: ځکه هغه اولنی هغه څوک دی چې مونږ ته يې د جمعې مونځ وکړو مونږ ته په هزم النبيت کې د خوړ د بني بياضه نه په هغه ډنډ کې، چې هغې ته به نقيع الخضمات ويلی شو، ما ورته وويل: تاسو هغه وخت څومره کسان وې؟ هغه وويل: څلوېښت.

(١): سنن ابن ماجه/اقامة الصلاة ٧٨ (١٠٨٢)، (تحفة الأشراف: ١١١٤٩) (حسن)

قوله: عن عبدالرحمٰن بن كعب بن مالك و كان قائد ابيه بعد ما ذهب بصره.

مضمون حديث:

كعب بن مالك صحابي چه كله نابينا يعنى ړوند شو نو د هغوى ځوئي عبد الرحمٰن د هغوى قائد وو يعنى د لاس نه نيكونكي او بوتلونكي، هغوئ د خپل پلا كعب بن مالك نه روايت كوى چه ما خپل پلار كعب اوليدلو چه كله به هم هغوى د جمعې په ورځ د جمعې آذان واوريدلو نو د اسعد بن زراره دپاره به ئې د رحمت او مغفرت دعاء كوله، عبدالرحمٰن وائى چه يوه ورځ ما د خپل پلار نه د دې وجه تپوس اوكړه نو هغوى اوفرمائيل، لانه اول من جمع بنا فى هزم النبيت، چه اسعد بن زراره دپاره دعاء ځكه كوم چه هغوى دلته په مدينه منوره كښې يو ځائې د كوم نوم چه هزم النبيت دې مونږ ټولو خلقو ته ئې د ټولو نه ړومبې د جمعې مونځ راكړې وو، من حرة بنى بياضة، په مدينه كښې د يو ځائې نوم دې، نقيع الخضمات، دا هم د يو ځائې نوم دې، په اصل كښې نقيع هغه ښكته زمكې ته وائى په كوم ځائې كښې چه اوبۀ جمع شى او وابښۀ رازرغون شى، د دې حديث د ذكر كولو نه هم د مصنف مقصود اقامة جمعه فى القريه لره ثابتول دى، اوګورئ! اهل مدينه لره به اسعد بن زراره په مقام هزم النبيت كښې جمعه وركوله، هزم النبيت خو هم يو قريه ده ښار خو نۀ دې.

جواب الحنفية عن الحديث الثاني:

١. په دې حديث سره محمد بن اسحاق متفرد دې كوم چه متكلم فيه او مدلس دې او هغه دې لره په عن سره روايت كوى لهذا حديث ضعيف دې.

٢. دې حضراتو دا كار يعنى اقامت جمعه په خپلې رائې او اجتهاد سره هغۀ وخت كړې وه چه هغه وخت د جمعې مونځ مشروع شوې هم نۀ وو، چنانچه مصنف عبدالرزاق كښې يو روايت دې چه د ابن سيرين مرسل دې د كوم الفاظ چه دا دى، جمع اهل المدينة قبل ان يقدمها رسول الله ﷺ و قبل ان تنزل الجمعة... واجتمعوا الى اسعد بن زرارة فصلى بهم يومئذٍ، خلاصه د دې روايت دا ده چه د حضور ﷺ د مدينه تشريف راوړلو نه وړاندې اهل مدينه مشوره اوكړه چه يهود او نصارى هر يو د خپل عبادت دپاره يوه ورځ مقرر كړې ده په كومه كښې چه هغوى جمع كيږى او عبادت كوى لهذا مونږ لره هم يوه ورځ متعين كول پكاردى چنانچه په خپلو كښې په مشورې سره د جمعې د ورځې تعين اوشو،

٣، هزم النبيت د مدينې نه خارج څه مستقل كلې يا بانډه نۀ وه بلكه دا ځائې د مدينې د اطرافو نه دې لكه څنګه چه د هغه روايتونو د الفاظو نه معلوميږى كوم چه صاحب معجم البلدان ذكر كړې دى او دهلته نه حضرت په بذل المجهود كښې دا روايتونه نقل كړې دى د دې مذكوره امورو مخې ته كولو سره د دې حديث نه استدلال څنګه صحيح كيدې شى.

دلائل الحنفيه:

١، اثر على، يعنى د حضرت على رضي الله عنه هغه موقوف حديث د كوم تخريج چه عبدالرزاق او ابن ابى شيبه په ګڼړو سندونو سره كړې دې د كوم الفاظ چه دا دى، لا جمعة و لا تشريق الا فى مصر جامع، خو امام نووى رحمه الله د دې په حقله ليكلې دى چه، اتفقوا على ضعفه، جواب دا

دي چه د دې په ضعف باندې اتفاق د نووی نه علاوه بل چا نۀ دې نقل کړې، صرف دومره ونیلې شی چه د دې بعضې طرق ضعیف دی په کومو کښې چه حجاج بن ارطاة دې، او بعضې طرق د دې صحیح دی د کومو اعتراف چه حافظ ابن حجر هم په الدرایة فی تخریج احادیث الهدایة کښې کړې دې.

۲. دویم دلیل زمونږ د طرف نه دا وړاندې کړې شوې دې چه، عدم التجمیع فی قبا مع شرعیة الجمعة قبل ذالك بمکة، د دې وضاحت دا دې چه د جمعې مشروعیت د سورة جمعه د نزول نه وړاندې په مکه مکرمه کښې شوې وو لکه څنګه چه دې لره منلې ده علامه سیوطی شافعی رحمه الله په اتقان کښې او شیخ ابن حجر مکی شافعی په شرح المنهاج کښې او هم دغه شان علامه شوکانی په نیل الاوطار کښې (اګرچه حافظ ابن حجر عسقلانی دې لره نۀ دې تسلیم کړې) خو په مکه مکرمه کښې حضور ﷺ ته د جمعې په اقامت باندې قدرت نۀ وو شوې او په قبا کښې یقینا قدرت وو څکه چه د حضور ﷺ قیام هلته څلوارلس یا څلیریشت ورځې شوې وو لکه څنګه چه د بخاری شریف په دوو مختلفو روایتونو کښې دی او د دې باوجود په اتفاق سره هلته حضور ﷺ جمعه نۀ وه قائم کړې د کومې وجه چه هم دا وه چه هغه قریه وه، بلکه هلته دمنتقل کیدو نه پس چه مدینې ته اورسیدل نو په مسجد بنو سالم کښې حضور ﷺ د جمعې مونځ ادا کړو.

حافظ ابن قیم د دې اشکال جواب دا ورکړې دې چه د حضور ﷺ قیام په قبا کښې صرف څلور ورځې وو د ګل په ورځ حضور ﷺ هلته اورسیدلو او د جمعې په ورځ د صبا په وخت کښې د هغه ځائې نه مدینې طرف ته روان شول حال دا دې چه د بخاری په یو روایت کښې د حضور ﷺ هلته قیام څلوارلس ورځې [1] او په یو بل روایت کښې څلیریشت ورځې مذکور دی، هسې خو د اهل تاریخ هم په دې مسئله کښې اختلاف دې، سیرة ابن هشام کښې د محمد بن اسحاق صاحب المغازی قول څلور ورځې قیام منقول دې، دغه شان حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباری،ص، ۱۹۵ج،۷، کښې د ابن حبان او موسی بن عقبه د دې دواړو قول هم د محمد بن اسحاق موافق ذکر کړې دې، خو حافظ ابن کثیر په البدایه والنهایه،ص، ۱۹۸ج،۳، کښې د موسی بن عقبه نه دوه ویشت ورځې قیام نقل کړې دې او د واقدی نه ئې څلوارلس ورځې نقل کړې دې البته دمحمد بن اسحاق نه ئې د څلورو ورځو قیام نقل کړې دې.

۳. دریم دلیل د حضرت عائشه رضی الله عنها حدیث، کان الناس ینتابون الجمعة من منازلهم و من العوالی، کوم چه یو څو بابه وړاندې تیر شوې دې او په هغې باندې کلام هم تیر شوې دې.

[1] بخاری شریف کښې په ابواب الهجرة کښې، بضعة عشر یوما، مذکور دې او په ابواب المساجد کښې، اربعة وعشرین یوما، راغلې دی، په دې باندې حافظ لیکلې دی چه په بعضې نسخو کښې هم داسې دی او په اکثرو کښې اربعة عشر یوما دې او هم دا صحیح دې، غرض دا چه په دې مسئله کښې حافظ صاحب هم پریشانه دې څکه چه حافظ صاحب خو د بخاری شریف لوئې وفادار شارح دې او حتی الامکان د اختلاف درواياتو په صورت کښې د بخاری شریف روایت لره ترجیح ورکوی او په دې معامله کښې د بخاری شریف روایت د دۀ د مسلك خلاف ګرځیدلې دې). ۱۲منه

۴.څلورم دلیل زمونږ هغه حدیث کیدې شی کوم چه په راتلونکی باب کښې راځی د کوم مضمون چه دا دې چه یو ځل اختر او جمعه دواړه جمع شول نو حضور ﷺ د اختر مونځ کولو نه پس اعلان اوفرمائیلو چه د چا زړهٔ غواړی هغه دې د جمعې دپاره پاتې شی او څوك چه نهٔ غواړی هغه دې لاړ شی، و انا مجمعون، او مونږ خو به د جمعې مونځ کوو یعنی اهل مدینه او کوم اهل قریٰ چه د اختر دمونځ دپاره راغلې وو هغوی بغیر د جمعې د ادا کولو نه تلې شی ځکه چه په اهل قریٰ باندې د جمعې مونځ واجب نهٔ دې، حضرت امام شافعی د دې دا تاویل فرمائیلې دې چه اگر که په اهل قری باندې د جمعې مونځ واجب نهٔ وو خو په دې خاص صورت کښې یعنی چه کله د جمعې په ورځ باندې اختر هم وی نو د اهل قریه نه د جمعې مونځ ساقطیږی، د جمعه فی القری بحث بحمدالله پوره شو د حنفیانو سره نور هم قرائن شته دې خو دلته د دلائلو استقصاء مقصود نهٔ ده زمونږه اکابرو په دې مسئله باندې مستقل رسالې هم تصنیف فرمائیلې دی، حضرت گنگوهی اوثق العرٰی فی تحقیق الجمعة فی القرٰی او حضرت شیخ الهند ایضاح الادله، او حضرت تهانوی التحقیق فی اشتراط المصر للتجمیع، د دې مطالعه کول پکار دی.

بَاب إِذَا وَافَقَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ يَوْمَ عِيدٍ

باب دی کله چې برابره شي ورځ د جمعې د ورځ د اختر سره

یعنی که اختر د جمعې په ورځ وی نو د دې څهٔ حکم دې؟ د جمعې او اختر دواړه مونځونه به ادا کولې شی یا صرف یو.

[۱۰۷۰]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا إِسْرَائِيلُ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ الْمُغِيرَةِ، عَنْ إِيَاسِ بْنِ أَبِي رَمْلَةَ الشَّامِيِّ، قَالَ: شَهِدْتُ مُعَاوِيَةَ بْنَ أَبِي سُفْيَانَ وَهُوَ يَسْأَلُ زَيْدَ بْنَ أَرْقَمَ، قَالَ: أَشَهِدْتَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِيدَيْنِ اجْتَمَعَا فِي يَوْمٍ؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: فَكَيْفَ صَنَعَ؟ قَالَ: صَلَّى الْعِيدَ، ثُمَّ رَخَّصَ فِي الْجُمُعَةِ، فَقَالَ: "مَنْ شَاءَ أَنْ يُصَلِّيَ فَلْيُصَلِّ".

د ایاس بن ابی رملة الشامي نه روایت دی، هغه ویلي دي: زه حاضر شوم د معاویة بن ابي سفیان سره، او هغه تپوس کولو د زید بن ارقم نه، هغه وویل: ایا ته حاضر شوی یې د رسول الله ﷺ سره دوه اخترونو ته چې دواړه په یوه ورځ کې جمع شوي وي؟ هغه وویل: او، هغه وویل: هغه څنګه چل وکړو؟ ویې فرمایل: مونځ یې وکړو د اختر او رخصت یې ورکړو په جمعه کې، هغه وفرمایل: د چا چې خوښه وي چې مونځ وکړي نو ودې کړي.

۱. حدثنا محمد بن کثیر، قوله، شهدت معاویة بن ابی سفیان و هو یسال زید بن ارقم قال اشهدت مع رسول الله صلی الله علیه وسلم عیدین اجتمعا فی یوم قال نعم، ایاس بن رمله وائی چه زهٔ د حضرت معاویه رضی الله عنه په خدمت کښې حاضر ووم هغه وخت کله چه هغوی سوال کولو د حضرت زید بن ارقم رضی الله عنه نه چه آیا تهٔ د حضور ﷺ په خدمت کښې په کومه داسې ورځ

(): سنن النسائي/العيدين ۳۱ (۱۵۹۲)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱٦٦ (۱۳۱۰)، (تحفة الأشراف: ۳٦٥۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۷۲/٤)، سنن الدارمي/الصلاة ۲۲٥ (۱٦٥۳) (صحيح)

کښې موجود وې په کومه ورځ چه دوه اخترونه جمع شوې وی نو هغوی اوفرمائیل، آو، د عیدین اطلاق تغلیبا په جمعه او اختر باندې کړې شوې دې.

فقال کیف صنع، الخ، تپوس ئې اوکړو چه حضور ﷺ هغه ورځ څۀ کړې وو زید بن ارقم رضی الله عنه جواب ورکړو چه حضور ﷺ د اختر مونځ اوکړو او بیا ئې خلقو ته د جمعې د مونځ په باره کښې عام اجازت ورکړو چه د چا زړۀ غواړی نو ادا دې کړی او که نۀ غواړی نو نۀ دې کوی.

مسئلة الباب کښې مذاهب علماء:

په دې مسئله کښې د علماؤ اختلاف دې، د امام احمد مذهب دا دې چه کوم سړې د امام سره د اختر مونځ ادا کړی نو اوس د دۀ نه د جمعې مونځ ساقطیږی یعنی جمعه کول په دۀ باندې ضروری نۀ ده خو د جمعه نۀ کولو په صورت کښې د ماسپخین مونځ ادا کول به ضروری وی هغه نۀ ساقطیږی، خو دا حکم د دوئ په نیز باندې د امام نه د غیر دې د امام نه جمعه نۀ ساقطیږی، د امام مالك رحمه الله نه هم دا یو روایت دې او دویم روایت دا دې چه، لابد من الجمعة، او هم دا د حنفیانو مذهب دې، او امام شافعی رحمه الله دا فرمائی چه د ښار اوسیدونکو دپاره خو د جمعې مونځ ضروری دې خو هغه کلی واله کوم چه ښار ته د اختر مونځ ادا کولو دپاره راشی هغوی ته د اختر مونځ ادا کولو نه پس اختیار دې د جمعې مونځ ادا کولو او نۀ ادا کولو.

غرض دا چه د اجتماع د عیدینو په شکل کښې د ښار په اوسیدونکو باندې دواړه مونځونه واجب دی البته د اهل قریه نه د دې جمعې ورځې مونځ ساقطیږی، خو د دې په ځائې د ماسپخین مونځ کول ضروری دی[1] او د حنفیانو په نیز باندې خو په اهل قریه باندې د جمعې مونځ مطلقا واجب نۀ دې که د اختر ورځ وی یا نۀ وی.

[۱۰۷۱] ([2]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ طَرِيفٍ الْبَجَلِيُّ، حَدَّثَنَا أَسْبَاطٌ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ، قَالَ: صَلَّى بِنَا ابْنُ الزُّبَيْرِ فِي يَوْمِ عِيدٍ فِي يَوْمِ جُمُعَةٍ أَوَّلَ النَّهَارِ، ثُمَّ رُحْنَا إِلَى الْجُمُعَةِ "فَلَمْ يَخْرُجْ إِلَيْنَا فَصَلَّيْنَا وُحْدَانًا" وَكَانَ ابْنُ عَبَّاسٍ بِالطَّائِفِ، فَلَمَّا قَدِمَ ذَكَرْنَا ذَلِكَ لَهُ، فَقَالَ: أَصَابَ السُّنَّةَ.

د عطاء بن ابي رباح نه روایت دی هغه وئیلي دي: مونځ وکړو مونږ ته ابن الزبیر د اختر په ورځ په ورځ د جمعې کې په اول سر د ورځ کې، بیا مونږ جمعې ته لاړلو، هغه مونږ ته راونه وتلو نو مونږ ځانله مونځ وکړو، او وو ابن عباس په طائف کې، هرکله چې راغلو مونږ دا ذکر کړه هغه ته، هغه ووېل: سنت ته رسیدلی دی.

مضمون حدیث:

قوله: حدثنا محمد بن طریف. الخ، قوله، عن عطاء بن ابی رباح قال صلی بنا ابن الزبیر: عبدالله بن الزبیر رضی الله عنه کله چه د مکې امیر وو نو د یو خلې واقعه ده چه د جمعې په ورځ اختر شو نو هغوی د صبا په وخت کښې خلقو ته د اختر مونځ ورکړو بیا دبنه پس کله چه د جمعې وخت

[1]) یعني عندالجمهور خلافا لعطاء بن ابي رباح فانه اسقط الظهر ایضا، کما في المتن لم یزد علیهما حتي صلي العصر) ۱۲ منه_

[2]): صحیح مسلم/صلاة العیدین (۸۸۶)، (تحفة الأشراف: ۵۸۹۶) (صحیح)

راغلو نو خلق د جمعې مونځ کولو دپاره راغلل خو هغوی د جمعې ادا کولو دپاره د دننه نه بهر رانغلل پس خلقو مجبورا د ماسپخين مونځ ځانله ځانله ادا کړو، ابن عباس رضی الله عنه دغه وخت په مکه کښې موجود نهٔ وو بلکه په سفر کښې وو کله ئې چه د هغې ځائې نه تشريف راوړلو نو اهل مکه هغوی ته د دې واقعې ذکر اوکړلو نو هغوی اوفرمائيل، اصاب السنة، يعنی هغوی دشرعی قاعدې مطابق کړې دی،د ابن الزبير رضی الله عنه فعل ته خو دا وئيلې شی چه هغه د صحابی فعل دې مرفوع حديث نهٔ دې خو حضرت ابن عباس رضی الله عنه خو دې لره د حديث موافق فرمائی، د دې جواب به مونږ وړاندې ورکړو.

[۱۰۷۲]([1])حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ خَلَفٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنْ ابْنِ جُرَيْجٍ، قَالَ: قَالَ عَطَاءٌ: اجْتَمَعَ يَوْمُ جُمُعَةٍ وَيَوْمُ فِطْرٍ عَلَى عَهْدِ ابْنِ الزُّبَيْرِ، فَقَالَ: عِيدَانِ اجْتَمَعَا فِي يَوْمٍ وَاحِدٍ، فَجَمَعَهُمَا جَمِيعًا فَصَلَّاهُمَا رَكْعَتَيْنِ بُكْرَةً لَمْ يَزِدْ عَلَيْهِمَا حَتَّى صَلَّى الْعَصْرَ.

ويلي دي عطاء: جمع شوه ورځ د جمعې او د وړکوټې اختر په زمانه د ابن الزبير کې، هغه وويل: دوه اخترونه دي په يوه ورځ کې. نو دواړه يې جمع کړل او ويې کړل دوه رکعاته په وخت، زيادت يې ونه کړو په دواړو تردې چې مونځ يې وکړو د مازيګر.

[۱۰۷۳]([2])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُصَفَّى، وَعُمَرُ بْنُ حَفْصٍ الْوَصَّابِيُّ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ الْمُغِيرَةِ الضَّبِّيِّ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ رُفَيْعٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "قَدِ اجْتَمَعَ فِي يَوْمِكُمْ هَذَا عِيدَانِ، فَمَنْ شَاءَ أَجْزَأَهُ مِنَ الْجُمُعَةِ، وَإِنَّا مُجَمِّعُونَ". قَالَ عُمَرُ: عَنْ شُعْبَةَ.

د ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دی، هغه روايت کوي د رسول الله صلی الله علیه وسلم بېشکه هغه ويلي دي: ستاسو په دې ورځ کې دوه اخترونه جمع شوي دي، د چا چې خوښه وي نو کافي دی هغې لره د جمعې نه، او بېشکه مونږ جمع کونکي يو. ويلي دي عمر: د شعبه نه.

قوله: فمن شاء اجزاه من الجمعة و انا مجمّعون، يعنی حضور صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل چه نن ورځ دوه اخترونه جمع شوې دی نو چه کوم سړې دا غواړی چه د اختر مونځ به دهٔ دپاره پوره شی د جمعې نه نو دا کيدې شی خو مونږ به په هر حال کښې جمعه ادا کوو،

﴿د حديث الباب نه جوابات﴾

حنفيه او شافعيه داسې وائی چه د مونږ نه مراد اهل مدينه دی او کومو خلقو ته چه حضور صلی الله علیه وسلم د جمعې نهٔ کولو اجازت ورکړې دې دا هغه اهل قریٰ دی کوم چه حضور صلی الله علیه وسلم سره د اختر مونځ ادا کولو دپاره راغلې وو نو حضور صلی الله علیه وسلم د جمعه نهٔ ادا کولو اجازت صرف هغه کلی والو خلقو ته ورکړې وو، او د حنفيانو په نيز په اهل قريه باندې د جمعې مونځ واجب نهٔ دې او د شافعيه په نيز اگر که واجب دې خو په دې خاص صورت کښې واجب نهٔ دې، لهذا دا حديث د حنفيانو خلاف نهٔ دې([3]) هم دا جواب د تير شوې احاديثو هم دې او هغه چه ابن عباس رضی الله عنه مطلقا د نهٔ کولو اجازت ورکړې دې نو دا د خپل علم او گمان مطابق به ئې وئيلې

---

[1]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۵۷۸۳) (صحيح)

[2]): سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۶۶ (۱۳۱۱)، (تحفة الأشراف: ۱۲۸۲۷) (صحيح)

[3]) بلکه دجمعه في القریٰ په مسئله کښې دا حديث د حنفيانو دليل جوړيدې شی، کما تقدم)۱۲منه.

وی، ابن عباس رضي الله عنه د حضور ﷺ په زمانه کښې صغیر السن یعنی وړوکې وو کیدې شی د حضور ﷺ په مراد باندې پوهه شوې نۀ وی او حدیث لره هغوی عام ګنړلې وی حال دا دې چه د حضور ﷺ اجازت اهل قریه دپاره وو نۀ د اهل مدینه دپاره او که بالفرض دا احادیث د ترک جمعه دپاره عام اجازت اوګنړلې شی کما قال احمد نو بیا به د جمهورو د طرف نه جواب دا وی چه زمونږ استدلال دعموماتو نه دې یعنی په هغه احادیثو او دلائلو سره کومو سره چه د جمعې مطلقاً فرضیت ثابت دې داخترَ او غیر اختر هیڅ فرق نشته دې او د دې باب احادیث دومره قوی نۀ دی کوم چه د دې دلائلو مقابله اوکړې شی، والله تعالی أعلم بالصواب.

بَابُ مَا يُقْرَأُ فِي صَلَاةِ الصُّبْحِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ

باب دی په بیان د سحر مونځ کې د جمعې په ورځ

[۱۰۷۴][1] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ مُخَوَّلِ بْنِ رَاشِدٍ، عَنْ مُسْلِمٍ الْبَطِينِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يَقْرَأُ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ تَنْزِيلَ السَّجْدَةِ، وَهَلْ أَتَى عَلَى الْإِنْسَانِ حِينٌ مِنَ الدَّهْرِ".

د ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دی، ببشکه رسول الله ﷺ وو چې لوستل يې په مانځه د سحر کې په ورځ د جمعه کې، تنزیل السجده، او هل اتی علی الانسان حین من الدهر.

قوله، عن ابن عباس ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کان یقرأ فی صلوة الفجر تنزیل السجدة و هل اتی علی الانسان حین من الدهر، او د طبرانی په یو روایت کښې د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه حدیث سره، یدیم ذٰلك، راغلې دی، یعنی حضور ﷺ به همیشه د جمعې په ورځ د صبا په مانځه کښې سوره سجده او سوره دهر تلاوت فرمائیلو، او د دې حدیث نورې طریق چه کوم وړاندې په کتاب کښې مذکور دی دا زیاتې دې چه، وفی صلوة الجمعة بسورة الجمعة و اذا جاءك المنافقون، د جمعې د مانځه د قرأت دپاره یو مستقل باب ما یقرأ فی صلوة الجمعة، وړاندې په کتاب کښې راروان دې په هغې باندې به خبره هلته کوو.

مذاهب ائمه:

د جمعې په ورځ د صبا په مانځه کښې د دې دواړو سورتونو لوستل د شافعیه او حنابله په نیز سنت دی خو حنابله دا وائی چه دا دواړو سورتونو دې بغیر د مواظبة نه اولوستلې شی(منهل) او د حنفیانو په نیز د دې سورتونو لوستل کله کله مستحب دی د ماثور د اتباع په نیت سره او هم دې سورتونو لره متعین کول او په دې باندې همیشوالې کول د حنفیانو په نیز مکروه دی، اوس پاتې شو د مالکیه مذهب نو د هغوی په نیز مشهور قول کښې په فرض مونځ کښې د داسې سورت لوستل په کوم کښې چه سجده وی مکروه دی حتی چه د جمعې په ورځ د صبا په مانځه کښې هم د سورة سجده لوستل او دویم روایت د دوئ دا دې

---

[1]: صحیح مسلم/الجمعة ۱۷ (۸۷۹)، سنن الترمذي/الصلاة ۲۵۸ (۵۲۰)، سنن النسائي/الافتتاح ۴۷ (۹۵۶، ۹۵۷)، والجمعة ۳۸ (۱۴۲۲)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۶ (۸۲۱)، مسند احمد (۱/۲۲۶، ۳۰۷، ۳۱۶، ۳۲۸، ۳۳۴، ۳۵۴)، (تحفة الأشراف: ۵۶۱۳) (صحیح)

چه د ازدحام یعنی د ګڼړې په وخت کښې یعنی کله چه جماعت ډیر وی نو بیا کراهت شته ګینی شته ، دریم روایت د دوئ دا دې چه، یکره فی السریة دون الجهریة، او د شافعیه مذهب دا دې چه د سجدې واله سورت لوستل په فرضو کښې جائز دې خو سجده د تلاوت دې نۀ کوی، فلو سجد عالما بتحریمة بطلت الصلوة، او د امام احمد رحمه الله مذهب دا دې چه، یکره فی السریة دون الجهریة فان قرأ لا یسجد و عند الحنفیة یکره فی السریة و نحو جمعة و عید، دا ټول تفصیل په الفیض السمائی کښې مذکور دې، امام نسائی باب قائم کړې دې، باب السجود فی الفریضة، د پورتنې تفصیل نه دا معلومه شوه چه دلته دوه مسئلې دی او د سجدې واله سورت په فرض مومځ کښې لوستل، دویمه دا چه په فرض مونځ کښې که د سجدې واله سورت اولوستلې شی نو په دې کښې سجده د تلاوت دې اوکړې شی یا نۀ،

لطیفه:_ دا وړاندې راغلې دی چه د شوافعو په نیز په دې سورتونو باندې مواظبت غوره دې، او حنفیانو په نیز احیاناً، په دې باندې شیخ ابن الهمام رحمه الله لیکی چه مسئله خو دا وه چه په فعل باندې دې مواظبت او نۀ کړې شی بلکه احیانا دې اولوستلې شی، او بعضې حنفیة العصر دا کړې دی چه هغوی د دې سورتونو په ترک باندې مواظبت کړې دې، زۀ وایم په خلاف د شافعیه وغیره چه هغوی په دې فعل باندې مواظبت کونکې دی، نو د یو امی هندی سړی قصه واورولې شوه چه هغۀ د حج کولو نه پس واپس خپل وطن هندوستان ته راغلو نو دلته ئې د هغۀ خائې خبرې اورول شروع کړې نو هغه دا هم اوښودل چه ما یوه عجیبه خبره اولیدله چه د جمعې په ورځ به صبا په مانځه کښې همیشه درې رکعاته کیدل، او حضرت ګنګوهی رحمه الله په تقریر کښې دا دی چه زمونږ په نیز د دې سورتونو لوستل کله کله مستحب دی یا اکثر، او په کثرت کښې دوه احتماله دی فی نفسه کثرت یا کثرة الوجود علی العدم، یعنی نۀ د لوستلو په مقابله کښې د دې سورتونو لوستل ډیروی.

[۱۰۷۵] (۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ مُخَوَّلٍ بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ، "وَزَادَ فِي صَلَاةِ الْجُمُعَةِ بِسُورَةِ الْجُمُعَةِ إِذَا جَاءَكَ الْمُنَافِقُونَ.

د مخول نه روایت دی په اسناد او معنی د هغې سره، او هغه زیادت کړی دی د جمعې په مانځه کې سورة الجمعة او اذا جاءک المنافقون.

بَابُ اللُّبْسِ لِلْجُمُعَةِ

باب دی په بیان د اغوستلو کې د جمعې دپاره

[۱۰۷۶] (۲) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَأَى حُلَّةَ سِيَرَاءَ، يَعْنِي: تُبَاعُ عِنْدَ بَابِ الْمَسْجِدِ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، لَوِ اشْتَرَيْتَ هَذِهِ فَلَبِسْتَهَا يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَلِلْوَفْدِ إِذَا قَدِمُوا عَلَيْكَ،

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۵۶۱۳) (صحیح)

[2]: صحیح البخاري/الجمعة ۷ (۸۸۶)، والعیدین ۱ (۹۴۸)، والهبة ۲۷ (۲۶۱۲)، ۲۹ (۲۶۱۹)، والجهاد ۱۷۷ (۳۰۵۴)، واللباس ۳۰ (۵۸۴۱)، والأدب ۹ (۵۹۸۱)، ۶۶ (۶۰۸۱)، صحیح مسلم/اللباس ۱ (۲۰۶۸)، سنن النسائي/الجمعة ۱۱ (۱۳۸۳)، والعیدین ۴ (۱۵۶۱)، والزینة ۸۳ (۵۲۹۷)، ۸۵ (۵۳۰۱)، (تحفة الأشراف: ۸۰۲۳، ۸۳۳۲۵)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/اللباس ۱۶ (۳۵۸۹)، مسند احمد (۲/۲۰، ۳۹، ۴۹) ویأتي هذا الحدیث في اللباس (۴۰۴) (صحیح)

فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّمَا يَلْبَسُ هَذِهِ مَنْ لَا خَلَاقَ لَهُ فِي الْآخِرَةِ"، ثُمَّ جَاءَتْ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهَا حُلَلٌ، فَأَعْطَى عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ مِنْهَا حُلَّةً، فَقَالَ عُمَرُ: كَسَوْتَنِيهَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ، وَقَدْ قُلْتَ فِي حُلَّةِ عُطَارِدٍ مَا قُلْتَ، فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنِّي لَمْ أَكْسُكَهَا لِتَلْبَسَهَا" فَكَسَاهَا عُمَرُ أَخًا لَهُ مُشْرِكًا بِمَكَّةَ.

د عبد الله بن عمر نه روایت دی، بېشکه عمر بن الخطاب ولیدله یوه جوړه سیراء ـ یعني ـ چې خرڅیدله د دروازې سره، هغه وویل: ای د الله رسوله! که دا دې اخستې وه او اغوستې دې وه د جمعې په ورځ او د وفد لپاره کله چې راځي تاته، وویل رسول الله ﷺ: بېشکه اغوندي دا هغه څوک چې د هغه حصه نه وه په اخرت کې. بیا رسول الله ﷺ ته د هغې نه جوړې راغلې، نو ورېې کړه عمر ته یوه جوړه، عمر وویل: تا ماته راواغوسته ای د الله رسوله! او تا ویلي وو په جوړو د عطارد کې هغه څه چې تا ویلي وو، نو رسول الله ﷺ وویل: ما تاته دې لپاره درنه کړه چې ته یې واغوندې. نو عمر خپل یو ورور ته ورکړه چې مکه کې وو او مشرک وو.

۱. حدثنا القعنبی ـ قوله ـ ان عمر بن الخطاب رای حُلَّةً سیراءَ یعنی تباع عند باب المسجد، دا حلة سیراء صفت سره او حلة سیراء اضافت سره دوړاه شان لوستلې شوې ده، سیراء یو خاص قسم کپړه وی په کومې کښې چه ریښم هم وی او په بعضو نسخو کښې د دې تفسیر په خالص ریښمی کپړې سره هم کړې دې.

قوله، فی حلة عطارد، عطارد د حضور ﷺ په زمانه کښې یو سړې وو چا چه هم د حضور ﷺ په زمانه کښې روستو اسلام راوړې وو دهٔ لره یو باچا د ریښمو حله (یعنی چپنه) ورکړې وه کومې لره چه هغه خرڅول غوښتل لکه څنګه چه د طبرانی په یو روایت کښې دی، نو حضرت عمر رضی الله عنه دا جوړه واغستله او د حضور ﷺ په خدمت کښې حاضر شو چه که تاسو اوفرمائی نو زهٔ دا به ستاسو دپاره واخلم، لفظ د عطارد منصرف او غیر منصرف دواړه شان لوستلې شی، فکساها عمر اخا له مشرکا بمکة، بیا حضرت عمر رضی الله عنه هغه جوړه خپل یو مشرك رور ته واغستوله کوم چه په مکه کښې اوسیدو، بعضې وائی چه هغهٔ د دهٔ اخیافی رور وو او بعضې وائی چه رضاعی وو د هغهٔ نوم عثمان بن حکیم لیکلې دې، په دې کښې اختلاف دې چه روستو هغهٔ اسلام راوړې وو یا نهٔ د سړو دپاره لُبس حریر یعنی د ریښمو اغوستل ناجائز دی د دې تفصیل به په کتاب اللباس کښې راشی.

الفوائد الحاصلة من الحدیث:

په بذل کښې لیکلې دی چه د دې حدیث نه مستفادیږی چه کفار دفروع اسلام یعنی د اسلامی احکامو مکلف نهٔ دې ځکه چه حضرت عمر رضی الله عنه دې خبره باندې پوهیدو چه هغه مشرك به دا د ریښمو لباس خامخا اغوندی او ظاهره دا ده چه حضور ﷺ ته د دې لیږلو علم وو دغه شان دا هم معلومه شوه چه مسلمان خپل مشرك رشته دار سره احسان او صله رحمی کولې شی خو هغهٔ سره مودت او د زړهٔ تعلق ممنوع دې.

حضرت لیکی چه د دې نه یوه بله مسئله هم مستفاد کیږی د کومې چه امام صاحب قائل دې هغه دا چه د امام صاحب په نیز د یو مسلمان خپل کور یا دوکان داسې سړی لره په

کرایه باندې ورکول جائز دی د چا په باره کښې چه دا معلومه وی چه هغهٔ به دې لره په یو حرام کار کښې استعمالوی مثلا بیع خمر وغیره یا یو مجوسی یا وثنی لره په کرایه باندې ورکول د چا په حقله چه دا معلومه وی چه هغهٔ به په دې کښې خپل یو مذهبی کار کوی آتش پرستی یعنی د نمر عبادت کول یا بت پرستی وغیره.

[۱۰۷۷](۱)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ، وَعَمْرُو بْنُ الْحَارِثِ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: وَجَدَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ حُلَّةَ إِسْتَبْرَقٍ تُبَاعُ بِالسُّوقِ فَأَخَذَهَا، فَأَتَى بِهَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: ابْتَعْ هَذِهِ تَجَمَّلْ بِهَا لِلْعِيدِ وَلِلْوُفُودِ، ثُمَّ سَاقَ الْحَدِيثَ، وَالْأَوَّلُ أَتَمُّ.

سالم د خپل پلار نه روایت کوي، هغه ووېل: بیاموندله عمر بن الخطاب یوه جوړه د رېښمو نه چې خرخېدله په بازار کې، نو هغه یې واخسته رایې وړه رسول الله ﷺ ته هغه ووېل: دا واخله او ځان پرې ښائسته کړه د اختر لپاره او د وفدونو دپاره، بیایي حدیث بیان کړو، او اولنی اتم دی.

قوله: وجد عمربن الخطاب حلة استبرق تباع بالسوق. الخ، کوم رېښم چه نرئ قسم واله وی هغې ته دیباج وائی، مارقّ من الحریر، او استبرق هغه رېښم کوم چه دپیړ وی، ما غلظ من الحریر.

[۱۰۷۸](۲)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ، وَعَمْرٌو، أَنَّ يَحْيَى بْنَ سَعِيدٍ الْأَنْصَارِيَّ حَدَّثَهُ، أَنَّ مُحَمَّدَ بْنَ يَحْيَى بْنِ حَبَّانَ حَدَّثَهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَا عَلَى أَحَدِكُمْ إِنْ وَجَدَ، أَوْ مَا عَلَى أَحَدِكُمْ إِنْ وَجَدْتُمْ، أَنْ يَتَّخِذَ ثَوْبَيْنِ لِيَوْمِ الْجُمُعَةِ سِوَى ثَوْبَيْ مِهْنَتِهِ". قَالَ عَمْرٌو: وَأَخْبَرَنِي ابْنُ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ مُوسَى بْنِ سَعْدٍ، عَنِ ابْنِ حَبَّانَ، عَنِ ابْنِ سَلَامٍ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ ذَلِكَ عَلَى الْمِنْبَرِ. قَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَرَوَاهُ وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَيُّوبَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ مُوسَى بْنِ سَعْدٍ، عَنْ يُوسُفَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَلَامٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

حدیث بیان کړی دی یحیی بن حبان، بېشکه رسول الله ﷺ ویلي دي: هیڅ شی نشته دی یو کس ستاسو باندې که چېرې بیامومي ـ او یا نشته په یو کس ستاسو که چېرې پیدا کړئ. چې ونیسي دوه جامې د جمعې د ورځې دپاره، سوی د جامو د کار د هغه نه. ویلي دي عمرو: خبر راکړی دی ماته ابن ابي حبیب د موسی بن سعد نه او هغه د ابن حبان نه او هغه د ابن سلام نه، بېشکه هغه اورېدلي دي د رسول الله ﷺ نه چې هغه ویل دغه په منبر. ویلي دي ابوداود: او د دې روایت کړی دی وهب بن جریر د خپل پلار نه او هغه د یحیی بن ایوب نه، او هغه د یزید بن ابي حبیب نه او هغه د موسی بن سعد نه او هغه د یوسف بن عبد الله بن سلام نه او هغه د نبي ﷺ نه.

۳. حدثنا احمد بن صالح، الخ، قوله، ان محمد بن یحيٰ ابن حبان حدثه، دا حدیث مرسل دې ځکه چه محمد بن یحي تابعی دې، قوله، ما علی احدکم ان وجد او ما علی احدکم، دا شك د راوی دې داسې ئې فرمائیلې وو یا داسې.

(۱): صحیح مسلم/اللباس ۱ (۲۰٦۸)، سنن النسائي/العیدین ٤ (۱۵٦۱)، (تحفة الأشراف: ٦٨٩٥) (صحیح)
(۲): سنن ابن ماجه/ إقامة الصلاة ۸۳ (۱۰۹۵)، (تحفة الأشراف: ۵۳۳٤، ۱۱۸۵۵)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الجمعة ۸ (۱۷) (صحیح)

د حدیث مطلب دا دې چه حضور ﷺ ارشاد فرمائی چه په تاسو کښې د چا دپاره په دې کښې څۀ حرج دې چه د جمعې په ورځ هغه دوه کپړې تیارې کړی کله چه د جمعې ورځ راشی نو هغه دې واغوندې، سِوَی ثوبی مهنته، د روزګار د جامو نه علاوه، یعنی کومې جامې چه سړې واغوندی او پوره جمعه کار کوی او خدمت کوی د هغې نه علاوه خاص د جمعې دورځې دپاره د جامو یوه جوړه پکار ده، قال عمرو واخبرنی ابن ابی حبیب،

شرح السند:

پورته په سند کښې د ابن وهب دوه استاذان مذکور دی یو یونس او دویم عمرو، د عمرو رومبې روایت د یحیي بن سعید نه وو، اوس ابن وهب دا وائی چه زما استاذ عمرو دې حدیث لره څنګه چه عمرو د یحیی بن سعید نه روایت کوی دغه شان ابن ابی حبیب نه هم روایت کوی خو فرق په دواړو کښې دا دې چه رومبې روایت د حضور ﷺ نه نقل کونکې محمد بن یحیي دې کوم چه تابعی دې لهذا هغه روایت خو مرسل شو، او دې دویم روایت کښې محمد بن یحيي بن حبان او د حضور ﷺ په مینځ کښې ابن سلام واسطه ده لهذا دا روایت د مرسل په ځائې باندې مسند شو. خو د ابن سلام په مصداق کښې دوه احتماله دی که د دۀ نه مراد عبد الله بن سلام صحابی دې نو بیا خو دا روایت منقطع شو ځکه چه د ابن حبان سماع د عبدالله بن سلام نه ثابته نۀ ده،[1] او دویم احتمال دا دې چه دابن سلام نه مراد دعبدالله بن سلام ځوئې وی د چا نوم چه یوسف دې لکه څنګه چه په راتلونکې روایت کښې راځی دې د کشرانو صحابهٔ نه دې او ابن حبان د دوئ زمانه موندلې ده لهذا په دې صورت کښې به دا روایت مسند او متصل وی.

بَابُ التَّحَلُّقِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ قَبْلَ الصَّلَاةِ

باب دی په بیان د حلقه کې د جمعې په ورځ مخکې د مانځه نه

[۱۰۷۹][2] حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنِ الشِّرَاءِ وَالْبَيْعِ فِي الْمَسْجِدِ، وَأَنْ تُنْشَدَ فِيهِ ضَالَّةٌ، وَأَنْ يُنْشَدَ فِيهِ شِعْرٌ، وَنَهَى عَنِ التَّحَلُّقِ قَبْلَ الصَّلَاةِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ".

عمرو بن شعیب نه روایت دی او هغه د خپل پلار نه روایت کوي او هغه د خپل نیکه نه کوي، بېشکه رسول الله ﷺ منع کړي ده د شراء او د بیع نه په مسجد کې، او دا چې اعلان وکړی شي په هغې کې د ورک شوي شي، او دا چې وویل شي پکې شعر، او منع یې کړي ده د حلقې جوړولو نه د مانځه نه مخکې په ورځ د جمعه کې.

قوله. ان رسول الله صلى الله عليه وسلم نهى عن الشراء و البيع فى المسجد، په جومات کښې دننه بیع او شراء دا د جومات استعمال په غیر ما وضع له کښې دې ځکه چه د مساجدو بناء

[1] ځکه چه دمحمد بن یحيي پیدائش ،۴۷، هجری کښې شوې دې او د عبدالله بن سلام وفات په،۴۳، هجری کښې شوې دې۔

[2]: سنن الترمذي/الصلاة ۱۲٤ (۳۲۲)، سنن النسائي/المساجد ۲۳ (۷۱٦)، (تحفة الأشراف: ۸۷۹٦)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/المساجد ٥ (۷٤۹)، مسند احمد (۱۷۹/۲) (حسن)

د تلاوت د قرآن او ذکر الله دپاره ده.

دا نهی د حنفیه او شافعیه په نیز د کراهیت دپاره ده د غیر معتکف په حق کښې او د حنابله په نیز مطلقا د تحریم دپاره ده که بیع قلیل یعنې لږه وی یا کثیر یعنی ډیره وی معتکف وی یا غیر معتکف وی، حضرت امام احمد رحمه الله په دې کښې متشدد دې او د بعضې شوافعو په نیز مطلقا جائز دې، او د امام طحاوی رائې کومه چه هغوی په شرح معانی الآثار کښې روایاتو سره ثابت کړې ده دا ده چه ممانعت په نفس بیع او شراء سره نۀ دې بلکه په کثرت بیع او شراء یعنی د اغستلو او خرخولو په ډیروالی سره دې، دې هم اغستل او خرڅول کوی او هغه هم اغستل او خرڅول کوی تر دې چه د جومات حالت د بازار مشابه شی، که یو یا دوو سړی ځانله ځانله اعستل او خرڅول اوکړی نو په دې کښې هیڅ باك نشته دې، چنانچه امام طحاوی رحمه الله په یو روایت سره د حضرت علی رضی الله عنه په جومات کښې په ناستې سره خصف نعل(پیزار ګنډل او جوړول) ثابت فرمائیلې دی د کوم علم چه حضور صلی الله علیه وسلم ته هم وو، چنانچه حضور صلی الله علیه وسلم د دی په باره کښې د یوې واقعې د لاندې اوفرمائیل، و لکنه خاصف النعل فی المسجد، امام طحاوی رحمه الله فرمائی د دینه معلومه شوه چه عمل فی المسجد جائز دې خو د نفس عمل دپاره نۀ د کثرت عمل دپاره، که ډیر خلق په جومات کښې خپل خپل پیزار سمولو دپاره کینی په کوم سره چه د جومات هیئت بدل شی نو ظاهره ده چه د دې څوك اجازت ورکولې شی.

وان تنشد فیه ضالة، د دې بیان په ابواب المساجد کښې په باب فی کراهیة انشاد الضالة فی المسجد د لاندې تیر شوې دې، و ان ینشد فیه شعر،

د انشاد الشعر فی المسجد بحث:

په دې حدیث کښې د انشاد شعر فی المسجد نه منع کړې شوې ده او د ډیرو روایاتو نه د دې جواز معلومیږی، چنانچه امام ترمذی رحمه الله د دې حدیث په ذیل کښې فرمائی، وقد رُوی عن النبی صلی الله علیه وسلم فی غیر حدیث رخصة فی انشاد الشعر فی المسجد، چنانچه په صحیحینو کښې دی چه یو ځل د حضرت عمر رضی الله عنه د مسجد نبوی سره تیریدل اوشو هغه وخت حضرت حسان رضی الله عنه د حضور صلی الله علیه وسلم شاعر په جومات کښې شعرونه وئیل نو حضرت عمر رضی الله عنه هغوی طرف ته په تیزنظرونو سره اوکتل نو په دې باندې حضرت حسان رضی الله عنه عرض اوکړو، کنت انشد فیه و فیه من هو خیر منك، چه ما به په جومات کښې اشعار د هغه چا په موجودګئ کښې وئیل کوم چه د دستانه افضل وو(یعنی حضور صلی الله علیه وسلم) دغه شان د ترمذی په یو روایت کښې دی چه حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه حضور صلی الله علیه وسلم به د حضرت حسان رضی الله عنه دپاره په جومات کښې منبر ایخودلو بیا به هغۀ په هغې باندې اودریدلو او په اشعارو کښې به ئې د کفارو بدی بیانوله، دا حدیث د ترمذی په ابواب الاستیذان،ص،۱۰۷،ج،۲، په آخره کښې دې او دې ځائې کښې د حضرت انس رضی الله عنه یو بل حدیث دې چه کله حضور صلی الله علیه وسلم په عمرة القضاء کښې مکې مکرمې ته داخلیدو نو عبدالله بن رواحه رضی الله عنه به د حضور صلی الله علیه وسلم نه وړاندې دا اشعار لوستل او روان به وو.

خلوا بنی الکفار عن سبیله اليوم نضربكم على تنزيله
ضربا يزيل الهام عن مقيله و يذهل الخليل عن خليله

د متعارضه رواياتو په مينځ كښې تطبيق:

الحاصل، په دې باره کښې د جواز او منع دواړه شان روايتونه راغلي دي جمهورو علماؤ د دې په مابين کښې تطبيق دغه شان فرمائيلي دې چه د منع تعلق د هغۀ اشعارو سره دې په کوم کښې چه تفاخر وي يا د داسې سړي مدح وي کوم چه قابل د مدح نۀ وي، يا د داسې سړي مذمت يعنې بدی د چا مذمت چه جائز نۀ وي او کله چه اشعار د دين او اسلام د مدحې او د كفارو د مذمت يا د بل څۀ حکمت خبرې وي او د مکارم اخلاق ترغيب وي نو په دې کښې څۀ باك نشته دې.[1]

د حديث شارحينو ابن العربي او امام نووی وغيره هم دا ليکلي دی او يو عالم دې ابوعبدالله البونی د هغوی رائې دا ده چه احاديث النهی د اذن د پاره ناسخ دی خو چا هم د دوئ موافقت نۀ دې کړې(من المنهل) د امام طحاوی رحمه الله رائې هم دلته هم هغۀ ده چه ممانعت د مطلقا انشاد شعر نه نۀ دې بلکه د دې کثرت او غلبې سره دې چه ډير خلق په جومات کښې کينی او شعر او شاعری او بيت بازی شروع کړی دا ممنوع ده.

و نهى عن التحلق قبل الصلوة يوم الجمعة: يعنی د جمعې په ورځ د جمعې د مونځ نه وړاندې بعضې خلق راشی او په جومات کښې حلقه جوړه کړی او کينی د دېنه منع کړې شوې ده ځکه چه دا هيئت د مونځ د هيئت خلاف دې د صف بندئ خلاف دې په دې سره قطع صفوف لازميږی کله چه څۀ خلق په جومات کښې حلقه جوړه کړی او کينی نو دومره برخه د صف نه منقطع شی او نورې هم بعضې خرابئ دی مثلا دا چه کله خلق حلقه جوړه کړی او کينی نو په خبرو اترو کښې مشغول شی حال دا دې چه په جومات کښې آمد يعنی راتلل د مونځ د ادا کولو دپاره وی نۀ د خبرو اترو دپاره، او په حديث کښې د قبل الصلوة دقيد نه معلوميږی چه بعدالصلوة تحلق فی المسجد ممنوع نۀ دې د مونځ نه پس په حلقه جوړولو سره کيناستې شی، دغه شان د جمعې د ورځ د علاوه په نورو ورځو کښې د تحلق اجازت دې د جمعې د ورځې خصوصيت خو د دې وجه نه دې چه په دې ورځ په جومات کښې ګڼړه وی

---

[1] ابن العربی فرمائی چه انشاد الشعر في المسجد کښې هيڅ حرج نشته دې کله چه هغۀ اشعار د دين او ديندارئ په مدح کښې وی اګرکه(ضمنا په دې اشعارو کښې علی عادت العرب) د خمر يعنی شرابو او د هغې د خبيثو صفاتو ذکر د مدحې په توګه ولې نۀ وی،

قصيده بانت سعاد ، او په تحقيق سره په جومات کښې مدح کړې ده کعب بن زبير رضي الله عنه د حضور صلى الله عليه وسلم په خپله مشهوره قصيده کښې(قصيده بانت سعاد سره مشهوره ده) چه د هغې د شروع مصرعه دا ده، ع، بانت سعاد فقلبي اليوم متبول، په کومې کښې چه وړاندې لاړ شی نو د خمر د مدحې په باره کښې دغه شان دی، کانه منهل بالراح معلول، په بذل کښې ليکلي دی چه حافظ عراقی فرمائی چه دا قصيده مونږ ته په ګڼړو طريقو سره رارسيدلې ده خو په دې کښې يوطريق هم صحيح نۀ دې، محمد بن اسحاق هم دې قصيدې لره ذکر کړې ده خو په سند منقطع سره هغۀ فرمائی او که تسليم کړې شی چه دا قصيده د حضور صلى الله عليه وسلم د وړاندې په جومات کښې لوستلې شوې ده نو بيا مونږ دا وايو چه په دې کښې په څه ځائې کښې د شرابو مدح نۀ ده شوې البته د ريق شرابو مدح په دې کښې ده(بذل)۔

خلق ډیر وختې په جومات کښې جمع کېدل شروع کیږي، د تبکیر الی الجمعه د حکم د وجې نه، او په حلقه جوړولو سره کیناستلو سره رومبې خو د مونځ هیئت باقي نهٔ پاتې کیږي د کوم دپاره چه راغلې وی دویمه دا چه د ځائې تنګ والې راځي هلته څوك دویم کس نهٔ شي کیناستلې وغیره وغیره خرابئ دی. او د امام طحاوی رائې دلته هم هغه ده چه ممانعت د نفس تحلق نهٔ دې بلکه د کثرت تحلق دې چه مختلف خلق خپلې خپلې حلقې جوړې کړی او په جومات کښې کینی، صرف په یوه نیمه حلقه جوړولو سره کیناستلو کښې څهٔ باك نشته دې، والله تعالی اعلم بالصواب.

بَابٌ فِي اتِّخَاذِ الْمِنْبَرِ

باب دی په بیان د جوړولو د منبر کې

دا ترجمه نورو مصنفینو حضراتو هم قائمه کړې ده، چنانچه امام بخاری او امام ترمذی رحمهما الله. باب الخطبه علی المنبر، باب تړلې دې.

د ترجمة الباب غرض:

حضرت ګنګوهی په تقریر الکوکب الدری کښې لیکلې دی، شاید د دېنه مقصود د مصنف دا ثابتول دی چه دا بدعت یا خلاف تواضع نهٔ دی او په دې کښې شاید څوك دا اوګنړی چه دا به د جابره او د متکبرینو عادت وی، بلکه دا خو د حضور ﷺ نه ثابت دی، نیز دا ئې لیکلې دی چه د حضور ﷺ د منبر درې درجات یعنی پوړئ وی په دریمه باندې به هغوی کیناستل او د دوئ قدمونه مبارك به په دویمه پوړئ باندې وو، بیا د حضور ﷺ نه روستو صدیق اکبر رضی الله عنه ادبًا په دویمه باندې کیناستل او په رومبی باندې به ئې قدمونه وو، بیا د دوئ نه روستو حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په دریمه پوړئ باندې کیناستلو او په زمکه باندې به ئې پښې وی، بیا حضرت عثمان رضی الله عنه دپاره اوس بله پوړئ نه وه پاتې نو ځکه هغوی به د ټولو نه اولنئ درجه باندې کیناستلو، او په حاشیه د کوکب کښې لیکلې دی چه په شروع کښې یو څو کاله به حضرت عثمان رضی الله عنه دا اوکړل چه په آخری پوړئ باندې به کیناستلو د حضرت عمر رضی الله عنه پشان بیا روستو ئې پورتنئ پوړئ باندې کیناستل شروع کړل.

[۱۰۸۰] (۱) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدٍ الْقَارِيُّ الْقُرَشِيُّ، حَدَّثَنِي أَبُو حَازِمِ بْنُ دِينَارٍ، أَنَّ رِجَالًا أَتَوْا سَهْلَ بْنَ سَعْدٍ السَّاعِدِيَّ وَقَدِ امْتَرَوْا فِي الْمِنْبَرِ مِمَّ عُودُهُ، فَسَأَلُوهُ عَنْ ذَلِكَ، فَقَالَ: وَاللَّهِ إِنِّي لَأَعْرِفُ مِمَّا هُوَ، وَلَقَدْ رَأَيْتُهُ أَوَّلَ يَوْمٍ وُضِعَ، وَأَوَّلَ يَوْمٍ جَلَسَ عَلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَرْسَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى فُلَانَةَ امْرَأَةٍ قَدْ سَمَّاهَا سَهْلٌ أَنْ مُرِي غُلَامَكِ النَّجَّارَ أَنْ يَعْمَلَ لِي أَعْوَادًا أَجْلِسُ عَلَيْهِنَّ إِذَا كَلَّمْتُ النَّاسَ" فَأَمَرَتْهُ فَعَمِلَهَا مِنْ طَرْفَاءِ الْغَابَةِ، ثُمَّ جَاءَ بِهَا فَأَرْسَلَتْهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "فَأَمَرَ بِهَا فَوُضِعَتْ هَاهُنَا" فَرَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "صَلَّى عَلَيْهَا وَكَبَّرَ عَلَيْهَا، ثُمَّ رَكَعَ وَهُوَ عَلَيْهَا، ثُمَّ نَزَلَ الْقَهْقَرَى فَسَجَدَ فِي أَصْلِ الْمِنْبَرِ، ثُمَّ عَادَ" فَلَمَّا فَرَغَ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ، فَقَالَ: "أَيُّهَا النَّاسُ

(۱): صحيح البخاري/الصلاة ۱۸ (۳۷۷)، والجمعة ۲۶ (۹۱۷)، صحيح مسلم/المساجد ۱۰ (۵۴۴)، سنن النسائي/المساجد ۴۵ (۷۴۰)، (تحفة الأشراف: ۴۷۷۵)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۹۹ (۱۴۱۶)، مسند احمد (۵/۳۳۹)، سنن الدارمي/الصلاة ۴۵ (۱۲۹۳) (صحيح)

إِنَّمَا صَنَعْتُ هَذَا لِتَأْتَمُّوا بِي، وَلِتَعَلَّمُوا صَلَاتِي".

مونږ ته حدیث بیان کړی دی ابو حازم بن دینار، بېشکه څه سړي راغلل سهل بن سعد الساعدي ته، او د هغوی شک وو په منبر کې چې د څه شي نه وو د هغه لرګی، نو هغه نه یي تپوس وکړو د هغه په باره کې، هغه وویل: قسم په الله زه پیژنم چې هغه د څه شي نه وو، او ما هغه لیدلی وو په اولنی ورځ چې کېښودلی شو، او اولنی ورځ چې ناست وو په هغې باندې رسول الله ﷺ، ولېږلو رسول الله ﷺ فلانکې ته- یوه ښځه چې مسمی کړه هغې لره سهل- چې امر وکړه ستا نجار غلام ته چې ماله څه لرګي تیار کړي چې زه پرې کینم چې کله د خلقو سره خبرې کوم، نو هغې ورته امر وکړو نو هغه یې جوړ کړو د طرفاء الغابه نه، بیایې راوړلو هغې ولېږلو نبي ﷺ ته، نو امرېې وکړو نو هغه کېښودلی شو دلته، ما ولیدلو رسول الله ﷺ مونځ یې وکړو په هغې او تکبیرېې وویله په هغې، بیایې رکوع وکړه په هغې، په شا راکوز شو، سجده یې وکړه بیخ د منبر سره، بیا واپس شو، هرکله چې فارغ شو خلقو ته رامخامخ شو، ویې ویل: ای خلقو ما داسې وکړل چې تاسو ماپسې اقتداء وکړئ، او تاسو پوهه شئ زما په مانځه.

قوله: ان رجالا اتوا سهل بن سعد الساعدی و قد امتروا فی المنبر مم عوده الخ،

مضمون حدیث

بعضې خلق سهل بن سعد ته راغلل کومو چه چه د منبر شریف په لرګی کښې اختلاف کولو او په خپلو کښې په جهګړه وو هغوی راغلل او د دوئ نه ئې پوښتنه اوکړه چه د حضور ﷺ منبر شریف د کومې اونې د لرګی نه جوړ شوې وو، هغوی اووئیل آو واقعی زهٔ دا خبره ډیره ښهٔ پیژنم چه هغهٔ د کوم لرګی نه جوړ کړې شوې وو او د جوړولو نه پس چه کله په رومبی ځل باندې حضور ﷺ په هغې باندې کیناستلو ټول زما په ذهن کښې دی ټول زما د لیدلې شوې دی.

الی فلانة امرأة، د حدیث مضمون دا دې چه حضور ﷺ یو انصاری ښځې ته دا خبر اولیږلو چه تهٔ خپل غلام یعنی خادم باندې کوم چه د ترکانړئ کار کوی زما دپاره منبر جوړ کړهٔ چنانچه هغې ښځې خپل غلام ته اووئیل او منبر ئې جوړ کړو.

قوله، من طرفاء الغابة، غابه د مدینې نزدې د یو ځائې نوم دې طرفاء وائی د جهاؤ اونې ته، او د بخاری په روایت کښې د دې په ځائې د، أثل الغابه، دې خو په دې کښې څه تعارض نشته دې هغهٔ د طرفاء اونې یو قسم لیکلې دې چه د طرفاء څلور قسمه دی په کومو کښې چه یو أثل هم دې، بیا وراندې حدیث کښې دا دی چه کله هغهٔ منبر جوړ شو او هغهٔ د هغې په ځائې باندې کیخودلې شو نو په رومبئ ورځې حضور ﷺ په هغې باندې اودریدلو او مونځ ئې ورکړو تکبیر تحریمه قیام او رکوع ئې په دې باندې اوکړل او سجدې ئې د هغې نه خښکته راکوز شول او اوئې کړه، او بیا حضور ﷺ په منبر باندې د مونځ کولو مصلحت بیان اوفرمائیلو چه تاسو زما مونځ اوګورئ او د دې په ښهٔ شان اتباع اوکړې شئ ځکه چه روستو صفونو واله په پوره شان امام لره نهٔ شی لیدلې په خلاف د دې نه چه کله په منبر

باندې اوريږي او مونځ اوکړې شي نو ظاهره ده چه ټول مقتديان به ئې اوليدلې شي.
دا حديث متفق عليه دې په بخاری او مسلم دواړو کښې شته، د دې انصاری ښځې په نوم کښې اختلاف دې وئيلې شوې دی چه، لم يعرف اسمها و قيل اسمها فكيهه و قيل عائشة، دغه شان د دې غلام په نوم کښې هم اختلاف دې قيل اسمه قبيصة و قيل باقوم، او بعضې کتابونو کښې باقوم رومی ليکلې دې و قيل ميمون، حافظ رحمه الله دې آخری قول لره اختيار کړې دې.

دفع د تعارض بين الروايات:

د دې حديث د ظاهر نه معلوميږی چه حضور ﷺ په خپله دې ښځې ته د منبر جوړولو وينا کړې وه او د بخاری په يو روايت کښې دی چه دې ښځې په خپله حضور ﷺ ته عرض کړې وو، يا رسول الله الا اجعل لك شيئا تقعد عليه، د دې توجيه دا کيدې شي چه ړومبې په خپله دې ښځې درخواست کړې وو روستو حضور ﷺ هم د دې يادګيرنې او پوره کولو دپاره قاصد ليږلې وی.

فائده: په تاريخ خميس، ص، ۶۸، ج، ۲، کښې ليکلی چه د دې منبر جوړول په اتم کال د هجرت کښې شوې وو او علامه عينی د ابن سعد نه اووم کال نقل کړې دې او د مولانا انور شاه کشميری قطعی رائې دا ده چه د دې اتخاذ په دويم کال د هجرت کښې شوې وو هغه فرمائی چه ما سره ګڼړ روايتونه داسې موجود دی کوم چه په دې باندې دلالت کوی.

[۱۰۸۱]([1]) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنِ ابْنِ أَبِي رَوَّادٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا بَدَّنَ، قَالَ لَهُ تَمِيمٌ الدَّارِيُّ: أَلَا أَتَّخِذُ لَكَ مِنْبَرًا يَا رَسُولَ اللَّهِ يَجْمَعُ، أَوْ يَحْمِلُ عِظَامَكَ؟ قَالَ: "بَلَى" فَاتَّخَذَ لَهُ مِنْبَرًا مِرْقَاتَيْنِ.

د ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی بېشکه نبي ﷺ چې هرکله غټ شو (درونډ) هغه ته تميم الداري ووېل: ايا نه جوړوو تالره منبر اې د الله رسوله! چې جمع کوي (او يا باروي) هډوکي ستا؟ هغه وفرمايل: ولې نه، جوړيي کړو د هغه لپاره منبر دوه پوړو والا.

۳. حدثنا الحسن بن على الخ، قوله، ان النبى صلى الله عليه وسلم لمّا بدّن، دا لفظ د باب تفعيل نه دې په تشديد د دال سره يا دمجرد نه دې په تخفيف سره دواړه شانه دې لوستلې شوې دې د ټولو نه ړومبې دا لفظ په ابواب الامامت کښې په باب ما جاء ما يؤمر به المامون من اتباع الامام کښې تير شوې دې هم هلته دې د دې تحقيق اوکتلې شی، د دې نه پس دويم ځلې دا مضمون په باب الرجل يعتمد فى الصلوة على عصا کښې دغه شان تير شوې دې، ان رسول الله صلى الله عليه وسلم لمّا اسنّ و حمل اللحم، اوس دريم ځل دا لفظ دلته راغلې دې.

قال له تميم الدارى الا اتخذ لك منبرا يا رسول الله، د باب په دويم حديث کښې دا دی چه حضرت تميم داری د حضور ﷺ په خدمت کښې د منبر جوړولو پيشکش اوکړو او بيا هم هغوی دا منبر جوړ کړو.

---

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۷۷۶۵) (صحيح)

یو بل دفع د تعارض:

دا حدیث د تیر شوي حدیث خلاف دي او خو دا د سنن حدیث دي ابوداؤد او بیهقي دي لره روایت کړې دي او ړومبي حدیث متفق علیه دي ظاهره ده چه ترجیح به هم دې لره وي او یا دا توجیه اوکړې شي چه اصل خو هغه دې کوم چه د باب په ړومبي حدیث کښې تیر شوې دې خو د دې خبر تمیم داري ته نهٔ وو نو ځکه هغوي د خپل طرف نه د حضور ﷺ په خدمت کښې درخواست اوړاندې کړو او حضور ﷺ هغهٔ منظور کړو په دې شان چه هغهٔ هم په دې سلسله کښې سعي او کوشش اوکړې او کومې ښځې ته چه د جوړولو د پاره وئیلې شوې وو هغې سره دې ملاؤ شي او د جوړولو تقاضا دې اوکړي او بیا هم داسې اوشول، والله تعالی اعلم.

قوله. مرقاتین، د دېنه معلومه شوه چه د منبر شریف صرف دوه درجې وې حال دا دې چه په مشهور روایت کښې دا دی چه د دې درجې(پوړئ) درې وې، جواب دا دې چه کیدې شي چه په دې روایت کښې د ټولو نه ړومبنئ پوړئ په کومې باندې به چه حضور ﷺ کیناستلو هغهٔ ئې نهٔ وي شمیر کړې لهذا مطلب دا شو چه په کومو پوړو باندې به هغوئ پورته کیدل هغهٔ دوه وې.

د منبر شریف په باره کښې یوه واقعه:

په منهل کښې کښې لیکلې دي(لکه څنګه چه پورته تیر شو) چه په دې کښې درې درجې وې او هم دغه شان دې هیئت راروان وو تر دې چه حضرت معاویه ؓ د خپل خلاف په زمانه کښې مروان ته کوم چه دغه وخت د مدینې امیر وو دا اولیکل چه دا منبر شریف د دې ځائې نه اوباسه او دلته ما ته ملك شام ته ئې رااولیږه نو مروان د دهٔ د حکم په تعمیل کښې دې لره د هغه د ځائې نه اوویستلو او د حضرت معاویه ؓ طرف ته ئې د لیږلو اراده اوکړه نو په مدینه کښې یو دم نمر تندر اونیولو ټوله مدینه توره تیارهٔ شوه تر دې چه د ورځې ستوري ښکاره شو او سخته هوا شروع شوه مروان اوبریدلو جومات ته راغلو او هغهٔ خلقو ته خطبه ورکړه او په هغې کښې ئې دا اووئیل چه تاسو خلق به دا ګنړئ چه زهٔ دا منبر امیر المؤمنین ته لیږل غوارم او هغهٔ دې لره غواړي خو داسې نهٔ ده نهٔ خو امیر المؤمنین داسې غواړي او نهٔ زهٔ داسې کول غوارم، امیر المؤمنین خو ما ته دا حکم راکړې دې چه زهٔ د دې په درجو یعنی پوړو کښې اضافه یعنی زیاتوالې اوکړم او دې لره پورته کړم چنانچه ما په دې کښې د لاندې درې پوړئ زیاتې کړې او په خپل ځائې کښې مې نصب کړو.

واقعه حنین الجذع:

او هغهٔ حنین الجذع یعنی د تنې ژړا واقعه خو د احادیثو په کتابونو کښې مشهوره ده کومه چه د حضور ﷺ په ښکاره معجزاتو کښې شمیرلې شي کومه چه د بخاري شریف په صفه، ۱۲۵، باندې ده چه په شروع کښې به حضور ﷺ د کهجورې یوې تنې ته کومه چه په مسجد نبوي کښې وه تکیه لګوله او خطبه به ئې ورکوله بیا چه کله منبر جوړ شو او د دې تنې په ځائې باندې حضور ﷺ په منبر باندې تشریف فرما شول نو هغهٔ تنه د جدائي په وجه باندې د هغهٔ اوښې پشان آوازونه شروع کړل کومې نه چه بچې ورك شوې

وی دي اواز لره تول جومات واله واوريدلو نو حضور ﷺ د منبر نه راکوز شو او دې تنې ته نزدې ئې تشريف راوړو او په دې باندې ئې خپل لاس مبارک کيخودلو چه په هغې سره هغه چپ شوه، حنين الجذع واله روايت چونکه په ابو داؤد شريف کښې نشته دې نو ځکه دې لره د مقام په مناسبت سره ذکر کړې شو.

بَابُ مَوْضِعِ الْمِنْبَرِ

باب دی په بيان د ځای د منبر کې

[۱۰۸۲]()حَدَّثَنَا مَخْلَدُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي عُبَيْدٍ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ، قَالَ: "كَانَ بَيْنَ مِنْبَرِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَيْنَ الْحَائِطِ كَقَدْرِ مَمَرِّ الشَّاةِ".

د سلمة بن الاكوع رضی الله عنه نه روايت دی هغه ويلي دي: وو په مابين د منبر د رسول الله کې او مابين د ديوال کې په اندازه د تيريدو د ګډې.

قوله، كان بين منبر رسول الله صلى الله عليه وسلم و بين الحائط كقدر ممر الشاة،

شرح حديث:

د حائط نه مراد مخامخ ديوال يعنی د قبلې ديوال دې، منبر شريف په جومات کښې دننه مخامخ ديوال په کوم ځائې کښې چه د امام محراب وی هغې سره پيوست وو، د ديوال او منبر په مينځ کښې فاصله تقريباً ديو ګز په اندازه په څومره ځائې کښې چه بيزه تيريدلې شي دومره وه، په بذل کښې ليکلې دی چه منبر شريف د محراب نبی اړخ ته وو د استقبال قبله په صورت کښې، يعنی په جومات کښې دننه مخ په قبله اودريدلو په اعتبار سره ښی اړخ ته وو، په منهل کښې ليکلی دی چه د دې حديث تخريج بخاری او مسلم دواړو کړې دې دغه شان دا حديث په دې باندې دلالت کوی چه منبر د جومات دننه ديوال سره بالکل يوځائې نه دې پکار بلکه د دواړو په مينځ کښې لږه غوندې فاصله پکار ده.

بَابُ الصَّلَاةِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ قَبْلَ الزَّوَالِ

باب دی په بيان د مانځه کې په ورځ د جمعه کې د زوال نه مخکې

د دې باب تعلق د اوقات منهيه سره دې، د دې سلسلې ګنړ ابواب د صلوة الخوف نه روستو ابواب التطوع و ركعات السنة د لاندې راروان دی، ګويا د اوقات منهيه اصل بيان هلته راځی نو ځکه د دې تفصيل به مونږ انشاء الله هم هلته کوو.

مذاهب ائمه:

دلته په دې باب کښې خاص د جمعې د ورځې د مکروه وخت بيان دې، په اصل کښې د جمهورو علماؤ ائمه ثلاثه په نيز اوقات مکروه درې دی، وقت الطلوع، وقت الغروب، وقت الاستواء، يعنی نصف النهار، او د امام مالک رحمه الله په نيز صرف دوه دی، وقت الاستواء د هغوی په نيز باندې وقت مکروه نه دې جمعه وی يا غيرد جمعې نه کومه ورځ وی په دې وخت

(): صحيح البخاري/الصلاة ۹۱ (۴۹۷)، صحيح مسلم/الصلاة ۴۹ (۵۰۹)، (تحفة الأشراف: ۴۵۳۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴/۵۴،۵۴) (صحيح)

کښې د هغوی په نیز مونځ کول مکروه نهٔ دی، البته دامام شافعی په نیز د جمعې د ورځې تخصیص دې چه په دې کښې عندالاستواء نفل مونځ کولې شی هم دا رائې د امام ابویوسف ده، او د اکثرو علماؤ رائې دا ده چه د اوقات منهیه په باره کښې جمعه او غیر جمعه دواړه برابر دی، د حضرت امام شافعی دلیل د باب ړومبنې حدیث دې.

[۱۰۸۳]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا حَسَّانُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ لَيْثٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ أَبِي الْخَلِيلِ، عَنْ أَبِي قَتَادَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَنَّهُ كَرِهَ الصَّلَاةَ نِصْفَ النَّهَارِ إِلَّا يَوْمَ الْجُمُعَةِ، وَقَالَ: إِنَّ جَهَنَّمَ تُسَجَّرُ إِلَّا يَوْمَ الْجُمُعَةِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: هُوَ مُرْسَلٌ، مُجَاهِدٌ أَكْبَرُ مِنْ أَبِي الْخَلِيلِ، وَأَبُو الْخَلِيلِ لَمْ يَسْمَعْ مِنْ أَبِي قَتَادَةَ.

د ابو قتادة نه روایت دی، هغه روایت کوي د نبي ﷺ نه بېشکه هغه مکروه ګڼلی دی مونځ په نیمایي د ورځ کې مګر په ورځ د جمعې نه، او هغه وویل بېشکه جهنم ګرمولی شي مګر په ورځ د جمعې نه. ویلي دي ابوداود هغه مرسل دی، مجاهد مشر دی د ابو الخلیل نه، او ابو الخلیل نه دی اوریدلی د ابو قتاده نه.

۱. حدثنا محمد بن عیسٰی الخ، قوله، عن ابی قتادة عن النبی صلی الله علیه وسلم انه کره الصلوة نصف النهار الا یوم الجمعة و قال ان جهنم تسجر الا یوم الجمعة، یعنی نصف النهار کوم ته چه زمونږ په عرف کښې د زوال وخت وائی کښې مونځ مکروه دې خو د جمعې ورځ د دینه مستثنٰی ده صرف د جمعې په ورځ په نصف النهار کښې مونځ کول جائز دی او د دې وجه حضور ﷺ دا ارشاد فرمائیلې ده چه په هره ورځ کښې د نصف النهار په وخت کښې جهنم لره تیزولې شی غیر دجمعې دورځې نه چه په دې ورځ کښې تسجیر دجهنم نهٔ کیږی

د شافعیه د دلیل جواب

امام شافعی او امام ابویوسف رحمهما الله هم دې حدیث سره استدلال کړې دې، د جمهورو د طرف نه د دې جواب دا دې چه دا حدیث ضعیف دې منقطع دې د ابوالخلیل سماع د ابوقتاده نه ثابته نهٔ ده.لکه څنګه چه په خپله وړاندې په کتاب کښې راروان دی او دمطلق منع حدیث صحیح دې په هغې باندې څه کلام نشته دې، دغه شان محرم او په مبیح کښې چه کله تعارض وی نو ترجیح محرم لره وی.

په اوقات منهیه کښې د مکې مکرمې استثناء:

دلته په دې یوه خبره بله هم پوهیدل پکار دی چه د حضرات شافعیه په نیز باندې اوقات منهیه چه څومره هم دی د هغې تعلق د غیر مکه سره دې او مکه مکرمه کښې د دوئ په نیز باندې هیڅ وخت هم مکروه نهٔ دې هلته هر وخت مونځ ادا کولې شی د دې په دلیل کښې هغوی د حضرت جبیر بن مطعم رضی الله عنه هغه حدیث مرفوع وړاندې کوی کوم چه په کتاب الحج کښې په باب الطواف بعدالعصر،ص، ۲۶۰ ، دلاندې راروان دې. لا تمنعوا احدا یطوف بهذا البیت ویصلی ایّ ساعة شاء من لیل اونهار، زمونږ د طرف نه به د دې جواب انشاء الله هم هلته راځی

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۲۰۸۳) (ضعیف)

د شافعيه په دليل باندې نقد:

قوله، قال ابوداؤد هو مرسل، مرسل په معنى د منقطع دې، چونکه دا حديث په كوم باندې چه مصنف كلام فرمائى په مذكوره مسئله كښې د شافعيه دليل دې نو ځکه شيخ ابن حجر مكى شارح د مشكوٰة كوم چه شافعى دې هغوى د مصنف د دې نقد جواب دا وركړې دې چه هيڅ حرج نشته دا حديث په طريق موصول سره هم ثابت دې په دې باندې ملا على قارى حنفى رحمه الله فرمائى چه د دې حواله دې پيش كړې شى چه په كوم طريق سره دا موصول ثابت دې او هغه په كوم كتاب كښې دې.

بَابٌ فِي وَقْتِ الْجُمُعَةِ

باب دی په بیان د وقت د جمعې کې

يعنى د جمعې د ورځې د فرض مونځ دوخت تقابل د دې نه معلوميږى چه د تير شوې باب تعلق د جمعې د فرض مونځ سره نۀ وو بلکه د جمعې په ورځ د نصف النهار په وخت كښې د نفل مونځ سره وو.([1]).

د جمعې مونځ قبل الزوال كښې د علماء اختلاف:

د دې نه پس دا زده كول پكار دى چه د ائمه ثلاثه او جمهورو علماؤ په نيز د جمعې د مونځ وخت هم هغه دې كوم چه د ماسپخين د مونځ چه د هغې ابتداء د زوال نه پس وى او د امام احمد او اسحٰق بن راهويه او د بعضې سلفو په دې كښې اختلاف دې د هغوى په نيز د جمعې مونځ د زوال نه وړاندې هم جائز دې. په دې باب كښې مصنف دوه حديثه ذكر فرمائيلي دى يو د حضرت انس بن مالك رضي الله عنه چه د حضور صلی الله علیه وسلم معمول مبارك د جمعې د مونځ بعد الزوال كولو وو، دا حديث خو د جمهورو دليل دې.

د حنابله دليل او د هغې جواب:

او د باب دويم حديث كوم چه د سلمة بن الاكوع نه مروى دى د كوم الفاظ چه دا دې چه، كنا نصلى مع رسول الله صلى الله عليه وسلم الجمعة ثم ننصرف و ليس للحيطان فئ، د دې حديث نه حنابله استدلال كوى چه د جمعې مونځ قبل الزوال جائز دې ځکه چه د حديث مطلب دا دې چه مونږ به د حضور صلی الله علیه وسلم سره د جمعې مونځ اوكړو او كورونو طرف ته به واپس شو نو تر هغۀ وخته پورې به دغربى ديوالونو سورې په زمكه باندې نۀ وو، ظاهره خبره ده چه قبل الزوال د هر يو څيز سورې كه ديوال وى او كه بل څه څيز او هغه د مغرب طرف ته وى او بعد الزوال كله چه نمر د مغرب يعنى نمر پريوانۀ طرف ته واوړى نو هغه وخت به د غربى ديوال سورې يقينا په شرقى جانب باندې پريوځى او دلته راوى وائى چه كله به مونځ د جمعې د مانځه نه فارغ شو او واپس به راتللو نو بيا به هم د غربى ديوال سورې نۀ وو نو اوس ضرور د دې مقتضى دا ده چه دا اومنلې شى چه د جمعې مونځ قبل الزوال كړې شوې وو كما هو مذهب الحنابله، د دې جواب د جمهورو د طرف نه دا وركړې شوې دې چه دا

---

[1]) خو په بذل المجهود كښې هم د تير شوى باب د لاندې د جمعې د(فرض) مونځ اختلاف ذكر كړې شوې دې په خپله حضرت هم په دې باندې تنبيه فرمائيلې ده.) ۱۲ منه.

حديث بخاري او نسائي كښې هم شته هلته په دې حديث كښې يو زيادت دې چه، وليس للحيطان فئٌ يُستظل به، يعنى دومره سورې نهٔ وو په كوم سره چه سورې حاصل كړې شي او د نمر نه د ځان ساتلو دپاره پوره شي نو معلومه شوه چه د مطلق سورى نفى نهٔ ده ځكه چه قاعده داده چه كله نفى په مقيد باندې داخله شي نو ددې تعلق قيد سره وى لكه چه اووائى، ماجاء نى زيد راكبًا، نو دلته دمطلق مجئ نفى مراد نهٔ ده بلكه د قيد نفى مراد ده و هو الركوب.

[۱۰۸۴](۱)حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ الْحُبَابِ، حَدَّثَنِي فُلَيْحُ بْنُ سُلَيْمَانَ، حَدَّثَنِي عُثْمَانُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ التَّيْمِيُّ، سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ، يَقُولُ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الْجُمُعَةَ إِذَا مَالَتِ الشَّمْسُ".

عثمان بن ابي التيمي ويلي دي ما اوريدلي دي د انس بن مالک نه، هغه به ويل: وو رسول الله ﷺ نه چې د جمعې مونځ بې كولو چې كله به نمر مائل شو.

[۱۰۸۵](۲)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا يَعْلَى بْنُ الْحَارِثِ، سَمِعْتُ إِيَاسَ بْنَ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "كُنَّا نُصَلِّي مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْجُمُعَةَ، ثُمَّ نَنْصَرِفُ وَلَيْسَ لِلْحِيطَانِ فَيْءٌ".

سلمة بن الاكوع نه روايت دى هغه ويلي دي: وو مونږ چې مونځ مو كولو د رسول الله ﷺ سره د جمعې، بيا به تللو او د ديوالونو به سورى نه وو.

[۱۰۸۶](۳)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، قَالَ: "كُنَّا نَقِيلُ وَنَتَغَدَّى بَعْدَ الْجُمُعَةِ".

د سهل بن سعد نه روايت دى هغه وايي: مونږ به قيلوله او كوله د غرمې خوراک د جمعې نه وروسته.

عن سهل بن سعد قال كنا نقيل و نتغدى بعدالجمعة، د دې حديث نه هم په جمعه قبل الزوال باندې استدلال كړې شوې دې په دې شان چه غداء د صبا خوراك ته وئيلې كيږى كومه چه قبل الزوال وى او عشاء د ماښام خوراك ته وائى، دغه شان قيلوله هغه استراحت او آرام ته وائى كوم چه قبل الزوال وى، او په دې حديث كښې صحابى فرمائى چه مونږ خلقو به د حضور ﷺ په زمانه كښې غداء او قيلوله دواړه د جمعې د مونځ نه پس كول، لهٰذا د دينه معلومه شوه چه د جمعې مونځ به ئې د زوال نه وړاندې كولو، ځكه كه چرته بعدالزوال ئې كړې وې نو دې نه پس چه كوم خوراك وى هغې ته غداء وئيل به صحيح نهٔ وى بلكه داسې خوراك ته به عشاء وائى هم داسې قيلوله ته به هم كه بعدالزوال وى نو هغې ته به قيلوله وئيل صحيح نهٔ وى.

(۱): صحيح البخاري/الجمعة ۱۶(۹۰۴)، سنن الترمذي/الجمعة ۹ (۵۰۳)، (تحفة الأشراف: ۱۰۸۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/۱۲۸، ۱۵۰، ۲۲۸) (صحيح)

(۲): صحيح البخاري/المغازي ۲۵ (۴۱۶۸)، صحيح مسلم/الجمعة ۹ (۸۶۰)، سنن النسائي/الجمعة ۱۴ (۱۳۹۲)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۸۴ (۱۱۰۰)، (تحفة الأشراف: ۴۵۱۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴/۴۶، ۵۰)، سنن الدارمي/الصلاة ۱۹۴(۱۵۸۷) (صحيح)

(۳): والاستئذان ۳۹ (۶۲۷۹)، (تحفة الأشراف: ۴۶۸۳)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الجمعة ۹ (۸۵۹)، سنن الترمذي/الصلاة ۲۶۱ (الجمعة ۲۶) (۵۲۵)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۸۴(۱۰۹۹) (صحيح)

د دې جواب دا دې چه کوم ځيز د کوم قائم مقام وي په هغې باندې هم د هغې اطلاق کيږي، کوم سرې چه د ناظم په ځائې باندې کيني او کار اوکړي خواه که هغه د يو څو ورځو وي نو هغې ته به هم ناظم وئيلې شي، او د ابوداؤد او نسائی په کتاب الصوم کښې يو روايت دې چه عرباض بن ساريه ﷺ فرمائی چه يو ځل حضور ﷺ پيشمنی خوړلو زهٔ د هغوی د وړاندې تيريدلم نو هغوی اوفرمائيل، هلمّ الی الغداء المبارك، په دې حديث کښې پيشمنې کوم چه د شپې په آخره کښې خوړلې کيږي حضور ﷺ پرې د غداء اطلاق کړې دې چونکه د روژه دار پيشمني د غداء قائم مقام وي نو ځکه حضور ﷺ په دې باندې د غداء اطلاق فرمائيلې دې، زمونږ حضرت شيخ نور الله مرقده به فرمائيل چه اې روره ته د جمعې مونځ راکاږې او دې اړخ ته ئې راوړې نو دا غداء او قيلوله بل اړخ ته ولې نهٔ راکاږې.

بَابُ النِّدَاءِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ

باب دی په بيان د اذان کې په ورځ د جمعه کې

[۱۰۸۷] [1] حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ الْمُرَادِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ يُونُسَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، أَخْبَرَنِي السَّائِبُ بْنُ يَزِيدَ، "أَنَّ الْأَذَانَ كَانَ أَوَّلُهُ حِينَ يَجْلِسُ الْإِمَامُ عَلَى الْمِنْبَرِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فِي عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَبِي بَكْرٍ، وَعُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا" فَلَمَّا كَانَ خِلَافَةُ عُثْمَانَ وَكَثُرَ النَّاسُ أَمَرَ عُثْمَانُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ بِالْأَذَانِ الثَّالِثِ، فَأُذِّنَ بِهِ عَلَى الزَّوْرَاءِ، فَثَبَتَ الْأَمْرُ عَلَى ذَلِكَ".

مونږ ته خبر راکړې دی سائب بن يزيد: بېشکه اولنی اذان وو کله چې به امام کېناستلو په منبر باندې په ورځ د جمعه کې په زمانه د نبي ﷺ او ابي بکر او عمر ﷺ کې، کله چې خلافت د عثمان شو او خلق ډير شول نو امر وکړو عثمان په ورځ د جمعه کې په دريم اذان سره، نو اذان يې وکړو د زوراء په مقام کې، برقرار شو امر په دغې.

د باب ړومبې حديث دې، اخبرنی السائب بن يزيد ان الاذان کان اوله حين يجلس الامام علی المنبر يوم الجمعة، الخ،

شرح حديث:

سائب بن يزيد د صغار صحابه نه دې د حضور ﷺ نه د دوئ سماع ثابت ده د حضور ﷺ د وفات په وخت کښې دوئ واړهٔ وو د دوئ عمر اووهٔ کاله وو (ترمذی، ص، ۳۸، ج، ۲) هغه فرمائی چه د حضور ﷺ او د شيخينو په زمانه کښې د جمعې په ورځ يو آذان وو کوم وخت به چه امام منبر ته اورسيدلو، حضرت عثمان غنی ﷺ په خپله زمانه کښې د مسلمانانو ډيروالی ته اوکتل او د دريم آذان زياتوالې ئې اوکړو کوم به چه د جومات نه بهر يو ځائې باندې چه د کوم نوم زوراء وو کولې کيدو، د زيادت د علت طرف ته اشاره په خپله په حديث کښې موجود ده چه د خلقو ډيروالې دې ځکه چه ړومبې آذان خو به په جومات کښې دننه منبر سره نزدې کولې کيدو چه د هغې آواز به ټولو خلقو ته رسول مشکل وو، دې دريم

---

[1]): صحيح البخاري/الجمعة ۲۱ (۹۱۲)، ۲۲ (۹۱۳)، ۲۴ (۹۱۵)، ۲۵ (۹۱۶)، سنن الترمذي/الصلاة ۲۵۵ (الجمعة ۲۰) (۵۱۶)، سنن النسائي/الجمعة ۱۵ (۱۳۹۳)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۹۷ (۱۱۳۵)، (تحفة الأشراف: ۳۷۹۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۵۰۴۴۹/۳) (صحيح)

اذان لره تغلیبا اذان وئیلې شوې دې اقامت لره هم دواړو اذانونو سره شامل کړې شوې دې،اوپه یو روایت کښې د بالأذان الثالث په ځائې باندې بالاذان الاول دې، په دې کښې څه منافات نشته د حضرت عثمان ﷺ آذان ته ثالث وئیل په اعتبار د مشروعیت سره دې چه د ړومبی نه دوه مشروع دی روستو بیا دا دریم مشروع شو، او اول وئیل دې لره په دې اعتبار سره دی چه دا فعلاً په دې دواړو باندې مقدم دې.

[۱۰۸۸](¹)حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ الزُّهْرِيِّ، عَنْ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ، قَالَ: "كَانَ يُؤَذَّنُ بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جَلَسَ عَلَى الْمِنْبَرِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ عَلَى بَابِ الْمَسْجِدِ، وَأَبِي بَكْرٍ، وَعُمَرَ" ثُمَّ سَاقَ نَحْوَ حَدِيثِ يُونُسَ.

د سائب بن یزید نه روایت دی، هغه وئیلې دې: اذان به کولی شو مخامخ د رسول الله ﷺ کله چې به هغه په منبر کېناستلو د جمعې په ورځ په دروازه د مسجد کې، او د ابی او د عمر. بیایې بیان کړو حدیث پشان د حدیث د یونس

قوله: عن السائب بن یزید قال کان یؤذن بین یدی رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا جلس علی المنبر یوم الجمعة علی باب المسجد، دا د هغهٔ ړومبی حدیث دویم طریق دې اول دا د ابن شهاب نه روایت کونکی یونس وو او دې لره د هغوی نه روایت کونکی دمحمد بن اسحاق دې، محمد بن اسحاق په روایت کښې یو زیاتې دې کوم چه د یونس په روایت کښې نهٔ وو.

د جمعې د دویم اذان د محل تعیین

هغه دا چه په دې کښې د آذان د محل تعیین دې یعنی علی باب المسجد، چه دا آذان د خطیب په منبر باندې دکیناستلو نه پس د هغهٔ د وړاندې په باب مسجد باندې به وو د جومات دا دروازه شمالی اړخ ته وه د خطیب د وړاندې، او د جنوب په اړخ باندې د قبلې په جانب باندې د حضور ﷺ منبر شریف او مصلی وه، او د دې متبادر معنی دا ده چه دا آذان به د جومات نه خارج وو خو دا زیاتې د بخاری په روایت کښې نشته دې او د دې راوی هم محمد بن اسحاق دې کوم چه متکلم فیه دې، د بخاری د روایاتو سیاق ته په نظر کولو سره دا وئیلې شو چه دا آذان به منبر سره نزدې په جومات کښې کیدو چنانچه مهلب د بخاری شارح فرمائی، الحکمة فی جعل الاذان فی هذا المحل لیعرف الناس بجلوس الامام علی المنبر فینصتون له اذا خطب، یعنی په دې ځائې د آذان کولو کښې مصلحت دا دې چه کوم خلق د امام نه په فاصله باندې دی د جومات په آخری حصه کښې په جومات کښې دننه په آواز کولو سره به دوئ ته معلومه شی چه اوس امام منبر ته رسیدلې دې او هغهٔ دې د دې دپاره انصات یعنی چپوالې اختیار کړی، اګر که د مهلب بیان کړی حکمت باندې حافظ ﷫ د ابن اسحاق د روایت دالفاظو پیش نظر دا اشکال کړې دې چه دا آذان خو به د جومات په دروازه باندې وو نو پس ظاهره دا ده چه دا آذان به دمطلق اعلام دپاره وو نهٔ د خالص انصات یعنی چپوالې دپاره آو چه کله د دویم آذان زیاتوالې اوشو نو اوس دا وئیلې شی چه ړومبې آذان خو به دنفس اعلام دپاره وو او کوم

(¹): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۳۷۹۹) (منکر)

چه د خطیب د وړاندې به کیدو هغهٔ د انصات دپاره وو، (کذا فی الفتح، ص، ۳۲۷، ج،۲)
د دې نه معلومه شوه چه حافظ ابن حجر دا خبره منلې ده چه د حضرت عثمان ﷺ په زمانه کښې د جمعې په ورځ ړومبې اذان په مقام زوراء باندې خارج د مسجد نه او دویم اذان به د خطیب د وړاندې په جومات کښې کیدو، اګر که د مهلب د کلام تقاضا خو دا ده چه دا اذان هم د حضور ﷺ په زمانه کښې منبر سره نزدې په جومات کښې کیدو پس صاحب هدایه لیکلی، و اذا صعد الامام المنبر جلس و اذن المؤذن بین یدی المنبر بذالك جری التوارث، هسې خو عام طور سره فقهاء په جومات کښې دننه آذان لره مکروه او خلاف اولی لیکی خو زمونږ حضرت سهارنپوری ﷫ صاحب بذل المجهود په خپل تالیف تنشیط الآذان فی تحقیق محل الاذان کښې لیکلی دی چه دا کراهیت او خلاف اولویت د عام اذان په اعتبار سره دې د جمعې د دویم اذان سره د دې تعلق نشته دې د دې احکام جدا دی، چنانچه د دې اذان په حقله یو چیستان (دونړه) مشهوره ده چه اوښایئ چه هغه کوم اذان دې چه په هغې کښې زیات آواز پورته کول مطلوب نهٔ دې، حضرت ته د دې په باره کښې مستقل تصنیف لیکلو نوبت د دې دپاره پیښ شو چه په هغهٔ زمانه کښې بریلیانو د جانب نه دا فتنه پورته شوې وه چه د دې دویم آذان په جومات کښې وئیل بدعت او مکروه تحریمی دې، په بذل المجهود کښې حضرت ﷫ د علی باب المسجد، د لاندې لیکی چه، تمسك به رئیس اهل البدعة فی زماننا احمد رضا البریلوی و اذاع الفتن والشرور فی هذه المسئلة و کتب فیها الکتب والرسائل و لی فیها رسالة وجیزة، الخ،

[۱۰۸۹](۱)حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ، عَنْ مُحَمَّدٍ يَعْنِي ابْنَ إِسْحَاقَ، عَنْ الزُّهْرِيِّ، عَنْ السَّائِبِ، قَالَ: "لَمْ يَكُنْ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا مُؤَذِّنٌ وَاحِدٌ بِلَالٌ" ثُمَّ ذَكَرَ مَعْنَاهُ.

د سائب نه روایت دی، هغه وئیلي دي: نه وو د رسول الله ﷺ لپاره مګر یو مؤذن چې بلال وو، بیایي ذکر کړه معنی د هغې.

۳. حدثنا هناد بن السری الخ، قوله، عن السائب قال لم یکن لرسول الله صلی الله علیه وسلم الا مؤذن واحد بلال، دا حدیث په بخاری شریف کښې هم دې په دې باندې امام بخاری ﷫ ترجمه تړلې ده، باب المؤذن الواحد یوم الجمعة،

حدیث باندې یو اشکال او د هغې جواب:

د یوم الجمعة قید سره یو اشکال لرې شو او هغه دا چه دحضور ﷺ دپاره د بلال ﷺ نه علاوه یو بل مؤذن ابن ام مکتوم هم وو، چنانچه په روایت کښې راځی چه، لا یغرنکم اذان بلال فانه یؤذن بلیل فکلوا واشربوا حتی یؤذن ابن ام مکتوم، د دې جواب د ترجمة الباب نه ظاهر شو چه د راوی مراد د جمعې د مونځ مؤذن دې او هغه صرف بلال وو، دغه شان په روایاتو سره ثابته ده چه د حضور ﷺ دریم مؤذن سعد قرظ هم وو او خو دوئ لره حضور ﷺ د مسجد قباء مؤذن جوړ کړې وو او نهٔ د مسجد نبوی دغه شان د حضور ﷺ په مؤذنانو کښې

(۱): انظر حدیث رقم: ۱۰۸۷، (تحفة الأشراف: ۳۷۹۹) (صحیح)٦

دابومحذوره شمیر هم دې خو دوئ لره حضور ﷺ په مکه کښې د مسجد حرام مؤذن جوړ کړې وو او دلته خبره د مسجد نبوی د مؤذن کيږي.
او د اصل اشکال یو بل جواب هم ورکړې شوې دې هغه دا چه د مؤذن نه مراد تاذین دې چه د حضور ﷺ په زمانه کښې د جمعې دپاره به صرف یو آذان وو.

[۱۰۹۰]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سَعْدٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ صَالِحٍ، عَنْ ابْنِ شِهَابٍ، أَنَّ السَّائِبَ بْنَ يَزِيدَ ابْنَ أُخْتِ نَمِرٍ أَخْبَرَهُ، قَالَ: "وَلَمْ يَكُنْ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَيْرُ مُؤَذِّنٍ وَاحِدٍ"، وَسَاقَ هَذَا الْحَدِيثَ وَلَيْسَ بِتَمَامِهِ.

بېشکه سائب بن یزید چې خوری د نمر دی خبر ورکړی دی ابن شهاب ته، هغه ویلي دي: او نه وو د رسول الله ﷺ لپاره بغیر د یو مؤذن نه، او بیان یې کړو دا حدیث، پوره نه.

فائده: امام ابوداؤد رحمه الله خو دتو حُد یا دتعدُّد دمؤذنینو دپاره کوم باب نهٔ دې قائم کړې په خلاف د امام نسائی چه هغوی په دې سلسله کښې څو بابونه تړلي دی، چنانچه یو ترجمة الباب دا دې ، المؤذنان للمسجد الواحد، او دویم ترجمه دا ده ، هل یؤذن جمیعًااو فرادیٰ، دریمه ترجمه دا ده چه، اذان المنفردین فی السفر،

بَابُ الإِمَامِ يُكَلِّمُ الرَّجُلَ فِي خُطْبَتِهِ

باب دی په بیان د امام کې چې خبرې کوي د سړي سره په خطبه کې

یعنی پخپله خطیب د خطبې په مینځ کښې یو سړی سره خبرې کولې شی؟ حضرت رحمه الله په بذل کښې د ملاعلی قاری رحمه الله نه نقل کوی او لیکلی دی چه مسئله دا ده چه د حنفیانو په نیز د خطیب دپاره د خطبې په مینځ کښې خبرې کول مکروه ده آو که هغه خبرې د امر بالمعروف دقبیلې نه وی نو جائز دی او د بذل په حاشیه کښې دعلامه شعرانی نه دا نقل کړې دی چه د خطیب کلام کله چه د مانځه د مصلحت دپاره وی د امام مالك رحمه الله په نیز باندې مباح دې، خلافا للائمه ثلاثة.

فائده: د دې ترجمة الباب د لاندې یوه بله مسئله هم راتلې شی هغه دا چه منبر ته په رسیدلو سره د امام تسلیم یعنی سلام اچولو کښې اختلاف دې حنفیه او مالکیه د دې قائل نهٔ دی پخلاف د امام احمد او شافعی چه د دوئ په نیز باندې د خطیب منبر ته رسیدو سره السلام علیکم وئیل سنت دی، چنانچه په حرمینو کښې په دې باندې عمل دې د دې سلسلې روایاتو لره علامه زیلعی په نصب الرایه کښې ذکر کړې دی د ابن ماجه او طبرانی وغیره روایتونه یکسر ضعیف دی، بلکه د ابن ماجه روایتونو لره خو بعضو په کومو کښې چه امام ابو حاتم رازی هم دې موضوع گرځولې دی.

د دې باب مقابل یو څو ابوابه روستو راځی، باب الکلام و الامام یخطب، یعنی د خطبه په وخت کښې په حاضرینو او سامعینو کښې د چا خبرې کول، د دې حکم به هم هغه ځائې کښې راشی، په دې باب کښې مصنف صرف یو حدیث د حضرت جابر رضي الله عنه بیان کړې دې.

(): انظر حدیث رقم: ۱۰۸۷، (تحفة الأشراف: ۳۷۹۹) (صحیح)

[۱۰۹۱]() حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ كَعْبٍ الْأَنْطَاكِيُّ، حَدَّثَنَا مَخْلَدُ بْنُ يَزِيدَ، حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: لَمَّا اسْتَوَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، قَالَ: "اجْلِسُوا" فَسَمِعَ ذَلِكَ ابْنُ مَسْعُودٍ فَجَلَسَ عَلَى بَابِ الْمَسْجِدِ، فَرَآهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "تَعَالَ يَا عَبْدَ اللَّهِ بْنَ مَسْعُودٍ". قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا يُعْرَفُ مُرْسَلًا، إِنَّمَا رَوَاهُ النَّاسُ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَمَخْلَدٌ هُوَ شَيْخٌ.

د جابر نه روایت دی هغه ویلي دي: هرکله چې برابر شو رسول الله ﷺ په ورځ د جمعه نو هغه به ویل: کینئ، نو ابن مسعود دغه خبره واوریده نو کېناستلو په دروازه د مسجد کې، نو رسول الله ﷺ ولیدلو، ویي فرمایل: راشه عبد الله بن مسعوده! ویلي دي ابوداود: دا پیژندلی شي مرسل، خلقو روایت کړی دی د عطاء نه او هغه د نبي ﷺ نه، او مخلد شیخ قابل اعتبار دی.

مضمون حدیث:

یو ځل د جمعې په ورځ چه کله رسول الله ﷺ منبر ته اورسیدله (کیدې شی بعضې خلقو حضور ﷺ لره ولاړ لیدلي وی) نو حضور ﷺ اوفرمائیل خلقو کینئ، کله چه حضور ﷺ دا ارشاد اوفرمائیلو نو دغه وخت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه جومات ته داخلیدلو د جومات په دروازه کښې وو چه ناڅاپه ئې د حضور ﷺ دا فرمان واوریدلو نو بیا وړاندې نۀ شو بلکه هم هغلته په دروازه کښې کیناستلو د امر مبارکه په امتثال یعنی پوره کولو کښې کله چه حضور ﷺ دا اولیدل چه دوئ خوهم هلته کیناستل نو اوئې فرمائیل، تعال یا ابن مسعود.

قال ابوداؤد هذا يعرف مرسل، یعنی د معروفو روایتونو نه دا معلومیږی چه دا حدیث د عطاء نه مرسلاً مروی دی (بغیر د ذکر د صحابی نه)

ومخلدٌ و هو شيخ، لفظ شیخ د ادنی درجې تعدیل دپاره دې بظاهر دا وئیل غواړی چه دې حدیث لره د مرسل پځائې مسنداً روایت کونکی مخلد بن یزید راوی دې اوهغه ډیر ثقه نۀ دې.

بَابُ الْجُلُوسِ إِذَا صَعِدَ الْمِنْبَرَ

باب دی د کېناستلو کله چې منبر ته وخیژي

[۱۰۹۲]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ يَعْنِي ابْنَ عَطَاءٍ، عَنِ الْعُمَرِيِّ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ خُطْبَتَيْنِ كَانَ يَجْلِسُ إِذَا صَعِدَ الْمِنْبَرَ حَتَّى يَفْرَغَ أُرَاهُ قَالَ الْمُؤَذِّنُ، ثُمَّ يَقُومُ فَيَخْطُبُ، ثُمَّ يَجْلِسُ فَلَا يَتَكَلَّمُ، ثُمَّ يَقُومُ فَيَخْطُبُ".

نافع د ابن عمر نه روایت کوي چې هغه ویلي دي وو نبي ﷺ چې دوه خطبې به یې ویلې. کېناستلو به کله چې به منبر ته ختلو تردې چې فارغ شو - زما خیال دی چې هغه وویل: مؤذن - بیا به پاڅیدلو نو خطبه به یې ویله، بیا به کېناستلو او خبرې به یې نه کولې، بیا به پاڅیدلو او خطبه به یې ویله.

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢٤٦٤) (صحيح)

(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٧٧٢٥)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الجمعة ٣٠ (٩٢٨)، صحيح مسلم/الجمعة ١٠ (٨٦١)، سنن الترمذي/الصلاة ٢٤٦ (الجمعة ١١) (٥٠٦)، سنن النسائي/الجمعة ٣٣ (١٤١٧)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٨٠ (١١٠٣)، مسند احمد ٢/٩٨، سنن الدارمي/الصلاة ٢٠٠ (١٥٩٩) (صحيح)

د خطيب منبر ته رسيدلو نه پس په شروع كښې د اذان پوره كيدو په انتظار كښې كيناستل دجمهور علماء او ائمه اربعه په نيز مستحب دى، خو امام نووى رحمه الله په دې كښې د حنفيانو اختلاف ليكلې دې چه هغوى د ې قائل نۀ دي او دا د امام مالك هم يو روايت دا دې، حضرت شيخ د اوجز په صفحه. ۳۳۸ج،۱، كښې ليكلى چه په دې مسئله كښې د خنفيانو اختلاف د ابن بطال وغيره بعضې شراحو هم نقل كړې دې خو دا نقل صحيح نۀ دې علامه عينى په شرح د بخارى كښې په دې باندې ډير زور سره رد فرمائيلې او دغه شان علامه باجى مالكى هم د مالكيه مذهب دجمهورو موافق ليكلې دى.

بَابُ الْخُطْبَةِ قَائِمًا

باب دى په بيان د خطبه كې په ولاړه

مسائل الباب:

په بذل كښې د شوكانى نه نقل كړې دى چه د خطبې قائما كيدل عند الجمهور واجب دى او د حنفيانو په نيز باندې سنت دې، او د بذل په حاشيه كښې د امام احمد مسلك د حنفيه موافق ليكلې دې يعنى سنيت، دغه شان د مالكيه په دې كښې دوه قوله دى، كما فى الشرح الكبير للدردير، خو د ابن العربى مالكى مختار او غوره وجوب دقيام دې، كما فى عارضة الاحوذى، دغه شان په بدائع كښې ليكلې دى چه د حنفيه په نيز په خطبه كښې قيام شرط نۀ دې، قاعدا يعنى په ناسته باندې هم جائز ده، وړاندې هغه ليكى، روى عن عثمان انه كان يخطب قاعدا حين كبر و اسنّ، او شوكانى ليكى، اخرج ابن ابى شيبة عن طاوس قال خطب رسول الله صلى الله عليه وسلم قائما و ابوبكر و عمر و عثمان، و اول من جلس على المنبر معاويه، و فى رواية منه ان معاوية انما خطب قاعدا لما كثر شحمُ بطنه و لحمه،

[۱۰۹۳]() حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يَخْطُبُ قَائِمًا، ثُمَّ يَجْلِسُ، ثُمَّ يَقُومُ فَيَخْطُبُ قَائِمًا، فَمَنْ حَدَّثَكَ أَنَّهُ كَانَ يَخْطُبُ جَالِسًا فَقَدْ كَذَبَ، فَقَالَ: فَقَدْ وَاللَّهِ صَلَّيْتُ مَعَهُ أَكْثَرَ مِنْ أَلْفَيْ صَلَاةٍ".

د جابر بن سمرة نه روايت دى بېشكه رسو ل الله صلى الله عليه وسلم وو چې خطبه به يې ويله په ولاړه. بيا به كېناستلو، بيا به پاڅيدلو خطبه به يې ويله په ولاړه، چا چې تاته بيان وكړو چې هغه به ناسته خطبه ويله نو دروغ يې وويل هغه وفرمايل يقيناً قسم په الله ما مونځ كړى دى د هغه سره زيات د دوه زره مونځونو نه.

[۱] . حدثنا عبدالله بن محمد النفيلى الخ، قوله، كان يخطب قائما ثم يجلس ثم يقوم فيخطب، : دلته دوه مسئلې دى اول دا چه دواړه خطبې واجب دى يا يوه، دويمه دا چه دجلوس بين الخطبتين څۀ حكم دې؟ پس د جمهور علماء په كومو كښې چه حنفيه او مالكيه هم دى په نيز يوه خطبه واجب ده او دويم خطبه سنت ده، او امام شافعى د وجوب الخطبتين قائل دې او ...

[۱]: صحيح مسلم/الجمعة ۱۰ (۸۶۲)، (تحفة الأشراف: ۲۱۵۶)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الجمعة ۳۲ (۱۴۱۶)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۸۵ (۱۱۰۵)، مسند احمد (۵/۸۹، ۹۰، ۹۱، ۹۲، ۹۳، ۹۴، ۹۵، ۹۷، ۹۸، ۹۹، ۱۰۰، ۱۰۱، ۱۰۲، ۱۰۷)، سنن الدارمي/الصلاة ۱۹۹ (۱۵۹۸) (حسن)

امام احمد نه دوه روایتونه دی خو مشهور د دوئ د وجوب روایت دې کما فی المغنی وغیره، او جلوس بین الخطبتین یعنی د دوو خطبو په مینځ کښې کیناستل نو د جمهور علماء په نیز سنت دی او د امام شافعي په نیز واجب دی، (کذا قال الشعرانی والقاری والشوکانی)
دلته یوه مسئله بله ده او هغه دا چه دنفس خطبې څۀ حکم دې؟ نو جواب دا دې چه د جمهورو علماء ائمه اربعه په نیز د جمعې خطبه واجب او شرط د صحت صلوة ده.

ایا د جمعې خطبه د رکعتینو قائم مقام ده؟

امام نووی رحمه الله فرمائی دې دپاره چه د جمعې په مانځه کښې کوم قصر شوې دې او د څلورو په ځائې باندې دوه رکعاته کولې شی نو دا قصر هم د خطبې د وجه نه دې ګویا خطبه د رکعتینو بدل ده(منهل) په حاشیه د بذل کښې لیکلې دی چه امام مالك هم په مدونه کښې د دې تصریح کړې ده او د حنابله د کتابونه نه هم دا معلومیږی، خو د حنفیانو په نیز داسې نۀ ده چنانچه د درمختار په صفه، ۱۵۰ کښې دی ، و هل هی قائمة مقام رکعتین الاصح لا بل کشطرها فی الثواب،([1]) نو ځکه د حنفیانو په نیز د جمعې د خطبې دپاره هغه شرائط نشته دې کوم چه د مانځه دپاره دی لکه استقبال قبله، طهارت وغیره، دا مذاهب خو د ائمه اربعه شول، او د حسن بصری، ابن حزم،داؤد ظاهری، او ابن حبیب مالکی په نیز خطبه صرف مستحب ده نۀ شرط ده او نۀ واجب ده دعلامه شوکانی میلان هم دې طرف ته دې (منهل)
، قوله، فقدوالله صلیت معه اکثر من الفی صلوة حضرت جابر رضی الله عنه فرمائی چه کوم سړې دا اووائی چه حضور صلی الله علیه وسلم به په ناسته باندې خطبه ورکوله نو هغه کاذب دې ځکه چه ما د حضور صلی الله علیه وسلم سره د دوو زرو نه زیات مونځونه کړې دی، د دینه د جمعې مونځونه مراد نۀ دی بلکه مطلق فرض مونځونه مراد دی ځکه چه حضور صلی الله علیه وسلم صرف په مدنی ژوند کښې کوم چه لس کاله دې د جمعې مونځ ادا فرمائیلې وو او په لسو کالو کښې تقریبا څلور سوه اتیا ، ۴۸۰ ، جمعې راځی.

[۱۰۹۴]([2])حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى، وَعُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ الْمَعْنَى، عَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ، حَدَّثَنَا سِمَاكٌ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: "كَانَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُطْبَتَانِ كَانَ يَجْلِسُ بَيْنَهُمَا يَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَيُذَكِّرُ النَّاسَ".

د جابر بن سمرة نه روایت دی هغه ویلي دي: وې رسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره دوه خطبې چې کېناستلوبه د دواړو په مینځ کې او قرآن به یې لوستلو، او خلقو ته به یې نصیحت کولو.

قوله: عن جابر بن سمرة قال کان لرسول الله صلی الله علیه وسلم خطبتان یجلس بینهما یقرأ القرآن و یذکر الناس،

---

[1] ، علامه شامی لیکی ، هذا تاویل لما ورد به الاثر من انّ الخطبة کشطر الصلوة فان مقتضاه انها قامت مقام رکعتین من الظهر کما قامت الجمعة مقام رکعتین منه فیشترط له شروط الصلوة کما هو قول الشافعي) ۱۲ منه_
[2]: صحيح مسلم/الجمعة ۱۰ (۸۶۲)، (تحفة الأشراف: ۲۱۶۹) (حسن)

د خطبې ارکان:

په دې کښې څۀ قدرې اختلاف دې، علامه شعرانی په خپل تالیف میزان الکبرٰی کښې لیکلې دی چه عند الشافعی و احمد او د امام مالك په قول راجح کښې د خطبې پنځه ارکان دی، حمد او ثناء، صلوة او سلام علی النبی ﷺ التذکیر یعنی وعظ او نصیحت، القراءة، الدعاء للمؤمنین والمؤمنات، او د امام ابوحنیفه او د مالك نه په یو روایت کښې فرمائی چه د خطبې حقیقت مطلق ذکر دې یعنی ذکر الله کما قال الله تعالی، اذا نودی للصلوة من یوم الجمعة فاسعوا الی ذکر الله، لهذا د دوئ په نیز باندې صرف تهلیل یا تسبیح یا تحمید پوره دې، او صاحبین فرمائی چه، لابد من کلام یسمٰی خطبة عادة، یعنی داسې مختصر غوندې کلام چه کوم ته په عرف کښې خطبه وئیلې شی(میزان) او صاحب منهل د شافعیه او حنابله په نیز باندې د خطبې ارکان هم پنځه لیکلې دی، او د مالیکه په نیز هغوی لیکلې دی چه د دې ارکان اتۀ دی، بعضې شرطونو لره هم هغوی په ارکانو کښې شامل کړې دی او اتۀ ئې وئیلې دی مثلا د دې په عربی کښې کیدل او جهرا کیدل، په جومات کښې کیدل وغیره وغیره، هغوی د شافعیه او حنابله مذهب هم دا لیکلې دې چه د خطبې په عربی کښې کیدل شرط دی.

[۱۰۹۵](١)حَدَّثَنَا أَبُو كَامِلٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَخْطُبُ قَائِمًا، ثُمَّ يَقْعُدُ قَعْدَةً لَا يَتَكَلَّمُ" وَسَاقَ الْحَدِيثَ.

د جابر بن سمرة نه روایت دی هغه وئیلې دي: ما رسول الله ﷺ ولیدلو چې خطبه یې ویله په ولاړه، بیا به کېناستلو لګ شانته خبرې به یې نه کولې، او حدیث یې بیان کړو.

بَابُ الرَّجُلِ يَخْطُبُ عَلَى قَوْسٍ

باب دی په بیان سړي کې چې خطبه وایي په لینده با ندې

[۱۰۹۶](٢)حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا شِهَابُ بْنُ خِرَاشٍ، حَدَّثَنِي شُعَيْبُ بْنُ زُرَيْقٍ الطَّائِفِيُّ، قَالَ: جَلَسْتُ إِلَى رَجُلٍ لَهُ صُحْبَةٌ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يُقَالُ لَهُ: الْحَكَمُ بْنُ حَزْنٍ الْكُلَفِيُّ فَأَنْشَأَ يُحَدِّثُنَا، قَالَ: وَفَدْتُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَابِعَ سَبْعَةٍ، أَوْ تَاسِعَ تِسْعَةٍ، فَدَخَلْنَا عَلَيْهِ، فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، زُرْنَاكَ فَادْعُ اللَّهَ لَنَا بِخَيْرٍ، فَأَمَرَ بِنَا، أَوْ أَمَرَ لَنَا بِشَيْءٍ مِنَ التَّمْرِ، وَالشَّأْنُ إِذْ ذَاكَ دُونٌ، فَأَقَمْنَا بِهَا أَيَّامًا شَهِدْنَا فِيهَا الْجُمُعَةَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "فَقَامَ مُتَوَكِّئًا عَلَى عَصًا أَوْ قَوْسٍ، فَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ كَلِمَاتٍ خَفِيفَاتٍ طَيِّبَاتٍ مُبَارَكَاتٍ، ثُمَّ قَالَ: أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّكُمْ لَنْ تُطِيقُوا أَوْ لَنْ تَفْعَلُوا كُلَّ مَا أُمِرْتُمْ بِهِ وَلَكِنْ سَدِّدُوا وَأَبْشِرُوا". قَالَ أَبُو عَلِيٍّ: سَمِعْتُ أَبُو دَاوُد، قَالَ: ثَبَّتَنِي فِي شَيْءٍ مِنْهُ بَعْضُ أَصْحَابِنَا وَقَدْ كَانَ انْقَطَعَ مِنَ الْقِرْطَاسِ.

د شعیب بن زریق الطائفي نه روایت دی هغه ویلي دي: زه کېناستم یو سړي ته چې د هغه صحبت وو د رسول الله ﷺ سره، چې هغه ته حکم بن حزن الکلفي ویلي کیدو، هغه مونږ ته حدیث بیان کړو، او ویې ویل: زه وفد کې راغلم رسول الله ﷺ ته اوم د اوو نه، او نهم د

---

(١): سنن النسائي الكبري/ الصلاة العيدين ٢٣ (١٧٨٨)، (تحفة الأشراف: ٢١٩٧) (حسن)

(٢): تفرد به ابوداود، (تحفة الأشراف: ٣٤١٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢١٢/٤) (حسن)

نهو نه ـ مونږ داخل شو په هغه، مونږ وویل ای د الله رسوله! مونږ ستا ملاقات وکړو مونږ ته دعاء وکړه د خیر، امریې وکړو زمونږ لپاره په څه شي سره د کجورو ن، او حالت په دغه وخت کې کمزوری وو، همدغسې مونږ ډیري ورځې پاتې شو، مونږ حاضر شو جمعې ته د رسول الله ﷺ سره، هغه پاڅیدلو د تکیا په حالت کې په امسا باندې، او په لینده باندې، د الله حمدیې وویلو او ثنایې وویله د هغه، سپکې او پاکې او برکتي کلمې وې، بیایې وویل ای خلقو! تاسو هېڅکله طاقت نه لرئ ـ او یا هېڅ کله نشئ کولی ـ ټول هغه څه چې تاسو ته یې امر کیدی شي، لیکن نیغ شئ او زیرې واخلئ. ویلي دي ابو علي ما واوریدل د ابوداود نه هغه ویل مضبوط کړې دی مالره بعضو ملګرو زما څه شي د دېنه، او بېشکه پرې شوی دی څه شي د کتابچې نه.

۱ . حدثنا سعید بن منصور الخ، د دې حدیث د راوی صحابی نوم حَکَمْ بن حزن دې، قوله، متوکئا علی عصًا او قوس فحمد الله و اثنی علیه، د دې حدیث نه معلومه شوه چه حضور ﷺ به د جمعې په ورځ چه کله خطبه ورکوله نو عصا یا کمان به ئې په لاس مبارك کښې ساتلو او په هغې باندې به ئې د اودریدلو دپاره اډونه لګوله

په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه د جمهورو علماؤ او ائمه ثلاثه مطلق مسلك دا دې چه خطیب لره پکار دی چه په یو لرګی وغیره باندې اډونه اولګوی او اودریږی، په دې کښې ئې حکمت دا لیکلې دې چه په دې سره لاسونه د عبث فعل او حرکت نه بندول او د سکون کیفیت حاصلیدل دی لکه څنګه چه د مانځه په حالت دقیام کښې د وضع الیدین هم یو حکمت دا بیان کړې شوې دې، او بعضې دخطباء او د مقررینو عادت وی چه هغوی په بیان کښې لاسونه بیا بیا غزوی او حرکت ورکوی، دا څیز خلاف سنت دې، نو د عصا په لاس کښې کیدل د سکون حالت قائمولو کښې معین دې

اوس دا چه عصا په کوم لاس کښې کیدل پکار دی، د شافعیه او مالکیه په نیز په ښی لاس کښې او د حنابله په نیز په چه هر یو لاس کښې وی، بیا شافعیه دا وائی چه ګس لاس لره دې په منبر باندې کیږدی چه بل لاس هم مشغول پاتې شی، او حنابله دا وائی چه اختیار مند دې که دویم لاس د منبر په غاړه باندې کیږدی یا دا زوړند اوساتی، صاحب منهل لیکی چه د دې تفصیلونو څۀ دلیل یا ثبوت په حدیث کښې نشته دې، دا مذاهب خو د جمهورو او ائمه ثلاثه شو پاتې شوه مسئله د حنفیه ؤ، دفقهاء احنافو خبره په دې سلسله کښې زما په خیال کښې محقق او منقح نۀ ده. هغه حضرات دافرمائی چه کوم ملك مسلمانانو عنوة د قتال په ذریعې سره فتح کړې وی هلته خطیب لره پکار دی چه، متکئا علی سیف، خطبه ورکړی او دا توره د دۀ په ګس لاس کښې کیدل پکار دی او ګویا په دې کښې اشاره ده دې خبرې طرف ته چه دا ملك د توری په زور سره فتح شوې دې نو که تاسو خلق الله دې نۀ کړی د اسلام نه واوړئ نو په مونږ کښې دا توره باقی پاتې ده، کذا فی مراقی الفلاح، په دې باندې علامه طحطاوی لیکی چه په دې کښې اشاره ده دې خبرې طرف ته چه اتکاء علی عصا یا علی قوس مکروه ده، خو په دې کښې ابن امیرالحاج بحث کړې دې هغه دا چه د

ابوداؤد وغیره د روایاتو نه دا بحث ثابت دي چه حضور ﷺ به په مدینه کښې په عصا یا قوس باندې اتکاء فرمائیله، (بیا دي لره مکروه یا خلاف سنت ونیل څنګه صحیح دی).

مضمون حدیث

دا صحابی دي فرمائی چه زۀ د حضور ﷺ په خدمت کښې په یو وفد کښې شامل حاضر شوم، مونږ ټول ملګری اووۀ کسان وو په کومو کښې چه اووم زۀ ووم یا ټول نهۀ وو په کومو کښې چه نهم زۀ ووم مونږ د حضور ﷺ خدمت ته اورسیدو او حضور ﷺ نه مونږ د دعاء درخواست اوکړو نو حضور ﷺ زمونږ دپاره څۀ کهجورې راوغوښتلې او د مسلمانانو حالت دغه وخت څۀ کم وو، یعنی مالی حالت ئې کمزورې وو.([1])

شرح حدیث

قوله، و لکن سددوا وابشروا([2]): حضور ﷺ ارشاد فرمائی چه هر عمل علی وجه الکمال او څنګه چه د هغې حق دې پوره کول د چا د وس خبره نۀ ده، لهذا څومره چه تحمل او برداشت وی د هغې په اندازه کوشش کوئ او میانه روی اختیار کړئ مهبالکل همت بائیلی او مه د دې قصد کوی چه هر عمل به علی وجه الکمال پوره کوم، قال الله تعالیٰ. فاتقوا الله ما استطعتم، چه د استطاعت مطابق دتقوی ژوند تیروئ. و قال النبی صلی الله علیه وسلم لن یشادّ الدین احد الا غلبه، چه کوم سړې په دینی کارونو کښې د خپل طاقت نه زیات کوشش کوی او وړاندې تلل غواړی نو هغه به مغلوب شی او د دۀ نه به او نۀ شی لهذا د اعتدال لاره اختیارول پکار دی په کوم چه افراط او تفریط یعنی کمې او زیاتې نۀ وی

[۱۰۹۷]([3])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، حَدَّثَنَا عِمْرَانُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ عَبْدِ رَبِّهِ، عَنْ أَبِي عِيَاضٍ، عَنْ ابْنِ مَسْعُودٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، كَانَ إِذَا تَشَهَّدَ قَالَ: "الْحَمْدُ لِلَّهِ نَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللَّهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، أَرْسَلَهُ بِالْحَقِّ بَشِيرًا وَنَذِيرًا بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ، مَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ رَشَدَ، وَمَنْ يَعْصِهِمَا فَإِنَّهُ لَا يَضُرُّ إِلَّا نَفْسَهُ وَلَا يَضُرُّ اللَّهَ شَيْئًا".

د ابن مسعود ﷛ نه روایت دی، بېشکه رسول الله ﷺ وو چې کله به یې خطبه ویله نو هغه به ویل. الحمدُ لله: ټول حمدونه الله لره دي، مونږ د هغه نه مدد غواړو، او د هغه نه بخښنه غواړو، او پناه نیسو الله پورې د شرونو د خپلو نفسونو نه، چاته چې الله هدایت وکړي د هغه ګمراه کونکی نشته. او څوک چې ګمراه کړي د هغه لپاره هدایت کونکی نشته دی، زه ګواهي کوم چې نشته مستحق د عبادت مګر یو الله دی، او زه ګواهي کوم چې محمد د الله بنده او رسول دی. الله رالیږلی دی په حق سره زیری ورکونکی او ویره ورکونکی نژدې

---

[1] دا ئې دې دپاره اونیل چه کیدې شی د چا دا خیال راشی چه د میلمنو خاطر صرف په کهجورو سره اوکړې شو د دینه زیات یو بیزه وغیره په ذریعې سره ولې او نۀ شو. ووډی، غوښه وغیره به ئې پرې خوړولې وه.)_

[2] خلقو ته زیری واوروی او هغوی ته د علم ترغیب ورکوئ. لکه څنګه چه زمونږ حضرت شیخ د فضائلو رسائل تصنیف کولو سره دا کار په ډیر ښۀ طریقه پوره کړې دی.) ۱۲ منه_

[3]: تفرد به ابوداود، (تحفة الأشراف: ۹۶۳۶) ویأتي هذا الحدیث في النکاح (۲۱۱۹) (ضعیف)

قیامت ته، چا چې د الله او د رسول اطاعت وکړو نو هغه په هدایت شو، او چا چې د دواړو نافرماني وکړه نو بېشکه هغه ضرر نه شي ورکولی مګر خپل ځان ته، او الله ته هیڅ ضرر نشي ورکولی.

[۱۰۹۸]([1])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ الْمُرَادِيُّ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ يُونُسَ، أَنَّهُ سَأَلَ ابْنَ شِهَابٍ، عَنْ تَشَهُّدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، فَذَكَرَ نَحْوَهُ، قَالَ: وَمَنْ يَعْصِهِمَا فَقَدْ غَوَى، وَنَسْأَلُ اللَّهَ رَبَّنَا أَنْ يَجْعَلَنَا مِمَّنْ يُطِيعُهُ وَيُطِيعُ رَسُولَهُ وَيَتَّبِعُ رِضْوَانَهُ وَيَجْتَنِبُ سَخَطَهُ، فَإِنَّمَا نَحْنُ بِهِ وَلَهُ.

د یونس نه روایت دی بېشکه هغه تپوس وکړو د ابن شهاب نه د خطبې د رسول الله ﷺ په ورځ د جمعه کې، نو هغه ذکر کړه پشان د هغه، هغه وویل: او چا چې نافرماني وکړه د دواړو یقیناً هغه ګمراه شو، او سوال کوو د الله نه چې رب زمونږ دی چې مونږ وګرځوي د هغه چانه چې د هغه اطاعت کوي او د هغه د رسول طاعت کوي، او تابعدار وي د رضا د الله، او ځان ساتي د غوسې د هغه نه بېشکه مونږ د هغه پورې او د هغه یو.

[۱۰۹۹]([2])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ سُفْيَانَ بْنِ سَعِيدٍ، حَدَّثَنِي عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ رُفَيْعٍ، عَنْ تَمِيمٍ الطَّائِيِّ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ، أَنَّ خَطِيبًا خَطَبَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: مَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ رَشَدَ وَمَنْ يَعْصِهِمَا، فَقَالَ "قُمْ أَوِ اذْهَبْ بِئْسَ الْخَطِيبُ أَنْتَ".

د عدي بن حاتم نه روایت دی، بېشکه یو خطیب خطبه ویله د نبي ﷺ په حضور کې، هغه وویل: (من یطع اللّٰه و رسوله فقد رشدَ، او من یعصهما) نو هغه وفرمایل: پاځه. او یا لاړه شه. ناکاره خطیب یې ته.

۲. حدثنا مسدد الخ، قوله، عن عدی بن حاتم ان خطیبا خطب عند النبی صلی الله علیه وسلم فقال من یطع الله و رسوله و من یعصهما فقال قم او اذهب بئس الخطیب انت، دا روایت مختصر دې په دې کښې د خطبې پوره الفاظ مذکور نهٔ دی، د روایت اصل الفاظ لکه څنګه چه د نورو کتابونو د حدیثو مسلم وغیره نه معلومیږی داسې دی چه، من یطع الله و رسوله فقد رشد و من یعصهما فقد غوی،

د بئس الخطیب انت، توجیهات:

په دې خطیب باندې حضور ﷺ چه کوم انکار فرمائیلې وو د دې په حقله د عام شراحو رائې دا ده چه دا انکار د دې دپاره وو چه دې خطیب الله او رسول لره په یو ضمیر کښې راجمع کړل او د دواړو دپاره ئې ضمیر د تثنیه استعمال کړو حال دا دې چه په ضمیر د تثنیه کښې د تسویه ایهام یعنی د برابری والی وهم دې ګویا الله او رسول دواړو لره العیاذ بالله په یوه درجه کښې ږدی خو په دې باندې دا اشکال کیږی چه دالله او رسول دپاره د تثنې دضمیر استعمال په ډیرو مرفوع روایاتو کښې ثابت دې مثلا، من کان الله و رسوله احب الیه مما سواهما، د دې جواب عزالدین ابن عبدالسلام دا ورکړې دې چه دا د حضور

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۹٤۰۷، ۱۹۳٥٤) (ضعیف) (دا حدیث مرسل دی)
[2]: صحیح مسلم/الجمعة ۱۳ (۸۷۰)، سنن النسائي/النکاح ٤۰ (۳۲۸۱)، (تحفة الأشراف: ۹۸٥۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲٥٦/٤، ۳۷۹) (صحیح)

ﷺ خصوصيات دی د بل چا دپاره جائز نۀ دی، بيا په دې باندې دا اشکال کړې شوې دې چه حضور ﷺ د خطبې هم دا الفاظ د تثنيه په ضمير سره عبدالله ابن مسعود ﷺ ته ښودلي وو نو بيا دا د حضور ﷺ خصوصيات کوم ځائې شو لهٰذا دا جواب صحيح نۀ شو، نور هم څو جوابونه ورکړې شوې دی، ۱:- دا انکار د خصوصيت د مقام د وجه نه دې يعنی د موقع او محل د خلاف کيدو د وجه نه ممکن ده په دې موقع باندې داسې حاضرين او سامعين يعنی اوريدونکو کښې بعضې داسې وی چه د هغوی په باره کښې د تسويه يعنی برابروالی وهم او ګمان کيدې شو. ۲. دا انکار د متکلم د خصوصيت د وجه نه دې د دۀ د حال او اسلوب بيان نه د تسويه وهم کيدې شی. ۳. په دې انکار سره مقصود بيان د اولويت دې نۀ د عدم جواز.

د امام طحاوی رائې

دلته د ټولو شارحينو نه جدا ده. حضرت شيخ نورالله مرقده به فرمائيل چه زما په دې کښې د امام طحاوی رائې ډيره خوښه شوه هغوی په خپل تصنيف مشکل الآثار کښې د دې په حقله ليکلي دی چه حضور ﷺ دا انکار د وقف فی غير محله د وجه کړې وو چه دې خطيب بې ځايه خپله ساه ماته کړه او وقف ئې اوکړو په کوم سره چه د معنی فساد لازميږی. (۱)

اوګورئ! دلته په کلام کښې دوه شرطونه دی. او د هر شرط نه پس متصلاً د دې جزاء مذکور ده، من يطع الله و رسوله، شرط دې،فقد رشد، د دې جزاء ده او،من يعصهما، دويم شرط دې او،فقد غوی، د دې جزاء ده. دې خطيب د ړومبی شرط په جزاء باندې د وقف پځائې باندې په دويم شرط باندې ساه ماته کړه، من يطع الله و رسوله فقد رشد و من يعصهما، تر دې ځائې پورې ئې په يو ساه کښې اولوستل او وقف ئې اوکړو او. فقدغوی. ئې مستقل جدا ساه کښې اولوستلو چه دهغې د وجه نه د. فقد رشد، تعلق د ماقبل او مابعد دواړو شرطونو سره اوشو او مطلب دا شو چه کوم سړې د الله او د رسول اطاعت کوی هغه کامياب دې او څوك چه د دې دواړو نافرمانی کوی هغه کامياب دې او څوك چه د دې دواړو نافرمانی کوی.

[۱۱۰۰](۲)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ خُبَيْبٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ مَعْنٍ، عَنْ بِنْتِ الْحَارِثِ بْنِ النُّعْمَانِ، قَالَتْ: مَا حَفِظْتُ ق إِلَّا مِنْ فِي رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يَخْطُبُ بِهَا كُلَّ جُمُعَةٍ". قَالَتْ: "وَكَانَ تَنُّورُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَنُّورُنَا وَاحِدًا". قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ، عَنْ شُعْبَةَ، قَالَ: بِنْتُ حَارِثَةَ بْنِ النُّعْمَانِ، وَقَالَ ابْنُ إِسْحَاقَ: أُمُّ هِشَامٍ بِنْتُ حَارِثَةَ بْنِ النُّعْمَانِ.

---

(۱) لکه څنګه چه يو پاکستانی سړې ما اوليدلو چه هغۀ به حاجيانو ته د طواف په وخت کښې په هغوی باندې د طواف دعاګانې لوستلې او په دعاء کښې چه کله به لاحول ته اورسيدلو نو ونيل به ئې، لاحول ولا، يعنی په دويم، لا، باندې به ئې وقف کولو او په دويمه ساه به ئې ونيل، قوة الا بالله، حال دا دې چه پکار دا وو چه، لاحول، ولاقوة، په دې طواف کونکو کښې بعضې عرب هم وو هغوی د دۀ دې طرز نه ډير پريشانه ښکاريدل چه دا، لاحول و لا، څۀ څيز دې په دې باندې ما له ډير خندا راغله چه دا غريب عرب د دې عجمی په چال کښې ګير شول ۱۲. دا واقعه هم د وقف فی غير محله يو مثال دې.)

(۲): صحيح مسلم/الجمعة ۱۳ (۸۷۲)، سنن النسائي/الجمعة ۲۸ (۱۴۱۲)، (تحفة الأشراف: ۱۸۳۶۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۳۲/۶، ۴۳۶، ۴۶۳) (صحيح)

د لور د حارث بن النعمان نه روایت دی، هغې ولي دي: ما نه دی یاد کړی سورت ق مګر د خولې د رسول الله ﷺ نه، هغه به په هغې سره خطبه کوله هره جمعه، هغې ویلي دي: او زمونږ او د رسول الله ﷺ تنور یو وو. ویلي دي ابوداود: ویلي دي روح بن عبادة د شعبه نه،هغه وویل: بنتُ حارثة النعمان،او ویلي دي ابن اسحاق: ام هشام بنت حارثة بن النعمان.

(د بنت الحارث اسم)

قوله: عن بنت الحارث بن النعمان، صحیح بنت حارثة دي لکه څنګه چه وړاندې راروان دی د دوئ کنیت ام هشام دې دا دعمره بنت عبدالرحمٰن اخیافی خور ده، د وړاندې روایت نه معلومیږی چه دې حدیث لره ام هشام نه د دې خور عمره هم روایت کوی.

قوله، قالت ما حفظت قاف الا من فی رسول الله، ام هشام وائی چه ماته سورة قاف په یاده صرف د دې وجه نه یاد شو چه ما به دا د حضور ﷺ نه د جمعې په خطبه کښې اوریدلو حضور ﷺ به دې لره د هرې جمعې په خطبه کښې لوستلو.

د خطبې ارکان څۀ دی په دې کښې اختلاف زمونږ په نیز وړاندې تیر شوې دې د علماؤ په دې کښې اختلاف کیږی چه محل د قراءت کومه خطبه ده خطبه اولی یا ثانیه؟ په بذل المجهود کښې د نورو علماؤ د اقوالو لیکلو نه پس د حنفیه دا مذهب لیکلې دې چه د دوئ په نیز باندې په خطبه اولی کښې قراءت د قرآن مسنون دې.

قوله، قالت و کان تنور رسول الله صلی الله علیه وسلم و تنورنا واحدًا،

شرح حدیث:

ام هشام وائی چه زمونږ او د حضور ﷺ تنور چه په هغې ډوډۍ پخیږی یو وو، ګویا دا د حضور ﷺ سره خپل جوار یعنی ګاونډیتوب ثابتوی چه هم د دې قرب یعنی نزدیکت د وجه نه به هغې هره جمعه د حضور ﷺ سره کوله، او کومه خبره چه هغۀ نقل کوی هغۀ هغې ته ښۀ یاده ده هم دا مقصد دې د دې کلام د ذکر کولو نه.

[۱۱۰۱](۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ سُفْيَانَ، قَالَ: حَدَّثَنِي سِمَاكٌ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: "كَانَتْ صَلَاةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَصْدًا وَخُطْبَتُهُ قَصْدًا يَقْرَأُ آيَاتٍ مِنَ الْقُرْآنِ وَيُذَكِّرُ النَّاسَ".

د جابر بن سمرة رضی الله عنه نه روایت دی، هغه ویلي دي: وو مونځ د رسول الله ﷺ درمیانه او خطبه دهغه درمیانه،چې هغه به یکې څه ایتونه دقرآن لوستل،اوخلقوته به يې نصیحت کولو.

تشریح: قوله: کانت صلوة رسول الله صلی الله علیه وسلم قصدا و خطبته قصدا، قصد په معنی د مقتصد او معتدل دې یعنی د حضور ﷺ مونځ او خطبه دواړه به معتدل وو او د حضور ﷺ خطبه به ډیره اوږده نۀ وه چه دهغې د اوریدو نه څوك ستړې شی لکه څنګه چه د اکثرو خطیبانو عادت وی د اوږدو خطبو.

تنبیه: د مونځ او خطبې معتدل کیدو دپاره دا ضروری نۀ ده چه دواړه دې برابر وی بلکه د جمعې مونځ نسبةً د خطبې نه اوږد کیدل پکار دی چنانچه په مسلم شریف کښې د حضرت

(۱): سنن النسائي/الجمعة ۳۵ (۱٤۱۹)، صلاة العيدين ۲۵ (۱۵۸۵)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۸۵ (۱۱۰٦)، (تحفة الأشراف: ۲۱٦۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۸٦/۵، ۸۸، ۹۳، ۹۸، ۱۰۲، ۱۰٦، ۱۰۷) (حسن)

عمار رضي الله عنه مرفوع حدیث دي چه حضور ﷺ اوفرمائیل، ان طول صلوة الرجل و قصر خطبته مئنة من فقهه، چه د سړي د مونځ اوږدیدل او د خطبې لنډ کیدل د دۀ د فقیه کیدو نښه ده چه په دې حدیث کښې د مونځ د اوږدوالی نه فی نفسه د دې اوږدوالي مراد نۀ دې بلکه بالنسبة الی الخطبته، د دې وجه ظاهره ده چه مونځ اصل او مقصود دي او خطبه د دې د متعلقاتو نه ده. فقهاؤ لیکلي دی چه د خطبې مقدار د طوال مفصل د سورتونو نه د یو سورت په اندازه کیدل پکار دی.

[۱۱۰۲]() حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا مَرْوَانُ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ بِلَالٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ عَمْرَةَ، عَنْ أُخْتِهَا، قَالَتْ: مَا أَخَذْتُ ق إِلَّا مِنْ فِي رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يَقْرَؤُهَا فِي كُلِّ جُمُعَةٍ". قَالَ أَبُو دَاوُد: كَذَا رَوَاهُ يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، وَابْنُ أَبِي الرِّجَالِ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ عَمْرَةَ، عَنْ أُمِّ هِشَامٍ بِنْتِ حَارِثَةَ بْنِ النُّعْمَانِ.

عمره د خپلې خور نه روایت کوي هغې ویلي دي: ما نه دی یاد کړی سورت ق مګر د خولې د رسول الله ﷺ نه. هغه به لوستلو په هره جمعه کې. ویلي دي ابوداود: همداسې روایت کړی دی یحیی بن ایوب او ابن ابی الرجال د یحیی بن سعید نه او هغه د عمرې نه او هغې د ام هشام بنت حارثة بن النعمان نه.

[۱۱۰۳]() حَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ أَخْبَرَنِي، يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ عَمْرَةَ عَنْ أُخْتٍ لِعَمْرَةَ بِنْتِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ كَانَتْ أَكْبَرَ مِنْهَا، بِمَعْنَاهُ.

د عمرې نه روایت دی هغه د خپلې خور نه روایت کوي چې لور د عبد الرحمن ده، هغه مشره وه د عمرې نه، په معنی د هغه حدیث سره.

بَابُ رَفْعِ الْيَدَيْنِ عَلَى الْمِنْبَرِ

باب دی په بیان د اوچتولو د لاسونو کې په منبر باندې

دا هم هغه څيز راغلو کوم چه مونږه په باب الرجل یخطب علی قوس کښې بیان کړي وو چه په لاس کښې د همسا اغستلو کښې یو حکمت دا هم دې چه د خطبې په دوران کښې خطیب خپل لاسونه او نۀ غورزوی.

[۱۱۰۴]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زَائِدَةُ، عَنْ حُصَيْنِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَ: رَأَى عُمَارَةُ بْنُ رُوَيْبَةَ بِشْرَ بْنَ مَرْوَانَ وَهُوَ يَدْعُو فِي يَوْمِ جُمُعَةٍ، فَقَالَ عُمَارَةُ: قَبَّحَ اللَّهُ هَاتَيْنِ الْيَدَيْنِ. قَالَ زَائِدَةُ: قَالَ حُصَيْنٌ: حَدَّثَنِي عُمَارَةُ قَالَ: لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ مَا يَزِيدُ عَلَى هَذِهِ يَعْنِي السَّبَّابَةَ الَّتِي تَلِي الْإِبْهَامَ".

د حصین بن عبد الرحمن نه روایت دی هغه ویلي دي عمارة بن رویبة بشر بن مروان ولیدلو او هغه دعاء کوله د جمعې په ورځ، وویل عمارة: الله دې هلاک کړي دا دواړه لاسونه. ویلي

(): انظر حدیث رقم: ۱۱۰۰، (تحفة الأشراف: ۱۸۳۶۳) (صحیح)
(): انظر حدیث رقم: ۱۱۰۰، (تحفة الأشراف: ۱۸۳۶۳) (صحیح)
(): صحیح مسلم/الجمعة ۱۳ (۸۷٤)، سنن الترمذي/الصلاة ۲٥٤ (الجمعة ۱۹) (٥١٥)، سنن النسائي/الجمعة ۲۹ (۱٤۱۳)، (تحفة الأشراف: ۱۰۳۷۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/۱۳٥، ۱۳٦، ۲٦۱)، سنن الدارمي/الصلاة ۲۰۱ (۱٦۰۱) (صحیح)

دي زائدة. وويل حصين: ماته حديث بيان كړى دى عمارة، هغه ويلي دي: بېشكه ما رسول الله ﷺ ليدلى وو او هغه په منبر وو زيادت يي نه كولو په دې، يعني په سبابي هغې باندې چې ابهامي ته نژدې ده.

قوله، رأى عمارة بن رويبة بشر بن مروان و هو يدعونى يوم جمعة فقال عمارة قبح الله هاتين اليدين،

مضمون حديث:

عماره يو صحابى دې هغوى د بشر بن مروان كوم چه دعبدالملك بن مروان رور او د كوفې امير وو هغۀ لره اوليدلو چه هغۀ د جمعې په ورځ خطبه وركولو په وخت كښې خپلو لاسونو لره حركت وركوى. عمارة ﷺ ښكاره په هغۀ باندې انكار اوفرمائيلو چه الله دې دا لاسونه تباه كړى، او وړاندې فرمائى چه ما حضور ﷺ ليدلي وو چه كله كله به ئې په خطبه كښې صرف په يوې ګوتې سره اشاره فرمائيله د دينه زيات نۀ.

[۱۱۰۵]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا بِشْرٌ يَعْنِي ابْنَ الْمُفَضَّلِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ يَعْنِي ابْنَ إِسْحَاقَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مُعَاوِيَةَ، عَنِ ابْنِ أَبِي ذُبَابٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، قَالَ: "مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَاهِرًا يَدَيْهِ قَطُّ يَدْعُو عَلَى مِنْبَرِهِ وَلَا عَلَى غَيْرِهِ، وَلَكِنْ رَأَيْتُهُ يَقُولُ هَكَذَا: وَأَشَارَ بِالسَّبَّابَةِ وَعَقَدَ الْوُسْطَى بِالْإِبْهَامِ".

د سهل بن سعد نه روايت دى هغه ويلي دي: ما نه دى ليدلى رسول الله ﷺ چې اوچتونكى وو د خپلو لاسونو هېڅكله د دعاء په حالت كې په منبر باندې، او نه په غير د منبر نه، ليكن ما هغه ليدلى وو چې ويل يې: داسې، اشاره يې وكړه په سبابي او راغونډه يې كړه وسطى او ابهامه.

تشريح: قوله: ما رأيت رسول الله صلى الله عليه وسلم شاهراً يديه. ما حضور ﷺ لره په خطبه كښې كه هغوى به په منبر وو يا په غير منبر باندې چرې هم لاس پورته كونكې او غورزونكې نۀ دې ليدلې.

باب إِقْصَارِ الْخُطَبِ

باب دى په بيان د لنډوالي د خطبې كښې

[۱۱۰۶]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ نُمَيْرٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا الْعَلَاءُ بْنُ صَالِحٍ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ، عَنْ أَبِي رَاشِدٍ، عَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ، قَالَ: "أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِإِقْصَارِ الْخُطَبِ".

د عمار بن ياسر نه روايت دى هغه ويلي دي: مونږ ته امر كړى دى رسول الله ﷺ په لنډوالي د خطبې.

[۱۱۰۷]()حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، أَخْبَرَنِي شَيْبَانُ أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ السُّوَائِيِّ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُطِيلُ الْمَوْعِظَةَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، إِنَّمَا هُنَّ كَلِمَاتٌ يَسِيرَاتٌ".

---

[1]: تفرد به ابوداود، (تحفة الأشراف: ٤٨٠٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٣٧/٥) (ضعيف)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٠٣٧٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٢٠/٤) (صحيح)

[3]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢١٩٢) (حسن)

د جابر بن سمرة السوائي نه روايت دی. هغه ويلي دي وو رسول الله ﷺ چې نه يې اوږدولو نصيحت د جمعې په ورځ. بېشکه وي به هغه لږې شانته کلمې نوې د خطبې د اختصار مضمون په تير شوی باب کښې تير شوې دې

بَابُ الدُّنُوِّ مِنَ الْإِمَامِ عِنْدَ الْمَوْعِظَةِ

باب دی په بيان د نزديوالي کې امام ته په وخت د نصيحت کې

په دې باندې کلام په کتاب الطهارة کښې غسل يوم الجمعة کښې، ثم بكروا بتكر و مشى و لم يركب و دنا من الامام. الحديث، د لاندې تير شوې دې

[۱۱۰۸]()حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ، قَالَ: وَجَدْتُ فِي كِتَابِ أَبِي بِخَطِّ يَدِهِ وَلَمْ أَسْمَعْهُ مِنْهُ، قَالَ قَتَادَةُ: عَنْ يَحْيَى بْنِ مَالِكٍ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ، أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "احْضُرُوا الذِّكْرَ، وَادْنُوا مِنَ الْإِمَامِ فَإِنَّ الرَّجُلَ لَا يَزَالُ يَتَبَاعَدُ حَتَّى يُؤَخَّرَ فِي الْجَنَّةِ وَإِنْ دَخَلَهَا".

د سمرة بن جندب نه روايت دی، بېشکه نبي ﷺ ويلي دي: تاسو ذکر ته حاضر شئ او امام ته نزدې شئ، بېشکه سړی همېشه وي چې لرې کېږي تردې چې وروسته شي په جنت کې اګر ورته داخل شي.

د تحمل حديث قسم وجاده

قوله، قال وجدت في كتاب ابى بخط يده و لم اسمعه منه، معاذ بن هشام وائي چه دا حديث کوم چه زهٔ بيانوم دې لره ما د خپل پلار يعنی هشام په کتاب کښې موندلې دې کوم کتاب چه هغوی په خپل لاس سره ليکلې وو او ما دا حديث براه راست د هغوی نه نهٔ دې اورېدلې. د تحمل حديث قسم وجاده: پوهيدل پکار دی چه دا د تحمل حديث د اقسامونه د کومو ذکر چه په شروع د کتاب کښې په ابتدائی مباحثو کښې تير شوې دې هغه قسم دې کوم ته چه وجاده وائی چه ي، راوی ته د يو محدث د لاس ليکلې شوی څو احاديث په يو کتاب يا کاغذ باندې ملاؤ شی په دې شرط چه هغهٔ دغه محدث پيژنی هم او دې کتاب نه نقل کونکی دپاره دا جائز نهٔ ده چه، حدثنی يا اخبرنی فلان، اووائی بلکه، وجدت فی کتاب فلان ونيل پکار دی، د اکثرو علماؤ په نيز د وجاده نه نقل شوې حديث د منقطع په حکم کښې دې.او دلته خو په سند کښې د انقطاع تصريح ده څکه چه هغهٔ وائی چه، ولم اسمعه منه، په وجاده باندې کلام په بذل کښې په صفحه، ۱۸۷ ،ج.۲ ، کښې دلته او وړاندې د کتاب الصلوة په آخر کښې په صفحه، ۳۵۱ ، باندې هم راروان دې

شرح حديث

قوله، فان الرجل لا يزال يتباعد حتى يؤخر في الجنة: په حديث کښې د امام ته نزدې کيدو حکم دې، ظاهره ده چه امام ته دا قرب او نزديکت هغه وخت حاصليدې شی کله چه په اول وخت کښې جومات ته رااورسی او په ړومبی صف کښې کينی، فرمائی چه کوم سړې د امام نه لرې وی نو د تاخير په وجه باندې کيدې شی چه جنت ته په داخليدو کښې به هم روستو او

1): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٤٦٣٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (١١،١٠/٥) (حسن)

بعد کښې به وی او یا مطلب دا دې چه کله جومات ته په تاخیر سره رسیدو په وجه سره به په وروستنو صفونو کښې پاتې شی نو جنت کښې به هم لاندې درجو حاصلیدل وی د اوچتو درجو نه به محروم شی اګر که جنت ته به خامخا داخلیږی.

بَابُ الإِمَامِ يَقْطَعُ الْخُطْبَةَ لِلأَمْرِ يَحْدُثُ

باب دی په د قطع کولو د امام کې لره د وجې د یو کار نه چې پیښ شي

یعنی د یو راتلونکی عارض د وجه نه امام خطبه منقطع کولې شی او که نهٔ؟ د حدیث الباب نه معلومیږی چه آو کولې شی.

[۱۱۰۹] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلاَءِ، أَنَّ زَيْدَ بْنَ حُبَابٍ حَدَّثَهُمْ، حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ وَاقِدٍ، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: خَطَبَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَقْبَلَ الْحَسَنُ، وَالْحُسَيْنُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَلَيْهِمَا قَمِيصَانِ أَحْمَرَانِ يَعْثُرَانِ وَيَقُومَانِ، فَنَزَلَ فَأَخَذَهُمَا فَصَعِدَ بِهِمَا الْمِنْبَرَ، ثُمَّ قَالَ: "صَدَقَ اللَّهُ إِنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلاَدُكُمْ فِتْنَةٌ سورة التغابن آية ١٥، رَأَيْتُ هَذَيْنِ فَلَمْ أَصْبِرْ" ثُمَّ أَخَذَ فِي الْخُطْبَةِ.

عبد الله بن بریدة د خپل پلار نه روایت کوي هغه ویلي دي: مونږ ته خطبه وویله رسول الله ﷺ، نو حسن او حسین راغلل (رضی الله عنهما) په دواړو باندې سره قمیصونه وو لیدل او پاڅیدل، نو خکته شو دواړه یي راوچت کړل، منبر ته یي وخېژول، بیایي وویل: الله رشتیا ویلي دي (بېشکه ستاسو مالونه او اولاد فتنه ده) ما دا دواړه ولیدل نو ما صبر ونه کړو، بیایي په کې شروع شو.

مضمون حدیث:

قوله: خطبنا رسول الله صلی الله علیه وسلم فاقبل الحسن والحسین علیهما قمیصان احمران یعثران و یقومان..الخ، یو ځلې حضور ﷺ مونږ ته په منبر باندې خطبه راکوله حضور ﷺ اوکتل چه د مخامخ نه د حضور ﷺ دواړه نوسی حسن او حسین رضی الله عنهما راروان دی دواړو سور رنګې قمیصونه اغوستې دی او د راتلو په وخت کښې هغه دواړه ماشومان په تلو تلو کښې به راغورزیدل او پورته کیدل کله چه حضور ﷺ دا کیفیت اولیدلو نو خطبه ئې اودروله د منبر نه راښکته شو او هغوی دواړه ئې پورته کړل او ځان سره ئې په منبر باندې کینول د دېنه پس حضور ﷺ بیا خطبه شروع کړله.

د دې حدیث نه د ترجمة الباب ثبوت کیږی چه د عارض د وجه نه خطیب خطبه منقطع کولې شی دغه شان دا هم معلومه شوه چه کلام فی الخطبه جائز دی د دې مستقل باب هم تیر شوې دې هلته دا تیر شوې دی چه د خطیب کلام اګر که د امر بالمعروف د قبیلې نه وی یا د څه ضرورت یا د مجبورئ د وجه وی نو په اتفاق سره جائز دې ګڼنی بغیر د ضرورت نه کلام د حنفیانو په نیز مکروه دې خو په دې سره خطبه نهٔ فاسدیږی.

ملا علی قاری رحمه الله په، یعثران و یقومان، باندې لیکی چه د هغوی دواړو بیا بیا غورزیدل د کم عمرئ د وجه نه وو ډیر واړهٔ وو، خو حضرت په بذل کښې دا لیکې دی چه داسې نهٔ وه

(١): سنن الترمذي/المناقب ٣١ (٣٧٧٤)، سنن النسائي/الجمعة ٣٠ (١٤١٤)، والعيدين ٢٧ (١٥٨٦)، سنن ابن ماجه/اللباس ٢٠ (٣٦٠٠)، (تحفة الأشراف: ١٩٥٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٥٤/٥) (صحيح)

ځکه چه دغه وخت د هغوی عمر بظاهر د څلور کالو او دريو کالو وو ځکه چه د حسن رضي الله عنه پيدائش په دريم کال د هجرت کښې په رمضان کښې دې او دحسين رضي الله عنه په څلورم کال د هجرت کښې په شعبان کښې او د منبر بناء په اتم يا اووم کال د هجرت کښې ده او د دريو څلورو کالو ماشوم دومره ووړوکې او کمزورې نۀ وى چه بيا بيا دې غورزيږى بلکه ظاهر داده چه ددوئ بيا بيا غورزيدل د قميص د اوږدوالى د وجه نه وو هغوى به په خپل قميص کښې په انختلو انختلو سره غورزيدل.

زۀ وايم چه د حضرت رحمه الله د رائې تائيد د بعضې رواياتو د الفاظو نه هم کيږى چنانچه د نسائى،ص،۲۰۹، د روايت الفاظ دى چه، يعثران في قميصهما.

قوله: ثم قال صدق الله انما اموالکم و اولادکم فتنة، او د ابن ماجه په روايت کښې د رسوله زيادت دې، صدق الله و رسوله، اوس خو دا يا به د راوى وهم ګرځولې شى يا دې د دې مناسب تاويل اوکړې شى.[1]

باب الاحتباء والامام يخطب

باب دى په بيان د احتباء په داسې حال کې چې امام خطبه وايي

يعنى د اوريدونکو د خطبې په وخت کښې په پرلتئ واهلو سره کيناستل، په دې باب کښې مصنف دوه حديثونه ذکر کړې دى ړومبى د ممانعت او دويم د جواز.

[۱۱۱۰](2) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَوْفٍ، حَدَّثَنَا الْمُقْرِءُ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي مَرْحُومٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنِ الْحُبْوَةِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ".

د سهل بن معاذ بن انس نه روايت دى هغه روايت کوي دخپل پلار نه، ببشکه رسول الله صلى الله عليه وسلم منع کړي ده د احتباء نه په ورځ د جمعه کې په داسې حال کې چې خطبه وايي.

تشريح: علماؤ د منع دا حکمت ليکلې دې چه د ناستې دا هيئت او شکل د خوب راوستونکې دې ځکه چه په داسې ناستې سره آرام زيات ملاويږى نو ځکه د خوب د راتلو ويره وه، خو جمهور او ائمه اربعه ټول د دې د جواز قائل دى.

د جمهورو د طرف نه د حديث جواب:

دا دې چه ضعيف دې ابو مرحوم د چا نوم چه عبد الرحيم بن ميمون دې هغه راوى ضعيف دې او په بل حديث کښې دى چه، عن يعلى بن شداد قال شهدت مع معاوية بيت المقدس.. الخ، يعلى بن شداد وائى چه زۀ يو ځل د حضرت معاويه رضي الله عنه سره په بيت المقدس ته لاړم هغوى د جمعې مونځ ورکړو نو چه کله زۀ هلته اورسيدم نو ما اوکتل چه اکثر صحابه کرام کوم چه په جومات کښې موجود وو هغوى د امام د خطبې په وخت کښې د حبوه يعنى د پرلتئ وهلو په حالت کښې ناست وو.

[1]) مثلا داسې دې اووئيلې شى چه تقدير د عبارت دا دې، صدق الله و صدق رسوله، يعنى الله ريښتيا وئيلى چه د هغې تصديق رسول الله کوى او دا هم وئيلې شى چه اګر که قول خو د الله دې خو امت ته خو په د واسطه رسول الله رارسيدلى دى د دې حيثيت نه دې لره زيات کړې شو.-

[2]: سنن الترمذي/الصلاة ۲۵۳ (الجمعة ۱۸) (۵۱٤)، (تحفة الأشراف: ۱۱۲۹۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/٤۳۹) (حسن)

[۱۱۱۱]()حَدَّثَنَا دَاوُدُ بْنُ رُشَيْدٍ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ حَيَّانَ الرَّقِّيُّ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزِّبْرِقَانِ، عَنْ يَعْلَى بْنِ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ، قَالَ: "شَهِدْتُ مَعَ مُعَاوِيَةَ بَيْتَ الْمَقْدِسِ فَجَمَّعَ بِنَا فَنَظَرْتُ، فَإِذَا جُلُّ مَنْ فِي الْمَسْجِدِ أَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَرَأَيْتُهُمْ مُحْتَبِينَ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ". قَالَ أَبُو دَاوُد: كَانَ ابْنُ عُمَرَ يَحْتَبِي وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ، وَأَنَسُ بْنُ مَالِكٍ، وَشُرَيْحٌ، وَصَعْصَعَةُ بْنُ صُوحَانَ، وَسَعِيدُ بْنُ الْمُسَيَّبِ، وَإِبْرَاهِيمُ النَّخَعِيُّ، وَمَكْحُولٌ، وَإِسْمَاعِيلُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ سَعْدٍ، وَنُعَيْمُ بْنُ سَلَامَةَ، قَالَ: لَا بَأْسَ بِهَا. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَلَمْ يَبْلُغْنِي أَنَّ أَحَدًا كَرِهَهَا إِلَّا عُبَادَةَ بْنَ نُسَيٍّ.

د يعلى بن شداد نه روايت دى هغه وايي: زه حاضر شوم د معاوية سره بيت المقدس ته نو هغه مونږ ته جُمعه وکړه، نو وکتل نو ډير د هغه کسانو نه چې په مسجد کې وو د رسول الله ﷺ صحابه وو، ما وليدل چې احتباء يي کړې وه او امام خطبه ويله. ويلي دي ابوداود: وو ابن عمر احتباء يي کوله او امام به خطبه ويله همدارنګه انس بن مالک او شريح او صعصعة بن صُوحان، او سعيد بن المسيب او ابراهيم النخعي او مکحول او اسماعيل بن محمد بن سعد او نُعيم بن سلامة، هغوى ويلي دي: هيڅ پروا نه کوي. ويلي دي ابوداود: ماته خبر نه دى رسيدلى چې دا چا مکروه ګڼلې وي سوا د عبادة بن نُسي نه.

تشريح: دا دويم حديث د جمهورو دليل کيدې شي، امام طحاوى رحمه الله د منع روايت په حبوه مستانفه باندې محمول کړې دي يعنى سرې عين د خطبې په مينځ کښې خپل نشست بدل کړي او پرلتئ اووهي، ځکه چه بظاهر د خطبې اودريدو او توجه الى الامام کښې دا مخل دې يعنى خلل اچونکې دې، او د جواز روايت په حبوه سابقه باندې محمول دي يعنى د خطبې د شروع کيدو نه وړاندې هم داسې ناست وى، او يو جواب وړاندې راغلې دې چه د منع روايت ضعيف دې.

قال ابوداؤ و لم يبلغنى ان احدًا کرهها الا عبادة بن نسيّ، او امام ترمذى رحمه الله په جامع ترمذى کښې فرمائى، و قد کره قوم من اهل العلم الحبوة يوم الجمعة والامام يخطب، په بذل کښې ليکلې دى چه مکحول شامى او عطاء او حسن بصرى د دې دريواړو نه هم يو قول د کراهيت منقول دې.

بَابُ الْكَلَامِ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ

باب دى په بيان د خبرو کې او امام خطبه وايي

مذاهب ائمه:

د جمعې د خطبې په وخت کښې خبرې کول د جمهورو علماؤ او ائمه ثلاثه په نيز حرام دى او د شوافعو په دې کښې دوه قوله دى يو پشان د جمهورو، او دويم قول د عدم حرمت د کلام دې دا د دوئ قول جديد دې او هم د دې قائل دى سفيان ثورى او داوٗد ظاهرى، او دا انصات يعنى چپوالې صرف مستحب دې، دغه شان حرمت کلام عند الجمهور د خطبې په شروع باندې دې هم دا رائې د صاحبينو ده او د امام ابوحنيفه ره په نيز باندې د کلام حرمت

(): تفرد به أبو داود (ضعيف)

د امام په خروج او د هغهٔ منبر ته په رسیدلو باندې کیږی، د امام صاحب استدلال په هغهٔ روایت مرفوعه سره دې ، اذا خرج الامام فلا صلوة و لا کلام، خو ابن همام فرمائی چه د دې حدیث رفع غریب ده معروف دا ده چه دا د زهری کلام دې کوم لره چه امام مالك رحمه الله په مؤطا کښې ذکر کړې دې چه دهغې الفاظ دا دی ، خروجه يقطع الصلوة و كلامه يقطع الكلام، او هم دې لره صاحبینو اختیار کړې دې یعنی د مونځ کراهیت په نفس خروج د امام باندې او د کلام حرمت په ابتداء د خطبې د شروع کیدو باندې دې، په منهل کښې لیکلي دی چه دا د هغهٔ سړی په حق کښې دی کوم چه خطبه اوری که په جومات کښې وی یا د جومات نه بهر وی، او کوم سړې ته چه د خطبې آواز نهٔ رسی د لرې کیدو د وجه نه نو د جمهورو په نیز خو د دهٔ هم دا حکم دې یعنی د کلام حرمت، خو امام احمد او ابراهیم نخعی رحمهما الله فرمائی چه، لا يحرم في حقه،

[۱۱۱۲]([1])حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا قُلْتَ أَنْصِتْ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ فَقَدْ لَغَوْتَ".

د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی بیشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: کله چي ته وویله چوپ شه او امام خطبه ویله نو تا لغوه وکړه.

تشریح: قوله: اذا قلت انصت والامام يخطب فقد لغوت، دا حدیث مشهور دې په صحاح سته کښې موجود دې. لغو وائی هغهٔ کلام ته چه دهغې څهٔ فائده نهٔ وی، وقيل الاثم وقيل الميل عن الصواب (د سمې لارې نه لرې کیدل) دا حدیث په حرمت دکلام باندې د خطبې په وخت کښې د جمهورو دلیل دې ځکه چه کله دغه وخت کښې امر بالمعروف ممنوع دې نو عامه خبره خو به په طریقه اولی ممنوع وی.

فائده: امام بخاری رحمه الله په دې سلسله کښې دوه بابه قائم کړې دی، باب الاستماع الى الخطبة، او دویم باب الانصات يوم الجمعة، انصات وائی یو کلام ته د اوریدلو دپاره چپ پاتې کیدل دا عامه خبره ده که آواز رسی او که نهٔ رسی، كما هو مسلك الجمهور و قد تقدم فيه خلاف احمد و النخعي.

[۱۱۱۳]([2])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَأَبُو كَامِلٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا يَزِيدُ، عَنْ حَبِيبٍ الْمُعَلِّمِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "يَحْضُرُ الْجُمُعَةَ ثَلَاثَةُ نَفَرٍ: رَجُلٌ حَضَرَهَا يَلْغُو وَهُوَ حَظُّهُ مِنْهَا، وَرَجُلٌ حَضَرَهَا يَدْعُو فَهُوَ رَجُلٌ دَعَا اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ إِنْ شَاءَ أَعْطَاهُ وَإِنْ شَاءَ مَنَعَهُ، وَرَجُلٌ حَضَرَهَا بِإِنْصَاتٍ وَسُكُوتٍ وَلَمْ يَتَخَطَّ رَقَبَةَ مُسْلِمٍ وَلَمْ يُؤْذِ أَحَدًا فَهِيَ كَفَّارَةٌ إِلَى الْجُمُعَةِ الَّتِي تَلِيهَا وَزِيَادَةِ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ، وَذَلِكَ بِأَنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ يَقُولُ: مَنْ جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا سورة الأنعام آية ١٦٠".

[1]: سنن النسائي/الجمعة ٢٢ (١٤٠٢، ١٤٠٣)، والعيدين ٢١ (١٥٧٦)، (تحفة الأشراف: ١٣٢٤٠)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الجمعة ٣٦ (٣٩٤)، صحيح مسلم/الجمعة ٣ (٨٥١)، سنن الترمذي/الصلاة ٢٥١ (الجمعة ١٦) (٥١٢)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٨٦ (١١١٠)، موطا امام مالك/الجمعة ٢ (٦)، مسند احمد (٢/٢٤٤، ٢٧٢، ٢٨٠، ٣٩٣، ٣٩٦، ٤٨٥، ٥١٨، ٥٣٢)، سنن الدارمي/الصلاة ١٩٥ (١٥٨٩) (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٨٦٦٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/١٨١، ٢١٤) (حسن)

د عبد الله بن عمرو نه روایت دی هغه روایت کوي د نبي ﷺ نه، هغه ویلي دي: جمعي ته دري قسمه خلق راځي: یو سړی دی چې ورته حاضر شي او لغوه وکړي دا د هغه نصیب شو، او یو سړی حاضر شو چې دعاء کوي نو دا داسي سړی دی چې الله پاک لره رابلي که د هغه خوښه شوه وربه یي کړي او که د هغه خوښه شوه نو نه به یي ورکوي، او یو سړی دی حاضر شو ورته په چوپ والي سره، او خپه نه ړدي په څټ د مسلمان، او هېڅا ته ضرر نه رسوي نو دا کفاره شوه د راتلونکي جمعي پوري، او زیاتي درې ورځي، او دا د دې وجې نه چې الله فرمایي: (چا چې راتلل وکړل په یوې نیکۍ سره نو د هغه بدل لس چنده ده).

قوله: عن النبی صلی الله علیه وسلم قال یحضر الجمعة ثلثة نفر..الخ.

مضمون حدیث:

دا دي چه د جمعي په مانځه کښې شرکت کونکی دري قسمه سړی دی:

۱. هغهٔ خلق کوم چه د خطبې په وخت کښې څهٔ عبث فعل یا خبرې اترې کوی د داسې خلقو حکم دا دې چه د داسې خلقو په برخه کښې هم هغه لغوه څیز راځی د جمعې ثواب او د دې فضیلت د دوئ په حق کښې هیڅ نشته دې،

۲. کوم سړې چه د خطبې په وخت کښې کلام یا عبث فعل خو څهٔ نهٔ کوی خو د خطبې اوریدو په ځائې باندې په دعاء غوښتلو کښې مشغول شی نو د دهٔ په حق کښې هم یقینی فائده نشته دې، الله تعالی لره اختیار دې چه دهٔ لره ورکوی او که نهٔ ورکوی،

۳. کوم خلق چه د بغیر د تخطئ رقاب (یعنی د خلقو په سټونو باندې اوړیدل) او بغیر د څه ایذاء ورکولونه په خاموشئ سره په جومات کښې کینی نو دداسې خلقودپاره دجمعې مونځ د دې جمعې نه تر راتلونکې جمعې پورې کفاره د سیئات وی او درې ورځې زیاتی.

باب استئذان المحدث الامام

باب دی په بیان د اجازت غوښتلو کې د بې اودسه د امام نه

یعنی که یو مقتدی ته په مانځه کښې حدث یعنی بې اودسی راپیښه شی نو هغهٔ به اوس د جومات نه د وتلو دپاره د امام نه څنګه اجازت غواړی ځکه چه امام خو په مانځه کښې مشغول دې.

د ترجمة الباب غرض:

په اصل کښې د دې ترجمې قائمولو مقصد دا دې چه په کلام پاک کښې دی ، **و اذا کانوا معه علی امر جامع لم یذهبوا حتی یستاذنوه**، یعنی صحابه کرام به د حضور ﷺ دمجلس نه بغیر د اجازت غوښتلو نه نهٔ تلل، د دینه معلومه شوه چه سړی لره پکار دی چه په مجلس کښې بغیر د مجلس د صدر د اجازت نه پورته نهٔ شی، لهذا مقتدی لره هم پکار دی چه د امام د استیذان نه بغیر د جومات نه لاړ نهٔ شی، نو د مصنف غرض بظاهر دې ترجمې سره د ترک استیذان د رخصت بیانول دی چه هغه وخت کښې استیذان ساقط دې کله چه امام په مانځه کښې دمشغول کیدو د وجه نه یا داسې اووایئ چه غرض د استیذان کیفیت لره بیانول دی او هغه کیفیت دا دې کوم چه د ترجمة الباب نه معلومیږی، **فلیاخذ بانفه ثم لینصرف، یعنی**

خپله پوزه دې په لاس سره اونيسی، په پوزه نيولو کښې ګويا په ظاهر کښې عذر دې چه د څه عذر د وجه څم

[۱۱۱٤]()حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْحَسَنِ الْمِصِّيصِيُّ، حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ، حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا أَحْدَثَ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ فَلْيَأْخُذْ بِأَنْفِهِ ثُمَّ لِيَنْصَرِفْ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، وَأَبُو أُسَامَةَ، عَنْ هِشَامٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، لَمْ يَذْكُرَا عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا.

عائشې ﷞ ويلي دي. ويلي دي نبي ﷺ: کله چې يو سړی بې اودسه شي ستاسو نه نو ودې نيسي خپله پوزه بيا دې لاړ شي. ويلي دي ابوداود: حماد بن سلمة او ابو اسامة روايت کړی دی د هشام نه او هغه د خپل پلار نه او هغه د نبي ﷺ نه. دواړه عائشه ﷞ نه ده ذکر کړي

تشريح: قوله: اخذ انف کښې بظاهره اشاره ده رعاف طرف ته خو چونکه په دې کښې تصريح نشته نو ځکه دې ته تکذيب نهٔ شی وئيلې بلکه دا دستر العورة او اخفاء القبيح د قبيلې نه دي يعنی د خپل يوعيب يا نقص پرده پوشی کول، خپل يو نقص د خلقو د وړاندې ظاهر کول بغير د څه ضرورت يا مصلحت نه مناسب نهٔ ده، او دغه شان کولو کښې د خلقو نه سلامتيا ده ګينی خلق به ور پورې توقې کوی يا به په غيبت کښې اخته شی، نو داسې کول دخپل ځان په لحاظ سره غوره دی او د نورو په لحاظ سره هم.

قوله: قال ابوداؤد و رواه حماد بن سلمة، الخ، تير شوې روايت د ابن جريج وو کوم چه هغوی د هشام نه روايت کړې وو، مصنف فرمائی چه حماد او ابوسلمه دې حديث لره د هشام نه روايت کړو نو د سند په آخر کښې د عروه نه پس ئې عائشه نهٔ ده ذکر کړې لهذا روايت مرسل شو نو وينا دا کول دی چه دې حديث لره بعضې راويانو مسنداً او بعضو مرسلاً نقل کړې دي.

بَابُ إِذَا دَخَلَ الرَّجُلُ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ

باب دی، کله چې سړی داخل شي او امام خطبه وايي

يعنی که يوسړې جومات ته په داسې وخت کښې داخل شی چه د جمعې خطبه شروع وی نو دغه وخت کښې تحية المسجد کول پکار دی او که نهٔ؟ امام شافعي او احمد د دې قائل دی حنفيه مالکيه د دې منکر دی، په دې باب کښې مصنف ﷫ صرف هم يو حديث ذکر کړې دې يعنی د سُليك غطفانی قصه په ګڼرو طرقو (سَندونو) سره.

[۱۱۱۵]()حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ عَمْرٍو وَهُوَ ابْنُ دِينَارٍ، عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ رَجُلًا جَاءَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ، فَقَالَ "أَصَلَّيْتَ يَا فُلَانُ؟" قَالَ: لَا، قَالَ: "قُمْ فَارْكَعْ".

[1]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۷۰٤۳)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۳۸ (۱۲۲۲) (صحيح)

[2]): صحيح البخاري/التهجد ۲۵ (۱۱٦٦)، والجمعة ۳۲ (۹۳۰)، ۳۳ (۹۳۱)، صحيح مسلم/الجمعة ۱٤ (۸۷۵)، سنن الترمذي/الصلاة ۲۵۰ (الجمعة ۱۵) (۵۱۰)، سنن النسائي/الجمعة ۱٦ (۱۳۹٦)، (تحفة الأشراف: ۲۵۱۱)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۸۷ (۱۱۱۳)، مسند احمد (۲۹۷/۳، ۳۰۸، ۳٦۹)، سنن الدارمي/الصلاة ۹٦ (۱٤۰٦) (صحيح)

د جابر رضی الله عنه نه روایت دی، بېشکه یو سړی راغی د جمعې په ورځ او نبی ﷺ خطبه ویله، وېې فرمایل ایا مونځ دې وکړو ای فلانی؟ هغه وویل نه،هغه وفرمایل پاڅه مونځ وکړه.

قوله، عن جابر رضی الله عنه ان رجلاً جاء یوم الجمعة والنبی صلی الله علیه وسلم یخطب فقال اصلیت یا فلان قال لا قال قم فارکع، د دې سړی نوم سُلیك غطفانی دې لکه څنګه چه په دویم او دریم حدیث کښې د دې تصریح ده او هم دا نوم دبخاری او مسلم په روایت کښې هم دې ددوئ په نسب کښې اختلاف دې.قیل سُلیك بن هُدبة و قیل سُلیك ابن عمرو، خو د طبرانی په یو روایت کښې دسلیك په ځائې باندې نعمان بن فوقل راغلې دې، دعلامه عینی رحمه الله رائې خو د تعدد واقعې دې او د حافظ میلان عدم تعدد طرف ته دې هغه وائی چه صحیح هم سُلیك دې.شافعیه او حنابله دې حدیث سره استدلال کوی.

د حدیث جوابات:

نورو حضراتو د دې ګڼړ جوابونه ورکړې دی.

۱. د دار قطنی د روایت نه معلومیږی چه حضور ﷺ دې سړی دپاره خطبه اودروله او ولاړ وو، و انصتَ عن الخطبة،

۲. دا واقعه د خطبې شروع کېدو نه وړاندې پېښه شوې وه چنانچه امام نسائی په سنن کبرٰی کښې باب قائم کړې دې، باب الصلوة قبل الخطبة،

۳. د نسخ الکلام فی الصلوة نه د وړاندې واقعه ده ځکه چه خطبه په حکم د صلوة کښې ده بیا چه کله دخطبې په مینځ کښې امربالمعروف ونهی عن المنکر ممنوع شو کوم چه فرض کار دې نو تحیة المسجد کوم چه نفل دی په طریقه اولی سره منسوخ شو، قال الطحاوی و ابن العربی.

۴. دا د ذکر شوې سړی خصوصیت دې ځکه چه په روایاتو کښې راغې چه، کان ذا بذاذةٍ، چه دا سړې ډیرخراب حال،غریب او فقیر وو، په یو روایت کښې دی چه، و کان عریانًا، نو حضور ﷺ خلقو لره دهٔ باندې صدقه کولو دپاره د خطبې په مینځ کښې دهٔ ته د مونځ کولو حکم اوکړو چه خلق د دهٔ بدحالئ باندې خبردار شی او د دهٔ اعانت او امداد اوکړی او خلقو د دهٔ امداد اوکړو په کپړو وغیره ورکولو سره کما فی روایة فالقوا ثیابًا،

۵. دا سړې صاحب تربیت وو او غالبًا د صبا مونځ دهٔ نهٔ وو کړې نو ځکه حضور ﷺ دهٔ ته اولاً د قضاء مونځ کولو حکم اوفرمائیلو، چنانچه د دې تائید د بعضې الفاظو د روایت نه کیږی، لکه، اصلیت یا فلان، ځکه که د تحیة المسجد سره د دې حدیث تعلق وې نو بیا د حضور ﷺ د سوال حاجت نهٔ وو ځکه چه هغهٔ سړې د دوئ په وړاندې جومات ته داخل شوې وو او د هغهٔ تحیة المسجد نهٔ کول ظاهر وو،

۶. دا حدیث خبر واحد دې چه د احادیث صحیحه او نص قطعی نه خلاف دې، قال الله تعالٰی، واذا قرئ القرآن فاستمعوا له، الایة، نو دغه وخت کښې مونځ کول د خطبې د استماع یعنی اوریدلو نه خلاف دې لهذا په دې حدیث باندې به عمل نهٔ کولې کیږی،

اشکال: خو یو اشکال باقی پاتې شو هغه دا چه حضور ﷺ خو قاعده کلیه بیانوی، اذا جاء

احدکم یوم الجمعة والامام یخطب فلیصل رکعتین،

جواب: د دې جواب دا کیدې شي چه دا حدیث مبیح دي او نور احادیث مُحَرِّم دی او قاعده ده چه دمحرم او د مبیح په مینځ کښې د تعارض په وخت کښې محرِم لره ترجیح ورکولې شی، والله تعالی اعلم

[۱۱۱۶]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مَحْبُوبٍ، وَإِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي سُفْيَانَ، عَنْ جَابِرٍ، وَعَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَا: جَاءَ سُلَيْكٌ الْغَطَفَانِيُّ وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ، فَقَالَ لَهُ "أَصَلَّيْتَ شَيْئًا؟" قَالَ: لَا، قَالَ: "صَلِّ رَكْعَتَيْنِ تَجَوَّزْ فِيهِمَا".

جابر او ابو صالح دواړه د ابوهریره نه روایت کوي، دواړو ویلي دي راغی سلیک الغطفاني او رسول الله ﷺ خطبه ویله، هغه ورته وفرمایل څه مونځ دي وکړو؟ هغه وویل نه، هغه ورته وفرمایل: دوه رکعاته مونځ وکړه او سپکوالی پکښې وکړه.

[۱۱۱۷]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ سَعِيدٍ، عَنِ الْوَلِيدِ أَبِي بِشْرٍ، عَنْ طَلْحَةَ، أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ يُحَدِّثُ، أَنَّ سُلَيْكًا جَاءَ، فَذَكَرَ نَحْوَهُ، زَادَ: ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ، قَالَ: "إِذَا جَاءَ أَحَدُكُمْ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ فَلْيُصَلِّ رَكْعَتَيْنِ يَتَجَوَّزْ فِيهِمَا".

د جابر بن عبد الله نه روایت دی چې حدیث یي بیانوه، بیشکه سلیک راغی، ذکر یي کړه پشان دهغه حدیث زیادت یي پکښې وکړو: بیا مخامخ شو خلقوته ویي فرمایل کله چې یو تاسونه راشي اوامام خطبه کوي دواړه رکعاته مونځ دي وکړي او اختصار دې پکښې وکړي

بَابُ تَخَطِّي رِقَابِ النَّاسِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ

باب دی په بیان د خپو کښخودو کې دی د خلقو په څټونو د جمعې په ورځ

[۱۱۱۸]()حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ مَعْرُوفٍ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ السَّرِيِّ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ صَالِحٍ، عَنْ أَبِي الزَّاهِرِيَّةِ، قَالَ: كُنَّا مَعَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُسْرٍ صَاحِبِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، فَجَاءَ رَجُلٌ يَتَخَطَّى رِقَابَ النَّاسِ، فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بُسْرٍ: جَاءَ رَجُلٌ يَتَخَطَّى رِقَابَ النَّاسِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ، فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اجْلِسْ فَقَدْ آذَيْتَ".

د ابو الزاهریه نه روایت دی، هغه ویلي دي وو مونږ د عبد الله بن بسر سره چې صحابي د رسول الله ﷺ دی د جمعې په ورځ، نو راغی یو سړی چې تیریدلو په څټونو د خلقو، وویل عبد الله بن بسر: راغی سړی تیریدلو په څټونو د خلقو د جمعې په ورځ او د رسول الله ﷺ خطبه ویله، هغه ته نبي ﷺ وویل کښېنه تا تکلیف ورکړو

تشریح: یعنی که یو سړې د جومات د وړاندې او اول صف فضیلت حاصلولو دپاره د جمعې په ورځ د خلقو په ستونو باندې واوړی او وړاندې لاړ شی نو د دې د ممانعت بیان، د رومبی صف د فضیلت حاصلولو دا طریقه غلطه ده چه د خلقو په ستونو باندې واوړی او

[۱]: صحيح مسلم/الجمعة ۱٤ (۸۷۵)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۸۷ (۱۱۱٤)، (تحفة الأشراف: ۲۲۹٤، ۱۲۳٦۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۱٦/۳) (صحيح)

[۲]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۲۳۳۹)، مسند احمد (۲۹۷/۳) (صحيح)

[۳]: سنن النسائي/الجمعة ۲۰ (۱٤۰۰)، (تحفة الأشراف: ۵۱۸۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۸۸/٤، ۱۹۰) (صحيح)

وړاندې لاړ شي بلکه د دې صحيح طريقه تبکير الى الجمعة يعنى جمعې ته مخکښې راتلل دى چه دهغې فضيلت په احاديثوکښې راغلې دې،يعنى په اول وخت کښې جومات ته اورسي او دا فضيلت حاصل کړى نۀ دا چه په تاخير سره راشي او د تخطئ رقاب يعنى د خلقو په سټونو باندې واوړى او وړاندې صف ته د رسيدلو کوشش کوى، په اصل کښې تخطئ رقاب د اکرام مسلم خلاف ده بلکه په دې کښې ايذاء د مسلمان ده کومه چه حرامه ده که د جمعې ورځ وى يا د غير جمعې ورځ، خو چونکه د دې نوبت عموما د جمعې په ورځ راځى د خلقو د ډير والى د وجه نه نو ځکه د دې قيد لګوى، امام نووى رحمه الله فرمائى د دې د حرمت تصريح کړې ده او نورو حضراتو مکروه ليکلې دى، د بعضو نه په دې کښې تشديد منقول دې دکعب احبارنه منقول دى هغۀ فرمائى،لان ادع الجمعة احبّ الى من ان اتخطى الرقاب.

تخطى رقاب کله جائز دې؟

خو په دې کښې څۀ مستثنيات دى، چنانچه بعضې علماؤ امام لره د دې نه مستثنى کړې دې يعنى د دۀ په حق کښې جائز دې اګر که دۀ لره هم پکاردى چه په احتياط سره وړاندې لاړ شي هم داسې که په وړاندې صف کښې خالى ځائې پاتى وى نو د هغې ډکولو دپاره د تخطئ رقاب اجازت دې، هم داسې په دې مسئله کښې بعضې علماؤ د هغه سړى هم استثناء کړې ده چه د کوم سړى تيريدل دا خلق موجب د برکت ګڼړى مثلا ، پير و مرشد يا يو بزرګ، دغه شان فقهاؤ قبل خروج الامام او هم داسې دعدم ايذاء په صورت کښې دتخطى رقاب ګنجائش ليکلې دې، او د عدم ايذاء صورت دا دې چه د چا جامې يا لاس پښه وغيره پائمال نۀ کړې شى.

سخت وعيد:

په يو روايت مرفوعه کښې د کوم تخريج چه امام ترمذى او ابن ماجه کړې دې تخطى رقاب باندې سخت وعيد راغلې دې، من تخطى رقاب الناس يوم الجمعة اتخذ جسرًا الى جهنم، کوم سړې چه د جمعې په ورځ تخطى رقاب اوکړى نو هغۀ لره به د جهنميانو دپاره جهنم ته د تللو دپاره پل جوړ کړې شى يعنى هغوى به دۀ لره د پښو لاندې پائمال کونکى لاړ شى، دا مطلب په هغۀ صورت کښې دې کله چه، أتخذ . لره فعول مجهول اولوستلې شى، بعضې علماء وائى چه دا ډيره سخته ده، صحيح دا ده چه دا د معروف صيغه ده په دې صورت کښې به مطلب دا وى چه دۀ خان ته جهنم ته د تللو دپاره لاره هواره کړه.

بَابُ الرَّجُلِ يَنْعَسُ وَالإِمَامُ يَخْطُبُ

باب دى په بيان د سړي کې چې خوب ورشي او امام د خطبې په حالت کې وي

[۱۱۱۹] (١) حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، عَنْ عَبْدَةَ، عَنِ ابْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "إِذَا نَعَسَ أَحَدُكُمْ وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ فَلْيَتَحَوَّلْ مِنْ مَجْلِسِهِ ذَلِكَ إِلَى غَيْرِهِ".

(١): سنن الترمذي/الصلاة ٢٦٢ (الجمعة ٢٧) (٥٢٦)، (تحفة الأشراف: ٨٤٠٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢٢، ٣٢، ١٣٥) (صحيح)

د ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دی هغه ویلي دي ما اوریدلي دي د رسول الله ﷺ نه هغه به ویل کله چې خوب ورشي يو سړي ته يو کس ستاسو نه او هغه په جماعت کې وي نو لاړ دي شي د خپل ځای نه بل ځای ته.

قوله، اذا نعس احدکم و هم في المسجد فليتحول من مجلسه ذالك الی غيره، د ترمذی په روایت کښې د يوم الجمعة زيادت دې، اذا نعس احدکم يوم الجمعة

د حدیث مطلب خو ظاهر دې چه کوم سړې د جمعې په ورځ جومات کښې په يو ځائې باندې کینی که دهٔ لره په هغهٔ ځائې کښې په ناسته ناسته باندې نعاس(پرکالي) راشي نو دهٔ لره پکار دی چه د هغهٔ ځائې نه پاسی او خپل ځائې بدل کړی چه په دې نقل و حرکت او د ځائې بدلولو سره د دهٔ خوب لاړ شی، د حديث په مضمون باندې هيڅ اشکال نشته

د مصنف په ترجمه باندې اشکال

خو مصنف رحمه الله چه په دې کښې په خپل اجتهاد سره چه کوم عموم پيدا کړې دې که خطبه شروع وی نو بيا هم پاسيدل پکار دی دا موجب د اشکال دې ځکه چه د خطبې په وخت کښې انصات یعنی چپوالی او استماع یعنی اوریدلو نه علاوه د په بل څيز کښې اخته کيدل ممنوع دی تر دې چه د احتباء هم ممانعت دې لکه څنګه چه وړاندې ذکر شوې دی امام طحاوی رحمه الله فرمائی چه دا حديث په حبوه مستأنفه باندې محمول دې، نو چه هر کله د اړخ بدلولو ممانعت دې نو د ځائې بدلولو به څنګه ګنجائش کيدې شی خو مصنف رحمه الله چونکه دې لره جائز ګڼړی لهذا دا به اووئيلې شی چه دا د دوئ خپل مسلك دې

بَابُ الإِمَامِ يَتَكَلَّمُ بَعْدَ مَا يَنْزِلُ مِنَ الْمِنْبَرِ

باب دی په بیان د هغې کې چې امام خبرې کوي پس د راخکته کیدلو د منبر نه

د امام صاحب رحمه الله په نيز باندې د خروج امام یعنی د امام منبر ته د رسيدو نه واخله تر فراغ عن الصلوة پورې خبرې اترې کول مکروه دی او د صاحبينو په نيز باندې د خطبه شروع کيدو نه د هغې د ختميدو پورې خبرې کول مکروه دی لهذا د دوئ په نيز باندې د امام د منبر نه راکوزيدو نه پس خبرې جائز دی خو دا دې هم واضحه وی چه دا د مقتدی په حق کښې دی، او خپله د امام په حق کښې خو ظاهره دا ده چه جائز دی او د دې ترجمې تعلق هم د امام سره دې او د دې نه وړاندې، باب الامام يتكلم الرجل في خطبته، تير شوې دې هغې طرف ته دې رجوع اوکړې شی

[۱۱۲۰]([1])حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ جَرِيرٍ هُوَ ابْنُ حَازِمٍ، لَا أَدْرِي كَيْفَ قَالَهُ مُسْلِمٌ أَوْ لَا، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَنْزِلُ مِنَ الْمِنْبَرِ فَيَعْرِضُ لَهُ الرَّجُلُ فِي الْحَاجَةِ، فَيَقُومُ مَعَهُ حَتَّى يَقْضِيَ حَاجَتَهُ، ثُمَّ يَقُومُ فَيُصَلِّي". قَالَ أَبُو دَاوُد: الْحَدِيثُ لَيْسَ بِمَعْرُوفٍ عَنْ ثَابِتٍ هُوَ مِمَّا تَفَرَّدَ بِهِ جَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ.

د انس رضی الله عنه نه روایت دی هغه ویلي دي ما ولیدلو رسول الله ﷺ چې راخکته شو د منبر نه نو سړی به ورته راغی د حاجت دپاره، نو د هغه سره به ودريدلو تردې چې حاجت يې پوره

[1]: سنن الترمذي/الصلاة ۲۵٦ (الجمعة ۲۱) (۵۱۷)، سنن النسائي/الجمعة ۳٦ (۱٤۲۰)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۸۹ (۱۱۱۷)، (تحفة الأشراف: ۲٦۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/۱۱۹، ۱۲۷) (ضعيف) (والصحيح هو الحديث رقم: ۲۰۱)

شي، بيا به پاڅيدلو او مونځ به يې کولو. ويلي دي ابوداود: دا حديث د ثابت نه معروف نه دی دا هغه دی چې جرير ورباندې تفرد کړی دی د حازم نه.

مضمون حديث:

حضرت انس ﷺ فرمائی چه ما رسول الله ﷺ اوليدلو چه بعضې وختونو کښې به داسې کيدل چه کله به حضور ﷺ د منبر نه راکوز شول نو کوم صاحب د حاجت به د خپل حاجت په سلسله کښې حضور ﷺ سره خبرې کول غوغنتل نو حضور ﷺ په هغوی سره خبرې کولې د دېنه پس به ئې مونځ کولو خو مصنف رحمه الله په دې حديث باندې په خپله اشکال کړې دې چنانچه فرمائی، قال ابوداؤد والحديث ليس بمعروف عن ثابت، مصنف رحمه الله فرمائی چه دا حديث منکر او شاذ دې جرير بن حازم په دې سره متفرد دې د دهٔ نه علاوه بل چا دې لره د ثابت نه نهٔ دې روايت کړې، امام ترمذی هم د دې حديث به حقله دا فرمائيلی دی چه دا وهم دې بلکه صحيح ده چه کومه خبره په حديث کښې مذکور ده يعنی ديو صاحب حاجت د حضور ﷺ سره خبرې کول دا د جمعې د مونځ او د خطبې قصه نهٔ ده بلکه دا واقعه د ماسخوتن د مانځه د وخت ده د يو وارې خبره ده چه د ماسخوتن د مانځه دپاره اقامت شوې وو او مونځ شروع کيدونکې وو چه يو صاحب حاجت حضور ﷺ ته نزدې شواو د حضور ﷺ سره په خبرو شو.

بَابُ مَنْ أَدْرَكَ مِنَ الْجُمُعَةِ رَكْعَةً

باب دې په بيان د هغه چا کې چې د جمعې نه يې يو رکعات بيامونډلو

[۱۱۲۱]()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ أَدْرَكَ رَكْعَةً مِنَ الصَّلَاةِ فَقَدْ أَدْرَكَ الصَّلَاةَ".

د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه ويلي دي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: چا چې د مانځه نه يو رکعات بيامونډلو نو هغه مونځ بيامونډلو.

قوله، قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من ادرك ركعة من الصلوة فقد ادرك الصلوة، د حديث دوه مطلبه کيدې شی. ۱ کوم سړې چه د هر مونځ په اندازه د يو رکعت وخت اومومی نو د دهٔ په ذمه باندې هغه مونځ واجب شو لکه چه يوسړې د يومونځ په بالکل اخری وخت کښې په اسلام کښې داخل شو يا حائضه د خپل حيض نه پاکه شوه. ۲ د دېنه د جماعت افضيلت مراد دې چه چا يو رکعت د جماعت سره اوموندلو نو دهٔ ته فی الجمله د جماعت فضيلت حاصل شو، دې حديث کښې اگر که د جمعې څه ذکر نشته دې خو صلوة د خپل عموم په بناء باندې جمعې ته هم شامل دې.

د جمعې په مانځه کښې د مسبوق کيدونکی حکم:

دلته يوه مسئله بله اختلافی ده هغه هم د دې حديث نه مستنبط کيږی هغه دا که څوک د جمعې په مانځه کښې مسبوق شی نو د دهٔ څهٔ حکم دې، طائفة من السلف عطاء، طاؤس او د

(): صحيح البخاري/المواقيت ۲۹ (۵۸۰)، صحيح مسلم/المساجد ۳۰ (۶۰۷)، سنن النسائي/المواقيت ۳۰ (۵۵٤)، (تحفة الأشراف: ۱۵۲٤۳)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/وقوت الصلاة ۳ (۱۵)، دي/الصلاة ۲۲ (۱۲۵۶، ۱۲۵۷) (صحيح)

مجاهد مسلك دا دې چه د امام سره د دواړو رکعاتونو موندل ضروري دی بلکه د خطبې هم لهذا که د یوسړی نه د جمعې خطبه فوت شوه نو هغهٔ دې اوس د ماسپخین څلور رکعاته اوکړی، او ائمه ثلاثه او امام محمد رحمه الله فرمائی چه د جمعې د صحت دپاره امام سره کم نه کم د یو رکعات موندل ضروری دی که د چا نه د امام سره دواړه رکعاته فوت شی مثلا په التحیات کښې راشی او شامل شی نو د دهٔ د جمعې مونځ فوت شو په دهٔ باندې د ماسپخین بناء کول پکار دی، او شیخین یعنی دامام ابوحنیفه او ابویوسف رحمهما الله په نیز باندې امام سره د یو رکعات موندل ضروری نهٔ دی بلکه د امام د سلام ګرځولو نه وړاندې که یو سړې تکبیر تحریمه اووائی او په مانځه کښې شامل شی نو د دهٔ د جمعې مونځ صحیح دې

د جمهورو استدلال په حدیث الباب سره دې دا حدیث د سنن اربعه دې او د شیخینو استدلال د شیخینو (بخاری اومسلم) حدیث سره دې کوم چه دلته هم په باب السعی الی الصلوة کښې تیر شوې دې، ما ادرکتم فصلوا و ما فاتکم فاتموا، چه څومره مونځ د امام سره اوموم‍ئ هغه امام سره اوکړئ او کوم چه امام سره اونهٔ موندلې شی هغه پوره کړئ، د دې نه معلومه شوه چه کوم مونځ د امام سره کولو نه فوت شی هم هغهٔ دې اوکړې شی او ظاهره ده چه دلته کوم مونځ د امام سره فوت شوې دې هغه صلوة جمعه دې لهذا مسبوق به هم دې لره کوی.

بَابُ مَا يُقْرَأُ بِهِ فِي الْجُمُعَةِ

باب دی په د هغې کې چې په جمعه کې لوستلې شي

[۱۱۲۲] (۱) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْتَشِرِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ سَالِمٍ، عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يَقْرَأُ فِي الْعِيدَيْنِ وَيَوْمِ الْجُمُعَةِ بِـ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى وَهَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْغَاشِيَةِ، قَالَ: وَرُبَّمَا اجْتَمَعَا فِي يَوْمٍ وَاحِدٍ فَقَرَأَ بِهِمَا".

د نعمان بن بشیر نه روایت دی، بېشکه رسول الله ﷺ وو چې لوستل یې په اخترونو او جمعه کې سبح اسم ربک الاعلی او هل اتاک حدیث الغاشیة، هغه ویلي دي: او کله به دواړه راجمع شو په یوه ورځ کې نو دواړه به یې لوستل.

[۱۱۲۳] (۲) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ ضَمْرَةَ بْنِ سَعِيدٍ الْمَازِنِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ، أَنَّ الضَّحَّاكَ بْنَ قَيْسٍ سَأَلَ النُّعْمَانَ بْنَ بَشِيرٍ: مَاذَا كَانَ يَقْرَأُ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ عَلَى إِثْرِ سُورَةِ الْجُمُعَةِ؟ فَقَالَ: "كَانَ يَقْرَأُ هَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْغَاشِيَةِ.

ضحاک بن قیس د نعمان بن بشیر تپوس وکړو چې رسول الله ﷺ به څه شی لوستل د

[1]: صحيح مسلم/الجمعة ١٦ (٨٧٨)، سنن الترمذي/الصلاة ٢٦٨ (الجمعة ٣٣) (٥٣٣)، سنن النسائي/الجمعة ٣٩ (١٤٢٥)، والعيدين ٣١ (١٥٩١)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٩٠ (١١٢٠)، ١٥٧ (١٢٨١)، (تحفة الأشراف: ١١٦١٢)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الجمعة ٩ (١٩)، مسند احمد (٢٧٠/٤، ٢٧١، ٢٧٣، ٢٧٦، ٢٧٧)، سنن الدارمي/الصلاة ٢٠٣ (١٤٢٥) (صحيح)

[2]: صحيح مسلم/الجمعة ١٦ (٨٧٨)، سنن النسائي/الجمعة ٣٩ (١٤٢٤) سنن ابن ماجه/الإقامة ٩٠ (١١١٩)، (تحفة الأشراف: ١١٦٣٤)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الجمعة ٩ (١٩)، مسند احمد (٢٧٠/٤، ٢٧٧)، دي/الصلاة ٢٠٣ (١٦٠٧، ١٦٠٨) (صحيح)

جمعې په ورځ وروسته د سورة الجمعه نه؟ هغه وفرمايل: لوستلو به يې هل اتاک حديث الغاشية (په دويم رکعات کې).

[۱۱۲٤]()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ يَعْنِي ابْنَ بِلَالٍ، عَنْ جَعْفَرٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ أَبِي رَافِعٍ، قَالَ: صَلَّى بِنَا أَبُو هُرَيْرَةَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، فَقَرَأَ بِسُورَةِ الْجُمُعَةِ، وَفِي الرَّكْعَةِ الْآخِرَةِ إِذَا جَاءَكَ الْمُنَافِقُونَ، قَالَ: فَأَدْرَكْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ حِينَ انْصَرَفَ، فَقُلْتُ لَهُ: إِنَّكَ قَرَأْتَ بِسُورَتَيْنِ كَانَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يَقْرَأُ بِهِمَا بِالْكُوفَةِ، قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَقْرَأُ بِهِمَا يَوْمَ الْجُمُعَةِ".

ابن ابو رافع ويلي دي مونږ ته ابو هريره مونځ وکړو د جمعې په ورځ نو ويې لوستلو سورة الجمعة او په وروستني رکعات کې اذا جاءکَ المنافقون، هغه وويل: ما ومونډلو ابو هريره کله چې فارغ شو او ورته ومې ويل: تا دوه سورتونه ولوستل علي ﷺ به په کوفه کې لوستل، ابو هريره وويل: بېشکه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي دواړه د جمعې په ورځ.

په دې سلسله کښې مصنف رحمه الله درې حديثونه ذکر کړي دی.

۱. د نعمان بن بشير چه حضور ﷺ به د اخترونو او د جمعې په مانځه کښې سورة الاعلى او سورة الغاشيه لوستلو.

۲. دا هم د نعمان بن بشير نه مروی دی چه په ړومبی رکعات کښې به ئې سورة الجمعه او په دويم رکعت کښې به ئې سورة الغاشيه.

۳. د ابوهريره حديث، په ړومبی رکعت کښې به سورة الجمعه او په دويم رکعت کښې به ئې سورة المنافقون، ړومبی او دويم حديث احد الصحيحين يعنی مسلم شريف کښې هم مذکور دی او امام بخاری رحمه الله نه په دې سلسله کښې نه کوم ترجمة الباب قائم کړې او نه ئې کوم حديث ذکر کړې دې د ائمه فقه په دې کښې اختلاف دې.

مختار ائمه:

په منهل کښې ليکلې دی چه د امام شافعی او احمد په نيز باندې افضل دا ده چه په ړومبی رکعات کښې سورة الجمعه او په دويم رکعت کښې سورة المنافقون اولوستلې شی، د امام مالك په نيز اولی دا ده چه په ړومبی رکعت کښې سورة الجمعه او په دويم رکعت کښې سورة الغاشيه، حنفيان دا وائی چه امام لره اختيار دې که جمعه وی يا غير جمعه چه کوم سورت غواړی اودې لولی.

د دېنه په ړومبی باب ما يقراء فی صلوة الصبح يوم الجمعة د لاندې په بذل المجهود کښې د حسن بصری قول مصنف ابن ابی شيبه نه دا نقل کړې دې چه، انه يقراء الامام بما شاء، او د نورو بعضې صحابه او علماء نه هم د يو خاص سورت د قصد کراهيت نقل کړې شوې دې لکه عبدالله بن مسعود او سفيان بن عيينه، ابو اسحاق مروزی

بيا پوهيدل پکار دی چه د حنفيانو هغه مذهب نۀ دی کوم چه صاحب منهل او نور شارحين

(): صحيح مسلم/الجمعة ١٦ (٨٧٧)، سنن الترمذي/الصلاة ٢٥٧ (الجمعة ٢٢) (٥١٩)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٩٠ (١١١٨)، (تحفة الأشراف: ١٤١٠٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٤٢٩) (صحيح)

لیکی بلکه زمونږ فقهاؤ تصریح کړې ده چه کوم سورتونه په احادیثو کښې منقول دی د هغې په مانځه کښې کله کله لوستل مندوب او مستحب دی.

قوله، عن جعفر عن ابیه، دا جعفر، جعفر صادق دې کوم چه د محمد باقر ځوئې دې، د ځوئې لقب صادق او پلار لقب باقر دې، د اهل بیتو نه دې، سلسله نسب ئې دغه شان دې، جعفر بن محمد بن علی بن حسین بن علی بن ابی طالب. د حضرت حسین رضی الله عنه د ځوئی نوم هم علی دې او لقب ئې زین العابدین دې.

[۱۱۲۵]([۱])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ مَعْبَدِ بْنِ خَالِدٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ عُقْبَةَ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يَقْرَأُ فِي صَلَاةِ الْجُمُعَةِ بِ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى وَهَلْ أَتَاكَ حَدِيثُ الْغَاشِيَةِ".

د سمرة بن جندب نه روایت دی بیشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم به لوستلو د جمعې په مونځ سبح اسم ربک الاعلی او هل اتاک حدیث الغاشیة.

بَابُ الرَّجُلِ يَأْتَمُّ بِالْإِمَامِ وَبَيْنَهُمَا جِدَارٌ

باب دې په بیان د سړي کښې چې اقتداء کوي د امام پسې او په مینځ د دواړو کښې دیوال وي

په مسئلة الباب او حدیث الباب باندې پوهیدلو نه وړاندې د جمهورو علماؤ او د حنفیانو فقهی اختلاف زده کړئ.

(اختلاف ائمه)

هغه دا چه شافعیه وغیره په نیز اختلاف مکان د اقتداء د صحت نه مانع نهٔ دې، مثلا امام په جومات کښې وی او مقتدی د جوماتٌ نه بهر وی یا دا چه امام د سړک یعنی د لارې دې طرف ته وی او مقتدی بل طرف ته او په مینځ کښې لاره حائل وی، یا په مینځ کښې یو نهر حائل وی او مخامخ مقتدی ته امام ښکاری، بلکه د اقتداء د صحت نه مانع د هغوی په نزد حیلولت دې، حیلولت هم هغه کوم چه د امام د حال لره موجب د اشتباه وی نهٔ نفس حیلولت، او د حنفیانو په نیز باندې په دې دواړو کښې هر یو مانع د صحت د اقتداء دې د مکان اختلاف هم او حیلولت هم([۲]) په کوم سره چه په مقتدی باندې د خپل امام حال مشتبه کیږی یعنی دا نهٔ معلومیږی چه هغهٔ دې وخت کوم رکن ادا کوی اوس د دینه پس تاسود حدیث مضمون واورئ.

[۱۱۲۶]([۳])حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ عَمْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: "صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حُجْرَتِهِ وَالنَّاسُ يَأْتَمُّونَ بِهِ مِنْ وَرَاءِ الْحُجْرَةِ".

د عائشې رضی الله عنها نه روایت دی هغې ویلې دي رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپله کوټه کې مونځ وکړو او خلقو وروسته د حجرې د حجرې نه اخوا اقتداء کړې وه

[۱]: سنن النسائي/الجمعة ٣٩(١٤٢٣)، (تحفة الأشراف: ٤٦١٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٧، ١٣، ١٤، ١٩) (صحیح)

[۲]) ففي الدر المختار ان كان الطريق نافذا فمانع و الا فلا،، والحائل يمنع الاقتداء ان لم يشتبه حال امامه بسماع او روية و لم يختلف المكان حقيقة و لا حكما)_

[۳]: صحيح البخاري/الأذان ٨٠(٧٢٩)، (تحفة الأشراف: ١٧٩٣٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٣٠) (صحيح)

عن عائشة رضى الله عنها قالت صلى رسول الله صلى الله عليه وسلم فى حجرته والناس ياتمّون به من وراء الحجرة، يعنى يو ځل حضور ﷺ په خپله حجره کښې مونځ کولو او خلقو دوئ پسې روستو د حجرې نه بهر نيت تړلې وو.

شرح حديث بحيث ينحل به المقام:

د حجرې په مصداق کښې دوه قوله دی، حجره عائشة رضي الله عنها کومه چه د حضور ﷺ او د دوئ مسکن وو يا حجرة الحصير يعنى د جومات په يو ګوټ کښې بوجئ اودرولو سره د اعتکاف وغيره په موقع باندې به حضور ﷺ دپاره يوه حجره غوندې جوړلې شوه، پس که دلته په حديث کښې د حجرې نه حجرة الحصير مراد دې نو بيا خو هيڅ اشکال نشته دې ځکه چه نۀ خو دا د اختلاف مکان صورت دې او نۀ داسې حيلولت کوم چه موجب د اشتباه وی، لهذا حديث د چا خلاف هم نۀ دې، او که د حجرې نه مراد حجرۀ عائشه مراد دې نو په دې صورت کښې ظاهره ده چه اختلاف د مکان اوموندلې شو کوم چه د حنفيانو په نيز باندې مانع عن الاقتداء دې، لهذا حديث د حنفيانو خلاف شو او د جمهورو خلاف ځکه نۀ دې چه د دوئ په نيز باندې اختلاف مکان بهر حال مانع عن الاقتداء نۀ دې البته حيلولت د دوئ په نيز باندې مانع دې او دلته اګر که حيلولت هم موندلې شوې دې خو داسې حيلولت نۀ دې کوم چه موجب د اشتباه وی ځکه چه د بخاری په روايت کښې دی چه، فراى الناس شخص النبى صلى الله عليه وسلم، نو چه کله مقتديانو ته حضور ﷺ په نظر راتلو نو اشتباه دحال کوم ځائې اوموندلې شوه، لهذا حنفيانو لره دجواب فکر کول پکار دی.

(د حديث الباب رومبې جواب)

يو جواب خو دا کيدې شی چه ظاهره دا ده چه دلته په حديث کښې حجرة الحصير مراد ده ځکه که حجرۀ عائشه مراد وی نو بيا به دا اشکال وی چه حضور ﷺ صحابه کرامو ته څنګه په نظر راتلو لکه څنګه چه د بخاری په روايت کښې دی، آيا د حجرې شريفې ديوالونه دومره مختصر او واړۀ وو چه د بهر سړی دننه سړی ته کتلې شی، يو جواب خو دا شودا جواب خو منعی دې،

(د حديث الباب دويم جواب)

دويم جواب تسليمی دی چه مونږ منو چه د حجرې نه مراد حجرۀ عائشه ده نو د اختلاف مکان جواب به دا وی چه زمونږ په نيز باندې مانع عن الاقتداء هغه اختلاف مکان دې کوم چه حقيقةً هم وی او حکماً هم وی، او دلته اختلاف مکان اګر که حقيقةً موندلې شوې دې خو حکماً نۀ، ځکه چه په جومات کښې کوم صف جوړ وو هغه د حجرې دروازې سره متصل وو، او دحجرې شريفې دروازه مشهوره ده چه د جومات طرف ته پرانستلې شوې وه، نو چه هر کله د جومات صفونه د حجرې شريفې تر دروازې پورې رارسيدلې وو نو د اتصال صفوف د وجه نه مکان حکماً متحد شو، فالحمد لله على ذلك، په هيڅ صورت کښې هم حديث زمونږ خلاف نۀ شو، ما د دې حديث په حل کولو کښې ډير غور او فکر اوکړو، والله الموفق و له الحمد والمنة.

بَابُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الْجُمُعَةِ

باب دی په بیان د مونځ کې وروسته د جمعې نه

د دې باب نه مقصود د جمعې د ورځې د سنتو بیانول دی خو مصنف رحمه الله ترجمې لره سنن بعدیه یعنی روستنو سره خاص کړو سنن قبلیه سره په ترجمه کښې هیڅ تعرض ئې او نۀ کړو، حضرت امام بخاری رحمه الله ترجمه داسې قائمه کړې ده چه، باب الصلوة بعدالجمعة و قبلها، هغوی په ترجمه کښې ذکر خو د دواړو کړې دې خو خلاف قیاس ذکر کښې ئې بعدیه مقدم او قبلیه لره مؤخر کړې دی چه د هغې به یقینا څۀ وجه وی، وجه هم هغه ده کومه چه امام بخاری د باب د لاندې ذکر کړې ده په هغې کښې دسنن قبیله خو ذکر نشته دې آو امام بخاری رحمه الله په رواتب ظهر واله روایت کښې ذکر کړې دی، په کوم کښې چه دی چه حضور صلی الله علیه وسلم به قبل الظهر رکعتین او دغه شان بعد الظهر رکعتین کول

د بخاری شراح لیکی چه امام بخاری د جمعې مونځ لره په ماسپخین باندې قیاس کوی کوم سنتونه چه د ماسپخین دپاره مشروع دی، هغې لره په طریقې د قیاس جُمعې دپاره هم ثابتول غواړی ځکه چه جمعه د ماسپخین د مونځ بدل ده، او دا هم وئیلې شوې دی چه امام بخاری رحمه الله د ابن عمر رضی الله عنه هغه روایت طرف ته اشاره کړې ده کوم چه په سنن ابوداؤد کښې مذکور دې،(د باب رومبې حدیث هم دا دې)

د دینه پس زده کول پکار دی چه د جمعې سنن بعدیه خو په اتفاق سره ثابت دی او ائمه اربعه هم د دې قائل دی، امام ترمذی امام شافعی او احمد مذهب د رکعتین بعْد الجمعة نقل کړې دې، او د طرفینو په نیز باندې روستنی سنتونه څلور رکعاته دی او دامام ابویوسف په نیز باندې شپږ رکعاته دی، او دامام مالك مشهور مذهب کوم به چه وړاندې په خپل ځائې باندې راشی دا دې چه هغۀ د رواتب مطلقا قائل نۀ دې غیر د سنت الفجر نه، غرض دا چه د جمعې سنن بعدیه په ثبوت باندې د ائمه اربعه اتفاق دې.

د جمعې په سنن قبلیه کښې د ائمه مذاهب:

البته په سنن قبلیه کښې اختلاف دې حنابله د دې قائل نۀ دی او مصنف رحمه الله هم حنبلی دې نو ځکه ئې په ترجمه کښې هم دې لره نۀ دی ذکر کړی، او حافظ ابن قیم حنبلی خو د سنن قبلیه په شدت سره انکار کړې دې په دې شان چه د حضور صلی الله علیه وسلم معمول د جمعې د مانځه دپاره خروج بعد الزوال وو یعنی د زوال نه پس به متصلا د حجرې شریفې نه جومات ته تشریف راوړلو او نیغ به منبر ته رسیدلو نو د سنن قبلیه وخت کوم ځائې وو. او د شافعیه نه په دې کښې دوه روایة دی، نفی، اثبات، امام نووی اثبات لره ترجیح ورکړې ده او هم دا د حنفیانو مذهب دې.

[۱۱۲۷]([1])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، وَسُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ نَافِعٍ، أَنَّ ابْنَ عُمَرَ رَأَى رَجُلًا يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فِي مَقَامِهِ، فَدَفَعَهُ، وَقَالَ: أَتُصَلِّي الْجُمُعَةَ أَرْبَعًا" وَكَانَ عَبْدُ اللَّهِ يُصَلِّي يَوْمَ الْجُمُعَةِ رَكْعَتَيْنِ فِي بَيْتِهِ وَيَقُولُ هَكَذَا فَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

د نافع نه روایت دی، بېشکه ابن عمر یو سړی ولیدلو چې دوه رکعاته مونځ یې کولو د جمعې په ورځ په خپل ځای کې، نو هغه یې دېکه کړو، او ویې ویل: ایا ته د جمعې څلور رکعاته مونځ کوې؟ او وو عبد الله چې مونځ یې کولو د جمعې په ورځ دوه رکعاته په خپل کور کې، او ویل به یې: دارنګه رسول الله ﷺ کړي دي.

[۱۱۲۸]([2])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، أَخْبَرَنَا أَيُّوبُ، عَنْ نَافِعٍ، قَالَ: كَانَ ابْنُ عُمَرَ "يُطِيلُ الصَّلَاةَ قَبْلَ الْجُمُعَةِ، وَيُصَلِّي بَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ فِي بَيْتِهِ" وَيُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَفْعَلُ ذَلِكَ.

د ابن عمر نه روایت دی هغه ویلي دي: وو ابن عمر چې اوږدولو به یې مونځ مخکې د جمعې نه، او د جمعې نه وروسته به یې دوه رکعاته کور کې کول، او بیان به یې کولو چې رسول الله ﷺ به داسې کول.

تشریح: **قوله**: کان ابن عمر یطیل الصلوة قبل الجمعة و یصلی بعدها رکعتین فی بیته، دا فعل اګر که د ابن عمر دې او په دې لحاظ سره دا حدیث موقوف دې، خو وړاندې هغوی فرمائی چه، ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کان یفعل ذالك، نو ځکه دا حدیث مرفوع شو.

د سنن قبلیه ثبوت:

د دې حدیث نه صلوة قبل الجمعة و بعد الجمعة د دواړو ثبوت کیږی ځکه د بخاری بعضې شارحینو لیکلی دی (کما تقدم قریبًا) چه د امام بخاری رحمه الله اشاره د ترجمة الباب په ذریعې سره هم دې حدیث د ابن عمر رضی الله عنه ته ده خو چونکه دا حدیث د امام بخاری د شرط موافق نهٔ وو نو ځکه ئې دا وانغستلو او صرف اشاره ئې دې طرف ته اوکړه، خو حافظ ته په دې حدیث سره د سنن قبلیه په ثبوت کښې اشکال دې، اول خو ځکه چه، کان یفعل ذالك، اشاره بعضو وئیلې دی چه صرف ویصلی رکعتین فی بیته، طرف ته ده مجموعې طرف ته نهٔ ده، او دویم اشکال حافظ د سنن قبلیه په حقله هم هغه کړې دې کوم چه پورته د حافظ ابن قیم نه نقل کړې شوې دې چه د هغې خلاصه دا ده چه، دیطیل الصلوة قبل الجمعة نه څهٔ مراد دې؟ که قبل الزوال مراد وی نو بیا خو د جمعې دوخت نهٔ کیدو د وجه نه دا د جمعې سنتونه څنګه شول، او که دا اووئیلې شی چه بعد الزوال مراد دی نو بیا دا څنګه صحیح کیدې شی ځکه چه حضور ﷺ خو به د زوال نه پس سمدستی جومات ته تشریف اوړلو او هم هغه وخت به ئې منبر ته تشریف اوړو او په اول وخت کښې به د جمعې آذان شروع شونو بیا د سنتو وخت کوم ځائې وو؟

---

[1]): سنن النسائي/الجمعة ٤٣ (١٤٣٠)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٩٠ (١١١٨)، (تحفة الأشراف: ٧٥٤٨)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الجمعة ٣٩ (٩٣٧)، صحيح مسلم/المسافرين ١٥ (٧٢٨)، والجمعة ١٨ (٨٨٢)، سنن الترمذي/الصلاة ٢٥٩ (الجمعة ٢٤) (٥٢٢)، موطا امام مالك/قصر الصلاة ٢٣ (٦٩)، مسند احمد (٢/٤٤٩، ٤٩٩)، سنن الدارمي/الصلاة ١٤٤ (١٤٧٧) (صحيح)

[2]): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٧٥٤٨) (صحيح)

نور دلائل:

زه کول پکار دی چه د سنن قبليه د قائلينو استدلال د ابن عمر رضي الله عنهما د حديث نه علاوه نور هم څنی احاديثو سره دی مثلا، د عبدالله بن مغفل رضي الله عنه حديث چه متفق عليه دی، بين کل آذانين صلوة، د دی حديث په عموم کښی د جمعی آذان هم راځی، او بعضی صريح روايات هم دی چنانچه د سنن ابن ماجه او په طبرانی کښی د ابن عباس رضي الله عنهما نه مروی دی چه، کان رسول الله صلى الله عليه وسلم يصلى قبل الجمعة اربعا لكن فيه مبشر بن عبيد من الوضاعين، هم دغه شان حجاج بن ارطاة او عطيه عوفی دواړه ضعيف دی. علامه زيلعی په نصب الرايه کښی نور هم ګڼړ روايتونه ذکر کړی دی په کومو کښی چه بعضی داسی هم دی د چا په سند باندی چه هغوی هيڅ کلام او نقد نۀ دی کړی، دغه شان امام ترمذی رحمه الله فرمائی چه، وروی عن عبدالله بن مسعود انه كان يصلى قبل الجمعة اربعا و بعدها اربعا، دا وړاندی تير شوی دی چه امام نووی رحمه الله هم د ثبوت قول اختيار فرمائيلی دی.

[۱۱۲۹] (١)حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي عُمَرُ بْنُ عَطَاءِ بْنِ أَبِي الْخُوَارِ، أَنَّ نَافِعَ بْنَ جُبَيْرٍ أَرْسَلَهُ إِلَى السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ ابْنِ أُخْتِ نَمِرٍ يَسْأَلُهُ عَنْ شَيْءٍ رَأَى مِنْهُ مُعَاوِيَةُ فِي الصَّلَاةِ، فَقَالَ: صَلَّيْتُ مَعَهُ الْجُمُعَةَ فِي الْمَقْصُورَةِ، فَلَمَّا سَلَّمْتُ قُمْتُ فِي مَقَامِي فَصَلَّيْتُ، فَلَمَّا دَخَلَ أَرْسَلَ إِلَيَّ، فَقَالَ: لَا تَعُدْ لِمَا صَنَعْتَ إِذَا صَلَّيْتَ الْجُمُعَةَ، فَلَا تَصِلْهَا بِصَلَاةٍ حَتَّى تَكَلَّمَ أَوْ تَخْرُجَ، فَإِنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَمَرَ بِذَلِكَ أَنْ لَا تُوصَلَ صَلَاةٌ بِصَلَاةٍ حَتَّى يَتَكَلَّمَ أَوْ يَخْرُجَ".

نافع بن جبير عمر بن عطاء ولېږلو سائب بن يزيد ته چې خورئ د نمر دی، تپوس يې کولو د هغه نه د يو شي چې معاويه د هغه نه ليدلی وو په مانځه کې، هغه ووېل: ما مونځ وکړو د هغه سره د جمعې په مقصوره کې، کله چې ما وسلام وګرځولو زه خپل ځای کې ودريدم مونځ مې وکړو، هرکله چې هغه راغی ماته څوک راولېږلو، ويې ويل: مه واپس کېږه هغه څه ته چې تا وکړل کله چې ته د جمعې مونځ وکړې وروسته ورپسې مونځ مه کوه تردې چې خبرې وکړې، او اوځې، بېشکه نبي صلی الله علیه وسلم امر کړی دی په دې، چې يو ځای نه کړی شي يو مونځ د بل مونځ سره تردې چې خبرې وکړي او يا اوځي.

قوله، اخبرنی عمر بن عطاء ان نافع بن جبير ارسله الى السائب بن يزيد يساله عن شیء رأى منه معاوية فی الصلوة،

مضمون حديث:

عمر بن عطاء وائی چه زه نافع بن جبير سائب بن يزيد ته اوليږلم، (دا سائب د کشرانو صحابه کرامو نه دی) چه زۀ لاړ شم او د هغوی نه دا سوال اوکړم چه ستا کوم هغۀ څيز دی کوم چه حضرت معاويه رضي الله عنه تاسو نه ليدلی دی (مطلب دا دی چه ستا او د معاويه په مينځ کښی څۀ واقعه پيښه شوی وه او ستاسو کوم فعل باندی هغوی انکار فرمائيلی وو) هغوی اوخودل چه ما يو ځل د حضرت معاويه رضي الله عنه سره په مقصوره کښی د جمعی مونځ ادا کړو د

(١): صحيح مسلم/الجمعة ١٨ (٨٨٣)، (تحفة الأشراف: ١١٤١٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٩٥/٤، ٩٩) (صحيح)

مانځه نه پس ما سمدستي د سنتو نيت بلا فصل هم په هغهٔ ځائې باندې اوتړلو، معاويه چه کله خپل مونځ اوکړو او کور ته دننه لاړو نو هغوی زهٔ رااوغوښتلم او اوئې فرمائيل چه د فرض مونځ نه پس هم په هغه ځائې باندې سنت کول نهٔ دی پکار. په فرض او نفل کښې وصل نهٔ دې پکار بلکه فصل پکار دې چه د هغې دوه صورتونه دی يا خو دهغهٔ ځائې نه پورته شي اوبل ځائې کښې اوکړی ياپه مينځ کښې دخبرو وغيره په ذريعې سره فصل اوشي.

(د مقصوره نه څه مراد دی؟)

په دې حديث کښې د مقصوره لفظ راغلي دې مقصوره هغهٔ وړوکې کوټې ته وائی کومه به چه په جومات کښې د محراب په ځائې باندې جوړولې شوه چه په هغې کښې امام او د دهٔ خواص مونځ اوکړې شی، امام نووی رحمه الله فرمائی چه د دينه معلومه شوه چه په جومات کښې مقصوره جوړول جائز دی که امير په دې کښې مصلحت او ضرورت ګڼړی، په پخوا زمانه کښې به د خلفاء دپاره دا جوړولې شوه، د ټولو نه وړاندې حضرت معاويه رضي الله عنه د خپل تحفظ دپاره جوړه کړې وه کله چه يو خارجی په دوئ باندې حمله کړې وه، قاضی عياض رحمه الله فرمائی چه په مقصوره کښې د جمعې مونځ هغه وخت جائز کيدې شی کله چه په دې کښې د مونځ کولو عام اجازت وی او که د يو خو کسانو دپاره مخصوص وی نو بيا به په دې کښې مونځ صحيح نهٔ وی (ځکه چه په دې صورت کښې به هغه مقصوره د جامع د حکم نه خارج شي يا داسې اووايه چه اذن عام د جمعې د صحت د شرائطو نه دې) دحضرت ابن عمر رضي الله عنه په باره کښې ئې ليکلې دی چه هغوی به په مقصوره کښې مونځ نهٔ کولو او که د وړاندې نه به په هغې کښې وو نو د مانځه دپاره به بهر راتلو.

[۱۱۳۰] (۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ أَبِي رِزْمَةَ الْمَرْوَزِيُّ، أَخْبَرَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنْ عَبْدِ الْحَمِيدِ بْنِ جَعْفَرٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "كَانَ إِذَا كَانَ بِمَكَّةَ فَصَلَّى الْجُمُعَةَ تَقَدَّمَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ تَقَدَّمَ فَصَلَّى أَرْبَعًا، وَإِذَا كَانَ بِالْمَدِينَةِ صَلَّى الْجُمُعَةَ، ثُمَّ رَجَعَ إِلَى بَيْتِهِ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَلَمْ يُصَلِّ فِي الْمَسْجِدِ، فَقِيلَ لَهُ: فَقَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُ ذَلِكَ".

د ابن عمر نه روايت دی هغه ويلي دي وو به کله چې به مکه کې وو نو د جمعې مونځ به يي کولو، مخکې به شو دوه رکعاته مونځ به يي وکړو، بيا به مخکې شو څلور رکعاته مونځ به يي وکړو، او کله چې به په مدينه کې وو مونځ د جمعې به يي کولو، بيا به راغلو کورته نو دوه رکعاته مونځ به يي وکړو، او مونځ به يي نه کولو په مسجد کې، هغه وويل: وو رسول الله ﷺ چې داسې يي کول

تشريح: قوله: عن عطاء عن ابن عمر قال كان اذا كان بمكة.. الخ، د قال ضمير د عطاء او د كان ضمير د ابن عمر طرف ته راجع دې يعنی چه کله به ابن عمر په مکه کښې وو نو د جمعې د مانځه نه پس به لږ غوندې وړاندې شو او اولاً به ئې دوه رکعاته او د دې نه پس لږ غوندې وړاندې شو او څلور رکعاته به ئې کول، او چه کله به هغوی په مدينه کښې وو نو جمعې د مانځه نه پس به د جومات په ځائې کور ته راغلو او صرف دوه رکعاته به ئې کول او فرمائيل

(۱): سنن الترمذي/الصلاة ۲۵۹ (۵۲۳)، (تحفة الأشراف: ۷۳۲۹) (صحيح)

به نې چه حضور ﷺ به هم داسې کول
شارحینو لیکلې دی چه شاید د دې فرق وجه دا وی چه د دوئ کور د حرم نه لرې وو نو ځکه په حرم کښې به ئې سنت کول او په مدینه کښې چونکه د دوئ کور په کوم کښې چه دوئ مقیم وو هغه بالکل د جوماتِ سره متصل وو نو ځکه به ئې هلته کول

[۱۱۳۱]([1]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ ح وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ الْبَزَّازُ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ زَكَرِيَّا، عَنْ سُهَيْلٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَالَ ابْنُ الصَّبَّاحِ: قَالَ: "مَنْ كَانَ مُصَلِّيًا بَعْدَ الْجُمُعَةِ فَلْيُصَلِّ أَرْبَعًا وَتَمَّ حَدِيثُهُ"، وَقَالَ ابْنُ يُونُسَ: إِذَا صَلَّيْتُمُ الْجُمُعَةَ فَصَلُّوا بَعْدَهَا أَرْبَعًا، قَالَ: فَقَالَ لِي أَبِي: يَا بُنَيَّ، فَإِنْ صَلَّيْتَ فِي الْمَسْجِدِ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ أَتَيْتَ الْمَنْزِلَ أَوِ الْبَيْتَ فَصَلِّ رَكْعَتَيْنِ.

د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی هغه ویلې دي چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي ـ ویلي دي ابن الصباح ـ هغه وویل: څوک چې د تاسو نه مونځ کونکی وي وروسته د جمعې نه نو مونځ دې وکړي څلور رکعاته او پوره شو حدیث د هغه. او ویلي دي ابن یونس: کله چې تاسو د جمعې مونځ وکړئ نو وروسته ترېنه څلور رکعاته کوئ هغه وايي ماته زما پلار وویل اې بچوړیه! کله چې ته په مسجد کې مونځ وکړې په مسجد کې دوه رکعاته بیا کور ته راشې نو دوه رکعاته وکړه.

[۱۱۳۲]([2]) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي بَعْدَ الْجُمُعَةِ رَكْعَتَيْنِ فِي بَيْتِهِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَلِكَ رَوَاهُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ.

عبدالله بن عمر رضی الله عنهما وائی چه رسول الله ﷺ به د جمعې نه پس دوه رکعته په خپل کور کښې کول. ابوداؤد وائی: او عبدالله بن دینار هم دا حدیث د ابن عمر نه دغسې روایت کړی ده

[۱۱۳۳]([3]) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ الْحَسَنِ، حَدَّثَنَا حَجَّاجُ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي عَطَاءٌ، "أَنَّهُ رَأَى ابْنَ عُمَرَ يُصَلِّي بَعْدَ الْجُمُعَةِ، فَيَنْمَازُ عَنْ مُصَلَّاهُ الَّذِي صَلَّى فِيهِ الْجُمُعَةَ قَلِيلًا غَيْرَ كَثِيرٍ، قَالَ: فَيَرْكَعُ رَكْعَتَيْنِ، قَالَ: ثُمَّ يَمْشِي أَنْفَسَ مِنْ ذَلِكَ، فَيَرْكَعُ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ، قُلْتُ لِعَطَاءٍ: كَمْ رَأَيْتَ ابْنَ عُمَرَ يَصْنَعُ ذَلِكَ؟ قَالَ: مِرَارًا". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ أَبِي سُلَيْمَانَ وَلَمْ يُتِمَّهُ.

ابن جریج نه روایت دی هغه وايي ماته خبر راکړی دی عطاء، بېشکه هغه ابن عمر لیدلی وو، چې مونځ یې کولو وروسته د جمعې نه نو جدا به شو د خپل د مونځ د ځای هغې نه چې مونځ به یې پکې کړی وو د جمعې لږ شاته ډیر نه. هغه وايي دوه رکعاته به یې وکړل هغه وايي بیا به تللو لږ شاته د دغې نه څلور رکعاته به یې کول ما وویل عطاء ته ابن تا څو ځل لیدلی وو چې دغسې یې کړي وو؟ هغه وویل څو ځل ویلي دي ابوداود او د دې روایت عبد الملک بن سلیمان کړی دی او پوره کړی یې نه دی

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۲۵۹۰، ۱۲۶۵٤)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الجمعة ۱۸ (۸۸۱)، سنن الترمذي/الجمعة ۲٤ (۵۲۳)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۹۵ (۱۱۳۰)، مسند احمد (۲/۲٤۹،٤٤۲، ٤۹۹)، سنن الدارمي/الصلاة ۲۰۷ (۱٦۱۵) (صحيح)
[2]: انظر حديث رقم: ۱۱۲۷، (تحفة الأشراف: ٦۹٤۸) (صحيح)
[3]: سنن النسائي/ الجمعة ٤۲ (۱٤۲۹)، (تحفة الأشراف: ۷۳۲۹) (صحيح)

قوله: اخبرني عطاء انه راى ابن عمر يصلي بعد الجمعة فينماز عن مصلاه الذى صلى فيه الجمعة، ينماز د انمياز نه دې مَيْز معنى ده جدا كول. دې لره ئې باب انفعال ته بوتلو، ابن عمر رضي الله عنه به د جمعې د مانځه نه پس سنت ادا كول پس لږې به شو او دهغې ځائې نه به جدا شو كوم ځائې به ئې چه د جمعې مونځ كړې وو، قليلا، لږ غوندې او دوه ركعاته به ئې كول، ثم يمشى انفس من ذالك، او بيا به لږ غوندې نور لږې شواو ځلور ركعاته به ئې اوكړل، د دېنه معلومه شوه چه ابن عمر رضي الله عنه به د جمعې نه پس شپږ ركعاته كول، اولاً به دوه او بيا به ئې ځلور، په حنفيانو كښې امام ابويوسف هم د دې قائل دې خو هغه فرمائى چه ړومبې ځلور ركعاته اوكړې شى بيا دوه، غالبًا د دې وجه دا ده چه په يو حديث كښې راځى چه، لا يصلى بعد صلوة مثلها،

بَاب صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ

باب دى په بيان د مونځ دا خترونو كې

د صلوات مخصوصه بيان شروع دې د دې سلسلې يو مونځ يعنى د جمعې د مونځ بيان تير شو، د عيدين نه مراد عيد الفطر او عيد الاضحٰى دې.

وجه تسميه:

عيد د عود نه ماخوذ دې په اصل كښې عِوْدٌ وو په قاعدې د اعلال سره واؤ ساكن ماقبل مسكور موندلو د وجه نه عيد شو، بعضې خو وجه تسميه دا ليكى چه دا د عَود نه ماخوذ دې ځكه چه دا ورځ هر كال خوشحالى راوړى او واپس راځى نو ځكه دې ته عيد وئيلې شى او مسرت او خوشحالى د كومې خبرې ده؟ هغه د روژو پوره كيدل او مغفرت د ګناهونو او د جهنم نه د خلاصى ده ځكه چه عيد الفطر د رمضان المبارك نه پس ړومبۍ ورځ ده او د رمضان په مياشت كښې د ګناهونو معافى او د جهنم نه خلاصې په ګڼو روايتونو سره ثابت دې، او د عيد الاضحٰى ورځ د عرفې د ورځې نه پس راځى او يوم عرفه افضل الايام ده په دې كښې لكهونو انسانان د حج غوندې عظيم عبادت كوى، په دې كښې هم په كثرت سره ګناهونه معاف كيږى او جهنم نه خلاصې وى نو ځكه وائى چه د اختر په ورځ خوشحالى د هغۀ سړې دپاره ده څوك چه د رمضان المبارك قدردانى اوكړى او د خپل ګناهونو د معافۍ پروانه حاصله كړې وى، لا لمن لبس الجديد و اكل الثريد، دغه شان دا وئيلې شوې دى چه د عيد تسميه د عائده نه ماخوذ ده په معنى د فائده او انعام، په دې ورځ چونكه دعوائد(انعامات الهيه) كثرت او ډيروالې وى په دې بناء باندې دې ته عيد وئيلې شى.

ليكلې شوى دى چه د وړوكى اختر مونځ په ۲ هجرى كښې مشروع شو اوهم په دغه كال د شعبان په مياشت كښې د روژې فرضيت دې.

د اختر د مانځه حكم:

صلوة العيدين عند الحنفيه واجب دې، لانه عليه السلام واظب عليهما بغير ترك، و لقوله تعالٰى

فصل لربك وانحر و قوله تعالى ولتكبروا الله على ما هداكم، وئيلې شوې دی[۱] چه آيت اولی په عيدالاضحی باندې محمول دې د دې مونځ او قربانی. او دآيت ثانيه اشاره د عيد الفطر طرف ته ده، او د جمهورو په نيز باندې سنت مؤکد دې، ابوسعيد اصطخری او د امام احمد په مشهور مذهب کښې فرض کفايه دې، په جوهره نيره کښې ليکلې دی چه د حنفيانو په دې کښې دوه قوله دی، اول انها واجبة و هو المشهور و قيل سنة مؤكدة قال في المبسوط و هو الاظهر.

[۱۱۳۴](۲)حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَدِمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ وَلَهُمْ يَوْمَانِ يَلْعَبُونَ فِيهِمَا، فَقَالَ: "مَا هَذَانِ الْيَوْمَانِ؟" قَالُوا: كُنَّا نَلْعَبُ فِيهِمَا فِي الْجَاهِلِيَّةِ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ اللهَ قَدْ أَبْدَلَكُمْ بِهِمَا خَيْرًا مِنْهُمَا: يَوْمَ الْأَضْحَى، وَيَوْمَ الْفِطْرِ".

انس رضی الله عنه نه روايت دی هغه وئيلي دي: راغی رسول الله ﷺ مدينې ته او د هغوی دوه ورځې وې لوبې به يې کولې په هغو دواړو کې، دا دواړه د څه ورځې وې؟ هغوی ووېل: مونږ به لوبې کولې په هغه دواړو کې په جاهليت کې، وېلې دي رسول الله ﷺ: بېشکه الله پاک بدل کې درکړې دی تاسو ته ډېر غوره د هغې دواړو نه، د غټ اختر ورځ ده، او د ورکوټي اختر ورځ ده.

قوله: قدم رسول الله صلى الله عليه وسلم المدينة و لهم يومان يلعبون فيها فقال ما هذان اليومان.

شرح حديث:

کله چه حضور ﷺ هجرت اوکړو او مدينې ته ئې تشريف راوړه نو چه کوم مسلمانان هلته اوسيدل هغوی لره حضور ﷺ اوليدل چه د کال په دوو ورځو کښې به هغوی لوبې کولې او خوشحالی به ئې کوله د حضور ﷺ په سوال باندې صحابه عرض اوکړو چه په دې ورځو کښې خوشحالی دلته د وړاندې نه د جاهليت د زمانې نه راروانه ده، د دې دوو ورځو نه مراد د نورز او د مهرجان ورځ ده، نوروز د جنورئ اول تاريخ په کوم کښې چه د نمر تحويل په برج حمل کښې وی. او په مهر جان کښې د نمر تحويل برج ميزان کښې کيږی، ليکلې دی چه دا دواړه ورځې د حرارت او برودت يعنی ګرموالی او يخوالی په اعتبار سره ډېر معتدل وی او دا چه ورځ او شپه په دې کښې برابر وی.

وئيلې شوې دی چه په تيره زمانه کښې حکماء واقفين د علم هيئت دې ورځو لره اختيار کړې وې نورو خلقو به د دوئ په دې کښې اتباع کوله تر دې چه انبياء عليهم السلام تشريف راوړلو نو هغوی د دې ابطال او ترديد اوفرمائيلو چنانچه وړاندې په حديث کښې حضور

---

[۱]) په دې باندې دې دا اشکال اونه کړې شی چه د صلوتين العيدين ثبوت په نص قطعی سره دې نو د عيدين مونځ فرض پکار وو، جواب دا دې چه دا نص د ثبوت په اعتبار سره خو اګر که قطعی دې خو د دلالت په اعتبار سره قطعی نه دې يعنی په دې دواړو آيتونو کښې چه کوم مضمون ثابتولې شی د دې آيتونو دلالت په هغې باندې قطعی نه دې، د دويمې معنی احتمال هم شته، قطعی الثبوت دپاره دا ضروری نه ده چه هغه دې قطعی الدلالت هم وی، او فرضيت هغه وخت ثابتيږی کله چه هغه نص قطعی الثبوت والدلالت دواړه وی.) ۱۲ـ

[۲]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦١٩)، وقد أخرجه: سنن النسائي/العيدين (١٥٥٧)، مسند احمد (٣/١٠٣، ١٧٨، ٢٣٥، ٢٥٠) (صحيح)

ﷺ دا هم فرمائي چه، ان الله قد ابدلكم بهما خيرا منهما، چه الله تعالى اې مسلمانانو تاسو لره د تشكر داظهار او خوشحالى كولو دپاره د دې دواړو په بدله كښې دوه نورې ورځې دركړې دى كومې چه ددېنه غوره دى، يوم الاضحىٰ او يوم الفطر،

دا دواړه ورځې د دېنه ولې غوره دى د دې وجه خو ښكاره ده چه د دې دواړو انتخاب دحكماء او فلاسفه د طرف نه وو او د دې دواړو ورځو انتخاب دالله تعالى او د الله درسول او دانبياء د طرف نه دې.

د كفارو په تهوارونو كښې شركت:

علماؤ د دې حديث د لاندې ليكلي دى چه د كفارو په تهوار او دخوشحالئ په ورځ كښې د مسلمانانو خوشحالى كول سخته ګناه ده، ابوحفص كبير الحنفى فرمائي چه كوم سړې په نيروز كښې يو مشرك ته كومه معمولي غوندې هديه مثلا بيضه،(اګۍ) د دې ورځې د تعظيم په اعتقاد سره اوليږى نو هغه به كافر شي او د هغه ټول اعمال به حبط يعنى ضائع شي، او كه د ورځې دتعظيم په طور باندې نۀ وى بلكه صرف د محبت د اظهار او تعلق دپاره داسې اوكړى نو كافر كيږى نۀ البته د تشبيه د و جه نه مكروه ضرور به وى د دې هم خان ساتل ضرورى دى.

بَابُ وَقْتِ الْخُرُوجِ إِلَى الْعِيدِ

باب دى په بيان د وخت د وتلو كې اختر ما نځه ته

د اختر د مونځ وخت په اتفاق سره د ارتفاع شمس يعنى د نمر ختلو نه تر زواله پورې دې، كه د اختر مونځ په ړومبئ ورځ باندې په دې وخت كښې اونۀ كړې شي نو روستو د دې قضاء شته او كه نۀ؟ دا مسئله مختلف فيه ده د دې مستقل باب وړاندې راروان دې.

[۱۱۳۵]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا أَبُو الْمُغِيرَةِ، حَدَّثَنَا صَفْوَانُ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ خُمَيْرٍ الرَّحَبِيُّ، قَالَ: "خَرَجَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بُسْرٍ صَاحِبُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ النَّاسِ فِي يَوْمِ عِيدِ فِطْرٍ أَوْ أَضْحَى، فَأَنْكَرَ إِبْطَاءَ الْإِمَامِ، فَقَالَ: إِنَّا كُنَّا قَدْ فَرَغْنَا سَاعَتَنَا هَذِهِ، وَذَلِكَ حِينَ التَّسْبِيحِ".

يزيد بن خمير الرحبي وايي: چې عبد الله بن بسر چې د رسول الله ﷺ صحابي دى راووتلو د خلقو سره د اختر وركوتي اختر په ورځ او يا د غټ اختر په ورځ، نو هغه بد وګڼلو وروستوالى د امام، هغه وويل مونږ به وو چې په دې وخت كې به وزګار شوي وو. او دغه د اشارق وقت وو.

قوله: فقال انا كنا قد فرغنا ساعتنا هذه، د حديث مضمون دا دې چه عبدالله بن بُسرچه يو صحابى دې هغوى د حضور ﷺ نه پس په خپله زمانه كښې خلقو سره د اختر مونځ دپاره لاړلو خو امام صاحب دغه وخت پورې عيدګاه ته نۀ وو رارسيدلى نو هغوى دا تاخير يعنى روستوالې محسوس كړو او په دې باندې ئې انكار اوفرمائيلو او اُوئى فرمائيل چه د حضور ﷺ په زمانه كښې خو به مونږ تر دې وخته پورې د اختر مونځ كړې وو او فارغ شوې به وو.

(): سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۷۰ (۱۳۱۷)، (تحفة الأشراف: ۵۲۰٦) (صحيح)

و ذالك حين التسبيح، دا بظاهر د عبدالله بن بُسر كلام دي، مطلب دا دي چه د اختر د مونځ اول وخت او د دي د وخت ابتداء د هغهٔ وخت نه كيږي په كوم وخت كښې چه تسبيح يعنى نفل مونځ كول جائز شى، يعنى د نمر ختلو نه روستو چه نفل مونځ كول جائز كيږي هم هغه د اختر د مونځ وخت دي(لهذا داختر مونځ په اول وخت كښې كول پكار دى) (كذا فى المنهل) او حضرت په بذل كښې دا ليكلي دى چه ذالك حين التسبيح د يزيد بن خمير كلام دي او لفظ د ذالك اشاره هغه وخت طرف ته ده د كوم په رسيدو كښې چه امام تاخير كړي وو، او مراد د يزيد بن خمير دا دي چه تر كوم وخته پوري امام نهٔ وو راغلي دا هغه وخت وو په كوم كښې چه نفل مونځ كول جائز كيږي(يعنى اول وخت د اختر)

فائده: دا خو مونږ وړاندې بيان كړي دى چه د اختر د مونځ وخت د ارتفاع شمس يعنى نمر ختلو نه تر زواله پورې دې، د دېنه زيات دا زده كړئ چه په بعضې بعضې رواياتو كښې دا راغلي چه حضور ﷺ به د وړوكي اختر مونځ هغه وخت ادا كولو كله به چه نمر د دوو نيزو په پورته والى باندې وو او د لوئي اختر مونځ به ئې هغه وخت كولو كله به چه نمر يوه نيزه وو. كان النبى صلى الله عليه وسلم يصلى بنا يوم الفطر والشمس على قيد رُمحين والاضحى على قيد رمح، د دېنه معلومه شوه چه د لوئې اختر په مانځه كښې تعجيل او وړوكي اختر كښې نسبةً تاخير مسنون دې([1])

بَاب خُرُوجِ النِّسَاءِ فِي الْعِيدِ

باب دى په بيان د وتلو د ښځوكې اختر ته

د ښځو وتل په عامو مونځونو كښې او په دې كښې چه څهٔ اختلاف دې هغه په خپل ځائې كښې تير شوي دي په دي باب كښې خاص د اختر د مونځ دپاره د ښځو د وتلو بيان كول مقصود دى چه آيا ښځې د اختر د مانځه دپاره عيدګاه ته تلې شى او كه نهٔ؟

[۱۱۳۶]([2])حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ أَيُّوبَ، وَيُونُسَ، وَحَبِيبٍ، وَيَحْيَى بْنِ عَتِيقٍ، وَهِشَامٍ فِي آخَرِينَ، عَنْ مُحَمَّدٍ، أَنَّ أُمَّ عَطِيَّةَ، قَالَتْ: "أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نُخْرِجَ ذَوَاتِ الْخُدُورِ يَوْمَ الْعِيدِ" قِيلَ: فَالْحُيَّضُ؟ قَالَ: "لِيَشْهَدْنَ الْخَيْرَ وَدَعْوَةَ الْمُسْلِمِينَ" قَالَ: فَقَالَتِ امْرَأَةٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنْ لَمْ يَكُنْ لِإِحْدَاهُنَّ ثَوْبٌ كَيْفَ تَصْنَعُ؟ قَالَ: "تُلْبِسُهَا صَاحِبَتُهَا طَائِفَةً مِنْ ثَوْبِهَا".

د محمد نه روايت دى، بېشكه ام عطيه ويلي دي، امر كړى دى مونږ ته رسول الله ﷺ چې

[1] په دې كښې حكمت او مصلحت دا ليكلي دي چه په عيدالاضحى كښې د مانځه نه د فراغيدو نه پس قربانۍ او د دې متعلقه امور كول وى لهذا په مانځه كښې دې جلتى اوكړې شى په خلاف د عيدالفطر نه چه هلته د مانځه نه پس اختر سره متعلق بل څه خاص كار نشته دې، يوه خبره بله هم ده چه په لوئي اختر كښې د مانځه نه وړاندې امساك يعنى خوراك څښكاك پريښودل مستحب دى او مستحب دا دى چه دې وړخې خوراك څښكاك ابتداء ضيافت د الله يعنى د قربانۍ په غوښې سره وى. ۱۲ منه

[2]: صحيح البخاري/الحيض ۲۳ (۳۲۴)، والصلاة ۲ (۳۵۱)، والعيدين ۱۵ (۹۷۴)، ۲۰ (۹۸۰)، ۲۱ (۹۸۱)، والحج ۸۱ (۱۶۵۲)، صحيح مسلم/العيدين ۱ (۸۹۰)، والجهاد ۴۸ (۱۸۱۲)، سنن الترمذي/الصلاة ۲۷۱ (۵۳۹)، سنن النسائي/الحيض والاستحاضه ۲۲ (۳۹۰)، والعيدين ۲ (۱۵۵۹)، ۳ (۱۵۶۰)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۶۵ (۱۳۰۸)، (تحفة الأشراف: (۱۸۰۹۵، ۱۸۱۰۱، ۱۸۱۱۰، ۱۸۱۱۲، ۱۸۱۱۴)، وقد أخرجه: مسند احمد (۵/۸۴، ۸۵)، سنن الدارمي/الصلاة ۲۲۳ (۱۶۵۰) (صحيح)

اوکاږو مونږ پردو والا (زنانه) د اختر په ورځ، وویل شول: د حیض والا هم؟ هغه وفرمایل حاضرې دې شي خیر او دعوت د مسلمانانو ته. هغه وایي: چې وویله یوې ښځې ای د الله رسوله! که چېرې په مونږ د یوې کسې جامه نه وي نو څه به کوي؟ هغه وفرمایل: ورودې غوندې ملګرې د هغې هغې ته یوه ټکړه د خپلې جامې نه.

قوله: امرنا رسول الله صلى الله عليه وسلم ان نخرج ذوا الخدور يوم العيد قيل فالحيّضُ،

مضمون حديث:

ام عطیه ﷞ فرمائی چه حضور ﷺ مونږ ته حکم اوفرمائیلو چه د اختر په ورځ باندې مونږ په ګوټ کښې ناستې جینکۍ هم د اختر د مانځه دپاره رااوځو، خدور د خدر جمع ده خدر پردې ته وائی او د دې اطلاق د کور په هغه ګوټ باندې هم کیږی په کوم باندې چه پرده زورنده وی په کوم کښې چه عام طور باندې باکره جینکۍ کینی پاسی. نو چه هر کله په حدیث کښې د ذوات الخدور وتلو حکم دې نو د دی نه د ډیر عمر والو ښځو حکم خو په طریقه اولی معلوم شو، وړاندې په حدیث کښې دی چه حضور ﷺ نه تپوس اوکړې شو چه حائضه ښځې په دې ورځ باندې څۀ اوکړی نو حضور ﷺ اوفرمائیل چه دوئ لره هم د خیر او برکت په مجامعو کښې حاضریدل پکار دی د مسلمانانو په دعاء کښې شریک کیدل پکار دی، دغه شان حضور ﷺ د یوې ښځې په سوال باندې اوفرمائیل چه کومې ښځې سره برقع یا څادر وغیره نۀ وی نو د هغې ملګرې لره پکار دی چه هغې ته د پردې دپاره د خپل څادر یوه حصه واغوندوی.

مسئلة الباب کښې د ائمه مذاهب:

د دې حدیث نه خو معلومیږی چه د ټولو ښځو عیدګاه ته وتل پکار دی اوس دا کتل دی چه په دې کښې فقهاء څۀ وائی په ائمه کښې دامام احمد په دې حدیث باندې عمل دې د دوئ په نیز باندې مطلقا ځوانه و غیر ځوانه ټولو دپاره دا جائز دی خو یو څو شرطونو سره، عدم التطیب، عدم التزین بالثیاب الفاخرۀ او د بعضې علماؤ په نیز باندې د ښځو د اختر د مانځه دپاره تلل مطلقا مکروه دی لکه سفیان ثوری، ابراهیم نخعی او ابن المبارك وغیره، په دې کښې دریم مذهب د ائمه ثلاثه حنفیه شافعیه مالکیه دې هغوی فرمائی چه، يجوز للعجائز دون الشواب، خو هغه شرطونو سره کوم چه پورته مذکور دی، د دینه معلومه شوه چه د جمهورو علماؤ او د ائمه ثلاثه په نیز په دې مسئله کښې د اختر مونځ او په عامو مونځو کښې کوم فرق نشته دې د ټولو حکم یو دې، البته حنابله د اختر د مانځه او په نورو مونځونو کښې د فرق قائل دی او د ظاهر د احادیثو نه د حنابله تائید کیږی ځکه چه په نورو مونځونو کښې د خروج ترغیب په یو حدیث کښې نشته دې صرف اجازت راغلې دې په خلاف د صلوة عید نه چه په دې کښې حضور ﷺ، امر بالخروج، فرمائی، والله اعلم بالصواب.

[۱۱۳۷]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ مُحَمَّدٍ، عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ، بِهَذَا الْخَبَرِ، قَالَ: "وَيَعْتَزِلُ الْحُيَّضُ مُصَلَّى الْمُسْلِمِينَ" وَلَمْ يَذْكُرْ: الثَّوْبَ، قَالَ: وَحَدَّثَ عَنْ حَفْصَةَ، عَنْ امْرَأَةٍ تُحَدِّثُهُ، عَنْ امْرَأَةٍ أُخْرَى، قَالَتْ: قِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَذَكَرَ مَعْنَى حَدِيثِ مُوسَى فِي الثَّوْبِ.

د ام عطیه نه روایت دی د دې خبر، هغه وویل او لرې کېږي به حائضې د مصلی د مسلمانانو نه، او ذکر د ثوب یې ونه کړو، هغه وویل او حدیث یې بیان کړی دی د حفصې نه، هغې د یوې ښځې نه چې حدیث یې بیانولو د یوې بلې ښځې نه، هغې ویلي دي: وویل شو: ای د الله رسوله! ذکر یې کړه معنی د حدیث د موسی په ثوب کې

تشریح: قوله: و یعتزل الحُیَّض مصلی المسلمین، یعنی حائضې ښځې چه کله عیدګاه ته د مانځه دپاره لاړې شي نو د عیدګاه نه دې جدا یو طرف ته کیني، دا د اعتزال حکم د دې دپاره نه دې چه د حائضو ښځو عیدګاه ته داخلیدل ممنوع دي ځکه چه عیدګاه د جومات په حکم کښې نه ده بلکه د دې دپاره دې چه د صفونو قطع رانشی که ټولو ښځو سره ناستې وی دغه شان د هغه ځائې د ککړ یعنی ګنده کیدو احتمال هم شته

[۱۱۳۸]()حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا عَاصِمٌ الْأَحْوَلُ، عَنْ حَفْصَةَ بِنْتِ سِيرِينَ، عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ، قَالَتْ: كُنَّا نُؤْمَرُ بِهَذَا الْخَبَرِ، قَالَتْ: وَالْحُيَّضُ يَكُنَّ خَلْفَ النَّاسِ فَيُكَبِّرْنَ مَعَ النَّاسِ.

د ام عطیه نه روایت دی هغې ویلي دي: وو مونږ چې امر به راته کیدی شو د دې خبر، هغې ویلي دي: او حائضې به وروسته د خلقو نه وې، تکبیر وایې د خلقو سره

۳. حدثنا النفیلی.. الخ، قوله، فیکبّرن مع الناس، یعنی خارج الصلوة، ځکه چه هغوی په مانځه کښې نه دی داخل البته په تکبیر وئیلو کښې دې نورو سره شریك وی

[۱۱۳۹]()حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ يَعْنِي الطَّيَالِسِيَّ، وَمُسْلِمٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ عُثْمَانَ، حَدَّثَنِي إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَطِيَّةَ، عَنْ جَدَّتِهِ أُمِّ عَطِيَّةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ جَمَعَ نِسَاءَ الْأَنْصَارِ فِي بَيْتٍ، فَأَرْسَلَ إِلَيْنَا عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ، فَقَامَ عَلَى الْبَابِ، فَسَلَّمَ عَلَيْنَا، فَرَدَدْنَا عَلَيْهِ السَّلَامَ، ثُمَّ قَالَ: أَنَا رَسُولُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْكُنَّ "وَأَمَرَنَا بِالْعِيدَيْنِ أَنْ نُخْرِجَ فِيهِمَا الْحُيَّضَ وَالْعُتَّقَ، وَلَا جُمُعَةَ عَلَيْنَا، وَنَهَانَا عَنِ اتِّبَاعِ الْجَنَائِزِ".

د ام عطیه نه روایت دی، بېشکه رسول الله ﷺ چې هرکله مدینې ته راغی، راجمع یې کړې ښځې د انصارو په یو کور کې، مونږ ته یې عمر بن الخطاب راولېږلو، په دروازه کې ودریدو مونږ ته یې سلام وکړو، مونږ ورته د سلام جواب ورکړو، بیایې وویل: زه د رسول الله ﷺ استازی یم تاسو ته، او مونږ ته یې امر کړی په اخترونو کې چې اوباسو په دواړو کې حائضې ښځې او هغه جینکۍ چې بلوغ ته نژدې وي، او نشته جمعه په مونږ باندې او مونږ یې منع کړي یو د جنازو نه

قوله: عن ام عطیة ان رسول الله صلی الله علیه وسلم لما قدم المدینة جمع النساء الانصار فی بیت،

(۱): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۸۰۹۵) (صحیح)
(۲): انظر حدیث رقم: ۱۱۳۶، (تحفة الأشراف: ۱۸۰۹۵، ۱۸۱۱٤، ۱۸۱۲۸) (صحیح)
(۳): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۰۶۸۰)، وقد أخرجه: (۵/۸۵، ۶/۴۰۸) (ضعیف)

شرح حدیث

دا واقعه د فتح مکې نه روستو ده یعنی حضور ﷺ د فتح مکې نه پس کله چه مدینې منورې ته واپس تشریف راوړلو نو هغه وخت حضور ﷺ د انصارو ښځو لره په یو کور کښې راجمع کړې او بیعت ئې فرمائیلې وو، په بذل کښې لیکلي دی چه د فتح مکې په ورځ په مکه کښې په حضور ﷺ باندې، یا ایها النبی اذا جاءك المؤمنات یبایعنك، آیت شریف په کوم کښې چه د بیعت مضمون مذکور دې نازل شوې وو، په دې موقع باندې حضور ﷺ د سړو لره په صفا باندې بیعت فرمائیلې وو او ښځو لره د صفا د لاندې، د دینه پس بیا مدینې منورې ته په واپسئ باندې حضور ﷺ د انصارو ښځو لره بیعت اوفرمائیلو کوم چه په بیعت النساء سره مشهور دې، په بیعت کښې چه په کومو ځیزونو باندې عهد اغستلې شوې وو هغه په دې آیت کښې مذکور دی او دا آیت په سورة ممتحنه کښې دې.

وړاندې په حدیث کښې د بیعت صورت مذکور دې هغه دا چه حضور ﷺ حضرت عمر رضی الله عنه سره د خپل طرف نه بیعت کولو دپاره د انصارو ښځو ته اولیږلو هغوی لاړل او په دروازه کښې اودریدل او هم د بهر نه ئې سلام اوکړو ښځو د هغې جواب ورکړو بیا ئې اوفرمائیل چه زهٔ د حضور ﷺ د طرف نه رالیږلې شوې یم د بیعت کولو دپاره او د آیت په مضمون باندې ئې د حضور ﷺ نه بیعت واغستلو.

قوله، ان نخرج فیهما الحیض والعتق، عتّق د عاتق جمع ده د دې جمع عواتق هم راځی دا باکره یعنی پیغلې ښځې ته وائی، یا په معنی د شابه یعنی بالغه یا هغه کومه چه قریب البلوغ وی د دې نه وړاندې ذوات الخدور لفظ په حدیث کښې راغلې دې د هغې طرف ته اشاره ده.

بَابُ الْخُطْبَةِ يَوْمَ الْعِيدِ

باب دی په بیان د خطبه کې د اختر په ورځ

د اخترونو خطبه سنت ده په خلاف د جمعې د خطبې چه هغه واجب ده او شرط هم ده ځکه په مانځه باندې مقدم ده او د اخترونو خطبه په اتفاق سره مؤخر ده.

[۱۱۴۰](۱)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ رَجَاءٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ. ح وَعَنْ قَيْسِ بْنِ مُسْلِمٍ، عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: أَخْرَجَ مَرْوَانُ الْمِنْبَرَ فِي يَوْمِ عِيدٍ، فَبَدَأَ بِالْخُطْبَةِ قَبْلَ الصَّلَاةِ، فَقَامَ رَجُلٌ، فَقَالَ: يَا مَرْوَانُ خَالَفْتَ السُّنَّةَ أَخْرَجْتَ الْمِنْبَرَ فِي يَوْمِ عِيدٍ وَلَمْ يَكُنْ يُخْرَجُ فِيهِ، وَبَدَأْتَ بِالْخُطْبَةِ قَبْلَ الصَّلَاةِ، فَقَالَ أَبُو سَعِيدٍ الْخُدْرِيُّ: مَنْ هَذَا؟ قَالُوا: فُلَانُ بْنُ فُلَانٍ، فَقَالَ: أَمَّا هَذَا فَقَدْ قَضَى، مَا عَلَيْهِ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَنْ رَأَى مُنْكَرًا فَاسْتَطَاعَ أَنْ يُغَيِّرَهُ بِيَدِهِ فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ، فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ وَذَلِكَ أَضْعَفُ الْإِيمَانِ".

د ابو سعید الخدري نه روایت دی هغه وېلي دي مروان د اختر په ورځ منبر راوېستلو، خطبه یې شروع کړه د مانځه نه مخکې، یو سړی پاځیدلو ویې ویل: ای مروانه! تا مخالفت

(۱): صحیح مسلم/الإیمان ۲۰ (۴۹)، سنن الترمذي/الفتن ۱۱ (۲۱۷۲)، سنن النسائي/الإیمان ۱۷ (۵۰۱۱، ۵۰۱۲)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۵۵ (۱۲۷۵)، (تحفة الأشراف: ۴۰۸۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/۱۰، ۲۰، ۴۹، ۵۲، ۵۳، ۵۴، ۹۲)، وأعاده المصنف في الملاحم (۴۳۴۰) (صحیح)

وکړو د سنت نه، منبر دي راوښستلو د اختر په ورځ، او دا به نه راوښستلی کیدو، او خطبه دې د مانځه نه مخکې شروع کړه، ابو سعید الخدري ووېل: دا څوک دی؟ هغوی ووېل: فلانی د فلاني ځوی، هغه ووېل: هر چي دا دی ده پوره کړه هغه څه چي په ده باندې وو، ما اوریدلي دي د رسول الله ﷺ نه ویل به یي: چا چي د تاسو نه منکر ولیدلو او طاقت یي وو چي بندیي کړي په خپل لاس سره نو بند دي کړي په خپل لاس، که طاقت یي نه وي نو په ژبه سره، او که طاقت یي نه وي نو په زړه سره، او دا کمزوری ایمان دی.

تشریح: قوله: عن ابی سعید الخدری قال اخرج مروان المنبر فی یوم عید فبدأ بالخطبة قبل الصلوة،

مضمون حدیث:

ابوسعید الخدری رضی الله عنه فرمائی چه یو ځل مونږ کله چه مروان د مدینې امیر وو د اختر د مونځ دپاره عیدګاه ته اورسیدلو نو هلته په رسیدلو سره مونږ اوکتل چه مروان د خطبې ورکولو دپاره منبر بهر ایخودې وو بیا کله چه د مانځه وخت راغلو نو مروان ابتداء د خطبې نه اوکړه او مونځ ئې مؤخر کړو.

فقام رجل فقال یا مروان خالفت السنة، یو سړې اودریدلو او په مروان باندې ئې اعتراض اوکړو چه تا دوه کارونه خلاف سنت اوکړل، یو اخراج المنبر یعنی د منبر رااوخکل حال دا چه حضور ﷺ به په منبر باندې خطبه نهٔ ورکوله او دویم څیز ابتداء بالخطبة،یعنی په خطبې سره شروع کول په دې باندې ابوسعید الخدری رضی الله عنه اوفرمائیل چه دې نهی عن المنکر کونکی حق ادا کړو.

د مروان په باره کښې لیکلي دی چه هغهٔ به په خپله خطبه کښې په اهل بیت د علی او اصحاب د علی باندې تعریض کولو او د هغوی به ئې مذمت کولو، نو څکه به ډیر خلق د هغهٔ خطبه اوریدو نه بغیر پاسیدل او تلل به کله چه دهٔ دا اوکتل نو بیا دویم حرکت ئې دا اوکړو چه خطبه ئې په مانځه باندې مقدم کړه څکه چه بغیر د مانځه نه خلق واپس کیدې نهٔ شول نو څکه مجبورا به ئې خطبه اوریدله،د فقام رجل په باره کښې حافظ لیکلې دی چه شاید دا سړې ابومسعود بدری دې لکه څنګه چه د مصنف عبدالرزاق د روایت نه معلومیږی، او د بعضې روایاتو نه معلومیږی چه انکار کونکې په خپله ابوسعید الخدری رضی الله عنه وو پس کیدې شی دا دوه جدا جدا واقعې وی.

اول من قدم الخطبة:

د خطبې د تقدیم په حقله امام ترمذی رحمه الله په صفحه، ۷۰، کښې فرمائی، یقال اول من خطب قبل العید مروان، په دې باندې په کوکب کښې لیکلې دی یعنی په نیت فاسده سره ګینی د مروان نه وړاندې د خطبې تقدیم حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه کړې دې، خو د هغوی د تقدیم منشاء نور څهٔ وه او بله دا چه د دهٔ په زمانه کښې مسلمانان ډیر زیات شوې وو د عیدګاه آخره پورې رسیدلي وو نو هغوی په دې خیال سره چه د خلقو نه د اختر مونځ فوت نهٔ شی مونځ ئې د خطبې نه روستو کړو او په دې باندې د دغه زمانې دصحابه یا تابعینو نه چا هم انکار نهٔ وو فرمائیلي لهذا د هغوی دا کار فعل حسن شو.

حضرت شیخ رحمه الله د کوکب په حاشیه کښې لیکلي دي چه علامه سیوطی رحمه الله په تاریخ الخلفاء کښې تقدیم الخطبه علی الصلوة لره د اولیات عثمان نه شمار کړې دې، او دائې هم وئیلې دي چه، اول من قدم الخطبة علی الصلوة معاوية، لکه ځنګه چه د مصنف عبدالرزاق د یو روایت نه معلومیږی، خو بعضې علماء په کومو کښې چه ملا علی قاری رحمه الله هم دې (کما فی البذل) لیکلي دي چه حضرت عثمان یا معاویه رضی الله عنه ته د تقدیم دخطبې نسبت کول غلط دي ځکه چه په حدیث الباب کښې تصریح ده چه د مروان نه وړاندې داسې هیڅ نۀ وو کړی چنانچه د بخاری،ص، ۱۳۱، په روایت کښې دي چه، فقال ابوسعید فلم یزل الناس علی ذالك حتی خرجت مع مروان،الخ، دغه شان د بخاری شریف په دویم روایت کښې دی چه ابن عباس رضی الله عنه فرمائی، شهدت العید مع رسول الله صلی الله علیه وسلم و ابی بکر و عمر و عثمان فکلهم کانوا یصلون قبل الخطبة، دغه شان علامه عینی رحمه الله هم فرمائی چه حضرت عثمان رضی الله عنه ته د دې نسبت کول صحیح نۀ دی.

تنبیه: په حدیث الباب کښې مذکور دی چه، اخرج مروان المنبر، په دې کښې دا اشکال دې چه دا د بخاری او مسلم د روایت خلاف دې په بخاری شریف صفحه، ۱۳۱، کښې دی چه ابوسعید الخدری رضی الله عنه فرمائی چه زۀ د مدینې امیر مروان سره عیدګاه ته اورسیدم هلته مونږ اولیدل چه یو منبر جوړې شوې دې کوم چه کثیر بن الصلت جوړ کړې وو نو مروان په هغې باندې د خطبې ورکولو اراده اوکړه، دې روایت نه معلومیږی چه هلته منبر جوړ شوې وو نو بیا د اخراج منبر کوم روایت چه په ابوداؤد کښې مذکور دې د دې څۀ مطلب دې؟ د دې جواب دا ورکړې شوې دې چه د ابوداؤد دا روایت د منبر د بناء نه وړاندې دې، کیدې شی مروان په شروع کښې په مصلی یعنی عیدګاه کښې ایخودې وی بیا د خلقو د اعتراض د وجه نه ئې په هغۀ ځائې کښې مستقل جوړ کړې وی.

وجوب تبلیغ:

په دې حدیث کښې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر حکم مذکور دې، په منهل صفحه، ۳۱۶ج،۶، کښې لیکلي دی چه دا امر بالاجماع د وجوب دپاره دې، قاضی عیاض رحمه الله فرمائی چه امر بالمعروف او نهی عن المنکر د اسلام د دعائمو نه دې(یعنی د اسلام یو اهم رکن دې) چه دهغې په وجوب باندې د ټولو اتفاق دې سوا د روافضو نه، صاحب منهل لیکی چه امر بالمعروف دپاره دا شرط نۀ دی چه امر کونکې دې په خپله هم عامل یعنی عمل کونکې وی ځکه چه دلته دوه حقونه جمع کیږی یو په خپله د بدئ نه منع کیدل، او دویم بل لره د بدئ نه منع کول، دا دواړه حقونه جدا جدا او مستقل دی په یو حق نه موجودیدلو سره دویم حق نۀ ساقطیږی، دا جدا خبره ده چه درجۀ د کمال دا ده چه دې په خپله هم عمل کونکې وی.

تبلیغ په چا چا باندې واجب دې:

او بیا هغه وړاندې لیکی چه د اسلام هغه واجبات کوم چه بالکل ښکاره دی لکه مونځ او روژه او دغه شان هغه محرمات د کومو حرمت کښې مشهور دې لکه، زنا او د شرابو

ځښکل وغیره د دې ځیزونو تبلیغ په علما، او غیر علماء په ټولو باندې برابر دې دا فریضه په ټولو باندې پوشان عائدیږي البته د اسلام چه کوم احکام مخفی او غیر ظاهر دی د هغې ابلاغ یعنی ورسول تر علماؤ پورې خاص دی.

[۱۱۴۱]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، وَمُحَمَّدُ بْنُ بَكْرٍ، قَالَا: أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي عَطَاءٌ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: سَمِعْتُهُ يَقُولُ: إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "قَامَ يَوْمَ الْفِطْرِ فَصَلَّى، فَبَدَأَ بِالصَّلَاةِ قَبْلَ الْخُطْبَةِ، ثُمَّ خَطَبَ النَّاسَ، فَلَمَّا فَرَغَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَزَلَ فَأَتَى النِّسَاءَ فَذَكَّرَهُنَّ وَهُوَ يَتَوَكَّأُ عَلَى يَدِ بِلَالٍ، وَبِلَالٌ بَاسِطٌ ثَوْبَهُ تُلْقِي فِيهِ النِّسَاءُ الصَّدَقَةَ". قَالَ: تُلْقِي الْمَرْأَةُ فَتَخَهَا وَيُلْقِينَ وَيُلْقِينَ، وَقَالَ ابْنُ بَكْرٍ: فَتَخَتَهَا.

د جابر بن عبد الله نه روایت دی هغه وئیلي دي ما اوریدلي دي د هغه نه چې وئیل به یې: بېشکه نبي ﷺ ودریدلو د ورکوتي اختر په ورځ، نو شروع شو په مانځه مخکې د خطبې نه، بیایې خطبه وویله خلقو ته، هرکله چې فارغ نبي ﷺ راخکته شو ښځو ته ورغی، وعظ یې ورته وکړو او هغه تکیا وکړه په لاس د بلال، او بلال خپله جامه خوره کړې وه ښځو به پکې صدقې اچولې. هغه وایي: اچولو به ښځې ګوتمه خپله، او اچولو به دوی اچولو به دوی، او وئیلي دي ابن بکر: فتختها (په زیادت د تاء سره).

تشریح: قوله: فلما فرغ نبی الله صلی الله علیه وسلم نزل فاتی النساء، په لفظ د نزل باندې اشکال دې ځکه چه د دېنه معلومیږي چه حضور ﷺ په منبر وغیره یو اوچت ځیز باندې خطبه ورکوله، او وړاندې تیر شوې دی چه دا د سنت نه خلاف ده د حضور ﷺ نه په منبر باندې خطبه ورکول ثابت نۀ دی د دې وجه نه حافظ رحمه الله د دې لفظ تاویل کړې دې او هغه دا چه د نزول نه مراد نزول من مکان عالٍ الی سافل نۀ دې بلکه مطلق انتقال من مکان الی مکان دې.

د حدیث مضمون:

دا دې چه حضور ﷺ د مونځ نه پس خطبه اولاً سړو ته ورکړې وه، ښځې چونکه په عیدګاه کښې ځانله او یو طرف ته وې تر هغۀ ځائې پورې د خطبې آواز نۀ ورسیدلو نو ځکه حضور ﷺ د سړو د ځائې نه منتقل شو او کوم طرف ته چه ښځې وې هغه طرف ته ئې تشریف یوړلو، حضرت بلال رضي الله عنه د حضور ﷺ خادم خاص دوئ سره وو حضور ﷺ د دوئ په سهارې یعنی اډونې سره روان وو حضور ﷺ خو په خطبه ورکولو کښې مشغول شو او حضرت بلال رضي الله عنه کپړه غوړولې وه (ځکه چه حضور ﷺ په خطبه کښې د صدقې ترغیب هم ورکولو ځکه) او ښځو په دې کښې د اچولو کالی د غوږونو والۍ او د لاسونو او خپو ګوتې غرض دا چه څۀ هم دوئ سره وو هغۀ ئې په دې کپړه کښې اچول، زمونږ حضرت شیخ رحمه الله به فرمائیل چه اهل مدارس چه په جلسو کښې کومه چنده راغونډ وی د دې اصل دا حدیث دې، و یلقین و یلقین، د دې ځائې نه دا اچوی او د هغۀ ځائې نه هغۀ اچوی، و قال ابن بکر فتختها، یو روای د فتخها او یو رواوی فتختها وئیلي دې، فتخته په تاء سره مفرد دې او فتخ بغیر د تاء نه جمع ده، لوئې ګوتۍ ته وائی.

(): صحيح البخاري/العيدين ٧ (٩٦١)، صحيح مسلم/العيدين (٨٨٥)، (تحفة الأشراف: ٢٤٤٩)، وقد أخرجه: سنن النسائي/العيدين ٦ (١٥٦٣)، ١٩ (١٥٧٦)، مسند أحمد (٣/٣١٤، ٣١٨)، سنن الدارمي/الصلاة ٢١٨ (١٦٤٤) (صحيح)

[۱۱۴۲]([1])حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ. ح وَحَدَّثَنَا ابْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ عَطَاءٍ، قَالَ: أَشْهَدُ عَلَى ابْنِ عَبَّاسٍ، وَشَهِدَ ابْنُ عَبَّاسٍ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَنَّهُ خَرَجَ يَوْمَ فِطْرٍ فَصَلَّى، ثُمَّ خَطَبَ، ثُمَّ أَتَى النِّسَاءَ وَمَعَهُ بِلَالٌ". قَالَ ابْنُ كَثِيرٍ: أَكْبَرُ عِلْمِ شُعْبَةَ، فَأَمَرَهُنَّ بِالصَّدَقَةِ فَجَعَلْنَ يُلْقِينَ.

د عطاء نه روايت دی هغه وايي زه گواهي کوم په ابن عباس، او ابن عباس گواهي کوي په رسول الله ﷺ، بېشکه هغه ووتلو د ورکوتي اختر په ورځ مونځ يي وکړو، بيايي خطبه وويله، بيا ښځوته راغی اودهغه سره بلال وو. ويلي دي ابن کثير: لوی علم د شعبه دا دی. چې امريې وکړو هغوی ته په صدقې سره نو شروع شوې هغوی چې اچولو يې.

[۱۱۴۳]([2])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَأَبُو مَعْمَرٍ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرٍو، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، بِمَعْنَاهُ، قَالَ: "فَظَنَّ أَنَّهُ لَمْ يُسْمِعِ النِّسَاءَ، فَمَشَى إِلَيْهِنَّ وَبِلَالٌ مَعَهُ، فَوَعَظَهُنَّ وَأَمَرَهُنَّ بِالصَّدَقَةِ" فَكَانَتِ الْمَرْأَةُ تُلْقِي الْقُرْطَ وَالْخَاتَمَ فِي ثَوْبِ بِلَالٍ.

د ابن عباس نه روايت دی په معنی دهغه حديث سره، هغه وايي: د هغه گمان دی چې هغه ښځوته نه دی اوروليں،لاړلو هغوی ته اوبلال ورسره وو، نووعظ يي ورته وکړو او امريي ورته وکړو په صدقه، وه به زنانه چې اچولو به يي اوالۍ او گوتمه په جامه د بلال کې.

[۱۱۴۴]([3])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ فِي هَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: فَجَعَلَتِ الْمَرْأَةُ تُعْطِي الْقُرْطَ وَالْخَاتَمَ، وَجَعَلَ بِلَالٌ يَجْعَلُهُ فِي كِسَائِهِ، قَالَ: فَقَسَمَهُ عَلَى فُقَرَاءِ الْمُسْلِمِينَ.

د ابن عباس نه روايت دی په دي حديث کې هغه ويلي دي: شروع شوه ښځه چې ورکوله به يي اوالۍ او گوتمه، او شروع شو بلال چې اچولو به يي په خپله جامه کې، هغه وايي: هغه تقسيم کړي په غريبانو مسلمانانو باندې.

باب يَخْطُبُ عَلَى قَوْسٍ

باب دی چې خطبه وايي په ليندې باندې

[۱۱۴۵]([4])حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ أَبِي جَنَابٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ الْبَرَاءِ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نُوِّلَ يَوْمَ الْعِيدِ قَوْسًا فَخَطَبَ عَلَيْهِ".

يزيد بن البراء د خپل پلار نه روايت کوي، بېشکه نبي ﷺ ته ورکړی شو د اختر په ورځ لينده، خطبه يي وويله په هغې.

[1]): صحيح البخاري/الأذان ۱۶۱ (۸۶۳)، والعيدين ۱۶ (۹۷۵)، ۱۸ (۹۷۷)، والزكاة ۳۳ (۱۴۴۹)، والنكاح ۱۲۵ (۵۲۴۹)، واللباس ۵۶ (۵۸۸۰)، والاعتصام ۱۶ (۷۳۲۵)، صحيح مسلم/العيدين (۸۸۴)، سنن النسائي/العيدين ۱۳ (۱۵۷۰)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۵۵ (۱۲۷۳)، (تحفة الأشراف: ۵۸۸۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۲۰/۱، ۲۲۶، ۲۴۳، ۳۴۵، ۳۴۶، ۳۵۷، ۳۶۸)، سنن الدارمي/الصلاة ۲۱۸ (۱۶۴۴)، و انظر ما يأتي برقم (۱۱۵۹) (صحيح)

[2]): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۵۸۸۳) (صحيح)

[3]): انظر حديث رقم: ۱۱۴۲، (تحفة الأشراف: ۵۸۸۳) (صحيح)

[4]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۹۶۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۸۲/۴، ۳۰۴) (حسن)

تشریح: قوله: ان النبی صلی الله علیه وسلم نُوّل یوم العید قوسا فخطب علیه، نُوّلَ د ماضی مجهول صیغه ده تنویل په معنی د عطاء کول یعنی حضور ﷺ ته د اختر په مونځ کمان پیش کړې شو او حضور ﷺ به د هغې په سهاره باندې اودریدلو او خطبه به ئې ورکوله، په ابواب الجمعه کښې په باب الرجل یخطب علی قوس کښې تیر شوې دې؛ د دې متعلقات دې هلته اوکتلې شي.

باب ترك الأذان في العيد

باب دی په بیان د ترک د اذان کې په اختر کې

د اختر مونځ بغیر د آذان او اقامت نه دې عندالائمه اربعة، حافظ عراقی او ابن قدامه حنبلی په دې باندې اجماع نقل کړې ده البته ابن قدامه د عبدالله بن زبیر په حقله لیکلې دی چه هغه د اخترونو دپاره د آذان او اقامت قائل وو او د نورو هم ډیرو حضراتو نوم په دې کښې اختسلې شی چنانچه وئیلې شی چه، اول من اذّن فی العیدین ابن زیاد و قیل حجاج و قیل مروان و قیل معاویة، ابن العربی فرمائی چه حضرت معاویه ﷺ ته د دې نسبت کول غیر موثق طریقې سره دې.

[۱۱۴۶] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَابِسٍ، قَالَ: سَأَلَ رَجُلٌ ابْنَ عَبَّاسٍ: أَشَهِدْتَ الْعِيدَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَ: نَعَمْ، وَلَوْلَا مَنْزِلَتِي مِنْهُ مَا شَهِدْتُهُ مِنَ الصِّغَرِ، فَأَتَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعَلَمَ الَّذِي عِنْدَ دَارِ كَثِيرِ بْنِ الصَّلْتِ "فَصَلَّى، ثُمَّ خَطَبَ وَلَمْ يَذْكُرْ أَذَانًا وَلَا إِقَامَةً، قَالَ: ثُمَّ أَمَرَ بِالصَّدَقَةِ، قَالَ: فَجَعَلَ النِّسَاءُ يُشِرْنَ إِلَى آذَانِهِنَّ وَحُلُوقِهِنَّ، قَالَ: فَأَمَرَ بِلَالًا، فَأَتَاهُنَّ، ثُمَّ رَجَعَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

د عبد الرحمن بن عباس نه روایت دی هغه ویلي دي: تپوس وکړو یو سړي د ابن عباس نه، ایا ته د رسول الله ﷺ سره اختر ته حاضر شوی یې؟ هغه وویل: آو، که زما مرتبه د هغه سره نه وی نو زه به په ورکوتوالي کې حاضر شوی نه وم، نو راغی رسول الله ﷺ هغه نخې ته چې د کثیر بن الصلت د کور په خوا کې وه مونځ یې وکړو، بیایې خطبه وویله، او ذکر د اذان یې ونه کړو او نه د اقامت، هغه وایي: بیایې امر وکړو مونږ ته په صدقې باندې. هغه وایي: شروع شوې ښځې چې اشاري یې کولې خپلو غوږونو او مرو ته. هغه وایي: امریې وکړو بلال ته، راغی هغوی ته بیا واپس شو نبي ﷺ.

تشریح: قوله: سال رجل ابن عباس اشهدتَ العید مع رسول الله صلی الله علیه وسلم قال نعم و لو لا منزلتی منه ما شهدت من الصغر،

مضمون حدیث:

یو سړی د حضرت ابن عباس ﷺ نه تپوس اوکړو چه آیا د حضور ﷺ په زمانه کښې تاسو د حضور ﷺ سره عیدګاه ته تللې وی او د اختر مونځ موکړې دې هغوی اوفرمائیل آو

(١): صحیح البخاري/الأذان ١٦١ (٨٦٣)، العیدین ١٦ (٩٧٥)، ٨١ (٩٧٧)، النکاح ١٢٥ (٥٢٤٩)، الاعتصام ١٢٥ (٥٢٤٩)، سنن النسائي/العیدین ١٨ (١٥٧٦)، (تحفة الأشراف: ٥٨١٦) (صحیح)

داسې شوې دی او که زما د حضور ﷺ سره خصوصی تعلق او رشته نۀ وی نو شاید زۀ به د هغوی سره د وړوکوالی د وجه نه عیدګاه ته نۀ شوم تللې، (ځکه چه واړۀ ماشومان د لویو سره بغیر د څه خصوصی قربت یا د تعلق نه داسې ځایونو ته کوم ځائې شریك کیدې شی) دا ټول ښئۀ پیژنی چه حضرت ابن عباس رضی الله عنه د حضور ﷺ د ترۀ ځوئې وو او د دېنه علاوه د علم او فضل، عقل او دانش حامل وو.

قوله: فاتی رسول الله صلی الله علیه وسلم العلم الذی عند دار کثیر بن الصلت، ابن عباس رضی الله عنه د حضور ﷺ سره عیدګاه ته د تشریف اوړولو بیان کوی او دا چه دغه وخت عیدګاه کوم ځائې وه د دې پته یعنی ځائې ښائی، چه حضور ﷺ هغه میدان ته تشریف یوړلو په کوم کښې چه یو خاص قسم نښه او علامه وه، او دا ځائې د کثیر بن الصلت د کور سره نزدې دې، مراد دا دې چه دغه وخت د کثیر بن الصلت کور چه کوم ځائې کښې وو هغې سره نزدې عیدګاه وه، کثیر بن الصلت د لویو تابعینو نه دې، د دې روایت نه دې دا اونۀ ګڼړلې شی چه دا کور د حضور ﷺ په زمانه کښې هم موجود وو، ځکه چه دا کور د حضور ﷺ د وصال نه څۀ موده پس جوړ شوې وو وړاندې نۀ وو.

د دې حدیث نه دا هم معلومه شوه چه د حضور ﷺ په زمانه کښې عیدګاه وه او د دې څه خاص نښه او علامه هم وه یعنی مثلاً، څه بناء (آبادی) یا ستون (ستن).

واضحه دې وی چه دا روایت متفق علیه دې امام بخاری او مسلم دواړو ددې تخریج کړې دې.

قوله: و لم یذکر اذانًا و لا اقامة، راوی وائی چه د حضرت ابن عباس رضی الله عنه د دې سوال په جواب کښې د اختر د مونځ دپاره د آذان او اقامت هیڅ یو ذکر هم نشته دې، لهذا د دېنه معلومه شوه چه د اختر دپاره آذان او اقامت نشته دې.

[۱۱٤۷] (۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ الْحَسَنِ بْنِ مُسْلِمٍ، عَنْ طَاوُسٍ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "صَلَّى الْعِيدَ بِلَا أَذَانٍ وَلَا إِقَامَةٍ". وَأَبَا بَكْرٍ، وَعُمَرَ، أَوْ عُثْمَانَ، شَكَّ يَحْيَى.

د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دی بېشکه رسول الله ﷺ د اختر مونځ وکړو بې د اذان او اقامت نه، او ابو ابکر او عمر، او یا عثمان. شک کړی دی یحیی.

[۱۱٤۸] (۲) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، وَهَنَّادٌ وَهَذَا لَفْظُهُ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، عَنْ سِمَاكٍ يَعْنِي ابْنَ حَرْبٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: "صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَيْرَ مَرَّةٍ وَلَا مَرَّتَيْنِ الْعِيدَيْنِ بِغَيْرِ أَذَانٍ وَلَا إِقَامَةٍ".

د جابر بن سمرة نه روایت دی هغه ویلي دي: ما مونځ د اختر وکړو د نبي ﷺ سره یو ځل نه او نه دوه ځله بغیر د اذان او اقامت نه.

---

(۱): صحیح البخاري/العیدین ۸ (۹٦۲)، ۱۹ (۹۷۸)، التفسیر ۳ (٤۸۹۵)، صحیح مسلم/العیدین ۸ (۸۸٤)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۵۵ (۱۲۷٤)، (تحفة الأشراف: ۵٦۹۸) (صحیح)

(۲): صحیح مسلم/العیدین (۸۸۷)، سنن الترمذي/الصلاة ۲٦۷ (الجمعة ۳۲) (۵۳۲)، (تحفة الأشراف: ۲۱٦٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (۹٤/۵، ۱۰۷) (حسن صحیح)

بَابُ التَّكْبِيرِ فِي الْعِيدَيْنِ

باب دی په بیان د تکبیر کې په اخترونو کې

تکبیرات عیدین سره متعلق مسائل اربعه

(۱) حکم التکبیر، (۲) عدد التکبیر، (۳) محل التکبیر، (۴) مسئله اختلافیه

مسئله اولی:

تکبیرات عیدین دحنفیه او مالکیه په نیز واجب دي او دامام شافعي اواحمد په نیز سنت دي.

مسئله ثانیه:

په دې کښې د علماؤ لس اقوال دی کوم چه حضرت په بذل المجهود کښې ذکر فرمائیلي دی مونږ دلته د هغې نه صرف د ائمه اربعه مذاهب بیانوو، د ائمه ثلاثه په نیز باندې په اولنی رکعت کښې اووۀ تکبیرات دی او په دویم رکعت کښې پنځه، خو د امام شافعي په نیز په رومبی رکعت کښې اووۀ تکبیرات د تکبیر تحریمه نه علاوه دی او مع تحریمه اتۀ دی، او د امام مالك او احمد په نیز باندې اووۀ تکبیرات سره د تحریمه دی، او دحنفیانو په نیز باندې ټول تکبیرات شپږ دی په هر رکعت کښې درې درې تکبیرات دی.

مسئله ثالثه:

د ائمه ثلاثه په نیز محل د تکبیر په دوو رکعتو کښې قبل القراءة دې، او دحنفیانو په نیز باندې فرق دې په اولنی رکعت کښې تکبیرات قبل القراءت دی او په دویم رکعت کښې قبل الرکوع دی، په دې صورت کښې به موالات بین القراءتین اوشی، او د جمهورو په نیز باندې تکبیرات د قراءتین په وسط کښې کیږی، په شرح احیاء کښې لیکلي دی چه موالات بین القراءتین او تکبیر ثلاثا د عبدالله بن مسعود، ابوموسیٰ اشعری، ابوسعید الخدری، براء بن عازب او د ابوهریره رضی الله عنهم نه منقول دی، چنانچه په مصنف عبدالرزاق کښې دعلقمه او اسود نه روایت دې چه د یو ځل واقعه ده چه عبدالله بن مسعود رضی الله عنه تشریف فرما وو او دغه وخت دوئ سره حذیفه او ابو موسیٰ اشعری رضی الله عنهما موجود وو چه په حاضرینو کښې سعید بن العاص د تکبیرات عیدین په باره کښې سوال اوکړو، حضرت حذیفه رضی الله عنه اوفرمائیل د اشعری نه تپوس اوکړئ په دې باندې ابوموسی اوفرمائیل د عبد الله بن مسعود نه تپوس اوکړئ ځکه چه هغه زمونږ ټولو نه اقدم او اعلم دې، ابن مسعود رضی الله عنه نه سوال اوکړې شونو هغوی د تکبیراتو عدد او د دې د ترتیب په باره کښې هم هغه بیان اوکړو د کومو چه حنفیان قائل دی.

مسئله رابعه:

دلته یوه بله اختلافی مسئله ده هغه دا چه تکبیرات د عیدینو د امام ابوحنفیه او شافعي او احمد دریوارو په نیز باندې د رفع یدینو سره دی او د امام مالك په روایت کښې دا دی چه رفع یدین به صرف په تکبیر تحریمه کښې وی په باقی تکبیراتو کښې به نۀ وی و الیه ذهب ابویوسف.

[۱۱۴۹] (۱) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ عُقَيْلٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يُكَبِّرُ فِي الْفِطْرِ وَالْأَضْحَى فِي الْأُولَى سَبْعَ تَكْبِيرَاتٍ، وَفِي الثَّانِيَةِ خَمْسًا".

د عائشي رضي الله عنها نه روايت دى چې تكبيريي ويلو په وركوتي او غټ اختر كې، په اولني كې اوه تكبيرونه او په دويم كې پنځه.

۱: حدثنا قتيبة.. الخ، قوله، عن عائشة ان رسول الله صلى الله عليه وسلم كان يكبر فى الفطر والاضحى فى الاولى سبع تكبيرات و فى الثانية خمسًا، دا حديث په عدد د تكبيراتو كښې د ائمه ثلاثه مستدل دې، د دې په سند كښې ابن لهيعه اعرابى دى چه متكلم فيه دې، او واقعه دا ده چه څنګه د امام احمد نه منقول دى چه د تكبيراتو د عيدين په سلسله كښې يو صحيح او قوى حديث نشته دي.

[۱۱۵۰] (۲) حَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ خَالِدِ بْنِ يَزِيدَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ، قَالَ: "سِوَى تَكْبِيرَتَيِ الرُّكُوعِ".

د ابن شهاب نه روايت دى په اسناد د هغي سره او په معنى د هغي سره، هغه ويلي دي: علاوه د دوه تكبيرونو د ركوع نه.

[۱۱۵۱] (۳) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا الْمُعْتَمِرُ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الطَّائِفِيَّ يُحَدِّثُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، قَالَ: قَالَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "التَّكْبِيرُ فِي الْفِطْرِ سَبْعٌ فِي الْأُولَى، وَخَمْسٌ فِي الْآخِرَةِ، وَالْقِرَاءَةُ بَعْدَهُمَا كِلْتَيْهِمَا".

د عبد الله بن عمرو بن العاص نه روايت دى هغه ويلي دي، ويلي دي نبي ﷺ: تكبير په اولني كې اوه دي، او پنځه دي په وروستني كې، او قراءت وروسته د دواړو نه دى.

[۱۱۵۲] (۴) حَدَّثَنَا أَبُو تَوْبَةَ الرَّبِيعُ بْنُ نَافِعٍ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ يَعْنِي ابْنَ حَيَّانَ، عَنْ أَبِي يَعْلَى الطَّائِفِيِّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يُكَبِّرُ فِي الْفِطْرِ الْأُولَى سَبْعًا، ثُمَّ يَقْرَأُ، ثُمَّ يُكَبِّرُ، ثُمَّ يَقُومُ فَيُكَبِّرُ أَرْبَعًا، ثُمَّ يَقْرَأُ، ثُمَّ يَرْكَعُ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ وَكِيعٌ، وَابْنُ الْمُبَارَكِ، قَالَا: "سَبْعًا وَخَمْسًا".

د عمروبن شعيب عن ابيه عن جده نه روايت دى، بېشكه نبي ﷺ وو چې تكبيريي ويلو په وركوتي اختر كې په اولني ركعات كې اوه، بيا به يي قراءت لوستلو، بيا به يي تكبير ويلو بيا ودريدلو تكبيرونه به يي ويل څلور، بيا به يي قراءت كولو، بيا به يي ركوع كوله. ويلي دي ابوداود: روايت كړى دى وكيع او ابن المبارک، دواړو ويلي دي: اوه او پنځه.

[۱۱۵۳] (۵) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، وَابْنُ أَبِي زِيَادٍ الْمَعْنَى قَرِيبٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا زَيْدٌ يَعْنِي ابْنَ حُبَابٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ ثَوْبَانَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ مَكْحُولٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي أَبُو عَائِشَةَ جَلِيسٌ لِأَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ سَعِيدَ بْنَ الْعَاصِ سَأَلَ

۱): سنن ابن ماجه/إقامة ۱۵٦ (۱۲۸۰)، (تحفة الأشراف: ۱٦٤۲۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٦۵، ۷۰) (صحيح)

۲): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱٦٤۲۵) (صحيح)

۳): سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۵٦ (۱۲۷۸)، (تحفة الأشراف: ۸۷۲۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۱۸۰) (حسن)

٤): انظر حديث رقم: ۱۱۵۱، (تحفة الأشراف: ۸۷۲۸) (حسن صحيح)

۵): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۳۳۹۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٤۱٦) (حسن) (ملاحظه هو: صحيح ابي داود ۱۰٤٦م)

أَبَا مُوسَى الْأَشْعَرِيَّ، وَحُذَيْفَةَ بْنَ الْيَمَانِ: كَيْفَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكَبِّرُ فِي الْأَضْحَى وَالْفِطْرِ؟ فَقَالَ أَبُو مُوسَى: "كَانَ يُكَبِّرُ أَرْبَعًا تَكْبِيرَهُ عَلَى الْجَنَائِزِ"، فَقَالَ حُذَيْفَةُ: صَدَقَ، فَقَالَ أَبُو مُوسَى: كَذَلِكَ كُنْتُ أُكَبِّرُ فِي الْبَصْرَةِ حَيْثُ كُنْتُ عَلَيْهِمْ، وَقَالَ أَبُو عَائِشَةَ: وَأَنَا حَاضِرٌ سَعِيدَ بْنَ الْعَاصِ.

بېشکه سعيد بن العاص تپوس وکړو د ابو موسى الاشعري نه او د حذيفة بن اليمان نه، څرنګه وو رسول الله ﷺ چې تکبير به يي ويلو په غټو او ورکوټي اخترونو کې؟ ابو موسى وويل: هغه به څلور تکبيرونه ويل په جنازو باندې. وويل حذيفه: رښتيايي وويل، وويل ابو موسى: همداسې به ما تکبيرونه ويل په بصره کې، په کوم ځاى کې چې زه مشر وم په هغوى. او ويلي دي ابو عائشه: او زه حاضر وم سعيد بن العاص ته.

قوله فقال ابوموسٰی کان يکبر اربعا تکبيره على الجنائز، ابوموسٰی اشعرى رضی الله عنه دا حديث د کوم تصديق چه حضرت حذيفه رضی الله عنه هم کړې دې د حنفيانو دليل دې د دوئ په نيز باندې په رومبى رکعت کښې سره د تکبير تحريمه څلور تکبيرات دى، دغه شان په دويم کښې هم سره د تکبير د رکوع څلور دى.

د حنفيانو په دليل باندې د شافعيه نقد:

په دې باندې شافعيه وغيره دا نقد کړې دې چه د دې په سند کښې يو راوى ابوعائشه دې کوم چه مجهول دې، دغه شان عبدالرحمٰن بن ثوبان دا ضعيف دې، د دې جواب دا ورکړې شوې دې چه د عبدالرحمٰن بن ثوبان جرح متفق عليه نۀ ده بلکه ډيرو علماؤ د دۀ توثيق کړې دې، په بذل کښې په دې باندې تفصيلى کلام دې، او هم داسې ليکلې ئې دى چه دابوعائشه نه روايت کونکى دلته په سند کښې مکحول دې او د دۀ متابعت کړې دې خالد بن معدان لکه څنګه چه په تهذيب التهذيب وغيره کتابونو د رجال کښې موجود دى.

علامه زيلعى فرمائى چه، سکت عنه ابوداؤد ثم المنذرى و رواه احمد فى مسنده.

بَابُ مَا يُقْرَأُ فِي الْأَضْحَى وَالْفِطْرِ

باب دى چې څه به لوستل کيږي په غټ او ورکوټي اختر کې

[۱۱۵۴] (۱) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ ضَمْرَةَ بْنِ سَعِيدٍ الْمَازِنِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ مَسْعُودٍ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ سَأَلَ أَبَا وَاقِدٍ اللَّيْثِيَّ: مَاذَا كَانَ يَقْرَأُ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْأَضْحَى وَالْفِطْرِ؟ قَالَ: "كَانَ يَقْرَأُ فِيهِمَا ق وَالْقُرْآنِ الْمَجِيدِ وَاقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ".

بېشکه عمر بن الخطاب تپوس وکړو د ابو واقد الليثي نه، رسول الله ﷺ به څه شى لوستلو غټ او ورکوټي اختر کې؟ هغه وويل: هغه به لوستل په دواړو کې ق و القرآن المجيد او اقتربت الساعة او انشق القمر

په حديث الباب کښې دى چه يو ځل حضرت عمر رضی الله عنه د ابوواقدليثى نه سوال اوفرمائيلو چه حضور ﷺ به د اخترونو په مانځه کښې څۀ لوستل هغوى اوفرمائيل چه سورۀ قاف او

(۱): صحيح مسلم/العيدين ۳ (۸۹۱)، سنن الترمذي/الصلاة ۲۶۸ (الجمعة ۳۳)، (۵۳۴، ۵۳۵)، سنن النسائي/العيدين ۱۱ (۱۵۶۸)، سنن ابن ماجه/إقامة ۱۵۷ (۱۲۸۲)، (تحفة الأشراف: ۱۵۵۱۳)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/ العيدين ٤ (۸)، مسند احمد (۲۱۷/۵، ۲۱۸، ۲۱۹) (صحيح)

سورة قمر به ئې لوستل، او د دينه وړاندې په ابواب الجمعه کښې د نعمان بن بشير په حديث کښې تير شوې دى چه حضور ﷺ به د اخترونو او د جمعې په مانځه کښې سبح اسم ربك الاعلى او هل اتاك حديث الغاشيه لوستل، يعنى كله به ئې هغه لوستل او كله دا.

بَابُ الْجُلُوسِ لِلْخُطْبَةِ

باب دى په بيان د كښناستلو كې د خطبې دپاره

[۱۱۵۵](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ الْبَزَّازُ، حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى السِّينَانِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ السَّائِبِ، قَالَ: شَهِدْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِيدَ، فَلَمَّا قَضَى الصَّلَاةَ، قَالَ: "إِنَّا نَخْطُبُ، فَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يَجْلِسَ لِلْخُطْبَةِ فَلْيَجْلِسْ، وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يَذْهَبَ فَلْيَذْهَبْ". قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا مُرْسَلٌ عَنْ عَطَاءٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

د عبد الله بن السائب نه روايت دى هغه وايي زه حاضر شوم د رسول الله ﷺ سره اختر ته، هركله يې چې مونځ پوره كړو، ويې ويل: مونږ خطبه وايو د چا چې خوښه وي چې كيني نو هغه دې كيني، او د چا چې خوښه وي چې لاړ شي نو لاړ دې شي. ويلي دي ابوداود: دا مرسل دى د عطاء نه او هغه د نبي ﷺ نه نقل كړى دى.

قوله، قال انا نخطب فمن احبَّ ان يجلس للخطبة فليجلس و من احبَّ ان يذهب فليذهب، په بذل المجهود كښې ليكلي دى چه د دې نه معلومه شوه چه د خطبې د اوريدلو دپاره كيناستل واجب نۀ دى، انتهى كلامه، خو كه كيني نو انصات يعنى چپوالى او سكوت پرې لازم دې.

قال ابوداؤد هذا مرسل، يعنى صحيح دا ده چه دا حديث د عطاء مرسل دې دصحابى يعنى عبدالله بن السائب ذكر دلته په سند كښې صحيح نۀ دى، يو راوى د صحابى نوم په غلطئ سره زيات كړې دې او دې حديث لره ئې مسند جوړ كړې دې حال دا دې چه په اصل كښې دا روايت مرسل وو.

بَابُ يَخْرُجُ إِلَى الْعِيدِ فِي طَرِيقٍ وَيَرْجِعُ فِي طَرِيقٍ

باب دى په بيان د وتلو كې د اختر لپاره په يوه لار او راتلل په بله لار

[۱۱۵۶](٢) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ يَعْنِي ابْنَ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَخَذَ يَوْمَ الْعِيدِ فِي طَرِيقٍ، ثُمَّ رَجَعَ فِي طَرِيقٍ آخَرَ".

د ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دى، بېشكه رسول الله ﷺ لاړلو د اختر په ورځ يوه لار بيا راواپس شو په بله لار.

په حديث الباب كښې دى چه ابن عمر رضي الله عنه فرمائى چه حضور ﷺ به عيدګاه ته د تللو دپاره يوه لاره اختياروله او د واپس كيدو دپاره به ئې بله لاره، فقهاؤ هم دې اختلاف د لارې يعنى د لارې بدلولو لره مستحب ليكلې دې، د دې علماؤ ډير حكمتونه ليكلي دى، حافظ ابن حجر فرمائى چه د شلو نه زيات زما د وړاندې حِكَمْ يعنى حكمتونه جمع شوې دى،

(١): سنن النسائي/العيدين ١٤ (١٥٧٢)، سنن ابن ماجه/إقامة ١٥٩ (١٢٩٠)، (تحفة الأشراف: ٥٣١٥) (صحيح)

(٢): سنن ابن ماجه/إقامة ١٦٢ (١٢٩٩)، (تحفة الأشراف: ٧٧٢٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٠٩/٢) (صحيح)

مثلا، شهادة الطريقين و سكانهما من الثقلين، يعنی دې دپاره چه د قيامت په ورځ دواړه لارې د دې سړی په حق کښې ګواهی ورکړی او هم دغه شان د دواړو ځايونو ساکنين يعنی اوسيدونکی جن او انس، ۲. د اسلام د شان او شوکت اظهار، ۳. حصول البركة للطريقين.

بَابُ إِذَا لَمْ يَخْرُجِ الْإِمَامُ لِلْعِيدِ مِنْ يَوْمِهِ يَخْرُجُ مِنَ الْغَدِ

باب دی، کله چې امام د اختر په ورځ ونه وځي نو وځي صباته

يعنی د اختر مونځ د څه وجه نه د اختر په ورځ باندې اونه کړې شی نو ورپسې ورځ کښې به د دې قضاء کولې شی.

[۱۱۵۷] (۱) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ أَبِي وَحْشِيَّةَ، عَنْ أَبِي عُمَيْرِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ عُمُومَةٍ لَهُ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ رَكْبًا جَاءُوا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَشْهَدُونَ أَنَّهُمْ رَأَوُا الْهِلَالَ بِالْأَمْسِ "فَأَمَرَهُمْ أَنْ يُفْطِرُوا، وَإِذَا أَصْبَحُوا أَنْ يَغْدُوا إِلَى مُصَلَّاهُمْ".

د ابو عمير بن انس نه روايت دی، هغه روايت کوي د هغه د ترونو نه چې د رسول الله ﷺ د صحابو نه وو: بېشکه يو وفد راغی رسول الله ﷺ ته هغوی ګواهي کوله چې مونږ سپوږمی ليدلې ده پرون، نو امر يې وکړو هغوی ته چې روژه ماته کړي، چې کله صباح کړي دوی نو لاړ دي شي خپلې مصلی ته.

تشريح: قوله: ان رکبًا جاؤا الی النبی صلی الله عليه وسلم يشهدون انهم راءوا الهلال بالامس فامرهم ان يفطروا و اذا اصبحوا ان يغدوا الی مصلاهم، يعنی يوه قافله او جماعت د مدينې نه د بهر نه د حضور ﷺ په خدمت کښې راغلو او هغوی په راتلو سره شهادت ورکړو چه هغوی په تير شوې يوکم ديرشمې نيټې باندې د اختر مياشت ليدلې ده حضور ﷺ د هغوی شهادت قبول اوفرمائيلو او خلقو ته ئې د روژې د ماتولو حکم ورکړو او دا چه راروانه ورځ دې عيدګاه ته د مانځه دپاره رااورسی.

په مسئلة الباب کښې مذاهب ائمه:

د دينه معلومه شوه چه د اختر د مانځه قضاء شته که د امام او قوم تولو نه فوت شی د وړوکی اختر صرف په ورپسی ورځ باندې او د لوئې اختر د يوم النحر تر آخری ورځ پورې د حنفيانو مذهب هم دا دې لکه څنګه چه په هدايه کښې ليکلې دې او په بذل کښې هم، خو حضرت شيخ رحمه الله د بذل په حاشيه کښې ليکلې دی چه امام طحاوی رحمه الله د اختر د مانځه د قضاء مذهب صرف د امام ابويوسف نقل کړې دې، او امام صاحب رحمه الله طرف ته ئې دا منسوب کړې دی چه هغه د قضاء قائل نهٔ دې، علامه شوکانی د امام احمد، امام ابوحنيفه او د صاحبينو مذهب د قضاء د مشروعيت ليکلې دې، او ملا علی قاری د امام شافعی په دې کښې دوه قوله ذکر کړې دی خو په روضة المحتاجين صفحه، ۲۲۶، کښې ليکلې دی چه، يسنُّ قضاءها ان خرج وقتها، او علامه شعرانی رحمه الله د امام مالك مذهب د عدم قضاء ليکلې دې او هم دا د انوار ساطعه نه هم معلوميږی، خلاصه دا چه د ائمه ثلاثه په نيز قضاء شته ده

(۱): سنن النسائي/العيدين ۱ (۱۵۵۸)، سنن ابن ماجه/الصيام ۶ (۱۶۵۳)، (تحفة الأشراف: ۱۵۶۰۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۵/۵۷، ۵۸) (صحيح)

او د مالیکه په نیز باندې نشته.

دلته یوه مسئله بله ده د کومې دپاره چه امام بخاری ترجمه قائمه کړې ده، **باب اذا فاته العيد يصلي ركعتين**، چه که په کوم ښار کښې د اختر مونځ شوې وی او یو سړې په دې کښې شریك نهٔ شی نو د دې سړی په حق کښې هم قضاء شته او که نهٔ، حضرت شیخ رحمه الله په تراجم بخاری صفحه، ۲۰، ج، ۳، کښې لیکلې دی چه د مالیکه په دې کښې څلور روایتونه دی، راجع دا دې چه داسې سړی دپاره قضاء د اختر مستحب ده منفرداً لا جماعةً، هم داسې د شافعیه په نیز هم مشروع ده خو منفرداً، و عند الحنابلة يسنّ قضائها يومها قبل الزوال و بعده على صفتها، او د حنفیانو مسلك ئې په درمختار کښې دا لیکلې دې چه، ولا يصليها وحده ان فاتت مع الامام.

[۱۱۵۸] (۱) حَدَّثَنَا حَمْزَةُ بْنُ نُصَيْرٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي مَرْيَمَ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سُوَيْدٍ، أَخْبَرَنِي أُنَيْسُ بْنُ أَبِي يَحْيَى، أَخْبَرَنِي إِسْحَاقُ بْنُ سَالِمٍ مَوْلَى نَوْفَلِ بْنِ عَدِيٍّ، أَخْبَرَنِي بَكْرُ بْنُ مُبَشِّرٍ الْأَنْصَارِيُّ، قَالَ: "كُنْتُ أَغْدُو مَعَ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْمُصَلَّى يَوْمَ الْفِطْرِ وَيَوْمَ الْأَضْحَى، فَنَسْلُكُ بَطْنَ بَطْحَانَ حَتَّى نَأْتِيَ الْمُصَلَّى، فَنُصَلِّي مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ نَرْجِعُ مِنْ بَطْنِ بَطْحَانَ إِلَى بُيُوتِنَا".

مونږ ته خبر راکړې دی بکر بن مبشر الانصاري، هغه وئيلي دي: وم زه چې تلم به د صحابو د رسول الله ﷺ سره مصلی ته د ورکوټې او غټ اختر په ورځ، مونږ به تللو د بطحان په مینځ کې تردې چې مصلی ته به راغلو، نو مونږ به مونځ وکړو د رسول الله ﷺ سره بیا به واپس کیدو خپلو کورونو ته د بطحان په مینځ.

تشریح: قوله: كنت اغدو مع اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم الى المصلى، یو صحابی بکر بن مبشر فرمائی چه مونږ به عیدګاه ته تللو د بطن بطحان په لار باندې (بطحان د یوې وادئ نوم دې) او بیا به هم په دې لارې سره واپس راتللو، د دینه معلومه شوه چه د لارې بدلول ضروری نهٔ دی بلکه صرف سنت یا مستحب دی.

د دې حدیث د ترجمة الباب سره هیڅ مناسبت نشته دې بلکه دسابقه ترجمې سره ئې مناسب دې، لهذا دې حدیث لره دلته ذکر کول بظاهر د ناسخینو تصرف دې.

بَابُ الصَّلَاةِ بَعْدَ صَلَاةِ الْعِيدِ

باب دی په بیان د مونځ کې وروسته د اختر مانځه نه

د اختر په ورځ د اختر د مانځه نه وړاندې یا روستو نفل کول د حنفیانو په نیز باندې مکروه دی د امام او غیر امام دواړو دپاره، د اختر نه وړاندې خو مطلقا او د اختر د مانځه نه پس صرف په مصلی یعنی عیدګاه کښې په کور کښې کولې شی، د ابن ماجه په حدیث کښې دی چه حضور ﷺ به بعد العيد په کور کښې رکعتین کول، او د امام شافعی په نیز کراهیت صرف د امام په حق کښې دې مطلقا او د مقتدی دپاره مطلقا جائز دې، او امام مالك رحمه الله فرمائی چه د امام په حق کښې خو کراهیت مطلقا دې او د مقتدی په حق کښې کراهیت هغه وخت دې کله چه مونځ په عیدګاه کښې وی او که په جومات کښې وی د کوم عذر باران وغیره د وجه نه نو بیا د مقتدی په حق کښې مکروه نهٔ دی (المنهل وغيره) او د

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۲۰۲٦) (ضعيف)

حنابله مذهب په مغني وغیره کښې دا لیکلي دي چه کراهیت خاص د مانځه تر ځائې پورې دې خواه که په مصلی کښې وی یا په جومات کښې د دینه علاوه په نور ځایونو کښې مطلقا جائز دي.

[۱۱۵۹](۱) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، حَدَّثَنِي عَدِيُّ بْنُ ثَابِتٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ فِطْرٍ، فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ لَمْ يُصَلِّ قَبْلَهُمَا وَلَا بَعْدَهُمَا، ثُمَّ أَتَى النِّسَاءَ وَمَعَهُ بِلَالٌ، فَأَمَرَهُنَّ بِالصَّدَقَةِ، فَجَعَلَتِ الْمَرْأَةُ تُلْقِي خُرْصَهَا وَسِخَابَهَا".

د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دی، هغه ویلي دي: راووتلو رسول الله ﷺ د ورکوتي اختر په ورځ دوه رکعاته مونځ يې وکړو مخکې او وروسته يې تربنه مونځ ونه کړو، بيا ښځو ته راغی او بلال ورسره وو، هغوی ته يې امر وکړو په صدقې سره، نو شروع شوه ښځه چې غوږځوله به يې خپله اوالی او ګوتمه.

قوله خرج رسول الله صلی الله علیه وسلم یوم فطر فصلی رکعتین لم یصل قبلها و لا بعدها ، د ائمه د مذاهبو تفصیل د ترجمة الباب د لاندې تیر شوې دې، دا حدیث د امام شافعي د مسلك عین مطابق دې ځکه چه د دې حدیث تعلق د امام سره دې او حضور ﷺ امام وو او حضور ﷺ د اختر د مانځه نه وړاندې یا بعد نفل مونځ نهٔ دي کړي او هم دا شافعیه وائی چه کراهیت صرف د امام دپاره دي مالیکه هم دا وائی چه کراهیت صرف د امام دپاره دې او د مقتدی په حق کښې د دوئ په نیز تفصیل دې.

قوله، تلقی خرصها، د غوږونو والئ، و سخابها، د غاړې امیل.

بَابُ يُصَلِّي بِالنَّاسِ الْعِيدَ فِي الْمَسْجِدِ إِذَا كَانَ يَوْمَ مَطَرٍ

باب دی چې مونځ کوي خلقو ته په مسجد کې کله چې د باران ورځ وي

[۱۱۶۰](۲) حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عَمَّارٍ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ. ح حَدَّثَنَا الرَّبِيعُ بْنُ سُلَيْمَانَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، حَدَّثَنَا رَجُلٌ مِنَ الْفَرْوِيِّينَ، وَسَمَّاهُ الرَّبِيعُ فِي حَدِيثِهِ عِيسَى بْنَ عَبْدِ الْأَعْلَى بْنِ أَبِي فَرْوَةَ، سَمِعَ أَبَا يَحْيَى عُبَيْدَ اللَّهِ التَّيْمِيَّ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّهُ أَصَابَهُمْ مَطَرٌ فِي يَوْمِ عِيدٍ "فَصَلَّى بِهِمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الْعِيدِ فِي الْمَسْجِدِ".

د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی: بېشکه ورسیدو هغوی ته باران د اختر په ورځ نو مونځ وکړو دوی ته رسول الله ﷺ د اختر په مسجد کې.

تشریح: قاعده دا ده چه د اختر مونځ دې په صحراء یعنی عیدګاه کښې ادا کړې شی الا بعذر مثل المطر ، چنانچه په حدیث الباب کښې دی چه یو ځل په مدینه منوره کښې د اختر په ورځ باندې باران وو چه دهغې د وجه نه حضور ﷺ د اختر مونځ د عیدګاه په ځائې باندې په

(۱): صحیح البخاري/العیدین ۸ (۹۶٤)، ۲٦ (۹۸۹)، الزکاة ۲۱ (۱٤۳۱)، اللباس ۵۷ (۵۸۸۱)، ۵۹ (۵۸۸۳)، صحیح مسلم/العیدین (۸۸٤)، سنن الترمذي/الجمعة ۳۵ (۵۳۷)، سنن النسائي/العیدین ۲۹ (۱۵۸۸)، سنن ابن ماجه/اقامة الصلاة ۱٦۰ (۱۲۹۱)، (تحفة الأشراف: ۵۵۵۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۳۵۵)، سنن الدارمي/الصلاة ۲۱۹ (۱٦٤٦)، وانظر أیضاحدیث رقم: (۱۱٤۲) (صحیح)

(۲): سنن ابن ماجه/إقامة ۱٦۷ (۱۳۱۳)، (تحفة الأشراف: ۱٤۱۲۰) (ضعیف)

جومات کښې ادا کړو د جهمورو علماؤ او ائمه ثلاثه هم دا مذهب دې، په دې کښې د امام شافعی اختلاف دې هغه فرمائی چه په اختر کښې قاعده دا ده چه دا دې په جومات کښې ادا کړې شی که ټول خلق په جومات کښې راتللې شو هغوی فرمائی چه د حضور ﷺ د اختر د مانځه دپاره خروج الی المصلی د ضیق مسجد یعنی د جومات د تنګوالی د وجه و.

جُمَّاعُ اَبْوَابِ صَلٰوةِ الاِسْتِسْقَاءِ وَتَفْرِيْعِهَا

د استسقاء د ابوابو مجموعه او ددې متعلقات

بَابٌ

باب: د استسقاء مونځ او ددې احکام او مسائل

ضمیر (په تفریعها کښې) د ابواب طرف ته راجع دې، ای تفریع ابواب صلوة الاستسقاء، لفظ د جماع په وزن د کتاب او په وزن د رمّان دواړه شان صحیح دې په معنی د جامع یا د مجموع، دا لفظ د دینه وړاندې په ابواب الامامة کښې هم راغلې دې یعنی د ابواب الاستسقاء د تفصیل مجموعه یا جامع بیان، په شروع کښې د تمهید په طور باندې د یو څو خبرو زده کول ضروری دی او په حدیث الباب باندې پوهیدلو دپاره فائده مند دی.

بحث اول: د استسقاء لغوی تحقیق

استسقاء د سُقیاء نه ماخوذ ده یعنی باران، او د استسقاء معنی شوه طلب السُقیاء، د الله پاك نه د باران طلب کول.

بحث ثانی: د دې مشروعیت

د دې مشروعیت په شپږم کال د هجرت کښې شوې وو.

بحث ثالث: دا ددې امت خصوصیت دې

صلوة استسقاء د دې امت د خصائصو نه ده.

بحث رابع: (د استسقاء د مونځ په جماعت کښې اختلاف)

د جمهورو علماؤ او د ائمه ثلاثه او د صاحبینو په نیز باندې د استسقاء د مانځه دپاره باجماعت مونځ مشروع او مسنون دې او د امام ابوحنیفه په نیز د دې حقیقت دعاء او استغفار دې د دوئ په نیز باندې داستسقاء دپاره باجماعت مونځ مسنون یا مشروع نۀ دې، (قولان) که خلق یواځې بغیر د جماعت نه مونځ اوکړی نو هیڅ باك نشته دې، په دې باندې کلام د باب د رومبی حدیث د لاندې راروان دې.

بحث خامس: (په صلوة استسقاء کښې د خطبې حکم)

په صلوة استسقاء کښې دټولو علماؤ په نیز باندې خطبه مسنون ده سوا د امام صاحب رحمه الله نه ځکه چه هغه دباجماعت د مانځه قائل نۀ دې، خو خطبه به په زمکه باندې وی نۀ په منبر باندې.

بحث سادس: (د تحویل رداء حکم)

د خطبې په دوران کښې تحویل رداء یعنی د څادر اړول د امام دپاره د ائمه ثلاثه او د امام محمد په نیز باندې سنت دې د امام صاحب په نیز باندې سنت نۀ دې، لعدم الخطبة و الصلوة

بجماعة، او د امام ابو يوسف رحمه الله نه روايت مختلف دي.

بحث سابع: (د تکبيرات زوائد حکم)

په دې مانځه کښې د امام احمد او شافعي رحمهما الله په نيز تکبيرات زوائد مشروع دی د اختر د مانځه پشان، هم دا يو روايت د امام محمد رحمه الله نه هم دې او د امام مالك او ابو يوسف په نيز باندې په دې کښې تکبيرات زوائد نشته.

بحث ثامن: (د استسقاء د مونځ د وخت مسئله)

د استسقاء د مونځ وخت د جمهورو په نيز باندې هم هغه دې کوم چه د اختر دې او په يو روايت کښې د امام شافعي نه دا دې چه مطلقا کوم وخت چه غواړي کولې شي.

[۱۱۶۱](۱)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ ثَابِتٍ الْمَرْوَزِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَبَّادِ بْنِ تَمِيمٍ، عَنْ عَمِّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "خَرَجَ بِالنَّاسِ لِيَسْتَسْقِيَ، فَصَلَّى بِهِمْ رَكْعَتَيْنِ جَهَرَ بِالْقِرَاءَةِ فِيهِمَا، وَحَوَّلَ رِدَاءَهُ وَرَفَعَ يَدَيْهِ فَدَعَا وَاسْتَسْقَى وَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ".

د عباد بن تميم نه روايت دی، هغه روايت کوي د خپل تره نه، بېشکه رسول الله ﷺ راووتلو خلقو ته لپاره د طلب د استسقاء خلقو ته يې دوه رکعاته لمونځ وکړو، جهري وکړو په قراءت سره په دواړو کې، او تحويل د څادريي وکړو، او لاسونه يې اوچت کړل، دعاء يې وکړه او مخ يې کړو قبلې ته.

تشريح: قوله: عن عباد بن تميم عن عمّه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم خرج بالناس يستسقى فصلى بهم رکعتين جهر بالقراءة فيهما..الخ، دا حديث د عم عباد يعنی د عباد د ترهٔ دې د چا نوم چه عبدالله بن زيد بن عاصم دې.

د روايات الباب جائزه او د استسقاء دپاره د مانځه ثبوت:

په دې باب کښې مصنف رحمه الله صرف دوه حديثونه ذکر کړې دی يو د دوئ او بل د ابن عباس رضي الله عنهما رومبی حديث لره ئې په ګڼرو طريقو سره او دويم حديث ئې صرف په يو طريق سره ذکر کړې دې او د دينه روستو راتلونکی باب کښې مصنف رحمه الله ګڼر روايات ذکر کړې دی د مختلفو صحابه کرامو نه خو په هغې کښې په اکثرو کښې د صلوة ذکر نشته دې بلکه صرف د دعاء ذکر دې، صرف يو روايت د حضرت عائشه رضي الله عنها داسې ذکر کړې دې په کوم کښې چه مونځ ذکر شوې دې خو مصنف په دې باندې د غرابت حکم لګولې دې لکه چه هغه ځائې کښې به راشي، نو ګويا په سنن ابوداؤد کښې په لسو روايتونو کښې صرف په دريو کښې د مونځ ذکر دې، دعبدالله بن زيد بن عاصم، ابن عباس، عائشه رضی الله عنهم اجمعين. امام بخاری رحمه الله د استسقاء دپاره ګڼر تراجم او ابواب قائم کړې دی په کومو کښې چه ګڼر

---

(۱): صحيح البخاري/الاستسقاء ۱ (۱۰۰۵)، ٤ (۱۰۱۲)، ۱۵ (۱۰۲۳)، والدعوات ۲۵ (٦۳٤۳)، صحيح مسلم/الاستسقاء ۱ (۸۹٤)، سنن الترمذي/الصلاة ۲۷۸ (الجمعة ٤۳) (۵۵٦)، سنن النسائي/الاستسقاء ۲ (۱۵۰٤)، ۳ (۱۵۰٦)، ۵ (۱۵۰۸)، ٦ (۱۵۰۹)، ۷ (۱۵۱۰)، ۸ (۱۵۱۱)، ۱۲ (۱۵۱۹)، ۱٤ (۱۵۲۱)، سنن ابن ماجه/الإقامة ۱۵۳ (۱۲٦۷)، (تحفة الأشراف: ۵۲۹۷)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/صلاة الاستسقاء ۱(۱)، مسند احمد (۳۸/٤، ۳۹، ٤۰، ٤۱، ٤۲)، سنن الدارمي/الصلاة ۱۸۸ (۱۵٤۱) (صحيح)

حدیثونه ذکر کړي دی، خو په هغې کښې د مونځ ذکر صرف د عبدالله بن زید بن عاصم رضي الله عنه په بعضې طرقو کښې دی او هم دا حال د مسلم شریف هم دې، حافظ ابن قیم په زادالمعاد کښې او شیخ عبدالحق محدث دهلوی د سفر السعاده په شرح کښې لیکلې دی چه د حضور ﷺ نه استسقاء (د باران دعاء) شپږ ځله ثابته ده او په دې شپږو کښې صرف یو ځل د مونځ ثبوت ملاویږی، نو ځکه امام صاحب فرمائی چه د استسقاء حقیقت دعاء او استغفار دې، کما قال الله تعالى، استغفروا ربكم انه كان غفارا يرسل السماء عليكم مدرارا، په آیت کریمه کښې نزول مطر یعنی د باران وریدل په استغفار باندې مرتب کړې شوې دې، په هدایه کښې د امام صاحب نه نقل کړې دی چه هغوی اوفرمائیل چه د حضور ﷺ نه استسقاء منقول ده خو په دې کښې صلوة منقول نۀ دې، په دې باندې علامه زیلعی په نصب الرایه کښې اعتراض کړې دې چه د ثبوت صلوة انکار صحیح نۀ دې، د دې جواب شیخ ابن الهمام ورکړې دې چه د صاحب هدایه مراد مطلقا نفی نۀ ده بلکه د کوم استسقاء چه هغه ذکر کوی خاص په هغۀ استسقاء کښې د مونځ نفی مقصود ده چنانچه یو دوه کرخو نه پس صاحب هدایه په خپله فرمائی چه، فعله مرة و تركه أخرىٰ.

حاصل دا چه استسقاء د حضور ﷺ نه په کثرت سره منقول ده خو په دې کښې د مونځ ثبوت صرف په یو ځل کښې دی نو بیا مونځ ته سنت څنګه وئیلې شی ځکه چه مسنون خو د حضور ﷺ دائمی معمول یا کم نه کم اکثر معمول ته وائی او دلته داسې نۀ ده، هم دغه شان په یو روایت کښې دی چه د حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کښې یو ځل قحط سالی وه نو هغوی د حضور ﷺ ترۀ محترم حضرت عباس رضي الله عنه د ځان سره عیدګاه ته بوتلو او هغوی ئې په منبر باندې کینول او په خپله هغوی سره برابر لاندې اودریدلو او د هغوی په وسیله سره ئې دعاء غوښتل شروع کړل، اللهم انا نتوسل اليك بعم نبيك، او تر ډیر وخته پورې دعاء غوښتله د منبر نه له راخکته شوې نۀ وو چه باران شروع شو، په حدیث الباب کښې دی چه، وجهر بالقراءة، دائمه اربعه مذهب هم دادې چه داستسقاء دپاره په مانځه کښې قراءت به جهرا وی.

[۱۱۶۲] ([1]) حَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، وَسُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ، قَالَا: أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، وَيُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي عَبَّادُ بْنُ تَمِيمٍ الْمَازِنِيُّ، أَنَّهُ سَمِعَ عَمَّهُ وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا يَسْتَسْقِي، فَحَوَّلَ إِلَى النَّاسِ ظَهْرَهُ يَدْعُو اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ". قَالَ سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ: "وَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ وَحَوَّلَ رِدَاءَهُ ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ". قَالَ ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ: "وَقَرَأَ فِيهِمَا". زَادَ ابْنُ السَّرْحِ: "يُرِيدُ الْجَهْرَ".

د تمیم المازني نه روایت ښشکه هغه اوریدلي دي د خپل تره نه، او هغه وو د صحابو د رسول الله ﷺ نه، ویل یي: راووتلو رسول الله ﷺ یوه ورځ چې طلب د باران یي کولو خلقو ته یي خپله شا وګرځوله الله یي رابللو. ویلي دي سلیمان بن داود: مخ یي کړو قبلې ته او تحویل د څادریي وکړو. بیایي دوه رکعاته مونځ وکړو. ویلي دي ابن ابي ذئب. او قراءت یي وکړو په هغې دواړو کې. زیادت کړی دی ابن السرح: چې اراده یي وه د جهر.

[1] انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۵۲۹۷) (صحيح)

تشریح: **قوله**: انه اسمع عمّه، د دوئ نوم عبدالله بن زید بن عاصم دې لکه چه وړاندې تیر شو، امام بخاری رحمه الله فرمائی چه سفیان بن عیینه ته دلته وهم شوې دې چه دا عبدالله بن زید صاحب آذان دې یعنی عبدالله بن زید بن عبدربه، حال دا دې چه داسې نۀ ده.

[۱۱۶۳](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَوْفٍ، قَالَ: قَرَأْتُ فِي كِتَابِ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ يَعْنِي الْحِمْصِيَّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَالِمٍ، عَنِ الزُّبَيْدِيِّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ مُسْلِمٍ، بِهَذَا الْحَدِيثِ بِإِسْنَادِهِ، لَمْ يَذْكُرِ الصَّلَاةَ، قَالَ: "وَحَوَّلَ رِدَاءَهُ فَجَعَلَ عِطَافَهُ الْأَيْمَنَ عَلَى عَاتِقِهِ الْأَيْسَرِ، وَجَعَلَ عِطَافَهُ الْأَيْسَرَ عَلَى عَاتِقِهِ الْأَيْمَنِ، ثُمَّ دَعَا اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ".

د محمد بن مسلم نه د دې حدیث روایت دی په خپل اسناد سره هغه نه دی ذکر کړی مونځ، هغه ویلي دي: او تحویل د څادرېي وکړو، وېي ګرځولو طرف د هغې د ښي طرف په خپل چپ طرف د غاړې، او وېي ګرځولو چپ طرف د خپلې په ښي طرف. بیايي دعاء وغوښتله د الله عز وجل نه.

تشریح: **قوله**: و حَوَّل ردائه و جعل عطافه الایمن علی عاتقه الایسر و جعل عطافه الایسر علی عاتقه الایمن، عطاف څادر ته وائی دلته ترینه مراد د څادر یو ګوټ دې.

د څادر اړولو طریقه:

مطلب دا دې چه د څادر اړول د حضور ﷺ نه په دې شان دی چه ښی لره په ګس او ګس لره په ښی یعنی د څادر چه کومه حصه په ښیٔ اوګه باندې وه هغهٔ ئې په ګس طرف باندې کړله او کومه حصه چه په ګسه اوګه باندې وه هغهٔ ئې په ښی طرف باندې کړله، په بذل کښې لیکلې دی چه دا هغه وخت ده کله چه څادر مدور یعنی ګول وی او که مربع یعنی څلور ګوټیز وی نو پورته طرف به ښکته او ښکته طرف به پورته کړی، او که قباء وی نو اپوته دې کړی یعنی بطانه یعنی دننه طرف دې ظهاره یعنی ښکاره کړی او ظهاره دې بطانه کړی یعنی د دننه حصه دې بهر کړی او د بهر حصه دې دننه کړی.

قوله، فلما ثقلت قلبها علی عاتقه، یعنی حضور ﷺ به د خپل څادر اړول په شروع کښې په دې شان سره ګول غوړنتل چه اعلی به ئې اسفل او اسفل به ئې اعلی کړو خو دا ترینه اونهٔ شول په دې کښې سختوالې پیدا شو نو بیا حضور ﷺ د تحویل رداء دا صورت اختیار کړو چه د څادر ښی طرف به ئې ګس او ګس به ئې ښي کړو.

[۱۱۶۴](٢) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ غَزِيَّةَ، عَنْ عَبَّادِ بْنِ تَمِيمٍ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ زَيْدٍ، قَالَ: "اسْتَسْقَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهِ خَمِيصَةٌ لَهُ سَوْدَاءُ، فَأَرَادَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَأْخُذَ بِأَسْفَلِهَا فَيَجْعَلَهُ أَعْلَاهَا، فَلَمَّا ثَقُلَتْ قَلَبَهَا عَلَى عَاتِقِهِ".

بېشکه عبدالله بن زید ویلي دي: طلب د اوبو وکړو رسول الله ﷺ په هغه یوه شړۍ وه توره، نو اراده وکړه رسول الله ﷺ چې ونیسي لاندې اړخ د هغې چې بره یې کړي، هرکله چې دا کار دروند شو نو تقلیب د څادرېي وکړو په خپله غاړه.

(١): انظر حدیث رقم: (١١٦١)، (تحفة الأشراف: ٥٢٩٧) (صحیح)
(٢): انظر حدیث رقم: (١١٦١)، (تحفة الأشراف: ٥٢٩٧) (صحیح)

بَابٌ فِي أَيِّ وَقْتٍ يُحَوِّلُ رِدَاءَهُ إِذَا اسْتَسْقَى

باب دی، کله به څادر اړوي کله چې طلب د باران کوي

[۱۱۶۶](۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ يَعْنِي ابْنَ بِلَالٍ، عَنْ يَحْيَى، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَبَّادِ بْنِ تَمِيمٍ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ زَيْدٍ أَخْبَرَهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "خَرَجَ إِلَى الْمُصَلَّى يَسْتَسْقِي، وَأَنَّهُ لَمَّا أَرَادَ أَنْ يَدْعُوَ اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ، ثُمَّ حَوَّلَ رِدَاءَهُ".

عباد بن تمیم نه روایت دی، بېشکه عبد الله بن زید ورته خبر ورکړی دی، بېشکه رسول الله ﷺ راووتلو مصلی ته طلب د باران یې کولو، او هغه چې کله اراده وکړه چې دعاء وکړي نو مخ یې واړولو قبلې ته، بیایې تحویل د څادر وکړو.

تشریح: قوله: عن عبّاد بن تمیم ان عبدالله بن زید، په دې روایت کښې د عباد د ترۀ د نوم تصریح مذکور ده په تیر شوی روایت کښې د نوم تصریح نهٔ وه، و انه لما اراد ان یدعو استقبل القبلة ثم حوّل ردائه.

د رداء د تحویل وخت او د صلوة استسقاء په کیفیت کښې د ائمه اختلاف:

د دې حدیث نه معلومیږی چه تحویل رداء حضور ﷺ د استقبال قبله نه پس کړې دې حال دا دې چه د حنفیانو په نیز تحویل رداء مقدم دې په استقبال قبله باندې ځکه چه د دوئ په نیز باندې د صلوة استسقاء طریقه دا ده چه اولاً دې دوه رکعته مونځ اوکړې شی د مانځه نه فارغ کیدو نه پس دې امام خلقو ته خطبه ورکړی او د خطبې په مینځ کښې دی تحویل رداء اوکړی او بیا خطبه پوره کیدو نه پس دې امام قبلې ته مخامخ اودریږی او دعاء دې اوغواړی، لهذا د دې حدیث توجیه دې دا اوکړې شی چه لفظ د ثمّ دلته د واؤ په معنی کښې واغستلې شی چه د ترتیب د مخالفت اشکال لرې شی، او د شافعیه په نیز باندې د صلوة استسقاء طریقه دا ده، (کما فی الانوار الساطعه) چه ړومبې دې دوه رکعته مونځ اوکړې شی د مانځه نه پس دې امام دوه خطبې خلقو ته واوروی په اولنۍ خطبه کښې دې دعاء داستسقاء اوکړی او بیا دې د دویمې خطبې په مینځ کښې استقبال قبله او تحویل رداء اوکړی او خپله خطبه دې پوره کړی او ځان دې فارغ کړی، د دې مذکوره کیفیت مقتضٰی دا ده چه دا حدیث دې د شوافعو هم خلاف اووئیلې شی ځکه چه په دې حدیث کښې دعاء استسقاء د استقبال قبله نه پس ده حال دا دې چه د شوافعو په نیز دعاء د استسقاء په اولنۍ خطبه کښې کیږی.

[۱۱۶۷](۲) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ، أَنَّهُ سَمِعَ عَبَّادَ بْنَ تَمِيمٍ، يَقُولُ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ زَيْدٍ الْمَازِنِيَّ، يَقُولُ: "خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْمُصَلَّى، فَاسْتَسْقَى وَحَوَّلَ رِدَاءَهُ حِينَ اسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ".

عباد بن تمیم ویلي دي، ما اوریدلي دي د عبد الله بن زید المازني نه هغه به ویل: راووتلو

(۱): انظر حدیث رقم: (۱۱۶۱)، (تحفة الأشراف: ۵۲۹۷) (صحیح)

(۲): انظر حدیث رقم: (۱۱۶۱)، (تحفة الأشراف: ۵۲۹۷) (صحیح)

رسول الله ﷺ مصلی طلب د باران يي وکړو، او تحويل د څادر يي وکړو کله چې يي قبلې ته مخ کړو.

[۱۱۶۵]()حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، وَعُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ نَحْوَهُ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ إِسْحَاقَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ كِنَانَةَ، قَالَ: أَخْبَرَنِي أَبِي، قَالَ: أَرْسَلَنِي الْوَلِيدُ بْنُ عُقْبَةَ، قَالَ عُثْمَانُ ابْنُ عُقْبَةَ: وَكَانَ أَمِيرَ الْمَدِينَةِ إِلَى ابْنِ عَبَّاسٍ أَسْأَلُهُ عَنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الِاسْتِسْقَاءِ، فَقَالَ: "خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَبَذِّلًا مُتَوَاضِعًا مُتَضَرِّعًا حَتَّى أَتَى الْمُصَلَّى، زَادَ عُثْمَانُ: فَرَقَى عَلَى الْمِنْبَرِ، ثُمَّ اتَّفَقَا، وَلَمْ يَخْطُبْ خُطَبَكُمْ هَذِهِ، وَلَكِنْ لَمْ يَزَلْ فِي الدُّعَاءِ وَالتَّضَرُّعِ وَالتَّكْبِيرِ، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ كَمَا يُصَلِّي فِي الْعِيدِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَالْإِخْبَارُ لِلنُّفَيْلِيِّ، وَالصَّوَابُ ابْنُ عُقْبَةَ.

ماته حديث بيان کړی دی هشام بن اسحاق بن عبد الله بن کنانة، هغه ويلي دي ماته خبر راکړی دی زما پلار، هغه وايي ولېږه مالره وليد بن عُتبه. ويلي دي عثمان بن عقبة: او هغه وو د مديني امير. ابن عباس ته، چې زه ترېنه تپوس وکړم د مانځه د رسول الله ﷺ په باره د اوبو غوښتلو کې، هغه وايي: راووتلو رسول الله ﷺ کمزورې حالت کې عاجزي کونکی او زاري کونکی، تردې چې مصلی ته راغی. عثمان دا زيادت کړی دی: منبر ته وختلو، بيا دواړو اتفاق کړی دی. او خطبه يي ونه ويله ستاسو د دې خطبې پشان، ليکن همېشه وو په دعاء او تضرع او تکبير ويلو کې، بيايي دوه رکعاته مونځ وکړو لکه څنګه چې مونځ کوه په اختر کې. ويلي دي ابوداود: او اخبار د نفيلي دي، او صواب ابنُ عقبة دی.

تشريح: قوله: خرج رسول الله صلی الله عليه وسلم متبذلاً..الخ، حضور ﷺ په ثياب بذله يعنی په ډېر معمولی او ساده لباس کښې راووتلو، زاد عثمان فرقی علی المنبر، د مصنف رحمه الله دوه استاذان دی په دې کښې يو دا زيادت ذکر کړې دې او د دويم استاذ نفيلی په روايت کښې دا زيادت نشته، د دينه په وړاندې باب کښې په حديث د حضرت عائشه رضي الله عنها کښې هم د منبر ذکر دې خو محدثينو په دې کښې کلام کړې دې، چنانچه راتلونکې حديث د عائشه رضي الله عنها په باره کښې مصنف فرمائيلې دی، هذا حديث غريب، هم دغه شان حافظ ابن القيم رحمه الله په زاد المعاد کښې د منبر ذکر کولو په ثبوت کښې دتردد اظهار کړې دې فرمائی، فی القلب منه شیء، بله دا چه د بخاری شريف په يو روايت کښې دی چه يو ځل عبد الله بن زيد انصاری د ډېرو صحابه کرامو په موجودګئ کښې صلوة استسقاء اوکړلو د روايت الفاظ دا دی، فاستسقی فقام لهم علی رجليه علی غير منبر، دغه شان په رواياتو کښې تصريح ده د دې خبرې چه د اختر د مانځه دپاره اخراج منبرنهٔ کيدو بلکه په دې کښې به خطبه په زمکه باندې په اودريدلو سره کيدله نو ځکه شراحو ليکلې دی چه که په اختر کښې منبر نهٔ وو نو په استسقاء کښې به طريقه اولی سره نهٔ دی پکار، ځکه په دې کښې خواظهار دتواضع او مسکنت ډېر وی. فلم يخطب خطبکم هذه، جمهور علماء په استسقاء کښې چونکه د خطبې قائل دی نو ځکه هغوی وائی چه په دې روايت کښې نفی د نفس خطبې نهٔ ده بلکه د نفی

[1]): سنن الترمذي/الصلاة ۲۷۸ (۵۵۸)، سنن النسائي/الاستسقاء ۳ (۱۵۰۷)، سنن ابن ماجه/إقامة ۱۵۳ (۱۲۶۶)، (تحفة الأشراف: ۵۳۵۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۲۳۰، ۲۶۹، ۳۵۵) (حسن)

تعلق د قيد سره دې نۀ د مقيد سره، يعنى ځنګه خطبه چه تاسو خلقو ورکوئ داسې خطبه به حضور ﷺ نۀ ورکوله، او امام صاحب چونکه په دې کښې د خطبې قائل نۀ دې لهذا د هغوی د طرف نه به اووئيلې شی چه اصل هم د خطبې نفی ده چنانچه د راتلونکی کلام نه د دې تائيد کيږی، و لکن لم يزل فى الدعاء والتضرع.

بَاب رَفْعِ الْيَدَيْنِ فِي الاِسْتِسْقَاءِ

باب دی په بيان د اوچتولو د لاسونو کې د باران په غوښتلو کې

يعنى د صلوة استسقاء نه پس رومبې خطبه وی خطبه پوره کيدو نه پس امام لره پکار دی چه په ولاړه باندې لاسونه پورته کړی او قبلې ته مخامخ دعاء اوکړی دا خو د حنفيانو په نيز دی او د شوافعو په نيز دعاء خو به د لاسوه پورته کولو سره وی، خو په خطبه اولی کښې به مستقبلا الى الناس وی و قد تقدم تفصيله.

[۱۱۶۸]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ الْمُرَادِيُّ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ حَيْوَةَ، وَعُمَرَ بْنِ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ الْهَادِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عُمَيْرٍ مَوْلَى بَنِي آبِي اللَّحْمِ، أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَسْتَسْقِي عِنْدَ أَحْجَارِ الزَّيْتِ قَرِيبًا مِنَ الزَّوْرَاءِ قَائِمًا يَدْعُو يَسْتَسْقِي رَافِعًا يَدَيْهِ قِبَلَ وَجْهِهِ لَا يُجَاوِزُ بِهِمَا رَأْسَهُ".

د مولى بني ابي اللحم نه روايت دی، بېشکه هغه رسول الله ﷺ ليدلی وو چې د بارن غوښتنه يې کوله د احجار الزيت په خوا کې، نزدې زوراء ته په ولاړه، دعايې کوله باران يې غوښتلو لاسونه يې اوچت کړي وو برابر د مخ، د سر نه يې نه وو تېر کړي.

(د ابی اللحم وجه تسميه)

تشريح: قوله: عن عمير مولى بنى آبى اللحم، آبى اللحم يو مشهور صحابى دی په جنګ احد کښې شهيد شوې وو د دوئ په نوم کښې اختلاف دې ګڼړ اقوال دې کوم چه په بذل کښې مذکور دی يو قول دا دې چه د دوئ نوم عبد الله بن عبدالملك دې،آبى اللحم دوئ ته ځکه وائی چه دوئ به غوښه نۀ خوړله، آبى د اسم فاعل صيغه ده انکار کونکې، او بعضې وائی چه دوئ د اسلام راوړلو نه وړاندې په حالت د کفر کښې هم چه کوم حيوان د غيرالله يعنى د بتانو په نوم باندې ذبح کړې کيدل هغۀ به ئې نۀ خوړل، دلته راوی عمير دې دا هم صحابى دې او د آبى اللحم آزاد کړې شوې غلام دې نو ځکه دوئ ته مولى بنى آبى اللحم وائی او دلته په روايت کښې مولى آبى اللحم مذکور دې دا د روستو په اعتبار سره دې اصلا دا مولى آبى اللحم دې خو ظاهر دا ده چه آبى اللحم د وفات نه پس د دۀ د ځامنو مولى وئيلې شى(بذل)

قوله: لا يجاوز بهما راسه، د راتلونکی روايت نه معلوميږی چه حضور ﷺ د استسقاء نه علاوه په بله کومه موقع باندې دعاء دپاره لاسونه نۀ دې پورته کړی، علماء د دې دا تاويل کړې دې چه مراد دا دې چه ځنګه مبالغې سره به حضور ﷺ رفع يدين په صلوة استسقاء کښې کول په بله کومه موقع به ئې داسې نۀ کول، معلومه شوه چه د سر په برابرئ باندې به ئې ايخودل نو ظاهره ده چه په دې کښې هم مبالغه فى الرفع ده، فلا تعارض بينه و بين ما قالوا فى تاويل الحديث.

---

(۱): تفرد به أبو داود (تحفة الأشراف: ۱۰۹۰۰)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الجمعة ٤٣ (٥٥٧)، مسند احمد (٢٢٣/٥) (صحيح)

[۱۱۶۹] (۱) حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي خَلَفٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ، حَدَّثَنَا مِسْعَرٌ، عَنْ يَزِيدَ الْفَقِيرِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَوَاكِي، فَقَالَ: "اللَّهُمَّ اسْقِنَا غَيْثًا مُغِيثًا مَرِيئًا نَافِعًا غَيْرَ ضَارٍّ عَاجِلًا غَيْرَ آجِلٍ"، قَالَ: فَأَطْبَقَتْ عَلَيْهِمُ السَّمَاءُ.

د جابر بن عبد الله نه روایت دی هغه وایي: راغله نبي ﷺ ته نفسونه ژړا والا، هغه وویل: ای الله خروب کړي مونږ په باران باندې فائده ورکونکی، ښه عافیت والا، د فائدې والا، نفع ورکونکی چې نقصان والا نه وي، په جلتۍ سره نه په تاخیر سره. هغه وایي: نو راجوخت شو په دوی اسمان (یعني باران عام شو).

شرح حدیث:

قوله: اتت النبی صلی الله علیه وسلم بواکی: بواکی د باکیة جمع ده یعني نفوس باکیه، بعض ژړا کونکی سړي یا مراد ترینه ښځې ژړا کونکې دي یعني څه ښځې او ماشومان ژړا کونکې د حضور ﷺ په خدمت کښې راغلل(د قحط سالۍ نه پریشانه وو) او په بعضې نسخو کښې داسې دی چه، رایت النبی صلی الله علیه وسلم یواکی، د مضارع په صیغه سره یعنی یعتمد، مراد په لاس پورته کولو سره دعاء غوښتل دي.

(د بعضې الفاظو لغوی تحقیق)

قوله: اللهم اسقنا(۲): دا په مجرد کښې د باب ضرب نه راځي، دلته مجرد هم کیدې شی او د باب افعال نه په همزه قطعی سره هم احتمال شته ، یا الله مونږ له داسې باران راکړه چه زمونږ دپاره معین او فریاد رس ثابت شی، مریئا، ښائسته او ښه انجام واله، مریعا، دا په فتح د میم او ضمې دواړو سره لوستلې شوې دې یعنی شنکې رازرغونکې، د مراعة نه ماخوذ دې چه معنی ئې شینکې ده، د فتحې په صورت کښې به دمجرد نه وي، مرع مراعة، شین کیدل، او د ضمې په صورت کښې به د باب افعال نه أراع یُریع اراعة، هم دغه شان وئیلې شوې دی چه دا لفظ مربعا په باء موحده سره دې په دې صورت کښې به دا ماخوذ وی د ربیع نه، فاطبقت علیهم السماء، سمدستی په مدینې والو باندې وریځ خوره شوه.

[۱۱۷۰] (۳) حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، أَخْبَرَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا سَعِيدٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ لَا يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي شَيْءٍ مِنَ الدُّعَاءِ إِلَّا فِي الِاسْتِسْقَاءِ، فَإِنَّهُ كَانَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ حَتَّى يُرَى بَيَاضُ إِبْطَيْهِ".

د انس رضی الله عنه نه روایت دی بېشکه نبي ﷺ وو چې نه به یې اوچتول خپل دواړه لاسونه په هېڅ دعاء کې مګر په استسقاء کې، بېشکه هغه به اوچتول دواړه لاسونه تردې چې د

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۳۱٤۱) (صحیح)

(۲) د استسقاء دعاء یو خو دا ده، اللهم اسقنا غیثا مغیثا مریئا مریعا نافعا غیر ضار عاجلا غیر آجل، دویمه دعاء وړاندې راروانه ده، اللهم اسق عبادت و بهائمك وانشر رحمتك و احي بلدك المیّت، ۱۲_

(۳): صحیح البخاري/الاستسقاء ۲۲ (۱۰۳۱)، والمناقب ۲۳ (۳۵٦۵)، والدعوات ۲۳ (٦۳٤۱)، صحیح مسلم/الاستسقاء ۱ (۸۹۵)، سنن النسائي/الاستسقاء ۹ (۱۵۱۲)، وقیام اللیل ۵۲ (۱۷٤۹)، سنن ابن ماجه/إقامة ۱۱۸ (۱۱۸۰)، (تحفة الأشراف: ۱۱٦۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۸۱/۳، ۲۸۲)، سنن الدارمي/الصلاة ۱۸۹ (۱۵٤۳) (صحیح)

تخرګونو سپینوالی به یې ولیدل شو.

قوله: كان لا يرفع يديه الا في الاستسقاء، دا نفي يا خو د خپل علم په اعتبار سره کوی ګینی په رفع یدین سره د حضور ﷺ دعاء غوغتل په نورو مواقع باندې هم ثابت دی، او یا به دا اووئیلې شی چه نفس رفع نفی مقصود نهٔ ده بلکه دمبالغه في الرفع نفی مراد ده په دې باندې کلام وړاندې تیر شوې دې.

[۱۱۷۱]( ) حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدٍ الزَّعْفَرَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَفَّانُ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا ثَابِتٌ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يَسْتَسْقِي هَكَذَا، يَعْنِي، وَمَدَّ يَدَيْهِ وَجَعَلَ بُطُونَهُمَا مِمَّا يَلِي الْأَرْضَ حَتَّى رَأَيْتُ بَيَاضَ إِبِطَيْهِ"

د انس ﷺ نه روایت دی، بېشکه نبي ﷺ وو چې طلب د باران یې کولو داسې. یعني. اوږده یې کړل دواړه لاسونه او ویې ګرځولې خېټې د دواړو ځمکې طرف ته، تردې چې ما ولیدلو سپینوالی د تخرګونو د هغه.

قوله: و جعل بطونهما مما يلي الارض، یعنی د دعاء په وخت کښې ئې لاسونه اپوته کړل دا تفاؤلا د قلب حال طرف ته اشاره ده، د شوافعو په کتابونو کښې دا هم لیکلي دی چه د دعاء په وخت کښې دې لاسونه اپوته پورته کړې شی نو په دې صورت کښې به دا د تحویل رداء د قبیلې نه شی او د بعضو شراحو رائې دا ده چه دا حدیث په خپل ظاهر باندې نهٔ دې د لاسونه اپوته کول مراد نهٔ دی بلکه د راوی غرض مبالغه في الرفع لره بیانول دی چه حضور ﷺ به په دعاء کښې د لاسونه دومره پورته کړل چه د سر طرف ته د ښکته کیدو د وجه نه به د لاسونو شاه اړخ د آسمان طرف ته شول.

[۱۱۷۲](۱) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَبْدِ رَبِّهِ بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، أَخْبَرَنِي مَنْ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْعُو عِنْدَ أَحْجَارِ الزَّيْتِ بَاسِطًا كَفَّيْهِ".

د محمد بن مروان نه روایت دی هغه وایي ماته خبر راکړې دی هغه چا چې نبي ﷺ یې لیدلی دی دعایې کوله داحجاز الزیت په خواکې چې خواره کړي یې وو خپل دواړه لاسونه.

[۱۱۷۳](۲) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ سَعِيدٍ الْأَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ نِزَارٍ، حَدَّثَنِي الْقَاسِمُ بْنُ مَبْرُورٍ، عَنْ يُونُسَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: شَكَا النَّاسُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُحُوطَ الْمَطَرِ، فَأَمَرَ بِمِنْبَرٍ فَوُضِعَ لَهُ فِي الْمُصَلَّى، وَوَعَدَ النَّاسَ يَوْمًا يَخْرُجُونَ فِيهِ، قَالَتْ عَائِشَةُ: فَخَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ بَدَا حَاجِبُ الشَّمْسِ، فَقَعَدَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَكَبَّرَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَحَمِدَ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ، ثُمَّ قَالَ: "إِنَّكُمْ شَكَوْتُمْ جَدْبَ دِيَارِكُمْ وَاسْتِئْخَارَ الْمَطَرِ عَنْ إِبَّانِ زَمَانِهِ عَنْكُمْ، وَقَدْ أَمَرَكُمُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ أَنْ تَدْعُوهُ وَوَعَدَكُمْ أَنْ يَسْتَجِيبَ لَكُمْ، ثُمَّ قَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ مَلِكِ يَوْمِ الدِّينِ. لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ، اللَّهُمَّ أَنْتَ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ الْغَنِيُّ وَنَحْنُ الْفُقَرَاءُ أَنْزِلْ عَلَيْنَا الْغَيْثَ، وَاجْعَلْ مَا أَنْزَلْتَ لَنَا قُوَّةً وَبَلَاغًا إِلَى حِينٍ"، ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ فَلَمْ يَزَلْ فِي الرَّفْعِ حَتَّى بَدَا بَيَاضُ إِبِطَيْهِ، ثُمَّ حَوَّلَ إِلَى النَّاسِ ظَهْرَهُ وَقَلَبَ، أَوْ حَوَّلَ رِدَاءَهُ، وَهُوَ رَافِعٌ يَدَيْهِ، ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ، وَنَزَلَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ، فَأَنْشَأَ اللَّهُ سَحَابَةً فَرَعَدَتْ وَبَرَقَتْ، ثُمَّ أَمْطَرَتْ بِإِذْنِ اللَّهِ،

---

۱): صحیح مسلم/الاستسقاء ۱ (۸۹٦)، (تحفة الأشراف: ۳۲۳)، وقد أخرجه: (۱۵۳/۳، ۲٤۱) (صحیح)

۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۰۹۰۰) (صحیح)

۳): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۷۳٤۰) (حسن)

فَلَمْ يَأْتِ مَسْجِدَهُ حَتَّى سَالَتِ السُّيُولُ، فَلَمَّا رَأَى سُرْعَتَهُمْ إِلَى الْكِنِّ ضَحِكَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ، فَقَالَ: "أَشْهَدُ أَنَّ اللَّهَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، وَأَنِّي عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ إِسْنَادُهُ جَيِّدٌ، أَهْلُ الْمَدِينَةِ يَقْرَءُونَ: مَلِكِ يَوْمِ الدِّينِ. وَإِنَّ هَذَا الْحَدِيثَ حُجَّةٌ لَهُمْ.

د عائشي رضي الله عنها نه روایت دی هغې ویلي دي: شکایت وکړو خلقو رسول الله ﷺ ته د بندیدلو د باران، نو امریي وکړو په یو منبر، نو هغه ورله په مصلی کې کېښودلی شو، او وعده یې وکړه د خلقو سره یوه ورځ چې راوځي به په هغې کې، عائشي وویله: نو ووتلو رسول الله ﷺ کله چې ښکاره شوه سترګه د نمر، نو کېناستلو په منبر، تکبیر وویله پیغمبر ﷺ، او د الله حمد یي وویله، بیایي وویل: تاسو شکایت وکړو د قحط د کورونو ستاسو، او د وروستوالي د باران نه د خپل وخت نه، او بېشکه الله امر کړی دی تاسو ته چې هغه راوبلئ، او تاسو سره یې وعده کړې ده چې ستاسو اجابت وکړي. بیایي وویل: ټول حمدونه الله لره دي چې رب د مخلوقاتو دی رحمن او رحیم دی مالک د ورځې د قیامت دی، نشته لائق د عبادت مګر هم هغه دی، کوي هغه چې هغه یې وغواړي، ای الله ته الله یې، نشته لائق د عبادت مګر ته غني یې او مونږ فقیران یو، نازل کړې په مونږ باندې باران، او وګرځوې هغه څه چې ته نازل کړې دی طاقت او رسونکی زمونږ مقصود ته تر یو وخت پورې، بیایي لاسونه اوچت کړل، همیشه وو په اوچتوالي کې تردې چې ښکاره شو سپینوالی د تخرږونو د هغه، بیایي خلقو ته شا وګرځوله، او څادریي واړولو، او د هغه لاسونه اوچت وو، بیا مخامخ شو خلقو ته او راکخته شو، دوه رکعاته مونځ یې وکړو، نو الله پیدا کړه وریځ نو غړومبښت او برېښنایي وکړه، بیایي باران وکړو د الله په آذن باندې، هغه لا خپل مسجد ته نه وو راغلی چې سیلابونه روان شول، هرکله چې یې د دوی سرعت ولیدلو خپلو کورونو ته نو وخندل نبي ﷺ، تردې چې غاښونه یې ښکاره شول، نو هغه وویل: زه ګواهي کوم چې الله پاک په هر شي باندې قدرت والا دی، او زه د الله بنده او رسول یم. ویلي دي ابوداود: او دا حدیث غریب دی، اسناد یې جید دی، د مدیني والا قراءت کوي مَلِک یوم الدین، او دا حدیث د هغوی حجت دی.

قوله: فامر بمنبر فوضع له فی المصلی، په دې باندې کلام زمونږ په نیز وړاندې تیر شوې دې،

قوله، انکم شکوتم جدب دیارکم و استیخار المطر عن ابان زمانه عنکم، تاسو ماته د خشک سالئ او د قحط سالئ شکایت کړې او د باران د روستو کیدو د دې د وخت نه، یعنی کوم وخت چه باران وریدل پکار وو هغه وخت اونه وریدلو او نور روستو کیږي،

قوله، ثم اقبل علی الناس و نزل فصلی رکعتین،

فی الحدیث تقدیم الخطبة علی الصلوة:

په دې حدیث کښې د مونځ ذکر د خطبې نه پس دې او خطبه مقدم ده کوم چه د ټولو روایاتونو او مذاهبو نه خلاف دې، جواب دا دې چه دا حدیث غریب دې کما سیاتی قریبا فی المتن، دغه شان په دې حدیث کښې اخراج دمنبر هم مذکور دې حال دا دې چه هغه هم ثابت نه دې لکه څنګه چه وړاندې تیر شو.

[۱۱۷۴] (۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، وَيُونُسَ بْنِ عُبَيْدٍ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: أَصَابَ أَهْلَ الْمَدِينَةِ قَحْطٌ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَبَيْنَمَا هُوَ يَخْطُبُنَا يَوْمَ جُمُعَةٍ إِذْ قَامَ رَجُلٌ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، هَلَكَ الْكُرَاعُ، هَلَكَ الشَّاءُ، فَادْعُ اللَّهَ أَنْ يَسْقِيَنَا" فَمَدَّ يَدَيْهِ وَدَعَا". قَالَ أَنَسٌ: وَإِنَّ السَّمَاءَ لَمِثْلُ الزُّجَاجَةِ فَهَاجَتْ رِيحٌ، ثُمَّ أَنْشَأَتْ سَحَابَةً، ثُمَّ اجْتَمَعَتْ، ثُمَّ أَرْسَلَتِ السَّمَاءُ عَزَالِيَهَا فَخَرَجْنَا نَخُوضُ الْمَاءَ حَتَّى أَتَيْنَا مَنَازِلَنَا فَلَمْ يَزَلِ الْمَطَرُ إِلَى الْجُمُعَةِ الْأُخْرَى، فَقَامَ إِلَيْهِ ذَلِكَ الرَّجُلُ أَوْ غَيْرُهُ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، تَهَدَّمَتِ الْبُيُوتُ فَادْعُ اللَّهَ أَنْ يَحْبِسَهُ، فَتَبَسَّمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ قَالَ: "حَوَالَيْنَا وَلَا عَلَيْنَا" فَنَظَرْتُ إِلَى السَّحَابِ يَتَصَدَّعُ حَوْلَ الْمَدِينَةِ كَأَنَّهُ إِكْلِيلٌ.

د انس ﷺ نه روایت دی هغه ویلي دي: ورسیده د مدیني والاو ته قحط په زمانه د رسول الله ﷺ کې، هغه یو ځل مونږ ته خطبه ویله د جمعي په ورځ، ناڅاپه یو سړی پاڅیدلو، ویې ویل: ای د الله رسوله! هلاک شو بهائم، هلاکي شوې ګډې، دعاء وغواړه د الله نه چې باران وکړي په مونږ، نو لاسونه یې اوږده کړل او دعایې وغوښته، وایې انس: اسمان په شان د شیشې وو، باد راوالوته، بیایې وریځ جوړه کړه، بیا راجمعه شوه، بیا ر اپرانستې اسمان خولې، مونږ ووتلو داخل شو اوبو کې، تردې چې کورونو ته راغلو، همیشه وو باران تر بلې جمعې پورې، نو دغه سړی پاڅیدلو او یا بل، هغه وویل: ای د الله رسوله! کورونه وران شول، د الله نه دعاء وغواړه چې بندیې کړي، نو تبسم وکړو رسول الله ﷺ بیایې وویل: ګرد چاپیره زمونږ نه نه په مونږ. نو ما وکتل وریځ ته چې چاودله ګرد چاپیره د مدینې نه ګویا کې هغه تاج دی.

قوله: حدثنا مسدد..الخ، دا هغه حدیث دې کوم چه په بخاری او مسلم کښې هم شته.

مضمون حدیث:

یو ځل حضور ﷺ د جمعې خطبه ورکوله دغه وخت یو سړی د حضور ﷺ په خدمت کښې د قحط سالۍ شکایت اوکړو نو حضور ﷺ دغه وخت د خطبې په مینځ کښې دعاء دپاره لاسونه پورته کړل، نو ځکه امام بخاری رحمه الله په دې باندې ترجمه قائمه کړې ده، باب الاستسقاء فی خطبة الجمعة، او بیا لاس په لاس په شیبو شیبو باران وریدل شروع شو او تر راتلونکې جمعې پورې پرله پسې وریدو، ورپسې جمعه کښې بیا هم داسې د خطبې په دوران کښې دغه سړی یا بل یو سړی د باران د ډیروالی شکایت اوکړو نو په دې باندې حضور ﷺ اوخندل د خلقو په حالت د سرعت انقلاب یعنی زر حالت بدلیدلو باندې چه اول د باران نه کیدو د وجه نه پریشانه وو او اوس د ډیروالی د وجه نه ویریږی، وان السماء لمثل الزجاجة، یعنی آسمان د وړاندې نه زیات صفا وو لکه څنګه چه شیشه وی د نوم دپاره هم وریځ نۀ وه چنانچه سمدستی هوا اوچلیدله او هغې وریځې راښکاره کړې ډیره وریځ جمع شوه، ثم ارسلت السماء عزالیها، بس بیا څۀ وو! بیا خو آسمان خپلې خولې پرانستلې، عزالی د عزلاء

۱): صحیح البخاري/الجمعة ۳٤ (۹۳۲)، الاستسقاء ٦ (۱۰۱۳)، ۷ (۱۰۱٤)، ۸ (۱۰۱۵)، ۹ (۱۰۱٦)، ۱۰ (۱۰۱۷)، ۱۱ (۱۰۱۸)، ۱۲ (۱۰۱۹)، ۱٤ (۱۰۲۱)، ۲۱ (۱۰۲۹)، ۲٤ (۱۰۳۳)، المناقب ۲۵ (۳۵۸۲)، (تحفة الأشراف: ٤۹۳)، وقد أخرجه: الاستسقاء ۱ (۸۹۷)، ۲ (۸۹۷)، سنن النسائي/الاستسقاء ۱ (۱۵۰۳) ۱۰، مسند احمد (۱۰٤/۳، ۱۸۲، ۱۹٤، ۲٤۵، ۲٦۱، ۲۷۱) (صحیح)

جمع ده د مشکيزې خولې ته وائی، قوله، ثم قال حوا الينا و لا علينا، داد حضور ﷺ کمال ادب دې او د باران د نعمت پوره پوره قدرداني ده، حضور ﷺ دا او نه فرمائيل چه، اللهم احبس المطر عنا، چه زمونږ نه باران بند کړه په دې کښې د الله تعالى د نعمت نه سترې کيدل موندلې کيږي، او يو د نعمت ناقدري ده نو ځکه دا ئې اوفرمائيل يا الله د دې باران رخ بدل کړه کوم ځائې کښې چه د دې ضرورت وی هلته ئې منتقل کړه مونږ د دې نعمت نه مارۀ شو.

قوله، فنظرت الى السحاب يتصدع حول المدينة كانه اكليل، راوی وائی چه د حضور ﷺ د دعا نه پس تولې وريځې د مدينې د آبادئ نه راغونډې شوې او څلورو وارو طرف پورته خکښته داسې راجمع شوې چه دهغې نه داسې يو شکل جوړ شو لکه څنګه چه د سر دپاسه تاج وی.

[۱۱۷۵]([1]) حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ حَمَّادٍ، أَخْبَرَنَا اللَّيْثُ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ شَرِيكِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي نَمِرٍ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّهُ سَمِعَهُ، يَقُولُ: فَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيثِ عَبْدِ الْعَزِيزِ، قَالَ: فَرَفَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَيْهِ بِحِذَاءِ وَجْهِهِ، فَقَالَ: "اللَّهُمَّ اسْقِنَا" وَسَاقَ نَحْوَهُ.

د انس رضی الله عنه نه روايت دی، هغه اوريدلی دي د هغه نه چې ويل به يې: نو ذکر يې کړو پشان د حديث د عبد العزيز، هغه ويلي دي: نو اوچت کړل رسول الله ﷺ خپل لاسونه برابر د مخ، ويې ويل: ای الله مونږ باندې باران وکړې. او بيان يې کړو په شان د هغې.

[۱۱۷۶]([2]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ. ح حَدَّثَنَا سَهْلُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ قَادِمٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَسْقَى، قَالَ: "اللَّهُمَّ اسْقِ عِبَادَكَ وَبَهَائِمَكَ، وَانْشُرْ رَحْمَتَكَ، وَأَحْيِ بَلَدَكَ الْمَيِّتَ". هَذَا لَفْظُ حَدِيثِ مَالِكٍ.

د عمرو بن شعيب نه عن ابيه عن جده نه روايت دی، هغه ويلي دي: وو رسول الله ﷺ، کله چې به يې باران غوښتلو، ويل به يې: ای الله خړوبه کړې بندګان ستا، او چارپايان ستا، او خور کړې رحمت ستا، او ژوندی کړې ستا مړ ښار. دا لفظ د حديث د مالک دی.

بَابُ صَلَاةِ الْكُسُوفِ

باب دی په بيان د مونځ د کسوف کې

ابحاث ثمانيه:

دلته يو څو بحثونه دی، ۱. معناه لغة والفرق بينه و بين الخسوف، ۲. حكم صلوة الكسوف، ۳. متى وجد الكسوف فى زمنه صلى الله عليه وسلم و هل فيه تعدد، ۴. د صلوة الكسوف طريقه او په تعدد د رکوع کښې اختلاف، ۵. دفع التعارض بين تلك الروايات، ۶. وقت صلوة الكسوف، ۷. هل فيها خطبة ام لا، ۸. هل فى خسوف القمر صلوة ام لا،

[1]: صحيح البخاري/الاستسقاء ٦ (١٠١٣)، ٧ (١٠١٤)، ٩ (١٠١٦)، ١٠ (١٠١٧)، صحيح مسلم/الاستسقاء ١ (٨٩٧)، سنن النسائي/الاستسقاء ١ (١٥٠٥)، (تحفة الأشراف: ٩٠٦) (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٨٨١٦)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الاستسقاء عن عمرو بن شعيب مرسلاً ٢ (٣) (حسن)

بحث اول: (د کسوف لغوي معنی او په کسوف اوخسوف کښې فرق)

د کسوف معنی ده تغير الى سواد يعنى توروالى ته مائله كيدل، بي نوره كيدل، مشهور عند الفقهاء دا ده چه كسوف خاص دې تر نمر پورې او خسوف تر سپوږمۍ پورې خو توسعا د يو استعمال په بل كښې كيږي، و قيل بالعكس[1]، يعنى كسوف د قمر دپاره دې او خسوف د نمر دپاره خو دا غلطه ده ځكه چه په قرآن كښې د خسوف استعمال د قمر دپاره شوې دې، فاذا برق البصر و خسف القمر، الآيه.(قاله العينى)

بحث ثاني: (د کسوف د مونځ حکم)

د كسوف په وخت كښې باجماعت مونځ كول متفق عليه مسئله ده په استسقاء كښې اگر چه اختلاف دې، كما تقدم، او دا مونځ د ائمه اربعه په نيز سنت مؤكده دې، او او ما په بعضې كتابونو د مالكيه كښې ليدلي دى هغوى ليكى چه عين سنت دې او وئيلي شوې دى چه سنت كفايه دې، او بعضې شافعيه لكه ابن خزيمه او هم داسې دبعضې حنفيانو نه وجوب منقول دى.

بحث ثالث: (په دور نبوی ﷺ کښې د کسوف واقعه)

ملاعلى قاري رحمه الله ليكلي دى چه ړومبې ځل د حضور ﷺ په زمانه كښې كسوف په پنځم كال د هجرت كښې موندلي شوې وو او د امام نووى او ابن الجوزى رحمهما الله د پنځم كال په ځائې شپږم كال د هجرت ليكلي دې، او په دويم ځل باندې د دې وقوع كوم چه د صحاح په ټولو روايتونو كښې مشهور او معروف ده هغه ورځ ده په كومه ورځ چه د حضور ﷺ د ځوئى ابراهيم انتقال شوې وو كوم چه د مشهور قول په بناء باندې په لسم كال د هجرت كښې پيښه شوې وه اگر كه د نهم كال هم يو قول دې او د وقوع تاريخ هم لسم وو په مياشت كښې اختلاف دې، ربيع الاول يا رمضان دغه وخت د دوئ عمر څۀ وو؟ وئيلي شوې دى چه د شپاړس مياشتو په عمر كښې او وئيلي شوې دى چه د اتلسو مياشتو په عمر كښې، او ولادت ئې د ذى الحجه په اتم كال د هجرت كښې وو.

بيا پوهيدل پكار دى چه په كلي طور باندې په دې كښې د علماء اختلاف دې چه د حضور ﷺ په زمانه كښې په كسوف او صلوة كسوف كښې تعدد شوې وو يا نۀ؟ يو جماعت امام احمد رحمه الله او بخاري او بيهقى وغيره د عدم تعدد قائل دى، او يو بل جماعت اسحاق بن

---

[1] په مسلم شريف كښې زهرى روايت كوى د عروه نه چه هغوى اوفرمائيل، لا تقل كسفت الشمس ولكن قل خسفت، خو دا خلاف مشهور دې اگر كه يو قول دا هم دې چه عروه كوم وائى چه خسوف تر نمر پورې خاص دې ممكنه ده د عروه رائې هم دا وى خو د حضرت گنگوهى په تقرير مسلم كوم چه د الحل المفهم په نوم سره چاپ شوې دې په دې كښې حضرت د عروه د كلام دا توجيه كړې ده چه د زهرى اصل روايت كوم چه د عروه نه وو هغه په لفظ د خسف الشمس دې خو زهرى په وخت د روايت كښې په ځائې د خسفت سره كسفت الشمس نقل كړې دې، عروه چه كله دا واوريدل نو په زهرى باندې ئې رد اوكړو چه څنگه تا زمانه دا روايت اوريدلي دې هم هغه شان ئې روايت كوه، تا ته په دې كښې د تغير كولو څۀ اختيار نشته دې او د دوئ دا مراد نۀ وو چه د كسوف استعمال په نمر كښې نۀ كيږي، والله تعالى اعلم بالصواب.

راهویه، ابن خزیمه، خطابی، ابن الجوزی د تعدد قائل دی.

بحث رابع: (د صلوة الکسوف طریقه)

د صلوة الکسوف طریقه د حنفیانو په نیز باندې هم هغه ده کومه چه د نورو مونځونو ده قراءت طویله یعنی اوږد قراءت سره صرف دوه رکعت کول پکار دی، قراءت به سرا وی یا جهرا دا مسئله مختلف فیه ده، جمهور علماء او دائمه ثلاثه په نیز باندې سرا به وی، دامام احمد او صاحبینو په نیز جهرا، په خلاف د صلوة استسقاء نه چه په هغې کښې قراءت په اتفاق سره جهرا به وی، هم دغه شان په صلوة الکسوف کښې تکبیرات زوائد په اتفاق سره نشته دې په خلاف د صلوة استسقاء نه چه په دې کښې اختلاف دې دغه شان د جمهورو په نیزپه دې کښې خطبه نشته دې پخلاف دامام شافعی نه چه هغه په دې کښې دخطبې قائل دی.

او د جمهورو علماؤ او ائمه ثلاثه په نیز د صلوة الکسوف طریقه د نورو مونځونو نه بالکل مختلف ده د دوئ په نیز باندې صلوة الکسوف کښې دوه رکعته دی او په هر رکعت کښې دوه رکوع او دوه قیام دی یوه رکوع به اوکړی او بیا به قیام ته واپس شی او دویم قیام نه پس به بیا دویمه رکوع اوکړی، سجود او تشهد وغیره هم د نورو مونځونو پشان دی.

روایات د حدیثو د تعدد د رکوع او قیام په باره کښې ډیر مختلف دی د صحاح په کتابونو کښې د یو رکوع روایات هم موجود دی او د دوو رکوع نه واخله تر پنځو رکوع پورې هم شته دې، د دې روایاتو نه امام بخاری رحمه الله صرف د رکوعین روایات اخستې دی، او امام مسلم په صحیح مسلم کښې د رکوعین او دریو او څلورو رکوع واله روایات هم اغستې دی، او امام ابوداؤد په دې باندې زیاتی د پنځو رکوع واله روایت هم اغستې دې، خو ائمه ثلاثه په دې روایاتو کښې صرف د رکوعین واله روایات غوره کړې دی او باقی ئې ترک کړې دی، او حنفیان دا وائی چه څنګه تاسو د دوو نه زیات رکوع واله روایات ترک کړې دی نو مونږ وایو چه د یو نه زیات یعنی د دوو رکوع واله روایات هم ترک کول پکار دی، څکه چه مشهور دا ده چه، اذا تعارض تساقط، لهذا درکوع واحد واله احادیث کوم چه د قیاس او اصل مطابق دی هم دې لره اختیار کړې شی نو څکه اقل متیقن هم هغه دې او د یو رکوع نه زیات واله روایات مشکوک دی.

بحث خامس: (دفع تعارض بین الروایات)

اوس په دې روایات متعارضه کښې د تطبیق او دفع د تعارض شکل څهٔ دې؟ په دې کښې د علماؤ دوه جماعته دی، یو جماعت هغه دې کوم چه د حضور ﷺ په زمانه کښې د تعدد کسوف قائل دی او دویم جماعت د عدم تعدد دې، کوم حضرات چه د تعدد قائل دی هغوی دا وائی چه دا اختلاف المباح د قبیلې نه دې یعنی په هر شان سره جائز او مباح دې، حضور ﷺ دې مونځ لره کله داسې کړې وو او کله هغه شان.

او کوم حضرات چه د تعدد قائل نهٔ دی هغوی د دفع تعارض دپاره د ترجیح طریقه اختیاره کړې ده او د رکوعین واله روایات ئې راجح او باقی ټول روایات ئې معلل او وهم ګرځولې دی، او د احنافو علماؤ رکوع واحد لره ترجیح ورکوی څکه اول خو دا د قیاسي او اصل

مطابق دی او دویم دا چه په صلوة الکسوف کښې روایات دوه قسمه دی فعلیه او قولیه، په فعلیه کښې خو ډیر اختلاف دې او قولی روایات د تعارض نه سالم دی د دېنه صرف هم د رکوع واحد ثبوت کیږی، د دې روایاتو نشاندهی به مونږ انشاء الله وړاندې کوو لهذا د نورو مونځونو پشان په دې کښې به هم یوه رکوع وی.

د تعدد درکوع واله روایاتو توجیه خو زمونږ د مشائخو نه داسې منقول ده چه حضور ﷺ به په دې مانځه کښې د عجائب او غرائب مشاهده فرمائیله او د عالم آخرت بعضې مناظر هم حضور ﷺ ته اوخودلې شو، د جنت نعمتونه او د جهنم بلاګانې او مصیبتونه، دغه شان کله کله به حضور ﷺ دعاء غوښتله او کله به ئې پناه غوښتله، او کله به حضور ﷺ د مانځه په حالت کښې وړاندې طرف ته قدم وړاندې کړو د جنت د اونو غونچې نیولو دپاره، او کله به ئې د جهنم د نیولو نه ځان ساتلو دپاره روستو لرې کیدلو، او د دې ټولو خبرو باوجود قراءت او قیام به دومره اوږد وو چه د معمول نه بالکل خلاف دې، نو ځکه بعضې بعضې صحابه کرامو ته به کله کله د حضور ﷺ دعا غوښتلو یا پناه غوښتلو د وجه دا شبه اوشوه چه شاید حضور ﷺ رکوع ته ځی بیا به ورته علم اوشو چه نهٔ دی تلې لهذا اوبدریدل او چونکه د قیام مقدار ډیر اوږد وو نو ځکه مختلفو خلقو ته څو ځله دا نوبت راپیښ شو، نو وجه دا شوه چه په اصل کښې په تعدد د رکوع کښې د داسې خبرې پیښیدل څهٔ لرې خبره نهٔ ده، اوس زمونږ په زمانه کښې هم په کوم جماعت کښې چه ګڼړه او د خلقو ډیروالې وی مثلاً داخترپه مونځ کښې په عیدګاه کښې دداسې قسمه غلط فهمی نوبت راځی.

بحث سادس: (د صلوة کسوف وخت)

د حنفیه او حنابله په نیز د مکروه وخت نه علاوه کښې کولې شی او د امام شافعی په نیز مطلقا په هروخت کښې کولې شی، او د امام مالك په نیز د صلوة الکسوف وخت هم هغه دې کوم چه د اختر د مونځ وخت دې.

بحث سابع: ایا په صلوة کسوف کښې خطبه شته؟)

امام شافعی په دې کښې د خطبې قائل دې په خلاف د جمهورو نه، امام بخاری رحمه الله په دې باندې یو مستقل باب قائم کړې دې، باب خطبة الامام فی الکسوف، جمهور دا وائی چه د کسوف په موقع باندې حضور ﷺ د مونځ قائمولو او تکبیر او د صدقې حکم ورکړې وو او د خطبې حضور ﷺ امر نهٔ وو فرمائیلې او حضور ﷺ اګر که د مانځه نه پس خطبه ورکړې وه خو هغه خطبه معروفه نهٔ وه بلکه هغه یو مخصوص خبرداري وو کوم چه هغه وخت سره مناسب وو ځکه چه په هغهٔ زمانه د جاهلیت کښې خلقو دا ګڼړله چه کسوف شمس یعنی نمر تندر نیولٌ هغه وخت کیږی کله چه پیښه یا نوې خبره راپیښه شی په کومه ورځ چه په مدینه کښې کسوف شمس شوې وو هم په دغه ورځ د حضور ﷺ د ځوئی د وفات قصه راپیښه شوې وه په کومې سره چه د دې خلقو د خیال تائید کیدې شو نو ځکه حضور ﷺ دې خاص موضوع سره متعلق ارشاد فرمائیلې وو، لهذا دې ته د صلوة الکسوف خطبه نهٔ شی وئیلې کیدې.

بحث ثامن: (ایا په کسوف قمر کښې هم مونځ دې؟)

امام بخاری په دې باندې مستقل باب قائم کړې دې، باب الصلوة فی خسوف القمر، خو د دې د لاندې چه امام بخاری رحمه الله کوم حدیث رااوړې دې په هغې کښې صرف د کسوف شمس ذکر دې د خسوف قمر نشته، بعضې شارحینو خو دا وئیلې دی چه د دې حدیث په بعضې طرق کښې د خسوف قمر ذکر دې امام بخاری هغې طرف ته اشاره کړې ده، او بعضې دا وائی چه امام بخاری په خسوف قمر کښې مونځ لره په قیاس سره ثابت کول غواړی چه څنګه په کسوف کښې مونځ شته هم دغه شان په خسوف کښې هم شته.

د حنفیانو په نیز باندې په خسوف قمر کښې باجماعت مونځ مسنون نهٔ دې فرادیٰ یعنی ځانله ځانله به کولې شی امام مالك هم په دې کښې د جماعت قائل نهٔ دې پخلاف د امام شافعي او احمد نه چه دوئ دواړه په دې کښې د صلوة باجماعت قائل دی، امام ترمذی په جامع ترمذی صفحه، ۷۳، کښې فرمائی، و یرٰی اصحابنا ان یصلی صلوة الکسوف فی جماعة فی کسوف الشمس والقمر، د حضور ﷺ نه په دې کښې مونځ ثابت دې او که نهٔ، په دې کښې د علماؤ اختلاف دې، د صحاح سته یا دیو مشهور روایت نه د دې ثبوت نشته دې، حافظ ابن قیم هم د ثبوت نه انکار کړې دې، علامه قسطلانی، ص، ۲۷۹، ج، ۲، کښې لیکی چه د سیرت ابن حبان په یو روایت کښې دی چه، انه ﷺ صلی بالناس فی خسوف القمر سنة خمس، بعضې علماؤ د دې تاویل دا کړې دې چه د دېنه د حضور ﷺ په خپله د مونځ کول مرادنهٔ دی بلکه امر بالصلوة مراد دې، والله تعالی اعلم، په هر کیفیت سره که دا روایت صحیح دې نو د ثبوت دپاره کافی دې.

د حضرت شیخ په الابواب والتراجم کښې په دې باندې مزید کلام دې هغه دې اوکتلې شی، د دې باب ابتدائی مباحث پوره شول. ([1])

[۱۱۷۷] ([2]) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ ابْنُ عُلَيَّةَ، عَنْ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ، أَخْبَرَنِي مَنْ أُصَدِّقُ، وَظَنَنْتُ أَنَّهُ يُرِيدُ عَائِشَةَ، قَالَ: كَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ،

---

[1]: د کوم چه اجمال او فهرست دا دې:
۱. معني الکسوف لغة والفرق بینه و بین الخسوف و قال عروة لا تقولوا،الخ،
۲. حکمه، سنة مؤکدة عندالاربعة و عن بعض الحنفیة الوجوب،
۳. متي وجد، یوم مات ابراهیم رضي الله عنه، ۱۰، ربیع الاول، ۱۱، رمضان، ۱۰، هجري، و هذا بالاتفاق،
٤. و هل فیه تعدد؟ قال البخاري والبیهقي لا و عند الخطابي والنووي،نعم قاري، ٥، هجري ابن الجوزي، ٦هجري،
٥. صفة صلوة الکسوف برکوع او برکوعین،
٦. القراءة سراً عند الجمهور و عند احمد والصاحبین جهراً،
۷. وقتها غیر المکروه عندنا و احمد و عند الشافعي مطلقا و عند مالك وقت العید، ۸. الخطبة عند الشافعي فقط بحث تعدد الرکوع في البخاري رکوعان لا غیر و في مسلم الي اربع رکوعات و في ابي داؤد الي خمس، القائلون بالتعدد حملوه علي اختلاف المباح، و بعدم التعدد اختاروا الترجیح، د طلبهٔ حدیث او نوې مدرسینو د آسانتیا دپاره دا اجمال اولیکلې شو والله الموفق.

[2]: صحیح مسلم/الکسوف ۱ (۹۰۱)، سنن النسائي/الکسوف ۱۰ (۱٤۷۱)، (تحفة الأشراف: ۱٦۳۲۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/۷٦) (صحیح)

فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِيَامًا شَدِيدًا يَقُومُ بِالنَّاسِ، ثُمَّ يَرْكَعُ، ثُمَّ يَقُومُ، ثُمَّ يَرْكَعُ، ثُمَّ يَقُومُ، ثُمَّ يَرْكَعُ، فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ ثَلَاثُ رَكَعَاتٍ يَرْكَعُ الثَّالِثَةَ، ثُمَّ يَسْجُدُ حَتَّى إِنَّ رِجَالًا يَوْمَئِذٍ لَيُغْشَى عَلَيْهِمْ مِمَّا قَامَ بِهِمْ حَتَّى إِنَّ سِجَالَ الْمَاءِ لَتُصَبُّ عَلَيْهِمْ، يَقُولُ إِذَا رَكَعَ: اللَّهُ أَكْبَرُ، وَإِذَا رَفَعَ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ، حَتَّى تَجَلَّتِ الشَّمْسُ، ثُمَّ قَالَ: "إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَا يَنْكَسِفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ، وَلَكِنَّهُمَا آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ يُخَوِّفُ بِهِمَا عِبَادَهُ، فَإِذَا كُسِفَا فَافْزَعُوا إِلَى الصَّلَاةِ".

عبيد بن عمير نه روايت دى، هغه وايي ماته خبر راکړى دى هغه چا چې زه يې تصديق کوم، او زما ګمان دى چې د هغه اراده عائشه وه، هغه ويلي دي: خړ شو نمر په زمانه د رسول الله ﷺ کې، نو پاڅيدلو رسول الله ﷺ په پاڅيدلو سختو سره، چې ودريدلو خلقو ته، بيايي رکوع وکړه، بيا پاڅيدلو، بيايي رکوع وکړه، بيايي رکوع وکړه، دوه رکعاته يې وکړل، په هر رکعات کې درې رکوع وې، چې رکوع يې وکړه دريمه بيا به يې سجده کوله تردې چې څه سړي په دغه ورځ باندې بې هوشه شول د وجې د قيام نه، تردې چې بوکې د اوبو راواړولی شوې په دوی، ويل به يې چې کله يې رکوع کوله: الله اکبر، او چې کله يې سر اوچت کړو: سمع الله لمن حمده، تردې چې نمر روښانه شو، بيايي وويل: بېشکه نمر او سپوږمۍ نه خړيږي د چا د مرګ د وجې نه او نه د چا د ژوند د وجې نه، ليکن دا دوه نښې دي د نښو د الله نه ويروي په دې دواړو باندې خپل بندګان، کله چې دواړه خړ شي نو توجه وکړئ مانځه ته.

قوله، فقام النبى ﷺ قياما شديدا، دا قيام د اوږديدو د وجه نه سخت وو فقهاؤ تصريح کړې ده چه په دې مانځه کښې د قوم رعايت او تخفيف مطلوب نۀ دې بلکه قراءت اوږد پکار دې اګر که سخته وى، دا وړاندې تير شوى دى چه په دې مونځ کښې قراءت د امام صاحب او د جمهورو په نيز باندې سرا دې، د امام احمد او صاحبينو په نيز باندې جهرا، زمونږ علماء کله د امام صاحب په قول باندې عمل کوى او کله د صاحبينو په قول باندې، زمونږ دلته په مدرسه مظاهر علوم کښې هم تر اوسه پورې دواړه شان شوې دى بعضې وختونو کښې سرا کړې شوې دې او په بعضې وختونو کښې جهرا.

که قراءت سرا وى نو د قيام اوږد والې زيات سخت تيريږى او د جهرا کيدو په صورت کښې چونکه توجه د قرآن اوريدلو طرف ته شى نو په دې کښې زيات احساس نۀ کيږى.

شرح حديث:

قوله، حتى ان رجالا يومئذ ليغشى عليهم ممّا قام بهم حتى ان سجال الماء لينصبُّ عليهم، يعنى د قيام د اوږدوالى د وجه نه به په بعضې خلقو باندې بيخودى راتله(او هغوى به غورزيدل) او د بيخودئ نه پخود کيدو دپاره به په دوئ باندې د اوبو بالتى اړولې کيدل.

دلته دا سوال کيږى چه خلق خو به ټول په مانځه کښې مشغول وو نو بيا به په دوئ باندې اوبۀ چا اړولې، جواب دا دې چه کيدې شى چه د مانځه نه د فارغ کيدو نه پس بهيول مراد وى يا دا اوونيلې شى چه د بيخوده کيدو د وجه نه ظاهره ده چه د دوئ اودس ماتيده نو هغوى به د مانځه نه خارج شو نو يا خو به هم په دوئ کښې بعضې په بعضو باندې اوبۀ اړولې يا هر يو د لږ ښۀ کيدو نه پس په خپل ځان باندې په خپله اوبۀ اړوى، قوله، حتى تجلّت

الشمس، يعني حضور ﷺ دومره اوږد مونځ اوکړو چه د مانځه نه د فارغ کيدو پورې د نمر رنړا هم صفا شوې وه، په هدايه کښې ليکلې دی چه مقصود دا ده چه د کسوف پوره وخت په مونځ او دعاء کښې تيريدل پکار دی ترڅو پورې چه نمر پوره صفا شوې نهٔ وی هم په دې کښې اخته وی خوا که مونځ اوږد وی يا د مونځ پخائې که غوارې نو د مونځ نه پس دې دعاء دومره اوږده کړی تر دې چه نمر صفا شی، او د امام صاحب نه يو روايت دا هم دې (کما فی البذل) چه د دوو رکعاتو قيد نشته دې بلکه څلور او د دينه زيات هم کولې شی.

باب مَنْ قَالَ أَرْبَعُ رَكَعَاتٍ

باب دی په بيان د هغه چا کې چې وايلې دې څلور رکوع دې

د رکعات نه مراد رکوعات دی، دا ترجمه د جمهورو د مسلك مطابق ده د دوئ په نيز باندې د صلوة الكسوف په دوو رکعتونو کښې څلور رکوع دی، په هر رکعت کښې دوه رکوع دی.

د ترجمة الباب غرض:

خو په دې باب کښې چه مصنف رحمه الله کوم روايتونه ذکر فرمائيلې دی هغه په هر رکعت کښې دوه رکوع او درې رکوع تر دې چه پنځو رکوع پورې روايتونه شته نو ځکه د اشکال نه د بچ کيدو دپاره دا به وئيلې شی چه د مصنف رحمه الله غرض د دې ترجمه نه مطلق تعدد د رکوع لره ثابتول دی اوس که هغه دوه وی يا د دوو نه زيات وی، په دې صورت کښې داکثر احاديثو مطابقت د باب سره د ترجمة الباب نه به ثابت شی خو اشکال يو بل دی او هغه دا چه په دې باب کښې مصنف رحمه الله د وحدت رکوع واله روايتونه هم راوړی دی، د دې دا جواب په پوهه کښې راتلې شی چه ممکنه ده چه د مصنف رحمه الله د ترجمة الباب نه دا وی چه، من قال اربع ركعاتٍ او اقلّ او اکثر من ذلك، يعنی اختلاف د رواياتو لره بيانول مقصود دی، او يا دا اووئيلې شی چه د ترجمة الباب نه مقصود خو هم تعدد د رکوع لره بيانول دی خو د يو رکوع واله روايات ئې بناء بر اصل ذکر کړل چه يو رکوع کيدل خو هم اصل دی، يا بيا دا اقرار اوکړې شی چه د دې رواياتو د دې باب سره هيڅ مناسبت نشته دې، دا څهٔ ضروری نهٔ ده چه د هر اشکال حل دې خامخا راووځی.

[۱۱۷۸] (۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ، حَدَّثَنِي عَطَاءٌ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: كُسِفَتِ الشَّمْسُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَكَانَ ذَلِكَ فِي الْيَوْمِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ إِبْرَاهِيمُ بْنُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ النَّاسُ: إِنَّمَا كُسِفَتْ لِمَوْتِ إِبْرَاهِيمَ ابْنِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى بِالنَّاسِ سِتَّ رَكَعَاتٍ فِي أَرْبَعِ سَجَدَاتٍ، كَبَّرَ، ثُمَّ قَرَأَ فَأَطَالَ الْقِرَاءَةَ، ثُمَّ رَكَعَ نَحْوًا مِمَّا قَامَ، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ فَقَرَأَ دُونَ الْقِرَاءَةِ الْأُولَى، ثُمَّ رَكَعَ نَحْوًا مِمَّا قَامَ، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ فَقَرَأَ الْقِرَاءَةَ الثَّالِثَةَ دُونَ الْقِرَاءَةِ الثَّانِيَةِ، ثُمَّ رَكَعَ نَحْوًا مِمَّا قَامَ، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ فَانْحَدَرَ لِلسُّجُودِ فَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ، ثُمَّ قَامَ فَرَكَعَ ثَلَاثَ رَكَعَاتٍ قَبْلَ أَنْ يَسْجُدَ لَيْسَ فِيهَا رَكْعَةٌ إِلَّا الَّتِي قَبْلَهَا أَطْوَلُ مِنَ الَّتِي بَعْدَهَا إِلَّا أَنَّ رُكُوعَهُ نَحْوٌ مِنْ قِيَامِهِ، قَالَ: ثُمَّ تَأَخَّرَ فِي صَلَاتِهِ فَتَأَخَّرَتِ

(۱): صحيح مسلم/الكسوف ۳ (۹۰۴)، سنن النسائي/الكسوف ۱۲ (۱۴۷۷)، (تحفة الأشراف: ۲۴۳۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/۲۷۴، ۳۸۲) (صحيح)

الصُّفُوفُ مَعَهُ، ثُمَّ تَقَدَّمَ فَقَامَ فِي مَقَامِهِ وَتَقَدَّمَتِ الصُّفُوفُ فَقَضَى الصَّلَاةَ وَقَدْ طَلَعَتِ الشَّمْسُ، فَقَالَ: "يَا أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ لَا يَنْكَسِفَانِ لِمَوْتِ بَشَرٍ، فَإِذَا رَأَيْتُمْ شَيْئًا مِنْ ذَلِكَ فَصَلُّوا حَتَّى تَنْجَلِيَ". وَسَاقَ بَقِيَّةَ الْحَدِيثِ.

د جابر بن عبد الله نه روايت دی هغه وايلي دي: خړ شو نمر په زمانه د رسول الله ﷺ کې، او دغه وو په هغه ورځ کې چې مړ شوی وو پکي ابراهيم د رسول الله ﷺ ځوی، وويله خلقو: بېشکه خړ شوی دی د وجې د مرګ د ابراهيم نه ځوی د رسول الله ﷺ، ودريدلو رسول الله ﷺ، پاڅيدلو مونځ يي وکړو خلقو ته شپږ رکعاته په څلورو سجدو کې، تکبير يي وويلو بيايي قراءت وکړو اوږد قراءت، بيايي رکوع وکړه قريب د ودريدو ته، بيايي سر اوچت کړو، قراءت يي وويلو کم د اولني قراءت نه، بيايي رکوع وکړه چې نږدې وه ودريدو ته، بيايي سر اوچت کړو نو دريم ځل يي قراءت ولوستلو چې کم وو د دويم ځل نه، بيايي رکوع وکړه نږدې ودريدو ته، بيايي سر اوچت کړو خکته شو سجدې ته نو دوه سجدې يي وکړې، نو رکوع يي وکړې درې رکوع ګاني مخکې د سجدې نه، په دې کې رکوع نه وه مګر هغه مخکنۍ به اوږده وه د هغه وروستنۍ نه، مګر رکوع به يي قيام ته نږدې وه، هغه وايي: بيا وروسته شو په مانځه کې نو صفونه هم وروسته شول د هغه سره، بيا مخکې شو نو ودريدلو په خپل ځای کې او مخکې شول صفونه، مونځ يي پوره کړو، او يقينًا نمر ختلی وو، هغه وفرمايل: ای خلقو! بېشکه نمر او سپوږمۍ دوه نښې دي د نښو د الله نه نه خړيږي د چا د مرګ د وجې نه، کله چې تاسو د دې نه څه شی ووينئ نو مونځ کوئ تردې چې روښانه شي. او باقي حديث يي بيان کړو.

[١١٧٩](١) حَدَّثَنَا مُؤَمَّلُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، عَنْ هِشَامٍ، حَدَّثَنَا أَبُو الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: كُسِفَتِ الشَّمْسُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي يَوْمٍ شَدِيدِ الْحَرِّ، فَصَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَصْحَابِهِ، فَأَطَالَ الْقِيَامَ حَتَّى جَعَلُوا يَخِرُّونَ، ثُمَّ رَكَعَ فَأَطَالَ، ثُمَّ رَفَعَ فَأَطَالَ، ثُمَّ رَكَعَ فَأَطَالَ، ثُمَّ رَفَعَ فَأَطَالَ، ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ، ثُمَّ قَامَ فَصَنَعَ نَحْوًا مِنْ ذَلِكَ فَكَانَ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ وَأَرْبَعَ سَجَدَاتٍ، وَسَاقَ الْحَدِيثَ.

د جابر رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايلي دي: خړ شو نمر په زمانه د رسول الله ﷺ کې په داسې ورځ کې چې سخته ګرمه وه، مونځ وکړو رسول الله ﷺ خپلو ملګرو ته، قيام يي اوږد کړو، تردې چې پريوتل، بيايي رکوع وکړه نو اوږده يي کړه، بيا اوچت شو نو اوږدیي کړو، بيايي رکوع وکړه اوږده، بيا اوچت شو اوږدیي کړو، بيايي دوه سجدې وکړې، بيا ودريدلو ويي کړو پشان د هغې، نو شوې څلور رکوع ګانې او څلور سجدې، او حديث يي بيان کړو.

[١١٨٠](٢) حَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ. ح وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ الْمُرَادِيُّ /a>، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ،

١): صحيح مسلم/الكسوف ٣ (٩٠٤)، سنن النسائي/الكسوف ١٢ (١٤٧٩)، (تحفة الأشراف: ٢٩٧٦)، وقد أخرجه: (٣/٣٧٤، ٣٨٢، ٣٣٥، ٣٤٩) (صحيح)

٢): صحيح البخاري/الكسوف ٤ (١٠٤٦)، ٥ (١٠٤٧)، ١٣ (١٠٥٨)، والعمل في الصلاة ١١ (١٢١٢)، وبدء الخلق ٤ (٣١٩٩)، صحيح مسلم/ الكسوف ١ (٩٠١)، سنن النسائي/ الكسوف ١١ (١٤٧٦)، سنن ابن ماجه/ إقامة الصلاة ١٥٢ (١٢٦٣)، (تحفة الأشراف: ١٦٦٩٢)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/ الصلاة ٢٧٩ (الجمعة ٤٤) (٥٦١)، موطا امام مالك/صلاة الكسوف ١ (١)، مسند احمد (٦/٧٦، ٧٨، ١٦٤، ١٦٨)، سنن الدارمي/ الصلاة ١٨٧ (١٥٦٨) (صحيح)

عَنْ يُونُسَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: خُسِفَتِ الشَّمْسُ فِي حَيَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "فَخَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْمَسْجِدِ، فَقَامَ، فَكَبَّرَ، وَصَفَّ النَّاسُ وَرَاءَهُ، فَاقْتَرَأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِرَاءَةً طَوِيلَةً، ثُمَّ كَبَّرَ، فَرَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلًا، ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ، فَقَالَ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ، ثُمَّ قَامَ فَاقْتَرَأَ قِرَاءَةً طَوِيلَةً هِيَ أَدْنَى مِنَ الْقِرَاءَةِ الْأُولَى، ثُمَّ كَبَّرَ فَرَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلًا هُوَ أَدْنَى مِنَ الرُّكُوعِ الْأَوَّلِ، ثُمَّ قَالَ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ، ثُمَّ فَعَلَ فِي الرَّكْعَةِ الْأُخْرَى مِثْلَ ذَلِكَ فَاسْتَكْمَلَ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ وَأَرْبَعَ سَجَدَاتٍ، وَانْجَلَتِ الشَّمْسُ قَبْلَ أَنْ يَنْصَرِفَ".

عائشه چې د نبي ﷺ بي بي ده نه روایت دی هغې ویلي دي: خړ شو نمر په ژوند د رسول الله ﷺ کې، نو ووتلو رسول الله ﷺ مسجد ته، نو ودریدلو تکبیریې وویلو او صف جوړ کړو خلقو وروسته د هغه نه، رسول الله ﷺ اوږد قراءت وکړو، بیایي تکبیر وویله، اوږده رکوع یې وکړه، بیایي سر اوچت کړو، ویې ویل: سمع الله لمن حمده، ربنا ولک الحمد، بیا پاڅیدلو اوږد قراءت یې وویلو، چې هغه نزدې وو اولني قراءت ته، بیایي تکبیر وویلو، رکوع یې وکړه اوږده چې نزدې وه اولنۍ رکوع ته، بیایي وویل: سمع الله لمن حمده ربنا ولک الحمد، بیایي په دویم رکعات کې همدغسې وکړل، څلور رکعاتونه یې پوره کړه، او څلور سجدې یې وکړې، او روښانه شو نمر مخکې د فارغیدو نه.

[۱۱۸۱](۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَنْبَسَةُ، حَدَّثَنَا يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، قَالَ: كَانَ كَثِيرُ بْنُ عَبَّاسٍ يُحَدِّثُ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبَّاسٍ كَانَ يُحَدِّثُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "صَلَّى فِي كُسُوفِ الشَّمْسِ" مِثْلَ حَدِيثِ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، "أَنَّهُ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ رَكْعَتَيْنِ".

عبد الله بن عباس حدیث بیانوي، بېشکه رسول الله ﷺ مونځ وکړو په کسوف د نمر کې، په شان د حدیث د عروة د عائشې نه او هغې د رسول الله نه بېشکه هغه مونځ وکړو دوه رکعاته په هر رکعات کې دوه رکوع وې.

[۱۱۸۲](۲) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ الْفُرَاتِ بْنِ خَالِدٍ أَبُو مَسْعُودٍ الرَّازِيُّ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي جَعْفَرٍ الرَّازِيُّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي جَعْفَرٍ الرَّازِيِّ، قَالَ أَبُو دَاوُد: وَحُدِّثْتُ عَنْ عُمَرَ بْنِ شَقِيقٍ، حَدَّثَنَا أَبُو جَعْفَرٍ الرَّازِيُّ، وَهَذَا لَفْظُهُ وَهُوَ أَتَمُّ، عَنِ الرَّبِيعِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ أَبِي الْعَالِيَةِ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، قَالَ: انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَإِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "صَلَّى بِهِمْ فَقَرَأَ بِسُورَةٍ مِنَ الطُّوَلِ وَرَكَعَ خَمْسَ رَكَعَاتٍ، وَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ، ثُمَّ قَامَ الثَّانِيَةَ فَقَرَأَ سُورَةً مِنَ الطُّوَلِ وَرَكَعَ خَمْسَ رَكَعَاتٍ وَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ، ثُمَّ جَلَسَ كَمَا هُوَ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ يَدْعُو حَتَّى انْجَلَى كُسُوفُهَا".

د ابي بن کعب نه روایت دی هغه ویلي دي: خړ شو نمر په زمانه د رسول الله ﷺ کې، او بېشکه نبي ﷺ مونځ وکړو دوی ته، ویې لوستلو یو سورت د طولو نه، او رکوع یې وکړې پنځه رکوعاني، او دوه سجدې یې وکړې، بیا پاڅیدلو دویم ځل، یویې لوستلو یو سورت

---

۱): صحيح البخاري/الكسوف ٤ (۱۰۵۲)، صحيح مسلم/ الكسوف ۱ (۹۰۷)، سنن النسائي/ الكسوف ۹ (۱٤۷۰)، (تحفة الأشراف: ٦٣٣٥) (صحيح)

۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٣٤/٥) (ضعيف)

د اورېدو نه، او پنځه رکوع ګاڼې يې وکړې، او دوه سجدې يې وکړې، بيا کېناستلو لکه څنګه چې وو مخامخ قبلې ته دعاء يې کوله تردې چې ختم شو ځروالى د هغې.

[١١٨٣]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ سُفْيَانَ، حَدَّثَنَا حَبِيبُ بْنُ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ طَاوُسٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، "أَنَّهُ صَلَّى فِي كُسُوفِ الشَّمْسِ، فَقَرَأَ، ثُمَّ رَكَعَ، ثُمَّ قَرَأَ، ثُمَّ رَكَعَ، ثُمَّ قَرَأَ، ثُمَّ رَكَعَ، ثُمَّ قَرَأَ، ثُمَّ رَكَعَ، ثُمَّ سَجَدَ وَالْأُخْرَى مِثْلُهَا".

ابن عباس رضي الله عنهما د نبي ﷺ نه روايت کوي، بېشکه هغه مونځ وکړو په کسوف الشمس کې، نو قراءت يې وکړو، بيايې رکوع وکړه، بيايې قراءت وکړو، بيايې رکوع وکړه، بيايې قراءت وکړو، بيايې بيايې رکوع وکړه، بيايې سجده وکړه او بله د هغې پشان.

[١١٨٤]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا الْأَسْوَدُ بْنُ قَيْسٍ، حَدَّثَنِي ثَعْلَبَةُ بْنُ عِبَادٍ الْعَبْدِيُّ مِنْ أَهْلِ الْبَصْرَةِ، أَنَّهُ شَهِدَ خُطْبَةً يَوْمًا لِسَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ، قَالَ: قَالَ سَمُرَةُ: بَيْنَمَا أَنَا وَغُلَامٌ مِنَ الْأَنْصَارِ نَرْمِي غَرَضَيْنِ لَنَا حَتَّى إِذَا كَانَتِ الشَّمْسُ قِيدَ رُمْحَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةٍ فِي عَيْنِ النَّاظِرِ مِنَ الْأُفُقِ اسْوَدَّتْ حَتَّى آضَتْ كَأَنَّهَا تَنُّومَةٌ، فَقَالَ أَحَدُنَا لِصَاحِبِهِ: انْطَلِقْ بِنَا إِلَى الْمَسْجِدِ، فَوَاللَّهِ لَيُحْدِثَنَّ شَأْنُ هَذِهِ الشَّمْسِ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أُمَّتِهِ حَدَثًا، قَالَ: فَدَفَعْنَا، فَإِذَا هُوَ بَارِزٌ" فَاسْتَقْدَمَ، فَصَلَّى، فَقَامَ بِنَا كَأَطْوَلِ مَا قَامَ بِنَا فِي صَلَاةٍ قَطُّ لَا نَسْمَعُ لَهُ صَوْتًا، قَالَ: ثُمَّ رَكَعَ بِنَا كَأَطْوَلِ مَا رَكَعَ بِنَا فِي صَلَاةٍ قَطُّ لَا نَسْمَعُ لَهُ صَوْتًا، ثُمَّ سَجَدَ بِنَا كَأَطْوَلِ مَا سَجَدَ بِنَا فِي صَلَاةٍ قَطُّ لَا نَسْمَعُ لَهُ صَوْتًا، ثُمَّ فَعَلَ فِي الرَّكْعَةِ الْأُخْرَى مِثْلَ ذَلِكَ، قَالَ: فَوَافَقَ تَجَلِّي الشَّمْسِ جُلُوسَهُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ، قَالَ: ثُمَّ سَلَّمَ، ثُمَّ قَامَ فَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ، وَشَهِدَ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَشَهِدَ أَنَّهُ عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ"، ثُمَّ سَاقَ أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ خُطْبَةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ثعلبة بن عباد العبدي چې د بصرې والا نه دى هغه حاضر شو يوه ورځ خطبې د سمرة بن جندب ته، هغه ووېل، وېلې دي سمرة: يو ځل زه او يو غلام د انصارو نه مونږ نښنه وېشته، تردې چې سولو نمر په مقدار د نېزې او دوه نېزو او يا درې په نظر د کتونکې کې د افق نه تور شو، تردې چې شولو په شان د تنومه بوټې، نو يو په مونږ کې خپل ملګري ته ووېل: بوزه مونږ مسجد ته، قسم په الله پېښ به کړي شان د دې نمر رسول الله ﷺ ته د هغه په امت څه نوى کار، هغه وايي: نو مونږ لاړو نو هغه ښکاره شوى وو، نو رامخکې شو، مونځ يې وکړو، قيام يې وکړو مونږ ته اوږد قيام په مانځه کې، مونږ د هغه اواز نه اوريدو. هغه وايي: بيايې رکوع وکړه اوږده رکوع په مانځه کې، مونږ د هغه اواز نه اوريدو، بيايې سجده وکړه مونږ ته اوږده هغه چې کړي يې وه په مانځه کې، مونږ د هغه اواز نه اوريدو، بيايې وروستنې رکعات کې هم دغسې وکړل، هغه وايي: نو موافق شو روښانوالى د نمر د کېناستلو د هغه سره په دويم رکعات کې. هغه وايي: بيايې سلام وګرځولو، بيا پاڅيدلو د الله حمد يې وويلو او ثنايې وويله په هغه، او تشهد يې يې وويلو. بيا احمد بن يونس د نبي

[1]: صحيح مسلم/الكسوف ٤ (٩٠٨)، سنن الترمذي/الصلاة ٢٧٩ (الجمعة ٤٤) (٥٦٠)، سنن النسائي/الكسوف ٨ (١٤٦٨-١٤٦٩)، (تحفة الأشراف: ٥٦٩٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/ ٢١٦، ٢٢٥، ٢٩٨، ٣٤٦، ٣٥٨)، سنن الدارمي/ الصلاة ١٨٧ (١٥٣٤)

[2]: سنن الترمذي/الصلاة ٢٨٠ (الجمعة ٤٥) (٥٦٢)، سنن النسائي/الكسوف ١٥ (١٤٨٥)، ١٩ (١٤٩٦)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٥٢ (١٢٦٤)، (تحفة الأشراف: ٤٥٧٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٤/٥، ١٦، ١٧، ١٩، ٢٣) (ضعيف)

ﷺ خطبه بیان کړه.

تشریح: قوله: انه شهد خطبة یوما لسمرة بن جندب قال قال سمرة بینما انا و غلام من الانصار نرمی غرضین لنا حتی اذا کانت الشمس قید رمحین او ثلاثة فی عین الناظر من الافق اسودّت حتی اٰضت کانها تنوّمةٌ،الخ، دا د دې باب اووم حدیث دې د دې راوی سمرة بن جندب صحابی دې او دغلام من الانصار نه مراد شاید د سمره ځوئې عبدالرحمٰن دې لکه څنګه چه د دې روایت نه معلومیږی کوم چه په راتلونکی ،باب من قال یرکع رکعتین، کښې راروان دې.

مضمون حدیث:

سمرة بن جندب ؓ فرمائی یو ځل زهٔ او یو انصاری هلك د حضور ﷺ په زمانه کښې د تیراندازئ او د نښې ویشلو مشق کولو (صحابه کرامو به د جهاد د تیارئ کښې سورلئ او د تیراندازئ وغیره مشق کولو) تر دې چه کله نمر د کتونکو په نظر کښې دوه یا درې نیزې په اندازه پورته شو نو ناساپه توروالې او تیارهٔ کښې په بدلیدلو شو او بې رڼړا کیدو کیدو داسې شو چه ګویا هغه تنوّمه دې، دا د یو واښه نوم دې کوم چه په رنګ کښې توروالی ته مائله وی.

فقال احدنا لصاحبه انطلق بنا الی المسجد فوالله لیحدثن شان هذه الشمس لرسول الله صلی الله علیه وسلم فی امّته حدثا، مونږ یو بل ته اووئیل چه په دې کار کښې تیراندازی پریخودل او مسجد نبوی طرف ته تلل پکار دی قسم په الله د نمر دا حالت به د رسول الله ﷺ دپاره د دوئ د امت په حق کښې یو خاص کار پیدا کړی، مطلب دا دې چه مونږ له دې وخت پکار دی چه د حضور ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او هلته لاړ شو او اوګورو چه دې وخت حضور ﷺ څهٔ کوی او دې موقع کښې د امت دپاره د کوم څیز تعلیم فرمائی، قال فدفعنا فاذا هو بارزٌ، د دُفعنا ترجمه خو دا ده چه مونږ ته دهکې راکړې شوې یعنی راتیلوالې شو او دلته مراد تیز تیز تلل دی لکه څنګه چه څوك چا لره ټیل ورکړی او روان کړی، فاذا هو بارزٌ [1] یعنې مونږ هلته لاړو او ومو اوکتل چه حضور ﷺ بهر په مجلس کښې تشریف فرما دې، دا د بُروز نه دې د کوم معنی چه د ظهور ده او مطلب دا دې چه دا د کسوف شمس په وخت کښې دوئ په کور کښې نهٔ وو بلکه بهر د خلقو په مینځ کښې ښکاره ناست وو (تشریف فرما وو)

د توحد رکوع واله حدیث:

په دې حدیث کښې د حضرت سمره ؓ چه د صلوة االکسوف کوم کیفیت بیان کړې دې په دې کښې صرف یوه رکوع مذکور ده لهذا دا حدیث د حنفیانو دلیل دې.

[۱۱۸۵](۱)حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ قَبِيصَةَ الْهِلَالِيِّ، قَالَ: كُسِفَتِ الشَّمْسُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَخَرَجَ، فَزِعًا يَجُرُّ ثَوْبَهُ وَأَنَا مَعَهُ يَوْمَئِذٍ بِالْمَدِينَةِ، فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ فَأَطَالَ فِيهِمَا الْقِيَامَ، ثُمَّ انْصَرَفَ وَانْجَلَتْ، فَقَالَ: "إِنَّمَا هَذِهِ الْآيَاتُ يُخَوِّفُ اللَّهُ بِهَا، فَإِذَا رَأَيْتُمُوهَا

[1] او په بعضې نسخو کښې د بارِزٌ د ځای آرَزَ دې آرَزَ واڼی هجوم او ګنړې ته یعنی دغه وخت حضور ﷺ د خلقو په یو جماعت کښې وو) ۱۲ منه۔

(۱): سنن النسائي/الكسوف ١٦ (١٤٨٧، ١٤٨٨)، (تحفة الأشراف: ١١٠٦٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٦٠) (ضعيف)

فَصَلُّوا كَأَحْدَثِ صَلَاةٍ صَلَّيْتُمُوهَا مِنَ الْمَكْتُوبَةِ".

د قبصه الهلالي نه روايت دی، هغه وايلي دي: خړ شو نمر په زمانه د رسول الله ﷺ کې، نو راووتلو د يرې سره چې جامه يې راخکله او زه د هغه سره وم په دغه وخت کې په مدينه کې، دوه رکعاته مونځ يې وکړو، په دواړو کې يې قيام اوږد کړو، بيا لاړلو او نمر روښانه شو، هغه وفرمايل: بېشکه دا نښې دي ويروي الله په دې سره کله چې تاسو دا ووينئ نو مونځ کوئ په شان د نزدې مونځ چې تاسو کړی وي د فرضو نه.

تشریح: **قوله**: قوله، عن قبيصة الهلالي. دا د قبيصه ابن المخارق حديث هم د حنفيانو موافق دې په دې کښې صرف يوه رکوع مذکور ده او د يوه د ښوالی خبره دا ده چه دا قول او فعل دواړو لره جمع کونکې دې چنانچه د دې په آخر کښې د حضور ﷺ دا ارشاد دې چه، فاذا رايتموها فصلو كاحدث صلوة صليتموها من المكتوبة. احدث د اسم تفضيل صيغه ده چه معنى ئې د اقرب ده او د حديث معنى جديد او نوې ده يعنى اوس په نزدې کښې چه کوم تاسو فرض مونځ کړې دې د هغې په شان دوه رکعته اوکړئ (کسوف شمس په وخت کښې) او نزدې ئې چه کوم مونځ کړې وو هغه د سحر مونځ وو څکه چه د کسوف مونځ چه هغوی کړې وو هغه دڅاښت په وخت وو.

نور روايات:

دغه شان د حنفيانو يو بل دليل په، باب من قال يركع ركعتين، کښې راروان دې په هغې کښې دعبدالله بن عمرو بن العاص حديث مذکور دې په کوم کښې چه صرف يوه رکوع ده، دغه شان څلورم حديث د حضرت ابوبکره رضی الله عنه دې په نسائی کښې چه، ان النبى صلى الله عليه وسلم صلى ركعتين مثل صلوتكم هذه.

[۱۱۸۶]([1])حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا رَيْحَانُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ مَنْصُورٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ هِلَالِ بْنِ عَامِرٍ، أَنَّ قَبِيصَةَ الْهِلَالِيَّ حَدَّثَهُ، أَنَّ الشَّمْسَ كُسِفَتْ، بِمَعْنَى حَدِيثِ مُوسَى، قَالَ: حَتَّى بَدَتِ النُّجُومُ.

د هلال بن عامر نه روايت دی بېشکه قبصة الهلالي ورته حديث بيان کړی دی، بېشکه نمر خړ شو، په معنى د حديث د موسى سره، هغه وايي: تردې چې ستورې ښکاره شو.

بَابُ الْقِرَاءَةِ فِي صَلَاةِ الْكُسُوفِ

باب دی په بيان د قراءت کې د کسوف په مانځه کې

[۱۱۸۷]([2])حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ سَعْدٍ، حَدَّثَنَا عَمِّي، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنِي هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ، كُلُّهُمْ قَدْ حَدَّثَنِي، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كُسِفَتِ الشَّمْسُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، "فَخَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى بِالنَّاسِ، فَقَامَ فَحَزَرْتُ قِرَاءَتَهُ، فَرَأَيْتُ أَنَّهُ قَرَأَ بِسُورَةِ الْبَقَرَةِ، وَسَاقَ الْحَدِيثَ، ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ، ثُمَّ قَامَ فَأَطَالَ الْقِرَاءَةَ فَحَزَرْتُ قِرَاءَتَهُ، فَرَأَيْتُ أَنَّهُ قَرَأَ بِسُورَةِ آلِ عِمْرَانَ".

[1]): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۱۰۶۵) (ضعيف)

[2]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۶۳۴۵، ۱۶۳۵۲، ۱۷۱۸۵)، وقد أخرجه: (حم ۶/۳۲) (حسن) صححه الحاكم (۱/۳۳۳)

محمد بن اسحاق وايي ماته حديث بيان کړی دی هشام بن عروة او عبد الله بن ابي سلمة د سليان بن يسار نه، هغو ټولو ماته حديث بيان کړی دی د عروة نه او هغه د عائشي نه، هغي ويلي دي: خر شو نمر په زمانه د رسول الله ﷺ کي، راووتلو رسول الله ﷺ، مونځ يي وکړو خلقو ته، نو پاڅيدلو نو اټکل ولګولو د هغه د قراءت، نو ماته معلومه شوه چې هغه به سورة البقره ويلي وي. او حديث يي بيان کړو. بيايي دوه سجدې وکړې، بيا پاڅيدلو اوږد قراءت يي وکړو ما اندازه ولګوله د هغه د قراءت، نو هغه سورة آل عمران لوستلی وو.

(دفع تعارض بين الحديثين)

تشريح: قوله: فحزرت قراءته، ما د حضور ﷺ د قراءت مقدار ته اوکتل او اندازه مې اوکړه چه حضور ﷺ به سورة بقره لوستلي وی د دينه معلوميږی چه په دې مونځ کښې به قراءت سرا وی ګینی د اندازه کولو څۀ مطلب، او وړاندې په حديث کښې دی چه اندازه دا ده چه حضور ﷺ په په دويم رکعت کښې سورة عمران لوستلي وی، او د دېنه په وړاندې حديث کښې، قرأ قراءة طويلة فجهربها، راغلې دی حال دا دې چه دواړه حديثونه د حضرت عائشه ﷺ نه مروی دی، لهذا په دواړو کښې تعارض اوشو، د دې جواب دامام احمد نه دا منقول دې هغوی فرمائی چه په دې حديث سره زهری متفرد دې، او يوه توجيه حافظ په فتح الباری کښې دا کړې ده چه کيدې شی د دې نه مراد کسوف القمر وی نه کسوف الشمس، زۀ وايم يادې دا تاويل اوکړې شی چه د بعضې آياتونو بلا قصده جهر کول مراد دی.

[۱۱۸۸](١)حَدَّثَنَا الْعَبَّاسُ بْنُ الْوَلِيدِ بْنِ مَزْيَدٍ، أَخْبَرَنِي أَبِي، حَدَّثَنَا الْأَوْزَاعِيُّ، أَخْبَرَنِي الزُّهْرِيُّ، أَخْبَرَنِي عُرْوَةُ بْنُ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "قَرَأَ قِرَاءَةً طَوِيلَةً، فَجَهَرَ بِهَا" يَعْنِي فِي صَلَاةِ الْكُسُوفِ.

د عائشي ﷺ نه روايت دی، بېشکه رسول الله ﷺ قراءت يي وکړو اوږد قراءت، جهري وکړو په هغې سره. يعني د کسوف په مانځه کې.

[۱۱۸۹](٢)حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ كَذَا عِنْدَ الْقَاضِي، وَالصَّوَابُ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: خُسِفَتِ الشَّمْسُ "فَصَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسُ مَعَهُ، فَقَامَ قِيَامًا طَوِيلًا بِنَحْوٍ مِنْ سُورَةِ الْبَقَرَةِ، ثُمَّ رَكَعَ" وَسَاقَ الْحَدِيثَ.

د ابن عباس ﷺ نه روايت دی هغه ويلي دي: خر شو نمر نو مونځ وکړو رسول الله ﷺ او خلق د هغه سره وو، قيام يي وکړو اوږد قيام په اندازه د سورة البقرة، بيايي رکوع وکړه، او بيان يي کړو حديث.

باب يُنَادَى فِيهَا بِالصَّلَاةِ

باب دی چې اواز کولی شي په هغې کې د مانځه دپاره

يعنی آيا د کسوف د نمر دپاره به اعلان کولې شی دا يو سوال دې او حديث الباب نه د دې جواب معلوميږی چه، الصلوة جامعة، وغيره الفاظو سره به خلقو ته خبرداري ورکولې کيږی.

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٦٥١٧) (صحيح)

(٢): صحيح البخاري/ الصلاة ٥١ (٤٣١)، الكسوف ٩ (١٠٥٢)، صحيح مسلم/الكسوف ٣ (٩٠٧)، سنن النسائي/الكسوف ١٧ (١٤٩٤)، (تحفة الأشراف: ٥٩٧٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٩٨، ٣٥٨) (صحيح)

[١١٩٠]()حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ نَمِرٍ، أَنَّهُ سَأَلَ الزُّهْرِيَّ، فَقَالَ الزُّهْرِيُّ: أَخْبَرَنِيعُرْوَةُ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كُسِفَتِ الشَّمْسُ، "فَأَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا، فَنَادَى أَنِ الصَّلَاةُ جَامِعَةٌ".

د عائشي رضي الله عنها نه روایت دی هغې ویلي دي: خړ شو نمر، نو امر وکړو رسول الله ﷺ یو سړي ته، اوازيي وکړ: مونځ راجمع کونکی دی.

بَابُ الصَّدَقَةِ فِيهَا

باب دی په بیان د صدقې کښې په هغې کښې

فيها ای فی حالة الکسوف، او یا دې دا اوونیلې شي چه ضمیر صلوة کسوف ته راجع دې یعنی صلوة الکسوف، او فی په معنی د مع سره دې([2]) یعني دکسوف په وخت کښې مونځ سره صدقه وغیره کول لکه څنګه چه په حدیث الباب کښې مذکور دی د دې نه معلومه شوه چه کسوف شمس کښې د مانځه نه علاوه صدقه هم کول پکار دی.

زمونږ په اطرافو کښې د مسلمانانو په دې باندې عمل په ليدلو کښې نۀ دې راغلې البته دلته مقامی هندوان په دې باندې ضرور عمل کوی صدقه خیرات کوی هندو فقیران د کسوف شمس په وخت کښې ما ليدلي دی چه راواوځی.

[١١٩١]()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ لَا يُخْسَفَانِ لِمَوْتِ أَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ، فَإِذَا رَأَيْتُمْ ذَلِكَ فَادْعُوا اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ وَكَبِّرُوا وَتَصَدَّقُوا".

د عائشي رضي الله عنها نه روایت دی بېشکه نبي ﷺ ویلي دي: نمر او سپوږمی نه خړېږي د چا د مرګ د وجې نه، کله چې تاسو وینئ دا دعاء غواړئ د الله نه، تکبیر ووایي او صدقه کوئ.

بَابُ الْعِتْقِ فِيهِ

باب دی په بیان د عتق کښې په هغې کښې

[١١٩٢]()حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا زَائِدَةُ، عَنْ هِشَامٍ، عَنْ فَاطِمَةَ، عَنْ أَسْمَاءَ، قَالَتْ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُ بِالْعَتَاقَةِ فِي صَلَاةِ الْكُسُوفِ".

د اسماء نه روایت دی هغې ویلي دي: وو نبي ﷺ چې امرېي کولو په ازادولو باندې په مانځه د کسوف کښې.

تشریح: د وس مطابق غلامانو لره آزادول که چا سره غلام وی ګینی په دې زمانه کښې نۀ خو په عامه توګه جهاد کیږی او نۀ د خلقو سره غلام او وینځې شته.

---

[1]): صحيح البخاري/الكسوف (١٠٦٥)، صحيح مسلم/الكسوف ١ (٩٠١)، سنن النسائي/الكسوف ١٨ (١٤٩٥)، ٢١ (١٤٩٨) (تحفة الأشراف: ١٦٥٢٨) (صحيح)

[2]) د دې تاویل حاجت څکه دې چه عین د مونځ په حالت کښې صدقه څنګه کولې شی۔

[3]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٧١٤٨، ١٧١٧٣) (صحيح)

[4]): صحيح البخاري/الكسوف ١١ (١٠٥٤)، والعتق ٣ (٢٥١٩)، (تحفة الأشراف: ١٥٧٥١)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٤٥/٦)، سنن الدارمي/الصلاة ١٨٧ (١٥٣٩) (صحيح)

بَابُ مَنْ قَالَ يَرْكَعُ رَكْعَتَيْنِ

باب دى په بيان د هغه چا كې چې كوي په دوه ركعاته

[۱۱۹۳]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي شُعَيْبٍ الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنِي الْحَارِثُ بْنُ عُمَيْرٍ الْبَصْرِيُّ، عَنْ أَيُّوبَ السَّخْتِيَانِيِّ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، قَالَ: كُسِفَتِ الشَّمْسُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، "فَجَعَلَ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ، وَيَسْأَلُ عَنْهَا حَتَّى انْجَلَتْ".

د نعمان بن بشير ﷺ نه روايت دى، هغه ويلي دي: خر شو نمر په زمانه د رسول الله ﷺ كې نو شروع شو چې مونځ يې وكړو دوه دوه ركعاته، او تپوس يې كولو د هغې نه، تردې چې روښانه شو.

د ترجمة الباب او د حديث تشريح:

د ركعتين نه په ظاهر كښې د دې معنى حقيقى ده ركوعين مراد نهٔ دى او د ترجمه غرض دا دې چه، يصلى ركعتين ركعتين، يعنى په يو ځل دې څلور او نهٔ كړې شى بلكه دوه ركعته دې اوكړې شى نو اودې ګورى كه نمر صفا شوې وى نو ډيره ښهٔ ده ګينى دوه ركعته دې نور اوكړى، د دې وجه نه په حديث الباب كښې دى چه، فجعل يصلى ركعتين ركعتين و يسال عنها، يعنى د دوو ركعاتو كولو نه پس به ئې د نمر په حقله تپوس اوكړو چه صفا شوې دې او كه نهٔ او بيا به ئې دويم ځلې دوه ركعته كول، علامه عينى د دې حديث شرح داسې كړې ده او دحافظ ابن حجر رائې دا ده چه په دې حديث كښې د ركعتين نه مراد ركوعين دى (۲) او د حديث مطلب حافظ دا اغستې دې چه حضور ﷺ به د يو ركوع نه پس سرې اوليږلو چه معلوم كړى چه نمر صفا شوې دې او كه نهٔ، او حافظ دا هم ليكلى دى چه بظاهره دا معلومول په مانځه كښې د اشارې په ذريعې سره به وى او علامه عينى رحمه الله چه كومه معنى بيان كړې ده هغه د ظاهر حديث نه علاوه د احنافو د مسلك مطابق هم ده اول خو د ځكه چه د حنفيانو د ركوعين فى كل ركعة يعنى په هر ركعت كښې د دوو ركوع قائل نهٔ دى دويم ځكه چه زمونږه بعضې فقهاؤ ليكلي دى چه په صلوة الكسوف كښې د دوو ركعتو نه زيات هم كولې شى لكه څلور او شپږ كما فى البذل،ص،۲۲۷، او حضرت ګنګوهى رحمه الله په دې حديث كښې د ركعتين نه مراد ركوعين اغستې دې لكه څنګه چه حافظ ابن حجر رحمه الله خو په حديث كښې چه، يسال عنها، كوم مذكور دې د دې هغه مطلب ئې نهٔ دې اغستې كوم چه حافظ اختيار كړې دې چه سړې اوليږى او معلوم كړى بلكه د يسال عنها مطلب ئې دا اغستې دې چه په مانځه كښې به ئې د الله پاك نه سوال او دعاء كوله د نمر په باره كښې چه الله تعالى د دې حالت سم كړى او د دې رانړا واپس كړى، او د علامه عينى واله مطلب لره حضرت څكه نهٔ دې اختيار كړې چه دا د مشهور روايتونو خلاف دې ځكه چه د حضور ﷺ نه په كسوف كښې صرف دوه ركعته كول ثابت دى د دينه زيات نهٔ.

---

(۱): سنن النسائي/الكسوف ۱۶ (۱۴۸۶)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۵۲ (۱۲۶۲)، (تحفة الأشراف: ۱۱۶۳۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴/۲۶۷، ۲۶۹، ۲۷۱، ۲۷۷) (منكر)

(۲) لكه څنګه چه د شوافعو مذهب دې د دوئ په نيز باندې په هر ركعت كښې دوه ركوع او دوه قيام وى ۱۲ منه

[۱۱۹۴] (۱) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "فَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يَكَدْ يَرْكَعُ، ثُمَّ رَكَعَ فَلَمْ يَكَدْ يَرْفَعُ، ثُمَّ رَفَعَ فَلَمْ يَكَدْ يَسْجُدُ، ثُمَّ سَجَدَ فَلَمْ يَكَدْ يَرْفَعُ، ثُمَّ رَفَعَ فَلَمْ يَكَدْ يَسْجُدُ، ثُمَّ سَجَدَ فَلَمْ يَكَدْ يَرْفَعُ، ثُمَّ رَفَعَ، وَفَعَلَ فِي الرَّكْعَةِ الْأُخْرَى مِثْلَ ذَلِكَ، ثُمَّ نَفَخَ فِي آخِرِ سُجُودِهِ، فَقَالَ: أُفْ أُفْ، ثُمَّ قَالَ: رَبِّ أَلَمْ تَعِدْنِي أَنْ لَا تُعَذِّبَهُمْ وَأَنَا فِيهِمْ، أَلَمْ تَعِدْنِي أَنْ لَا تُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ"، فَفَرَغَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ صَلَاتِهِ وَقَدْ أَمْحَصَتِ الشَّمْسُ، وَسَاقَ الْحَدِيثَ.

د عبد الله بن عمرو نه روایت دی، هغه ویلي دي: خړ شو نمر په زمانه د رسول الله ﷺ کې، ودریدلو رسول الله ﷺ، نژدې نه وو چې رکوع یي کړې وه، بیایي رکوع وکړه، نژدې نه وو چې اوچت شي، بیا اوچت شو، نژدې نه وو چې سجده وکړي، بیایي سجده وکړه، نژدې نه وو چې اوچت شي، بیا اوچت شو، نژدې نه وو چې سجده وکړي، بیایي سجده وکړه، نژدې نه وو چې اوچت شي، بیا اوچت شو، او ویي کړه په دویم رکعات کې په مثل د هغې، بیایي پوکی وکړو په اخیرنی سجده کې، ویي ویل: اُف، اُف، بیایي وویل: ای ربه! تا ماسره وعده نه وه کړې چې دوی ته به عذاب نه ورکوي حال دا چې زه په دوی کې یم، ایا تا ماسره وعده نه وه کړي چې ته به دوی ته عذاب نه ورکوي په داسې حال کې چې استغفار غواړي؟ فارغ شو رسول الله ﷺ د خپل مونځ نه، او نمر خلاص شوی وو، او حدیث یي بیان کړو.

تشریح: قوله: حدثنا موسى بن اسماعيل..الخ، دا د عبدالله بن عمرو بن العاص حديث دې او د حنفیانو دلیل دې كما تقدم قبل ذلك،

قوله: ثم نفخ فی أخر سجوده فقال أُف اف، یعنی حضور ﷺ په سجده کښې په زوره زوره ساه اخستله لکه څنګه چه د ساه بندیدلو (یا ستړی والی) په وخت کیږی.

قوله: فقال أُف اف: حضور ﷺ به بعینه أف أف وئیل بلکه په نفخ یعنی پوکې وهل او ساه اغستلو سره چه کوم آواز راپورته کیږی د هغې د پوهه کولو دپاره په خپلو الفاظو کښې د هغې داسې تعبیر کوی، د راوی مقصود د حکایت صوت او یا د آواز د نقل ویستلو نهٔ دې چه د دویٔ د ژبې نه بعینه دا لفظ راوتلو لکه څنګه چه په صوت غراب یعنی د کارغهٔ آواز لره په غاق سره تعبیر کوی نو دا مطلب خو نهٔ وی چه ګینی کارغهٔ بعینه هم داسې وائی بلکه دا خو د هغهٔ د آواز نقل دی، سبحان الله څهٔ غوره توجیه ده.

[۱۱۹۵] (۲) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، حَدَّثَنَا الْجُرَيْرِيُّ، عَنْ حَيَّانَ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَمُرَةَ، قَالَ: بَيْنَمَا أَنَا أَتَرَمَّى بِأَسْهُمٍ فِي حَيَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ كُسِفَتِ الشَّمْسُ فَنَبَذْتُهُنَّ، وَقُلْتُ: لَأَنْظُرَنَّ مَا أَحْدَثَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي كُسُوفِ الشَّمْسِ الْيَوْمَ؟ فَانْتَهَيْتُ إِلَيْهِ وَهُوَ رَافِعٌ يَدَيْهِ يُسَبِّحُ وَيُحَمِّدُ وَيُهَلِّلُ وَيَدْعُو حَتَّى حُسِرَ عَنِ الشَّمْسِ، فَقَرَأَ بِسُورَتَيْنِ وَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ".

۱): سنن النسائي/الكسوف ١٤ (١٤٨٣)، ٢٠ (١٤٩٧)، سنن الترمذي/الشمائل ٤٤ (٣٠٧)، (تحفة الأشراف: ٨٦٣٩)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الكسوف ٣ (١٠٤٥)، ٨ (١٠٥٨)، صحيح مسلم/الكسوف ٥ (٩١٠)، مسند احمد (٢/١٧٥) (صحيح)

۲): صحيح مسلم/الكسوف ٥ (٩١٣)، سنن النسائي/ السكوف ٢ (١٤٦١)، (تحفة الأشراف: ٩٦٩٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٦١، ٦٢) (صحيح)

د عبد الرحمن بن سمرة نه روایت دی، هغه ویلي دي: په دغه وخت کې ما وېشتل غشي په ژوند د رسول الله ﷺ کې ناڅاپه خړ شو نمر، ما وغورځول، او ما وویل زه به خامخا ګورم چې د نمر خړوالي نن ورځ رسول الله ﷺ ته څه شی پېښ کړه، زه ورسیدم هغه ته او هغه اوچتونکی وو خپلو لاسونو لره چې تسبیح او حمد یي ویلو، او تهلیل او دعاء یي کوله، تردې چې ښکاره شو نمر، وېي لوستل دوه سورتونه، او وېي کړل دوه رکعاته.

تشریح: قوله: عن عبدالرحمٰن بن سمرة قال بينما انا ارتمي، دا حدیث د دې نه وړاندې، باب من قال اربع رکعات، د لاندې تیر شوې دې مونږ هلته د دې حواله هم ورکړې ده.

بَابُ الصَّلَاةِ عِنْدَ الظُّلْمَةِ وَنَحْوِهَا

باب دی په بیان د مونځ کې په وخت تیارې کې یا د دې په شان

یعنی که د کسوف نه علاوه بله څه د ویرې او خطرې خبره راپیښه شي مثلا تیز باد یا په ورځ کښې تیارهٔ خوره کیدل هم داسې زلزله وغیره، په دې سلسله کښې امام بخاری رحمه الله باب قائم کړې ده، باب ما قيل في الزلازل والايات.

د امام بخاری او د مصنف په ترجمة الباب کښې فرق:

خو په دې باندې هغوی په لفظ د صلوة سره باب نهٔ دې تړلې او نهٔ ئې د باب د لاندې داسې روایت ذکر کړې دې په کوم کښې چه د مانځه ثبوت وی، خو زمونږ مصنف رحمه الله په لفظ د صلوة سره باب تړلې دې، حضرت شیخ رحمه الله د بخاری په تراجم کښې لیکلی دی چه ابن قدامه حنبلی صرف د زلزلې په وخت کښې مونځ کول د امام احمد مذهب لیکلې دې او د نورو آیاتو او حوادثو په وخت کښې نهٔ، هغوی د امام مالك او شافعی مذهب هم دا لیکلې دې ځکه چه د حضور ﷺ نه د غیر کسوف دپاره مونځ کول ثابت نهٔ دی، او د حنفیانو مذهب هغوی دا لیکلې دې چه د دوئ په نیز د ټولو آفاتو په وخت کښې د مونځ کول مستحب دی ځکه چه حضور ﷺ د صلوة کسوف علت دا بیان فرمائیلې دې چه هغه یو آیة دې من آيات الله لهذا د ټولو آیاتو په وخت کښې مونځ کول پکار دی.

مذاهب أئمه:

خو حافظ ابن حجر په فتح الباری کښې دا لیکلې دی چه دا مسئله مختلف فیه ده او د امام احمد او اسحاق وغیره مذهب هغوی بغیر د تخصیص د زلزلې نه دا لیکلې دې چه د دوئ په نیز باندې په داسې مواقعو کښې مونځ کول پکار دی، او د امام شافعی په باره کښې دا لیکلی دی چه هغوی د داسې کارونو دپاره مونځ کول د حدیث په صحت پورې معلق کړې دی یعنی که د حدیث نه ثابت شي نو بیا دې مونځ اوکړې شی، حافظ رحمه الله فرمائی چه د ابن عباس نه په دې سلسله کښې روایت ثابت دې[1] په مصنف عبدالرزاق وغیره کښې موجود دې او د حنفیانو مذهب دا دې چه په داسې مواقعو کښې مونځ کول بلا جماعت مستحب دې.

[1]) حافظ په دې کښې یو روایت د حضرت عائشه رضي الله عنها نه هم مرفوعا نقل کړې دې کوم چه په صحیح ابن حبان کښې دې چه دهغې دا دی، صلوة الايات ست رکعات واربع سجدات) ۱۲ منه_

[۱۱۹۶] (¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ جَبَلَةَ بْنِ أَبِي رَوَّادٍ، حَدَّثَنِي حَرَمِيُّ بْنُ عُمَارَةَ، عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ النَّضْرِ، حَدَّثَنِي أَبِي، قَالَ: كَانَتْ ظُلْمَةٌ عَلَى عَهْدِ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: فَأَتَيْتُ أَنَسًا، فَقُلْتُ: يَا أَبَا حَمْزَةَ، هَلْ كَانَ يُصِيبُكُمْ مِثْلُ هَذَا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَ: مَعَاذَ اللهِ، إِنْ كَانَتِ الرِّيحُ لَتَشْتَدُّ فَنُبَادِرُ الْمَسْجِدَ مَخَافَةَ الْقِيَامَةِ.

د عبيد الله بن النضر نه روايت دى، ماته حديث بيان کړى دى زما پلار، هغه ويلي دي: تياره شوه په زمانه د انس بن مالک کې، هغه وايي: زه راغلم انس ته، ما وويل: اى ابو حمزه! ايا تاسو ته به د رسول الله په زمانه کې د دې پشان رسيدلو؟ هغه وويل: پناه غواړم په الله، شان داسې چې که سختيدلو به باد نو مونږ به تيزي کوله مسجد ته د وجې د ويرې د قيامت نه.

بَابُ السُّجُودِ عِنْدَ الْآيَاتِ

باب دى په بيان د سجدو کې په وخت د نښو کې

د حوادثو په وخت کښې الله پاك ته په سجده کښې پريوتل.

[۱۱۹۷] (²) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي صَفْوَانَ الثَّقَفِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ كَثِيرٍ، حَدَّثَنَا سَلْمُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنِ الْحَكَمِ بْنِ أَبَانَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، قَالَ: قِيلَ لِابْنِ عَبَّاسٍ: مَاتَتْ فُلَانَةُ بَعْضُ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَخَرَّ سَاجِدًا، فَقِيلَ لَهُ: أَتَسْجُدُ هَذِهِ السَّاعَةَ؟ فَقَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا رَأَيْتُمْ آيَةً فَاسْجُدُوا"، وَأَيُّ آيَةٍ أَعْظَمُ مِنْ ذَهَابِ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

د عکرمة نه روايت دى، هغه وايي: وويل شو ابن عباس ته، فلانۍ مړه شوه. بعضي د بيبيانو د نبي ﷺ نه. نو پريوتلو په سجده باندې، هغه ته وويل شول: ايا ته سجده کوې په دې وخت کې؟ هغه وويل: ويلي دي رسول الله ﷺ: کله چې تاسو څه نښه ووينئ نو سجده وکړئ. او کومه يوه نښه ډيره لويه د ختميدو د بيبيانو د نبي ﷺ نه.

تشريح: قوله: قيل لابن عباس ماتت فلانة بعض ازواج النبي صلى الله عليه وسلم فخرّ ساجدًا، د بعض ازواج نه مراد صفيه ؓ يا حفصه ؓ ده (قاله القاري) او په جمع الفوائد صفحه، ۲۳۴، ج، ۲، کښې د سوده ؓ تصريح ده.

په حديث شرح او سجده منفرده کښې مذاهب ائمه:

د دې نه پس په دې پوهيدل پکار دى چه سجده منفرده د حنفيانو او مالکيه په نيز مشروع نهٔ ده په خلاف د شوافعو او حنابله نه چه د هغوى په نيز تعبّد بالسجدة المنفردة، معتبر دې لهذا حنفيه او مالکيه د خپل مسلك مطابق دلته سجده په صلوة باندې محمول کوى، هم دا اختلاف په سجده شکر کښې هم دې، د دې وجه نه د امام مالك ؒ په نيز مکروه ده د شوافعو وغيره په نيز مشروع بلکه مستحب ده د صاحبينو هم دا مذهب دې او دامام صاحب په نيز باندې غير مشروع ده، بعضې وائى چه د امام صاحب رائې دا ده چه مشروع خو ده خو مستحب او سنت نهٔ ده، په دې کتاب يعنى سنن ابوداؤد کښې د کتاب الجهاد په آخره کښې

¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٦٢٥) (ضعيف)
²): سنن الترمذي/المناقب ٦٤ (٣٨٩١)، (تحفة الأشراف: ٦٠٣٧) (حسن)

سجده شکر باندې يو مستقل باب راروان دې، باب في سجود الشكر، بذل،ص،۶۳،ج،۴.

قوله، قال رسول الله صلى الله عليه وسلم اذا راءيتم اٰية فاسجدوا، يعنى تاسو چه کله کومه پيښنه يا آسماني آفت يا د زمکې آفت اوګورئ نو سجده کوئ، د شافعيه او حنابله په نيز دا حديث په خپل ظاهر باندې دې، او د دوئ په نيز صلوة هم مراد اغستلې شي ځکه چه په يو روايت کښې دى چه، كان رسول الله صلى الله عليه وسلم اذا حزبه امر بادر الى الصلوة، او د حنفيه د اصولو او مسلك متقضى دا ده چه د دينه مراد هم صلوة واغستلې شي.(كما تقدم قريبًا)

تَفْرِيْعُ اَبْوَابِ صَلَاةِ السَّفَرِ

د سفر د مونځ د ابوابو تفريع (احکام و مسائل)

بَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِ

باب دى په بيان د مانځه د مسافر کې

دلته پنځه مسائل دى:(كما فى حاشية اللامع والاوجز)

۱: **مسافة القصر**: يعنى د شرعى سفر تعريف په کوم کښې چه مونځ په قصر سره کولې شى د دې مسئلې دپاره مستقل باب وړاندې راروان دې،

۲. **متى يقصر المسافر**: يعنى شرعى مسافر لره په مانځه کښې قصر د کوم ځائې نه شروع کول پکار دى.

۳. **رخصة القصر فى السفر**: آيا په هر شرعى سفر کښې مونځ په قصر سره کولې شى يا په يو خاص سفر کښې؟

۴. **حكم القصر**: يعنى مسافر ته د قصر مونځ کول د رخصت درجه ده يا د عزيمت، قصر ضرور دې يا پوره هم جائز دى،

۵. **مدة الاقامة**: يعنى هغه کومه موده ده په کومه کښې چه د قيام په نيت سره شرعى مسافر د مقيم په حکم کښې کيږى، دا پنځه مسائل دى د کومو بيان به په خپل خپل باب کښې راشى، اوس بعضې مسائل نور هم دى، **تطوع فى السفر**، په سفر کښې سنت کول پکار دى او که نه، آذان فى السفر جمع بين الصلوتين فى السفر، په ذکر شوې باب سره د مصنف رحمه الله مقصود څلورمه مسئله بيانول دى.

بحث رابع: (حكم القصر): مسئله مختلف فيه ده، د حنفيه په نيز باندې قصر واجب دې او اتمام يعنى پوره کول ناجائز دى او که يو سړې اتمام اوکړى نو حنفيه دا فرمائى چه که دې سړى په دوو رکعتونو باندې قعده کړې وه نو بيا خو مونځ صحيح دې ګينى فاسد دې، د دې وجه دا ده چه د حنفيه په نيز باندې په سفر کښې قصر يعنى دوه رکعته د رخصت په توګه باندې نشته دې بلکه هم دوه رکعته عزيمت دى بيا په دې باندې زيادت څنګه جائز کيدې شى.

[۱۱۹۸]()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ صَالِحِ بْنِ كَيْسَانَ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: "فُرِضَتِ الصَّلَاةُ رَكْعَتَيْنِ، رَكْعَتَيْنِ فِي الْحَضَرِ وَالسَّفَرِ، فَأُقِرَّتْ صَلَاةُ السَّفَرِ، وَزِيدَ فِي صَلَاةِ الْحَضَرِ".

د عائشې رضي الله عنها نه روایت دی، هغې ویلي دي: فرض شوی دی مونځ دوه دوه رکعاته په حضر او سفرکې، نوپه خپل حالت پاتې شو مونځ دسفر، او زیادت وکړی شو په مانځه د حضر کې.

د حضرت عائشه رضي الله عنها د حديث مضمون كوم چه د حنفيانو مؤيد دې:

د باب رومبې حديث يعنى حديث د عائشه رضي الله عنها سره د حنفيه تائيد كيږي ځكه چه د حضرت عائشه رضي الله عنها د حديث مضمون دا دې چه په شروع كښې مونځونه هم دوه ركعته فرض شوي وو په سفر كښې وو يا په حضر كښې، بيا روستو په دې كښې ترميم اوشو هغه دا چه د حضر په مانځه كښې اضافه يعنى زياتوالې اوشو چه د دوو په ځائې باندې څلور ركعته شول، او د سفر مونځ په خپل زوړ حال باندې پاتې كړې شو، د دينه معلومه شوه چه په سفر كښې اصل هم دوه ركعته دى، دا مسلك خو د حنفيانو دې.

(د شوافعو دلائل)

او د شافعيه وغيره په نيز په سفر كښې دوه ركعته په طريقې د رخصت دى او عزيمت په سفر كښې هم څلور ركعته دى لهذا اتمام هم جائز دې د شافعيه استدلال په آيت كريمه، و اذا ضربتم فى الارض فليس عليكم جناح ان تقصروا من الصلوة، سره دې د كوم نه چه معلوميږي چه د مسافر دپاره قصر د سهولت او آسانتيا دپاره دې كه هغه اوكړي نو په دې كښې هيڅ حرج نشته دې، د نفى د حرج تقاضا دا ده كه غواړي نو اتمام هم كولې شى كوم چه اصل دې او دحديث د عائشه رضي الله عنها تاويل هغه دا كوى چه د سفر مونځ په خپل حال باندې برقرار اوساتلې شويعنى، لمن اراد ان يقتصر على الركعتين(قاله النووى، ص، ۲۴۱).

(د احنافو د طرفه جواب)

: دې په خلاف حنفيه دې حديث د عائشه رضي الله عنها لره په ظاهر باندې ساتى او د آيت كريمه جواب دا وركوى چه دا آيت د سفر د مانځه سره متعلق نۀ دې بلكه د صلوة الخوف سره متعلق دې لكه څنګه چه په خپله په آيت كښې ددې تصريح ده او د قصر نه مراد قصر الصفة دې نه قصر العدد و بعبارة اخرى المراد القصر من حيث الكيفية لا من حيث الكمية، يعنى د څلورو ركعتونو په ځائې دوه ركعته كول مراد نۀ دى بلكه مونځ لره خفيف او مختصر كول، چه د ويرې په حالت كښې مختصر مونځ زر اوكړې شى دې لره دې اوږد نۀ كړې شى، او كه دې لره په صلوة سفر باندې محمول كړې شى نو بيا به داسې اووئيلې شى چه آيت كښې د مسافر په مونځ باندې د قصر اطلاق حقيقة او فى حد ذاته نۀ دې بلكه، بالنسبة الى صلوة الحضر، يعنى د حضر د مانځه په لحاظ سره د سفر مونځ ته قصر وئيلې شوې دې ګينى په واقع كښې هغه هم پوره دې(او قرينه په دې باندې حديث د حضرت عائشه رضي الله عنها دې).

(): صحيح البخاري/الصلاة ۱ (۳۵۰)، وتقصير الصلاة ۵ (۱۰۹۰)، فضائل الصحابة ۷۶ (۳۷۲۰)، صحيح مسلم/المسافرين ۱ (۶۸۵)، سنن النسائي/الصلاة ۳ (۴۵۶)، (تحفة الأشراف: ۱۶۳۴۸)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/قصر الصلاة ۱ (۹)، مسند احمد (۲۳۴/۶، ۲۴۱، ۲۶۵، ۲۷۲)، سنن الدارمي/الصلاة ۱۷۹ (۱۵۵۰) (صحيح)

په قصر او اتمام کښې د مذاهب ائمه تفصیل:

د دې نه پس په دې پوهیدل پکار دی چه د شافعیه وغیره په نیز اگر که اتمام جائز دې خو افضل هم قصر دې، امام نووی په شرح د مسلم کښې په صفحه ۲۴۱ کښې هم دې قول لره صحیح او مشهور لیکلې دې[1] دویم روایت د دوئ دا دې چه اتمام افضل دې او دریم روایت ئې دا دې چه هما سواء دواړه برابر دی، او علامه صاوی مالکی لیکلي دی چه قصر د امام مالك په نیز سنت مؤکده دې او د اوجز نه معلومیږی چه د دوئ یو قول د قصر وجوب دې او یو د استحباب هم دې او د امام احمد یو قول دا دې چه قصر افضل دې، کما فی نیل المآرب، او یو قول دا دې چه سنت دې کما فی الروض المربع، او د امام احمد نه منقول دی چه، احب العافیة عن هذه المسئلة، خلاصه د مذاهبو دا رااوتله چه چه د حنفیانو په نیز اتمام ناجائز او د نورو علماؤ په نیز د دوئ د یو قول په بناء باندې ناجائز او د یو قول په بناء باندې جائز دې، او د شافعیه د مسلك تحقیق په حاشیه کښې اولیکلې شو د دوئ په نیز په یو صورت کښې اتمام افضل دې او په یو کښې قصر افضل دې خو اتمام جائز دې، بهر حال په خلاف د مالکیه او حنابله د دوئ په یو قول کښې اتمام ناجائز دې.

[۱۱۹۹][2] حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، وَمُسَدَّدٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ. ح وحَدَّثَنَا خُشَيْشٌ يَعْنِي ابْنَ أَصْرَمَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي عَمَّارٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بَابَيْهِ، عَنْ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ، قَالَ: قُلْتُ لِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ: أَرَأَيْتَ إِقْصَارَ النَّاسِ الصَّلَاةَ، وَإِنَّمَا قَالَ تَعَالَى: إِنْ خِفْتُمْ أَنْ يَفْتِنَكُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا سورة النساء آية ۱۰۱، فَقَدْ ذَهَبَ ذَلِكَ الْيَوْمَ؟ فَقَالَ: عَجِبْتُ مِمَّا عَجِبْتَ مِنْهُ، فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ "صَدَقَةٌ تَصَدَّقَ اللَّهُ بِهَا عَلَيْكُمْ فَاقْبَلُوا صَدَقَتَهُ".

د یعلی بن امیة نه روایت دی هغه وایي ما وویل عمر بن الخطاب ته: ما خبر کړه په قصر د خلقو مانځه لره، بیشکه الله تعالی ویلي دي (که چیرې تاسو ویریدئ چې فتنه کې په واچوې تاسو لره کافران) نو هغه ورځ خو لاړه، هغه وفرمایل: زه هم تعجب کوم د هغه څه نه چې ته ترینه تعجب کوې، نو دا خبره ما ذکر کړه رسول الله ﷺ ته، هغه وویل: دا یوه صدقه ده چې الله کړې ده په تاسو، نو تاسو هغه قبوله کړئ.

تشریح: قوله: یعلی بن امیه، دوئ ته یعلی بن منیه هم وائی امیه ئې د پلار نوم او منیه ئې د

[1]) د شافعیه مشهور مسلك علی الالسنة دا دې چه د دوئ په نیز باندې اتمام افضل دې، خو امام نووی د دې برعکس قصر لره افضل لیکلي دي بظاهر صحیح هغه دې کوم چه د شافعیه په مشهور کتاب شرح اقناع کښې لیکلي دي چه د کوم مسافر سفر علی مسافة یومین یا مرحلتین وی نو د هغهٔ په حق کښې خو اتمام افضل دې (ځکه چه هغهٔ د بعضې علماؤ په نیز باندې مسافر نهٔ دې) او که د دهٔ سفر علی مسافة ثلاثة مراحل یا ثلاثة ایام دې نو د دهٔ په حق کښې قصر افضل دې، خروجا عن خلاف ابي حنیفة ا هـ.

[2]): صحیح مسلم/المسافرین ۱ (۶۸۶)، سنن الترمذي/تفسیر سورة النساء ۵ (۳۰۳۴)، سنن النسائي/تقصیر الصلاة ۱ (۱۴۳۴)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۷۳ (۱۰۶۵)، (تحفة الأشراف: ۱۰۶۵۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۲۵، ۳۶)، سنن الدارمي/الصلاة ۱۷۹ (۱۵۴۶) (صحیح)

مور نوم، مشهور صحابی دې، قال قلت لعمر بن الخطاب اراءیت اقصار الناس الصلوة، و انها قال الله عزوجل ان خفتم ان یفتنکم اللذین کفروا، دا د باب دویم حدیث دې او ړومبې حدیث یعنی حدیث د حضرت عائشه رضي الله عنها باندې کلام د ترجمة الباب د لاندې تیر شوې دې، په دې حدیث کښې چه کوم سوال او جواب مذکور دی هغه ظاهر دی د تشریح محتاج نهٔ دی د دې حدیث په آخر کښې دی چه، فاقبلوا صدقة، یعنی د سفر په مونځ کښې چه کوم قصر شوې وو هغهٔ د الله تعالی د طرف نه یو بخشش دې دې لره قبول کړئ.

د دې حدیث نه حنفیه او شافعیه دواړه استدلال کوی، حنفیه وائی چه زمونږ دلیل دې، فاقبلوا د امر صیغه ده د کومې نه چه معلومیږی چه قصر فی صلوة السفر واجب دې، او شافعیه دا وائی چه دا حدیث زمونږ موافق دې ځکه چه د دینه معلومیږی چه په سفر کښې رکعتین کول په طریقې د قصر دی په رکعتینو باندې د قصر اطلاق هغه وخت به صحیح وی کله چه اصل فریضه څلور رکعاته وی.

په وجوب د قصر کښې د حنفیه دلائل:

په بذل المجهود کښې د حنفیه د مسلك په تائید کښې بالتفصیل اووهٔ دلائله ذکر کړې دی، د ټولو نه ړومبې دلیل په دې کښې دا لیکلې دې چه د حضور ﷺ نه د مشهورو روایاتو په اعتبار سره په خپل ټولو سفرونو کښې هم قصر ثابت دې همیشه به حضور ﷺ قصر فرمائیلو که اتمام جائز وې نو کله به حضور ﷺ د جواز د بیان دپاره داسې کړې وې، او دویم دلیل په بذل کښې د یعلی بن امیه واله حدیث دې شافعیه خو د دې په حقله دا وائی چه په متصدق علیه باندې د صدقې قبول واجب نهٔ دې بلکه دهٔ لره په دواړو کښې اختیار دې، زمونږ د طرف نه د دې جواب دا ورکړې شوې دې چه د داسې څیز تصدق په کوم کښې چه د تملیك احتمال نهٔ وی لکه څنګه چه دلته رکعتین هغه په حکم د اسقاط کښې وی یعنی صاحب د حق خپل حق ساقط کړو لهذا د دې تحقق د بل په قبلولو باندې موقوف نهٔ دې بلکه په هر حال کښې به ساقط شی.

[۱۲۰۰](۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، وَمُحَمَّدُ بْنُ بَكْرٍ، قَالَا: أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ أَبِي عَمَّارٍ يُحَدِّثُ، فَذَكَرَهُ نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ أَبُو عَاصِمٍ، وَحَمَّادُ بْنُ مَسْعَدَةَ، كَمَا رَوَاهُ ابْنُ بَكْرٍ.

ما اوریدلي دي د عبد الله بن ابي عمارة نه چي حدیث يي بیانولو، ذکريي کړو پشان د هغي. ویلي دي ابوداود: د دې روایت کړې دی ابو عاصم او حماد بن مسعدة لکه څرنګه چې روایت کړې دی ابن بکر.

قوله، قال ابوداؤ رواه ابوعاصم و حماد بن مسعدة، کما رواه ابن بکر،

شرح السند:

مصنف رحمه الله دې حدیث د یعلی لره په دوو سندونو سره ذکر کړې دې د دواړو مدار په ابن جریج باندې دې په ړومبې سند کښې ابن جریج نه روایت کونکی یحی بن القطان وو او

(۱): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۰٦٥۹) (صحیح)

دلته په دويم سند کښې عبدالرزاق او محمد بن بکر دي، په دواړو سندونو کښې چه کوم فرق دې مصنف ﷫ هغهٔ ښائی او دا وائی چه ابوعاصم او حماد بن مسعده هم دغه شان روايت کړې دې څنګه چه محمد بن بکر کړې دې، هغه فرق دا دې چه په ړومبي سند کښې ابن جريج او دعبدالله بن بابيه په مينځ کښې واسطه د عبدالرحمن بن عبدالله وه او په دې دويم سند کښې د عبدالرحمن په ځائې د هغوی دپلار عبدالله ده، او دې فرق له دغه شان هم تعبير کولې شی چه په ړومبی سند کښې د ابن جريج استاذ عبدالرحمن وو او په دې دويم کښې د عبدالرحمن پلار عبدالله دې.

تنبيه: په بذل المجهود کښې په دې ځائې کښې د تشريح په شروع کښې داسې دی ده د کومې نه چه دا وهم کيدې شی چه فرق په دواړو سندونو کښې د واسطه او عدم واسطه دې حال دا دې چه داسې نهٔ ده بلکه فرق د واسطې د بدليدو دې بيا وړاندې حضرت چه د دې کوم تحقيق فرمائيلې دې هغه صفا دې.

بَاب مَتَى يُقْصِرُ الْمُسَافِرُ

باب دی چې مسافر به کله قصر کوي؟

د ترجمة الباب تشريح:

د ترجمة الباب دوه مطلبه کيدې شی يو دا چه کوم سړې سفر شروع کوی نو هغه هم په خپل مانځه کښې قصر د کله نه کوی مسئله اختلافی ده.

په تقريبی توګه باندې د ائمه اربعه مذهب خو دا دې چه، اذا خرج من بيوت المصر، يعنی د آبادئ نه بهر وتلو نه پس په مانځه کښې قصر شروع کړی، د امام شافعی مشهور قول دا دې چه په دې کښې سورالبلد (د ښار پناه) له اعتبار دې کوم چه د لويو ښارونو کښې وی دې نه د تيريدلو نه پس دې قصر شروع کړی اګر که هلته آبادی نهٔ وی ختم شوې، او د مجاهد نه منقول دی که د سفر شروع په ورځ کښې شوې وی نو شپې راتللو نه وړاندې دې قصر نهٔ کوی، او که د سفر ابتداء د شپې نه شوې وی نو ورځ کيدو نه وړاندې دې قصرنهٔ کوی، ددې په مقابل کښې دعطاء مذهب دادې چه په آبادئ کښې هم قصر جائز دې.

او دويم احتمال په ترجمة الباب کښې دا دې چه د مصنف غرض د دينه د قصر مسافت له بيانول دی يعنی په کوم سفر کښې دننه قصر کيږی يعنی د شرعی سفر مقدار.

د حديث الباب نه دا معلوميږی چه د مصنف غرض هم دې مسئلې له بيانول دی چه په دې کښې اختلاف دې کومه چه وړاندې راروانه ده.

[۱۲۰۱] (¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ يَحْيَى بْنِ يَزِيدَ الْهُنَائِيِّ، قَالَ: سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ عَنْ قَصْرِ الصَّلَاةِ، فَقَالَ أَنَسٌ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَرَجَ مَسِيرَةَ ثَلَاثَةِ أَمْيَالٍ أَوْ ثَلَاثَةِ فَرَاسِخَ، شُعْبَةُ شَكَّ، يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ".

د يحيی بن يزيد الهنائي نه روايت دی هغه ويلي دي ما تپوس وکړو د انس بن مالک نه، د قصر د مانځه، نو انس ووئيل: وو رسول الله ﷺ کله چې به وتلو په اندازه د درې ميلونو؛ او

(¹): صحيح مسلم/المسافرين ۱ (۶۹۱)، (تحفة الأشراف: ۱۶۷۱)، وقد أخرجه: حم(۳/ ۱۲۹) (صحيح)

یا درې فرسخونو ـ شک کړی دی شعبه ـ مونځ به کوي دوه رکعاته.

۱: حدثنا ابن بشار..الخ، قوله، کان رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا خرج مسیرة ثلاثة امیال او ثلاثة فراسخ... یصلی رکعتین،

د حدیث نه د ظاهریه استدلال او د هغې جواب:

د قصر مسافت یعنی د سفر شرعی مقدار کښې اختلاف دې،د ظاهریه په نیز د دې مقدار درې میله دی او دظاهریه ډلې امام جزری په نیز یو میل دې، د ظاهریه استدلال هم ددې حدیث نه دې خو دې استدلال سره اولاً خو څکه صحیح نۀ دې چه په حدیث کښې د راوی شك مذکور دې د دریو میلو او دریو فرسخو په مینځ کښې شعبه لره شك کیږی، یو فرسخ د دریو میلو وی په دې حساب سره د درېو فرسخو نهۀ میله کیږی، ثانیاً جمهور دا وائی چه حضور ﷺ به نۀ په دریو میلو باندې قصر کولو او نۀ په دریو فرسخو باندې، دا حدیث یا خو په اختصار باندې مبنی دې یا د راوی په ظن باندې بلکه د روای په وهم باندې، صحیح صورت حال هغه دې کوم چه د باب په دویم حدیث کښې مذکور دې د کوم حاصل چه دا دې چه حضور ﷺ د خپل مکې په سفر کښې مدینې ته روانیدو نه پس چه ذوالحلیفه ته اورسیدلو کوم چه د سفر ړومبې منزل دې هلته حضور ﷺ د قصر مونځ اوکړو کوم چه د مدینې نه تقریبا د شپږو میلو په فاصله باندې دې اوس که کوم سړې دا وائی چه حضور ﷺ به په شپږو میلو باندې قصر فرمائیلو نو دا صحیح نۀ ده څکه چه ذوالحلیفه د حضور ﷺ د سفر منتها یعنی آخری منزل نۀ وو هغه خو په مینځ کښې منزل وو لکه څنګه چه څوك دسهارنپور نه دهلی دپاره روان شی او په لاره کښې د دیوبند په استیشن باندې د قصر مونځ اوکړی نو ولې د دې به دا معنی شی چه تر دیوبند پورې سفر کښې به قصر کولې کیږی.

دا خو شو د باب ړومبی حدیث باندې کلام او د ظاهریه د استدلال نه جواب.

د قصر په مسافة کښې د ائمه اربعه مذاهب:

اوس تاسو د قصر د مسافت په حقله د ائمه اربعه مذاهب واورئ، د ائمه ثلاثه په نیز د شرعی سفر مقدار، یومان او یوم و لیلة، یعنی صرف دوه ورځې بغیر د شپې دملولو او یا یوه ورځ او یوه شپه، او مرحلتان، مرحله لوې منزل ته وی، او اربعة بُرُدٍ، برد د برید جمع ده برید وړوکی منزل ته وائی کوم چه د دولسو میلو وی، یعنی څلور واړهٔ منزلونه یا دوه لوې منزلونه، او ستة عشر فرسخا، یو فرسخ د دریو میلو وی لهذا د شپاړسو فرسخو اتهٔ څلویښت میلونه شول، دا تفصیل دې د ائمه ثلاثه په نیز.

و عندنا ثلاثه ایام من اقصر ایام السّنة بسیر الابل او مشی الاقدام او ثلثه مراحل، یعنی درې ورځې یا درې لویې منزلونه، اصل تحدید خو زمونږ په نیز باندې هم دا دې، قال فی الهدایة و لا عبرة بالفرسخ، یعنی زمونږ په اصل مذهب کښې امیال او فراسخ لره اعتبار نشته دې، خو د هدایه په حاشیه کښې لیکلې دی چه البته مشایخ د حنفیه یعنی متاخرینو د فرسخ اعتبار کړې دې، بیا په دې کښې هغوئ درې اقوال لیکلې دی، ۱. یویشت فرسخ، ۲. اتلس فرسخ، ۳. پنځلس فرسخ، او دا ئې هم لیکلې دی چه فتوی په مینځنی قول باندې ده یعنی

په اتلسو فرسخو باندې،او یو فرسخ د دریو میلو وی نو اتلسو له په دریو کښې ضرب ورکولو سره څلورپنځوس میله کیږی خو د وروستنو مفتیان کرامو فتویٰ په اتۀ څلویښت میلو باندې ده۔

تنبیه: د جمهورو د ذکر شوې مسلك نه نه معلومیږی چه یوه مرحله د څلیریشتو میلو وی په دې حساب سره هغوی د مرحلتینو مقدار اتۀ څلویښت میله بیان کړې دې اوس چه هر کله په مذهب حنفی کښې د شرعی سفر مقدار درې مراحله دې نو د دې ټول تعداد د میلونو په اعتبار سره دوه اویا میله کیږی، دا خبره د غور قابله ده۔

فائده: مشهوره دا ده چه د احنافو په نیز د شرعی سفر مقدار د جمهورو د مقدار نه زیات دې په دې باندې زمونږ استاذ مرشد حضرت شیخ نور الله مرقده دا اشکال فرمائیلو چه مشهوره خو دا ده حال دا دې چه څنګه د اتۀ څلویښتو میلو د سفر مسافت د جهمورو په نیز دې هم دغه شان زمونږ علماء هم نیکی نو بیا څۀ فرق پاتې شو خو د دې جواب پورته چه مونږ کوم د مذاهبو تشریح کړې ده د هغې نه په خپله حل کیږی او هغه دا چه اصل خو زمونږ په نیز تقدیر بالزمان دې یا بالمراحل او هغه زمونږ په نیز باندې د جمهور نه زیات دې د هغوی په نیز دوه ورځې دی او زمونږ په نیز باندې درې ورځې او دا تقدیر بالامیال خو د متاخرینو او اهل فتویٰ ایجاد او پیدا کړې شوې دې۔

[۱۲۰۲] (¹)حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، وَإِبْرَاهِيمَ بْنِ مَيْسَرَةَ، سَمِعَا أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ يَقُولُ: "صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الظُّهْرَ بِالْمَدِينَةِ أَرْبَعًا، وَالْعَصْرَ بِذِي الْحُلَيْفَةِ رَكْعَتَيْنِ".

انس بن مالك ویلي دي: ما مونځ وکړو د رسول الله ﷺ سره د ماسپخین، په مدینه کې څلور رکعاته، او د مازیګر په ذو الحُلیفه کې دوه رکعاته.

بَابُ الْأَذَانِ فِي السَّفَرِ

باب دی په بیان د اذان کې په سفر کې

په سفر کښې آذان غیر مؤکد یعنی صرف مستحب دې، عند الاربعة. په هدایه کښې لیکلې دی چه د مسافر دپاره صرف اقامت باندې اکتفاء کول جائز دی، خو د آذان او اقامت دواړو پریخودل مکروه دی البته د داؤد ظاهری او د عطاء په نیز د مسافر په حق کښې هم فرض دی. دغه شان په دې هم پوهیدل پکار دی چه آذان د منفرد په حق کښې هم مستحب دې عندالجهمور والائمه الثلاثة. او د امام مالك نه مروی دی چه د منفرد دپاره صرف اقامت دې، و قیل لا یستحب و قیل یستحب لمن یرجو حضور الجماعة.

¹): صحيح البخاري/تقصير الصلاة ٥ (١٠٨٩)، والحج ٢٤ (١٥٤٦)، ٢٥ (١٥٤٨)، ١١٩ (١٧١٤)، والجهاد ١٠٤ (٢٩٥١)، صحيح مسلم/المسافرين ١ (٦٩٠)، سنن الترمذي/الصلاة ٢٧٤ (٥٤٦)، سنن النسائي/الصلاة ١١ (٤٧٠)، (تحفة الأشراف: ١٦٦، ١٥٧٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/ ١١٠، ١١١، ١٧٧، ١٨٦، ٢٣٧، ٢٦٨)، سنن الدارمي/الصلاة ١٧٩ (١٥٤٨)، ويأتي في الحج برقم ١٧٧٣) (صحيح)

[۱۲۰۳](¹)حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ مَعْرُوفٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ، أَنَّ أَبَا عُشَّانَةَ الْمَعَافِرِيَّ حَدَّثَهُ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "يَعْجَبُ رَبُّكُمْ مِنْ رَاعِي غَنَمٍ فِي رَأْسِ شَظِيَّةٍ بِجَبَلٍ، يُؤَذِّنُ بِالصَّلَاةِ وَيُصَلِّي، فَيَقُولُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: انْظُرُوا إِلَى عَبْدِي هَذَا يُؤَذِّنُ وَيُقِيمُ الصَّلَاةَ، يَخَافُ مِنِّي قَدْ غَفَرْتُ لِعَبْدِي وَأَدْخَلْتُهُ الْجَنَّةَ".

د عقبة بن عامر نه روایت دی، هغه ویلي دي: ما اوریدلي دي د رسول الله ﷺ نه چې ویل یې: تعجب کوي رب ستا د ساتونکي د ګډو نه په سر د غره کې، چې اذان کوي د مانځه دپاره، او مونځ کوي، نو وایي الله تعالی: اوګورئ زما دې بنده ته اذان کوي او مونځ قائموي، وېرېږي د مانه، ما خپله بنده ته بخښنه وکړه او جنت ته مې داخل کړو.

قوله، سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول یعجبُ ربك عزوجل من راعی غنم فی رأس شظیّة بجبل یؤذن بالصلوة، الله تعالی د هغه شپونکی نه ډیر خوشحالیږي (یا ئې ډیر خوښوي) کوم چه د غر په څوکه باندې آذان ورکوي.

د دې حدیث د ترجمة الباب سره په مطابقت کښې اشکال دې په ترجمة الباب کښې د مسافر ذکر دې او په حدیث کښې د شپونکی د کوم دپاره چه د مسافر کیدل ضروری نهٔ دی بلکه عام دې، جواب دا دې چه هم په دې عموم سره استدلال دې، خو غوره دا وه د مصنف دپاره چه هغهٔ په دې باب کښې د مالك بن الحویرث حدیث ذکر کړې وې لکه څنګه چه هغې لره امام نسائی، ترمذی او امام بخاری ﷫ ذکر کړې دي امام بخاری په دې سلسله کښې د ابوذرحدیث هم ذکرفرمائیلي دې د کوم نه چه اذان فی السفر ثابتیږي.

بَابُ الْمُسَافِرِ يُصَلِّي وَهُوَ يَشُكُّ فِي الْوَقْتِ

باب دی په بیان د مسافر کې چې مونځ کوي او د هغه شک وي په وقت کې

مسئله اجماعی ده چه سړی ته ترڅو پورې د وخت د داخلیدلو یقین او نهٔ شي تر هغه وخته پورې دهٔ لره په مانځه کښې شروع کول جائز نهٔ دی مسافر وی یا مقیم، په ترجمه کښې د مسافر قید احترازی نهٔ دې بلکه په دې حیثیت سره دې چه د وخت په حقله شك زیات تر هم په سفر کښې راپیښیږي.

[۱۲۰۴](²)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْمِسْحَاجِ بْنِ مُوسَى، قَالَ: قُلْتُ لِأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ حَدِّثْنَا مَا سَمِعْتَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: كُنَّا إِذَا كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي السَّفَرِ، فَقُلْنَا: زَالَتِ الشَّمْسُ أَوْ لَمْ تَزُلْ، صَلَّى الظُّهْرَ ثُمَّ ارْتَحَلَ".

مسحاج بن موسی وایي ما وویل انس بن مالک ته، مونږ ته بیان کړه هغه څه چې ته اوریدلي دي د رسول الله ﷺ نه، هغه وویل: وو مونږ کله چې به د رسول الله ﷺ سره وو په سفر کې، مونږ به دا خیال کولو، چې نمر زوال وکړو او که نه، نو د ماسپخین مونځ به یې کولو، بیا به روان شو.

---

¹): سنن النسائي/الأذان (۲۶/۶۶۷)، (تحفة الأشراف: ۹۹۱۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۴۵/۴، ۱۵۷) (صحیح)

²): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۵۸۶)، وقد أخرجه: صحیح البخاري/تقصیر الصلاة ۱۵ (۱۱۱۱)، ۱۶ (۱۱۱۲)، صحیح مسلم/المسافرین ۵ (۷۰۴)، سنن النسائي/المواقیت ۴۱ (۵۸۷)، مسند احمد (۱۱۳/۳، ۲۴۷، ۲۶۵) (صحیح)

قوله، فقلنا زالت الشمس او لم تزل صلی الظهر، د دینه د راوی مقصود مبالغه فی التعجیل لره بیانول دی چه په سفر کښې به حضور ﷺ د ماسپخین مونځ بالکل په اول وخت کښې ادا کولو، مونږ به سوچ کولو چه خبر نشته چه په دې شان به زوال شوې وی یا نه؟

[۱۲۰۵]([۱]) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ شُعْبَةَ، حَدَّثَنِي حَمْزَةُ الْعَائِذِيُّ، رَجُلٌ مِنْ بَنِي ضَبَّةَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ، يَقُولُ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا نَزَلَ مَنْزِلًا لَمْ يَرْتَحِلْ حَتَّى يُصَلِّيَ الظُّهْرَ، فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ: وَإِنْ كَانَ بِنِصْفِ النَّهَارِ؟ قَالَ: وَإِنْ كَانَ بِنِصْفِ النَّهَارِ".

یو سړی چې د بنې ضبة نه دی هغه وایي ما اوریدلي دي د انس بن مالک نه هغه به ویل: وو رسول الله ﷺ کله چې به یې پړاو ونیولو نو نه به تلو تردې چې د ماسپخین مونځ وکړي، نو هغه یو سړي وویل: اګر ووبه په نیمایي د ورځ کې؟ هغه وویل: اګر ووبه په نیمایي د ورځ کې.

بَابُ الْجَمْعِ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ

باب دی په بیان د جمع کولو د دوه مونځونو کې

د سفر احکام روان دی د دېنه یو حکم دا دې چه د سفر د وجه نه جمع بین الصلوتین جائز دی، او دا خبره په ډیرو احادیثو سره ثابته ده خو د علماؤ په دې کښې اختلاف کیږی چه د جمع نه مراد جمع حقیقی ده یعنی من حیث الوقت (یو مونځ لره د بل مونځ په وخت کښې کول) یا جمع صوری چه د هغې مطلب دا دې چه ړومبی مونځ لره بالکل د دې په آخری وخت کښې ادا کړې شی او دویم مونځ لره د دې په اول وخت کښې دلته صرف صورة جمع ده حقیقة نۀ دې ته جمع من حیث الفعل سره هم تعبیر کوی.

جمهور علماء، ائمه ثلاثه احادیثو لره په جمع حقیقی باندې محمول کوی او د دې د جواز قائل دی او حضرات احناف د جمع صوری، احادیث په دې سلسله کښې محتمل دی د بعضو نه بظاهر جمع حقیقی په پوهه کښې راځی او د بعضو نه صراحة د جمع صوری تائید کیږی، وړاندې په کتاب کښې دواړه شان روایتونه راروان دی.

داختلاف روایات په وخت کښې اوفق بالقران لره ترجیح:

زمونږ حضرت شیخ رحمه الله په خپل تقاریرو کښې په کثرت سره به دا خبره فرمائیله چه د احنافو د اصولو نه یو دا دې چه هغوی د اختلاف روایاتو په وخت کښې اوفق بالقرآن لره اختیاروی او ظاهره خبره ده چه روایاتو لره په جمع صوری باندې محمول کول اوفق بالقرآن دی، قال الله تعالی، ان الصلوة کانت علی المؤمنین کتابًا موقوتا، په تفسیر بیضاوی کښې لیکلي دی چه، ای فرضا محدودالاوقات لا یجوز اخراجها عن اوقاتها فی شیء من الاحوال، دغه شان جلال الدین سیوطی لیکی چه، کتابا مکتوبا، ای مفروضا، موقوتا، ای مقدرا وقتها فلا تؤخر عنه، د مشکوٰة شریف شرح التعلیق الصبیح، ص، ۱۲۴، ج، ۲، کښې د شیخ اکبر محی الدین ابن العربی نه نقل کړی دی چه دا خبره بالکل واضحه ده چه د مونځ د وختونه هر یو ځانله ځانله نصوص صحیحه او صریحه سره ثابت دي لهذا هیڅ یو مونځ لره د هغې د معین وخت نه

---

[۱]: سنن النسائي/المواقيت ٢ (٤٩٩)، (تحفة الأشراف: ٥٥٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٢٠/٣، ١٢٩) (صحيح)

علاوه د بل په وخت کښې کولو جواز تر هغه وخته پورې نۀ شی کیدې ترڅو پورې چه د دې ثبوت په نص صریح غیر محتمل سره او نۀ شی او دلته داسې نۀ ده ځکه چه د جمع بین الصلوتین روایتونه محتمل او متکلم فیه دی یا صحیح دی خو نص نۀ دی.

په جمع بین الصلوتین کښې د ائمه مذاهب:

د دې نه پس دا زده کول پکار دی چه جمع بین الصلوتین کښې شپږ مذهبه مشهور دی، ۱. الجواز مطلقا و هو مذهب الائمه الثلاثة، ۲. عدم الجواز مطلقا وهو قول ابی حنیفة والصاحبین والنخعی والحسن، خو په عرفات او مزدلفه کښې چه کوم جمع بین الصلوتین کیږی هغۀ د دینه مستثنٰی دی په دې دواړو ځایونو کښې جمع بین الصلوتین بالاجماع جائز ده.
۳. یجوز الجمع اذا جدّبه السیر، یعنی که کوم د جلتئ سفر وی(ایمرجنسی) دا د امام مالك مشهور قول دې، ۴. یجوز الجمع اذا اراد به قطع الطریق، بظاهر مطلب دا دې چه که جمع بین الصلوتین په دې مصلحت سره کولې شی چه سفر زر پوره شی نو بیا جائز دې ګینی محض تفریحاً او د آسانتیا په توګه باندې جائز نۀ دې دا د ابن حبیب مالکی قول دې، ۵. جمع بین الصلوتین اګر که جائز دې خو مع الکراهیة دا د امام مالك رحمه الله یو روایت دې، ۶. دابن حزم ظاهری مذهب دا دې چه جمع بین الصلوتین تاخیراً جائز دې تقدیماً نۀ، ددوئ رائې داده چه د حضور ﷺ نه جمع بین الصلوتین په سفر کښې صرف تاخیراً ثابت ده(مثلا ماسپخین او مازیګر دواړه د مازیګر په وخت کښې کول) تقدیماً ثابت نۀ دې.

فائده: د جمع بین الصلوتین مختلف اسباب دی، ۱. لاجل الاستحاضة، چنانچه په دې سلسله کښې روایات په ابواب الاستحاضه کښې تیر شوې دی، ۲. جمع بین الصلوتین لاجل السفر(دا خو زیر بحث دې) ۳، جمع بین الصلوتین فی الحضر لاجل المرض، دا په ائمه کښې صرف د امام احمد رحمه الله په نیز باندې جائز ده، ۴. جمع فی الحضر لاجل المطر، یعنی د حضر په حالت کښې د باران د زیاتوالی د وجه نه دوه مونځونو لره په یو ځائې کښې جمع کول دا د ائمه ثلاثه په نیز باندې جائز دی د حنفیانو په نیز باندې جائز نۀ دی(بلکه د دوئ په نیز خو یو قسم هم جائز نۀ دې) خو امام مالك دا فرمائی چه دا جمع لیلیتین یعنی د شپې په مونځونو کښې خو جائز ده او نهارتین یعنی د ورځې په مونځونو(ماسپخین او مازیګر) کښې جائز نۀ ده. چنانچه د باران د ډیروالی د وجه نه د دوئ په نیز په ماښام او ماسخوتن دواړو کښې جمع کولې شی، خلق جوماتت ته د ماښام مونځ کولو دپاره تللې وو هلته تیز باران شروع شو نو دا خلق دې د ماښام دمونځ سره د ماسخوتن مونځ هم اوکړی دې دپاره چه په دویم ځلی په باران کښې راتلل رانۀ شی نو جائز ده خو د ماسپخین او مازیګر په مونځونو کښې داسې کول جائز نۀ دی ځکه چه د ورځې کومه زیاته پریشانی نۀ وی، په خلاف د امام شافعی او احمد رحمهما الله نه چه د دوئ په نیز ماسپخین او مازیګر کښې هم جمع کولې شی.

ایا جمع فی الحضر هم جائز ده؟

د جمع فی الحضر یو قسم باقی پاتې شو یعنی بغیر د څه عذر او مجبورئ نه جمع بین الصلوتین کول، دا قسم په ائمه اربعه کښې د چا په نیز هم جائز نهٔ ده آو دبعضې نورو علماؤ په نیز باندې جائز ده بشرط ان لا یتخذه عادة ذهب الیه ابن سیرین و ربیعة الرائ و ابن المنذر و جماعة من اصحاب الحدیث.

[۱۲۰۶] ()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ الْمَكِّيِّ، عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ عَامِرِ بْنِ وَاثِلَةَ، أَنَّ مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ أَخْبَرَهُمْ، أَنَّهُمْ خَرَجُوا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ "فَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَجْمَعُ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ، وَالْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ، فَأَخَّرَ الصَّلَاةَ يَوْمًا، ثُمَّ خَرَجَ فَصَلَّى الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ جَمِيعًا، ثُمَّ دَخَلَ، ثُمَّ خَرَجَ فَصَلَّى الْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ جَمِيعًا".

معاذ بن جبل دوی ته خبر ورکړی دی، بېشکه دوی ووتل د رسول الله ﷺ سره په غزوه د تبوک کې، رسول الله ﷺ وو چې جمع به یې کوله په مابین د ماسپخین او مازیگر کې، او په مابین د ماښام او ماسختون کې، یوه ورځ یې مونځ وروسته کړو، بیا راووتلو د ماسپخین او مازیگر مونځ یې وکړو، بیا ننوتلو، بیا راووتلو، مونځ یې وکړو د ماښام او د ماسختون.

تشریح: اوس مونږ د هغهٔ تمهیدی مباحثو او مسائلو نه پس د کومو پیژندل چه ډیر ضروری او مفید وو د حدیث اصل مضمون لره اخلو.

قوله: حدثنا القعنبي عن مالك عن ابی الزبیر المکي..الخ، دا د جمع بین الصلوتین په باره کښې د حضرت معاذ رضی الله عنه حدیث دې کوم چه مصنف رحمه الله په مختلفو طرقو سره ذکر کړې دې د دې بعضې طرقو کښې جمع تقدیم مذکور ده.

ابن حزم ظاهری په سفر کښې د جمع تاخیر خو قائل دې خو د جمع تقدیم قائل نهٔ دې هغه فرمائی چه جمع تقدیم په یو صحیح حدیث سره نهٔ ده ثابت، او دا وړاندې راغلي دی چه احناف نهٔ د جمع تقدیم قائل دی او نهٔ د جمع تاخیر د دوئ په نیز په دې ټولو احادیثو کښې د جمع نه مراد جمع صوری ده.

په جمع تقدیم او جمع تاخیر باندې بحث:

خو د جمع صوری واله توجیه او تاویل په جمع تاخیر کښې په آسانتیا سره کیدې شی په جمع تقدیم کښې مشکل دې ځکه چه د جمع تاخیر مطلب دا دې لکه څنګه چه په بعضې روایاتو کښې د دې تصریح ده چه حضور ﷺ به کله د یو سفر په مینځ کښې د کوم منزل نه روانیدلو نو که هغه وخت به د ماسپخین وخت شروع شوې نهٔ وو نو بغیر د مونځ کولو نه به د هغهٔ ځائې نه روانیدلو او بیا وړاندې به لاړلو او د ماسپخین په آخر وخت کښې به ئې ماسپخین او مازیگر جمع فرمائیل، دا خو شوه جمع تاخیر، په دې کښې د حنفیانو توجیه

[1] صحیح مسلم/المسافرین ٦(٧٠٦)، والفضائل ٣(١٠/٧٠٦)، سنن النسائي/المواقيت ٤١ (٥٨٨)، سنن ابن ماجه/اقامة الصلاة ٧٤(١٠٧٠)، وانظر مایاتي برقم : ١٢٢٠، (تحفة الأشراف: ١١٣٢٠)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الجمعة ٤٢ (٥٥٣)، موطا امام مالك/قصر الصلاة ١(٢)، مسند احمد (٢٢٩/٥، ٢٣٠، ٢٣٣، ٢٣٦، ٢٣٧)، سنن الدارمي/الصلاة ١٨٢(١٥٥٦) (صحيح)

خو په آسانه کيدې شي چه ماسپخين ئې د دې په آخری وخت کښې او ماز يگر ئې د دې په اول وخت کښې کړې دې.
او د جمع تقديم کوم چه په بعضې ضعيف رواياتو سره ثابت دی د دې صورت دا راغلې دې چه حضور ﷺ به کله د يو منزل نه روانيدلو نو که دغه وخت به زوال شوې وو نو د ماسپخين او دې سره به ئې د مازيگر مونځ کولو، نو اوس اوګورئ دا جمع تقديم ده په دې کښې د جمع صوری توجيه ډيره مشکله ده، خلاف ظاهر ده د دې جواب زمونږ سره دا دې چه جمع تقديم د سره ثابت نۀ ده، كما اعترف به ابن حزم.

د روايات الباب تجزيه:

د دې نه پس تاسو پوهه شئ چه د باب دا ړومبې حديث د حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه دې دې لره مصنف په ګڼړو طرقو سره ذکر کړې دې دا ړومبئ طريق د، عن مالك عن ابی الزبير، دې په دې کښې صرف جمع تاخير مذکور ده د دې نه پس متصلا هم دا حديث د، سعد بن هشام، په طريق سره راروان دې په هغې کښې جمع تقديم مذکور ده.
جواب دا دې چه سعد راوی ضعيف او متكلم فيه دې، دغه شان ځو احاديثه روستو بيا هم دا حديث د معاذ رضی الله عنه په يوې بلې طريقې سره راځی، يزيد بن ابی حبيب عن ابی الطفيل، په هغې کښې هم جمع تقديم موجود ده خو په دې روايتونو باندې محدثينو نقد کړې دې په خپله مصنف هم، قال ابوداؤد لم يرو هذا الحديث الا قتيبة وحده، د دې نه علاوه بل چا د ليث نه په دې کښې د جمع تقديم ذکر نۀ دې کړې، هم دا خبره امام ترمذی هم فرمائيلې ده، قال الترمذی حسن غريب تفرد به قتيبة والمعروف عند اهل العلم حديث معاذ من حديث ابی الزبير عن ابی الطفيل عن معاذ، بلکه ابن الجوزی خو دې حديث د معاذ لره په کوم کښې چه جمع تقديم موجود ده موضوع ګرځولې دې، دغه شان وړاندې په کتاب کښې د حضرت انس رضی الله عنه حديث راځی د هغې نه په صفا توګه دا معلوميږی چه حضور ﷺ صرف جمع تاخير به فرمائيله نۀ جمع تقديم.

[۱۲۰۷]([1]) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْعَتَكِيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ نَافِعٍ، أَنَّ ابْنَ عُمَرَ اسْتُصْرِخَ عَلَى صَفِيَّةَ وَهُوَ بِمَكَّةَ، فَسَارَ حَتَّى غَرَبَتِ الشَّمْسُ وَبَدَتِ النُّجُومُ، فَقَالَ "إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا عَجِلَ بِهِ أَمْرٌ فِي سَفَرٍ جَمَعَ بَيْنَ هَاتَيْنِ الصَّلَاتَيْنِ، فَسَارَ حَتَّى غَابَ الشَّفَقُ، فَنَزَلَ فَجَمَعَ بَيْنَهُمَا".

د نافع نه روايت دی بېشکه ابن عمر ته خبر ورکړی شو د مرګ د صفيه او هغه په مکه کې وو، نو روان شو تردې چې نمر ډوب شو او ستورې راښکاره شول، نو هغه ووېل بېشکه نبي ﷺ وو چې کله به جلتي کوله په هغه باندې څه کار په سفر کې، نو جمع به يې کوله په مابين د دې دواړو مونځونو کې، نو روان شو تردې چې شفق غائب شو، نو راخکته شول او

[1]): تفرد به أبو داود، ((تحفة الأشراف: ٧٥٨٤))، وقد أخرجه: صحيح البخاري/تقصير الصلاة ٦ (١٠٩١)، والعمرة ٢٠ (١٨٠٥)، والجهاد ١٣٦ (٣٠٠٠)، صحيح مسلم/المسافرين ٥ (٧٠٣)، سنن الترمذي/الصلاة ٢٧٧ (٥٥٥)، سنن النسائي/المواقيت ٤٣ (٥٩٦)، موطا امام مالك/قصر الصلاة ١(٣)، مسند احمد (٥١/٢، ٨٠، ١٠٢، ١٠٦، ١٥٠)، سنن الدارمي/الصلاة ١٨٢(١٥٥٨) (صحيح)

دواړه يې جمع کړل.

۲. حدثنا سليمان بن داؤد العتکی..الخ، قوله، ان ابن عمر أستصرخ علی صفية و هوبمکة،

د حديث مضمون:

حضرت ابن عمر رضی الله عنهما ته کله چه هغوی په مکه کښې وو، د هغوی د بی بی صفيه قاصد رااورسيدلو او هلته لاړه او د دوئ د بی بی د طرف نه ئې خبرې اوکړې، يعنی د دوئ د بی بی د طرف نه ئې فرياد او استغاثه اوکړه، د استصراخ معنی ده د مصيبت په وخت کښې چا ته آواز کول د مدد دپاره، د ترمذی په روايت کښې د دې پځائې د، استغيث، لفظ دې، په اصل کښې د دوئ بی بی کومه چه غالبًا په مدينه منوره کښې وه هغه ډير ناجوړه وه نو هغوی خپل خاوند ابن عمر رضی الله عنهما ته کله چه هغه په مکه کښې وو ديو قاصد په ذريعې سره دا وينا اوليږله چه، انی فی آخر يوم من ايام الدنيا و اول يوم من الاخرة، چه دا زما د ژوند آخری ورځ ده که مخ مې کتل غواړې نو سمدستی راشه، چنانچه په دې باندې هغوی سمدستی د هغهٔ ځائې نه راروان شو او دا د مازيګر د مونځ نه پس وخت وو په لاره کښې د ماښام د مونځ وخت راغلو نو خادم ورته عرض اوکړو چه مونځ اوکړئ خو هغوی دغه وخت مونځ اونهٔ کړو او روان وو وړاندې په حديث کښې دی.

فساد حتی غاب الشفق فنزل فجمع بينهما، يعنی د غروب شفق نه پس هغوی د سورلئ نه راکوز شول او د ماښام او ماسخوتن مونځ ئې د ماسخوتن په وخت کښې جمع کړو، بظاهر دا جمع حقيقی ده خو صورت حال دا دې چه مصنف دې واقعه سره په مختلفو طريقو سره مکرر درې وارې په دې باب کښې ذکر کړې ده وړاندې د يو روايت الفاظ دا دی چه، حتی اذا کان قبل غيوب الشفق نزل فصلی المغرب ثم انتظر حتی غاب الشفق فصلی العشاء.

د حنفيانو د مسلک واضح دليل:

په دې روايت کښې تصريح ده چه هغهٔ د غروب شفق نه پس نهٔ وو بلکه د هغې نه وړاندې غروب ته نزدې د سورلئ نه کوز شو او د ماښام مونځ ئې ادا کړو بيا لږ غوندې انتظار ئې اوفرمائيلو تر دې چه کله غروب شفق اوشو نو بيا ئې د ماسخوتن مونځ اوکړو، بحمد الله تعالی دا روايت بالکل صريح او صفا دې، لهذا په کوم روايت کښې چه دا دی چه د غروب شفق نه پس هغهٔ د سورلئ نه کوز شو د هغې نه مراد قرب غروب يعنی غروب ته نزدې، دغه شان د نسائی شريف په يو روايت کښې دی چه، حتی اذا کان فی آخر الشفق نزل، د دينه هم دا معلوميږی چه د هغوی نزول د غروب شفق نه وړاندې شوې وو، دا خو اګر که د ابن عمر رضی الله عنهما فعل او د هغوی واقعه ده خو وړاندې په روايت کښې مزيد دا هم راځی چه، ثم قال ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کان اذا عجل به امر صنع مثل الذی صنعت، ابن عمر رضی الله عنهما د دې جمع صوری نه پس فرمائی چه حضور صلی الله علیه وسلم به هم په سفر کښې هم داسې کول، معلومه شوه چه د دې سلسلې په ټولو روايتونو کښې د جمع نه مراد جمع صوری ده، فلله الحمد والمنة.

[۱۲۰۸] (۱) حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ خَالِدِ بْنِ يَزِيدَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَوْهَبٍ الرَّمْلِيُّ الْهَمْدَانِيُّ، حَدَّثَنَا الْمُفَضَّلُ بْنُ فَضَالَةَ، وَاللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ، عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ إِذَا زَاغَتِ الشَّمْسُ قَبْلَ أَنْ يَرْتَحِلَ جَمَعَ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ، وَإِنْ يَرْتَحِلْ قَبْلَ أَنْ تَزِيغَ الشَّمْسُ أَخَّرَ الظُّهْرَ حَتَّى يَنْزِلَ لِلْعَصْرِ، وَفِي الْمَغْرِبِ مِثْلُ ذَلِكَ إِنْ غَابَتِ الشَّمْسُ قَبْلَ أَنْ يَرْتَحِلَ جَمَعَ بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ، وَإِنْ يَرْتَحِلْ قَبْلَ أَنْ تَغِيبَ الشَّمْسُ أَخَّرَ الْمَغْرِبَ حَتَّى يَنْزِلَ لِلْعِشَاءِ، ثُمَّ جَمَعَ بَيْنَهُمَا". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، عَنْ حُسَيْنِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ كُرَيْبٍ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَ حَدِيثِ الْمُفَضَّلِ، وَاللَّيْثِ.

د معاذ بن بن جبل ﷛ نه روایت دی، بېشکه رسول الله ﷺ وو په غزوه د تبوک کې کله چې نمر به مائل شو مخکې د روانیدو نه، جمع به یې کوله په مابین د ماسپخین او مازیګر کې، او که سفر به یې کولو مخکې د مائل کیدو د نمر نه، نو وروسته کولو به یې ماسپخین تردې چې کوز به شو د مازیګر په وقت کې، او په ماښام کې به یې همدغسې کول، که نمر به ډوب شوی وو مخکې د روانیدو نه نو جمع به یې کوله په مابین د ماښام او ماسخوتن کې، او که روانیدو به مخکې د ډوبېدو د نمر نه نو وروسته کولو به یې ماښام تردې چې راخکته به شو د ماسخوتن دپاره، بیا به یې جمع وکړه په مابین د دواړو کې. ویلي دي ابوداود: روایت کړی دی دې لره هشام بن عروه د حسین بن عبد الله نه او هغه د کریب نه اوهغه د ابن عباس نه اوهغه د نبي ﷺ نه پشان دحدیث د مفضل او دلیث

۳. حدثنا يزيد بن خالد..الخ، دا د حضرت معاذ ﷛ هغه حدیث دې په کوم کښې چه جمع تقدیم ذکر ده په کوم باندې چه زمونږ په نیز باندې کلام وړاندې تیر شوی دی.

[۱۲۰۹] (۲) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نَافِعٍ، عَنْ أَبِي مَوْدُودٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ أَبِي يَحْيَى، عَنْ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "مَا جَمَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ قَطُّ فِي السَّفَرِ إِلَّا مَرَّةً". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَهَذَا يُرْوَى عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ ابْنِ عُمَرَ، مَوْقُوفًا عَلَى ابْنِ عُمَرَ، أَنَّهُ لَمْ يَرَ ابْنَ عُمَرَ جَمَعَ بَيْنَهُمَا قَطُّ إِلَّا تِلْكَ اللَّيْلَةَ، يَعْنِي لَيْلَةَ اسْتُصْرِخَ عَلَى صَفِيَّةَ، وَرُوِيَ مِنْ حَدِيثِ مَكْحُولٍ، عَنْ نَافِعٍ، أَنَّهُ رَأَى ابْنَ عُمَرَ فَعَلَ ذَلِكَ مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ.

د ابن عمر ﷛ نه روایت دی هغه ویلي دي: رسول الله ﷺ د ماښام او ماسخوتن په سفر کې هیڅ کله نه دی جمع کړې غیر د یو ځل نه. ویلي دي ابوداود: او د دې روایت کېږي د ایوب نه، او هغه د نافع نه چې موقوف دی په ابن عمر باندې، هغه ابن عمر نه دی لیدلی، هغه جمع نه ده کړې مګر دغه شپه یعني هغه شپه چې خبر ورته ورکړی شو د مرګ د صفیه، او نقل شوی دی د حدیث د مکحول نه، او هغه د نافع نه، بېشکه هغه ابن عمر لیدلی دی، کړی یې دی دغه یو ځل او یا دوه ځله.

۴. حدثنا قتيبة..الخ، قوله، عن ابن عمر قال ما جمع رسول الله صلى الله عليه وسلم بين المغرب والعشاء قط في السفر الا مرة، په دې کښې یو لوئي اشکال دې چه حضور ﷺ صرف یو ځل په سفر کښې د ماښام او ماسخوتن جمع فرمائیلې ده، او حضور ﷺ خو څو څو ځله دا جمع

[1]: انظر حديث رقم: ١٢٠٦، (تحفة الأشراف: ١١٣٢٠) (صحيح)
[2]: انظر حديث رقم: (١٢٠٧)، (تحفة الأشراف: ٧٠٩٣) (صحيح)

فرمائیلې دہ، جواب دا دې چه د راوی مقصود مطلق سفر نۀ دې بلکه په دیو خاص سفر په باره کښې دا وائی چه په هغې کښې حضور ﷺ صرف یو ځل جمع فرمائیلې وہ. فلا اشکال.

[۱۲۱۰](١) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ الْمَكِّيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ جَمِيعًا، وَالْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ جَمِيعًا فِي غَيْرِ خَوْفٍ وَلَا سَفَرٍ"، قَالَ: قَالَ مَالِكٌ: أَرَى ذَلِكَ كَانَ فِي مَطَرٍ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ نَحْوَهُ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، وَرَوَاهُ قُرَّةُ بْنُ خَالِدٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، قَالَ: فِي سَفْرَةٍ سَافَرْنَاهَا إِلَى تَبُوكَ.S

د عبد الله بن عباس رضی الله عنه نه روایت دی، هغه وئیلې دي مونځ وکړو رسول الله ﷺ د ماسپخین او د مازیګر دواړه، او د ماښام او د ماسخوتن دواړه، بغیر د خوف او د سفر نه هغه وایي: وئیلي دي مالک زما دا خیال دی چې دا په باران کی وو وئیلي دي ابوداود او روایت کړی دی حماد بن سلمة پشان د هغې د ابو الزبیر نه، او روایت کړی دی قرة بن خالد د ابو الزبیر نه هغه وایي: په یو سفر کې چې مونږ کړی وو تبوک ته

تشریح: قوله: عن عبدالله بن عباس قال صلی رسول الله صلی الله علیه وسلم الظهر والعصر جمیعا والمغرب والعشاء جمیعا فی غیر خوف و لا سفر، او په بعضې روایتونو کښې دغه شان دی چه، صلی رسول الله صلی الله علیه وسلم ثمانیاً جمیعا و سبعا جمیعا، ماسپخین او مازیګر چه دواړه یو ځائې کړې نو اتۀ رکعاته کیږی هغه حضور ﷺ یو ځائې اوکړل او ماښام او ماسخوتن چه دواړه یو ځائې کړې نو اووۀ رکعاته کیږی هغه هم حضور ﷺ یو ځائې کړل

جمع فی الحضر:

دا جمع بین الصلوتین فی السفر نۀ ده لکه څنګه په روایت کښې د دې تصریح ده بلکه دا جمع فی الحضر ده، نو ځکه امام ترمذی دې حدیث لره په ابواب السفر کښې نۀ دې ذکر کړې بلکه د ابواب السفر شروع کیدو نه وړاندې ئې یو مستقل باب ذکر کړې دې،،دا واقعه خاص د مدینې منورې ده لکه څنګه چه په وړاندې روایت کښې د دې تصریح ده دغه شان جمع دائمه ثلاثه په نیز د باران په موقعه باندې جائزده کما تقدم فی اول الباب.

قال مالک اری کان ذلک فی مطر، امام مالک فرمائی زما خیال دا دې چه داسې حضور ﷺ د باران د وجه نه به کړې وی، خو دا خیال صحیح نۀ دې ځکه چه په راتلونکی روایت کښې راځی چه، من غیر خوف و لا مطر، لهذا اوس د دې حدیث جواب ډیر سخت شو، چنانچه امام ترمذی په کتاب العلل کښې فرمائیلې دی چه زما په کتاب کښې یعنی په جامع ترمذی کښې دوه حدیثه داسې دی چه د کومو په ترک یعنی پریخودلو باندې د علماؤ اتفاق دې او هغه خلاف اجماع دی، په دې دواړو کښې یو خو دا حدیث دې کوم چه زیر بحث دې او دویم حدیث د کتاب الحدود دې چه حضور ﷺ د شارب خمر یعنی شراب څکونکی متعلق

(١): صحیح مسلم/المسافرین ٦ (٧٠٥) سنن النسائي/المواقیت ٤٦ (٦٠٢)، (تحفة الأشراف: ٥٦٠٨)، وقد أخرجه: صحیح البخاري/المواقیت ١٢ (٥٤٣)، سنن الترمذي/الصلاة ١ (١٨٧)، موطا امام مالک/قصر الصلاة ١(٤)، مسند احمد (١/٢٢١، ٢٢٣، ٢٨٣، ٣٤٩) (صحیح)

فرمائیلې دی چه په څلورم ځل باندې دې اووژلې شي.
د دې دوه حدیثونو خلاف اجماع کیدل د ائمه اربعه او مشهور مذاهبو په اعتبار سره ده ګینی بعضې علماء د دې قائل دی چنانچه وړاندې تیر شوې دی چه، دطائفة من الظاهریه او دابن سیرین وغیره په نیز کله کله داسې کول جائز دی.
خو د حنفیانو دپاره د دې جواب آسان دې چه څنګه د سفر د روایات محمل د دوئ په نیز باندې جمع صوری ده هم داسې هغوی دلته هم وئیلې شي.

[١٢١١]()حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "جَمَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ، وَالْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ بِالْمَدِينَةِ مِنْ غَيْرِ خَوْفٍ وَلَا مَطَرٍ"، فَقِيلَ لِابْنِ عَبَّاسٍ: مَا أَرَادَ إِلَى ذَلِكَ؟ قَالَ: أَرَادَ أَنْ لَا يُحْرِجَ أُمَّتَهُ.

د ابن عباس ﷠ نه روایت دی هغه ویلې دي: رسول الله ﷺ جمع کړو په مابین د ماسپخین او مازیګر کې، او په مابین د ماښام ماسخوتن کې په مدینه کې بغیر د وېرې او باران نه، ابن عباس ته وویل شول: د هغه په دې سره څه اراده وه؟ هغه وویل: اراده یې وه چې خپل امت په مشقت کې وانه چوي.

[١٢١٢]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُبَيْدٍ الْمُحَارِبِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ نَافِعٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ وَاقِدٍ، أَنَّ مُؤَذِّنَ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "الصَّلَاةُ"، قَالَ: سِرْ سِرْ حَتَّى إِذَا كَانَ قَبْلَ غُيُوبِ الشَّفَقِ نَزَلَ فَصَلَّى الْمَغْرِبَ، ثُمَّ انْتَظَرَ حَتَّى غَابَ الشَّفَقُ وَصَلَّى الْعِشَاءَ، ثُمَّ قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا عَجِلَ بِهِ أَمْرٌ صَنَعَ مِثْلَ الَّذِي صَنَعْتُ فَسَارَ فِي ذَلِكَ الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ مَسِيرَةَ ثَلَاثٍ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ ابْنُ جَابِرٍ، عَنْ نَافِعٍ نَحْوَ هَذَا بِإِسْنَادِهِ.

د نافع او عبد الله بن واقد نه روایت دی، بېشکه مؤذن د ابن عمر وویله: مونځ حاضر دی، هغه وویل: زه زه، تردې شو مخکې د پټوالي د شفق نه خکته شو مونځ یې وکړو د ماښام، بیایې انتظار وکړو تردې چې شفق غائب شو او د ماسخوتن مونځ یې وکړو، بیایې وویل: بېشکه رسول الله ﷺ وو کله چې به کوم کار هغه په جلتۍ کړې وو نو داسې به یې کول لکه څنګه چې ما وکړل، نو تللو په دغه ورځ او شپه کې په اندازه د درېو. ویلې دي ابوداود: روایت کړې دی د دې ابن جابر، د نافع نه، د دې پشان په خپل اسناد سره.

٦. حدثنا محمد بن عبید..الخ، قوله، حتی اذا کان قبل غیوب الشفق نزل فصلی المغرب ثم انتظر حتی غاب الشفق فصلی العشاء، دا روایت لکه څنګه چه وړاندې تیر شوې دی د جمع صوری په باره کښې صریح دې اود حنفیانو ډیر واضح دلیل دې، ددې نه وړاندې روایت کښې راغې چه، حتی اذا کان عند ذهاب الشفق نزل، ددینه هم زمونږ تائید کیږي.

[١٢١٣]()حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى الرَّازِيُّ، أَخْبَرَنَا عِيسَى، عَنِ ابْنِ جَابِرٍ، بِهَذَا الْمَعْنَى. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْعَلَاءِ، عَنْ نَافِعٍ، قَالَ: حَتَّى إِذَا كَانَ عِنْدَ ذَهَابِ الشَّفَقِ نَزَلَ فَجَمَعَ بَيْنَهُمَا.

---

[1]): صحیح مسلم/المسافرین ٦ (٧٠٥) سنن الترمذي/ الصلاة ١ (١٨٧)، سنن النسائي/المواقيت ٤٦ (٦٠٣)، (تحفة الأشراف: ٥٤٧٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٣٥٤) (صحيح)

[2]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٧٢٩٠) (صحيح)

[3]): سنن النسائي/ المواقيت ٤٤ (٥٩٦)، (تحفة الأشراف: ٧٧٥٩) (صحيح)

ترجمه: د ابن جابر نه روایت دی په دې معنی سره. ویلي دي ابوداود: او روایت کړی دی عبد الله بن العلاء د نافع نه، هغه ویلي دي: تردې چې کله د شفق تلو وخت شو نو ختکته شو دواړه یې جمع کړل.

[۱۲۱٤]() حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، وَمُسَدَّدٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ ح وحَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَوْنٍ، أَخْبَرَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ زَيْدٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمَدِينَةِ ثَمَانِيًا وَسَبْعًا الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ، وَالْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ"، وَلَمْ يَقُلْ سُلَيْمَانُ، وَمُسَدَّدٌ: بِنَا. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَاهُ صَالِحٌ مَوْلَى التَّوْءَمَةِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: فِي غَيْرِ مَطَرٍ.

د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دی هغه ویلي دي: مونږ ته رسول الله ﷺ مونځ وکړو په مدینه کې اته رکعاته او اوه رکعاته، د ماسپخین او د مازیګر او د ماښام او د ماسخوتن. سلیمان او مسدد نه دی ویلی (بنا). ویلي دي ابوداود: او نقل کړی دی صالح چې مولی د توامه دی د ابن عباس نه هغه ویلي دي: بغیر د باران نه.

تشریح: قوله: صلی بنا رسول الله صلی الله علیه وسلم بالمدینة ثمانیا و سبعا، دا د جمع بین الصلوتین فی الحضر واله روایت دې په کوم باندې چه کلام وړاندې تیر شو.

[۱۲۱۵]() حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُحَمَّدٍ الْجَارِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَابَتْ لَهُ الشَّمْسُ بِمَكَّةَ فَجَمَعَ بَيْنَهُمَا بِسَرِفٍ".

د جابر رضی الله عنه نه روایت دی، بېشکه رسول الله ﷺ نمر غائب شو هغه ته په مکه کې نو جمع یې وکړه د دواړو په مینځ کې په سرف کې.

[۱۲۱٦]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ هِشَامٍ جَارُ أَحْمَدَ بْنِ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ عَوْنٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ سَعْدٍ، قَالَ: بَيْنَهُمَا عَشَرَةُ أَمْيَالٍ، يَعْنِي بَيْنَ مَكَّةَ، وَسَرِفٍ.

د هشام بن سعد نه روایت هغه ویلي دي: په مابین د دواړو کې لس میله دي، یعني په مابین د مکه او سرف کې.

[۱۲۱۷]() حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ شُعَيْبٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنِ اللَّيْثِ، قَالَ: قَالَ رَبِيعَةُ، يَعْنِي كَتَبَ إِلَيْهِ، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ دِينَارٍ، قَالَ: وَأَنَا عِنْدَ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ فَسِرْنَا، فَلَمَّا رَأَيْنَاهُ قَدْ أَمْسَى، قُلْنَا: الصَّلَاةُ، غَابَتِ الشَّمْسُ "فَسَارَ حَتَّى غَابَ الشَّفَقُ، وَتَصَوَّبَتِ النُّجُومُ، ثُمَّ إِنَّهُ نَزَلَ فَصَلَّى الصَّلَاتَيْنِ جَمِيعًا، ثُمَّ قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جَدَّ بِهِ السَّيْرُ صَلَّى صَلَاتِي هَذِهِ" يَقُولُ: يَجْمَعُ بَيْنَهُمَا بَعْدَ لَيْلٍ. قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ عَاصِمُ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَخِيهِ، عَنْ سَالِمٍ، وَرَوَاهُ ابْنُ أَبِي نَجِيحٍ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ ذُؤَيْبٍ، أَنَّ الْجَمْعَ بَيْنَهُمَا مِنَ ابْنِ عُمَرَ كَانَ بَعْدَ غُيُوبِ الشَّفَقِ.

عبد الله بن دینار بیان کړی دی چې ډوب شو نمر او زه د عبد الله بن عمر سره وم، نو مونږ روان شو هرکله چې مونږ ولیدلو چې بېګاه شو، مونږ وویل: مونځ حاضر شو، نو هغه روان

[1]: انظر حدیث رقم: ۱۲۱۰، (تحفة الأشراف: ٥٣٧٧) (صحیح)
[2]: سنن النسائي/المواقیت ٤٤ (٥٩٤)، (تحفة الأشراف: ٢٩٣٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٣٠٥، ٣٨٠) (ضعیف)
[3]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٩٥٠٩) (مقطوع)
[4]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٧١٤٩) (صحیح)

شو ترڅو چې شفق ډوب شو، او راښکاره شو ستوري، بیا هغه راخکته شو دواړه مونځونه یې وکړه، بیایې وویل: ما لیدلی وو رسول الله ﷺ جلتي کوله په هغه باندې تلو نو مونځ به يې کولو پشان د مونځ زما چې دا دی، هغه وايي: جمع کول به يې دواړه وروسته د شپې نه. ویلي دي ابوداود: نقل کړی دی عاصم بن محمد د خپل ورور نه او هغه د سالم نه، او نقل کړی هغې لره ابن ابي نجیح د اسماعیل بن عبد الرحمن بن ذؤیب نه، جمع په مابین د دواړو کې د ابن عمر نه وروسته د ډوبېدو د شفق نه وه

تشریح: قوله: فسار حتی غاب الشفق و تصوّبت النجوم، دا هم هغه د ابن عمر ﷺ روایت دې په کوم کښې چه وو چه، ان ابن عمر استصرخ علی صفیة، دې روایت لره مصنف ﷫ خو خله ذکر کړې دې د دینه وړاندې د دې لفظ په ځائې باندې غاب الشفق نه قبل غیوب الشفق تیر شوې دې، لهذا دلته به هم هغه مراد اغستلې شي، مشهوره ده چه قریب الشيء ته دعین الشيء حکم ورکولې کیږي، تصوبت النجوم، لفظي ترجمه ده کله چه ستوري ښکته راشي او مراد دا دې چه هغه ښکاره شول او اوپړقیدل، د ماښام وخت تقریبا یوه نیمه ګهنټه پورې وی او ستوري بعض وختونو کښې ګهنټه نیمه روستو پړقیږي، لهذا دا زمونږ خلاف نهٔ دې.

قوله، ان الجمع بینهما من ابن عمر کان بعد غیوب الشفق،

د جمع بین الصلوتین یوه لطیفه توجیه:

دا د اسماعیل بن عبدالرحمٰن راوی مقوله ده،د حضرت اقدس ګنګوهي په تقریرونو کښې دی چه کله په کوم روایت کښې دا صراحة هم راشي چه حضور ﷺ د ماښام او ماسخوتن مونځ د غروب شفق نه پس جمع کړې دې(لکه څنګه چه په دې روایت کښې دی) یا دا تصریح راشي چه حضور ﷺ د ماسپخین او مازیګر مونځ لره د مازیګر په وخت کښې جمع فرمائیلې دې نو بیا هم د دېنه جمع حقیقي کیدل نهٔ لازمیږي آو که دا راشي چه د ماسپخین او مازیګر لره ئې د مازیګر په وخت کښې ادا فرمائیلې وو(د لفظ د جمع په ځائې باندې لفظ د اداء) نو بیشکه د دې مطلب به جمع حقیقي وی، وجه دا ده چه د جمع بین الفعلین تحقق د فعل ثاني د ابتداء سره وی نهٔ د فعل اول د ابتداء نه، لهذا که ماسپخین لره په آخر وخت کښې اوکړی او مازیګر لره د مازیګر په اول وخت کښې شروع کړې شي نو اوګوره د جمع تحقق خو هم په مازیګر کښې اوشو حال دا دې چه هر مونځ د هغې په خپل وخت کښې ادا کړې شوې دې، لهذا د راوی دا وینا چه حضور ﷺ ماسپخین او مازیګر لره د مازیګر په وخت کښې جمع فرمائیلې وو صحیح ده د حنفیانو خلاف نه ده، سبحان الله! محدث ګنګوهي څومره غوره خبره بیان فرمائیلې ده.

[۱۲۱۸]()حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، وَابْنُ مَوْهَبٍ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا الْمُفَضَّلُ، عَنْ عُقَيْلٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا ارْتَحَلَ قَبْلَ أَنْ تَزِيغَ الشَّمْسُ أَخَّرَ الظُّهْرَ إِلَى وَقْتِ الْعَصْرِ، ثُمَّ نَزَلَ فَجَمَعَ بَيْنَهُمَا، فَإِنْ زَاغَتِ الشَّمْسُ قَبْلَ أَنْ يَرْتَحِلَ صَلَّى الظُّهْرَ، ثُمَّ رَكِبَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ". قَالَ أَبُو دَاوُد:

[۱]: صحيح البخاري/ تقصير الصلاة ١٥ (١١١١)، ١٦ (١١١٢)، صحيح مسلم/المسافرين ٥ (٧٠٤)، سنن النسائي/المواقيت ٤١ (٥٨٧)، (تحفة الأشراف: ١٥١٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٢٤٧، ٢٦٥) (صحيح)

كَانَ مُفَضَّلٌ قَاضِيَ مِصْرَ، وَكَانَ مُجَابَ الدَّعْوَةِ، وَهُوَ ابْنُ فَضَالَةَ.

د انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دی هغه ویلي دي: رسول الله ﷺ وو چې کله به روانېدو مخکې د زوال د نمر نه وروسته به یې کړو ماسپخین وقت د مازیګر ته، بیا به خکته شو او جمع به یې کړل دواړه، او که نمر به مائل شوی وو مخکې د روانیدو نه نو د ماسپخین مونځ به یې وکړو، بیا به روان شو. ویلي دي ابوداود: مفضل د مصر قاضي وو، او مستجاب الدعوات وو، هغه ته ابن فضالة ویلی شي.

تشریح: قوله: عن انس بن مالك..الخ، د حدیث مضمون دا دې چه د حضور ﷺ عادت دا وو چه په کوم سفر کښې به د منزل نه که روانیدل د نمر د زوال نه وړاندې وو نو بیا به حضور ﷺ بغیر د مونځ ادا کولو نه روانیدل او وړاندې به لاړل او یو ځائې کښې به کوز شول او ماسپخین مونځ به ئې د مازیګر سره یوځائي کولو(دا خو شو جمع تاخیر)

د جمع تقدیم نفي:

او که دروانیدلو نهٔ وړاندې به د نمر زوال شوې وو نو صرف د ماسپخین مونځ به ئې کولو او د هغهٔ ځائې نه به روانیدل(د مازیګر مونځ به ئې نهٔ کولو) په دې حدیث کښې د جمع تاخیر ثبوت او دجمع تقدیم نفي ده، ددې حواله د بحث په شروع کښې تیره شوې ده.

۱۰. حدثنا قتیبة بن سعید: دا د معاذ بن جبل رضی الله عنه هغه حدیث دې په کوم کښې جمع تقدیم مذکور ده په دې باندې کلام په تفصیل سره په شروع کښې تیر شوې دې.

[۱۲۱۹] (١) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي جَابِرُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، عَنْ عُقَيْلٍ، بِهَذَا الْحَدِيثِ بِإِسْنَادِهِ، قَالَ: "وَيُؤَخِّرُ الْمَغْرِبَ حَتَّى يَجْمَعَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ الْعِشَاءِ حِينَ يَغِيبُ الشَّفَقُ".

عقیل نه روایت دی، د دې حدیث په اسناد خپل سره، هغه ویلي دي: او وروسته کولو به یې مابنام تردې چې جمع به یې کړو په مابین دهغې اود ماسخوتن کې، کله چې به شفق ډوب شو.

[۱۲۲۰] (٢) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، أَخْبَرَنَا اللَّيْثُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ عَامِرِ بْنِ وَاثِلَةَ، عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ إِذَا ارْتَحَلَ قَبْلَ أَنْ تَزِيغَ الشَّمْسُ أَخَّرَ الظُّهْرَ حَتَّى يَجْمَعَهَا إِلَى الْعَصْرِ فَيُصَلِّيَهُمَا جَمِيعًا، وَإِذَا ارْتَحَلَ بَعْدَ زَيْغِ الشَّمْسِ صَلَّى الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ جَمِيعًا ثُمَّ سَارَ، وَكَانَ إِذَا ارْتَحَلَ قَبْلَ الْمَغْرِبِ أَخَّرَ الْمَغْرِبَ حَتَّى يُصَلِّيَهَا مَعَ الْعِشَاءِ، وَإِذَا ارْتَحَلَ بَعْدَ الْمَغْرِبِ عَجَّلَ الْعِشَاءَ فَصَلَّاهَا مَعَ الْمَغْرِبِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَلَمْ يَرْوِ هَذَا الْحَدِيثَ إِلَّا قُتَيْبَةُ وَحْدَهُ.

د معاذ بن جبل رضی الله عنه نه روایت دی: بېشکه نبي ﷺ وو په غزوه د تبوک کې کله چې به روانیدو مخکې د مائل کیدو د نمر نه نو وروسته به یې کړو ماسپخین تردې چې جمع به یې کړو د مازیګر سره، نو دواړه به یې وکړل، او کله چې به روانیدو وروسته د مائل کیدو د نمر نه د ماسپخین او مازیګر دواړه مونځونه به یې وکړل، بیا به روان شو، او وو چې کله به روانیدو مخکې د مابنام نه، نو وروسته به یې کړو تردې چې وبه یې کړو د ماسخوتن سره، او چې کله به روانیدو وروسته د مابنام نه، نو رامخکې به یې کړو ماسخوتن نو وبه

(١): انظر ماقبله، (تحفة الأشراف: ١٥١٥) (صحيح)
(٢): سنن الترمذي/الصلاة ٢٧٧ (٥٥٣)، (تحفة الأشراف: ١١٣٢١)، وقد أخرجه: حم(٥/٢٤١) (صحيح)

یي کړو د ماښام سره. ویلي دي ابوداود: دا حدیث یواځې قتیبه روایت کړی دی.

بَابُ قَصْرِ قِرَاءَةِ الصَّلَاةِ فِي السَّفَرِ

باب دی په بیان د لندوالي د قراءت د مانځه کې په سفر کې

[۱۲۲۱](1) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ ثَابِتٍ، عَنِ الْبَرَاءِ، قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ "فَصَلَّى بِنَا الْعِشَاءَ الْآخِرَةَ، فَقَرَأَ فِي إِحْدَى الرَّكْعَتَيْنِ بِالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ".

ترجمه: د براء بن عازب رضي الله عنه نه روایت دی، هغه ویلي دي: مونږ ووتلو د رسول الله ﷺ سره په یو سفر کې، مونږ ته یي د ماسخوتن مونځ وکړو، نو ویي لوستلو په یو رکعات کې و التین و الزیتون.

بَابُ التَّطَوُّعِ فِي السَّفَرِ

باب دی په بیان د نفلو کې په سفر کې

زده کول پکار دي چه په حالت د سفر کښې د نوافلو مطلقه لوستل په اتفاق سره مستحب دی څوك هم د دې منکر نهٔ دې البته رواتب یعنی سنن مؤکده کښې اختلاف دې، جمهور خو د دې د استحباب قائل دی خو بغیر د تاکد او اهتمام نه او په صحابه کرامو کښې ابن عمر رضي الله عنه د دې منکر دې، د حنفیانو په نیز مختلف روایتونه دی اول خو پشان د جمهورو دې یعنی مطلقا استحباب دویم قول مطلقا د عدم استحباب، دریم قول دا دې چه د سیر یعنی د سفر په حالت کښې عدم استحباب او د نزول (منزل ته په رسیدلو سره) په صورت کښې استحباب، د حدیث روایتونه هم په دې سلسله کښې مختلف دی.

[۱۲۲۲](2) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ صَفْوَانَ بْنِ سُلَيْمٍ، عَنْ أَبِي بُسْرَةَ الْغِفَارِيِّ، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ الْأَنْصَارِيِّ، قَالَ: صَحِبْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَمَانِيَةَ عَشَرَ سَفَرًا "فَمَا رَأَيْتُهُ تَرَكَ رَكْعَتَيْنِ إِذَا زَاغَتِ الشَّمْسُ قَبْلَ الظُّهْرِ".

د براء بن عازب الانصاري نه روایت دی، هغه ویلي دي: زه ملګری شوی یم د رسو ل الله ﷺ سره په اتلس سفرونو کې، ما هغه نه دی لیدلی چې هغه دوه رکعاته د ماسپخین نه مخکې پریخي دي کله چې به نمر زوال وکړو.

تشریح: قوله: عن البراء بن عازب قال صحبت رسول الله صلى الله عليه وسلم ثمانية عشر سفرا فما راءيته ترك ركعتين اذا زاغت الشمس، د حضرت براء رضي الله عنه د دې روایت نه د رواتبو ثبوت کیږی د شافعیه وغیره په نیز باندې قبل الظهر هم رکعتین سنت دی.

قوله: صحبت ابن عمر فی طریق قال فصلی بنا رکعتین

(1): صحيح البخاري/الأذان ١٠٠ (٧٦٧)، ١٠٢ (٧٦٩)، وتفسير التين ١ (٤٩٥٢)، والتوحيد ٥٢ (٧٥٤٦)، صحيح مسلم/الصلاة ٣٦ (٤٦٤)، سنن الترمذي/الصلاة ١١٥ (٣١٠)، سنن النسائي/الافتتاح ٧٣ (١٠٠٢)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٠ (٨٣٤)، (تحفة الأشراف: ١٧٩١)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الصلاة ٥ (٢٧)، مسند احمد (٤/٢٨٤، ٢٨٦، ٢٩١، ٣٠٢، ٣٠٣) (صحيح)

(2): سنن الترمذي/الصلاة ٢٧٦ (الجمعة ٤١) (٥٥٠)، (تحفة الأشراف: ١٩٢٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٢٩٢، ٢٩٥) (ضعيف)

د باب په متعارض روایتونو کښې تطبیق:

د ابن عمر رضي الله عنه دا حدیث د براء بن عازب رضي الله عنه د حدیث خلاف دې په دې کښې ښکاره د رواتبو نفي ده او د براء په روایت کښې اثبات مذکور دې بلکه په خپله د ابن عمر رضي الله عنه د نفي او اثبات دواړه روایتونه مروی دی، شراح حدیث د دفع د تعارض مختلف شکلونه لیکلې دی(۱) د نفي تعلق د رواتب سره دې او د اثبات تعلق د نوافل مطلقه سره دې،(۲) د نفي تعلق تاکد او اهتمام سره دې نفس فعل سره نۀ دې بغیر د اهتمام نه به ئې کول،(۳) د نفي تعلق د سنن قبلیه سره دې او د ثبوت تعلق د سنن بعدیه سره، د امام بخاري میلان هم دې طرف ته دې(۴) نفي د غالب حال په اعتبار سره ده او اثبات احیانا یعنی کله کله باندې محمول ده(اکثر به ئې نۀ کول او کله کله به ئې کول اختاره العلامة العیني.

[۱۲۲۳]()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ حَفْصِ بْنِ عَاصِمِ بْنِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: صَحِبْتُ ابْنَ عُمَرَ فِي طَرِيقٍ، قَالَ: فَصَلَّى بِنَا رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ أَقْبَلَ، فَرَأَى نَاسًا قِيَامًا، فَقَالَ: مَا يَصْنَعُ هَؤُلَاءِ؟ قُلْتُ: يُسَبِّحُونَ، قَالَ: لَوْ كُنْتُ مُسَبِّحًا أَتْمَمْتُ صَلَاتِي، يَا ابْنَ أَخِي، إِنِّي صَحِبْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي السَّفَرِ "فَلَمْ يَزِدْ عَلَى رَكْعَتَيْنِ حَتَّى قَبَضَهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ" وَصَحِبْتُ أَبَا بَكْرٍ فَلَمْ يَزِدْ عَلَى رَكْعَتَيْنِ حَتَّى قَبَضَهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ، وَصَحِبْتُ عُمَرَ فَلَمْ يَزِدْ عَلَى رَكْعَتَيْنِ حَتَّى قَبَضَهُ اللَّهُ تَعَالَى، وَصَحِبْتُ عُثْمَانَ فَلَمْ يَزِدْ عَلَى رَكْعَتَيْنِ حَتَّى قَبَضَهُ اللَّهُ تَعَالَى، وَقَدْ قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ سورة الأحزاب آية ۲۱.

حفص بن عاصم بن عمر بن الخطاب روایت کوي د خپل پلار نه، هغه وایلي دي: زه ملګری شوم د ابن عمر سره په یوه لار کې، هغه وایلي دي: چې مونځ یې وکړو مونږ ته دوه رکعاته، بیا مخامخ شو خلک یې ولیدل ولاړ، هغه وویل: دا خلک څه کوي؟ ما وویل: نفل کوي، هغه وویل: که زه نفل کونکی وم نو ما به پوره مونځ کړی وی، ای وراره! زه ملګری وم د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په سفر کې، هغه زیادت نه دی کړی په دوه رکعاتو تردې چې الله وفات کړو، او زه ملګری شوی یم د ابوبکر سره هغه زیادت نه دی کړی په دوه رکعاتو تردې چې الله وفات کړو، او زه ملګری شوی یم د عمر سره هغه زیادت نه دی کړی په دوه رکعاتو تردې چې الله وفات کړو، او زه ملګری شوی یم د عثمان سره هغه زیادت نه دی په دوه رکعاتو تردې چې الله وفات کړو، او بېشکه الله تعالی ویلي دي: بېشکه ستاسو لپاره د الله په رسول کې نیکه مشري ده.

قوله،و صحبت عثمان فلم یزد علی رکعتین، په دې کښې اشکال دې څکه چه د حضرت عثمان په باره کښې منقول دی چه هغوئ به په آخره کښې د قصر په ځائې باندې اتمام یعنی پوره والې کولو، لهذا د دې تاویل به دا اوکړې شی چه دا په غالب باندې محمول دې یعنی اکثر زمانې پورې به هغوی قصر کولو خو دلته په روایت کښې حتی قبضه الله موجود دې، لهذا زما په خیال کښې دا تاویل دې اوکړې شی چه د راوی غرض د دې کلام نه قصر او اتمام لره بیانول

[۱]: صحیح البخاري/تقصیر الصلاة ۱۱ (۱۱۰۱)، صحیح مسلم/المسافرین ۱ (۶۸۹)، سنن النسائي/تقصیر الصلاة ٤ (۱٤٥۹)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۷٥ (۱۰۷۱)، (تحفة الأشراف: ٦٦۹۳)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصلاة ۲۷٤ (الجمعة ۳۹) (٥٤٤)، مسند احمد (۲/۲٤، ٥٦)، سنن الدارمي/المناسك ٤۷ (۱۹۱٦) (صحیح)

نهٔ دی بلکه فرض مونځ باندې اکتفاء کول مراد دی سنن به ئې نهٔ کول، والله تعالی اعلم بالصواب.

بَابُ التَّطَوُّعِ عَلَى الرَّاحِلَةِ وَالْوِتْرِ

باب دی په بیان د نفلو او وترو کولو کښې په سورلی باندې

نوافل په سورلئ باندې په ناستې سره په اشارې سره کول مطلقا په عذر سره او بغیر د عذر نه بالاتفاق جائز دی د جمهورو علماؤ او ائمه ثلاثه په نیز د وترو هم دا حکم دې ځکه چه جمهور د وترو د وجوب قائل نهٔ دی ځکه د هغوی په نیز باندې وتر د نوافلو په حکم کښې دی نو ځکه مصنف رحمه الله په ترجمة الباب کښې وتر ذکر کړې دی، د حنفیانو په نیز باندې وتر علی الراحله بغیر د عذر نه جائز نهٔ دی په دې مسئله کښې صاحبین د امام صاحب سره دی اګر که په عدم وجوب د وترو کښې صاحبین د جمهورو سره دی دا خبره د یاد ساتلو ده.

[۱۲۲۴] (¹) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يُونُسُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَبِّحُ عَلَى الرَّاحِلَةِ أَيَّ وَجْهٍ تَوَجَّهَ وَيُوتِرُ عَلَيْهَا غَيْرَ أَنَّهُ لَا يُصَلِّي الْمَكْتُوبَةَ عَلَيْهَا".

سالم د خپل پلار نه روایت کوی، هغه ویلي دي: وو رسول الله ﷺ چې نفل به یې کول په سورلئ کوم طرف ته چې به یې مخ وو، او وتر به یې کول په هغې، مګر فرض مونځ به یې پرې نه کولو.

تشریح: قوله: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يسبح على الراحلة اىّ وجهٍ توجّه و يؤتر عليها، توجه په اصل کښې تتوجه وو یو د تاء نه تخفیفا حذف کوی دا د واحد مؤنث غائب صیغه ده ضمیر د راحله طرف ته راجع دې.

د وتر علی الراحله د حدیث جواب:

دا حدیث د حنفیانو خلاف دې امام طحاوی د دې جواب دا ورکړې دې چه د حدیث د راوی یعنی د ابن عمر رضی الله عنه نه د دې خلاف مروی دی د کوم الفاظ چه دا دی. عن ابن عمر رضى الله عنه انه كان يصلى على راحلته و يؤتر بالارض ويزعم ان رسول الله صلى الله عليه وسلم كان يفعل كذلك.

دغه شان په مصنف ابن ابی شیبه کښې هم بعضې روایات داسې دی په کومو کښې چه دا دی چه حضرت ابن عمر رضی الله عنه به د وتر مانځه دپاره د سورلئ نه نزول فرمائیلو. لهذا دا به وئیلې شی چه دوتر علی الراحله روایات د احکام وتر او دوجوب د وترو نه د وړاندې دی د وترو استحکام او وجوب تحقق دفعة یعنی په یوځل باندې نهٔ دې شوې بلکه تدریجًا شوې دې.

د طحاوی نظر:

امام طحاوی د احنافو د مذهب ترجیح په طریق د نظر داسې ثابته کړې ده چه دلته دوه مسئلې اجماعی دی اول دا چه فرض مونځ بغیر د عذر نه په زمکه باندې په ناسته کول

---

¹): صحيح البخاري/تقصير الصلاة ٧ (١٠٩٧)، صحيح مسلم/المسافرين ٤ (٧٠٠)، سنن النسائي/الصلاة ٢٣ (٤٩١)، والمساجد ٤٦ (٧٤٠)، والقبلة ٢ (٧٤٥)، سنن الدارمي/الصلاة ٢١٣ (١٦٣١)، (تحفة الأشراف: ٦٩٧٨)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصلاة ٢٢٨ (٤٧٢)، سنن النسائي/قيام الليل ٣١ (١٦٨٧)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٢٧ (١٢٠٠)، موطا امام مالك/قصر الصلاة ٣ (١٥)، مسند احمد (٢/٥٧، ١٣٨) (صحيح)

ناجائز دی هم دغه شان په سورلئ باندې بغير د عذر نه کول ناجائز دی.
دويمه مسئله دا چه نفل مونځ بغير د عذر نه په زمکه باندې په ناسته کول جائز دی دغه شان په سورلئ باندې هم کول جائز دی، اوس دې دوو اجماعي مسئلو ته وړاندې کيخودلو سره دا نتيجه رااوځي چه قاعده دا ده چه کوم مونځ په زمکه باندې بغير د عذر نه په ناسته کول جائز نهٔ دی د هغې په سورلئ باندې کول هم ناجائز دی او د کوم مونځ چه په زمکه باندې په ناسته باندې کول جائز دی د هغې په سورلئ باندې هم بغير د عذر نه کول جائز کيدل پکار دی.

[۱۲۲۵]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا رِبْعِيُّ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْجَارُودِ، حَدَّثَنِي عَمْرُو بْنُ أَبِي الْحَجَّاجِ، حَدَّثَنِي الْجَارُودُ بْنُ أَبِي سَبْرَةَ، حَدَّثَنِي أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ إِذَا سَافَرَ فَأَرَادَ أَنْ يَتَطَوَّعَ اسْتَقْبَلَ بِنَاقَتِهِ الْقِبْلَةَ فَكَبَّرَ، ثُمَّ صَلَّى حَيْثُ وَجَّهَهُ رِكَابُهُ".

حديث بيان کړی دی انس بن مالک، بېشکه رسول الله ﷺ وو چې کله به يې سفر وکړو او اراده د نفلو به يې وکړه نو خپله اوښه به يې قبلې ته مخامخ کړه تکبير به يې وويلو، بيا به يې مونځ کولو سورلۍ چې به کوم ځای ته د ده مخ واړولو.

تشريح: قوله: ان رسول الله صلى الله عليه وسلم كان اذا سافر فاراد ان يتطوع استقبل بناقته القبلة. د دې حديث شريف نه معلوميږی چه تطوع على الراحله کښې د تکبير تحريمه په وخت استقبال قبله يعنی قبلې ته مخ کول پکار دی د دې نه پس چه کوم طرف ته هم تلل وی د سورلئ مخ هغه طرف ته کړه، په بذل کښې ليکلې دی چه داسې کول د شافعيه په نيز واجب دی او د حنفيانو په نيز صرف مستحب او اولیٰ دی دغه شان په دې کښې دا هم دی که فرض مونځ په سورلئ باندې کوی(للعذر) نو د حنفيانو په نيز دلته هم استقبال عند التحريمه شرط دې.

د تحريمه په وخت کښې استقبال قبله کښې اختلاف:

د دينه بعد په دې پوهيدل پکار دی چه صلوة على الدابه يعنی په سورلئ باندې مونځ کولو کښې جهت د سفر هم قائم مقام د قبلې دې ابتداء هم او انتهاء هم البته عند التحريمه که استقبال قبله وی نو مستحب ده واجب نهٔ ده خواه فرض مونځ وی يا نفل د حنفيانو او ټولو جمهورو هم دا مسلک دې البته د حنابله په يو روايت کښې دی چه عند التحريمه استقبال قبله شرط دې (كما فى زاد المستقنع،ص، ۱۱) لهذا په بذل وغيره بعضې کتابونو کښې چه کوم د شوافعو مسلک استقبال قبله د شرطيت ليکلې دې هغه محل د نظر دې، هم داسې د حنفيانو په نيز کله چه د مجبورئ وخت کښې فرض مونځ په سورلئ باندې جائز دې نو استقبال قبله عند التحريمه هم ساقطيږی، كما حققه الشامي.

[۱]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۵۱۲)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/تقصير الصلاة ۱۰ (۱۱۰۰)، صحيح مسلم/المسافرين ٤ (۷۰۰)، سنن النسائي/المساجد ٤٦ (۷٤۲)، موطا امام مالك/ قصر الصلاة ۷ (۲٦)، مسند احمد (۲۰۳/۳) (حسن)

[۱۲۲٦] (١) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ يَحْيَى الْمَازِنِيِّ، عَنْ أَبِي الْحُبَابِ سَعِيدِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّهُ قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يُصَلِّي عَلَى حِمَارٍ وَهُوَ مُتَوَجِّهٌ إِلَى خَيْبَرَ".

د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی، هغه ويلي دي: ما ليدلی دی رسول الله ﷺ چې مونځ يي کولو په خره باندې او د هغه مخ خيبر ته وو.

تشريح: قوله: عن عبدالله بن عمر انه قال راءيت رسول الله صلى الله عليه وسلم يصلى على حمار و هو متوجه الى خيبر، خيبر د مدينې نه د شمال په اړخ باندې دې او مکه د جنوب په اړخ، لهذا په دې صورت کښې استدبار قبله اومونډلې شو کومه چه په سورلئ باندې دمونځ کولو په صورت کښې جائز دې.

تنبيه: دا حديث په مسلم کښې هم موجود دې امام نووی ليکی چه په دې حديث باندې دار قطنی نقد کړې دې چه دصلوة على الحمار واله فعل د انس نه ثابت دې د حضور ﷺ نه صلوة على الراحله (مونځ په اوښه) باندې ثابت دې نه صلوة على الحمار (اګرچه د حضور ﷺ نه رکوب على الحمار ثابت دې دا امرآخر دې) هغه وائی چه په دې کښې وهم د عمروبن يحى المازنى نه شوې دې. والله تعالى اعلم.

[۱۲۲۷] (١) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: بَعَثَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَاجَةٍ، قَالَ: فَجِئْتُ وَهُوَ "يُصَلِّي عَلَى رَاحِلَتِهِ نَحْوَ الْمَشْرِقِ، وَالسُّجُودُ أَخْفَضُ مِنَ الرُّكُوعِ".

د جابر رضي الله عنه نه روايت دی هغه ويلي دي زه رسول الله ﷺ ولېږم د يو حاجت دپاره، هغه وايي: زه راغلم او هغه مونځ کولو په خپله سورلۍ باندې طرف د مشرق ته، او سجده د رکوع نه خکته وه.

بَابُ الْفَرِيضَةِ عَلَى الرَّاحِلَةِ مِنْ عُذْرٍ

باب دی په د فرضي مونځ کې په سورلی د وجې د عذر نه

[۱۲۲۸] (٢) حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ شُعَيْبٍ، عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ الْمُنْذِرِ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ، أَنَّهُ سَأَلَ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: هَلْ رُخِّصَ لِلنِّسَاءِ أَنْ يُصَلِّينَ عَلَى الدَّوَابِّ؟ قَالَتْ: لَمْ يُرَخَّصْ لَهُنَّ فِي ذَلِكَ فِي شِدَّةٍ وَلَا رَخَاءٍ. قَالَ مُحَمَّدٌ: هَذَا فِي الْمَكْتُوبَةِ.

د عطاء بن ابي رباح نه روايت دی ببشکه هغه تپوس وکړو د عائشي رضي الله عنها نه، ايا هغه اجازت ورکړی دی ښځو ته، چې مونځ وکړي په دوابو باندې؟ هغې وويل: اجازت يي ورکړی نه دی دوی ته په دغې کې، نه په سختی کې او نه په راحت کې. ويلي دي محمد: دا په فرضي مونځ کې.

[1]: صحيح مسلم/المسافرين ٤ (٧٠٠)، سنن النسائي/الصلاة ٢٣ (٤٩٣)، (تحفة الأشراف: ٧٠٨٦)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/قصر الصلاة ٧ (٢٥)، مسند احمد (٢/٧، ٤٩، ٥٢، ٥٧، ٧٥، ٨٣، ١٢٨) (صحيح)

[2]: سنن الترمذي/الصلاة ١٤٣ (٣٥١)، (تحفة الأشراف: ٢٧٥٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٣٣٢، ٣٧٩، ٣٨٨) (صحيح)

[3]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٧٣٩٤) (صحيح)

تشریح: قوله: هل رخص للنساء ان یصلین علی الدواب،الخ،

شرح حدیث:

د حضرت عائشه رضی الله عنها نه سوال اوکړې شو چه آیا د ښځو دپاره دا جائز ده چه هغوی د سورلئ په حالت کښې په سورلئ باندې فرض مونځ اوکړی، د ښځو تخصیص په سوال کښې شاید د دې دپاره وی چه هغه صنف نازك دی کیدې شی د دوئ دپاره گنجائش وی، جواب ئې ورکړو چه جائز نۀ دی نۀ په یُسر یعنی په آسانتیا کښې او نۀ په عُسر یعنی په سختئ کښې نۀ په مشقت کښې او نۀ په سهولت کښې او مطلب دا نۀ دې چه نه په عذر کښې او نۀ بغیر عذر کښې ځکه چه د مجبورئ او عذر په حالت کښې د سړو او ښځو دواړو دپاره جائز دي.

بَابُ مَتَى يُتِمُّ الْمُسَافِرُ

باب دی چې کله به پوره کوې مسافر؟

مسافر به د مانځه اتمام کله کوی؟ کله چه سفر پوره کړی او خپل وطن ته واپس راشی یا دا چه په سفر کښې منزل ته اورسی هلته د اقامت نیت اوکړی.

د اقامت په موده کښې د ائمه مذاهب:

اوس دا چه موده د اقامت څۀ ده؟ د حنفیانو په نیز پنځلس ورځې د صحابه کرامو دهغه اثارو په بناء باندې کوم چه د حدیثو په کتابونو ترمذی وغیره کښې مذکور دی دغه شان صاحب هدایه او علامه زیلعی د دې تفصیل لیکلې دې او د ائمه ثلاثه په نیز څلور ورځې دی، کما قال الترمذی فی جامعه.

او د جمهورو دلیل دا دې چه حضور اقدس ﷺ په حجة الوداع کښې مهاجرینو ته فرمائیلې وو چه هغوی د اداء نسك یعنی د قربانی ادا کولو نه پس په مکه مکرمه کښې د دریو ورځو نه زیات قیام او نۀ کړی(ځکه چه مهاجر لره په غیر مُهاجَر کښې قیام جائز نۀ دې) د دینه معلومه شوه چه د دریو ورځو قیام شرعا قیام نۀ دې، د حدیث الفاظ په نسائی شریف کښې په صفحه، ۲۱۲، کښې دا دی چه، یمکث المهاجر بعد قضاء نسکه ثلاثا،

خو قیام هغه معتبر دې کوم چه په نیت او ارادې سره وی او که بغیر د نیت نه هم داسې پاتې شی نو بالاجماع مسافر به وی، و ان اتی علیه سِنونَ، لکه څنګه چه امام ترمذی په دې باندې اجماع نقل کړې ده، زۀ وایم چه د ائمه ثلاثه او جمهورو مسلك خو هم دا دې خو د شافعیه مسلك [1] په شرح اقناع،ص، ۱۴۴،ج،۲، کښې ما دغه شان موندلې دې چه دا قول د هغوی په نیز مرجوح دې او راجح قول دا دې چه بغیر د نیت نه به تر اتلسو ورځو پورې مسافر وی او

[1] د دوئ په نیز باندې مزید تفصیل دا دې که د یو سړی سفر د داسې حاجت دپاره وی د کوم په حقله چه دۀ ته یقین دې چه هغه کار په څلورو ورځو کښې نۀ کیږی بلکه د څلورو نه به زیاتیږی نو داسې مسافر به په خپله مقیم شی خواه که نیت اونۀ کړی او که هغه حاجت داسې وی د کوم په حقله چه هره ورځ دا توقع وی چه پوره به شی نو په داسې صورت کښې به تر اتلسو ورځو پورې مسافر وی د دینه پس به بغیر د نیت نه مقیم شی۔

قصر به کوي د دینه پس که پاتې کیږي نو اتمام به کوي اگر که د اقامت نیت اونهٔ کړي او دا دې هم واضحه وی چه د اقامت نیت به په هغهٔ ځائې کښې معتبر وی په کوم ځائې کښې چه د اقامت صلاحیت وی په خلاف د سفر د جهاد نه ځکه چه د دښمن په زمکه کښې د اقامت صلاحیت نشته چنانچه مروی دی چه صحابه کرام په رامهرمز کښې تر نهۀ میاشتو پورې مقیم وو او په مانځه کښې ئې قصر کولو (البیهقی من حدیث انس) دغه شان ابن عمر رضي الله عنه په آذربیجان کښې تر شپږو میاشتو پورې مقیم وو او قصر ئې کولو (المصنف لعبدالرزاق)

[۱۲۲۹] (۱) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ. ح وحَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا ابْنُ عُلَيَّةَ وَهَذَا لَفْظُهُ، أَخْبَرَنَا عَلِيُّ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، قَالَ: غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَشَهِدْتُ مَعَهُ الْفَتْحَ، فَأَقَامَ بِمَكَّةَ ثَمَانِيَ عَشْرَةَ لَيْلَةً لَا يُصَلِّي إِلَّا رَكْعَتَيْنِ، وَيَقُولُ: "يَا أَهْلَ الْبَلَدِ، صَلُّوا أَرْبَعًا فَإِنَّا قَوْمٌ سَفْرٌ".

د عمران بن حصین نه روایت دی هغه ویلي دي: ما غزا وکړه د رسول الله ﷺ سره او زه حاضر شوی یم د هغه سره فتحې ته، په مکه کې اتلس شپې پاتې شو، مونځ یې نه کولو مگر دوه رکعاته، او ویل به یې: ای د ښار والاو! مونځ کوئ څلور بېشکه مسافر قوم یو.

تشریح: قوله: عن عمران بن حصین قال غزوت مع رسول الله صلی الله علیه وسلم،

د باب د احادیثو تجزیه:

پوهیدل پکار دی چه په دې باب کښې مصنف رحمه الله اولاً د عمران بن حصین حدیث ذکر فرمائیلي دې (صرف په یو طریق سره) د دې نه ئې د ابن عباس رضي الله عنه حدیث په دریو طریقو سره ذکر کړې دې د دې ټولو تعلق د فتح مکې د غزوې سره دې د دې نه پس یو حدیث ئې د حضرت انس رضي الله عنه ذکر فرمائیلي دې د دې تعلق د حجة الوداع د سفر سره دې.

دعمران بن حصین په حدیث کښې موده د اقامت اتلس ورځې مذکورده، اود ابن عباس رضي الله عنه په حدیث کښې موده د اقامت په یو کښې پنځلس ورځې او په دویم کښې اوولس ورځې، هسې خو په دې سلسله کښې درې روایات دی، ۱۷، ۱۸، ۱۹، او مشهور او زیات واضح روایت د ۱۹، نولسو ورځو واله دې، په دې اختلاف کښې توجیه داسې کوی چه چا یوم الدخول اویوم الخروج یعنی د داخلیدلو او وتلو ورځ دواړه مستقل شمار کړې هغوی نورلس ورځې بیان کړی دی او چا چه دې دواړو لره ساقط کړې دی هغوی اوولس ورځې بیان کړي دی او چا چه دواړه یوځائې کړې دی هغوی اتلس ورځې بیان کړې دی، خو دلته د باب په یو حدیث کښې پنځلس ورځې مذکور دی د دې توجیه دا کیدې شی چه شاید راوی دا گڼرلې وی چه په کوم روایت کښې اوولس ورځې راغلې دی هغه یوم الدخول او یوم الخروج لره مستقل شمارکړې دی نو ځکه هغهٔ په دې کښې دوه ورځې کمې کړې او پنځلس پاتې شوې.

(۱): سنن الترمذي/الصلاة ۲۷٤ (الجمعة ۳۹) (٥٤٥)، (تحفة الأشراف: ۱۰۸٦۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٤۳۰، ٤۳۱، ٤۳۲، ٤٤۰) (ضعیف)

[۱۲۳۰]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، وَعُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، الْمَعْنَى وَاحِدٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَفْصٌ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَقَامَ سَبْعَ عَشْرَةَ بِمَكَّةَ يَقْصُرُ الصَّلَاةَ". قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: وَمَنْ أَقَامَ سَبْعَ عَشْرَةَ قَصَرَ، وَمَنْ أَقَامَ أَكْثَرَ أَتَمَّ. قَالَ أَبُو دَاوُد: قَالَ عَبَّادُ بْنُ مَنْصُورٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: أَقَامَ تِسْعَ عَشْرَةَ..

د ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دی، بېشکه رسول الله ﷺ پاتې شو په مکه کې اولس مونځ يې لنډولو. ويلي دي ابن عباس: څوک چې اولس پاتې کيدو نو قصر به کوي، او څوک چې زيات پاتې کيدو نه پوره به يې کوي. ويلي دي ابوداود: ويلي دي عباد بن منصور د عکرمه نه او هغه د ابن عباس نه، هغه ويلي دي: پاتې شو اولس.

[۱۲۳۱]()حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "أَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ عَامَ الْفَتْحِ خَمْسَ عَشْرَةَ يَقْصُرُ الصَّلَاةَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ، وَأَحْمَدُ بْنُ خَالِدٍ الْوَهْبِيُّ، وَسَلَمَةُ بْنُ الْفَضْلِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، لَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ ابْنَ عَبَّاسٍ.

د ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دی هغه ويلي دي: پاتې شو رسول الله ﷺ په مکه کې د فتحې په کال پنځلس، قصر د مونځ يې کولو. ويلي دي ابوداود: دا حديث نقل کړی دی عبدة بن سليمان او احمد بن خالد الوهبي او سلمة بن الفضل د ابن اسحاق نه، هغوی پکې ابن عباس نه دی ذکر کړی.

[۱۲۳۲]()حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، أَخْبَرَنِي أَبِي، حَدَّثَنَا شَرِيكٌ، عَنِ ابْنِ الْأَصْبَهَانِيِّ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَقَامَ بِمَكَّةَ سَبْعَ عَشْرَةَ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ".

د ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دی، بېشکه رسول الله ﷺ پاتې شو مکه کې اولس شپې مونځ يې کولو دوه رکعاته.

[۱۲۳۳]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، وَمُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ، حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْمَدِينَةِ إِلَى مَكَّةَ "فَكَانَ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ حَتَّى رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ"، فَقُلْنَا: هَلْ أَقَمْتُمْ بِهَا شَيْئًا؟ قَالَ: أَقَمْنَا بِهَا عَشْرًا.

د انس بن مالک رضي الله عنه نه روایت دی هغه ويلي دي: مونږ ووتلو د رسول الله ﷺ د مديني نه مکې ته، هغه وو چې دوه رکعاته مونځ يې کولو تردې چې مونږ واپس شو مديني ته، مونږ وويل: ايا تاسو هلته څه مقدار پاتې شوي وئ؟ هغه وويل: مونږ پاتې شوي وو لس شپې.

[1]: صحيح البخاري/تقصير الصلاة ١ (١٠٨٠)، المغازي ٥٢ (٤٢٩٨)، سنن الترمذي/الصلاة ٢٧٥ (الجمعة ٤٠) (٥٤٩)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٧٦ (١٠٧٥)، (تحفة الأشراف: ٦١٣٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٢٣) (شاذ)

[2]: سنن ابن ماجه/ إقامة الصلاة ٧٦ (١٠٦٧)، (تحفة الأشراف: ٥٨٤٩) (ضعيف منكر)

[3]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦١٤٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٣٠٢١، ٣١٥) (ضعيف منكر)

[4]: صحيح البخاري/تقصير الصلاة ١ (١٠٨١)، والمغازي ٥٢ (٤٢٩٧)، صحيح مسلم/المسافرين ١ (٦٩٣)، سنن الترمذي/ الصلاة ٢٧٥ (الجمعة ٤٠) (٥٤٨)، سنن النسائي/تقصير الصلاة ١ (١٤٣٧)، ٤ (١٤٥١)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٧٦ (١٠٧٧)، مسند احمد (٣/١٨٧، ١٩٠، ٢٨٢)، سنن الدارمي/الصلاة ١٨٠ (١٥٥١)، (تحفة الأشراف: ١٦٥٢) (صحيح)

تشريح: قوله، عن انس بن مالك قال خرجنا مع رسول الله صلى الله عليه وسلم، دا حديث د حضرت انس ﷺ د سفر د حجة الوداع سره متعلق دي نو ځکه په دې کښې موده داقامت لس ورځې مذکور دى حضور ﷺ په دې سفر کښې په ځلورم ذى الحجه مکې مکرمې ته رسيدلې وو او په څلورمه ذى الحجه په صبائې د مکې مکرمې نه واپسى فرمائيلې وه.
حضور ﷺ د فتح مکې او حجة الوداع دواړو سفرونو کښې د قصر مونځ ادا فرمائيلې وو، حال دا دې چه عند الجمهور موده د اقامت ځلور ورځې ده، جواب ظاهر دې هغه دا چه د دوئ قيام بغير د نيت د اقامت سره وو او که د دښمن په زمکه کښې نيت هم اوکړى نو معتبر به نۀ وى او د حجة الوداع واله روايت جواب خو جمهور دا ورکوى چه د دوئ دا لس ورځې قيام په يو ځائې باندې نۀ وو بلکه په مختلفو ځايونو کښې وو کله حضور ﷺ په مکه کښې وو او کله په منٰى کښې او کله په عرفات او مزدلفه کښې غرض دا چه په يو ځائې باندې حضور ﷺ مسلسل نۀ وو پاتې شوى.
تنبيه: مصنف رحمه الله په دې باب کښې چه کوم روايات ذکر کړې دى نۀ هغه د جمهورو مستدل دى د مودې د اقامت په سلسله کښې او نۀ د حنفيانو بس په يو لحاظ سره د شوافعو مستدل جوړيدې شى که د اتلسو ورځو نه متجاوز شى نو بيا بغير د نيت د اقامت نه هم د مقيم په حکم کښې دې، د فريقينو دلائلو طرف ته اشاره د باب په شروع کښې تيره شوې ده.

[۱۲۳٤]([1])حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، وَابْنُ الْمُثَنَّى وَهَذَا لَفْظُ ابْنِ الْمُثَنَّى، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، قَالَ: ابْنُ الْمُثَنَّى، قَالَ: أَخْبَرَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ عُمَرَ بْنِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ عَلِيًّا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ "كَانَ إِذَا سَافَرَ سَارَ بَعْدَ مَا تَغْرُبُ الشَّمْسُ حَتَّى تَكَادَ أَنْ تُظْلِمَ، ثُمَّ يَنْزِلُ فَيُصَلِّي الْمَغْرِبَ، ثُمَّ يَدْعُو بِعَشَائِهِ فَيَتَعَشَّى، ثُمَّ يُصَلِّي الْعِشَاءَ، ثُمَّ يَرْتَحِلُ، وَيَقُولُ: هَكَذَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُ". قَالَ عُثْمَانُ: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عُمَرَ بْنِ عَلِيٍّ، سَمِعْتُ أَبَا دَاوُد، يَقُولُ: وَرَوَى أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ حَفْصِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ يَعْنِي ابْنَ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ أَنَسًا "كَانَ يَجْمَعُ بَيْنَهُمَا حِينَ يَغِيبُ الشَّفَقُ، وَيَقُولُ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُ ذَلِكَ"، وَرِوَايَةُ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مِثْلَهُ.

ابن المثنى ويلي دي: ماته خبر راکړى دى عبد الله بن محمد بن عمر بن علي بن ابي طالب او هغه د خپل پلار او هغه د نيکه نه، بېشکه علي ﷺ وو چې کله به يې سفر کولو وروسته د ډوبيدو د نمر نه تردې چې تياره به نزدې شوه، بيا راخکته شو د ماښام مونځ به يې کولو، بيا به يې خپله د ماښام ډوډى راوغوښتله هغه به يې وخوره، بيا به يې د ماسخوتن مونځ کولو، بيا به روان شو، او ويل به يې داسې وو رسول الله ﷺ چې کول به يې. ويلي دي عثمان د عبد الله بن محمد بن عمر بن علي نه، ما اوريدلي دي د ابوداود نه، هغه به ويل او روايت کړى دى اسامة بن زيد د حفص بن عبيد الله يعني ابن انس بن مالک نه، بېشکه

[1]): تفرد به أبوداود، سنن النسائي/المواقيت ٤٤ (٥٩٢)، (تحفة الأشراف: ١٠٢٥٠) (صحيح لغيره) وحديث أنس أخرجه: صحيح البخاري/تقصير الصلاة ١٤ (١١١١، ١١١٢) (مقتصرا علي الظهر والعصر فقط)، صحيح مسلم/المسافرين ٥ (٧٠٤)، سنن النسائي/المواقيت ٤٢ (٥٩٥)، (مقتصرا علي الشق الأول مثل البخاري)، (تحفة الأشراف: ١٥١٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٢٤٧، ٢٦٥) (صحيح)

انس وو چې جمع به يې کوله په مابين د دوارو کې چې کله به شفق ډوب شو، او ويل به يې: وو نبي ﷺ داسې به يې کول او روايت د زهري د انس نه دی او هغه د نبي ﷺ نه نقل کړی دی په مثل د هغې.

باب إِذَا أَقَامَ بِأَرْضِ الْعَدُوِّ يَقْصُرُ

باب دی کله چې پاتې شي په ځمکه د دشمن کې نو قصر به کوي

د جمهورو علماؤ په نيز بغير د نيت د اقامت نه نهٔ مقيم کيږي، و ان اتی عليه سنون، امام ترمذی په دې باندې د علماؤ اجماع نقل فرمائيلې ده او د دښمن په زمکه کښې نيت د اقامت معتبر هم نهٔ دې، خو په دې کښې د شوافعو مسلك مونږ وړاندې نقل کړې دې کيدې شي هغه د دښمن د زمکې نه علاوه سره متعلق وي، فليسئل.

[۱۲۳۵]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ ثَوْبَانَ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "أَقَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتَبُوكَ عِشْرِينَ يَوْمًا يَقْصُرُ الصَّلَاةَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: غَيْرُ مَعْمَرٍ لَا يُسْنِدُهُ.

د جابر بن عبد الله نه روايت دی هغه ويلي دي: مقيم شو رسول الله ﷺ په تبوک کې شل ورځې مونځ کې يې قصر کولو. ويلي دي ابوداود: د معمر نه نور يې مرسل کوي مسند کوي يې نه.

باب صَلَاةِ الْخَوْفِ

باب د خوف د مونځ احکام او مسائل

«مَنْ رَأَى أَنْ يُصَلِّيَ بِهِمْ وَهُمْ صَفَّانِ فَيُكَبِّرُ بِهِمْ جَمِيعًا، ثُمَّ يَرْكَعُ بِهِمْ جَمِيعًا، ثُمَّ يَسْجُدُ الْإِمَامُ، وَالصَّفُّ الَّذِي يَلِيهِ، وَالْآخَرُونَ قِيَامٌ يَحْرُسُونَهُمْ، فَإِذَا قَامُوا سَجَدَ الْآخَرُونَ الَّذِينَ كَانُوا خَلْفَهُمْ، ثُمَّ تَأَخَّرَ الصَّفُّ الَّذِي يَلِيهِ إِلَى مَقَامِ الْآخَرِينَ، وَتَقَدَّمَ الصَّفُّ الْأَخِيرُ إِلَى مَقَامِهِمْ، ثُمَّ يَرْكَعُ الْإِمَامُ وَيَرْكَعُونَ جَمِيعًا، ثُمَّ يَسْجُدُ وَيَسْجُدُ الصَّفُّ الَّذِي يَلِيهِ وَالْآخَرُونَ يَحْرُسُونَهُمْ، فَإِذَا جَلَسَ الْإِمَامُ وَالصَّفُّ الَّذِي يَلِيهِ سَجَدَ الْآخَرُونَ، ثُمَّ جَلَسُوا جَمِيعًا، ثُمَّ سَلَّمَ عَلَيْهِمْ جَمِيعًا»، قَالَ أَبُو دَاوُدَ: «هَذَا قَوْلُ سُفْيَانَ»

هغه څوک چې ګڼي چې مونځ به کوي دوی ته چې دوه صفه وي نو تکبير به وکړي ټولو ته، بيا به رکوع وکړي ټولو ته، بيا به سجده وکړي امام او هغه صف چې کوم ورته نږدې وي، او نور به ولاړ وي څوکيدارې به کوي، کله چې هغوی پاڅېږي نو دا نور به سجده وکړي کوم چې وروسته د دوی نه وو، بيا به وروسته شي هغه صف کوم چې نږدې وو هغه ته ځای د وروستنو ته، او وروستنی صف به مخکې شي ځای د هغوی ته، بيا به رکوع وکړي امام او ټول به رکوع وکړي، بيا به سجده وکړي او سجده به کوي هغه صف چې نږدې وو هغه ته نور به يې څوکيدارې کوي، کله چې امام کيني او هغه صف چې نږدې وي هغه ته نو دا نور به سجده وکړي، بيا به ټول کيني، بيا به ټولو ته سلام وګرځوي. ويلي دي ابوداود: دا قول د سفيان دی.

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۲۵۸۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/۲۹۵) (صحيح)

د مصنف اهتمام:

پوهیدل پکار دی چه مصنف رحمه الله د صلوة الخوف روایات او کیفیات چه په کوم اهتمام سره بیان کړې دی د صحاح سته په مصنفینو کښې چا هم په دومره تفصیل او اهتمام سره نهٔ دی بیان کړې اګر که نسائی رحمه الله هم د دې روایاتو لره په ښهٔ تفصیل سره بیان کړې دی خو دومره نهٔ، مصنف رحمه الله دا صورت اختیار کړې دې چه اولاً هغه په ترجمة الباب کښې په خپلو الفاظوکښې د صلوة الخوف یوه طریقه لیکي او بیا د باب په ضمن کښې د دې موافق حدیث راوړی او دې لره ثابتوی، چنانچه مصنف رحمه الله د صلوة الخوف دپاره اتهٔ بابونه قائم کړې دی په هر ترجمة الباب کښې یو نوې کیفیت د صلوة الخوف ئې بیان کړې دې.

د ائمه اربعه په نیز ټولې طریقې مشروع دی اختلاف صرف په اولویت کښې دې البته په آخره کښې چه کوم دوه بابه دی اووم او اتم هغه د جمهورو د مسلك خلاف دی نو ځکه جمهور هلته تاویل کوی د تاویل بیان چه کله هغه باب راشی هم هلته به راشی، مصنف رحمه الله اګر که بابونه خو اتهٔ قائم کړې دی خو په دې کښې صورتونه یولس به راځی یعنی داختلاف رواة په ضمن کښې زما په نیز د دېنه زیات نهٔ دې اګر که امام نووی خو دا لیکلې دی چه امام ابوداؤد د دې شپاړس صورتونه ذکر کړې دی.

حضرت شیخ رحمه الله د مؤطا په شرح، اوجز المسالك، کښې د صلوة الخوف په شروع کښې اتهٔ بحثونه ذکر فرمائیلې دی او د دې ټولو ته ئې اشاره په حاشیه د لامع کښې فرمائیلې ده په دې کښې څو بحثونه مونږ لره هم دلته بیانول دی،(۱) د صلوة الخوف مشروعیت کله شوې دې، د دې د کال په تعین کښې،(۲) د حضور ﷺ نه صلوة الخوف په کومو کومو ځایونو کښې او څومره ځله کول ثابت دی،(۳) صلوة الخوف د حضور ﷺ نه روستو هم مشروع دې او که نهٔ،(۴) عین د جنګ په وخت کښې مونځ کوم ته چه، صلوة المسایفه، وائي جائز دې او که نهٔ،(۵) صلوة الخوف صرف په سفر کښې مشروع دې یا په حضر کښې هم،(۶) د ویرې د وجه نه د رکعتونو په شمیر کښې څهٔ کموالې راځی او که نهٔ.

دصلوة الخوف سره متعلق مباحث سته:

بحث اول: د صلوة الخوف مشروعیت په کومه موقع باندې او په کوم کال کښې شوې وو؟

په دې کښې ډیر اختلاف دې کوم ته چه په کتلو سره تعجب کیږی چه دهغې تفصیل په اوجز کښې کتلې شئ خو په ابوداؤد کښې په دې سلسله کښې یو روایت دې چه هغې طرف ته ابن حجر رحمه الله هم میلان کړې دې، او زادالمعاد کښې ابن القیم رحمه الله هم دې لره اختیار کړې دې نو ځکه مونږ هم هغې لره دلته لیکو، هغه دا دې چه ابوعیاش الزرقی په روایت کښې تصریح ده چه حضور ﷺ صلوة الخوف د ټولو نه ړومبې په، عسفان، مقام کښې کړې وو او غزوه عسفان په اتفاق سره په شپږم کال د هجرت کښې ده، او په اوجز کښې د واقدی نه نقل کړې دی چه، مقام عسفان کښې د حضور ﷺ مونځ د عمرة الحدیبیه په موقعه باندې وو، عمره حدیبیه هم بهرحال په شپږم کال د هجرت کښې ده د دینه معلومه شوه چه د دې

مونځ مشروعيت په شپږمه هجرئ کښې شوې دې، دابوعياش د دې روايت مضمون کوم چه په کتاب کښې مذکور دې هغه دا دې چه مونږ د حضور ﷺ سره د عسفان په مقام کښې د ماسپخين مونځ اوکړو او په دې موقع باندې د مشرکينو د لښکر امير خالد بن الوليد وو کله چه صحابه کرام د مانځه نه فارغ شول نو مشرکينو په خپلو کښې اووئيل. لقد اصبنا غرة لو كنا حملنا عليهم و هم فى الصلوة، اُف! مونږ نه ډير لويه غلطي اوشوه مونږه موقع ورکه کړله څۀ ښۀ به وو چه مونږ په مسلمانانو باندې د مونځ په حالت کښې حمله کړې وې، د ابوداؤد په روايت کښې خو دومره دی، په يو بل روايت کښې دا دی (ذكره في البذل،ص، ۲۵۴،ج، ۲ ، و كذا في المشكوة) چه

په دې باندې بعضې مشرکانو اووئيل د خفگان خبره نه ده اوس د دوئ يو بل مونځ راتلونکې دې کوم چه د دوئ په نيز د مال او اولاد نه زيات محبوب دې يعنی د مازيگر مونځ په دې کښې به مونږ په دوئ باندې حمله اوکړو د دې خلقو په مينځ کښې دا خبرې کيدې چه بين الظهر والعصر يعنی د ماسپخين او مازيگر په مينځ کښې آيت القصر په کوم کښې چه صلوة الخوف مذکور دې هغه نازل شو، دشمن چه کند چو مهربان باشد دوست. دشمن اگر قويست مهربان قوی تر است، يعنی دښمن به زمونږ څۀ اوکړی چه ملگری راباندې مهربانه وی، او که دښمن زمونږ زورآ ور دې نو زمونږ مهربان د هغوی نه زيات زورآ ور دې، چنانچه حضور ﷺ د لښکر دوه حصې کړې او دصلوة الخوف په طريقه ئې د مازيگر مونځ ورکړو.

په غزوه خندق کښې صلوة الخوف ولې نه وو کړې شوې:

په دې باندې تاسو يوه بله خبره واورئ هغه دا چه د ټولو علماؤ په دې باندې اتفاق دې چه حضور ﷺ په غزوه خندق کښې صلوة الخوف نۀ وو کړې(نو ځکه په هغې کښې د دوئ څو مونځونه قضاء شول) خو په دې کښې اختلاف دې چه په دې دې غزوه کښې حضور ﷺ صلوة الخوف ولې نۀ وو کړې په دې کښې څو اقوال دی يو دا چه دمشرکينو د قتال د وجه نه حضور ﷺ ته وخت نۀ وو ملاؤ شوې چه مونځ اوکړی او بعضې وائی چه په قتال کښې د مشغوليدو د وجه نه د مونځ خيال ورته رانغلو، يو قول دا هم دې چه تر دغه وخته پورې دا مونځ نۀ وو مشروع شوې، د ابوداؤد په پورته ذکر شوې روايت کښې هم د دې آخری قول تائيد کيږی ځکه چه په دې باندې اتفاق دې چه غزوه عسفان د خندق نه پس ده او حال دا دې چه د دې مونځ مشروعيت هم په غزوه عسفان کښې شوې وو.

د يو تاريخی مسئلې حل:

يوه بله تاريخی مسئله واورئ هغه دا چه په دې باندې د ټولو اتفاق دې چه حضور ﷺ په غزوه ذات الرقاع کښې صلوة الخوف کړې وو خو په دې کښې د مؤرخينو او محدثينو اختلاف کيږی چه غزوه ذات الرقاع د غزوه خندق نه مقدم ده يا د دې نه روستو ده دواړه رائې ذکر دی،د پورتنې ترتيب او مضمون مقتضی دا ده چه غزوه ذات الرقاع د خندق نه پس پيښه شوې ده گويا يو تاريخی اختلافی مسئله حل شوه.

بحث ثاني: (د حضور ﷺ نه صلوة الخوف کله او څوځله کول ثابت دي؟)

په دې کښې هم د علماؤ اختلاف دې په بذل کښې حضرت د مراقی الفلاح نه نقل کړې دی چه حضور ﷺ صلوة الخوف، ۲۴ ،څلیریشت وارې کړې دې، او په اوجز کښې حضرت شیخ د ابن العربی نه هم دا نقل کړې دی، خو حافظ ابن قیم رحمه الله لیکلې دی چه، عشر مرات، امام نووی فرمائی چه ابن المالکی لیکلی دی چه، ان النبی صلی الله علیه وسلم صلاها فی عشرة مواطن، او علامه زیلعی فرمائی (کما فی الاوجز) بعضې فقهاء فرمائی چه حضور ﷺ صلوة الخوف په لسو ځایونو کښې ادا کړې دې خو هغه قول په کومو باندې چه داصحاب السیر والمغازی استقرار شوې دې هغه دا دې چه حضور ﷺ دا مونځ صرف په څلور مواضعو کښې کړې دې:

۱، ذات الرقاع، ۲، بطن نحل، ۳، عسفان، ۴، ذی قرد،

ابن العربی رحمه الله فرمائی چه د صلوة الخوف کیفیت په ډیرو روایتونو کښې راغلې دې په دې کښې زیات صحیح شپاړس روایتونه دی کوم چه په خپلو کښې مختلف دی او ابن القیم رحمه الله په زاد المعاد کښې فرمائی چه په دې مختلفو کیفیتونو کښې اصل صرف شپږ کیفیات او طریقې دی هغوی فرمائی چه بعضو د دینه زیاتې هم لیکلې دی دې خلقو چه کوم ځائې کښې هم لږ غوندې د رواة اختلاف کتلې دې په کوم کیفیت کښې هغې لره ئې مستقل صورت ګرځولې دې چه حضور ﷺ داسې هم کړې دې، حال دا دې چه هغه اختلاف د رواة دې، حافظ ابن حجر رحمه الله هم د دې رائې تائید کړې دې او دا وړاندې تیر شوې دی چه په سنن ابوداؤد کښې د دې یوولس صورتونه مذکور دی.

بحث ثالث: (ایا صلوة الخوف د حضور ﷺ نه پس هم مشروع دې؟)

صلوة الخوف د جمهورو علماؤ او ائمه اربعه په نیز د حضور ﷺ د وفات نه پسې هم مشروع دې، ابویوسف فی روایة او ابن علیه، مزنی، دا حضرات فرمائی چه صلوة الخوف دحضور ﷺ پورې خاص وو، لقوله تعالی، و اذا کنت فیهم فاقمت لهم الصلوة، خو د جمهورو په نیز د حضور ﷺ نه روستو هم جائز دې ځکه چه د صحابه کرامو نه د حضور ﷺ نه روستو کول ثابت دی او د آیت نه چه د حضور ﷺ پورې کوم تخصیص معلومیږی د دې جواب دا ورکړې شوې دې چه، اذا کنت، سره چه کوم تخصیص په پوهه کښې راځی هغه د حضور ﷺ د وجود په اعتبار سره نۀ دې ترڅو پورې چه تاسو په دنیا کښې موجود ئې تر هغه وخته پورې دا مونځ کولې شی بلکه د حکم د بیانولو په لحاظ سره دې او مطلب دا دې چه تر څو پورې حضور ﷺ موجود دې نو خپل امت ته دې د صلوة الخوف طریقه په خپله کولو سره اوښائی یعنی تعلیم قولی باندې دې اکتفاء مۀ کوئ، خو د دې نه باوجود زمونږ فقهاء لیکلی چه صلوة الخوف په خپل مخصوص کیفیت سره تر هغه وخت اولی دې چه کله خلق په یو امام پسې د مونځ کولو دپاره اصرار کوی لکه څنګه چه حضور ﷺ پسې ټولو صحابه کرامو غوښتل چه د چا زړۀ مات نۀ شی، او که داسې صورت نۀ وی نو بیا اولی او غوره دا ده چه دوه جدا جدا امامان یو یو جماعت لره یو بل پسې پوره پوره مونځ ورکړی.

بحث رابع:

(خاص د قتال په حالت کښې صلوة المسايفه جائز دي که نه؟)

په حاشیه د لامع کښې لیکلي دی چه صلوة المسایفه د حنفیانو په نیز باندې جائز نۀ دې، صاحب هدایه رحمه الله فرمائی چه که عین د جنګ په وخت کښې مونځ جائز وې نو بیا به د حضور ﷺ په غزوه خندق کښې مونځونه نۀ قضاء کیدل.(۱)، او د جمهور او ائمه ثلاثه په نیز باندې جائز دې، ماشیًا و راکبًا مع الکرّ والفرّ، په خلاف د حنفیه نه چه د دوئ په نیز مع المسایفه یا مع المشی مونځ باطل دې او د بعضې علماؤ خو مذهب دا دې چه، التحام الحرب یعنی په سخت جنګ کښې که په څه شان سره د مونځ کولو باندې قدرت نۀ وی نو صرف تسبیح او تحمید، تهلیل او تکبیر باندې اکتفاء کول جائز دی دغه وخت دا تسبیحات د مونځ قائم مقام کیږی، امام بخاری رحمه الله هم دې مسئلې لره، باب الصلوة عند مناهضة الحصون و لقاء العدو، کښې بیان کړې ده او د هغې خلقو تردید ئې کړې دې څوک چه دا وائی چه په داسې موقع باندې تکبیر او تسبیح کافی کیدې شی.

بحث خامس:

(ایا صلوة الخوف صرف په سفر کښې مشروع دې؟)

دجمهور او دوئ سره دائمه اربعه په نیز صلوة الخوف په حضر کښې هم مشروع دې سفر پورې خاص نۀ دې، امام نووی د امام مالک مذهب عدم الجواز فی الحضر نقل کړې دې، خو دا خلاف تحقیق دې، البته دابن الماجشون المالکی په نیز سفر پورې خاص دې.

بحث سادس:

(د خوف په وجه د رکعاتو په تعداد کښې هم څه کمی راځی او که نه؟)

د جمهورو علماء، ائمه اربعه په نیز د ویرې د وجه د رکعاتونو په شمیر کښې څۀ کمې نۀ کیږی، دبعضې علماء لکه ابن عباس، حسن بصری، طاؤس، اسحٰق بن راهویه په نیز د سخت جنګ په صورت کښې د دوو رکعاتو په ځائې په یو باندې هم اکتفاء کول جائز دی، او یو قول خو دا دې چه که په مونځ باندې قدرت نۀ وی نو صرف تسبیح او تحمید او تکبیر هم د مونځ قائم مقال کیږی، (کما تقدم)

اوس د دې تمهیدی امورو نه پس تاسو د اصل مقصود په حقله واورئ هغه دا چه په ائمه اربعه کښې د کوم امام په نیز کومه طریقه د صلوة الخوف غوره او راجح ده دا وراندې تیر شوې دی چه د صحیح روایتونو نه د صلوة الخوف شپاړس صورتونه ثابت دی او د جمهورو په نیز په دې ټولو طریقو سره صلوة الخوف ادا کول جائز دی البته ترجیح کښې اختلاف دې، بعضې علماء خو داسې هم دې کوم چه د ترجیح هم قائل نۀ دی چنانچه اسحٰق بن راهویه هم د دوئ نه دې، امام ترمذی رحمه الله په جامع ترمذی کښې د دوئ مقوله نقل کړې ده چه، و رای اسحق بن راهویه انّ کلّ ما روی عن النبی صلی الله علیه وسلم فی صلوة الخوف فهو

(۱) په دې کښې یو قول دا دې چه دغه وخته پورې صلوة الخوف مشروع شوې وی (کماسبق)۔

جائز و هذا علی قدر الخوف و لسنا نختار حدیث سهل بن ابی حثمه علی غیره من الروایات،

صلوة الخوف کښې د ائمه مختارات:

د حنفیانو په نیز غوره دا ده چه د لښکر امیر لره پکار دی چه د لښکر دوه ډلې جوړې کړي یو د دښمن په مقابله کښې اودریږي او یوه د جماعت د امام پسې امام دې دوئ ته یو رکعت اوکړي یو رکعت کولو نه پس دې دا ډله د دښمن مقابله له لاړه شي او کومه ډله چه د دښمن په مقابله کښې ده هغه دې دلته امام پسې راشي امام دې دوئ ته هم یو رکعت اوکړي د امام خو چونکه دوه رکعت اوشول نو ځکه هغه دې خپل مونځ ځانله پوره کړي او سلام دې اوګرځوي او دا دویمه ډله کومې چه د امام سره یوه رکعت کړې دې د دښمن مقابله له لاړه شي د دېنه پس دې اوله ډله خپل پاتې یو رکعت هم په دغه ځائې یا په کوم ځائې کښې چه د جماعت مونځ شوې وو هلته دې لاړ شي اودې کړي او سلام دې اوګرځوي بیا د دېنه پس دې دویمه ډله هم خپل پاتې رکعت دغه شان اوکړي او مونځ دې پوره کړي.

په دې کیفیت کښې مشی فی حال الصلوة یعنی د مانځه په حالت کښې تلل کول خو لازمیږي خو تقدم علی الامام یعنی په امام باندې وړاندې کیدل نۀ لازمیږي کوم چه د جمهورو په کیفیت کښې موندلې کیږي.

د ائمه ثلاثه په نیز غوره صورت دا دې چه کله اولنۍ ډله امام سره یو رکعت اوکړي نو هغه دې هم دغه وخت خپل دویم رکعت ځانله اوکړي او سلام دې اوګرځوي او د دښمن مقابلې ته دې لاړ شي او بیا دې دویمه ډله راشي او امام سره دې یو رکعت اوکړي او دا ډله دې دغه وخت خپل دویم رکعت هم اوکړي، اوس دا چه امام د دویم رکعت کولو نه پس د دې دویمې ډلې په سلام ګرځولو کښې انتظار اوکړي چه دواړه یو ځائې سلام اوګرځوي یا انتظار دې نۀ کوي بلکه امام دې ځانله سلام اوګرځوي، دا مختلف فیه ده، امام شافعی او احمد فرمائي چه انتظار دې اوکړي او کله چه دویمه ډله د دویم رکعت نه فارغ شي نو دواړه دې یوځائې سلام اوګرځوي، امام مالك هم ړومبې د دې قائل وو روستو هغوی د دېنه رجوع اوکړه اووئې فرمائیل چه انتظار دې نۀ کوي، د شافعیه او حنابله استدلال د یزید بن رومان روایت سره دې او د مالکیه استدلال د قاسم بن محمد په روایت سره دې دا دواړه روایتونه وړاندې د کتاب په دریم باب کښې راروان دی.

پوهیدل پکار دی چه پوره ذکر شوې د صلوة الخوف صورت کوم چه ائمه ثلاثه اختیار کړې دې دې لره مالکیه او حنابله خو مطلقا اختیاروي او حضرت امام شافعی دې کیفیت لره هغه وخت اختیاروي کله چه دښمن د قبلې په اړخ کښې نۀ وي او که دښمن د قبلې په جانب کښې وو نو دغه وخت د دوئ په نیز یو دویم صورت غوره دې او هغه دا چه امام دې د ټول لښکر دوه صفونه جوړ کړي او دواړو ته یوځائې مونځ شروع کړي قیام او رکوع دې دواړه صفونه د امام سره اوکړي د دېنه پس امام او ړومبې صف واله دې خو سجدې ته لاړ شي او دویم صف واله دې هم په قومه کښې ولاړ وي د دښمن د حفاظت دپاره(ځکه چه دښمن د قبلې په جانب کښې دې) کله چه امام او ړومبی صف واله د سجدو نه فارغ شي او اودریږي

نو بيا دې دويم صف واله سجدې ته لاړ شي او د دواړو سجدو نه دې فارغ شي او اوديدريږي اوس د هر يو صف واله يو يو رکعت پوره شو، د دينه پس د صفونو ترتيب به بدل کړې شي ړومبی صف واله به روستو راشي او وروستوني صف واله به وړاندې لاړ شي او دويم رکعت به حسب سابق پوره کړي او ټول به يوځائې سلام اوګرځوي.
مصنف د ټولو نه ړومبې چه کوم باب قائم کړې دې په هغې کښې د صلوة الخوف هم دا صورت بيان کړې دې.

فائده: ائمه ثلاثه چه د مونځ کوم کيفيت اختيار کړې دې هغه د سهل بن ابی حثمه په حديث کښې مذکور دې او امام شافعي د دښمن په جانب د قبلې کيدو په صورت کښې چه کوم صورت اختيار کړې دې هغه د ابوعياش زرقی په حديث کښې ذکر دې، او حنفيانو چه کوم کيفيت اختيار کړې دې هغه وړاندې د کتاب د صلوة الخوف په بابونو کښې په شپږم باب کښې راروان دې د کوم په شروع کښې چه دی، و صلی عبدالرحمٰن بن سمرة هكذا.

فائده ثانيه: پوهيدل پکار دی چه د جمهورو په طريق کښې د هرې دوو ډلو په رکعتينو کښې موالاة دې يعنی هره ډله به د امام سره يو رکعت کوی او هغه وخت به خپل دويم رکعت اوکړي او خپل مونځ به پوره کړي، په دې کيفيت کښې په رکعتينو کښې دتسلسل او موالاة د وجه نه مشی فی الصلوة نۀ لازميږي، او د حنفيانو واله شکل کښې د يوې ډلې په رکعتينو کښې هم موالاة نشته دې بلکه دا دی چه هره ډله به د امام سره صرف يو رکعت اوکړي او لاړه به شي او بيا د دينه پس به ترتيب وار دواړه ډلې يو بل پسې خپل دويم رکعت اوکړي.

[۱۲۳۶] (¹) حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا جَرِيرُ بْنُ عَبْدِ الْحَمِيدِ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ أَبِي عَيَّاشٍ الزُّرَقِيِّ، قَالَ: كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعُسْفَانَ، وَعَلَى الْمُشْرِكِينَ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ، فَصَلَّيْنَا الظُّهْرَ، فَقَالَ الْمُشْرِكُونَ: لَقَدْ أَصَبْنَا غِرَّةً، لَقَدْ أَصَبْنَا غَفْلَةً، لَوْ كُنَّا حَمَلْنَا عَلَيْهِمْ وَهُمْ فِي الصَّلَاةِ، فَنَزَلَتْ آيَةُ الْقَصْرِ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ، فَلَمَّا حَضَرَتِ الْعَصْرُ" قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةِ، وَالْمُشْرِكُونَ أَمَامَهُ فَصَفَّ خَلْفَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَفٌّ، وَصَفَّ بَعْدَ ذَلِكَ الصَّفِّ صَفٌّ آخَرُ، فَرَكَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَكَعُوا جَمِيعًا، ثُمَّ سَجَدَ وَسَجَدَ الصَّفُّ الَّذِينَ يَلُونَهُ، وَقَامَ الْآخَرُونَ يَحْرُسُونَهُمْ، فَلَمَّا صَلَّى هَؤُلَاءِ السَّجْدَتَيْنِ وَقَامُوا سَجَدَ الْآخَرُونَ الَّذِينَ كَانُوا خَلْفَهُمْ، ثُمَّ تَأَخَّرَ الصَّفُّ الَّذِي يَلِيهِ إِلَى مَقَامِ الْآخَرِينَ، وَتَقَدَّمَ الصَّفُّ الْأَخِيرُ إِلَى مَقَامِ الصَّفِّ الْأَوَّلِ، ثُمَّ رَكَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَكَعُوا جَمِيعًا ثُمَّ سَجَدَ وَسَجَدَ الصَّفُّ الَّذِي يَلِيهِ وَقَامَ الْآخَرُونَ يَحْرُسُونَهُمْ، فَلَمَّا جَلَسَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالصَّفُّ الَّذِي يَلِيهِ سَجَدَ الْآخَرُونَ، ثُمَّ جَلَسُوا جَمِيعًا، فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ جَمِيعًا، فَصَلَّاهَا بِعُسْفَانَ، وَصَلَّاهَا يَوْمَ بَنِي سُلَيْمٍ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَى أَيُّوبُ، وَهِشَامٌ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، هَذَا الْمَعْنَى، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَكَذَلِكَ رَوَاهُ دَاوُدُ بْنُ حُصَيْنٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَكَذَلِكَ عَبْدُ الْمَلِكِ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ جَابِرٍ، وَكَذَلِكَ قَتَادَةُ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ حِطَّانَ، عَنْ أَبِي مُوسَى فِعْلَهُ، وَكَذَلِكَ عِكْرِمَةُ بْنُ خَالِدٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَكَذَلِكَ هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَهُوَ قَوْلُ الثَّوْرِيِّ.

¹: سنن النسائي/صلاة الخوف (۱۵۵۰، ۱۵۵۱)، (تحفة الأشراف: ۳۷۸٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/۵۹، ۶۰) (صحيح)

ابو عیاش الزرقي وايي: مونږ وو د رسول الله ﷺ سره په عسفان کې، او د مشرکانو مشر خالد بن الولید وو، نو مونږ مونځ وکړو د ماسپخین، نو مشرکانو وويل: بېشکه ورسيدو چل ته، بېشکه مونږ ورسيدو غفلت ته، که چېرې مونږ حمله وکړه په دوی باندې په مانځه کې، نو نازل شو ايت د قصر په مابين د ماسپخين او مازيګر کې، هرکله چې مازيګر راغی، نو ودريدلو رسول الله ﷺ مخامخ قبلې ته او مشرکين د هغه مخکې ته وو، نو صف جوړ کړو وروسته د رسول الله نه يو صف، او د دغې صف نه وروسته بل صف جوړ کړو، نو رکوع وکړه رسول الله ﷺ، ټولو رکوع وکړه، بيا سجده وکړه هغه صف چې هغه نزدې وو، او نو ولاړ وو پېره يې کوله د دوی، هرکله چې دوی دوه سجدې وکړې نو ودريدل، نو سجده وکړه نورو هغو چې وروسته د دوی نه وو، بيا وروسته شو هغه صف چې هغه ته نزدې وو ځای د نورو ته، او مخکې شو وروستنی صف ځای د اولني صف ته، بيا رکوع وکړه رسول الله ﷺ رکوع وکړه ټولو، بيا سجده وکړه هغه او سجده وکړه هغه صف چې کوم ورته نزدې وو او ودريدل نور چې څوکيداري يې کوله د دوی، هرکله چې کېناستلو رسول الله ﷺ او هغه صف چې ورته نزدې وو، سجده وکړه نورو، بيا ټولو کېناستل او سلام يې وګرځولو ټولو ته، دا مونځ يې په عسفان کې وکړو په ورځ د بني سليم. د دې روايت داود بن حصين کړی دی د عکرمه نه او هغه د ابن عباس نه، همدارنګه نقل کړی دی عبد المطلب د عطاء نه او هغه د جابر نه، همدارنګه قتادة د حسن او هغه د حطان نه او هغه د ابو موسی نه فعل د هغه، همدارګه عکرمة بن خالد د مجاهد نه او هغه د نبي ﷺ نه، همدانګه هشام بن عروة د خپل پلار نه او هغه د نبي ﷺ نه، او دا قول د ثوري دی.

قوله: حدثنا سعيد بن منصور، دا د صلوة الخوف د ړومبی باب حديث دې او دا د ابوعياش زرقی هغه حديث دې کوم لره چه امام شافعی هغه وخت اختيار کړې دې کله چه دښمن په جانب د قبلې وی د کوم تفصيل چه د باب په شروع کښې تير شوې دې د ابوعياش نوم امام ترمذی فرمائی چه زيد بن صامت دې دا انصاری صحابی دې.

قوله: كنا مع رسول الله صلى الله عليه وسلم بعسفان، عسفان د مکې او مدينې په لاره کښې د مکه مکرمې سره نزدې د يو ځائې نوم دې، په بعضې رواياتو کښې ضجنان لفظ راځی دواړه صحيح دی، ضجنان هم د يو ځائې نوم دې دا غزوه د دې دواړو ځايونو په مينځ کښې شوې وه، يا داسې اووايه لکه څنګه چه په بعضې رواياتو کښې دی چه د مسلمانانو د لښکر مقام عسفان کښې او د مشرکينو په ضجنان کښې وو.

غزوه عسفان د بنولحيان سره په جمادی الاولی شپږم کال د هجری کښې شوې وه خو په دې کښې د جنګ نوبت نۀ وو راغلې بلکه د دښمن سره ليدل هم نۀ وو شوی.

قوله: و صلاها يوم بنی سليم، يعنی غزوه بنو سليم، د يوم لفظ استعمال د حرب يعنی جنګ په معنی کښې عرب خلق کوی، ما يو ځل د خپل عالی شان استاذالاديب الاريب مولانا اسعدالله صاحب نه اوريدلې وو، ايام العرب حروبها، دې غزوې ته غزوه بحران هم وائی.

يو اشکال او د هغې جواب

دلته يو اشکال دې هغه دا چه يوم بنی سليم په دريم کال د هجرت کښې پيښه شوې وه د جنګ بدر او جنګ احد په مينځ کښې تر دغه وخته پورې خو صلوة الخوف مشروع شوې نۀ وو ځکه چه د دې مشروعيت لکه څنګه چه پورته تير شوې دې په غزوه عسفان کښې شوې وو کومه چه په شپږم کال د هجرت کښې شوې وه، حضرت رحمه الله په بذل کښې ليکلي دي چه اصحاب السير د دې غزوې په بيان کښې د صلوة الخوف ذکر نۀ دې کړې والله تعالی اعلم

صاحب منهل د دې جواب ورکړې دې چه کيدې شی دا غزوه دوه ځلې پيښه شوې وی يو ځل په دريم کال د هجرت کښې لکه څنګه چه مشهوره ده او دويم ځل د غزوه عسفان نه روستو په رومبی ځل کښې په دې کښې صلوة الخوف نۀ وی شوې او په دويم ځل کښې شوې وی نو ځکه په دې روايت کښې د کولو تصريح ده.

بَابُ مَنْ قَالَ يَقُومُ صَفٌّ مَعَ الْإِمَامِ وَصَفٌّ وِجَاهَ الْعَدُوِّ

باب دی په بيان د هغه چاکې چې وايي: ودريږي به يو صف د امام سره او بل صف مخامخ دشمن ته

يَقُومُ صَفٌّ مَعَ الْإِمَامِ وَصَفٌّ وِجَاهَ الْعَدُوِّ «فَيُصَلِّي بِالَّذِينَ يَلُونَهُ رَكْعَةً، ثُمَّ يَقُومُ قَائِمًا، حَتَّى يُصَلِّيَ الَّذِينَ مَعَهُ رَكْعَةً أُخْرَى، ثُمَّ يَنْصَرِفُونَ فَيَصُفُّونَ، وِجَاهَ الْعَدُوِّ وَتَجِيءُ الطَّائِفَةُ الْأُخْرَى فَيُصَلِّي بِهِمْ رَكْعَةً، وَيَثْبُتُ جَالِسًا، فَيُتِمُّونَ لِأَنْفُسِهِمْ رَكْعَةً أُخْرَى، ثُمَّ يُسَلِّمُ بِهِمْ جَمِيعًا»

(دويم صورت) ودريږي به يو صف د امام سره او بل صف مخامخ دشمن ته. مونځ به کوي هغو ته چې امام ته نزدې وي يو رکعت، بيا به ولاړ وي، تردې چې مونځ وکړي هغه کسان چې د هغه سره يې مونځ کړی دی بل رکعات، بيا به ځي ودريږي په صف کې مخامخ دشمن ته، او راځي به هغه بله ډله مونځ به کوي هغوی ته يو رکعات، او ثابت به پاتې کېږي په ناسته، نو پوره کوي به خپل ځانله بل رکعات، بيابه سلام اړوي ټول په يو ځائې.

دا د صلوة الخوف دويم باب دې په دې کښې مصنف رحمه الله د صلوة الخوف چه کوم صورت ذکر کړې دې هغه تقريبا هم هغه دې کوم چه ائمه ثلاثه اختيار کړې دې معمولی غوندې فرق دې چه امام د رومبۍ ډلې سره يو رکعت اوکړو د دينه پس دې ډلې خپل دويم رکعت ځانله اوکړو لکه څنګه چه د جمهورو په نيز وی خو تراوسه دې ډلې سلام نۀ دې ګرځولې بغير د سلام نه لاړل(په خلاف د جمهورو نه چه د دوئ په نيز د سلام نه پس ځي) د دينه پس به دويمې ډلې يو رکعت د امام سره اوکړو او دويم رکعت ئې ځانله اوکړو بيا امام سلام دې دوارو ډلو سره اوګرځولو.

[۱۲۳۷]([1])حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ صَالِحِ بْنِ خَوَّاتٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ أَبِي حَثْمَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "صَلَّى بِأَصْحَابِهِ فِي خَوْفٍ فَجَعَلَهُمْ

[1]): صحيح البخاري/المغازي ۳۲ (۴۱۳۱)، صحيح مسلم/المسافرين ۵۷ (۸۴۱و۸۴۲)، سنن الترمذي/الصلاة ۲۸۱ (الجمعة ۴۶) (۵۶۶)، سنن النسائي/صلاة الخوف (۱۵۳۷)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۵۱ (۱۲۵۹)، (تحفة الأشراف: ۴۶۴۵)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الصلاة ۱ (۲)، مسند احمد (۴۴۸/۳)، سنن الدارمي/الصلاة ۱۸۵(۱۵۶۳) (صحيح)

خَلْفَهُ صَفَّيْنِ، فَصَلَّى بِالَّذِينَ يَلُونَهُ رَكْعَةً، ثُمَّ قَامَ فَلَمْ يَزَلْ قَائِمًا حَتَّى صَلَّى الَّذِينَ خَلْفَهُمْ رَكْعَةً، ثُمَّ تَقَدَّمُوا وَتَأَخَّرَ الَّذِينَ كَانُوا قُدَّامَهُمْ فَصَلَّى بِهِمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَةً، ثُمَّ قَعَدَ حَتَّى صَلَّى الَّذِينَ تَخَلَّفُوا رَكْعَةً، ثُمَّ سَلَّمَ".

د سهل بن ابي حثمه نه روايت دی، بېشکه نبي ﷺ مونځ يي وکړو خپلو ملګرو ته په خوف کې، ويي ګرځول د خپل ځان نه وروسته دوه صفه، کوم کسان چي ورته نزدې وو هغوی ته يي يو رکعات وکړو، بيا ودريدو ولاړ وو، تردې چي مونځ وکړو هغو کسانو چي د ده نه وروسته وو يو رکعاته، بيا رامخکي شول، او وروسته شول هغه کسان چي د هغوی نه مخکي وو، هغوی ته نبي ﷺ يو رکعات وکړو، بيا کښناستلو تردې چي يو رکعات مونځ وکړو هغه خلقو چې وروسته وو، بيايي سلام وګرځولو.

تشريح: **قوله**: حدثنا عبيدالله بن معاذ..الخ، قوله، فجعلهم خلفه صفين.

د حديث د ترجمة الباب سره په مطابقت کښې ګړانوالي او د دې حل:

دا تعبير واضح نۀ دې خو غلط هم نۀ دی د دې تشريح دغه شان کيدې شي چه امام يوې ډلې لره خو خپل شاته کړې او دويمې ډلې لره د دښمن په مقابله کښې خو چونکه دښمن بظاهره د امام شاه طرف(د قبلې په مقابل کښې) وو نو ځکه هغه دويمه ډله هم په دې لحاظ سره امام پسې شوله.

حتى صلى الذين خلفهم ركعة، يعنې د امام اولې ډلې ته يو رکعت اوکړې او اودريږی تر دې چه دې ډلې خپل دويم رکعت اوکړو.

د الذين مصداق رومبۍ ډله ده او په خلفهم کښې د هم مصداق دويمه ډله ده که دلته د خلفهم په ځائې باندې خلفه وې نو ډيره واضحه خبره به وه ځکه چه رومبۍ ډله په واقع کښې هم د امام پسې ده نۀ دويمې ډلې پسې، حضرت په بذل کښې ليکلې دی چه په تفسير ابن جرير طبری کښې هم دا روايت دې چه په دې کښې هم خلفه دې باقی خلفهم لکه څنګه چه دلته په کتاب کښې دی د کوم مطلب چه دا شو چه رومبۍ ډله کومه چه دويمې ډلې پسې ده،(په ظاهر کښې دا صحيح نۀ ده لهذا تاويل ته حاجت لرې) تاويل دا کيدې شي چه دا ځائې د جنګ ځائې دې په دې خو پوهه شه چه کومه ډله د دښمن په مقابله کښې ولاړه ده هم هغه مخکښې کيدنکې او مقدم ده او کومه ډله چه د دښمن په ځائې امام سره دۀ پسې ولاړه ده هغه ګويا مؤخر ده(يعنې ددښمن نه) غالبًا هم دې لحاظ سره په دې روايت کښې رومبۍ ډله د دويمې ډلې پسې ګرځولې شوې ده، و هذا التوجيه خاطری ابوعذره، فظهرت المطابقة بين الحديث والترجمة فلله الحمد والمنة، حضرت سهارنپوری ته هم په بذل المجهود کښې دې ځائې لره په حل کولو کښې دشواری او ګرانوالې پورته کړې دې، حديث الباب او ترجمة الباب کښې د مطابقة دا مسئله هم په دې کتابونو کښې اهميت لرې خصوصا په صحيح بخاری او سنن صغری للنسائی کښې.

قوله: ثم تقدموا، رومبۍ ډله دې خپل دواړه رکعتونه اوکړې(د سلام نه رومبې) او د دښمن طرف ته لاړله اوګورئ! دلته د دښمن په مقابله کښې تلونکو ته تقدم وئيلې شوې دې حال دا دې چه دښمن وړاندې يعنې د قبلې په جانب نۀ دې نو ځکه زمونږ د ذکر شوې توجيه تائيد

کیږی بنهٔ پوهه شه.

و تاخر الذین کانوا قدامهم، او دویمه ډله کومه چه د رومبئ ډله نه مقدم وه امام پسې راغلله.

قوله: قال ابوداؤد اما روایة یحیی بن سعید،الخ، دا عبارت دلته زیاتی دې د بذل په نسخې کښې دې او په بعضې نسخو کښې نشته دې د دې اصل محل د راتلونکی باب آخر دې هلته به هم راشی.

باب مَنْ قَالَ إِذَا صَلَّى رَكْعَةً وَثَبَتَ قَائِمًا أَتَمُّوا لِأَنْفُسِهِمْ رَكْعَةً...الخ

باب: دهغه خلقو دلیل چه هغوی وائی چه امام دې یو رکعت اوکړی نو اودریږی به، او هغوی (مقتدیان) به خپل دویم رکعت پوره کړی..الخ

إِذَا صَلَّى رَكْعَةً وَثَبَتَ قَائِمًا أَتَمُّوا لِأَنْفُسِهِمْ رَكْعَةً ثُمَّ سَلَّمُوا ثُمَّ انْصَرَفُوا فَكَانُوا وِجَاهَ الْعَدُوِّ وَاخْتُلِفَ فِي السَّلَامِ

(**دریم صورت**) امام دې یو رکعت اوکړی نو اودریږی به، او هغوی (مقتدیان) به خپل دویم رکعت پوره کړی بیا دې سلام واړوی بیا به دوی واپس د دشمن مخې ته لاړشی، په تیرشوی صورت کښې صرف په سلام کښې اختلاف دې.

توضیح الباب:

یعنی امام چه کله رومبې ډلې ته رکعت اوکړی او اودریده نو دې ډلې خپل دویم رکعت هم دغه وخت اوکړو او سلام ئې اوګرځولو.

د ائمه ثلاثه اختیار کړې شوی صورت:

دا دریم باب دې په دې ترجمه کښې او مخکښنئ ترجمه کښې صرف هم دا فرق دې یعنی د سلام ګرځولو او نهٔ ګرځولو، په رومبئ ترجمه کښې دا وو چه رومبئ ډله دې دواړه رکعتونه اوکړی او بغیر د سلام ګرځولو نه لاړله او دلته دی چه هغوی هم سلام اوګرځولو دا بعینه هغه صورت دې کوم لره چه ائمه ثلاثه اختیار کړې دې، امام مالك او احمد مطلقا او امام شافعی د دښمن د غیر قبله کیدو په طرف کښې.

[۱۲۳۸] (¹) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ رُومَانَ، عَنْ صَالِحِ بْنِ خَوَّاتٍ، عَمَّنْ صَلَّى مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَوْمَ ذَاتِ الرِّقَاعِ صَلَاةَ الْخَوْفِ، أَنَّ طَائِفَةً صَفَّتْ مَعَهُ وَطَائِفَةٌ وِجَاهَ الْعَدُوِّ "فَصَلَّى بِالَّتِي مَعَهُ رَكْعَةً، ثُمَّ ثَبَتَ قَائِمًا، وَأَتَمُّوا لِأَنْفُسِهِمْ، ثُمَّ انْصَرَفُوا وَصَفُّوا وِجَاهَ الْعَدُوِّ، وَجَاءَتِ الطَّائِفَةُ الْأُخْرَى فَصَلَّى بِهِمُ الرَّكْعَةَ الَّتِي بَقِيَتْ مِنْ صَلَاتِهِ، ثُمَّ ثَبَتَ جَالِسًا، وَأَتَمُّوا لِأَنْفُسِهِمْ، ثُمَّ سَلَّمَ بِهِمْ". قَالَ مَالِكٌ: وَحَدِيثُ يَزِيدَ بْنِ رُومَانَ أَحَبُّ مَا سَمِعْتُ إِلَيَّ.

صالح بن خوات روایت کوي د هغه چانه چې هغه مونځ کړی دی د رسول الله ﷺ سره د خوف په ورځ د ذات الرقاع کې، بېشکه یوې ډلې صف جوړ کړو د هغه سره، او بله ډله مخامخ د دښمن وه، نو مونځ یې وکړو هغې ته چې د هغه سره وه یو رکعات، بیا ولاړ پاتې

¹: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٤٦٤٥) (صحيح)

شو، او پوره یې کړو ځانله، بیا لاړل، او صف کې ودریدل مخامخ دشمن ته، او راغله هغه بله ډله، نو مونځ یې وکړو دوی ته هغه رکعات چې پاتې وو د هغه د مونځ نه، بیا کښناستلو او هغه پوره کړو ځانله، بیایې سلام وګرځولو ټولو ته. مالک ویلي دي : او حدیث د یزید بن روان ډیر غوره دی په هغې کې چې ما اوریدلي دي.

حدثنا القعنبی عن مالك عن یزید بن رومان عن صالح بن خوات عمن صلی، الخ، صالح بن خوات روایت کوی د هغې صحابه کرامو نه کومو چه د حضور ﷺ سره مونځ کړې دې، د دینه مراد یا خو سهل بن ابی حثمه دې کما یظهر من روایة البخاری، یا د صالح پلار خوات بن جبیر دې کما جزم به النووی.

(د ذات الرقاع وجه تسمیه)

یوم ذات الرقاع، د دې غزوه نوم ذات الرقاع یا خو د دې د وجه نه دې چه په دې کښې د مسلمانانو سره سورلئ ډیرې کمې وې اکثر به پیدل وو د پیدل تللو د وجه نه(غریزو لاړو کښې) پښې زخمې شولې نو ځکه صحابه کرامو به په پښو باندې ټکړې، یعنی د کپړو پټئ تړلې وو، یا دې دپاره ورته وائی چه هلته یو غر وو د مختلفو رنګونو کاڼرو واله لکه څنګه چه دمختلف رنګونو پټئ وی، یا ځکه چه د مسلمانانو په جهنډو کښې هم د مختلفو رنګونو پټئ وی.

قوله، ثم انصرف، ای بعد السلام و هذا هو الفرق بین الترجمتین کما اوضحته قبل ذلك، ثم ثبت جالسًا، دا د یزید بن رومان روایت دې په کوم کښې چه د امام د دویمې ډلې دپاره د انتظار کول ذکر دی، و قد سبق تفصیله، قال مالك و حدیث یزید بن رومان احبُّ ما سمعت الیَّ، امام مالك فرمائی چه د یزید بن رومان حدیث په دې ټولو احادیثو کښې کوم چه ما د خپلو استاذانو نه اوریدلې دی زما په نیز ډیر خوښ دې، خو مونږ په شروع کښې دا وئیلی دی چه روستو امام مالك د دې قول نه رجوع کړې او دقاسم بن محمد روایت لره ئې اختیار کړې دې کوم چه د دینه روستو متصلا راروان دې.

[۱۲۳۹](1) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ صَالِحِ بْنِ خَوَّاتٍ الْأَنْصَارِيِّ، أَنَّ سَهْلَ بْنَ أَبِي حَثْمَةَ الْأَنْصَارِيَّ حَدَّثَهُ، أَنَّ صَلَاةَ الْخَوْفِ: أَنْ يَقُومَ الْإِمَامُ، وَطَائِفَةٌ مِنْ أَصْحَابِهِ، وَطَائِفَةٌ مُوَاجِهَةُ الْعَدُوِّ، فَيَرْكَعُ الْإِمَامُ رَكْعَةً وَيَسْجُدُ بِالَّذِينَ مَعَهُ، ثُمَّ يَقُومُ، فَإِذَا اسْتَوَى قَائِمًا ثَبَتَ قَائِمًا وَأَتَمُّوا لِأَنْفُسِهِمُ الرَّكْعَةَ الْبَاقِيَةَ، ثُمَّ سَلَّمُوا وَانْصَرَفُوا وَالْإِمَامُ قَائِمٌ، فَكَانُوا وِجَاهَ الْعَدُوِّ، ثُمَّ يُقْبِلُ الْآخَرُونَ الَّذِينَ لَمْ يُصَلُّوا فَيُكَبِّرُونَ وَرَاءَ الْإِمَامِ فَيَرْكَعُ بِهِمْ وَيَسْجُدُ بِهِمْ، ثُمَّ يُسَلِّمُ فَيَقُومُونَ فَيَرْكَعُونَ لِأَنْفُسِهِمُ الرَّكْعَةَ الْبَاقِيَةَ، ثُمَّ يُسَلِّمُونَ. قَالَ أَبُو دَاوُدَ وَأَمَّا: رِوَايَةُ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنِ الْقَاسِمِ، نَحْوَ رِوَايَةِ يَزِيدَ بْنِ رُومَانَ، إِلَّا أَنَّهُ خَالَفَهُ فِي السَّلَامِ، وَرِوَايَةُ عُبَيْدِ اللَّهِ، نَحْوَ رِوَايَةِ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، قَالَ: وَيَثْبُتُ قَائِمًا.

سهل بن ابي حثمه حدیث بیان کړی دی، بېشکه د خوف مونځ چې ودرېږي امام او ډله د ملګرو د هغه نه، او بله ډله مخامخ دشمن ته، وکړي امام یو رکعات، او سجده وکړي هغه کسانو ته چې د هغه سره دي، بیا ودرېږي کله چې برابر شي په ولاړه، ولاړ به اوسي، او

(1): انظر حدیث رقم: (۱۲۳۷)، (تحفة الأشراف: ٤٦٤٥) (صحیح)

پوره کړي د خپلو ځانونو لپاره هغه پاتې رکعات، بیا به سلام وګرځوي، او لاړ به شي او امام به ولاړ وي، شي به مخامخ دشمن ته، بیا به نور راشي هغه کسان چې مونځ یې نه دی کړی نو تکبیر وایي وروسته د امام نه، نو رکوع به کوي هغوی ته او سجده به کوي هغوی ته، بیا به سلام وګرځوي نو ودریږي به نو ځانله به هغه باقي رکعات وکړي، بیا به سلام وګرځوي. ویلي دي ابوداود: هر چې روایت د یحیی بن سعید دی د قاسم نه پشان د روایت د یزید بن روان دی، مګر هغه ورپکې مخالفت کړی دی په سلام کې. او روایت د عبید الله پشان د روایت د یحیی بن سعید دی، هغه ویلي دي: او اوسي به ولاړ.

حدثنا القعنبی عن مالك عن یحیی بن سعید عن القاسم بن محمد، الخ، دا هغه د قاسم روایت دي، قال ابوداؤد و اما روایة یحیٰی بن سعید عن القاسم نحو روایة یزید بن رومان الا انه خالفه فی السلام، د دې تفصیل وړاندې تیر شوې دې.

بَابُ مَنْ قَالَ يُكَبِّرُونَ جَمِيعًا وَإِنْ كَانُوا مُسْتَدْبِرِي الْقِبْلَةِ

باب: دهغه خلقو دلیل چه هغوی وائی چه ټول خلق دې یو ځای یو تکبیر (تحریمه) اووائی اګر چه قبلې ته ئې شا وی

> يُكَبِّرُونَ جَمِيعًا «وَإِنْ كَانُوا مُسْتَدْبِرِي الْقِبْلَةِ، ثُمَّ يُصَلِّي بِمَنْ مَعَهُ رَكْعَةً، ثُمَّ يَأْتُونَ مَصَافَّ أَصْحَابِهِمْ، وَيَجِيءُ الْآخَرُونَ فَيَرْكَعُونَ لِأَنْفُسِهِمْ رَكْعَةً، ثُمَّ يُصَلِّي بِهِمْ رَكْعَةً، ثُمَّ تُقْبِلُ الطَّائِفَةُ الَّتِي كَانَتْ مُقَابِلَ الْعَدُوِّ، فَيُصَلُّونَ لِأَنْفُسِهِمْ رَكْعَةً، وَالْإِمَامُ قَاعِدٌ، ثُمَّ يُسَلِّمُ بِهِمْ كُلِّهِمْ جَمِيعًا»

(څلورم صورت): تکبیر به وایي ټول، اګر که هغوی شا کونکي وي قبلې ته، بیا به مونځ کوي هغه چاته چې د هغه سره دي یو رکعات، بیا به راځي ځای د صف د ملګرو خپلو ته، او راځي به هغه نور نو اوبه کړي ځانله یو رکعات، بیا به مونځ کوي هغوی ته یو رکعات، بیا به مخکې شي هغه ډله چې دشمن ته مخامخ وه، نو ځانله به یو رکعات مونځ وکړي، او امام به ناست وي، بیا به ټولو ته سلام وګرځوي.

دا څلورم باب دې په دې کښې چه کوم کیفیت مذکور دې هغه دا دې چه امام به د ټول لښکر دوه حصې کړی یوه د دښمن په مقابله کښې او یوه به خپل ځان پسې شاته اودروی (لکه څنګه چه په عامه توګه باندې په صلوة الخوف کښې کیږی) بیا دوه ډلې به د امام سره تکبیر تحریمه کښې شرکت اوکړی او د مانځه نیت به اوتړی اګر که هغه دویمه ډله کومه چه د دښمن په مقابله کښې ده مستدبر قبله یعنی قبلې ته ئې شاه هم وی (د دې باوجود به د مانځه نیت تړی) بیا امام به اولې ډلې ته کومه چه ده پسې شاته ولاړه ده یو رکعت اوکړی او دا ډله به یو رکعت کولو نه پس د دښمن طرف ته وړاندې لاړه شی او هغه ډله کومه چه د دښمن په مقابله کښې د مانځه نیت تړلی ولاړه ده دلته به امام پسې شاته راشی او رومبې به ځانله بغیر د امام نه رکوع او سجدې کولو نه پس اودریږی.

اوس امام به دوئ ته دویم رکعت اوکړی (د امام او د دویمې ډلې دواړه رکعته پوره شول) د دینه پس به اوله ډله د دښمن د طرف نه دلته امام پسې شاته راشی او خپل دویم رکعت به ځانله اوکړی دومره چه امام او دویمه ډله به د دوئ انتظار کوی کله چه د دې ډلې دا رکعت

پوره شي نو امام او دا دواړه ډلې به تول يو ځائې سلام اوګرځوی.
د مونځ په دې کيفيت کښې د اولې ډلې په رکعتينو کښې موالاة(تسلسل) نشته دې پخلاف د دويمې ډلې نه چه د هغې په رکعتينو کښې موالاة شته ځکه چه د دويمې ډلې دويم رکعت ړومبې شو او د اولې ډلې روستو خو د مانځه نه فارغيدل او سلام د ټولو يوځائ اوشو.

[١٢٤٠]()حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا أَبُو عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمُقْرِءُ، حَدَّثَنَا حَيْوَةُ، وَابْنُ لَهِيعَةَ، قَالَا: أَخْبَرَنَا أَبُو الْأَسْوَدِ، أَنَّهُ سَمِعَ عُرْوَةَ بْنَ الزُّبَيْرِ يُحَدِّثُ، عَنْ مَرْوَانَ بْنِ الْحَكَمِ، أَنَّهُ سَأَلَ أَبَا هُرَيْرَةَ: هَلْ صَلَّيْتَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الْخَوْفِ؟ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: نَعَمْ، قَالَ مَرْوَانُ: مَتَى؟ فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: عَامَ غَزْوَةِ نَجْدٍ، "قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى صَلَاةِ الْعَصْرِ فَقَامَتْ مَعَهُ طَائِفَةٌ وَطَائِفَةٌ أُخْرَى مُقَابِلَ الْعَدُوِّ وَظُهُورُهُمْ إِلَى الْقِبْلَةِ، فَكَبَّرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَبَّرُوا جَمِيعًا الَّذِينَ مَعَهُ وَالَّذِينَ مُقَابِلِي الْعَدُوِّ، ثُمَّ رَكَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَةً وَاحِدَةً وَرَكَعَتِ الطَّائِفَةُ الَّتِي مَعَهُ، ثُمَّ سَجَدَ فَسَجَدَتِ الطَّائِفَةُ الَّتِي تَلِيهِ وَالْآخَرُونَ قِيَامٌ مُقَابِلِي الْعَدُوِّ، ثُمَّ قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَامَتِ الطَّائِفَةُ الَّتِي مَعَهُ فَذَهَبُوا إِلَى الْعَدُوِّ فَقَابَلُوهُمْ وَأَقْبَلَتِ الطَّائِفَةُ الَّتِي كَانَتْ مُقَابِلِي الْعَدُوِّ، فَرَكَعُوا وَسَجَدُوا وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَائِمٌ كَمَا هُوَ، ثُمَّ قَامُوا فَرَكَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَةً أُخْرَى وَرَكَعُوا مَعَهُ، وَسَجَدَ وَسَجَدُوا مَعَهُ، ثُمَّ أَقْبَلَتِ الطَّائِفَةُ الَّتِي كَانَتْ مُقَابِلِي الْعَدُوِّ فَرَكَعُوا وَسَجَدُوا وَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاعِدٌ وَمَنْ كَانَ مَعَهُ، ثُمَّ كَانَ السَّلَامُ، فَسَلَّمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَلَّمُوا جَمِيعًا، فَكَانَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَانِ، وَلِكُلِّ رَجُلٍ مِنَ الطَّائِفَتَيْنِ رَكْعَةٌ رَكْعَةٌ".

مروان بن الحکم د ابو هريره رضی الله عنه نه تپوس وکړو، ايا تا د رسول الله ﷺ سره د خوف مونځ کړی دی؟ ابو هريره رضی الله عنه ووېل: آو، مروان ووېل: کله؟ ابو هريره رضی الله عنه ووېل: په کال د غزوة نجد، رسول الله ﷺ د مازيګر مونځ ته پاڅيدلو، نو د هغه سره يوه ډله ودريده، او بله ډله دشمن ته مخامخ، او شاګاني يې قبلې ته وې، رسول الله ﷺ تکبير وکړو، نو ټولو تکبير وکړو، هغه کسانو چې د هغه سره وو مخامخ دشمن ته، بيا وکړو رسول الله ﷺ يو رکعات، او وکړو هغه ډلې چې د هغه سره وه، بيايې سجده وکړه نو سجده وکړه هغه ډلې چې هغه ته نزدې وه، او نور ولاړ وو مخامخ دشمن ته، بيا پاڅيدلو رسول الله ﷺ او پاڅيدله هغه ډله چې د هغه سره وه نو لاړل دشمن ته، نو مخامخ شول د هغوی سره، او راغله هغه ډله چې دشمن ته مخامخ وه نو هغوی رکوع او سجده وکړه، او رسول الله ﷺ هم هغسې ولاړ وو، بيا پاڅيدل نو رسول الله ﷺ يو بل رکعات وکړو، او هغوی د هغه سره رکوع وکړه، او هغه سجده وکړه هغوی هم ورسره سجده وکړه، بيا راغله هغه ډله چې دشمن ته مخامخ وه، نو رکوع او سجده يې وکړه او رسول الله ﷺ ناست وو، او هغه څوک چې د هغه سره وو، بيا سلام وو، نو سلام وګرځولو رسول الله ﷺ نو ټولو سلام وګرځولو، نو د رسول الله ﷺ دوه رکعاته شول، او د هر سړي لپاره د دواړو ډلو نه يو، يو، رکعات شو.

قوله: عام غزوة نجد، د دينه مراد غزوه ذات الرقاع ده لکه څنګه چه په راتلونکی روايت

(): سنن النسائي/الخوف ١٨(١٥٤٤)، (تحفة الأشراف: ١٤٦٠٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٣٢٠) (صحيح)

کښې د دې تصريح ده دا غزوه په اووم کال د هجرت کښې پيښه شوې وه.

قوله، فذهبوا الى العدو، اولې ډلې يو رکعت اوکړو او د دښمن طرف ته لاړله، و اقبلت الطائفة التى كانت مقابلى العدو فركعوا و سجدوا، دويمې ډلې واله امام پسې راغلل او خانله ئې خپله رکوع او سجدې اوکړې، و رسول الله صلى الله عليه وسلم قائم، حضور ﷺ دومره ولاړ وو ترڅو چه ددې دويمې ډلې رومبې رکعت پوره شو، فركع رسول الله صلى الله عليه وسلم ركعة اخرى و ركعوا، نو حضور ﷺ او دې دويمې ډلې دويم رکعت اوکړ (اوس د حضور ﷺ او د دې دويمې ډلې دواړه رکعتونه پوره شول) ثم اقبلت الطائفة التى،الخ، بيا اوله ډله کومې چه د امام سره يو رکعت کړې وو او تلې وه هغه راغلله او هغې خپل دويم رکعت اوکړو، اوګورئ! د دينه معلومه شوه چه د دې دويمې ډلې دويم رکعت د اولې ډلې نه رومبې شو (كما هو مذكور فى ترجمة الباب)

فسلم رسول الله صلى الله عليه وسلم و سلموا جميعًا، بيا امام او دواړو ډلو يوځائې سلام اوګرځولو، ماشاء الله حديث شريف د ترجمة الباب سره بالکل مطابق دې.

[۱۲۴۱](١)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو الرَّازِيُّ، حَدَّثَنَا سَلَمَةُ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جَعْفَرِ بْنِ الزُّبَيْرِ، وَمُحَمَّدِ بْنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى نَجْدٍ حَتَّى إِذَا كُنَّا بِذَاتِ الرِّقَاعِ مِنْ نَخْلٍ لَقِيَ جَمْعًا مِنْ غَطَفَانَ "فَذَكَرَ مَعْنَاهُ وَلَفْظُهُ" عَلَى غَيْرِ لَفْظِ حَيْوَةَ، وَقَالَ فِيهِ: "حِينَ رَكَعَ بِمَنْ مَعَهُ وَسَجَدَ، قَالَ: فَلَمَّا قَامُوا مَشَوُا الْقَهْقَرَى إِلَى مَصَافِّ أَصْحَابِهِمْ، وَلَمْ يَذْكُرِ اسْتِدْبَارَ الْقِبْلَةِ".

د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دى، هغه وئيلي دي: مونږ د رسول الله ﷺ سره نجد ته ووتلو، ترديې چې مونږ ذات الرقاع ته ورسيدو د هغه کجورو نه، مخامخ شو د يو ټولګي سره د غطفان نه، ذکريې کړه معنى د هغې، او لفظ د هغې بدل دى د لفظ د حيوة نه، هغه ويلي دي په هغې کې: کله چې هغه رکوع وکړه سره د هغه کسانو چې د هغه سره وو او سجده يې وکړه، هغه وويل: هرکله چې پاڅيدل نو لاړل په شا ځای د صف د ملګرو خپلو ته، او ذکر د استدبار د قبلې يې نه دى کړې.

حدثنا محمد بن عمرو الرازيّ، دا دمخکښنې حديث دويم طريق دې، په اولنى حديث کښې چه کوم ابوالاسود راغلې وو د هغۀ نوم محمد بن الاسود دې کوم چه دلته په سند کښې ذکر دې هلته د هغۀ شاګرد حيوة بن شريح وو او دلته محمد بن اسحاق، دحيوة او محمد بن اسحاق په روايتونو کښې چه کوم فرق دې مصنف هغې ته بيانول غواړى، قال فلما قاموا مشوا القهقرى، يعنى اولنۍ ډله چه کله د امام سره يو رکعت اوکړو او تلل نو هغه قهقرى(يعنى په شاه باندې) لاړل دې دپاره چه استقبال قبله باقى پاتې شى استدبار او نۀ شى په رومبى روايت کښې، فذهبوا الى العدو، ذکر وو او دلته د قهقرى قيد دې.

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٤١٦٤) (صحيح)

[۱۲۴۲]()وَأَمَّا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ سَعْدٍ فَحَدَّثَنَا،قَالَ: حَدَّثَنِي عَمِّي،حَدَّثَنَا أَبِي،عَنْ ابْنِ إِسْحَاقَ،حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرِ بْنِ الزُّبَيْرِ، أَنَّ عُرْوَةَ بْنَ الزُّبَيْرِ حَدَّثَهُ، أَنَّ عَائِشَةَ حَدَّثَتْهُ بِهَذِهِ الْقِصَّةِ، قَالَتْ: "كَبَّرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَبَّرَتِ الطَّائِفَةُ الَّذِينَ صَفُّوا مَعَهُ، ثُمَّ رَكَعَ فَرَكَعُوا، ثُمَّ سَجَدَ فَسَجَدُوا، ثُمَّ رَفَعَ فَرَفَعُوا، ثُمَّ مَكَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسًا، ثُمَّ سَجَدُوا لِأَنْفُسِهِمُ الثَّانِيَةَ، ثُمَّ قَامُوا فَنَكَصُوا عَلَى أَعْقَابِهِمْ يَمْشُونَ الْقَهْقَرَى حَتَّى قَامُوا مِنْ وَرَائِهِمْ، وَجَاءَتِ الطَّائِفَةُ الْأُخْرَى فَقَامُوا فَكَبَّرُوا، ثُمَّ رَكَعُوا لِأَنْفُسِهِمْ، ثُمَّ سَجَدَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَجَدُوا مَعَهُ، ثُمَّ قَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَجَدُوا لِأَنْفُسِهِمُ الثَّانِيَةَ، ثُمَّ قَامَتِ الطَّائِفَتَانِ جَمِيعًا فَصَلَّوْا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَرَكَعَ فَرَكَعُوا، ثُمَّ سَجَدَ فَسَجَدُوا جَمِيعًا، ثُمَّ عَادَ فَسَجَدَ الثَّانِيَةَ وَسَجَدُوا مَعَهُ سَرِيعًا كَأَسْرَعِ الْإِسْرَاعِ جَاهِدًا لَا يَأْلُونَ سِرَاعًا، ثُمَّ سَلَّمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَلَّمُوا، فَقَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ شَارَكَهُ النَّاسُ فِي الصَّلَاةِ كُلِّهَا".

عروة بن الزبير ته عائشي رضي الله عنها دا قصه بيان کړي ده، هغې ويلي دي: تکبير وويلو رسول الله ﷺ او تکبير وويلو هغې طائفې چې صف يې برابر کړی وو د هغه سره، بيايې رکوع وکړه نو هغوی هم رکوع وکړه، بيايې سجده وکړه هغوی هم سجده وکړه، بيا اوچت شو نو هغوی هم اوچت شول، بيا وخت تېر کړو رسول الله ﷺ په ناسته، بيا سجده هغوی ځانله دويمه، بيا پاځيدل نو په پوندو باندې شاته لاړل، تردې چې ودريدل وروسته د هغوی نه، او راغله او هغه بله ډله، ودريدل او تکبير يې وويله بيايې رکوع وکړه ځانله بيا سجده وکړه رسول الله ﷺ، نو هغوی سجده وکړه د هغه سره، بيا ودريدلو رسول الله ﷺ او سجده يې وکړه ځانله دويمه، بيا دواړه ډلې ودريدلې، مونځ وکړو هغوی د رسول الله ﷺ سره، نو هغه رکوع وکړه هغوی هم رکوع وکړه، بيايې سجده وکړه هغوی هم سجده وکړه ټولو، بيا راواپس شو دويمه سجده يې وکړه، او هغوی سجده وکړه د هغه سره په جلتۍ سره ډيره جلتي او کوشش کونکی وو، تقصيريې نه کولو جلتۍ سره، بيا سلام وګرځولو رسول الله ﷺ او سلام وګرځولو هغوی، رسول الله ﷺ ودريدلو، او خلق ورسره ټول مانځه کې شريک شوي وو.

قال ابوداؤد و اما عبيدالله بن سعدٍ فحدثنا، دا د حديث الباب دريم طريق دې د مصنف مقصود د رواة اختلاف لره بيانول دی چه په غزوه ذات الرقاع کښې حضور ﷺ چه کوم صلوة الخوف ادا کړې وو د هغې د کيفيت بيان کښې د رواة اختلاف دې، په دې دريم طريق کښې چه دصلوة الخوف کوم کيفيت ذکر دې هغه د ترجمة الباب خلاف دې خو چونکه د مصنف مقصود صرف د رواة اختلاف لره بيانول دی نو ځکه د عدم مطابقت بين الحديث والترجمة اشکال به صحيح نۀ وی.

د صلوة الخوف يو (زياتی ضمنی) صورت:

په هر حال په دې کښې چه کوم صورت ذکر دې هغه دا دې چه په شروع کښې امام د اولې ډلې ته يو رکعت اوکړو په کوم کښې چه قيام او رکوع او رومبۍ سجده اوکړه او يو سجده

(): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٦٣٨٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٢٧٥) (حسن)

کولو نه پس امام اودریدلو او ډلې څانله دویمه سجده اوکړه یو رکعت کولو نه پس دا ډله د دښمن طرف ته قهقری یعنی په شاه شاه لاړله او دویمه ډله امام پسې راغلله او تکبیر تحریمه ئې اووئیله او قیام او رکوع ئې اوکړه او رومبئ سجده ئې د امام سره اوکړه او د امام دا دویمه سجده وه امام صاحب خو اودریدلو او دې ډلې خپله دویمه سجده اوکړله د سجدې نه پس دا هم اودریدله(اوس د امام او د دواړو ډلو یو یو رکعت وشو) اوس دویم رکعت امام او دواړه ډلو یوځائې زر زر اوکړو او په جلتئ سره کولو کښې ئې هیڅ کسر پرینځ خودلو(ځکه چه پوره لښکر په مانځه کښې مشغول شوې دې د دښمن د طرف نه د حملې ویره وه) مونځ پوره کیدو نه پس ټولو د امام سره سلام اوګرځولو.

په دې روایت کښې د دې خبرې تصریح نشته دې چه د دویم رکعت په وخت کښې دویمه ډله امام پسې شاته راغلې وه یا نهٔ وه راغلې بلکه هم دهغلته نه ئې په مانځه کښې شرکت اوکړو، والله تعالی اعلم، څلورم باب پوره شو.

باب مَنْ قَالَ يُصَلِّي بِكُلِّ طَائِفَةٍ رَكْعَةً ثُمَّ يُسَلِّمُ فَيَقُومُ كُلُّ صَفٍّ فَيُصَلُّونَ لِأَنْفُسِهِمْ رَكْعَةً

(پنځم صورت) باب د هغه خلقو دلیل چه هغوی وائی چه امام به هر ټولګی ته یو رکعت کوی بیا به سلام واړوی بیا دې دهر صف خلق اودریږی او خپل یو یو رکعت دې پوره کړی

دا پنځم باب دې د دې حاصل دا دې چه اوله ډله د امام سره یو رکعت اوکړی او لاړه شی او دویمه ډله راشی او امام دې ته هم یو رکعت اوکړی(د امام خو چونکه دواړه رکعتونه پوره شول ځکه) هغه به سلام اوګرځوی او اوله او دویمه ډله دواړه به یوځائې خپل دویم رکعت اوکړی او سلام به اوګرځوی.

د دې ترجمة الباب او حدیث الباب دواړو نه په ظاهر کښې(نه صراحة) هم دا معلومیږی چه دویم رکعت به هره ډله علی التوالی یعنی په یو وخت کښې کوی او د دینه پس چه کوم شپږم باب راځی په هغې کښې چه کوم صورت ذکر دې هغه هم دا دې.

په پنځم او شپږم باب کښی فرق:

فرق صرف دومره دې چه په راتلونکې ترجمه کښې او د دې حدیث په ترجمه کښې د دې خبرې تصریح ده چه د امام د سلام ګرځولو نه پس به دویم رکعت هره دواړې ډلې به علی التعاقب (یو بل پسې) کوی او که اول باب لره هم په علی التعاقب باندې محمول کړې شی نو بیا په بین الترجمتین کښې دا فرق کیدې شی چه د اولې ترجمه نه به مراد دا دې چه دویمه ډله به خپل دویم رکعت هم هلته امام پسې پوره کړی او اوله ډله به په خپل ځائې کښې دښمن ته نزدې اوکړی پخلاف د دویمې ترجمې نه چه په هغې کښې د دې خبرې تصریح ده چه دویمه ډله او اوله ډله دواړو خپل دویم رکعت امام پسې شاته به اوکړو.

[۱۲۴۳]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "صَلَّى بِإِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ رَكْعَةً وَالطَّائِفَةُ الْأُخْرَى مُوَاجِهَةُ الْعَدُوِّ، ثُمَّ انْصَرَفُوا فَقَامُوا فِي مَقَامِ أُولَئِكَ، وَجَاءَ أُولَئِكَ فَصَلَّى بِهِمْ رَكْعَةً أُخْرَى، ثُمَّ سَلَّمَ عَلَيْهِمْ، ثُمَّ قَامَ هَؤُلَاءِ فَقَضَوْا رَكْعَتَهُمْ، وَقَامَ هَؤُلَاءِ فَقَضَوْا رَكْعَتَهُمْ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَلِكَ رَوَاهُ نَافِعٌ، وَخَالِدُ بْنُ مَعْدَانَ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَكَذَلِكَ قَوْلُ مَسْرُوقٍ، وَيُوسُفَ بْنِ مِهْرَانَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَكَذَلِكَ رَوَى يُونُسُ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ أَبِي مُوسَى، أَنَّهُ فَعَلَهُ.

د ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی، بېشکه رسول الله ﷺ مونځ وکړو يو د دوو ډلو ته يو رکعت، او بله ډله دشمن ته مخامخ وه، بيا لاړل، ودريدل په ځای د هغو کې، او هغوی راغلل مونځ يې وکړو هغوی ته بل رکعت، بيايي سلام وګرځول هغوی ته، بيا دا کسان پاڅيدل د خپل رکعات قضايي راوړه، او پاڅيدل هغه کسان قضايي راوړه د خپل رکعات. ويلي دي ابوداود: همدارنګه نافع او خالد بن معدان د ابن عمر نه روايت کړی دی، او هغه د نبي ﷺ نه، او همداسي قول د مسروق او د يوسف بن مهران دی د ابن عباس نه، او همدارنګه روايت کړی دی يونس د حسن نه او هغه د ابو موسی نه بېشکه هغه دا کړی دی.

حديث الباب(حديث ابن عمر) د چا مستدل دې:

په دې پنځم باب کښې مصنف د حضرت ابن عمر رضي الله عنه حديث(کوم چه متفق عليه دې بخاری او مسلم د دې تخريج کړې دې) ذکر فرمائيلې دې په دې کيفيت کښې د اولې ډلې په رکعتينو کښې موالاة نشته دې(بلکه هغې خپل يو رکعت اوکړو او لاړل) لکه څنګه چه احناف وائی خو د دويمې ډلې په رکعتينو کښې موالاة شته دې او دا څيز د حنفيانو خلاف او د جمهورو موافق دې پس دا حديث من وجه د حنفيه او من وجه د جمهورو موافق دې خو حافظ په فتح الباری کښې ليکلې دی چه په حديث د بن عمر رضي الله عنه کښې چه کوم کيفيت ذکر دې هغې لره حنفيانو اختيار کړې دې بلکه علامه زيلعی هم دا ليکلې دی، او حضرت شيخ هم په اوجز کښې هم دا نقل کړې دی، د ډير وخت خبره ده چه بنده ته ډير تردد کيدلو چه دې لره د حنفيه موافق څنګه ګرځولې شی خو آخر دې چه بنده په فتح القدير کښې اوکتل د هغې نه ډير تشفی اوشوله هغوی دا ليکلې دی چه، هذا الحديث يدل على بعض المدعیٰ، او بيا وړاندې دا ئې هم ليکلې چه د حنفيانو ټوله مدعی د فلانکی حديث نه ثابتيږی ما د الله شکر ادا کړو چه تردد ختم شو بلکه دا اووايه چه د تردد تائيد اوشو او په عرف الشذی کښې شاه صاحب يوه بل لار اختيار کړې ده هغه فرمائی چه د حنفيه په نيز دصلوة الخوف دوه کيفيتونه دی يو هغه کوم لره چه احنافو په خپلو کتابونو کښې ليکلې دې او دويم هغې دې کوم لره چه شراحو ليکلې دې، بيا د دينه پس بنده اصل فتح الباری طرف ته رجوع اوکړله په هغې کښې حافظ صاحب فرمائی چه علامه رافعی ليکلې دی چه د ابن عمر رضي الله عنه په دې حديث کښې صلوة الخوف دغه شان ذکر دې او بيعنه هم هغه شکل ئې ليکلې دې

[1]): صحيح البخاري/الخوف ۱ (۹۴۲)، المغازي ۳۱ (۴۱۳۳)، صحيح مسلم/المسافرين ۵۷ (۸۳۹)، سنن الترمذي/الصلاة ۲۸۱ (الجمعة ۴۶) (۵۶۴)، سنن النسائي/الخوف ۱۸ (۱۵۳۹)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۵۱ (۱۲۵۸)، (تحفة الأشراف: ۶۹۳۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۱۴۷) (صحيح)

کوم چه د حنفیانو په نیز راجح دې په دې باندې حافظ اشکال کړې دې چه حدیث د ابن عمر رضی اللہ عنہ کښې په هیڅ طریق کښې هم ما ته د صلوة الخوف داسې کیفیت ملاؤ نۀ شو بیا سمدستې حافظ په دې سطر یعنې کربنه کښې لیکې چه، و بهذه الکیفیة اخذ الحنفیة، د بنده په خیال کښې دا راځي چه د حافظ په کلام کښې هذه اشاره مذکوره کیفیت ته نۀ ده کومه چه په حدیث د ابن عمر رضی اللہ عنہ کښې ده بلکه هغه کیفیت ته ده کومې لره چه حافظ د رافعي نه نقل کړې دې او هغه واقعي د حنفیه واله صورت دې کوم لره چه د احناف فقهاء لیکې په دې صورت کښې دحافظ (۱) خبره په خپل ځائې باندې به صحیح شي او د دې وینا ضرورت به نۀ وی چه د حنفیانو په نیز د صلوة الخوف دوه صورتونه دي یو هغه کوم چه په کتاب کښې ذکر دې او یو هغه کوم چه د حدیث په شروحو کښې ذکر دې. والله سبحانه و تعالی اعلم

بَابُ مَنْ قَالَ يُصَلِّي بِكُلِّ طَائِفَةٍ رَكْعَةً ثُمَّ يُسَلِّمُ

باب دی په بیان د هغه چا کې چې هغه وئیلی دي: هرې ډلې ته به یو رکعات کوي، بیا به سلام گرځوي

يُصَلِّي بِكُلِّ طَائِفَةٍ رَكْعَةً، ثُمَّ يُسَلِّمُ فَيَقُومُ الَّذِينَ خَلْفَهُ فَيُصَلُّونَ رَكْعَةً، ثُمَّ يَجِيءُ الْآخَرُونَ إِلَى مَقَامِ هَؤُلَاءِ فَيُصَلُّونَ رَكْعَةً

(**شپږم صورت**) هرې ډلې ته به یو رکعات کوي، بیا به سلام گرځوي ددې نه پس کوم خلق چه ددوی نه شاته دی هغوی دې اودریږی او یو رکعت دې اوکړی. بیا دې روستنی ددوی ځائې ته راشي او یو رکعت مونځ دې اوکړی.

دا شپږم باب دې په دې باندې کلام په مخکښنې باب کښې تیر شوې دی، په دې باب کښې مصنف رحمہ اللہ د عبدالله بن مسعود رضی اللہ عنہ حدیث ذکر کړې دې او په تیر شوی باب کښې ئې د حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ حدیث ذکر کړې وو دواړه حدیثونه په دې خبره باندې متفق دی چه د اولې ډلې په رکعتینو کښې موالاة نشته دې او د دویمې ډلې په رکعتینو کښې موالاة شته دې.

[۱۲۴۴] (۱) حَدَّثَنَا عِمْرَانُ بْنُ مَيْسَرَةَ، حَدَّثَنَا ابْنُ فُضَيْلٍ، حَدَّثَنَا خُصَيْفٌ، عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: "صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الْخَوْفِ، فَقَامُوا صَفَّيْنِ صَفٌّ خَلْفَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَصَفٌّ مُسْتَقْبِلَ الْعَدُوِّ، فَصَلَّى بِهِمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَةً، ثُمَّ جَاءَ الْآخَرُونَ فَقَامُوا مَقَامَهُمْ وَاسْتَقْبَلَ هَؤُلَاءِ الْعَدُوَّ، فَصَلَّى بِهِمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَةً، ثُمَّ سَلَّمَ فَقَامَ هَؤُلَاءِ فَصَلَّوْا لِأَنْفُسِهِمْ رَكْعَةً، ثُمَّ سَلَّمُوا، ثُمَّ ذَهَبُوا فَقَامُوا مَقَامَ أُولَئِكَ مُسْتَقْبِلِي الْعَدُوِّ وَرَجَعَ أُولَئِكَ إِلَى مَقَامِهِمْ فَصَلَّوْا لِأَنْفُسِهِمْ رَكْعَةً، ثُمَّ سَلَّمُوا".

د عبدالله بن مسعود رضی اللہ عنہ نه روایت دی. هغه ویلي دي مونځ وکړو مونږ ته رسول الله ﷺ د خوف، هغوی ودریدل وروسته د رسول الله ﷺ نه. او بل صف دشمن ته مخامخ وو. نو

(۱) د حافظ د کلام توجیه خو په څۀ طریقې سره اوشی خو امام نووی کوم چه د حافظ نه متقدم دې هغه هم په شرح د مسلم کښې هم دا لیکې چه دې صورت لره حنفیانو اختیار کړې دې معلومه نۀ ده چه د خبره د کوم ځائې نه شوې ده چه حنفیانو دې لره اختیار کړې دې، والله تعالی اعلم ۱۲-

(۲): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۹۶۰۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱/۳۷۵، ۳۷۶، ۴۰۹) (ضعیف)

مونځ وکړو دوی ته رسول الله ﷺ یو رکعات، بیا راغلل هغه نور ودریدل په ځای د هغوی، او مخامخ لاړل دوی دشمن ته، مونځ وکړو دوی ته پیغمبر ﷺ یو رکعات، بیایي سلام وګرځولو، نو دوی پاڅیدل مونځ یي وکړو ځانله یو رکعات، بیا سلام واړولو هغوی، بیا لاړل نو ودریدل په ځای د هغو مخامخ دشمن ته، او راواپس شول هغوی ځای د دوی ته مونځ یي وکړو ځانله یو رکعات، بیایي سلام واړولو.

[۱۲۴۵](1)حَدَّثَنَا تَمِيمُ بْنُ الْمُنْتَصِرِ، أَخْبَرَنَا إِسْحَاقُ يَعْنِي ابْنَ يُوسُفَ، عَنْ شَرِيكٍ، عَنْ خُصَيْفٍ بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ، قَالَ: "فَكَبَّرَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَبَّرَ الصَّفَّانِ جَمِيعًا". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ الثَّوْرِيُّ بِهَذَا الْمَعْنَى، عَنْ خُصَيْفٍ، وَصَلَّى عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ سَمُرَةَ "هَكَذَا، إِلَّا أَنَّ الطَّائِفَةَ الَّتِي صَلَّى بِهِمْ رَكْعَةً، ثُمَّ سَلَّمَ مَضَوْا إِلَى مَقَامِ أَصْحَابِهِمْ، وَجَاءَ هَؤُلَاءِ فَصَلَّوْا لِأَنْفُسِهِمْ رَكْعَةً، ثُمَّ رَجَعُوا إِلَى مَقَامِ أُولَئِكَ فَصَلَّوْا لِأَنْفُسِهِمْ رَكْعَةً". قَالَ أَبُو دَاوُد: حَدَّثَنَا بِذَلِكَ مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ بْنُ حَبِيبٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي أَبِي، أَنَّهُمْ غَزَوْا مَعَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ سَمُرَةَ كَابُلَ فَصَلَّى بِنَا صَلَاةَ الْخَوْفِ.

د خُصیف نه روایت دی د هغي په اسناد او معنی سره، هغه ویلي دي: تکبیر وویلو د الله نبي ﷺ، او دواړو صفونو هم تکبیر وویلو. ویلي دي ابوداود: نقل کړی دی ثوري په دې معنی سره د خُصیف نه، او مونځ وکړو عبد الرحمن بن سمرة داسې مګر هغه ډله چې مونځ یي وکړو هغوی ته یو رکعات. بیا سلم وګرځولو هغه لاړل هغوی ځای د ملګرو خپلو ته، او راغلل دوی مونځ وکړو ځانله یو رکعات، واپس شول ځای د هغو کسانو ته، نو ځانله یي یو رکعات وکړو. ویلي دي ابوداود: مونږ ته په دې سره مسلم بن ابراهیم بیان کړی دی، مونږ ته عبد الصمد بن حبیب حدیث بیان کړی دی، هغه وایي: ماته خبر راکړی دی زما پلار، چې هغوی غزوه کړې وه د عبد الرحمن بن سمرة سره د کابل، مونځ یي وکړو مونږ ته د خوف.

قوله، و صلی عبدالرحمٰن بن سمرة هکذا الا ان الطائفة التی صلی بهم رکعة،الخ،

د حنفیانو داختیار کړی صورت کښې دلیل:

د عبدالرحمٰن بن سمره دا حدیث او په دې کښې چه کوم کیفیت ذکر دې هغه بیعنه هم هغه کیفیت دې کوم چه د حنفیانو مختار دې لکه څنګه چه د باب په شروع کښې دتمهیدی مضامینو د لاندې تیر شوې دی.

قوله: قال ابوداؤد حدثنا بذلك،الخ، مصنف اولاً د عبدالرحمٰن واقعه تعلیقا یعنی بغیر د سند نه ذکر فرمائیلې وه او د دینه پس د هغې سند دې متن سره یوځائې کوی څکه چه،بذلك، لفظ ئې زیات کړې دې، بلاسند متن ذکر کولو ته په اصطلاح کښې تعلیق وائی او سند ذکر کولو ته وصل وائی نو دا د هغه تعلیق وصل شو.

د صلوة الخوف دکیفیت په حقله د حنفیه یو دلیل خو د عبدالرحمٰن بن سمره حدیث موقوف شو او دویم دلیل د دوئ د ابن عباس رضي الله عنهما اثر دې یعنی د ابن عباس رضي الله عنهما هغه موقوف حدیث کوم لره چه امام محمد په کتاب الآثار کښې د امام اعظم په سند سره روایت فرمائیلې دې (ذکره ابن الهمام فی فتح القدیر)

(1): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۹۶۰۷) (ضعیف)

بَابُ مَنْ قَالَ يُصَلِّي بِكُلِّ طَائِفَةٍ رَكْعَةً وَلَا يَقْضُونَ

باب دی په بیان د هغه چا کښې چې ویلي یې دي: هرې ډلې ته به یو رکعات کوي او قضاء به نه راوړي

[۱۲۴۶](١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ سُفْيَانَ، حَدَّثَنِي الْأَشْعَثُ بْنُ سُلَيْمٍ، عَنِ الْأَسْوَدِ بْنِ هِلَالٍ، عَنْ ثَعْلَبَةَ بْنِ زَهْدَمٍ، قَالَ: كُنَّا مَعَ سَعِيدِ بْنِ الْعَاصِ بِطَبَرِسْتَانَ، فَقَامَ، فَقَالَ: أَيُّكُمْ صَلَّى مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الْخَوْفِ؟ فَقَالَ حُذَيْفَةُ: أَنَا، فَصَلَّى بِهَؤُلَاءِ رَكْعَةً وَبِهَؤُلَاءِ رَكْعَةً وَلَمْ يَقْضُوا. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَا رَوَاهُ عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، وَمُجَاهِدٌ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ شَقِيقٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَيَزِيدُ الْفَقِيرُ، وَأَبُو مُوسَى. قَالَ أَبُو دَاوُد: رَجُلٌ مِنَ التَّابِعِينَ لَيْسَ بِالْأَشْعَرِيِّ جَمِيعًا، عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَدْ قَالَ بَعْضُهُمْ فِي حَدِيثِ يَزِيدَ الْفَقِيرِ: "إِنَّهُمْ قَضَوْا رَكْعَةً أُخْرَى"، وَكَذَلِكَ رَوَاهُ سِمَاكٌ الْحَنَفِيُّ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَكَذَلِكَ رَوَاهُ زَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "فَكَانَتْ لِلْقَوْمِ رَكْعَةً رَكْعَةً وَلِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ".

(**اووم صورت**) د ثعلبه بن زهدم نه روایت دی هغه ویلي دي مونږ وو د سعید بن العاص سره په طبرستان کښې، نو هغه ودریدلو، ویې ویل: په تاسو کښې کوم د رسول الله ﷺ سره د خوف مونځ کړی دی؟ نو حذیفه وویل: ما، مونځ یې وکړې دې کسانو ته یو رکعات، او هغو کسانو ته یو رکعات، او هغوی قضایي رانه وړه. ویلي دي ابوداود: همدا رنګه روایت کړی دی عبید الله بن عبد الله او مجاهد د ابن عباس نه او هغه د نبي ﷺ نه. او عبد الله بن شقیق د ابو هریره نه او هغه د نبي ﷺ نه، او یزید الفقیر او ابو موسی. ویلي دي ابوداود: یو سړي د تابعینو نه چې اشعري نه دی، ټولو د جابر نه او هغه د نبي ﷺ نه، او بعضو ویلي دي: د شعبه نه روایت دی په حدیث د یزید الفقیر کښې: هغوی د بل رکعات قضایي راوړه، او همدارنګه روایت کړی دی سماک الحنفي د ابن عمر نه او هغه د نبي ﷺ نه، او همدارنګه روایت کړی دی زید بن ثابت د نبي ﷺ نه هغه ویلي دي: نو شو د قوم لپاره یو یو رکعات، او د نبي ﷺ لپاره دوه رکعاته

[۱۲۴۷](٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَسَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ بُكَيْرِ بْنِ الْأَخْنَسِ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "فَرَضَ اللَّهُ تَعَالَى الصَّلَاةَ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّكُمْ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْحَضَرِ أَرْبَعًا، وَفِي السَّفَرِ رَكْعَتَيْنِ، وَفِي الْخَوْفِ رَكْعَةً".

د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دی هغه ویلي دي: فرض کړی دی الله تعالی مونځ په ژبه د نبي ستاسو په حضر کښې څلور رکعاته، او په سفر کښې دوه رکعاته، او په خوف کښې یو رکعات.

تشریح: دا اووم باب دې په کوم کښې دا دی چه امام به په دوارو ډلو کښې هرې ډلې ته یو یو رکعت اوکړی او بس په دې باندې به اکتفاء اوکړې شی هغه ډله دې خانله دویم رکعت نه کوی، په ائمه اربعه کښې د دې هیڅوک هم قائل نه دی، ابن عباس، حذیفه، اسحق بن

(١): سنن النسائي /صلاة الخوف (١٥٣٠)، (تحفة الأشراف: ٣٣٠٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٣٨٥، ٣٩٩) (ضعيف)

(٢): صحيح مسلم /المسافرين ١ (٦٨٧)، سنن النسائي /الصلاة ٣ (٤٥٧)، وتقصير الصلاة ١ (٢٥٤، ٣٥٥)، والخوف ١ (١٥٣٣)، سنن ابن ماجه /إقامة الصلاة ٧٣ (١٠٦٨)، (تحفة الأشراف: ٦٣٨٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٣٧، ٢٤٣) (صحيح)

راهویه، سفیان ثوري وغیره بعضي علماء د دې قائل دی، دا مسئله د ټولو نه وړاندې د تمهیدی مضامینو په ضمن کښې تیره شوې ده د امام احمد هم یو روایت د دې د جواز بعضي شراحو لیکلي دي امام ترمذی د امام احمد نه نقل کړې دی چه د صلوة الخوف په حقله چه څومره روایتونه راغلي دی ټول صحیح دی هیڅ یو غیر صحیح روایت زما په علم کښې نشته.

بهرحال د یو رکعت واله روایات صحیح او ثابت دی خو د جمهورو د طرف نه د دې تاؤیل دا کولی شی چه مراد دا دې چه امام سره یو رکعت هره ډلې اوکړو او د، لا یقضون، واله چه کوم روایت دې د هغې مطلب دا اخلی چه روستو یعنی ویره لرې کیدلو نه پس د صلواة الخوف قضاء نشته دې یوځل ئې چه کوم اوکړو هغه صحیح شو، صاحب منهل لیکی چه دا جوابونه غیرظاهر دی او د هغهٔ خلقو مذهب قوی معلومیږی کوم چه دا وائی چه په ویرې کښې یو رکعت هم جائز دې.

بَابُ مَنْ قَالَ يُصَلِّي بِكُلِّ طَائِفَةٍ رَكْعَتَيْنِ

(اتم صورت) باب دی په بیان د هغه چا کې چې وايي: مونځ به کوي هرې ډلې ته دوه رکعاته

دا اتم باب دې په کوم کښې چه دا دی چه امام به هرې ډلې ته پوره مونځ کوی، دا د شوافعو او بعضي علماؤ په نیز جائز دې کوم چه د صلوة المفترض خلف المتنفل لره جائز وائی د جمهورو او ائمه ثلاثه په نیز ناجائز دې، حنفیه وغیره د دې جواب دا ورکوی چه کیدې شی دا د هغهٔ وخت خبره وی، حين كانت الفريضة تصلى مرتين، یعنی دا د هغهٔ زمانې خبره به وی کله چه فرض مونځ به مکرر کول جائز وو روستو دا منسوخ شو، یو جواب دا هم ورکړې شوې دې چه د جمهورو په نیز صلوة الخوف د سفر سره خاص نهٔ دې بلکه په حضر کښې هم جائز دې لکه څنګه چه په ابتدائی بحثونو کښې تیر شوې دی، کیدې شی دا واقعه د حضر وی نو څکه حضور ﷺ هرې ډلې ته دوه دوه رکعته اوکړل او دوه دوه رکعته هغوی په خپله اوکړل خو دلته دا یو اشکال به وی چه بیا حضور ﷺ په رکعتینو باندې سلام ولې اوګرځولو؟ و یمکن ان یجاب عنه انه خاص به، او دا هم وئیلې شی چه دا واقعه خو هم د سفر ده خو حضور ﷺ اتمام اختیار فرمائیلې وو او صحابه کرامو قصر اختیار کړې وو، والله تعالی اعلم.

[۱۲۴۸] (١) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا الْأَشْعَثُ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ أَبِي بَكْرَةَ، قَالَ: "صَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي خَوْفِ الظُّهْرَ، فَصَفَّ بَعْضُهُمْ خَلْفَهُ، وَبَعْضُهُمْ بِإِزَاءِ الْعَدُوِّ، فَصَلَّى بِهِمْ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ سَلَّمَ فَانْطَلَقَ الَّذِينَ صَلَّوْا مَعَهُ فَوَقَفُوا مَوْقِفَ أَصْحَابِهِمْ، ثُمَّ جَاءَ أُولَئِكَ فَصَلَّوْا خَلْفَهُ فَصَلَّى بِهِمْ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ سَلَّمَ، فَكَانَتْ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعًا وَلِأَصْحَابِهِ رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ". وَبِذَلِكَ كَانَ يُفْتِي الْحَسَنُ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَلِكَ فِي الْمَغْرِبِ يَكُونُ لِلْإِمَامِ سِتُّ رَكَعَاتٍ وَلِلْقَوْمِ ثَلَاثٌ ثَلَاثٌ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَلِكَ رَوَاهُ يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَكَذَلِكَ قَالَ سُلَيْمَانُ الْيَشْكُرِيُّ: عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

(١): سنن النسائي/الخوف١٨ (١٥٥٢)، (تحفة الأشراف: ١١٦٦٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٩/٥، ٤٩) (صحيح)

د ابو بکرة نه روایت دی هغه ویلي دي: مونځ وکړو نبي ﷺ په خوف د ماسپخین کې، نو صف جوړ کړو بعضو وروسته د هغه نه، او بعضو مخامخ دشمن ته، نو مونځ یې وکړو هغوی ته دوه رکعاته، بیایې سلام وګرځولو، نو لاړل هغه کسان چې د هغه سره یې مونځ وکړو، نو ودریدل په ځای د ملګرو د هغوی، بیا راغلل هغه کسان نو مونځ وکړو هغوی وروسته د هغه نه، مونځ یې وکړو هغوی ته دوه رکعاته، بیایې سلام وګرځولو، د رسول الله ﷺ څلور رکعاته شول، او د ملګرو د هغه دوه دوه رکعاته شول او په همدې به حسن فتوی ورکوله ویلي دي ابوداود: او همدارنګه به وي په ماښام کې، د امام به شپږ رکعاته شي او د قوم به درې درې. ویلي دي ابوداود: همدارنګه روایت کړی دی یحیی بن ابي کثیر د ابو سلمة نه او هغه د جابر نه، او هغه د نبي ﷺ نه، او همدارنګه سلیمان الیشکري ویلي دي: د جابر رضی الله عنه نه او هغه د نبي ﷺ نه

تشریح: قوله: قال ابوداؤد و کذلك في المغرب یکون للامام ست رکعات، مصنف په طریقې د قیاس سره فرمائی چه په دې اخری باب کښې د صلوة الخوف چه کومه طریقه ذکر ده چه امام به هرې ډلې ته پوره مونځ کوی داسې به د ماښام په مانځه کښې کولې شی نو د امام به شپږ رکعتونه شی او د قوم به درې

صاحب منهل لیکلې دی چه صرف قیاس نۀ دې بلکه په دارقطنی او حاکم کښې په یو مرفوع روایت کښې هم دغه شان ذکر دی چه د هغې راوی ابوبکره دې او حافظ چه کوم دا لیکلې دی چه د صلوة الخوف په روایتونو کښې د ماښام د مانځه څۀ کیفیت په کوم حدیث کښې نۀ دې راغلې نو د حافظ دا خبره مسلم یعنی صحیح نۀ ده او دا هم کیدې شی چه د حافظ صاحب مراد دا وی چه د ماښام د رکعتونو د تجزي په باره کښې کوم روایت ثابت نۀ دې (منهل) خو اکثر علماء چونکه د صلوة المفترض خلف المتنفل قائل نۀ دی نو ځکه د دوئ په نیز دلته به د ماښام د دریو رکعتونو تجزیه وی او هغه دا چه د حنفیه او مالکیه په نیز امام به اولې ډلې ته دوه رکعتونه اوکړی او دویمې ډلې ته به یو رکعت او د امام شافعی او احمد په نیز غوره هم دا ده خو جائز دا هم ده چه د دې عکس اوکړې شی اولې ډلې ته یو رکعت او دویمې ډلې ته دوه رکعته اوکړې

تر دې ځائې پورې د صلوة الخوف ابواب پوره شو، د دېنه پس مې زړۀ غواړی چه احد الصحیحن یعنی صحیح مسلم کښې د صلوة الخوف په حقله چه کوم روایتونه ذکر دی د هغې نشاندهی دلته اوکړې شی دې دپاره چه موجب بصیرت شی حضرت امام بخاری د صلوة الخوف روایتونه یوځائې نۀ دی ذکر کړې بعضې روایتونه ئې په کتاب الصلوة او بعضې ئې په کتاب المغازی کښې ذکر فرمائیلې دی

په اصل کښې د امام نووی کلام د بنده د نظر نه تیر شو هغه زما ډیر خوښ شو په دې باندې مې دا خیال پیدا شو چه د دې تخلیص اوکړې شی هغۀ فرمائی چه امام مسلم د صلوة الخوف سره متعلق څلور روایتونه ذکر فرمائیلې دی

(۱) حدیث د ابن عمر رضی الله عنه د دېنه پس هغوی په دې حدیث کښې د صلوة الخوف چه کوم

صورت ذکر کړې دې هغهٔ ئې بيان کړو (چه دهغې د نقل کولو مونږ ته ضرورت نشته) زمونږ په نيز په سنن ابوداؤد کښې دا حديث په پنځم باب کښې ذکر دې امام نووی فرمائی چه دې کيفيت لره امام اوزاعی او اشهب مالکی اختيار کړې دې.

(۲) هغهٔ فرمائی چه دويم حديث د سهل بن ابی حثمه دې د کوم کيفيت چه دا دې،الخ، زهٔ وايم چه زمونږ په نيز دا حديث په دويم او دريم باب کښې ذکر دې، امام نووی فرمائی چه دې کيفيت لره امام شافعی او ابوثور وغيره اختيار کړې دې، (۳) حديث د جابر رضي الله عنه د کوم کيفيت چه دا دې،الخ، زمونږ په نيز دا کيفيت د باب په اول کښې د ابوعياش زرقی په حديث سره مروی دې، امام نووی فرمائی چه دې کيفيت لره امام شافعی، ابن ابی ليلی، ابويوسف اختيار کړې دې کله چه دښمن د قبلې په جهت کښې وی، (۴) حديث د جابر رضي الله عنه په کوم کښې چه ذکر شوې کيفيت دا دې چه حضور صلى الله عليه وسلم هرې ډلې ته دوه دوه رکعته کړې دی، زمونږ په نيز دا صورت د په اتم باب کښې د ابوبکره په حديث سره مروی دې، خپله امام نووی هم دا ليکلی دی چه دا کيفيت په سنن ابوداؤد کښې د ابوبکره په حديث سره مروی دې هغه فرمائی چه په امامانو کښې امام شافعی د دې قائل دې او د حسن بصری نه هم دا منقول دی، د دينه پس هغوی څهٔ نور روايتونه ذکر کړې دی په کومو کښې چه حديث د ابن مسعود لره ئې هم ذکر کړې دې کوم چه په شپږم باب کښې تير شوې دې هغه فرمائی چه، وبهذا اخذ ابوحنيفة.

باب صَلاَةِ الطَّالِبِ

باب دې په بيان د مونځ د طلبونکي کې

داسې اوګڼړئ چه دا د صلوة الخوف تکمله ده مصنف په ترجمة الباب کښې صرف يو جزء ذکر فرمائيلې دې، د طالب مقابل مطلوب دې نو ځکه امام بخاری رحمه الله ترجمه قائمه اوفرمائيله، باب صلوة الطالب والمطلوب راکبًا و ايماءً د حديث الباب د مضمون نه وړاندې يوه اختلافی فقهي مسئله واورئ، طالب هغه مجاهد سړې دې کوم چه د دښمن په تعاقب کښې وی او هغهٔ پسې په منډه وی او مطلوب د دې برعکس هغه مسلمان سړې دې کوم چه خپل ځان بچ کولو دپاره په منډه وی او يو کافر د دهٔ په تعاقب کښې وی.

د ائمه مذاهب:

د مطلوب په باره کښې خو اتفاق دې (د دهٔ د مجبوره کيدو د وجه نه) چه هغه راکبا او ايماء يعنی په سورلئ او په اشارې سره مونځ کولې شی باقی ماشيا يعنی په روانه روانه کولې شی او که نهٔ. دشافعيه او حنابله په نيز ماشيا هم کولې شی پخلاف د حنفيانو چه د دوئ په نيز مسئله مصرح ده ماشيا جائز نهٔ دې د رکوب په صورت کښې خو چونکه سير يعنی تلل فعل د دابه يعنی د سورلئ کار دې نو ځکه ګنجائش شته او په مشی يعنی دتللو په صورت کښې سير خپله فعل د مصلی دې هغه جائز نهٔ دې، حضرت شيخ د بخاری په تراجمو کښې ليکلې دی چه د امام بخاری ميلان هم د حنفيانو مسلك طرف ته معلوميږی.

د طالب په باره کښې اختلاف دې د حنفيانو په نيز خو د دهٔ مونځ راکبًا مطلقا جائز نهٔ دې د

شافعیه او مالکیه په نیز د طالب مونځ په یو قید سره جائز دې او هغه قید د مالکیه په نیز د ویره د دښمن د فوت کیدلو ده او د شافعیه په نیز ویره د انقطاع عن الرفقاء ده که طالب د سورلئ نه خکښته راکوز شی مونځ کوی نو د خپلو ملګرو نه د جدا کیدو ویره ده او احتمال شته ددې چه دښمن دځ ته راواپس شی او دا طالب په خپله مطلوب جوړ شی.

[۱۲۴۹]()حَدَّثَنَا أَبُو مَعْمَرٍ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جَعْفَرٍ، عَنِ ابْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أُنَيْسٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: بَعَثَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى خَالِدِ بْنِ سُفْيَانَ الْهُذَلِيِّ وَكَانَ نَحْوَ عُرَنَةَ، وَعَرَفَاتٍ، فَقَالَ: "اذْهَبْ فَاقْتُلْهُ" قَالَ: فَرَأَيْتُهُ وَحَضَرَتْ صَلَاةُ الْعَصْرِ، فَقُلْتُ: إِنِّي لَأَخَافُ أَنْ يَكُونَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ مَا إِنْ أُؤَخِّرِ الصَّلَاةَ، فَانْطَلَقْتُ أَمْشِي وَأَنَا أُصَلِّي أُومِئُ إِيمَاءً نَحْوَهُ، فَلَمَّا دَنَوْتُ مِنْهُ، قَالَ لِي: مَنْ أَنْتَ؟ قُلْتُ: رَجُلٌ مِنَ الْعَرَبِ بَلَغَنِي أَنَّكَ تَجْمَعُ لِهَذَا الرَّجُلِ فَجِئْتُكَ فِي ذَاكَ، قَالَ: إِنِّي لَفِي ذَاكَ، فَمَشَيْتُ مَعَهُ سَاعَةً حَتَّى إِذَا أَمْكَنَنِي عَلَوْتُهُ بِسَيْفِي حَتَّى بَرَدَ.

ابن عبد الله بن انیس د خپل پلار نه روایت کوي، هغه ویلي دي: رسول الله ﷺ زه ولېږم خالد بن سفیان الهذلي ته، او هغه وو په طرف عُرنة او عرفات، هغه وفرمایل: لاړه شه! هغه قتل کړه. هغه وایي چې ما هغه ولیدلو او مونځ د مازیګر حاضر شوی وو، ما وویل: زه ویریدم که مونځ وروسته کړم نو زما او د هغه په مینځ کې به عسر حائل شي، زه شروع شوم چې روان وم او ما مونځ کولو په اشارې کولو سره، هرکله چې زه نزدې شوم هغه ته، ماته یې وویل: ته څوک یې؟ ما وویل: زه یو سړی یم د عربو نه، ماته دا خبره رارسېدلې ده چې ته خلق جمع کوې په مقابله د دې سړي کې، نو زه تاته د دغې باره کې راغلی یم، هغه وویل: زه په همدغې کې مصروف یم، زه د هغه سره یو ساعت روان وم، تردې چې قادر شوم په هغه ما پرې توره اوچته کړه تردې چې مړ شو.

حدثنا ابومعمر عبدالله بن عمرو الخ، قوله، عن عبدالله بن انیس عن ابیه قال بعثنی رسول الله صلی الله علیه وسلم الی خالد بن سفیان الهُذلی، الخ،

شرح حدیث:

د عبدالله بن انیس نه د دوئ ځوئې د چا نوم چه عبدالله دې (هسې خو د دهٔ څو ځامن دی په کومو کښې چه د یو نوم عبدالله دې) روایت کوی چه حضور ﷺ ما ته دا حکم فرمائیلې دې چه تهٔ یو کافر اووژنه راشه د چا نوم چه خالد بن سفیان دې کوم به چه تاته میدان عرفات سره نزدې ملاو شی (دا ډیر اوږد سفر وو د مدینې نه ترعرفات پورې) هغه وائی چه زهٔ د دې کار دپاره د مدینې نه روان شوم تر دې چه عرفات ته نزدې اورسیدلم، او کوم ځائې چه حضور ﷺ فرمائیلې وو هغه ما په هغهٔ ځائې کښې اوموندلو دغه وخت د مازیګر د مونځ وخت شوې وو نو ما سوچه اوکړو که زهٔ دې کافر طرف ته د مانځه نه وراندې متوجه شوم نو کیدې شی دهٔ سره دمشغولیدو د وجه نه په مانځه کښې روستوالې راشی، د روایت الفاظ دی چه، فقلت انی لاخاف ان یکون بینی و بینه ما ان أوخر الصلوة، لفظی ترجمه دا ده چه ما په زړهٔ کښې اووئیل چه زهٔ ویره کوم د دې خبرې چه اوموندلې شی زما او د دې کافر په مینځ

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٥١٤٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٩٦٧٣) (حسن)

کښې داسې ځيز چه(د ځۀ د وجه نه) مونځ روستو کړم، لفظ د أنْ دلته زائد دې.
خکه ما د مانځه نيت اوتړلو او هغه کافر طرف ته روان شوم او په اشارې سره مې مونځ کولو(هغۀ ته تر رسيدلو پورې زما مونځ هم پوره شوې وو) کله چه زۀ دغه کافر ته نزدې اورسيدلم نو هغۀ زما نه سوال اوکړو تۀ څوك ئې؟ ما اووئيل زۀ يو عرب يم (لکه څنګه چه تۀ هم عرب ئې لهذا ستا رور او همدرد يم) ما دۀ ته د راتلو مقصد بيان کړو چه زۀ دې دپاره راغلې يم ما ته دا معلومه شوې ده چه تۀ دې سړی (د رسول الله ﷺ) دپاره د خلقو (جنګولو دپاره) جمع کوئې زه په هغې کښې ستا د مدد دپاره راغلې يم هغۀ اووئيل، انی لفی ذالك، بيشکه زۀ هم په دې کار کښې اخته يم ما لږ وخته پورې دۀ سره دغه شان خبرې اترې کولې تر دې چه کله(زما د طرف نه مطمئن شو او پوهه شو چه دا هم خپل سړې دې) هغۀ ما ته د حملې کولو موقع راکړه زۀ په هغۀ باندې په خپله توره باندې غالب شولم او هغه يخ شو.

ما استفيد من الحديث:

کافر ته داسې خبره جوړول او دهوکه کښې اچولو سره وژل په اجماع سره جائز دی په حديث کښې د کعب بن الاشرف يهودی د وژلو قصه مشهوره ده چنانچه محمد بن مسلمه رضی الله عنه د حضور ﷺ د صريح اجازت نه پس دۀ لره هم داسې په دهوکه کښې اچولې او وژلې وو، قصه د ابوداؤد په کتاب الجهاد کښې به راشی او په بخاری کښې خو زيات تفصيل دې ډيره خونده وره واقعه ده.

د عبدالله بن انيس واله حديث لره امام بيهقی په دلائل النبوة کښې هم ذکر کړې دې په هغې کښې دې چه دغه صحابی د هغه کافر سر خپل ځان سره دمکې نه مدينې راوړلو او حضور ﷺ ته ئې وړاندې کيخودلو په دې کښې دا هم دی چه حضور ﷺ دې صحابی لره د لرې نه راتلونکې اوليدلو او اوئې فرمائيل چه، افلح الوجه(دا سړې په مقصد کښې کامياب شو) په دې باندې دې صحابی سمدستی اووئيل چه، افلح وجهك يا رسول الله، چه اصل کاميابی خو ستاسو دپاره ده ای د الله رسول ﷺ د دينه پس حضور ﷺ دۀ لره خپل ځان سره خپل کور ته بوتلو او دوئ له ئې يوه عصا(همسا) ورکړه چه دا واخله او ځان سره ئې کيږده او په دې عصا سره به ما سره په جنت کښې ملاويږې چنانچه هغوی د مرګ نه وړاندې دا وصيت اوفرمائيلو چه ما سره دې په قبر کښې دا عصا دفن کړې شی چنانچه د دوئ په وصيت باندې عمل اوکړې شو دا واقعه په څلورم کال د هجرت کښې پيښه شوې وه او په دې سفر کښې د دې صحابی اتلس ورځې لګيدلې وې (منهل) د دې واقعې د وجه نه د عبدالله بن انيس لقب صاحب المخصره شو، رضی الله تعالی عنه و عن سائر الصحابة و رضی عنا بوسليتهم.

حديث الباب د جمهور خلاف دې:

د دې حديث نه معلومه شوه چه د طالب دپاره هم صلوة راکبًا بلکه ماشيا جائز دې کوم چه د شافعيه او مالکيه په نيز اګر که يو قيد سره جائز دې خو بظاهر هغه قيد دلته مفقود دې او د حنفيه او حنابله په نيز خو جائز نۀ دې البته د مطلوب دپاره جائز دې عند الجمهور راکبا و ماشيا دواړه شان او د حنفيه په نيز صرف راکبًا، غرض دا چه حديث د حنفيانو او د نورو

ائمه هم خلاف دي، د دې جواب دا کيدې شي چه دا مسئله د مسائل خلافيه نه ده د فرض مونځ سره د دې تعلق دې د دې دپاره چه د کوم مضبوط دليل ضرورت دې هغه دلته نشته دې ځکه چه دا د صحابي فعل دې او معلومه نۀ ده چه حضور ﷺ ته د دې خبر شوې وو او که نۀ، او که اومنلې شي چه ظاهره دا ده چه خبر شوې وو نو دا هم کيدې شي چه دا د دې صحابي خصوصيت وي، هغوی په دې شان سره دا مونځ د حضور ﷺ د فرمان پوره کولو دپاره کړې وی د کوم دپاره چه دوئ په خصوصي توګه باندې مکلف جوړ کړې شوې وو، او د حضور ﷺ د اجازت يا د سکوت نه پس په جواز کښې څۀ تامل کيدې شي غرض دا چه د خصوصيت د محل احتمال دلته ښکاره دې، هذا ما عندی والله تعالی اعلم، او کيدې شي دا د هغۀ زماني واقعه وی کله چه په مانځه کښې عمل کثير جائز وو، فليسل.

كتاب التطوع

نوافلو او سنتونو احكام و مسائل

بَابُ التَّطَوُّعِ وَرَكَعَاتِ السُّنَّةِ

باب دی په بيان د تفريع د بابونو د نفلونو کې او په رکعاتونو د سنتو کې

دا لوې ستيشن راغلو، په کتاب الصلوة کښې ړومبې مصنف د عام مونځونو احکام بيان کړل، د دينه پس د مخصوص مونځونو بيان شروع شو، جمعه، عيدين، استسقاء، کسوف بيا ابواب السفر او د دې په آخره کښې صلواة الخوف.

اوس د دې ځائې نه د نوافل او سنن بيانوی د دې په ضمن کښې وتر او تراويح لره هم بيان فرمائيلې دی د جمهورو په نيز صلوة الوتر چونکه سنت دی نو ځکه هغې لره هم د دې په ضمن کښې واخستلو.

د دينه پس زده کول پکار دی چه تطوع، سنت، نفل، مندوب، مستحب، دا ټول الفاظ قريب المعنى دی يعنی هغه عبادت د کوم چه په شريعت کښې ترغيب راغلې دې او ترک ئې هم جائز دې، هسې خو د سنت اطلاق عموما په سنت مؤکده باندې کيږی او د نفل، مندوب، مستحب وغيره په سنت غير مؤکده باندې او د تطوع لفظ عام دې هغه دواړو لره شامل دې لهذا ترجمة الباب کښې عطف الخاص على العام کيږی.

دغه شان دا هم زده کول پکار دی چه د سنن او نوافلو په مشروعيت کښې علماؤ دا حکمت ليکلې دې بلکه د ابوداؤد په يو حديث کښې د دې تصريح ده چه فرض مونځونو کښې که څۀ نقص واقع شوې وی نو د هغې تلافی به اوشی دغه شان دفرض مونځونو اهميت او د دې استعداد پيدا کولو دپاره په دې شان چه په شروع کښې نفس لره په نفلو کښې مشغول اوساتلې شی چه فرض مونځ کوم چه اصل دې د هغې تر شروع کولو پورې انقطاع عن الغير راشی او بيا فرض مونځ په پوره توجه سره او نشاط سره اوکړې شی، د تهجد د مانځه نه وړاندې په شروع کښې چه کوم دوه لنډ رکعتونه کوم چه په حديث کښې راغی د دې مصلحت هم دا ښودلې شوې دې چه په شروع کښې دوه رکعتونه لنډ اوکړې شی دې دپاره چه سستيا او د خوب اثر لرې شی.

د رواتبو په باره کښې د مالکیه اختلاف:

دا هم زده کول پکار دی چه د جمهور علماء د فرض مونځونو دپاره د رواتبو (سنن مؤکده) قائل دی اګر که په تعداد کښې اختلاف دې خو مالکیه په دې کښې د جمهورو سره نهٔ دی هغوی فرمائی چه د مانځه بس دوه قسمه دی، محدود او غیر محدود، محدود یعنی فرض مونځونه کوم چه متعین دی په کومو کښې چه څهٔ کمې یا زیاتې نهٔ شی کیدې او غیر محدود یعنی نفل مونځونه په کومو کښې چه څهٔ توقیت او تحدید یعنی څهٔ وخت او حد نشته دې سړی لره اختیار دې چه څومره غواړی هغومره دې اوکړی خو صاحب د منهل (د ابوداؤد شارح چه مالکی دې) هغه لیکی چه بیا هم بهتره داده چه کوم تعداد په احادیثو کښې راغلې دې هغه دې اوکړی یعنی، اربع قبل الظهر و اربع بعدها، اربع قبل العصر و ست بعد المغرب، البته صرف د صبا د سنتو په باره کښې د دوئ یو قول دا دې چه هغه سنت دی او دویم قول دا دې چه هغه رغیبیه دی د رغیبه رتبه د دوئ په نیز باندې د سنت نه کمه ده او د نفلو نه زیاته ده، د دینه پس زده کړئ چه د رواتبو د تعداد په حقله اختلاف دې د شافعیه او حنابله په نیز لس رکعاتونه دی او د حنفیه په نیز دولس، فرق د ماسپخین د وړاندېنی سنتو کښې دی، زمونږ په نیز باندې څلور رکعاته دی او د هغوی په نیز باندې دوه رکعاته دی.

[١٢٥٠]([1])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا ابْنُ عُلَيَّةَ، حَدَّثَنَا دَاوُدُ بْنُ أَبِي هِنْدٍ، حَدَّثَنِي النُّعْمَانُ بْنُ سَالِمٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ أَوْسٍ، عَنْ عَنْبَسَةَ بْنِ أَبِي سُفْيَانَ، عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ، قَالَتْ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ صَلَّى فِي يَوْمٍ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً تَطَوُّعًا بُنِيَ لَهُ بِهِنَّ بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ".

د ام حبیبة نه روایت دی هغې ویلي دي: ویلي دي نبي ﷺ: چا چې مونځ وکړو په شپه او ورځ کې دولس رکعاته نفل د هغه دپاره په دې سره یو کور په جنت کې جوړ شي.

قوله، عن ام حبیبة قالت قال النبی صلی الله علیه وسلم من صلی فی یوم، الخ، او د نسائی شریف په روایت کښې دی چه، من ثابر علی سنتی عشر رکعة، دا د باب ړومبې حدیث دې حضرت ام حبیبه د حضور ﷺ ارشاد نقل کوی چه کم سړی روزانه دولس رکعاته نفل کوی نو د هغهٔ دپاره په جنت کښې یو محل جوړولې شی، ثابرۀ د مثابرة نه دې د کوم معنی چه مواظبة او همیشوالې دې، په دې حدیث کښې د رواتبو تعداد دولس ذکر دې د دېنه پس په دویم حدیث کښې د حضرت عائشه رضی الله عنها حدیث دې په هغې کښې هم قبل الظهر څلور رکعاته دی خو دریم حدیث د ابن عمر رضی الله عنهما چه وړاندې راروان دې په هغې کښې قبل الظهر رکعتین دی لکه څنګه چه شافعیه وغیره وائی، کیدې شی کله حضور ﷺ په رکعتینو باندې اکتفاء کړې وی یا دا چه په جوماتـ کښې دوه رکعاته کما قال ابن عمر او په کور کښې څلور رکعاته کما فی حدیث عائشه، حضرت عائشه رضی الله عنها د کور حالت بیانوی او ابن عمر رضی الله عنهما د جوماتـ، نو کیدې شی چه د جوماتـ واله روایت د تحیة المسجد وی،

[1]): صحیح مسلم/المسافرین ١٥ (٧٢٨)، سنن النسائي/قیام اللیل ٥٧ (١٨٠٢)، (تحفة الأشراف: ١٥٨٦٠)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصلاة ١٩٣ (٤١٥)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٠٠ (١١٤١)، مسند احمد (٦/٤٢٦، ٣٢٧)، سنن الدارمي/الصلاة ١٤٤ (١٤٧٨) (صحیح)

[۱۲۵۱]([1]) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا خَالِدٌ ح حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ، الْمَعْنَى عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَقِيقٍ، قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ التَّطَوُّعِ، فَقَالَتْ: "كَانَ يُصَلِّي قَبْلَ الظُّهْرِ أَرْبَعًا فِي بَيْتِي، ثُمَّ يَخْرُجُ فَيُصَلِّي بِالنَّاسِ، ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى بَيْتِي فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ، وَكَانَ يُصَلِّي بِالنَّاسِ الْمَغْرِبَ، ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى بَيْتِي فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ، وَكَانَ يُصَلِّي بِهِمُ الْعِشَاءَ، ثُمَّ يَدْخُلُ بَيْتِي فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ، وَكَانَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ تِسْعَ رَكَعَاتٍ فِيهِنَّ الْوِتْرُ، وَكَانَ يُصَلِّي لَيْلًا طَوِيلًا قَائِمًا وَلَيْلًا طَوِيلًا جَالِسًا، فَإِذَا قَرَأَ وَهُوَ قَائِمٌ رَكَعَ وَسَجَدَ وَهُوَ قَائِمٌ، وَإِذَا قَرَأَ وَهُوَ قَاعِدٌ رَكَعَ وَسَجَدَ وَهُوَ قَاعِدٌ، وَكَانَ إِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ يَخْرُجُ فَيُصَلِّي بِالنَّاسِ صَلَاةَ الْفَجْرِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

د عبد الله بن شقيق نه روايت دى هغه ويلي دي: ما تپوس وکړو د عائشي ﷺا نه د مانځه د رسول الله ﷺ د نفلي، هغې وويل: هغه به مونځ کولو مخکي د ماسپخين نه څلور رکعاته زما په کور کي، بيا به وتلو مونځ به يي کولو خلقو ته، بيا به راتلو زما کور ته دوه رکعاته به يي کول، او وو چي خلقو ته به يي مونځ کولو د ماښام، بيا راتلو زما کور ته دوه رکعاته به يي کول، او وو چي ماسخوتن مونځ يي کولو هغوی ته، بيا راتلو زما کور ته نو دوه رکعاته به يي کول، او وو چي مونځ يي کولو دشپې نهه رکعاته په هغې کې به وتر هم وو، او وو چي مونځ به يي کولو اوږده شپه په ولاړه، او اوږده شپه په ناسته، کله چي به يي قراءت کولو او ولاړ به نو رکوع او سجده به يي هم په ولاړه کوله، او چي کله به يي قراءت کولو او هغه به ناست وو، نو رکوع او سجده به يي وکړه او هغه به ناست وو، او وو چي کله به صباح وختلو دوه رکعاته مونځ به يي کولو، بيا وتلو خلقو ته به يي د سحر مونځ کولو.

شرح حديث:

قوله: و كان يصلى ليلاً طويلاً قائما و ليلا طويلا جالسا. يعني حضور ﷺ به د شپې په يوه حصه کښې تر ډير وخته پورې مونځ په ولاړه باندې کولو او په يوه حصه کښې به تر ډيره وخته پورې په ناسته باندې کولو يعنى هم په يوه شپه کښې به څۀ نفلونه په ولاړه باندې او څۀ په ناسته باندې کول، او بعضې شراحو دا معنى ليکلې ده چه حضور ﷺ به د شپې ډير اوږده اوږده رکعاتونه کول په بعضې شپو کښې به په ولاړه باندې او په بعضې شپو کښې په په ناسته باندې کول، او دريمه معنى دا ليکلې ده چه حضور ﷺ به د په کثرت سره مونځ کولو او په کثرت سره به ئې قيام او قعود کولو، د بنده په نيز باندې رومبې مطلب زيات راجح دې بلکه متعين دې ځکه چه متبادر معنى هم هغه ده او هم دې لره صاحب منهل ليکلې ده.

فاذا قرأ و هو قائم ركع و سجد و هو قائم..الخ، وړاندې دا معلومه شوې ده چه حضور ﷺ به د تهجد مونځ قائما او قاعدا دواړه شانه کولو په دې باندې وړاندې فرمائى چه که حضور ﷺ به مونځ په ولاړه شروع کړو نو رکوع او سجدې به هم قائما کولې يعنى داسې به نۀ وه چه د مونځ شروع خو به ئې قائما کوله او بيا به به رکوع ته تللو نه مخکښې کيناستل او

[1]): صحيح مسلم/المسافرين ۱۶ (۷۳۰)، سنن الترمذي/الصلاة ۱۶۳ (۳۷۵)، ۴۱۰ (۴۳۶)، سنن النسائي/قيام الليل ۱۸ (۱۶۴۷، ۱۶۴۸)، (تحفة الأشراف: ۱۶۲۰۷)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۴۰ (۱۲۲۸)، مسند احمد (۳۰/۶، ۲۱۶) (صحيح)

رکوع به ئې په ناسته کوله، بیا وړاندې فرمائی که مونځ به ئې په ناسته شروع کړلو نو رکوع او سجدې به ئې هم دغه شان کولې داسې نۀ وه چه مونځ خو به ئې شروع کړې وو په ناسته باندې او بیا رکوع ته تللو نه وړاندې به اودریدل او په ولاړه باندې به رکوع ته تلل. دا خو شو د دې جملې مطلب.

د تعارض بین الحدیثین جواب:

خو علماء لیکلې دی چه داسې کول ثابت دی چه مونځ ئې شروع کړې وی قاعدا او بیا رکوع او سجدې ئې قائما کړې وی، لکه څنګه چه د ابواب التشهد نه وړاندې په باب فی الصلوة القاعد کښې د حضرت عائشه ﷺ یو حدیث تیر شوې دې د کوم مضمون چه دا دې چه حضور ﷺ به همیشه د تهجد مونځ په ولاړه باندې کولو تر دې چه په دوئ باندې بوډاولې راغلو نو بیا ئې په ناسته باندې کولو او اکثر به ئې قراءت په ناسته باندې کولو بیا چه کله به دیرش څلوېښت آتیونه پاتې شول نو اودریدل او هغه به ئې پوره کول او بیا به رکوع ته تلل. د دې مشهور جواب دا دې چه دا په اختلاف د اوقاتو او زمانو باندې محمول دې د یوې زمانې حال هغه دې کوم لره چه دلته بیانوی او کومې زمانې حال هغه دې کوم چه په تیر شوی باب کښې تیر شول، نۀ به ئې همیشه داسې کول او نۀ همیشه هغسې، د دې یو جواب بل هم کیدې شي کوم چه د حضرت ګنګوهی په تقریر کښې دې هغه دا چه دلته کومه نفی کوی چه رکوع ته تللو نه وړاندې به حضور ﷺ نۀ اودریدل یعنی د قراءت پوره کولو نه پس بلکه که د رکوع نه وړاندې اودریدل منظور وې نو دې دپاره به ئې څۀ آیتونه ایسارول او د اودریدلو نه پس به ئې هغه لوستل نو بیا به رکوع ته تلل نو نفی د اودریدلو نه سمدستی رکوع ته د تللو کړې ده، فلا تعارض بین الروایتین.

(**مسئله**) که مونځ په ناسته باندې شروع کړې شي او بیا دې لره په ولاړه باندې پوره کړې شي نو په دې کښې د جمهورو په نیز هیڅ کراهیت نشته ځکه چه په دې کښې انتقال من الادنی الی الاعلی دې خو د بعضو په نیز باندې مکروه دې او د دې عکس یعنی قائما شروع کړی او بیا قاعدا ئې پوره کړی نو که داسې د عذر د وجه نه وی نو بیا خو هیڅ باک نشته دې او که بغیر د عذر نه وی نو عند الجمهور په دې کښې هیڅ حرج نشته دې خو د امام ابوحنیفه په نیز جائز مع الکراهیت دې او د صاحبینو او اشهب من المالکیه په نیز جائز نۀ دې (منهل)

[۱۲۵۲] (¹) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " كَانَ يُصَلِّي قَبْلَ الظُّهْرِ رَكْعَتَيْنِ وَبَعْدَهَا رَكْعَتَيْنِ، وَبَعْدَ الْمَغْرِبِ رَكْعَتَيْنِ فِي بَيْتِهِ، وَبَعْدَ صَلَاةِ الْعِشَاءِ رَكْعَتَيْنِ، وَكَانَ لَا يُصَلِّي بَعْدَ الْجُمُعَةِ حَتَّى يَنْصَرِفَ فَيُصَلِّيَ رَكْعَتَيْنِ ".

د عبد الله بن عمر ﷺ نه روایت دی بېشکه رسول الله ﷺ وو چې مونځ یې کولو مخکې د ماسپخین نه دوه رکعاته، او وروسته د هغې نه دوه رکعاته، او وروسته د ماښام نه دوه رکعاته په خپل کور کې، او وروسته د ماسخوتن نه دوه رکعاته، او وو چې مونځ یې نه

¹): صحیح البخاري/الجمعة ۳۹ (۹۳۷)، صحیح مسلم/الجمعة ۱۸ (۸۸۲)، سنن النسائي/الجمعة ٤٢ (١٤٢٨)، (تحفة الأشراف: ۸۳٤۳)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/قصر الصلاة ۲۳ (٦٩)، مسند احمد (۳٤/۲) (صحیح)

کولو وروسته د جمعې نه تردې چې راوبه ګرځيدلو نو دوه رکعاته به يې کول.

[۱۲۵۳] (۱) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْتَشِرِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ لَا يَدَعُ أَرْبَعًا قَبْلَ الظُّهْرِ، وَرَكْعَتَيْنِ قَبْلَ صَلَاةِ الْغَدَاةِ".

د عائشې رضي الله عنها نه روايت دی بېشکه نبي ﷺ وو چې نه يې پرېښودل څلور رکعاته مخکې د ماسپښين نه او دوه رکعاته مخکې د سحر نه.

بَابُ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ

باب دی په بيان د دوه رکعاتونو د سحر کې

[۱۲۵۴] (۲) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، حَدَّثَنِي عَطَاءٌ، عَنْ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "لَمْ يَكُنْ عَلَى شَيْءٍ مِنَ النَّوَافِلِ أَشَدَّ مُعَاهَدَةً مِنْهُ عَلَى الرَّكْعَتَيْنِ قَبْلَ الصُّبْحِ".

د عائشې رضي الله عنها نه روايت دی هغې ويلي دي: بېشکه رسول الله ﷺ نه وو په هېڅ شي د نوافلو باندې ډېر اهتمام کونکی د ده نه په دوه رکعاتونو د باندې مخکې د صباح نه.

قوله، عن عائشة.. لم يكن على شيء من النوافل اشد معاهدة منه على الركعتين قبل الصبح، حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی چه حضور ﷺ به د هيڅ يو نفلو دومره اهتمام نۀ کولو څومره چه به ئې د صبا د سنتو کولو، د معاهده معنی د محافظت او ساتنې ده، يعنی اهتمام او رعايت، صاحب منهل فرمائی چه په دې حديث کښې په مالکيه باندې رد دې څکه چه هغوی دې دوو رکعاتونو ته رغيبه وائی، يعنی صرف د رغبت يو څيز کوم چه زيات اهم نۀ وی د کوم مرتبه چه د سنت نه کمه وی او د بعضې علماؤ په نيز لکه حسن بصری هغوی د دې دوو رکعاتونو د وجوب قائل دی.

بَابٌ فِي تَخْفِيفِهِمَا

باب دی په تخفيف د دواړو باندې

[۱۲۵۵] (۳) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي شُعَيْبٍ الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ مُعَاوِيَةَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَمْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُخَفِّفُ الرَّكْعَتَيْنِ قَبْلَ صَلَاةِ الْفَجْرِ حَتَّى إِنِّي لَأَقُولُ: هَلْ قَرَأَ فِيهِمَا بِأُمِّ الْقُرْآنِ؟".

د عائشې رضي الله عنها نه روايت دی، هغې ويلي دي: وو نبي ﷺ چې تخفيف يې کولو په دوه رکعاتونو کې مخکې د مانځه د صباح نه، تردې چې ما به ويل ايا سورة الفاتحه يې پکې ولوستله.

(۱): صحيح البخاري/التهجد ۳۴ (۱۱۸۲)، سنن النسائي/قيام الليل ۴۷ (۱۷۵۹)، (تحفة الأشراف: ۱۷۵۹۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۶/۴۳، ۶۳، ۱۴۸) (صحيح)

(۲): صحيح البخاري/صلاة الليل ۲۷ (۱۱۶۹)، صحيح مسلم/المسافرين ۱۴ (۷۲۴)، (تحفة الأشراف: ۱۶۳۲۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۶/۴۳، ۵۴، ۱۷۰) (صحيح)

(۳): صحيح البخاري/التهجد ۲۸ (۱۱۷۱)، صحيح مسلم/المسافرين ۱۴ (۷۲۴)، سنن النسائي/الافتتاح ۴۰ (۹۴۵)، (تحفة الأشراف: ۱۷۹۱۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۶/۴۰، ۴۹، ۱۰۰، ۱۶۵، ۱۸۳، ۱۸۶، ۲۳۵) (صحيح)

عن عائشة رضی الله عنها قالت.... حتی انی لاقول هل قراء فيهما بام القرآن، د صبا په سنتو کښې د قراءت تخفيف د حضور اقدس ﷺ نه ثابت دې حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه دوئ به دا سنت دومره مختصر او لنډ ادا کول چه ما به په خپل زړه کښې وئيل چه معلومه نۀ ده چه حضور ﷺ په دې کښې سورة فاتحه لوستلې هم ده او که نۀ يعنی د سورت يوځائې کول خو پريږده چه په سوره فاتحې کښې تردد فرمائی.

د دينه وجه نه د علماؤ په دې کښې اختلاف اوشو چه په دې مونځ کښې قراءت شته او که نۀ، ابوبکر بن الاصم، ابن عليه، بعضې ظاهريه په دې کښې مطلقا دقراءت قائل نۀ دې او امام مالک او بعضې شافعيه صرف د سوره فاتحې قائل دی،(عينی) جمهور علماء د فاتحې او ضم سورت دواړو قائل دی چنانچه د حضرت عائشه رضی الله عنها د حديث نه پس مصنف د ګنړو صحابه کرامو په رواياتو سره دا ثابته کړې ده چه په دې مانځه کښې د نورو مونځونو پشان فاتحه سره د ضم د سورة سره ده، د ابوهريره رضی الله عنه په روايت کښې راځی چه حضور ﷺ به په دې دوو رکعاتونو کښې سوره کافرون او قل هو الله احد لوستلو او د ابن عباس او ابوهريره رضی الله عنهما په يو بل حديث کښې راځی چه حضور ﷺ به په ړومبی رکعت کښې قولوا امنا بالله و ما انزل الينا و ما انزل الی ابراهيم، الاية و نحن له مسلمون، پورې او په دويم رکعت کښې به ئې،امنا بالله و اشهد بانا مسلمون، ربنا امنا بما انزلنا واتبعنا الرسول فاکتبنا مع الشاهدين،

د دې احاديثو نه دوه خبرې ثابتې شولې اول دا چه په دې مانځه کښې پوره قراءت يعنی فاتحه سره د ضم سورت سره مشروع ده، دويمه خبره دا چه قراءت مختصر دې لکه څنګه چه په ترجمة الباب کښې ذکر دی د دې روايتونو نه علاوه مصنف په دې باب کښې دوه حديثونه نور هم ذکر کړې دی کوم چه په ظاهره کښې د ترجمة الباب مطابق نۀ دی، يو حديث د حضرت بلال رضی الله عنه دې د کوم په آخره کښې چه د حضور ﷺ دا ارشاد دې چه، لو اصبحت اکثر مما اصبحت لرکعتهما و احسنتهما و اجملتهما، چه ځومره ناوخته نن د صبا مونځ اوشو که د دينه ډير ناوخته شوې وې نو هم به ما دا دوه رکعته سنت کول او په ښۀ شان به مې کول.

[۱۲۵٦][1]حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ، حَدَّثَنَا مَرْوَانُ بْنُ مُعَاوِيَةَ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ كَيْسَانَ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "قَرَأَ فِي رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ وَقُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ".

د ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دی، بېشکه نبي ﷺ ولوستلو په دوه رکعاتونو د صباح کې، قل يا ايها الکافرون او قل هو الله احد.

[۱۲۵۷][2]حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا أَبُو الْمُغِيرَةِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنِي أَبُو زِيَادَةَ عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ زِيَادَةَ الْكِنْدِيُّ، عَنْ بِلَالٍ، أَنَّهُ حَدَّثَهُ، أَنَّهُ أَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيُؤْذِنَهُ بِصَلَاةِ الْغَدَاةِ، فَشَغَلَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا بِلَالًا بِأَمْرٍ سَأَلَتْهُ عَنْهُ حَتَّى فَضَحَهُ الصُّبْحُ فَأَصْبَحَ جِدًّا، قَالَ: فَقَامَ بِلَالٌ فَآذَنَهُ بِالصَّلَاةِ وَتَابَعَ أَذَانَهُ، فَلَمْ يَخْرُجْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمَّا خَرَجَ صَلَّى بِالنَّاسِ، وَأَخْبَرَهُ أَنَّ عَائِشَةَ شَغَلَتْهُ بِأَمْرٍ سَأَلَتْهُ عَنْهُ

[1]: صحيح مسلم/المسافرين ١٤ (٧٢٦)، سنن النسائي/الافتتاح ٣٩ (٩٤٦)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٠٢ (١١٤٨)، (تحفة الأشراف: ١٣٤٣٨) (صحيح)

[2]: تفرد به أبوداود (تحفة الأشراف: ٢٠٤٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٤/٦) (صحيح)

حَتّٰى أَصْبَحَ جِدًّا، وَأَنَّهُ أَبْطَأَ عَلَيْهِ بِالْخُرُوجِ، فَقَالَ: "إِنِّي كُنْتُ رَكَعْتُ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ"، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّكَ أَصْبَحْتَ جِدًّا، قَالَ: "لَوْ أَصْبَحْتُ أَكْثَرَ مِمَّا أَصْبَحْتُ لَرَكَعْتُهُمَا وَأَحْسَنْتُهُمَا وَأَجْمَلْتُهُمَا".

د بلال نه روایت دی، هغه ورته حدیث بیان کړی دی، بېشکه هغه راغی رسول الله ﷺ ته چې خبر ورته ورکړي په سحر په مونځ باندې، نو مشغوله کړو عائشې رضی الله عنها بلال لره په یو کار باندې چې د هغې تپوس یې ترې وکړو، ښکاره کړو هغه لره صباح، نو ښه صباح شو، هغه وایي: ودریدلو بلال، خبریې ورته ورکړو په مانځه، او تابع شو د اذان رسول الله ﷺ ونه وتلو، هرکله چې ووتلو نو مونځ یې وکړو خلقو ته، او خبر یې کړو هغه چې بېشکه عائشې مشغوله د هغې نه، تردې چې صباح شو، او په راوتلو کې وروسته شو، هغه وویل: بېشکه ما دوه رکعاته د سحر وکړل. هغه وویل: ای د الله رسوله! بېشکه تا ډیر صباح کړو، هغه وویل: که چیري ما د دې نه زیات هم صباح کړی وی نو مابه کړي وی، او ښائسته به مې کړي وی.

د حدیث مضمون:

د پوره حدیث مضمون دا دې چه حضرت بلال رضی الله عنه فرمائی چه د یو ځل واقعه ده چه د همیشه معمول مطابق زهٔ حضور ﷺ ته د صبا د مانځه خبر ورکولو دپاره د حضرت عائشه رضی الله عنها حجرې ته وراورسیدلم نو حضرت عائشه رضی الله عنها زما نه یو سوال اوکړو او په دې سوال او جواب کښې ډیر وخت تیر شو صبا ډیر روښانه شو، فقام بلال فاذنه بالصلوة و تابع اذانه، بلال رضی الله عنه فرمائی چه د حضرت عائشه رضی الله عنها د دې سوال او جواب نه فارغیدلو نه پس زهٔ حضور ﷺ ته ورنزدې شوم او دوئ ته مې د مانځه خبر ورکړو او پرله پسې مې اطلاع ورکوله څهٔ وخت پس حضور ﷺ د دننه نه بهر تشریف راوړلو او مونځ ئې ورکړو او د مانځه نه پس ما حضور ﷺ ته پوره صورت حال بیان کړو چه مور بی بی زهٔ په خبرو کښې اخته کړمه د څهٔ د وجه نه چه ما په اطلاع ورکولو کښې ناوخته کړو، و انه ابطاء علیه بالخروج، یعنی تاسو د دې باوجود په بهر راتلو کښې نور هم روستوالې اوکړو د دې څهٔ وجه ده؟ حضور ﷺ اوفرمائیل چه ما سنت کول هغوی عرض اوکړو یا رسول الله ډیر ناوخته شوې وو (یعنی په داسې وخت کښې به مو سنت پریخودلې وې) په دې باندې حضور ﷺ اوفرمائیل کوم چه پورته ذکر شول چه، لواصبحت اکثر مما اصبحت، الخ،

مناسبة الحدیث بالترجمة

د دې حدیث د ترجمة الباب سره په ظاهره کښې هیڅ مناسبت نشته د غه شان د دې نه پس چه د ابوهریره رضی الله عنه کوم مرفوع حدیث دې چه، لا تدعوهما و ان طردتکم الخیل، د دې هم په ظاهره کښې د ترجمې سره مناسبت نشته دې، د بنده په نیز د دې جواب دا کیدې شی چه په ترجمة الباب کښې صراحة خو اګر که تخفیف فی القراءت مذکور دې خو تخفیف فی القراءة نفس قراءت لره مستلزم دې، لهذا دا به اووئیلې شی چه د مصنف غرض دواړو لره شامل دې، د نفس قراءت اثبات او دویم په دې کښې تخفیف، اوس د ټولو روایتونو د ترجمې سره مناسبت اوشو، د دې حدیثونو تعلق د نفس قراءت سره دې، په دې شان چه د دې حدیثونو نه د دې سنتونو ډیر اهمیت معلومیږی او دا چه دې ته احسن او اجمل طریقې سره

ادا کړې شي نو کله چه په عام سنتو کښې قراءت شته دې نو په دې کښې به ولې نهٔ وي دغه شان بغير د قراءت نه حسن او جمال ښکلا پيدا کيدې شي او زمونږ استاذ محترم مولانا اسعد الله صاحب رحمه الله د بلال رضي الله عنه د حديث مناسبت په خپل مخصوص اديبانه ظريفانه انداز کښې داسې ثابت کړې دې چه په دې حديث کښې، احسنتهما و اجملتهما، لره د جمال نه وانغستلې شي بلکه د اجمال نه واغستلې شي، اى آتيهما على وجه الاجمال،د اجمال نه تخفيف مستفاد کيږي.

فائده: حضرت امام طحاوي په شرح معاني الآثار کښې د صبا په سنتو کښې قراءت ثابتولو دپاره يو مستقل باب قائم کړې دې او دهغهٔ خلقو ترديد ئې کړې دې کوم چه په دې کښې د قراءت قائل نهٔ دي بيا په دې باندې زياتى په دې سنتو کښې د تخفيف په ځائې باندې د طول قراءت لره په دې شان سره ثابت کړې دى چه د دې احاديثونه د دې سنتو اشرف التطوع کيدل معلوميږي، دغه شان حضور صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دي چه، افضل الصلوة طول القيام، چه په مونځونو کښې د ټولو نه غوره مونځ هغه دې په کوم کښې چه تطويل دقراءة وي هغوى فرمائى چه کله دا سنت اشرف التطوع دى او د ټولو نه اشرف رکن په مانځه کښې طول قيام او تطويل دقراءة دې نو دا مونځ خود تطويل دقراءة د ټولو نوافلو نه زيات مستحق دې، امام طحاوي ډير تفصيل سره دا مضمون ليکلې دې او خپله مدعى ثابتولو دپاره بعض آثار او د آکابرو معمولات ئې جمع کړې دى.

[١٢٥٨](١)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ يَعْنِي ابْنَ إِسْحَاقَ الْمَدَنِيَّ، عَنْ ابْنِ زَيْدٍ، عَنْ ابْنِ سَيْلَانَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَاتَدَعُوهُمَا وَإِنْ طَرَدَتْكُمُ الْخَيْلُ".

د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه ويلي دي: رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي دي: تاسو دا دواړه مه پريږدئ، اګر که شړي تاسو لره اسونه.

تشريح: **قوله**: عن ابى هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لا تدعوهما و ان طردتكم الخيل، لا تدعوا د ودع يدع ودعاً نه د نهى صيغه ده.

شرح حديث:

يعنى مهٔ پريږدئ تاسو دې دوو رکعاتونو لره اګر که تاسو لره ستاسو لښکر(په جهاد کښې تلونکى) ورټيله کوى چه زر زر ځئ، يعنى څومره چه هم د جلتئ وخت وى بيا دې هم دې لره پرې نهٔ خودلې شى، خيل خو اس ته وائى خو دلته د د دې اطلاق د اس په سور باندې کيږي، دلته ترينه مراد په اس باندې سوارهٔ قافله ده، د حديث دويمه معنى دا هم بيان کړې شوې ده چه د خيل نه مراد خيل عدو يعنى د دښمن اس دې يعنى اګر که د دښمن لښکر تاسو لره ټيله کوى يعنى ستاسو او د هغوى يو بل لره په شاه کول يعنى دهکا کول وى بيا هم دې سنتو لره مهٔ پريږدئ.

(١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٥٤٨٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٤٠٥) (ضعيف)

[۱۲۵۹]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ حَكِيمٍ، أَخْبَرَنِي سَعِيدُ بْنُ يَسَارٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ، "أَنَّ كَثِيرًا مِمَّا كَانَ يَقْرَأُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ بِ آمَنَّا بِاللَّهِ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْنَا سورة البقرة آية ١٣٦ هَذِهِ الْآيَةَ، قَالَ: هَذِهِ فِي الرَّكْعَةِ الْأُولَى، وَفِي الرَّكْعَةِ الْآخِرَةِ بِ آمَنَّا بِاللَّهِ وَاشْهَدْ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ سورة آل عمران آية ٥٢".

د عبد الله بن عباس نه روايت دی، بېشکه رسول الله ﷺ چي به زيات لوستلو په دوه رکعاتونو د فجر کي هغه (آمنا بالله و اما أنزل الينا) دا ايت، هغه وايي: دا اولنی رکعات دی، او په دويم رکعات کي به يي (آمنا بالله و اشهد بأنا منسلمون) لوستلو.

[۱۲۶۰]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّبَّاحِ بْنِ سُفْيَانَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عُمَرَ يَعْنِي ابْنَ مُوسَى، عَنْ أَبِي الْغَيْثِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَقْرَأُ فِي رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ قُلْ آمَنَّا بِاللَّهِ وَمَا أُنْزِلَ عَلَيْنَا سورة آل عمران آية ٨٤ فِي الرَّكْعَةِ الْأُولَى، وَفِي الرَّكْعَةِ الْأُخْرَى بِهَذِهِ الْآيَةِ رَبَّنَا آمَنَّا بِمَا أَنْزَلْتَ وَاتَّبَعْنَا الرَّسُولَ فَاكْتُبْنَا مَعَ الشَّاهِدِينَ سورة آل عمران آية ٥٣ أَوْ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ بِالْحَقِّ بَشِيرًا وَنَذِيرًا وَلَا تُسْأَلُ عَنْ أَصْحَابِ الْجَحِيمِ سورة البقرة آية ١١٩". شَكَّ الدَّرَاوَرْدِيُّ.

د ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دی، بېشکه هغه اوريدلي دي د نبي ﷺ نه چي لوستلو يي په دوه رکعاتونو د فجر کي (قل آمنا بالله و ما أُنزل علينا) په اولني رکعات کي، او په دويم رکعات کي دا ايت (ربنا آمنا بما انزلتَ و اتبعنَا الرسول فاكتبنَا مع الشاهدين) او (انا ارسلناک بالحق بشيرًا و نذيرًا و لا تُسأَلُ عن اصحابِ الجحيم). شک کړی دی دراوردی.

حدثنا محمد بن الصباح بن سفيان نا عبدالعزيز بن محمد،الخ، قوله، يقراء في ركعتي الفجر قل أمنا بالله و ما انزل علينا في الركعة الاولیٰ، په ړومبی رکعت کښې به حضور ﷺ دا آيت قل أمنا بالله الخ، او په دويم رکعت کښې ربنا أمنا بما انزلت،الخ، لوستلو.

په روايت کښې د راوی وهم او د هغې اصلاح:

په دې کښې اشکال دې هغه دا چه قُل آمنا بالله و ما انزل علينا، دا آيت روستو په دريمه سپاره کښې د سورة آل عمران په آخره کښې دې او ربّنا آمنا دا مقدم دې د دريمې سپارې په مينځ کښې دې او دا خلاف ترتيب دې قراءة منکوسه دې لکه څنګه چه څوک په ړومبی رکعت کښې قل هو الله احد اولولی او په دويم رکعت کښې تبّت يدا اولولی، جواب دا دې چه په دې روايت کښې محمد بن الصباح دې کوم چه ضعيف راوی دې دهٔ نه وهم شوې دې او د و ما انزل علينا په ځائې ئې و ما انزل الينا کيدل پکار وو لکه څنګه چه د دېنه په وړاندې حديث کښې تير شوې دی، او دا آيت يعنی و ما انزل الينا په اوله سپاره کښې د سوره بقره په آخره کښې دې دواړه آيتونه د يو بل سره يوشان دی نو دې دپاره غلطی شوې ده په دې دواړو آيتونو کښې يو فرق خو د الينا او علينا دې او دويم دا دې چه د ړومبې سپارې په آخر

(): صحيح مسلم/المسافرين ١٤(٧٢٧)، سنن النسائي/الافتتاح ٣٨ (٩٤٥)، (تحفة الأشراف: ٥٦٦٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٣٠، ٢٣١) (صحيح)

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٢٩٢٦) (حسن)

کښې چه کوم آیت دې د هغې په شروع کښې قولوا دې او د دویم آیت په شروع کښې قل د مفرد صیغه ده، دا حدیث په سنن بیهقی کښې هم دې په طریق د سعید بن منصور عن عبدالعزیز په هغې کښې دا غلطی نشته دی بلکه د تیر شوی حدیث مطابق دې.

د دینه پس زده کول پکار دی چه دلته د ابوداؤد په روایت کښې خو دا دی چه د صبا د سنتو په دویم رکعت کښې آمنا بالله واشهد بانا مسلمون ربنا آمنا بما انزلت، الخ، لوستل او د مسلم شریف په یو روایت کښې دی چه په دویم رکعت کښې به حضور ﷺ قل یاهل الکتاب تعالوا الی کلمة سواء بیننا و بینکم الی اخر الایة، لوستلو لهذا د سنتو په اتباع کښې کله سوره کافرون او اخلاص او کله دا دواړه آیتونه د سوره بقره او سوره آل عمران واله لوستل پکار دی. والله الموفق.

احادیثو لره په ډیر غور او اهتمام سره د عمل په نیت کښې لوستل پکار دی په دې سره په علم کښې برکت او په زړهٔ کښې نورانیت راځی.

بَابُ الِاضْطِجَاعِ بَعْدَهَا

باب دی په باندې د تکیا کې په اړخ وروسته د هغې نه

[١٢٦١]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، وَأَبُو كَامِلٍ وَعُبَيْدُ بْنُ عُمَرَ بْنِ مَيْسَرَةَ، قَالُوا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَاحِدِ، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمُ الرَّكْعَتَيْنِ قَبْلَ الصُّبْحِ فَلْيَضْطَجِعْ عَلَى يَمِينِهِ"، فَقَالَ لَهُ مَرْوَانُ بْنُ الْحَكَمِ: أَمَا يُجْزِئُ أَحَدَنَا مَمْشَاهُ إِلَى الْمَسْجِدِ حَتَّى يَضْطَجِعَ عَلَى يَمِينِهِ؟ قَالَ عُبَيْدُ اللَّهِ فِي حَدِيثِهِ: قَالَ: "لَا"، قَالَ: فَبَلَغَ ذَلِكَ ابْنَ عُمَرَ، فَقَالَ: أَكْثَرَ أَبُو هُرَيْرَةَ عَلَى نَفْسِهِ، قَالَ: فَقِيلَ لِابْنِ عُمَرَ: هَلْ تُنْكِرُ شَيْئًا مِمَّا يَقُولُ؟ قَالَ: لَا، وَلَكِنَّهُ اجْتَرَأَ وَجَبُنَّا، قَالَ: فَبَلَغَ ذَلِكَ أَبَا هُرَيْرَةَ، قَالَ: فَمَا ذَنْبِي إِنْ كُنْتُ حَفِظْتُ وَنَسُوا؟.

د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی هغه ویلي دي، رسول الله ﷺ ویلي دي: کله چې مونځ کوي یو کس ستاسو نه دوه رکعاته مخکې د صباح نه، نو تکیا دې شي په ښي اړخ باندې. هغه ته مروان وویل: ایا نه کافي کېږي د کس دپاره زمونږ نه تلل د هغه مسجد ته تردې چې تکیا کوي په ښي اړخ باندې، عبید الله په خپل حدیث کې ویل دي: هغه وایي: نه، هغه وویل: نو دا ابن عمر ته ورسیده، هغه وویل: ابو هریره په خپل ځان باندې زیاته کړه، هغه وویل: ابن عمر ته وویل شو: ایا ته د څه شي نه انکار کوي د هغې نه چې دوی یې وایي؟ هغه وویل: نه، لیکن هغه جرات وکړو او مونږ بزدلي شو، هغه وایي: نو ورسیده دغه ابو هریره ته، هغه وویل: زما څه ګناه ده چې ماته حفظ دی او دوی نه هېر شوی دی.

عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا صلی احدکم الرکعتین قبل الصبح فلیضطجع علی یمینه، د صبا د سنتو نه پس او د فرض مونځ نه وړاندې لږ غونډی وخت دپاره څملاستل د حضور ﷺ د فعل نه په صحیح بخاری کښې د حضرت عائشه رضی الله عنها په حدیث سره ثابت دی دلته په کتاب کښې د باب پورته ذکر شوې حدیث د کوم راوی چه

(): سنن الترمذي/الصلاة ١٩٥ (٤٢٠)، (تحفة الأشراف: ١٢٤٣٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤١٥/٢) (صحيح)

حضرت ابوهریره رضی الله عنه دې دا حدیث قولی دې په دې کښې دحضور ﷺ امر ذکر دې چه داسې کول پکار دی، دا حدیث د سنن روایت دې،د مسند احمد ،ابوداؤد ، ترمذی چه دا حدیث قولی ضعیف دې د دې په سند کښې یو راوی عبدالواحد بن زیاد دې کوم چه متکلم فیه دې دغه شان په دې حدیث کښې اضطراب هم دې دبعضې طرقو په لحاظ سره دا حدیث قولی نهٔ دې بلکه فعلی دې د امام بیهقی رائې ده چه د دې فعلی کیدل محفوظ دی.

دغه شان د بخاری شریف حدیث د حضرت عائشه رضی الله عنها اګر که سنداً قوی دې خو په دې کښې د محل اضطجاع په لحاظ سره اضطراب دې چنانچه دلته د باب په دویم حدیث د حضرت عائشه رضی الله عنها دی چه په دې کښې اضطجاع قبل سنة الفجر منقول دی او د قاضی عیاض په نیز هم دا راجح ده هغوی د اضطجاع بعد سنة الفجر واله روایت مرجوح ګرځولې دې او د اضطجاع قبل السنة د استحباب هیڅوک قائل نهٔ دی.

دا خو په دې مسئله باندې په روایتی حیثیت سره کلام شواوس په فقهی حیثیت سره هم زده کړئ هغه دا چه اضطجاع بعد سنة الفجر مسئله معرکة الاراء ده په دې کښې ډیر اختلاف دې بعضې په دې کښې ډیر مفرط او بعضې مُفرّط او بعضې معتدل دی، یو جماعت په کوم کښې چه ابن حزم ظاهری هم دې هغوی په دې کښې ډیر دافراط نه کار اغستې دې او دې ضجعه لره واجب بلکه د صبا د مونځ د صحت دپاره ئې شرط ګرځولې دې او بعضو په دې کښې د تفریط نه کار اغستې دې او دې لره ئې مکروه ګرځولې دې ځکه چه د حضرت ابن عمر رضی الله عنه په دې باندې عمل نهٔ وو بله هغوی به د دېنه خلق منع کول او فرمائیل به ئې چه، ایُّ فصل افضل من السلام، یعنی دا ملاسته خو دې دپاره ده چه فرض د سنتو سره خلط یعنی یوځائې نهٔ شی هغوی فرمائی چه کله سنت اوکړې او سلام اوګرځوی او د دېنه پس فرض مونځ شروع کړی نو آیا دا سلام د فصل یعنی جداوالې دپاره پوره نهٔ دې، دغه شان ابن مسعود رضی الله عنه دې فعل ته دابّه سره تشبیه ورکړې ده چه د ځاروو پشان ولې ځملئ د ابراهیم نخعی نه منقول دی چه، انها ضجعة الشیطان.

د ائمه اربعه مذاهب په دې کښې دا دی (۱) د حضرت امام شافعی په نیز دا اضعجاع مستحب ده اګر که په جومات کښې ولې نهٔ وی،(۲) امام مالک فرمائی چه مباح دې که د ثواب او فضیلت نیت نهٔ وی ګینی مکروه دې،(۳) و عن احمد روایتان الاستحباب و عدمه،(۴) حنفیه وائی چه نهٔ مکروه ده او نهٔ مستحب،د حضور ﷺ نه دا ضرور ثابت دی خو په کور کښې نهٔ په جومات کښې او د استراحت یعنی آرام دپاره. نهٔد تشریع او ترغیب دپاره، او ابن العربی فرمائی چه، یستحب لمن قام باللیل للاستراحة،

قوله، فقال له مروان بن الحکم اما یجزئ احدنا ممشاه الی المسجد.. قال لا، مروان بن الحکم ابوهریره رضی الله عنه ته اووئیل چه د صبا سنت په کور کښې کول او جومات ته تلل دا فصل بین الفرض والنفل دپاره پوره نهٔ دې هغوی اوفرمائیل چه پوره نهٔ دې، فبلغ ذلک ابن عمر فقال اکثر ابوهریرة علی نفسه، کله چه دا سوال او جواب حضرت ابن عمر رضی الله عنه ته اورسیدلو نو هغوی واوریدلو او اوئې فرمائیل چه د ابوهریره رضی الله عنه په دومره ډیر کثرت سره روایت کول

دا په خپل ځان باندې زياتې كول دي يعنى په دې كښې د هغوى نقصان دې ځكه چه په ډير روايت كولو كښې د خطاء قوى احتمال وې هيره وغيره د سړى سره لګيدلې ده. فقيل لابن عمر هل تنكر شيئا..الخ، آيا ته د ابوهريره ﷺ روايت كړې شوى يو حديث(په تعين سره) انكار كولې شې چه فلانكې روايت د دوئ غلط دې هغوى جواب وركړو چه مطلب دا نه دې چه هغوى د خپل ځان نه غلط او صحيح حديثونه بيانوى بلكه زما مقصد دا دې چه هغه د حديثونو په بيانولو كښې جَرى يعنى زړور دې او مونږ ويره كونكې يو(اوس الله ښه پوهيږى چه د هغوى نه په كوم ځائې كښې بې احتياطى شوې او كوم ځائې كښې نه ده شوې) فبلغ ذلك اباهريرة، ابوهريره ﷺ ته دا خبرې اترې اورسيدلې نو هغوى اوريدلو سره اوفرمائيل چه خلق حديثونه ياد نه ساتى او زه كوشش كوم چه ياد ئې اوساتم(نو ځكه په كثرت سره روايت هم كوم) په دې كښې زما څه قصور دې؟ حضرت ابوهريره ﷺ په كثرت روايت كښې مشهور دې صحابه كرامو كښې دا خبره مشهوره وه او بعضې صحابه كرامو به په دوئ باندې اعتراض هم كولو لكه څنګه چه په دې روايت كښې هم دى د صحابه كرامو په اعتراض باندې به د دوئ ناخوښى هم كيدله او دوئ به فرمائيل چه تاسو خلقو نه حديثونه يادول نه كيږى نو په ما باندې اعتراض كوئ بيا يو صحابى ئې مخاطب كړو كوم چه په مجلس كښې موجود وو وئې فرمائيل چه تا د ماسخوتن مونځ د حضور ﷺ سره كړې دې؟ هغوى اوفرمائيل آو كړې مې دې ابوهريره ﷺ تپوس اوكړو ښه اوښايه چه حضور ﷺ په دې كښې كوم كوم سورتونه لوستلې وو هغه اونه خودلې شو نو ابوهريره ﷺ اوفرمائيل بس! او وئى فرمائيل الحمد الله ما ته يادى زه خودلې شم، او بيا ئې هغه دواړه سورتونه اوخودل. (۱)

[۱۲۶۲](۲)حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ حَكِيمٍ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ سَالِمٍ أَبِي النَّضْرِ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَضَى صَلَاتَهُ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ نَظَرَ، فَإِنْ كُنْتُ مُسْتَيْقِظَةً حَدَّثَنِي، وَإِنْ كُنْتُ نَائِمَةً أَيْقَظَنِي، وَصَلَّى الرَّكْعَتَيْنِ، ثُمَّ اضْطَجَعَ حَتَّى يَأْتِيَهُ الْمُؤَذِّنُ فَيُؤْذِنَهُ بِصَلَاةِ الصُّبْحِ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ، ثُمَّ يَخْرُجُ إِلَى الصَّلَاةِ".

د عائشې ﷺ نه روايت دى هغې ويلې دي: وو رسول الله ﷺ چې كله به يې مونځ پوره كړو په اخير د شپه كې نو كتل به يې، كه زه به بيداره وم نو ماسره به يې خبرې كولي، او كه زه به اوده وم نو رابيداره به يې كړم، او دوه ركعاته مونځ به يې وكړو، بيا به تكيا شو تردې چې مؤذن به ورته راغى، خبر به يې ورته وركولو په مونځ د صباح، نو دوه ركعاته به يې وكړل سپک، بيا وتلو مانځه ته.

---

۱) چنانچه د بخارى په صفحه،۱۶۳، باندې دى، قال ابوهريرة رضي الله عنه يقول الناس اكثر ابوهريرة فلقيت رجلا فقلت بم قراء رسول الله صلي الله عليه وسلم البارحة في العتمة فقال لا ادري فقلت الم تشهدها قال بلي قلت لكن انا ادري قراء سورة كذا و كذا)۔

۲): صحيح البخاري/التهجد ۲٤ (۱۱٦۱)، ۲۵ (۱۱٦۲)، ۲٦ (۱۱٦۸)، صحيح مسلم/المسافرين ۱۷ (۷٤۳)، سنن الترمذي/الصلاة ۱۹۷ (٤۱۸)، (تحفة الأشراف: ۱۷۷۱۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/۳۵)، وانظر ما يأتي برقم (۱۳۳۵) (صحيح)

[۱۲۶۳]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ زِيَادِ بْنِ سَعْدٍ، عَمَّنْ حَدَّثَهُ ابْنُ أَبِي عَتَّابٍ أَوْ، غَيْرُهُ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، قَالَ: قَالَتْ عَائِشَةُ "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ، فَإِنْ كُنْتُ نَائِمَةً اضْطَجَعَ وَإِنْ كُنْتُ مُسْتَيْقِظَةً حَدَّثَنِي".

د ابو سلمة نه روايت دی هغه ويلي دي: ويلي دي عائشي: وو نبي ﷺ چې کله به يې مونځ وکړو دصباح، که زه به اوده وم نو تکيا به شو، او که زه به وېښه وم نو ماسره به يې خبرې کولې.

[۱۲۶۴]()حَدَّثَنَا عَبَّاسٌ الْعَنْبَرِيُّ، وَزِيَادُ بْنُ يَحْيَى، قَالَا: حَدَّثَنَا سَهْلُ بْنُ حَمَّادٍ، عَنْ أَبِي مَكِينٍ، حَدَّثَنَا أَبُو الْفُضَيْلِ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ، عَنْ مُسْلِمِ بْنِ أَبِي بَكْرَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: خَرَجْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِصَلَاةِ الصُّبْحِ "فَكَانَ لَا يَمُرُّ بِرَجُلٍ إِلَّا نَادَاهُ بِالصَّلَاةِ أَوْ حَرَّكَهُ بِرِجْلِهِ". قَالَ زِيَادٌ: قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو الْفُضَيْلِ.

د ابو مکين نه روايت دی، هغه وايي مونږ ته ابو الفضيل حديث بيان کړی دی چې يو سړی دی د انصارو نه، هغه روايت کوي د مسلم بن ابي بکرة او هغه يې د خپل پلار نه کوي، هغه وايي: زه وتللم د رسول الله ﷺ سره د سحر مانځه ته، هغه وو چې نه به تيريدلو په هېڅ سړي باندې مګر د مانځه اواز به يې ورته کولو، او يا به يې په خپه وخوزولو. زياد ويلي دي: مونږ ته حديث بيان کړی دی ابو الفضيل

حدثنا عباس العنبرى، الخ، خرجت مع النبى صلى الله عليه وسلم لصلوة الصبح فكان لا يمر برجل الا ناداه بالصلوة او حرّكه برجلهِ. ابوبکره صحابی د چا نوم چه نضيع بن الحارث دې فرمائی چه زهٔ د حضور ﷺ سره د صبا د مانځه دپاره روان ووم نو په لاره کښې څوك چه به هم (ملاست) وو نو حضور ﷺ به هغوی ته آواز کولو يا د هغهٔ پښې به ئې خوزولې (دې دپاره چه راويښ شی) د دې حديث د ترجمة الباب سره دا مناسبت کيدې شی چه شايد دا خلق کوم چه به حضور ﷺ راويخول هم هغه خلق وو کوم چه به د صبا د سنتو نه پس اوده کيدل.

بَابُ إِذَا أَدْرَكَ الْإِمَامَ وَلَمْ يُصَلِّ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ

باب دی، کله چې امام بيامومي او دوه رکعاته د سحر يې نه وي کړي

که د صبا مونځ اودريږی او چا تر دغه وخته پورې سنة الفجر نهٔ وی کړې نو دهٔ له څهٔ کول پکار دی؟

مذاهب ائمه:

مسئله اختلافی ده په بذل کښې د شوکانی نه په دې کښې نهٔ قولونه ليکلی دی خو زما معمول خو اکثر د ائمه اربعه مذاهب بيانولو دې، امام شافعی او امام احمد، اسحاق په نيز په دې وخت کښې سنت کول مطلقا مکروه دی او امام مالك فرمائی چه دوو شرطونو سره کولې شی اول د جومات نه بهر دويم دا چه د فرض دواړه رکعاتونو د جماعت سره موندلې شی که يو رکعت هم فوت کيدو نو بيا نهٔ دې جائز، د حنفيانو په نيز هم دوه شرطونه دی يو دا چه خارج مسجد اوکړی يا کم نه کم د جماعت د صف سره يوځائې نهٔ وی په مينځ کښې

(): صحيح مسلم/المسافرين ۱۷ (۷۴۳)، وفيه «زياده بن سعد عن ابن أبي عتاب» بلا شك (تحفة الأشراف: ۱۷۷۰۷، ۱۷۷۲۰) (صحيح لغيره)

(): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۱۷۰۳) (ضعيف)

کوم څيز حائل او پرده وي او دويم دا چه د دواړو رکعاتونو د فوت کيدو ويره نۀ وي که صرف يو رکعت فوت کيږي نو بيا هم کولې شي، په دې کښې يو مذهب د ظاهريه هم دې هغه دا که کوم سړې د صبا سنت يا نو بل سنت يا نفل کوي او په دې دوران کښې په جومات کښې د جماعت مونځ اودريږي نو د دې سړي نفل مونځ سمدستي باطليږي تر دې پورې که د دۀ مونځ پوره شوې وي او صرف سلام ګرځول پاتې وي او دلته جماعت اودريدلو نو بيا ئې هم مونځ فاسديږي بلکه داسې سړي لره پکار دي چه دغه مونځ لره هم داسې پريږدي او د جماعت مونځ سره شامل شي.

[۱۲۶۵](١) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَرْجِسَ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الصُّبْحَ، فَصَلَّى الرَّكْعَتَيْنِ، ثُمَّ دَخَلَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الصَّلَاةِ، فَلَمَّا انْصَرَفَ، قَالَ: "يَا فُلَانُ، أَيَّتُهُمَا صَلَاتُكَ الَّتِي صَلَّيْتَ وَحْدَكَ، أَوِ الَّتِي صَلَّيْتَ مَعَنَا؟".

د عبد الله بن سرجس نه روايت دی هغه ويلي دي: راغی يو سړی رسول الله ﷺ ته چې مونځ يي کولو د سحر، نو دوه رکعاته مونځ يي وکړو، بيا داخل شو د رسول الله ﷺ سره، هرکله چې فارغ شو، هغه وفرمايل: ای فلانی ستا کوم يو مونځ دی؟ هغه چې تا ځانله وکړو که نه هغه چې د مونږ سره دې وکړو.

تشريح: قوله: جاء رجل و النبی صلی الله عليه وسلم يصلی الصبح فصلی الرکعتين ثم دخل مع النبی صلی الله عليه وسلم فی الصلوة.الخ. د حديث مضمون واضح دې وړاندې په حديث کښې دی چه حضور ﷺ د دې سړی نه پښتنه اوکړه چه ستا په نيز په دې دواړو مونځونو کښې کوم يو مونځ معتبر دې کوم چه دې ځانله اوکړو يا هغه کوم چه دې مونځ سره اوکړو. مطلب دا دې چه د جماعت مونځ اودريدلو نه پس سنت يا نفل مونځ خو نۀ کيږي، لهذا اوس وړاندې صرف فرض مونځ پاتې شونو اوس په دې دواړو مونځونو کښې کوم چه تا کړې دې ستا په نيز کوم يو قابل اعتبار دې؟ يا دا مطلب دې چه تۀ دلته د کوم مونځ دپاره راغلې وې فرض مونځ دپاره يا د سنتو دپاره، که سنت کول مقصود وو نو د هغې دپاره کور غوره وو او که فرض مونځ کول مقصود وو نو په هغې کښې دې ولې روستوالې اوکړو، راتلو سره په جماعت کښې ولې شريک نۀ شوې.

[۱۲۶۶](٢) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ. ح وحَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ وَرْقَاءَ. ح حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنْ ابْنِ جُرَيْجٍ. ح حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ. ح حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُتَوَكِّلِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا زَكَرِيَّا بْنُ إِسْحَاقَ كُلُّهُمْ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى

١): صحيح مسلم/المسافرين ٩ (٧١٢)، سنن النسائي/الإمامة ٦١ (٨٦٩)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٠٣ (١١٥٢)، (تحفة الأشراف: ٥٣١٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٨٢/٥) (صحيح)

٢): صحيح مسلم/المسافرين ٩ (٧١٠)، سنن الترمذي/الصلاة ١٩٦ (٤٢١)، سنن النسائي/الإمامة ٦٠ (٨٦٦)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٠٣ (١١٥١)، (تحفة الأشراف: ١٤٢٢٨)، وقد أخرج: مسند احمد (٢/٣٣١، ٣٥٢، ٤٥٥، ٥١٧، ٥٣١)، دي/الصلاة ١٤٩ (١٤٩١،١٤٨٨) (صحيح)

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا صَلَاةَ إِلَّا الْمَكْتُوبَةَ".

د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه ويلي دي: چي رسول الله ﷺ ويلي دي: كله چي مونځ ودريږي نو نور مونځ نشته مګر فرض.

قوله: عن ابی هريرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله عليه وسلم اذا اقيمت الصلوة فلا صلوة الا المكتوبة،

په دې حقله خو مذاهب اوس تير شول د حنفيانو او مالكيه په نيز د دې مطلب دا دې چه په كوم ځائې كښې د جماعت مونځ كيږي هغه ځائې كښې سوا د فرض مونځ نه بل كوم مونځ نهٔ دې كول پكار دې دپاره دا فرض كړه كه كوم سړې په خپل كور كښې سنت كوی لكه څنګه چه غوره هم دا ده او حال دا دې چه په جومات كښې د جماعت مونځ اودريدلو نوآيا د دې سړی مونځ به صحيح نهٔ وی؟ په اجماع سره صحيح او جائز دې، پس معلومه شوه چه د حديث مطلب هغه دې كوم چه مونږ بيان كړو. والله تعالی اعلم

بَابُ مَنْ فَاتَتْهُ مَتَى يَقْضِيهَا

باب دی د هغه چا نه چې فوت شي كله به يې كوي

كه يو سړی د صبا سنت قبل الفرض اونهٔ كړې شول نو بيا به ئې كله كوئ؟ عطآء، طاؤس او په امامانو كښې د امام شافعي په نيز دفرض مونځ نه پس د نمر ختلو نه وړاندې كولې شی خو امام ترمذی د امام شافعی او احمد دواړو مذهب دا ليكلې دې چه د نمر ختلو نه پس دې اوكړی خو شوكانی د حافظ عراقی نه نقل كړې دی چه د امام شافعی صحيح قول دا دې چه د فرض مونځ نه پس د نمر ختلو نه وړاندې كولې شی، دويم مذهب د ائمه ثلاثه حنفيه، حنابله، مالكيه دې د دوئ په نيز د نمر ختلو نه وړاندې كول مكروه دی.

(ايا د سنتو قضا ر شته؟)

دلته يوه مسئله بله ده او هغه دا چه د سنتو قضا شته هم او كه نهٔ، شافعيه او حنابله د دې قائل دی دحنفيه او مالكيه په نيز د سنتو د مونځ قضاء نشته دې البته د صبا د سنتو قضا فی الجمله شته ، امام ابوحنيفه او ابويوسف خو داسې فرمائی چه د سنتو قضاء تبعا للفرض شته الی الزوال، بالاستقلال نشته چنانچه د ليلة التعريس په واقعه كښې حضور ﷺ د سنتو قضاء د فرض مونځ سره فرمائيلې وه، او د امام محمد په نيز د دې قضاء انفرادا هم مستحب ده، امام مالك فرمائی چه. إِنْ أَحَبَّ، كه زړهٔ ئې غواړی نو قضاء دې اوكړی اختيار دې.

[۱۲۶۷] (١) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا ابْنُ نُمَيْرٍ، عَنْ سَعْدِ بْنِ سَعِيدٍ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ قَيْسِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: رَأَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا يُصَلِّي بَعْدَ صَلَاةِ الصُّبْحِ رَكْعَتَيْنِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "صَلَاةُ الصُّبْحِ رَكْعَتَانِ"، فَقَالَ الرَّجُلُ: إِنِّي لَمْ أَكُنْ صَلَّيْتُ الرَّكْعَتَيْنِ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا فَصَلَّيْتُهُمَا الْآنَ، "فَسَكَتَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

(١): سنن الترمذي/الصلاة ١٩٧ (٤٢٢)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٠٤ (١١٥٤)، (تحفة الأشراف: ١١١٠٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٤٧/٥) (صحيح)

د قیس بن عمرو نه روایت دی، هغه وایي: رسول الله ﷺ یو سړی ولیدو چې مونځ یي کولو وروسته د دوه رکعاتو نه، رسول الله ﷺ ورته وویل: مونځ د صباح دوه رکعاته دی، هغه سړي وویل: ما هغه دوه رکعاته نه وو کړي کوم چې د دې دواړو نه مخکې وو، ما اوس وکړل، نو رسول الله ﷺ چپ شو.

تشریح: قوله: حدثنا عثمان بن ابی شیبة نا ابن نمیر عن سعد بن سعید حدثنی محمد بن ابراهیم عن قیس ابن عمرو قال رای رسول الله صلی الله علیه وسلم.الخ، دا سعد بن سعید دیحیی بن سعید انصاری مشهور امام الجرح والتعدیل رور دي(ترمذی،ص، ۵۷) د حدیث مضمون خو واضح دې چه یو سړي د حضور ﷺ د وړاندې د صبا دمونځ نه پس دوه رکعاته اوکړل نو حضور ﷺ اوفرمائیل چه د صبا مونځ(فرض) خو صرف دوه رکعاته دی هغۀ عرض اوکړو چه ما د فرضو نه وړاندې کوم سنت دی هغۀ نۀ وو کړی د دې نه پس حدیث کښې دی چه، فسکت رسول الله صلی الله علیه وسلم.

مجوزین حضرات(شافعیه وغیره) په دې حدیث سره استدلال کوی، مانعین(ائمه ثلاثه) د دې څو جوابونه ورکړې دی(۱) دا حدیث منقطع دې کما قال الترمذی ځکه چه دمحمد بن ابراهیم سماع د قیس بن عمرو نه ثابته نۀ ده،(۲) کله چه په دې وخت کښې د تطوع یعنی د نفلو نهی د نورو صحیح احادیثو سره ثابته ده نو په داسې صورت کښې د حضور ﷺ سکوت په تقریر باندې دلالت نۀ کوی،(۳) کیدې شی دا واقعه د منع نه د وړاندې وی(۴) صحیح دا ده چه دا حدیث مرسل دې، کما قال الترمذی، دغه شان وړاندې امام ابوداؤد هم دا خبره فرمائیلې ده(۵) د ابوداؤد په دې روایت کښې خو دا دی چه حضور ﷺ په دې باندې سکوت فرمائیلې وو خو د ترمذی شریف په روایت کښې د دې په ځائې دا دی چه، فلا اذاً، د کوم چه دوه مطلبه کیدې شی یو خو دا چه بیا هم نۀ دی ادا کول پکار، دویم دا چه اوس نۀ یعنی که دا خبره ده(چه سنت دې نۀ وو کړې) نو بیا به ما نۀ وې منع کړې.

[۱۲۶۸]([1])حَدَّثَنَا حَامِدُ بْنُ يَحْيَى الْبَلْخِيُّ، قَالَ: قَالَ سُفْيَانُ: كَانَ عَطَاءُ بْنُ أَبِي رَبَاحٍ يُحَدِّثُ بِهَذَا الْحَدِيثِ عَنْ سَعْدِ بْنِ سَعِيدٍ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَرَوَى عَبْدُ رَبِّهِ، وَيَحْيَى ابْنَا سَعِيدٍ هَذَا الْحَدِيثَ مُرْسَلًا، أَنَّ جَدَّهُمْ صَلَّى مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذِهِ الْقِصَّةِ.

سفیان ویلي دي، وو عطاء بن ابی رباح چې دا حدیث یي بیانولو د سعد بن سعید نه. ویلي دي ابوداود: او روایت کړی دی عبد ربه او یحیی چې دواړه ځامن د سعید دي دا حدیث مرسل، بېشکه نیکه د دوی مونځ کړی دی د رسول الله ﷺ په دې قصې سره.

تشریح: قوله: قال ابوداؤد رؤی عبد ربه و یحیٰ ابنا سعید هذا الحدیث مرسلاً، د دې حدیث په سند کښې چه کوم اختلاف او اضطراب دې مصنف هغې لره بیانوی، پورته په سند کښې سعد بن ابی سعید راغلې وو هغوی دې حدیث سره مسندا ذکر کړې وو(بذکر السند الی الصحابی) او د سعد بن سعید باقی دوه ورونړه عبد ربه او یحیٰ دې دواړو دې لره مرسلا ذکر کړې دې

[1]: انظر ماقبله، (تحفة الأشراف: ۱۱۱۰۲) (صحیح)

يعنى سند کښې صحابى (قيس بن عمرو) ئې نۀ دې ذکر کړې. دا پورته راغلې وو چه امام ترمذی هم دې حديث لره مرسل فرمائيلې دې. إنّ جدّهم زيدًا.

د نسخو اختلاف او د صحيح نسخې تعيين

په ډیر نسخو کښې داسې دی زيداً خو دا غلط دې د يحيي بن سعيد د نيکۀ نوم زيد نۀ دې بلکه قيس دې لکه څنګه چه پورته په سند کښې ذکر دی خو صحيح او معتمد نسخو کښې په دې ځائې کښې نۀ لفظ د زيد ذکر دې او نۀ لفظ د قيس بلکه داسې دی چه، ان جدهم صلى مع النبى صلى الله عليه وسلم، او که وی هم نو د زيدا په ځائې قيسا کيدل پکار دی ځکه چه د يحيي بن سعيد په مسلمان نيکونو کښې زيد نومې کوم سړې نشته دې

تنبيه: که څوك دا اووائى چه مصنف دې حديث لره مرسلا بنائى حال دا دې چه دلته په سند کښې د يحيي بن سعيد د نيکۀ ذکر دې کوم چه صحابى دې بيا دا حديث مرسل څنګه شو؟ جواب د دې ظاهر دې چه دلته د صحابى ذکر په رجال سند کښې نشته دې سند خود. ان جدهم، نه وړاندې پوره شوې دې. د ان جدهم، نه خود حديث متن شروع کيږی

بَابُ الْأَرْبَعِ قَبْلَ الظُّهْرِ وَبَعْدَهَا

باب دی په بيان د څلورو رکعاتو کې مخکې د ماسپخين نه او وروسته د هغې نه

[۱۲۶۹] ()حَدَّثَنَا مُؤَمَّلُ بْنُ الْفَضْلِ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ شُعَيْبٍ، عَنِ النُّعْمَانِ، عَنْ مَكْحُولٍ، عَنْ عَنْبَسَةَ بْنِ أَبِي سُفْيَانَ، قَالَ: قَالَتْ أُمُّ حَبِيبَةَ زَوْجُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ حَافَظَ عَلَى أَرْبَعِ رَكَعَاتٍ قَبْلَ الظُّهْرِ وَأَرْبَعٍ بَعْدَهَا حَرُمَ عَلَى النَّارِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ الْعَلَاءُ بْنُ الْحَارِثِ، وَسُلَيْمَانُ بْنُ مُوسَى، عَنْ مَكْحُولٍ بِإِسْنَادِهِ مِثْلَهُ.

ام حبيبه وئيلې دي چې د نبي ﷺ بي بي ده، چې رسول الله ﷺ وئيلي دي چا چې حفاظت وکړو په څلورو رکعاتو باندې د ماسپخين نه مخکې. او څلور وروسته د هغې نه، نو حرام به شي په اور. وئيلي دي ابوداود نقل کړی دی علاء بن الحارث او سليمان بن موسى د مکحول نه په د هغې په اسناد سره پشان د هغې

تشريح: **قوله**: قالت ام حبيبة زوج النبى صلى الله عليه وسلم من حافظ على اربع رکعات قبل الظهر و اربع بعدها حرّم على النار. په دې حديث کښې. من حافظ. فرمائيلې شوې دی، من صلى، ئې نۀ دی فرمائيلې د دينه معلومه شوه چه دا فضيلت صرف په يو ځل کولو سره نۀ حاصليږی بلکه په محافظة او مداومت سره به وی

(تطبيق بين الروايتين)

په ګڼړو مشهورو روايتونو کښې بعد الظهر رکعتين راځی او په دې روايت کښې. اربع رکعات. ذکر دی لهذا دا به وئيلې شی چه په دې کښې دوه رکعاته خو مؤکد دی او دوه رکعاته غير مؤکد دی. دلته يوه رائې بله ده کومه چه وړاندې راځی

(): سنن النسائي/قيام الليل ۵۷ (۱۸۱۵)، (تحفة الأشراف: ۱۵۸۶۳)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصلاة ۲۰۱ (۴۲۷)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۰۸ (۱۱۶۰)، مسند احمد (۳۲۶/۶) (صحيح)

شرح حدیث:

په دې حدیث کښې، حُرّم علی النار، چه دا سړي په اور باندې حرامیږی، په دې کښې څو احتمالات دی یو دا چه د دینه مراد مطلقا عدم دخول فی النار دې او دا خبره د الله تعالی د رحمت نه څۀ لرې نۀ ده چه په دې سنتو باندې د اهتمام په وجه سره بالکل دهغه بخښنه اوفرمائی، یا دا چه که په جهنم کښې د خپلو ګناهونو د وجه نه داخل هم شی نو اور به د دۀ ټول بدن لره نۀ سوزوی کم نه کم د سجدو ځایونه به ئې محفوظ وی،(کما فی روایة) یا دا اوونیلې شی چه د خلود فی النار نفی ده، دنفس دخول نه په دې باندې دا اشکال کیږی چه دا خبره خو د هر مسلمان په حق کښې ده، جواب دا دې چه په دې کښې اشاره او زیرې دې د خاتمه بالخیر(او دا خبره د هر مسلمان په حق کښې ثابته نۀ ده)

[۱۲۷۰](1)حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، قَالَ: سَمِعْتُ عُبَيْدَةَ يُحَدِّثُ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ ابْنِ مِنْجَابٍ، عَنْ قَرْثَعٍ، عَنْ أَبِي أَيُّوبَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أَرْبَعٌ قَبْلَ الظُّهْرِ لَيْسَ فِيهِنَّ تَسْلِيمٌ تُفْتَحُ لَهُنَّ أَبْوَابُ السَّمَاءِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: بَلَغَنِي عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ الْقَطَّانِ، قَالَ: لَوْ حَدَّثْتُ عَنْ عُبَيْدَةَ بِشَيْءٍ لَحَدَّثْتُ عَنْهُ بِهَذَا الْحَدِيثِ. قَالَ أَبُو دَاوُد: عُبَيْدَةُ ضَعِيفٌ. قَالَ أَبُو دَاوُد: ابْنُ مِنْجَابٍ هُوَ سَهْمٌ.

د ابو ایوب نه روایت دی هغه روایت کوي د نبي ﷺ نه هغه ویلي دي: څلور مخکې د ماسپخین نه په هغې کې سلام نشته، کولاوولی شي هغې ته دروازې د اسمانونو. ویلي دي ابوداود: ماته رارسیدلی د یحیی بن سعید القطان نه هغه ویلي دي: که ما د عبیده نه څه شی نقل کولی نو دا حدیث به مې ترې نقل کړی وی. ویلي دي ابوداود: عبیدة ضعیف دی، ویلي دي ابوداود: ابن منجاب هغه سهم دی.

تشریح: قوله: عن ابی ایوب عن النبی صلی الله علیه وسلم قال اربع قبل الظهر لیس فیهن تسلیم تفتح لهن ابواب السماء، د ابوایوب نوم خالد بن زید انصاری دې د دې حدیث نه معلومه شوه چه د ماسپخین نه وړاندې کوم څلور رکعاته سنت دی هغه په یو سلام سره پکار دی لکه څنګه چه د حنفیانو مسلك دې او د شافعیه او حنابله په نیز اول خو قبل الظهر هم دوه رکعته دی دویم دا چه د دوئ په نیز تسلیم علی الرکعتین اولیٰ دې، صلوة اللیل والنهار مثنی مثنی، حدیث ته د نظر کولو د وجه نه دا حدیث وړاندې راروان دې دې مونځ دپاره د آسمان دروازې پرانستلې کیږی دې دپاره چه دا سنت مونځونه آسمان ته اورسی، الیه یصعد الکلم الطیب والعمل الصالح یرفعه

د صلوة الزوال ثبوت او فضیلت:

او د بعضې شراحو رائې دا ده چه په دې حدیث کښې د ماسپخین د وړاندینی سنتو ذکر نشته دې بلکه هغه مونځ دې کوم ته چه سنة الزوال یا صلوة الزوال وائی د کومو چه په خاص توګه باندې صوفیه قائل دی بلکه محدثین هم چنانچه امام ترمذی په صفحه،۴۳، کښې د دې دپاره مستقل باب تړلې دې، باب ما جاء فی الصلوة عند الزوال، او په دې کښې

(1): سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۰۵ (۱۱۵۷)، سنن الترمذي/ الشمائل (۲۹۳، ۲۴۹۴)، (تحفة الأشراف: ۳۴۸۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۱۶/۵، ۴۱۷، ۴۲۰) (ضعیف)

هغوی د عبد الله بن السائب حدیث ذکر کړي دي ، ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کان یصلی اربعا بعد ان تزول الشمس قبل الظهر و قال انها ساعة تفتح فیها ابواب السماء و أُحِبُّ ان یصعد لی فیها عمل صالح و فی الباب عن علی و ابی ایوب و هذا حدیث حسنٌ غریبٌ، د ابوایوب حدیث د کوم چه امام ترمذی حواله ورکوی هم هغه دي کوم چه په ابوداؤد کښې روان دې، په تحفة الاحوذی کښې حافظ عراقی فرمائی چه دا څلور رکعاته د ماسپخین د سنتو نه علاوه دی د دې نوم سنة الزوال دې.

قال ابوداؤد بلغنی عن یحیی بن سعید انه قال لو حدثت عن عبیدة بشيءٍ،الخ. یحیی بن سعید فرمائی که ما د عبیدة بن مُعتّب نه حدیث اغستلې نو دا حدیث به مې ضرور اغستې وې، خو چونکه هغه ضعیف دې نو ځکه ئې نهٔ اخلم، اوس دا چه دا حدیث ضرور ولې اخلې؟ کیدې شی چه وجه دا وی چه د دې حدیث مضمون د هغوی ډیر خوښ شوې وی، ځکه چه چه په دې کښې ډیر اوچت فضیلت ذکر دې.

بَابُ الصَّلَاةِ قَبْلَ الْعَصْرِ

باب دی په بیان د مونځ کې مخکې د مازیګر نه

په دې باب کښې مصنف دوه حدیثونه ذکر کړې دی یو قولی او دویم فعلی قولی کښې د مازیګر نه وړاندې څلور رکعاته ذکر دی او په حدیث فعلی کښې دلته په ابوداؤد کښې خو دوه رکعاته ذکر دی خو په ترمذی شریف کښې څلور رکعاته ذکر دی، نو دې دپاره زمونږ فقهاؤ لیکلې دی چه دمازیګرنه وړاندې اختیار دې د دوو او څلورو رکعاتو په مینځ کښې

[۱۲۷۱](١)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مِهْرَانَ الْقُرَشِيُّ، حَدَّثَنِي جَدِّي أَبُو الْمُثَنَّى،عَنْ ابْنِ عُمَرَ،قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "رَحِمَ اللَّهُ امْرَأً صَلَّى قَبْلَ الْعَصْرِ أَرْبَعًا".

د ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دی هغه ویلې دي، رسول الله ﷺ ویلې دي الله دې رحم وکړي په هغه سړي باندې چې مونځ وکړي مخکې د مازیګر نه څلور رکعاته.

تشریح: قوله: رحم الله امراء صلی قبل العصر اربعًا، دا جمله خبریه هم کیدې شی او دعائیه هم، یعنی یا خو حضور ﷺ خبر ورکوی چه داسې دې وی او یا دعاء ورکوی چه الله تعالی دې رحم اوکړی په داسې سړی باندې، خلق بزرګانو ته د دعاء دپاره درخواستونه کوی ګرځی د حضور ﷺ د دعاء نه اوچته دعاء د چا کیدې شی د دې د حاصلولو دپاره کوشش کول پکار دی، والله الموفق.

[۱۲۷۲](٢)حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ ضَمْرَةَ، عَنْ عَلِيٍّ عَلَيْهِ السَّلَام،أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يُصَلِّي قَبْلَ الْعَصْرِ رَكْعَتَيْنِ".

عاصم بن ضمرة روایت کوي د علي نه، بېشکه نبي ﷺ وو چې مونځ بې کولو مخکې د مازیګر نه دوه رکعاته.

(١): سنن الترمذي/الصلاة ٢٠٢ (٤٣٠)، (تحفة الأشراف: ٧٤٥٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١١٧/٢) (حسن)

(٢): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٠١٤٠) (حسن) (لكن بلفظ: «أربع ركعات» كما عند الترمذي في الصلاة ٢٠٢)

بَابُ الصَّلاَةِ بَعْدَ الْعَصْرِ

باب دی په بيان د مونځ کې وروسته د مازيګر نه

د اوقات منهيه ابتداء:

په دې پوهه شه چه د دې ځايونه د اوقات منهيه بيان شروع کيږي، امام ابوداؤد خو په دې سلسله کښې صرف هم دوه بابه قائم کړي دي او امام نسائي په دې موضوع باندې ډير زيات ابواب قائم کړې دی، دې بابونو لره چه څنګه د دې د پوهيدلو حق دې په دې باندې موقوف دی چه په اوقات منهيه کښې دصحابه کرامو او تابعينو کوم اختلاف دې هغه په ذهن کښې وی ګينې سخت اختلاف پيښيدې شي ځکه چه په رواياتو کښې ډير سخت اختلاف دې هم د دې وجه نه د علماؤ مذاهب هم په دې کښې مختلف دی زمونږ حضرت شيخ رحمه الله د صحيح بخاری په تراجمو کښې به اکثر فرمائيل چه د امام بخاری غرض معلومول د امامانو مذاهب په بنۀ شان سره پيژندلو باندې موقوف دې لهذا ړومبې دا اختلافات واورئ!

دبعضې صحابه او ابن حزم ظاهری په نيز په دې ټولو وختونو کښې مونځ جائز دې د يو وخت استثناء نشته دې هغوی وائی چه نهی منسوخ ده، لحديث جبير بن مطعم لا تمنعوا احداً طاف بهذا البيت و صلى آية ساعةٍ شاء من ليل او نهار، و لقوله عليه السلام من ادرك ركعة من الصبح قبل ان تطلع الشمس،الخ. دويم مذهب دا دې چه يو جماعت د صحابه کرامو او تابعينو لکه ابن عمر، عائشه، عطاء، طاؤس، ابن المنذر مسلك دا دې چه په کومو احاديثو کښې د بعد الصبح او بعدالعصر د مونځ ممانعت دې د هغې نه د وخت استيعاب يعنی ګيرول مقصود نۀ دی بلکه عين د نمر ختلو او پريوتلو خاص دغه وخت کښې کول ممنوع دی ځکه چه دغه وخت کښې د نمر عبادت کونکی د نمر عبادت کوی چنانچه حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی چه، وهم عمر رضى الله عنه انما نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن الصلوة ان يتحراها طلوع الشمس او غروبها،يعنی عمر رضي الله عنه چه خلق د بعدالعصر او بعدالفجر د مونځ کولو نه مطلقا منع کوی دا غلطه ده ځکه چه د دې ممانعت د دې وجه نه دې چه د نمر ختلو او نمر پريوتلو قصد اوکړی او په دې دوو وختونو کښې مونځ کوی، دا حضرات داسې وائی چه په احاديثو کښې مطلق بعد الفجر او بعد العصر کوم راغلې دې هغه په دې خيال سره دې چه داسې نۀ وی چه کوم سړې د مازيګر نه پس مونځ اوکړی او په دې کښې تمادی او اوږدوالې اوکړی او هغه مونځ تر طلوع او غروب پورې اورسی نو دا ظاهری عموم او اطلاق د قطع په ذريعې دطور دې او په يو روايت کښې د ابن عمر رضي الله عنه نه دادی چه د صبا د مانځه نه روستو خو تر نمر ختلو پورې تطوع مکروه دی(د دې باب د دريم حديث د وجه نه) او بعدالعصر تطوع الى الاصفرار جائز دې، د دې نه پس ممنوع دې(د دې باب د ړومبی حديث د وجه نه)، خو دحضرت ابن عمر او ابن عباس رضي الله عنهما او نور ډير صحابه کرام او تابعين او داکثرو امامانو په نيز نهی عن الصلوة بعدالصبح او بعد العصر عام ده طلوع او غروب پورې خاص نۀ ده.

(د ائمه مذاهب)

دا اختلافات خو د صحابه کرامو او تابعینو په مینځ کښې دی اوس تاسو د امامانو مذاهبو باندې هم ځان پوهه کړئ! (۱) د امام مالك په نیز اوقات د نهی صرف څلور دی، عین طلوع، عین غروب، بعدالفجر، بعدالعصر، وقت الاستواء یعنی نصف النهار د دوئ په نیز په دې وختونو کښې شامل نۀ دې پخلاف د باقی امامانو چه د هغوی په نیز اوقات منهیه پنځه دی، وقت الاستواء هم په دې کښې داخل دې دغه شان د جمهورو په نیز منع د نوافلو نه ده د قضاء نۀ نۀ ده(و کذا النذر الا عند المالکیة) خواه هغه قضاء د فرائضو وی یا د سنن مؤکده وی (۱) او په ائمه ثلاثه کښې شافعیه دا فرمائی چه نوافل په دوه قسمه دی، ذات السبب او غیر ذات السبب کوم نوافل چه د ذات السبب دی د دوئ په نیز دې لره هم په اوقات منهیه کښې کولې شی البته د دویم قسم کول منع دی

او د حنفیانو په نیز اوقات منهیه په دوه قسمه دی اول طلوع او غروب، او نصف النهار او دویم بعدالفجر او بعدالعصر، په قسم اول کښې خو عدم الجواز مطلقا دې نه په دې کښې قضاء مونځ جائز دې او نۀ نوافل(الا عصر یومه عند الغروب) او په قسم ثانی کښې نوافل ممنوع دی قضاء جائز ده. (۲)

[۱۲۷۳](۳) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي عَمْرُو بْنُ الْحَارِثِ، عَنْ بُكَيْرِ بْنِ الْأَشَجِّ، عَنْ كُرَيْبٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبَّاسٍ، وَعَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ أَزْهَرَ، وَالْمِسْوَرَ بْنَ مَخْرَمَةَ، أَرْسَلُوهُ إِلَى عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالُوا: اقْرَأْ عَلَيْهَا السَّلَامَ مِنَّا جَمِيعًا وَسَلْهَا عَنِ الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ، وَقُلْ: إِنَّا أُخْبِرْنَا أَنَّكِ تُصَلِّينَهُمَا، وَقَدْ بَلَغَنَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنْهُمَا". فَدَخَلْتُ عَلَيْهَا فَبَلَّغْتُهَا مَا أَرْسَلُونِي بِهِ، فَقَالَتْ: سَلْ أُمَّ سَلَمَةَ، فَخَرَجْتُ إِلَيْهِمْ فَأَخْبَرْتُهُمْ بِقَوْلِهَا، فَرَدُّونِي إِلَى أُمِّ سَلَمَةَ بِمِثْلِ مَا أَرْسَلُونِي بِهِ إِلَى عَائِشَةَ، فَقَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَى عَنْهُمَا ثُمَّ رَأَيْتُهُ يُصَلِّيهِمَا، أَمَّا حِينَ صَلَّاهُمَا فَإِنَّهُ صَلَّى الْعَصْرَ، ثُمَّ دَخَلَ وَعِنْدِي نِسْوَةٌ مِنْ بَنِي حَرَامٍ مِنَ الْأَنْصَارِ فَصَلَّاهُمَا، فَأَرْسَلْتُ إِلَيْهِ الْجَارِيَةَ، فَقُلْتُ: قُومِي بِجَنْبِهِ، فَقُولِي لَهُ: تَقُولُ أُمُّ سَلَمَةَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَسْمَعُكَ تَنْهَى عَنْ هَاتَيْنِ الرَّكْعَتَيْنِ وَأَرَاكَ تُصَلِّيهِمَا، فَإِنْ أَشَارَ بِيَدِهِ فَاسْتَأْخِرِي عَنْهُ، قَالَتْ: فَفَعَلَتِ الْجَارِيَةُ، فَأَشَارَ بِيَدِهِ، فَاسْتَأْخَرَتْ عَنْهُ، فَلَمَّا انْصَرَفَ، قَالَ: "يَا بِنْتَ أَبِي أُمَيَّةَ، سَأَلْتِ عَنِ الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ، إِنَّهُ أَتَانِي نَاسٌ مِنْ عَبْدِ الْقَيْسِ بِالْإِسْلَامِ مِنْ قَوْمِهِمْ فَشَغَلُونِي عَنِ الرَّكْعَتَيْنِ اللَّتَيْنِ بَعْدَ الظُّهْرِ فَهُمَا هَاتَانِ".

---

(۱) خکه چه دا وړاندې تیر شوې دی چه د شافعیه او حنابله په نیز د رواتبو قضاء مستحب ده، د شافعیه په نیز خو په ټولو اوقات منهیه کښې جائز ده او د حنابله په نیز په اوقات منهیه کښې بعدالعصر خو جائز ده لکه څنګه چه په مغنی کښې د دې تصریح ده د دینه علاوه په باقی اوقات منهیه کښې جائز نۀ ده۔

(۲) و اما صلوٰة الجنازة و سجدة التلاوة ففیه تفصیل عندنا معروف و عند الشافعي تجوز في الاوقات الخمسة و عند مالك و احمد یجوز بعدالعصرین و لا یجوز في الاوقات الباقیة و هي عند احمد ثلاثة و عند مالك اثنان فان وقت الاستواء عنده لیس من الاوقات المنهیة) ۱۲ ـ

(۳): صحیح البخاري/السهو ۸ (۱۲۳۳)، المغازي ۶۹ (۴۳۷۰)، صحیح مسلم/المسافرین ۵۴ (۸۳۴)، (تحفة الأشراف: ۱۷۵۷۱، ۱۸۲۰۷)، وقد أخرجه: سنن النسائي/المواقیت ۳۵ (۵۸۰)، مسند احمد (۶/۳۰۹)، سنن الدارمي/الصلاة ۱۴۳ (۱۴۷۶) (صحیح)

د کریب نه روایت دی چې مولی د ابن عباس دی، بېشکه عبد الله بن عباس او عبد الرحمن بن ازهر او مسور بن مخرمة هغه ولېږلو عائشي د نبي ﷺ بي بي ته، هغوی وویل: زمونږ د طرف نه پرې سلام وایه! او تپوس وکړه د هغې نه په د دوه رکعاتو کې وروسته د مازیګر نه، او ورته ووایه: مونږ ته خبر راکړی شوی دی چې یې کوي، او مونږ ته دا خبره رارسیدلې ده چې رسول الله ﷺ به د دېنه منع کوله، زه ورغلم هغې ته ما ورته هغه څه ورسول په کوم شي یې چې زه لېږلی وم، هغې وویل: تپوس وکړه د ام سلمة نه، زه ووتلم هغوی ته ما ورته خبر ورکړو د هغې په قول، زه یې ام سلمة ته ولېږلم پشان د هغې چې زه یې عائشې ته لېږلی وم، ام سلمة وویل: ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلي دي چې د دې دواړو نه یې منع کوله، بیا ما ولیدلو چې کول یې دواړه، هر چې هغه وو چې هغه کول بېشکه هغه د مازیګر کولو، بیا داخل شو او ماسره ښځې وې د بني حرام د انصارو نه، نو ویې کړل، نو ما ورته یوه جینۍ ورولېږله، ما وویل: د هغه په خوا کې ودرېږه، ورته ووایه! ام سلمه وایي: ای د الله رسوله! زه د تانه اورم چې د دې دوه رکعاتو نه منع کوي، او زه تا وینم چې ته یې کوي، که اشاره یې وکړه په لاس باندې نو راوروسته شه ترې، هغې وویل: جینۍ همدغسې وکړل، هغه اشاره وکړه په خپل لاس باندې، نو وروسته شوه د هغه نه، هرکله چې فارغ شو ویې ویل: ای د ابو امیة لورې! تا تپوس وکړو د دوه رکعاتو نه وروسته د مازیګر نه، بېشکه ماته راغلي څه خلق د عبد القیس نه په اسلام سره د خپل قوم نه، نو زه یې مشغول کړم د هغه دوه رکعاتو نه کوم چې د ماسپخین نه وروسته دي، هغه دواړه دا دي.

مضمون حدیث:

قوله: ارسلوه الی عائشة زوج النبی صلی الله علیه وسلم: کریب کوم چه د ابن عباس رضی الله عنه آزاد کړې شوې دې دوئ لره حضرت ابن عباس رضی الله عنه وغیره د حضرت عائشه رضی الله عنها په خدمت کښې اولیږلو چه لاړ شه او هغوی ته عرض اوکړه چه مونږ ته دا خبره رارسیدلې ده چه تاسو بعد العصر دوه رکعاته کوی حال دا دې چه مونږ ته دا خبره معلومه شوې ده چه حضور ﷺ د بعد العصر نفل نه منع فرمائیلې ده (حضرت عائشه رضی الله عنها د سوال د اول جزء طرف ته خو التفات اونۀ کړو او دجزء ثانی په حقله ئې اوفرمائیل) چه د ام سلمه رضی الله عنها نه معلومه کړئ دې خلقو کریب لره بیا ام سلمه رضی الله عنها ته اولیږلو، الی آخر القصة په کومې کښې چه دا دی چه حضور ﷺ اوفرمائیل چه دې وخت (بعد العصر) ما چه کوم دوه رکعاته کړې دی هغه نفل مونځ نۀ وو بلکه د ماسپخین روستنی دوه رکعاته سنت وو کوم چه ما په خپل وخت کښې اونۀ کړې شول د کومو وجه چه دا اوشوله؟ اتانی ناس عن عبدالقیس بالاسلام، او په بعضې روایاتو کښې دا دی چه ما ته د قلائص صدقه (د صدقې اوښان) راغلي وو د هغې په انتظام کښې مشغول کیدو د وجه نه د ماسپخین سنت ما اونۀ کړې شول، کیدې شی دواړه خبرې پیښې شوې وی د صدقې اوښان هم او د عبدالقیس وفد هم کوم چه د اسلام راوړلو په غرض سره راغلي وو.

المسائل الثابتة بالحديث:

د دي حديث نه معلومه شوله چه د مازيګر نه پس نفل مونځ کول منع دی او حضور ﷺ چه کوم کړي وو هغه مطلق نفل نهٔ وو بلکه د ماسپخين د سنتو قضاء وه، دويمه دا خبره معلومه شوله چه د رواتبو قضاء شته دي چنانچه د شافعيه او حنابله مسلك هم دا دي چه د دي قضاء مستحب ده، د حنفيه او مالکيه په نيز د رواتبو قضاء نشته دي علاوه د صبا د سنت نه، د طحاوی په روايت کښې يو زيادت دي هغه دا چه ام سلمه رضي الله عنها د حضور ﷺ نه سوال اوکړو ، افنقضيها اذا فاتتا قال لا، که زمونږ نه سنت مونځ فوت شي نو آيا مونږ به هم د دي قضاء راګرځوو حضور ﷺ اوفرمائيل چه نهٔ، نو معلومه شوه چه دا د حضور ﷺ خصوصيت دي او د خصوصيت يو دليل دا هم دي چه حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی چه د دينه پس بيا حضور ﷺ به دي دوو رکعتونو لره بعدالعصر مدام کول، دغه شان وړاندې په، باب مايؤمر به من القصد في الصلوة، کښې راځی چه، و کان اذا عمل عملا اثبته، دغه شان هم دي باب کښې وړاندې راځي چه، کان عمله ديمة، په دي حديث سره شافعيه استدلال کړي چه د رواتبو قضاء په اوقات مکروه کښې کولې شي دغه شان د نوافلو ذات السبب هم، د دي جواب جمهورو دا ورکړې دي چه دا هم د حضور ﷺ خصوصيت دي لکه څرنګه چه د سنتو قضاء د حضور ﷺ خصوصيت دي.

بَابُ مَنْ رَخَّصَ فِيهِمَا إِذَا كَانَتِ الشَّمْسُ مُرْتَفِعَةً

باب دی په بيان د هغه خلکو چې اجازت يې ورکړی دی په دې دواړو کې کله چې نمر اوچت وي

[۱۲۷٤]([1]) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ هِلَالِ بْنِ يَسَافٍ، عَنْ وَهْبِ بْنِ الْأَجْدَعِ، عَنْ عَلِيٍّ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى عَنِ الصَّلَاةِ بَعْدَ الْعَصْرِ إِلَّا وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ".

د علي رضي الله عنه نه روايت دی، بېشکه نبي ﷺ منع کړي ده د مونځ نه وروسته د مازيګر نه، مګر دا چې نمر اوچت وي.

عن علی ان النبی صلی الله عليه وسلم نهی عن الصلوة بعد العصر الا والشمس مرتفعة.

دا حديث د هغه جماعت دليل دي څوك چه دا وائی چه، نهی عن الصلوة بعدالصبح و بعد العصر کښې مطلق روستوالي مراد نهٔ دي بلکه بعديت منفصله يعنی طلوع او د غروب وخت مراد دي لکه څنګه چه وړاندې معلومه شوې ده چه جمهور صحابه او ائمه اربعه خو دې رائې سره متفق نهٔ دی د نورو احاديثو د عموم او اطلاق د وجه نه لهذا د دوئ په نيز دا حديث مؤول دي.

د حديث الباب محمل عند الفقهاء:

ائمه د فقه د خپل خپل مسلك مطابق تاويل کړي دي شافعيه دي لره محمول کړي دي په هغه نوافلو باندې کوم چه ذات السبب وی چه داسې نوافل د دوئ په نيز د اصفرار الشمس

[1]: سنن النسائي/المواقيت ٣٦ (٥٧٤)، (تحفة الأشراف: ١٠٣١٠)، وقد أخرجه: (١/٨٠، ٨١) (صحيح)

سوري جائز دی. او حنفیه محمول کړي دي په بعضې مخصوصو مونځونو باندې مثلا قضاء المکتوبة او صلوة الجنازه (کما فی بعض تقاریر المحدث الکنکوهی) که څوک سوال اوکړی چه د تخصیص منشاء څۀ ده؟ جواب ظاهر دي چه د اختلاف روايات په وخت دفع د تعارض دپاره، او د حضرت سهارنپوری په بذل المجهود کښې د دې تاويل دا فرمائيلي دي چه، نهی عن الصلوة. کښې د صلوة نه مراد نفل نۀ دی بلکه د مازيګر فرض مونځ او د بعدالعصر نه مراد بعد دخول وقت العصر دي مطلب دا شو چه د مازيګر په مانځه کښې تاخير نۀ دی کول پکار تر ارتفاع شمس پورې کول پکار دی. (۱)

[۱۲۷۵] (۲) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ ضَمْرَةَ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِي إِثْرِ كُلِّ صَلَاةٍ مَكْتُوبَةٍ رَكْعَتَيْنِ إِلَّا الْفَجْرَ وَالْعَصْرَ".

د علي رضي الله عنه نه روايت دی هغه ويلي دي رسول الله ﷺ وو چې د هر فرض مونځ نه وروسته به يې دوه رکعاته کول، مګر د سحر او د مازيګر نه وروسته نه.

[۱۲۷۶] (۳) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ، حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، عَنْ أَبِي الْعَالِيَةِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: شَهِدَ عِنْدِي رِجَالٌ مَرْضِيُّونَ فِيهِمْ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ، وَأَرْضَاهُمْ عِنْدِي عُمَرُ، أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا صَلَاةَ بَعْدَ صَلَاةِ الصُّبْحِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، وَلَا صَلَاةَ بَعْدَ صَلَاةِ الْعَصْرِ حَتَّى تَغْرُبَ الشَّمْسُ".

د ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دی هغه ويلي دي ماته داسي سړي راغلل چې ښه خلق وو، په هغوی کې عمر بن الخطاب هم وو، . او په ټول کې ماته خوښ عمر وو. بېشکه د الله نبي ﷺ ويلي دي نشته دی مونځ وروسته د مونځ د سحر تردې چې نمر راوخېژي او نشته دی مونځ وروسته د مازيګر نه تردې چې نمر ډوب شي.

قوله، لا صلوة بعد الصلوة الصبح، هم دغه شان د دېنه په وړاندې حديث کښې دی، حتی تصلی الصبح، د دېنه بظاهر معلوميږی چه د تطوع ممانعت د طلوع فجر پورې متعلق نۀ دې بلکه د دې تعلق د صبا د مونځ سره دې هم دا مذهب د حسن بصری دې چه د طلوع فجر نه پس هم د صبا د مانځه نه وړاندې نفل جائز دی (۴) او د امام مالك په نيز هم دا حکم دې د هغه چا دپاره چه د هغۀ نه صلوة الليل فوت شی لهذا دا روايت د جمهورو خلاف شو خو چونکه په

(۱) خو بنده ته په دې تاويل باندې انشراح نشته دې ځکه که څوک سړې تر ارتفاع شمس پورې د مازيګر مونځ اونۀ کړی نو دې به د مونځ نه څۀ منع کولې شی بلکه هغه سړې به دغه وخت هم مامور من الله تعالي دې د فرض د ادا کولو.

(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۰۱۳۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۲۴/۱) (ضعيف)

(۳): صحيح البخاري/المواقيت ۳۰ (۵۸۱)، صحيح مسلم/المسافرين ۵۱ (۸۲۶)، سنن الترمذي/الصلاة ۲۰ (۱۸۳)، سنن النسائي/المواقيت ۳۲ (۵۶۳)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۴۷ (۱۲۵۰)، (تحفة الأشراف: ۱۰۴۹۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۸/۱، ۲۰، ۲۱، ۳۹)، سنن الدارمي/الصلاة ۱۴۲ (۱۴۷۳) (صحيح)

(۴) امام ترمذی فرمائی چه د علماؤ په دې باندې اجماع ده چه د طلوع فجر نه پس تطوع يعنی نفل جائز نۀ دی، حافظ ابن حجر په دې باندې اشکال کړی دې چه اجماع نقل کول صحيح نۀ ده ځکه چه په دې کښې د بعضې علماؤ اختلاف دې. ۱۲ ـ

بعضې نورو رواياتو کښې د طلوع لفظ راغلي دې نو ځکه جمهورو هم دې لره اختيار کړې دې چنانچه په مسند احمد کښې دی چه، حتى تطلع الشمس.

[۱۲۷۷] (۱) حَدَّثَنَا الرَّبِيعُ بْنُ نَافِعٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُهَاجِرِ، عَنِ الْعَبَّاسِ بْنِ سَالِمٍ، عَنْ أَبِي سَلَّامٍ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ السُّلَمِيِّ، أَنَّهُ قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَيُّ اللَّيْلِ أَسْمَعُ؟ قَالَ: "جَوْفُ اللَّيْلِ الْآخِرُ فَصَلِّ مَا شِئْتَ فَإِنَّ الصَّلَاةَ مَشْهُودَةٌ مَكْتُوبَةٌ حَتَّى تُصَلِّيَ الصُّبْحَ، ثُمَّ أَقْصِرْ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ فَتَرْتَفِعَ قِيسَ رُمْحٍ أَوْ رُمْحَيْنِ فَإِنَّهَا تَطْلُعُ بَيْنَ قَرْنَيْ شَيْطَانٍ وَتُصَلِّي لَهَا الْكُفَّارُ، ثُمَّ صَلِّ مَا شِئْتَ فَإِنَّ الصَّلَاةَ مَشْهُودَةٌ مَكْتُوبَةٌ حَتَّى يَعْدِلَ الرُّمْحُ ظِلَّهُ، ثُمَّ أَقْصِرْ فَإِنَّ جَهَنَّمَ تُسْجَرُ وَتُفْتَحُ أَبْوَابُهَا، فَإِذَا زَاغَتِ الشَّمْسُ فَصَلِّ مَا شِئْتَ فَإِنَّ الصَّلَاةَ مَشْهُودَةٌ حَتَّى تُصَلِّيَ الْعَصْرَ، ثُمَّ أَقْصِرْ حَتَّى تَغْرُبَ الشَّمْسُ فَإِنَّهَا تَغْرُبُ بَيْنَ قَرْنَيْ شَيْطَانٍ وَيُصَلِّي لَهَا الْكُفَّارُ". وَقَصَّ حَدِيثًا طَوِيلًا، قَالَ الْعَبَّاسُ: هَكَذَا حَدَّثَنِي أَبُو سَلَّامٍ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، إِلَّا أَنْ أُخْطِئَ شَيْئًا لَا أُرِيدُهُ، فَأَسْتَغْفِرُ اللَّهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ.

د عمرو بن عبسة السلمي نه روايت دی هغه ويلي دي ما وويل اى د الله رسوله د شپې کومه حصه ډېره د قبولتيا والا ده؟ هغه وفرمايل: اخيرنی حصه. مونځ پکې وکړه څومره چې دې خوښه وي، ځکه د دغه وخت مونځ ته ملائکي حاضرېږي او ليکلی شي، تردې چې د سحر مونځ وکړې، بيا بند شه تردې چې نمر راوخېژي، او اوچت شي په اندازه د غشي باندې، ځکه دا راخيژي په مينځ د دوه ښکرونو د شيطان کې. او دی ته کفار مونځ کوي. بيا مونځ کوه څومره چې ستا خوښه وي، بېشکه مونځ ته ملائکي حاضرېږي او ليکلی شي، تردې چې غشی د خپل سورې سره برابر شي، بيا بند شه، بېشکه جهنم ګرمولی شي. او کولاوولی شي دروازې د هغې، کله چې نمر مائل شي. نو مونځ کوه څومره چې دې خوښه وي، ترمازيګر د مانځه پورې، بيا بند شه تردې چې نمر ډوب شي، ځکه دا ډوبېږي په دوه ښکرونو د شيطان کې، اوهغې ته کفار مونځ کوي اواوږدحديث يې بيان کړو. عباس ويلي دي دارنګه ماته ابو سلام د ابو امامة نه حديث بيان کړی دی، مګر دا چې زه پکې خطا کېږم لږ شان، هغه زما اراده نه ده، زه د الله نه بخښنه غواړم او هغه ته توبه اوکاږم

تشريح: قوله: فانها تطلع بين قرني شيطان. د دې تشريح په رومبی جلد کښې په مواقيت الصلوٰة کښې تيره شوې ده.

قوله: حتى يعدل الرُّمح ظلَّهُ، تر دې پورې چه نيزه د خپل سورې برابر شي.

شرح حديث

د دينه بظاهره مطلب دا راوځي چه د يو مثل وخت شي خو ظاهره ده چه دا مراد نهٔ دي بلکه دلته خو نصف النهار کوم ته چه استواء وائی مراد دې، د صحيح مسلم د روايت الفاظ ډېر ښکاره او واضح دې چه، حتى يستقل الظل بالرمح. د استقلال معنى ده پورته ختل يعنى د نيزې سورې په نيز باندې اوخيژی يعنى په زمکه باندې او نهٔ غورزيږی، دا د حجاز او مکه، مدينه په اعتبار سره دې چه هلته د سخت اورې په زمانه کښې د څيزونو اصلي

(۱): سنن الترمذي/الدعوات ۱۱۹ (۳۵۷۹)، (تحفة الأشراف: ۱۰۷۵۸)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/المسافرين ۵۲ (۸۳۲)، سنن النسائي/المواقيت ۳۹ (۵۸۵)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۸۲ (۱۳۶٤)، مسند احمد (۱۱۱/٤، ۱۱٤) (صحيح) دون قوله: «جوف الليل»

سورې د نصف النهار په وخت بالکل نهٔ وی بلکه د زوال نه پس سورې په زمکه باندې پریوتل شروع شی، د ابوداؤد د دې روایت مطلب به هم هغه مطلب اغستلې شی کوم چه د مسلم د روایت دې.

په حدیث کښې د رمح تخصیص بالذکر دې دپاره دې چه د عربو دخلقو عادت وو چه کله به هغوی د وخت د پیژندلو اراده کوله نو خپلې نیزې به ئې په زمکه باندې خښې کړې او بیا به ئې د هغې سوری ته کتل، په واقع کښې د دې څه تخصیص نشته دې بلکه دهر ولاړ او نیغ څیز په ذریعې سره د سورې مقدار او اندازه معلومولې شی.

[۱۲۷۸] (۱) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ، حَدَّثَنَا قُدَامَةُ بْنُ مُوسَى، عَنْ أَيُّوبَ بْنِ حُصَيْنٍ، عَنْ أَبِي عَلْقَمَةَ، عَنْ يَسَارٍ مَوْلَى ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: رَآنِي ابْنُ عُمَرَ وَأَنَا أُصَلِّي بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ، فَقَالَ: يَا يَسَارُ، إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ عَلَيْنَا وَنَحْنُ نُصَلِّي هَذِهِ الصَّلَاةَ، فَقَالَ: "لِيُبَلِّغْ شَاهِدُكُمْ غَائِبَكُمْ لَا تُصَلُّوا بَعْدَ الْفَجْرِ إِلَّا سَجْدَتَيْنِ".

د یسار نه روایت دی چې مولی د ابن عمر دی، هغه ویلي دي: زه ابن عمر ولیدلم او ما مونځ کولو وروسته د ختلو د فجر نه، هغه وویل: ای یسار! بېشکه رسول الله ﷺ راووتلو مونږ ته او مونږ مونځ کولو دا مونځ، هغه وویل: ودرې روسوي حاضر ستاسو غائب ته، تاسو مونځ مه کوئ وروسته د فجر نه مګر دوه رکعاته.

تشریح: قوله: لا تصلوا بعدالفجر الا سجدتین،

د حدیث تفسیر:

د دې صحیح او معنی مراده لکه څنګه چه امام ترمذی بیان کړې ده چه، **لا تصلوا بعد طلوع الفجر الا رکعتین**، یعنی د فجر نه مراد طلوع فجر دې او د سجدتین نه مراد رکعتین دی او د رکعتین نه مراد د صبا دوه سنته دی، دلته درې احتماله عقلا نور دی کوم چه مراد نهٔ دی بلکه هغه معانی بعضې استاذانو د طلباؤ د تشحید اذهان په توګه باندې کړې دی(۱) **لا تصلوا بعد طلوع الفجر الا سجدتین،** (سجدتین لره په حقیقی معنی باندې محمول کړې شی) (۲) **لا تصلوا بعد صلوة الفجر الا سجدتین،** (سجدتین په حقیقی معنی(۳) **لا تصلوا بعد صلوة الفجر الا رکعتین** (د سجدتین نه مراد رکعتین شی. ذکرت هذه المعانی الاربعة فی الکوکب الدری

[۱۲۷۹] (۲) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْأَسْوَدِ، وَمَسْرُوقٍ، قَالَا: نَشْهَدُ عَلَى عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّهَا قَالَتْ: "مَا مِنْ يَوْمٍ يَأْتِي عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا صَلَّى بَعْدَ الْعَصْرِ رَكْعَتَيْنِ".

د اسود او مسروق نه روایت دی، دواړو ویلي دي: مونږ ګواهي کوو په عائشې باندې چې

[1]: سنن الترمذي/الصلاة ۱۹٤ (٤١٩)، سنن ابن ماجه/المقدمة ۱۸ (۲۳٥)، (تحفة الأشراف: ۸٥۷۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۲۳، ٥۷، ۱۰٤) (صحیح)

[2]: صحیح البخاري/المواقیت ۳۳ (٥۹۳)، والحج ۷٤ (۱٦۳۳)، صحیح مسلم/المسافرین ٥٤ (۸۳٥)، سنن النسائي/المواقیت ۳٥ (٥۷۷)، (تحفة الأشراف: ۱۷٥٦، ۱٦۰۲۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/۱۳٤، ۱۷٦)، سنن الدارمي/الصلاة ۱٤۳ (۱٤۷٤) (صحیح)

هغې ویلي دي: نشته دی هېڅ یوه ورځ چه راتلله به په رسول الله ﷺ باندې مګر هغه به دوه رکعاته مونځ کولو وروسته د مازیګر نه.

[۱۲۸۰] (¹) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ سَعْدٍ، حَدَّثَنَا عَمِّي، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنِ ابْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَطَاءٍ، عَنْ ذَكْوَانَ مَوْلَى عَائِشَةَ، أَنَّهَا حَدَّثَتْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يُصَلِّي بَعْدَ الْعَصْرِ، وَيَنْهَى عَنْهَا، وَيُوَاصِلُ وَيَنْهَى عَنِ الْوِصَالِ".

د ذکوان نه روایت دی چې مولی د عائشې دی، هغې ورته حدیث بیان کړی دی، بېشکه رسول الله ﷺ وو چې مونځ کولو وروسته د مازیګر نه. او منع یې کوله د هغې نه. او وصال یې کولو په روژو کې، او منع یې کوله د وصال نه.

قوله، کان یصلی بعدالعصر و ینهی عنها، معلومه شوه چه د مازیګر نه پس مونځ د حضور ﷺ خصوصیت دې او منع د امت په حق کښې ده.

باب الصَّلاَةِ قَبْلَ الْمَغْرِبِ

باب دی په بیان د مونځ کې مخکې د ماښام نه

د رکعتین قبل المغرب په روایتی حیثیت سره ثبوت:

د رکعتین قبل المغرب یعنی د ماښام نه وړاندې دوه رکعاته کولو مسئله هم موجب د خلجان یعنی د تردد او فکر ده د بخاری او مسلم وغیره په احادیث صحیحه کښې د ماښام نه وړاندې دوه رکعاته کولو امر راغلي دي خو د دې باوجود نۀ د حضور ﷺ نه په مشهور روایاتو کښې د دې کول ثابت دی او نۀ د اکابر صحابه کرامو نه بلکه حضرت ابن عمر رضی الله عنه خو لکه څنګه چه وړاندې په کتاب کښې راروان دی ښکاره انکار فرمائیلي دې چه ما د حضور ﷺ په زمانه کښې د ماښام نه وړاندې دوه رکعاته کولو باندې هیڅوک نۀ دی لیدلی، البته په صحیح د ابن حبان کښې او پهسنن سعید ابن منصور کښې د عبدالله بن مغفل نه روایت دې چه دوی د ماښام نه وړاندې دوه رکعاته کړې دی دغه شان په دې باب کښې د حضرت انس رضی الله عنه روایت دې چه ما د حضور ﷺ په زمانه کښې قبل المغرب رکعتین کړې وو په دې باندې شاګرد ترینه تپوس اوکړو چه آیا حضور ﷺ تۀ په مونځ کولو باندې لیدلې وې وئی فرمائیل آو لیدې ئې ووم خو دوئ مونږ ته نۀ د دې امر فرمائیلې وو او نۀ ئې نهی فرمائیلې وه، دغه شان د متفق علیه(بخاری او مسلم) روایت دې چه حضرت انس رضی الله عنه فرمائی چه کله به د ماښام آذان شروع شو نو، قام ناس من اصحاب النبی صلی الله علیه وسلم یبتدرون السواری، نو په صحابه کرامو کښې به څۀ خلق د ستنو طرف ته جلتی کوله دې د پاره چه د مونځ اودریدلو نه وړاندې دوه رکعاته اوکړی، د روایت د سیاق نه دا معلومیږی چه اکابر او مشاهیر صحابه کرامو به داسې نۀ کول لکه څنګه چه د ناس د لفظ نه واضحه ده، او زما په ذهن کښې دا راځی چه هغه به داسې کسان وو لکه څنګه چه به یو بل روایت کښې راځی، فخرج سرعان الناس یقولون قصرت الصلوة قصرت الصلوة، دغه

¹): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۶۰۷۹) (ضعیف)

شان په کوم روایت کښې چه د دې امر راغلې دې هلته دوئ دا ارشاد، لمن شاء، هم فرمائیلې دې چه د چا زړهٔ غواړی، د ثواب او فضیلت ذکر او د ترغیب کوم اړخ ئې نهٔ دې اختیار کړې نو معلومه شوه چه دا دوه رکعاته صرف مرخص فیه دی یعنی په دې کښې رخصت ورکړې شوې دې مندوب او مرغوب فیه نهٔ دی.

ما ته یادیږی چه په بعضې حواشی کښې ما لیدلې وو چه د رکعتین قبل المغرب کوم امر چه په بعضې روایتونو کښې راغلې دې هغه څه مستقل حکم نهٔ دې بلکه د دې تعلق د نهی عن الصلوة بعدالعصر سره دې او مقصد د حضور ﷺ دا دې چه د مازیګر نه پس چه د تطوع کومه نهی ده هغه په غروب باندې ختمیږی البته د غروب نه پس که څوك نفل کول غواړی نو کولې شی خپل شوق پوره کولې شی(اګر که خلاف اولیٰ ده).

د دې مونځ په حقله د فقهاء اقوال:

احقر وائی هم دا وجه ده چه په ائمه اربعه کښې څوك هم د دې د استحباب قائل نهٔ دی لکه څنګه چه د فقه د فروعې کتابونو نه معلومیږی(کما فی هامش الکوکب الدری) اګر که امام ترمذی د امام احمد نه د دې استحباب نقل کړې دې خو حضرت شیخ په حاشیه د کوکب کښې لکې چه د حنابله د کتابونو نه صرف اباحت معلومیږی استحباب نهٔ.

[۱۲۸۱](۱)حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ الْحُسَيْنِ الْمُعَلِّمِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ الْمُزَنِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "صَلُّوا قَبْلَ الْمَغْرِبِ رَكْعَتَيْنِ"، ثُمَّ قَالَ: "صَلُّوا قَبْلَ الْمَغْرِبِ رَكْعَتَيْنِ لِمَنْ شَاءَ" خَشْيَةَ أَنْ يَتَّخِذَهَا النَّاسُ سُنَّةً.

د عبد الله بن المزنی نه روایت دی هغه ویلې دي، رسول الله ﷺ فرمایلې دي: مونځ وکړئ مخکې د ماښام نه دوه رکعاته. بیایې وویل مونځ وکړئ مخکې د ماښام نه دوه رکعاته د چا چې خوښه وي، د وجې د ویرې نه چې خلق یې سنت مستمره ونه ګرځوي.

[۱۲۸۲](۲)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيمِ الْبَزَّازُ، أَخْبَرَنَا سَعِيدُ بْنُ سُلَيْمَانَ، حَدَّثَنَا مَنْصُورُ بْنُ أَبِي الْأَسْوَدِ، عَنْ الْمُخْتَارِ بْنِ فُلْفُلٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: صَلَّيْتُ الرَّكْعَتَيْنِ قَبْلَ الْمَغْرِبِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: قُلْتُ لِأَنَسٍ: أَرَآكُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَ: "نَعَمْ رَآنَا" فَلَمْ يَأْمُرْنَا وَلَمْ يَنْهَنَا".

د انس بن مالک نه روایت دی هغه ویلې دي ما دوه رکعاته مونځ وکړو مخکې د ماښام نه په زمانه د رسول الله ﷺ کې، هغه وایې ما وویل انس ته ایا تاسو رسول الله ﷺ ولیدلئ؟ هغه وویل آو، هغه مونږ ولیدلو مونږ ته یې امر ونه کړو او مونږ یې منع هم نه کړو.

[۱۲۸۳](۳)حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ عُلَيَّةَ، عَنْ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ،

---

(۱): صحيح البخاري/التهجد ۳۵ (۱۱۸۳)، والاعتصام ۲۷ (۷۳٦۸)، (تحفة الأشراف: ۹٦٦۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۵۵/۵) (صحيح)

(۲): صحيح مسلم/المسافرين ۵۵ (۸۳٦)، (تحفة الأشراف: ۱۵۷٦) (صحيح)

(۳): صحيح البخاري/الأذان ۱٤ (٦۲٤)، ۱٦ (٦۲۷)، صحيح مسلم/المسافرين ۵٦ (۸۳۸)، سنن الترمذي/الصلاة ۲۲ (۱۸۵)، سنن النسائي/الأذان ۳۹ (٦۸۲)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۱۰ (۱۱٦۲)، (تحفة الأشراف: ۹٦۵۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۸٦/٤، ۵٤/۵، ۵٦، ۵۷)، سنن الدارمي/الصلاة ۱٤۵ (۱٤۸۰) (صحيح)

عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مُغَفَّلٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "بَيْنَ كُلِّ أَذَانَيْنِ صَلَاةٌ، بَيْنَ كُلِّ أَذَانَيْنِ صَلَاةٌ لِمَنْ شَاءَ".

د عبد الله بن مغفل نه روايت دی هغه ويلي دي چي رسول الله ﷺ ويلي دي په مابين د هر دوه اذانونو کې مونځ دی، په مابين د هر دوه اذانونو کې مونځ دی د چا چې خوښه وي.

د حنفيانو په نيز په دې کښې دوه قوله دی صاحب درمختار وغيره خو د کراهيت قول اختيار کړې دې او په بذل المجهود کښې د حضرت سهارنپوري ميلان هم دې طرف ته دې او شيخ ابن الهمام اباحت لره ترجيح ورکړې ده او دا چه د کراهيت هيڅ وجه نشته دې د حضرت اقدس گنگوهی رائې هم د اباحت ده په دې شرط چه تکبير اولی ترينه فوت نهٔ شی (۱)

او بعضې صحابه کرام او تابعين د کومو نومونه چه صاحب منهل دا ليکلې دی، عبدالرحمن بن عوف، ابی بن کعب، انس، جابر، عبدالرحمٰن بن ابی ليلی ﷺ، حسن بصری، اسحاق رحمهما الله، د دې رکعتينو د استحباب قائل دی، امام نووی په شرح د مسلم کښې په صفحه ۲۷۸، کښې د دې رکعتينو هم د استحباب ترجمه قائمه کړې ده. وړاندې هغوی فرمائی چه په دې کښې زمونږ د اصحابو دوه قوله دی اشهر القولين دا دې چه مستحب نهٔ دی، او اصح القولين عند المحققين دا دې چه مستحب دی، او ليکلي ئې دی چه په سلفو کښې هم د دې دوه جماعتونه دی کوم جماعت چه د عدم استحباب قائل دې په هغوی کښې د خلفاء راشدينو نومونه ئې ليکلي دی، دامام مالك او اکثرو فقهاؤ ئې هم دا مسلك ليکلې دې خو په خپله د امام نووی رائې د استحباب ده.

عن عبدالله بن مغفل قال قال رسول الله صلي الله عليه وسلم بين كل آذانين صلوة، الخ، په دې کښې تغليب دې مراد آذان او اقامت دې تغليباً ئې آذانين اوفرمائيل لکه څنګه چه وائی شمسين، قمرين وغيره، دا حديث متفق عليه دې دامام بخاری او مسلم دواړو د دې تخريج کړې دې کوم علماء چه په مابنام کښې د آذان او اقامت په مينځ کښې د نفلو قائل دی د هغوی خو دا حديث دليل دې او په خپل عموم باندې دې او کوم علماء چه د دې قائل نهٔ دی هغوی وائی چه حضور ﷺ داسې تغليباً فرمائيلي دی(۲) يا للاكثر حكم الكل. په طور باندې او دويم جواب هغوی دا ورکوئ چه په مسند بزار، بيهقی، دار قطنی کښې دالا المغرب استثناء ذکر ده. خو دا د استثناء واله روايت ضعيف دې، حيا بن عبيد الله په دې استثناء سره متفرد دې. او يا به دا اووئيلې شی چه دا حديث په پنځونو مونځونو کښې د څلورو په حق کښې خو په استحباب او ترغيب باندې محمول ده او د مابنام د مانځه په حق کښې په جواز باندې محمول دې څکه چه جواز خو په هر حال کښې هم په مابنام کښې دې. والله تعالی اعلم

---

(۱) په کوکب کښې دغه شان دی خو په لامع الدراري کښې حضرت د دې رکعتينو استحباب لره منلې دې او دا چه د حضور ﷺ نه د دې ثبوت فعلاً خو نشته دې خو قولاً او تقريراً شته دې او د حضرت په يو تقرير کښې د دې تصريح ده چه که کوم سړې په جلتئ سره دا دوه رکعاته کولې شی نو مستحب ده(حاشيه لامع) په کوکب کښې دا هم ليکلي دی چه عدم روية، د عدم وجود دليل نهٔ دې، دا د ابن عمر ﷺ حديث طرف ته اشاره ده(۱۲)

(۲) نو گويا په دې حديث کښې دوه تغليبه دی يو من حيث اللفظ و التعبير او دويم من حيث الحكم(۱۲)

[١٢٨٤]()حَدَّثَنَا ابْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي شُعَيْبٍ، عَنْ طَاوُسٍ، قَالَ: سُئِلَ ابْنُ عُمَرَ عَنِ الرَّكْعَتَيْنِ قَبْلَ الْمَغْرِبِ، فَقَالَ: مَا رَأَيْتُ أَحَدًا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيهِمَا، وَرَخَّصَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ. قَالَ أَبُو دَاوُد: سَمِعْت يَحْيَى بْنَ مَعِينٍ يَقُولُ هُوَ شُعَيْبٌ يَعْنِي وَهِمَ شُعْبَةُ فِي اسْمِهِ.

د طاوس نه روایت دی، هغه ویلي دي. تپوس وشو د ابن عمر نه د هغه دوه رکعاتونو چې د ماښام نه مخکې دي، هغه وویل: ما یو کس هم د رسول الله ﷺ په زمانه کې نه دی لیدلی چې دا دواړه یې کول، او اجازت یې ورکړی دی په دوه رکعاتونو کې وروسته د مازیګر نه. ویلي دي ابوداود: ما اوریدلي دي د یحیی بن معین نه هغه ویل: هغه شعیب. یعني - وهم کړی شعبه په نوم د هغه کې

تشریح: قوله: سئل ابن عمر عن الرکعتین قبل المغرب فقال مارأیت احداً علی عهد رسول الله صلی الله علیه وسلم یصلیها،الخ، د حضرت ګنګوهي په نیز چونکه رکعتین قبل المغرب جائز بلکه مستحب دی (کما تقدم) نو ځکه حضرت فرمائی چه عدم رویة عدم وجود لره مستلزم نۀ دي او دا قاعده ده چه مثبت اولیٰ دې د نافي نه(الکوکب)

المثبت اولی من النافی قاعده مطلق نۀ ده بلکه مقید ده:

خو شیخ ابن الهمام فرمائی چه دا قاعده کلیه نۀ ده چنانچه په کوم ځائې کښې چه نفی، من جنس ما یعرف بدلیله، وی هلته هغه نفی د اثباب برابر وی ځکه چه اثبات لره په نفی باندې ترجیح د دې دپاره ده چه مثبت سره زیادت د علم دې پخلاف د نفی نه چه هغه کله بغیر د دلیل نه د ظاهر حال په اعتبار سره هم کولې شی، خو کومه نفی چه دما یعرف بدلیله د قبیلې نه وی هغه صرف د ظاهر حال په اعتبار سره نۀ وی هلته د نافي سره دلیل هم وی او د ابن عمر رضي الله عنه دا خبره چه مونږ هیڅوک هم په رکعتین کولو باندې نۀ وو لیدلی ګویا دوئ خپله مشاهده بیانوی لهذا دا خبره بغیر د دلیل نه نۀ ده ١.هـ. د ابن الهمام مقصد صرف په قاعده اصولیه باندې خبردارې ورکول دی ګینی دا وړاندې تیر شوې دی چه هغوی د دې رکعتینو د اباحت قائل دی.

باب صَلاةِ الضُّحَى

باب دی په بیان د مونځ د څاخت کې

لغوی تحقیق:

بعضې وائی چه دا اضافت په حذف د مضاف سره دې، ای صلوة وقت الضحیٰ،خو ظاهره دا ده چه دا اضافت په معنی د فی دې، ای صلوة فی الضحیٰ، لکه څنګه چه، صلوة اللیل، ای صلوة فی اللیل.

ضحیٰ د ضحوة جمع ده لکه څنګه چه قریٰ د قریة. ضحی د یو مخصوص وخت نوم دې یعنی د نمر د پورته کیدلو وخت، د دې وخت نه واخلی تر الی قبیل نصف النهار، خو د دې

١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٧١٠٤) (ضعیف)

مونځ غوره وخت د ربع النهار نه پس دي كما في الدر المختار وغيره.
بعضې علماؤ دا ليكلي دی چه تر ربع النهار پورې د ضحوه صغرى وخت دې او د ربع النهار نه تر نصف النهار پورې دې ته ضحوة كبرى وئيلې كيږى.

د صلوة الضحى په حقله د رواياتو اختلاف:

د دينه پس دا ځده كړئ چه د صلوة الضحى په سلسله كښې د احاديثو په رواياتو كښې ډير اختلاف دې نفيا هم او اثباتا هم، لكه څنګه د باب روايتونو ته كتلو نه به اندازه اوشى، د صلوة الضحى روايات په صحاح سته كښې موجود دى او ټولو مصنفينو د دې دپاره بابونه قائم كړې دى، امام بخارى هم د دې متعلق ګڼړ بابونه قائم كړې دى البته امام نسائى د دې دپاره څه باب نۀ دې قائم كړې اګر چه روايات په نسائى كښې هم موجود دى.
عبدالرحمن بن ابى ليلى فرمائى چه ما ته هيڅ يو صحابى دا نۀ دى بيان كړى چه حضور ﷺ به صلوة الضحى كول سواء د ام هانى نه چه هغوى اوفرمائيل چه حضور ﷺ د فتح مكې په ورځ د دې اتۀ ركعاته كړې وو دغه شان حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائى چه ما حضور ﷺ په صلوة الضحى كولو باندې نۀ دې ليدلې البته زۀ ئې په خپله كوم، دا دواړه روايتونه په صحيح بخارى كښې دى، په صحيح مسلم كښې دى چه حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائى چه حضور ﷺ به د صلوة الضحى څلور ركعاته كول، و يزيد ماشاء الله، وړاندې په يو روايت كښې راځى چه د حضرت عائشه رضي الله عنها نه سوال اوكړې شو چه آيا حضور ﷺ به صلوة الضحى كول، قالت لا الا ان يجي من مغيبه، يعنى كه حضور ﷺ به د ضحى يعنى ساختى په وخت كښې د خپل كوم سفر نه واپس تشريف راوړلو نو بيا به ئې كول، دا روايت په صحيح مسلم كښې هم دې دا يو څو روايتونه د نمونې په توګه باندې ليكلې شوې دى.

د رواياتو د اختلاف توجيهات:

علماؤ د دې اختلاف مختلف توجيهات فرمائيلې دى.
(۱) د اثبات تعلق د نفس صلوة سره دې او د نفى تعلق د دوام سره دې.
(۲) د نفى تعلق د وجود سره نۀ دې بلكه د رؤية سره دې چه ما نۀ دې ليدلې
(۳) د نفى تعلق د اظهار سره دې يعنى حضور ﷺ به صلوة الضحى على وجه الشهرة و الاعلان نۀ كول.
امام خطابى فرمائى چه د صلوة الضحى ثبوت د حضور ﷺ نه په تواتر سره ثابت دې د دې انكار لكه څنګه چه دبعضې علماؤ نه منقول دې صحيح نۀ دې بلكه د نفى روايتونه مؤول دى، چنانچه دلته په سنن ابوداؤد كښې په ګڼړو رواياتو كښې د دې ترغيب او فضيلت موجود دې، د صحيح بخارى په صفحه ۱۵۷، كښې دى چه ابوهريره رضي الله عنه فرمائى، اوصانى خليلى صلى الله عليه وسلم بثلاث لا ادعهن حتى اموت صوم ثلاثة ايام من كل شهر و صلوة الضحى و نوم على وتر، ابن جرير طبرى هم د دې رواياتو حد د تواتر ته رسيدل ليكلې دى، كما فى هامش اللامع، ص، ۵۲ ج ۲، حافظ ابن حجر فرمائى چه حاكم د صلوة الضحى د اثبات په حقله چه كوم روايات راغلې دى هغې لره په يو مستقل جزء كښې جمع كړې دى او د دې رواة لره

ئې تر شلو صحابه کرامو پورې رسولي دي

په صلوٰة الضحی کښې د فقهاء اقوال

حافظ فرمائي چه ابن قیم په دې کښې د علماؤ شپږ اقوال ذکر کړې دي، حضرت شیخ لیکلي دي چه ائمه اربعه د دې په استحباب باندې متفق دي، خو په تاکد او عدم تاکد یعنی په مؤکد او غیر مؤکد کښې اختلاف دې، د امام شافعي او مالك په نیز مستحب علی التاکد دي، د حنفیانو په نیز مستحب دي خو بلا تاکد، د امام احمد په نیز مستحب دي بغیر د دوام او مواظبة نه یعنی کله کله مستحب دي، د ابن عمر رضی الله عنه په نیز باندې بدعت دې. و قیل لا یشرع الا بسبب (کله چه څۀ خاص واقعه یا نوې خبرې راپیښه شي لکه څنګه چه حضور ﷺ د فتح مکې په ورځ باندې کړې وو)

د صلوٰة الاشراق تحقیق

د دې نه پس زده کړئ چه عام طور باندې فقهاء او محدثین صرف صلوٰة الضحی ذکر کوي هم د دې باب تړې صلوٰة الاشراق نۀ ذکر کوي د مشایخ سلوك او صوفیاء کرامو په نیز دا دوه مونځونه دي یو صلوٰة الاشراق کوم چه د نمر پورته کیدو نه تر ربع نهار پورې کولې شي او دویم صلوٰة الضحی د کوم چه غوره وخت د ربع النهار نه تر نصف النهار نزدې پورې دې.په احیاء العلوم او د دې په شرح کښې د دې دواړو مونځونو تصریح موجوده ده چه د حضور ﷺ نه دواړه مونځونه کول ثابت دي او د دې اصل او دلیل د حضرت علی رضی الله عنه هغه مرفوع حدیث دې کوم چه دجامع ترمذي په شمائل ترمذي او نسائي کښې موجود دې، کان رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا کانت الشمس من ههنا کهیئتها من ههنا عند العصر صلی رکعتین و اذا کانت الشمس من ههنا کهیئتها من ههنا عند الظهر صلی اربع رکعات، یعنی چه کله به نمر د صبا په وخت کښې د مشرق په اړخ کښې دومره پورته شو لکه څومره چه د مازیګر په وخت کښې د مغرب په اړخ کښې وي نو دغه وخت به دوئ دوه رکعاته کول(دا خو شو د اشراق مونځ) او کله به چه نمر د مشرق په اړخ کښې دومره پورته شو لکه څومره چه د مغرب په اړخ کښې د ماسپخین په وخت کښې وي نو دغه وخت به حضور ﷺ څلور رکعاته کول(دا شو صلوٰة الضحی یعنی د ساختې مونځ)

حضرت شیخ خو هم دا فرمائي چه د محدثینو په نیز دا دوه جدا مونځونه نۀ دي، د صوفیاء په نیز دي خو په لمعات شرح د مشکوٰة کښې شیخ عبدالحق محدث دهلوی رحمه الله په دې باندې بحث فرمائیلې دې هغه لیکي چه د خلقو په مینځ کښې دا خو دوه مونځونه متعارف دي یو د نمر د نیزې یا دوه نیزو په اندازه پورته کیدلو په وخت کوم ته چه صلوٰة الاشراق وائي او دویم مونځ په ربع النهار کښې کوي کوم ته چه صلوٰة الضحی وائي اکثرو احادیثو کښې په دې دواړو مونځونو باندې هم د صلوٰة الضحی اطلاق کړې شوې دې او په بعضې احادیثو کښې په دې باندې د صلوٰة الاشراق اطلاق هم شوې دې کوم لره چه علامه سیوطی رحمه الله په، جمع الجوامع، کښې د طبراني په حواله سره روایت کړې دې چه حضور ﷺ ام هانی ته د دې حدیث نه پس(ابن آدم اضمن لی رکعتین اول النهار اکفك اخره)اوفرمائیل، یا ام هانی

هذه صلوة الاشراق، او شیخ علی متقی خو د، جمع الجوامع، په ترتیب (کنز العمال) کښې د صلوة الاشراق په عنوان سره یو مستقل باب منعقد کړې دې. خو بیا وړاندې صاحب لمعات خپله رائې داسې لیکی چه فی الواقع دا مستقل دوه مونځونه نهٔ دی بلکه صحیح صورت حال دا دې چه حضور ﷺ کله دا مونځ په دې وخت (اول النهار) کښې کړې دې او کله په هغه وخت (ربع النهار) کښې کړې وو نو ځکه بعضې خلقو دا اوګنړله چه دا دوه جدا جدا مونځونه دی، انتهٰی کلامه.([1]) د دینه بظاهر دا ملعومیږی چه دحضرت علی متقی صاحب د کنز العمال په نیز دا دوه مونځونه دی اګر که حضرت شیخ عبدالحق محدث دهلوی لره دې سره اتفاق نشته دې، یصبح علی کل سلامٰی من ابن آدم، (و فی روایة من احدکم) صدقة،الخ،

[۱۲۸۵](۲)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، عَنْ عَبَّادِ بْنِ عَبَّادٍ. ح حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ الْمَعْنَى، عَنْ وَاصِلٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ عُقَيْلٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ يَعْمَرَ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "يُصْبِحُ عَلَى كُلِّ سُلَامَى مِنَ ابْنِ آدَمَ صَدَقَةٌ تَسْلِيمُهُ عَلَى مَنْ لَقِيَ صَدَقَةٌ، وَأَمْرُهُ بِالْمَعْرُوفِ صَدَقَةٌ، وَنَهْيُهُ عَنِ الْمُنْكَرِ صَدَقَةٌ، وَإِمَاطَتُهُ الْأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ صَدَقَةٌ، وَبُضْعَةُ أَهْلِهِ صَدَقَةٌ، وَيُجْزِءُ مِنْ ذَلِكَ كُلِّهِ رَكْعَتَانِ مِنَ الضُّحَى". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَحَدِيثُ عَبَّادٍ أَتَمُّ، وَلَمْ يَذْكُرْ مُسَدَّدٌ الْأَمْرَ وَالنَّهْيَ، زَادَ فِي حَدِيثِهِ، وَقَالَ: كَذَا وَكَذَا، وَزَادَ ابْنُ مَنِيعٍ فِي حَدِيثِهِ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَحَدُنَا يَقْضِي شَهْوَتَهُ وَتَكُونُ لَهُ صَدَقَةٌ؟ قَالَ: "أَرَأَيْتَ لَوْ وَضَعَهَا فِي غَيْرِ حِلِّهَا أَلَمْ يَكُنْ يَأْثَمُ؟".

د ابوذر رضی الله عنه نه روایت دی هغه ویلي دي: صباح کوي په هر یو اندام د ابن ادم باندې صدقه، سلام د هغه په هغه چا چې دا ورسره مخامخ شي صدقه ده، او امر د هغه په نیکۍ باندې صدقه ده، او نهي د هغه د منکر نه صدقه ده، او ضرري شی د لارې نه لرې کول صدقه ده، او کوروالی د هغه د خپل اهل سره صدقه ده، او کافي کیږي د دې ټولو نه دوه رکعاته د څاښت په وخت کې. ویلي دي ابوداود: او حدیث عباد اتم دی، او مسدد امر نه دی ذکر کړی، او نهي. هغه زیادت کړی دی په خپل حدیث کې: او هغه ویلي دي داسې داسې، او زیادت کړی دی ابن منیع په خپل حدیث کې: هغوی وویل: ای د الله رسوله! یو کس زمونږ نه خپل شهوت پوره کوي او د هغه دپاره دې صدقه وي، هغه وفرمایل: ایا تاته پته ده که چېرې هغه کېږدوه هغه په حرامو کې ایا نه ګناهګار به وي

شرح حدیث

صدقةٌ په ترکیب کښې د یصبح اسم دې او جار مجرور سره د خپل متعلق نه د دې خبر دې، ای یصبح الصدقة واجبة علی کل سلامیٰ. سلامی د سلامیة جمع ده، سلامیة په معنی د انمله، (د ګوتې بند) یعنی روزانه په تاسو کښې په هر یو سړی باندې د دهٔ د جوړونو او بندونو د طرف نه صدقه واجبیږی، مطلب دا دې چه د سړی په بدن کښې لکه څنګه چه مشهوره ده دري سوه شپیتهٔ جوړونه دی او روزانه هر سړی د ټولو اعضاؤ او جوړونو د

---

[1]) احقر په لمعات کښې دا مضمون د حضرت شیخ د وصال نه پس لیدلي وو، که د شیخ په ژوند کښې مې لیدلي وې نو په دې به مې خبری کړې وې یقینا ډیر په محظوظ شوي شو، یغفر الله لنا و له، دا مضمون په الفیض السمائي کښې هم لیکلي شوي دې).

[2]): صحیح مسلم/المسافرین ۱۳ (۷۲۰)، (تحفة الأشراف: ۱۱۹۲۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۵/۱۶۷، ۱۶۸) (صحیح)

سلامتیا سره صبا کوي پس د دې لوئې نعمت په شکر کښې په هر بنده باندې د دهٔ د اعضاؤ د طرف نه روزانه صدقه واجبيږي. اوس دلته دا سوال کيږي چه په هر سړي کښې دومره طاقت کوم خائې دې چه روزانه دې درې سوه شپيتهٔ صدقې اوکړي، نو د دې دپاره حضور ﷺ ارشاد اوفرمائيلو چه، تسليمه على من لقى صدقة و امره بالمعروف صدقة،الخ، غرض هره نيکي صدقه ده او د ثابتني وخت دوه رکعاته مونځ د دې ټولو صدقو دپاره کافي دې(د دې قائم مقام دې) ځکه چه مقصد خو د هر اندام او د جوړ د طرف نه د الله تعالى په دهٔ باندې چه کوم حق واجب دې د هغې ادا کول دی، او مونځ کښې چونکه د بدن هر اندام او جوړ د الله تعالى په اطاعت کښې متحرك کيږي نو ځکه د ټولو اندامونو د طرف نه واجب حق کيږي.

[۱۲۸٦]()حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، أَخْبَرَنَا خَالِدٌ، عَنْ وَاصِلٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ عُقَيْلٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ يَعْمَرَ، عَنْ أَبِي الْأَسْوَدِ الدُّؤَلِيِّ، قَالَ: بَيْنَمَا نَحْنُ عِنْدَ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: يُصْبِحُ عَلَى كُلِّ سُلَامَى مِنْ أَحَدِكُمْ فِي كُلِّ يَوْمٍ صَدَقَةٌ، فَلَهُ بِكُلِّ صَلَاةٍ صَدَقَةٌ، وَصِيَامٍ صَدَقَةٌ، وَحَجٍّ صَدَقَةٌ، وَتَسْبِيحٍ صَدَقَةٌ، وَتَكْبِيرٍ صَدَقَةٌ، وَتَحْمِيدٍ صَدَقَةٌ، فَعَدَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ هَذِهِ الْأَعْمَالِ الصَّالِحَةِ، ثُمَّ قَالَ: "يُجْزِءُ أَحَدَكُمْ مِنْ ذَلِكَ رَكْعَتَا الضُّحَى".

د ابو الاسود الدؤلي نه روايت دى هغه وايي دي يو ځل مونږ وو د ابوذر سره، هغه وويل صباح کوي په هر يو اندام د يو کس ستاسو نه صدقه، د هغه دپاره په هر مانځه باندې صدقه ده، او په روژه باندې صدقه ده، او په حج باندې صدقه ده، او په تسبيح باندې صدقه ده، او په تکبير ويلو باندې صدقه ده، او په تحميد ويلو باندې صدقه ده، رسول الله ﷺ داسي اعمال نيک اعمال وشمارل، بيايي وويل کافي کيږي د يو کس نه ستاسو دپاره دوه رکعاته د څاخت.

[۱۲۸۷]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ الْمُرَادِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَيُّوبَ، عَنْ زَبَّانَ بْنِ فَائِدٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ الْجُهَنِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ قَعَدَ فِي مُصَلَّاهُ حِينَ يَنْصَرِفُ مِنْ صَلَاةِ الصُّبْحِ حَتَّى يُسَبِّحَ رَكْعَتَيِ الضُّحَى لَا يَقُولُ إِلَّا خَيْرًا، غُفِرَ لَهُ خَطَايَاهُ وَإِنْ كَانَتْ أَكْثَرَ مِنْ زَبَدِ الْبَحْرِ".

سهل بن معاذ بن انس الجهني د خپل پلار نه روايت کوي، بېشکه رسول الله ﷺ ويلي دي هغه څوک چې خپل د مانځه په ځای کې کيني کله چې د سحر مونځ وکړي تردې چې دوه رکعاته د څاخت مونځ وکړي، وينا نه کوي مګر د خير، نو هغه ته به بخښنه وشي د هغه د ګناهونو، اګر که وي زيات د زګ د درياب نه.

[۱۲۸۸]()حَدَّثَنَا أَبُو تَوْبَةَ الرَّبِيعُ بْنُ نَافِعٍ، حَدَّثَنَا الْهَيْثَمُ بْنُ حُمَيْدٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ الْقَاسِمِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "صَلَاةٌ فِي إِثْرِ صَلَاةٍ لَا لَغْوَ بَيْنَهُمَا كِتَابٌ فِي عِلِّيِّينَ".

د ابو امامة رضي الله عنه نه روايت دی بېشکه رسول الله ﷺ ويلي دي مونځ وروسته د مانځه نه چې لغوه پکې نه وي، ليکلی شي په عليين کې.

---

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١١٩٢٨) (صحيح)

[2]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١١٢٩٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٣٩/٣) (ضعيف)

[3]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٤٩٠٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٦٣/٥) (حسن)

عن ابی امامة ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال صلوة في اثر صلوة لا لغو بینهما کتاب في علیین، دیو مونځ نه پس دبل مونځ (که نفل نه پس فرض وی یا د دې برعکس) په دې شان سره کول چه د دې دواړو په مینځ کښې هغه مونځ کونکې څه لغوه او بې فائدې خبرې یا کار او نه کړي نو دا مقبول ترین عمل دې، کتاب په معنی د مکتوب او علیین د هغه رجسټر نوم دې په کوم کښې چه د ابرار یعنې نیکانو خلقو نیک عمل لیکلې کیږي، او بعضې دا وائی چه دا د یو ځائې نوم دې په اووم آسمان باندې د عرش د لاندې. دلغو نه مراد نامناسب قول یا فعل په کوم کښې چه ثواب او فائده نهٔ وی (منهل)

مناسبة الحدیث بالترجمة:

د دې حدیث د باب سره مناسبت داسې دې چه دا مختصر دې او مطول حدیث په مسند احمد کښې دې، په هغې کښې. دسبحة الضحیٰ، ذکر دې (بذل) احقر وائی چه دا حدیث په دې سند سره په سنن ابوداؤد کښې د ابواب الجماعة د لاندې په. باب ماجاء في فضل المشي الی الصلوة، کښې تیر شوې دې په هغې کښې، دتسبیح الضحیٰ، لفظ ذکر دې.

د دې حدیث شریف نه ملعومه شوه چه دفضول کار او لغوه خبرې اثر د انسان په نیک عمل باندې پریوځی، او د نیک عمل په قبلیدلو کښې دا ځیزونه بندیز ثابتیږي. لهذا د لغوه خبرو نه په ځان ساتلو سره د نیک عمل حفاظت کول پکار دی. والله الموفق.

[۱۲۸۹](۱) حَدَّثَنَا دَاوُدُ بْنُ رُشَيْدٍ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ، عَنْ مَكْحُولٍ، عَنْ كَثِيرِ بْنِ مُرَّةَ أَبِي شَجَرَةَ، عَنْ نُعَيْمِ بْنِ هَمَّارٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "يَقُولُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: يَا ابْنَ آدَمَ، لَا تُعْجِزْنِي مِنْ أَرْبَعِ رَكَعَاتٍ فِي أَوَّلِ نَهَارِكَ أَكْفِكَ آخِرَهُ".

د ابو امامة رضی الله عنه نه روایت دی بیشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: مونځ وروسته د مانځه نه چې لغوه پکې نه وي، لیکلی شي په علیین کې.

(تعارف د راوی)

قوله، عن نعیم بن همّار قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول قال الله عزوجل ابن آدم لا تعجزنی من اربع رکعات فی اول نهارك اکفك آخره، نعیم بن همار صحابی دې او د دوئ په نوم کښې اختلاف دې بعضې وائی چه نعیم بن همار و قیل نعیم بن خمّار و قیل ابن هبّار، و قیل ابن همام والصیح ابن همّار، (کذا قاله الترمذی) ترجمه دا ده. اې ابن آدم تهٔ مهٔ فوت کوه زما نه څلور رکعاتو لره په خپل اول د ورځې کښې زهٔ به ستا کفایت اوکړم ستا په ضرورتونو او حاجتونو کښې تر آخر د ورځې پورې، کله چه د کوم سړی نه څهٔ کار نهٔ شی کیدلې او ترینه فوت شی نو هغه وخت وئیلې کیږي، اعجزه الامر، یعنی د دهٔ نه دا کار فوت شو (۲)

په دې حدیث کښې چه د کومو څلور رکعاتو ذکر دې د دینه د صبا سنت او فرض هم مراد اغستلې شی او د څاښتی څلور رکعات هم، مصنف دویمه معنی مراد اغستې ده.

(۱): تفرد به ابوداود، سنن النسائي/الكبری الصلاة ٦٠ (٤٦٦، ٤٦٧)، (تحفة الأشراف: ١١٦٥٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٨٦/٥، ٢٨٧)، سنن الدارمي/الصلاة ١٥٠ (١٤٩٢) (صحيح)

(۲) دې سړی لره فلانکی کار عاجزه کړلو اوهغه کار د دهٔ په قابو کښې رانغلو بلکه ترینه فوت شولو.

[۱۲۹۰]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، وَأَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ السَّرْحِ، قَالَا: حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنِي عِيَاضُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ مَخْرَمَةَ بْنِ سُلَيْمَانَ، عَنْ كُرَيْبٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ أُمِّ هَانِئٍ بِنْتِ أَبِي طَالِبٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْفَتْحِ "صَلَّى سُبْحَةَ الضُّحَى ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ يُسَلِّمُ مِنْ كُلِّ رَكْعَتَيْنِ". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: قَالَ أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "صَلَّى يَوْمَ الْفَتْحِ سُبْحَةَ الضُّحَى" فَذَكَرَ مِثْلَهُ. قَالَ ابْنُ السَّرْحِ: إِنَّ أُمَّ هَانِئٍ، قَالَتْ: "دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَذْكُرْ سُبْحَةَ الضُّحَى بِمَعْنَاهُ".

د ام هانئ بنت ابي طالب نه روايت دی، ببشکه رسول الله ﷺ د فتحي مکه په ورځ وېي کړو نفل د څاښت اته رکعاته، سلام به يې اړولو په هر دوه رکعاتو. ويلي دي احمد بن صالح: ببشکه رسول الله ﷺ د فتحي په ورځ د څاښت مونځ وکړو. ذکر يې کړو پشان د هغې، ويلي دي ابن السرح: ببشکه ام هانئ ويلي دي: داخل شو په ما باندې رسول الله ﷺ او ذکر يې نه کړو نفل د څاښت، په معنی د هغې سره.

[۱۲۹۱]()حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى، قَالَ: مَا أَخْبَرَنَا أَحَدٌ أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى الضُّحَى غَيْرُ أُمِّ هَانِئٍ، فَإِنَّهَا ذَكَرَتْ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ "اغْتَسَلَ فِي بَيْتِهَا وَصَلَّى ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ فَلَمْ يَرَهُ أَحَدٌ صَلَّاهُنَّ بَعْدُ".

د ابن ابي ليلى نه روايت دی، هغه ويلي دي: مونږ ته هېڅا خبر نه دی راکړی چې هغه نبي ﷺ ليدلی دی او د څاښت مونځ يې کړی دی بغير د ام هانئ نه، هغې ذکر کړی دی چې نبي ﷺ د فتح مکه په ورځ غسل وکړو د هغې په کور کې، او اته رکعاته مونځ يې وکړو، بيا هېڅا نه دی ليدلی چې هغه يې کړي دي وروسته.

[۱۲۹۲]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا الْجُرَيْرِيُّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَقِيقٍ، قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ "هَلْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الضُّحَى؟ فَقَالَتْ: لَا، إِلَّا أَنْ يَجِيءَ مِنْ مَغِيبِهِ، قُلْتُ: هَلْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرِنُ بَيْنَ السُّورَتَيْنِ؟ قَالَتْ: مِنَ الْمُفَصَّلِ".

د عبد الله بن شقيق نه روايت دی هغه ويلي دي، ما تپوس وکړو د عائشي رضي الله عنها نه ايا وو رسول الله ﷺ چې د څاښت مونځ يې کولو، هغې وويل نه، مګر دا چې د غائب به وو او رابه غلو. ما وويل: ايا رسول الله ﷺ به دوه سورتونه يو ځای کول، هغې وويل د مفصلو نه به يې يو ځای کول.

تشريح: قوله: فقالت لا الا ان يجئ من مغيبه. حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي چه حضور ﷺ به د څاښت مونځ نۀ کولو مګر دا که د خپل يو سفر نه به (د څاښت په وخت کښې) واپس شو، په دې باندې کلام ددې باب په شروع کښې تير شوې دې، دا د هغه خلقو دليل دې کوم چه

[1]: سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۷۲ (۱۳۲۳)، (تحفة الأشراف: ۱۸۰۱۰) (ضعيف)

[2]: صحيح البخاري/تقصير الصلاة ۱۲ (۱۱۰۳)، والتهجد ۳۱ (۱۱۷٦)، والجزية ۹ (۳۱۷۱)، والمغازي ۵۰ (٤۲۹۲)، والأدب ۹٤ (٦۱۵۱)، صحيح مسلم/المسافرين ۱۳ (۳۳٦)، سنن الترمذي/الصلاة ۱۵ (٤۷٤)، سنن النسائي/الطهارة ۱٤۳ (۲۲٦)، (تحفة الأشراف: ۱۸۰۰۷)، وقد أخرجه: الحيض ۱٦ (۳۳٦)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۸۷ (۱۳۲۳)، موطا امام مالك/قصر الصلاة ۸ (۲۸)، مسند احمد (۳٤۱/٦، ۳٤۲، ۳٤۳، ٤۲۳)، سنن الدارمي/الصلاة ۱۵۱ (۱٤۹۳) (صحيح)

[3]: صحيح مسلم/المسافرين ۱۳ (۷۱۷)، سنن النسائي/الصيام ۱۹ (۲۱۸۷)، (تحفة الأشراف: ۱٦۲۱۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۷۱/٦، ۲۰٤، ۲۱۸) (صحيح)

وائي چه د ثابت مونځ بغير د څه سبب نه مشروع نۀ دي، د دې سلسلې متعارض روايتونو کښې تطبيق او توجيه د باب په شروع کښې تيره شوې ده.

قوله هل كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يَقْرِنُ معا بين السور قالت من المفصل، قَرَنَ، يقرِنُ د باب ضرب يضرب او نصر ينصر دواړو نه دې يعنى آيا حضور ﷺ به په نفل مونځ کښې دوه دوه سورتونه يوځائې لوستل، وئې فرمائيل او په مفصل سورتونو کښې به ئې داسې کول، د مفصل کوم دوه دوه سورتونه به چه حضور ﷺ د تهجد په مانځه کښې يوځائې لوستل د هغې تفصيل وړاندې په کتاب کښې په، باب تحزيب القران، کښې راروان دې د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه په حديث کښې کوم لره چه په، حديث النظائر، سره هم تعبير کولې شي.

[۱۲۹۳]() حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهَا قَالَتْ: "مَا سَبَّحَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُبْحَةَ الضُّحَى قَطُّ وَإِنِّي لَأُسَبِّحُهَا، وَإِنْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيَدَعُ الْعَمَلَ وَهُوَ يُحِبُّ أَنْ يَعْمَلَ بِهِ خَشْيَةَ أَنْ يَعْمَلَ بِهِ النَّاسُ فَيُفْرَضَ عَلَيْهِمْ".

د عائشې رضي الله عنها نه روايت دې چې د پيغمبر ﷺ بي بي ده، ببشکه هغې ويلې دي: رسول الله ﷺ نه دي کړي نفل د څاښت هېڅکله، او ببشکه زه يې کوم، او ببشکه وو رسول الله ﷺ پريخودلو به يې يو کار، او د هغه به خوښه وه چې ويې کړي د وجې د ويرې نه چې خلق به پرې عمل شروع کړي، نو فرض به شي پرې.

قوله انها قالت ما سبّح رسول الله صلى الله عليه وسلم سبحة الضحى قط و انى لاسبحها، حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي چه حضور ﷺ صلوة الضحى بالکل نۀ وو کړې خو زه ئې کوم، د دې حديث حواله او توجيه د باب په شروع کښې راغلې ده، مثلا دا چه د دوام نفی ده، کما قال البيهقي، يا د رؤيت نفی ده چه ما نۀ دې ليدلې، ځکه چه د څاښتې په وخت کښې به حضور ﷺ عام طور باندې نۀ وو يا خو به په سفر کښې وو يا به دغه وخت حضور ﷺ په جومات کښې وو.

د حضرت عائشه رضي الله عنها په حيرت کښ د اچونکې عمل اهتمام:

دلته حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي، چه زۀ په خپله دا مونځ کوم، د مؤطا امام مالك په يو روايت کښې دى هغه فرمائي چه، لو نُشرلى ابواىَ ما تركتهما، که ما ته بالفرض څوك راشي او دا اووائي چه ستا مور او پلار دواړه ژوندى شول او بيا دنيا ته راغلل (هغوى سره د ملاويدلو دپاره لاړه شه) نو دغه وخت هم زۀ دا مونځ نۀ شم پريخودلې، الله اکبر! د دې حضرات صحابه کرامو او صحابيات په نيز د آخرت د تيارئ په اعمالو کښې څومره قدرې اهتمام وو، او په واقع کښې د آخرت مسئله ده هم د دې قابله چه د دې دومره اهتمام او کړې شي هلته ژوند په نۀ ختميدونکې کروړونو کالونه تيريدو باندې هم دختميدو او نوم نۀ اخلى، هلته هر يو څيز که راحت وى او که مصيبت هميشه دپاره دې، زمونږ اسلاف او اکابر هم الحمد الله تعالى د صحابه کرامو رضي الله عنهم نمونه وو، اللهم احشرنا معهم وارزقنا اتباع هديهم.

(): صحيح البخاري/التهجد ٥ (١١٢٨)، صحيح مسلم/المسافرين ١٣ (٧١٨)، (تحفة الأشراف: ١٦٥٩٠)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/قصر الصلاة ٨ (٢٩)، مسند احمد (٦/٨٥، ٨٦، ١٦٧، ١٦٩، ٢٢٣)، سنن الدارمي/الصلاة ١٥٢ (١٤٩) (صحيح)

[۱۲۹۴] (1) حَدَّثَنَا ابْنُ نُفَيْلٍ، وَأَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، قَالَا: حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا سِمَاكٌ، قَالَ: قُلْتُ لِجَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ: أَكُنْتَ تُجَالِسُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَ: نَعَمْ كَثِيرًا" فَكَانَ لَا يَقُومُ مِنْ مُصَلَّاهُ الَّذِي صَلَّى فِيهِ الْغَدَاةَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، فَإِذَا طَلَعَتْ قَامَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

حدیث بیان کړی دی سماک، هغه وایي ما وویل جابر بن سمرة ته: ایا ته وي چې د رسول الله ﷺ سره به کېناستلي؟ هغه وویل آو ډېر، وو به هغه چې نه به پاڅیدلو د خپل د مانځه د هغه ځای نه چې د سحر مونځ به یې پکې کړی وو تردې چې نمر به راوختلو، کله چې به راوختلو نو پاڅیدلو به.

تشریح: قوله: حتی تطلع الشمس فاذا طلعت قام، یعنی الی الصلوٰة، دا د څاښت مونځ شو، یا دا مراد دې چه، قام وانصرف الی البیت، په دې صورت کښې د حدیث به د ترجمة الباب سره مناسبت نۀ وی.

باب فِي صَلَاةِ النَّهَارِ

باب دی په بیان د مونځ د ورځ کې

وړاندې یو بل باب راغی د دې مقابل، باب صلوة اللیل مثنی مثنی، په دې ړومبی باب کښې چه مصنف کوم حدیث راوړې دې په دې کښې د صلوة اللیل او نهار د دواړو مونځونو ذکر دې، صلوة اللیل والنهار مثنی مثنی، او راتلونکی باب په حدیث کښې صرف د اللیل ذکر دې، صلوة اللیل مثنی مثنی.

[۱۲۹۵] (2) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ مَرْزُوقٍ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ يَعْلَى بْنِ عَطَاءٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْبَارِقِيِّ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "صَلَاةُ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ مَثْنَى مَثْنَى".

د ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دی، هغه روایت کوي د نبي ﷺ نه هغه ویلي دي: مونځ د شپې او د ورځې دوه دوه دی.

په حدیث الباب کښې د، النهار، د زیادت تحقیق:

دا حدیث په اصل کښې د ابن عمر رضی الله عنه نه مروی دې، عن علی بن عبدالله البارقی عن ابن عمر رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال صلوة اللیل و النهار مثنٰی مثنٰی، د ابن عمر رضی الله عنه نه دې حدیث لره روایت کونکی ګڼړ رواة دی، علی بن عبدالله البارقی، نافع، طاؤس، عمرو بن دینار وغیره، په دې راویانو کښې صرف علی بن عبدالله البارقی په دې حدیث کښې د نهار زیادت ذکرکړې دې، کوم چه دلته مصنف په دې باب کښې راوړې دې، د البارقی نه علاوه د نورو راویانو روایت ئې په راتلونکی باب کښې راوړې دی (په کوم کښې چه د، والنهار، زیادت نشته دې) امام ترمذی هم داسې کړې دی چه دوه جدا جدا بابونه ئې قائم کړې دی، په یو باب کښې ئې د عدم زیادت واله حدیث راوړې دې او هغې ته ئې، حسن

1): صحیح مسلم/المساجد ۵۲ (۶۷۰)، والفضائل ۱۷ (۲۳۲۲)، سنن النسائي/السهو ۹۹ (۱۳۵۹، ۱۳۵۸)، (تحفة الأشراف: ۲۱۵۵)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصلاة ۲۹۵ (۵۸۵)، مسند احمد (۹۱/۵، ۹۷، ۱۰۰، ۱۰۱، ۱۰۵، ۱۰۷) (صحیح)

2): سنن الترمذي/الصلاة ۳۰۱ (۵۹۷)، سنن النسائي/قیام اللیل ۲۴ (۱۶۶۷)، سنن ابن ماجه/ إقامة الصلاة ۱۷۲ (۱۳۲۲)، (تحفة الأشراف: ۷۳۴۹)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۶/۲، ۵۱)، سنن الدارمي/ الصلاة ۱۵۵ (۱۵۰۰) (صحیح)

صحيح، فرمائيلي دي او په دويم باب کښې ئې د زيادت واله روايت راوړې دي او دا ئې غير صحيح ګرځولې دې، اګر که هغوی دا هم فرمائيلي دی چه د علي بن عبد الله البارقي متابعت عبد الله العمری کړې دې خو چونکه د امام ترمذی په نيز عمری ضعيف دې نو ځکه ئې د هغهٔ د متابعت اعتبار اونه کړو، د امام ترمذی په شان امام نسائی هم د، والنهار، زيادت لره خطاء ګرځولې دې او امام بخاري او مسلم دا حديث صرف د عمرو بن دينار او نافع په طريق سره اغستې دې، يعنی په کوم کښې چه د، والنهار، زيادت نشته دې، هسې خو اګر که امام بخاری د، نهار، زيادت واله روايت لره په صحيح بخاری کښې نهٔ دې اغستې خو هغوی د يو سوال په جواب کښې د دې زيادت لره ثابت ګرزولی دې، او دغه شان امام بيهقی هم دې لره صحيح ګرځولې دې او فرمائيلي دی چه، البارقی، ثقه راوی دې او د ثقه زيادت مقبول دې، په اصل کښې د جمهور علماؤ او شافعيه او حنابله مسلك هم دا دې چه د ليل او نهار دواړو مونځونه مثنیٰ مثنیٰ غوره دې په دې حيثيت سره، نهار، زيادت واله روايت د دوئ د مسلك موافق دې.

په حديث سره ثابته مسئله کښې د ائمه مسالك:

دا خو په دې حديث باندې محدثانه کلام شو، يعنی من حيث السند، اوس فقهي حيثيت سره هم واورئ، د امام شافعي او احمد په نيز نفل مونځ مطلقا خواه که د شپې وی يا د ورځې دوه دوه رکعاته کول غوره دی او دا حديث د دوئ په نيز په افضليت باندې محمول دې اګر که د دې نه کم هم جائز دې او زيات هم، چنانچه د دې دواړو امامانو په نيز تنفل برکعة و بثلث و بخمس، په هر شان جائز دی او د حضرت امام مالك رحمه الله په نيز نفل مونځ صرف مثنی مثنی دې د دوئ په نيز نهٔ په دې باندې زيادت جائز دې او نهٔ کمې، ګويا حصر د جانبينو نه دې، او د امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز د مثنی مثنی مطلب دا نهٔ دې چه په هر دوو رکعاتو باندې دې سلام اوګرځولې شی بلکه د دې نه مراد شفعا شفعا دې يعنی نفل مونځ شفعًا کيدل پکار دی نهٔ وترا، چنانچه د دوئ په نيز باندې تنفل برکعة يا بثلاث جائز نهٔ دې، هسې د دوئ په نيز باندې په نوافلو کښې افضل مطلقا د ورځې نفل وی يا د شپې څلور څلور رکعاته دی. د دوئ په نيز باندې د ورځې څلور رکعاته ولې غوره دی د دوئ دليل د ابوايوب رضي الله عنه هغه حديث دې کوم چه په، باب الاربع قبل الظهر، کښې تير شوې دې د کوم الفاظ چه دا دی، اربع قبل الظهر ليس فيهن تسليم تفتح لهن ابواب السماء، او په شپه کښې د څلور رکعاتو غوره کيدو دليل هغه د حضرت عائشه رضي الله عنها حديث دې کوم چه متفق عليه دې، امام بخاری او مسلم د دې تخريج کړې دې او وړاندې په متن کښې هم راروان دې، کان رسول الله صلی الله عليه وسلم لا يزيد في رمضان و لا في غيره علی احدی عشرة رکعة يصلی اربعا فلا تسال عن حسنهن و طولهن ثم يصلی اربعًا، الخ، دغه شان قياس هم دا غواړی ځکه چه په څلور رکعاتونو کښې د تحريمې د اوږدوالی د وجه نه مشقت زيات دې، والاجر علی قدر النصب، او د صاحبينو مسلك دا دې چه په شپه کښې د دوو دوو رکعاتو کول غوره دی، لحديث صلوة الليل مثنی مثنی، او د، نهار، زيادت ضعيف دې، کما تقدم، او د ورځې په

نفلونو کښې څلور څلور غوره دی(د دې دلیل د امام صاحب په مسلك کښې موجود دې) دا د ترجمة الباب او د باب په رومبی حدیث باندې کلام شو.

[۱۲۹۶]( )حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، حَدَّثَنِي عَبْدُ رَبِّهِ بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ أَبِي أَنَسٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ نَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنِ الْمُطَّلِبِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الصَّلَاةُ مَثْنَى مَثْنَى أَنْ تَشَهَّدَ فِي كُلِّ رَكْعَتَيْنِ، وَأَنْ تَبَاءَسَ وَتَمَسْكَنَ وَتُقْنِعَ بِيَدَيْكَ، وَتَقُولَ: اللَّهُمَّ اللَّهُمَّ، فَمَنْ لَمْ يَفْعَلْ ذَلِكَ فَهِيَ خِدَاجٌ". سُئِلَ أَبُو دَاوُدَ عَنْ صَلَاةِ اللَّيْلِ مَثْنَى، قَالَ: إِنْ شِئْتَ مَثْنَى وَإِنْ شِئْتَ أَرْبَعًا.

مطلب د نبي ﷺ نه روایت کوي هغه ویلي دي: مونځ دوه دوه رکعاته دی، تشهد به وی په هر دوه رکعاتونو کې، او ځان به مسکین ښکاره کړې، او ځان به خفه کړې، او لاسونه به اوچت کړې، او داسې به ووایې: ای الله ای الله! څوک چې داسې ونه کړي نو هغه ناقص دی. تپوس وشو د ابوداود نه د ماښځه د شپې د دوه رکعاتو، هغه وویل: که ستا خوښه وي دوه کوه او که ستا خوښه وي نو څلور کوه.

حدثنا ابن المثنی، الخ، قوله، عن المطلب عن النبی صلی الله علیه وسلم،

په سند کښې د شعبه نه غلطی:

په دې سند کښې د شعبه نه په څو نومونو کښې غلطی شوې ده، کما قال الترمذی فی باب التخشع فی الصلوة، ص، ۵۰، لهذا ترمذی طرف ته دې رجوع اوکړې شی، آخری غلطی دا ده چه هغوی دا وئیلي دي، عن عبدالله بن الحارث عن المطلب، حال دا دې چه صحیح دا ده چه، عن ربیعة بن الحارث بن عبدالمطلب عن الفضل بن عباس رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم

تشریح: قوله: الصلوة مثنی مثنی، په دې کښې دوه احتماله دی(۱) رکعتین رکعتین هر دوو رکعاتونو باندې سلام،(۲) په هر دوو رکعاتونو باندې تشهد په مینځ کښې که سلام اوګرځوی او که او نه ګرځوی، په دې صورت کښې وړاندې چه کوم راځی، ان تشهد فی کل رکعتین، دا د ماقبل تفسیر به شی، و هو فی الاصل تتشهد حذفت احدی التائین، و ان تبئاس، ای تظهر البؤس والفاقة، دا چه د خپل حاجت او خپله بدحالی د الله د وړاندې ښکاره کړی، او په یونسخه کښې دی،ان تباءس، د باب تفاعل نه، بحذف احدی التائین، کان فی الاصل، تتباءس،

قوله: و تمسکن، فی الاصل تتمسکن ای تظهر المسکنة،

قوله: و تُقنع بیدیك، من الاقناع، ای ترفع یدیك للدعاء، یعنی ډیر په خشوع او خضوع سره مونځ اوکړی او دواړه لاسونه د الله د وړاندې خوارهٔ کړی او ډیر په ژړا په د یا الله یا الله آوازونه کول او د الله نه دعاء غوښتل.

۱): سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۷۲ (۱۳۲۵)، (تحفة الأشراف: ۱۱۲۸۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۶۷/۴) (ضعیف)

بَابُ صَلَاةِ التَّسْبِيحِ
باب د صلاة التسبيح

څکه چه په دې مانځه کښې تسبیحات په کثرت سره لوستلې شي نو ځکه د دې مونځ نوم صلوة التسبیح او صلوة التسابیح کیخودلې شو دا ډیر دبرکت او فضیلت واله مونځ دې د دې فائدې په خپله په حدیث کښې ذکر دی چه په دې کښې لس قسمه گناهونه معاف کیږی چنانچه په حدیث کښې رآخې چه، غفر الله لك ذنبك اوّله و آخره قديمه و حديثه خطاءه و عمده صغيره و كبيره سره و علانيته، دامام ترمذی د کلام معلومیږی چه حضرت عبد الله بن المبارك به د دې مونځ اهتمام کولو او د دې فضائل به ئې بیانول، د دې مانځه په طریقو کښې یوه طریقه هغه ده کومه چه هغوی په خپله اختیار کړې ده د کومې بیان به چه وړاندې راشي.

د صلوة التسبیح دحدیث تخریج او تحقیق:

د صلوة التسبیح حدیث په صحاح سته کښې ابوداؤد، ترمذی، ابن ماجه کښې دې، په صحیحین کښې نشته دې او په اصحاب السنن کښې امام نسائی د دې تخریج نهٔ دې کړې، د دې نه علاوه دا حدیث په صحیح ابن خزیمه، مستدرك حاکم کښې موجود دې، امام بیهقی د دې تصحیح کړې ده او ابن منده خو د دې په تصحیح کښې یو مستقل تصنیف کړې دې، بیهقی فرمائی چه عبدالله بن المبارك به صلوة التسبیح کول او په هره زمانه کښې صلحاء دا د یو بل نه اغستونکی راروان دی، د علماؤ په تعامل او تداول سره حدیث مرفوع ته تقویت ملاویږی، دا حدیث د ګڼړو صحابه کرامو نه مروی دې، په خپله مصنف دلته د دریو صحابه کرامو نه روایت کړې دې، ابن عباس، عبدالله بن عمر رضي الله عنهما او یو انصاری صحابی بلا تعین د نوم نه،د حافظ مزیٔ رائې دا ده چه د انصاری نه مراد جابر بن عبدالله رضي الله عنه دې او د حافظ ابن حجر رائې دا ده چه بظاهر هغه ابو کبشة الانصاری دې.

خو ابن الجوزی رحمه الله د صلوة التسبیح حدیث لره په موضوعاتو کښې شمار کړې دې، په دې باندې روستنو علماؤ د دهٔ تعاقب کړې دې ، حافظ ابن حجر او علامه سیوطی وغیره لیکلې دی چه، اساء ابن الجوزی، افرط ابن الجوزی، یعنی ابن الجوزی د ډیر مبالغې نه کار اغستې دې او ډیر بد ئې کړې دی چه دې لره ئې په موضوعاتو کښې شمار کړې دې، د موسی بن عبدالعزیز راوی د چا د وجه نه چه ابن الجوزی دې حدیث ته موضوع وئیلې دې نو اول خو یحیی بن معین او نسائی د دهٔ توثیق کړې دې او دویمه دا چه ابراهیم بن الحکم په صحیح ابن خزیمه کښې د دهٔ متابعت کړې دې، په بذل المجهود کښې د دې امورو تفصیل او حوالې ذکر دی.

[۱۲۹۷] (۱) حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ بِشْرِ بْنِ الْحَكَمِ النَّيْسَابُورِيُّ، حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ، حَدَّثَنَا الْحَكَمُ بْنُ أَبَانَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ لِلْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ: "يَا عَبَّاسُ، يَا عَمَّاهُ، أَلَا أُعْطِيكَ، أَلَا أَمْنَحُكَ، أَلَا أَحْبُوكَ، أَلَا أَفْعَلُ بِكَ عَشْرَ خِصَالٍ إِذَا أَنْتَ فَعَلْتَ ذَلِكَ غَفَرَ اللَّهُ لَكَ ذَنْبَكَ أَوَّلَهُ وَآخِرَهُ، قَدِيمَهُ وَحَدِيثَهُ، خَطَأَهُ وَعَمْدَهُ، صَغِيرَهُ وَكَبِيرَهُ، سِرَّهُ وَعَلَانِيَتَهُ، عَشْرَ خِصَالٍ أَنْ تُصَلِّيَ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ تَقْرَ

(۱) سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۹۰ (۱۳۸۷)، (تحفة الأشراف: ۶۰۳۸) (صحيح)

فِي كُلِّ رَكْعَةٍ فَاتِحَةَ الْكِتَابِ وَسُورَةً، فَإِذَا فَرَغْتَ مِنَ الْقِرَاءَةِ فِي أَوَّلِ رَكْعَةٍ وَأَنْتَ قَائِمٌ، قُلْتَ: سُبْحَانَ اللَّهِ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ خَمْسَ عَشْرَةَ مَرَّةً، ثُمَّ تَرْكَعُ، فَتَقُولُهَا وَأَنْتَ رَاكِعٌ عَشْرًا، ثُمَّ تَرْفَعُ رَأْسَكَ مِنَ الرُّكُوعِ فَتَقُولُهَا عَشْرًا، ثُمَّ تَهْوِي سَاجِدًا فَتَقُولُهَا وَأَنْتَ سَاجِدٌ عَشْرًا، ثُمَّ تَرْفَعُ رَأْسَكَ مِنَ السُّجُودِ فَتَقُولُهَا عَشْرًا، ثُمَّ تَسْجُدُ فَتَقُولُهَا عَشْرًا، ثُمَّ تَرْفَعُ رَأْسَكَ فَتَقُولُهَا عَشْرًا، فَذَلِكَ خَمْسٌ وَسَبْعُونَ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ، تَفْعَلُ ذَلِكَ فِي أَرْبَعِ رَكَعَاتٍ إِنِ اسْتَطَعْتَ أَنْ تُصَلِّيَهَا فِي كُلِّ يَوْمٍ مَرَّةً فَافْعَلْ، فَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَفِي كُلِّ جُمُعَةٍ مَرَّةً، فَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَفِي كُلِّ شَهْرٍ مَرَّةً، فَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَفِي كُلِّ سَنَةٍ مَرَّةً، فَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَفِي عُمُرِكَ مَرَّةً".

د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دی، بېشکه رسول الله ﷺ وویل عباس بن عبد المطلب ته: ای عباس! ای تره! ایا زه تاته درنه کړم ایا زه په تا لس کارونه ونه کړم؟ کله چې ته هغه وکړې نو الله به تاته ستا اولني او اخیرني ګناهونه معاف کړي، مخکنۍ او نوي، د خطایي او د قصد، واړه او غټ، پټ او ښکاره، لس کارونه. دا چې ته مونځ وکړې څلور رکعاته، لولې به په هر رکعات کې فاتحه د کتاب او سورت، کله چې ته فارغ شې د قراءت نه په اولني رکعات کې او ته لا ولاړ یې، ته به وې (سبحان الله و الحمد لله و لا اله الا الله و الله اکبر) پنځلس کرته، بیا به رکوع وکړې، ته به وې دغې لره او ته به په رکوع کې یې لس ځل، بیا به سر اوچت کړې د رکوع نه، ته به وې هغې لره لس ځل، بیا خکته شې سجدې ته، ته به وې هغې لره د سجدې په حالت کې لس ځل، بیا به سر اوچت کړې د سجدې نه ته به وې هغې لره لس ځله، بیا به سجده وکړې ته به وې هغې لره لس ځله، بیا سر اوچت کړې ته به وې هغې لره لس ځله، دا پنځه اویا شو، په هر رکعات کې به دا کوې په څلورو رکعاتونو کې، که ستا طاقت وي چې هره ورځ یې یو ځل وکړې نو ویې کړه، که داسې نه وي نو په هره جمعه کې یې یوځل وکړه، که داسې دې ونه کړل نو په میاشت کې یې یو ځل وکړه، که داسې دې ونه کړل نو په کال کې یې یو ځل وکړه، که داسې دې ونه کړل نه په عمر کې یې یو ځل وکړه.

عن ابن عباس ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال للعباس بن عبدالمطلب يا عباس يا عماه الا اعطيك الا افعل بك عشر خصال، ترجمه، آیا زۀ تاته لس څیزونه اونۀ ښایم د دې نه مراد یا خود ګناهونو قسمونه دی کوم چه په متن کښې ذکر دی(او په شروع کښې تیر شوې دی) یا د دې نه مراد لس تسبیحات دی څکه چه د قیام نه علاوه په باقی ټولو ارکانو د صلوة کښې دا تسبیحات لس لس ځله دی.

د صلوة التسبيح كيفيت:

د صلوة التسبيح كومه طريقه چه په دې مرفوع حديث كښې ذكر ده هغه دا دا چه د تكبير تحريمه او سبحانك اللهم نه پس حسب معمول دقراءت نه فارغ شی نو ركوع ته تللو نه وړاندې پنځلس ځلې دا تسبيحات اولولی، سبحان الله والحمد لله و لا اله الا الله و الله اكبر، (١) بیا دې لس ځل په رکوع کښې دا تسبیحات د رکوع د تسبیحاتو نه پس، بیا دې لس ځل په قومه کښې، بیا دې لس لس ځله په دواړو سجدو کښې، او لس ځله دې په جلسه بین

(١) ما د خپل کور د یو مستورې نه اوریدلې دی چه حضرت مولانا محمد الیاس صاحب رحمه الله به فرمائیل چه د هر پنځو ځلو نه پس دې یو ځل، لاحول و لاقوة الا بالله، هم وئیلې شی).

السجدتين كښې، او لس ځله دې د دويمې سجدې نه په پورته كيدلو سره(په جلسه استراحت كښې) دا په يو ركعت كښې د تسبيحاتو شمير پنځه اويا شول، او په څلورو ركعاتونو كښې درې سوه ځل شول، او امام ترمذى د حضرت عبدالله بن المبارك نه چه كوم كيفيت د دې مونځ نقل كړې دې په هغې كښې داسې دى چه.د سبحانك اللهم، نه پس د قراءت نه وړاندې پنځلس ځله او بيا ركوع ته د تللو نه وړاندې لس ځله، په دې صورت كښې د قيام په حالت كښې به د پنځلسو ځلو په ځائې باندې پنځه ويشت شول، په دې صورت كښې به د دويمې سجدې نه پس په جلسه د استراحت كښې دا تسبيحات نه لوستلې كيږي، لهذا مجموعى شمير به په يو ركعت كښې هم پنځه اويا وى.

[١٢٩٨](١)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُفْيَانَ الْأُبُلِّيُّ، حَدَّثَنَا حَبَّانُ بْنُ هِلَالٍ أَبُو حَبِيبٍ، حَدَّثَنَا مَهْدِيُّ بْنُ مَيْمُونٍ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي الْجَوْزَاءِ، قَالَ: حَدَّثَنِي رَجُلٌ كَانَتْ لَهُ صُحْبَةٌ يُرَوْنَ أَنَّهُ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ لِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "ائْتِنِي غَدًا أَحْبُوكَ وَأُثِيبُكَ وَأُعْطِيكَ" حَتَّى ظَنَنْتُ أَنَّهُ يُعْطِينِي عَطِيَّةً، قَالَ: "إِذَا زَالَ النَّهَارُ، فَقُمْ فَصَلِّ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ"، فَذَكَرَ نَحْوَهُ، قَالَ: "ثُمَّ تَرْفَعُ رَأْسَكَ، يَعْنِي مِنَ السَّجْدَةِ الثَّانِيَةِ، فَاسْتَوِ جَالِسًا وَلَا تَقُمْ حَتَّى تُسَبِّحَ عَشْرًا، وَتَحْمَدَ عَشْرًا، وَتُكَبِّرَ عَشْرًا، وَتُهَلِّلَ عَشْرًا، ثُمَّ تَصْنَعُ ذَلِكَ فِي الْأَرْبَعِ رَكَعَاتٍ"، قَالَ: "فَإِنَّكَ لَوْ كُنْتَ أَعْظَمَ أَهْلِ الْأَرْضِ ذَنْبًا غُفِرَ لَكَ بِذَلِكَ" قُلْتُ: فَإِنْ لَمْ أَسْتَطِعْ أَنْ أُصَلِّيَهَا تِلْكَ السَّاعَةَ؟ قَالَ: "صَلِّهَا مِنَ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: حَبَّانُ بْنُ هِلَالٍ خَالُ هِلَالٍ الرَّأْيِ. قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ الْمُسْتَمِرُّ بْنُ الرَّيَّانِ، عَنْ أَبِي الْجَوْزَاءِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو مَوْقُوفًا، وَرَوَاهُ رَوْحُ بْنُ الْمُسَيَّبِ، وَجَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مَالِكٍ النُّكْرِيِّ، عَنْ أَبِي الْجَوْزَاءِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَوْلَهُ، وَقَالَ فِي حَدِيثِ رَوْحٍ: فَقَالَ: حَدِيثُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

د ابو الجوزاء نه روايت دى هغه وئيلي دي ماته حديث بيان كړى دى يو سړي چې د هغه صحبت وو ، د دوى دا خيال دى چې هغه عبد الله بن عمرو وو ، هغه وئيلي دي ماته نبي ﷺ ووئيل: ماته صبا راشه چې تاته دركړم، تردې چې ما ګمان وكړو چې هغه به ماته يو عطيه راكوي، هغه ووئيل: كله چې نمر زوال وكړو نو پاڅيږه څلور ركعاته وكړه، ذكر يې كړو په شان د هغه. هغه ووئيل: بيا به سر اوچت كړې يعني د سجدې دويمې نه، نو برابر شه په ناسته، او ته مه پاڅيږه تردې چې ته تسبيح ووايې لس ځل، او تحميد ووايې لس ځل، او تكبير ووايې لس ځل، او تهليل ووايې لس ځل، بيا به دغه شان كوې په څلورو ركعاتونو كې، هغه ووئيل: كه چيرې ته د ځمكې والاو كې غټ ګناهګارېې نو نو هم تاته به بخښنه وشي په دغې سره. ما ووئيل: كه زما طاقت نه وي چې په دغه وخت كې يې وكړم؟ هغه ووئيل: ويې كړه دشپې او د ورځې، ابوداود وئيلي دي: حبان بن هلال د هلال الراي ماما دى. وئيلي دي ابوداود: د دې روايت كړى مستمر بن الريان د ابو الجوزاء نه او هغه د عبد الله بن عمر نه د وقف په طريقه، او روايت كړى دى روح بن المسيب او جعفر بن سليمان د عمرو بن مالك النكري نه او هغه د ابو الجوزاء نه او هغه د ابن عباس نه قول د هغه، او وئيلي يې دي په حديث د روح كې، هغه ووئيل دا حديث دى د نبي ﷺ نه

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٨٦٠٦) (حسن صحيح)

[۱۲۹۹]()حَدَّثَنَا أَبُو تَوْبَةَ الرَّبِيعُ بْنُ نَافِعٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُهَاجِرٍ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ رُوَيْمٍ، حَدَّثَنِي الْأَنْصَارِيُّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ لِجَعْفَرٍ: بِهَذَا الْحَدِيثِ، فَذَكَرَ نَحْوَهُمْ، قَالَ فِي السَّجْدَةِ الثَّانِيَةِ مِنَ الرَّكْعَةِ الْأُولَى كَمَا قَالَ فِي حَدِيثِ مَهْدِيِّ بْنِ مَيْمُونٍ.

انصاري حديث بيان کړی دی، بېشکه رسول الله ﷺ وويل جعفر ته، په دي حديث سره. ذکر يي کړو پشان د هغوی. هغه وويل په دويمه سجده کي د اولني رکعات نه لکه څنګه چي هغه ويلي وو په حديث د مهدي بن ميمون کي.

باب رَكْعَتَيِ الْمَغْرِبِ أَيْنَ تُصَلَّيَانِ

باب دی په بيان د دوه رکعاتو نو د ماښام کي چي چېرته به کولی شي؟

د دينه وړاندي د ابواب السهو نه پس متصلا باب التطوع فی البيت تير شوي دي په کوم کښي چه دا حديث دي، اجعلوا فی بيوتکم من صلوتکم و لا تتخذوها قبورا،او يو باب وړاندي هم راروان دي،د باب القنوت فی الصلوات، نه پس متصلا په کوم کښي دا حديث راځی، خير صلوة المرء فی بيته الا المکتوبة،

[۱۳۰۰]()حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي الْأَسْوَدِ، حَدَّثَنِي أَبُو مُطَرِّفٍ مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي الْوَزِيرِ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُوسَى الْفِطْرِيُّ، عَنْ سَعْدِ بْنِ إِسْحَاقَ بْنِ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَى مَسْجِدَ بَنِي عَبْدِ الْأَشْهَلِ، فَصَلَّى فِيهِ الْمَغْرِبَ، فَلَمَّا قَضَوْا صَلَاتَهُمْ رَآهُمْ يُسَبِّحُونَ بَعْدَهَا، فَقَالَ: "هَذِهِ صَلَاةُ الْبُيُوتِ".

د کعب بن عجرة نه روايت دی، بېشکه نبي ﷺ راغی مسجد د بني الاشهل ته، د ماښام مونځ يي پکي وکړو، هرکله چي هغوی خپل مونځ پوره کړو ويي ليدل هغوی چي نفل مونځ يي کولو وروسته د هغي نه، پس هغه وفرمايل: دا د کورونو مونځ دی.

قوله، هذه صلوة البيوت.ابن ابی ليلی په دي کښي متشدد دي د دوئ په نيز باندي د ماښام روستنی سنت په جومات کښي جائز نهٔ دی، او هسي د جمهورو په نيز د ماښام څه تخصيص نشته دي بلکه ټول رواتب او نوافل د شپي وی او که د ورځي وی دا ټول په کور کښي کول غوره دی، للحديث المذکور، خو که په کور کښي د دي نه د مشغوليدو ويره وی نو بيا په جومات کښي کور غوره دی و هذا هو مذهب الجمهور والائمة الثلثة.خو امام مالك او سفيان ثوری د شپي او د ورځی د فرق قائل دی د ورځي سنت په جومات کښي او د شپي په کور کښي، ابن رشد د دي فرق حکمت دا بيان کړي دي چه د ورځي په کور کښي د بال بچ سره د اخته کيدو ويره ده.

[۱۳۰۱]()حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْجَرْجَرَائِيُّ، حَدَّثَنَا طَلْقُ بْنُ غَنَّامٍ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ أَبِي الْمُغِيرَةِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُطِيلُ الْقِرَاءَةَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ حَتَّى يَتَفَرَّقَ أَهْلُ الْمَسْجِدِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ نَصْرٌ الْمُجَدَّرُ، عَنْ يَعْقُوبَ الْقُمِّيِّ وَأَسْنَدَهُ مِثْلَهُ. قَالَ أَبُو دَاوُد: حَدَّثَنَاهُ مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى بْنِ الطَّبَّاعِ، حَدَّثَنَا نَصْرٌ الْمُجَدَّرُ، عَنْ يَعْقُوبَ مِثْلَهُ.

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٢٣٩٤، ١٥٦٣٦) (صحيح)
[2]: سنن الترمذي/الصلاة ٣٠٧ (الجمعة ٧١) (٦٠٤)، سنن النسائي/قيام الليل ١ (١٦٠١)، (تحفة الأشراف: ١١١٠٧) (حسن)
[3]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٥٤٦٨، ١٨٦٧٧) (ضعيف)

د ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دی هغه ویلي دي: وو رسول الله ﷺ چي اوږدولویي قراءت په دوه رکعاتونو کي وروسته د ماښام نه، تردې چي د مسجد والا به جدا شول ویلي دي ابوداود: د دې روایت کړی دی نصر المجدر د یعقوب القُمي نه او مسند کړی یي دی د هغه پشان ویلي دي ابوداود: مونږ ته د هغې بیان کړی دی محمد بن عیسی بن الطباع، هغه وایي مونږ ته حدیث بیان کړی دی نصر المجدر د یعقوب نه په مثل د هغې.

(تطبیق بین الروایتین)

کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یطیل القراءة فی الرکعتین بعدالمغرب، یعنی کله کله ګینی حضور ﷺ به اکثر په دې کښې سورة کافرون او اخلاص لوستلو، حتی یتفرق اهل المسجد، دا د هذه صلوة البیوت خلاف دې، جواب دا دې چه کیدې شی چه حضور ﷺ داسې د بیان دجواز دپاره یا د بل څه مصلحت دپاره کړې وی یا په څه عذر باندې محمول دې.

قال ابوداؤد راوه نصرٌ المجدَّرُ عن یعقوب القُمِی، پورته ذکر شوې حدیث په دویم طریق سره بیانوی چه دا حدیث په دې دویم سند سره هم مروی دې، مُجدّر، هغه سړی ته وائی د چا په بدن باندې چه د ننکو نښې وی یعنی د دانو، واسنده مثله، کوم حدیث چه د کوم صحابی نه مروی وی هغې ته د هغه مسند وئیلې شی.

شرح السند:

د پورتنی حدیث راوی صحابی ابن عباس رضي الله عنه وو، لهذا مطلب دا شو چه څنګه دا ړومبې سند تر ابن عباس رضي الله عنه پورې رسیدلې وو دغه شان دا دویم سند هم تر هغوی پورې رسیږی، نصر مجدر د مصنف استاذ نهٔ دې، لهذا د دې دویم سند ابتداء د نصر نه نهٔ شو، نو څکه مصنف وړاندې د سند ابتداء لره بیانوی، فرمائی، قال آبوداؤد حدثنا محمد بن عیسٰی بن الطباع نا نصر المجدر، معلومه شوه چه په دې دویم سند کښې د مصنف استاد محمد بن عیسی دې هغهٔ دې لره د نصر نه روایت کوی.

پوهیدل پکار دی چه د کوم حدیث متن بلا سند یا ناقص سند سره بیان کړې شی هغې ته تعلیق وائی، بیا د دینه پس کله چه سند پوره شی نو د دینه محدثین حضرات په وصل سره تعبیر کوی، لهذا د مصنف کلام چه، رواه نصر المجدر، نو دا تعلیق دې او وړاندې، حدثنا محمد بن عیسی، دا د دې وصل دې، په ړومبی سند کښې د یعقوب قمی نه روایت کونکی طلق بن غَنّام وو او په دویم سند کښې نصر مجدر دې.

تنبیه: بحمد الله تعالی مونږ د کتاب د شروع نه واخله تر اوسه پورې تقریبا د هر حدیث تشریح کونکی رارواں یو، اوس اراده دا ده چه د کتاب الصلوة تر آخره پورې خو هم دا طریقه جاری اوساتو د دینه پس وړاندې د وخت د کمې د وجه نه بالاستیعاب د سندونو د تشریح اراده نشته دې مګر لږ لږ کوم ځائې کښې چه زیات ضرورت اوګڼړو، والله الموفق

[۱۳۰۲]([1])حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، وَسُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْعَتَكِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ، عَنْ جَعْفَرٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ النَّبِيِّ بِمَعْنَاهُ مُرْسَلًا. قَالَ أَبُو دَاوُد: سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ حُمَيْدٍ، يَقُولُ: سَمِعْتُ يَعْقُوبَ، يَقُولُ: كُلُّ شَيْءٍ حَدَّثْتُكُمْ عَنْ جَعْفَرِ بْنِ الْمُغِيرَةِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَهُوَ مُسْنَدٌ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

سعيد بن جبير د نبي ﷺ نه روايت کوي په معنی د هغې سره په طريقي د ارسال سره. ويلي دي ابوداود: ما د محمد بن حميد نه اوريدلي دي چې هغه ويل: ما اوريدلي دي د يعقوب نه هغه ويل: هر شی چې زه يي تاسو ته بيانوم د جعفر بن ابي المغيرة نه او هغه د سعيد بن جبير نه او هغه د نبي ﷺ نه نو هغه به مسند وي ابن عباس نه او هغه به روايت کړی وي د نبي ﷺ نه.

تشريح: **قوله**: حدثنا احمد بن يونس الخ، دا د ابن عباس رضي الله عنه د حديث دريم طريق دې، ړومبې دوه طريق د مسند وو او دا طريق مرسل ده په دې کښې د سعيد بن جبير تابعی نه پس صحابی يعنی ابن عباس رضي الله عنه ذکر نۀ دې، خو وړاندې مصنف د يعقوب قمی چه کومه مقوله نقل کړې ده د هغې تقاضا دا ده چه دا دريم طريق هم مرسل نۀ شی بلکه مسند دې وی ځکه چه يعقوب وائی چه کوم يو حديث هم زۀ په دې سند سره بيان کړم ، عن جعفر عن سعيد بن جبير عن النبی صلی الله عليه وسلم، نو د هغې په حقله تاسو دا اوګڼئ چه هغۀ د ابن عباس رضي الله عنه نه مروی دې، صورة اګر که د صحابی د نۀ ذکر کولو د وجه نه هغه مرسل وی خو په واقع کښې به هغه مسند وی.

بَابُ الصَّلَاةِ بَعْدَ الْعِشَاءِ

باب دی په بيان د مونځ کې وروسته د ماسخوتن نه

د سنتو او نوافلو بيان خو اکثر تير شوې دې اوس نوبت وو د قيام الليل او د تهجد چنانچه د دېنه روستو د دې باب راځی لهذا وئيلې شی چه دا باب د قيام الليل دپاره تمهيد او د هغې بسم الله ده.

[۱۳۰۳]([2])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ الْحُبَابِ الْعُكْلِيُّ، حَدَّثَنِي مَالِكُ بْنُ مِغْوَلٍ، حَدَّثَنِي مُقَاتِلُ بْنُ بَشِيرٍ الْعِجْلِيُّ، عَنْ شُرَيْحِ بْنِ هَانِئٍ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَ: سَأَلْتُهَا عَنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: "مَا صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِشَاءَ قَطُّ فَدَخَلَ عَلَيَّ إِلَّا صَلَّى أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ أَوْ سِتَّ رَكَعَاتٍ، وَلَقَدْ مُطِرْنَا مَرَّةً بِاللَّيْلِ فَطَرَحْنَا لَهُ نِطَعًا فَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى ثُقْبٍ فِيهِ يَنْبُعُ الْمَاءُ مِنْهُ، وَمَا رَأَيْتُهُ مُتَّقِيًا الْأَرْضَ بِشَيْءٍ مِنْ ثِيَابِهِ قَطُّ".

د عائشې رضي الله عنها نه روايت دی، هغه ويلي دي ما تپوس وکړو د هغه نه په باره د مونځ د رسول الله ﷺ کې، هغې وويل رسول الله ﷺ د ماسخوتن مونځ هيڅکله نه دی کړی دی هيڅکله چې بيا ماته راغلی دی مګر څلور او يا شپږ رکعاته مونځ يي کړی دی، بېشکه يو ځل په

---

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۵۴۶۸، ۱۸۶۷۷) (ضعيف)

[2]: تفرد به ابوداود، (تحفة الأشراف: ۱۶۱۴۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۵۸/۶) (ضعيف)

مونږ دشپې باران وشو، مونږ هغه ته د څرمنې يوه ټوټه واچوله، ګويا چې زه ګورم هغه سوري ته چې اوبه پکې راوتې، او ما هغه نه دی ليدلی چې ځان بچ ساتلو د ځمکې نه په څه شي سره د خپلو جامو نه.

عن عائشة رضى الله عنها قالت ما صلى رسول الله صلى الله عليه وسلم العشاء قط فدخل عليّ الا صلى اربع ركعات، الخ، حضرت عائشه ﷞ فرمائي چه حضور ﷺ به د ماسخوتن د مانځه نه فارغ شو نو چه کله به هم زما کور ته راتللو نو څلور رکعاته به ئې کول.

و لقد مطرنا مرة بالليل فطرحنا له نطعًا فكانى انظر الى ثقب فيه،الخ. يو ځل داسې اوشول چه د ماسخوتن په وخت کښې باران اوشو(د کوم د وجه نه چه زمکه لمده شوه پس مونږ په هغه ځائې باندې) د څرمنې يوه مصلى اوغوړوله په کومې کښې چه يو سورې هم وو د کوم د وجه نه چه به د باران اوبۀ بهرته راوتلې، و ما رايته متقيا الارض بشيء من ثيابه قط. ما نۀ وو ليدلې چه حضور ﷺ لره خپلې جامې د خاروو نه ساتې. فكانى انظر. هغۀ اوبۀ راوتونکې ګويا زۀ اوس هم ګورم، يا خو د دينه مقصود قوت حافظه او يادداشت لره بيانول دی چه دا خبره ماته ډير په ښۀ شان ياده ده يا دا د باب محبت نه دې چه دا تيره واقعه بيانولو په وخت کښې زما د سترګو د وړاندې راغله او د هغې ياد تازه شو. الله تعالى دې مونږ ته د حضور ﷺ محبت او د دوئ داتباع توفيق راکړی، آمين. صاحب منهل د طبرانی په روايت د ابن عباس ﷠ نه مرفوعا نقل کړې دی چه کوم سړی د ماسخوتن نه پس څلور رکعاته نفل اوکړی د کوم په ړومبی دوو رکعاتونو کښې چه سورة کافرون او اخلاص اولولی او په آخری دوو رکعاتونو کښې تنزيل السجده او تبارك الذى بيده الملك اولولی نو د دې ثواب داسې دې لکه څنګه چه د ليلة القدر په شپه کښې وی، زۀ وايم چه تقريبا د دې هم معنى يو روايت موقوفه په سنن نسائی جلد ثانی،ص، ۶۵۹، کښې موجود دې، والله الموفق.

أَبْوَابُ قِيَامِ اللَّيْلِ

بابونه د قيام الليل په باره کې

بَابُ نَسْخِ قِيَامِ اللَّيْلِ وَالتَّيْسِيرِ فِيهِ

باب دی په بيان د نسخ د قيام الليل کې او اسان والی په هغې کې

په شروع کښې د صلوات خمسه د فرضيت نه وړاندې قيام الليل فرض وو بيا يو کال نه پس منسوخ شو. فرضيت او د دې د نسخ دواړو ذکر په سورة مزمل کښې دې، د سورت په اول کښې فرضيت دې او د سورت په آخره کښې د دې نسخ مذکور ده، د امت په حق کښې خو په نسخ باندې اجماع ده البته عبيده سلمانی وغيره بعضې تابعين د وجوب قائل ؤو، و لو قدر حلبة شاة، يعنې په څومره وخت کښې چه د بيزې پئ لوشلې کيږی، خو دا خلاف شاذ دې څکه د دې اعتبار نۀ دې کړې شوې، دا مضمون د کتاب الصلوة په بالکل شروع کښې په ابتدائی مباحثو کښې تير شوې دې، او د حضور اقدس ﷺ په حق کښې د علماؤ اختلاف دې بعضې د حضور ﷺ په حق کښې هم د نسخ قائل دی او بعضې نۀ دی د

فریقینو استدلال د. و من اللیل فتهجد به نافلة لك، نه دې، څوك چه د نسخ قائل دی هغوی وائی چه په دې آیت کښې د تهجدو د نفلو کیدو تصریح ده او څوك چه د وجوب قائل دی هغوی وائی چه، نافلة لك، ای فریضة زائدة لك خاصة. یعنی د نفل لغوی معنی مراد ده اصطلاحی معنی مراد نهٔ ده.

[۱۳۰۴](¹)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ الْمَرْوَزِيُّ ابْنِ شَبُّوَيْهِ، حَدَّثَنِي عَلِيُّ بْنُ حُسَيْنٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ يَزِيدَ النَّحْوِيِّ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ فِي الْمُزَّمِّلِ: قُمِ اللَّيْلَ إِلا قَلِيلا ٢ نِصْفَهُ سورة المزمل آية ١-٢ نَسَخَتْهَا الْآيَةُ الَّتِي فِيهَا عَلِمَ أَنْ لَنْ تُحْصُوهُ فَتَابَ عَلَيْكُمْ فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْءَانِ سورة المزمل آية ٢٠ وَنَاشِئَةُ اللَّيْلِ: أَوَّلُهُ، وَكَانَتْ صَلَاتُهُمْ لِأَوَّلِ اللَّيْلِ، يَقُولُ: هُوَ أَجْدَرُ أَنْ تُحْصُوا مَا فَرَضَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ مِنْ قِيَامِ اللَّيْلِ، وَذَلِكَ أَنَّ الْإِنْسَانَ إِذَا نَامَ لَمْ يَدْرِ مَتَى يَسْتَيْقِظُ، وَقَوْلُهُ: وَأَقْوَمُ قِيلا سورة المزمل آية ٦ هُوَ أَجْدَرُ أَنْ يَفْقَهَ فِي الْقُرْآنِ، وَقَوْلُهُ: إِنَّ لَكَ فِي النَّهَارِ سَبْحًا طَوِيلا سورة المزمل آية ٧، يَقُولُ: فَرَاغًا طَوِيلًا.

د ابن عباس نه روایت دی هغه په سورة المزمل کې ویلي دي (قم اللیل الا قلیلا نصفه) هغې ایت منسوخ کړې ده چې په کې (علم ان لن تُحصوها فتاب علیکم فاقرءُوا ما تیسر من القرآن). و ناشئَةَ اللیل معنی ده اوله حصه د شپې. او وو مونځ د هغوی په اوله حصه دشپې کې هغه وایي: هغه ډېر لائق دی چې تاسو وشمارئ هغه چې فرض کړی یي دی په تاسو د قیام اللیل نه. او دا ځکه چې کله انسان اوده شي نه پوهېږي چې کله به بیدارېږي، او قوله د هغه اقومُ قیلًا: دا ډیر لائق دی چې پوهه شي په قرآن. او قول د هغه: (ان لک في النهار سبحًا طویلًا) هغه وایي: ډیره وزګارتیا.

تشریح: قوله: و ناشئة اللیل اوّله، یعنی د شپې په شروع حصه کښې مونځ کول مراد دی، قال تعالی انّ ناشئة اللیل هیَ اشد وطاء و اقوم قیلا، یعنی د شپې په اوله حصه کښې مونځ کول زیات غوره دی چه په نسبت ددې چه د شپې په آخره حصه کښې پاسی او اوکړې شی، ځکه چه د اودهٔ کیدو نه پس بیا پاسیدل د سړی په اختیار کښې نهٔ دی، معلومه نهٔ ده چه سترګې به ئې اوغړیږی او که نهٔ.د. وطاء، معنی د پیمال کولو ده خو دلته مراد لازمی معنی ده یعنی قابو موندل چه په اوله شپه کښې مونځ کول زیات قابو کیدو واله څیز دې او د. واقوم قیلا. قیل په معنی د قول یعنی تلفظ او اقوم په معنی د صحیح والی یعنی دغه وخت کښې د قرآن تلاوت زیات صفا او صحیح وی(د خوب اثر د نهٔ کیدو د وجه نه)

قوله، ان لك فی النهار سبحًا طویلا. یعنی د شپې زمونږ د عبادت دپاره ښهٔ وخت اوباسئ، او د دنیاوی کارونو دپاره په ورځې کښې ډیر اوزګار وخت دې.(هغه په دې کښې کوئ)

[۱۳۰۵](²)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ يَعْنِي الْمَرْوَزِيَّ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ مِسْعَرٍ، عَنْ سِمَاكٍ الْحَنَفِيِّ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ أَوَّلُ الْمُزَّمِّلِ كَانُوا يَقُومُونَ نَحْوًا مِنْ قِيَامِهِمْ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ حَتَّى نَزَلَ آخِرُهَا، وَكَانَ بَيْنَ أَوَّلِهَا وَآخِرِهَا سَنَةٌ.

(¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٦٢٥٤) (حسن)
(²): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٥٦٧٨) (صحیح)

د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دی هغه وېلي دي: هرکله چې نازل شو اول د مزمل، نو دوی به قیام کولو په اندازه د قیام د دوی په میاشت د رمضان کې، تردې چې نازل شو اخیر د هغې، او په مابین د اول او د اخیر کې یو کال وو

باب قِيَامِ اللَّيْلِ

باب دی په بیان د قیام اللیل کې

په رومبی باب کښې مصنف د قیام اللیل منسوخ کېدل ثابت کړې دی، زما په خیال کښې د دې ترجمې غرض دفع د توهم ده چه دا دې اونهٔ ګڼړلې شی چه د تهجدو استحباب هم منسوخ شوې دې نهٔ بلکه وجوب منسوخ شوې دې

فائده: آیا د تهجد د مانځه دپاره دا ضروری ده چه هغهٔ دې د اودهٔ کېدو نه روستو وی؟ د علماؤ په دې کښې اختلاف دې بعضې وائی چه کوم مونځ د ماسخوتن نه پس اوکړې شی هم هغه تهجد دی او د بعضو په نیز د خوب نه پس قید ورسره شته دې، علامه شامی فرمائی چه په احادیثو کښې د صلوة اللیل چه کوم ترغیب راغلې دې د هغې نه مراد تهجد دی هغه فرمائی چه په صلوة اللیل او تهجد کښې فرق دې، صلوة اللیل یا قیام اللیل خو هغه مونځ دې کوم چه بعدالعشاء وی که بعدالنوم وې یا قبل النوم وی، چنانچه د طبرانی د یو روایت مرفوعه په آخر کښې دا دی چه، و ما کان بعد صلوة العشاء فهو من اللیل، خو تهجد د هجود نه ماخوذ دې د کوم معنی چه د نوم یعنی د خوب ده او د تهجد معنی ده ازالة الهجود، ای النوم بتکلف، یعنی په تکلیف سره خپل خوب زائله کول، لکه څنګه چه لفظ دتأثم دې د کوم معنی چه د تحفظ عن الاثم ده لهذا تهجد به هم هغه مونځ وی کوم چه بعد النوم وی(شامی، ص، ۵۰۶، ج، ۱).

[۱۳۰۶] ([1]) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "يَعْقِدُ الشَّيْطَانُ عَلَى قَافِيَةِ رَأْسِ أَحَدِكُمْ إِذَا هُوَ نَامَ ثَلَاثَ عُقَدٍ يَضْرِبُ مَكَانَ كُلِّ عُقْدَةٍ عَلَيْكَ لَيْلٌ طَوِيلٌ فَارْقُدْ، فَإِنِ اسْتَيْقَظَ فَذَكَرَ اللَّهَ انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ، فَإِنْ تَوَضَّأَ انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ، فَإِنْ صَلَّى انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ، فَأَصْبَحَ نَشِيطًا طَيِّبَ النَّفْسِ، وَإِلَّا أَصْبَحَ خَبِيثَ النَّفْسِ كَسْلَانَ".

د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی، بېشکه رسول الله ﷺ وېلي دي: غوټه اچوي څټ د یو کس ستاسو نه، کله چې هغه اوده شي، درې غوټې، وایي د هرې غوټې خواته، تاته غټه شپه پاتې ده اوده شه، کله چې هغه بیدار شي او د الله ذکر وکړي نو یوه غوټه ایله شي، که اودس وکړي نو بله غوټه ایله شي، که مونځ وکړي نو بله غوټه ایله شي، نو صباح کړي خوشحاله، ښه نفس والا، او که داسې نه وي نو صباح کړي خبیث النفس او ناراسته

تشریح: **قوله**: عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال یعقد الشیطن علی قافیة رأس أحدکم ثلث عُقدِ،الخ، په دې حدیث کښې د تهجد دفضیلت ذکر دې هغه دا چه

[1]: صحيح البخاري/التهجد ١٢ (١١٤٢)، وبدء الخلق ١١ (٣٢٦٩)، (تحفة الأشراف: ١٣٨٢٠)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/المسافرين ٢٨ (٧٧٦)، سنن النسائي/قيام الليل ٥ (١٦٠٨)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٧٤ (١٣٢٩)، موطا امام مالك/قصر الصلاة ٢٥ (٩٥)، مسند احمد (٢/٢٤٣، ٢٥٣، ٢٥٩) (صحيح)

حضور ﷺ فرمائی چه کله سړی اوده شی نو شیطان دا حرکت کوی چه د دهٔ د سر په روستنئ حصه کښې درې غوټې اولګوی، په هر غوټه باندې لاس راکاږی او دا لولی چه، عليك ليل طويل. تا ته خو له ډیره شپه پاتې ده(لهذا اوده شه) دا شرح خو په هغه صورت کښې ده کله چه حدیث د دې په ظاهری او حقیقی معنی باندې محمول کړې شی، د دې وجه نه څوك چه ساحران وی نو هغوی غوټې وغیره په تارو باندې لګوی، او د دې مجازی او لازمی معنی هم مراد کیدې شی یعنی بندول. یعنی د هرې غوټې نه مراد یو بندول دی ګویا هغه د دریو څیزونو نه بندول کوی(۱) د الله د ذکر نه(۲) د اودس او طهارت نه(۳)د مانځه نه. اوس د بندولو چه هغهٔ کومه طریقه هم اختیار کړی هغهٔ ته ټولې طریقې او لارې معلومې دی، نوکه هغهٔ سړې د شپې د خوب نه رابیدار شی او هغهٔ د الله ذکر وغیره اوکړو نو د دې په برکت سره یوه غوټه پرانستلې شی، د دینه پس که هغهٔ اوس هم اوکړلو نو دویمه غوټه هم پرانستلې شی. والله تعالی اعلم

والا اصبح خبيث النفس كسلان. ګینی(یعنی که دریوارهٔ کارونه ئې اونهٔ کړل) بلکه اوده پاتې شو تر دې چه د سحر مونځ ترینه فوت شو . یا مطلب دا دې چه د تهجد مونځ ترینه فوت شو نو بیا دا سړی په داسې حالت کښې صباکوی چه د دهٔ طبیعت غیر منشرح او سست وی او که دریواړه کارونه ئې نه وی کړی نو دا سستوالې به ئې ډیر زیات وی، او که بعضې ئې اوکړل او بعضې ئې اونهٔ کړل نو هم په دې اعتبار سره به په دې کښې کمې راځی

يو اشکال او د هغې جواب:

دلته یو اشکال دې هغه دا چه په حدیث کښې خو راځی چه، لا يقولن احدكم خبثت نفسی و لكن ليقل لقست نفسی. دا حدیث په خپله په دې کتاب د سنن ابوداؤد کښې په کتاب الادب کښې راځی. (بذل، ص۲۷۳ ، ج،۵،) د دې جواب دا ورکړې شوې دې چه منع په خپله د خپل ځان په حقله ددې لفظ دوئیلو نه ده او دلته متکلم دا صفت د بل دپاره بیانوی خو په دې کښې دا اشکال دې چه کوم څیز د خپل ځان دپاره ناخوښ وی نو هغه د نورو دپاره هم ناخوښ کیدل پکار دی. لهذا صحیح جواب دا دې چه دې لفظ لره بغیر د څه محرك او مصلحت نه استعمالول مناسب نهٔ دی، او که د څه مصلحت سره وی لکه څنګه چه تنفير(نفرت پیدا کول) او تحذير(ویرول)لکه څنګه چه په دې حدیث کښې دی نو په دې کښې څهٔ باك نشته دې. قاله الحافظ(لامع،ص،۸۵ج،۲،) د بنده په خیال کښې د دې یو جواب بل هم کیدې شی کوم چه د حضرت شیخ د تقریر نه ماخوذ دې هغه دا چه منع په کوم مقام باندې شوې ده هغه بل دې هغه خودا دې چه د کوم سړی طبیعت د معدې د خرابتیا د وجه نه یا د زیات خوراك د وجه خراب وی(کوم ته چه د زړهٔ خرابتیا وائی) نو هلته دا لفظ د. خبث. دې نهٔ استعمالوی څکه چه د خباثت لفظ ډیر سخت او شنیع یعنی بد دې په دې سره د ذهن انتقال د نفس خباثت او د باطن طرف ته کیږی حال دا دې چه هغهٔ مراد نهٔ دې، او دلته په دې حدیث کښې د کومې معنی دپاره چه دا لفظ د خبث استعمال کړې شوې دې د دې مناسب دې څکه چه د ذکر پریخودلو او د طهارت پریخودلو سره په نفس کښې خباثت

پيدا کيږي، والله تعالى اعلم

[۱۳۰۷](١)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، قَالَ: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ خُمَيْرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ أَبِي قَيْسٍ، يَقُولُ: قَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: لَا تَدَعْ قِيَامَ اللَّيْلِ، فَإِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ لَا يَدَعُهُ، وَكَانَ إِذَا مَرِضَ أَوْ كَسِلَ صَلَّى قَاعِدًا".

د يزيد بن خمير نه روايت دى هغه ويلي دي ما اوريدلي دي د عبد الله بن ابي قيس نه هغه ويل عائشي رضي الله عنها ويلي دي قيام الليل مه پرېږده ببشکه رسول الله ﷺ وو چي نه يي پرېخودل. او کله چي به مريض شو او يا به ناراسته وو نو کولو به يي په ناسته

[۱۳۰۸](٢)حَدَّثَنَا ابْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، حَدَّثَنَا ابْنُ عَجْلَانَ، عَنِ الْقَعْقَاعِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "رَحِمَ اللَّهُ رَجُلًا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ فَصَلَّى وَأَيْقَظَ امْرَأَتَهُ، فَإِنْ أَبَتْ نَضَحَ فِي وَجْهِهَا الْمَاءَ، رَحِمَ اللَّهُ امْرَأَةً قَامَتْ مِنَ اللَّيْلِ فَصَلَّتْ وَأَيْقَظَتْ زَوْجَهَا، فَإِنْ أَبَى نَضَحَتْ فِي وَجْهِهِ الْمَاءَ".

د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى هغه ويلي دي، رسول الله ﷺ ويلي دي الله دي رحم وکړي په سړي باندې چي پاڅېږي دشپې او مونځ وکړي او خپله ښځه هم پاڅوي. که چېري انکار وکړي نو د هغه په مخ باندې اوبه واچوي. الله دي رحم وکړي په ښځه باندې چي پاڅېږي دشپې او مونځ وکړي. او خپل خاوند رابيدار کړي. که چېري انکار وکړي. نو واچوي اوبو لره د هغه په مخ

تشريح: قوله: فان ابت نضح في وجهها الماء. د دينه معلومه شوه چه د اودۀ سړي د پاسولو آسانه طريقه دا ده چه په هغۀ باندې دې اوبۀ اوشيندلې شي. فان ابى نضحت في وجهه الماء. د دينه حسن معاشرت مستفاد کيږي. د زوجينو په خپل مينځ کښې بې تکلفي او مينه محبت.

[۱۳۰۷](٣)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، قَالَ: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ خُمَيْرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ أَبِي قَيْسٍ، يَقُولُ: قَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: لَا تَدَعْ قِيَامَ اللَّيْلِ، فَإِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ لَا يَدَعُهُ، وَكَانَ إِذَا مَرِضَ أَوْ كَسِلَ صَلَّى قَاعِدًا".

د يزيد بن خمير نه روايت دى هغه ويلي دي ما اوريدلي دي د عبد الله بن ابي قيس نه هغه ويل عائشي رضي الله عنها ويلي دي قيام الليل مه پرېږده ببشکه رسول الله ﷺ وو چي نه يي پرېخودل. او کله چي به مريض شو او يا به ناراسته وو نو کولو به يي په ناسته

[۱۳۰۸](٤)حَدَّثَنَا ابْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، حَدَّثَنَا ابْنُ عَجْلَانَ، عَنِ الْقَعْقَاعِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "رَحِمَ اللَّهُ رَجُلًا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ فَصَلَّى وَأَيْقَظَ امْرَأَتَهُ، فَإِنْ أَبَتْ نَضَحَ فِي وَجْهِهَا الْمَاءَ، رَحِمَ اللَّهُ امْرَأَةً قَامَتْ مِنَ اللَّيْلِ فَصَلَّتْ وَأَيْقَظَتْ زَوْجَهَا، فَإِنْ أَبَى نَضَحَتْ فِي وَجْهِهِ الْمَاءَ".

---

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٦٢٨١)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٢٦/٦، ٢٤٩) (صحيح)

(٢): سنن النسائي/قيام الليل ٥ (١٦١١)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٧٥ (١٣٣٦)، (تحفة الأشراف: ١٢٨٦٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٥٠/٢، ٤٣٦) (حسن صحيح) ويأتي هذا الحديث برقم (١٤٥٠)

(٣): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٦٢٨١)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٢٦/٦، ٢٤٩) (صحيح)

(٤): سنن النسائي/قيام الليل ٥ (١٦١١)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٧٥ (١٣٣٦)، (تحفة الأشراف: ١٢٨٦٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٥٠/٢، ٤٣٦) (حسن صحيح) ويأتي هذا الحديث برقم (١٤٥٠)

د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه ويلي دي، رسول الله ﷺ ويلي دي: الله دي رحم وکړي په سړي باندې چې پاڅېږي دشپې او مونځ وکړي او خپله ښځه هم پاڅوي، که چېرې انکار وکړي نو د هغه په مخ باندې اوبه واچوي، الله دي رحم وکړي په ښځه باندې چې پاڅېږي دشپې او مونځ وکړي، او خپل خاوند رابيدار کړي، که چېرې انکار وکړي، نو واچوي اوبو لره د هغه په مخ.

تشريح: **قوله**: اذا ايقظ الرجل اهله من الليل فصليا او صلى ركعتين كتبا في الذاكرين والذاكرات. د دينه بظاهر معلوميږي چه که يو کس سړې وی يا ښځه د تهجدو اهتمام کوی خواه دوه رکعاته دې وی نو د دې سړی يا ښځې شمير په. الذاكرين الله كثيرا والذاكرات (اعد الله لهم مغفرة و اجرا عظيما) کښې کيږی، اللهم اجعلنا منهم.

بَابُ النُّعَاسِ فِي الصَّلَاةِ

باب دی په بيان د خوب کې په مانځه کې

[۱۳۱۰] (۱) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا نَعَسَ أَحَدُكُمْ فِي الصَّلَاةِ فَلْيَرْقُدْ حَتَّى يَذْهَبَ عَنْهُ النَّوْمُ، فَإِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا صَلَّى وَهُوَ نَاعِسٌ لَعَلَّهُ يَذْهَبُ يَسْتَغْفِرُ فَيَسُبَّ نَفْسَهُ".

د پيغمبر ﷺ بي بي عائشې نه روايت دی، بېشکه نبي ﷺ ويلي دي: کله چې خوب ورځي يو کس ته ستاسو په مانځه کې نو اوده دې شي تر دې چې د هغه خوب ختم شي، بېشکه يو کس ستاسو نه کله چې مونځ کوي او هغه اوده وي کيدی شي چې هغه استغفار غواړي او ځان ته کنځلې وکړي.

[۱۳۱۱] (۲) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ هَمَّامِ بْنِ مُنَبِّهٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا قَامَ أَحَدُكُمْ مِنَ اللَّيْلِ فَاسْتَعْجَمَ الْقُرْآنُ عَلَى لِسَانِهِ فَلَمْ يَدْرِ مَا يَقُولُ فَلْيَضْطَجِعْ".

د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه ويلي دي: رسول الله ﷺ ويلي دي: کله چې کس ستاسو نه پاڅېږي دشپې، اوسخت شي قرآن دهغه په ژبه، نه پوهېږي چې څه وايي هغه، نو ده دي ووهي

تشريح: **قوله**: فاستعجم القرآن على لسانه فلم يدر ما يقول فليضطجع. کوم سړې چه قيام اوکړي او بيا په مونځ کولو کولو کښې په دهٔ باندې پرکالی راشی، او د دهٔ په ژبه باندې د قرآن تلفظ کول گران شی او دا هم خبر ورنه نهٔ وی چه زهٔ څهٔ لولم نو بيا دهٔ پکار دی چه سملی. کله په طبيعت کښې چستوالې وی نو بيامونځ کول پکار دی. لکه څنگه چه وړاندې راروان دی، ليصلى احدكم نشاط.

---

(۱): صحيح البخاري/الوضوء ۵۳ (۲۱۲)، صحيح مسلم/المسافرين ۳۱ (۷۸۶)، (تحفة الأشراف: ۱۷۱۴۷)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصلاة ۱۴۶ (۳۵۵)، سنن النسائي/الطهارة ۱۱۷ (۱۶۲)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۸۴ (۱۳۷۰)، موطا امام مالك/صلاة الليل ۱ (۳)، مسند احمد (۶/۵۶، ۲۰۵)، سنن الدارمي/الصلاة ۱۰۷ (۱۴۲۳) (صحيح)

(۲): صحيح مسلم/المسافرين ۳۱ (۷۸۷)، (تحفة الأشراف: ۱۴۷۲۱)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۸۴ (۱۳۷۲)، مسند احمد (۲/۲۱۸) (صحيح)

[۱۳۱۲](¹)حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ، وَهَارُونُ بْنُ عَبَّادٍ الْأَزْدِيُّ، أَنَّ إِسْمَاعِيلَ بْنَ إِبْرَاهِيمَ حَدَّثَهُمْ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: دَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَسْجِدَ وَحَبْلٌ مَمْدُودٌ بَيْنَ سَارِيَتَيْنِ، فَقَالَ: "مَا هَذَا الْحَبْلُ؟" فَقِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، هَذِهِ حَمْنَةُ بِنْتُ جَحْشٍ تُصَلِّي، فَإِذَا أَعْيَتْ تَعَلَّقَتْ بِهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لِتُصَلِّ مَا أَطَاقَتْ، فَإِذَا أَعْيَتْ فَلْتَجْلِسْ". قَالَ زِيَادٌ: فَقَالَ: "مَا هَذَا؟" فَقَالُوا: لِزَيْنَبَ تُصَلِّي، فَإِذَا كَسِلَتْ أَوْ فَتَرَتْ أَمْسَكَتْ بِهِ، فَقَالَ: "حُلُّوهُ" فَقَالَ: "لِيُصَلِّ أَحَدُكُمْ نَشَاطَهُ، فَإِذَا كَسِلَ أَوْ فَتَرَ فَلْيَقْعُدْ".

د انس رضي الله عنه نه روايت دی هغه وايي: داخل شو رسول الله ﷺ مسجد ته، او يوه رسۍ اوږده په مابين د دوه ستنو کې، هغه ووېل: دا د څه شي رسۍ ده؟ ووېل شو اې د الله رسوله! دا حمنة بنت جحش مونځ کوي کله چې ستړې شي نو ځان ورپورې زوړند کړي، رسول الله ﷺ وفرمايل: مونځ دې کوي تر کومه يې چې طاقت وي، کله چې ستړې شي بيا دې کيني، ويلي دي زياد: هغه وفرمايل: دا څه شی دی؟ هغوی ووېل: دا د زينب دپاره ده مونځ کوي، کله چې ناراسته شي او يا سسته شي نو دا رسۍ نيسي، هغه ووېل: دا ايله کړئ. هغه وفرمايل: مونځ دې کوي يو کس ستاسو نه د چستۍ په حالت کې، کله چې ناراسته شي او ستړی شي نو بيا دې کيني.

بَابُ مَنْ نَامَ عَنْ حِزْبِهِ

باب دی په بيان د هغه چا کې چې د خپل ورد نه

[۱۳۱۳](²)حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا أَبُو صَفْوَانَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَعِيدِ بْنِ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ مَرْوَانَ. ح وحَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ، وَمُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ الْمُرَادِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ الْمَعْنَى، عَنْ يُونُسَ، عَنْ ابْنِ شِهَابٍ، أَنَّ السَّائِبَ بْنَ يَزِيدَ، وَعُبَيْدَ اللَّهِ أَخْبَرَاهُ، أَنَّ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ عَبْدٍ، قَالَ: عَنْ ابْنِ وَهْبٍ بْنِ عَبْدٍ الْقَارِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ نَامَ عَنْ حِزْبِهِ أَوْ عَنْ شَيْءٍ مِنْهُ فَقَرَأَهُ مَا بَيْنَ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَصَلَاةِ الظُّهْرِ كُتِبَ لَهُ كَأَنَّمَا قَرَأَهُ مِنَ اللَّيْلِ".

وهب ابن عبد القاري ويلي دي، ما اوريدلي دي د عمر بن الخطاب نه هغه به ويل: رسول الله ﷺ ويلي دي: څوک چې د خپل ورد نه اوده شي. او يا د څه شي د هغې نه. نو هغه يې ولوستلو په مينځ د سحر او د ماسپخين مونځ کې، ګويا چې هغه ولوستلو د شپې.

¹): صحيح مسلم/المسافرين ۳۲ (۷۸٤)، سنن النسائي/قيام الليل ۱۵ (۱٦٤٤)، (تحفة الأشراف: ۹۹۵)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/التهجد ۱۸ (۱۱۵۰)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۸٤ (۱۳۷۱)، مسند احمد (۳/۱۰۱، ۱۸٤، ۲۰٤، ۲۰۵) (صحيح) دون ذكر حمنة

²): صحيح مسلم/المسافرين ۱۸ (۷٤۷)، سنن الترمذي/الصلاة ۲۹۱ (الجمعة۵٦) (۵۸۱)، سنن النسائي/قيام الليل ۵٦ (۱۷۹۱، ۱۷۹۲، ۱۷۹۳)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۷۷ (۱۳٤۳)، (تحفة الأشراف: ۱۰۵۹۲)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/القرآن ۳ (۳)، مسند احمد (۱/۳۲، ۵۳)، سنن الدارمي/الصلاة ۱٦۷ (۱۵۱۸) (صحيح)

بَابُ مَنْ نَوَى الْقِيَامَ فَنَامَ

باب دی په بیان د هغه چا کښې چې نیت د قیام وکړي او اوده شو

[۱۳۱۴] (¹) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ رَجُلٍ عِنْدَهُ رَضِيٍّ، أَنَّ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبَرَتْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَا مِنَ امْرِئٍ تَكُونُ لَهُ صَلَاةٌ بِلَيْلٍ يَغْلِبُهُ عَلَيْهَا نَوْمٌ إِلَّا كُتِبَ لَهُ أَجْرُ صَلَاتِهِ، وَكَانَ نَوْمُهُ عَلَيْهِ صَدَقَةً".

سعید بن جبیر نه روایت دی. هغه روایت کوي د یو سړي نه چې د هغه په نزد د ښه حال والا دی، بېشکه عاشي ورته خبر ورکړی دی چې بېشکه رسول الله ﷺ ویلي دي: نشته دی هیڅ یو سړی چې د هغه دشپې مونځ وي او خوب وربانديې غالب ش. مګر لیکلی به شي د هغه دپاره اجر د مونځ د هغه، او خوب د ده د هغه دپاره صدقه شوه.

بَابُ أَيُّ اللَّيْلِ أَفْضَلُ

باب دی چې کومه حصه دشپې افضل ده؟

د شپې کومه حصه غوره ده (دي دپاره چه هغه حصه کښې راپاسی او عبادت اوکړي شی)

[۱۳۱۵] (²) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، وَعَنْ أَبِي عَبْدِ اللَّهِ الْأَغَرِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "يَنْزِلُ رَبُّنَا تَبَارَكَ وَتَعَالَى كُلَّ لَيْلَةٍ إِلَى سَمَاءِ الدُّنْيَا حِينَ يَبْقَى ثُلُثُ اللَّيْلِ الْآخِرُ، فَيَقُولُ: مَنْ يَدْعُونِي فَأَسْتَجِيبَ لَهُ، مَنْ يَسْأَلُنِي فَأُعْطِيَهُ، مَنْ يَسْتَغْفِرُنِي فَأَغْفِرَ لَهُ".

د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی، بېشکه رسول الله ﷺ ویلي دي: راکوزېږي رب زمونږ لوی شان والا هره شپه اسمان د دنيا ته کله چې پاتې شي دريم ثلث وروستنی، نو هغه وايي: څوک مانه دعاء غواړي چې ورله قبوله يې کړم؟ څوک زمانه سوال کوي چې ورېي کړم؟ څوک زمانه بخښنه غواړي چې بخښنه ورته وکړم.

ان رسول الله صلی الله عليه وسلم قال ينزل ربّنا عزوجل کل ليلة الی سماء الدنيا حين يبقی ثلث الليل الاخر، دا الاخر د ثلث صفت دې د ليل نهٔ دې، يعنی چه کله باقی پاتې دی د شپې آخرې ثلث. د حديث مضمون دا دي چه الله تعالی د شپې په آخری حصه کښې سماء الدنيا باندې نزول فرمائي او دا اعلان فرمائي چه، شته څوک سړی چه زما نه دعا غواړی او زهٔ د هغهٔ دعاء قبوله کړم

د صفاتو داحاديثو په باره کښې مختلف مذاهب:

دا حديث د صفاتو د احاديثو نه دي د دې تعلق د الله تعالی د صفاتو سره دې خو د متشابهاتو نه دي د دې حقيقی معنی چا ته هم نهٔ ده معلومه ځکه چه نزول او صعود يعنی

(¹): سنن النسائي/قيام الليل ٥٢ (١٧٨٥)، (تحفة الأشراف: ١٦٠٠٧)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/ صلاة الليل ١ (١)، مسند احمد (٦/٦٣، ٧٢، ١٨٠) (صحيح)

(²): صحيح البخاري/التهجد ١٤ (١١٤٥)، والدعوات ١٤ (٦٣٢١)، والتوحيد ٣٥ (٧٤٩٤)، صحيح مسلم/المسافرين ٢٤ (٧٥٨)، سنن الترمذي/الصلاة ٢١٢ (٤٤٦)، والدعوات ٧٩ (٣٤٩٨)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٨٢ (١٣٦٦)، (تحفة الأشراف: ١٣٤٦٣، (صحيح) ١٥٢٤١)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/ القرآن ٨ (٣٠)، مسند احمد (٢/٢٦٤، ٢٦٧، ٢٨٣، ٤١٩، ٤٨٧)، سنن الدارمي/الصلاة ١٦٨ (١٥١٩)، ويأتي برقم (٤٧٣٣)

کوزیدل او ختل. او انتقال من مکان الی مکان یعنی د یوځائې نه بل ځائې ته د اجسامو د صفاتو نه دي. او الله تعالی د جسم او د جسم د لوازمو نه منزه دې.هم داسې، ید الله، او الرحمٰن علی العرش استوٰی. فرقه مجسمه او مشبه کوم چه الله تعالی لره جسم ګڼړی هغوی خو داسې قسمه احادیثو لره په ظاهر باندې محمولوی(والعیاذ بالله) دا خو سراسر کفر دې، دویمه فرقه معتزله او د خوارجو ده. هغوی خو د دې احادیثو د صحة نه هم انکار کړې دې اوس پاتې شول اهل سنت والجماعت په دې کښې دوه ډلې دی، متقدمین او متاخرین، متقدمین په کومو کښې چه ائمه اربعه هم داخل دی د تفویض قائل دی د دوئ مسلک دا دې چه د دې احادیثو د حق کیدو اعتقاد دې اوکړې شی او دې سره دا هم ضروری ده چه دې لره په ظاهری معنی باندې محمول نهٔ کړې شی بلکه دا اعتقاد دې اوساتلې شی چه بیشکه نزول د الله تعالی صفت دې خو دا هغه نزول نهٔ دې لکه څنګه چه د اجسامو وی، اوس څنګه دې نو د دې حقیقت او کیفیت معلوم نهٔ دې، د د امام مالك مشهوره واقعه ده چه چا د دوئ نه د، الرحمٰن علی العرش استوٰی، په حقله سوال اوکړو نو هغوی اوفرمائیل چه. الاستواء معلوم و الکیف مجهول والسوال عنه بدعة، اخرجوا هذا المبتدع عن المجلس، او دمتاخرینو مذهب د تاویل دې یعنی د رب د نزول نه مراد نزول د رحمت دې، مثلاً، متاخرینو تاویل لره په تفویض باندې دې دپاره ترجیح ورکړې ده چه د باطلو فرقو رد اوکړې شی او هغوی لره د استدلال موقع ورنهٔ کړې شی.

بَابُ وَقْتِ قِيَامِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم مِنَ اللَّيْلِ

باب دی په بیان د وقت د قیام د نبي صلی الله علیه وسلم کې

[۱۳۱۶](١)حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ يَزِيدَ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا حَفْصٌ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "إِنْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيُوقِظُهُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ بِاللَّيْلِ فَمَا يَجِيءُ السَّحَرُ حَتَّى يَفْرُغَ مِنْ حِزْبِهِ".

د عائشې ﷺ نه روایت دی هغې ویلي دي: شان دا دی چې وو رسول الله ﷺ چې بیدارولو به الله تعالی د شپې، سحر به لا نه وو راغلی چې هغه به د خپل ورد نه فارغ شوی وو.

قوله، فما یجيء السّحر حتی یفرُغ من حزبه، په دې حدیث کښې حضرت عائشه ﷺ د حضور ﷺ د رابیداریدلو د وخت څهٔ تعین نهٔ دې فرمائیلې. بلکه دا ئې فرمائیلی دی چه د سحر کیدو نه وړاندې وړاندې به حضور ﷺ د خپل معمول او وظیفې نه فارغیدلو، سحر وائی، قبیل الصبح. نه یعنی د شپې آخری سدس یعنی د شپې آخري شپږمه حصه

[۱۳۱۷](٢)حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ. ح وحَدَّثَنَا هَنَّادٌ، عَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ وَهَذَا حَدِيثُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَشْعَثَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ مَسْرُوقٍ، قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْتُ لَهَا: أَيَّ حِينٍ كَانَ يُصَلِّي؟ قَالَتْ: "كَانَ إِذَا سَمِعَ الصُّرَاخَ قَامَ فَصَلَّى".

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٦٧٩٢) (حسن)

(٢): صحيح البخاري/التهجد ٧ (١١٣٢)، والرقاق ١٨ (٦٤٦١)، صحيح مسلم/المسافرين ١٧ (٧٤١)، سنن النسائي/قيام الليل ٨ (١٦١٧)، (تحفة الأشراف: ١٧٦٥٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/١١٠، ١٤٧، ٢٠٣، ٢٧٩) (صحيح)

د مسروق نه روایت دی هغه وایي ما تپوس وکړو د عائشي رضي الله عنها نه د مانځه د رسول الله ﷺ، ما هغې ته وویل په کوم وخت کې به یي مونځ کولو؟ هغې وویل هغه وو چې کله به یي اواز واوریدلو نو پاڅیدلو به او مونځ به یي کولو.

تشریح: قوله: قالت کان اذا سمع الصُراخ قام فصلی، صراخ یعنی صوت شدید سخت آواز د دېنه د چرګ آواز مراد دې، او په یو روایت کښې دی چه، اذا سمع الصارخ، وائی چه په حجاز کښې چرګ نیمې شپې ته نزدې بانګونه شروع کوی کوم ته چه زمونږ په عرف کښې د چرګ آذان وائی.

[۱۳۱۸] (¹) حَدَّثَنَا أَبُو تَوْبَةَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "مَا أَلْفَاهُ السَّحَرُ عِنْدِي إِلَّا نَائِمًا، تَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

د عائشي رضي الله عنها نه روایت دی هغې ویلي دي نه دی موندلی هغه لره سحر زما سره مګر په حالت د آود کې. قصد یي نبي ﷺ دی.

تشریح: قوله: ما الفاه السحر عندی الا نائما، نۀ وو موندلي ما حضور ﷺ لره د سحر په وخت کښې کله چه به حضور ﷺ ما سره وو مګر په دې حال کښې چه دوئ به اودۀ وو، یعنی کله چه به حضور ﷺ ما سره شپه تیروله او زما نوبت به وو نو د دوئ معمول دا وو چه د شپې تر آخره پورې(صبا کیدو ته نزدې) د خپلو معمولو نه به فارغ شول نو آرام کولو دپاره به سملاستل، د سحر نه مراد د شپې آخری شپږمه حصه ده (کما تقدم) په منهل کښې لیکلې دی چه د دېنه دا معلومه شوه چه د تهجدو نه فارغ کیدو نه پس د شپې په آخره کښې آرام کول سنت دی ځکه چه د حضور ﷺ معمول وو او هم دا معمول په حدیث کښې د حضرت داؤد علیه السلام هم راغلې دې چه، کان ینام سدسه، او حضور ﷺ د داؤد علیه السلام د دې معمول خوښ فرمائیلې دې چه، احب الصلوة الی الله صلوة داؤد و احب الصیام الی الله صیام داؤد یصوم یوما و یفطر یوما، (اخرجه البخاری) د بعضې شراحو رائې دا ده چه د دې نوم یعنی خوب نه په دې حدیث کښې مجازا اضطجاع مراد ده ځکه چه په بل روایت کښې داسې دی ، فان کنت مستیقظة حدثنی و الا اضطجع، خو اضطجاع د خوب منافی کله ده؟ حضور ﷺ په لنډه خبره کړې او اودۀ شوې به وی، بله دا چه دا د اودۀ کیدو معمول به د دوئ د رمضان نه غیر وو او په رمضان کښې به د دوئ معمول د تهجدو وغیره نه فارغ کیدو نه پس د پیشمنی خوراک کول وو ، ځکه امام بخاری دوه جدا جدا بابونه تړلې دی، باب من نام عند السحر، و، باب من تسحر فلم ینم حتی صلی الصبح ، (من المنهل)

[۱۳۱۹] (²) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ زَكَرِيَّا، عَنْ عِكْرِمَةَ بْنِ عَمَّارٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الدُّؤَلِيِّ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ ابْنِ أَخِي حُذَيْفَةَ، عَنْ حُذَيْفَةَ، قَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا حَزَبَهُ أَمْرٌ صَلَّى".

¹): صحیح البخاري/التهجد ۷ (۱۱۳۳)، صحیح مسلم/المسافرین ۱۷ (۷۴۲)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۲۶ (۱۱۹۷)، (تحفة الأشراف: ۱۷۷۱۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۷۰/۶) (صحیح)

²): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۳۳۷۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳۸۸/۵) (حسن)

د حذيفه ﷺ نه روايت دی هغه ويلي دي: وو نبي ﷺ کله چې به پريشان کړو هغه لره کوم کار نو مونځ به يې کولو.

تشريح: قوله: كان النبى صلى الله عليه وسلم اذا حَزَنَهُ امرٌ صلى،اى اذا اصابه امر. يعنی کله به حضور ﷺ ته د کوم غم او فکر خبره پيښه شوه نو مونځ به ئې شروع کړو، او دا هم کيدې شي چه د صلوة نه مراد دعاء وی، او په يو روايت کښې دی چه، حَزَنه د حُزن نه دې، کله چه به دوئ لره کوم څيز په غم کښې واچول

[۱۳۲۰]()حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عَمَّارٍ، حَدَّثَنَا الْهِقْلُ بْنُ زِيَادٍ السَّكْسَكِيُّ، حَدَّثَنَا الْأَوْزَاعِيُّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَبِيعَةَ بْنَ كَعْبٍ الْأَسْلَمِيَّ، يَقُولُ: كُنْتُ أَبِيتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آتِيهِ بِوَضُوئِهِ وَبِحَاجَتِهِ، فَقَالَ: "سَلْنِي" فَقُلْتُ: مُرَافَقَتَكَ فِي الْجَنَّةِ، قَالَ: "أَوَغَيْرَ ذَلِكَ؟" قُلْتُ: هُوَ ذَاكَ، قَالَ: "فَأَعِنِّي عَلَى نَفْسِكَ بِكَثْرَةِ السُّجُودِ".

د ابو سلمة نه روايت دی هغه وايي ما اوريدلي دي د ربيعة بن كعب الاسلمي نه، هغه به ويل: وم زه چې اوده کيدم د نبي ﷺ سره هغه ته به مې د اودس اوبه راوړې او د هغه ضروريات، هغه وويل: وغواړه مانه، ما وويل: ستا ملګرتيا په جنت کې غواړم، ايا بل شی به غير د دينه؟ ما وويل: هغه هم دا دی، هغه وويل: زما مدد وکړه په خپل باندې په کثرت د سجدو سره.

تشريح: قوله: سمعت ربيعة بن كعب الاسلمي يقول كنت ابيت مع رسول الله صلى الله عليه وسلم اتيه بوضوء و بحاجته فقال سلنى فقلت مرافقتك فى الجنة،الخ، دا صحابى د اهل صفه نه دې فرمائی چه ما به د حضور ﷺ سره شپه تيرولهﯾ(بظاهر دا د يو سفر واقعه ده ګينې په حضر کښې خو به حضور ﷺ د خپلو ازواجو سره شپه تيروله) ما به د حضور ﷺ دپاره د اودس دپاره اوبۀ راوړلې او نور خدمت به مې کولو نو په دې باندې حضور ﷺ اوفرمائل چه اوغواړه څۀ غواړې ما عرض اوکړلو چه په جنت کښې ستاسو سره قرب او نزديکت او ملګرتيا، په دې باندې حضور ﷺ اوفرمائيل د دينه علاوه څۀ نور اوغواړه، ما عرض اوکړو! حضرت زما مطلوب هم دا دې، فاعنى على نفسك بكثرة السجود. مطلب دا دې چه مونږ به هم د الله نه دعا غواړو او کوشش به کوو ستا فرمائش پوره کولو دپاره، باقی تۀ هم مطمئن مۀ کينۀ بلکه د خپل نفس مخالفت کوه او په نيکو کارونو رکوع سجدو، مونځونو وغيره عباداتونو کښې لګيا اوسه او په دې شان زما مدد اوکړه دې دپاره چه د دواړو کوشش يوځائې شي نو کار به اوشی، لکه څنګه چه يوحکيم د يو مريض دپاره دوا تجويز کړی چه دې لره استعمال کړه او دا ورته هم اووائی چه روره صرف په دوا باندې بهروسه مۀ کوه بلکه زمونږ په دې علاج کښې د پرهيز په ذريعې سره مدد کوه.

[1]): صحيح مسلم/الصلاة٤٣ (٤٨٩)، سنن الترمذي/الدعوات ٢٦ (٣٤١٦)، سنن النسائي/التطبيق ٧٩ (١١٣٩)، وقيام الليل ٩ (١٦١٩)، سنن ابن ماجه/الدعاء ١٦ (٣٨٧٩)، (تحفة الأشراف: ٣٤١٦، ٣٦٠٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥٧/٤) (صحيح)

[۱۳۲۱]()حَدَّثَنَا أَبُو كَامِلٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا سَعِيدٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، فِي هَذِهِ الْآيَةِ: تَتَجَافَى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ سورة السجدة آية، قَالَ: كَانُوا يَتَيَقَّظُونَ مَا بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ يُصَلُّونَ، وَكَانَ الْحَسَنُ، يَقُولُ: قِيَامُ اللَّيْلِ.

د انس بن مالک نه روایت دی په دې ایت کې (تتجافی جنوبهم عن المضاجع یدعون ربهم خوفًا و طمعًا و مما رزقناهم ینفقون) هغه وایي ویخ به پاتې کیدل په مابین د ماښام او ماسخوتن کې، او حسن به ویل قیامُ اللیل

قوله. تتجافی جنوبهم عن المضاجع. د دوئ اړخونه د خوب د ځایونو نه جدا وی.

د ایة په مصداق کښې کښر اقوال

دا کوم خلق دی د دې په مصداق کښې په بذل المجهود کښې د تفسیر طبري نه پنځه اقوال نقل کړې دی.(۱) هغه خلق کوم چه د ماسخوتن د مانځه په انتظار کښې ویښ اوسی،(۲) د ماښام د مانځه په انتظار کښې نهٔ اودهٔ کیږی،(۳) کوم چه د ماښام او ماسخوتن په مینځ کښې په مانځه کښې مشغول اوسی،(۴) قیام اللیل یعنی تهجد ته اشاره ده،(۵) کوم خلق چه په ذکر الله سره رطب اللسان اوسی. په آیت شریفه کښې د دې خلقو سره چه کومه وعده ذکر ده هغه دا ده چه. فلا تعلم نفس ما اخفی لهم من قرة اعین. چه د دې خلقو د پاره الله تعالی په آخرت کښې کوم اسباب د راحت او عیش او د سترګو یخوالې تیار کړې دې هغې لره څوك پیژنی

[۱۳۲۲]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، وَابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، فِي قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ: كَانُوا قَلِيلًا مِنَ اللَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ سورة الذاريات آية، قَالَ: كَانُوا يُصَلُّونَ فِيمَا بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ، زَادَ فِي حَدِيثِ يَحْيَى: وَكَذَلِكَ تَتَجَافَى جُنُوبُهُمْ سورة السجدة آية.

د انس رضی الله عنه نه روایت دی د الله په قول کې (کانوا قلیلًا من اللیل ما یهجعونَ) هغه ویلي دي هغوی به مونځ کولو په مابین د ماښام او ماسخوتن کې زیادت یې کړی دی په حدیث د یحیی کې او همدارنګه لري کول به یې اړخونه خپل

باب افتتاح صلاة الليل بركعتين

باب دی په بیان د افتتاح د شپې مونځ کې په دوه رکعاتو سره

یعنی کله چه سړې د تهجد مونځ شروع کړی نو په ابتداء کښې دې دوه رکعاته لنډ اوکړی د دېنه پس دې اوږد مونځ اوکړی

په شروع کښې دوو رکعاتو لره لنډ کولو کښې مصلحت

په دې کښې دا مصلحت دې چه په نفس باندې یودم بوجهه پرینوځی بلکه لږ لږ دهٔ لره د ریاضت او عبادت طرف ته راوړلې شی په اصل کښې د نفس نه په غلولو سره کار اغستل دی، او بعضې شارحینو لیکلې دی چه په حدیث کښې دی چه شیطان د اودهٔ سړی په سر

(۱): تفرد به ابو داود، (تحفة الأشراف: ۱۲۱۲)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/تفسير القرآن ۳۳ (۳۱۹۶) (صحيح)
(۲): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۲۱۳) (صحيح)

کښې درې غوټې اوترې په کومو کښې چه یوه غوټه د ذکر په برکت سره او دویم د اودس او دریمه د مونځ په برکت سره پرانستلې شی (لکه څنګه چه د کتاب په اول کښې تیر شوې دی) نو دا دوه رکعاته دې زر لنډ غوندې دې دپاره اوکړی چه هغه آخری غوټه زر پرانستلې شی او د شیطان د مکر نه خلاصې اومومی او بیا د دینه پس په اطمینان سره اوږد مونځ اوکړې شی، حضرت شیخ رحمه الله د بذل په حاشیه کښې لیکلې دی چه تعجب دې چه د احادیثو شراحو هم د حدیث نکات او لطائف بیانولو کښې هیڅ کمې نه دې پریخودې فلله درهم.

[۱۳۲۳] (¹) حَدَّثَنَا الرَّبِيعُ بْنُ نَافِعٍ أَبُو تَوْبَةَ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَيَّانَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ حَسَّانَ، عَنِ ابْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا قَامَ أَحَدُكُمْ مِنَ اللَّيْلِ فَلْيُصَلِّ رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ".

د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی هغه ویلې دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلې دی کله چې پاڅېږي یو کس ستاسو نه د شپې، نو مونځ دې وکړي دوه رکعاته سپک

[۱۳۲۴] (²) حَدَّثَنَا مَخْلَدُ بْنُ خَالِدٍ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ يَعْنِي ابْنَ خَالِدٍ، عَنْ رَبَاحِ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنِ ابْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: إِذَا بِمَعْنَاهُ زَادَ، ثُمَّ لِيُطَوِّلْ بَعْدُ مَا شَاءَ. قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، وَزُهَيْرُ بْنُ مُعَاوِيَةَ، وَجَمَاعَةٌ، عَنْ هِشَامٍ، عَنْ مُحَمَّدٍ، أَوْقَفُوهُ عَلَى أَبِي هُرَيْرَةَ، وَكَذَلِكَ رَوَاهُ أَيُّوبُ، وَابْنُ عَوْنٍ أَوْقَفُوهُ عَلَى أَبِي هُرَيْرَةَ، وَرَوَاهُ ابْنُ عَوْنٍ، عَنْ مُحَمَّدٍ، قَالَ: فِيهِمَا تَجَوُّزٌ.

د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی، هغه ویلې دی کله په معنی د هغې سره، هغه پکې زیادت کړی دی بیا دې وروسته اوږدوالی وکړي څومره یې چې خوښه وي ابوداود ویلې دي د دې حدیث روایت حماد بن سلمة او زهیر بن معاویة او یو جماعت د هشام نه هغه د محمد نه کړی دی، دوی موقوف کړی دی په ابو هریره باندې، او همدارنګه نقل کړی دی ایوب او ابن عون دوی موقوف کړی دی په ابو هریره باندې، او روایت کړی دی ابن د محمد نه، هغه وایي په دې دواړو رکعاتونو کې اختصار دی

(د لفظ تجوز لغوی تحقیق)

تشریح: قوله: قال فیهم تجوز، دا لفظ مصدر هم کیدې شی (تَجَوُّزٌ) یعنې په دې دوو رکعاتونو کښې لنډوالې پکار دې، او د فعل مضارع نه هم کیدې شی، (تجوز) کوم چه په اصل کښې تتجوز وو (لنډوالې کوی نو په دې کښې) او د امر صیغه هم کیدې شی، تجوز.

[۱۳۲۵] (³) حَدَّثَنَا ابْنُ حَنْبَلٍ يَعْنِي أَحْمَدَ، حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ، قَالَ: قَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي عُثْمَانُ بْنُ أَبِي سُلَيْمَانَ، عَنْ عَلِيٍّ الْأَزْدِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حُبْشِيٍّ الْخَثْعَمِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ أَيُّ الْأَعْمَالِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: "طُولُ الْقِيَامِ".

---

¹): تفرد به ابوداود، (تحفة الأشراف: ۱٤٥٧۲)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/المسافرين ۲٦ (۷٦۸)، مسند احمد (۲/۲۳۲، ۲۷۹، ۳۹۹) (صحيح)

²): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱٤٤٥۷٦) (صحيح)

³): سنن النسائي/الزكاة ٤۹ (۲٥۲۷)، والإيمان وشرائعه ۱ (٤۹۸۹)، (تحفة الأشراف: ٥۲٤۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (۳/٤۱۲)، سنن الدارمي/الصلاة ۱۳٥ (۱٤٦٤)، ويأتي برقم: (۱٤٤۹) (صحيح) بلفظ أي الصلاة

د عبد الله بن حبشي الخثعمي نه روایت دی. بېشکه رسول الله ﷺ نه تپوس وشو چې کوم یو په اعمالو کې افضل دی؟ هغه وویل اوږد قیام

تشریح: قوله: عن عبدالله بن حبشی ان النبی صلی الله علیه وسلم سئل ای الاعمال افضل قال طول القیام، د دې مقابل هغه حدیث دې کوم چه په ابواب الرکوع کښې تیر شوې دې چه، اقرب ما یکون العبد من ربه و هو ساجد، هم په دې دوو حدیثونو باندې د علماؤ هغه مشهور اختلاف متفرع دې چه طول قیام افضل دې یا کثرت سجود، و قد تقدم مفصلا.

بَابُ صَلَاةِ اللَّيْلِ مَثْنَى مَثْنَى

باب دی په بیان د مونځ د شپې کې دوه دوه رکعاته

نزدې "باب صلوة النهار" تیر شوې دې هغه اوګورئ!

[۱۳۲٦](1) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ نَافِعٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صَلَاةِ اللَّيْلِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "صَلَاةُ اللَّيْلِ مَثْنَى مَثْنَى، فَإِذَا خَشِيَ أَحَدُكُمُ الصُّبْحَ صَلَّى رَكْعَةً وَاحِدَةً تُوتِرُ لَهُ مَا قَدْ صَلَّى".

د عبد الله بن عمر نه روایت دی، بېشکه یو سړي تپوس وکړو د رسول الله ﷺ نه په باره د مونځ د شپې کې، رسول الله ﷺ وفرمایل: د شپې مونځ دوه دوه رکعاته دی، کله چې ویرېږي یو کس ستاسو نه نو یو رکعات دې وکړي، دا به وتر کړي د هغه دپاره هغه چې کړی یې دی.

د وترو په رکعات ثلاثه کښې د حنفیانو تائید:

یعنی د تهجدو نفلونه دوه دوه رکعاته دی کوی او بیا چه کله د تهجدو وخت ختمیدو ته نزدې شی او د وترو نوبت راشی نو په آخری شفعه(دوو رکعاتو) باندې د سلام ګرځولو نه بغیر دې سره یو رکعت بل یوځائې کړی نو دا یو رکعت به دې تیرې شفعې سره یوځائې شی او وتر به ترینه جوړ کړی، د دینه معلومه شوه چه د وترو رکعاتونه دری دی لکه څنګه چه حنفیان وائی، ددې مفصل بحث به انشاء الله تعالی په باب قیام اللیل کښې راشی.

بَابٌ فِي رَفْعِ الصَّوْتِ بِالْقِرَاءَةِ فِي صَلَاةِ اللَّيْلِ

باب دی په اوچتوالي د اواز کې په قراءت باندې د شپې په مونځ کې

[۱۳۲۷](2) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ الْوَرْكَانِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ أَبِي عَمْرٍو مَوْلَى الْمُطَّلِبِ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "كَانَتْ قِرَاءَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى قَدْرِ مَا يَسْمَعُهُ مَنْ فِي الْحُجْرَةِ وَهُوَ فِي الْبَيْتِ".

د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دی هغه ویلي دي وو قراءت د نبي ﷺ په اندازه د هغې چې اوریدلو به هغه چا چې په حجره کې به وو، او هغه په کور کې وو

(1): صحیح البخاري/الصلاة ٨٤ (٤٧٣)، والوتر ١ (٩٩٠)، والتهجد ١٠ (١١٣٧)، صحیح مسلم/المسافرین ٢٠ (٧٤٩)، سنن الترمذي/الصلاة ٢١٠ (٤٣٧)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٧١ (١٣٢٠)، سنن النسائي/قیام اللیل ٢٦ (١٦٦٨)، ٣٥ (١٦٩٣)، تحفة الأشراف: ٧٢٢٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٢، ٩، ١٠، ٤٩، ٥٤، ٦٦)، وانظر ایضًا رقم: (١٢٩٥) (صحیح)

(2): سنن الترمذي/الشمائل (٣٢١)، مسند احمد ٢٧١/١، (تحفة الأشراف: ٦١٧٧) (حسن صحیح)

عن ابن عباس رضی الله عنه قال كانت قراءة النبی صلی الله علیه وسلم علی قدر ما یسمعه من فی الحجرة و هو فی البیت: د دې حدیث دوه تفسیرونه کړې شوې دی.(۱) حجره او بیت د دواړو نه یو مراد دې، او مطلب دا دې چه حضور ﷺ به په تهجدو کښې قراءت دومره اوچت آواز سره فرمائیلو چه هغې لره به هغه سړی اوریدلو کوم چه به په حجره کښې وو، د حجرې نه بهر به آواز نهٔ اوریدلې کیدلو.(۲) د حجرې نه مراد صحن البیت دې یعنی هغه سړی به اوریدلو کوم چه د حجرې په صحن کښې به وو او حضور ﷺ به په حجره کښې مونځ کولو په ړومبی صورت کښې ډیر رو غوندې جهر وو او په دویم صورت کښې به جهر معتدل وو.

[۱۳۲۸]() حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَكَّارِ بْنِ الرَّيَّانِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ زَائِدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي خَالِدٍ الْوَالِبِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّهُ قَالَ: "كَانَتْ قِرَاءَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِاللَّيْلِ يَرْفَعُ طَوْرًا وَيَخْفِضُ طَوْرًا". قَالَ أَبُو دَاوُد: أَبُو خَالِدٍ الْوَالِبِيُّ اسْمُهُ هُرْمُزُ.

د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی، بېشکه هغه ویلي دي: وو قراءت د نبي ﷺ د شپې کله به یې اواز اوچت وو، او کله به خکته وو. ویلي دي ابوداود: ابو خالد الوالبي نوم د هغه هُرمز دی.

[۱۳۲۹]() حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. ح وحَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ الصَّبَّاحِ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ إِسْحَاقَ، أَخْبَرَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ رَبَاحٍ، عَنْ أَبِي قَتَادَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ لَيْلَةً فَإِذَا هُوَ بِأَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يُصَلِّي يَخْفِضُ مِنْ صَوْتِهِ، قَالَ: وَمَرَّ بِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ وَهُوَ يُصَلِّي رَافِعًا صَوْتَهُ، قَالَ: فَلَمَّا اجْتَمَعَا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "يَا أَبَا بَكْرٍ مَرَرْتُ بِكَ وَأَنْتَ تُصَلِّي تَخْفِضُ صَوْتَكَ" قَالَ: قَدْ أَسْمَعْتُ مَنْ نَاجَيْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: وَقَالَ لِعُمَرَ: "مَرَرْتُ بِكَ وَأَنْتَ تُصَلِّي رَافِعًا صَوْتَكَ" قَالَ: فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أُوقِظُ الْوَسْنَانَ، وَأَطْرُدُ الشَّيْطَانَ. زَادَ الْحَسَنُ فِي حَدِيثِهِ: فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا أَبَا بَكْرٍ ارْفَعْ مِنْ صَوْتِكَ شَيْئًا"، وَقَالَ لِعُمَرَ: "اخْفِضْ مِنْ صَوْتِكَ شَيْئًا".

د ابو قتادة نه روایت دی، بېشکه نبي ﷺ راووتلو یوه شپه، هغه ابوبکر سره مخامخ شو مونځ یې کولو او اواز یې خکته وو، هغه وایي او تیر شو په عمر بن الخطاب باندې، او هغه مونځ کولو او اواز یې اوچت وو، هغه وایي هرکله چې دواړه راجمع شول د نبي ﷺ سره، هغه وویل: ای ابو بکر! زه په تا باندې تیر شوم تا مونځ کولو او خپل اواز دې خکته کولو، هغه وویل: ما واورولو هغه چاته چې زما سره منجات وو ای د الله رسوله! او عمر ته یې وویل: زه تیر شوم په تا باندې تا مونځ کولو اواز دې اوچت وو. هغه وایي چې هغه وویل: ای د الله رسوله زه رابیداروم اوده او شړم شیطان. زیادت کړی دی حسن په خپل حدیث کې. نبي ﷺ وویل: ای ابوبکره خپل اواز لږ اوچت کړه، او عمر ته یې وویل: خکته کړه خپل اواز لږ شانته

قوله، ان النبی صلی الله علیه وسلم خرج لیلة فاذا هو بابی بکر یصلی یخفض من صوته، حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه به په تهجدو کښې قراءت ډیر رو رو کولو د حضور ﷺ دوئ باندې تیریدل اوشول او دوئ هم داسې واوریدل او تیر شول، دغه شان حضرت عمر رضی الله عنه باندې د

() تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٤٨٨٢) (حسن)
() سنن الترمذي/الصلاة ٢١٣ (٤٤٧)، (تحفة الأشراف: ١٨٤٦٥، ١٢٠٨٨) (صحيح)

دوئ تیریدل اوشول نو هغوی ډیر په زوره باندې قراءت کولو نو صبا حسب معمول دا دواړه حضرات د حضور ﷺ په خدمت کښې حاضر شول نو حضور ﷺ د حضرت ابوبکر صدیق ؓ نه سوال اوکړلو نو هغوی په جواب کښې عرض اوکړو، اسمعتُ من ناجيت يا رسول الله. چه چا سره ما مناجات کول بس هم هغهٔ ته مې اورول(او هغهٔ رو نه رو آواز هم اوری) بیا هم دا سوال ئې د حضرت عمر فاروق نه اوکړو نو هغوی عرض اوکړو. اوقظ الوسنان و اطرد الشیطان. پرکالی کونکو لره بیداروم او شیطان لره شړم، حضور ﷺ د دواړو جواب واوریدلو نو حضرت ابوبکر صدیق ته خو ئې اوفرمائیل تهٔ خپل آواز اوچت کړه او حضرت عمر ته ئې اوفرمائیل تهٔ خپل آواز لږ ښکته کړه، د دې حدیث نه معلومه شوه چه د قرآن تلاوت د سرا (پټ وئیلو) په مقابله کښې معتدل جهر سره غوره دې،او د دینه په وړاندې روایت کښې د حضرت بلال ؓ په حقله راځي چه حضور ﷺ دوئ ته اوفرمائیل چه کله تا د دې سورت نه لوستل او کله د هغې نه او کله دې نه هغه سورت نه څهٔ آیاتونه د یو سورت او څهٔ آیاتونه د دویم سورت، په دې باندې هغوی عرض اوکړو چه د الله کلام ډیر مزیدار دې نو د دې دپاره کله په دې آیاتونو سره خوند اخلم او کله په هغې سره. فقال النبي صلی الله علیه وسلم کلکم قد اصاب. تاسو ټولو صحیح کړې دې. په دې روایت کښې خو دغه شان دی. صاحب منهل لیکی چه د محمد بن نصر په قیام اللیل(تصنیف) کښې دی چه حضور ﷺ حضرت بلال ؓ ته اوفرمائیل چه: اقراء السورة علی وجهها. یعنی هم یو سورت لره د هغې د قاعدې او طریقې سره لوله څهٔ د دې ځائې نه او څهٔ د هغهٔ ځائې نه داسې مهٔ کوه. ځکه چه دغه شان خلط کولو ته علماء مکروه وائی.

[۱۳۳۰](١)حَدَّثَنَا أَبُو حُصَيْنِ بْنُ يَحْيَى الرَّازِيُّ، حَدَّثَنَا أَسْبَاطُ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِهَذِهِ الْقِصَّةِ، لَمْ يَذْكُرْ: فَقَالَ لِأَبِي بَكْرٍ: ارْفَعْ مِنْ صَوْتِكَ شَيْئًا، وَلِعُمَرَ: اخْفِضْ شَيْئًا، زَادَ: "وَقَدْ سَمِعْتُكَ يَا بِلَالُ وَأَنْتَ تَقْرَأُ مِنْ هَذِهِ السُّورَةِ، وَمِنْ هَذِهِ السُّورَةِ" قَالَ: كَلَامٌ طَيِّبٌ يَجْمَعُ اللَّهُ تَعَالَى بَعْضَهُ إِلَى بَعْضٍ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كُلُّكُمْ قَدْ أَصَابَ".

د ابو هریرة ؓ نه روایت دی. هغه روایت کوي د نبي ﷺ نه د دې قصې، هغه پکې نه دی ذکر کړی (فقال لأبي بكر: ارفع من صوتک شيئًا، و لعمر: اخفض شيئًا) هغه زیادت کړی دی بېشکه ما واوریدل د تانه ای بلاله او ته لوستلو د دې سورت نه او د هغې سورت نه. هغه وایې ښائسته کلام دی جمع کوي الله تعالی بعضې د دېنه بعضې ته. نبي ﷺ وویل په تاسو کې هر یو مصیب دی

[۱۳۳۱](٢)حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّ رَجُلًا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ فَقَرَأَ فَرَفَعَ صَوْتَهُ بِالْقُرْآنِ، فَلَمَّا أَصْبَحَ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَرْحَمُ اللَّهُ فُلَانًا، كَأَيِّنْ مِنْ آيَةٍ أَذْكَرَنِيهَا اللَّيْلَةَ كُنْتُ قَدْ أَسْقَطْتُهَا". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ هَارُونُ النَّحْوِيُّ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٥٠٠٤) (حسن)

(٢): تفرد به ابوداود، (تحفة الأشراف: ١٦٨٧٧)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/فضائل ٢٧ (٥٠٤٢)، والدعوات ١٩ (٦٣٣٥)، صحيح مسلم/المسافرين ٣٣،(فضائل القرآن) (٧٨٨) ويأتي هذا الحديث برقم (٣٩٧٠) (صحيح)

فِي سُورَةِ آلِ عِمْرَانَ فِي الْحُرُوفِ وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيٍّ سورة آل عمران آية ۱۴٦.

د عائشي رضي الله عنها نه روايت دي، بېشکه يو سړي ودريدلو قراءت يي کولو نو خپل اواز يي اوچت کړو په قرآن باندې، هر کله چې صباح شو رسول الله ﷺ وويل الله دي په فلاني سړي باندې رحم وکړي په فلاني باندې څومره ايتونه هغه ماته بيګاه راياد کړل ما هغه ساقط کړي وو ويلي دي ابوداود د دې روايت کړی دی هارون النحوي د حماد بن سلمة نه په سورة آل عمران کې اى هغه ساقط کړی وو په حروفو کې، (وكأي من نبي).

تشريح: قوله: عن عائشة رضي الله عنها ان رجلا قام من الليل فقراء فرفع صوته بالقرآن فلما اصبح قال رسول الله صلى الله عليه وسلم يرحم الله فلانا كاين من آية اذكرنيها الليلة كنت اسقطتها.[1]، ددې صحابي نوم عبدالله بن يزيد انصاري دي دوئ به د شپې په تهجدو کښې تلاوت په زوره سره کولو د کوم آواز چه د حضور ﷺ پورې هم رااورسيدلو. اتفاقاً کوم سورت او آياتونه چه حضور ﷺ لوستل هم هغه دې صحابي هم لوستل د حضور ﷺ نه څۀ آياتونه پاتې شول (په هيره سره) د دې صحابي په زروه لوستلو سره حضور ﷺ ته هغه آياتونه راياد شول. حضور ﷺ په دې باندې خوشحاله شو نو ځکه حضور ﷺ دې صحابي ته دعاء اوکړله

قوله: قال ابوداؤد رواه هارون النحوى عن حماد بن سلمة في سورة آل عمران في الحروف و كاين من نبى،

د قول ابوداؤد صحيح تشريح او تحقيق

هارون نحوى پورته ذکر شوې حديث لره په کوم کښې چه د حضور ﷺ دا کلام ذکر دې چه، يرحم الله فلانا كاين من آية،الخ، د سورة آل عمران آيت شريفه، و كاين من نبى قاتل معه ربيون كثير، د لاندې حروف يعنى داختلاف قراءات په مناسبت سره ذکر کړې دی، زۀ وايم چه على هذا القياس امام ابوداؤد هم دې حديث سره په خپل سنن کښې په ابواب الحروف والقراءات کښې راوړې دې،

د هارون نحوى او امام ابوداؤد دواړو غرض په دې حديث سره يو دې يعنى، و كاين من نبى الاية، کښې دا اختلاف ذکر کول دی ګويا د مثال په توګه باندې دې حديث لره وړاندې کوى چه اوګورئ! په يو قراءت کښې كاءين هم دې لکه څنګه چه په دې حديث شريف کښې دا لفظ راغلي دې او کيدې شى چه په دې حديث کښې دا لفظ دواړه شان مروى وى لکه څنګه چه په دې کښې قراتونه دوه دی كائن،په وزن د فاعل، او كاءين. اول د ابن کثير قراءة دې او دويم په تشديد سره د جمهورو دې، د دې ځائې تشريح حضرت په بذل کښې دغه شان فرمائيلې ده او هم دا صحيح ده. او صاحب عون المعبود د دې شرح بل شان کړې ده کومه چه بظاهر صحيح نۀ ده. زما په نيز دا ځائې مشکل او دقيق دې. انشاء الله تعالى څۀ چه مونږ ليکلې دی هغه صحيح دی

[1] ، الله تعالى دې په هغه سړی باندې رحم اوفرمائى څۀ آياتونه داسې وو چه ما نه ساقط شوې وو هغۀ د دې تلاوت، ما ته هغه راياد کړل.

[۱۳۳۲]( )حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أُمَيَّةَ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: اعْتَكَفَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ فَسَمِعَهُمْ يَجْهَرُونَ بِالْقِرَاءَةِ فَكَشَفَ السِّتْرَ، وَقَالَ: "أَلَا إِنَّ كُلَّكُمْ مُنَاجٍ رَبَّهُ فَلَا يُؤْذِيَنَّ بَعْضُكُمْ بَعْضًا، وَلَا يَرْفَعْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَعْضٍ فِي الْقِرَاءَةِ، أَوْقَالَ: فِي الصَّلَاةِ".

د ابو سعید نه روایت دی هغه ویلي دي: معتکف شو رسول الله ﷺ په مسجد کي، نو هغه د هغوی نه چي جهربي کولو په قراءت سره، نو پرده يي اوچته کړه او ویي ویل: خبر شئ هر په تاسو کي مناجات کونکی دی د خپل رب سره، ضرر دي نه ورکوي بعضي ستاسو نه بعضو نورو ته. او اواز دي نه اوچتوي بعضي ستاسو نه په بعضو باندي په قراءت کي، او یایي وویل په مانځه کي.

[۱۳۳۳]( )حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ بَحِيرِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ، عَنْ كَثِيرِ بْنِ مُرَّةَ الْحَضْرَمِيِّ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ الْجُهَنِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْجَاهِرُ بِالْقُرْآنِ كَالْجَاهِرِ بِالصَّدَقَةِ، وَالْمُسِرُّ بِالْقُرْآنِ كَالْمُسِرِّ بِالصَّدَقَةِ".

د عقبة بن عامر الجهني نه روایت دی هغه ویلي دي چي رسول الله ﷺ ویلي دي: جهر کونکی په قرآن باندي پشان د جهر کونکي صدقه دی، او پټ لوستونکی د قرآن پشان د پټي صدقي کونکي دی.

عن عقبة بن عامر الجهنی رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الجاهر بالقرآن کالجاهر بالصدقة والمسر بالقرآن کالمسر بالصدقة،

الترجیح بن الجهر بالقراءة والسربها:

حضور ﷺ قراءت بالجهر او قراءت بالسر لره دصدقي سره تشبیه ورکړې ده، نۀ هره صدقه بالجهر غوره ده او نۀ هره صدقه بالسر غوره ده بلکه بعضي صدقات بالسر غوره دی او بعضي بالجهر (اګر که اصل صدقه هم بالسر ده. کما ورد حتی لا تعلم شماله ما تنفق یمینه) لهذا قراءة د قرآن لره هم په دې باندي په قیاس کولي شی. علماؤ نفلی صدقاتو لره بالسر او واجب صدقاتو لره جهراً ادا کول غوره لیکلي دی، ځکه چه زکواة د اسلام د شعائرو نه دي او شعائر علی الاعلان ادا کولي شی، او دویمه خبره دا هم ده چه صرف زکواة ورکولو واله څوك سخی نۀ وائی. او نفلی صدقات ورکولو واله سخی ګڼړلي شی. ځکه چه په یو ځائي کښي په جهر کښي د ریاء احتمال دي او په دویم ځائي کښي نشته دي، هم داسي که قراءت کښي د ریاء احتمال وی یا د چا د ایذاء ویره وی نو سراً غوره دي ګینی جهراً غوره دي، ځکه چه د جهر په صورت کښي د قراءت فائده متعدی ده دي سره نور خلق هم فیضیاب کیږی او خپله د قاری په حق کښي هم فائدي واله دي په دي سره نشاط او ذوق زیاتیږی د قرآن پاك طرف ته توجه کښي اضافه کیږی د خوب اثر لري کیږی، او په پټه باندي لوستلو فضیلت د څۀ عارض د

( ): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٤٤٢٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (۹٤/۳) (صحیح)

( ): سنن الترمذي/فضائل القرآن ٢٠ (٢٩١٩)، سنن النسائي/قیام اللیل ٢٢ (١٦٦٢)، والزکاة ٦٨ (٢٥٦٢)، (تحفة الأشراف: ٩٩٤٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٥١/٤، ١٥٨، ٢٠١) (صحیح)

وجه نه وی. خو امام ترمذی په. ص. ۱۱۵، ج. ۲. کښې د دې حدیث د لاندې فرمائی چه د دې حدیث معنی دا ده چه کوم سړې د قرآن قراءة سراً کوی هغه افضل دې د هغه سړی نه کوم چه جهراً قراءة کوی. ځکه چه د صدقة السر د اهل علم په نیز د ښکاره صدقې نه غوره ده. ځکه چه په سر یعنی په پټه کښې د عجب ویره نهٔ وی په خلاف د ښکاره نه. او په کوکب کښې لیکلي دی چه د امام ترمذی د صدقې نه مراد نفلي صدقه ده. د دې ضابطه دا ده چه هغه سراً غوره ده د علانیه نه. او د دې په حاشیه کښې د درمنثور نه نقل کړې دی چه ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه نفلي صدقه سراً د علانیه نه اویا درجې غوره ده او فرض صدقه علانیة پنځویشت چنده د سراً نه غوره ده او وړاندې ئې لیکلي دی چه. و کذالك جمیع الفرائض والنوافل فی الاشیاء کلها. او هم دغه شان امام نسائی باب تړلې دی. فضل السر علی الجهر. په دې باندې علامه سندی لیکی چه د حدیث نه خو بظاهر هم دا معلومیږی خو حضور ﷺ حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته فرمائیلي وو چه آواز لږه لږ غوندې پورته کړه او عمر فاروق رضی الله عنه ته ئې فرمائیلي وو چه خپل آواز لږ غوندې ښکته کړه د دینه معلومه شوه چه معتدل جهر غوره دې اوس په دواړو کښې تعارض راغلو. د دې حل یو خو دا دې چه داسې اووئیلې شی چه په حدیث الباب کښې د جهر نه مبالغه فی الجهر او د سر نه مراد اعتدال دې او یا دا توجیه اوکړې شی چه دا حدیث په هغه حالت باندې محمول دې چه د کوم مقتضی سر وی ګینې اعتدال فی حد ذاته افضل او غوره دی. والله تعالی اعلم

بَاب فِي صَلَاةِ اللَّيْلِ

باب دی په بیان د صلاة اللیل کښې

د دینه وړاندې مصنف په کلي توګه باندې صلوة اللیل یعنی د تهجدو فضیلت او د هغې حکم وغیره امور بیان کړې دی، اوس د دې ځائې نه د مصنف مقصود د قیام اللیل په باره کښې د حضور اقدس ﷺ معمول بیانوی د دې نظائر په دې کتاب کښې ډیر دی چنانچه په ابواب الوضوء کښې مصنف هم دا کړې دی. اولاً ارکان وضوء یعنی د اودس ارکان او د دې احکام ئې جدا جدا بابونو کښې بیان کړې دی بیا ئې یو جامع باب صفة وضوء النبی ﷺ په عنوان سره قائم کړې دي. هم دغه شان ئې په مواقیت کښې کړې دی اولاً ئې د ټولو مونځونو وختونه جدا جدا بابونو کښې بیان کړې دی بیا ئې په یو باب کښې جمع کړې دی په کوم کښې چه د حضور ﷺ د ټولو مونځونو وختونه مستقلاً جدا جدا بیان کړې دی. دا باب ډیر اوږد او عریض دې په دې کښې مصنف تقریباً دیرش حدیثونه راوړې دی زما په خیال په ټول کتاب کښې دومره اوږد باب بل کوم نشته دې

په دې کښې چه مصنف کوم روایتونه ذکر کړې دی د هغې تعلق صرف د تهجد د مانځه سره نهٔ دې بلکه د تهجد مع الوتر سره دې. په اکثرو روایتونو کښې تهجد مع الوتر ذکر دی. چه دهغې وجه دا ده چه حضور ﷺ او د دوئ اکثر صحابه کرامو به صلوة الوتر بعدالعشاء نهٔ کول بلکه د تهجدو نه فارغیدو نه پس په آخره کښې به ئې کول. د حضور ﷺ ارشاد دې چه. اجعلوا أخر صلوتکم باللیل وتراً. نو ځکه راویانو د صلوة اللیل په بـ ـ ز

کښې تهجد او وتر دواړه یوځائې ذکر کړې دی، اوس دلته دوه بحثونه دی(۱) د تهجد د رکعاتو شمیر(۲) د وتر د رکعاتونو شمیر

اول بحث: د تهجد رکعاتونه

زمونږ امام ابوداؤد خو په دې سلسله کښې د شلونه هم زیات مختلف روایتونه ذکر کړې دی په صحاح سته کښې په بل یو کتاب کښې دومره په کثرت سره روایات نشته دې، امام ترمذی حسب عادة ډیره لنډه طریقه اختیار کړې ده، هغوی په دې باره کښې درې بابه قائم کړې دی، په ړومبی باب کښې هغه حدیث په کوم کښې چه د احدی عشر رکعة ذکر مذکور دی او په دویم باب کښې هغه په کوم کښې چه ثلث عشرة رکعة دی او په دریم باب کښې تسع رکعات واله روایت ذکر کړې دې، د دینه پس هغوی اوفرمائیل چه په صلوة اللیل کښې د حضور ﷺ د رکعاتونو شمیر زیات نه زیات دیارس(۱۳) دې یعنی مع الوتر او کم نه کم شمیر ئې نهه(۹) رکعاته دی.

حضرت سهارنپوری په بذل کښې فرمائی چه زیاترو روایاتو کښې یولس(۱۱) رکعاته ذکر دی، او په کومو روایتونو کښې چه دیارلس(۱۳) ذکر دی نو په هغې کښې بعضو وختونو کښې هغه دوو رکعاتونو لره شامل کړې شوې دی کوم به چه حضور ﷺ کله کله بعدالوتر په ناسته باندې کول، او د بعضې روایتونو نه معلومیږی چه دا دیارلس(۱۳) رکعاتونه د صبا دوه رکعاته سنت ورسره یوځائې کولو سره دی، زهٔ وایم چه په ابوداؤد کښې یو روایت په دې سلسله کښې ډیر جامع او واضح دې کوم چه د حضرت عائشه رضي الله عنها نه مروی دی د هغې الفاظ دا دی د یو سائل په جواب کښې، قالت کان یوتر باربع و ثلث و ست وثلث، و ثمان و ثلث و عشر و ثلث و لم یکن یوتر بانقص من سبع و لا باکثر من ثلث عشر، د دینه معلومه شوه چه کم نه کم رکعاتونه اووهٔ(۷) دی او زیات نه زیات دیارلس(۱۳) دی. دغه شان د دې روایت نه دا هم معلومه شوه چه وتر به حضور ﷺ مدام د دریو نه نهٔ کم کول نهٔ زیات، ځکه چه ظاهره ده چه دا مذکوره روایت د یوې شپې سره خو متعلق نهٔ دې د مختلفو او ګڼرو شپو حال په دې کښې ذکر دې، د تهجد رکعاتونه خو په دې کښې کم او زیات دی خو د وتر هم درې دی، سبحان الله د احنافو د مذهب واضح او بین دلیل دې

دویم بحث: د وتر د رکعاتونو شمیر

د پورته ذکر شوې روایت نه معلوم شوې دی اګر که د تهجدو رکعاتونه به د حضور ﷺ کم او زیات کیدل خو د وترو رکعاتونه هم درې به وو، خو په دې هم شك نشته دې چه په ډیرو روایتونو کښې د دې خلاف هم دی، چنانچه په باب ړومبی حدیث کښې دی چه، یصلی من اللیل عشر رکعات و یوتر بسجدة، د دې نه پس په روایت کښې دی چه، یصلی من اللیل احدی عشر رکعة یوتر منها بواحدة، احناف وائی چه د دې مطلب دا دې چه په تیر شوې لسو رکعاتونو کښې آخری شفعې لره به ئې په یو رکعات سره وتر جوړول، کما سبق فی باب صلوة اللیل مثنی مثنی، صلی رکعة واحدة توتر له ما قد صلی، د دې تشریح نه پس دغه شان ټول روایتونه به د هغه روایات مفصله مطابق شی په کومو کښې چه د وترو د دریو رکعاتو

تصریح ده، په اصل کښې د وترو په سلسله کښې روایتونو په دوه قسمه دی،(۱) هغه روایتونه په کومو کښې چه د صلوة اللیل او وترو دواړه یوځائې بیان کړې شوې دی،(۲) هغه روایتونه په کومو کښې چه د وترو رکعاتونو لره راوی د صلوة اللیل نه جدا بیان کړې دی د کوم مثال چه د پورته اول بحث په اخیره کښې تیر شوې دې

د وترو په باره کښې دوه مشکل روایتونه او د هغې حل:

مفصل روایتونه تقریبا ټول زمونږ موافق دی سوا د یو یا دوو نه یعنی د دې باب څلورم حدیث په کوم کښې چه دا دی چه، یوتر منها بخمس لا یجلس فی شیء من الخمس حتی یجلس فی الاخرة فیسلم، دا روایت داسې دې چه په دې کښې باوجود د دې نه چه وترو لره ئې د صلوة اللیل نه جدا بیان کړې دی او د وترو ئې پنځهٔ رکعاتونه ذکر کړې دی، والجواب عنه مشکل و مع ذلك اجابوا عنه بجوابین،اول دا چه مصنف وړاندې تللو نه پس په دې روایت باندې کلام کړې دې، اوګورئ بذل المجهود جلد ثانی،ص،۲۹۵، د دې په حاشیه باندې د یوې نسخې نه نقل کړې دی چه امام ابوداؤد د دې حدیث په باره کښې فرمائیلې دی چه په دې کښې د رواتو اختلاف او اضطراب دې، دویم جواب دا دې چه د دې حدیث مطلب دا نهٔ دې چه پنځه رکعاتونو به ئې پرله پسې په یو سلام سره کول بلکه مطلب ئې دا دې چه تراوسه پورې خو به داسې کیدله چه حضور ﷺ به د تهجدو په هر دوو رکعاتونو باندې سلام ګرځولو نه پس ناسته فرمائیله یعنی آرام به ئې کولو(ځکه چه د تهجدو د مونځ رکعاتونه به اوږدهٔ وو ځنګه چه په ترویحو کښې د هر څلورو رکعاتونو نه پس کینی کوم ته چه ترویحه وائی) بیا کله چه به حضور ﷺ د تهجدو نه فارغ شول او صرف وترو مونځ به پاتې شو نو لږ غوندې به د خپل معمول مطابق آرام کولو نه پس وترو دپاره پاسیدل خو دغه وخت به حضور ﷺ صرف د وترو درې رکعاتونو باندې اکتفاء نهٔ کوله بلکه د دې په شروع کښې به ئې د نفلو لنډ غوندې دوو رکعاتونه کول، بیا بهٔ ئې د دې نه پس سمدستی بغیر د جلوس للاستراحة نه درې رکعاته وتر کول، حاصل دا چه دلته د نفس جلوس نفی مراد نهٔ ده بلکه د جلوس للاستراحة الذی یکون بین اشفاع التهجد، په دې تاویل کښې څهٔ بعد یعنی لرېوالې نشته دې او مقام بهرحال د روایاتو د اختلاف د وجه نه نازك اود تاویل محتاج دې

دغه شان یو روایت بل دې هغه هم د خپل ظاهر په لحاظ سره د حنفیانو خلاف دې او هغه هم د دې باب اتم حدیث دې په کوم کښې چه دا دی چه، کان یوتر بثمان رکعات لا یجلس الا فی الثامنة ثم یقوم فیصلی رکعة الاخری لا یجلس الا فی الثامنة و التاسعة و لا یسلم الا فی التاسعة، د دینه معلومیږی چه حضور ﷺ ټول نهٔ رکعاته په یو سلام سره کړې دی دغه شان په هر دوو رکعاتونو باندې ئې قعود او تشهد هم نهٔ دې کړې کوم چه د شیخینو په نیز باندې خو اګر که واجب نهٔ دې خو د امام محمد په نیز واجب دې، بهرحال د دې روایت سیاق بظاهر د حنفیانو د مسلك خلاف دې، والجواب عنه مشکل اللهم الا ان یقال لا یجلس الا فی الثامنة کښې مطلق د جلوس نفی نهٔ ده بلکه د جلوس بدون السلام نفی ده یعنی اتم رکعت نه

وړاندې شپږ رکعاتونو پورې په هر دوو رکعاتو باندې به حضور ﷺ کيناستلو او سلام ئې ګرځولو خو آخری شفعه چه کومه وه په هغې باندې حضور ﷺ رکعتینو باندې جلوس بدون السلام فرمائيلې دې يعنی ناستې نه پس بغير د سلام نه دريم رکعت دپاره پاسيدل. بيا دريم رکعت پوره کولو نه پس ئې سلام اوګرځولو، په دې حديث کښې د وترو په دويم رکعت باندې د ثامنه يعنی اتم او په دريم رکعت باندې د نهم يعنی تاسعه اطلاق د مجموعی رکعاتونو په اعتبار سره کړې شوې دې او زمونږ د دې خبرې دليل چه حضور ﷺ تر شپږم رکعت پورې په هر دوو رکعاتونو باندې سلام ګرځولې دې د دې باب ځليريشتم۲۴، حديث دې د کوم الفاظ چه دا دی.

قوله: حدثنا عبدالعزيز يحيى الحرانی الخ، كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يصلی ثلث عشرة ركعة بركعتيه قبل الصبح يصلی ستا مثنى مثنى الخ، اوګورئ! په دې روايت کښې تصريح ده چه حضور ﷺ به تر شپږو رکعاتونو پورې دوه دوه رکعاته کول

اوس بحمد الله تعالى و عونه، دا ټول روايات مشکله د وترو په باره کښې کوم چه بظاهر د حنفياتو د مسلك خلاف ښکاريدل د ټولو حل رااوتلو. اوس پاتې شوه د ائمه ثلاثه د وترو مسئله چه هغوی د وترو په باره کښې څۀ فرمائی؟ نو هغه دا ده چه د امام مالك مسلك مونږ ته نزدې دې د دوئ په نيز باندې د وترو يو رکعت دې خو د دېنه وړاندې يوه شفعه کول نو اوسلام ګرځول واجب دی. په نورو الفاظو کښې دا هم وئيلې شي چه د دوئ په نيز د وترو شمير هم درې رکعاته دې خو بسلامين، او زمونږ په نيز بسلام واحد، د دوئ په نيز فصل بالسلام واجب دې او زمونږ په نيز وصل واجب دې

د شوافعو او حنابله په نيز د وتر د ادا کولو طريقې

د امام شافعی او احمد په نيز د وترو په مسئله کښې ډير وسعت او فراختيا ده د دوئې په نيز ايتار بركعة، ايتار بثلث و بخمس و بسبع و بتسع و باحدى عشرة ركعة، ټول جائز دی خو د يولسو(۱۱) نه زيات جائز نۀ دی بيا د دوئ په نيز د وترو دوه صورتونه دی، موصولا او مفصولا، فصل خو دا دې چه په هر دوو رکعاتو باندې سلام اوګرځولې شي او په آخره کښې يو رکعت ځانله اوکړې شي، او د وصل مطلب دا دې چه د وتر څومره رکعاتونه کول منظور وی، درې يا پنځه يا اووۀ يا نهۀ يا يولس، دا ټول په يو سلام سره اوکړې شي، بيا د دې وصل دوه صورتونه دی. بتشهد واحد يعنی صرف په آخری رکعت کښې قعده او تشهد اوکړې شی او دويم صورت دا دې چه بتشهدين يعنی آخری رکعت او ماقبل آخر دواړو کښې قعده او تشهد اوکړې شی، مثلا که ايتار بتسع کول دی نو په نهم رکعت کوم چه آخری دې په دې کښې قعود او تشهد اولولی او سلام اوګرځوی، يا دغه شان اوکړی چه په اتم او نهم رکعت دواړو کښې قعده اوکړی او سلام صرف په آخره کښې اوګرځوی، دغه شان د دې دواړو په نيز دا هم اختيار دې چه ټول صلوٰة الليل د وترو په نيت سره اوکړې شی او دا هم جائز دی چه په شروع کښې څۀ رکعتونه د تهجدو په نيت سره اوکړی او په آخره کښې څۀ رکعاتونه د وترو په نيت سره

ظاهر خبره ده چه کله د دوئ په نیز دومره فراختیا ده نو ټول صورتونه په سهولت سره د دوئ په مسلك باندې منطبق کیدې شي. احناف چونکه په اصولو سره ځي نو ځکه بعضې روایات د دوئ د مسلك خلاف پریوځي د کومو حل چه پورته تیر شوي دي. دا د وترو بحث د اهم مباحثو نه دې نو ځکه د دې دپاره علماؤ مستقل قلم پورته کړي دي

[۱۳۳٤](۱)حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ حَنْظَلَةَ، عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ عَشْرَ رَكَعَاتٍ، وَيُوتِرُ بِسَجْدَةٍ، وَيَسْجُدُ سَجْدَتَيِ الْفَجْرِ، فَذَلِكَ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً".

د عائشې رضي الله عنها نه روایت دی هغې ویلي دي وو رسول الله ﷺ چې د شپې به یې لس رکعاته مونځ کولو، او وتر به یې کول په یو رکعات سره. او کول به یې دوه رکعاته د سحر. دغه دیارلس رکعاته شول

[۱۳۳۵](۲)حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً يُوتِرُ مِنْهَا بِوَاحِدَةٍ، فَإِذَا فَرَغَ مِنْهَا اضْطَجَعَ عَلَى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ".

د عائشې رضي الله عنها نه روایت دی، بیشکه رسول الله ﷺ وو چې د شپې مونځ یې کولو لس رکعاته، یو به یې وتر کولو، کله چې به فارغ شو د هغې نه نو په ښي اړخ به یې ډډه ولګوله

[۱۳۳٦](۳)حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، وَنَصْرُ بْنُ عَاصِمٍ، وَهَذَا لَفْظُهُ، قَالَا: حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، حَدَّثَنَا الْأَوْزَاعِيُّ، وَقَالَ نَصْرٌ: عَنِ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ، وَالْأَوْزَاعِيِّ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِيمَا بَيْنَ أَنْ يَفْرُغَ مِنْ صَلَاةِ الْعِشَاءِ إِلَى أَنْ يَنْصَدِعَ الْفَجْرُ إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً يُسَلِّمُ مِنْ كُلِّ ثِنْتَيْنِ، وَيُوتِرُ بِوَاحِدَةٍ، وَيَمْكُثُ فِي سُجُودِهِ قَدْرَ مَا يَقْرَأُ أَحَدُكُمْ خَمْسِينَ آيَةً قَبْلَ أَنْ يَرْفَعَ رَأْسَهُ، فَإِذَا سَكَتَ الْمُؤَذِّنُ بِالْأُولَى مِنْ صَلَاةِ الْفَجْرِ قَامَ فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ، ثُمَّ اضْطَجَعَ عَلَى شِقِّهِ الْأَيْمَنِ حَتَّى يَأْتِيَهُ الْمُؤَذِّنُ".

د عائشې رضي الله عنها نه روایت دی هغې ویلي دي وو رسول الله ﷺ چې مونځ یې کولو په مابین د فارغیدلو د هغې کې د ماسخوتن د مانځه نه او په مابین راختلو د فجر کې یوولس رکعاته. سلام به یې ګرځولو په دوه رکعاتونو باندې. او وتر به یې کول په یو سره. او وخت به یې تیرولو په سجده کې په اندازه د دې چې یو کس ستاسو بکې پنځوس ایتونه لولي

---

(۱): صحيح البخاري/التهجد ۱۰ (۱۱٤۰)، صحيح مسلم/المسافرين ۱۷ (۷۳۸) سنن النسائي/قيام الليل ۳۳(۱٦۹۷)، (تحفة الأشراف: ۱۷٤٤۸)، مسند احمد (۱۵۱/٤، ۱۵۸، ۲۰۱) (صحيح)

(۲): صحيح مسلم/المسافرين ۱۷(۷۳٦)، سنن الترمذي/الصلاة ۲۱۳ (٤٤۰، ٤٤۱)، (تحفة الأشراف: ۱٦۵۹۳)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الوتر والتهجد ۳(۱۱۲۳)، سنن النسائي/قيام الليل ۳۵(۱٦۹۷)، ٤٤ (۱۷۲۷)، سنن ابن ماجه/ إقامة الصلاة ۱۸۱ (۱۳۵۸)،حم (۳٤/٦، ۳۵، ۸۳، ۱٤۳، ۱٦۷، ۱٦۸، ۱۸۲، ۲۱۵، ۲۲۸)، سنن الدارمي/الصلاة ۱٦۵(۱۵۱٤) (صحيح)

(۳): سنن النسائي/ الأذان ٤۱ (٦۸٦)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۸۱ (۱۳۵۸)، (تحفة الأشراف: ۱٦۵۱۵، ۱٦٦۱۸)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الأذان ۱۵ (٦۲٦)، والوتر ۹۹٤)، والتهجد ۳ (۱۱۲۳)، و ۲۳ (۱۱٦۰)، والدعوات ۵ (٦۳۱۰)، صحيح مسلم/المسافرين ۱۷ (۷۳٦)، سنن ابن ماجه/اقامة الصلاة ۱۲٦ (۱۱۹۸)، مسند احمد (۳٤/٦، ۷٤، ۸۳، ۱٤۳، ۱٦۷، ۲۱۵، ۲٤۸، ۲۵٤)، سنن الدارمي/الصلاة ۱٤۷ (۱٤۸٦)، ۱٦۵ (۱۵۱٤، ۱۵۱۵) (صحيح)

مخکې د پورته کولو د سر نه، کله چې به چوپ شو په اولني سره د مانځه د صباح نه نو پاڅيدلو به دوه رکعاته به يې وکړل سپک، بيايي ډېره ووهله په خپل ښې طرف، تردې چې مؤذن به ورته راغی.

تشريح: قوله: حدثنا عبدالرحمٰن بن ابراهيم و نصر بن عاصم،الخ..... و يمكث فى سجوده قدر ما يقرأ احدكم خمسين آية، او د دينه پس واله روايت کښې دی چه، ويسجد سجدة قدر ما يقرأ احدكم خمسين آية،

شرح حديث:

د دې جملې په شرح کښې دوه قوله دی يو دا چه مراد دا دې چه په صلوٰة الليل کښې به د حضور ﷺ سجدې ډېر اوږدې اوږدې وی، د اجتهاد فى الدعاء دپاره كما ورد فاجتهد فى الدعاء فقمنٌ ان يستجاب لكم، د مسند احمد په يو روايت کښې دی چه حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائی چه حضور ﷺ به په سجدو کښې دا لوستل، سبحنك لا اله الا انت، او په يو روايت کښې دی، اللهم انی اعوذ برضك من سخطك و بمعافاتك من عقوبتك و اعوذبك منك لا احصی ثناء عليك انت كما اثنيت على نفسك.

او د دې دويمه شرحه دا ده چه د دېنه بعدالفراغ من الصلوة، اوږده سجده مراد ده، امام نسائی هم دا دويمه معنى د حديث اغستې ده، حيث ترجم على الحديث، باب قدر السجدة بعد الوتر، خو سجده شكر او سجده تلاوت نه علاوه، تعبد بالسجدة المنفردة، مختلف فيه ده، د دې په باره کښې جواز او عدم جواز دواړه قوله دی،د فقهې كتابونو ته دې رجوع اوکړې شی او د دې مزيد تحقيق دې اوکړې شی([1])

[١٣٣٧]([2])حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، وَعَمْرُو بْنُ الْحَارِثِ، وَيُونُسُ بْنُ يَزِيدَ، أَنَّ ابْنَ شِهَابٍ أَخْبَرَهُمْ بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ، قَالَ: "وَيُوتِرُ بِوَاحِدَةٍ وَيَسْجُدُ سَجْدَةً قَدْرَ مَا يَقْرَأُ أَحَدُكُمْ خَمْسِينَ آيَةً قَبْلَ أَنْ يَرْفَعَ رَأْسَهُ فَإِذَا سَكَتَ الْمُؤَذِّنُ مِنْ صَلَاةِ الْفَجْرِ وَتَبَيَّنَ لَهُ الْفَجْرُ، وَسَاقَ مَعْنَاهُ" قَالَ: وَبَعْضُهُمْ يَزِيدُ عَلَى بَعْضٍ.

ابن شهاب خبر ورکړی دی دوی ته په خپل اسناد او معنی سره، هغه ويلي دي: او وتر به يې کول په يو رکعات سره، او سجده به يې کوله په اندازه د لوستلو د يو کس ښاسو پنځوس ايتونو لره مخکې د پورته کولو د سر نه، کله چې به مؤذن چوپ د صباح د مانځه نه او سحر به ورته ښکاره شو، او بيانيې کړه معنى د هغې، هغه وايي بعضې پکې زيادت کوي په بعضو باندې.

[1]) و في الكوكب،ص،٤١٨،ج،١،و لا يجوز المناجاة لعدم الثبوت و ما ورد من الادعية عن النبي صلي الله عليه وسلم في السجدات فانما هي في الصلوتية لا المغفرة)اهـ

[2]): صحيح مسلم/المسافرين ١٧ (٧٣٦)، سنن النسائي/الأذان ٤١ (٦٨٦)، (تحفة الأشراف: ١٦٥٧٣، ١٦٧٠٤، ١٦٦١٨) (صحيح)

[١٣٣٨]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً يُوتِرُ مِنْهَا بِخَمْسٍ لَا يَجْلِسُ فِي شَيْءٍ مِنَ الْخَمْسِ حَتَّى يَجْلِسَ فِي الْآخِرَةِ فَيُسَلِّمُ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ ابْنُ نُمَيْرٍ، عَنْ هِشَامٍ نَحْوَهُ.

د عائشي رضي الله عنها نه روایت دی هغې ویلي دي: وو رسول الله ﷺ چې مونځ یې کولو دشپې دیارلس رکعاته، پنځه به پکې وتر وو، نه به کښناستلو په هېڅ شي کې د پنځو نه، تردې چې کښیناستلو په اخرني کې، او سلام به یې وګرځولو. ویلي دي ابوداود: نقل کړی دی ابن نمیر د هشام نه پشان د هغې.

[١٣٣٩]()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي بِاللَّيْلِ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً، ثُمَّ يُصَلِّي إِذَا سَمِعَ النِّدَاءَ بِالصُّبْحِ رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ".

د عائشي رضي الله عنها نه روایت دی هغې ویلي دي: وو رسول الله ﷺ چې مونځ یې کولو دشپې دیارلس رکعاته، بیایې کول دوه د سحر سپک چې کله به یې اذان واوریدو.

[١٣٤٠]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، وَمُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبَانُ، عَنْ يَحْيَى، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً كَانَ يُصَلِّي ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ وَيُوتِرُ بِرَكْعَةٍ، ثُمَّ يُصَلِّي، قَالَ مُسْلِمٌ: بَعْدَ الْوِتْرِ، ثُمَّ اتَّفَقَا رَكْعَتَيْنِ وَهُوَ قَاعِدٌ، فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَرْكَعَ قَامَ فَرَكَعَ، وَيُصَلِّي بَيْنَ أَذَانِ الْفَجْرِ وَالْإِقَامَةِ رَكْعَتَيْنِ".

د عائشي رضي الله عنها نه روایت دی هغې ویلي دي: بېشکه نبي ﷺ وو چې مونځ یې کولو د شپې دیارلس رکعاته، وو چې اته رکعاته مونځ یې کولو و وتریې کول په یو رکعات سره، بیایې مونځ کولو. ویلي دي مسلم: وروسته د وترو نه بیا متفق شوي دي. دوه رکعاته، او هغه به ناست وو، کله چې به یې اراده وکړه د رکوع اوچت به شو رکوع به یې وکړه، او مونځ به یې کولو په مابین د اذان د فجر او اقامت کې دوه رکعاته.

[١٣٤١]()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، أَنَّهُ أَخْبَرَهُ، أَنَّهُ سَأَلَ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كَيْفَ كَانَتْ صَلَاةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَمَضَانَ؟ فَقَالَتْ: "مَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَزِيدُ فِي رَمَضَانَ وَلَا فِي غَيْرِهِ عَلَى إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً يُصَلِّي أَرْبَعًا فَلَا تَسْأَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُولِهِنَّ، ثُمَّ يُصَلِّي أَرْبَعًا فَلَا تَسْأَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُولِهِنَّ، ثُمَّ يُصَلِّي ثَلَاثًا". قَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَتَنَامُ قَبْلَ أَنْ تُوتِرَ؟ قَالَ: "يَا عَائِشَةُ إِنَّ عَيْنَيَّ تَنَامَانِ وَلَا يَنَامُ قَلْبِي".

ابو سلمة بن عبد الرحمن سعید ته خبر ورکړی دی چې هغه تپوس وکړو د عائشي رضي الله عنها نه، د

(): تفرد به ابوداود، (تحفة الأشراف: ١٧٢٩٤)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/المسافرين ١٧ (٧٣٨)، سنن النسائي/قيام الليل ٣٩ (١٧١٨)، مسند احمد (٦/١٢٣، ١٦١، ٢٠٥) (صحيح)

(): صحيح البخاري/التهجد ٢٧ (١١٧٠)، (تحفة الأشراف: ١٧١٥٠)، وقد أخرجه: سنن النسائي/قيام الليل ٤ (١٦٠٥)، مسند احمد (٦/١٧٧) (صحيح)

(): صحيح مسلم/المسافرين ١٧ (٧٣٨)، وانظر ایضا رقم: (١٣٣٨، ١٣٣٩)، (تحفة الأشراف: ١٧٧٨١) (صحيح)

(): صحيح البخاري/التهجد ١٦(١١٤٧)، والتراويح ١ (٢٠١٣)، والمناقب ٢٤ (٣٥٦٩)، صحيح مسلم/المسافرين ١٧ (٧٣٨)، سنن الترمذي/الصلاة ٢٠٩ (٤٣٩)، موطا امام مالك/صلاة الليل ٢(٩)، مسند احمد (٦/٣٦، ٧٣، ١٠٤)، (تحفة الأشراف: ١٧٧١٩) (صحيح)

رسول الله ﷺ مونځ په رمضان کې څنګه وو؟ هغې ووېل رسول الله ﷺ به په رمضان او په غیر د رمضان کې زیات نه کوه په یوولس رکعاتو باندې، څلور رکعاته به یې کول تپوس مه کوه د هغې د حسن او د اوږدوالي. بیا به یې څلور رکعاته کول. نه تپوس مه کوه د هغې د حسن او د اوږدوالي، بیا به یې درې رکعاته کول، عائشې ﷞ ووېل ای د الله رسوله! ایا ته اوده کېږې مخکې د وتر کولو نه؟ هغه ووېل ای عائشې بېشکه زما سترګې اودې کېږي او زما زړه نه اوده کېږي

قوله، فقالت ما کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یزید فی رمضان و لا فی غیره علی احدی عشرة رکعة، دا حدیث متفق علیه دې امام بخاری او مسلم د دې تخریج کړې دې په دې حدیث سره اهل حدیث او د تقلید منکرین د اتو(۸) رکعاتو تراویحو باندې استدلال کوي، زمونږ مشائخ داسې فرمائي چه د دې تعلق د تهجدو د مانځه سره دې کوم چه ټول کال کولې شي تراویحو پورې کوم چه تر رمضان پورې خاص دی د دې تعلق نشته دې.

تشریح: قوله: قالت عائشة فقلت یا رسول الله صلی الله اتنام قبل ان توتر فقال یا عائشة ان عینیّ تنامان و لا ینام قلبی،

د حدیث په شرح کښې دوه قوله

بعضې شراحو د دې شرح دا کړې ده چه چونکه د حضور اقدس ﷺ معمول دا وو چه د ماسخوتن مونځ به ئې اوکړو نو اوده به شو او د تهجدو نه به چه فارغ شو نو د ټولو په آخره کښې به ئې وتر کول نو چونکه د اوده کېدلو نه پس رابیداریدل یقیني امر نه دې او په دې کښې د وترو د فوت کیدو ویره ده نو ځکه حضرت عائشه ﷞ عرض اوکړو چه تاسو خو د وترو نه وړاندې اوده شئ په دې باندې حضور ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه زما صرف سترګې اوده کیږي زړه بیدار وي(کویا په دې کښې د فوت کیدو ویره نشته دې) خو په دې باندې اشکال کیږي چه بیا په لیلة التعریس کښې د دوئ مونځ ولې قضاء شو؟ اګر که د دې اشکال جواب ورکولې شي[1] خو زمونږ حضرت سهارنپوری په بذل کښې دې مطلب لره دې دپاره نه دې اختیار کړې بلکه د دې ئې دویمه شرحه فرمائیلې ده هغه دا چه حضور ﷺ به د تهجدو نه فارغ شو نو د وتر ادا کولو نه وړاندې به لږ غوندې وخت دپاره آرام فرمائیلو او بیا رابیداریدلو نه نه پس بغیر د اودس نوې کولو نه وتر ادا کول، نو په دې باندې حضرت عائشه ﷞ سوال اوکړو چه تاسو د اوده کیدو نه پس بغیر د اودس نه وتر ادا کوئ په دې باندې حضور ﷺ دا جمله ارشاد اوفرمائیله د کومې خلاصه چه دا ده چه د انبیاء علیهم السلام خوب ناقض د اودس نه وي

د احقر خیال دا دې چه شراحو د حضرت عائشه ﷞ د سوال کوم مطلب ګڼړې دې نو دا هغه وخت صحیح ووکه هغوی دا سوال د شپې په اوله برخه کښې کړې وې کله چه حضور ﷺ د

[1] هغه دا چه، انّ عینیّ تنامان الخ، دا د اعم او اغلب په اعتبار سره دې یعنی اکثر به داسې کیدل او کله کله به د دې نه خلاف هم اوشول، یا به دا اووئیلې شي چه د لیلة التعریس واقعه تکویني ده هلته د الله د طرف نه داسې اوشو په کوم کښې چه ډیر مصلحتونه وو.

ماسخوتن د مانځه نه پس د ارام دپاره ملاست وو حال دا دي چه داسې نۀ ده بلکه د سیاق د روایت نه خو بظاهر دا معلومیږي چه د حضور ﷺ نه د دوئ دا سوال د دوئ د تهجدو نه فارغ کیدو نه ورستو دې نو د دې دپاره د دې مطلب په صورت کښې دا سوال بې ځایه کیږي او حضرت چه کوم مطلب اغستې دې هغه په دې باندې موقوف دې چه حضور ﷺ به د تهجدو نه فارغیدو نه پس د وتر کولو نه وړاندې آرام کول باقي په دې کښې کوم استبعاد او لرې والې نشته دې ځکه چه صاحب منهل هم دا مطلب اختیار کړې دې

[۱۳٤۲] (¹)حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، عَنْ زُرَارَةَ بْنِ أَوْفَى، عَنْ سَعْدِ بْنِ هِشَامٍ، قَالَ: طَلَّقْتُ امْرَأَتِي، فَأَتَيْتُ الْمَدِينَةَ لِأَبِيعَ عَقَارًا كَانَ لِي بِهَا فَأَشْتَرِيَ بِهِ السِّلَاحَ وَأَغْزُو، فَلَقِيتُ نَفَرًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالُوا: قَدْ أَرَادَ نَفَرٌ مِنَّا سِتَّةٌ أَنْ يَفْعَلُوا ذَلِكَ فَنَهَاهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَالَ: "لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ"، فَأَتَيْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ فَسَأَلْتُهُ عَنْ وِتْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: أَدُلُّكَ عَلَى أَعْلَمِ النَّاسِ بِوِتْرِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأْتِ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، فَأَتَيْتُهَا، فَاسْتَتْبَعْتُ حَكِيمَ بْنَ أَفْلَحَ، فَأَبَى، فَنَاشَدْتُهُ، فَانْطَلَقَ مَعِي، فَاسْتَأْذَنَّا عَلَى عَائِشَةَ، فَقَالَتْ: مَنْ هَذَا؟ قَالَ: حَكِيمُ بْنُ أَفْلَحَ، قَالَتْ: وَمَنْ مَعَكَ؟ قَالَ: سَعْدُ بْنُ هِشَامٍ، قَالَتْ: هِشَامُ بْنُ عَامِرٍ الَّذِي قُتِلَ يَوْمَ أُحُدٍ؟ قَالَ: قُلْتُ: نَعَمْ، قَالَتْ: نِعْمَ الْمَرْءُ كَانَ عَامِرٌ، قَالَ: قُلْتُ: "يَا أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ، حَدِّثِينِي عَنْ خُلُقِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: أَلَسْتَ تَقْرَأُ الْقُرْآنَ؟ فَإِنَّ خُلُقَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ الْقُرْآنَ، قَالَ: قُلْتُ: حَدِّثِينِي عَنْ قِيَامِ اللَّيْلِ، قَالَتْ: أَلَسْتَ تَقْرَأُ يَا أَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ؟ قَالَ: قُلْتُ: بَلَى، قَالَتْ: فَإِنَّ أَوَّلَ هَذِهِ السُّورَةِ نَزَلَتْ فَقَامَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى انْتَفَخَتْ أَقْدَامُهُمْ، وَحُبِسَ خَاتِمَتُهَا فِي السَّمَاءِ اثْنَيْ عَشَرَ شَهْرًا، ثُمَّ نَزَلَ آخِرُهَا فَصَارَ قِيَامُ اللَّيْلِ تَطَوُّعًا بَعْدَ فَرِيضَةٍ، قَالَ: قُلْتُ: حَدِّثِينِي عَنْ وِتْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: كَانَ يُوتِرُ بِثَمَانِ رَكَعَاتٍ لَا يَجْلِسُ إِلَّا فِي الثَّامِنَةِ، ثُمَّ يَقُومُ فَيُصَلِّي رَكْعَةً أُخْرَى لَا يَجْلِسُ إِلَّا فِي الثَّامِنَةِ وَالتَّاسِعَةِ، وَلَا يُسَلِّمُ إِلَّا فِي التَّاسِعَةِ، ثُمَّ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ وَهُوَ جَالِسٌ، فَتِلْكَ إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً يَا بُنَيَّ، فَلَمَّا أَسَنَّ وَأَخَذَ اللَّحْمَ أَوْتَرَ بِسَبْعِ رَكَعَاتٍ لَمْ يَجْلِسْ إِلَّا فِي السَّادِسَةِ وَالسَّابِعَةِ، وَلَمْ يُسَلِّمْ إِلَّا فِي السَّابِعَةِ، ثُمَّ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ وَهُوَ جَالِسٌ فَتِلْكَ هِيَ تِسْعُ رَكَعَاتٍ يَا بُنَيَّ، وَلَمْ يَقُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةً يُتِمُّهَا إِلَى الصَّبَاحِ، وَلَمْ يَقْرَأِ الْقُرْآنَ فِي لَيْلَةٍ قَطُّ وَلَمْ يَصُمْ شَهْرًا يُتِمُّهُ غَيْرَ رَمَضَانَ، وَكَانَ إِذَا صَلَّى صَلَاةً دَاوَمَ عَلَيْهَا، وَكَانَ إِذَا غَلَبَتْهُ عَيْنَاهُ مِنَ اللَّيْلِ بِنَوْمٍ صَلَّى مِنَ النَّهَارِ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً" قَالَ: فَأَتَيْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ فَحَدَّثْتُهُ، فَقَالَ: هَذَا وَاللَّهِ هُوَ الْحَدِيثُ، وَلَوْ كُنْتُ أُكَلِّمُهَا لَأَتَيْتُهَا حَتَّى أُشَافِهَهَا بِهِ مُشَافَهَةً، قَالَ: قُلْتُ: لَوْ عَلِمْتُ أَنَّكَ لَا تُكَلِّمُهَا مَا حَدَّثْتُكَ.

د سعد بن هشام نه روایت دی هغه وایي ما خپله ښځه طلاقه کړه، مدینې ته راغلم هلته زما ځمکه وه د هغې د خرڅولو دپاره، چې سلاح پرې واخلم او غزا وکړم. زه مخامخ شوم څه کسانو سره د ملګرو د نبي ﷺ نه، هغوی ووېل زمونږ نه شپږو کسانو همدغه اراده کړې ده چې دغسې وکړي، نو پیغمبر ﷺ منع کړل، او وېې ویل بېشکه تاسو لره د الله په رسول کې ښه مشري ده. زه راغلم ابن عباس ته ما ترېنه تپوس وکړو د وترو د نبي ﷺ، نو هغه ووېل: زه تاته ښایم ډیره پوهه د خلقو نه په وترو د رسول الله ﷺ باندې، لاړ شه

(¹): صحیح مسلم/المسافرین ۱۸ (۷٤٦)، سنن النسائي/ قیام اللیل ۲ (۱٦۰۲)، ۱۷ (۱٦٤۲)، ۱۸ (۱٦٥۲)، ٤۲ (۱۷۲۱)، ٤۳ (۱۷۲٥)، سنن الترمذي/الصلاة ۲۱٦ (٤٤٥ مختصراً)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۲۳ (۱۱۹۱)، (تحفة الأشراف: ۱٦۱۰٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥۳/٦، ۹٤، ۱۰۹، ۱٦۳، ۱٦۸، ۲۳۸، ۲٥۸) (صحیح)

عائشي ته، زه راغلم هغي ته، ما طلب د ملګرتيا وکړو د حکيم بن افلح نه نو هغه انکار وکړو، ما هغه ته قسم ورکړو نو ماسره لاړلو، مونږ طلب د اجازت وکړو د عائشي نه، هغي وويل دا څوک دی؟ هغه وويل حکيم بن افلح، هغي وويل او تاسره څوک دی؟ هغه وويل سعد بن هشام، هغي وويل هشام بن عامر هغه چي د احد په ورځ وژلی شوی دی؟ هغه وايي ما وويل آو، هغي وويل ډير ښه سړی وو عامر، هغه وايي ما وويل ای ام المؤمنين! ماته بيان وکړه د اخلاقو د نبي ﷺ، هغي وويل ايا ته قرآن نه لولي؟ بېشکه اخلاق د رسول الله ﷺ قرآن وو، هغه وايي ما وويل ماته بيان وکړه د قيام الليل نه، هغي وويل ايا ته يا ايها المزمل نه لولي؟ هغه وايي ما وويل ولي نه، هغي وويل بېشکه اول د دي سورت نزل، ودريدل صحابه د رسول الله ﷺ تردي چي خپي يي وپړسيدي، او بنده وه اخيرنی حصه په اسمان کي دولس مياشتي، بيا نازل شو اخرنی حصه د هغه، نو قيام الليل نفل شو وروسته د فرضيت نه

تشريح: قوله: عن سعد بن هشام قال طلقت امراتی فاتيت المدينة لابيع عقارًا کان لی بها فاشتری به السلاح.الخ، سعدبن هشام فرمائی چه ما خپلي ښځي لره طلاق ورکړو او بيا مديني منورې ته راغلم دي دپاره چه هلته زما کومه زمکه ده هغه خرڅه کړم او بيا د دي په ذريعي سره وسله واخلم او په جهاد کښي مشغول شم، دې صحابی د تبتل او د دنيا نه د انقطاع اراده کړې وه او دا ټول هرڅۀ پريخودل او خپل ټول عمر په جهاد کښي لګول دی خو چونکه دا څيز دسنت طريقي نه خلاف دې نو څکه نورو صحابه کرامو دې منع کړو.

قوله: قال هشام بن عامر الذی قتل يوم أحدٍ، الذی قتل، د عامر صفت دې کوم چه د سعد بن هشام د حديث د راوی نيکۀ دې، قالت نعم المرء کان عامرًا، اوئی فرمائيل ستا نيکۀ ابو عامر ډير ښۀ سړې وو.

قوله: و کان اذا صلی صلوة دوام عليها، تردې چه حضور ﷺ يوځل د مازيګر د مانځه نه پس د ماسپخين د سنتو قضاء اوفرمائيله نو هغۀ به ئي هم مدام کول.

د حديث مضمون

قوله: و لو کنت اُکلّمها لاتيتها حتی اُشافها به مشافهة،سعد بن هشام د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه د حضور ﷺ د تهجدو د مانځه په حقله سوال کړې وو، په دې باندې هغوی فرمائيلې وو چه د دي تفصيل چه څومره د حضرت عائشه رضی الله عنها نه معلوميدې شی دومره د بل چا نه نۀ شی کيدې، چنانچه هغوی حکيم بن افلح د ځان سره بوتللو او د هغوی په خدمت کښي حاضر شول، حضرت عائشه رضی الله عنها ورته د دې پوره تفصيل بيان کړلو، سعد بن هشام چه دا تفصيل واوريدلو نو بيا د حضرت ابن عباس رضی الله عنه ته راغللو او دا تفصيل ئي هغوی ته هم واورولو هغوی قسم اوکړلو او اوئی فرمائيل،هذا والله هو الحديث،واقعی د دې صحيح تفصيل هم دا دې کوم چه هغوی بيان کړې دې، او ابن عباس رضی الله عنه دا هم اوفرمائيل چه که د حضرت عائشه رضی الله عنها سره زما خبرې اترې وې نو زۀ به ورغلې ووم او دا تفصيل به ما د هغوی نه بالمشافه اوريدلې وو، په دې باندې سعد اوفرمائيل که ما ته د وړاندې نه دا معلومه وې

چه ستاسو د هغوئ سره خبرې اترې نشته دې نو زۀ به تاته نۀ وې راغلې او دا تفصيل به مې تاسو ته بالکل نۀ وو اورولې

يو اشکال او د هغې جواب:

دلته دا يو اشکال دې چه هجران مسلم فوق ثلث خو ممنوع دې نو بيا ابن عباس رضي الله عنه داسې ولې اوکړل؟ جواب دا دې چه دا هجران مسلم يعنى ترک تکلم مطلقا ممنوع نۀ دې بلکه ممنوع اعراض او ترک تکلم عند اللقاء دې، حضرت ابن عباس رضي الله عنه داسې نۀ وو کړې بلکه دا ئې کړې وو چه د هغوى سره ئې ملاقات نۀ وو کړې چه د هجران مسلم نوبت راشي، دويم جواب دا دې چه که دا اومنلې شي چه هغوى په وخت د ملاقات کښې ترک تکلم کړې وو نو دا ترک تکلم د هغوى د خپل کوم ذاتي او نفساني غرض د وجه نه نۀ وو بلکه د امر دين د وجه نه وو، وجه د دې دا ده لکه څنګه چه د مسلم شريف په روايت کښې تصريح ده چه ابن عباس رضي الله عنه فرمائي چه ما حضرت عائشه رضي الله عنها د علي او معاويه رضي الله عنهما په مينځ کښې په نزاع کښې د دخل کولو نه منع کړې وه خو هغوى او نۀ منل بلکه د حضرت معاويه رضي الله عنه ملګرتيا ئې اوکړله کومه چه د ابن عباس رضي الله عنه په نيز جائز نۀ وه، او که ترک تکلم د کوم عصيان د وجه نه وى نو جائز ده.

[۱۳۴۳]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ، بِإِسْنَادِهِ نَحْوَهُ، قَالَ: "يُصَلِّي ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ لَا يَجْلِسُ فِيهِنَّ إِلَّا عِنْدَ الثَّامِنَةِ فَيَجْلِسُ فَيَذْكُرُ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ، ثُمَّ يَدْعُو، ثُمَّ يُسَلِّمُ تَسْلِيمًا يُسْمِعُنَا، ثُمَّ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ وَهُوَ جَالِسٌ بَعْدَ مَا يُسَلِّمُ، ثُمَّ يُصَلِّي رَكْعَةً فَتِلْكَ إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً يَا بُنَيَّ، فَلَمَّا أَسَنَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَخَذَ اللَّحْمَ أَوْتَرَ بِسَبْعٍ وَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَهُوَ جَالِسٌ بَعْدَ مَا يُسَلِّمُ، بِمَعْنَاهُ إِلَى مُشَافَهَةٍ".

سعيد د قتادة نه روايت کوې په خپل اسناد سره د هغې پشان، هغه وايې مونځ به يې کولو اته رکعاته نه به کېناستلو په هغې کې مګر د اتم رکعات سره، کېناستلو د الله تعالى ذکر به يې وکړو، بيا به يې دعاء وکړه، بيا به يې وګرځولو چې مونږ ته به يې واورولو، بيا به يې دوه رکعاته مونځ وکړو او هغه به ناست وو وروسته د سلام نه، بيا به يې يو رکعات وکړو، دغه يوولس رکعاته دي اى خويه! هرکله چې بوډا شو رسول الله صلى الله عليه وسلم او غوښه يې ونبوله، وتر به يې کول اوه رکعاته، دوه رکعاته به يې کول او هغه به ناست وو وروسته د سلام اړولو نه په معنى د هغه حديث سره تر مشافهة پورې

تشريح: قوله: حدثنا محمد بن بشار نا يحيى بن سعيد عن قتادة،الخ..... **لا** يجلس فيهن الا عندالثامنة فيجلس فيذكر الله ثم يدعو ثم يسلم، د دې نه وړاندې روايت کښې همام عن قتادة وو او دا سعيد عن قتادة دې

د روايت په وهم باندې خبردارې: د همام روايت کښې دا وو چه ثامنه کښې به ئې جلوس فرمائيلو خو سلام به ئې نۀ ګرځولو خو په تاسعه يعنى نهم کښې به ئې داسې او په نورو روايتو کښې هم دى خو د سعيد دا روايت د ټولو نه خلاف دې چه حضور صلى الله عليه وسلم به په اتم رکعت باندې سلام ګرځولو، ثم يصلى رکعتين و هو جالس ثم يصلى رکعة، دا د دې روايت دويم

() انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٦١٠٤) (صحيح)

وهم دی او د ټولو روایتونو خلاف دی ځکه چه دوه رکعته په ناستې به حضور ﷺ د وترو نه پس کول او دلته قبل الوتر ذکر دي.

[١٣٤٤](١) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بِشْرٍ، حَدَّثَنَا سَعِيدٌ بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: "يُسَلِّمُ تَسْلِيمًا يُسْمِعُنَا" كَمَا قَالَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ.

محمد بن بشر وايي موږ ته بیان کړی سعید دا حدیث. هغه ویلي دي سلام به يې ګرځولو داسې سلام چې موږ ته يې اورولو. لکه څنګه چې یحیی ویلي دي.

[١٣٤٥](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ سَعِيدٍ، بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ ابْنُ بَشَّارٍ: بِنَحْوِ حَدِيثِ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، إِلَّا أَنَّهُ قَالَ: "وَيُسَلِّمُ تَسْلِيمَةً يُسْمِعُنَا".

ابن عدي د سعيد نه دا حدیث بیان کړی دی، ویلي دي ابن بشار پشان د حدیث د یحیی بن سعید مګر هغه دا یکې ویلي دي سلام به يې ګرځولو یو سلام چې موږ ته به يې اورولو

[١٣٤٦](٣) حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُسَيْنٍ الدِّرْهَمِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ، حَدَّثَنَا زُرَارَةُ بْنُ أَوْفَى، أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا سُئِلَتْ عَنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَوْفِ اللَّيْلِ، فَقَالَتْ: "كَانَ يُصَلِّي الْعِشَاءَ فِي جَمَاعَةٍ، ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى أَهْلِهِ فَيَرْكَعُ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ، ثُمَّ يَأْوِي إِلَى فِرَاشِهِ وَيَنَامُ وَطَهُورُهُ مُغَطًّى عِنْدَ رَأْسِهِ وَسِوَاكُهُ مَوْضُوعٌ حَتَّى يَبْعَثَهُ اللَّهُ سَاعَتَهُ الَّتِي يَبْعَثُهُ مِنَ اللَّيْلِ فَيَتَسَوَّكُ وَيُسْبِغُ الْوُضُوءَ، ثُمَّ يَقُومُ إِلَى مُصَلَّاهُ فَيُصَلِّي ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ يَقْرَأُ فِيهِنَّ بِأُمِّ الْكِتَابِ وَسُورَةٍ مِنَ الْقُرْآنِ وَمَا شَاءَ اللَّهُ وَلَا يَقْعُدُ فِي شَيْءٍ مِنْهَا حَتَّى يَقْعُدَ فِي الثَّامِنَةِ، وَلَا يُسَلِّمُ وَيَقْرَأُ فِي التَّاسِعَةِ، ثُمَّ يَقْعُدُ فَيَدْعُو بِمَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَدْعُوَهُ وَيَسْأَلَهُ وَيَرْغَبَ إِلَيْهِ وَيُسَلِّمُ تَسْلِيمَةً وَاحِدَةً شَدِيدَةً يَكَادُ يُوقِظُ أَهْلَ الْبَيْتِ مِنْ شِدَّةِ تَسْلِيمِهِ، ثُمَّ يَقْرَأُ وَهُوَ قَاعِدٌ بِأُمِّ الْكِتَابِ وَيَرْكَعُ وَهُوَ قَاعِدٌ، ثُمَّ يَقْرَأُ الثَّانِيَةَ فَيَرْكَعُ وَيَسْجُدُ وَهُوَ قَاعِدٌ، ثُمَّ يَدْعُو مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَدْعُوَ، ثُمَّ يُسَلِّمُ وَيَنْصَرِفُ، فَلَمْ تَزَلْ تِلْكَ صَلَاةَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى بَدَّنَ فَنَقَّصَ مِنَ التِّسْعِ ثِنْتَيْنِ فَجَعَلَهَا إِلَى السِّتِّ وَالسَّبْعِ وَرَكْعَتَيْهِ وَهُوَ قَاعِدٌ حَتَّى قُبِضَ عَلَى ذَلِكَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ".

د زرارة بن اوفی نه روایت دی، بېشکه عائشې رضي الله عنها نه تپوس وشو د مانځه د رسول الله ﷺ د شپې په څه حصه کې. هغې وویل: هغه به د ماسخوتن مونځ په جمعه کولو. بیا به خپل اهل ته واپس شو. څلور رکعاته به يې وکړل. بیا به خپلې بسترې ته راغلو. او اوده به شو او د اودس اوبه به د هغه د سر سره وي، او مسواک به ورته کېښودلی شوی وو. تردې چې الله به راپاڅولو په خپل هغه وخت کې چې راپاڅولو به يې دشپې. مسواک به يې ووهلو، او پوره اودس به يې وکړو. بیا خپل مانځه ځای کې ودریدو. مونځ به يې وکړو اته رکعاته، په هغې کې به يې سورة الفاتحه لوستله او یو سورت د قرآن نه، او هغه چې د الله به خوښه وه. او نه به کېناستلو په هیڅ شي کې د هغې نه تردې چې په اتم به کېناستلو. او سلام به يې نه ګرځولو. او لوستلو به يې په نهم کې. بیا به کېناستلو. دعاء به يې کوله په هغې سره چې الله غوښتل چې د هغې دعاء وکړي او هغه وغواړي، او د هغه مینه وه هغې ته، او یو

(١): انظر حديث رقم: (١٣٤٣)، (تحفة الأشراف: ١٦١٠٤) (صحيح)

(٢): انظر حديث رقم: (١٣٤٣)، (تحفة الأشراف: ١٦١٠٤) (صحيح)

(٣): تفرد به ابوداود، (تحفة الأشراف: ١٦٠٨٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٢٣٦) (صحيح)

سخت سلام به يي ګرځولو نږدې وو چې د کور والا رابيدار کړي د شدت د سلام نه، بيا به يي لوستله سورة الفاتحه او هغه به ناست وو، او رکوع به يي کوله او هغه به ناست وو، بيا قراءت کولو په دويم کې، رکوع او سجده به يي کوله او هغه به ناست وو، بيا به يي دعاء غوختله هغه چې د الله خوښه وه چې ويې غواړي، بيا به يي سلام واړولو او تلو به، د رسول الله ﷺ دغه مونځ وو د همېشه دپاره تردې چې غټ شو. نو د نهو نه يي دوه کم کړل ويې ګرځول شپږو او اوو نه، او دوه رکعاتونه به ناسته تردې چې وفات شو رسول الله ﷺ په دغې باندې

تشريح قوله: و يسلم تسليمة واحدة شديدة يكاد يوقظ اهله. يعنې يو سلام به حضور ﷺ دومره په زوره سره ګرځولو چه کور واله اودۀ راپاسي.

په تسليمه واحده کښې د امام مالک دليل

په کومو ابوابو کښې چه مصنف د مانځه ارکان بيان کړي وو هلته يو باب، باب في السلام. تير شوي دې په کوم کښې چه مصنف د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په روايت سره د تسليمتينو حديث، كان يسلم عن يمينه و عن شماله. ذکر فرمائيلي وو هلته دا خبره تيره شوي وه چه ائمه ثلاثه په مانځه کښې د تسليمتينو قائل دی او امام مالك د تسليمه واحده قائل دي او هم دا حديث د دوئ دليل دې. هلته د تسليمۀ واحده په باره کښې يو جواب تير شوي وو چه هغه په جهر شديد باندې محمول دې يعنې يو سلام به ئې په ډير زوره سره وئيلو د تسليمۀ ثانيه نفي مقصود نۀ ده.

[۱۳۴۷](۱)حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا بَهْزُ بْنُ حَكِيمٍ، فَذَكَرَ هَذَا الْحَدِيثَ بِإِسْنَادِهِ، قَالَ: "يُصَلِّي الْعِشَاءَ ثُمَّ يَأْوِي إِلَى فِرَاشِهِ، لَمْ يَذْكُرِ الْأَرْبَعَ رَكَعَاتٍ، وَسَاقَ الْحَدِيثَ، وَقَالَ فِيهِ: فَيُصَلِّي ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ يُسَوِّي بَيْنَهُنَّ فِي الْقِرَاءَةِ وَالرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ وَلَا يَجْلِسُ فِي شَيْءٍ مِنْهُنَّ إِلَّا فِي الثَّامِنَةِ فَإِنَّهُ كَانَ يَجْلِسُ، ثُمَّ يَقُومُ وَلَا يُسَلِّمُ فِيهِ فَيُصَلِّي رَكْعَةً يُوتِرُ بِهَا، ثُمَّ يُسَلِّمُ تَسْلِيمَةً يَرْفَعُ بِهَا صَوْتَهُ حَتَّى يُوقِظَنَا، ثُمَّ سَاقَ مَعْنَاهُ".

يزيد بن هارون وايي مونږ ته بهز بن حکيم خبر راکړی دی، دا حديث يي ذکر کړو به خپل اسناد سره هغه پکې وويل مونځ به يي کولو د ماسخوتن. بيا به راتلو خپلې بسترې ته. نه يي دي ذکر کړي څلور رکعاته، او بيان يي کړو حديث. هغه پکې وويل مونځ به يي کولو اته رکعاته برابروالی به يي کولو په هغې په قراءت او رکوع او سجده کې. او نه به کېناستلو په هيڅ شي کې د هغې نه مګر په اتم رکعات کې. بيشکه هغه به کېناستلو. بيا به پاڅيدلو. او سلام به يي نه ګرځولو په هغې کې. مونځ به يي کولو يو رکعات هغه به يي وتر شو. بيا به يي سلام اړولو اوچتولو به يي خپل اواز په هغې سره تردې چې مونږ به يي رابيدار کړو، بيايي بيان کړه معنی د هغې

[۱۳۴۸](۲)حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ عُثْمَانَ، حَدَّثَنَا مَرْوَانُ يَعْنِي ابْنَ مُعَاوِيَةَ، عَنْ بَهْزٍ، حَدَّثَنَا زُرَارَةُ بْنُ أَوْفَى، عَنْ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ، أَنَّهَا سُئِلَتْ عَنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: "كَانَ يُصَلِّي بِالنَّاسِ

(۱): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ١٦٠٨٦) (صحيح)
(۲): انظر حديث رقم: ١٣٤٦، (تحفة الأشراف: ١٦٠٨٦) (صحيح)

الْعِشَاءَ، ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى أَهْلِهِ فَيُصَلِّي أَرْبَعًا، ثُمَّ يَأْوِي إِلَى فِرَاشِهِ، ثُمَّ سَاقَ الْحَدِيثَ بِطُولِهِ، وَلَمْ يَذْكُرْ يُسَوِّي بَيْنَهُنَّ فِي الْقِرَاءَةِ وَالرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِي التَّسْلِيمِ حَتَّى يُوقِظَنَا".

د عائشي رضي الله عنها نه روايت دى، بېشكه د هغې نه تپوس وشو د مانځه د رسول الله ﷺ، هغې وويل: هغه به د ماسخوتن مونځ كولو خلقو ته، بيا به واپس كيدلو خپل اهل ته، څلور ركعاته مونځ به يي كولو، بيا به راتلو خپلې بسترې ته، بيايي ټول حديث بيان كړو، او ذكر يي نه كړو چې تسويه يي كوله په مينځ د هغې كې په قراءت او ركوع او سجده كې، او نه يي دى ذكر كړې په سلام كې، تردې چې مونږ يي بيدار كړو.

[۱۳۴۹] (۱) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ يَعْنِي ابْنَ سَلَمَةَ، عَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ، عَنْ زُرَارَةَ بْنِ أَوْفَى، عَنْ سَعْدِ بْنِ هِشَامٍ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، بِهَذَا الْحَدِيثِ، وَلَيْسَ فِي تَمَامِ حَدِيثِهِمْ.

د عائشي رضي الله عنها نه روايت دى، دا حديث، او نشته په تمام د حديث د هغوى كې.

تشريح: قوله: عن زرارة بن اوفى عن سعد بن هشام عن عائشة رضى الله عنها بهذا الحديث و ليس فى تمام حديثه،

شرح السند:

دا روايات چه كوم روان دى د دې ټولو مدار په بهز بن حكيم باندې دې، د بهز ګنړ شاګردان دى(۱) ابن عدى(۲) يزيد بن هارون(۳) مروان بن معاويه(۴) حماد بن سلمه، په دې ټولو روايتونو كښې دزرارة بن اوفي او دعائشه رضي الله عنها په مينځ كښې هيڅ واسطه نشته ټول روايتونه بغير واسطې نه دې، خو آخرى رواية د حماد بن سلمه كښې د دې دواړو په مينځ كښې د سعد بن هشام واسطه ده او واسطه پكار هم ده د دې په باره كښې مصنف فرمائي . وليس فى تمام حديثهم، د حماد په مقابله كښې د نورو رواتو د حديث يعنى د سند حديث تام يعنى پوره نۀ دې، اصل عبارت داسې دې. وليس فى حديثهم بتمام.

[۱۳۵۰] (۲) حَدَّثَنَا مُوسَى يَعْنِي ابْنَ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ يَعْنِي ابْنَ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً يُوتِرُ بِتِسْعٍ، أَوْ كَمَا قَالَتْ: وَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ وَهُوَ جَالِسٌ وَرَكْعَتَيِ الْفَجْرِ بَيْنَ الْأَذَانِ وَالْإِقَامَةِ".

دعائشي رضي الله عنها نه روايت دى، بېشكه رسول الله ﷺ وو چې مونځ يي كولو دشپې ديارلس ركعاته، درې به يي پكې وتر كول. يا لكه څنګه چې هغې ويلي دي. مونځ به يي كولو دوه ركعاته او هغه به ناست وو، او دوه ركعاتونه د سحر په مابين د اذان او اقامت كې.

[۱۳۵۱] (۳) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ وَقَّاصٍ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يُوتِرُ بِتِسْعِ رَكَعَاتٍ، ثُمَّ أَوْتَرَ بِسَبْعِ رَكَعَاتٍ وَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ وَهُوَ جَالِسٌ بَعْدَ الْوِتْرِ يَقْرَأُ فِيهِمَا، فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَرْكَعَ قَامَ فَرَكَعَ، ثُمَّ سَجَدَ". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: رَوَى هَذَيْنِ الْحَدِيثَيْنِ خَالِدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْوَاسِطِيُّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو مِثْلَهُ، قَالَ فِيهِ: قَالَ عَلْقَمَةُ بْنُ وَقَّاصٍ: يَا أُمَّتَاهُ،

---

۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۶۰۸۶، ۱۶۱۱۰) (صحيح)

۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۶۱۱۰، ۱۶۱۱۱، ۱۷۷۵۵) (حسن صحيح)

۳): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۶۱۱)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/المسافرين ۱۶ (۷۳۸) (حسن صحيح)

كَيْفَ كَانَ يُصَلِّي الرَّكْعَتَيْنِ؟ فَذَكَرَ مَعْنَاهُ.

د عائشي رضي الله عنها نه روايت دی، بېشکه رسول الله ﷺ وو چې وتريي کول په اوه رکعاتونو سره، بيا به يې اوه رکعاته وتر کول. او دوه رکعاته يې وکړل په ناسته وروسته د وترو نه قراءت به يې کولو په هغې دواړو کې، کله چې به يې اراده د رکوع نو پاڅيدلو به، نو رکوع يې وکړه او سجده يې وکړه. ويلي دي ابوداود دواړه حديثونه خالد بن عبد الله الواسطي د محمد بن عمرو نه روايت کړي په مثل د هغې. هغه پکې ويلي دي ويلي دي علقمه بن وقاص: اى موري دوه رکعاته يې څنګه کول، ذکر يې کړه معنى د هغې.

تشريح: قوله: كان يصلي من الليل ثلث عشرة ركعة يوتر بتسع، د نهو رکعاتو تهجدو سره د وترو نه او دوه د صبا سنت او رکعتين جالسًا بعد الوتر دا ټول ديارلس رکعاته شول.

قوله، كان يوتر بتسع ركعات ثم اوتر بسبع، يعنى په اوله کښې به حضور ﷺ د تهجدو نهه رکعاته سره د وترو نه کول بيا (کله چه ضعف ورته پيښ شو) نو د نهو په ځائې به ئې اووه رکعاته کول.

قوله: قال ابوداؤد روى الحديثين خالد بن عبدالله الواسطي مثله، د حديثينو نه مراد يو خو هم دا حديث دې په کوم کښې چه روان يو يعنى حديث د علقمه عن عائشة او دويم حديث ددې نه وړاندې حديث دابى سلمة بن عبدالرحمٰن عن عائشة. دې دواړو حديثونو لره خالد بن عبدالله روايت کړې دی د حماد بن سلمه پشان يعنى څنګه چه حماد دې لره د محمد بن عمرو نه روايت کوی دغه شان خالد هم دې لره د محمد بن عمرو نه روايت کوی.

[١٣٥٢] (١) حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، عَنْ خَالِدٍ، وحَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَعْدِ بْنِ هِشَامٍ، قَالَ: قَدِمْتُ الْمَدِينَةَ فَدَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ، فَقُلْتُ: أَخْبِرِينِي عَنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يُصَلِّي بِالنَّاسِ صَلَاةَ الْعِشَاءِ، ثُمَّ يَأْوِي إِلَى فِرَاشِهِ فَيَنَامُ، فَإِذَا كَانَ جَوْفُ اللَّيْلِ قَامَ إِلَى حَاجَتِهِ وَإِلَى طَهُورِهِ فَتَوَضَّأَ، ثُمَّ دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَصَلَّى ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ، يُخَيَّلُ إِلَيَّ أَنَّهُ يُسَوِّي بَيْنَهُنَّ فِي الْقِرَاءَةِ وَالرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ، ثُمَّ يُوتِرُ بِرَكْعَةٍ، ثُمَّ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ وَهُوَ جَالِسٌ، ثُمَّ يَضَعُ جَنْبَهُ، فَرُبَّمَا جَاءَ بِلَالٌ فَآذَنَهُ بِالصَّلَاةِ، ثُمَّ يُغْفِي، وَرُبَّمَا شَكَكْتُ أَغْفَى أَوْ لَا، حَتَّى يُؤْذِنَهُ بِالصَّلَاةِ فَكَانَتْ تِلْكَ صَلَاتُهُ حَتَّى أَسَنَّ لَحُمَ" فَذَكَرَتْ مِنْ لَحْمِهِ مَا شَاءَ اللَّهُ، وَسَاقَ الْحَدِيثَ.

د سعد بن هشام نه روايت دی، هغه وايي زه راغلم مديني ته، عائشي ته ورغلم، ما ورته وويل ماته خبر راکړه د مانځه د رسول الله ﷺ. هغې وويل بېشکه رسول الله ﷺ به خلقو ته د ماسخوتن مونځ کولو. بيا به راغلو خپلې بسترې ته اوده کيدلو به. کله چې به شپه نيمه شوه نو خپل حاجت او اودس ته به پاڅيدلو. نو اودس به يې وکړو، بيا به مسجد ته داخل شو، مونځ به يې وکړو اته رکعاته. زما ګمان دی چې هغه به برابروالي کولو په مابين د قراءت او رکوع او سجده کې. بيا به يې وتر کولو په يو رکعات سره، بيا به يې دوه رکعاته کول او هغه به ناست وو، بيا به يې اړخ کېښودو. کله چې به بلال راغی نو هغه ته بي خبر ورکړو په مانځه سره، بيا به لږ شان اوده شو. او کله به زما شک شو چې اوده شو او که نه؟

١: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٦٠٩٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/ ٩١، ٩٧، ١٦٨، ٢١٦، ٢٢٧، ٢٣٥) (صحيح)

تردې چې هغه به يې خبر کړو په مانځه سره، نو دغه د هغه مونځ وو تردې چې ښه بوډا شو، ذکر يې د هغه د غوښې وکړ هغه چې د الله خوښه وه، او حديث يې بيان کړو

قوله: حدثنا وهب بن بقية عن خالد ح، پورته مصنف د خالد د روايت حواله ورکړې وه، خالد چونکه د مصنف استاذ نهٔ دې بلکه استاذ الاستاذ دې لهذا دا پورتنی روايت تعليق شو، د تعليق نه پس د مصنفينو دا عادت دې چه د دې وصل کوی يعنی د سند ابتدائی حصه ذکر کړی او د سند تکميل يعنی پوره والې کوی چنانچه مصنف اووئيل، حدثنا وهب بن بقية عن خالد. عن خالد نه چه راغلو نو مخکښنې سند چه ناقص وو د هغې تکميل اوشو

د سند تصحيح و تحقيق او د نسخو د اختلاف بيان

اوس د دينه پس مصنف يو بل مستقل سند شروع کړو د کوم ابتداء چه د ابن المثنی نه ده خو دلته زمونږ په نسخه کښې د دې نه وړاندې حاء د تحويل ليکلې شوې ده د کومې چه څهٔ وجه نشته دې ځکه چه د نا ابن المثنی نه مستقل سند شروع کيږی لهذا دا حاء دلته غلطه ده، دويمه غلطی دا ده چه کله ابن المثنی نه د سند ابتداء کيږی نو بيا د دې په شروع کښې د. نا. په ځائې. حدثنا. پوره جلی قلم سره پکار وو لکه څنګه چه د سند په ابتداء کښې وی. چنانچه په بعضې قلمی نسخو کښې دغه شان دی. كذا حققه شيخنا فی البذل و تبعه صاحب المنهل بدون العز و اليه و اما صاحب العون فوقع فی الوهم لاجل هذه النسخة فظن،حاء التحويل ههنا صحيحا و شرح السند حسب هذه النسخة بان خالدًا و عبدالاعلى كلاهما يرويان عن هشام فجعل هشامًا ملتقى السندين ثم تحير و كتب لم نجد رواية وهب بن بقية عن خالد عن هشام فى اطراف المزّى، قال صاحب البذل متعقبًا كلامه كيف يوجد فی الاطراف ما لا وجود له، والله تعالى اعلم

ثم يضع جنبه.دا هم هغه اضطجاع ده کومه چه په بعضې روايتونو کښې بعد رکعتی الفجر ده او دلته قبل رکعتی الفجر ده د دې مستقل باب د دېنه وړاندې کتاب کښې تير شوې دې

قوله: فربما جاء بلال فآذنه بالصلوة ثم يغفى و ربما شككت.،الخ. اغفاء وائی نوم خفيف يعنی لږ غوندې خوب ته کوم ته چه زمونږ په عرف کښې سترګې ورتلو سره تعبير کوی، وئيلې کيږی. اغفيت اغفاء ای نمت نومًا خفيفًا.

مطلب دا دې چه حضور ﷺ به د وترو نه پس دوه رکعت په ناسته باندې اوکړل او د صبا سنت کولو نه وړاندې به لږ غوندې وخت دپاره څملاستل خو هغهٔ به دومره لږ وخت وو چه اکثر وختونو کښې به داسې اوشول چه حضور ﷺ په څملاستلو نو سمدستی به بلال رضی الله عنه د آذان نه پس د مونځ خبرداری دپاره راغلو تر دې پورې چه ما ته به شك پيدا شولو چه د حضور ﷺ سترګی ورغلې هم دی او که نهٔ. د ابوداؤد سياق واضح نهٔ دې د نسائی روايت واضح دې دا مطلب مونږ د هغې مطابق ليکلې دې

حتى اسنّ او لحُم.(دا د راوی شك دې چه استاذ دا لفظ وئيلې وو او که نهٔ) تر دې چه حضور ﷺ بوډا شويا بدن ئې درون شو (کوم چه بعضې خلقو ته په بوډاوالی کښې کيږی) سمن د حضور ﷺ د صفاتو نه دې او که نهٔ؟ دا بحث د دې نه وړاندې غالبًا دوه ځايه تير شوې دې

[١٣٥٣](¹)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا حُصَيْنٌ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ. ح وحَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ حُصَيْنٍ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّهُ رَقَدَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَآهُ "اسْتَيْقَظَ فَتَسَوَّكَ وَتَوَضَّأَ، وَهُوَ يَقُولُ: إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ سورة البقرة آية ١٦٤ حَتَّى خَتَمَ السُّورَةَ، ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ أَطَالَ فِيهِمَا الْقِيَامَ وَالرُّكُوعَ وَالسُّجُودَ، ثُمَّ انْصَرَفَ فَنَامَ حَتَّى نَفَخَ، ثُمَّ فَعَلَ ذَلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ بِسِتِّ رَكَعَاتٍ، كُلَّ ذَلِكَ يَسْتَاكُ، ثُمَّ يَتَوَضَّأُ وَيَقْرَأُ هَؤُلَاءِ الْآيَاتِ، ثُمَّ أَوْتَرَ". قَالَ عُثْمَانُ: "بِثَلَاثِ رَكَعَاتٍ فَأَتَاهُ الْمُؤَذِّنُ فَخَرَجَ إِلَى الصَّلَاةِ"، وَقَالَ ابْنُ عِيسَى: "ثُمَّ أَوْتَرَ فَأَتَاهُ بِلَالٌ فَآذَنَهُ بِالصَّلَاةِ حِينَ طَلَعَ الْفَجْرُ فَصَلَّى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ، ثُمَّ خَرَجَ إِلَى الصَّلَاةِ، ثُمَّ اتَّفَقَا، وَهُوَ يَقُولُ: اللَّهُمَّ اجْعَلْ فِي قَلْبِي نُورًا، وَاجْعَلْ فِي لِسَانِي نُورًا، وَاجْعَلْ فِي سَمْعِي نُورًا، وَاجْعَلْ فِي بَصَرِي نُورًا، وَاجْعَلْ خَلْفِي نُورًا، وَأَمَامِي نُورًا، وَاجْعَلْ مِنْ فَوْقِي نُورًا، وَمِنْ تَحْتِي نُورًا، اللَّهُمَّ وَأَعْظِمْ لِي نُورًا".

د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دی. بېشکه هغه اوده شو د نبي ﷺ سره، هغه وليدلو چې رابيدار شو. مسواک يې ووهلو او اودس يې وکړو، او هغه دا وويل: (ان في خلق السماوات و الارض) تردې چې سورت يې ختم کړو، بيا ودريدلو دوه رکعاته يې وکړل قيام رکوع او سجده يې پکې اوږده کړه. بيا لاړلو اوده شو تردې چې پوکی يې وکړو، بيايي دغسې درې ځله وکړل شپږ رکعاته، هر ځل به يې مسواک وهلو. بيا به يې اودس کولو او دا ايتونه به يې لوستل. بيايې وتر وکړل. عثمان ويلي دي: درې رکعاته، مؤذن ورته راغی، نو مانځه ته ووتلو، او ويلي دي ابن عيسی: بيايي وتر وکړل، پس بلال ورته راغی، خبر يې کړو په مانځه سره کله چې صباح راوختلو دوه رکعاته د سحريي وکړل، بيا مانځه ته ووتلو، بيا دواړه متفق شوي دي.- او هغه به ويل: ای الله زما په زړه کې نور واچوي، او زما په ژبه کې نور واچوي، او زما په غوږونو کې نور واچوي، او زما په سترګو کې نور واچوي، زما نه وروسته نور وګرځوي، او زمانه مخکې هم، زما نه بره نور وګرځوي، او زما نه لاندې نور ای الله، لوی کړي زما دپاره نور.

[١٣٥٤](²)حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ بَقِيَّةَ، عَنْ خَالِدٍ، عَنْ حُصَيْنٍ، نَحْوَهُ، قَالَ: "وَأَعْظِمْ لِي نُورًا". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَلِكَ قَالَ أَبُو خَالِدٍ الدَّالَانِيُّ: عَنْ حَبِيبٍ فِي هَذَا، وَكَذَلِكَ قَالَ فِي هَذَا الْحَدِيثِ: وَقَالَ سَلَمَةُ بْنُ كُهَيْلٍ: عَنْ أَبِي رِشْدِينَ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ.

حصين روايت کړی دی پشان د هغې، او لوی کړي مالره نور. ويلي دي ابوداود: همدارنګه ويلي دي ابو خالد الدالاني د حبيب نه په دې کې، همدارنګه يې ويلي دي په دې حديث کې، او ويلي دي سلمة بن کهيل د ابو راشد نه او هغه د ابن عباس نه.

[١٣٥٥](³)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ شَرِيكِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي نَمِرٍ، عَنْ كُرَيْبٍ، عَنْ الْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: بِتُّ لَيْلَةً عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَنْظُرَ كَيْفَ يُصَلِّي، "فَقَامَ فَتَوَضَّأَ وَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ قِيَامُهُ مِثْلُ رُكُوعِهِ وَرُكُوعُهُ مِثْلُ سُجُودِهِ، ثُمَّ نَامَ، ثُمَّ اسْتَيْقَظَ فَتَوَضَّأَ وَاسْتَنَّ، ثُمَّ قَرَأَ بِخَمْسِ

¹): انظر حديث رقم: ٥٨، (تحفة الأشراف: ٦٢٨٧) (صحيح)
²): انظر حديث رقم: ٥٨، (تحفة الأشراف: ٦٢٨٧) (صحيح)
³): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٠٥٩) (ضعيف)

آيَاتٍ مِنْ آلِ عِمْرَانَ إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمٰوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ سورة آل عمران آية ١٩٠ فَلَمْ يَزَلْ يَفْعَلُ هٰذَا حَتّٰى صَلّٰى عَشْرَ رَكْعَاتٍ، ثُمَّ قَامَ فَصَلّٰى سَجْدَةً وَاحِدَةً فَأَوْتَرَ بِهَا وَنَادَى الْمُنَادِي عِنْدَ ذٰلِكَ، فَقَامَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ مَا سَكَتَ الْمُؤَذِّنُ، فَصَلّٰى سَجْدَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ، ثُمَّ جَلَسَ حَتّٰى صَلَّى الصُّبْحَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: خَفِيَ عَلَيَّ مِنِ ابْنِ بَشَّارٍ بَعْضُهُ.

د فضل بن عباس نه روایت دی هغه ویلي دي: ما شپه تېره کړه د نبي ﷺ سره دې دپاره چې زه اوګورم چې هغه څنګه مونځ کوي، هغه پاځېدلو اودس یي وکړو او دوه رکعاته یي وکړل، قیام یي پشان د رکوع وو، او رکوع یي پشان د سجدي وه، بیا اوده شو، بیا رابیدار شو، اودس یي وکړو او مسواک یي ووهلو، بیا د سورت آل عمران پنځه ایتونه ولوستل (ان في خلق السماوات و الارض و اختلاف اللیل و النهار) همېشه وو چې داسې یي کول تردې چې پنځلس رکعاته یي وکړل، بیا ودرېدلو یو رکعات یي وکړل هغه یي کړل، اذان وکړو اذان کونکي په دغه وقت کې، رسول الله ﷺ پاځېدلو پس د هغې نه چې مؤذن چوپ شوی وو، مونځ یي وکړو دوه رکعاته سپک، بیا کېناستلو تردې چې د ماسخوتن مونځ یي وکړو. ویلي دي ابوداود: پټ شوی دی په ما باندې بعضي د ابن بشار نه.

حدثنا محمد بن بشار.... عن الفضل بن عباس قال بتُّ لیلةً عند النبی صلی الله علیه وسلم، د اکثرو مشهورو روایتونو نه معلومیږي چه دا د مبیت واقعه د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما سره متعلق ده لکه څنګه چه صحیحینو او نورو احادیثو په کتابونو کښې ده، عن ابن عباس رضی الله عنه قال بت عند خالتی میمونة، او دلته په دې روایت کښې د دې نسبت د دهٔ رور فضل بن عباس رضي الله عنه طرف ته کیږي، دا روایت دغه شان په صحاح سته کښې صرف یو ځائې دلته په ابوداؤد کښې دې او د محمد بن نصر په قیام اللیل کښې هم یو ځائې دغه شان دې، یا خو به دې ته وهم اووشیلې شي یا کیدې شي تعدد د قصې وی (منهل)

[١٣٥٦] (١) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ قَيْسٍ الْأَسَدِيُّ، عَنِ الْحَكَمِ بْنِ عُتَيْبَةَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: بِتُّ عِنْدَ خَالَتِي مَيْمُونَةَ، فَجَاءَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ مَا أَمْسٰى، فَقَالَ: "أَصَلَّى الْغُلَامُ؟" قَالُوا: نَعَمْ، "فَاضْطَجَعَ حَتّٰى إِذَا مَضٰى مِنَ اللَّيْلِ مَا شَاءَ اللّٰهُ قَامَ فَتَوَضَّأَ، ثُمَّ صَلّٰى سَبْعًا أَوْ خَمْسًا أَوْتَرَ بِهِنَّ لَمْ يُسَلِّمْ إِلَّا فِي آخِرِهِنَّ".

د ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دی، هغه ویلي دي، ما شپه تېره کړه د خپلې ترور سره، نو رسول الله ﷺ راغی پس د بېګاه نه، هغه ووېل: ایا هلک مونځ کړی دی؟ هغوی ووېل: آو، نو دهٔ یي ولګوله تردې چې نیمه شپه لاړه هغه چې الله غوښتله، اوچت شو اودس یي وکړو، بیایي مونځ وکړو اوه رکعاته ـ او یا پنځه ـ هغه یي وتر کړل، سلام یي ونه ګرځولو مګر په اخیر کې.

(١): صحیح البخاري/العلم ٤١ (١١٧)، الأذان ٥٧ (٦٩٧)، سنن النسائي/الإمامة ٢٢ (٨٠٧)، (تحفة الأشراف: ٥٤٩٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٣٤١، ٣٥٤)، دي/الطهارة ٣ (٦٨٤) (صحیح)

[۱۳۵۷](¹)حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: بِتُّ فِي بَيْتِ خَالَتِي مَيْمُونَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ "فَصَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِشَاءَ، ثُمَّ جَاءَ فَصَلَّى أَرْبَعًا، ثُمَّ نَامَ، ثُمَّ قَامَ يُصَلِّي، فَقُمْتُ عَنْ يَسَارِهِ فَأَدَارَنِي فَأَقَامَنِي عَنْ يَمِينِهِ، فَصَلَّى خَمْسًا، ثُمَّ نَامَ حَتَّى سَمِعْتُ غَطِيطَهُ أَوْ خَطِيطَهُ، ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ خَرَجَ فَصَلَّى الْغَدَاةَ".

د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دی، هغه وېلي دي: ما شپه تېره کړه په کور د ترور خپلې کې چې میمونة بنت الحارث ده، نو مونځ وکړو رسول الله ﷺ د ماسخوتن، بیا راغی څلور رکعاته يې وکړل، بیا اوده شو، بیا پاڅېدلو چې مونځ يې کولو، زه د هغه چپ طرف ته ودرېدم، زه يې راتاو کړم ويې درولم خپل ښي طرف ته، پنځه رکعاته يې وکړل، بیا اوده شو تردې چې د هغه خنهارې ما واورېدلو - او یایې خطیط وویله - بیا پاڅېدلو دوه رکعاته يې وکړل، بیا ووتلو، د سحر مونځ يې وکړو.

[۱۳۵۸](²)حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَبْدِ الْمَجِيدِ، عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبَّادٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ حَدَّثَهُ فِي هَذِهِ الْقِصَّةِ، قَالَ: "فَقَامَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ حَتَّى صَلَّى ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ، ثُمَّ أَوْتَرَ بِخَمْسٍ وَلَمْ يَجْلِسْ بَيْنَهُنَّ".

د سعید بن جبیر نه روایت دی بېشکه ابن عباس ورته حدیث بیان کړی دی په دې قصه کې، هغه وویل: هغه ودرېدلو مونځ يې وکړو دوه دوه رکعاته تردې چې اته رکعاته مونځ يې وکړو، بیايې پنځه رکعاته وتر وکړل او کېناستلی نه دی د هغې په مینځ کې.

[۱۳۵۹](³)حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ يَحْيَى الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ جَعْفَرِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً بِرَكْعَتَيْهِ، قَبْلَ الصُّبْحِ يُصَلِّي سِتًّا مَثْنَى مَثْنَى، وَيُوتِرُ بِخَمْسٍ لَا يَقْعُدُ بَيْنَهُنَّ إِلَّا فِي آخِرِهِنَّ".

د عائشې رضی الله عنها نه روایت دی هغې وېلي دي: وو رسول الله ﷺ چې دیارلس رکعاته مونځ يې کولو په دوه دوه رکعاتونو سره مخکې د صباح نه، شپږ به يې دوه دوه رکعاته کول، او وتر به يې کول پنځه، نه به کېناستلو مګر په اخیر د هغې کې.

[۱۳۶۰](⁴)حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ عِرَاكِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا أَخْبَرَتْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يُصَلِّي بِاللَّيْلِ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً بِرَكْعَتَيِ الْفَجْرِ".

د عائشې رضی الله عنها نه روایت دی، هغې خبر ورکړی دی عروة ته، بېشکه نبي ﷺ وو د شپې مونځ ئې کولو لس رکاته سره د دوه رکعاتو د فجر.

[۱۳۶۱](⁵)حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، وَجَعْفَرُ بْنُ مُسَافِرٍ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ يَزِيدَ الْمُقْرِءَ أَخْبَرَهُمَا، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي

---

¹): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٥٤٩٦) (صحيح)
²): سنن النسائي/الإمامة ٢٢ (٨٠٧)، (تحفة الأشراف: ٥٦٤٤) (صحيح)
³): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٦٣٨٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٧٥/٦) (صحيح)
⁴): م/المسافرين ١٧ (٧٣٧)، (تحفة الأشراف: ١٦٣٧١)، مسند احمد (٢٢٢/٦) (صحيح)
⁵): صحيح البخاري/التهجد ٢٢ (١١٥٩)، (تحفة الأشراف: ١٧٧٣٥)، وانظر حديث رقم: (١٣٤٢) (صحيح)؟وركعتين جالساً بين الأذانين؟

أَيُّوبَ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ رَبِيعَةَ، عَنْ عِرَاكِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "صَلَّى الْعِشَاءَ، ثُمَّ صَلَّى ثَمَانِيَ رَكَعَاتٍ قَائِمًا وَرَكْعَتَيْنِ بَيْنَ الْأَذَانَيْنِ، وَلَمْ يَكُنْ يَدَعُهُمَا". قَالَ جَعْفَرُ بْنُ مُسَافِرٍ فِي حَدِيثِهِ: "وَرَكْعَتَيْنِ جَالِسًا بَيْنَ الْأَذَانَيْنِ، زَادَ جَالِسًا".

د عائشي ﷞ نه روايت دی بېشکه رسول الله ﷺ د ماسخوتن مونځ وکړو، بيايي اته رکعاته وکړل په ولاړه، او دوه رکعاته په مابين د اذان او اقامت کې، او هغه به دغه دواړه نه پرېښودل، جعفر بن مسافر په خپل حديث کې ويلي دي: او دوه رکعاته په ناسته په مابين د دواړو اذانونو کې، زيات يې کړی دی: په ناسته.

قال جعفر بن مسافر في حديثه و ركعتين جالسا بين الاذانين، د اذانين نه مراد آذان او اقامت دي.

د روايت په وهم باندې خبرداري:

په دې روايت کښې د جالسًا زيادت د راوی وهم دې د صبا سنت کوم چه د آذان او اقامت په مينځ کښې وی د حضور ﷺ نه د دې په ناسته باندې کول ثابت نۀ دی بلکه رکعتين جالسا خو حضور ﷺ به د وترو نه پس د سنتو نه وړاندې کول يا به دې لره په عذر باندې محمول کړې شي.

[۱۳۶۲]( ) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ الْمُرَادِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ صَالِحٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي قَيْسٍ، قَالَ: قُلْتُ لِعَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: بِكَمْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوتِرُ؟ قَالَتْ: "كَانَ يُوتِرُ بِأَرْبَعٍ وَثَلَاثٍ وَسِتٍّ وَثَلَاثٍ وَثَمَانٍ وَثَلَاثٍ وَعَشْرٍ وَثَلَاثٍ، وَلَمْ يَكُنْ يُوتِرُ بِأَنْقَصَ مِنْ سَبْعٍ وَلَا بِأَكْثَرَ مِنْ ثَلَاثَ عَشْرَةَ". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: زَادَ أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ: "وَلَمْ يَكُنْ يُوتِرُ بِرَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الْفَجْرِ"، قُلْتُ: مَا يُوتِرُ، قَالَتْ: "لَمْ يَكُنْ يَدَعُ ذَلِكَ". وَلَمْ يَذْكُرْ أَحْمَدُ: "وَسِتٍّ وَثَلَاثٍ".

د عبد الله بن قيس نه روايت دی هغه ويلي دي: ما وويل عائشي ﷞ ته، رسول الله ﷺ به څو رکعاته وتر کول؟ هغې وويل: په څلورو او دريو سره، او په شپږو او دريو سره، او اتو او دريو سره، او په لسو او دريو سره، او نه وو چې وتريي کول کم د اوو نه، او نه زيات د دريالسو نه. ويلي دي ابوداود: احمد بن صالح دا زيادت کړی دی: او نه وو چې وتريي کول په دوه رکعاتونو سره مخکې د فجر نه، ما وويل: وتر يې څه شی کول؟ هغې وويل: هغه نه وو چې پرېښودل يې دغه، او احمد نه دی ذکر کړی: (و ست و ثلاث).

حدثنا احمد بن صالح،الخ، قوله، قالت کان يوتر باربع و ثلث و ستٍ و ثلث،الخ، دا همهغه جامع او واضح روايت دې د کوم حواله چه مونږ د باب په شروع کښې ورکړې وه،

قوله، و لم يكن يوتِرُ، په فتحې د ياء او کسرې د تاء سره د دې تفسير په خپله په کتاب کښې راغې، اى لم يكن يدع، يعنى حضور ﷺ به نۀ پرېښودل، په اصل کښې دا د وَتَرَ يَتِرُ وترًا په شان د وَعَدَ يعدِ وعدًا د، اثباتې واو په دې کښې خلاف قياس دې، چنانچه په قرآن کريم کښې دی، والله معكم و لن يتركم اعمالكم، د دې معنى د نقص يعنى کمولو ده دلته د دينه مراد ترک کول يعنى پرېښودل دی، راوی وائي چه حضور ﷺ د صبا سنت کله هم نۀ

---

[1]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٦٢٨٢)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الحيض ٦ (٣٠٧)، مختصراً سنن الترمذي/فضائل القرآن ٢٣ (١٦٢٨٢)، مسند احمد (١٤٩/٦) (صحيح)

پريخودل بلکه مدام به ئې کول.

[۱۳۶۳](۱)حَدَّثَنَا مُؤَمَّلُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ مَنْصُورِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيِّ، عَنْ الْأَسْوَدِ بْنِ يَزِيدَ، أَنَّهُ دَخَلَ عَلَى عَائِشَةَ فَسَأَلَهَا عَنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِاللَّيْلِ، فَقَالَتْ: "كَانَ يُصَلِّي ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً مِنَ اللَّيْلِ، ثُمَّ إِنَّهُ صَلَّى إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً وَتَرَكَ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ قُبِضَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ قُبِضَ وَهُوَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ تِسْعَ رَكَعَاتٍ، وَكَانَ آخِرُ صَلَاتِهِ مِنَ اللَّيْلِ الْوِتْرَ".

د اسود بن يزيد نه روايت دی، بېشکه هغه ورغی عائشې ته تپوس يې ترېنه وکړو د مانځه د رسول الله ﷺ دشپې، هغې ووېل: هغه وو ديارلس رکعاته به يې کول د شپې، بيا هغه يوولس رکعاته مونځ وکړو، دوه رکعاته يې پرېخودل، بيا رسول الله ﷺ وفات شو کله چې وفات شو، او هغه به دشپې نهه رکعاته کول، او د شپې اخيرنی مونځ د هغه وتر وو.

[۱۳۶٤](۲)حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ شُعَيْبِ بْنِ اللَّيْثِ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ جَدِّي، عَنْ خَالِدِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي هِلَالٍ، عَنْ مَخْرَمَةَ بْنِ سُلَيْمَانَ، أَنَّ كُرَيْبًا مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ أَخْبَرَهُ، أَنَّهُ قَالَ: سَأَلْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ: كَيْفَ كَانَتْ صَلَاةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِاللَّيْلِ؟ قَالَ: بِتُّ عِنْدَهُ لَيْلَةً وَهُوَ عِنْدَ مَيْمُونَةَ، "فَنَامَ حَتَّى إِذَا ذَهَبَ ثُلُثُ اللَّيْلِ أَوْ نِصْفُهُ اسْتَيْقَظَ، فَقَامَ إِلَى شَنٍّ فِيهِ مَاءٌ، فَتَوَضَّأَ وَتَوَضَّأْتُ مَعَهُ، ثُمَّ قَامَ فَقُمْتُ إِلَى جَنْبِهِ عَلَى يَسَارِهِ فَجَعَلَنِي عَلَى يَمِينِهِ، ثُمَّ وَضَعَ يَدَهُ عَلَى رَأْسِي كَأَنَّهُ يَمَسُّ أُذُنِي كَأَنَّهُ يُوقِظُنِي، فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ، قُلْتُ: فَقَرَأَ فِيهِمَا بِأُمِّ الْقُرْآنِ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ، ثُمَّ سَلَّمَ، ثُمَّ صَلَّى حَتَّى صَلَّى إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً بِالْوِتْرِ، ثُمَّ نَامَ، فَأَتَاهُ بِلَالٌ، فَقَالَ: الصَّلَاةُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَقَامَ فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ صَلَّى لِلنَّاسِ".

د مخرمة بن سليمان نه روايت دی چې کريب ورته خبر ورکړی دی، بېشکه هغه ويلي دي: ما تپوس وکړو د ابن عباس نه، د رسول الله ﷺ مونځ دشپې څنګه وو؟ هغه ووېل: زه د هغه سره يوه شپه وم او هغه د ميمونې سره وو، هغه اوده شو تردې چې دريمه حصه دشپې تيره شو ـ او يا نيمه ـ نو رابيدار شو، نو ورديدلو يوې مشکېزې ته چې اوبه پکې وې، هغه اودس وکړو ما هم اودس وکړو د هغه سره، بيا ورديدلو زه د هغه اړخ ته چپ طرف ته ودريدم، زه يې خپل ښي اړخ ته ودرولم، بيايي خپل لاس زما په غوږ باندې کېښودو ګويا چې هغه زما غوږ مسه کوي ګويا چې هغه ما رابيداروي، دوه رکعاته يې وکړل، په هر رکعات کې يې سورة الفاتحه ولوستله، بيايي سلام وګرځولو، بيايي مونځ وکړو تردې چې يوولس رکعاته يې وکړل سره د وترو نه، بيا اوده شو، بلال ورته راغی، هغه ووېل: مونځ تيار دی ای د الله رسوله! هغه ودريدو، دوه رکعاته يې وکړل، بيا مونځ وکړو خلقو ته.

[۱۳٦٥](۳)حَدَّثَنَا نُوحُ بْنُ حَبِيبٍ، وَيَحْيَى بْنُ مُوسَى، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ ابْنِ طَاوُسٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ بْنِ خَالِدٍ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: بِتُّ عِنْدَ خَالَتِي مَيْمُونَةَ "فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي مِنَ

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٦٠٣٤) (ضعيف)

(۲): صحيح البخاري/الطهارة ٣٧ (١٨٣)، الأذان ٥٨ (٦٩٨)، الوتر ١ (٩٩٢)، التفسير ١٨ (٤٥٧٠)، ١٩ (٤٥٧١)، ٢٠ (٤٥٧٢)، صحيح مسلم/المسافرين ٢٦ (٧٦٣)، سنن الترمذي/الشمائل (٢٦٥)، سنن النسائي/قيام الليل ٩ (١٦٢١)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٨١ (١٣٦٣)، (تحفة الأشراف: ٦٣٦٢)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/صلاة الليل ٢ (١١)، مسند احمد ١ (٢٢٢، ٣٥٨) (صحيح)

(۳): سنن النسائي/الإمامة ٢٢ (٨٠٧)، والكبرى/الوتر ٥٩ (١٤٢٥)، (تحفة الأشراف: ٥٩٨٤) (صحيح)

اللَّيْلِ، فَصَلَّى ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً مِنْهَا رَكْعَتَا الْفَجْرِ حَزَرْتُ قِيَامَهُ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ بِقَدْرِ يَاأَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ، لَمْ يَقُلْ نُوحٌ، مِنْهَا رَكْعَتَا الْفَجْرِ".

د ابن عباس رضی الله عنه نه روايت دی، هغه ويلي دي: ما شپه تېره کړه د خپلې ترور ميمونې سره، پاڅېدلو نبي ﷺ چې د شپې مونځ يې کولو، مونځ يې وکړو ديارلس رکعاته، دوه د هغې نه د سحر دوه رکعاته وو، ما اندازه کړو د هغه قيام په هر رکعات کې په قدر د سورة المزمل باندې، نوح نه دي ويلي: بعضې د هغې نه دوه رکعاته د سحر وو.

[۱۳۶۶]()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ قَيْسِ بْنِ مَخْرَمَةَ أَخْبَرَهُ، عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ، أَنَّهُ قَالَ: لَأَرْمُقَنَّ صَلَاةَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّيْلَةَ، قَالَ: فَتَوَسَّدْتُ عَتَبَتَهُ أَوْ فُسْطَاطَهُ" فَصَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ طَوِيلَتَيْنِ طَوِيلَتَيْنِ طَوِيلَتَيْنِ، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَهُمَا دُونَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ دُونَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ دُونَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ دُونَ اللَّتَيْنِ قَبْلَهُمَا، ثُمَّ أَوْتَرَ، فَذَلِكَ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً".

د زيد بن خالد الجهني نه روايت دی هغه ووېل: زه به خامخا نن شپه ګورم مونځ د رسول الله ﷺ، هغه وايي: ما تکيا ولګوله د هغه درشل ته. او يا خېمې ته. مونځ وکړو رسول الله ﷺ دوه رکعاته سپک، بيايي دوه رکعاته اوږده وکړل، اوږده اوږده، بيايي دوه رکعاته وکړل چې دا کم وو د هغې نه چې مخکې يې کړي وو د دې دواړو نه، بيايي دوه رکعاته مونځ وکړو چې کم وو د هغې نه چې مخکې د دېنه و، بيايي دوه رکعاته مونځ وکړو چې کم وو د مخکنو دواړو نه، بيايي وتر وکړل، دغه ديارلس رکعاته وو.

تشريح: قوله: عن زيد بن خالد الجهنی انه قال لارمُقنّ صلوٰة رسول الله صلى الله عليه وسلم، زيد بن خالد فرمائی چه ما په خپل زړهٔ زړهٔ کښې اووئيل چه زهٔ به نن شپه ضرور بالضرور د حضور ﷺ مونځ ګورم، بظاهر دا خبره هغوی د ورځې په زړهٔ کښې کړې وی چه نن شپه به دا کار کوم، بيا د شپې د کتلو نه پس دې لره د نقل کوی.

قوله: فتوسّدتُ عتبَته اَو فُسطاطه، پس ما(کله چه شپه شوه نو)د حضور ﷺ درشل لره(د سر لاندې کړو) او دې لره مې بالخ جوړکړو، يا خيمې لره(شك د راوی دې) بظاهر دا د سفر واقعه ده لهذا د عتبه په نسبت هم د فسطاط لفظ راجح معلومېږی(منهل) ثم صلى ركعتين طويلتين طويلتين طويلتين، حضور ﷺ په شروع کښې دوه رکعاته لنډ غونډې اوکړل د دېنه پس ئې دوه رکعاته ډير اوږدهٔ اوکړل، د، طويلتين، لفظ د مبالغې دپاره درې ځله دې(دا دې اوئهٔ کنړلې شی چه دا شپږ رکعاته شول) د دېنه پس بيا ئې دوه رکعاته د رومبنو نه کم يعنی لنډ اوکړل د دېنه پس ئې دوه رکعاته بيا نور لنډ اوکړل.

[1]: صحيح مسلم/المسافرين ٢٦ (٧٦٥)، سنن الترمذي/الشمائل (٢٦٩)، سنن النسائي/الكبري/قيام الليل ٢٦ (١٣٣٦)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٨١ (١٣٦٢)، (تحفة الأشراف: ٣٧٥٣)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الصلاة ٢ (١٢)، مسنداحمد(١٩٢/٥)(صحيح)

[۱۳۶۷] ()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ مَخْرَمَةَ بْنِ سُلَيْمَانَ، عَنْ كُرَيْبٍ مَوْلَى ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَبَّاسٍ، أَنَّهُ بَاتَ عِنْدَ مَيْمُونَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَهِيَ خَالَتُهُ، قَالَ: فَاضْطَجَعْتُ فِي عَرْضِ الْوِسَادَةِ" وَاضْطَجَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَهْلُهُ فِي طُولِهَا، فَنَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى إِذَا انْتَصَفَ اللَّيْلُ أَوْ قَبْلَهُ بِقَلِيلٍ أَوْ بَعْدَهُ بِقَلِيلٍ اسْتَيْقَظَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَجَلَسَ يَمْسَحُ النَّوْمَ عَنْ وَجْهِهِ بِيَدِهِ، ثُمَّ قَرَأَ الْعَشْرَ الْآيَاتِ الْخَوَاتِمَ مِنْ سُورَةِ آلِ عِمْرَانَ، ثُمَّ قَامَ إِلَى شَنٍّ مُعَلَّقَةٍ، فَتَوَضَّأَ مِنْهَا، فَأَحْسَنَ وُضُوءَهُ، ثُمَّ قَامَ يُصَلِّي، قَالَ عَبْدُ اللَّهِ: فَقُمْتُ، فَصَنَعْتُ مِثْلَ مَا صَنَعَ، ثُمَّ ذَهَبْتُ فَقُمْتُ إِلَى جَنْبِهِ، فَوَضَعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى رَأْسِي فَأَخَذَ بِأُذُنِي يَفْتِلُهَا فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ رَكْعَتَيْنِ، قَالَ الْقَعْنَبِيُّ: سِتَّ مَرَّاتٍ، ثُمَّ أَوْتَرَ، ثُمَّ اضْطَجَعَ حَتَّى جَاءَهُ الْمُؤَذِّنُ، فَقَامَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ، ثُمَّ خَرَجَ فَصَلَّى الصُّبْحَ".

ببشکه عبد الله بن عباس شپه تېره کړه د میموني سره چي د پیغمبر ﷺ بي بي ده او هغه د هغه ترور ده، هغه وايي: زه تکیا شوم پلنوالي د بالښت ته، تکیا شو رسول الله ﷺ او د هغه اهل اوږدوالي د هغي ته، رسول الله ﷺ اوده شو تردې چي شپه نیمه شوه، او یا لږ مخکي، او لږ وروسته، رابیدار شو رسول الله ﷺ، کېناستلو چي خوب یې شړلو د خپل مخ نه په خپل لاس سره، بیایي د سورة آل عمران لس ایتونه ولوستل، بیا ودریدلو یو مشکیزې ته چي زوړنده وه، د هغې نه یې اودس وکړو، ښائسته اودس یې وکړو، بیا ودریدلو مونځ یې کولو. ویلي دي عبد الله: زه ودریدلم ما وکړل پشان د هغې چي هغه وکړل، بیا لاړم د هغه اړخ ته ودریدم، رسول الله ﷺ خپل ښي لاس زما سر کېښوده، هغه زما غوږ مړولو، هغه دوه رکعاته مونځ وکړو، بیا دوه رکعاته، بیا دوه رکعاته، بیا دوه رکعاته ـ قعنبي ویلي: شپږ ځل ـ بیایي وتر وکړل، بیایي ډډه ووهله تردې چي مؤذن ورته راغی، ودریدلو دوه رکعاته یې وکړل سپک، بیا ووتلو د صباح مونځ یې وکړو.

تشریح: قوله: حدثنا القعنبی عن مالك عن مخرمة، آلخ، دا د دې باب آخری حدیث دی.

قوله: فاضطجعت فی عرض الوسادة، عرض په فتحې د عین او سکون د راء سره، و قیل هو بآلضم بمعنی الجانب، والصحیح الاول.

شرح حدیث:

ابن عباس رضی الله عنهما د خپلې شپې تیرولو واقعه داسې بیانوی چه ما د بالخ په پلنو باندې په دې باندې سر کیخودلو او خملاستم او حضور ﷺ او میمونه رضی الله عنها دواړه د بالخ په اوږدو باندې په دې باندې سر کیخودلو او خملاستل[۲]. د اکثرو شراحو په نیز د وساده نه د دې

[۱]: انظر حدیث رقم (۱۳۶٤)، (تحفة الأشراف: ٦٣٦٢) (صحیح)

[۲] چونکه حضور ﷺ به داسې خملاستلو چه ښی اړخ بدلولو په صورت کښې استقبال قبله اوشی نو په یو بالخ باندې د دریوارو سرونه ایخودلو شکل بظاهر دا به وی چه بالخ به شرقا غربا کیخودلې شوې وو او عرض د دې به جنوب او شمال کښې وو، د حضور ﷺ او د حضرت میمونه رضی الله عنها به د بالخ په اوږدو باندې سرونه کیخودل او داسې به خملاستل چه سرونه به ئې د مغرب په جانب او قدمونه به ئې د مشرق په جانب شول، او د ابن عباس رضی الله عنهما به د بالخ په پلنو باندې هغه طرف ته کوم چه د شمال په اړخ وو او د شمال په اړخ به پښې اوږدې کړې او خملاستلو، ځکه که د پلنو په هغه اړخ باندې خملی کوم چه د جنوب په اړخ باندې وو نو پښې به ئې د قبلې په اړخ باندې شی، ځکه چه په مدینه کښې قبله د جنوب په اړخ کښې ده.

مشهوره معنی مراد ده یعنی بالخ، اود بعضې علماؤ په نیز لکه علامه باجي او اصیلی نه منقول دی چه دلته د وساده نه مراد بالخ نهٔ ده بلکه فراش (بستره) ده او مطلب ئې دا بیان کړې دې چه د بسترې په اوږدوالی کښې هغوی دواړه اودهٔ شول او د دې په عرض یعنی پلنوالی کښې ابن عباس ﷺ، خو د کوم لفظ موضوع له، یعنی کوم دپاره چه دا وضع شوې وی، هغه پرېخودل او بله معنی مراد اغستل د څه مجبورئ نه بغیر صحیح نهٔ ده.

الحمد لله په، باب فی صلوة اللیل، باندې کلام پوره شو، دا باب ډیراوږد دې په دې کښې مصنف تقریبًا ثلثون حدیثا (دیرش حدیثونه) ذکر کړې دی دومره اوږد د باب غالبًا په دې کتاب کښې بل کوم نشته دې، والحمد لله اولاً و آخراً.

بَابُ مَا يُؤْمَرُ بِهِ مِنَ الْقَصْدِ فِي الصَّلَاةِ

باب دی په بیان د هغې کې چې امر کولی شي په هغې سره د میانه روئ نه په مانځه کې

(ماقبل سره ربط اومناسبت)

تیر شوې باب چونکه د ډیر مجاهدې او ریاضت واله باب وو او مجاهده او ریاضت په مسئله کښې بعضې خلق په افراط او تفریط یعنی کمی او زیاتی کښې اخته کیږی، غالبًا هم په دې مناسبت سره مصنف دا باب راوړې دې، په کوم کښې چه قصد یعنی د اعتدال او میانه روی (مینځ حالئ)مضمون دې او دا د دې دپاره دې چه په عمل باندې مواظبت او همیشوالې اوشی، د افراط په صورت کښې په کوم کار باندې مداومة ګران دې او اصل هم دا دې چه کوم نیك کار شروع کړې شی نو د هغې د پوره کولو کوشش دې اوکړې شی، خیر العمل ما دیم علیه، کان رسول الله صلی الله علیه وسلم إِذا عمِلَ عملاً اثبتهُ.

[۱۳۶۸](1)حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "اكْلَفُوا مِنَ الْعَمَلِ مَا تُطِيقُونَ، فَإِنَّ اللَّهَ لَا يَمَلُّ حَتَّى تَمَلُّوا، وَإِنَّ أَحَبَّ الْعَمَلِ إِلَى اللَّهِ أَدْوَمُهُ وَإِنْ قَلَّ، وَكَانَ إِذَا عَمِلَ عَمَلًا أَثْبَتَهُ".

د عائشي ﷺ نه روایت دی، بېشکه رسول الله ﷺ ویلي دي: مکلف شئ په عمل هغومره چې تاسویې طاقت لرئ، ځکه الله نه ستړی کېږي تردې چې تاسو ستړي شئ، او ډیر خوښ عمل الله ته دا دی چې همېشه وي اګر که کم وي، او هغه وو چې کوم عمل به یې کولو نو کلکولو به یې.

د باب د رومبی حدیث مطلب دا دې چه نفلی عباداتونه خواه که هغه مونځ وی یا بل کوم عمل نو دومره پکار دې چه د هغې برداشت اوکړې شی ځکه که کوم عمل د تحمل نه زیات شروع کړې شی نو یقیناً د سړی طبیعت د هغې نه ستړې شی او هغه د دې په پرېخودلو باندې مجبوره شی، او کله چه عمل مهجور او متروك شی نو د الله د طرف نه په دې باندې چه کوم ثواب ملاویدلو هغه هم موقوف شی، فان الله لا يَمَلّ حتی تملوا، کښې صنعةِ مشاکلة لره

(1): صحیح البخاري/الإیمان ۳۲ (۴۳)، الأذان ۸۱ (۷۳۰)، والتهجد ۱۸ (۱۱۵۲)، واللباس ۴۳ (۵۸۶۱)، والرقاق ۱۸ (۶۴۶۵)، صحیح مسلم/المسافرین ۳۰ (۷۸۲)، سنن النسائي/القبلة ۱۳ (۷۶۳)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۳۶ (۹۴۲)، (تحفة الأشراف: ۱۷۷۲۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۶/۴۰، ۵۱، ۶۱، ۲۴۱) (صحیح)

استعمال کړې شوې دي. مثل قوله تعالى، و جزاء سيئة سيئة مثلها، ظاهره خبره ده چه د بدئ بدله برابر برابر وی نو هغه په خپله بدی نۀ ده خو چونکه هغۀ صورة د دې سره مشابه وی نو ځکه دې ته سيئة وئيلې شوې ده، مَلَلْ او سآمة، ضَجر، مترادف الفاظ دی، ستړې کيدل او زړۀ تنګيدل، دلته لازمی معنی مراد ده يعنی پريخودل، قال صاحب المنهل و فيه دليل للجمهور على ان قيام كل الليل مكروه وكرهه مالك اولاً ثم قال لاباس به ما لم يضر ذلك بصلوة الصبح، انتهى.

[١٣٦٩]([1]) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ سَعْدٍ، حَدَّثَنَا عَمِّي، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنِ ابْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ إِلَى عُثْمَانَ بْنِ مَظْعُونٍ، فَجَاءَهُ، فَقَالَ: "يَا عُثْمَانُ، أَرَغِبْتَ عَنْ سُنَّتِي؟" قَالَ: لَا وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَلَكِنْ سُنَّتَكَ أَطْلُبُ، قَالَ: "فَإِنِّي أَنَامُ، وَأُصَلِّي، وَأَصُومُ، وَأُفْطِرُ، وَأَنْكِحُ النِّسَاءَ، فَاتَّقِ اللَّهَ يَا عُثْمَانُ فَإِنَّ لِأَهْلِكَ عَلَيْكَ حَقًّا، وَإِنَّ لِضَيْفِكَ عَلَيْكَ حَقًّا، وَإِنَّ لِنَفْسِكَ عَلَيْكَ حَقًّا، فَصُمْ وَأَفْطِرْ، وَصَلِّ وَنَمْ".

د عائشې رضی الله عنها نه روايت دی، بېشکه رسول الله ﷺ کس يې ولېږلو عثمان بن مظعون ته، نو هغه راغی، هغه ووېل: ای عثمان! ايا ته بې رغبته شوی يې زما د سنتو نه، هغه ووېل: قسم په الله نه ای د الله رسوله! لکن زه ستا سنت طلبوم، هغه ورته وفرمايل: زه اوده کېږم او مونځ کوم، روژه نيسم او کله يې نه نيسم، او نکاح کوم د ښځو سره، د الله نه وېرېږه ای عثمان! ستا د اهل په تا باندې حق دی، ستا د ميلمه په تا باندې حق دی، ستا د نفس په تا باندې حق دی، روژه نيسه او ماتوه يې، او مونځ کوه او اوده کېږه.

[١٣٧٠]([2]) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ: كَيْفَ كَانَ عَمَلُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ هَلْ كَانَ يَخُصُّ شَيْئًا مِنَ الْأَيَّامِ؟ قَالَتْ: لَا، "كَانَ كُلُّ عَمَلِهِ دِيمَةً" "وَأَيُّكُمْ يَسْتَطِيعُ مَا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَطِيعُ؟

د علقمه نه روايت دی هغه وېلې دې: ما تپوس وکړو د عائشې نه، د رسول الله ﷺ عمل څنګه وو؟ ايا هغه به څه شی خاص کولو د ورځو نه؟ هغې ووېل: نه، د هغه هر عمل به همېشه وو، او په تاسو کې کوم يو طاقت لري د هغې چې رسول الله ﷺ يې طاقت لرلو.

عن علقمة قال سالت عائشة رضى الله عنه كيف كان عمل رسول الله صلى الله عليه وسلم... كان عمله ديْمة، ديمة المطر الدائم فى سكونٍ، رو رو مسلسل باران، کوم ته چه د باران جړئ وائی، کوم چه د پسرلی په موسم کښې کله کله انخلی، د باب دا آخری حديث متفق عليه دې او په ترمذی کښې هم شته (قاله المنذری)

په دوه حديثونو کښې دفع د تعارض:

که څوك اووائی چه، کان علمه ديمة، دا حديث د هغۀ متفق عليه حديث خلاف دې په کوم کښې چه دا دی چه حضرت عائشة رضی الله عنها فرمائی چه، کان يصوم حتى نقول لا يفطر و يفطر حتى نقول لا يصوم، په بعضې مياشتو کښې به حضور ﷺ مسلسل روژې نيولې او په بعضو کښې به ئې مسلسل افطار کولو، جواب دا دې چه مقصد خو دا دې چه د حضور ﷺ په اعمالو

[1]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ١٧١٨٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٢٦/٦، ٢٦٨) (صحيح)

[2]: صحيح البخاري/الرقاق ١٨ (٦٤٦٦)، صحيح مسلم/المسافرين ٣٠ (٧٨٣)، سنن الترمذي/الشمائل (٣١٠)، (تحفة الأشراف: ١٧٤٠٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٣/٦، ٥٥، ١٧٤، ١٨٩، ٢٧٨) (صحيح)

کښې دوام او تسلسل وو، او دا هم د دوام او تسلسل یو صورت دې، د حضور ﷺ عادة مستمره دا وو چه په کوم زمانه کښې به د روژو تسلسل او په کوم زمانه کښې به د افطار تسلسل مدام داسې وو دا به نۀ وو چه یو ځل به تسلسل ختم شونو بیا به نۀ شروع کیده.

كتاب تفريع أبواب شهر رمضان

د رمضان المبارک د میاشتې د ابوابو تفریع (احکام و مسائل)

یعنی د روژې د میاشتې سره متعلق ابواب او احکامو تفصیل او تجزیه د دې ټولو احکامو نه یو صلوة التراویح دې، چنانچه د ټولو نه وړاندې هم دې لره بیانوی.

بَابٌ فِي قِيَامِ شَهْرِ رَمَضَانَ

باب دی په بیان د قیام د میاشتې د رمضان کې

د قیام اللیل اطلاق د تهجدو په مانځه باندې او د قیام رمضان اطلاق په تراویحو باندې کیږی لکه څنګه چه په حدیث کښې دی، من صام رمضان و قامه غفرله ما تقدم من ذنبه.

د رمضان د لفظ داستعمال طریقه او د دې وجه د تسمیه:

مصنف شهر رمضان اووئیل او صرف رمضان ئې اونۀ وئیلو، امام بخاری خو د کتاب الصوم په شروع کښې په دې باندې یو مستقل باب قائم کړې دې، هل یقال رمضان أو شهر رمضان و من رای کله واسعًا، په اصل کښې په یو ضعیف روایت کښې د کوم تخریج چه ابن عدی په الکامل کښې د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه مرفوعا کړې دې ، لا تقولوا رمضانْ فانّ رمضان اسمٌ من اسماء الله تعالی و لکن قولوا شهر رمضان، چنانچه د مالکیه عمل هم په دې باندې دې د دوئ په نیز بغیر د اضافت د شهر نه د دې استعمال مکروه دې، او ډیر شوافع دا وائی چه د قرینی د وجود په وخت کښې مطلق رمضان وئیل جائز دی ګینی مکروه دی، مثلا ،جاء رمضان، دخل رمضان، وئیل مکروه دی او قمنا رمضان وئیل صحیح دی، خو عند الجمهور په هر صورت کښې صحیح دی.

د رمضان په وجه د تسمیه کښې دوه قوله دی(۱) دا د رمضَ بمعنی شدة الحر نه ماخوذ دې، کله چه اهل عربو د میاشتو نومونو لره د قدیم لغت نه نقل کړل او د میاشتو نومونه ئې د نوی سر نه د هغه زمانو او موسمونو په اعتبار سره تجویز کړل په کومو کښې چه به دا میاشتې واقع کیدې نو د کومې میاشت نوم چه رمضان کیخودلې شو دغه وخت هغه میاشت په اوړی کښې واقع وه.(۲) او دویم قول دا دې چه چونکه دا میاشت یعنی د دې اعمال او وظائف د ګناهونو رمض کوی یعنی سوزوی نو ځکه دې ته رمضان اووئیلی شو یعنی ګناهونو لره سوزونکی میاشت.

[۱۳۷۱](۱)حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، وَمُحَمَّدُ بْنُ الْمُتَوَكِّلِ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، قَالَ الْحَسَنُ فِي حَدِيثِهِ، وَمَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُرَغِّبُ فِي قِيَامِ رَمَضَانَ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَأْمُرَهُمْ بِعَزِيمَةٍ، ثُمَّ يَقُولُ: "مَنْ قَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ"، فَتُوُفِّيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْأَمْرُ عَلَى ذَلِكَ، ثُمَّ كَانَ الْأَمْرُ عَلَى ذَلِكَ فِي خِلَافَةِ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، وَصَدْرًا مِنْ خِلَافَةِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَا رَوَاهُ عُقَيْلٌ، وَيُونُسُ، وَأَبُو أُوَيْسٍ "مَنْ قَامَ رَمَضَانَ"، وَرَوَى عُقَيْلٌ "مَنْ صَامَ رَمَضَانَ وَقَامَهُ".

د ابو هریره ﷺ نه روایت دی هغه ویلي دي: وو رسول الله ﷺ چي ترغیب بي ورکولو په قیام د رمضان کې، بغیر د دېنه چې دوی ته امر وکړي په عزیمت سره، بیا به یي ویل: چا چې قیام د رمضان وکړو د ایمان او د احتساب سره نو هغه ته به د هغه مخکښي ګناهونه معاف شي. رسول الله ﷺ وفات شو او خبره همدغسي وه، بیا همدغسي کار وو د ابوبکر په خلافت کې، او په اول سر دخلافت د عمر کې. ابوداود ویلي دي: همدارنګه نقل کړی دی عقیل او یونس او ابو اُویس: (من قام رمضان) او روایت کړی دی عقیل (من صام رمضان و قامه).

شرح حدیث:

قوله: من صام رمضان و قامه ایمانًا و احتسابًا، د ایمان لغوی معنی د تصدیق ده. کوم سړې چه د رمضان روژې او د دې تراویح په اعتقاد او تصدیق سره په عمل کښې راوړی، د روژې تصدیق دا دې چه دې لره فرض او د اسلام رکن ګنړلو سره اونیسی، او د تراویحو تصدیق دا دې چه دې لره د حضور ﷺ سنت اوګنړی. حاصل د دې دا دې چه دې دواړو کارونو لره په اعتقاد او عظمت او اهمیت سره اوکړی، په سرسری او صرف د عادة او تفریح دپاره نه. او د احتساب معنی طلب د ثواب ده، یعنی دا کار صرف حسبة لله اوکړی.

(په قیام اوصیام سره کوم ګناهونه معاف کیږی؟)

قوله: غفرله ما تقدم من ذنبه، او د مسند احمد په یو روایت کښې د، و ما تاخر، زیادت دې، د دهٔ وړاندې او روستو ټول ګناهونه به معاف شي، ابن المنذر دې لره په عموم باندې محمول کړې دې خواه هغه ګناهونه صغائر وی یا کبائر، امام نووی فرمائی چه جمهور اهل سنة والجماعت دې لره د صغائرو سره مقید کړې دې ځکه چه کبائر بغیر د توبه او استغفار نه صرف په حسناتو سره نهٔ معاف کیږی، یعنی صرف په حسناتو د کبائرو د معافئ څه وعده نشته دې، الله تعالی ئې که د خپل طرف نه معاف کړی نو هغه بله خبره ده، (و یغفر ما دون ذلك لمن یشاء) او په کبائرو کښې هم چه کوم دحقوق العباد د قبیلې نه دی هغه بغیر د اصحاب الحقوق یعنی چه د چا حقوق وی د معافئ نه نهٔ معاف کیږی (مګر دا که الله پاک د خپل طرف نه صاحب حق لره په څهٔ ورکولو سره راضی کړی)

(۱): صحیح مسلم/المسافرین ۲۵ (۷۵۹)، سنن الترمذي/الصوم ۱ (۶۸۳)، ۸۳ (۸۰۸)، سنن النسائي/قیام اللیل ۳ (۱۶۰۴)، والصوم ۳۹ (۲۰۰۲)، والإیمان ۲۲ (۲۱۹۶)، ۲۲ (۵۰۲۷)، (تحفة الأشراف: ۱۲۲۷۷، ۱۵۲۷۰، ۱۵۲۴۸)، وقد أخرجه: صحیح البخاري/الإیمان ۲۷ (۳۷)، والصوم ۶ (۱۹۰۱)، والتراویح ۱ (۲۰۰۹)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۷۳ (۱۳۲۶)، موطا امام مالك/الصلاة في رمضان ۱ (۲)، مسند احمد (۲/۲۳۲، ۲۴۱، ۳۸۵، ۴۷۳، ۵۰۳)، سنن الدارمي/الصوم ۵۴ (۱۸۱۷) (صحیح)

فتوفي رسول الله صلى الله عليه وسلم والامر على ذلك ثم كان الامر على ذلك في خلافة ابي بكر و صدرا من خلافة عمر رضي الله عنه،

د روایات الباب تجزیه:

مصنف د قیام رمضان په باره کښې د دریو صحابه کرامو روایات راوړی دی، ابوهریره رضي الله عنه، حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها، ابوذر رضي الله عنه، د ابوهریره رضي الله عنه په روایت کښې خو صرف د تراویح د ترغیب او د دې فضیلت ذکر دی،د حضور ﷺ د تراویح کولو په دې کښې ذکر نشته دې، د حضرت عائشه رضي الله عنها په حدیث کښې اگر که د تراویح کولو ذکر دې خو صرف په دوو شپو کښې او په دریم حدیث کښې یعنی په حدیث د ابوذر رضي الله عنه کښې تفصیل دې او هغه دا چه حضور ﷺ پوره د روژې په میاشت کښې درې ځله په دریو شپو کښې تراویح کړې دی، خو د حضرت عائشه رضي الله عنها حدیث کوم چه په بخاری شریف کښې دې په هغې کښې هم درې ځله تراویح کول ذکر دی، لهذا دا به اووئیلې شی چه په ابوداؤد شریف کښې د حضرت عائشه رضي الله عنها روایت مختصر دې، دویم فرق په دې دواو روایتونو کښې دا دې چه د حضرت عائشه رضي الله عنها د حدیث نه بظاهر دا معلومیږی چه حضور ﷺ تراویح دوه شپې متوالیًا پرله پسې(بغیر د فصل نه) ورکړې وی، او د ابوذر رضي الله عنه په حدیث کښې تصریح ده چه حضور ﷺ تراویح لیالی مفصوله(جدا جدا شپو) کښې ورکړې وې(په مینځ کښې ئې یوه شپه پریخولو سره) خو د حضرت عائشه رضي الله عنها په حدیث کښې د وصل تصریح نشته دې نو ځکه دې لره به هم په فصل باندې محمول کړې شی، د دې دپاره چه تعارض رانشی.

د تراویح ابتداء:

بهر کیف په دې مفصل روایت کښې دا دی چه حضور ﷺ یو ځل په رمضان کښې په دریویشتمه شپه کښې صحابه کرامو ته تر ثلث لیل یعنی د شپې تر دریمې حصې پورې په جومات کښې په جماعت سره ورکړې وی، بیا په ځلوریشتمه شپه صحابه کرامو د حضور ﷺ انتظار اوکړو خو دوئ د حجرة الحصیر(د خپل معتکف) نه بهر تشریف رانهٔ وړلو، بیا په پنځویشتمه شپه حضور ﷺ تر نصف اللیل پورې مونځ ورکړو او په شپږویشتمه شپه کښې ئې اونهٔ کړلې، بیا ئې په اوویشتمه شپه باندې په ډیر اهتمام سره سړو او ښځو لره راجمع کړل او د اولې شپې نه واخله تر آخرې شپې پورې ئې ورکړې تر دې چه صحابه کرامو ته دا اندیښنه اوشوله چه د پیشمنی خوړلو وخت به اوموندلې شی او که نهٔ؟ حتی خشینا ان تفوتنا الفلاح، دفلاح نه مراد پیشمنې دې، د دې نه پس دا پیژندل پکار دی دلته دوه بحثونه دی(۱)نفس تراویح(۲) عدد رکعات تراویح یعنی د تراویح د رکعاتونو شمیر، د نفس تراویح په سلسله کښې خو تیر شول چه حضور ﷺ په دې باندې مواظبة نهٔ دې فرمائیلې بلکه صرف په دریو شپو کښې د دې کول ثابت دی اگر که د حضور ﷺ زړهٔ غوغتل چه په دې باندې مواظبة اوکړې شی خو د فرض کیدو د ویرې نه ئې مواظبة او نهٔ فرمائیلو.

فائده: مولانا عبدالحئ صاحب، التعلیق الممجّد، کښې لیکی چه که حضور ﷺ اگر که په دې باندې مواظبة نهٔ دې فرمائیلې خو د مواظبة محبوب او خوښیدو لره ئې ظاهر کړې دې،

پس دا هم یو قسم مواظبة دي، یعني مواظبة حکمیه، او د سنیت مدار په مطلق مواظبة باندې دي لهذا د دېنه مستفاد شوه چه تراویح سنت مؤکده دی، او هم دا خبره بعینه د جماعت په باره کښې به وئیلې شي چه حضور ﷺ دې لره همیشه په جماعت سره کول غوښتل، لهذا د دې مانځه دپاره جماعت هم سنت شو، دغه شان حضور ﷺ دې لره په ټولو شپو د رمضان کښې کول غوښتل د دېنه معلومه شوه چه دا د ټول رمضان سنت دی، نهٔ داسې لکه څنګه چه د بعضې فقهاؤ نه منقول دی چه تراویح په رمضان کښې د قران د ختم په قدر سنت دی او د دېنه پس مستحب دی، انتهی کلامه.

بحث ثاني: (د رکعاتونو د تعداد دوه شقونه)

یعنې د رکعاتونو د شمیر دوه شقونه دی، اول عدد رکعات فی العهد النبوی، دوم عدد رکعات فی العهد الفاروقی،

(۱) عدد رکعات فی العهد النبوی

صاحب بذل المجهود فرمائي چه د حضور ﷺ نه لیالی ثلثه کښې چه کومې تراویح کول د صحاح په کتابونو کښې مروی دی په هغې کښې د رکعاتونو تعداد څومره وو؟ د صحاح روایات د دېنه ساکت دی، البته عهد فاروقي یعنې د عمر فاروق رضی الله عنه په زمانه کښې چه کومې تراویح شوې وی دهغې د تعداد په حقله روایتونو کښې مذکور دی. انتهی.

بیا د دېنه پس حضرت هغه روایتونو لره ذکر فرمائیلي دی، زهٔ وایم چه اهل حدیثو ته دا خبره نهٔ ده منظور چه په صحاح کښې د حضور ﷺ د رکعاتونو تعداد نهٔ دې مذکور، هغوی د صحیح بخاری او مسلم هغه حدیث کوم چه په سنن ابوداؤد کښې هم تیر شوې دې په کوم کښې چه حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائي، ما کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یزید فی رمضان و لا فی غیره علی احدٰی عشرة رکعة، هغوی دې لره عام ګڼړي او وائي چه د تراویح مونځ د دېنه علاوه بل یو مستقل او څانله مونځ نهٔ دې، خو زمونږ اکثر دعلماؤ دې سره اتفاق نشته دې، چنانچه په لامع الدراری کښې د حضرت ګنګوهی نه دا منقول دی چه په دې حدیث کښې د حضور ﷺ دائمي معمول یعنې همیشه معمول بیان کړې شوې دې، تراویح چونکه د روژې د میاشتې پورې خاص دی نو څکه هغه د دې نه څانله دی.

دغه شان د صحاح سته نه علاوه په نورو د کتابونو د حدیثو کښې د حضور ﷺ د رکعاتونو تعداد موجود دې چنانچه په دې سلسله کښې دوه روایتونه مشهور دی، اول د جابر رضی الله عنه حدیث، صلی رسول الله صلی الله علیه وسلم فی رمضان لیلة ثمان رکعات والوتر، رواه محمد بن نصر فی قیام اللیل، و رواه خزیمة و ابن حبان فی صحیحیهما، قال النیموی فیه عیسی بن جاریة و هو ضعیف، دویم حدیث د ابن عباس رضی الله عنهما دې، کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یصلی فی شهر رمضان فی غیر جماعة [1] عشرین رکعة، رواه ابن ابی شیبة و عبد بن حُمید فی مسنده و الطبرانی فی معجمه الکبیر قال البیهقی تفرد به ابو شیبة ابراهیم بن عثمان(جد ابی بکر بن شیبة) و هو ضعیف.

---

[1]) د مصنف ابن ابی شیبه الفاظ دادی: ان رسول الله صلی الله علیه وسلم کان یصلي في رمضان عشرین رکعة "په دې کښې د "في غیر جماعة" الفاظ نشته.

د مولانا حبیب الرحمن الاعظمی د تراویحو د رکعاتونو د تعداد په سلسله کښې یو مستقل تالیف دې (اردو) هغوی لیکی چه په دې کښې اختلاف دې چه د حضور ﷺ په قول یا فعل سره د رکعاتونو عدد ثابت دې او که نهٔ؟ په دې کښې دوه ډلې دی:یو جماعت چه په هغوی کښې ابن تیمیه، علامه سیوطی، علامه سبکی وغیره دی هغوی دثبوت قائل نه دی، او دویم جماعت هغه دې چه هغوی قائل دی، په دې کښې مولانا قاضی خان او امام طحاوی لره بشمار کړې دی،دغه شان هغوی لیکی چه په دې سلسله کښې د ابن عباس رضی الله عنه حدیث لره وړاندې کول غلط نهٔ دی هغه روایت دومره ضعیف نهٔ دې چه هغې لره بالکل نظر انداز کړې شی[1] هغه اګر که سنداً ضعیف دې خو امت د دې تلقی بالقبول کړې دې چنانچه د عهد فاروقی نه واخله تراوسه پورې په دې باندې عمل کیږی.

او په عرف الشذی کښې ئې د مولانا انورشاه کشمیری رائې دا لیکلې ده چه د حضور ﷺ نه تراویح هم اتهٔ رکعاته ثابت دی او د دوئ نه په رمضان کښې تهجد او تراویح دوه جدا جدا مونځونو ثابت نهٔ دی بس هم یو مونځ وو کوم چه په غیر رمضان کښې تهجد او د رمضان په میاشت کښې تراویح ورته وئیلې کیدل، فرق په دې دواړو کښې صرف دا وو چه د تراویح رکعاتونو کښې به اوږدوالې زیات وو او هغه به باجماعت په جومات کښې د شپې په شروع حصه کښې کیدل، او د تهجدو مونځ به په آخره شپه کښې بغیر د جماعت نه، دغه شان په عرف الشذی کښې لیکلې دی چه په دې کښې هم شك نشته دې چه په ائمه اربعه کښې د چا په نیز تراویح د شلو رکعاتونو نه کمې نشته دې بلکه د امام مالك په نیز خو شپږ دیرش(۳۶) رکعات دی(د کومو وجه به چه وړاندې راشی) د دې ائمه اربعه حضراتو ماخذ د عمر فاروق رضی الله عنه عمل دې د کوم چه امت تلقی بالقبول کړې ده.

(۲) عدد رکعات فی العهد الفاروقی:

په مؤطا امام مالك کښې دی چه حضرت عمر رضی الله عنه په خپله زمانه کښې ابی بن کعب او تمیم داری رضی الله عنهما ته حکم اوفرمائیلو چه هغوی دواړه دې یوځائې خلقو ته تراویح ورکړی، علامه زرقانی فرمائی چه په سنن سعید بن منصور کښې دی چه حضرت عمر رضی الله عنه ابی بن کعب لره امام الرجال یعنی د سړو امام او تمیم داری رضی الله عنه لره امام النساء یعنی د ښځو امام مقرر کړل، او د محمد بن نصر په، قیام اللیل، کښې د تمیم داری رضی الله عنه په ځائې د سلیمان بن ابی حثمه رضی الله عنه نوم ذکر دې، حافظ ابن حجر فرمائی چه شاید دا اختلاف د وختونو فرق دې.

[1] د دې حدیث په سند کښې دامام ابوبکر بن ابی شیبه نیکهٔ ابراهیم بن عثمان ابوشیبه العبسی الکوفی قاضی واسط دې. حافظ په تقریب کښې دهٔ لره متروك لیکلې دې، د ترمذی او ابن ماجه د رواتو نه دې، میزان الاعتدل کښې دی ، کذبه شعبة و عن ابن معین لیس بثقة و قال احمد ضعیف، قال البخاري سکتواعنه ، نو معلومه شوه چه امام بخاری او امام احمد د دهٔ سخت تضعیف نهٔ دې کړې دغه شان د ترمذی دکتاب الجنائز په،ص،۱۲۲، کښې په باب في القراءة علي الجنازة بفاتحة الکتاب د حدیث د سند په رواتو کښې دا ابراهیم هم دې نو د دهٔ په باره کښې مصنف فرمائی چه، لیس اسناده بذاك القوي(د دې حدیث سند څهٔ زیات قوی نهٔ دې) لهذا دمولانا الاعظمی دا فرمائیل چه دا حدیث داسې ضعیف نهٔ دې چه دې لره بالکل نظرانداز کړې شی بالکل صحیح ده)۔

بیا په دې کښې هم اختلاف دې چه ابی بن کعب څومره رکعاته کړې وو، مؤطا امام مالك کښې په طریقې د سائب بن یزید په روایت کښې دی چه، انه کان یصلی بهم احد عشر رکعة، خو حافظ ابن عبدالبر دې لره وهم ګرځولې دې او فرمائیلې ئې دی چه د مؤطا په روایت سره مالك متفرد دې، د دې نه علاوه د سائب بن یزید د روایت ټولو طریقو کښې، احدی و عشرین رکعة، راغلې دی، یا به د دې تاویل اوکړې شی چه په شروع کښې یولس رکعاتونو به ئې کول او روستو ئې یوویشت(۲۱) باندې استقرار اوشولو، علامه زرقانی فرمائی چه تاویل مناسب دې او وهم ګرځول صحیح نهٔ دی، ځکه چه امام مالك دې سره متفرد نهٔ دې بلکه په سنن سعید بن منصور کښې غیر د طریق د مالك نه هم، احدی عشر رکعة، مروی دی، انتهی. باقی صحیح دا ده چه په اکثرو روایتونو کښې د سائب نه هم، احدی و عشرین رکعة، مروی دی، چنانچه بیهقی په صحیح سند سره د سائب بن یزید[۱] نه روایت کړې دې چه، کانوا یقومون علی عهد عمر بعشرین رکعة و علی عهد عثمان و علی مثله، دغه شان د سائب بن یزید روایت په مصنف ابی بکر بن ابی شیبه او محمد بن نصر په، قیام اللیل، کښې دې ، کانوا یقومون فی عهد عمر بعشرین رکعة، (دا خو د سائب د روایت متعلق کلام وو) او په مؤطا کښې دویم روایت د یزید بن رومان دې چه، کان الناس یقومون فی زمان عمر بن الخطاب فی رمضان بثلث و عشرین رکعة.

د دینه علاوه هم په سنن بیهقی او مصنف ابی بکر بن ابی شیبه کښې ګڼړ روایتونه او آثار دی کومو لره چه علامه شوق نیموی په آثار السنن کښې او د هغهٔ ځائې نه بعضو لره په اوجز المسالك او بذل المجهود کښې نقل کړې دی.

او هم دغه شان امام ترمذی فرمائی چه، و اکثر اهل العلم علی ما روی عن عمر و علی و غیرهما من اصحاب النبی صلی الله علیه وسلم عشرین رکعة.

مجموعه روایات او د شراحو کلام لره وړاندې ایخودلو نه دا معلومیږی چه په عهد فاروقی کښې ابتداء یولس رکعاته کیدل[۲] د رکعاتو د اوږدوالی سره، چنانچه په مؤطاء کښې دی چه، و کان القارئ یقراء بالمئین حتی کنا نعتمد علی العصیّ من طول القیام، الخ، چه په یو رکعت کښې به سل، سل آیاتونه امام لوستل تر دې چه بعضې خلقو به په مانځه کښې د لرګی په آډونه باندې اودریدل او تر صبح صادق پورې نږدې به د تراویح نه اوزګاریدل، علامه زرقانی د ابن حبان نه نقل کوی چه په ابتداء کښې بهٔ تراویح یولس رکعات وې خو د قراءة اوږداولی سره، کله چه خلقو ته په دې کښې ګران والې اوشو نو په قراءة کښې نور هم کموالې اوشو او د دې پځائې په رکعاتونو کښې زیات والې اوشو، او متوسط قراءت سره

---

[۱] کذا فی المنهل، خو په دې روایت کښې د عهد عثمان او علی رضی الله عنهما اضافه مدرج ده د بیهقی په تصانیفو کښې نشته دې، قاله النیموی فی تعلیق آثار السنن، ص، ۵۵، خو وړاندې د امام ترمذی په کلام کښې عمر رضی الله عنه سره د علی رضی الله عنه لفظ راځی ۱۲۔

[۲] قال القسطلانی شرح البخاری و جمع البیهقی بینهما بانهم کانوا یقومون باحدی عشرة ثم قاموا بعشرین و اوتروا بثلاث وقد عدوا ما وقع فی زمن عمر رضی الله عنه تعالی عنه کالاجماع، ۱هـ (تعلیق آثار السنن)۔

علاوه د وترو نه شل رکعات شولې، او بيا په قراءة کښې نور هم کموالې اوشو او په رکعاتونو کښې زياتوالې اوشو او دې لره شپږديرش کړې شو د وترو د دوو رکعاتونو نه علاوه او ټول يوکم څلويښت رکعاته شول، چنانچه د اهل مدينه عمل هم په دې باندې وو.
او امام نووی فرمائی چه د اهل مدينه دې زيادت وجه دا شوه چه په اصل کښې اهل مکه به تراويح شل رکعات کولې او د هر څلورم رکعات نه پس ترويحه کښې به ئې د بيت الله شريف طواف کولو او په آخری يعنی د پنځمه ترويحې نه پس به ئې نۀ کولو(لهذا د تراويحو په مينځ کښې به د دوئ څلور طوافه شول) اهل مدينه د اهل مکه په دې منډه کښې دا اوکړل چه د يو طواف په مقابله کښې څلور رکعاته اوکړل نو د څلور طوافونو په بدله کښې شپاړس رکعاتونو زيادت اوکړې شو، په کوم سره چه د تراويحو رکعاتونه د شلو په ځائې شپږديرش رکعاتونه شول،(من المنهل) په عرف الشذی کښې ليکلې دی چه اهل مدينه به د هرو څلورو رکعاتونو نه پس په ترويحه کښې ځانله ځانله څلور څلور رکعاته کول لکه څنګه چه به اهل مکه د هرې ترويحې نه پس يو طواف کولو، بيا ليکی چه په عهد فاروقی کښې د رکعاتونو تعداد خو په قوی روايتونو سره دا څلور شان ثابت دی، يولس رکعاته، ديارلس رکعاته، يوويشت رکعاته، درويشت رکعاته مع الوتر خو په اخره کښې استقرار په شلو رکعاتونو باندې اوشو، او هغه چه کوم شيخ ابن الهمام فرمائی چه په شلو رکعاتونو کښې اتۀ سنت دی او باقی دولس رکعاتونه مستحب دی، لم يقل به احدٌ، يعنی په دې باندې چا وينا نۀ ده کړې، بلکه صحيح دا ده چه د خلفاء راشدين سنت هم سنة الشريعة دی(شرعی طريقه سنة نبوی) د اصولينو تصريح ده چه د حضور ﷺ طريقه او د دوئ د خلفاؤ طريقه هم د سنت مصداق دې او په حديث شريف کښې دی ، عليکم بسنتی و سنة الخلفاء الراشدين، لهذا د عمر فاروق رضي الله عنه عمل هم سنت دې،انتهی.
او مولانا عبدالحیٔ، التعليق الممجد ، کښې د حضرت عائشه رضي الله عنها حديث،ما کان يزيد فی رمضان و لا فی غيره علی احدٰی عشرة رکعة، د لاندې د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما حديث، عشرين رکعة، واله ذکر فرمائيلو نه پس ليکی، او هغه کوم چه علماء لکه زيلعی، ابن الهمام، سيوطی، زرقانی وئيلې دی چه دا حديث د ابن عباس رضي الله عنه باوجود د ضعف نه د حضرت عائشه رضي الله عنها د حديث معارض دې لهذا صحيح لره اختياروی او غير صحيح لره مطروح ګرځولې شی،(د دې حضراتو) دا خبره منظور فيه ده څکه چه اګر که دا صحيح ده چه حديث د ابن عباس رضي الله عنه ضعيف او حديث د حضرت عائشه رضي الله عنها صحيح دې خو د راجح اخذ يعنی اخستل او د مرجوح ترک يعنی پريخودل هغه وخت متعين دی کله چه جمع بين الروايتين ممکن نۀ وی او دلته داسې نۀ ده بلکه د جمع شکل دا دې چه داسې اووئيلې شی چه حديث د حضرت عائشه رضي الله عنها په غالب حال باندې محمول دې، کما صرح به الباجی وغيره فی شرح المؤطاء او حديث د ابن عباس رضي الله عنه په بعضې وختونو باندې، انتهی.

فائده: په سنن ابوداؤد کښې په، باب القنوت فی الوتر، کښې يو روايت دې په کوم کښې د عهد فاروقی د تراويح ذکر دې، په دې کښې زمونږ په نسخه کښې خو داسې دی ، ان عمر

بن الخطاب رضي الله عنه جمع الناس على ابي بن كعب فكان يصلي لهم عشرين ليلة و لا يقنت بهم الا في النصف الباقي، خو د سنن ابوداؤد هغه نسخه كومه چه په مطبع مجتبائی کښې د حضرت شيخ الهند په تصحيح سره طبع يعنى چاپ شوې ده، د هغې نسخې په حاشيه باندې او دغه شان د بذل المجهود په حاشيه باندې هم د نسخې د علامت جوړولو سره د عشرين ليلة په ځائې عشرين ركعة دی په دې ځائې کښې په حاشيه باندې دا عبارت هم ليکلې دې ، كذا في نسخة مقروءة على الشيخ مولانا محمد اسحاق رحمه الله تعالى، لهذا دا وئيلې شو چه په سنن ابوداؤد کښې د عهد فاروقي د تراويحو تعداد عشرين ركعة مذكور دې.

سيد منصور بن على ناصف (من علماء الازهر) التاج الجامع للاصول فى احاديث الرسول، مرتب او مصنف په خپله د دې شرح کښې په صفحه. ۶۶،ج،۲. کښې ليکی چه، په دې مختلفو روايتونو کښې څه تعارض نشته دې کيدې شی اولاً صحابه کرامو په لږو رکعاتونو باندې اکتفاء کړې وی بيا روستو د دوئ رائې دا شوې وی چه دا صلوة الليل دې په کوم کښې چه څۀ حد او اندازه نشته دې. حضور ﷺ به هم دې لره اوږدۀ بتدريج سره کول، تر دې چه په دريمه شپه کښې ئې د شپې تر آخره پورې دا مونځ کړې وو. كما فى حديث ابى ذر رضى الله عنه، نو څکه دې حضراتو هم د تراويحو شل ركعات اوكړل، او بيا ئې په دې باندې مداومة اوکړو،پس دا د صحابه كرامو اجماعی رائې شوه کوم لره چه هغوی فعل حسن اوګڼړله او اختيار ئې کړه، فهو عند الله حسن لحديث ما رٰه المؤمنون حسنا فهو عند الله حسن رواه الامام مالك رحمه الله تعالى، پس دې وخت د ټولو اسلامی بقاع مدار په شل رکعاتو باندې دې، انتهى.

[١٣٧٢](١)حَدَّثَنَا مَخْلَدُ بْنُ خَالِدٍ، وَابْنُ أَبِي خَلَفٍ الْمَعْنَى، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ، وَمَنْ قَامَ لَيْلَةَ الْقَدْرِ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَكَذَا رَوَاهُ يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، وَمُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ.

ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه يې رسوي نبي ﷺ ته، چا چې روژه ونيوله د ايمان سره او خپل اجريې په الله حسابوه، نو هغه ته به د هغه مخکښې ګناهونه معاف شي، او چا چې قيام وکړو د ليلة القدر د ايمان او احتساب سره نو هغه ته به د هغه م خکښې او ورستنې ګناهونه معاف شي ويلي دي ابوداود همداسې روايت کړی دی يحيى بن ابي کثير د ابو سلمة نه، او محمد بن عمرو د ابي سلمة نه.

[١٣٧٣](٢)حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى فِي الْمَسْجِدِ، فَصَلَّى بِصَلَاتِهِ نَاسٌ، ثُمَّ صَلَّى مِنَ الْقَابِلَةِ

(١): صحيح البخاري/ليلة القدر ١ (٢٠١٤)، سنن النسائي/الصيام ٢٢ (٢٢٠٤)، (تحفة الأشراف:١٥١٤٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٤١/٢) (صحيح)

(٢): صحيح البخاري/الأذان ٨٠ (٧٢٩)، والجمعة ٢٩(٩٢٤)، والتهجد ٥ (١١٢٩)، والتراويح ١ (٢٠١١)، صحيح مسلم/المسافرين ٢٥ (٧٦١)، سنن النسائي/ قيام الليل ٤ (١٦٠٥)، (تحفة الأشراف:١٦٥٩٤)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الصلاة في رمضان ١(١)، مسند احمد (١٦٩/٦، ١٧٧) (صحيح)

فَكَثُرَ النَّاسُ، ثُمَّ اجْتَمَعُوا مِنَ اللَّيْلَةِ الثَّالِثَةِ، فَلَمْ يَخْرُجْ إِلَيْهِمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمَّا أَصْبَحَ، قَالَ: "قَدْ رَأَيْتُ الَّذِي صَنَعْتُمْ، فَلَمْ يَمْنَعْنِي مِنَ الْخُرُوجِ إِلَيْكُمْ إِلَّا أَنِّي خَشِيتُ أَنْ يُفْرَضَ عَلَيْكُمْ، وَذَلِكَ فِي رَمَضَانَ".

د عائشي ﷺ نه روايت دی، بېشکه نبي ﷺ مونځ وکړو په مسجد کې، د هغه د مونځ پسې خلقو هم مونځ وکړو، بيايي په راتلونکي شپه کې مونځ وکړو، نو خلق ډېر شول، بيا خلق راجمع شول په دريمه شپه کې، رسول الله ﷺ ورته راونه وتلو، هرکله يي چې صباح کړو، هغه وويل: ما هغه څه وليدل تاسو چې وکړل، زه د راوتلو نه منع نه کړم، مګر دې خبرې چې زه ويريدم چې فرض به شي په تاسو او دا په رمضان کې.

[۱۳۷۴] (۱) حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَ النَّاسُ يُصَلُّونَ فِي الْمَسْجِدِ فِي رَمَضَانَ أَوْزَاعًا، فَأَمَرَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضَرَبْتُ لَهُ حَصِيرًا فَصَلَّى عَلَيْهِ، بِهَذِهِ الْقِصَّةِ، قَالَتْ فِيهِ: قَالَ: تَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَيُّهَا النَّاسُ، أَمَا وَاللَّهِ مَا بِتُّ لَيْلَتِي هَذِهِ بِحَمْدِ اللَّهِ غَافِلًا، وَلَا خَفِيَ عَلَيَّ مَكَانُكُمْ".

د عائشي نه روايت دی هغې ويلي دي: وو خلق چې مونځ يي کولو په مسجد کې په رمضان کې ډلې ډلې، ماته رسول الله ﷺ امر وکړو، ما هغه ته پوړ واچولو، په هغې يي مونځ وکړو. په دې قصې سره. هغې پکې ويلي دي: هغه وويل: نبي ﷺ يي مقصد دی: ای خلقو! خبردار قسم په الله د الله حمد دی چې ما تيره شپه په غفلت کې نه ده تېره کړې، او نه ستاسو د حال نه غافل وم.

[۱۳۷۵] (۲) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، أَخْبَرَنَا دَاوُدُ بْنُ أَبِي هِنْدٍ، عَنْ الْوَلِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: "صُمْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَمَضَانَ، فَلَمْ يَقُمْ بِنَا شَيْئًا مِنَ الشَّهْرِ حَتَّى بَقِيَ سَبْعٌ، فَقَامَ بِنَا حَتَّى ذَهَبَ ثُلُثُ اللَّيْلِ، فَلَمَّا كَانَتِ السَّادِسَةُ لَمْ يَقُمْ بِنَا، فَلَمَّا كَانَتِ الْخَامِسَةُ قَامَ بِنَا حَتَّى ذَهَبَ شَطْرُ اللَّيْلِ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، لَوْ نَفَّلْتَنَا قِيَامَ هَذِهِ اللَّيْلَةِ، قَالَ: فَقَالَ: إِنَّ الرَّجُلَ إِذَا صَلَّى مَعَ الْإِمَامِ حَتَّى يَنْصَرِفَ حُسِبَ لَهُ قِيَامُ لَيْلَةٍ، قَالَ: فَلَمَّا كَانَتِ الرَّابِعَةُ لَمْ يَقُمْ، فَلَمَّا كَانَتِ الثَّالِثَةُ جَمَعَ أَهْلَهُ وَنِسَاءَهُ وَالنَّاسَ، فَقَامَ بِنَا حَتَّى خَشِينَا أَنْ يَفُوتَنَا الْفَلَاحُ، قَالَ: قُلْتُ: وَمَا الْفَلَاحُ؟ قَالَ: السُّحُورُ، ثُمَّ لَمْ يَقُمْ بِنَا بَقِيَّةَ الشَّهْرِ".

د ابوذر نه روايت دی هغه ويلي دي: مونږ روژه ونيوله د رسول الله ﷺ سره د رمضان، هغه مونږ ته هيڅ قيام الليل نه دی کړی د مياشتې نه تردې چې اوه شپې پاتې شوې، هغه قيام الليل وکړو مونږ ته تردې چې دريمه حصه د شپې تېره شوه، کله چې شپږمه وه مونږ ته يي قيام الليل ونه کړو، هرکله چې پنځمه شوه نو قيام الليل يي وکړو مونږ ته، تردې چې څه حصه د شپې لاړله، ما وويل: ای د الله رسوله! که چېرې تا مونږ ته د دشپې قيام الليل کړې وی، هغه وايي: چې هغه وويل: کله چې سړی د امام سره مونځ وکړي تردې چې فارغ شي هغه دپاره حسابولی شي قيام د يوې شپې. هغه وايي: هرکله چې څلورمه شپه شوه، هغه قيام الليل ونه کړو، هرکله چې دريمه شوه راجمع يي کړل خپل اهل او بيبياني او خلق، هغه مونږ ته قيام الليل وکړو تردې چې مونږ وويريدو چې زمونږ نه به فوت شي پيشنمی، هغه

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۱۷۷۴۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۶۷/۶) (حسن صحيح)
(۲): سنن الترمذي/الصوم ۸۱ (۸۰۶)، سنن النسائي/السهو ۱۰۳ (۱۳۶۵)، قيام الليل ۴ (۱۶۰۶)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۷۳ (۱۳۲۷)، (تحفة الأشراف: ۱۱۹۰۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۵۹/۵، ۱۶۳)، سنن الدارمي/الصوم ۵۴ (۱۸۱۸) (صحيح)

وایي: ما وویل: فلاح څه شی دی؟ هغه وویل: پیسنمی، بیایي قیام اللیل ونه کړو تو له میاشت.

قوله: فقلت یا رسول الله صلی الله علیه وسلم لو نفّلتنا قیام هذه اللیلة قال فقال ان الرّجل اذا صلی مع الامام حتی ینصرف حُسِبَ له قیام لیلة. حضور ﷺ په دویمه شپه کښې تراویح تر نصف لیل پورې ورکړې، په دې باندې ابوذر رضی الله عنه د زیادت درخواست اوکړو که په دې باندې حضور ﷺ څهٔ لږ نور زیاتې اوکړې نو څهٔ ښهٔ به وی.[1]

شرح حدیث:

حضور ﷺ اوفرمائیل چه سړې کله فرض مونځ (د ماسخوتن او سحر) د امام سره یعنی جماعت سره اوکړی تر دې چه امام د مانځه نه فارغ شی یعنی مونځ پوره کړی نو دهٔ ته د پوره شپې د قیام ثواب ملاویږی، لهذا کله چه تاسو خلق د ماسخوتن او سحر مونځ ما سره باجماعت اوکړئ نو د ټولې شپې ثواب خو ملاؤ شو او د دې تراویحو ثواب په دې باندې زیاتی شو (نو نور بیا څهٔ پکار دی).

د دې حدیث دویمه شرحه دا ده چه، اذا صلی مع الامام، نه مراد د تراویحو مونځ دې چه کوم سړې امام پسې پوره تراویح اوکړی (داسې نهٔ چه په مینځ کښې پریږدی او لاړ شی بلکه د دهٔ په زړهٔ کښې دا وی چه تر څو پورې امام مونځ کوی مونږ به دهٔ پسې شاته مونځ کوو) نو په دې صورت کښې به دې سړی ته د ټولې شپې د مونځ ثواب ملاویږی، سبحان الله، اوګورئ، نیة المؤمن خیر من علمه.

دا دویم مطلب زیات صحیح معلومیږی، حضرت په بذل کښې هم دې لره ترجیح ورکړې ده، په دې کښې، حتی ینصرف، دا جمله د دې مطلب زیاته مناسب ده.

[١٣٧٦](١) حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، وَدَاوُدُ بْنُ أُمَيَّةَ، أَنَّ سُفْيَانَ أَخْبَرَهُمْ، عَنْ أَبِي يَعْفُورٍ، وَقَالَ دَاوُدُ عَنِ ابْنِ عُبَيْدِ بْنِ نِسْطَاسٍ، عَنْ أَبِي الضُّحَى، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ إِذَا دَخَلَ الْعَشْرُ أَحْيَا اللَّيْلَ، وَشَدَّ الْمِئْزَرَ، وَأَيْقَظَ أَهْلَهُ". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: أَبُو يَعْفُورٍ: اسْمُهُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عُبَيْدِ بْنِ نِسْطَاسٍ.

د عائشې رضی الله عنها نه روایت دی، بېشکه نبي ﷺ، او وو کله چې به داخل شوې اخیرنی. لس، شپه به یې رونه کړه، او لنګ به یې مضبوط کړو، او خپل اهل به یې رابیدار کړو. ابوداود ویلي دي: د ابو یعقور نوم عبد الرحمن بن عبید بن نسطاس دی.

تشریح: **قوله**: کان اذا دخل العشر احیی اللیل و شدّ المیزر، حضور ﷺ به په آخری عشره کښې احیاء لیل فرمائیل یعنی د شپې اکثره حصه به ئې په عبادت کښې تیروله، او ازار (لنګ) به ئې مضبوط تړلو د دینه یا خو ظاهری معنی یعنی اعتزال عن النساء مراد دې چه خپل لنګ به ئې مضبوط تړلو او د (همبسترئ دپاره) به ئې لنګ نهٔ پرانستلو، او یا د دې نه تشمیر ازار او مجاهده فی العبادت مراده ده، څکه چه مزدور کله خپل کار شروع کوی نو لنګ وغیره په ښهٔ شان باندې پورته او تړی.

[1]: صحیح البخاري/لیلة القدر ٥ (٢٠٢٤)، صحیح مسلم/الاعتکاف ٣ (١١٧٤)، سنن الترمذي/الصوم ٧٣ (٧٩٥)، سنن النسائي/قیام اللیل ١٥ (١٦٤٠)، سنن ابن ماجه/الصوم ٥٧ (١٧٦٨)، (تحفة الأشراف:١٧٦٣٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٠/٦، ٤١) (صحیح)

[١٣٧٧]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ سَعِيدٍ الْهَمْدَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي مُسْلِمُ بْنُ خَالِدٍ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَإِذَا أُنَاسٌ فِي رَمَضَانَ يُصَلُّونَ فِي نَاحِيَةِ الْمَسْجِدِ، فَقَالَ: "مَا هَؤُلَاءِ؟" فَقِيلَ: هَؤُلَاءِ نَاسٌ لَيْسَ مَعَهُمْ قُرْآنٌ، وَأُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ يُصَلِّي وَهُمْ يُصَلُّونَ بِصَلَاتِهِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَصَابُوا، وَنِعْمَ مَا صَنَعُوا". قَالَ أَبُو دَاوُد: لَيْسَ هَذَا الْحَدِيثُ بِالْقَوِيِّ، مُسْلِمُ بْنُ خَالِدٍ ضَعِيفٌ.

د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی هغه ويلي دي: رسول الله صلی الله علیه وسلم راووتلو، ناڅاپه څه خلق وو په رمضان کې مونځ يې کولو په يو ګوټ د مسجد کې، هغه وويل: دا کوم خلق دي؟ هغه ته وويل شول: دا څه خلق دي د دوی د قرآن څه حصه ياده نه ده، او ابي بن کعب دوی ته مونځ کوي، او هغوی مونځ کوي د هغه پسې، نبي صلی الله علیه وسلم وويل: دوی حق ته ورسيدل او ډيرښه يي کړي دي. ابوداود ويلي دي: دا حديث قوي نه دی اومسلم بن خالد ضعيف دی.

حدثنا احمد بن سعيد الهمدانی الخ،،،، فقال النبی صلی الله علیه وسلم اصابوا و نعم اصابوا، دوئ اوفرمائيل صحيح کوی او ډير ښهٔ کوی.

يو اشکال او جواب:

د دينه معلومه شوه چه حضرت ابی بن کعب د حضور صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې هم د تراويح امامت کړې وو دا خبره د مشهورو رواياتو خلاف ده، د مشهورو رواياتو نه خو دا معلوميږی چه د حضور صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې حضور صلی الله علیه وسلم په خپله بذات خود تراويح ورکړې وی او ابی بن کعب لره د تراويحو امام د حضرت عمر رضي الله عنه په دور خلافت کښې جوړ کړې شوې وو، د دې يو جواب خو دا دې چه د دې حديث په سند کښې مسلم بن خالد الزنجی دې کوم چه ضعيف دې (کما قال المصنف) او دويم جواب دا ورکړې شوې دې چه د حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کښې خو ابی بن کعب رضي الله عنه لره هغوی باقاعده د تراويحو امام جوړ کړې وو او د حضور صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې به هغوی په خپله يو وړوکی غونډې جماعت ځان سره کړو او تراويح به ئې ورکولې، لهذا دا خبره د دې مشهور امر خلاف نهٔ ده. الحمد لله د تراويحو باب پوره شو.

بَابٌ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ

باب دی په بيان د ليلة القدر کې

د ماقبل سره مناسبت:

ليلة القدر لره بعضې محدثين په کتاب الصلوة کښې ذکر کوی لکه څنګه چه مصنف کړې دی او هم داسې امام مسلم هم کړې دی، او بعضې مصنفينو دې لره په کتاب الصوم کښې ذکر کوی، کما فعل الامام البخاری والامام الترمذی و لکل وجهة، که دا اوکتلې شی چه د دې شپې وقوع د رمضان په مياشت کښې وی نو دې لحاظ سره کتاب الصوم ددې مناسب دې او که دا اوکتلې شی چه د دې شپې چه کوم اهم عمل او وظيفه ده يعنی مونځ او نوافل نو دهغې د کتاب الصلوة مناسب دی.

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٤٠٩٤) (ضعيف)

وجه تسميه:

د ليلة القدر وجه تسميه کښې دوه قوله دي(۱) قدر په معنى د التقدير څکه چه په دې شپه کښې بعضې د کال تکويني امور او احکام مقررېږي، اجال او ارزاق وغيره، او فرښتو له په هغې باندې خبرولې شي، د هر يو اجل يعنى نيټه، چه په دې کال به څوك څوك مري او چا ته به څومره روزي ملاوېږي.

(۲) قدر په معنى د مرتبه يعنى لوئى مرتبې واله شپه، علامه شامي ليکي چه فقهاؤ تصريح کړې ده چه دا شپه افضل الليالي ده يعنى د کال په ټولو شپو کښې د ټولو نه زياته افضله ده، حضرت سعيد بن المسيب فرمائي چه کوم سړې په دې شپه کښې د ماسخوتن مونځ باجماعت اوکړي نو پوهه شئ چه دې سړي ته د دې شپې د عبادت حصه ملاؤ شوه، او د امام شافعي په کلام کښې عشاء او فجر يعنى ماسخوتن او صبا دواړه ذکر دي، انتهى، خو ظاهره دا ده چه د دې پوره حصه خو په اخلاص سره شپه شوګيره کولو سره حاصلېږي.

(۳) قدر په معنى د تنګئ، کما في قوله تعالى،فظن ان لن نقدر عليه، او تنګى دلته يا خو د علم په اعتبار سره ده چا چه ته هم د دې شپې په تعين سره علم نشته دې، او يا په دې لحاظ سره ده چه د فرښتو په دې کښې ډيرازدحام يعنى ګڼړه وي نو ګويا فضاء تنګه شي، والله تعالى اعلم

د دې خداوندي عطيه سبب او منشاء:

دا شپه په دې امت باندې د الله پاك انعام دې د دې انعام ظاهري سبب څۀ اوشو د موطاء امام مالك روايت دې چه يو ځل حضور اقدس ﷺ د تير شوو امتونو عمرونو ته اوکتل او هغه ډير اوږدۀ اوږدۀ وو د پنځه سوه کالو نه هم زيات وو نو حضور ﷺ خيال اوفرمائيلو چا بيا زما د امت عملونه د هغوي د عملونو برابر نۀ شي کيدلې نو د حضور ﷺ په دې تاثر باندې دې امت ته دا انعام ورکړې شو، بيهقي او ابن ابي حاتم روايت کړې دې چه يوځل حضور ﷺ د بني اسرائيلو د يو سړي ذکر اوفرمائيلو چه هغه تر يو کاله پورې په جهاد في سبيل الله کښې مشغول وو، په دې باندې مسلمانانو ته تعجب اوشو نو په دې بآندې دا سورۀ قدر نازل شو، (التاج الجامع، ۷۹، ج۲، مع شرحه) احقر وائي چه د جامع ترمذي په کتاب التفسير، ص، ۱۷۱، ج، ۲، کښې يو حديث د سورۀ قدر په شان نزول کښې مذکور دې، په کوم باندې چه امام ترمذي د غرابة حکم لګولې دې، د هغې مضمون دا دې چه کوم سړي حسن بن علي رضي الله عنهما ته د حضرت معاويه رضي الله عنه ته په صلح کولو باندې طن او پيغور ورکړلو او اوئې وئيل چه، سوّدت وجوه المؤمنين، تا د مسلمانانو او بنوهاشم مخونه تورل کړل، نو په دې باندې هغوي اوفرمائيل داسې مۀ وايه تا ته څۀ خبر هم شته چه حضور ﷺ يو ځل په خوب کښې په خپل منبر شريف باندې د بنو اميه امراء اوليدل په کوم سره چه حضور ﷺ غمژن شو (لاجل انتقال الخلافة من بني هاشم الى بني اميه) نو په دې بآندې الله تعالى دوئ ته ليلة القدر عطيه کړله او سورة قدر نازل شو، د حديث راوي وائي مونږ د بنو اميه د خلافت

مو ده حساب کړه نو هغه پوره زر(۱۰۰۰) میاشتې کیږي[1] (په کوم سره چه د حضرت حسن رضي الله عنه د خبرې تصدیق اوشولو چه دا شپه حضور ﷺ ته د بنوامیه د خلافت په بدله کښې ورکړې شوې ده)

په بذل کښې دعلامه شامی نه نقل کړې دی چه الله تعالی چا لره غواړی هغه دې شپې لره کتلې شی او څوك چه ئې اووینی نو هغهٔ لره پکار دی چه د دې افشاء یعنی ښکاره والې دې نهٔ کوی او اخلاص سره دې دعاء اوکړی، علماؤ د دې شپې څهٔ علامات او نښې هم لیکلې دی، د باب په اولنی حدیث کښې وړاندې د دې ذکر راروان دې.

د دې شپې په تعیین کښ د علماء اقوال:

د دې شپې په تعیین کښې ډیر اختلاف دې، په بذل کښې حافظ ابن حجر د دې په تعیین کښې شپږڅلویښت(۴۶) قولونه نقل کړې دی، مونږ د هغې چه کوم مشهور دی او خصوصا د ائمه اربعه په مینځ کښې دی صرف هغه به لیکو، د دې شپې په باره کښې بعضې علماؤ لیکلې دی چه دا دې امت سره خاص ده، یو قول دا دې چه دا شپه پورته کړې شوې ده، روافض هم دا وائی ځکه چه په یو روایت کښې دی چه حضور ﷺ اوفرمائیل. رُفِعَتْ. جواب دا دې چه د حضور ﷺ مراد دا دې چه د دې شپې تعیین پورته کړې شوې دې، او یو قول دا دې چه دا شپه د حضور ﷺ په زمانه کښې صرف یو ځل مونډلې شوې ده،مراقی الفلاح کښې دی چه د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه رائې دا ده چه دا شپه په ټول کال کښې گرځی او هم دا د امام ابوحنیفه رحمه الله نه مروی دی، محی الدین ابن عربی په فتوحات مکیه کښې لیکی چه هم دا زما رائې ده ځکه چه ما دې لره کله په شعبان کښې او کله د ربیع په میاشت کښې او اکثر او ډیره د رمضان په میاشت کښې لیدلې ده په ناتکئ او غیر ناتکئ دواړه شپو کښې.

دویم قول د امام صاحب دا دې چه دا د رمضان په میاشت کښې گرځی یعنی خاص خو تر رمضان ترمیاشتې پورې ده خو متعین نهٔ ده گرځی راگرځی، صاحبین فرمائی چه تر رمضان پورې خاص او متعین ده خو معلومه نهٔ ده چه کومه ده، په دې باندې ثمره د اختلاف دا

---

[1] هغه داسې چه د بنوامیه خلافت په،۱۳۲، سنه هجری باندې ختم شولو، د دوئ آخری خلیه مروان بن محمد په کال،۱۳۲، سنه هجری کښې اووژلې شو او د بنوامیه د خلافت تسلسل د، ،۴۰، سنه هجری نه شروع کیږی د یو سل او دوو دیرشو نه چه څلویښت اوباسې نو باقی لس کم سل کاله پاتې کیږی او په مینځ کښې چونکه دعبدالله بن الزبیر رضی الله عنه خلافت هم راغلو کوم چه اتهٔ کاله او اتهٔ میاشتې دی(کوم لره چه اوخکل دی) د،اتهٔ کم(۹۲) سلو کالو نه چه اتهٔ کاله او اتهٔ میاشتې اوباسې نو درې اتیا کاله او څلور میاشتې باقی پاتې کیږی او درې اتیا کاله او څلور میاشتې پوره زر میاشتې کیږی (چه دهغې برابر دا یوه شپه یعنی لیلة القدر ده) خو په دې باندې یو اشکال دې او هغه دا چه د عبدالله بن الزبیر رضی الله عنه د خلافت استثناء د کوم خانې نه صحیح ده د دوئ په خلافت سره د بنوامیه د خلافت تسلسل نهٔ وو ختم شوې، د دئ دور خلافت کښې کوم چه په حجاز او عراق باندې وو د مروان بن عبدالملك خلافت په شام او مصر باندې قائم وو، والله تعالی اعلم،(تحفة الاحوذی)احقر وائی چه دا خو صحیح ده چه تسلسل منقطع شوې نهٔ وو خو د خلافت په کمال او پوره والی کښې خلل خو واقع شوې وو)[۱۲]

ليکلي ده چه کوم سړي د خپل غلام ازادول تر ليلة القدر پورې معلق کړي چه کله ليلة القدر وی نو ته آزاده ئی نو که دۀ دا خبره مثلا په پنځلسم رمضان باندې اوکړه نو د صاحبينو په نيز د دۀ غلام به راتلونکی کال په رمضان کښې هم دې تاريخ باندې آزاديږی په خلاف د امام صاحب نه چه د دوئ په نيز باندې راتلونکی رمضان پوره تيريدلو باندې د اختر په شپه باندې به آزاد وی ځکه چه کيدې شی چه تير شوی کال کله چه دۀ عتق لره معلق کړې وو دغه کال دا شپه د پنځلسم تاريخ نه وړاندې تيره شوې وی او دې کال يعنی راتلونکی کال دا شپه د رمضان په آخره کښې راشی دې نو ترخور پورې د رمضان مياشت پوره نۀ وی تيره شوې تر هغه وخته پورې به عتق نۀ واقع کيږی.

د صاحبينو دويم روايت دا دې چه دا شپه د رمضان په آخری نيمه کښې منقل کيږی، امام شافعی فرمائی چه، ارجی الليالی، يوويشتمه شپه ده يعنی د ټولو نه زياته توقع د يوويشتمې شپې په باره کښې ده، امام مالك او احمد فرمائی چه د آخری عشرې په شپو کښې ګرځی، دحضرت ابی بن کعب رضي الله عنه په نيز اوويشتمه شپه متعين ده لکه څنګه چه وړاندې په روايت کښې راروان دی او هم دا قول د جمهورو علماؤ طرف ته منسوب دې.

[۱۳۷۸]()حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، وَمُسَدَّدٌ، الْمَعْنَى قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ زِرٍّ، قَالَ: قُلْتُ لِأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ أَخْبِرْنِي عَنْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ يَا أَبَا الْمُنْذِرِ فَإِنَّ صَاحِبَنَا سُئِلَ عَنْهَا، فَقَالَ: مَنْ يَقُمِ الْحَوْلَ يُصِبْهَا، فَقَالَ: رَحِمَ اللَّهُ أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ، وَاللَّهِ لَقَدْ عَلِمَ أَنَّهَا فِي رَمَضَانَ، زَادَ مُسَدَّدٌ: وَلَكِنْ كَرِهَ أَنْ يَتَّكِلُوا، أَوْ أَحَبَّ أَنْ لَا يَتَّكِلُوا، ثُمَّ اتَّفَقَا، وَاللَّهِ إِنَّهَا لَفِي رَمَضَانَ لَيْلَةَ سَبْعٍ وَعِشْرِينَ لَا يَسْتَثْنِي، قُلْتُ: يَا أَبَا الْمُنْذِرِ، أَنَّى عَلِمْتَ ذَلِكَ؟ قَالَ: بِالْآيَةِ الَّتِي أَخْبَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قُلْتُ لِزِرٍّ: مَا الْآيَةُ؟ قَالَ: تُصْبِحُ الشَّمْسُ صَبِيحَةَ تِلْكَ اللَّيْلَةِ مِثْلَ الطَّسْتِ لَيْسَ لَهَا شُعَاعٌ حَتَّى تَرْتَفِعَ.

زر وايي ما ابي بن کعب ته ووېل: ماته خبر راکړه د ليلة القدر په باره کې اې ابو المنذره! بېشکه زمونږ د ملګري نه د دې باره کې تپوس شوی دی، هغه ووېل: څوک چې پوره کال قيام الليل وکړي نو ورته وبه رسيږي، هغه ووېل: الله دې رحم وکړي اې ابو عبد الرحمن! قسم په الله بېشکه هغه ته علم وو چې هغه په رمضان کې ده. مسدد زيادت کړی دی، لکن هغه دا بده وګڼله چې دا خلق خان وسپاري، او يايي دا خوښه وه چې خان وسپاري، بيا دواړه متفق شوي دي. قسم په الله بېشکه هغه په رمضان کې وه، په شپه اووېشتمه کې بلا استثناء، ما ووېل: اې ابو المنذره! تاته څه علم دی د دې؟ هغه ووېل: په هغې نښې سره چې مونږ ته رسول الله ﷺ خبر راکړی دی، ما زر ته ووېل: هغه نښه کومه يوه ده؟ هغه ووېل: صباح کوي نمر په دغه سحرباندې پشان د يو لوښي چې رڼا نه لري، تردې چې راپورته شي.

فان صاحبنا سئل عنها فقال من يَقُم الحَول يُصِبها، د صاحب نه مراد ابن مسعود رضي الله عنه دې د مسلم په روايت کښې د دې تصريح ده، هغه فرمائی چه کوم سړې د پوره کال شپو کښې قيام اوکړی هغه به ئې په يقين سره دې لره اومومی (ځکه چه هغه په ټول کال کښې ګرځی)

(): صحيح مسلم/المسافرين ۲۵ (۷۶۲)، سنن الترمذي/الصوم ۷۳ (۷۹۳)، سنن النسائي/الاعتکاف (۳۴۰۶)، (تحفة الأشراف:۱۸)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۳۰/۵، ۱۳۱) (حسن صحيح)

په دې باندې ابی بن کعب اوفرمائیل چه الله تعالی دې په ابن مسعود رضي الله عنه باندې رحم اوفرمائي هغوی (ماته) د دې خبرې یقین دې چه هغه شپه د رمضان په میاشت کښې ده او اوویشتمه (۲۷)شپه ده، لا یستثنی، یعنی هغه به انشاء الله هم نهٔ وئیل ځکه چه انشاء الله عام طور بآندې غیر یقینی خبرې کښې وئیلې کیږی، قلت یا اباالمنذر، دا د ابی بن کعب رضي الله عنه کنیت دې، انی علمتَ ذلك، تاسو ته دا څنګه معلومه شوه.

د دې شپې علامات:

قوله: قلت لِزرّ ما الأیة، د لیلة القدر علامت او نښه څهٔ ده هغوی اووئیل چه د دې علامت او نښه دا ده چه د دې شپې په صبا به نمر داسې راخیژی لکه څنګه چه یو پلیټ وی چه په هغې کښې شعاګانې (ځریکې) نهٔ وی،اودا هم وئیلې شی لکه څنګه چه په بعضې روایاتو کښې دی چه د څوارلسمې شپې د سپوږمۍ پشان وی، په سپوږمۍ کښې شعلې نهٔ وی، او دا ځکه چه په دې شپه کښې د فرښتو کثرت او ډیروالې وی د آسمان نه راکوزیدل او ختل نو د هغوی اجسام لطیفه او وزرې حائلې شی په کومو سره چه د نمر په رڼړا کښې کمې راشی، علماؤ څهٔ نور علامات هم لیکلې دی، مثلا دا چه دا شپه ډیره صفا او روښانه وی لکه څنګه چه سپوږمۍ پرقیږی او په هغې کښې یو خاص سکومخاموشی محسوسیږی نهٔ په دې شپه کښې ډیره یخنی وی او نهٔ زیاته ګرمی بلکه معتدله وی، یو علامت دا ئې هم لیکلې دې چه په دې شپه رجم شیاطین(د ستورو ماتیدل او شیطانانو باندې لګیدل) نهٔ وی،دغه شان هر څیز شجر او حجر سجده کونکی ښکاری(یُری کل شیء ساجدًا) هر ځائې رڼړا او انوار موندلې شی تر دې چه د تیارهٔ نه تیارهٔ ځائې کښې هم.

دلته په حدیث کښې چه کوم علامات د نمر متعلق بیان کړې شوې دی په دې کښې دا سوال کیږی چه د دې علاماتو د بیانولو څهٔ فائده اوشوه دا خو روستو شپه تیریدلو نه پس موندلې کیږی؟ جواب دا دې چه فائده ئې داه ده چه چا ته دا شپه نصیب شوې وی هغه چه دا علامات اوګوری نو د الله تعالی شکر به ادا کړی او راتلونکی وخت کښې به د دې د حاصلولو کوشش کوی.

[۱۳۷۹] (۱)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَفْصِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ السُّلَمِيُّ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ طَهْمَانَ، عَنْ عَبَّادِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ مُسْلِمٍ الزُّهْرِيِّ، عَنْ ضَمْرَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أُنَيْسٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: كُنْتُ فِي مَجْلِسِ بَنِي سَلِمَةَ، وَأَنَا أَصْغَرُهُمْ، فَقَالُوا: مَنْ يَسْأَلُ لَنَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ، وَذَلِكَ صَبِيحَةَ إِحْدَى وَعِشْرِينَ مِنْ رَمَضَانَ، فَخَرَجْتُ، فَوَافَيْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الْمَغْرِبِ، ثُمَّ قُمْتُ بِبَابِ بَيْتِهِ، فَمَرَّ بِي، فَقَالَ: "ادْخُلْ"، فَدَخَلْتُ فَأُتِيَ بِعَشَائِهِ فَرَآنِي أَكُفُّ عَنْهُ مِنْ قِلَّتِهِ، فَلَمَّا فَرَغَ، قَالَ: "نَاوِلْنِي نَعْلِي"، فَقَامَ وَقُمْتُ مَعَهُ، فَقَالَ: "كَأَنَّ لَكَ حَاجَةً" قُلْتُ: أَجَلْ، أَرْسَلَنِي إِلَيْكَ رَهْطٌ مِنْ بَنِي سَلِمَةَ يَسْأَلُونَكَ عَنْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ، فَقَالَ: "كَمِ اللَّيْلَةُ؟" فَقُلْتُ: اثْنَتَانِ وَعِشْرُونَ، قَالَ: "هِيَ اللَّيْلَةُ"، ثُمَّ رَجَعَ، فَقَالَ: "أَوِ الْقَابِلَةُ" يُرِيدُ لَيْلَةَ ثَلَاثٍ وَعِشْرِينَ.

ضمرة بن عبید الله بن انیس د خپل پلار نه روایت کوی، هغه وایي: زه وم په یو مجلس د بنو

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف:۵۱۴۳)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الكبري/الاعتكاف (۳۴۰۱، ۳۴۰۲)، مسند احمد (۴۹۵/۳) (حسن صحیح)

سلمة کې او زه پکې ورکوټې وم، هغوی وویل: زمونږ دپاره به د رسول الله ﷺ نه د لیلة القدر باره کې څوک تپوس وکړي او دا د یوېشتمې سحر وو د رمضان؟ زه ووتلم او مخامخ شوم د هغه سره د ماښام په مانځه کې، بیا زه د هغه د کور په دروازه کې ودریدم، هغه تیر شو په ما باندې ویې ویل: ننوځه، ننوتم، هغه ته د ماښام ډوډۍ راوړې شوه، زه هغه ولیدم چې بندشوم دهغې نه دوجې دکموالي دهغې نه، هرکله چې فارغ شو، هغه وویل: ماته زما پیزار راکړه، هغه پاڅیدلو او زه هم ورسره پاڅیدم، هغه وویل: ګویا کې ستا څه حاجت دی، ما وویل: آو، تاته زه یو ټولګې د بنو سلمه رالیږلی یم، تپوس کوي ستا نه په باره د لیلة القدر کې، هغه وویل: نن شپه څومه ده؟ ما وویل: دوېشتمه، هغه وویل: همدغه شپه ده، بیا راواپس شو، ویې ویل: او یا راتلونکې، اراده یې دروېشتمه شپه وه.

مضمون حدیث:

قوله: قال کنت فی مجلس بنی سلمة و نا اصغرهم فقالوا من یسال لنا رسول الله صلی الله علیه وسلم عن لیلة القدر...فخرجت فوافیت مع رسول الله صلی الله علیه وسلم صلوة المغرب،الخ: عبدالله بن أنیس انصاری فرمائی چه زهٔ یو ځل د بنو سلمه قبیلې په یو مجلس کښې شریك ووم او زهٔ په اهل مجلس کښې د ټولو نه وړوکې ووم نو هغوی په خپلو کښې اووئیل چه څوك به وی چه زمونږ دپاره د حضور ﷺ نه د لیلة القدر په حقله سوال اوکړی او دا د یوویشتمې نیټې د صبا واقعه ده، عبدالله بن أنیس فرمائی(ما سوچ اوکړلو چه زهٔ دا کار اوکړم) چنانچه د مجلس نه اووتلم او د حضور ﷺ سره مې د ماښام مونځ اوموندلو او د مانځه نه په فارغیدلو سره زهٔ د حضور ﷺ د حجرې په دروازه باندې اودریدلم، کله چه حضور ﷺ په هغهٔ ځائې تیر شو نو ما ته ئې اوفرمائیل چه تهٔ هم دننه راشه(بظاهر دا وه چه دا کم عمره وو) زهٔ هم دننه داخل شوم او د حضور ﷺ سره کیناستم، په دې کښې حضور ﷺ ته د عشاء(ماسخوتن خوراك) راوړلې شوو(بظاهر حضور ﷺ به په خوراك کښې د شریك کیدلو اشاره کړې وی) خو زهٔ خپل خان ته ګورم چه خپل لاس روستو کوم د خوراك نه د دې وجه نه چه خوراك لږ وو کله چه حضور ﷺ د خوراك نه فارغ شو نو ما ته ئې اوفرمائیل ما ته زما پیزار راوړه(د دینه معلومه شوه چه حضور ﷺ به خوراك ته پیزار اوښکلو او په ناسته به ئې خوړله) حضور ﷺ پوښتنه اوکړله چه شاید تهٔ په څهٔ کار باندې راغلې ئې، بنده عرض اوکړو، او جی او بیا ئې د راتلو غرض بیان کړو، په دې باندې حضور ﷺ تپوس اوکړو چه راتلونکې شپه کومه یوه ده ما عرض اوکړو چه د دوویشتمې شپه ده حضور ﷺ اوفرمائیل بس هم دا لیلة القدر ده(او دا ئې اوفرمائیل او وراندې شو) بیا لږ غوندې واپس شو او وئې فرمائیل د دینه پس راتلونکې شپه یعنی د دیرویشتمې شپه ده.

[۱۳۸۰](¹)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ ابْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أُنَيْسٍ الْجُهَنِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ لِي بَادِيَةً أَكُونُ فِيهَا وَأَنَا أُصَلِّي فِيهَا بِحَمْدِ اللَّهِ، فَمُرْنِي بِلَيْلَةٍ أَنْزِلُهَا إِلَى هَذَا الْمَسْجِدِ، فَقَالَ: "انْزِلْ لَيْلَةَ ثَلَاثٍ وَعِشْرِينَ"، فَقُلْتُ لِابْنِهِ: كَيْفَ كَانَ أَبُوكَ يَصْنَعُ؟ قَالَ:

¹): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۵۱۴۵)، وقد أخرجه: موطا امام مالك الاعتكاف ٦(١٢)، (كلاهما نحوه) (حسن صحيح)

كَانَ يَدْخُلُ الْمَسْجِدَ إِذَا صَلَّى الْعَصْرَ فَلَا يَخْرُجُ مِنْهُ لِحَاجَةٍ حَتَّى يُصَلِّيَ الصُّبْحَ، فَإِذَا صَلَّى الصُّبْحَ وَجَدَ دَابَّتَهُ عَلَى بَابِ الْمَسْجِدِ، فَجَلَسَ عَلَيْهَا، فَلَحِقَ بِبَادِيَتِهِ.

ابن عبد الله بن أنيس الجهني د خپل پلار نه روایت کوي، هغه وايي: ما وويل: اى د الله رسوله! زما يوه بانډه ده زه په هغې کې يم، او د الله د الله حمد دی زه په هغې کې مونځ کوم، امر وکړه ماته په يوې شپې سره چې راکوزيږم دې مسجد ته، هغه وويل: راکوزيږه درويشتمه شپه، ما د هغه ځوی ته وويل: ستا پلار به څنګه کول؟ هغه وويل: وو هغه چې ننوتلو به مسجد ته کله چې به يې د مازيګر وکړو، هغه به د ضرورت دپاره نه وتلو تردې چې د سحر مونځ به يې وکړو، کله چې به يې د مازيګر مونځ وکړو نو خپله دابه به يې د مسجد په دروازه کې وموندله، په هغې کې به کېناستلو نو خپلې بانډې ته به لاړلو.

تشريح: قوله: حدثنا احمد بن يونس نا زهير...... قال قلت يا رسول الله صلى الله عليه وسلم ان لي بادية اكون فيها و انا اصلي فيها بحمد الله،آلخ، عبدالله بن أنيس ﷺ (هم هغه د تير شوي حديث راوی) فرمائی چه يو ځل ما حضور ﷺ ته عرض اوکړو چه يا رسول الله زما يو ځنګل دې (بظاهر پټي مراد دې) په هغې کښې اوسيږم او زۀ بحمد الله تعالى هلته مونځ(په جماعت) سره کوم زۀ دا غواړم چه د رمضان المبارك يوه شپه تاسو سره ستاسو په مسجد نبوی کښې تيره کړم نو تاسو ما ته اوښائی چه کوم شپه تيره کړم نو حضور ﷺ د ديرويشتمې شپې تعين اوفرمائيلو، د دۀ ځوئي وائی چه بيا ما پلار په دې اوليدلو چه د دوويشتمې نيتې د مازيګر مونځ به ئي په خپل پټی کښې اوکړو او هلته به تللو او مسجد نبوی کښې به حاضريدلو او د هغۀ وخت نه تر صبا پورې به هم په مسجد نبوی کښې وو، د صبا د مانځه نه به چه فارغ شو نو د جومات په دروازه کښې به ئي خپله سورلی موندله او په هغې باندې به سور شو او خپل استوګنی ته به واپس راتلو.

په منهل کښې ليکلی دی چه د محمد بن نصر په روايت کښې دومره زياتې دې چه دوئ د دې صحابی ته دا هم(١) فرمائيلې وو چه په دې شپه دلته راشئ نو مونځ کوئ، بيا که زړۀ دې غواړی نو تر آخری مياشتې پورې دا معمول کوئ او که نۀ غواړئ نو مۀ کوئ.

[١٣٨١](٢)حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ، أَخْبَرَنَا أَيُّوبُ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْتَمِسُوهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ، فِي تَاسِعَةٍ تَبْقَى، وَفِي سَابِعَةٍ تَبْقَى، وَفِي خَامِسَةٍ تَبْقَى".

د ابن عباس ﷺ نه روایت دی، هغه روايت کوي د نبي ﷺ نه، هغه ويلي دي: ولټوئ هغې لره په اخيرنو لسو کې د رمضان نه، په نهمه کې کومې چې پاتې وي، په اومه کې کومې چې پاتې وي، په پنځمه کې کومې چې پاتې وي.

(١) قوله لنزل ليلة ثلاث و عشرين، زاد ابن نصر في رواية فصلّها فيه فان احببت ان تستتم آخر الشهر فافعل و ان احببت فكف)
(٢): صحيح البخاري/ليلة القدر ٣ (٢٠٢١) ٣ (٢٠٢٦)، (تحفة الأشراف: ٥٩٩٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٢٣١، ٢٧٩، ٣٦٠، ٣٦٥) (صحيح)

شرح حديث:

قوله: عن ابن عباس رضى الله عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم قال التمسوها فى العشر الاواخر من رمضان فى تاسعة تبقى و فى سابعة تبقى و فى خامسة تبقى.

فى تاسعة تبقي،الخ، دا بدل واقع کیږی د فى العشر نه حضور ﷺ رومبي اوفرمائيل چه ليلة القدر لره په آخرى کښې اولټوئ اوس ورانديې د دې بيان دې چه په آخرى عشره کښې په دې شپو کښې، تاسعة تبقى، يعنى باقى پاتې کيدونکي شپو کښې نهمهٔ شپه کښې(اولټوئ) د دې مصداق راجح قول په بناء باندې يوويشتمه شپه ده ځکه چه شل ورځې تيريدلو نه پس اوس يقينى توګه باندې کومې شپې چه پاتې کيږی هغه هم نهٔ دی د لسو کيدل غير يقينى دی، هكذا فسره مالك والجمهور،د دې مصداق يوويشتمه شپه خو په هغه صورت کښې ده چه د مياشتې د آخر نه شپې شمارل شروع شى خو که دشمير ابتداء د آخرى عشرى نه شروع کړى نو بيا دتاسعة تبقى مصداق به يوکم ديرشمه شپه وى.

قوله: على هذا القياس دسابعة تبقى مصداق يو صورت دريويشتمه شپه او يو صورت کښې اوويشتمه شپه به وى او د خامسة تبقى مصداق به په دواړو صورتونو کښې پنځويشتمه شپه وى.

فائده: په حديث کښې يوويشتمې شپې لره په تاسعة تبقى سره تعبير کړه او، فى الليلة الحادية والعشرين،ئې ونه وئيل هغه ځکه چه د عربو خلقو عادت دا دې چه هغوى تر نيمې مياشتې پورې خو تاريخ شميرلو کښې د تيرو شو ورځو اعتبار کوى مثلاً، يولسمه شپه به وئيلې شى، الحادية عشر، او د نيمې مياشتې تيريدلو نه پس د تاريخ کله خو په تيرو شو ورځو لحاظ ساتى او ذكر كوى مثلاً، الحادى والعشرون ليكى او كله د پاتو ورځو په اعتبار سره يوشتمې شپې ته التاسعة الباقيه يا تاسعة تبقى وائى لكه ځنګه چه دلته په حديث کښې راځى، او که مياشت د ديرشو اولګوئ نو د شمير شروع د آخرې نه اوکړې نو تاسعة تبقى مصداق به دوويشتمه شپه وى په دې باندې به نور كلام هم هلته راځى

باب فِيمَنْ قَالَ لَيْلَةُ إِحْدَى وَعِشْرِينَ

باب دی په بيان د هغه چا کې چې ويلي يې دي په يوويشتمه شپه کې ده

د ليلة القدر د تعيين په سلسله کښې مصنف څلور بابونه قائم کړې دی، يوويشتمه شپه، اوولسمه شپه، اوويشتمه شپه، سبع اواخر، د کوم مصداق چه څو اقوال دی، کوم چه به په خپل ځائې کښې راشى

[١٣٨٢](١)حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْهَادِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ بْنِ الْحَارِثِ التَّيْمِيِّ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْتَكِفُ الْعَشْرَ الْأَوْسَطَ مِنْ رَمَضَانَ، فَاعْتَكَفَ عَامًا حَتَّى إِذَا كَانَتْ لَيْلَةَ إِحْدَى وَعِشْرِينَ وَهِيَ اللَّيْلَةُ الَّتِي يَخْرُجُ فِيهَا مِنَ اعْتِكَافِهِ، قَالَ: "مَنْ كَانَ اعْتَكَفَ مَعِي فَلْيَعْتَكِفِ الْعَشْرَ الْأَوَاخِرَ، وَقَدْ رَأَيْتُ هَذِهِ اللَّيْلَةَ ثُمَّ أُنْسِيتُهَا، وَقَدْ رَأَيْتُنِي

(١): انظر حديث رقم: ٨٩٤، (تحفة الأشراف: ٤٤١٩) (صحيح)

أَسْجُدُ مِنْ صَبِيحَتِهَا فِي مَاءٍ وَطِينٍ، فَالْتَمِسُوهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ، وَالْتَمِسُوهَا فِي كُلِّ وِتْرٍ". قَالَ أَبُو سَعِيدٍ: فَمَطَرَتِ السَّمَاءُ مِنْ تِلْكَ اللَّيْلَةِ، وَكَانَ الْمَسْجِدُ عَلَى عَرِيشٍ، فَوَكَفَ الْمَسْجِدُ، فَقَالَ أَبُو سَعِيدٍ: فَأَبْصَرَتْ عَيْنَايَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَى جَبْهَتِهِ وَأَنْفِهِ أَثَرُ الْمَاءِ وَالطِّينِ مِنْ صَبِيحَةِ إِحْدَى وَعِشْرِينَ.

د ابو سعيد الخدري ﷺ نه روايت دی، هغه ويلي دي: رسول الله ﷺ وو چې اعتکاف يې کولو په مينځنۍ عشره کې د رمضان نه، اعتکاف يې وکړو يو کال، تردې چې شوه يوېشتمه شپه او دا هغه شپه وه چې هغه به پکې راوتلو د اعتکاف نه، هغه وويل: هغه چا چې د ماسره اعتکاف وکړو نو اعتکاف دې وکړي په اخيرنۍ عشره کې، او ما هغه وليده په دې شپه کې، بيا د مانه هېره شوه، او بېشکه ما خان وليدلو چې زه سجده کوم د دغې ورځې په سحر کې په اوبو او خټو کې، ولټوئ هغې لره په هر وترو کې. ويلي دي ابو سعيد: باران وورولو اسمان په دغه شپه او مسجد چت چوتره وو، نو راوڅڅيدلو مسجد. ابو سعيد وويل: زما سترګو رسول الله ﷺ وليدلو او د هغه په تندي او پوزه باندې اثر د اوبو او د خټې وو په سحر د يوېشتمې کې.

عن ابی سعيد الخدری قال کان رسول الله صلی الله عليه وسلم يعتکف العشر الاوسط من رمضان، حضور ﷺ به د رمضان په مينځنۍ عشره کښې اعتکاف فرمائيلو او د شلم تاريخ په ماښام باندې به د اعتکاف نه بهر راوتلو، يوځل داسې اوشول چه حضور ﷺ د شلم تاريخ په ماښام کښې اوفرمائيل چه کومو خلقو ما سره د مېنځنۍ عشرې اعتکاف کړې دې هغوی د آخری عشرې اعتکاف هم اوکړی دې دپاره چه ما ته دا شپه يعنی ليلة القدر ښودلې شوې ده (چه فلانکۍ شپه ده) بيا د دې تعيين رانه هير کړې شو (البته د دې علامات راته ياد دی) او هغه دا چه د دې شپې په صبا چه کله تاسو د سحر مونځ سجده چه کوئ نو هغه به په اوبو او خاورۀ کښې کوئ (او دا ښېې تراوسه پورې نۀ دې موندلې شوې) نو هغه خلق دوئ سره د آخری عشرې په اعتکاف کښې پاتې شول، وړاندې راوی وائی چه د آخرې عشرې په ړومبۍ شپه يعنی په يووشتمه شپه کښې په مدينه منوره کښې باران اوشو او د مسجد نبوی چهت د څپر وو نو هغه رااوڅڅيدلو (او کوم ځائې کښې چه حضور ﷺ سجده کوله هغه ځائې خټې شو) د سحر مونځ چه کله حضور ﷺ اوکړو نو د حضور ﷺ په تندی مبارک باندې خاروه اولګيدله (ګويا د ليلة القدر د علاماتو تحقق اوشو، فالحمد لله علی ذلك)

[۱۳۸۳] ([۱]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى، أَخْبَرَنَا سَعِيدٌ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْتَمِسُوهَا فِي الْعَشْرِ الْأَوَاخِرِ مِنْ رَمَضَانَ، وَالْتَمِسُوهَا فِي التَّاسِعَةِ، وَالسَّابِعَةِ، وَالْخَامِسَةِ". قَالَ: قُلْتُ: يَا أَبَا سَعِيدٍ، إِنَّكُمْ أَعْلَمُ بِالْعَدَدِ مِنَّا، قَالَ: أَجَلْ، قُلْتُ: مَا التَّاسِعَةُ وَالسَّابِعَةُ وَالْخَامِسَةُ؟ قَالَ: إِذَا مَضَتْ وَاحِدَةٌ وَعِشْرُونَ فَالَّتِي تَلِيهَا التَّاسِعَةُ، وَإِذَا مَضَى ثَلَاثٌ وَعِشْرُونَ فَالَّتِي تَلِيهَا السَّابِعَةُ، وَإِذَا مَضَى خَمْسٌ وَعِشْرُونَ فَالَّتِي تَلِيهَا الْخَامِسَةُ. قَالَ أَبُو دَاوُدَ: لَا أَدْرِي أَخَفِيَ عَلَيَّ مِنْهُ شَيْءٌ أَمْ لَا.

[۱]: سنن النسائي/السهو ۹۸ (۱۳۵۷)، (تحفة الأشراف:۴۳۳۲)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/ليلة القدر ۲ (۲۰۱۶)، ۳ (۲۰۲۲)، والاعتکاف ۱ (۲۰۲۶)، ۹ (۲۰۳۶)، ۱۳ (۲۰۴۰)، صحيح مسلم/الصيام ۴۰ (۱۱۶۷)، سنن ابن ماجه/الصيام ۵۶ (۱۷۶۶)، موطا امام مالك/الاعتکاف ۶ (۹)، مسند احمد (۹۴/۳) (صحيح)

د ابو سعید الخدري رضي الله عنه نه روایت دی، هغه وایي، رسول الله ﷺ ویلي دي: ولټوئ هغې لره په اخیرنی عشره کي، ولټوئ هغې لره په نهمه کي او په اومه کي او په پنځمه کي. هغه وایي: ما وویل اې ابو سعیده! تاسو په عدد باندې ډیر پوهه یي زمونږ نه. هغه وویل: آو، ما وویل نهمه او اومه او پنځمه څه شی دی؟ هغه وویل: کله چي یوېشتمه تیره شي نو هغه نږدې ورته نهمه ده، او کله چي درویشتمه تیره شي نو هغه نږدې ورته اومه ده، او کله چي پنځه وېشت تیرې شي نو هغې نږدې ورته پنځمه ده. ویلي دي ابوداود: زه نه پوهیږم چي د دېنه په ما باندې څه شی پټ شوی دی او که نه؟

بظاهر په دې حدیث کښي اختصار دې ګیني د مسلم شریف په حدیث کښي کوم چه هم د ابوسعید خدری رضي الله عنه نه مروی دې داسې دې چه یوځل حضور ﷺ د رمضان په اولنۍ عشره کښې اعتکاف اوفرمائیلو بیا په مینځنۍ عشره کښې او بیا وړاندې هم هغه دې کوم چه دلته د ابوداؤد په روایت کښې دی.

تشریح: قوله: عن ابی سعید الخدري رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم التمسوها فی العشر الاواخر من رمضان.... قلت ما التاسعة و السابعة والخامسة قال اذا مضت واحدة وعشرون فالتی تلیها التاسعة،الخ، د تاسعه نه مراد تاسعه باقیه دی علی هذا القیاس سابعه اوخامسه، لکه څنګه چه په تیر شوی حدیث کښې تیر شوې دی فی تاسعة تبقی،الخ،

او تاسعه باقیه و سابعه باقیه او خامسه باقیه د هر یو تفسیر په تیر شوی باب کښې د حدیث د عبدالله بن عباس رضي الله عنه د لاندې تیر شوې دې، په دې حدیث کښې دا اضافه ده چه شاګر د استاذ نه سوال اوکړو چه تۀ په حساب زمونږ نه زیات پوهیږې نو څکه اوښایه چه د تاسعه او سابعه وغیره مصداق څۀ دې هغوی جواب ورکړو چه د یوویشتمې شپې نه روستو چه کومه شپه راشی هم هغه د دې مصداق دې یعنی درویشتمه شپه،

یو اشکال او جواب:

په دې تفسیر کښې یو قوی اشکال دې هغه دا چه د دېنه وړاندینی روایت کښې د تاسعه تفسیر په یوویشتمې شپې سره تیر شوې دې او دا موجوده ترجمة الباب هم په یوویشتمې شپې باندې دې، لهذا دا تفسیر د ترجمة الباب هم خلاف دې او تیر شوی تفسیر هم خلاف دې. د دې یو جواب خو دا دې چه حضرت ابوسعید الخدری رضي الله عنه د حساب دآسانتیا دپاره میاشت د دیرشو ورځو لګولې ده چه په دې صورت کښې د تاسعه مصداق دا دې خو ظاهره دا ده چه د دیرشو کیدل یقینی خبره نۀ ده. څکه چه میاشت د یو کم دیرشو اولګوې او په دې کښې یوه ورځ کمه کړې شی نو بیا هغه د دوویشتمې په ځائې د یوویشتمې شی، دویم جواب د دې هغه دې کوم چه علامه زرقانی ورکړې دې چه د تاسعه مصداق هم دوه‌شتمه شپه ده خو د حدیث مطلب دا دې چه لیلة القدر لره اولټوئ په دې شپه کښې کوم نه پس چه تاسعه باقی پاتې شی او دا شپه کومې نه پس چه تاسعه یعنی دوویشتمه شپه راځی هغه ظاهره ده چه هم یوویشتمه شپه ده. (من البذل بتوضیح) زمونږ شیخ نور الله مرقده به فرمائیل چه ماته د زرقانی جواب ډیر خوښ دې

قال ابوداؤد لا ادری اخفی علیّ منه شئ ام لا، غالبا امام ابوداؤد ته هم دا اشکال کیږی کوم چه مونږ پورته لیکلي دي چه دویشتمې سره تفسیر څنګه صحیح کیږی، مصنف وائی چه نۀ پوهیږم چه څۀ چل اوشو چه دا حدیث ما ته په ښۀ شان نۀ دې یاد یا بلکه څه خبره ده مثلا د یو راوی د طرف نه چه وهم دې، والله تعالی اعلم.

بَابُ مَنْ رَوَى أَنَّهَا لَيْلَةُ سَبْعَ عَشْرَةَ

باب دی په بیان د هغه چا کې چې روایت یې کړی دی چې دا ولسمه شپه ده

[١٣٨٤]() حَدَّثَنَا حَكِيمُ بْنُ سَيْفٍ الرَّقِّيُّ، أَخْبَرَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ يَعْنِي ابْنَ عَمْرٍو، عَنْ زَيْدٍ يَعْنِي ابْنَ أَبِي أُنَيْسَةَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اطْلُبُوهَا لَيْلَةَ سَبْعَ عَشْرَةَ مِنْ رَمَضَانَ، وَلَيْلَةَ إِحْدَى وَعِشْرِينَ، وَلَيْلَةَ ثَلَاثٍ وَعِشْرِينَ، ثُمَّ سَكَتَ".

د ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دی، هغه وایي: مونږ ته رسول الله ﷺ وویل: طلب کړئ هغې لره په اولسمه شپه کې د رمضان نه، او په یوویشتمه شپه کې، او په درویشتمه شپه کې، بیا چوپ شو.

بَابُ مَنْ رَوَى فِي السَّبْعِ الْأَوَاخِرِ

باب دی په بیان د هغه چا کې چې روایت یې کړی دی، چې په اخیري اوو کې ده

[١٣٨٥]() حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "تَحَرَّوْا لَيْلَةَ الْقَدْرِ فِي السَّبْعِ الْأَوَاخِرِ".

د ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دی، هغه ویلي دي: رسول الله ﷺ ویلي دي: لیلة القدر په اخیري اوه شپو کې ولټوئ.

تشریح: قوله: تحروا لیلة فی السبع الاواخر، د سبع اواخر په مصداق کښې څو اقواله دی(١) آخری اووۀ ورځې یعنی د دیرویشتمې شپې نه د میاشتې آخره پورې(٢) السبع بعد العشرین یعنی د آخری عشرې رومبنۍ اووۀ ورځې د یوویشت نه تر اوویشتو پورې (٣) سبوع اربع (د رمضان آخری یعنی څلورمه هفته) د دوویشتو نه تر اتۀ ویشتو پورې(۴) آخری د اووۀ عدد یعنی، ۲۷، (اوویشتمه شپه)

دفع دتعارض بین الحدیثین:

اوس به دلته دا اشکال وی چه دا د، حدیث التمسواها فی العشر الاواخر، خلاف دې، جواب دا دې چه کیدې شی چه حضور ﷺ ته رومبې دا ښودلې شوې وی چه لیلة القدر په آخری عشره کښې ده ا روستو دا ښودلې شوې وی چه د آخری عشرې په سبع اواخر کښې ده (سبع اواخر هم د آخری عشرې یو فرد دې) یا دا اوونیلې شی چه د قوی سړی د پاره حضور ﷺ آخری عشره فرمائیلې وی او د ضعیف د پاره سبع اواخر، او د امام شافعی جواب خو

١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف:٩١٧٦) (ضعيف)

٢): صحيح مسلم/الصيام ٤٠ (١١٦٥)، سنن النسائي/الكبري/ الاعتكاف (٣٤٠٠)، (تحفة الأشراف: ٧٢٣٠)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الاعتكاف ٦(١١)، مسند احمد (٢/٣٧، ٦٢، ٧٤، ١١٣)، سنن الدارمي/الصوم ٥٦ (١٨٢٤) (صحيح)

مشهور دي کوم لره چه امام ترمذی هم نقل کړي دي هغه دا چه حضور ﷺ د سائل د سوال مطابق جواب ورکړې دي، چا چه وئيلي وو يا رسول الله ﷺ مونږ ليلة القدر لره په فلانکئ شپه کښې اولټوو حضور ﷺ اوفرمائيل آو هم په دې کښې ئې اولټوئ چا د بلې شپې په باره کښې پوښتنه اوکړله چه په دې کښې اولټوو حضور ﷺ اوفرمائيل آو په دې کښې ئې اولټوئ (منهل)

بَابُ مَنْ قَالَ سَبْعٌ وَعِشْرُونَ

باب دى په بيان د هغه چاکې چې ويلي يې دي: په اوېشتمه شپه ده

[١٣٨٦](١)حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، أَنَّهُ سَمِعَ مُطَرِّفًا، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ أَبِي سُفْيَانَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ، قَالَ: "لَيْلَةُ الْقَدْرِ لَيْلَةُ سَبْعٍ وَعِشْرِينَ".

د معاوية بن ابي سفيان نه روايت دى هغه روايت کوي د نبي ﷺ نه په باره د ليلة القدر کې هغه ويلي دي ليلة القدر اوېشتمه شپه ده.

هم دا حافظ د جمهورو مسلك ليکلي دي، ابي بن کعب رضي الله عنه خو حلفا يعني په قسم سره دا وائي لکه څنګه تير شول. دغه شان په بيهقي وغيره کښې د ابن عباس رضي الله عنهما حديث دي چه د حضور ﷺ په خدمت کښې يو سړې راغلو اوعرض ئې اوکړو چه، يانبی الله انی شيخ کبير عليل، قيام ليل په ما باندې ډير سخت دې نو څکه ما ته خو بس حضور ﷺ دې يوه شپه اوښائی چه په هغې کښې ماته د ليلة القدر ملاويدو توقع وى نو په دې باندې حضور ﷺ اوفرمائيل چه، عليك بالسابعة، چه د آخرى عشرې اوومې شپې لره اختيار کړه، دغه شان په مسند احمد کښې د ابن عمر رضي الله عنهما نه مرفوعا مروى دى ، من کان متحريها فليتحرها ليلة سبع و عشرين(منهل)

بَابُ مَنْ قَالَ هِيَ فِي كُلِّ رَمَضَانَ

باب دى په بيان د هغه چاکې چې ويلي يې دي: هغه په ټول رمضان کې ده

دا ترجمه بلفظ الحديث ده، او زما په خيال کښې د دې دوه مطلبه کيدې شی(١) ليلة القدر هم په رمضان کښې دې او د رمضان هره شپه کښې د دې امکان دې يعنی په پوره مياشت کښې ګرځی راګرځی، د اخرى عشرې يا د بلې يوې شپې پورې خاص نه دې(کما حکی عن ابی حنيفة) دويم مطلب دا دې چه د هر کال په رمضان کښې موندلې کيږی د يو خاص رمضان پورې خاص نه دې(لهذا هغه چه يو قول دې چه ليلة القدر د حضور ﷺ په زمانه کښې صرف يو خل موندلې شوې دې د هغې پس نه هغه غلط دې)

[١٣٨٧](٢)حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ زَنْجُوَيْهِ النَّسَائِيُّ، أَخْبَرَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرِ بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا مُوسَى بْنُ عُقْبَةَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا أَسْمَعُ عَنْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ، فَقَالَ: "هِيَ فِي كُلِّ رَمَضَانَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَاهُ سُفْيَانُ، وَشُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ مَوْقُوفًا عَلَى ابْنِ عُمَرَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

(١) تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١١٤٤٠) (صحيح)

(٢) تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٧٠٦٥) (ضعيف) والصحيح موقوف

د عبد الله بن عمر ﷺ نه روايت دی هغه وايي: د رسول الله ﷺ نه تپوس وشو د ليلة القدر باره کي او ما اوريدل، هغه وويل: هغه په ټول رمضان کي ده. ابوداود ويلي دي: نقل کړی دی دې لره سفيان او شعبه د ابو اسحاق نه په طريقي د وقف سره په ابن عمر باندې، دواړه نه دی مرفوع کړی نبي ﷺ ته.

الحمد لله د ليلة القدر ابواب پوره شول، الله تعالی دې په خپل فضل او کرم سره او د حديث شريف د خدمت په طفيل سره د دې شپې د عبادتونو فراخه برخه مونږ ته نصيب کړی، آمين.

أَبْوَابِ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ وَتَحْزِيبِهِ وَتَرْتِيلِهِ

قرات د قرآن د دې جز مقرر کول او ترتيل سره د لوستلو مسائل

بَابٌ فِي كَمْ يُقْرَأُ الْقُرْآنُ

باب دی چې څومره وقت کې به قرآن لوستلی شي

د ما قبل سره ربط:

اوس د دې ځائي نه مضمون بدليږی او د ماقبل سره مناسب دويم مضمون شروع کيږی ځکه چه په ماقبل کښې د قيام الليل او د شب قدر ذکر وو او دلته دا بيانوی چه سړي لره روزانه د قرآن پاك کم نه کم او زيات نه زيات څومره اندازه لوستل پکار دی او د قرآن د قراءت غوره محل او ځائې قيام الليل يعنی د تهجدو مونځ دې، د ماقبل سره هم دا مناسبت دې.

[١٣٨٨]([1])حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، وَمُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، قَالَا: أَخْبَرَنَا أَبَانُ، عَنْ يَحْيَى، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ لَهُ: "اقْرَأِ الْقُرْآنَ فِي شَهْرٍ" قَالَ: إِنِّي أَجِدُ قُوَّةً، قَالَ: "اقْرَأْ فِي عِشْرِينَ"، قَالَ: إِنِّي أَجِدُ قُوَّةً، قَالَ: "اقْرَأْ فِي خَمْسَ عَشْرَةَ" قَالَ: إِنِّي أَجِدُ قُوَّةً، قَالَ: "اقْرَأْ فِي عَشْرٍ" قَالَ: إِنِّي أَجِدُ قُوَّةً، قَالَ: "اقْرَأْ فِي سَبْعٍ وَلَا تَزِيدَنَّ عَلَى ذَلِكَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَحَدِيثُ مُسْلِمٍ أَتَمُّ.

د عبد الله بن عمرو نه روايت دی، بېشکه نبي ﷺ هغه ته وويل ولوله قران په يوې مياشت کي هغه وويل زه موموم طاقت. هغه وويل: په شلو کي وايه. هغه وويل: زه طاقت لرم، هغه وفرمايل په پنځلسو کي وايه. هغه وويل: زه طاقت لرم، هغه وفرمايل: ولوله په لسو کي هغه وويل زه طاقت لرم. هغه وفرمايل په اوو کي وايه. او زيادت مه کوه په دې باندې. ويلي دي ابوداود او حديث د مسلم اتم دی

قوله اقرأ فی سبع و لا تزيدنّ علی ذلك، حضور ﷺ صحابی ﷺ ته په اووؤ ورځو کښې د قرآن پاك د ختمولو اجازت ورکړې دې او په دې باندې د زياتی نه ئې منع فرمائيلې ده خو دا منع د تحريم دپاره نه ده بلکه دا نهی د شفقت نهی ده دې دپاره چه دوئ باندې مشقت اوچتول رانۀ شی او په يو مقدار باندې پوره کول او دوام اوشی، چنانچه د دې نه وړاندې په حديث

[1]): صحيح البخاري/فضائل القرآن ٣٤ (٥٠٥٣، ٥٠٥٤)، صحيح مسلم/الصيام ٣٥ (١١٥٩)، (تحفة الأشراف: ٨٩٦٢)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/القراءات ١٣ (٢٩٤٦)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٧٨ (١٣٤٦)، مسند احمد (٢/١٦٣، ١٩٩)، سنن الدارمي/فضائل القرآن ٣٢ (٣٥١٤) (صحيح)

کښې هم د دې صحابي په اصرار باندې حضور ﷺ د اووه ورځو په ځائې په دريو ورځو کښې د ختم کولو اجازت فرمائيلې دې او وئې فرمائيل، لا يفقه من قراء في اقل من ثلاث، يعنی د دريو ورځو نه په کمو کښې ختم کونکې په فهم د معنی او تدبر سره نۀ شي لوستلې.

د قران په ختمولو کښې د حضور صلى الله عليه وسلم معمول:

په منهل کښې د حضرت عائشه رضي الله عنها يو حديث نقل کړې دې ، ان النبي صلى الله عليه وسلم كان لا يختم القرآن في اقل من ثلاث، (رواه ابوعبيد من طريق الطيب بن سليمان عن عمرة عن عائشة) دغه شان د سنن سعيد بن منصور په حواله سره په صحيح سند سره د ابن مسعود رضي الله عنه اثر نقل کړې دې چه، اقرؤا القرآن في سبع و لا يقرؤه في اقل من ثلاث.

په علماؤ کښې دا مشهوره ده چه د دريو ورځو نه په کمو کښې او د څلويښت ورځو نه په زياتو کښې ختمول نۀ دی پکار بس کم نه کم په دريو ورځو کښې او زيات نه زيات په څلويښتو ورځو کښې يو ختم کول پکار دی، روزانه درې پاؤ سپاره لوستلو سره په څلويښتو ورځو کښې يو ختم به اوشي.

امام نووی فرمائي په دې حديث کښې اقتصاد فی العبادة، طرف ته اشاره ده او دا چه د قرآن کريم تلاوت په تدبر سره کيدل پکار دی.

د قران په ختمولو کښې د سلفو معمول:

د دېنه پس هغه ليکی چه د قرآن په تلاوت کښې د سلفو معمول مختلف پاتې شوې دی د خپل خپل حال او فهم په اعتبار سره، چنانچه د بعضو عادت په يو مياشت کښې د ختم پاتې شوې دې او بعضو په شلو ورځو کښې او بعضو په لسو ورځو کښې او د اکثرو په اووه ورځو کښې او د ډيرو په دريو ورځو کښې او د څۀ په يوه شپه او ورځ کښې او بعضو صرف په يوه شپه کښې او بعضو په يوه ورځ او شپه کښې درې ختمونه کړې دی او بعضو اتۀ ختمونه کړې دی، د دېنه زيات د چا عادت او معمول زمونږ په علم کښې نشته دې.

هغه فرمائي چه سړی لره د خپل مشغولتيا او فرصت په لحاظ سره د تلاوت مقدار متعين کول پکار دی د دې دپاره چه په نورو ذمه واريانو کښې خلل واقع نۀ شي.

[١٣٨٩]([1]) حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، أَخْبَرَنَا حَمَّادٌ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "صُمْ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ، وَاقْرَأِ الْقُرْآنَ فِي شَهْرٍ" فَنَاقَصَنِي، وَنَاقَصْتُهُ، فَقَالَ: "صُمْ يَوْمًا وَأَفْطِرْ يَوْمًا". قَالَ عَطَاءٌ: وَاخْتَلَفْنَا عَنْ أَبِي، فَقَالَ بَعْضُنَا: سَبْعَةَ أَيَّامٍ، وَقَالَ بَعْضُنَا: خَمْسًا.

د عبد الله بن عمرو نه روايت دی هغه ويلي دي: ماته رسول الله ﷺ وويل: د هرې مياشت نه درې ورځې روژه نيسه، او قرآن لوله په مياشت کې. مونږ يو بل لره کمولو، هغه وويل: روژه نيسه يوه ورځ او يوه ورځ افطار کوه. عطاء وايي: مونږ اختلاف کړی دی د خپل پلار نه، بعضو زمونږ نه اوه ورځې وويله، او بعضو زمونږ نه پنځه ورځې وويله.

تشريح: قوله: فناقصني و ناقصته، يعنی حضور ﷺ به زما نه د تلاوت د مقدار د کمولو کوشش کولو او ما به د حضور ﷺ نه د ختم د مودې کمولو کوشش کولو.

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٨٦٤٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٦٢/٢، ٢١٦) (صحيح)

[١٣٩٠]([1])حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ، أَخْبَرَنَا هَمَّامٌ، أَخْبَرَنَا قَتَادَةُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، أَنَّهُ قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، فِي كَمْ أَقْرَأُ الْقُرْآنَ؟ قَالَ: "فِي شَهْرٍ" قَالَ: إِنِّي أَقْوَى مِنْ ذَلِكَ، يُرَدِّدُ الْكَلَامَ أَبُو مُوسَى وَتَنَاقَصَهُ حَتَّى قَالَ: "اقْرَأْهُ فِي سَبْعٍ" قَالَ: إِنِّي أَقْوَى مِنْ ذَلِكَ، قَالَ: "لَا يَفْقَهُهُ مَنْ قَرَأَهُ فِي أَقَلَّ مِنْ ثَلَاثٍ".

د عبد الله بن عمرو نه روايت دی، بېشکه هغه وويل: ای د الله رسوله! په څومره ورځو کې قرآن لولم؟ هغه وفرمايل: په يوه مياشت کې، هغه وويل: زه د دېنه زيات طاقت لرم، ابو موسى به خبره بار بار کوله، او هغه به کمولو، تردې چې ورته يې وويل: لوله هغې لره په اوه ورځو کې، هغه وويل: زه د دېنه زيات طاقت لرم، هغه وفرمايل: نه پوهېږي هغه څوک چې ولولي هغې لره کم د دريو نه.

[١٣٩١]([2])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَفْصٍ أَبُو عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْقَطَّانُ خَالُ عِيسَى بْنِ شَاذَانَ، أَخْبَرَنَا أَبُو دَاوُدَ، أَخْبَرَنَا الْحَرِيشُ بْنُ سُلَيْمٍ، عَنْ طَلْحَةَ بْنِ مُصَرِّفٍ، عَنْ خَيْثَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اقْرَأِ الْقُرْآنَ فِي شَهْرٍ" قَالَ: إِنَّ بِي قُوَّةً، قَالَ: "اقْرَأْهُ فِي ثَلَاثٍ"، قَالَ أَبُو عَلِيٍّ: سَمِعْتُ أَبَا دَاوُدَ، يَقُولُ: سَمِعْتُ أَحْمَدَ يَعْنِي ابْنَ حَنْبَلٍ، يَقُولُ: عِيسَى بْنُ شَاذَانَ كَيِّسٌ.

د عبد الله بن عمرو نه روايت دی هغه ويلي دي: ماته رسول الله ﷺ وفرمايل: قران په يوه مياشت کې لوله، هغه وويل: زه زيات طاقت لرم، هغه وويل: ولوله هغې لره په دريو کې، ابو علي ويلي دي: ما د ابوداود نه اوريدلي دي هغه ويل: ما اوريدلي دي د احمد نه يعني د ابن حنبل نه هغه ويل: عيسى بن شاذان اوښيار دی.

تشریح: قوله: عيسى بن شاذان كيّس، عيسى بن شاذان ډير هوښيار دي.

بَابُ تَحْزِيبِ الْقُرْآنِ

باب دی په بیان د تجزیې د قرآن کې

تحزيب د حزب نه ماخوذ دې، حزب د روزانه معمول او وظيفې ته وائی کوم ته چه ورد هم وئيلې کيږی يعنی د روزانه تلاوت مقدار متعين کول.

په تير شوې باب کښې يو حديث تير شوې دې چه عبدالله بن عمرو بن العاص ﷺ ته حضور ﷺ فرمائيلې وو چه قرآن پاك په اووه ورځو کښې ختموه او په دې باندې زيادت مهٔ کوه، د دې د وړاندې په عام توګه باندې صحابه کرامو او نورو علماؤ او قراؤ د قرآن کريم سورتونو لره په اووه برخو کښې تقسيم کړې وو، چنانچه مشهوره ده چه د قرآن پاك اووهٔ منزلونه دی، هر منزل د يوې ورځې وظيفه ده، منزل خو زمونږ په عرف کښې وائی په زړهٔ اصطلاح کښې حزب وائی لکه څنګه چه په ترجمة الباب کښې دی او وړاندې په حديث کښې به هم راشی، کيف تحزبون القرآن، نور کلام به هلته راشي.

[١٣٩٢]([3])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، أَخْبَرَنَا ابْنُ أَبِي مَرْيَمَ، أَخْبَرَنَا يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، عَنِ ابْنِ الْهَادِ، قَالَ: سَأَلَنِي نَافِعُ بْنُ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، فَقَالَ لِي: فِي كَمْ تَقْرَأُ الْقُرْآنَ؟ فَقُلْتُ: مَا أُحَزِّبُهُ، فَقَالَ لِي نَافِعٌ: لَا تَقُلْ مَا أُحَزِّبُهُ، فَإِنَّ

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف:٨٩٥١) (صحيح)
[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف:٨٦٢٣) (حسن صحيح)
[3]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف:١١٥٣٢) (صحيح)

رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "قَرَأْتُ جُزْءًا مِنَ الْقُرْآنِ"، قَالَ: حَسِبْتُ أَنَّهُ ذَكَرَهُ عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ.

د ابن الهاد نه روایت دی هغه وایي دي: مانه تپوس وکړو نافع بن جبیر نه مطعم، هغه وویل ماته: په څو ورځو کښې قرآن لولي؟ ما وویل: زه یې نه تجزیه کوم، ماته نافع وویل: ته مه وایه چې زه یې نه تجزیه کوم، بېشکه رسول الله ﷺ ویلي دي: ما لوستلی دی یو جزء د قرآن نه، هغه وایي: زما دا ګمان دی چې هغه نقل کړی دی د مغیرة بن شعبة نه.

تشریح: قوله: قلت ما أحزّبه..... **لا تقل ما أحزّبه**، د سائل د سوال په جواب کښې ابن الهاد اوونیل چه زهٔ د وظیفې په توګه د قرآن مقدار نهٔ متعین کوم(بلکه څومره چه په آسانتیا سره کیدې شي تلاوت کوم) د دېنه بظاهر دا معلومیږي چه هغهٔ مقدار لره متعین کول نهٔ خوښول، نو ځکه هغوی اوونیل چه داسې مهٔ وایه دا خو د حضور ﷺ نه ثابت دي.

[١٣٩٣](١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، أَخْبَرَنَا قُرَّانُ بْنُ تَمَّامٍ ح وحَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَعِيدٍ، أَخْبَرَنَا أَبُو خَالِدٍ وَهَذَا لَفْظُهُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَعْلَى، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَوْسٍ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَعِيدٍ فِي حَدِيثِهِ: أَوْسُ بْنُ حُذَيْفَةَ، قَالَ: قَدِمْنَا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي وَفْدِ ثَقِيفٍ، قَالَ: فَنَزَلَتِ الْأَحْلَافُ عَلَى الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، وَأَنْزَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَنِي مَالِكٍ فِي قُبَّةٍ لَهُ، قَالَ مُسَدَّدٌ: وَكَانَ فِي الْوَفْدِ الَّذِينَ قَدِمُوا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ ثَقِيفٍ، قَالَ: كَانَ كُلَّ لَيْلَةٍ يَأْتِينَا بَعْدَ الْعِشَاءِ يُحَدِّثُنَا، وقَالَ أَبُو سَعِيدٍ: قَائِمًا عَلَى رِجْلَيْهِ حَتَّى يُرَاوِحَ بَيْنَ رِجْلَيْهِ مِنْ طُولِ الْقِيَامِ، وَأَكْثَرُ مَا يُحَدِّثُنَا مَا لَقِيَ مِنْ قَوْمِهِ مِنْ قُرَيْشٍ، ثُمَّ يَقُولُ: "لَا سَوَاءَ كُنَّا مُسْتَضْعَفِينَ مُسْتَذَلِّينَ، قَالَ مُسَدَّدٌ: بِمَكَّةَ، فَلَمَّا خَرَجْنَا إِلَى الْمَدِينَةِ كَانَتْ سِجَالُ الْحَرْبِ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ نُدَالُ عَلَيْهِمْ، وَيُدَالُونَ عَلَيْنَا"، فَلَمَّا كَانَتْ لَيْلَةً أَبْطَأَ عَنِ الْوَقْتِ الَّذِي كَانَ يَأْتِينَا فِيهِ، فَقُلْنَا: لَقَدْ أَبْطَأْتَ عَنَّا اللَّيْلَةَ، قَالَ: "إِنَّهُ طَرَأَ عَلَيَّ جُزْئِي مِنَ الْقُرْآنِ فَكَرِهْتُ أَنْ أَجِيءَ حَتَّى أُتِمَّهُ". قَالَ أَوْسٌ: سَأَلْتُ أَصْحَابَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيْفَ يُحَزِّبُونَ الْقُرْآنَ؟ قَالُوا: ثَلَاثٌ وَخَمْسٌ وَسَبْعٌ وَتِسْعٌ وَإِحْدَى عَشْرَةَ وَثَلَاثَ عَشْرَةَ وَحِزْبُ الْمُفَصَّلِ وَحْدَهُ. قَالَ أَبُو دَاوُد: وَحَدِيثُ أَبِي سَعِيدٍ أَتَمُّ.

عثمان بن عبد الله بن اوس د خپل نیکه نه روایت کوي. ویلي دي عبد الله بن سعید په خپل حدیث کښې: اوس بن حذیفه. هغه وایي: مونږ راغلو رسول الله ﷺ ته په وفد د ثقیف کښې، هغه وایي: مغیرة بن شعبة ته معاهدین راغلل، او رسول الله ﷺ ځای ورکړو بني مالک ته د هغهٔ په قبه کښې. مسدد وایي: او په وفد کښې وو هغه کسان چې راغلي وو رسول الله ﷺ ته د ثقیف نه. هغه وایي: هغهٔ به مونږ ته هره شپه د ماسخوتن نه وروسته راتلو مونږ سره به یې خبرې کولې. او ابو سعید ویلي دي: ولاړ به وو تردې چې یوه خپه به یې په بله ذمه کوله د اوږد ودریدو نه. او ډیرې خبرې به یې چې کولې نو هغه به وې چې دا ورسره مخامخ شوې وو د خپل قوم د قریشو سره، بیا به هغه ویل: یو شان نه دي مونږ کمزوري وو. ویلي دي مسدد: په مکه کښې. هرکله چې مونږ مدینې ته راووتلو وه بوکه د جنګ زمونږ او د دوی په مینځ کښې، مونږ به اړوله په هغوی او هغوی به اړوله په مونږ، یوه شپه د هغه وقت نه وروسته شو په کوم کښې چې به مونږ ته راتلو، مونږ وویل: نن شپه ته مونږ ته وروسته راغلې، هغه وویل: ماته خپل جزء د قرآن نه رامخامخ شو، ما بده وګڼله چې راشم تردې چې هغه پوره کړم، ویلي دي اوس: ما تپوس وکړو د ملګرو د صحابو نه هغوی به څنګه تجزیه کوه قرآن؟ هغوی وویل: درې، پنځه، اوه، نهه، یوولس، دیارلس، او جزء د مفصل یواځې.

١): سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٧٨ (١٣٤٥)، (تحفة الأشراف:١٧٣٧) (ضعيف)

ویلي دي ابوداود: د ابو سعید حدیث اتم دی.

مضمون حدیث:

قوله: كان كل ليلة ياتينا بعدالعشاء: مونږ ته (د زړۀ خوشحالولو او خبرو اترو کولو دپاره) حضور ﷺ به روزانه د ماسخوتن نه روستو تشریف راوړلو او زمونږ خیمې سره به په ولاړه ولاړه بغیر د تکلف نه تر ډیر وخته پورې خبرې اترې کولې، چه دهغې د وجه نه به د، مراوحت بين القدمين، نوبت راتلو، یعنی کله به ئې په دې پښې باندې زور اچولو او اودریدلو به او کله به ئې په هغه پښې باندې زور اچولو. او زیاتره چه به حضور ﷺ کوم ذکر او تذکره فرمائیله هغه به د هغۀ ناانصافیانو او زیاتو وه کوم چه به حضور ﷺ د خپل قوم قریش دطرف نه زغملې وې.

ثم يقول لا سواء كنا مستضعفين مستذلين، مونږ او هغوی یعنی کفار قریش په مکه کښې د قیام یعنی قبل الهجرت برابر درجه کښې نۀ وو بلکه هغه خلق دغه وخت کمزورې او ضعیف او خراب حالت کښې وو.

فلما خرجنا الى المدينة كانت سِجال الحرب بيننا و بينهم، بیا کله چه مونږ هجرت اوکړو او مدینې ته راغلو (نو دلته راتللو سره مونږ ته قوت او شوکت حاصل شو) نو د جنګ ډول زمونږه او د هغوی په مینځ کښې مشترك شو، یعنی کله به زمونږ نوبت وو د بوکې اچولو او اوبو راوښکلو او کله د هغوی.

ندال عليهم و يدالون علينا، دا جمله د ړومبنۍ جملې پشان ده، یعنی کله به دولة او غلبه زمونږه وه او کله د هغوی، د عربو په محاوره کښې وئیلې کیږی چه، اُدِيل على اعدائنا اى نصرنا عليهم، یعنی مونږ ته په دښمن باندې غلبه حاصله شوه، دا په اصل کښې د دولة یعنی په معنی د غلبه نه ماخوذ دې.

فلما كانت ليلة ابطاء عن الوقت الذى كان ياتينا فيه، یعنی یوه ورځ داسې اوشول چه په کوم معین وخت کښې به حضور ﷺ راتلو د هغې نه ئې ناوخته کړو کله چه ئې تشریف راوړو نو مونږ په تاخیر سره د راتللو په حقله پوښتنه اوکړه نو حضور ﷺ اوفرمائیل چه د دې وجه دا اوشوه چه زما د روزانه کوم ورد او وظیفه وه هغه پاتې شوې وه د هغې په پوره کولو کښې ناوخته شو د دېنه د روزانه وظیفه او معمول مقررولو اصل معلوم شو دې ته تحزیب وائی لهذا ترجمة الباب ثابت شو.

سالت اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم كيف تحزبون القرآن، یعنی د قرآن کریم څومره حصې کوئ یعنی د ورځې لوستلو مقدار څنګه مقرره وئ؟ د دې سوال په جواب کښې هغوی اوښودل چه په یوه ورځ کښې درې سورتونه او په دویمه ورځ کښې پنځه سورتونه او په دریمه ورځ کښې اووۀ سورتونه او په څلورمه ورځ کښې نهۀ سورتونه او په پنځمه ورځ کښې یولس سورتونه او په شپږمه ورځ کښې دیارلس سورتونه او په اووئمه ورځ کښې د مفصل تول سورتونه (کوم چه شپږ اویا دی)

د تحزیب "فمي بشوق" تشریح:

ددې تقسیم نوم تحزیب دې، او دې ته د قراؤ په عرف کښې تحزیب فمی بشوق وئیلې شی، په فمی بشوق کښې اووه حروف دی، هر منزل او حزب چه د کوم سورت نه شروع دې، دهغې سورة د نوم ړومبې حرف ددې مجموعه حروف (فمی بشوق) نه اخستلې شوې دې، لکه اول منزل د سورة فاتحې نه شروع کیږی، چه دهغې په شروع کښې فاء ده، او دویم منزل د مائدې نه شروع کیږی، دهغې دپاره میم دې، دریم منزل د سورة یونس نه شروع کیږی، دهغې دپاره یاء ده، څلورم منزل د سورة بنی اسرائیل نه شروع کیږی، دهغې دپاره باء ده، پنځم د سورة شعراء نه شروع کیږی، دهغې دپاره شین دې، او شپږم د سورة والصافات نه شروع کیږی، دهغې دپاره واؤ دې، او اووم منزل د سورة ق نه شروع کیږی

[١٣٩٤](١)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمِنْهَالِ، أَخْبَرَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، أَخْبَرَنَا سَعِيدٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي الْعَلَاءِ يَزِيدَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الشِّخِّيرِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ يَعْنِي ابْنَ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَفْقَهُ مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ فِي أَقَلَّ مِنْ ثَلَاثٍ".

د عبد الله نه یعنې د ابن عمرو نه روایت دی هغه ویلي دي: رسول الله ﷺ ویلي دي: نه پوهیږي هغه څوک چې قرآن ولولي کم د دریو نه.

[١٣٩٥](٢)حَدَّثَنَا نُوحُ بْنُ حَبِيبٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ الْفَضْلِ، عَنْ وَهْبِ بْنِ مُنَبِّهٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، أَنَّهُ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فِي كَمْ يُقْرَأُ الْقُرْآنُ؟ قَالَ: "فِي أَرْبَعِينَ يَوْمًا" ثُمَّ قَالَ: "فِي شَهْرٍ"، ثُمَّ قَالَ: "فِي عِشْرِينَ"، ثُمَّ قَالَ: "فِي خَمْسَ عَشْرَةَ"، ثُمَّ قَالَ: "فِي عَشْرٍ"، ثُمَّ قَالَ: "فِي سَبْعٍ" لَمْ يَنْزِلْ مِنْ سَبْعٍ.

د عبد الله بن عمرو نه روایت دی بېشکه هغه تپوس وکړو د رسول الله ﷺ نه، په څومره وخت کې به قرآن لوستلی شي؟ هغه وویل: په څلوېښتو کې، بیا هغه وویل: په څلوېښتو کې، بیا هغه وویل: په شلو کې، بیا هغه وویل: په پنځلسو کې، بیايي وویل: په لسو کې، بیا هغه وویل: په اوو کې، د اوو نه راخکته نه شو.

تشریح: قوله: ثم قال في سبع لم ينزل من سبع:

نبی کریم (ﷺ) اجازت ورکولو کښې د اووه ورځو نه کمې کړې نه دی، یعنی په دغې مجلس کښې، ګنی ددې نه مخکښې تیر شوې دی، چه نبی کریم (ﷺ) هغوی ته د دریو ورځو پورې اجازت ورکړې وو.

[١٣٩٦](٣)حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، وَالْأَسْوَدِ، قَالَا: أَتَى ابْنَ مَسْعُودٍ رَجُلٌ، فَقَالَ: إِنِّي أَقْرَأُ الْمُفَصَّلَ فِي رَكْعَةٍ، فَقَالَ: أَهَذًّا كَهَذِّ الشِّعْرِ وَنَثْرًا كَنَثْرِ الدَّقَلِ؟ لَكِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يَقْرَأُ النَّظَائِرَ السُّورَتَيْنِ فِي رَكْعَةٍ، النَّجْمَ، وَالرَّحْمَنَ فِي رَكْعَةٍ، وَاقْتَرَبَتْ، وَالْحَاقَّةَ

(١): سنن الترمذي/القراءات ١٣ (٢٩٤٩)، ن الكبري/ فضائل القرآن (٨٠٦٧)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٧٨ (١٣٤٧)، (تحفة الأشراف: ٨٩٥٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/١٦٤، ١٦٥، ١٨٩، ١٩٥)، دي/فضائل القرآن ٣٢(٣٥١٤) (صحيح)

(٢): سنن الترمذي/ القراءات ١٣ (٢٩٤٧)، ن الكبري/فضائل القرآن (٨٠٦٨، ٨٠٦٩)، (تحفة الأشراف:٨٩٤٤) (صحيح)

(٣): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف:٩١٨٣)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الأذان ١٠٦ (٧٧٥)، وفضائل القرآن ٦ (٤٩٩٦)، ٢٨ (٥٠٤٣)، صحيح مسلم/المسافرين ٤٩ (٧٢٢)، سنن الترمذي/الصلاة ٣٠٥ (الجمعة ٦٩) (٦٠٢)، سنن النسائي/الافتتاح ٧٥(١٠٠٧)، مسند احمد (١/٣٨٠، ٤١٧، ٤٢٧، ٤٣٦، ٤٥٥) (صحيح)

فِي رَكْعَةٍ، وَالطُّورَ، وَالذَّارِيَاتِ فِي رَكْعَةٍ، وَإِذَا وَقَعَتْ، وَنُونَ فِي رَكْعَةٍ، وَسَأَلَ سَائِلٌ وَالنَّازِعَاتِ فِي رَكْعَةٍ، وَوَيْلٌ لِلْمُطَفِّفِينَ، وَعَبَسَ فِي رَكْعَةٍ، وَالْمُدَّثِّرَ، وَالْمُزَّمِّلَ فِي رَكْعَةٍ، وَهَلْ أَتَى، وَلَا أُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيَامَةِ فِي رَكْعَةٍ، وَعَمَّ يَتَسَاءَلُونَ، وَالْمُرْسَلَاتِ فِي رَكْعَةٍ، وَالدُّخَانَ، وَإِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ فِي رَكْعَةٍ". قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا تَأْلِيفُ ابْنِ مَسْعُودٍ رَحِمَهُ اللَّهُ.

د علقمه او اسود نه روایت دی، دواړو ویلي دي: ابن مسعود ته یو سړی راغی هغه وویل: زه مفصل په یو رکعات کې لولم، هغه وویل: ایا د شعر پشان یې زر زر وایې، او زر زریې شیندې پشان د بېکاره کجورو، لکن نبي ﷺ به لوستلو دوه متقارب سورتونه په یو رکعات کې، رحمن او نجم په رکعات کې، واقتربت او الحاقه په یو رکعات کې، او الطور او الذاریات په بل رکعات کې، اذا وقعت او نون په یو رکعات کې، او سأل سائل او والنازعات په یو رکعات کې، او ویل للمطففین او عبس په یو رکعات کې، او المدثر او المزمل په یو رکعات کې، او هل اتی او لا اقسم بیوم القیامة په یو رکعات کې، او عم یتساءلون او و المرسلات په یو رکعات کې، او الدخان او اذا الشمس کورت په یو رکعات کې. ابو داود ویلي دي: دا ترتیب د ابن مسعود رضي الله عنه وو.

تشریح: قوله: اتی ابن مسعود رجل فقال انی اقرء المفصل فی رکعة:

حضرت ابن مسعود رضي الله عنه ته یو سړې راغلو، او ورته ئې اوئیل، (ماشاء الله ماته قرآن دومره پوخ یاد دې) چه زهٔ د مفصل ټول سورتونه په یو رکعت کښې لولم، ددغې سړی نوم نهیک بن سنان دې، (کما فی روایة المسلم) په دې عبدالله بن مسعود رضي الله عنه اوفرمائیل: اهذا کهذ الشعر، چه د شعرونو پشان زر زر ئې لولې، د هذ معنی اسراع شدید ده، ډیر په تیزئ او زر زر یو کار کول، دلته کښې دا اشکال پیدا کیږی، چه شعر خو ډیر په ښه انداز او اطمینان سره لوستلې کیږی، په هغې کښې تلوار نه شی کولې، جواب دادې، چه یادولو دپاره چه کوم اشعار لوستلې شی، هغه مراد دی، هغه زر زر لوستلې شی، او یو وی انشاد دشعر، یعنی نورو ته شعرونه اورول، دا واقعی په ترنم او ترتیل سره لوستلې شی.

قوله: و نثرا کنثر الدقل: او څرنګه چه خرابې کجورې د اونې نه څنډلې کیږی، دغه شان به تهٔ هم کوې، دقل هغه خراب قسم کجورې دې، چه په اونه کښې اوچې شوې وی، او په مزه سره اونه خوزولو سره هغه ټول په یو ځل راغورزیږی.

او بیا هغوی اوفرمائیل: لکن النبی (صلی الله علیه وسلم) کان یقرء النظائر السورتین فی رکعة الخ: او د بخاری شریف (ص ۱۰۷) د یو روایت الفاظ داسې دی، لقد عرفت النظائر التی کان النبی (صلی الله علیه وسلم) یقرن معا بینهن.

د حضور (صلی الله علیه وسلم) معمول په تهجد کښې د کومو سورتونو لوستلو وو:

یعنی زهٔ ښه پیژنم، هغې سورتونو لره، چه هغه به حضور (ﷺ) دوه دوه یو ځائې کول، او په یو رکعت کښې به ئې لوستل، او بیا هغوی شل سورتونه ذکر کړل، چه هغې لره به حضور (ﷺ) په لسو رکعتو کښې لوستل (چه دهغې تفصیل په حدیث کښې مذکور دې) مطلب دادې، چه اې د الله تعالی بنده! تهٔ شپږ اویا سورتونه په یو رکعت کښې لولې، حالانکه

حضور (ﷺ) به صرف شل سورتونه په لس رکعته کښې لوستل، (۱)
الحاصل قرآن مجيد لره په ترتيل او تدبر سره لوستل پکار دی، دا منډه تړه صحيح نه ده، بلکه خلاف سنت ده.

دا حديث په صحيحين او نورو كتب حديث كښې هم شته، ليكن په هغې كښې ددې شلو سورتونو تفصيل او ددې مصداق مذکور نه دې، ددې وجې نه امام نووی رحمه الله په شرح مسلم (ص۲۷۲) کښې ليکلې دی، په سنن ابوداؤد کښې ددې سورتونو تعيين مذكور دې، دې سورتونو ته نظائر ددې وجې نه اوئيلې شو، چه دا د مضمون په اعتبار سره يو شان دی، او بعضو وئيلې دی، چه نظائر ئې ددې وجې نه اوئيل، چه د آياتونو په مقدار کښې دا سورتونه تقريبا برابر دی، ليکن دا خبره صحيح نه ده،
د مذکوره حديث سبب هم وارد دې، چه دلته کښې ذکر نه دې، د صحيح مسلم او ترمذی په روايت کښې شته، هغه دا چه دا سړې د ابن مسعود رضی الله عنه خدمت کښې حاضر شو، او راتلو سره ئې سوال اوکړو، چه تاسو دې آيت لره څرنګه لولئ، فيها انهر من ماء غير آسن، تپوس ئې اوکړو، چه آسن دې او که ياسن، په دې باندې هغوی اوفرمائيل و كل قرآن قد احصيت غير هذا الحرف، آيا ددې حرف نه علاوه باقی ټولو قراءتونو نه تهٔ واقف يئ، او آيا تا ټول قران لوستلې دې، په دې باندې هغه سړی هغه خبره اوکړه، چه دلته کښې د ابوداؤد په حديث کښې ذكر ده.
قال ابوداؤد هذا تاليف ابن مسعود رضی الله عنه: بره په حديث کښې چه کوم د شلو سورتونو ترتيب مذكور دې، هغه چونکه د مصحف عثمانی (چه کوم مونږ سره دې) د ترتيب نه خلاف دې، ددې وجې نه مصنف رحمه الله فرمائي، چه مذکوره بالا ترتيب د مصحف ابن مسعود رضی الله عنه مطابق دې، دهغوی په مصحف کښې د سورة فاتحې نه پس بقره او دهغې نه پس سورة النساء دې، او بيا سورة آل عمران دې.
په دې خبره پوهيدل پکار دی، چه مشهوره داده، چه د آيتونو ترتيب توقيفی دې، يعنی مسموع من الشارع، او د سورتونو ترتيب د صحابه کرامو اجتهادی او مختلف فيه دې، علماؤ ليکلې دی، چه د مصحف علی رضی الله عنه ترتيب علی ترتيب النزول دې، په هغې کښې د ټولو نه اول سورة اقراء دې، ثم المدثر ثم ن والقلم، ثم المزمل.

زمونږ د اکابرو د عمل بالسنة مثال:

حضرت شيخ رحمه الله فرمائي چه په کومه ورځ په بذل المجهود کښې ددې مقام شرح اوليکلې شوه، نو حضرت سهارنپوری رحمه الله اوفرمائيل: مولوی زکريا! په يوې پرچه باندې دا سورتونه په دې ترتيب سره اوليکه، نن به په تهجد کښې په دې ترتيب سره سورتونه

---

(۱) امام نووی رحمه الله ليکی: ددې نه معلومه شوه چه د حضور ﷺ معمول په تهجدو کښې د تلاوت مقدار عام طور سره دا وو کوم چه په دې حديث کښې مذکور دې اوکوم چه په بعضې رواياتو کښې د سورة بقره او آل عمران وغيره اوږدو اوږدو سورتونو ذکر راغلې دې نوهغه په بعضې وختونو باندې محمول دې چه دا کله کله وو.

لولم، سبحان الله، دعمل بالحديث جذبه هم داسې پکار ده، د حضرت امام احمد بن حنبل رحمه الله نه هم منقول دی، چه هغوی به په هر حديث باندې يو ځل خامخا عمل کولو.

[١٣٩٧](١)حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ، قَالَ: سَأَلْتُ أَبَا مَسْعُودٍ وَهُوَ يَطُوفُ بِالْبَيْتِ، فَقَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ قَرَأَ الْآيَتَيْنِ مِنْ آخِرِ سُورَةِ الْبَقَرَةِ فِي لَيْلَةٍ كَفَتَاهُ".

د عبد الرحمن بن يزيد نه روايت دی هغه وايي دي: ما تپوس وکړو د ابو مسعود نه او هغه د بيت الله طواف کولو، هغه ووېل: رسول الله ﷺ ويلي دي: چا چې دوه ايتونه ولوستل د سورة البقرې نه په يوه شپه کې نو دواړه ورله پوره دي.

قوله:من قرء الآيتين من آخر سورة البقرة في ليلة كفتاه:

شرح حديث :

کوم سړې چه د سورة بقرې آخری دوه آيتونه امن الرسول تا ختم سورة په شپه کښې اولولی، نو دهغه دپاره دا لوستل د قيام الليل نه کفايت کوی، يعنی دهغې قائم مقام کيږی، يا مطلب دادې، چه په قيام الليل (تهجد) کښې ددې دواړو آيتونو لوستل کافی کيږی، يا مطلب دادې، چه د شيطان د شر نه بچ کيدو دپاره کافی دې، يا د جن او انس د ټولو د شر نه بچ کيدلو دپاره کافی کيږی، يا اعتقاد سره متعلق چه کوم آيت قرآنيه دی، دهغې ټولو د طرف نه دا دوه آيتونه کافی دی، دا ټول مطالب شراح ليکلي دی، ددې دواړو آيتونو په احاديثو کښې ډير فضيلت راغلي دې، حضرت علی رضي الله عنه فرمائي، زۀ نه پيژنم، چه يو داسې عقلمند سړې به هم وی، چه ددې لوستلو نه بغير به اوده شی.

[١٣٩٨](٢)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنَا عَمْرٌو، أَنَّ أَبَا سَوِيَّةَ حَدَّثَهُ، أَنَّهُ سَمِعَ ابْنَ حُجَيْرَةَ يُخْبِرُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ قَامَ بِعَشْرِ آيَاتٍ لَمْ يُكْتَبْ مِنَ الْغَافِلِينَ، وَمَنْ قَامَ بِمِائَةِ آيَةٍ كُتِبَ مِنَ الْقَانِتِينَ، وَمَنْ قَامَ بِأَلْفِ آيَةٍ كُتِبَ مِنَ الْمُقَنْطِرِينَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: ابْنُ حُجَيْرَةَ الْأَصْغَرُ عَبْدُ اللَّهِ ابْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ ابْنِ حُجَيْرَةَ.

د عبد الله بن عمرو بن العاص نه روايت دی هغه ويلي دي: رسول الله ﷺ ويلي دي: هغه چا چې په لسو ايتونو سره قيام وکړو نو هغه به د غافلينو نه نه ليکل کېږي، او چا چې قيام وکړو په سلو ايتونو سره هغه به د قانتينو نه وليکل شي، او چا چې قيام وکړو په زرو ايتونو سره نو هغه به وليکل شي د ډير مال والا نه. ابوداود ويلي دي: ابن حجيرة ورکوتی هغه عبد الله بن عبد الرحمن بن حجيرة دی.

تشريح: **قوله**:ومن قام بعشر آيات لم يكتب من الغافلين، کوم سړې چه لس آيتونه د تهجد په مونځ کښې اولولی، هغه به په غافلينو کښې نه شماريږی(بذل) او کيدې شی، چه مطلق

---

(١): صحيح البخاري/فضائل القرآن ١٠ (٥٠٠٩)، صحيح مسلم/المسافرين ٤٣ (٨٠٧)، سنن الترمذي/فضائل القرآن ٤ (٢٨٨١)، سنن النسائي/ اليوم والليلة (٧٢١)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٨٣ (١٣٦٩)، (تحفة الأشراف:٩٩٩٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (١١٨/٤، ١٢١، ١٢٢)، سنن الدارمي/الصلاة ١٧٠ (١٥٢٨)، وفضائل القرآن ١٤ (٣٤٣١) (صحيح)

(٢): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف:٨٨٧٤) (صحيح)

لوستل مراد وی، یعنی بغیر د مانځه نه. كما يظهر من كلام بعض الشراح.

و من قام بالف آية كتب من المقنطرين: چه څوک زر آیتونه په یوه شپه کښې اولولی، دهغه دپاره د اجر او ثواب قنطار (انبارونه) لیکلې کیږی، قنطار د دولس زره رطلو وی، او وئیلې شوې دی، چه د دولسو سوؤ اوقیه وی، او یو اوقیه د څلویښتو درهمو وی، یعنی دهغې د وزن برابر اجر او ثواب، او په یو روایت کښې دی، چه یو قنطار دومره لوئې دې، چه دهغې دپاره دا دنیا کافی نه ده، په دې دنیا کښې نه ځائی کیږی.

قال ابوداؤد ابن حجيرة الاصغر الخ: حاصل دا دې، چه په سند کښې کوم ابن حجیره راغلې دې، هغه ته ابن حجیره الاصغر وئیلې شی، دهغه نوم او نسب دادې، عبدالله بن عبدالرحمن بن حجیره، دې الاصغر ددې وجې نه دې، چه دلته کښې نسبة الی الجد دې، او ددې راوی چه کوم والد دې، یعنی عبدالرحمن بن حجیره، هغه ته ابن حجیره الاکبر وئیلې شی.

[١٣٩٩]()حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى الْبَلْخِيُّ، وَهَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَا: أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ، أَخْبَرَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي أَيُّوبَ، حَدَّثَنِي عَيَّاشُ بْنُ عَبَّاسٍ الْقِتْبَانِيُّ، عَنْ عِيسَى بْنِ هِلَالٍ الصَّدَفِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: أَتَى رَجُلٌ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: أَقْرِئْنِي يَا رَسُولَ اللَّهِ، فَقَالَ: "اقْرَأْ ثَلَاثًا مِنْ ذَوَاتِ الرَّاءِ، فَقَالَ: كَبِرَتْ سِنِّي، وَاشْتَدَّ قَلْبِي، وَغَلُظَ لِسَانِي، قَالَ: "فَاقْرَأْ ثَلَاثًا مِنْ ذَوَاتِ حم"، فَقَالَ مِثْلَ مَقَالَتِهِ، فَقَالَ: "اقْرَأْ ثَلَاثًا مِنَ الْمُسَبِّحَاتِ" فَقَالَ مِثْلَ مَقَالَتِهِ، فَقَالَ الرَّجُلُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَقْرِئْنِي سُورَةً جَامِعَةً، فَأَقْرَأَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ حَتَّى فَرَغَ مِنْهَا، فَقَالَ الرَّجُلُ: وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ لَا أَزِيدُ عَلَيْهَا أَبَدًا، ثُمَّ أَدْبَرَ الرَّجُلُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَفْلَحَ الرُّوَيْجِلُ، مَرَّتَيْنِ".

د عبد الله بن عمرو نه روایت دی هغه وپلي دي: یو سړی رسول الله ﷺ ته راغی هغه ووپل ماته څه راوښايه، هغه ورته وفرمایل: لوله درې د الر والاو نه، هغه ووپل: زما عمر زیات دی، زړه مې سخت شوی دی، او ژبه مې سخته ده، هغه وفرمایل: درې د حم والاو نه وایه، هغه د خپلې مخکنۍ وینا پشان وینا وکړه، هغه ورته وفرمایل: ولوله درې د مسبحاتو نه، هغه بیا خپل مقاله وویله، هغه سړې ووپل: ای د الله رسوله! ماته یو جامعې سورت وښایه، نبي ﷺ ورته اذا زلزلت الارض وښودلو تردې چې ترېنه فارغ شو، هغه سړي ووپل: قسم په هغه ذات چې ته يې په حق رالیږلی یې زه به په دې باندې زیادت نه کوم، نبي ﷺ ووپل: سړی ګوتی کامیاب شو، دوه ځله يې ووپل.

تشريح: قوله: عن عبدالله بن عمرو رضي الله عنه قال اتى رجل رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فقال اقرانی: دا اقراء د باب افعال نه دې، یعنی ماباند اولوله، مطلب دادې، چه ماته د لوستلو دپاره اوایئ،نبی کریم (ﷺ) اوفرمائیل چه درې سورتونونه لوله، دهغې سورتونه، د کومو په شروع کښې چه الف، ل، ر دې، یا دا لفظ الراء (مفرد) دې، مراد ددې نه هم هغه دې، او هغه پنځه سورتونه دی، هود، یوسف، ابراهیم، الحجر، یونس.

قوله:فقال كبرت سنى واشتد قلبى و غلظ لسانى: هغه صحابی اوئیل چه اوس زۀ بوډا شوې یم، او زما زړۀ سخت شوې دې، یعنی ذهن او حافظه مې کمزورې شوې ده، او ژبه مې هم درنه

(): سنن النسائي/عمل اليوم والليلة ٢٠٤ (٩٥٠)، (تحفة الأشراف:٨٩٠٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٦٩/٢) (ضعيف)

شوې ده، په آسانۍ سره نه گرځي، ددې نه پس نبی کريم (ﷺ) هغه ته د "ذوات حم" مشوره ورکړه، ځکه چه دا سورتونو د هغې سورتونو نه ورکوتی دی.

قوله:من المسبحات: د کومو سورتونو په شروع کښې چه سبح يا يسبح يا سبح مذکور دې، او دا اووه سورتونه دی، سبحان الذی اسری، الحديد، الحشر، الصف، الجمعة، التغابن، الاعلی، د ترمذی (ج ۲ ص ۱۱۶) په يو روايت کښې دی، ان النبی (صلی الله عليه وسلم) کان يقراء المسبحات قبل ان يرقد يقول ان فيهن آية خير من الف آية.

قوله:افلح الرويجل: يا خو دا د رجل تصغير دې، يا د راجل (پيدل تلونکې) تصغير دې، ځکه چه دا سړې د نبی کريم (ﷺ) خدمت کښې پيدل راغلې وو، سور نه وو.

بَاب فِي عَدَدِ الآيِ

باب دی په بيان د عدد د ايتونو کې

د سورتونو آيتونه شمارل، مقصود په ظاهر کښې ددې جواز بيانول دی، او دا چه دا فعل عبث نه دې، بلکه په دې کښې يو قسم اهتمام موندلې کيږی، په تير شوې يو باب کښې تير شوې دی، چه کوم سړې لس آيتونه اولولی، نو هغه ته دومره ثواب ملاويږی، او څوک چه سل آيتونه اولولی، هغه ته دومره ثواب ملاويږی، په دې کښې هم د آيتونو د عدد ذکر دې.

[١٤٠٠][1]حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ مَرْزُوقٍ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، أَخْبَرَنَا قَتَادَةُ، عَنْ عَبَّاسٍ الْجُشَمِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "سُورَةٌ مِنَ الْقُرْآنِ ثَلَاثُونَ آيَةً تَشْفَعُ لِصَاحِبِهَا حَتَّى يُغْفَرَ لَهُ: تَبَارَكَ الَّذِي بِيَدِهِ الْمُلْكُ".

د ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دی، هغه روايت کوي د نبي ﷺ نه هغه ويلي دي: يو سورت دی د قرآن هغه دېرش ايتونه دی، خپل خاوند دپاره به شفاعت کوي تردې چې ببنښنه ورته وشي، هغه تبارک الذي بيده الملک دی.

قوله:سورة من القرآن ثلثون آية تشفع لصاحبها حتی غفرله:

د قرآن مجيد ديرش آيتونه داسې دی، چه د خپل لوستونکې سفارش کوی، تردې پورې چه دهغه مغفرت اوکړې شی.

شرح حديث:

دا شفاعت يا خو حقيقی دې، د قرآن مجيد شافع او مشفع کيدل د بعضو احاديثو نه ثابت دې، يا مجازی دې، په اعتبار د سبب سره، يعنی ددې لوستل به د نجات سبب وی، د حضور (ﷺ) د شفاعت د وجې نه، او حتی غفرله کښې د ماضی مضارع په معنی کښې ده، د تحقق وقوع يعنی امر يقينی کيدلو د وجې نه دې نه په ماضی سره تعبير اوکړې شو، گويا داسې اوگنړئ چه داسې شوې دی، دا سورت به شفاعت چرته کوی، يو شارح ليکلې دی، چه يا خو به په قبر کښې کوی، يا په قيامت کښې، او ظاهر اول دې، ځکه چه دبعضو رواياتو نه ددې سورت د عذاب قبر نه د نجات ذريعه کيدل ثابت دی.

[1]: سنن الترمذي/فضائل القرآن ٩ (٢٨٩١)، ن الكبري /التفسير (١١٦١٢)، اليوم والليلة (٧١٠)، سنن ابن ماجه/الأدب ٥٢ (٣٧٨٦)، (تحفة الأشراف: ١٣٥٥٠)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/فضائل القرآن ٢٣ (٣٤٥٢) (حسن)

كِتَابُ سُجُوْدِ الْقُرْآنِ

د سجده تلاوت احکام و مسائل

بَاب تَفْرِيعِ أَبْوَابِ السُّجُوْدِ وَكَمْ سَجْدَةٍ فِي الْقُرْآنِ

باب دی په بیان د فصل د بابونو د سجدو کښې، او په قرآن کښې څو سجدې دی؟

په ماقبل کښې چونکه د تلاوت قرآن ابواب تیر شو، دهغې په مناسبت سره دلته کښې سجود القرآن لره بیانوی.

ابحاث اربعه:

دلته کښې څلور بحثونه دی، (۱) د سجده تلاوة حکم (۲) د سجود القرآن تعداد (۳) د سجده تلاوت طريقه او کیفیت (۴) په سامع باندې د سجدې واجب کیدو شرائط.

بحث اول: د سجده تلاوت حکم

سجده تلاوت د احنافو په نزد واجب ده، د ائمه ثلثه په نزد سنة مؤکده ده، د امام احمد رحمه الله یو روایت دادې، واجبة فی الصلوة سنة خارجها، امام بخاری رحمه الله هم د یو ترجمة الباب نه ددې غیر واجب کیدل ثابت کړې دی، احنافو په صیغه دامر سره وجوب باندې استدلال کړې دې، لکه واسجد واقترب وغیره، او جمهورو استدلال د عمر رضي الله عنه د اثر نه کړې دې، هغوی فرمائي لکه چه په بخاری کښې دی، انما نمر بالسجود فمن سجد فقد اصاب و من لم يسجد فلا اثم عليه، احنافو وائی، چه دا حدیث موقوف دې، حجت نه دې.

بحث ثانی: د سجود القران تعداد

د سجود القرآن تعداد د لیث بن سعد، اسحاق بن راهویه او د بعضو شوافعو لکه ابن المنذر، دغه شان د بعضو موالکو لکه ابن حبیب په نزد پنځلس دی، او هم داسې یو روایت د امام احمد رحمه الله نه منقول دې، او دجمهور علماء ائمه ثلثه په نزد ددې تعداد څوارلس دی، لیکن د احنافو په نزد په داسې طریقې، چه په سورة ص کښې سجده ده، او په سورة حج کښې دویمه سجده نشته، او د شافعیه او حنابله په نزد په سورة حج کښې دوه سجدې دی، او په سورة ص کښې سجده نشته، او د امام مالک رحمه الله په نزد د سجدو تعداد ټول یوولس دې، په مفصل کښې عند الجمهور چه کومې درې سجدې دی، هغه ددې قائل نه دې، او علامه عینی لیکلې دی، چه د امام شافعی رحمه الله او احمد رحمه الله په نزد په ص کښې سجده ده، لیکن هغه دې لره د عزائم سجود نه نه منی، نو هغه ددې د استحباب په خارج صلوة کښې قائل دې، داخل صلوة کښې قائل نه دې.

بحث ثالث: د سجده تلاوت طريقه او کیفیت

د امام شافعی رحمه الله په نزد سجده تلاوت چه خارج صلوة وی، په هغې کښې تحریم او تسلیم دواړه شته، او د امام احمد رحمه الله په نزد تسلیم شته تحریمه نشته، او د احنافو او مالکیه په نزد بغیر تحریمه او تسلیم نه دی، پس الله اکبر وئیلو سره به سجدې ته لاړ شی، او تکبیر وئیلو سره به سر پورته کړی، زمونږ په نزد ظاهر الروایة هم دادې، وروی الحسن عن ابی حنیفة

اله لا يكبر عن الانحطاط والصحيح ظاهر الرواية كذا في البذل.(ص ۳۱۹)

بحث رابع: په سامع باندې د سجدې د وجوب شرائط

د امام مالک رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نزد سجود على السامع درې شرطونو سره مشروط دي، (۱) الاستماع د سجدې آيت لره قصد سره اوريدل، كه بغير د قصد نه د سجدې آيت واؤرى نو هغه معتبر نه دې، (۲) سجود التالى، يعنى د اصل تلاوت كونكي سجده كول، كه هغه سجده اونه كړه، نو بيا په سامع باندې هم سجده نشته، اهلية الامامة فى التالى للسامع، يعنى تلاوت كونكي كښې د سامع دامام جوړيدلو صلاحيت وى، لهذا په سړي باندې د ښځې تلاوت سره، يا د صبى په تلاوت سره سجده نه لازميږى، دې اختلاف طرف ته خپله مصنف رحمه الله هم په راتلونكي باب كښې اشاره كړې ده،

بحث خامس: سجده تلاوت دپاره د طهارت حكم

دلته كښې يو بحث بل پاتې شو، هغه دا چه سجده تلاوت دپاره طهارت شرط دې او كه نه؟ د جمهور علماء او ائمه اربعه په نزد طهارت شرط دې، د شعبى رحمه الله او محمد بن جرير طبرى رحمه الله په نزد شرط نه دې، د امام بخارى رحمه الله ميلان هم دوى طرف ته دې، و قد تقدم فى الجزء الاول تحت حديث لا يقبل الله صلوة بغير طهور، نو امام بخارى رحمه الله د يو ترجمة الباب په ضمن كښې تعليقا فرمائيلي دى، وكان ابن عمر يسجد على غير وضوء، ليكن په دې كښې د صحيح بخارى نسخې مختلفې دى، په بعضو كښې على غير وضوء دې، او په بعضو كښې على وضوء دې، علامه عينى رحمه الله فرمائي چه د ابن عمر رضي الله عنه نه دواړه قسمه روايتونه مروى دى، د تطبيق شكل دادې، چه ممكن ده، سجده تلاوت دپاره هغوى طهارت كبرى ضرورى ګڼړله، او طهارت صغرى لره غير ضرورى، يا دا چه په حالت اختيار كښې د طهارت قائل وو، او په حالت ضرورت او مجبورى كښې د عدم طهارت قائل وو، والله تعالى اعلم.

[۱۴۰۱](۱) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيمِ بْنِ الْبَرْقِيِّ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي مَرْيَمَ، أَخْبَرَنَا نَافِعُ بْنُ يَزِيدَ، عَنِ الْحَارِثِ بْنِ سَعِيدٍ الْعُتَقِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُنَيْنٍ مِنْ بَنِي عَبْدِ كُلَالٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَقْرَأَهُ خَمْسَ عَشْرَةَ سَجْدَةً فِي الْقُرْآنِ، مِنْهَا ثَلَاثٌ فِي الْمُفَصَّلِ، وَفِي سُورَةِ الْحَجِّ سَجْدَتَانِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رُوِيَ عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، "إِحْدَى عَشْرَةَ سَجْدَةً" وَإِسْنَادُهُ وَاهٍ.

د عمرو بن العاص نه روايت دى، بېشكه رسول الله ﷺ ورته پنځلس سجدې لوستلى دي په قرآن كې، درې د هغې نه په مفصلو كې دي، او په سورة الحج كې دوه سجدې دي. ابوداود ويلي دي: روايت نقل شوى دى د ابو الدرداء نه هغه روايت كوي د نبي ﷺ نه يولس سجدې دي، او اسنادېي كمزورى دى.

حدثنا محمد بن عبد الرحيم ابن البرقى الخ، قوله عن عمرو بن العاص رضي الله عنه ان النبى (صلى الله عليه وسلم) اقرءه خمس عشرة سجدة فى القرآن الخ،

دا د باب اول حديث دې، او ډير جامع دې، په دې اعتبار سره چه پهٔ دې كښې د سجود

(۱): سنن ابن ماجه/اقامة الصلاة ۷۱ (۱۰۵۷)، (تحفة الأشراف: ۱۰۷۳۵) (ضعيف)

القرآن پوره تعداد مذکور دې، او دا چه هغه پنځلس دی، او په دې کښې يو روايت مصنف تعليقا ذکر کړې دې، عن ابى الدرداء مرفوعا، په هغې کښې دا دی، چه ټول سجود القرآن يوولس دی، ددې روايت امام ترمذی تخريج کړې دې، دا دويم روايت ضعيف دې، کما قال المصنف، امام ترمذی رحمه الله هم ددې په سند باندې کلام کړې دې، او د باب د اول حديث تخريج د مصنف نه علاوه ابن ماجه، دارقطنی، حاکم، بيهقی هم کړې دې، ددې په بعضو راويانو باندې هم اگر چه کلام دې، لکه الحارث بن سعيد او عبدالله بن منين، ليکن امام نووی او منذری ددې تحسين کړې دې، کمافی المنهل.

په صحيحين بخاری او مسلم کښې هيڅ يو حديث ماته داسې ملاؤ نشو، چه په هغې کښې د سجود القرآن مجموعی تعداد مذکور وی، بلکه متفرق طور باندې څو د سجدو سره متعلق روايات دی، او د باقی سره هيڅ تعرض نشته، نه نفيا او نه اثباتاً.

دا حديث د اسحاق بن راهويه، ليث بن سعد، امام احمد فى رواية سره خو موافق دې، ځکه د هغوی په نزد د سجود القرآن تعداد هم دادې، کوم چه په دې حديث کښې ذکر دې، او د جمهورو سره تقريبا موافق دې، البته د مالکيه خلاف دې، د شافعيه سره موافق خو ددې وجې نه دې، چه دهغوی په نزد په سورة حج کښې دوه سجدې دی، او د سورة ص سجده هم هغوی منی، ليکن دا وائی، چه هغه د غير عزائم نه ده، د هغې حکم د شوافعو په نزد دادې، چه په مانځه کښې به سجده نه کوی، خارج صلوة که تلاوت وی، نو کولې شی، او د حنفيه سره موافق ددې وجې نه ده، چه داسې به وئيلې شی، چه اگر چه په سورة حج کښې سجدتين مذکور دی، ليکن دنورو دلائلو نه دا ثابت دی، چه د سورة حج د سجدتينو نه دويمه سجده، چه د سورة په آخر کښې ده، هغه سجده تلاوت نه ده، بلکه هغه سجده صلويه ده، ځکه چه هغه مقرون بالرکوع ده، او زمونږ د علماؤ استقراء داده، چه په قرآن مجيد کښې کوم ځائې هم د سجدې ذکر رکوع سره راشی، دهغې نه سجده د صلوة مراد ده، مثل قوله تعالى : واسجدی وارکعی مع الراکعين.

امام محمد رحمه الله په موطا کښې فرمائې چه د عمر او ابن عمر رضی الله عنهما نه هم دا منقول دی، چه په سورة حج کښې سجدتين دی، ليکن ابن عباس رضی الله عنهما په دې سورت کښې يوه سجده منلې ده.[1] اهـ

[١٤٠٢] (١) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ السَّرْحِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي ابْنُ لَهِيعَةَ، أَنَّ مِشْرَحَ بْنَ هَاعَانَ أَبَا الْمُصْعَبِ حَدَّثَهُ، أَنَّ عُقْبَةَ بْنَ عَامِرٍ حَدَّثَهُ، قَالَ: قُلْتُ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَفِي سُورَةِ الْحَجِّ سَجْدَتَانِ؟ قَالَ: "نَعَمْ، وَمَنْ لَمْ يَسْجُدْهُمَا فَلَا يَقْرَأْهُمَا".

عقبة بن عامر ورته حديث بيان کړی دی، هغه وايي ما وويل رسول الله صلى الله عليه وسلم ته: ايا په سورة الحج کي دوه سجدي دي؟ هغه وويل: آو، او څوک چي هغه دواړه نه کوي نه نه هغې دي نه لولي.

[1]): سنن الترمذي/الصلاة ٢٨٩ (الجمعة ٥٤) (٥٧٨)، (تحفة الأشراف: ٩٩٦٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/١٥١، ١٥٥) (حسن)

تشريح: قوله:قلت لرسول الله (صلى الله عليه وسلم) فى سورة الحج سجدتان قال نعم و من لم يسجدهما فلا يقراهما.

او په بعضو رواياتو کښې فلا يقراها دې، يعنی د چا اراده چه د سجدې کولو نه وی، نو دهغه دپاره بهتره داده، چه هغه دې دا سورة نه لولی، يا د سجدې آيت دې نه لولی، شارحينو ليکلي دی، ددې وجې نه چه تلاوت قرآن خو امر مستحب دې، او سجده تلاوت کم نه کم سنت مؤکده، کما عند الشافعي، ګنی واجب ده کما عند الحنفيه، او کوم فعل مستحب چه سبب وی د ترک واجب، يا د ترک سنت، دهغې نه کول بهتر دی،

دا حديث د حنفيه خلاف دې، ليکن ضعيف دې، کما قال الترمذی وغيره ځکه چه ددې په سند کښې ابن لهيعه او مشرح بن هاعان دې، او دا دواړه ضعيف راويان دی.

بَابُ مَنْ لَمْ يَرَ السُّجُودَ فِي الْمُفَصَّلِ

باب دی په بيان دهغه چا کې په مفصلو کې د سجدې قائل نه دی

[۱۴۰۳]([۱])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ، حَدَّثَنَا أَزْهَرُ بْنُ الْقَاسِمِ، قَالَ مُحَمَّدٌ: رَأَيْتُهُ بِمَكَّةَ، حَدَّثَنَا أَبُو قُدَامَةَ، عَنْ مَطَرٍ الْوَرَّاقِ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "لَمْ يَسْجُدْ فِي شَيْءٍ مِنَ الْمُفَصَّلِ مُنْذُ تَحَوَّلَ إِلَى الْمَدِينَةِ".

د ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دی، بېشکه رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه په هيڅ شي د مفصل کې سجده نه ده کړې د کوم وخت نه چې مديني ته راغلی دی.

لکه چه د مالکيه مسلک دې، کما تقدم، جمهور فرمائي: حديث الباب ضعيف دې، د ابوقدامه او مطر وراق د وجې نه، او په سورة انشقاق کښې سجده د ابوهريره رضي الله عنه د حديث مرفوع نه په صحيح بخاری کښې ثابت ده، او په سنن ابوداؤد کښې د ابوهريره رضي الله عنه د حديث نه سورة انشقاق او سورة اقراء کښې، او هم د ابوهريره رضي الله عنه د حديث مرفوع نه په مسند بزار او دارقطنی کښې سورة النجم کښې سجده ثابت ده، او دا درې واړه سجدې د مفصل دی، چه دهغې نفی ابن عباس رضي الله عنه فرمائي والمثبت اولى من النافی، او ددې دريو واړو احاديث راوی، ځرنګه چه مخکښې معلومه شوه، ابوهريره رضي الله عنه دې، چه په سنه ۷هـ کښې ئي اسلام راوړې دې، او حضرت ابن عباس رضي الله عنه دا فرمائي چه حضور (صلى الله عليه وسلم) د هجرت نه روستو تر اوسه پورې دې سورتونو کښې سجده نه ده کړې، دا خبره دې واضحه وی، چه خپله مصنف رحمه الله په راتلونکې بابونو کښې په مفصل کښې د سجدو کيدل ثابت کړې دی.

منذ تحول الى المدينة: ابن عباس رضي الله عنه په ظاهر کښې دا خبره ددې دپاره اوفرمائيله چه خپله د ابن عباس رضي الله عنه حديث کښې په سورة النجم کښې د حضور (صلى الله عليه وسلم) او د ټولو مسلمانانو او مشرکانو بلکه ټولو انسانانو او جناتو سجده کول قبل الهجرت د بخاری وغيره صحيح رواياتو نه ثابت دی، لکه چه مخکښې دلته کښې هم راروان دی.

---

[۱]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف:۶۲۱۶) (ضعيف)

[١٤٠٤]()حَدَّثَنَا هَنَّادُ بْنُ السَّرِيِّ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ قُسَيْطٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، قَالَ: قَرَأْتُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّجْمَ "فَلَمْ يَسْجُدْ فِيهَا".

د زيد بن ثابت نه روايت دى، هغه ويلي دي: ما د رسول الله نه سورة النجم ولوستلو هغه پکې سجده ونه کړه.

تشريح: قوله: عن زيد بن ثابت قال قرات على رسول الله (صلى الله عليه وسلم) النجم فلم يسجد بها: په سورة النجم کښې د نورو بعضو احاديث نه د حضور (ﷺ) سجده کول ثابت دى، ددې وجې نه ددې جواب به دا وى، (١) لم يكن متوضا (٢) لم يكن الوقت صالحا للسجدة (٣) لا وجوب على الفور بل يجوز فيه التراخي.

[١٤٠٥]()حَدَّثَنَا ابْنُ السَّرْحِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنَا أَبُو صَخْرٍ، عَنْ ابْنِ قُسَيْطٍ، عَنْ خَارِجَةَ بْنِ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، بِمَعْنَاهُ. قَالَ أَبُو دَاوُد: كَانَ زَيْدٌ الْإِمَامَ فَلَمْ يَسْجُدْ فِيهَا.

د خارجة بن زيد بن ثابت نه روايت دى هغه روايت کوي د خپل پلار نه، او هغه د نبي ﷺ نه په معنى د هغې سره. ابوداود ويلي دي: زيد امام وو او په هغې کې يې سجده ونه کړه.

قال ابوداؤد و كان زيدالامام فلم يسجد: مصنف په سورة النجم کښې د حضور (ﷺ) د سجدې نه کولو وجه بيانوى، چه په اصل کښې قارى زيد بن ثابت وو، نو چونکه په دغې موقعه خپله امام سجده اونه کړه، (٣) ددې وجې نه حضور (ﷺ) هم اونه کړه، اوس پاتې شو دا سوال، چه زيد ﷺ ولې سجده اونه کړه، نو ددې جوابات هم هغه کيدې شى، کوم چه بره ذکر شو، دا مسئله په ابتدائى مباحثو کښې تيره شوې ده، چه د بعضو علماؤ په نزد ومنهم الامام مالک والامام احمد رحمهما الله سجود على السامع مشروط ده سجدې د تالى (قارى) سره، دلته کښې چونکه هغه شرط اونه موندلې شو، ددې وجې نه حضور (ﷺ) سجده اونه کړه، هم دا خبره امام ترمذى فرمائيلې ده، وتاول بعض اهل العلم هذ الحديث فقال انما ترک النبى (صلى الله عليه وسلم) السجود لان زيد بن ثابت لم يسجد. ١ هـ

بَاب مَنْ رَأَى فِيهَا السُّجُودَ

باب دى په بيان د هغه چا کې چې په هغې کې د سجدې قائل دى

دا باب د اول باب مقابل دې، اول باب د مالکيه موافق وو، او دا باب د جمهور موافق دې.

[١٤٠٦]()حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ الْأَسْوَدِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ

[1]): صحيح البخاري/سجود القرآن ٦ (١٠٧٢)، صحيح مسلم/المساجد ٢٠ (٥٧٧)، ت الجمعة ٥٢ (٥٧٦)، سنن النسائي/الافتتاح ٥٠ (٩٦١)، (تحفة الأشراف:٣٧٣٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٨٣/٥، ١٨٦)، سنن الدارمي/الصلاة ١٦٤ (١٥١٣) (صحيح)

[2]): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف:٣٧٠٧) (صحيح)

[3]) د امام نه مراد امام صلوة نه دې، بلکه امام قراءة دې، يعنى متبوع او پيشوا گويا قارى د قرآن پيشوا دې، او سامع د قارى تابع دې په سجده کولو کښې.)

[4]): صحيح البخاري/سجود القرآن ١ (١٠٧٢)، ٤ (١٠٧٣)، ومناقب الأنصار ٢٩ (٣٨٥٣)، والمغازي ٨ (٣٩٧٢)، وتفسير النجم ٤ (٤٨٦٢)، صحيح مسلم/المساجد ٢٠ (٥٧٦)، سنن النسائي/الافتتاح ٤٩ (٩٦٠)، (تحفة الأشراف:٩١٨٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٨٨/١، ٤٠١، ٤٤٣، ٤٦٢) دي/الصلاة ١٦٠ (١٥٠٦) (صحيح)

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "قَرَأَ سُورَةَ النَّجْمِ فَسَجَدَ فِيهَا، وَمَا بَقِيَ أَحَدٌ مِنَ الْقَوْمِ إِلَّا سَجَدَ، فَأَخَذَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ كَفًّا مِنْ حَصًى أَوْ تُرَابٍ فَرَفَعَهُ إِلَى وَجْهِهِ، وَقَالَ يَكْفِينِي هٰذَا"، قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ: فَلَقَدْ رَأَيْتُهُ بَعْدَ ذٰلِكَ قُتِلَ كَافِرًا.

د عبد الله نه روايت دی، بېشکه رسول الله ﷺ سورة النجم ولوستلو او سجده يې وکړه په هغې کې، د قوم نه هېڅ کس پاتې نه شو مګر سجده يې وکړه، يو سړي د قوم نه په ورغوي کې کاڼي راوخستل. او يا خاوره. هغه يې اوچته کړه خپل مخ ته، او ويې ويل: زما دپاره دا کافي ده، عبد الله وايي: بېشکه ما هغه وروسته وليدلو چې کافر مړ شو.

قوله:عن عبدالله ان رسول الله (صلى الله عليه وسلم) قرأ سورة النجم فسجد فيها و مابقى احد من القوم الا سجد فاخذ رجل من القوم كفا من حصا او تراب فرفعه الى وجهه و قال يكفيني هذا.

د حديث مضمون:

يو ځل نبی کريم (ﷺ) سورة نجم تلاوت کړو، پس حضور (ﷺ) دهغې د وجې نه سجده اوکړه، او ټولو خلقو هم سجده اوکړه، په مجلس والو کښې هيڅوک باقی پاتې نه شو د سجدې کولو نه، سوا د يو سړی نه، چه هغه د سجدې کولو په ځائې دا اوکړل، چه په لاسونو کښې ئې کاڼړی يا خاوره راؤچته کړه، او هغه ئې مخ ته يوړه، (او په هغې باندې ئې خپل سر کيخودو كما فى رواية الحاكم) او وې وئيل، بس ما لپاره هم دا کافی ده، يعنی په زمکه باندې د سجدې کولو ضرورت نشته، راوی وائی، چه دغې سړی لره ما ددې نه پس اوليدو، چه د کفر په حالت کښې قتل کړې شو.

شرح حديث:

(په دغه موقع سجده نه کونکې څوک وو؟)

دا سړې اميه بن خلف وو، كما فى رواية البخارى فى كتاب التفسير او دې په جنګ بدر کښې اوژلې شو، ددې سړی په تعيين کښې نور هم اقوال دی، چه په حاشيه دبخاری کښې ذکر دی. ليکن اصح او راجح ئې دا قول ليکلې دې.

او د نسائی په روايت کښې دمطلب بن ابی وداعه باره کښې دی، هغوی خپله فرمائي، چه ما سجده نه وه کړې، ځکه چه هغه وخته پورې ما اسلام نه وو راؤړې (روستو بيا مشرف باسلام شو، رضى الله عنه) اوس سجده نه کونکې دوه سړی شو، اميه بن خلف او مطلب بن ابی وداعه. حالانکه دلته په روايت کښې حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د يو سړی باره کښې حصر کړې دې، جواب دادې، چه ممکن ده، چه هغوی صرف يو لره ليدلې وی، ځکه ئې د يو استثناء اوکړه، او يا د يو تخصيص هغوی په دې اعتبار سره کړې وی، کوم چه په روايت کښې مذکور دی، فاخذ كفا من تراب يعنی سجده نه کونکې دوه وو، ليکن په موټی کښې خاوره راؤچتونکې او په هغې باندې سر ايخودونکې صرف يو سړې وو.

او دا واقعه د مکې مکرمې ده، قبل الهجرة كما فى رواية البخارى عن ابن مسعود، او په بخاری کښې د ابن عباس رضی الله عنهما په روايت کښې تردې پورې تصريح ده، چه نبی کريم (ﷺ) سره مسلمانانو، مشرکانو جناتو او انسانانو ټولو سجده اوکړه، نبی کريم (ﷺ) خو سجده د الله تعالی د حکم په تعميل کښې اوکړه، او ددې وجې نه ئې اوکړه، چه ددې سورة په شروع

کښې د عظیم نعمتونو ذکر دې، دهغې په شکریه کښې نبی کریم (ﷺ) سجده اوکړه، او مسلمانانو سجده د هغوی په اتباع کښې اوکړه.

د مشرکینو د سجدې منشاء:

پاتې شو دا سوال چه مشرکینو سجده ولې اوکړه؟ ددې مختلفې وجهې بیان شوې دی، بعضو وئیلې دی، چه چونکه په دې سورة کښې د بتانو، لات، منات او عزی وغیره ذکر وو، نو په هغې باندې خوشحاله شو، او وقتی طور باندې ئې د حضور (ﷺ) موافقت اوکړو، سجده ئې اوکړه، او حضرت شاه ولی الله دهلوی رحمه الله په حجة الله البالغه کښې دا لیکلې دی (کما فی حاشیة اللامع) چه دغه وخت کښې په دغې بابرکت مجلس کښې د الله تعالی د انواراتو او تجلیاتو ډیر زیات ظهور اوشو، چه هغې سره حق داسې واضحه او ښکاره شو، چه مشرکان هم دهغې په منلو باندې مجبوره شو، لیکن بیا روستو چه کوم ځائې وو، هلته کښې واپس راغلل.

د حضرت اقدس ګنګوهی رحمه الله رائې هم داده، لکه چه په الکوکب الدری کښې ذکر ده، او حضرت سهارنپوری په بذل المجهود کښې یوه مشهوره قصه نقل کړې ده، چه هغې لره د حدیث شارحین دلته ددې حدیث په تشریح کښې او حضرات مفسرین د سورة حج د آیت شریف **وما ارسلنا من قبلک من رسول ولا نبی الا اذا تمنی القی الشیطان فی امنیته**.

په ذیل کښې ذکر کوی، چه دهغې ترجمه داده: نه دې لیږلې مونږ ستا نه مخکښې هیڅ یو رسول یا نبی، مګر دا چه کله به هغه د وحی آیتونه تلاوت کول، یعنی خلقو ته به ئې اورول، نو شیطان به دهغه په تلاوت کښې القاء کوله، یعنی د خپل طرف نه په وحی کښې د غیر وحی القاء او خلط کولو.

او هغه واقعه داده، چه ابن ابی حاتم او ابن جریر طبری او جلال الدین محلی په تفسیر جلالین کښې، او محمد بن اسحاق صاحب المغازی په سیرت کښې، او موسی بن عقبه په مغازی کښې، او دسعید بن جبیر نه مرسلا او سعید بن جبیر عن ابن عباس مسندا روایت کړې ده، چه نبی کریم (ﷺ) په مکه مکرمه کښې د سورة النجم تلاوت کولو، چه کله هغوی دې آیت ته اورسیدل، **افرایتم اللات والعزی و مناة الثالثة الاخری، القی الشیطان علی لسانه، تلک الغرانیق العلی وان شفاعتهن لترتجی**، یعنی شیطان د هغوی په ژبه باندې (د لات او عزی وغیره بتانو په مدح کښې) دا کلمات جاری کړل، چه دا پورته پرواز کونکې مرغی دی، او په تحقیق سره ددوی د شفاعت امید کیدې شی.

په دې باندې مشرکین ډیر زیات خوشحاله شو، او وې وئیل، چه دې نبی اوسه پورې زمونږ د بتانو تعریف نه دې کړې، نن ئې تعریف اوکړو، ددې وجې نه هغوی هم د نبی کریم (ﷺ) په موافقت کښې سجده کښې پریوتل (دا واقعه د سجود مشرکین منشاء جوړه شوه)

ددې واقعې د صحت باره کښې د شروع نه په علماؤ کښې اختلاف دې، یو جماعت ددې واقعې نه انکار کوی، په هغوی کښې قاضی ابوبکر ابن العربی او قاضی عیاض وغیره دی، هغوی فرمائی چه دا قصه دروغ او د زندیقانو او ملحدانو اختراع ده، د اسرائیلیاتو د

قبيلي نه ده، ددې هيڅ اصل نشته، هم دا رائې د شيخ عبدالحق محدث دهلوی ده، په لمعات شرح مشکوٰة کښې هغوی فرمائي: د بتانو مدح کول خو صريح کفر دې، حضور (ﷺ) د ژبې مبارکې نه عمدا خو ډير بعيده ده، سهوا هم صادر کيدې نشی، ددې وجې نه ددې واقعې ذکر نه په کتب صحاح کښې شته، او نه په نور تصنيفات حديثيه کښې، بلکه بعضو اهل سير او هغې مؤرخينو نقل کړې ده، چه د عجيبه حکاياتو نقل کولو شوقين دی، دغه شان حضرت شاه ولی الله صاحب په خپل تراجم بخاری کښې، او حضرت اقدس گنگوهی رحمه الله په الکوکب الدری کښې ليکلې دی، چه ددې قصې هيڅ اصل نشته.

ليکن حافظ ابن حجر دې قصې لره بې اصله منلو ته تيار نه دې، هغوی فرمائي: على قواعد المحدثين ددې واقعې انکار مشکل دې، ځکه چه هرکله چه ددې واقعې طرق کثير دی، او دهغې طرقو مخارج هم متعدد دی، اگر چه ضعيف دی، بيا هم ددې څه اصل ضرور شته، خصوصا هرکله چه ما اوئيل چه ددې درې سندونه على شرط الصحيح دی، اگر چه مرسل دی، او مرسل حديث حجت دې عند الجمهور خصوصا بعد الاعتضاد.

هغوی فرمائي چه دا به هم منل وی، چه دا واقعه په خپل ظاهر باندې قطعا محمول نه ده، لهذا ددې تاويل ضروری دې، بيا حافظ صاحب رحمه الله ددې شپږ اووه توجيهات ذکر کړې دی، په هغې کښې بعضو لره په خپله هغوی ناخوښه کړې او رد کړې دی، (١) دا کلمات مدحيه د حضور (ﷺ) د ژبې مبارکې نه هغه وخت کښې جاری شول، چه کله هغوی د پرکالې په حالت کښې وو[١] (چه اختياری حالت نه دې) بيا چه کله هغوی ته پته اولگيده، چه دا څه اوشو، نو الله تعالى خپل صحيح آيتونو لره محکم کړل، او د شيطان القائی کلماتو لره ئې رد او منسوخ کړل، کما قال الله تعالى فينسخ الله ما يلقى الشيطان ثم يحكم الله آياته، (٢) د مشرکينو عادت وو، چه کله به هغوی د خپلو معبودانو ذکر کولو، نو د هغې معبودانو دپاره به ئې دا مدحيه کلمات استعمالول، نبی کريم (ﷺ) هم چونکه دا کلمات اوريدل، ددې وجې نه دهغوی په حافظه کښې دا ناست وو، چه کله نبی کريم (ﷺ) د سورة نجم دا آيتونه تلاوت فرمائيل، نو بغير د قصد نه د هغوی د ژبې مبارکې نه دا کلمات صادر شول، (٣) نبی کريم (ﷺ) دا کلمات توبيخا لوستلې وو، يعنی د کافرانو د زجر او توبيخ دپاره، قاضی عياض دې جواب لره خوښ کړې دې، خصوصا ددې وجې نه هم، چه په دغه زمانه کښې كلام فى الصلوة جائز وو، (۴) چه کله نبی کريم (ﷺ) تلاوت کولو دوران کښې د کافرانو د معبودانو ذکر ته اورسيدو، نو مشرکينو سره دا خطره پيدا شوه، چه چرته محمد (ﷺ) مخکښې د مذمت کلمات او نه فرمائي، ددې وجې نه کافرانو په جلدی سره د خپل طرف نه د حضور (ﷺ) په تلاوت کښې دا کلمات خلط کړل، لکه چه دهغوی عادت وو د خلط کولو، قال الله تعالى، لا تسمعوا لهذا القرآن والغو فيه، او ددې القاء نسبت شيطان طرف ته ددې وجې نه اوکړې شو، چه حامل په دې باندې هم هغه وو، (۵) تلک

[١] دا توجيه د قتاده نه نقل ده قاضی عياض دا رد کړې ده، لأنه ولاية للشيطان عليه في النوم أيضاً.

الغرانيق العلى وان شفاعتهن لترتجى، دا دوه آيتونه د كلام پاك وو (چه اوس منسوخ التلاوة دى) او د الغرانيق العلى نه مراد صرف ملائكې دى، او مطلب دا وو، چه فرشتې خو دالله تعالى مقبول بندګان دى، دهغوى نه صرف د سفارش اميد كيدې شى، ددې نه زيات هغوى هيڅ نه شى كولې (يعنى كه هغوى العياذ بالله بنات الله وې، كما قالوا، نو بيا به ددې نه په زيات باندې قادر وو) ليكن

كافرانو د تلك اشاره د ملائكو په ځائې مذكوره اصنام يعنى لات و عزى و منات طرف ته اوګنړله، او په دې باندې خوشحاله شو، چه نن زمونږ د معبودانو مدح اوشوه (لهذا دې غلط فهمى لره لرې كولو دپاره دا آيتونه منسوخ كړې شو) (۲) نبى كريم (ﷺ) دا سورت ښه په ترتيل سره په مزه مزه لوستلو. چه كله هغوى ذكر آلهه ته اورسيدل، نو شيطان سمدستى د هغوى په سكته كښې دغه كلمات د هغوى په آواز او لهجه كښې داسې اولوستل، چه هغې سره اوريدونكې دا اوګنړل، چه دا كلمات هم نبى كريم (ﷺ) لوستلې دى، حالانكه فى الواقع نبى كريم (ﷺ) دا كلمات نه وو لوستلې، دې توجيه لره اكثرو عالمانو خوښه كړې ده، حافظ رحمه الله فرمائي وهذا احسن الوجوه،(۱) دا مخكښې ليكلې شوې دى، چه حضرت اقدس ګنګوهى رحمه الله په الكوكب الدرى كښې فرمائيلې دى، چه ددې واقعې څه اصل محقق نشته، اوس سوال دادې، چه بيا د آيت كريمه وما ارسلنا من قبلك من رسول و لانبى الا اذا تمنى الآية مطلب به څه وى؟ جواب دادې، چه تفسير بيان القرآن كتل پكار دى، او د حضرت ګنګوهى رحمه الله يو تاليف منيف، چه هغې لره د حضرت شيخ والد مولانا محمد يحيى صاحب رحمه الله د لطائف رشيديه په نوم سره چاپ كړې وو، په هغې كښې د بعضې آيات قرآنيه مطلب بيان كړې شوې دې، هغې طرف ته رجوع كول پكاردى. (۲)

---

(۱) هغه په دې وجه چه په دې صورت كښې د شيطان هيڅ قسم تصور او تسلط يا تصرف په رسول الله ﷺ باندې نه شى موندلې كيدې بلكه د شيطان خپل فعل دې بله دا چه دا د ابن عباس(ض) تفسير موافق دې چه هغوى د تمنى او امنيت تفسير په تلاوت سره كړې دې.

(۲) د لوستونكو د سهولت دپاره د رساله مباركه نه لږ شان نقل كوم، وهو هذا سوال ۲: اذا تمنى القى الشيطان فى امنيته په معنى مع تحقيق رواية جلالين كوم چه د دې په تفسير كښې وارد دې، ارشاد اوشو، ترجمه د آيت معلومه نه ده چه ولې تپوسې كه د اشكال وجه دې ليكلې وې نو غوره وه، خير ليكم: چه كوم وخت لوستلې شى اچوى د دې په قراءت كښې، جلالين خو داسې خبط روايت اوليكلو چه د عقل او نقل خلاف دې (د دې نه روستو حضرت د دې واقعې يوه توجيه ليكلې ده بيا وړاندې فرمائي) زه وايم چه كه داسې اوئيلې شى چه په قراءة كښې د القاء كولو نه دا مراد دې چه كفارو ته چه كوم قراءة رسيږى په هغې كښې مفترى خلق څه افتراء كمولو سره كم او زيات د خواهش مطابق اوروى چه د هغې نه حضرات انبياء عليهم السلام باندې د طعن موقع راشى نو څه حرج دې دا تصور كول چه عين د قراءة په وخت القاء كوى، دا د تخصيص وقت قرينه څه ده؟ بلكه په قران كريم كښې تحريف كول مراد دى الى اخر ما افاد. ۱۲.

بَابُ السُّجُودِ فِي {إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ} وَ{اقْرَأْ}

باب دی په بیان د سجده کې په اذا السماء انشقت او اقرا کې

[١٤٠٧](¹) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَيُّوبَ بْنِ مُوسَى، عَنْ عَطَاءِ بْنِ مِينَاءَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "سَجَدْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي: {إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ} وَ{اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ}".

د ابو هريره رضی الله عنه نه روایت دی هغه ویلي دي: مونږ د رسول الله ﷺ سره سجده وکړه په اذا السماء انشقت او اقرء باسم ربک الذي خلق کې. ابوداود ویلي دي: ابو هريره رضی الله عنه په شپږم کال اسلام راوړی دی په کال د خیبر کې، او دا سجده د رسول الله ﷺ اخیري فعل د هغه وو.

[١٤٠٨](²) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا الْمُعْتَمِرُ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبِي، حَدَّثَنَا بَكْرٌ، عَنْ أَبِي رَافِعٍ، قَالَ: صَلَّيْتُ مَعَ أَبِي هُرَيْرَةَ الْعَتَمَةَ، فَقَرَأَ: {إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ}، فَسَجَدَ، فَقُلْتُ: مَا هَذِهِ السَّجْدَةُ؟ قَالَ: "سَجَدْتُ بِهَا خَلْفَ أَبِي الْقَاسِمِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَا أَزَالُ أَسْجُدُ بِهَا حَتَّى أَلْقَاهُ".

د ابو رافع نه روایت دی، هغه وایي: ما مونځ وکړو د ابو هريرة سره د ماسخوتن، هغه ولوستلو اذا السماء انشقت، هغه سجده وکړه، ما وویل: دا کومه سجده ده؟ هغه وویل: دا سجده ما کړې وه وروسته د ابو القاسم نه، زه به همېشه دا سجده کوم تردې چې ورسره مخامخ شوم.

بَابُ السُّجُودِ فِي {ص}

باب دی په بیان د سجده کې په ص کې

[١٤٠٩](³) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: لَيْسَ ص مِنْ عَزَائِمِ السُّجُودِ، وَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَسْجُدُ فِيهَا".

د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دی، هغه ویلي دي: سجده د سورة ص د فرضي سجدو نه نه ده، او بېشکه ما لیدلی دی رسول الله ﷺ چې هغه یي کوله.

عن ابن عباس رضی الله عنه قال ليس ص من عزائم السجود، دا د ابن عباس رضی الله عنه خپله رائې ده، و قد رايت رسول الله (صلى الله عليه وسلم) يسجد فيها، دا زمونږ دلیل دې، ځکه چه بغیردآیت دسجدې نه سجده کول دهیچا په نزد مشروع نه دی، عن ابی سعید الخدری رضی الله عنه انه قال قرا رسول الله (صلى الله عليه وسلم) وهو على المنبر ص: نبی کریم (ﷺ) اول ځل په سورة ص کښې سجده اوکړه، معلومه شوه، چه په دې کښې آیت سجده شته.

¹): صحيح مسلم/المساجد ٢٠ (٥٧٨)، سنن الترمذي/الصلاة ٢٨٥ (الجمعة ٥٠) (٥٧٣ و ٥٧٤)، سنن النسائي/الافتتاح ٥٢ (٩٦٨)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٧١ (١٠٥٨ و ١٠٥٩)، (تحفة الأشراف:١٤٢٠٦)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الأذان ١٠٠ (٧٦٦)، موطا امام مالك/القرآن ٥ (١٢)، مسند احمد (٢/٢٤٩، ٤٦١)، سنن الدارمي/الصلاة ١٦٣ (١٥١٢) (صحيح)

²): صحيح البخاري/الأذان ١٠٠ (٧٦٦)، صحيح مسلم/المساجد ٢٠ (٥٧٨)، سنن النسائي/الافتتاح ٥٣ (٩٦٩)، (تحفة الأشراف: ١٤٦٤٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢٢٩، ٢٥٦، ٢٦٦) (صحيح)

³): صحيح البخاري/سجود القرآن ٣ (١٠٦٩)، سنن الترمذي/الصلاة ٢٨٨ (الجمعة ٥٣) (٥٧٧)، سنن النسائي/الافتتاح ٤٨ (٩٥٨)، (تحفة الأشراف:٥٩٨٨)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الصلاة ١٦١ (١٥٠٨) (صحيح)

[١٤١٠]([1])حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي عَمْرٌو يَعْنِي ابْنَ الْحَارِثِ، عَنْ ابْنِ أَبِي هِلَالٍ، عَنْ عِيَاضِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَعْدِ بْنِ أَبِي سَرْحٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّهُ قَالَ: قَرَأَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ ص، فَلَمَّا بَلَغَ السَّجْدَةَ نَزَلَ فَسَجَدَ وَسَجَدَ النَّاسُ مَعَهُ، فَلَمَّا كَانَ يَوْمٌ آخَرُ قَرَأَهَا فَلَمَّا بَلَغَ السَّجْدَةَ تَشَزَّنَ النَّاسُ لِلسُّجُودِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّمَا هِيَ تَوْبَةُ نَبِيٍّ، وَلَكِنِّي رَأَيْتُكُمْ تَشَزَّنْتُمْ لِلسُّجُودِ، فَنَزَلَ، فَسَجَدَ وَسَجَدُوا".

د ابو سعيد الخدري رضي الله عنه نه روايت دی، بېشکه هغه ويلي دي: رسول الله ﷺ سورة ص ولوستلو په منبر باندې، هرکله چې سجدې ته وررورسيدلو راخکته شو سجده يې وکړه او خلقو هم سجده وکړه، بله ورځ يې ولوستلو، هرکله چې ورسيده سجدې ته خلق سجدې ته تيار شول، نبي ﷺ وويل: بېشکه دا د نبي توبه ده، لکن ما وليدلئ تاسو چې سجدې ته تيار شوئ، هغه راخکته شو سجده يې وکړه خلقو هم سجده وکړه.

ولكنى رايتكم تشزنتم للسجود: ليکن کله چه ما تهٔ اوليدې چه تهٔ سجدې دپاره تيار وې، ددې وجې نه نبی کريم (ﷺ) د منبر نه راکوز شو، او سجده ئې اوکړه، دې سره دا لازم نه راځی، چه د رسول الله (ﷺ) اراده د سجدې کولو نه وه، بلکه کيدې شی، چه دا مطلب وی، چه اوس فی الحال د سجدې کولو اراده ئې نه وه، ځکه چه سجده علی الفور واجب نه ده، او امام طحاوی رحمه الله د مجاهد رحمه الله نه نقل کړې دی، چه د ابن عباس رضي الله عنه نه د سورة ص د سجدې باره کښې پوښتنه اوکړې شوه، نو هغوی اوفرمائيل اولئک الذين هدى الله فبهداهم اقتده يعنی په قرآن مجيد کښې الله تعالى حضور (ﷺ) لره مامور او مکلف فرمائيلې دې، ددې خبرې چه هغوی به د انبياء سابقين سيرت اختياروی، او په انبياء سابقين کښې حضرت داؤد عليه السلام هم دې، او دهغوی د سجدې کولو ذکر په دې سورت کښې کړې شوې دې، دا خبره دې واضحه وی، چه حضرات شافعيه هم په دې سورت کښې د سجدې قائل دی، ليکن هغوی دې لره د غير عزائم نه ګنړی، لکه چه په ابتدائی مباحثو کښې تير شوې دی.

بَابٌ فِي الرَّجُلِ يَسْمَعُ السَّجْدَةَ وَهُوَ رَاكِبٌ وَفِي غَيْرِ الصَّلَاةِ

باب دی په بيان د سړي کې چې سجده واوري په حالت د سورلی کې او هغه په مانځه کې نه وي

او د حاشيه په نسخه کښې د ترجمه په الفاظو کښې دومره اضافه ده، او فی غير صلوة.

[١٤١١]([2])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عُثْمَانَ الدِّمَشْقِيُّ أَبُو الْجُمَاهِرِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ يَعْنِي ابْنَ مُحَمَّدٍ، عَنْ مُصْعَبِ بْنِ ثَابِتِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "قَرَأَ عَامَ الْفَتْحِ سَجْدَةً، فَسَجَدَ النَّاسُ كُلُّهُمْ، مِنْهُمُ الرَّاكِبُ وَالسَّاجِدُ فِي الْأَرْضِ حَتَّى إِنَّ الرَّاكِبَ لَيَسْجُدُ عَلَى يَدِهِ".

د ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی، بېشکه رسول الله ﷺ د فتح په کال سجده ولوستله، ټولو خلقو سجده وکړه، بعضې پکې سواره وو، او بعضو په ځمکه وکړه، تردې چې سور سړي په خپل لاس وکړه.

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف:٤٢٧٦)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الصلاة ١٦١ (١٥٠٧) (صحيح)
[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف:٨٤٤٤) (ضعيف)

عن ابن عمر ﵄ ان رسول الله (صلى الله عليه وسلم) قرأ عام الفتح سجدة، يعني حضور (ﷺ) داسې سورة تلاوت کړو، چه په هغې کښې آيت د سجدې وو، يا ممکن ده، صرف د سجدې آيت ئې لوستلې وی د بيان دجواز دپاره، ځکه چه صرف آيت سجده لوستل خلاف اولی دی، د ايهام دتفضيل د وجې نه. (يعني ددې وهم ددفع کولو د وجې نه چه دا آيت افضل دې)

فسجد الناس كلهم منهم الراكب والساجد في الارض حتى ان الراكب يسجد على يده:

ددې نه معلومه شوه، چه سجده تلاوت په سورلۍ باندې بالايماء جائز ده، د جمهور علماؤ ومنهم الحنفيه هم دا مذهب دې، د لاس دپاسه يا د زين دپاسه د سره ايخودلو ضرورت نشته، صرف اشاره کافي ده، ليکن د حنفيه په نزد ددې تصريح ده، چه سجود على الدابه په هغه صورت کښې جائز ده، چه په سورلۍ باندې ئې لوستلې وی، يا اوريدلې وی، لهذا که تلاوت ئې په زمکه اوکړو، نو په سورلۍ باندې سجده کول جائز نه دی، او فقهاؤ ليکلي دی، چه که د رش د وجې نه په زمکه باندې سجده نشي کولې، نو په غير ارض مثلا فخذ (اورون) وغيره باندې کول جائز دی، او که يو سړې په زمکه باندې لاس کيږدی، او په لاس باندې سجده اوکړی، نو داسې بلاعذر کول مکروه دی، ليکن سجده صحيح کيږی، عن ابي حنيفه﵀.

په مسئلة الباب کښې مالکيه دا وائی، چه سجده تلاوت راکبا د مسافر دپاره خو جائز ده، او ځوک چه مسافر شرعی نه وی، هغه لره د سورلۍ نه راکوزيدل او سجده کول ضروری دی، (منهل)

[١٤١٢](1) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ. ح وحَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي شُعَيْبٍ الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ نُمَيْرٍ الْمَعْنَى، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ عَلَيْنَا السُّورَةَ، قَالَ ابْنُ نُمَيْرٍ: فِي غَيْرِ الصَّلَاةِ، ثُمَّ اتَّفَقَا، فَيَسْجُدُ وَنَسْجُدُ مَعَهُ حَتَّى لَا يَجِدَ أَحَدُنَا مَكَانًا لِمَوْضِعِ جَبْهَتِهِ".

د ابن عمر ﵄ نه روايت دی هغه وايي دي: رسول الله ﷺ وو چې لوستلو يي په مونږ باندې سورت. ابن نمير ويلي دي: بغير د مانځه نه، بيا دواړه متفق شوي دي. هغه به سجده کوله مونږ به هم ورسره سجده وکړه، تردې چې نه به پيدا کولو يو کس زمونږ ځای د خپل تندي دپاره.

شرح د حديث:

قوله : فيسجد و نسجد معه حتى لا يجد احدنا مكانا لموضع جبهته: مطلب دادې، چه حضور (ﷺ) به خپل مجلس کښې تلاوت فرمائيلو، نو چه کله به د سجدې آيت راغلو، او نبی کريم (ﷺ) به سجده کوله نو هغه وخت په مجلس کښې چه ځومره خلق به حاضر وو، ټولو به سجده کوله، او د سجده کونکو خلقو به هجوم شو تردې پورې چه د سجدې دپاره د سر ايخودلو ځائې به پاتې نشو، او د طبرانی په يو روايت کښې داسې دی، چه کله مکې والو اسلام ظاهرول شروع کړل، نو داسې حالت به وو، چه نبی کريم (ﷺ) به تلاوت فرمائيلو او سجده به ئې کوله، نو ټولو خلقو به سجده کوله، حتى سجد الرجل على ظهر الرجل. د اول

(1): صحيح البخاري/سجود القرآن ٨ (١٠٧٥)، صحيح مسلم/المساجد ٢٠ (٥٧٥)، (تحفة الأشراف:٨٠٠٨، ٨٠١٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٥٧/٢)، سنن الدارمي/الصلاة ١٦١ (١٥٠٧) (صحيح)

حديث په ضمن کښې تير شو، چه عندالزحام په غير ارض باندې سجده کول (فخذ وغيره باندې) جائز ده.

ددې حديث د ترجمة الباب سره مناسبت نشته، البته که د حاشيې والا نسخه واخستلې شي، نو بې شکه مطابقت به پيدا شي.

[۱۴۱۳]( ) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ الْفُرَاتِ أَبُو مَسْعُودٍ الرَّازِيُّ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ عَلَيْنَا الْقُرْآنَ، فَإِذَا مَرَّ بِالسَّجْدَةِ كَبَّرَ وَسَجَدَ وَسَجَدْنَا". قَالَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ: وَكَانَ الثَّوْرِيُّ يُعْجِبُهُ هَذَا الْحَدِيثُ. قَالَ أَبُو دَاوُد: يُعْجِبُهُ لِأَنَّهُ كَبَّرَ.

د ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی هغه ويلي دي: رسول الله ﷺ به مونږ ته قران لوستلو، کله چې به هغه په سجده باندې تيريدلو الله اکبر به يې ويلو، هغه به سجده وکړه مونږ به هم ورسره وکړه، عبد الرزاق ويلي دي: او ثوري وو چې دا حديث يې خوښ وو، ابو داود ويلي دي: هغه يې په تعجب کې اچوه ځکه هغه تکبير وويله.

کان الثوری يعجبه هذا الحديث: سفيان ثوری رحمه الله ته دا حديث خوښ وو، مخکښې مصنف د اعجاب وجه بيانوی، چه په دې حديث کښې ددې خبرې تصريح ده، چه نبی کريم (ﷺ) به سجدې ته تللو په وخت کښې تکبير وئيلو، په خلاف د نورو احاديثو نه، چه په هغې کښې دا زياتوالې نشته.

سجده تلاوت کښې سره پورته کولو په وخت کښې تکبير وئيل بالاتفاق شته، او تللو په وخت کښې ظاهر الرواية کښې شته، او په غير ظاهر الرواية کښې نشته، والاول اصح.

د سجده تلاوت طريقه مع اختلاف ائمه په ابتدائی بحثونو کښې تيره شوې ده.

بَابُ مَا يَقُولُ إِذَا سَجَدَ

باب دی چې څه به وايي کله چې سجده کوي

[۱۴۱۴]( ) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ الْحَذَّاءُ، عَنْ رَجُلٍ، عَنْ أَبِي الْعَالِيَةِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي سُجُودِ الْقُرْآنِ بِاللَّيْلِ، يَقُولُ فِي السَّجْدَةِ مِرَارًا: "سَجَدَ وَجْهِي لِلَّذِي خَلَقَهُ وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ بِحَوْلِهِ وَقُوَّتِهِ".

د عائشې رضي الله عنها نه روايت دی هغې ويلي دي: رسول الله ﷺ وو چې ويل به يې د قران په د شپې سجده کې، هغه به څو ځلې په سجده کې ويل: زما مخ سجده وکړه هغه چاته چې هغه يې پيدا کړی دی، او کولاو کړي يې دي اوريدل د هغه او ليدل د هغه په خپل تصرف او طاقت سره.

(په سجده تلاوت کښې به کومه دعا وئيلې شي؟)

که سجدهٔ تلاوت په فرض مانځه کښې وی، نو بهتره داده، چه په هغې کښې سبحان ربی الاعلی اووائی، او که خارج صلوة وی، يا نفل مونځ وی، نو اختيار دې، که هغه دعا لولی،

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف:۷۷۲۶) (منكر)

[2]: سنن الترمذي/الصلاة ۲۹۰ (الجمعة ۵۵) (۵۸۰)، والدعوات ۳۳ (۳۴۲۵)، سنن النسائي/التطبيق ۷۰ (۱۱۳۰)، (تحفة الأشراف:۱۶۰۸۳)، وقد أخرجه: مسند احمد (۶/۳۰، ۲۱۷) (صحيح)

کومه چه په حدیث کښې ذکر ده، یا سبحان ربی الاعلی لولی، او بعضې علماء وائی، چه دعا بهتره ده: سبحان ربنا ان کان وعد ربنا لمفعولا، لکه چه د سورة بنی اسرائیل په آخر کښې دی، ان الذین اوتوا العلم من قبله اذا یتلی علیهم یخرون للاذقان سجدا و یقولون سبحان ربنا ان کان وعد ربنا لمفعولا.

د عمل بالرؤیا مثال:

او د ترمذی شریف په یو روایت کښې دی، ابن عباس رضی الله عنه فرمائي چه نبی کریم (ﷺ) ته یو سړی راغلو، او هغه خپل خوب بیان کړو، چه ما اولیدل، چه د یوې اونې لاندې زۀ اودریدم، او مونځ مې ادا کړو، او په آیت سجده باندې ما سجده اوکړه، نو هغې اونې هم سجده اوکړه، ما غور سره واؤریدل، چه هغې اونې په سجده کښې دا دعا لوستله، (دعا په ترمذی شریف کښې ذکر ده) ابن عباس رضی الله عنه فرمائي، ددې قصې نه پس یوه ورځ ما حضور (ﷺ) اولیدو، چه هغوی په سجده تلاوت کښې هم هغه اذکار لوستل، کوم چه هغې اونې لوستلي وو.

بَابٌ فِيمَنْ يَقْرَأُ السَّجْدَةَ بَعْدَ الصُّبْحِ

باب دی په بیان د هغه چاکې سجده لولي وروسته د صباح نه

[١٤١٥](١)حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الصَّبَّاحِ الْعَطَّارُ، حَدَّثَنَا أَبُو بَحْرٍ، حَدَّثَنَا ثَابِتُ بْنُ عُمَارَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو تَمِيمَةَ الْهُجَيْمِيُّ، قَالَ: لَمَّا بَعَثْنَا الرَّكْبَ، قَالَ أَبُو دَاوُد: يَعْنِي إِلَى الْمَدِينَةِ، قَالَ: كُنْتُ أَقُصُّ بَعْدَ صَلَاةِ الصُّبْحِ، فَأَسْجُدُ، فَنَهَانِي ابْنُ عُمَرَ فَلَمْ أَنْتَهِ ثَلَاثَ مِرَارٍ، ثُمَّ عَادَ، فَقَالَ: "إِنِّي صَلَّيْتُ خَلْفَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَمَعَ أَبِي بَكْرٍ، وَعُمَرَ، وَعُثْمَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ فَلَمْ يَسْجُدُوا حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ".

ابو تمیمة الهجیمي ویلي دي: کله چې مونږ قافله ولېږله، ویلي دي ابوداود: یعني مدینې ته، هغه وایي: ما به قصې کولې وروسته د صباح مانځه نه، ما به سجده کوله، نو ابن عمر زه منع کړم زه منع نه شوم درې ځل، بیا واپس شو، هغه وویل: بېشکه ما مونځ وکړو وروسته د رسول الله ﷺ نه، او د ابو بکر او د عمر او د عثمان رضی الله عنهم سره، هغوی سجده ونه کړه تردې چې نمر راوختلو.

شرح حدیث:

قوله: عن ابی تمیمة الهجیمی قال لما بعثنا الرکب: بعثنا معروف او مجهول دواړه کیدې شی، که مجهول دې، نو الرکب به منصوب بنزع الخافض وی، تقدیر د عبارت به دا وی، لما بعثنا فی الرکب، یعنی کله چه مونږ اولیږلې شو، په یوې قافلې کښې، او د معروف په صورت کښې به مطلب دا وی، چه کله مونږ اولیږله قافلې لره، یعنی زمونږ قوم اولیږله یوه قافله (په هغې کښې زۀ هم اوم) قالت کنت اقص بعد صلوة الصبح نو ما به د سحر دمانځه نه پس خلقو ته د وعظ او نصیحت خبرې کولې، او په آیت سجده به مې سجده هم هغه وخت کوله، فنهانی ابن عمر فلم انته ثلاث مرات، زۀ ابن عمر رضی الله عنه هغه وخت سجدې کولو نه منع کړم، لیکن زۀ منع نه شوم، او ددې درې کرته موقع راغله.

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٧١١٠)، وقد أخرجه: (حم (٢/٢٤، ١٠٦) (ضعيف)

مذاهب ائمه:

د حنابله په نزد اوقات مکروهه کښې سجدۀ تلاوت کول ناجائز دی، بلکه صحیح کیږی هم نه، او د مالکیه په نزد مکروه دی (اګر چه صحیح کیږی) او د شافعیه په نزد مطلقا جائز ده، ځکه چه دهغوی په نزد نفل ذات السبب په ټولو وختونو کښې جائز دی، د حنفیه په نزد دادی، چه که تلاوت په وقت مکروه کښې کړې وی، نو سجده هم دغه وخت کښې کولې شی، او که تلاوت په غیر مکروه وخت کښې کړې وی، نو بیا په وقت مکروه کښې سجده کول مکروه دی.[1]

لهذا دا حدیث د حنابله او مالکیه موافق دې، او د حنفیه او شافعیه خلاف دې، جواب دادې، چه دا حدیث ضعیف دې د ابوبحر راوی د وجې نه.

فائده: د ابوتمیمه نوم طریف بن مجالد دې، او دا راوی ثقه دې.

کتاب تفریع أبواب الوتر

کتاب د وترو فروعی احکام و مسائل

باب استحباب الوتر

باب د وترو د مستحب کیدو په بیان کښې

[١٤١٦] ([2]) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا عِيسَى، عَنْ زَكَرِيَّا، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا أَهْلَ الْقُرْآنِ، أَوْتِرُوا فَإِنَّ اللَّهَ وِتْرٌ يُحِبُّ الْوِتْرَ".

سیدنا علی رضي الله عنه نه منقول دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: اې قران والو! وتر لولئ. بې شکه الله عز وجل وتر (یواځې) دې، او وتر خوښه وی."

عن علی رضي الله عنه قال قال رسول الله (صلى الله عليه وسلم) یا اهل القرآن اوتروا.

شرح حدیث:

په دې کښې ټول مسلمانان شامل دی، ځکه چه ټول مسلمانان اهل ایمان بالقرآن دی، لیکن حضرت ابن مسعود رضي الله عنه دا حدیث په خپل ظاهر باندې محمول کړې دې، لکه چه په مخکښې روایت کښې راروان دی، او په ترمذی کښې دی، اسحاق بن راهویه فرمائي، چه په دې حدیث کښې د وتر نه مراد قیام الیل دې، لکه چه په باب قیام الیل کښې تیر شو، چه اکثر احادیثو کښې په جمله صلوة اللیل باندې د وتر اطلاق کړې شوې دې، لهذا مطلب به دا وی، چه د قیام اللیل اصل مخاطبین حفاظ قرآن دی، حافظانو لره پکار دی، چه هغوی د شپې په تهجدو کښې تلاوت قرآن اوکړی، هم دا د قرآن مجید قدردانی ده، او ددې نه د نفع حاصلولو یو خاص شکل دې. والله تعالى اعلم.

---

[1] یعنی د نمر راختلو وخت، پریوتلو وخت او د نصف النهار (زوال) وخت، واما بعد الفجر وبعد العصر فیجوز مطلقًا.

[2]: سنن الترمذي/الصلاة ٢١٦، (٤٥٣)، سنن النسائي/قيام الليل ٢٥ (١٦٧٤)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١١٤ (١١٦٩)، (تحفة الأشراف: ١٠١٣٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٨٦، ٩٨، ١٠٠، ١٠٧، ١١٠، ١١٥، ١٢٠، ١٤٣، ١٤٤، ١٤٨)، سنن الدارمي/الصلاة ٢٠٩ (١٦٢١) (صحيح)

[١٤١٧]()حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو حَفْصٍ الْأَبَّارُ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَعْنَاهُ، زَادَ: فَقَالَ أَعْرَابِيٌّ: مَا تَقُولُ؟ فَقَالَ: لَيْسَ لَكَ، وَلَا لِأَصْحَابِكَ.

حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه دَ نبی کریم ﷺ نه ددې په مثل باندې روایت کړې دي او په دې کښې ئې اضافه کړې ده چه یو باندیچی اووئیل تاسو څۀ وائئ؟ (حضرت عبد الله رضي الله عنه) اووئیل دا حکم ستا او ستا دَ ملګرو دَ پاره نۀ دي.

[١٤١٨]()حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، وَقُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، الْمَعْنَى قَالَا: حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ رَاشِدٍ الزَّوْفِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي مُرَّةَ الزَّوْفِيِّ، عَنْ خَارِجَةَ بْنِ حُذَافَةَ، قَالَ أَبُو الْوَلِيدِ الْعَدَوِيُّ: خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ أَمَدَّكُمْ بِصَلَاةٍ وَهِيَ خَيْرٌ لَكُمْ مِنْ حُمْرِ النَّعَمِ، وَهِيَ الْوِتْرُ، فَجَعَلَهَا لَكُمْ فِيمَا بَيْنَ الْعِشَاءِ إِلَى طُلُوعِ الْفَجْرِ".

خارجه بن خذافه عدوی رضي الله عنه بیان کوی چه رسول الله ﷺ مونږ ته تشریف راوړو اووې فرمائیل: بې شکه الله تعالیٰ په یو (مزید او اضافي) مونځ سره ستاسو مدد فرمائیلې دې او دا ستاسو دَ پاره دَ سرو اوښانو نه هم زیات بهتر دی. دا مونځ وتر دی او ددې وخت ئې دَ ماسخوتن او دَ طلوع فجر په درمیان کښې مقرر کړې دې."

عن خارجة بن حذافة العدوى قال خرج علينا رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فقال ان الله تعالى قد امدكم بصلوة الخ:

ای انعم علیکم و زاد لکم صلوة، په بعضو روایتونو کښې (طبرانی وغیره کښې) زادکم صلوة هم وارد دې، قال الله تعالى امدكم بانعام و بنين و جنت و عيون. الله تعالى ستاسو دپاره یعنی ستاسو د ثواب زیاتولو دپاره یو مونځ زیات کړې دې

د وجوب وتر دپاره دلیل:

دې حدیث سره صاحب هدایه وغیره په وجوب وتر باندې استدلال کړې دې، ځکه چه په نوافلو او تطوعاتو کښې هیڅ تحدید نشته، زیاتې خو په محدود څیزونو کښې وی، او محدود مونځ فرض دې، بعضو علماؤ ته په دې کښې اشکال دې، چه د مزید دپاره دا ضروری نه ده، چه هغه د مزید علیه د جنس نه وی، بلکه د امداد معنی ده: داسې زیاتې چه هغې سره مزید علیه ته تقویت اورسی، ددې وجې نه شیخ ابن الهمام فرمائي چه په وجوب دوتر باندې استدلال ددې نه روستو حدیث سره کول پکار دې، چه مخکښې په کتاب راروان دې، الوتر حق فمن لم يوتر فليس منا،

(): سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١١٤ (١١٧٠)، (تحفة الأشراف: ٩٦٢٧) (صحيح)

(): سنن الترمذي/الصلاة ٢١٥، الوتر ١ (٤٥٢)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١١٤ (١١٦٨)، (تحفة الأشراف: ٣٤٥٠)، وقد أخرجه. سنن الدارمي/الصلاة ٢٠٨ (١٦١٧) (صحيح) (لكن ؟هي خير لكم من حمر النعم؟

بَاب فِيمَنْ لَمْ يُوتِرْ

باب: کوم کس چه وتر اونهٔ کړی؟

[١٤١٩](١) حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ الطَّالْقَانِيُّ، حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْعَتَكِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "الْوِتْرُ حَقٌّ فَمَنْ لَمْ يُوتِرْ فَلَيْسَ مِنَّا، الْوِتْرُ حَقٌّ فَمَنْ لَمْ يُوتِرْ فَلَيْسَ مِنَّا، الْوِتْرُ حَقٌّ فَمَنْ لَمْ يُوتِرْ فَلَيْسَ مِنَّا".

عبد الله بن بریده د خپل پلار نه روایت کوی، د هغوی بیان دې چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلې دی، فرمائیل ئې: وتر حق دی، څوک چه وتر اونهٔ کړی هغه زمونږ نه، نهٔ دې، وتر حق دی، څوک چه وتر اونهٔ کړی هغه زمونږ نه، نهٔ دې، وتر حق دی، څوک چه وتر اونهٔ کړی هغه زمونږ نه، نهٔ دې.

[١٤٢٠](٢) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يَحْيَى بْنِ حَبَّانَ، عَنْ ابْنِ مُحَيْرِيزٍ، أَنَّ رَجُلًا مِنْ بَنِي كِنَانَةَ يُدْعَى الْمَخْدَجِيَّ سَمِعَ رَجُلًا بِالشَّامِ يُدْعَى أَبَا مُحَمَّدٍ، يَقُولُ: إِنَّ الْوِتْرَ وَاجِبٌ، قَالَ الْمَخْدَجِيُّ: فَرُحْتُ إِلَى عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ فَأَخْبَرْتُهُ، فَقَالَ عُبَادَةُ: كَذَبَ أَبُو مُحَمَّدٍ، سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "خَمْسُ صَلَوَاتٍ كَتَبَهُنَّ اللَّهُ عَلَى الْعِبَادِ، فَمَنْ جَاءَ بِهِنَّ لَمْ يُضَيِّعْ مِنْهُنَّ شَيْئًا اسْتِخْفَافًا بِحَقِّهِنَّ كَانَ لَهُ عِنْدَ اللَّهِ عَهْدٌ أَنْ يُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ، وَمَنْ لَمْ يَأْتِ بِهِنَّ فَلَيْسَ لَهُ عِنْدَ اللَّهِ عَهْدٌ إِنْ شَاءَ عَذَّبَهُ، وَإِنْ شَاءَ أَدْخَلَهُ الْجَنَّةَ".

د ابن محیریز نه مروی دی چه د بنو کنانه مخدج نومی یو کس په شام کښې د یو سړی نه اوریدلې دی چه هغه ته به ئې ابو محمد وئیلو، هغه وئیل چه وتر واجب دی. مخدجی اووئیل چه زهٔ حضرت عباده بن صامت رضی الله عنه ته ورغلم او هغه ته مې د ابو محمد خبره اورسوله. نو حضرت عباده اووئیل: ابو محمد غلط وئیلې دی. ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلې دی، هغوی ﷺ فرمائیل پنځهٔ مونځونه دی چه الله تعالیٰ په خپلو بندګانو باندې فرض کړې دی. چاچه دې لره ادا کړل او ددې حق ئې سپک ګڼړلو سره په دې کښې ضائع نهٔ کړل نو دداسې شخص دپاره د الله په ذمه باندې دا عهد دې چه دهٔ لره به په جنت کښې داخل کړی. او چاچه دا ادا نهٔ کړل نو دداسې کس په الله باندې هیڅ عهد نشته دې، کهٔ غواړی نو عذاب به ورکړی او کهٔ اوغواړی نو جنت کښې به ئې داخل کړی.

حدثنا القعنبی عن مالک الخ: په دې حدیث باندې کلام باب المحافظة علی الصلوات کښې تیر شوې دې، ځکه چه دا حدیث هلته کښې هم تیر شوې دې.

---

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف:١٩٨٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٥٧/٥) (ضعيف)

(٢): سنن النسائي/الصلاة ٦ (٤٦٢)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٩٤ (١٤٠١)، (تحفة الأشراف: ٥١٢٢)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/صلاة الليل ٣ (١٤)، مسند احمد (٣١٥/٥، ٣١٩، ٣٢٢)، سنن الدارمي/الصلاة ٢٠٨ (١٦١٨) (صحيح)

بَاب كَمِ الْوِتْرُ

باب: ۳- په وترو کښې څومره رکعتونه دي

[١٤٢١]([1]) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَقِيقٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الْبَادِيَةِ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صَلَاةِ اللَّيْلِ، فَقَالَ بِإِصْبَعَيْهِ هَكَذَا: "مَثْنَى مَثْنَى، وَالْوِتْرُ رَكْعَةٌ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ".

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه نه مروي دي چه یو د باندې اوسیدونکی د نبی کریم ﷺ نه د شپې د مونځ په باره کښې پوښتنه اوکړه نو حضور ﷺ په خپلو ګوتو سره اشاره اوفرمائیله اووې فرمائیل: داسې دوه رکعته. او وتر یو رکعت دې د شپې په آخره کښې.

قوله: والوتر ركعة من آخر الليل: د وتر د کعتونو په تعداد باندې کلام باب قيام الليل کښې تفصیل سره تیر شو، دا حدیث د ابن عمر رضي الله عنه ددې نه مخکښې په باب صلوة الليل مثنى مثنى کښې په طریق د نافع تیر شوې دې، په لفظ "فاذا خشى احدكم الصبح صلى ركعة واحدة توتر له ما قد صلى" ددې نه په صفا طور باندې د حنفیه د مسلک تائید کیږي.

[١٤٢٢]([2]) حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْمُبَارَكِ، حَدَّثَنِي قُرَيْشُ بْنُ حَيَّانَ الْعِجْلِيُّ، حَدَّثَنَا بَكْرُ بْنُ وَائِلٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَزِيدَ اللَّيْثِيِّ، عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْوِتْرُ حَقٌّ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ، فَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُوتِرَ بِخَمْسٍ فَلْيَفْعَلْ، وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُوتِرَ بِثَلَاثٍ فَلْيَفْعَلْ، وَمَنْ أَحَبَّ أَنْ يُوتِرَ بِوَاحِدَةٍ فَلْيَفْعَلْ".

حضرت ابو ایوب انصاری رضي الله عنه روایت کوی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: وتر مونځ په مسلمان باندې حق دې، چنانچه څوک چه پنځهٔ رکعته کول غواړی اودې لولی. او څوک چه درې رکعته کول غواړی نو اودې کړی. او څوک چه یو رکعت کول غواړی نو اودې کړی.''

د حنفیه د طرف نه د حدیث جواب:

دا حدیث په ظاهر کښې صریح دلیل دې، د ایتار برکعة د جواز دپاره، ددې جواب دادې، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائي، چه صحیح دا ده، چه دا حدیث موقوفا ثابت دې، مرفوعا ثابت نه دې، زهٔ وایم، چه هرکله دا خبره ده، نو بیا به مونږ د حدیث موقوف معارضه کوؤ بل حدیث موقوف سره، په مؤطا د امام محمد رحمه الله کښې دی: "عن ابن مسعود ما اجزات ركعة قط" ابن صلاح رحمه الله فرمائي چه دحضور (ﷺ) نه ایتار برکعة ثابت نه دې، دغه شان حديث النهي عن البتيراء مشهور دې، چه هغې لره حافظ ابن عبد البر رحمه الله د مؤطا په شرح التمهید کښې بسنده الى ابى سعيد الخدري مرفوعا ذکر کړې دې، او د دارقطني روایت دې، عن ابن مسعود رضي الله عنه مرفوعا وتر الليل ثلث كوتر النهار صلوة المغرب. (من البذل والمنهل)

[1]): صحيح مسلم/المسافرين ٢٠ (٧٤٩)، سنن النسائي/ قيام الليل ٣٢ (١٦٩٢)، (تحفة الأشراف:٧٢٦٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٤٠، ٥٨، ٧١، ٧٦، ٧٩، ٨١، ١٠٠) (صحيح)

[2]): سنن النسائي/قيام الليل ٣٤ (١٧١)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٢٣ (١١٩٠)، (تحفة الأشراف:٣٤٨٠)، وقد أخرجه: مسند احمد ٤١٨/٥، سنن الدارمي/الصلاة ٢١٠(١٦٢٦) (صحيح)

بَابُ مَا يُقْرَأُ فِي الْوِتْرِ

باب: ٤- په مونځ دَ وترو کښې قرائت

[١٤٢٣]()حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو حَفْصٍ الْأَبَّارُ. ح وحَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَنَسٍ وَهَذَا لَفْظُهُ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ طَلْحَةَ، وَزُبَيْدٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبْزَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوتِرُ بِسَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى وَقُلْ لِلَّذِينَ كَفَرُوا وَاللَّهُ الْوَاحِدُ الصَّمَدُ".

حضرت ابی ابن کعب بیان کوی چه رسول الله ﷺ به دَ وترو په مونځ کښې { سبح اسم ربک الاعلیٰ او قل یا ایها الکفرون او قل هو الله احد } تلاوت فرمائیل.

[١٤٢٤]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي شُعَيْبٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، حَدَّثَنَا خُصَيْفٌ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ جُرَيْجٍ، قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ: بِأَيِّ شَيْءٍ كَانَ يُوتِرُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَذَكَرَ مَعْنَاهُ، قَالَ: "وَفِي الثَّالِثَةِ بِقُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ وَالْمُعَوِّذَتَيْنِ".

عبد العزیز بن جریر وائی چه ما دَ ام المؤمنین حضرت عائشې رضی الله عنها نه تپوس اوکړو چه رسول الله ﷺ به په وترو کښې څۀ لوستل؟ نو دَ مذکوره بالا حدیث هم معنیٰ ئې روایت کړو : " په دریم رکعت کښې به ئې { قل هو الله احد } او " معوذتین " (سورۀ فلق، او سورۀ الناس) تلاوت کول.

قوله:عن عبد العزیز بن جریج قال سالت عائشة ام المؤمنین رضی الله عنها بای شئ کان یوتر رسول الله (صلی الله علیه وسلم)............قال و فی الثالثة بقل هو الله احد والمعوذتین.

په حدیث الباب باندې کلام:

دا حدیث عائشه رضی الله عنها دې، ددې نه مخکښې د ابی بن کعب رضی الله عنه په حدیث کښې قل هو الله احد سره معوذتین مذکور نه دی، دا حدیث ضعیف دې، ځکه چه د عبدالعزیز بن جریج سماع د عائشه رضی الله عنها نه ثابت نه ده، او په دې روایت کښې اګرچه سالت عائشة رضی الله عنها موجود دې (چه په سماع باندې دلالت کوی) لیکن وئیلې شوې دی، چه د سماع تصریح خطاء ده دخصیف راوی د طرف نه، او دا د عادت نه خلاف هم ده، دې سره به لازم راشی، چه آخری رکعت د ړومبو آیتونو نه اورد شی، لیکن په الکوکب الدری کښې ئې لیکلې دی، چه هیڅ خرج نشته، په تطوعات کښې (ومنها الوتر) هره شفعه مستقل مونځ وی.

صاحب المنهل لیکلې دی، چه د معوذتین زیاتوالې د ډیرو روایاتو نه ثابت دې، محمد بن نصر هم په قیام اللیل کښې ددې روایت تخریج کړې دې، او د شافعیه او مالکیه په نزد هم رکعات وتر کښې ددې ټولو سورتونو لوستل سنت دی، او حنفیه او حنابله د معوذتینو د زیاتوالې قائل نه دی [1] اهـ

[1]): سنن النسائي/قيام الليل ٣٤ (١٧٠٠، ١٧٠١، ١٧٠٢)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١١٥ (١١٧٢)، (تحفة الأشراف:٥٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٢٣/٥) (صحيح)

[2]): سنن الترمذي/الصلاة ٢٢٣ (الوتر ٩) (٤٦٣)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١١٥ (١١٧٣)، (تحفة الأشراف:١٦٣٠٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٢٧/٦) (صحيح)

په صلوة الوتر کښې کوم کوم سورتونه لوستل منقول دی:

بعضې روایاتو کښې ددې سورتونو نه علاوه نور سورتونه هم مروی دی، لکه د محمد بن نصر په روایت کښې دی، حضرت علی رضي الله عنه فرمائي چه حضور ﷺ به وترو کښې نهه سورتونه لوستل، فی الاول الهکم التکاثر، وانا انزلناه فی لیلة القدر، و اذا زلزلت الارض و فی الثانية والعصر، واذا جاء نصر الله، والفتح وانا اعطيناک الکوثر، وفی الثالثة قل یاایها الکفرون و تبت یدا ابی لهب و قل هو الله احد، او د سعید بن جبیر رحمه الله باره کښې روایت دې، چه هغوی به اول رکعت کښې خاتمة البقرة، او په دویم رکعت کښې انا انزلناه فی لیلة القدر او کله کله قل یاایها الکفرون او په دریم رکعت کښې قل هو الله احد لوستلو، او ابی بن کعب رضي الله عنه لره حضرت عمر رضي الله عنه د تراویح امام جوړ کړو، نو هغه به اول رکعت کښې انا انزلناه فی لیلة القدر، او په دویم رکعت کښې قل یاایها الکفرون، او په دریم رکعت کښې قل هو الله احد لوستلو.(من المنهل) او په ترمذی (ج ۲ ص ۱۱۸) کښې دی، چه حضرت عثمان رضي الله عنه به د وترو په یو رکعت کښې یو قرآن مجید ختمولو.

بَابُ الْقُنُوتِ فِي الْوِتْرِ

باب: ۵- په مونځ د وترو کښې دعائي قنوت لوستل

د قنوت یوه معنی (ددې د ټولو معنو نه) دعاء هم ده، او دلته کښې ددې نه دعاء فی محل مخصوص مراد ده. (منهل)

[۱۴۲۵](¹)حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، وَأَحْمَدُ بْنُ جَوَّاسٍ الْحَنَفِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ بُرَيْدِ بْنِ أَبِي مَرْيَمَ، عَنْ أَبِي الْحَوْرَاءِ، قَالَ: قَالَ الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: عَلَّمَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَلِمَاتٍ أَقُولُهُنَّ فِي الْوِتْرِ، قَالَ ابْنُ جَوَّاسٍ: فِي قُنُوتِ الْوِتْرِ، "اللَّهُمَّ اهْدِنِي فِيمَنْ هَدَيْتَ، وَعَافِنِي فِيمَنْ عَافَيْتَ، وَتَوَلَّنِي فِيمَنْ تَوَلَّيْتَ، وَبَارِكْ لِي فِيمَا أَعْطَيْتَ، وَقِنِي شَرَّ مَا قَضَيْتَ إِنَّكَ تَقْضِي وَلَا يُقْضَى عَلَيْكَ، وَإِنَّهُ لَا يَذِلُّ مَنْ وَالَيْتَ، وَلَا يَعِزُّ مَنْ عَادَيْتَ، تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَيْتَ".

ابو اسحاق د برید ه بن ابی مریم نه، هغوی د ابو الحوراء نه روایت کوی چه حضرت حسن بن علی رضي الله عنه فرمائیلي دی چه رسول الله ﷺ ماته څوکلمات تعلیم اوفرمائیل چه دې لره په وترو کښې لوله. د (استاذ) ابن جواس لفظ دې: زهٔ هغې کلماتو لره د وترو په قنوت کښې لولم او هغه کلمات دادی{اللَّهُمَّ اهْدِنِي فِيمَنْ هَدَيْتَ، وَعَافِنِي فِيمَنْ عَافَيْتَ، وَتَوَلَّنِي فِيمَنْ تَوَلَّيْتَ، وَبَارِكْ لِي فِيمَا أَعْطَيْتَ، وَقِنِي شَرَّ مَا قَضَيْتَ إِنَّكَ تَقْضِي وَلَا يُقْضَى عَلَيْكَ، وَإِنَّهُ لَا يَذِلُّ مَنْ وَالَيْتَ، وَلَا يَعِزُّ مَنْ عَادَيْتَ، تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَيْتَ} اې الله کومو خلقو ته چه تا هدایت کړې دې د هغوی سره ماته هم هدایت اوکړې او د کومو چه تا عافیت فرمائیلې دې د هغوی سره ما ته هم عافیت اوفرمائې (یعنی د هر قسم بدو او پریشانونه) او د چا چه ته ئې والی (دوست او محافظ) جوړ شوې ئې د هغوی سره زما هم والی جوړ شې. او کوم نعمتونه چه تا عنایت

(¹): سنن الترمذي/الصلاة ٢٢٤ (الوتر ٩) (٤٦٤)، سنن النسائي/قيام الليل ٤٢ (١٧٤٦)، سنن ابن ماجه/اقامة الصلاة ١١٧ (١١٧٨)، (تحفة الأشراف:٣٤٠٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/١٩٩، ٢٠٠)، سنن الدارمي/الصلاة ٢١٤ (١٦٣٢) (صحيح)

فرمائیلي دی په هغې کښې ماته برکت واچوې . او کومې فیصلې چه تا کړې دی دَ هغې دَ شر نه مالره محفوظ اوساتې، بې شکه فیصلې هم تهٔ کوې، ستا خلاف هیڅ فیصله نهٔ وی .
او دَ چاچه تهٔ محافظ او والی ئې هغه هیڅ کله ذلیل نهٔ شی کیدې، او دَ چا چه تهٔ مخالف ئې هغه عزت بیا نهٔ شی موندلې، دَ ډیر برکتونو او عظمتونو والا ئې اې زمونږه ربه ! او ډیر بلند و بالا ئې .

تشریح: قوله:حدثنا قتیبة بن سعید نا ابو الاحوص عن ابی اسحق عن برید بن ابی مریم عن ابی الحوراء قال قال الحسن بن علی علمنی رسول الله (صلی الله علیه وسلم) کلمات اقولهن فی الوتر اللهم اهدنی فیمن هدیت الخ:

د قنوت باره کښې مصنف دوه بابونه قائم کړې دی، یو قنوت فی الوتر، او بل یو څو بابه مخکښې قنوت فی الصلوات یعنی فی الفرائض.

ددې نه پس پوهه شئ، چه د قنوت دوه قسمه دی، یو قنوت دائمی (چه ټول کال لوستلې کیږی) او یو قنوت نازله (چه صرف د حوادثو په وخت کښې لوستلې کیږی) د ثانی تعلق یعنی دهغې محل فرائض (فرض مونځونه) دی، لهذا هغه باب چه مخکښې راروان دې، هغه خو د قنوت نازله شو، او دا باب چه دلته کښې مذکور دې، دا دهغې د مقابل یعنی قنوت دائمی دې.

بیا په دې کښې اختلاف دې، چه د قنوت دائمی محل کوم دې، آیا وتر دې، یا صلوة الفجر دې. ددې نه پس پوهه شئ، چه په قنوت کښې پنځه مسائل اختلافی دی، (۱) قنوت په وترو کښې مشروع دې او که نه (۲) په صلوة الفجر کښې مشروع دې او که نه (۳) قبل الرکوع دې او که بعد الرکوع (۴) د قنوت دپاره کومه دعا مختار عند الائمة ده (۵) قنوت نازله په ټولو مونځونو کښې مشروع دې، او که صرف په صلوة الفجر کښې،

(مزید دوه بحثونه)

او دوه بحثونه نور دی، (۱) د قنوت فی الوتر دلائل (۲) د قنوت فی الفجر (دائما) دلائل.

بحث اول: (قنوت فی الوتر مشروع دې که نه؟)

حنفیه او حنابله ټول کال د قنوت فی الوتر قائل دی، او شافعیه د قنوت فی الوتر قائل صرف د رمضان په آخری نصف کښې دی، وهی روایة عن مالک و عنه التخییر فی القنوت وترکه.

بحث ثانی: (په صلوة الفجر کښې مشروع دې که نه؟)

د امام شافعی رحمه الله او امام مالک رحمه الله په نزد قنوت فی الفجر ټول کال مشروع او سنت دی.

بحث ثالث: (قنوت قبل الرکوع دې یا بعد الرکوع؟)

عند الشافعی رحمه الله واحمد بعد الرکوع مطلقا و عند مالک قبل الرکوع مطلقا وعندنا الحنفیه الفرق بین قنوت الوتر و قنوت النازلة فالاول قبل الرکوع والثانی بعده.

بحث رابع : (قنوت دپاره غوره دعا)

د حنفیه او مالکیه په نزد په دعاء قنوت کښې اولی سورة الخلع و سورة الحفد دې، اللهم انا

نستعینک و نستغفرک و نؤمن بک و نتوکل علیک و نثنی علیک الخیر ونشکرک ولا نکفرک و نخلع و نترک من یفجرک (دا سورة الخلع دي) اللهم ایا نعبد و لک نصلی الخ (دا سورة الحفد دي) او یو روایت د امام مالک رحمه الله نه دادي، چه دواړو دعاګانو لره به جمع کولې شی، او زمونږ په نزد هم یو قول داسې دې، چه دواړو لره جمع کول بهتر دی، او د شافعیه او حنابله په نزد مختار او راجح اللهم اهدنی فیمن هدیت الخ دې، چه په حدیث الباب کښې ذکر دې، او دا حدیث د سنن اربعه او د مسند احمد حدیث دې،[1] او د شافعیه او حنابله دپاره دلیل دې، او د حنفیه دپاره دلیل ترجیح په دعاء کښې د مراسیل ابی داؤد روایت مرسله دې، د خالد بن ابی عمران (تابعی) نه روایت دې، چه د نبی کریم (ﷺ) په خدمت کښې حضرت جبرئیل (ع) تشریف راؤړو، وعلمه القنوت اللهم انا نستعینک الخ، او ابن ابی شیبه هم دا روایت کړې دې، موقوفا علی ابن مسعود او ابن السنی موقوفا علی ابن عمر رضی الله عنه، او درمنثور کښې د محمد بن نصر او طحاوی په حوالې سره د ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دې، چه عمر بن الخطاب رضی الله عنه به قنوت کښې دادوه سورتونه لوستل، اللهم انا نستعینک الخ،

فائده: علامه سیوطی رحمه الله د درمنثور په آخر کښې د سورة الناس نه پس یوه سرخی قائمه کړې ده، ذکر ما ورد فی سورة الخلع و سورة الحفد، او بیا دهغې په ذیل کښې ئې ثابت کړې دی، چه دبعضې صحابه کرامو لکه حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه او ابوموسی اشعری رضی الله عنه وغیره په مصحف کښې د سورة الناس نه پس دا دوه سورتونه هم موندلې شی، بسم الله الرحمن الرحیم، اللهم انا نستعینک الی قوله من یفجرک، بسم الله الرحمن الرحیم اللهم ایا نعبد و لک نصلی الخ، لیکن هغوی په دې باندې خپله څه تبصره یا شروع کښې څه تمهید بیان کړې نه دې، په ظاهر کښې دا دوه سورتونه د قراآت شاذه غیر متواتره د قبیلې نه دی، ددې وجې نه صرف په بعضو مصاحفو کښې دی، مصحف عثمانی چه متواتر او اجماعی دې، په هغې کښې نشته.

بحث خامس: (ایا قنوت نازله په ټولو مونځونو کښې مشروع ده؟)

قنوت نازله د امام شافعی رحمه الله په نزد په ټولو مونځونو کښې مشروع دې، او د حنفیه په نزد په دې کښې درې اقوال دی، فی جمیع الصلوات، فی الصلوة الجهریة، فی صلوة الفجر فقط، والراجح هو الاخیر، او ابن قدامه حنبلی رحمه الله هم دې ته ترجیح ورکړې ده، لیکن د الروض المربع فی فقه الحنابله نه معلومیږي، چه د شافعیه پشان دهغوی په نزد هم ټولو مونځونو کښې مشروع دې.

الحمد لله مباحث خمسه سر ته اورسیدل، اوس آخری دوه خبرې باقی پاتې شوې، د قنوت فی الوتر او د قنوت فی الفجر د ثبوت دلائل،

---

[1] واخرجه ایضا ابن خزیمة وابن حبان والحاکم والدارقطني والبیهقي من طریق یزید عن ابي الحوراء، ورواه البیهقي ایضا من طریق موسي بن عقبة عن عبدالله بن علي عن الحسن وزاد بعد قوله تبارکت وتعالیت وصلي الهل علي النبي محمد قال النووي في شرح المهذب انها زیادة بسند صحیح او حسن، رواه الحافظ في التلخیص بانه منقطع فان عبدالله بن علي لم یلق الحسن بن علي رضي الله عنه.

بحث سادس: (قنوت فی الوتر)

قنوت فی الوتر چه دهغې حنفیه او حنابله قائل دی، دهغې باب او دهغې احادیث په سنن اربعه کښې ملاویږی.

د قنوت فی الوتر باره کښې د محدثینو طرز عمل:

او امام نسائی د قنوت فی الوتر په ځائې ترجمة الباب الدعاء فی الوتر قائم کړې دې، او په هغې کښې ئې هم دا دوه احادیث، کوم چه په سنن ابی داؤد کښې دی، یعنی د حسن بن علی رضی الله عنه او د علی رضی الله عنه احادیث ذکر کړې دی، او هغوی په دې دواړو احادیثو څه نقد هم نه دې کړې، ددې نه علاوه امام نسائی په دویم مقام کښې د ابی بن کعب حدیث هم ذکر کړې دې، چه په هغې کښې قنوت فی الوتر مذکور دې، لیکن په هغې کښې هغوی د راویانو اختلاف ثابت کړې دې، دهغې په دریو طریقو کښې صرف یو طریق کښې قنوت فی الوتر مذکور دې، باقی په دواؤ کښې نشته، او امام ترمذی رحمه الله د قنوت فی الوتر باب قائمولو سره په هغې کښې هغوی هم دا حدیث الباب یعنی د حسن بن علی رضی الله عنه حدیث ذکر کړې دې، او په دې باندې ئې د حسن حکم لګولې دې، او فرمائیلې دی، ولا نعرف عن النبی (صلی الله علیه وسلم) فی القنوت شیئا احسن من هذا، او زمونږ امام ابوداؤد د قنوت فی الوتر په باب کښې درې احادیث ذکر کړې دی، د حسن بن علی رضی الله عنه حدیث او دویم د علی رضی الله عنه حدیث، په دې دواړو باندې ئې هیڅ نقد نه دې کړې، او دریم حدیث د ابی بن کعب رضی الله عنه ئې ذکر کړې دې، په دې کښې هغوی د راویانو اختلاف او اضطراب ثابت کړې دې، او دې ته ئې غیر ثابت او ضعیف وئیلې دی، او امام بیهقی په السنن الکبری کښې د امام ابوداؤد کلام او دهغوی رائې نقل کولو سره دهغوی تائید کړې دې، لیکن علامه ابن الترکمانی په الجوهر النقی کښې د امام ابوداؤد د رائې تعقب کړې دې، او حدیث دابی لره ئې ثابت کړې دې.

دا خبره دې واضحه وی، چه په صحیحینو (بخاری او مسلم) کښې د قنوت فی الوتر هیڅ حدیث نشته، او کیدې هم نشی، ځکه چه امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمائې (کما حکی عنه الحافظ ابن القیم) لم یصح عن النبی (صلی الله علیه وسلم) فی قنوت الوتر قبل الرکوع و بعده شئ، (منهل) لیکن امام بخاری رحمه الله په ابواب الوتر کښې باب القنوت مطلقا قائم کړې دې، چه په هغې کښې د فی الوتر یا فی الفجر هیڅ قیدنه دې لګولې،په هغې باندې دبعضو شارحینو رائې داده، چه د امام بخاری رحمه الله میلان د قنوت فی الوتر مشروعیت طرف ته دې،

ددې برعکس په صحیح بخاری کښې اګر چه د قنوت فی الفجر حدیث موجود دې، لیکن هغوی په قنوت فی الفجر باندې هیڅ باب نه دې قائم کړې، زمونږ د حضرت شیخ رائې داده، چه امام بخاری رحمه الله د قنوت فی الفجر (دائما) قائل نه دې.

بحث سابع: (قنوت فی الفجر)

قنوت فی الفجر یعنی دائما، چه دهغې شافعیه او مالکیه قائل دی، دهغې په ثبوت او دلائلو باندې کلام به مونږ انشاء الله تعالی د باب القنوت فی الصلوات دلاندې کښې کوؤ، والله الموفق.

[١٤٢٦] (١) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرٌ، حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاقَ، بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ، قَالَ فِي آخِرِهِ، قَالَ: هَذَا يَقُولُ فِي الْوِتْرِ فِي الْقُنُوتِ، وَلَمْ يَذْكُرْ أَقُولُهُنَّ فِي الْوِتْرِ أَبُو الْحَوْرَاءِ رَبِيعَةُ بْنُ شَيْبَانَ.

ابو اسحاق په خپل سند سره د مذکوره بالا حدیث هم معنی بیان کړې دې . ددې روایت په آخر کښې دی چه دې لره به ئې د وترو په قنوت کښې لوستلو او دا جمله ئې نهٔ ده وئیلی چه زهٔ دې لره په وترو کښې لولم .

قوله: حدثنا عبدالله بن محمد النفیلی نا زهیر نا ابواسحاق باسناده و معناه:

شرح السند:

په اول سند کښې د ابواسحاق شاګرد ابوالاحوص دې، او دلته کښې زهیر دې.
زهیر دې حدیث لره د ابواسحاق نه روایت کوی د ابواسحاق سند سابق سره او هم هغې مضمون سره، لیکن په دواړو روایتونو کښې فرق دې، چه هغې لره مصنف مخکښې بیانوی، هغه دا چه د ابوالاحوص روایت کښې اقولهن فی الوتر خپله د حسن بن علی قول دې، او د زهیر په روایت کښې دادی، ابوالحوراء وائی، چه دې کلمات لره به حسن بن علی په وترو کښې لوستل، په دې صورت کښې به دا مقوله د ابوالحوراء وی، بیا په دې کښې دوه احتماله دی، یو دا چه هغه به دا کلمات په وترو کښې د حضور (ﷺ) دحکم مطابق لوستل، او دویم احتمال دا چه هغه به په خپله رائې سره دا کلمات په وترو کښې لوستل، او د ابوالاحوص د روایت د ظاهر نه دا معلومیږی، چه حضور (ﷺ) هغه ته دا کلمات په وترو کښې دلوستلو دپاره ښودلې وو، بهرحال حضرت حسن رضی الله عنه به دا دعاء په وترو کښې لوستله، دا خبره خو متعینه ده، لیکن پاتې شوه دا خبره چه حضور (ﷺ) ورته په وترو کښې د لوستلو فرمائیلې وو، دا خبره یقینی نه ده، (وهذا بحمد الله غاية توضيح و تحقيق لهذا المقام اخذته من كلام صاحب المنهل.

[١٤٢٧] (٢) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عَمْرٍو الْفَزَارِيِّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ فِي آخِرِ وِتْرِهِ: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ، وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ لَا أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: هِشَامٌ أَقْدَمُ شَيْخٍ لِحَمَّادٍ، وَبَلَغَنِي عَنْ يَحْيَى بْنِ مَعِينٍ، أَنَّهُ قَالَ: لَمْ يَرْوِ عَنْهُ غَيْرُ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ. قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَى عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبْزَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "قَنَتَ، يَعْنِي فِي الْوِتْرِ، قَبْلَ الرُّكُوعِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رَوَى عِيسَى بْنُ يُونُسَ هَذَا الْحَدِيثَ أَيْضًا، عَنْ فِطْرِ بْنِ خَلِيفَةَ، عَنْ زُبَيْدٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبْزَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مِثْلَهُ، وَرُوِيَ عَنْ حَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ، عَنْ مِسْعَرٍ، عَنْ زُبَيْدٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبْزَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "قَنَتَ فِي الْوِتْرِ قَبْلَ الرُّكُوعِ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَحَدِيثُ سَعِيدٍ عَنْ قَتَادَةَ. رَوَاهُ يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ

---

[1]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٣٤٠٤) (صحيح).

[2]: تخريج: سنن الترمذي/الدعوات ١١٣ (٣٥٦٦)، سنن النسائي/قيام الليل ٤٢ (١٧٤٨)، سنن النسائي/قيام الليل ٤١ (١٧٣٩) سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١١٧ (١١٧٩)، (تحفة الأشراف: ١٠٢٠٧)، وقد أخرجه: حم (١/٩٦، ١١٨، ١٥٠) (صحيح)

قَتَادَةَ، عَنْ عَزْرَةَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبْزَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، لَمْ يَذْكُرِ الْقُنُوتَ، وَلَا ذَكَرَ أُبَيًّا، وَكَذَلِكَ رَوَاهُ عَبْدُ الْأَعْلَى، وَمُحَمَّدُ بْنُ بِشْرٍ الْعَبْدِيُّ، وَسَمَاعُهُ بِالْكُوفَةِ مَعَ عِيسَى بْنِ يُونُسَ، وَلَمْ يَذْكُرُوا الْقُنُوتَ، وَقَدْ رَوَاهُ أَيْضًا هِشَامٌ الدَّسْتُوَائِيُّ، وَشُعْبَةُ، عَنْ قَتَادَةَ، وَلَمْ يَذْكُرَا الْقُنُوتَ، وَحَدِيثُ زُبَيْدٍ. رَوَاهُ وَشُعْبَةُ، وَعَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ أَبِي سُلَيْمَانَ، وَجَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ كُلُّهُمْ، سُلَيْمَانُ الْأَعْمَشُ، عَنْ زُبَيْدٍ، لَمْ يَذْكُرْ أَحَدٌ مِنْهُمُ الْقُنُوتَ، إِلَّا مَا رُوِيَ عَنْ حَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ، عَنْ مِسْعَرٍ، عَنْ زُبَيْدٍ، فَإِنَّهُ قَالَ فِي حَدِيثِهِ "إِنَّهُ قَنَتَ قَبْلَ الرُّكُوعِ". قَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَلَيْسَ هُوَ بِالْمَشْهُورِ مِنْ حَدِيثِ حَفْصٍ نَخَافُ أَنْ يَكُونَ عَنْ حَفْصٍ، عَنْ غَيْرِ مِسْعَرٍ. قَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَيُرْوَى أَنَّ أُبَيًّا كَانَ يَقْنُتُ فِي النِّصْفِ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ.

د حضرت علی ابن ابی طالب رضی الله عنه نه منقول دی چه رسول الله ﷺ به د خپلو وترو په اخر کښې دا لوستل : [(اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ، وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْكَ لَا أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ)] اې الله ؛ زۀ پناه غواړم ستا په رضاء سره ستا د ناراضتیا نه، او ستا په عفو او درګزر سره پناه غواړم ستا د عقوبت او عذاب نه، او زۀ ستا نه (یعنی ستا د غیظ او غضب نه) پناه غواړم، زۀ ستا تعریفونه نۀ شم شمیرلې . تۀ هم داسې ئې لکه څنګه چه تا د خپل ځان په خپله صفات بیان کړې دی . امام ابوداود رحمه الله فرمائی : چه هشام د حماد قدیم ترین استاذ دې . او د یحیی بن معین نه روایت دې چه ددۀ (هشام) نه، سوا د حماد بن سلمه نه بل چا روایت نۀ دې کړې . امام ابوداود رحمه الله فرمائی چه عیسی بن یونس د سعید بن ابی عروبه نه، هغوی د قتاده نه، هغوی د سعید بن عبد الرحمن بن ابزیٰ نه، هغوی د خپل پلار نه، هغوی د ابی ابن کعب رضی الله عنه نه روایت کړې دې چه رسول الله ﷺ د رکوع نه مخکښې قنوت اولوستل، یعنی په وترو کښې امام ابوداود رحمه الله فرمائی : عیسیٰ بن یونس دې حدیث لره هم د فطر بن خلیفه نه، هغوی د زبید نه، هغوی د سعید بن عبد الرحمن بن ابزیٰ نه، هغوی د خپل پلار نه او هغوی د حضرت ابی ابن کعب رضی الله عنه نه، هغوی د نبی کریم ﷺ نه د مذکوره بالا هم مثل روایت کړې دې . د ابو حفص بن غیاث نه مروی دی، هغه د مسعر نه هغه د زبید نه، هغۀ د سعید بن عبد الرحمن بن ابزیٰ نه هغه د خپل پلار نه، هغوی د حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه نه روایت کوی چه رسول الله ﷺ په وترو کښې د رکوع نه مخکښې قنوت اولوستل . امام ابوداود رحمه الله فرمائی چه د سعید بن ابی عروبه (مذکوره بالا روایت) کوم چه هغوی د قتاده رضی الله عنه نه روایت کړې دې هغې لره سعید بن زریع د سعید نه، هغوی د قتاده نه، هغوی د عزره نه، هغوی د سعید بن عبد الرحمن بن ابزیٰ نه، هغوی د خپل پلار نه، هغوی د نبی کریم ﷺ نه روایت کړې دې، مګر په دې کښې ئې نۀ د قنوت ذکر کړې دې او نۀ د ابی بن کعب رضی الله عنه، (یعنی مرسل دې .) امام ابوداود رحمه الله فرمائی چه دې لره عبد الاعلیٰ او محمد بن بشر عبدی هم داسې روایت کړې دې . او د دوی (محمد بن بشر) سماع د عیسیٰ بن یونس سره په کوفه کښې ثابت ده، هغوی د قنوت ذکر نۀ دې کړې او دې لره هشام دستوائی او شعبه هم د قتاده نه روایت کړې دې او دې دواړو د قنوت ذکر نۀ دې کړې . امام ابوداود رحمه الله فرمائی : چه حدیث د زبید لره سلیمان اعمش، شعبه، عبد الملک بن ابی سلیمان او جریر بن حازم دې ټولو د زبید نه روایت کړې

دي، مګر په دوی کښې چا هم د قنوت ذکر نۀ دې کړې سوا د حفص بن غیاث نه چه دې لره ئې په واسطه د مسعر، د زبید نه روایت کړې دې چه " حضور ﷺ د رکوع نه مخکښې قنوت اولوستل ." امام ابوداود رحمه الله فرمائی چه د حفص دا حدیث مشهور نۀ دې، اندیښنه ده چه دا د مسعر نه علاوه د چا بل چا نه روایت وی . امام ابوداود رحمه الله فرمائی روایت کړې شوې دې چه حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه به په نصف رمضان کښې قنوت لوستل.

تشریح: قوله:عن علی ان رسول الله (صلی الله علیه وسلّم) کان یقول فی آخر وتره:

دا دباب دویم حدیث دې، د آخروتر په مطلب کښې څو احتمالات دی، (١) په آخری رکعت کښې د تشهدنه پس (٢) په حالت قیام کښې د قرأت نه پس او د رکوع نه مخکښې دعاء قنوت سره، یا صرف هم دا دعاء (٣) وتر نه فارغ کیدلو نه پس د سلام نه روستو، لکه چه په بعضو روایاتو کښې ددې تصریح هم شته، لهذا هم دا مطلب راجح دې.

قال ابوداؤد روی عیسی بن یونس عن سعید بن ابی عروبة عن قتادة.

حدیث ابی بن کعب رضی الله عنه تعلیقا:

په دې ځائې کښې مصنف یو دریم حدیث ذکر کوی، (حدیث د ابی بن کعب رضی الله عنه) لیکن تعلیقا، ځکه چه عیسی بن یونس د مصنف استاذ نه دې، بلکه استاذ الاستاذ دې، او دې دریم حدیث لره مصنف ځکه ذکر کوی، چه په دې کښې یوه نوې خبره ذکر ده، چه په اول دواؤ احادیثو کښې نه وه، یعنی محل دقنوت، نو په دې روایت کښې دی، ان رسول الله (صلی الله علیه وسلم) قنت فی الوتر قبل الرکوع.

په حدیث دابی رضی الله عنه باندې د مصنف نقد:

لیکن د مصنف تحقیق دادې، چه د ابی بن کعب په دې حدیث کښې د قنت فی الوتر زیاتوالې ثابت نه دې، بلکه ددې حدیث صرف دومره حصه ثابت ده، چه حضور (ﷺ) به د وترو درې رکعته ادا کول، په اول رکعت کښې به ئې سبح اسم ربک الاعلی، او په دویم کښې به ئې قل یاایها الکفرون او په دریم کښې به قل هو الله احد لوستلو، لکه چه په نورو کتابونو د حدیث (نسائی وغیره) کښې دا مضمون ذکر دې.

دا خو یقین سره نشی وئیلې کیدې،(١) چه مصنف د قنوت فی الوتر بالکل قائل نه دې، ځکه چه مصنف حنبلی دې، او د امام احمد رحمه الله نه منقول دی، چه د قنوت فی الوتر په سلسله کښې هیڅ حدیث ثابت نه دې، لیکن ددې باوجود هغوی د قنوت فی الوتر قائل دی، ځکه چه حضرت عمر رضی الله عنه به ټول کال په وترو کښې قنوت لوستلو، (هکذا حکی عن احمد بن حنبل رحمه الله) دغه شان د باب په شروع کښې مصنف د حسن بن علی رضی الله عنه حدیث ذکر کړې دې، چه دهغې نه قنوت فی الوتر ثابتیږی، دغه شان د دویم حدیث یعنی د علی رضی الله عنه

---

(١) د دې د لیکلو ضرورت په دې وجه پیښ شو چه په شروع کښې بنده هم دا خیال کوی چه مصنف هم د قنوت فی الوتر د نورو ائمه کرامو په شان قائل نه دې ځکه چه مصنف د ابن ابی کعب دا حدیث چه پکښې د قنوت فی الوتر تصریح ده ډیر په قوت او شدت سره رد کړې دې، بیا ئې وړاندې هم دغه شان رد کړې دې. فقط والله اعلم

حدیث نه هم ثابتیږي، غرض دا چه د مصنف رحمه الله قنوت فی الوتر قائل کیدو دا معنی نه ده، چه هغه ددې سلسلې ټول احادیث صحیح مني.

د الاضطراب الواقع فی السند تشریح:

په دې حدیث کښې مصنف د راویانو اختلاف او اضطراب ثابتوی، ددې ټول اختلاف او اضطراب حاصل کوم چه مصنف بیان کړې دې، دادې، چه ددې حدیث مدار په سعید بن عبدالرحمن باندې دې، او بیا دهغه نه روایت کونکې دوه دی، قتاده او زبید، د هر یو ډیر شاګردان دی، او هغه شاګردان په خپلو کښې مختلف دی، او هغه اختلاف دادې، چه بعضې راویان په دې حدیث کښې قنوت لره ذکر کوی، او بعضې نه ذکر کوی، او بعضو په دې کښې ابی لره هم ذکر کړې نه دې، او حدیث لره ئې مرسلا روایت کړې دې.

اولا قتاده لره واخلئ، سعید بن ابی عروبه د قتاده نه په دې حدیث کښې د قنوت فی الوتر قبل الرکوع ذکر کړې دې، هشام دستوائی او شعبه د قتاده نه په دې حدیث کښې قنوت ذکر کړې نه دې، بیا د ابن عروبه تلامذه هم په خپلو کښې دهغه نه روایت کولو کښې متفق نه دی، صرف عیسی بن یونس دهغه نه په دې کښې قنوت ذکر کړې دې، یزید بن زریع او عبدالاعلی او محمد بن بشر، دا درې واړه د ابن عروبه نه قنوت نه ذکر کوی.(۱)

ددې نه پس اوس د زبید روایت واخلئ، مصنف فرمائي و حدیث زبید رواه سلیمان الاعمش و شعبة الخ، چه د زبید اکثر تلامذه دهغه نه په دې حدیث کښې قنوت فی الوتر نه ذکر کوی، او هغه اکثر دادی، اعمش، شعبه عبد الملک، جریر بن حازم، بلکه صرف مسعر د زبید نه قنوت ذکر کړې دې،(۲) او د مسعر نه روایت کونکې حفص بن غیاث دې، (او په هغې کښې هم دا اشکال دې، چه د مسعر نه چه د حفص کوم مشهور روایت دې، هغه داسې نه دې) لهذا کیدې شی، چه د حفص دا روایت (په کوم کښې چه قنوت مذکور دې) دمسعر نه علاوه دبل چانه روایت وی.

تشریح: قوله: قال ابوداؤد و یروی ان ابیا رضي الله عنه کان یقنت فی النصف من شهر رمضان:

دا تعلیق دې، ددې وصل مخکښې خپله مصنف بیانوی، د مصنف غرض ددې په نقل کولو سره دادې، چه په حدیث دابی کښې ذکر دقنوت ثابت نه دې، ځکه چه که هغه ثابت وې، لکه چه بعضې راویانو دې لره ذکر کړې دې، نو بیا حضرت ابی دهغې خلاف څنګه کول.

[۱٤۲۸](۳) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَكْرٍ، أَخْبَرَنَا هِشَامٌ، عَنْ مُحَمَّدٍ، عَنْ بَعْضِ أَصْحَابِهِ، أَنَّ أُبَيَّ بْنَ كَعْبٍ أَمَّهُمْ، يَعْنِي فِي رَمَضَانَ، وَكَانَ يَقْنُتُ فِي النِّصْفِ الآخِرِ مِنْ رَمَضَانَ.

محمد بن سیرین د بعضِ خپلو اصحابو نه روایت کوی چه حضرت ابی بن کعب رضي الله عنه د

---

(۱) په دې باندې ابن الترکمانی(رح) فرمائي چه عیسی بن یونس انتهائي ثقه راوی دې او د ثقه زیادة معتبر دې او د عیسی شاهد هم موجود دی د نسائی په روایت کښې. ۱۲

(۲) په دې باندې ابن الترکمانی اعتراض کړې دې چه تعجب دې چه مصنف اوس نزدې د فطر بن خلفیه روایت د زبید نه نقل کړې دې چه په هغې کښې د قنوت ذکر موجود دې. ۱۲

(۳): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف:۷۹) (ضعیف)

هغوی امامت اوکړو په رمضان کښې، اوهغه به د رمضان په نصف آخر کښې قنوت لوستل.

حدثنا احمد بن محمد بن حنبل: دا د تعليق سابق وصل دې، يعنى اول روايت مصنف بغير د سند نه بيان کړې دې، دلته کښې دهغې سند بيانوی، ليکن دا روايت ضعيف دې، ځکه چه ددې سند په راوی مجهول باندې مشتمل دې،

[١٤٢٩](١) حَدَّثَنَا شُجَاعُ بْنُ مَخْلَدٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا يُونُسُ بْنُ عُبَيْدٍ، عَنْ الْحَسَنِ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ جَمَعَ النَّاسَ عَلَى أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ فَكَانَ يُصَلِّي لَهُمْ عِشْرِينَ لَيْلَةً وَلَا يَقْنُتُ بِهِمْ إِلَّا فِي النِّصْفِ الْبَاقِي، فَإِذَا كَانَتِ الْعَشْرُ الْأَوَاخِرُ تَخَلَّفَ فَصَلَّى فِي بَيْتِهِ، فَكَانُوا يَقُولُونَ: أَبَقَ أُبَيٌّ. قَالَ أَبُو دَاوُدَ: وَهَذَا يَدُلُّ عَلَى أَنَّ الَّذِي ذُكِرَ فِي الْقُنُوتِ لَيْسَ بِشَيْءٍ، وَهَذَانِ الْحَدِيثَانِ يَدُلَّانِ عَلَى ضَعْفِ حَدِيثِ أُبَيٍّ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "قَنَتَ فِي الْوِتْرِ".

حضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه خلقو لره په حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه باندې راجمع کړل او هغوی ته به ئې شل رکعته مونځ لوسلتو او قنوت به ئې نۀ کول. مګر په نصف آخير کښې به ئې قنوت وئيل . او کله چه به آخری عشره راغله نو جمع ورکول به ئې پريخودل او په خپل کور کښې به ئې مونځ لوستلو نو خلقو به وئيل چه ابی اوتخښتيدو .امام ابوداود رحمه الله فرمائی چه دا دليل دې د قنوتو په باره کښې چه کوم څه ذکر شو دا صحيح نۀ دی او دا دواړه حديثونه کوم چه دابی نه مروی دی ددې حديث د ضعيف کيدو دليل دې چه نبی کريم صلی الله علیه وسلم به قنوت لوستل .

تشريح: قوله:حدثنا شجاع بن مخلد الخ:په دې روايت کښې داول روايت توضيح او تفصيل دې.

عن الحسن ان عمر بن الخطاب رضی الله عنه جمع الناس على ابى بن كعب فكان يصلى لهم عشرين ليلة:

د تراويح د رکعتونو باره کښې تير شوې دی، چه دلته د ابوداؤد په بعضو نسخو کښې د عشرين ليلة په ځائې عشرين رکعة دې، او دا هغه نسخه ده، کومه چه حضرت مولانا احمد على صاحب محدث سهارنپوری د حجاز نه نقل کولو سره دلته راوړې وه، او هم په دغه نسخه کښې هغوی مکه مکرمه کښې د حضرت شاه محمد اسحاق صاحب رحمه الله نه سبق وئيلې وو،

قوله:ولا يقنت بهم الا فى النصف الباقى:

حضرت ابی خلقو ته صرف شل ورځې تراويح ورکولې، او په شلو کښې به ئې صرف په نصف باقی (يعنى آخرى نيمه حصه) کښې وتر مع القنوت لوستۀ، او په نصف اول يعنى د رمضان د شروع نه تر پنځلسم تاريخ پورې قنوت فى الوتر نه لوستۀ، بلکه نصف باقى يعنى پنځلسو نه تر شلو پورې به ئې لوستۀ، (كذا فى المنهل) او حضرت په بذل کښې د شلو ورځو تنصيف کړې دې، يعنى لس ورځې (عشره اولى) کښې به ئې نه لوستۀ، او په نصف باقى يعنى عشره ثانيه کښې به ئې قنوت لوستۀ، او بيا به په دريمه عشره کښې به لاړو، تراويح به ئې هم په جمات کښې نه ورکولې.

قوله:قال ابوداؤد........ وهذان الحديثان يدلان على ضعف حديث ابى الخ:

د قنوت فى الوتر باره کښې د ابى بن کعب حديث لره حنفيه خو ثابت او صحيح منی، او دهغې نه په ټول کال کښې قنوت فى الوتر ثابتوی، ليکن مصنف رحمه الله ددې حديث د

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٠) (ضعيف)

تضعيف کوشش کوی، هغه داسې چه دا حديث ابی، چه مرفوع دې، که ثابت شی، نو بيا خپله ابی ددې خلاف عمل ولې کولو، ځکه د هغه عمل خو دادې، چه هغه به صرف د رمضان په نصف آخرکښې قنوت فی الوترلوستو ،لکه چه ددې دوارو احاديثونه ثابتيږی.

د مصنف په کلام باندې نقد:

د مصنف ددې دعوی تضعيف جواب حضرت په بذل کښې د علامه ابن الترکمانی نه دا نقل کړې دې، چه دا دواړه احاديث خپله ضعيف دی، بيا ددې په ذريعې سره د حديث ابی تضعيف څرنګه صحيح کيدې شی، ځکه چه د حديث اول په سند کښې يو راوی مجهول دې (عن بعض اصحابه) او د حديث ثانی په سند کښې انقطاع ده، ځکه چه د حسن بصری رحمه الله سماع د حضرت عمر رضي الله عنه نه ثابته نه ده.([1]) (والله تعالى اعلم)

دمصنف په کلام باندې نورهم نقد شته،چه په تيره شوې حاشيه کښې ښکاره کړې شوې دې.

بَابٌ فِي الدُّعَاءِ بَعْدَ الْوِتْرِ

باب: ٦-دَوترو نه پس دُعا

[١٤٣٠]([2]) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي عُبَيْدَةَ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ الْأَعْمَشِ، عَنْ طَلْحَةَ الْأَيَامِيِّ، عَنْ ذَرٍّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبْزَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَلَّمَ فِي الْوِتْرِ، قَالَ: "سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْقُدُّوسِ".

دحضرت ابی بن کعب رضي الله عنه بيان دې چه رسول الله ﷺ به کله د وترو نه سلام اړولو نو فرمائيل به ئې : (سُبْحَانَ الْمَلِکِ الْقُدُّوس) پاک دې هغه ذات کوم چه حاکم مطلق دې او په هر اعتبار سره پاک دې.

کان رسول الله (صلى الله عليه وسلم) اذا سلم فى الوتر قال سبحان الملک القدوس :

نبی کريم (ﷺ) به د وترو نه پس دا دعاء مذکوره لوستله، او په بعضو رواياتو کښې دادی، چه دې لره به نبی کريم (ﷺ) درې کرته لوستله، اول او دويم ځل په مزه، او دريم ځل به ئې آواز اوچت او اوږد کړو، او بعضې روايتونو کښې د کلمات مذکوره نه پس دا هم دی، رب الملئکة والروح، او په يو روايت کښې د الملک القدوس په ځائې سبحان ربى القدوس وارد دی، سوال دادې، چه دا دعاء نه ده، بلکه دا خو تسبيح او ذکر دې، جواب دادې، چه د مصنف مراد په ترجمة الباب کښې د دعا نه عامه دعا مراد ده، دعا يا ذکر هر څه چه وی، يا دې دا اووئيلې شی، چه د الله تعالى حمد او ثناء عين دعا ده، الثناء على الكريم دعاء، يو روايت ياديږی، افضل الدعاء الحمد لله.

---

[1] تنبيه : حضرت په بذل کښې د مصنف د قول ﴿علي ان الذي ذكر في القنوت﴾ باندې ليکلې دی: اي من كونه قبل الركوع ... زما رائې دا ده چه د مصنف نقد صرف په قبل الرکوع نه دې بلکه په ذکر قنوت فی الوتر باندې دې يعنی د ابی په حديث مرفوع کښې ﴿قنت في الوتر قبل الركوع﴾ د دې پوره جملې زيادت ثبت نه دې. والله تعالى اعلم ١٢. دا بحث او مقام زمونږ په شان طالبانو دپاره لږ شان ګران او دقيق وو، د الله پاک په فضل سره اوليکلې شو.

[2]: سنن النسائي/قيام الليل ٤٨ (١٧٣٣)، (تحفة الأشراف:٥٥) (صحيح)

[١٤٣١]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَوْفٍ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي غَسَّانَ مُحَمَّدِ بْنِ مُطَرِّفٍ الْمَدَنِيِّ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ نَامَ عَنْ وِتْرِهِ أَوْ نَسِيَهُ فَلْيُصَلِّهِ إِذَا ذَكَرَهُ".

حضرت ابو سعيد خدرى رضی اللہ عنہ بيان کوى چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه څوک د وترو د لوستونه اوده شو(اودا ئې ادا نۀ کړې شو) يا هيرشى نوکله چه ورته ياد شى نو ادا دې کړى.

تشريح: قوله: عن ابى سعيد الخدرى رضی اللہ عنہ قال قال رسول الله (صلى الله عليه وسلم) من نام عن وتره او نسيه فليصله اذا ذكره: ددې حديث د ترجمة الباب سره هيڅ مناسبت نشته، صاحب منهل ليکلې دى، ممکن ده چه دبعضو ناسخينونه ترجمة الباب دنقل کولونه پاتې شوې وى، باب من نام عن وتره او نسيه.

په دې حديث کښې امر بقضاء الوتر مذکور دې، چه د وجوب وتر دليل دې، د قضاء وتر خو ټول اامامان قائل دى، که د وجوب قائل وى او که نه وى.

د وتر قضا د کوم وخته پورې ده:

ليکن په دې کښې اختلاف دې، چه د وترو قضا کوم وخته پورې ده، په دې کښې ډير اقوال دى، (١) د صحابه کرامو او تابعينو يو جماعت، چه په هغې کښې امام مالک او امام احمد هم دې، دهغوى په نزد د وترو قضا مالم يصل الصبح پورې ده، (يعنى د سحر مونځ ادا کولو نه مخکښې مخکښې دهغې نه پس نشته) داسې يو روايت د امام شافعى رحمہ اللہ نه هم منقول دې، ليکن د امام مالک رحمہ اللہ په نزد د صبا راختلو نه پس دسحر مانځه پورې د وترو وخت وخت ادا دې، قضاء نه دې، (٢) د حنفيه مذهب او د شافعيه قول مشهور دادې، چه د وترو قضاء هميشه ده، د څه زمانې سره خاص نه ده، چه دهغې نه پس بيا قضاء نه وى، البته د حنفيه په نزد په اوقات مکروهه کښې کول جائز نه دى، د شافعيه په نزد جائز دى.

په دې کښې نور هم بعضې مذاهب شته، مثلا د ابراهيم نخعى رحمہ اللہ په نزد د وترو قضاء صرف الى طلوع الشمس پورې ده، د طلوع شمس نه پس نشته، او حسن، طاؤس او مجاهد رحمہم اللہ وغيره په نزد وترو قضاء صرف زوال پورې ده، دهغې نه پس نشته، سعيد بن جبير رحمہ اللہ فرمائي چه د وترو قضاء د طلوع فجر نه پس په ورځ کښې هيڅ يو وخت کښې نشته، بلکه آئنده شپه کښې دهغې قضاء ده، ځکه چه وتر د شپې مونځ دې، نو عمل الليل لره عمل النهار جوړول صحيح نه دى.

دبعضې احاديثو نه (د مسند احمد وغيره) د حضور (ﷺ) نه وتر د طلوع فجر نه پس او د صلوة فجر نه مخکښې ادا کول ثابت دى، غالبا ددې وجې نه د امام مالک رحمہ اللہ مذهب دادې، چه د وترو مونځ د طلوع فجر نه پس او د سحر د مونځ نه مخکښې اداء دې، قضاء نه دې، كما تقدم قريبا(ملخصا من المنهل) په دې مسئله کښې (د وترو قضاء کوم وخت پورې ده) په بذ المجهود کښې د علماؤ اتۀ مذاهب نقل کړې دى، په هغې کښې اکثر بره اوليکلې شو،

(): سنن الترمذي/الصلاة ٢٢٥ (الوتر ٩) (٤٦٥)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٢٢ (١١٨٨)، (تحفة الأشراف:٤١٦٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣/٣١، ٤٤) (صحيح)

د ابن حزم ظاهری مذهب دا لیکلي دې، چه د خوب او نسیان په صورت کښې (لکه چه په حدیث کښې ذکر دې) د وترو قضاء همیشه کولې شي، لیکن عمدا ترک کولو په صورت کښې قضاء ممکن نه ده. پس د ائمه اربعه مسلک دا شو، چه د امام مالک او امام احمد په نزد د وتروقضاء د سحر مانځه پورې ده، اود احنافو او شوافعو په نزد ددې قضاء همیشه ده.

بَابٌ فِي الْوِتْرِ قَبْلَ النَّوْمِ

باب: ۷- د اُوده کیدو نه مخکښې وتر لوستل

مشهور حدیث دې، اجعلوا آخر صلوتکم باللیل وترا، (رواه الشیخان وغیرهما) لیکن دا امر استحبابی دې، ځکه چه نبی کریم (ﷺ) بعضو صحابه کرامو ته لکه ابوهریره رضي الله عنه (د هغوی د حال مناسبت سره) بعد العشاء قبل التهجد د وتر ادا کولو هدایت فرمائیلې وو.

[۱۴۳۲] ([1]) حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، حَدَّثَنَا أَبَانُ بْنُ يَزِيدَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ مِنْ أَزْدِشَنُوءَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "أَوْصَانِي خَلِيلِي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِثَلَاثٍ لَا أَدَعُهُنَّ فِي سَفَرٍ وَلَا حَضَرٍ: رَكْعَتَيِ الضُّحَى، وَصَوْمِ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ مِنَ الشَّهْرِ، وَأَنْ لَا أَنَامَ إِلَّا عَلَى وِتْرٍ".

د حضرت ابو هریره رضي الله عنه بیان دې چه زما خلیل (دوست) ماته د دریو خبرو وصیت فرمائیلي وو، زهٔ هغې لره په سفر او حضر کښې نهٔ پریږدم، دَ څاښت دوه رکعته، په هره میاشت کښې درې روژې، او بل دا چه زهٔ دَ وترو نه بغیر اودهٔ نهٔ شم.

عن ابی هریرة رضي الله عنه اوصانی خلیلی (صلی الله علیه وسلم) بثلاث...... وان لا انام الا علی وتر. ددې وجه بعضو علماؤ دا لیکلې ده، چه حضرت ابوهریره رضي الله عنه به د شپې په اکثره حصه کښې د احادیثو حفظ کولو کښې مشغول وو (ګویا هغه طالب علم وو) نه ده معلومه چه آخری شپه کښې ئې سترګې اوغړیږی او که نه، ددې وجې نه نبی کریم (ﷺ) هغه ته د وتر قبل النوم هدایت فرمائیلې وو، دغه شان فقهاء کرام هم د تاخیر وتر باره کښې لیکی: لمن يثق بالانتباه.

[۱۴۳۳] ([2]) حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ نَجْدَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو الْيَمَانِ، عَنْ صَفْوَانَ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي إِدْرِيسَ السَّكُونِيِّ، عَنْ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ، عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، قَالَ: "أَوْصَانِي خَلِيلِي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِثَلَاثٍ لَا أَدَعُهُنَّ لِشَيْءٍ: أَوْصَانِي بِصِيَامِ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ مِنْ كُلِّ شَهْرٍ، وَلَا أَنَامُ إِلَّا عَلَى وِتْرٍ، وَبِسُبْحَةِ الضُّحَى فِي الْحَضَرِ وَالسَّفَرِ".

حضرت ابو الدرداء رضي الله عنه بیان کوی چه ما ته زما خلیل (دوست) د دریو خبرو وصیت فرمائیلې دې زهٔ دې لره په هیڅ صورت کښې نهٔ پریږدم، ماته ئې وصیت فرمائیلي دې چه زهٔ په هره میاشت کښې درې روژې اونیسم، وتر ادا کړم او اودهٔ شم، او دَ څاښت نفل اوکړم، په سفر او حضر کښې.

---

[1]: تفرد به ابوداود، (تحفة الأشراف: ۱۴۹۴۰)، وقد أخرجه: صحیح البخاري/التهجد ۳۳ (۱۱۷۸)، والصیام ۶۰ (۱۹۸۱)، صحیح مسلم/المسافرین ۱۳ (۷۲۱)، سنن النسائي/قیام اللیل ۲۶ (۱۶۷۸)، والصیام ۷۰ (۲۳۷۱)، ۸۱ (۲۴۰۷)، مسند احمد (۲/۲۲۹، ۲۳۳، ۲۵۴، ۲۵۸، ۲۶۰، ۲۶۵، ۲۷۱، ۲۷۷، ۳۲۹)، سنن الدارمي/الصلاة ۱۵۱ (۱۴۹۵)، والصوم ۳۸ (۱۷۸۶) (صحیح) دون قوله: «في سفر ولاحضر»

[2]: تفرد به ابوداود، (تحفة الأشراف: ۱۰۹۲۵)، وقد أخرجه: صحیح مسلم/المسافرین ۱۳ (۷۲۲)، مسند احمد (۶/۴۴۰، ۴۵۱) (صحیح)

[١٤٣٤] (١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ أَحْمَدَ بْنِ أَبِي خَلَفٍ، حَدَّثَنَا أَبُو زَكَرِيَّا يَحْيَى بْنُ إِسْحَاقَ السَّيْلَحِينِيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ رَبَاحٍ، عَنْ أَبِي قَتَادَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ لِأَبِي بَكْرٍ: "مَتَى تُوتِرُ"، قَالَ: أُوتِرُ مِنْ أَوَّلِ اللَّيْلِ، وَقَالَ لِعُمَرَ: "مَتَى تُوتِرُ"، قَالَ: آخِرَ اللَّيْلِ، فَقَالَ لِأَبِي بَكْرٍ: "أَخَذَ هَذَا بِالْحَزْمِ"، وَقَالَ لِعُمَرَ: "أَخَذَ هَذَا بِالْقُوَّةِ".

حضرت ابو قتاده رضی الله عنه بیان کوی چه ما د حضرت ابوبکر رضی الله عنه نه تپوس اوکړو تاسو وتر په کوم وخت کښې ادا کوئ؟ هغوی اوفرمائیل زۀ دَ شپې په اوله حصه کښې ادا کووم. دَ حضرت عمر رضی الله عنه نه مې تپوس اوکړو تاسو وتر په کوم وخت کښې لولئ؟ هغوی اوفرمائیل زۀ ئې دَ شپې په آخرې حصه کښې لولم. هغوی دَ حضرت ابوبکر رضی الله عنه په باره کښې اوفرمائیل: هغه احتیاط لره غوره کړې دې او دَ حضرت عمر رضی الله عنه په باره کښې ئې اوفرمائیل هغه عزم او قوت لره اختیار کړې دې.

تشریح: قوله: اخذ هذا بالحذر واخذ هذا بالقوة: یعنی صدیق اکبر رضی الله عنه احتیاط لره اختیار کړې دې (چه وتر لره د عشاء نه پس ادا کوی) او عمر فاروق عزیمت او همت لره اختیار کړې دې (چه د وتر مونځ په آخری شپه کښې ادا کوی)

بَابٌ فِي وَقْتِ الْوِتْرِ

باب: ۸-دَ وترو دَ مونځ وخت

[١٤٣٥] (٢) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ مُسْلِمٍ، عَنْ مَسْرُوقٍ، قَالَ: قُلْتُ لِعَائِشَةَ: مَتَى كَانَ يُوتِرُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَتْ: "كُلَّ ذَلِكَ قَدْ فَعَلَ أَوْتَرَ أَوَّلَ اللَّيْلِ، وَوَسَطَهُ، وَآخِرَهُ، وَلَكِنِ انْتَهَى وِتْرُهُ حِينَ مَاتَ إِلَى السَّحَرِ".

مسروق بیان کوی چه ما د حضرت عائشې رضی الله عنها نه پوښتنه اوکړه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به په کوم وخت کښې وتر ادا کول؟ هغې رضی الله عنها اوفرمائیل: چه حضور صلی الله علیه وسلم په هر وخت کښې وتر ادا کړې دی، دَ شپې په شروع کښې، په رمیان کښې، او په آخر کښې هم. لیکن په آخری زندګئ ئې وتر دَ سحر په وخت کښې وو.

[١٤٣٦] (٣) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ مَعْرُوفٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي زَائِدَةَ، قَالَ: حَدَّثَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "بَادِرُوا الصُّبْحَ بِالْوِتْرِ".

حضرت ابن عمر رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: دَ سحر نه مخکښې مخکښې وتر لولئ."

تشریح: قوله: عن ابن عمر رضی الله عنه ان النبی (صلی الله علیه وسلم) قال بادرو الصبح بالوتر. د تهجدو

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف:١٢٠٩٢) (صحيح)

(٢): صحيح البخاري/الوتر٢(٩٩٦)، صحيح مسلم/المسافرين١٧ (٧٤٥)، (تحفة الأشراف:١٧٦٣٩)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الصلاة ٢١٨ (الوتر ٤) (٤٥٧)، سنن النسائي/قيام الليل ٣٠ (١٦٨٢)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٢١(١١٨٦)، مسند احمد (٤٦/٦، ١٠٠، ١٠٧، ١٢٩، ٢٠٥، ٢٠٦)، سنن الدارمي/الصلاة ٢١١ (١٦٢٨) (صحيح)

(٣): سنن الترمذي/الصلاة ٢٢٦ (٤٦٧)، (تحفة الأشراف:٨١٣٢)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/المسافرين ٢٠ (٧٥٠)، مسند احمد ١(٣٧/٢، ٣٨) (صحيح)

نه پس سحر کیدو نه مخکښې زر وتر ادا کړئ. وتر کوم وخته پورې ادا کیدې شی، ددې تفصیل په تیر شوې باب کښې تیر شو.

[١٤٣٧]()حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ صَالِحٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي قَيْسٍ، قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ عَنْ وِتْرِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: "رُبَّمَا أَوْتَرَ أَوَّلَ اللَّيْلِ، وَرُبَّمَا أَوْتَرَ مِنْ آخِرِهِ" قُلْتُ: كَيْفَ كَانَتْ قِرَاءَتُهُ، أَكَانَ يُسِرُّ بِالْقِرَاءَةِ أَمْ يَجْهَرُ؟ قَالَتْ: "كُلَّ ذَلِكَ كَانَ يَفْعَلُ رُبَّمَا أَسَرَّ، وَرُبَّمَا جَهَرَ، وَرُبَّمَا اغْتَسَلَ فَنَامَ، وَرُبَّمَا تَوَضَّأَ فَنَامَ". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَقَالَ غَيْرُ قُتَيْبَةَ: تَعْنِي فِي الْجَنَابَةِ.

حضرت عبد الله بن ابی قیس بیان کوی چه ما د حضرت عائشې رضي الله عنها نه د رسول الله ﷺ د وترږو متعلق پوښتنه اوکړه نو هغې رضي الله عنها اوفرمائیل: کله خو به هغوی د شپې په اوله حصه کښې ادا کول او کله د شپې په آخر کښې. ما د هغې رضي الله عنها نه د حضور ﷺ د قرائت په باره کښې تپوس اوکړو چه آیا هغوی په خاموشئ سره تلاوت کولو یا په زوره آواز سره؟ نو هغې رضي الله عنها اوفرمائیل: هغوی به هر قسم تلاوت فرمائیلو، کله به ئې په خاموشئ سره تلاوت فرمائیلو او کله په بلند آواز سره. او کله به ئې غسل کولو او اودهٔ کیدلو به او کله به ئې اودس فرمائیلو او اودهٔ کیدلو به.

[١٤٣٨]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنِي نَافِعٌ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "اجْعَلُوا آخِرَ صَلَاتِكُمْ بِاللَّيْلِ وِتْرًا".

حضرت ابن عمر رضي الله عنهما بیان کوی چې رسول الله ﷺ اوفرمائیل: د خپلې شپې اخری مونځ وتر قرار اوګرځوئ.

د مصنف رحمه الله یو عادت:

مونږ دا اندازه لګولې ده، چه مصنف ډیر کرته د باب په اخر کښې داسې حدیث راوړی، چه د راتلونکې باب سره مناسب وی، ددې څه مثالونه زمونږ په ذهن کښې شته، دلته کښې هم مصنف هم داسې کار کړې دې، ځکه چه مخکښې د نقض الوتر باب راروان دې، او د هغې تعلق ددې حدیث یعنی اجعلوا آخر صلوتکم باللیل وترا. سره دې

بَابٌ فِي نَقْضِ الْوِتْرِ

باب: ٩- د وترو د ماتولو مسئله

دا یوه مشهوره اختلافی مسئله ده. په ائمه اربعه کښې خو هیڅ اختلاف نشته. البته په قرن اول کښې اختلاف شوې دې. بعضې صحابه کرام علی، عثمان، ابن مسعود رضي الله عنهم د نقض وتر قائل دی. دغه شان ابن عمر رضي الله عنهما بلکه ابن عمر رضي الله عنهما هم په دې باندې عمل هم کولو، کما فی مسند احمد، او په ائمه حدیث کښې اسحق بن راهویه رحمه الله هم ددې قائل دې

[1]: صحيح مسلم/الحيض ٦ (٣٠٧)، سنن الترمذي/الصلاة ٢١٢ (٤٤٩)، فضائل القرآن ٢٣ (٢٩٢٤)، (تحفة الأشراف:١٦٢٧٩)، وقد أخرجه: سنن النسائي/قيام الليل ٢١ (١٦٦٣)، مسند احمد (٦/٧٣، ١٤٩، ١٦٧) (صحيح)

[2]: صحيح البخاري/الوتر ٥ (٩٩٨)، صحيح مسلم/المسافرين ٢٠ (٧٥١)، (تحفة الأشراف:٨١٤٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢٠، ١٠٢، ١٤٣) (صحيح)

(د نقض وتر مسئلې توضيح)

د نقض وتر چه کومه مسئله ده، دهغې بنياد په دواړ احاديثو باندې دې، (١) اجعلوا اخر صلوتکم الخ، (٢) لا وتران في ليلة، ددې توضيح داده، چه نبي کريم (ﷺ) اوفرمائيل: د وترو مونځ د شپې تولو مونځونو نه په آخر کښې ادا کړه، لهذا د تهجدو نه پس کول پکار دی، اوس که يو سړی بعد العشاء وتر ادا کړل، او روستو د تهجدو په وخت کښې بيدار شو، نو اوس به دا سړې څه کوی، که د تهجدو مونځ ادا کوی، نو د حديث نمبر١ خلاف راځی، اوکه ددغې حديث رعايت ساتی نو د تهجدو نه محروميږی، او که داسې اوکړی، چه تهجد ادا کولو نه پس د حديث نمبر١ په رعايت کښې آخر کښې دوباره وتر ادا کړی، نو د حديث نمبر٢ خلاف راځی، چه په يوه شپه کښې دوه کرته وتر ادا کول نشته.

نو ددې مشکل حل بعضو علماؤ دا راويستلې دې، چه نقض وتر دې اوکړې شی، يعنی د شپې په شروع کښې چه کوم د وتر مونځ ادا کړې شوې وو، هغې لره دې مات کړې شی، ددې صورت به دا وی، چه تهجد شروع کولو نه مخکښې به يو رکعت مونځ په دې نيت سره ادا کړی، چه دې لره زۀ د وتر په رکعتونو کښې، کوم چه ما د شپې په شروع کښې ادا کړې وو، شاملوم، اوس به هغه مخکښنې د وترو مونځ د وترو په ځائې شفع شی (هم دا مطلب دې د نقض وتر) ددې نه پس به دا سړې په آرام سره د تهجدو مونځ ادا کړی، او بيا به آخر کښې د تهجدو نه پس وتر هم ادا کړی، په دې صورت کښې د تهجدو نه هم محرومه نه شو، اوددې دواړو احاديثو خلاف به هم اونه شو، اسحق بن راهويه ددې قائل دې، او د مسند احمد د روايت نه معلوميږی، چه حضرت ابن عمر رضي الله عنهما به هم داسې کول.

د جمهورو دليل:

ائمه اربعه او جمهور چه د نقض وتر قائل نه دی، هغوی دا فرمائي، چه د سړی په اختيار کښې دا چرته دی، چه هغه مخکښنی وترو لره مات کړی، هغه خو آسمان ته هم رسيدلې دی، اليه يصعد الكلم الطيب والعمل الصالح يرفعه، لهذا که هغه شکل اختياروی، کوم چه قائلين نقض بيانوی، نو مخکښنی وتر به هم باقی وی، او دا يو رکعت چه په مينځ کښې ادا کړې دی، دا به دويم وتر شی، او بيا د تهجدو نه پس چه کوم وتر ادا کوی، هغه به دريم وتر شی، او دا څيز خلاف مقصود دې، په حديث کښې خو د دواړ وترو ممانعت راغلې دې، او دلته په دې صورت کښې درې وتره راځی، عرض دا چه د حديث نمبر١ هم خلاف شو، او د حديث نمبر٢ هم خلاف شو، لاحول و لاقوة الا بالله.

جمهور علماء دا فرمائي اجعلوا اخر صلوتکم بالليل وترا، کښې امر صرف داستحباب دپاره دې، د وجوب دپاره نه دې، لهذا که يو سړی د ماسخوتن د مانځه نه پس وتر ادا کړل، او بيا روستو د تهجدو په وخت کښې بيدار شو، نو هغه بغير د تکلف نه تهجد ادا کولې شی، او د هيڅ څه کولو ضرورت نشته (د نقض وتر وغيره) ع

[١٤٣٩]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا مُلَازِمُ بْنُ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ بَدْرٍ، عَنْ قَيْسِ بْنِ طَلْقٍ، قَالَ: زَارَنَا طَلْقُ بْنُ عَلِيٍّ فِي يَوْمٍ مِنْ رَمَضَانَ، وَأَمْسَى عِنْدَنَا وَأَفْطَرَ، ثُمَّ قَامَ بِنَا تِلْكَ اللَّيْلَةَ وَأَوْتَرَ بِنَا، ثُمَّ انْحَدَرَ إِلَى مَسْجِدِهِ فَصَلَّى بِأَصْحَابِهِ حَتَّى إِذَا بَقِيَ الْوِتْرُ قَدَّمَ رَجُلًا، فَقَالَ: أَوْتِرْ بِأَصْحَابِكَ، فَإِنِّي سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "لَا وِتْرَانِ فِي لَيْلَةٍ".

قیس بن طلق بیان کوی چه حضرت طلق بن علی ﷺ په رمضان کښې یوه ورځ مونږ ته راغي او زمونږ سره ئې ماښام کړو او افطار ئې اوکړو، او بیا ئې په دغه شپه کښې مونږ ته مونځ راکړو او وتر ئې هم اوکړل، بیا خپل جمات طرف ته لاړو او هلته کښې ئې خپلو ملګرو ته مونځ ورکړو، او کله چه وتر باقی شو نو یو کس لره ئې مخکښې کړو اووې فرمائیل : خپلو ملګرو ته وتر اولوله، بې شکه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلي دی هغوی ﷺ فرمائیل: په یوه شپه کښې دوه وتره نشته دې " (یعني دوه ځله وتر کول نشته)

عن قیس بن طلق قال زارنا طلق بن علی فی یوم من رمضان امسی عندنا و افطر الخ:
قیس بن طلق وائی، چه یوه ورځ زما پلار یعنی طلق (خپلې محلې او قیامګاه نه) مونږ ته د رمضان په میاشت کښې تشریف راوړو، او ماښام پورې مونږ کره وو، روژه ئې ماته کړه، او تراویح ئې هم مونږ ټولو ته ورکړل او وتر هم، ددې نه پس د محلې جمات ته لاړو، او هلته ئې باقی تراویح ورکړې (د تراویح څه رکعتونه به ترې پاتې شوې وی) او بیا چه کله د وترو نمبر راغلو (نو چونکه خپله ئې وتر کړې وو) حاضرینو کښې یو کس ئې وتر ادا کولو دپاره مخکښې کړو، هغه د وترو مونځ ادا کړو او خپله د وترو مونځ نه ادا کولو وجه ئې دا بیان کړه، چه ما د حضور (ﷺ) نه اوریدلې دی، لاوتران فی لیلة، ددې ترکیب مونږ په حاشیه کښې لیکلې دې. (٢)

باب القنوت في الصلوات

باب: ١٠-په عامو مونځونو کښې قنوت (دعا) لوستل

د ترجمة الباب توضیح:

په دې باب کښې د قنوت نازله بیان دې، چه عند الاکثر په ټولو فرضو مونځونو کښې مشروع دې، ددې وجې نه مصنف د جمع صیغه راوړې ده، په خلاف د قنوت دائمی، چه هغه د کومو امامانو په نزد فرض مونځونو کښې مشروع دې، صرف د سحر په مونځ کښې دې، باقی مونځونو کښې مشروع نه دې، البته ترمذی د قنوت فی الفجر باب قائم کړې دې،ددې نه هغه قنوت دائمی مراد دې، امام ترمذی شافعی مسلک دې، او شافعیه ددې (قنوت فی الفجر) قائل دی، او زمونږ امام ابوداؤد حنبلی دې، او حنابله د قنوت فی الفجر قائل نه دی، غالبا ددې وجې نه هغوی د قنوت فی الفجر باب نه دې قائم کړې.

[1]): سنن الترمذي/الصلاة ٢٢٧ (الوتر ١٣) (٤٧٠)، سنن النسائي/قيام الليل ٢٧ (١٦٨٠)، (تحفة الأشراف:٥٠٢٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٢٣) (صحيح)

[2]) اي لا يجوز وتران فوتران فاعل، ولا مشبهه بليس فوتران اسمها، او لا لنفي الجنس و وتران بالألف علي لغة بني حارثة كما في قوله تعالي: ان هذا لساحران.

ددې نه مخکښې د قنوت فی الوتر کوم باب چه تیر شوې دې، هلته کښې دا خبره هم تیره شوې ده، چه امام شافعی او امام مالک ټول کال د قنوت فی الصبح قائل دی.

د شافعیه دلائل او دهغې نه جواب:

د قنوت فی الصبح قائلینو سره دوه قسمه دلائل دی، بعضې خو هغه دی، چه په کتب صحاح کښې موجود دی، دهغې نه بعضې مصنف په دې باب کښې ذکر کړې دی، د هغې جواب خو مونږ سره دادې، چه په دې روایاتو کښې د سحر د مانځه تخصیص نشته، په یو روایت کښې پنځو واړو مونځونو کښې د قنوت ذکر دې، او په بل روایت کښې په دریو مونځونو کښې، او په بعضو کښې صرف په دواړ مونځونو کښې د قنوت ذکر دې، حالانکه دا حضرات د قنوت فی غیر الصبح قائل نه دی، فما هو جوابهم عن القنوت فی غیر الصبح فهو جوابنا عن القنوت فی الصبح.

دویم قسم احادیث هغه دی، چه په هغې کښې د سحر د مونځ تخصیص موجود دې، د ټولو نه اهم د حضرت انس رضی الله عنه هغه حدیث دې، چه هغې لره دارقطنی او حاکم په متعدد طرق سره روایت کړې دې، وصححه الحاکم ان النبی (صلی الله علیه وسلم) قنت شهرا یدعو علیهم ثم ترکه فاما فی الصبح فلم یزل یقنت حتی فارق الدنیا، ددې جواب زمونږ د طرف نه دا ورکړې شوې دې، چه ددې په سند کښې ابوجعفر رازی دې، چه ددهٔ اکثر امامانو تضعیف کړې دې، او خطیب په کتاب القنوت کښې روایت ذکر کړې دې، چه عاصم بن سلیمان وائی چه مونږ د انس رضی الله عنه نه سوال اوکړو، چه بعضې خلق وائی، چه حضور (صلی الله علیه وسلم) به همیشه د سحر په مانځه کښې قنوت لوستلو، نو هغوی جواب راکړو، کذبوا انما قنت رسول الله (صلی الله علیه وسلم) شهرا واحدا، او ددې په سند کښې اگر چه قیس بن الربیع دې، چه ددهٔ یحیی بن سعید تضعیف کړې دې، لیکن دهغه نه علاوه ډیرو امامانو دده توثیق کړې دې، او هغه بهر حال د ابوجعفر رازی نه کمې درجې والا نه دې، بلکه د هغه نه اوثق دې، یا کم از کم برابر، قال الحافظ ابن القیم، څکه چه کومو امامانو د ابوجعفر تضعیف کړې دې، هغه زائد دی، دهغې امامانو نه کومو چه د قیس تضعیف کړې دې.

او دویمه توجیه زمونږ د طرف نه دا کړې شوې ده، چه لم یزل یقنت مطلب دادې، چه همیشه به حضور (صلی الله علیه وسلم) عند النوازل قنوت لوستلو، هره ورځ بغیر د څه حاجت نه مراد نه دې، او دا مطلب ددې وجې نه اخستلې شوې دې، چه د انس رضی الله عنه د دویم روایت خلاف نه وی، په دې صورت کښې به دواړه روایتونه په خپل ځائې باندې صحیح شی.

د حنفیه دلائل:

او مانعینو (حنفیه، حنابله) سره چه کوم دلائل دی، دهغې تفصیل په نصب الرایه، فتح القدیر، او څه قدر په بذل المجهود کښې موجود دې، څو دلائل مونږ لیکو، امام ترمذی باب القنوت فی الفجر" ترجمه قائمه کړې ده، او په هغې کښې ئې د براء بن عازب رضی الله عنه حدیث مرفوع کان یقنت فی صلوة الفجر والمغرب ذکر کړې دې، او فرمائیلې دی، چه بعضې اهل

علم د قنوت فی الفجر قائل دی، ددې نه پس باب ترک القنوت ترجمه ئې قائمه کړې ده، او په هغې کښې ئې د ابومالک اشجعی حدیث قلت لابی یا ابت انک قد صلیت خلف رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وابی بکر و عمر و عثمان و علی ههنا بالکوفة نحوا من خمس سنین اکانوا یقنتون قال ای بنی محدث، قال ابوعیسی هذا حدیث حسن صحیح والعمل علیه عند اکثر اهل العلم، دغه شان امام نسائی رحمه الله اول متعدد ابواب د قنوت فی الفرائض (د هر فرض مونځ ځان ځانله) قائم کړې دی، او روستو ئې د ترک القنوت باب قائم کړې دې، او په هغې کښې ئې دوه احادیث ذکر کړې دی، یو هم دا د ابومالک اشجعی او دویم د حضرت انس رضی الله عنه ان النبی (صلی الله علیه وسلم) قنت شهرا یدعوا علی حی من احیاء العرب ثم ترکه.

دغه شان مونږ سره د ابوهریره رضی الله عنه هغه حدیث دې، چه دهغې ابن حبان تخریج کړې دې، کان رسول الله (صلی الله علیه وسلم) لا یقنت فی الصبح الا ان یدعوا لقوم او علی قوم، دغه شان د حضرت انس رضی الله عنه ددې مضمون حدیث، چه دهغې تخریج خطیب په کتاب القنوت کښې کړې دې، ان النبی (صلی الله علیه وسلم) کان لا یقنت الا اذا دعا القوم او علی قوم، ورواه ابن خزیمه و صححه.

د مثبتین قنوت د طرف نه یوه خبره دا کړې شوې ده، چه په کومو روایاتو کښې دادی، ثم ترکه، ددې نه د نفس قنوت ترک مراد نه دې، بلکه د دعاء مخصوص نفی مراد ده، یعنی په مخصوص قبائلو باندې د لعن نفی مراد ده، ددې قرینه داده، چه د صحیح مسلم په روایت کښې دی، فنزل لیس لک من الامر شئ الآیة، جواب دادې، چه هم دا مطلب تاسو د فجر نه علاوه په نورو مونځونو کښې ولې نه جاری کوئ، په هغې کښې د نفس قنوت د نفی تاسو ولې قائل یئ، والله تعالی اعلم.

مذکوره روایات اخستلو کښې مونږ خاص طور سره منهل شرح ابوداؤد مخښې ته ایخودې دې، دهغې کلام ډیر زیات مرتب او جامع دې، فجزاه الله خیرا.

د قنوت فی الصبح روایاتو باندې شیخ ابن الهمام په فتح القدیر کښې جرحا و تعدیلا تفصیلی کلام کولو نه پس طریق نسخ لره اختیار کړې دې، (چه نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) به شروع کښې د سحر په مانځه کښې قنوت لوستلو، او بیا روستو ئې پریخودو) او زمونږ بعضو علماؤ ددې روایاتو جواب بیان محمل سره ورکړې دې، یعنی دا چه هغه احادیث په قنوت عن النوازل باندې محمول دی، لهذا د منسوخ منلو ضرورت نشته

[١٤٤٠](١)حَدَّثَنَا دَاوُدُ بْنُ أُمَيَّةَ، حَدَّثَنَا مُعَاذٌ يَعْنِي ابْنَ هِشَامٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، حَدَّثَنَا أَبُو هُرَيْرَةَ، قَالَ: وَاللَّهِ لَأُقَرِّبَنَّ بِكُمْ صَلَاةَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: فَكَانَ أَبُو هُرَيْرَةَ "يَقْنُتُ فِي الرَّكْعَةِ الْآخِرَةِ مِنْ صَلَاةِ الظُّهْرِ، وَصَلَاةِ الْعِشَاءِ الْآخِرَةِ، وَصَلَاةِ الصُّبْحِ، فَيَدْعُو لِلْمُؤْمِنِينَ وَيَلْعَنُ الْكَافِرِينَ".

(١): صحيح البخاري/الأذان ١٢٦ (٧٩٧)، صحيح مسلم/المساجد ٥٤ (٢٧٦)، سنن النسائي/التطبيق ٢٨ (١٠٧٦)، (تحفة الأشراف: ١٥٤٢١)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الصلاة ٤(١٩)، مسند احمد (٢/٢٥٥، ٣٣٧، ٤٧٠) (صحيح)

حضرت ابو سلمه بن عبد الرحمن فرمائي چه حضرت ابوهريره رضي الله عنه اوفرمائیل : قسم په الله زهٔ تاسو ته دَ رسول الله ﷺ په شان مونځ کووم . چنانچه حضرت ابوهريره رضي الله عنه به دَ ماسپخين، ماسخوتن او دَ سحر په مونځ کښې قنوت نازل لوستله دَ مومنانو دَ پاره به ئې دُعا کووله او په کفارو باندې به ئې لعنت کولو .

تشريح: قوله: حدثنا ابوهريرة رضي الله عنه قال والله لاقربن بكم صلوة رسول الله (صلى الله عليه وسلم).

شرح حديث:

په خدائې قسم زهٔ به د حضور (ﷺ) مونځ تاسو ته ضرور نزدې کوم (يعنى تاسو ته به زهٔ داسې مونځ ضرور عملی طور سره اوښايم، چه د حضور (ﷺ) مونځ ته به ډير نزدې او هغې سره به ډير مشابه وی .

[١٤٤١](١)حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ، وَمُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، وَحَفْصُ بْنُ عُمَرَ. ح حَدَّثَنَا ابْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، قَالُوا: كُلُّهُمْ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنِ الْبَرَاءِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يَقْنُتُ فِي صَلَاةِ الصُّبْحِ". زَادَ ابْنُ مُعَاذٍ: "وَصَلَاةِ الْمَغْرِبِ".

دَ حضرت براء نه منقول دی چه رسول الله ﷺ به دَ سحر په مونځ کښې قنوت لوستل .

[١٤٤٢](٢)حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ، حَدَّثَنَا الْأَوْزَاعِيُّ، حَدَّثَنِي يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ، حَدَّثَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَنَتَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي صَلَاةِ الْعَتَمَةِ شَهْرًا، يَقُولُ فِي قُنُوتِهِ: "اللَّهُمَّ نَجِّ الْوَلِيدَ بْنَ الْوَلِيدِ، اللَّهُمَّ نَجِّ سَلَمَةَ بْنَ هِشَامٍ، اللَّهُمَّ نَجِّ الْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ، اللَّهُمَّ اشْدُدْ وَطْأَتَكَ عَلَى مُضَرَ، اللَّهُمَّ اجْعَلْهَا عَلَيْهِمْ سِنِينَ كَسِنِي يُوسُفَ"، قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: وَأَصْبَحَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ فَلَمْ يَدْعُ لَهُمْ، فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لَهُ، فَقَالَ: "وَمَا تُرَاهُمْ قَدْ قَدِمُوا".

حضرت ابو سلمه بن عبد الرحمن وائي چه حضرت ابوهريره رضي الله عنه بيان اوکړو چه رسول الله ﷺ دَ ماسخوتن په مونځ کښې تر دَ يو مياشتې پورې قنوت اولوستلو . هغوی به په خپل قنوت کښې دا دُعا کووله : " اې الله ! وليد بن وليد ته نجات ورکړې . اې الله ! سلمه بن هشام ته نجات ورکړې . اې الله ! ضعيف مسلمانانو ته نجات ورکړې . اې الله په قبيلهٔ مضر باندې خپله سزا سخته کړې . اې الله ! په هغوی باندې قحط مسلط کړې لکه څنګه چه په قوم يوسف باندې راغلې وو . " حضرت ابوهريره رضي الله عنه بيان کوی چه يوه ورځ هغوی دُعا اونهٔ کړه نو ما دَ هغوی نه تپوس اوکړو نو حضور ﷺ اوفرمائيل : " آيا تهٔ نهٔ ګورې چه هغوی راغلې دی "

تشريح: قوله: اللهم نج الوليد بن الوليد: دا د خالد بن وليد رور دې، چه د جنګ بدر د قيديانو نه وو، د فديئ ادا کولو نه پس ئې ايمان راؤړو، چا تر تپوس اوکړو، چه اول دې ولې اسلام

(١): صحيح مسلم/المساجد ٥٤ (٦٧٨)، سنن الترمذي/الصلاة ١٧٨ (٤٠١)، سنن النسائي/التطبيق ٢٩ (١٠٧٥)، (تحفة الأشراف: ١٧٨٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٨٠/٤، ٢٨٥، ٢٩٩، ٣٠٠)، سنن الدارمي/الصلاة ٢١٦ (١٦٣٨) (صحيح)

(٢): صحيح مسلم/المسافرين (٦٧٥)، (تحفة الأشراف: ١٥٣٨٧)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/الأذان ١٢٨ (٨٠٤)، والاستسقاء ٢ (١٠٠٦)، والجهاد ٩٨ (٢٩٣٢)، والأنبياء ١٩ (٣٣٨٦)، وتفسير آل عمران ٩ (٤٥٦٠)، وتفسير النساء ٢١ (٤٥٩٨)، والدعوات ٥٨ (٦٣٩٣)، والإكراه ١ (٦٩٤٠)، والأدب ١١٠ (٦٢٠٠)، سنن النسائي/التطبيق ٢٧ (١٠٧٤)، سنن ابن ماجه/الاقامة ١٤٥ (١٢٤٤)، مسند احمد (٢٣٩/٢، ٢٥٥، ٢٧١، ٤١٨، ٤٧٠، ٥٠٧، ٥٢١) (صحيح) دون قوله : «فذكرت »

نه راؤړو، نو جواب ئې ورکړو، چه دې دپاره چه تاسو دا اونه ګنړئ، چه د قید نه بچ کیدو دپاره ئې اسلام راؤړو، مشرکینو هغه په مکه کښې ایسار کړې وو.

اللهم نج سلمة بن هشام: دا د ابوجهل بن هشام رور وو، د سابقین الی الاسلام نه دې، حبشې طرف ته ئې هجرت اوکړو، او بیا مکې ته راغلو، نو ابوجهل هغه قید کړو، او مدینې طرف ته هجرت کولو نه ئې منع کړو، دا دوه شو، دریم ددوی سره عیاش بن ابی ربیعه هم وو، کما فی روایة البخاری، دوی په خپلو کښې مشوره اوکړه، او د قید نه اوتښتیدل، حضور (ﷺ) ته په څه طریقې سره ددې علم اوشو، نو نبی کریم (ﷺ) دهغوی دپاره یو میاشت پورې د ماسخوتن په مانځه کښې قنوت نازله اولوستله. لکه چه په حدیث الباب کښې دی.

اللهم نج المستضعفین من المؤمنین: هغه کمزورې مسلمانان چه مشرکینو د هجرت نه منع کړې وو، لکه عمار بن یاسر رضي الله عنه، او دهغوی والدین حضرت یاسر رضي الله عنه او حضرت سمیه رضي الله عنها، چه هغوی لره به مشرکینو په ګرمو شګو سملول، د نبی کریم (ﷺ) په هغوی باندې تیریدنه اوشوه، نو ورته ئې اوفرمائیل: صبرا آل یاسر فان موعدکم الجنة.

اې د یاسر کور والو! صبر کوئ، تاسو سره د جنت وعده ده.

اللهم اشدد وطاتک علی مضر: اې الله د مضر قبیلې په کافرانو باندې خپل ګرفت سخت کړه.

واجعلها علیهم سنین کسنی یوسف: د ها ضمیر وطاة طرف ته راجع دې، اې الله خپل ګرفت په هغوی باندې قحط سالی اوګرځوه، څرنګه قحط سالی چه د حضرت یوسف (ع) په زمانه کښې راغلې وه.

اوماتراهم قد قدموا: یوه ورځ حضور (ﷺ) دا دعا اونه لوستله، نو ابوهریره رضي الله عنه سوال اوکړو، چه نن مو ولې اونه لوستله، نو حضور (ﷺ) اوفرمائیل: ګورې نه، چه د کومو خلقو دپاره مونږ دعا کوله، هغوی راخلاص شو، راغلل.

[١٤٤٣]([1])حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاوِيَةَ الْجُمَحِيُّ، حَدَّثَنَا ثَابِتُ بْنُ يَزِيدَ، عَنْ هِلَالِ بْنِ خَبَّابٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "قَنَتَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَهْرًا مُتَتَابِعًا فِي الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ وَالْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ وَصَلَاةِ الصُّبْحِ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ، إِذَا قَالَ: سَمِعَ اللَّهُ لِمَنْ حَمِدَهُ مِنَ الرَّكْعَةِ الْآخِرَةِ، يَدْعُو عَلَى أَحْيَاءٍ مِنْ بَنِي سُلَيْمٍ عَلَى رِعْلٍ، وَذَكْوَانَ، وَعُصَيَّةَ وَيُؤَمِّنُ مَنْ خَلْفَهُ".

د حضرت عکرمه نه د حضرت ابن عباس رضي الله عنه دا بیان منقول دې چه رسول الله ﷺ یوه میاشت متواتر د ماسپخین، مازیګر، ماښام، ماسخوتن او د سحر په مونځونو کښې قنوت اولوستلو. د هر مونځ په آخری رکعت کښې په رکوع کښې د "سمع الله لمن حمده" د لوستو نه پس به ئې د بنو سلیم نه په رعل، ذکوان او رعصیه قبائلو باندې بد دعا کوله او آمین به وئیلې هغه چا چه د حضور ﷺ نه به ورستو وو.

عن ابن عباس رضي الله عنه قنت رسول الله (صلی الله علیه وسلم) شهر متتابعا فی الظهر والعصر والمغرب والعشاء و صلوة الصبح............ علی رعل و ذکوان و عصية:

[1]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف:٦٢٣٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (١/٣٠١) (حسن)

هغوی اویا قاریان په بئر معونه کښې شهید کړې وو، هغې ته سریة القرآء وئیلې شی، دا واقعه په سنه ۴هـ کښې پیښه شوې وه، اویا اصحاب صفه چه ټول په ټوله د قرآن مجید قراء وو، دهغوی سره رعل او ذکوان غدر اوکړو، او هغوی ئې په دهوکې سره قتل کړل. په دې باندې حضور (ﷺ) ډیر زیات غمګین او غصه وو، او یو میاشت پورې مسلسل قنوت نازله ئې لوستله، په دې باندې دا آیت نازل شو، (کما فی روایة المسلم) لیس لک من الامر شئ او یتوب علیهم او یعذبهم فانهم ظالمون، ددې آیت په نزول باندې رسول الله (ﷺ) قنوت نازله لوستل موقوف کړل، الحمد لله په دې باب باندې کلام پوره شو.

[١٤٤٤](١)حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، وَمُسَدَّدٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّهُ سُئِلَ: "هَلْ قَنَتَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي صَلَاةِ الصُّبْحِ؟ فَقَالَ: نَعَمْ، فَقِيلَ لَهُ: قَبْلَ الرُّكُوعِ أَوْ بَعْدَ الرُّكُوعِ، قَالَ: بَعْدَ الرُّكُوعِ، قَالَ مُسَدَّدٌ: بِيَسِيرٍ".

دَ حضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه پوښتنه اوکړې شوه چه آیا رسول الله ﷺ دَ صبا په مونځ کښې دعائې قنوت فرمائیلې ده؟ هغوی اوفرمائیل : او . تپوس اوکړې شو دَ رکوع نه مخکښې یا ورستو؟ هغوی رضی الله عنه اوفرمائیل : ورستو . دَ مسدد په روایت کښې دی چه ...... لږې مُدې پورې .

[١٤٤٥](٢)حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "قَنَتَ شَهْرًا، ثُمَّ تَرَكَهُ".

دَ حضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه مروی دی چه رسول الله ﷺ تر دَ یو میاشتې پورې دُعائې قنوت اولوسته، بیا ئې پریخوده ."

[١٤٤٦](٣)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ مُفَضَّلٍ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ عُبَيْدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، قَالَ: حَدَّثَنِي مَنْ صَلَّى مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةَ الْغَدَاةِ، "فَلَمَّا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ قَامَ هُنَيَّةً".

حضرت محمد بن سیرین وائی چه ما ته هغه کس بیان کړې دې کوم چه دَ نبی کریم ﷺ سره دَ سحر مونځ ادا کړې دې: چه کله نبی کریم ﷺ دَ دویم رکعت نه سر پورته کړو نو لږ غوندې ولاړ وو . (دَ قنوت دَ پاره)

١): صحیح البخاري/الوتر ٧ (١٠٠١)، صحیح مسلم/المساجد ٥٤ (٦٧٧)، سنن النسائي/التطبیق ٢٧ (١٠٧٢)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٢٠ (١١٨٢ و ١١٨٤)، (تحفة الأشراف:١٤٥٣)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الصلاة ٢١٦ (١٦٣٧)، مسند احمد (١١٣/٣) (صحیح)

٢): صحیح مسلم/المساجد ٥٤ (٦٧٨)، (تحفة الأشراف:٣٣٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٨٤/٣، ٢٤٩) (صحیح)

٣): سنن النسائي/التطبیق ٢٧ (١٠٧٣)، (تحفة الأشراف:١٥٦٦٧) (صحیح)

بَابٌ فِي فَضْلِ التَّطَوُّعِ فِي الْبَيْتِ

باب: ١١- په کور کښې د نفل لوستلو فضیلت

ددې مضمون یو باب د ابواب الجمعه نه مخکښې هم تیر شوې دې.

[١٤٤٧] (١) حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْبَزَّازُ، حَدَّثَنَا مَكِّيُّ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ يَعْنِي ابْنَ سَعِيدِ بْنِ أَبِي هِنْدٍ، عَنْ أَبِي النَّضْرِ، عَنْ بُسْرِ بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، أَنَّهُ قَالَ: احْتَجَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ حُجْرَةً، فَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْرُجُ مِنَ اللَّيْلِ فَيُصَلِّي فِيهَا، قَالَ: فَصَلَّوْا مَعَهُ لِصَلَاتِهِ، يَعْنِي رِجَالًا، وَكَانُوا يَأْتُونَهُ كُلَّ لَيْلَةٍ، حَتَّى إِذَا كَانَ لَيْلَةٌ مِنَ اللَّيَالِي لَمْ يَخْرُجْ إِلَيْهِمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَتَنَحْنَحُوا وَرَفَعُوا أَصْوَاتَهُمْ وَحَصَبُوا بَابَهُ، قَالَ: فَخَرَجَ إِلَيْهِمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُغْضَبًا، فَقَالَ: "يَا أَيُّهَا النَّاسُ، مَا زَالَ بِكُمْ صَنِيعُكُمْ حَتَّى ظَنَنْتُ أَنْ سَتُكْتَبُ عَلَيْكُمْ، فَعَلَيْكُمْ بِالصَّلَاةِ فِي بُيُوتِكُمْ، فَإِنَّ خَيْرَ صَلَاةِ الْمَرْءِ فِي بَيْتِهِ إِلَّا الصَّلَاةَ الْمَكْتُوبَةَ".

حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه بیان کوی چه رسول الله ﷺ په جمات کښې حجره جوړه کړه، هغوی ﷺ به د شپې د کور نه تشریف راوړو او په دې حجره کښې به ئې مونځ کولو. فرمائی: چه خلقو هم د حضور ﷺ د مونځ سره، مونځ اولوستو او هغوی به هره شپه حضور ﷺ ته راتلل، تردې پورې چه یوه شپه حضور ﷺ تشریف راونه ړلو نو دوی مرئ تازه کولې. (ددې دپاره چه حضور ﷺ ته خبردارې اوشی او مونږ ته راوځی) چا خپل آوازونه بلند کړل او (ځو خلقو) د هغوی په دروازه باندې کنکرې هم اوویشتل. آخر هغوی تشریف راوړو او په غصه کښې وو او ووې فرمائیل: خلقو! ستاسو برابر هم دا حال وو، تردې پورې چه ماته یره شوه چه په تاسو باندې فرض نهٔ کړې شی. لهذا په خپلو کورونو کښې مونځ کوئ. بې شکه د فرضو نه علاوه د سړی بهترین مونځ هغه دې کوم چه هغه په خپل کور کښې اوکړی."

تشریح: قوله: عن زید بن ثابت رضی الله عنه احتجر رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فی المسجد حجرة:
نبی کریم (ﷺ) د جمات په یو کوټ کښې حجرة الحصیر جوړه کړه، د حجرة الحصیر ذکر په روایاتو کښې کثرت سره راغلې دې، یعنی د کجورو یوه بوریا ئې د جمات په یو کوټ کښې اودروله، او معتکف ئې جوړ کړو، لکه چه نن صبا خلق د اعتکاف دپاره پردې زوړندوی.

قوله: فکان رسول الله (صلی الله علیه وسلم) یخرج من اللیل فیصلی فیها:
په عبارت کښې په ظاهر کښې تقدیم او تاخیر دې، (کما فی البذل) مطلب دادې، چه حضور (ﷺ) به د حجرة الحصیر نه بهر راوتلو، او په بعضو شپو کښې به ئې مونځ ادا کولو، ددې نه د تراویح مونځ مراد دې، چه دهغې روایات نزدې تیر شوې دی.

[١٤٤٨] (٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ، أَخْبَرَنَا نَافِعٌ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اجْعَلُوا فِي بُيُوتِكُمْ مِنْ صَلَاتِكُمْ، وَلَا تَتَّخِذُوهَا قُبُورًا".

[1]: انظر حدیث رقم (١٠٤٤)، (تحفة الأشراف:٣٦٩٨) (صحیح)
[2]: انظر حدیث رقم (١٠٤٣)، (تحفة الأشراف:٨١٤٢) (صحیح)

حضرت ابن عمر رضي الله عنه بیان کوی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : د خپلو مونځونو څۀ حصه په کورونو کښې هم ادا کوئ. او د خپلو کورونو نه قبرستان مۀ جوړوئ.

اجعلوا في بيوتكم من صلوتكم ولا تتخذوها قبورا: دا حدیث په هغې سابق باب کښې تیر شوې دې ، د کومې حواله چه بره ورکړې شوې ده.

[١٤٤٩](١)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ، قَالَ: قَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ: حَدَّثَنِي عُثْمَانُ بْنُ أَبِي سُلَيْمَانَ، عَنْ عَلِيٍّ الْأَزْدِيِّ، عَنْ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حُبْشِيٍّ الْخَثْعَمِيِّ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ: أَيُّ الْأَعْمَالِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: "طُولُ الْقِيَامِ" قِيلَ: فَأَيُّ الصَّدَقَةِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: "جَهْدُ الْمُقِلِّ" قِيلَ: فَأَيُّ الْهِجْرَةِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: "مَنْ هَجَرَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ" قِيلَ: فَأَيُّ الْجِهَادِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: "مَنْ جَاهَدَ الْمُشْرِكِينَ بِمَالِهِ وَنَفْسِهِ" قِيلَ: فَأَيُّ الْقَتْلِ أَشْرَفُ؟ قَالَ: "مَنْ أُهَرِيقَ دَمُهُ وَعُقِرَ جَوَادُهُ".

حضرت عبد الله بن حبشي الخثعمي رضي الله عنه نه روایت دې چه د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړې شو : کوم یو عمل افضل دې؟ حضور ﷺ اوفرمائیل :" اوږد قیام ." اووئیلې شو کومه صدقه افضله ده؟ حضور ﷺ اوفرمائیل :" چه کوم قلیل مال والا محنت اوکړی او صدقه ورکړی ." تپوس اوکړې شو کوم یو هجرت افضل دې؟ حضور ﷺ اوفرمائیل " کوم کس چه د الله حرام کرده امور ترک کړی ." تپوس اوکړې شو کوم یو جهاد افضل دې؟ حضور ﷺ اوفرمائیل : کوم کس چه د مشرکانو سره د خپل مال او جان سره جهاد اوکړی ." تپوس اوکړې شو کوم یو قتل د شرف والا دې؟ حضور ﷺ اوفرمائیل : د چا چه وینه تویې کړې شوه او د هغه اس هم کټ کړې شو.

اى الصدقة افضل قال جهد المقل: کومه صدقه افضله ده؟ نبی کریم (ﷺ) اوفرمائیل : د غریب سړی کوشش او محنت یعنی کومه صدقه چه سړې محنت مزدوری کولو سره ورکړی، هغه د ټولو نه افضله ده، چه د خپل احتیاج او ضرورت باوجود نورو ته ترجیح ورکوی، ددې بالمقابل یو بل حدیث دې، چه په کتاب الزکوة کښې به راشی،

و خير الصدقة ما كان عن ظهر غنى: په دواړو کښې به تطبیق انشاء الله هم هلته کښې راشی،

بَابُ الْحَثِّ عَلَى قِيَامِ اللَّيْلِ

باب: د قیام اللیل ترغیب

(باب الحث على قيام الليل) ددې باب احادیث نزدې تیر شوې دی.

[١٤٥٠](٢)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، حَدَّثَنَا الْقَعْقَاعُ بْنُ حَكِيمٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "رَحِمَ اللَّهُ رَجُلًا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ فَصَلَّى وَأَيْقَظَ امْرَأَتَهُ فَصَلَّتْ، فَإِنْ أَبَتْ نَضَحَ فِي وَجْهِهَا الْمَاءَ، رَحِمَ اللَّهُ امْرَأَةً قَامَتْ مِنَ اللَّيْلِ فَصَلَّتْ وَأَيْقَظَتْ زَوْجَهَا، فَإِنْ أَبَى نَضَحَتْ فِي وَجْهِهِ الْمَاءَ".

حضرت ابو هریره رضي الله عنه بیان کوی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل :" رحم دې اوکړی الله تعالی

---

(١): انظر حديث رقم: (١٣٢٥)، (تحفة الأشراف: ٥٢٤١) (صحيح) بلفظ: «أي الصلاة»

(٢): سنن النسائي/قيام الليل ٥ (١٦١١)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٧٥ (١٣٣٦)، (تحفة الأشراف: ١٢٨٦٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢٥٠، ٤٣٦) (حسن صحيح)

په هغه شخص باندې چه هغه د شپې پاسې او مونځ کوي او خپله بي بي هم پاسوي او هغه هم مونځ لولي . که چرې انکار کوي، نو د هغې په مخ باندې د اوبو ترنکه کوي . او رحم دې اوکړي الله تعالیٰ په هغه ښځه باندې کومه چه د شپې پاسي او مونځ کوي او خپل خاوند لره هم پاسوي . که چرې هغه انکار کوي نو د هغه په مخ باندې اوبهٔ شيندي ."

[۱۴۵۱] (¹) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَاتِمِ بْنِ بَزِيعٍ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُوسَى، عَنْ شَيْبَانَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ الْأَقْمَرِ، عَنِ الْأَغَرِّ أَبِي مُسْلِمٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنِ اسْتَيْقَظَ مِنَ اللَّيْلِ وَأَيْقَظَ امْرَأَتَهُ فَصَلَّيَا رَكْعَتَيْنِ جَمِيعًا كُتِبَا مِنَ الذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ".

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه او حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل : چه کوم کس پاسي او خپله بي بي هم پاسوي، بيا دواړه دوه رکعته اوکړي نو ددوي شمير په ذاکرينو او ذاکراتو کښې وي کوم چه الله لره زيات يادوونکي وي ."

بَابٌ فِي ثَوَابِ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ

باب: ۱۴- د قرآن د تلاوت ثواب

ددې ځائې نه مصنف د قرآن مجيد فضائل بيانول شروع کوي، نو په دې سلسله کښې ئې څو ابواب قائم کړې دی، مصنف دلته په شروع کښې څه لويه سرخي يا عنوان قائم کړې نه دې، امام بخاري او ترمذي "کتاب فضائل القرآن" او "ابواب فضائل القرآن"، ددې کلي عنوان لاندې ډير ابواب راوړې دی.

تفضيل بعض القران على بعض:

دا مسئله مختلف فيه ده، يعنې دا اعتقاد چه فلانې سورة د فلانې سورة نه افضل دې، جائز دې او که نه؟ بعضې علماء لکه ابوالحسن اشعري رحمه الله، قاضي ابوبکر باقلاني رحمه الله ددې نه انکار کړې دې، ځکه چه مفضول ناقص وي د افضل نه، حالانکه دلته کښې ټول په ټوله کلام الله دې، د الله تعالیٰ صفت دې، بيا د بعضو آيتونو د بعضې نه افضل کيدلو څه معنی ده؟ ليکن اکثر علماء ظواهر د احاديث په بناء باندې ددې د جواز قائل دی، بيا د قائلين جواز په دې کښې اختلاف دې، چه دا فضيلت په کوم اعتبار سره دې، بعضې وائي، چه ددې تعلق الفاظ او معاني سره نه دې، بلکه کثرت اجر او ثواب سره دې، او بعضې وائي، چه دا خبره نه ده، بلکه هم دې اعتبار سره دې، ځکه چه د الله تعالیٰ په وحدانيت او دهغه په صفاتو باندې چه کوم دلالت آية الکرسي او د سورة حشر آخري آيتونو (وهو الله الذي لا اله الا هو عالم الغيب والشهادة هو الرحمن الرحيم الآية) او سورة اخلاص کښې موندلې شي، هغه په سورة تبت کښې ظاهري خبره ده چه نشته.

او اشعري دا فرمائي: انه لا يتنوع في ذاته بل بحسب متعلقاته، د بنده په ذهن کښې هم د مخکښې نه دا خبره راتله، او زما په خيال ددې تشريح دا کيدې شي، چه د بعضې قرآن په بعضې باندې فضيلت في حدذاته او د کلام الله کيدلو په اعتبار سره خو نه دې، په دې اعتبار سره خو ټول برابر دې، البته د سورتونه آثار، خواص او د بندګانو د حاجتونو په

¹: سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۷۵ (۱۳۳۵)، (تحفة الأشراف: ۳۹۶۵)، وقد أخرجه: ن الكبري/ التفسير (۱۱۴۰۶) (صحيح)

اعتبار سره بعضو ته په بعضو باندې فوقيت كيدې شي، مثلا تعوذ (دم درود) په اعتبار سره دمعوذتين نه لوئې هيڅ يو سورت نشته، دغه شان د الله تعالى صفات او كمالات او وحدانيت، چه دهغې د معرفت مونږ ټول خلق محتاج يو، داسې احتياج د ابولهب د واقعې معرفت طرف ته نشته، پس د بعضو سورتونو په بعضو باندې فضيلت د مضامينو د قسمونو سره سره د بندګانو د احتياج په اعتبار سره هم دې، نه چه د اداء معانى او د الفاظو او تعبيراتو په اعتبار سره دې، نو په تبت يدا ابى لهب كښې چه كوم مضمون بيان كړې شوې دې، يعنى دعاء بالخسران، ددې دپاره دهغې نه بهتر څه تعبير نه شى كيدې، كوم چه په دې سورة كښې موجود دې، دغه شان د بيان دوحدانيت دپاره چه كوم طرز تعبير او اسلوب په سورة اخلاص كښې استعمال شوې دې، دهغې نه بهتر څه دويمه تعبير نشى كيدې، (ملخصا من القسطلانى ج٧ص٤٤٣ بزيادة)

عن عثمان ان النبى (صلى الله عليه وسلم) قال خيركم من تعلم القرآن و علمه:

شرح حديث مع اشكال و جواب :

تاسو به په نور الانوار كښې لوستلې وى، چه قرآن د لفظ او معنى د مجموعې نوم دې، وهو اسم للنظم والمعنى جميعا، په دې حديث كښې د خادم القرآن فضيلت بيان شوې دې، پس دا خدمت به يا صرف د الفاظ قرآن وى، د قرآن مجيد لوستل، بل ته ښودل، يادول، دهغې تصحيح او تجويد، او يا به دا خدمت د قرآن مجيد د معنو و، د قرآن مجيد معانى او معارف زده كول او بل ته ښودل، تفسير او تشريح كول، دهغې نه د احكامو استنباط كول وغيره وغيره، او يا به دا خدمت د دواړو مجموعه وى، لهذا دا كنړل پكار نه دى، چه ددې حديث مصداق صرف د مكتب حافظ صاحب دې، بيا ددې تعليم مراتب دى د تعليم د حقونو ادا كولو او د كمال اخلاص په اعتبار سره، او ظاهره خبره ده، چه ددې فرد اكمل خپله رسول الله (ﷺ) دې، ثم الاشبه فالاشبه.

(عالم افضل دې كه قارى؟)

په بعضو شرحو كښې ئې ليكلې دى، چه كه څوک اوائى، چه ددې حديث مقتضى داده، چه قارى او مقرئ د فقيه (عالم دين) نه افضل دې، حالانكه د علم او علماؤ په فضائلو كښې په سوونو احاديث وارد دى، جواب دادې، چه په دې حديث كښې خطاب صحابه كرامو ته دې (اګر چه حكم عام دې) چه قرآن مجيد ئې د معنى په فهم سره زده كولو، نو اوس چه كوم سړې عالم او فقيه كيدلو سره قارى او مقرئ هم وى، ظاهره خبره ده، چه هغه به افضل وى، دهغه سړى نه چه صرف عالم او فقيه وى، لكه په ابواب الامامة كښې تير شوې دى، واقراهم كان اعلمهم، چه په صحابه كرامو كښې به څوک څومره لوئې قارى وو، هغومره به هغه لوئې عالم هم وو، حافظ ابن حجر رحمه الله ليكلې دى، چه د خيريت او افضليت مدار د نفع متعدى په كثرت او دهغې په قلت باندې ده، (لحديث خير الناس من ينفع الناس) لهذا د چا چه نفع او فيض زيات وى، دهغه مرتبه به هم زياته وى، (او ظاهره خبره ده، چه د عالم او فقيه فيض عام او تولو ته شامل وى، د صرف قارى د فيض نه)

[١٤٥٢]()حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ مَرْثَدٍ، عَنْ سَعْدِ بْنِ عُبَيْدَةَ، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عُثْمَانَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ".

د حضرت عثمان رضي الله عنه نه روايت دې چه نبی کريم ﷺ اوفرمائيل: په تاسو کښې د ټولو نه بهترين هغه څوک دې کوم چه قرآن خپله زده کړی او نورو ته ښائي.

او يا داسې وئيل پکار دی، چه دلته کښې من مقدر دې، ای من خيرکم، دې سره به حصر ختم شی، لکه چه ددې قسمه نورو ډيرو احاديثو کښې دا جواب ورکولې شي.

[١٤٥٣]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ السَّرْحِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، عَنْ زَبَّانَ بْنِ فَائِدٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ مُعَاذٍ الْجُهَنِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ وَعَمِلَ بِمَا فِيهِ أُلْبِسَ وَالِدَاهُ تَاجًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ ضَوْءُهُ أَحْسَنُ مِنْ ضَوْءِ الشَّمْسِ فِي بُيُوتِ الدُّنْيَا لَوْ كَانَتْ فِيكُمْ فَمَا ظَنُّكُمْ بِالَّذِي عَمِلَ بِهَذَا".

حضرت سهل بن معاذ جهنی د خپل پلار نه روايت کوی، د هغوی بيان دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: چا چه قرآن اولوستو او څۀ چه په دې کښې دی په هغې باندې ئې عمل اوکړو، نو دَ هغه مور او پلار ته به دَ قيامت په ورځ باندې يو تاج ورپسر کولې شي چه دَ هغې رڼړا به دَ نمر دَ رڼړا نه زياته وی، کۀ چرې هغه په دنيا کښې ستاسو په کورونو کښې وو. (کله چه دَ مور او پلار دا درجه ده) نو ستاسو څۀ ګمان دې په خپله په دې باندې دَ عمل کوونکی په باره کښې. چه دَ هغه به کوم مقام وی.''

تشريح: قوله: من قرأ القرآن و عمل بما فيه البس والداه تاجا يوم القيمة الخ:

کوم سړې چه قرآن مجيد په ډير شوق سره زده کړی، او هغې لره په ښه طريقې سره په ترتيل سره اولولی، او په هغې کښې چه کوم د اخلاق او آداب احکامات دی، په هغې ټولو باندې عمل اوکړی، او بعضو شارحينو د قرأ القرآن تشريح ای حفظه عن ظهر قلب سره کړې ده، يعنی قرآن مجيد هغه زبانی ياد کړې وی، نو دهغه والدينو ته به د قيامت په ؤرځ داسې تاج ورپسر کړې شی، چه دهغې رڼړا او چمک به دهغې نمر نه هم زيات وی، کوم نمر چه (بالفرض) ستاسو په کور کښې وی، پس څه ګمان دې ستاسو دهغې سړی باره کښې چه هغه خپله دا کار کړې وی، يعنی قراءت قرآن او په هغې باندې ئې عمل کړې وی، يعنی هرکله چه د قارئ قرآن والدينو سره دارنګې د اعزاز او اکرام معامله کولې شی، نو خپله دهغې قاری او حافظ د اعزاز او اکرام به څه حال وی، صاحب منهل ليکلې دی: وهذا اشارة الی ان ثواب القاری بلغ مبلغا عظيما لا تحيط به العقول فلا يعلم قدر عظمه الا الله تعالی. په دې حديث کښې ترغيب دې، خپل اولاد ته د تعليم القرآن ورکولو، او هغوی ته په دې باندې د عمل کولو تاکيد دې.

[1]: صحيح البخاري/فضائل القرآن ٢١ (٢٩٠٧)، سنن الترمذي/فضائل القرآن ١٥ (٢٩٠٧، ٢٩٠٨)، سنن ابن ماجه/المقدمة ١٦ (٢١٢)، (تحفة الأشراف:٩٨١٣)، وقد أخرجه: ن الكبري/فضائل القرآن (٨٠٣٧)، مسند احمد (١/٥٧، ٥٨، ٦٩)، سنن الدارمي/فضائل القرآن ٢ (٣٣٤١) (صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف:١١٢٩٤)، وقد أخرجه: (حم (٣/٤٤٠) (ضعيف)

[١٤٥٤] ([1]) حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، وَهَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ زُرَارَةَ بْنِ أَوْفَى، عَنْ سَعْدِ بْنِ هِشَامٍ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الَّذِي يَقْرَأُ الْقُرْآنَ وَهُوَ مَاهِرٌ بِهِ مَعَ السَّفَرَةِ الْكِرَامِ الْبَرَرَةِ، وَالَّذِي يَقْرَؤُهُ وَهُوَ يَشْتَدُّ عَلَيْهِ فَلَهُ أَجْرَانِ".

دَ حضرت ام المؤمنين عائشي رضي الله عنها نه روايت دې چه نبي كريم ﷺ اوفرمائيل: "كوم كس چه قرآن لولي او هغه په دې كښې ماهر دې، هغه به دَ اعمال ليكونكو معزز او اطاعت گزار فرشتو سره وى. او كوم شخص چه قرآن لولي، مگر هغه ته په قرآن لوستو كښې مشقت وى (په تلاوت كښې اونخلى په روانئ سره تلاوت نۀ شى كولې) نو دَ هغه دَ پاره دوه اجره دى.

شرح حديث:

قوله: مع السفرة الكرام البررة: سفره د سافر جمع ده، لكه د كاتب جمع كتبه ده، وزنا او معنى سفر بمعنى كتابت نه ماخوذ دې، يعنى هغه فرشتې چه د لوح محفوظ نه صحيفې نقل كوى، بعضو ددې ترجمه ميرمنشى سره كړې ده، او وئيلې شوې دى، چه ددې نه مراد ملائكه رسل دى، يعنى هغه فرشتې چه د انبياء عليهم السلام او د الله تعالى په مينځ كښې واسطه او سفير وى، په دې سورت كښې به سافر په معنى د سفير كښې وى، او د سافر مصدر به سفارة وى (منهل وغيره) او بررة د بار جمع ده، په معنى د نيكوكار، لهذا ددې معنى دا شوه، صلحاء او اتقياء، كوم سړې چه د قرآن مجيد ماهر دې، هغه به دهغې ملائكو سره وى، د قرآن مجيد ماهر هغه ته وئيلې شى، چه هغه ته ياد هم ښه وى، او لوستل هم ښه كوى، او كه په معانى او مراد باندې هم خبر وى، نو بيا لا څه وائې، د ملائكو سره د كيدو مطلب دادې، چه هغوى هم د قرآن مجيد لره د لوح محفوظ نه نقل كونكې دى، او دې هم د قرآن مجيد نقل كونكې او رسونكې دې، نو گويا دواړه په يوه لار باندې دى، يا دا چه په حشر كښې به دهغوى سره اجتماع وى، (فضائل قرآن مجيد) يا كله كله د جنت په منزلونو كښې يو ځائې كيدل مراد دى. وهو يشتد عليه فله اجران: كوم سړې چه د ژبې د دروندوالې د وجې نه د قرآن مجيد الفاظ په سهولت سره ادا كولې نشى، يا د حافظې د كمزورۍ په وجه په سهولت سره نه شى لوستلې، دهغه دپاره دوه اجره دى، يو اجر د قراءت، او دويم اجر د مشقت، باقى ددې نه دا لازم نه راځى، چه ددې مرتبه د ماهر بالقرآن نه اوچته شى، د ماهر مرتبه خو ډيره اوچته ده، چه مخكښې بيان شوه.

[١٤٥٥] ([2]) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِي بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللَّهِ تَعَالَى يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ وَيَتَدَارَسُونَهُ بَيْنَهُمْ إِلَّا نَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِينَةُ، وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ، وَحَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ، وَذَكَرَهُمُ اللَّهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ".

[1]): صحيح البخاري/تفسير القرآن ٧٩ (٤٩٣٧)، صحيح مسلم/المسافرين ٣٨ (٧٩٨)، سنن الترمذي/فضائل القرآن ١٣ (٢٩٠٤)، ن الكبري / فضائل القرآن (٨٠٤٥، ٨٠٤٦)، سنن ابن ماجه/الأدب ٥٢ (٣٧٧٩)، (تحفة الأشراف: ١٦١٠٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/٤٨، ٩٤، ٩٨، ١١٠، ١٧٠، ١٩٢، ٢٣٩، ٢٦٦)، سنن الدارمي/فضائل القرآن ١١ (٣٤١١) (صحيح)

[2]): صحيح مسلم/الذكر والدعاء ١١ (٢٦٩٩)، سنن ابن ماجه/المقدمة ١٧ (٢٢٥)، (تحفة الأشراف: ١٢٥٣٧)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الحدود ٣ (١٤٢٥)، والبر والصلة ١٩ (١٩٣٠)، والعلم ٢ (٢٦٤٦)، والقراءات ١٢ (٢٩٤٦)، مسند احمد (٢/٢٥٢)، سنن الدارمي/المقدمة ٣٢ (٣٦٨) (صحيح)

حضرت ابوهریره ﷺ د نبي کریم ﷺ نه روایت کوي چه حضور ﷺ اوفرمائیل: "کوم خلق چه د الله د کورونو نه په یو کور کښې جمع شي او د کتاب الله تلاوت کوي او په خپل مابین کښې د هغې درس او مذاکره کوي نو په هغوی باندې سکینه نازلیږي، رحمت هغوی لره پټوي، فرشتې هغوی لره په خپله ګیره کښې اخلي او الله جل شانه د هغوی ذکر په هغه چا کښې کوي کوم چه د هغه سره دي." (یعنی مقرب فرشتې)

تشریح: قوله: الا نزلت علیهم السکینة: ای الرحمة او ملائکة الرحمة او ما حصل به السکون، یعنی څه داسې څیز، چه هغې سره د زړهٔ سکون حاصل شي، ددې حدیث شرح په رسالله فضائل قرآن ص ۳۲ کښې هم کتلې شئ.

[۱٤۵٦](١)حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ عَلِيِّ بْنِ رَبَاحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ الْجُهَنِيِّ، قَالَ: خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ فِي الصُّفَّةِ، فَقَالَ: "أَيُّكُمْ يُحِبُّ أَنْ يَغْدُوَ إِلَى بُطْحَانَ، أَوِ الْعَقِيقِ فَيَأْخُذَ نَاقَتَيْنِ كَوْمَاوَيْنِ زَهْرَاوَيْنِ بِغَيْرِ إِثْمٍ بِاللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ، وَلَا قَطْعِ رَحِمٍ؟" قَالُوا: كُلُّنَا يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: "فَلَأَنْ يَغْدُوَ أَحَدُكُمْ كُلَّ يَوْمٍ إِلَى الْمَسْجِدِ فَيَتَعَلَّمَ آيَتَيْنِ مِنْ كِتَابِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ خَيْرٌ لَهُ مِنْ نَاقَتَيْنِ، وَإِنْ ثَلَاثٌ فَثَلَاثٌ مِثْلُ أَعْدَادِهِنَّ مِنَ الْإِبِلِ".

حضرت عقبه بن عامر جهني ﷺ بیان کوي چه رسول الله ﷺ مونږ ته تشریف راوړو، په داسې حال کښې چه مونږ په صُفّه کښې وو. حضور ﷺ اوفرمائیل: "په تاسو کښې څوک دا خوښه وي چه د بطحان یا د عقیق وادئ ته لاړ شي او د هغه ځائي نه چاقې، تازه او د اوچتو قُبونو والا دوه اوښې راولي او دې په دې کښې د څه ګناه یا د قطع رحمئ مرتکب هم نهٔ وي." صحابهٔ کرامو ﷺ اوفرمائیل اې د الله رسوله! مونږ ټول دا غواړو. حضور ﷺ اوفرمائیل: "ستاسو هره ورځ جمات ته تلل او د کتاب الله نه دوه آیتونه زده کول د دوو اوښو د حصول نه بهتر دي، کهٔ چرې درې آیتونه زده کړي نو د دریو اوښانو نه بهتر دي. دغه شان د زیاتو آیتونو د مقدار مطابق د اوښانو نه بهتر دي. حضرت ابو عبد الله د "کوماء" ترجمه بیانوي چه د اوچتو قبونو والا اوښان.

تشریح: قوله: ایکم یحب ان یغدوا الی بطحان او العقیق: دا دوه مشهور بازارونه او منډیانې دي په مدنیه منوره کښې، کوماوین اوچت قب والا زهراوین خائسته رنګ او چمک دارې، دا تثنیه ده د زهراء چه مشتق ده د زهرة نه، ددې معنی خائسته او رونق ده.

قوله: وان ثلث فثلث مثل اعدادهن من الابل: د هن ضمیر آیتونو طرف ته راجع دې. په ظاهر کښې تقدیر د عبارت داسې دې، مثل اعداد من الابل او د دریو آیتونو زده کول، د دریو اوښو نه بهتر دي.

شرح حدیث:

د مثل اعدادهن من الابل درې مطلبه کیدې شي، (١) هلم جرا یعنی دغه شان په مخکښې ځئ، درې آیاته افضل دی د دریو اوښو نه، او څلور آیتونه د څلورو اوښو نه، او پنځه د

(١): صحیح مسلم/المسافرین ٤١ (٨٠٣)، (تحفة الأشراف: ٩٩٤٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٥٤/٤) (صحیح)

پنځو اوښو نه الی آخره. (۲) ناقه خو اوښې (ماده) ته وئیلې شی، او د ابل نه مراد اوښ (نر) دې، بعضې وخت کښې سړی ته په اوښانو کښې د مادې حاجت وی، او بعضې وخت کښې د نر، ددې وجې نه ابل ئې ځانله ذکر کړو، یعنی که غواړې نو هغه واخله، او که غواړې نو دا واخله. (۳) دریم مطلب دادې، چه یو آیت د یوې ناقې او یو ابل (د دواړو د مجموعې) نه افضل دې، او ابل د دواړو مجموعه مراد ده، باقی دا ټول تمثیل او تقریب الی فهمنا العلیل دې، ګنې یو آیت د ټولې دنیا نه هم افضل دې، رکعتا الفجر خیر من الدنیا و ما فیها.

بَابُ فَاتِحَةِ الْكِتَابِ

باب: ۱۵-دَ سورۀ فاتحې بیان

[۱٤٥٧](1) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ أَبِي شُعَيْبٍ الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، عَنِ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ أُمُّ الْقُرْآنِ، وَأُمُّ الْكِتَابِ، و السَّبْعُ الْمَثَانِي".

حضرت ابوهریره رضی الله عنه بیان کوی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل: "الحمد لله رب العالمین" ام القران دې، ام الکتاب او السبع المثانی دې.

ام القرآن و ام الکتاب والسبع المثانی، دا ټول د سورۀ فاتحې نومونه دی، ددې سورۀ ډیر نومونه دی، و کثرة الاسماء تدل علی شرف المسمی، الوافیه، الکافیه، الشافیه، سورۀ الشفاء، سورۀ الاساس، سورۀ الصلوة، سورۀ السوال، سورۀ الشکر، سورۀ الدعاء (بذل من التفسیر الکبیر)

(وجه تسمیه ب سبع مثانی)

او سبع مثانی وئیلو دوه وجهې لیکلې دی، سبع خو ددې وجې نه، چه آیتونه اووه دی، او مثانی د مثنی جمع ده، په معنی د مکرر، یا خو ددې وجې نه چه ددې سورۀ نزول مکرر دې، یو ځل په مکه مکرمه کښې، او یو ځل په مدینه منوره کښې نازل شوې دې، او یا ددې وجې نه چه دا سورۀ مکرر او سه کرر لوستلې کیږی، یعنی په ټولو مونځونو کښې لوستلې کیږی.

[۱٤٥٨](2) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ خُبَيْبِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَ: سَمِعْتُ حَفْصَ بْنَ عَاصِمٍ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِي سَعِيدِ بْنِ الْمُعَلَّى، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِهِ وَهُوَ يُصَلِّي فَدَعَاهُ، قَالَ: فَصَلَّيْتُ، ثُمَّ أَتَيْتُهُ، قَالَ: فَقَالَ: "مَا مَنَعَكَ أَنْ تُجِيبَنِي؟"، قَالَ: كُنْتُ أُصَلِّي، قَالَ: "أَلَمْ يَقُلِ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ سورة الأنفال آية ٢٤، لَأُعَلِّمَنَّكَ أَعْظَمَ سُورَةٍ مِنَ الْقُرْآنِ، أَوْ فِي الْقُرْآنِ شَكَّ خَالِدٌ، قَبْلَ أَنْ أَخْرُجَ مِنَ الْمَسْجِدِ" قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ قَوْلُكَ، قَالَ: "الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ سورة الفاتحة آية ٢ هِيَ السَّبْعُ الْمَثَانِي الَّتِي أُوتِيتُ وَالْقُرْآنُ الْعَظِيمُ".

---

(1): صحيح البخاري/تفسير القرآن ٣ (٤٧٠٤)، سنن الترمذي/فضائل القرآن ١ (٢٨٢٥)، وتفسير القرآن ١٦ (٣١٢٤)، (تحفة الأشراف:١٣٠١٤)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الافتتاح ٢٦ (٩١٥)، مسند احمد (٤٤٨/٢)، سنن الدارمي/فضائل القرآن ١٢ (٣٤١٧) (صحيح)

(2): صحيح البخاري/تفسير الفاتحة ١ (٤٤٧٤)، وتفسير الأنفال ٣ (٤٦٤٨)، وتفسير الحجر ٣ (٤٧٠٣)، وفضائل القرآن ٩ (٥٠٠٦)، سنن النسائي/الافتتاح ٢٦ (٩١٤)، سنن ابن ماجه/الأدب ٥٢ (٣٧٨٥)، (تحفة الأشراف:١٢٠٤٧)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/الصلاة ٧ (٣٧)، مسند احمد (٤٥٠/٣، ٢١١/٤)، سنن الدارمي/الصلاة ١٧٢ (١٥٣٣)، وفضائل القرآن ١٢ (٣٤١٤) (صحيح)

حضرت ابو سعید بن معلیٰ رضی الله عنه روایت کوی چه نبی کریم ﷺ په دوی باندې تیر شو او حال دادې چه دهٔ مونځ کولو. پس حضور ﷺ دهٔ لره راوبللو. هغه وائی چه ما مونځ مکمل کړو بیا د حضور ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم. حضور ﷺ اوفرمائیل: "تا لره ما ته دَ جواب راکولو نه څه څیز منع کړو؟ (حاضر ولې نهٔ شوې) هغهٔ اووې ما مونځ کولو، حضور ﷺ اوفرمائیل آیا الله تعالیٰ دانهٔ دی فرمائیلې: اې ایمان والو! الله او دَ هغه رسول ته جواب ورکړئ کله چه تاسو لره راوبلی داسې څیز طرفته چه هغه تاسو ته حیات درکړی. " (دَ څه څیز چه حکم درکړی نو فوراً په هغې باندې عمل پیرا شئ) (بیا ئې اوفرمائیل) زهٔ به تا ته دَ جمات نه دَ وتلو نه وړاندې یو اعظم (افضل) سورت ښایم." خالد ته شک راغلې دې چه په حدیث کښې لفظ دَ " من القرآن " دې یا دَ " فی القرآن " (بیا څه وخت تیر شو) نو ما عرض اوکړو اې دَ الله رسوله! تاسو فرمائیلې وو ... حضور ﷺ اوفرمائیل: ... " (هغه سورت) { الحمد لله ربّ العالمین } دې دا السبع المثانی دې کوم چه ماته راکړې شوې دې او القرآن العظیم دې.

تشریح: قوله: عن سعید بن المعلی ان النبی (صلی الله علیه وسلم) مربه وهو یصلی فدعاه الخ:

د دې صحابی نوم الحارث بن نفیع دې، دهٔ مونځ کولو، حضور (ﷺ) په دهٔ باندې تیر شو، او ورته ئې آواز اوکړو، لیکن دهٔ په مانځه کښې خبرې اونه کړې (یعنی جواب ئې ورنکړو) د مانځه نه فارغیدو نه پس حاضر شو، نبی کریم (ﷺ) ورته اوفرمائیل مامنعک ان تجیبنی.

اختلاف روایتین:

دا حدیث په بخاری کښې هم داسې دې، یعنی دا چه دا قصه د ابوسعید بن المعلی ده، لیکن ترمذی کښې په روایت د ابوهریره رضی الله عنه داسې دی، چه دا واقعه د ابی بن کعب ده، چه هغه مونځ کولو، د حضور (ﷺ) تیریدنه په هغه باندې اوشوه، بیهقی فرمائي چه دا واقعه دواړو سره پیښه شوې ده، د حافظ ابن حجر هم دا رائې ده، ځکه چه د دواړو احادیثو مخرج او سیاق مختلف دې، دلته کښې د بعضو راویانو نه یو بل وهم شوې دې، چه هغې طرف ته حافظ اشاره کړې ده، حافظ رحمه الله فرمائي، چه دا خبره چه دا قصه د ابوسعید خدری رضی الله عنه سره پیښه شوې ده، دا وهم دې.

د "اجابة النبی (صلی الله علیه وسلم) فی الصلوة" حکم:

ددې نه پس په دې پوهیدل پکار دی، چه د ائمه اربعه په نزد اجابة النبی د مانځه په حالت کښې هم واجب دې، اگر که هغه مونځ فرض ولې نه وی، لیکن په بطلان د صلوة کښې اختلاف دې، تقریبا ټولو امامانو په دې کښې دواړه اقوال دی، لیکن معتمد عند الشافعیه والمالکیه عدم بطلان دې، رجح الطحاوی البطلان والقول الثانی للحنفیه عدم البطلان.

بَابُ مَنْ قَالَ هِيَ مِنَ الطُّوَلِ

باب: ١٦ - دَ هغه چا دليل كوم چه والي سورت فاتحه دَ اوږدو سورتونو نه ده۔

په ترجمة الباب كښې دوه احتمالات:

الطول د طولى جمع ده، لكه الكبر د كبرى جمع ده، ددې نه پس په دې پوهه شئ، چه په دې ترجمة الباب كښې دوه اقوال دى، اول داچه هى ضمير راجع دې، فاتحې طرف ته، او مطلب دادې، چه سورة فاتحه د طول يعنى اوږدو سورتونو نه ده، يعنى په اعتبار د معانيو دكثرت اوجامعيت سره، نه په اعتبار دالفاظوسره (دويم قول مخكښې راروان دې)

[١٤٥٩]([1])حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ مُسْلِمٍ الْبَطِينِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: أُوتِيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْعًا مِنَ الْمَثَانِي الطُّوَلِ، وَأُوتِيَ مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام سِتًّا، فَلَمَّا أَلْقَى الْأَلْوَاحَ رُفِعَتْ ثِنْتَانِ وَبَقِيَ أَرْبَعٌ.

حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمائى چه رسول الله ﷺ ته اووهٔ ايتونه وركړې شوې دى كوم چه بار بار لوستلې شى او ډير اوږدهٔ دى . او موسىٰ عليه السلام ته شپږ آيتونه وركړې شوې وو . كله چه هغوى تختئ په زمكه باندې اوغورځولې نو د هغې نه دوه اوچت كړې شو او څلور باقى پاتې شو .

تشريح: قوله: عن ابن عباس رضي الله عنه قال اوتى رسول الله (صلى الله عليه وسلم) سبعا من المثانى الطول:

ددې حديث نه معلومه شوه، چه سبع مثانى د طول نه دې، او په باب سابق كښې تير شو، چه د سبع مثانى مصداق سورة فاتحه دې، پس دواړه احاديث يوځائې كولو سره معلومه شوه، چه سورة فاتحه د طول نه دې، او دويم قول دادې، چه په ترجمة الباب كښې هى ضمير طول طرف ته راجع دې، او لفظ من زائد دې، او د الطول نه مراد سبع طول دى، مطلب دا شو، چه سبع مثانى سبع طول دى، په اصل كښې د حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه د سبع مثانى په مصداق كښې دوه قوله دى، اول هغه چه په باب سابق كښې تير شو (يعنى سورة فاتحه) او دويم قول دادې، چه د سبع مثانى نه مراد سبع طول دى، يعنى د قرآن مجيد په شروع كښې اووه اوږدهٔ اوږده سورتونه، د سورة بقرې نه سورة توبې پورې.

واوتى موسى ستا فلما القى الالواح رفعت ثنتان و بقين ([2])اربع: موسى (ع) ته چه كوم تورات وركړې شوې وو، هغه ټول په شپږو تختو باندې ليكلې شوې وو، چه كله هغوى هغه راواخستل (هركله چه هغوى د طور نه د رب سره مناجات كولو نه فارغ شول او راغلل، نو وې ليدل، چه دهغوى قوم د سخى عبادت كولو) نو په هغې كښې دوه تختې آسمان ته پورته كړې شوې، او څلور باقى پاتې شوې، په دې سلسله كښې روايات مختلف دى، په يو روايت كښې دادى، چه د تورات اووه حصې وې، په هغې كښې شپږ حصې اوچتې كړې شوې، او صرف يوه حصه يعنى سبع باقى پاتې شوه، او په يو بل روايت كښې دادى، چه د

---

[1]): سنن النسائي/الافتتاح ٢٦ (٩١٦، ٩١٧)، (تحفة الأشراف:٥٦١٧) (صحيح)

[2]) القياس وبقيت.١٢ منهل.

تورات تولې شپږ حصې وې، په هغې کښې پنځه پورته کړې شوې، او صرف یوه حصه یعنی سدس باقی پاتې شوه، (بذل عن الدر المنثور)

بَابُ مَا جَاءَ فِي آيَةِ الْكُرْسِيِّ

باب: د آیت الکرسی فضیلت

[١٤٦٠] ()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ إِيَاسٍ، عَنْ أَبِي السَّلِيلِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ رَبَاحٍ الْأَنْصَارِيِّ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَبَا الْمُنْذِرِ، أَيُّ آيَةٍ مَعَكَ مِنْ كِتَابِ اللَّهِ أَعْظَمُ؟" قَالَ: قُلْتُ: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، قَالَ: "أَبَا الْمُنْذِرِ، أَيُّ آيَةٍ مَعَكَ مِنْ كِتَابِ اللَّهِ أَعْظَمُ؟" قَالَ: قُلْتُ: اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ سورة البقرة آية ٢٥٥، قَالَ: فَضَرَبَ فِي صَدْرِي، وَقَالَ: "لِيَهْنَ لَكَ يَا أَبَا الْمُنْذِرِ الْعِلْمُ".

حضرت ابی ابن کعب ﷺ فرمائی چه رسول الله ﷺ دۀ نه پوښتنه اوکړه: "اې ابو منذر! تاته په کتاب الله کښې د ټولو نه عظیم کوم آیت یاد دې؟ دې فرمائی چه ما عرض اوکړو: الله او د هغه رسول ښۀ پوهیږی. حضور ﷺ (بیا) اوفرمائیل: "اې ابو منذر! تاته په کتاب الله کښې کوم آیت یاد دې کوم چې د ټولو نه اعظم وی؟ ما عرض اوکړو: {اللّٰه لَاإِلٰه إِلَّاهُوَالْحَیُّ الْقَیوم} په دې باندې ما لره رسول الله ﷺ په سینه کښې اوهلو اووې فرمائیل: اې ابو منذر! تاته دې علم مبارک وی.

قلت الله و رسوله اعلم: ابتداء، جواب ئې د ادب د وجې نه ورکړو، چه حضور (ﷺ) ئې په خپله ارشاد اوفرمائي، او یا ددې وجې نه، چه دا سوچ ئې کړې وی، چه ممکن ده، زۀ چه کوم آیت اعظم ګنړم، د نبی کریم (ﷺ) په نزد هغه داسې نه وی.

و قال لیهن لک یا اباالمنذر العلم: العلم په ترکیب کښ فاعل دې د فعل مذکور، اې ابوالمنذر! تاته ستا علم مبارک شه،

(د صیغه لِيَهْنِ تحقیق)

لیهن د امر صیغه ده، او په بعضو نسخو کښې لیهنئ همزې سره دې، او هم دا اصل هم دې، دلته په کتاب کښې تخفیفا خذف کړې شوې دې، ای لیکن العلم هنیئا لک، هنئ هغه څیز ته وئیلې شی، چه انسان ته په سهولت سره بغیر د مشقت نه حاصل وی، هنؤ یهنؤ هنا د باب کرم نه، او هنئ یهنا د باب سمع نه، وهنا یهنا د باب ضرب نه راځی، او هم ددې نه تهنئة هم راځی، چه د تعزیة ضد دې، چاته مبارکی ورکول، او د چا په خوشحالی باندې د خوشحالی اظهار کول.

شارحینو لیکلې دی، چه ددې حدیث نه معلومیږی، چه د افسر اعلی او استاذ دپاره مناسب دی، چه هغه کله کله خپل شاګرد او ماتحت ته، په چا کښې چه صلاحیت وینی، بطور امتحان ترې څه سوال کوی، دې دپاره چه دهغه خوبی او فضیلت نورو ته ښکاره شی، او هغوی هم دده نه نفع واخلی، او د استاذ یا د مشر د خپلو فضلاؤ ملګرو او لائق

[1]: صحیح مسلم/المسافرین ٤٤(٨١٠)، (تحفة الأشراف:٣٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٤١/٥) (صحیح)

شاګردانو تعظیم کول، او د چا په مخکښې دهغه مدح کول، هرکله چه په دې کښې مصلحت وی، او څه نقصان په کښې نه وی (یعنی د ممدوح په تکبر کښې مبتلاء کیدل) او دا چه آیة الکرسی د قرآن مجید عظیم ترین آیت دې، او دا چه د بعضو آیتونو تفضیل په بعضو باندې جائز دې، (و قد تقدم شئ من التفضیل والاختلاف فیه)

بَابٌ فِي سُورَةِ الصَّمَدِ

باب: ١٨ - دَ سورت اخلاص فضیلت

[١٤٦١] ([1]) حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ رَجُلًا سَمِعَ رَجُلًا يَقْرَأُ: قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ يُرَدِّدُهَا، فَلَمَّا أَصْبَحَ جَاءَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ لَهُ، وَكَأَنَّ الرَّجُلَ يَتَقَالُّهَا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنَّهَا لَتَعْدِلُ ثُلُثَ الْقُرْآنِ".

د حضرت ابو سعید خدری ﷺ نه روایت دې چه یو کس د بل نه اوریدلې دی چه هغه (قل هو الله احد) بار بار لوستله . چه کله صبا شو نو دا سړې نبی کریم ﷺ ته راغې او ددې خبرې ذکر ئې ورته اوکړو ... او دۀ ګویا چه دې لره کم ګنړلو. نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: قسم دې په هغه ذات چه دَ هغه په قدرت کښې زما روح دې، بې شکه دا دَ دریمې حصې دَ قرآن برابر دې . "

تشریح: قوله: عن ابی سعید الخدری ان رجلا سمع رجلا یقرأ قل هوالله احد:

یو سړی بل سړې اولیدو، چه هغه د شپې په مانځه کښې بس یو سورة یعنی سورة اخلاص بار بار لوستلو (ددې نه علاوه بل څه سورة ئې نه لوستلو) چه کله سحر شو، نو دا اوریدونکې سړې د حضور (ﷺ) په خدمت کښې حاضر شو، او ددې څیز تذکره ئې نبی کریم (ﷺ) ته اوکړه، او دا تذکره ئې ددې وجې نه اوکړه، چه هغه صرف د یو سورة په ذکر باندې اکتفاء کول قلیل مقدار ګنړلو، په بذل المجهود کښې لیکلې دی، چه په دې قصه کښې اوریدونکې خپله د حدیث راوی ابوسعید خدری ﷺ دې، او قاری (تلاوت کونکې) دهغه اخیافی (مور شریک) رور قتاده بن النعمان دې.

قوله: انها لتعدل ثلث القرآن: سورة قل هوالله احد د ثلث قرآن برابر دې، په دې کښې درې احتمالات دی، یا په اعتبار د ثواب سره، او یا په اعتبار د مضمون سره، د اول تشریح داده، چه د عمل یو خو اصل اجر وی، چه دهغې نه په اجر اصلی سره تعبیر کولې شی، او اجر المضاعف (الحسنة بعشر امثالها الی سبع مائة ضعف) چه هغې ته (علی لسان اهل الدرس) اجر انعامی وئیلې شی، نو مطلب دا شو، چه د سورة اخلاص اجر انعامی د ثلث قرآن د اجر اصلی برابر دې، او د دویم مطلب توضیح داده، چه په قرآن مجید کښې درې لوئې لوئې مضامین بیان کړې شوې دی، عقائد، احکام، اخبار و قصص (د تیر شوؤ انبیاء کرامو او امتونو احوال

[1]): صحیح البخاري/فضائل القرآن ١٣ (٥٠١٣)، والأيمان والنذور ٣ (٦٦٤٣)، والتوحيد ١ (٧٣٧٤)، سنن النسائي/الافتتاح ٦٩ (٩٩٦)، وعمل اليوم والليلة ٢٠٤ (٦٩٨)، (تحفة الأشراف:٤١٠٤)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/القرآن ٦ (١٧)، مسند احمد (٣/٣٥،٤٣) (صحيح)

او واقعات) په دې ورو کې سورة کښې دهغې دريو نه عقائد يعنى د توحيد او د الله تعالى د صفتونو ذكر دې، په دغې اعتبار سره دې سورة ته ثلث قرآن اوفرمائيلې شو، او دريم احتمال ددې جملې په معنى كښې دادې، چه هغه سرې دا سورت بار بار په دومره كثرت سره اولوستلو، چه په مقدار كښې هغه د لسو سپارو برابر شو، (مثلا زر كرته ئې اولوستلو)

بَابٌ فِي الْمُعَوِّذَتَيْنِ

باب: ۱۹- دَ معوذتينو فضيلت

په دې كښې د واؤ كسره او فتحه دواړه جائز دى (بذل عن المرقاة)

[۱۴۶۲]()حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ السَّرْحِ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي مُعَاوِيَةُ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنِ الْقَاسِمِ مَوْلَى مُعَاوِيَةَ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، قَالَ: كُنْتُ أَقُودُ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَاقَتَهُ فِي السَّفَرِ، فَقَالَ لِي: "يَا عُقْبَةُ، أَلَا أُعَلِّمُكَ خَيْرَ سُورَتَيْنِ قُرِئَتَا؟" فَعَلَّمَنِي: قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ وَقُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ قَالَ: فَلَمْ يَرَنِي سُرِرْتُ بِهِمَا جِدًّا، فَلَمَّا نَزَلَ لِصَلَاةِ الصُّبْحِ صَلَّى بِهِمَا صَلَاةَ الصُّبْحِ لِلنَّاسِ، فَلَمَّا فَرَغَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الصَّلَاةِ الْتَفَتَ إِلَيَّ، فَقَالَ: "يَا عُقْبَةُ كَيْفَ رَأَيْتَ؟".

حضرت عقبه بن عامر وائى چه ما په يو سفر كښې د نبى كريم ﷺ د اوښې رسئ نيولې وه او تللم . حضور ﷺ ماته اوفرمائيل اې عقبه ! آيا زهٔ تاته دوه بهترين لوستلى شوى سورتونه اونهٔ ښايم؟ چانچه حضور ﷺ ماته {قل اعوذ برب الفلق } او {قل اعوذ برب الناس } اوښودل . فرمائى چه رسول الله ﷺ محسوسه كړه چه زهٔ په دې باندې څهٔ زيات خوشاله نهٔ يم . فرمائى: بيا چه كله نبى كريم ﷺ دَصبا دَ مونځ دَ پاره راكوز شو او خلقو ته ئې مونځ ادا كړو نو په مونځ كښې ئې هم دا دوه سورتونه تلاوت كړل . كله چه هغوى ﷺ دَ مونځ نه فارغ شو نو زما طرف ته متوجه شو اووې فرمائيل : اې عقبه ! تا څنګه بيا موندل " (دې دوو سورتونو لره) .

تشريح: قوله: الا اعلمك خير سورتين قرءتا الخ: هغه دوه سورتونه چه د ټولو نه بهتر دى، يعنى په باب استعاذه كښې، د پيريانو او شيطانانو او دهغوى د ضرر نه بچ كيدو دپاره، **فلم يرنى سررت بهما جدا:** پس تا زهٔ نه اوم ليدلې، چه زهٔ څومره زيات خوشحاله شوم، دهغې دواړو سورتونو نوم اوريدلو سره.

يا عقبة كيف رايت: يعنى تا اوليدل هم، چه دا دوه واړهٔ واړهٔ سورتونه د لوئې سورتونو قائم مقام شول، چه د سحر په مانځه كښې عام طور سره لوستلې شى، دويم مطلب ددې دا هم كيدې شى، چه نبى كريم (ﷺ) هغې صحابى ته د كوم غرض دپاره ددې سورتونو تعليم فرمائيلې وو، (وسوسې، خطرات يا ويره وغيره دفع كولو دپاره) دهغې باره كښې نبى كريم (ﷺ) دهغه نه تپوس فرمائي، چه اوايه اوس دې د زړهٔ څهٔ حالت دې؟ يعنى فائده درته محسوس شوه او كه نه؟

[1]): تفرد به ابوداود، (تحفة الأشراف:۹۹۴٦)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/المسافرين ٤٦ (٨١٤)، سنن الترمذي/فضائل القرآن ١٢ (٢٩٠٢)، قيام الليل (١٣٣٧)، ن الكبري/الاستعاذة (٧٨٤٨)، مسند احمد (١٤٤/٤، ١٤٩، ١٥١، ١٥٣)، سنن الدارمي/فضائل القرآن ٢٤ (٣٤٨٢) (صحيح)

[١٤٦٣] (١) حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مُحَمَّدٍ النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، قَالَ: بَيْنَا أَنَا أَسِيرُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ الْجُحْفَةِ، وَالْأَبْوَاءِ، إِذْ غَشِيَتْنَا رِيحٌ وَظُلْمَةٌ شَدِيدَةٌ، فَجَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَعَوَّذُ بِـ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ وَأَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ، وَيَقُولُ: "يَا عُقْبَةُ، تَعَوَّذْ بِهِمَا، فَمَا تَعَوَّذَ مُتَعَوِّذٌ بِمِثْلِهِمَا" قَالَ: وَسَمِعْتُهُ يَؤُمُّنَا بِهِمَا فِي الصَّلَاةِ.

حضرت عقبه بن عامر رضی الله عنه بیان کوی چه یو ځل زهٔ د نبی کریم ﷺ سره تلمه، مونږ د جحفي او د ابواء مقام په مابين کښې وو چه سخت باد راغي او سخته تيارهٔ جوړه شوه، نو رسول الله ﷺ {قل اعوذ برب الفلق} او {قل اعوذ برب الناس} اولوستل. اووې فرمائيل: اې عقبه! ددې په تلاوت سره تعوذ کوه (د الله نه پناه غواړه) هيڅ پناه غوښتونکی ددې نه په زيات افضل کلماتو سره پناه نهٔ ده غوښتلې، عقبه وائی: ما واوريدل چه حضور ﷺ به په دې سورتونو سره په مونځ کښې مونږ ته امامت راکولو.

بَابُ اسْتِحْبَابِ التَّرْتِيلِ فِي الْقِرَاءَةِ

باب: ٢٠- دَ قرائت دَ ترتیل استحباب

ترتیل بمعنی تانی یعنی ترک العجلة، یعنی قرآن مجید لره په مزه مزه لوستل، حروف او حرکاتو لره په ښه طريقې سره ظاهرول، د حضرت ګنګوهی په تقرير الکوکب الدری کښې ليکلې دی، چه د ترتيل درجه ډيره اوچته ده د تکثير تلاوت نه، او بيا ئې مخکښې ليکلې دی، چه الله تعالی توفيق ورکونکې دې، د خپلو خوښو طريقو، او حضرت شيخ په حاشه کوکب کښې د حضرت شاه عبدالعزيز رحمه الله د تفسير نه نقل کړې دی، چه ترتيل د اووه څيزونو د لحاظ ساتلو نوم دې، تصحيح الحروف، مراعاة الوقوف، اظهار الشد والمد، اشباع الحرکات، تزيين الصوت، التاوه فيه، التاثر بآيات الرغبة والرهبة، او ددې اووهٔ واړو څيزونو تشريح حضرت شيخ په خپل اردو تصيف فضائل قرآن مجيد کښې فرمائيلې ده،

[١٤٦٤] (٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ سُفْيَانَ، حَدَّثَنِي عَاصِمُ بْنُ بَهْدَلَةَ، عَنْ زِرٍّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يُقَالُ لِصَاحِبِ الْقُرْآنِ اقْرَأْ وَارْتَقِ وَرَتِّلْ كَمَا كُنْتَ تُرَتِّلُ فِي الدُّنْيَا، فَإِنَّ مَنْزِلَكَ عِنْدَ آخِرِ آيَةٍ تَقْرَؤُهَا".

حضرت عبد الله بن عمرو رضی الله عنه بیان کوی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: "صاحب قران ته به اووئيلې شی چه قرآن لوله او خيږه، او په مزه مزه ئې داسې وايه لکه څنګه چه تا دې لره په دنيا کښې لوستلو، په کوم ځائې چه آخری آيت ختمه وې هم هغه به ستا مقام وی.

يقال لصاحب القرآن:

د صاحب قران مصداق

د صاحب قرآن تفسير په بذل او عون المعبود کښې هغه سړی سره شوې دې، چه د قرآن مجيد د تلاوت اهتمام کوی مع العمل به، او صاحب منهل ددې تفسير حافظ قرآن سره کړې

(١): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف:٩٩٥٢) (صحيح)

(٢): سنن الترمذي/فضائل القرآن ١٨ (٢٩١٤)، ن الكبري / فضائل القرآن (٨٠٥٦)، (تحفة الأشراف:٨٦٢٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٩٢/٢) (حسن صحيح)

دې، که حافظ د پوره قرآن مجيد وي، يا د بعضې قرآن مجيد، او د عمل قيد ټولو ليکلې دې، حضرت شيخ په حاشيه کوکب کښې ليکلې دی، چه ملا علي قاري رحمه الله د بعضو قرائن روايات حديثيه نه دا خبره ليکلې ده، چه د صاحب قرآن نه مراد حافظ دې، د حديث مضمون دادې، چه جنتيان کله جنت ته داخليږي، نو په هغه کښې هغوی کښې چه څوک حافظ قرآن وي، يا داسې اوايئ، چه څوک د قرآن مجيد د تلاوت اهتمام کوی، هغه ته به اوئيلې شی، اقرء وارتق الخ، څرنګه چه تا په دنيا کښې قرأت کولو، ترتيل سره دلته کښې هم تلاوت کوه، او بره خيژه، فان منزلک عند آخر آية تقرؤها: پس تحقيق ستا منزل ستا د قرأت آخری آيت باندې به وي، پس که هغه ټول قرآن مجيد اولوستلو، نو ګويا هغه ټول منزلونه پار کړل، او د ټولو نه اعلی منزل ته اورسيدو.

د جنت درجات:

ښکه په حديث کښې دی، چه د جنت درجات د قرآن مجيد د آيتونو برابر دی (رواه البيهقي في الشعب في حديث عائشة مرفوعا) علماؤ ليکلې دی، چه د قرآن مجيد د آيتونو تعداد شپږ زره خو بالاتفاق دی، ددې نه په زياتو کښې اختلاف دې، قيل دوه سوه او شپږ ديرش، و قيل شپږ سوه او شپږ شپيتۀ، و قيل غير ذلک.

او وئيلې شوې دی، چه د جنت درجات د قرآن مجيد د حرفونو برابر دی، او حروف قرآن الف والف و خمسة وعشرون الفا دی، يعنی لس لاکهه پنځويشت زره دی، قاله بعض المفسرين (منهل) په دې باندې يو اشکال واردېږي، هغه دا چه کوم حافظ ټول قرآن مجيد اولولی، او د ټولو نه اوچتې مرتبې ته اورسيږي، نو بيا دهغه او په منازل انبياء کښې څه فرق به پاتې شی، جواب دادې، چه هر منزل د منزلونو د جنت نه په بې شميره درجاتو باندې مشتمل دې، لهذا په دې طريقې باندې به فرق اوشی، (الکوکب الدری)

او صاحب منهل ددې حديث په شرح کښې يوه بله طريقه اختيار کړې ده، هغه دا چه ددې احاديثو حاصل دادې، چه ددې درجات عاليه حصول به هغه سړی دپاره وي، چه د قرآن مجيد حافظ وي، او هغې لره په آداب او ترتيل سره لولی، او دهغې په معانی کښې تدبر او دهغې په مقتضی باندې عمل کوی، او ددې اوصافو حصول په طريقه د اتم او اکمل اول د حضور (ﷺ) دپاره دې، او بيا دهغوی نه پس راتلونکو امامانو دپاره، ښکه ښکه چه دهغوی مرتبې وي د دين او معرفت په اعتبار سره، پس په دوی کښې به هر په جنت کښې يو قرأت کوی، څرنګه قرأت ئې چه په دنيا کښې کولو، او دهغې په معانی کښې تدبر او په مقتضی باندې عمل کولو، انتهی کلامه، ددې تقرير او تشريح نه پس د مساوات اشکال بالکل ختميږي.

فائده: په اقرء وارتق باندې د بنده په ذهن کښې يو اشکال راغلې وو، هغه داچه د "لوله او بره خيژه" نه په ظاهر کښې خو دا معلوميږي، چه د دغې منازل عاليه حصول په جنت کښې چه څرنګه قرأت وي، په هغې باندې به وي، حالانکه آخرت خو دار الجزاء دې، دار العمل نه دې، ددې وجې نه بنده ددې مطلب دا واخستلو، چه په اقرء وارتق کښې قراءت بالفعل مراد

نه دي، بلکه په دي کښې اشاره ده دې طرف ته، چه تاته نن کوم منازل حاصل دی، دا ستا دهغې قراءت او ترتيل ثمره او نتيجه ده، کوم چه تا په دنيا کښې کولو، لهذا مطلب دا شو، چه د خپل قراءة في الدنيا په جزاء کښې نن بره خيژه، ليکن بيا روستو چه کله مې د هغې حديث شروحات اوکتل، نو معلومه شوه، چه قراءة في الجنة مراد دې، او د خپل اشکال جواب دا په پوهه کښې راشي، چه دا قراءة چه هلته کښې کيږي، هغه به په طريقې د عمل او تکليف سره نه وي، بلکه په طريقه د تشويق او تفريح سره به وي، چه خپل شوق او خوند پوره کولو دپاره لوله او بره خيژه، دي سره دا هم په پوهه کښې راغله، چه قاری قرآن چه په دنيا کښې د قراءت عادی او شوقين وو، هغه ته به هغې ترتيل او تجويد سره د تلاوت کولو موقع په جنت کښې هم ورکولې شي، فلله الحمد والمنة، هلته کښې خو به تهول لوئي لوئي قراء او حافظان موجود وي، نو هرکله چه د لوستلو موقع ورکولې شي، نو د اوريدلو به ولې نشي ورکولې.

[۱۴٦۵]()حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ قَتَادَةَ، قَالَ: سَأَلْتُ أَنَسًا عَنْ قِرَاءَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "كَانَ يَمُدُّ مَدًّا".

حضرت قتاده ﷺ بيان کوی چه ما د حضرت انس ﷺ نه د نبی کريم ﷺ د قرائت متعلق پوښتنه اوکړه نو هغوی اوفرمائيل: حضور ﷺ به الفاظ دَ مد سره تلاوت فرمائيل. (يعنی الفاظ به ئې اوږده وَل او په مزه مزه باندې به ئې الفاظ ادا کول.)

عن قتادة قال سالت انسا عن قراءة النبی (صلی الله عليه وسلم) فقال کان يمد مدا:

يعنی په کومو حروفو کښې به چه د مد او اطالت صلاحيت وو، په هغې کښې به ئې اطالت فرمائيلو. (منهل)

شرح حديث:

يعنی حروف مده او حروف لين به ئې د قواعدو مطابق لوستل، حروف مده درې دی، الف (دا هميشه ساکن وی) واؤ او يا هرکله چه ساکن وی، او د ماقبل حرکت ددې موافق وی، د واؤ نه مخکښې ضمه، او يا دنه مخکښې کسره، دغه شان واؤ او يا چه کله ساکن وی، او ددې نه مخکښې فتحه وی، لکه خوف، صيف، په دې صورت کښې دې دواړو ته حروف لين وئيلې شي، او که ددې نه پس سکون راشی، نو دې لره به هم مد سره لوستلې شي، او که واؤ او يا باندې حرکت وی، نو په دې صورت کښې دې ته غير مده وئيلې شي، لکه واذا او يضرب، د حروف مده اصل مقدار خو د يو الف برابر برابر دې، چه هغې ته مد اصلی وئيلې شي، ليکن کله چه ددې نه پس همزه يا سکون وی، نو په دغه وخت کښې مد کښې زياتوالې کيږي، او دهغې مقدار دواؤ يا دريو الفو نه تر څلورو يا پنځو الفو پورې وی، او دې ته مد فرعی او مد زائد هم وئيلې شي، او د مد زائد به څو قسمونه دی، چه دهغې

(): صحيح البخاري/فضائل القرآن ۲۹ (۵۰۴۵)، سنن النسائي/الافتتاح ۸۲ (۱۰۱۵)، سنن الترمذي/الشمائل (۳۱۵)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۷۹ (۱۳۵۳)، (تحفة الأشراف: ۱۱۴۵)، وقد أخرجه: مسند احمد (۱۱۹/۳، ۱۲۷، ۱۳۱، ۱۹۲، ۱۹۸، ۲۸۹) (صحيح)

تفصیل د تجوید په کتابونو کښې موجود دې، د یو الف د مقدار اندازه ضم اصبع سره شوې ده، یعنی څومره وخت چه د پرانستې ګوتې بندیدلو کښې یا د بندې ګوتې پرانستلو کښې لګی.

دا حدیث په صحیح بخاری کښې هم شته، او هلته کښې په دې باندې دا اضافه ده: ثم قرأ بسم الله الرحمن الرحیم یمد بسم الله و یمد بالرحمن و یمد بالرحیم، یعنی د لفظ الله لام به ئې راکارلو، او دغه شان د الرحمن میم لره، او د الرحیم حاء لره، ددې نه مخکښې دوه مده خو اصلی دی، او دریم مدزائد دې د سکون د وجې نه.

په تلاوت کښې د مد رعایت ساتلو مصلحت او حکمت ئې دا لیکلې دې، چه ددې په وجه د معانیو په تدبر او تفکر کښې مدد ملاویږی، (منهل) او فضائل قرآن ص۱۸ کښې د شاه عبدالعزیز رحمه الله نه ئې نقل کړې دی، چه د تشدید او مد په اظهار سره د کلام پاک عظمت ظاهریږی،

(**اشکال**): او په تاثیر کښې مدد ملاویږی، او دبنده په ذهن کښې دلته یو سوال دا پیدا شو، چه د نبی کریم (ﷺ) په تلاوت کښې ظاهره خبره ده، چه د ټولو صفاتو رعایت به وو، بیا دلته کښې د مد تخصیص ولې اوشو،

(**جواب**): جواب دا کیدې شی، چه په صفات حروف کښې مد داسې یو صفت دې، چه ډیر زیات ښکاره دې، او هر سړې دې لره محسوسوی.

[١٤٦٦] (١) حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ خَالِدِ بْنِ مَوْهَبٍ الرَّمْلِيُّ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ يَعْلَى بْنِ مَمْلَكٍ، أَنَّهُ سَأَلَ أُمَّ سَلَمَةَ عَنْ قِرَاءَةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَلَاتِهِ، فَقَالَتْ: وَمَا لَكُمْ وَصَلَاتَهُ؟ "كَانَ يُصَلِّي، وَيَنَامُ قَدْرَ مَا صَلَّى، ثُمَّ يُصَلِّي قَدْرَ مَا نَامَ، ثُمَّ يَنَامُ قَدْرَ مَا صَلَّى حَتَّى يُصْبِحَ، وَنَعَتَتْ قِرَاءَتَهُ، فَإِذَا هِيَ تَنْعَتُ قِرَاءَتَهُ حَرْفًا حَرْفًا".

د یعلی بن مملک نه روایت دې چه هغوی د حضرت ام سلمه رضی الله عنها نه د نبی کریم ﷺ د قرائت او د مونځ په باره کښې پوښتنه اوکړه نو هغوی اوفرمائیل: ستاسو د هغه د مونځ سره څۀ مقابله؟ حضور ﷺ به مونځ کولو او بیا به دومره وخت اودۀ کیدلو څومره چه به ئې مونځ ادا کړې وو. بیا به پاسیدلو او مونځ به ئې کولو څومره قدرې چه به اودۀ شوې وو. بیا به دومره قدرې اودۀ شو څومره چه به ئې مونځ ادا کړې وو، تردې پورې چه صبا به شو، هغوی رضی الله عنها د نبی کریم ﷺ د قرائت اندازه هم اوښودله چه یو یو حرف به جدا جدا وو.

تشریح: **قوله**: انه سال ام سلمة عن قراءة رسول الله (صلی الله علیه وسلم)......... فاذا هی تنعت قراءته حرفا حرفا الخ.

ام سلمه رضی الله عنها بیان کړې دې، چه د نبی کریم (ﷺ) قراءة به د هر هر حرف جدا جدا وو، یعنی هر حرف به د بل نه جدا وو، او داسې ترتیل سره به وو، چه که سامع به حرفونه شمارل غوختل، نو شمارلې به ئې شو.

(١): سنن الترمذي/فضائل القرآن ٢٣ (٢٩٢٣)، سنن النسائي/الافتتاح ٨٣(١٠٢٣)، (تحفة الأشراف:١٨٢٢٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٩٤/٦، ٢٩٧، ٣٠٠، ٣٠٨) (ضعيف)

علامه طيبي رحمه الله فرمائي چه ددې کلام دوه مطلبه کيدې شي، يو دا چه ام سلمه رضي الله عنها قولا بيان کړې دي، چه نبی کريم (ﷺ) به تلاوت داسې فرمائيلو، دويم مطلب دادې، چه ام سلمه رضي الله عنها خپله ترتيل سره اولوستلو، اوخلقو ته ئې واؤرولو، څرنګه به چه نبی کريم (ﷺ) لوستلو.

د حديث ام سلمه رضي الله عنها تحقيق من حيث الرواية والدراية:

ددې نه پس تاسو پوهه شئ، چه ددې حديث دام سلمه رضي الله عنها دوه طريق دی، يو طريق ليث بن سعد عن ابن ابی مليكة عن يعلى بن مملک عن ام سلمة رضي الله عنها، مصنف دې حديث لره په دې طريق سره اخستلې دې، دا طريق متصل دې، او دويم طريق ددې حديث دادې: ابن جريج عن ابن ابی مليكة عن ام سلمة رضي الله عنها، په ترمذی شريف کښې دا حديث په دواړو طريق سره دې، دا دويم سند منقطع دې، په دې کښې د يعلى بن مملک واسطه نشته، قاله الترمذی و قال حديث الليث اصح، دويمه خبره داده، چه د دواړو احاديث الفاظ هم مختلف دې، د ليث د روايت الفاظ خو هغه دی، کوم چه بره ذکر دی، او د ابن جريج په روايت کښې داسې دی:

كان رسول الله (صلى الله عليه وسلم) يقطع قراءته يقول الحمد لله رب العالمين ثم يقف ثم يقول الرحمن الرحيم ثم يقف، دا په هر آيت باندې وقف کول په سورة الحمد کښې، په طريق دليث کښې نشته، د ابن جريج په طريق کښې شته، چه منقطع دې، چه هغې ته امام ترمذی غير اصح وئيلې دې، د امام ترمذی کلام لره صاحب مشکوة هم نقل کړې دې، او بيا صاحب مظاهر حق هم په هغې باندې کلام کړې دې، او په هر آيت باندې وقف لره ئې غير مستحسن (١) ليکلې دې.

---

(١) بعض وائي چه دا روايت (رواية ليث) د حجت لائق نه دې او اهل بلاغت او وقف تام په ﴿ مالك يوم الدين ﴾ باندې دې هم په دې وجه مو وئيلې شی چه حديث ليث صحيح تر دې، ذكره الطيبي او د جمهورو په نزد مثل د داسې آيتونو متعلق دې چه په هغې کښې خپل مينځ کښې وصل اولی دې او امام جزری (ح) فرمائی چه وقف مستحب دې او دليل ئې هم د دې حديث نه نيولې دې او هم په دې باندې باقي شوافع هم دی او جمهورو جواب کړې دې چه دا وقف په دې وجه وو اوريدونکو ته د آيتونو ابتداء معلومه شی. والله اعلم (مظاهر حق قديم ص ٢٣٨، ج ٢) هم دغه شان حضرت الحاج القاری المقری مولانا عبدالرحمن صاحب پانی پتی المکی نور الله مرقده د فوائد مکيه په اخر کښې ليکلې دی: فائده: په ټولو وقفونو باندې ساه اخستل سره د دې چه ساه جاری ساتلې شې داسې نه دی کول بکار، د قاری مثال د مسافر په شان دې او اوقاف د هغه د دمې ځايونه دی نو څنګه چه په هر يو منزل باندې بغير د ضرورت نه ايساريدل فضول او وخت ضائع کول دی نو دغه شان هر ځائې کښې وقف کول هم عبث فعل دې چه څومره ساعت وقف کوی په دومره وخت کښې به يو يا دوه کلمې ادا شی، البته په لازم مطلق باندې او هم دغه شان چه د کوم آيت د روستو سره لفظی تعلق نه وی په داسې ځائې کښې وقف کول ضروری او مستحسن دی، انتهي. حضرت اقدس ګنګوهی (ح) په رد الطغيان في اوقاف القرآن (کوم چه د اهل حديث د يوې فتوې په رد کښې دې) کښې حديث ام سلمه په طريق د ابن جريج په باره کښې فرمائی چه هغه منقطع دې کما قال الزبيدي، او زمونږ د زمانې اهل حديث، حديث مرسل منقطع حجت نه منی بيا هغوی د دې نه څنګه استدلال اوکړو، بيا حضرت وړاندې ليکی خو مونږ خلق چونکه مرسل او منقطع ثقه لره معتبر منی، په مونږ باندې د دې حديث شرح ضروری دې هغه دا چه سيده ام سلمه رضي الله عنها چه قراءت رسول ﷺ کوم بيان فرمائيلې دې نو دا نه ده چه په ټول قرآن کښې به رسول الله ﷺ داسې کول او خاص يوه طريقه قراءة او وقف په هر يو آيت باندې د هغه په.....

[۱۴٦۷]() حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ قُرَّةَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُغَفَّلٍ، قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ وَهُوَ عَلَى نَاقَةٍ "يَقْرَأُ بِسُورَةِ الْفَتْحِ وَهُوَ يُرَجِّعُ".

حضرت عبد الله بن مغفل رضی الله عنه بیان کوی چه ما رسول الله ﷺ لره د فتح مکې په ورځ باندې اولیدو چه هغه ﷺ په خپله اوښه باندې سور وو او سورۀ فتح ئې تلاوت فرمائیلو او په ترجیع سره ئې تلاوت فرمائیلو .

عن عبدالله بن مغفل........... وهو على ناقة يقرأ بسورة الفتح وهو يرجع.

نبی کریم (ﷺ) د فتح مکې په ورځ په اوښه باندې سور وو، او سورۀ فتح ئې تلاوت کوله ترجیع سره، یا آواز لره په حلق کښې واپس کولو سره، په دې کښې حافظ ابن حجر دوه احتماله ذکر کړې دی، یو دا چه دا ترجیع د اوښې د حرکت مشی د وجې نه پیدا شوې وه، دویم دا چه دا په موضع دمد کښې د اشباع مد دوجې نه وه، عارف بن ابی جمره فرمائی، چه د ترجیع نه مراد تحسین الصوت دې، نه ترجیع الغناء، یعنی څرنګه چه سندره آواز حلق کښې واپس کولو سره وئیلې شی، ځکه چه دا څیز د خشوع سره منافی دې، او خشوع د تلاوت مقصود دې.

[۱۴٦۸]() حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ طَلْحَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْسَجَةَ، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "زَيِّنُوا الْقُرْآنَ بِأَصْوَاتِكُمْ".

حضرت براء بن عازب رضی الله عنه بیان کوی چې رسول الله ﷺ اوفرمائیل په خپلو اوازونو سره قرآن ته زینت ورکړئ."

تشریح: قوله:عن البراء بن عازب رضی الله عنه قال قال رسول الله (صلی الله علیه وسلم) زینواالقرآن باصواتکم: خپل تلاوت د قرآن مجید لره مزین کړئ، یا دا چه د قرآن مجید زینت لره ظاهر کړئ په ښه آوازونو سره (بذل) د زینت نه مراد دادې، چه ترتیل او تجوید سره او د آواز نرمۍ سره ئې اولولئ، او قرآن مجید لره په راګ کښې لوستل (د سندرې پشان) په داسې طریقې چه په حروفو کښې یا حرکاتو کښې زیاتوالې یا نقصان راشی، حرام دی، (مظاهر حق) وئیلې شوې دی، چه په دې حدیث کښې قلب دې، یعنی په دې کښې صنعت قلب لره اختیار کړې شوې دې، کمافی قولهم عرضت الناقة على الحوض والاصل عرضت الحوض على الناقة، ځکه چه غیر ذی شعور لره پیش کولې شی په ذی شعور باندې، نه چه برعکس، دغه شان دلته هم دا مراد

لـه..... قراءت کښې حصر نه شی کولې د دې دپاره چه د دې نه معلومه شی چه رسول الله ﷺ د دې خلاف نه دې کړې نو مونږ وایو چه رسول الله ﷺ په کله کله داسې هم لوستلې دې او کله کله ئې په بله طریقه هم لوستلې دې کوم چه د قرون ثلاثه د اجماع نه معلوم شو الي اخره (تالیفات رشیدیه ص ۲۷۷، مطبوعه پاکستان لاهور)

[1]: صحيح البخاري/المغازي ٤٨ (٤٢٨١)، صحيح مسلم/المسافرين ٣٥ (٧٩٤)، ت الشمائل (٣٩١)، ن الكبرى/فضائل القرآن (٨٠٥٥)، (تحفة الأشراف:٩٦٦٦)، وقد أخرجه: مسند احمد (٨٥/٤) (صحيح)

[2]: سنن النسائي/الافتتاح ٨٣(١٠١٦)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٧٦ (١٣٤٢)، (تحفة الأشراف:١٧٧٥)، وقد أخرجه: صحيح البخاري/التوحيد ٥٢، تعليقاً، مسند احمد (٢٨٣/٤، ٢٨٥، ٢٩٦، ٣٠٤)، سنن الدارمي/فضائل القرآن ٣٤ (٣٥٤٤) (صحيح)

دی، زينوا اصواتكم بالقرآن، ليكن دا قول صحيح نه دي، ځكه چه حديث الباب كښې د حاكم په روايت كښې زياتوالي دي، فان الصوت الحسن يزيد القرآن حسنا، ددي نه معلومه شوه، چه څرنګه دلته په روايت كښې دی، هغه اصل دي، البته په كوم روايت كښې چه ددې عكس وارد شوې دي (كما قيل) د هغې باره كښې وئيل پكار دی، چه هلته قلب شوې دي. (بذل و منهل)

[١٤٦٩] (١) حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، وَقُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، وَيَزِيدُ بْنُ خَالِدِ بْنِ مَوْهَبٍ الرَّمْلِيُّ بِمَعْنَاهُ، أَنَّ اللَّيْثَ حَدَّثَهُمْ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي نَهِيكٍ، عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، وَقَالَ يَزِيدُ: عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ، وَقَالَ قُتَيْبَةُ: هُوَ فِي كِتَابِي عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَمْ يَتَغَنَّ بِالْقُرْآنِ".

د ابو الوليد طيالسي په سند سره د حضرت سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه نه روايت دي ... او د يزيد (راوی) په سند كښې د حضرت سعيد بن ابی سعيد رضی الله عنه نه روايت دي او قتيبه هم داسې وئيلي دی چه زما په كتاب كښې سعيد بن ابی سعيد رضی الله عنه دي ... هغوی بيان كوی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل: "كوم يو كس چه قرآن مجيد لره په خوش الحانئ سره نۀ لولی هغه زمونږ نه نۀ دي."

تشريح: قوله: وَقَالَ قُتَيْبَةُ: هُوَ فِي كِتَابِي عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ:

شرح السند:

ددې اختلاف رواة، كوم چه مصنف بيانوی، توضيح داده، چه ددې حديث په سند كښې د مصنف رحمه الله درې استاذان دی، په خپلو كښې دهغوی په سند كښې اختلاف دي، چه دهغې نقشه داسې ده:

(١) ابوالوليد عن الليث عن ابن ابی مليكة عن ابن ابی نهيک عن سعد بن ابی وقاص عن النبی (صلی الله عليه وسلم)،

(٢) قتيبة عن الليث عن ابن ابی مليكة عن سعيد بن ابی سعيد عن النبی (صلی الله عليه وسلم)،([2])

(٣) يزيدبن خالدعن الليث عن ابن ابی مليكة عن سعيد بن ابی سعيد عن النبی(صلی الله عليه وسلم)،

ليكن د قتيبه سند چه دهغه په حفظ كښې دي، هغه د عن سعيد په ځائې عن سعد بن ابی وقاص دي، څرنګه چه د ابوالوليد په روايت كښې دی، او دا خبره دي هم واضحه وی، چه د ابوالوليد روايت مسند متصل دي، اودغه شان د قتيبه هم هغه روايت چه دهغه په حفظ كښې دي، او د يزيد بن خالد او د قتيبه دويم حديث (چه په كتاب كښې دي) منقطع هم دي او مرسل هم دي، ځكه چه د ابن ابی مليكه اصل روايت د ابن ابی نهيک نه دي، نه د سعيد نه، او مرسل ددې وجې نه دي، چه سعيد بن ابی سعيد المقبری تابعی دي، صحابی نه دي (بذل ومنهل) په بذل كښې ليكلې دی، چه ددې سند په تشريح كښې د صاحب العون نه غلطی شوې ده.

[1]): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف:٣٩٠٥، ١٨٦٩٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٧٢/١، ١٧٥، ١٧٩)، سنن الدارمي/فضائل القرآن ٣٤(٣٥٣١) (صحيح)

[2]) كذا يستفاد من المنهل، ليكن د مصنف د كلام نه دا نه معلوميږی چه د قتيبه په روايت كښې دابن ابی نهيک واسطه ذكر ده يا نه، والله أعلم.

تشریح: قوله: لیس منا من لم یتغن بالقرآن:

د حدیث په تشریح کښې اقوال علماء بالبسط:

د تغنی په تفسیر کښې څو اقوال دی، متبادر معنی خو ددې غناء او نغمه ده، چه یو مستقل فن دې، دعلم موسیقی، چه دهغې مخصوص اوزان دی، او دغه شان لوستلو ته قراءت بالالحان وئیلې شی، چه هغې ته بعضې عالمان حرام وائی، او بعضې ورته مکروه، او بعضې مباح بلکه مستحب، امام مالک رحمه الله طرف ته کراهت یا تحریم منسوب کولې شی، او بعضو امام شافعی او حنفیه طرف ته جواز منسوب کړې دې، او شافعیه کښې نورانی طرف ته استحباب منسوب دې.

د مجوزینو د طرف نه وئیلې شوې دی، چه دا (قراءة بالالحان) مورث رقت دې، موجب خشیة دې، استماع قرآن طرف ته رغبت پیدا کونکې دې، مانعین وائی، چه دا څیز د خشوع او تحزن او تدبر خلاف دې، د څه دپاره چه قرآن مجید موضوع دې (من المنهل وغیره)

چونکه قراءة بالالحان مختلف فیه دې، ددې وجې نه ددې حدیث شرح ددې په ځائې تحسین صوت سره کولې شی، چه بالاتفاق مستحب دې، په مظاهر حق کښې ددې حدیث لاندې لیکلې دی، یعنی نشته زمونږ په کامله طریقه باندې هغه سړې چه نه خوش آوازی کوی قرآن مجید کښې، یعنی ښه ده خوش آوازی کول په قرآن مجید لوستلو کښې، په شرط ددې چه تغیر دحرف یا حرکت یا مد یا شد یا بلې طریقې سره نه وی، او د راګ یعنی سندرې په طریقې سره هم نه وی، او کوم سړې چه اولولی قرآن مجید لره په راګ کښې قصداً، نو حرام دی لوستل دهغه، او ددې معنی تائید تیر شوې حدیث زینوا القرآن باصواتکم سره هم کیږی، او دا معنی د تغنی د اصل لغت سره هم نزدې ده، ځکه چه د قرآن مجید غناء هم داده، چه دې لره د تجوید د قواعدو مطابق اولوستلې شی، په هغې کښې یقینا تحسین صوت دې، دویم تفسیر ددې په استغناء سره شوې دې، امام طحاوی هم په مشکل الآثار کښې دې لره راجح ګرزولې دې، یعنی د صاحب قرآن توله توجه قرآن مجید طرف ته کیدل پکار دی، او د قرآن مجید په وجه هغه ته استغناء عن الناس حاصلول پکار ده، یا استغناء عن الکتب السماویه یعنی د باقی کتب سماویه، تورات زبور انجیل وغیره نه استغناء پکار ده.

او دریمه معنی ئې جهر بالقراءة لیکلې ده (شاید ددې وجې نه چه عام طور سره سندره په اوچت آواز سره وی) او یوه معنی ئې د تحزن لیکلې ده، یعنی قرآن مجید لره د درد په لهجې سره لوستل، چه دهغې تاثیر په قلب باندې زیات وی، او یو تفسیر ددې په کشف الهم سره شوې دې، توضیح ددې داده، چه انسان ته کله یوه ناخوښه یا د غم او پریشانی خبره پیښه شی، نو بعضې وختونو کښې هغه خپل غم غلطولو دپاره اشعار وغیره لولی، دې سره لږ شان زړۀ مطمئن کیږی، دا د عامو او دنیادارو خلقو حال دې، او د یو مومن حال دا پکار دې، چه کله هغه ته د څه غم یا پریشانی خبره پیښه شی، نو هغه دې خپل غم د عبثو شعرونو په ځائې . قرآن مجید په نغمه سره ختم کړی، یعنی د قرآن مجید دې خوش آوازۍ سره دور اوکړی، ګویا د مسلمان دپاره د زړۀ د تسلۍ دپاره د قرآن مجید تلاوت کول پکار دی.

د قراءة بالالحان تحقيق او اختلاف علماء:

د قراءة بالالحان په سلسله کښې چه اوسه پورې څه ليکلې شوې دی، هغه د عربی شروح حديث نه اخستلې شوې دی، چه دهغې ترجمه بنده کړې ده، او احقر نه چونکه د فن تجويد او دهغې د اصطلاحاتو پوره علم نشته، ددې وجې نه ما دا غوختل، چه دا مضمون د يو صاحب فن په الفاظو کښې اوليکلې شی، د يو ضرورت د وجې نه فوائد مکيه طرف ته رجوع اوکړې شوه، په هغې کښې دا مضمون هم اتفاقا ملاؤ شو، چه هغې لره ما ډير جامع اوموندلو، ددې وجې نه هغه په حاشيه کښې اوليکلو (١)

[١٤٧٠]( ) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَمْرٍو، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي نَهِيكٍ، عَنْ سَعْدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مِثْلَهُ.

---

(١) حضرت قاري صاحب (صاحب فوائد مکيه) ليکلې دی، چه قرآن مجيد لره په الحان او انغام سره لوستلو کښې اختلاف دې، بعضې ورته حرام بعضې ورته مکروه بعضې ورته مباح او بعضې ورته مستحب وائی، بيا په اطلاق او تقييد کښې هم اختلاف دې، مګر قول محقق او معتبر دادې، چه که د قواعد موسيقيه د وجې نه قواعد تجويد ورانيږی، نو بيا خو مکروه يا حرام دې. ګنې مباح يا مستحب دې، او مطلقا تحسين صوت سره لوستل سره د قواعد تجويد نه مستحب او مستحسن دې، لکه چه اهل عرب عموما په خوش آوازۍ سره، او بغير د تکلف او بغير د رعايت د قواعد موسيقيه نه، چه دهغې نه هغوی لږ شان هم واقف نه دی، او ډير په خوش آوازۍ سره ئې لولی، او دا خوش آوازی دهغوی طبعی ده، ددې وجې نه د هر يو لهجه جدا جدا او د بل نه ممتاز وی، هر يو خپلې لهجې لره هر وخت لوستلې شی، په خلاف د انغام، چه دهغې وختونه مقرر دی، چه په نورو وختونو کښې نه جوړيږی، او نه ښه معلوميږی، دلته کښې معلومه شوه، چه په نغم او لهجه کښې فرق دې، طرز طبعی ته لهجه وئيلې شی، په خلاف د نغم، اوس دا هم معلومول ضروری دی، چه انغام څه ته وئيلې شی، هغه دا دی، چه د تحسين صوت دپاره کوم خاص قواعد مقرر کړې شوې دی، دهغې لحاظ ساتلو سره لوستل، يعنی يو ځائې کښې آواز کمول او بل ځائې کښې زياتول، يو ځائې کښې جلدی کول، او بل ځائې کښې نه کول، يو ځائې کښې اواز ښکته کول، او بل ځائې کښې اوچتول، يوې کلمې لره په سختۍ سره ادا کول، او بلې لره په نرمۍ سره ادا کول، يو ځائې کښې د زړا آواز راويستل، بل ځائې کښې بل څه، يو ځائې کښې يو څه او بل ځائې کښې بل څه، البته چه کوم لوئې لوئې ددې فن ماهرين دی، دهغوی دا اقوال اوريدلې شوې دی، چه ددې نه هيڅ يو آواز خالی نه وی، ضرور بالضرور څه نه څه قاعده به د موسيقۍ موندلې شی، خصوصا هرکله چه انسان په ذوق او شوق سره څه څيز لولی، باوجود ددې نه چه هغه لږ شان هم ددې فن نه واقف نه وی، ليکن څه نه څه نغمه به ترې خامخا راوځی، ددې وجې نه بعضې محتاط خلقو داسې لوستل شروع کړل، چه د تحسين صوت لږ شان نوم هم رانشی، ځکه چه تحسين صوت سره نغم لازم دې، او په دې کښې احتياط پکار دی، او هم دا بعضې اهل احتياط اهل عرب ته وائی، چه هغوی خو په راګ کښې تلاوت کوی، حالانکه دا تحسين چرې هم ممنوع نه دې، او نه ددې نه تيښته شته، خلاصه او ماحصل زمونږ داده، چه قرآن مجيد لره په تجويد سره لوستل، او فی الجمله په خوش آوازۍ سره لوستل پکار دی، او د قواعد موسيقيه خيال دې نه ساتی، چه دهغې سره موافق دې، او که مخالف، او د حروفو د صحت او معانی خيال دې ساتی، او که په معنی نه پوهيږی، نو دومره خيال کافی دې، چه د مالک الملک عزوجل کلام لره لولم، او هغه اوری، او د لوستلو آداب مشهور دی، احقر وائی، د حضرت قاري صاحب د تحقيق نه معلومه شوه، چه قواعد موسيقيه او قواعد تجويد کښې بالکليه تخالف نشته، فی الجمله دواړه جمع کيدې هم شی.

(٢): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ٣٩٠٥، ١٨٦٩٠) (صحيح)

حضرت سعد رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل ... او د مذکوره بالا حدیث هم مثل ئي بیان کړو .

[۱۴۷۱](¹)حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى بْنُ حَمَّادٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْجَبَّارِ بْنُ الْوَرْدِ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ أَبِي مُلَيْكَةَ، يَقُولُ: قَالَ عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي يَزِيدَ: مَرَّ بِنَا أَبُو لُبَابَةَ فَاتَّبَعْنَاهُ حَتَّى دَخَلَ بَيْتَهُ، فَدَخَلْنَا عَلَيْهِ، فَإِذَا رَجُلٌ رَثُّ الْبَيْتِ رَثُّ الْهَيْئَةِ، فَسَمِعْتُهُ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَمْ يَتَغَنَّ بِالْقُرْآنِ"، قَالَ: فَقُلْتُ لِابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ: يَا أَبَا مُحَمَّدٍ، أَرَأَيْتَ إِذَا لَمْ يَكُنْ حَسَنَ الصَّوْتِ؟ قَالَ: يُحَسِّنُهُ مَا اسْتَطَاعَ.

عبید الله بن یزید بیان کوی چه حضرت ابو لبابه رضی الله عنه په مونږ باندې تیر شو پس مونږ هغه پسې شاته وو، تردې پورې چه هغه خپل کور ته داخل شو نو مونږ هم دننه ورغلو . مونږ اولیدل چه ډیر زوړ کور والا او د هغه خپل حالت ازحد ساده وو . ما د هغه نه واوریدل، فرمائیل ئې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دی هغوی صلی الله علیه وسلم فرمائیل : کوم کس چه قرآن مجید لره په خوش آوازئ سره نۀ لولی هغه زمونږ نه نۀ دی ." (د حدیث راوی عبد الجبار) فرمائی : ما ابن ابی ملیکه ته اووې : کۀ چرې هغه خوش آواز نۀ وی؟ هغوی اوفرمائیل : ترڅو چه کیدې شي نو آواز دې عمده کوی . "

[۱۴۷۲](²)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ، قَالَ: قَالَ وَكِيعٌ، وَابْنُ عُيَيْنَةَ يَعْنِي يَسْتَغْنِي بِهِ.

محمد بن سلیمان انباری بیان کوی چه حضرت وکیع او ابن عیینه د حدیث مذکور معنی دا اخستي چه ددې نه مراد " استغنا " ده .

[۱۴۷۳](³)حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْمَهْرِيُّ، أَخْبَرَنَا ابْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنِي عُمَرُ بْنُ مَالِكٍ، وَحَيْوَةُ، عَنِ ابْنِ الْهَادِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَا أَذِنَ اللَّهُ لِشَيْءٍ مَا أَذِنَ لِنَبِيٍّ حَسَنِ الصَّوْتِ يَتَغَنَّى بِالْقُرْآنِ يَجْهَرُ بِهِ".

ترجمه: حضرت ابوهریره رضی الله عنه بیان کوی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل : الله عز وجل هیڅ یو څیز لره دومره په غور سره نۀ اوری، څومره چه د خوش آواز نبی په بلند آواز سره قرآن ته غوږ دی .

تشریح: قوله: عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله (صلی الله علیه وسلم) قال ما اذن الله لشي ما اذن لنبی حسن الصوت یتغنی بالقرآن:

شرح حدیث:

اذن یاذن اذنا بمعنی استماع غوږ ایخودل او توجه سره اوریدل، یعنی نه اوری الله تعالی یو آواز دومره په توجه سره، څومره چه اوری د خپل هغه نبی آواز لره چه په خوش آوازی سره قرأت کوی، نبی چونکه عام دې، ددې وجې نه قرآن نه هم عام مراد اخستل پکار دی، یعنی

¹): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف:۳۹۰۵) (حسن صحيح)
²): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ۳۹۰۵) (صحيح)
³): صحيح البخاري/فضائل القرآن ۱۹ (۵۰۲٤)، والتوحيد ۳۲ (۷٤۸۲)، ۵۲ (۷۵٤٤)، صحيح مسلم/المسافرين ۳٤ (۷۹۲)، سنن النسائي/الافتتاح ۸۳(۱۰۱۸)، (تحفة الأشراف:۱٤۹۹۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۲۷۱، ۲۸۵، ٤۵۰)، سنن الدارمي/الصلاة ۱۷۱ (۱۵۲۹)، وفضائل القرآن ۳۳(۳۵٤۰) (صحيح)

نفس قراءة، چونکه قرآن مصدر هم راځي بمعنی قرأة لهذا مراد د يو نبي مطلق آسماني كتاب لوستل دي، يا د قرآن نه معروف معنی مراد اخستلې شي، او د نبي نه مراد حضور اقدس (ﷺ) دې، يجهر به: دا د يتغنى تفسير دې، چه د يو راوي د طرف نه مدرج دې، په دې حديث كښې د اذن نه مراد رضا او قبول دې، ګنی الله تعالی خو هره خبره ښه اوري، هيڅ يوه خبره دهغه نه پټه نه ده، بلكه داسې وئيل پكار دي، چه د اذن معنی خو غوږ ايخودلو سره اوريدل دي، الله تعالی د غوږ يا د بلې آلې محتاج نه دې، ددې وجې نه اذن دلته په مجازي معنی كښې مستعمل دې.

بَابُ التَّشْدِيدِ فِيمَنْ حَفِظَ الْقُرْآنَ ثُمَّ نَسِيَهُ

باب: ۲۱- دَ قرآن يادول او بيا دَ هغې دَ هيرولو مذمت-

مامن امرئ يقرأ القرآن ثم ينساه الا لقى الله يوم القيمة اجذم:

يعنی كوم سړې چه قرآن مجيد زده كړی، او هغه اولولی، ياد ئې كړی، يعنی حفظ ئې كړی، او بيا هغه پريږدی او هير ئې كړی، دهغه باره كښې وعيد دې، (چه مخكښې راروان دې)

د نسيان قران نه مراد:

دويم تفسير ددې حديث دا كړې شوې دې، چه د نسيان نه مراد نسيان الفاظ نه دې، بلكه ترک العمل بما فی القرآن دې، كما فی قوله تعالی كذلک اتتک آياتنا فنسيتها الآية، صاحب منهل اولا دا دويمه معنی ليكلې ده، او بيا و يحتمل سره ئې اوله معنی ليكلې ده، او حضرت سهارنپوری رحمه الله په بذل كښې صرف اوله معنی ليكلې ده، او دا ئې هم ليكلي دي، چه د نسيان نه مراد د حنفيه په نزد دادی، چه كتلو سره هم نشی لوستلې، او د شافعيه په نزد دادی، چه زبانی ئې نه شی لوستلې.

صاحب منهل ليكلې دي، چه دا حديث شافعيه دپاره حجت دې، چه دا وائی، چه نسيان قرآن كبيره ګناه ده، چه دهغې تلافی توبې سره او دوباره يادولو سره كيږي، كه هغه قليل وی، او كه كثير وی، او د مالكيه په نزد د قدر واجب (يعنی ماتجوز به الصلوة) نسيان حرام دې، او د مازاد علی القدر الواجب نسيان مكروه دې.

د اجذم تفسير كښې څو اقوال دي، مقطوع اليد چه هغه ته ګوډ وئيلې شی، مقطوع الحجة ليس له عذر، صاحب جذام، خالي اليد عن الخير.

بَابُ أُنْزِلَ الْقُرْآنُ عَلَى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ

باب: ۲۲- قرآن مجيد په اووه حروفو باندې نازل كړې شوې دې-

دا ترجمة بلفظ الحديث ده، او دا حديث متفق عليه بلكه په ټولو صحاح سته كښې موجود دې، الا ابن ماجه (منذری) ملاعلی قاری رحمه الله فرمائي چه دا حديث بالاتفاق متواتر دې تواترا معنويا، او بعض محدثين وائی، چه لفظا هم متواتر دې، ځكه چه دا حديث په دې الفاظو سره د يويشت (۲۱) صحابه كرامو نه روايت دې، ليكن د حاكم په يو روايت كښې د علی سبعة احرف په ځائې علی ثلاثة احرف دې، ددې تاويل دا كړې شوې دې، چه په شروع كښې د

دريو اجازت ورکړې شوې وو، روستو بيا اووه پورې اجازت ورکړې شو، او د انزال نه مراد حديث کښې اجازت من الرسول دې، ځکه چه د قرآن مجيد نزول خو په لغت قريش باندې شوې دې، روستو بيا د اجازت په ذريعه دې کښې توسيع اوکړې شوه.

[١٤٧٥]()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدٍ الْقَارِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ، يَقُولُ: سَمِعْتُ هِشَامَ بْنَ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ يَقْرَأُ سُورَةَ الْفُرْقَانِ عَلَى غَيْرِ مَا أَقْرَؤُهَا، وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْرَأَنِيهَا، فَكِدْتُ أَنْ أَعْجَلَ عَلَيْهِ، ثُمَّ أَمْهَلْتُهُ حَتَّى انْصَرَفَ، ثُمَّ لَبَّبْتُهُ بِرِدَائِهِ، فَجِئْتُ بِهِ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي سَمِعْتُ هَذَا يَقْرَأُ سُورَةَ الْفُرْقَانِ عَلَى غَيْرِ مَا أَقْرَأْتَنِيهَا، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اقْرَأْ" فَقَرَأَ الْقِرَاءَةَ الَّتِي سَمِعْتُهُ يَقْرَأُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هَكَذَا أُنْزِلَتْ"، ثُمَّ قَالَ لِي: "اقْرَأْ" فَقَرَأْتُ، فَقَالَ: "هَكَذَا أُنْزِلَتْ"، ثُمَّ قَالَ: "إِنَّ هَذَا الْقُرْآنَ أُنْزِلَ عَلَى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ".

عبد الرحمن بن عبد القاري فرمائي چه ما د حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه نه اوريدلي دي، هغوی بيان فرمائيلو چه ما د هشام بن حکيم بن حزام نه سورۀ فرقان واوريدو، مګر د هغه قرائت د هغې قرائت نه خلاف وو کوم چه ما لوستلو او هم رسول الله ﷺ ماته دا سورت اورولي وو. قريبه وه چه ما په هغې باندې تيزئ کړې وې، مګر ما هغه ته مهلت ورکړو تردې پورې چه هغه فارغ شو، بيا ما د هغوی ګردن په خپل څادر سره اونيولو او د رسول الله ﷺ په خدمت کښې مې راوستلو. ما اووې: اې د الله رسوله! ما دۀ نه سورۀ فرقان واوريدو او دې ئې د هغه قرائت نه خلاف لولي کوم چه تاسو ماته لوستلي دې، نو رسول الله ﷺ هغه ته اوفرمائيل: اولوله. چنانچه هغه په هغه قرائت کښې تلاوت کړو کوم کښې چه ما د هغه نه اوريدلي وو رسول الله ﷺ اوفرمائيل: هم داسې نازل کړې شوې دې. بيا ئې ماته اوفرمائيل: بې شکه دا قرآن په اووۀ حروفو سره نازل کړې شوې دې، نو د هغې نه چه کوم آسان وی هغې لره لولئ.

د حديث الباب د معنی په تحقيق کښې اشباع کلام:

په دې حديث کښې ډير بحثونه دی، په اوجز المسالک ص۳۵۴ کښې شيخ رحمه الله لس ذکر کړې دی، د ټولو نه نازک او اهم بحث په دې کښې تحقيق دمعنی دې، چه د سبعة احرف نه څه مراد دې، ملا علی قاري رحمه الله فرمائي چه په دې کښې يو څلوينښت (۴۱) اقوال دی، چه په هغې کښې اکثر مرجوح دی، زيات مشهور او صحيح په هغې کښې څلور پنځه معنی دی،

(اول) مشکل لا يدری معناه

چه دا د متشابهاتو نه دې، ددې معنی مرادی معلومه نه ده، ځکه چه حرف په ډيرو معنو کښې استعماليږی، حرف هجا (الف، با، تا وغيره) کلمه، معنی، جهت، دا اول قول د ابن سعدان نحوی نه منقول دې.

[1]: صحيح البخاري/الخصومات ٤ (٢٤١٩)، وفضائل القرآن ٥ (٤٩٩٢)، ٢٧ (٥٠٤١)، والمرتدين ٩ (٦٩٣٦)، والتوحيد ٥٣ (٧٥٥٠)، صحيح مسلم/المسافرين ٤٨ (٨١٨)، سنن الترمذي/القراءات ١١ (٢٩٤٣)، سنن النسائي/الافتتاح ٣٧ (٩٣٨، ٩٣٩)، (تحفة الأشراف: ١٠٥٩١)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/القرآن ٤ (٥)، مسند احمد (١/ ٤٠، ٤٢، ٤٣، ٢٦٣) (صحيح)

(ثانی) تادیة المعنی باللفظ المترادف

یعنی دا سبع طرق او تعداد په اعتبار د الفاظ مترادفه سره دی، مثلا قل یایها الکافرون، قل للذین کفروا، قل لمن کفر، علامه سیوطی رحمه الله په اتقان کښې نقل کړې دی، چه حضرت ابن مسعود یو سړی ته سورة دخان ښودلو، چه کله په هغې کښې دا لفظ راغلو ان شجرة الزقوم طعام الاثیم، نو لفظ الاثیم دهغه د ژبې نه ادا کیدې نشو، هغه وئیل طعام الیتیم، په دې حضرت ابن مسعود رضی الله عنه اوفرمائیل اتسطیع ان تقول: طعام الفاجر، قال نعم قال فافعل، یعنی تهٔ طعام الفاجر وایه، حافظ ابن عبدالبر دې قول لره اکثر علماؤ طرف ته منسوب کړې دې، لیکن دا خبره دې واضحه وی، چه ددې معنې دپاره یو لوئې مضبوط بریک (بند) دې، هغه داچه لکه حافظ ابن حجر رحمه الله وغیره لیکلې دی، لکن الاباحة المذکورة لم یقع بالتشهی بل ذلک مقصور علی السماع من الرسول (صلی الله علیه وسلم) یعنی دا تعبیر باللفظ المترادف په خپل اختیار سره نه دې، چه کوم څائې زړهٔ غواړی، یو لفظ لره په بل لفظ مترادف سره بدل کړه، بلکه دا موقوف دې په سماع باندې، یعنی د دغې لفظ مترادف د حضور (صلی الله علیه وسلم) یا صحابه کرامو نه منقول کیدل ضروری دی.

(ثالث) (د سبعة احرف نه سبع لغات مراد دی)

د سبعة احرف نه مراد سبع لغات دی، په اصل کښې عربی زبان ډیر وسیع دې، د هرې قبیلې زبان او لغت جدا جدا دې، په قبیلو کښې شاعران هم څان څانله دی، لکه چه تا د نحو په کتابونو کښې لوستلې دی، علی لغة هذیل، علی لغة بنی طی، علی لغة بنی تمیم، وغیره وغیره، او دا اختلاف لغات کله خو د الفاظ مستعمله په اعتبار سره وی، چه یو لفظ دې، هغې لره یوې قبیلې والا استعمالوی، او بله قبیله نه استعمالوی، او کله دا اختلاف د اعراب په اعتبار سره وی، د اول مثال لکه تابوت او تابوه، حضرت عثمان رضی الله عنه د جمع قرآن دپاره چه کوم حضرات منتخب کړې وو، په هغې کښې درې حضرات قریشیان وو (سعید بن العاص، عبدالرحمن بن الحارث بن هشام، عبدالله بن زبیر) او یو غیر قرشی حضرت زید بن ثابت انصاری رضی الله عنه وو، حضرت عثمان رضی الله عنه اوفرمائیل چه که ستاسو په مینځ کښې په څه لفظ یا قراءة کښې اختلاف راشی، نو لغت قریش په کښې منتخب کړئ، څکه چه قرآن مجید د قریشو په لغت باندې نازل شوې دې، نو د دغې حضراتو اختلاف راغلو، په لفظ تابوت کښې، قریشی حضراتو وئیل، چه دا لفظ تابوت دې، او حضرت زید رضی الله عنه اوفرمائیل چه تابوه دې، حضرت عثمان رضی الله عنه طرف ته رجوع اوکړې شوه، هغوی اوفرمائیل چه تابوت اولیکئ، د قریشو لغت هم دادې (ترمذی شریف ج۲ص۱۳۸) او د ثانی مثال لکه ان هذان لساحران، په دې کښې دوه قراءته دی، ان هذین، (چه د قواعد مشهوره موافق دې) او ان هذان، په بعضو قبائلو کښې تثنیه په درېو وارو حالتونو کښې الف سره وی، او اعراب د تثنیې تقدیری وی، په دې دریمه معنی باندې دا اشکال کړې شوې دې، چه لغات عرب خو د اووه نه ډیر زیات دی، واجیب عنه بان المراد افصحها، بیا په دې کښې اختلاف دې، چه دا

ټول لغات د قبیله قریش بطون دی، یا ددې نه عام دی، قیل کلها من بطون قریش، او وئیلې شوې دی، چه دا اووه لغات د قبیله مضر دی، او دهغې ټولو نه قریش هم دې، او د قبیله مضرهغه اووه شاخونه دادی، هذیل، کنانه، قیس، ضبه، تیم الرباب، اسد بن خزیمه، قریش. لیکن ددې دا مطلب اخستل پکار نه دی، چه هره کلمه د قرآن مجید اووهٔ طریقو سره لوستلې کیږی، څکه چه وئیلې شوې دی، چه قرآن مجید کښې داسې کلمه بالکل نشته، چه اووهٔ طریقو سره لوستلې کیږی، الا الشئ القلیل مثل عبدالطاغوت، بلکه دا اووهٔ لغات په ټول قرآن مجید کښې خوارهٔ دی، فبعضه بلغة قریش و بعضه بلغة هذیل، و بعضه بلغة هوازن و بعضه بلغة یمن.

«رابع» «د سبعة احرف نه قراءت سبع مراد دی»

د سبعة احرف نه قراءت سبعه مشهوره متواتره مراد دی، لیکن مکی ابن ابی طالب فرمائي چه کوم خلق دا ګڼړی، چه د هغې مشهور قراؤ قراءتونه لکه نافع، عاصم وغیره د سبعه احرف مصداق دی، دا خبره بالکل غلطه ده، بلکه سبعه خو هم ددې احرف سبعه یو جزء دې، ګنی لازم به راشی، چه ددې قراءت سبعه نه علاوه چه کوم قراءات د نورو امامانو نه منقول دی، هغه قرآن نه دی، او دا قطعا غلطه خبره ده، څکه چه کومو ائمه متقدمینو په قراءت کښې تصنیفات لیکلې دی، لکه ابوعبید قاسم بن سلام، ابوحاتم سجستانی، ابوجعفر طبری، دغې حضراتو ددې قراءات سبعه نه علاوه هم ډیر قراءتونه ددې نه دوچند او څلور چند لیکلې دی، بیا به دغې قراءتونو ته تاسو څه وایئ، دهغې ټولو انکار به لازم راځی،

د حضرت شیخ الحدیث او د علامه جزری رائې:

زمونږ حضرت شیخ رحمه الله به تقریر بخاری کښې فرمائیل، چه زما په نزد راجح داده، چه ددې نه قراءات سبعه مراد دی [1] اګر چه حافظ ابن حجر هغه سړی ته جاهل وئیلې دی، څوک چه

---

[1] علامه جزری رحمه الله هم دا حدیث هم په دې معنی باندې محمول کړې دې هغه فرمائی چه د دیرشو کالو پورې د ټولو قراءتونو په اختلاف کښې د تدبر کولو نه پس دا مطلب زما ذهن ته راغلو چه د «سبعة احرف» نه اووه قسمه تغیر لفظی مراد دې بیا هغه د دې تغیرات سبه تفصیل او تشریح کړې ده کوم چه لاندې لیکلې شی:

۱: په حرکاتو کښې تغیر وی خو د لفظ په صورت کښې او په معن کښې بالکل تغییر نه وی لکه «بالبخل» او «بالبخل القدس» او «القدس یحسب» او «یحسب». ۲: په اعراف او معنی کښې تغیر اوشی خو د تغیر څه صورت نه وی لکه قراءة متواتره کښې «فتلقي ادم من ربه کلمات» او «ادم من ربه کلمات».

۳: په حروف او صورت کښې تغیر اوشی خو په معنی کښې نه وی «الصراط، السراط، بصطة، بسطة» ٤: چه په حروف او معنی کښې تغیر راشی خو په صورت کښې نه وی لکه «تتلو» او «تبلوا»، «ننجیك» او «ننجیك». ٥: په حروف، معنی او صورت درې وارو کښې تغیر راشی لکه «اشد منکم» او «اشد منهم»، «ولا یاتل» او «ولا یتال» فاسعوا، فامضوا. ٦: د تقدیم او تاخیر تغییر لکه «فیقتلون ویقتلون» او «فیقتلون ویقتلون». ۷: د حروفو د کمی او زیادت تغییر لکه «واوصي ووصي والذکر والانثي، وما خلق الذکر والانثي»

... دا دې هغه اووه قسمه تغییر او پاتې شو اصولی اختلافات لکه اظهار او روم اشمام او ادغام تفیخم او ترقیق مد او قصر اماله او فتحه تحقیق وتسهیل او ابدال ونقل پس په دې کښې په لفظ او معنی کښې هیڅ قسم بدلون نه کیږی صرف په کیفیت کښې بدلون وی پس یا خو دا تغیر نه دی...... ←

دا وائي چه ددې نه قراءات سبعه مراد دي، ليکن زما په نزد ددې قول اختيارولو وجه داده، چه دا قراءات سبعه ټول په ټوله محفوظ او مضبوط دي، منقول او مروج دي، لکه چه خپله قرآن مجيد کښې الله تعالى فرمائي: انا نحن نزلنا الذکر وانا له لحافظون، او که د احرف سبعه نه نورې معانې مراد واخستلې شي، نو هغه ټول قراءتونه محفوظ چرته دي؟ (١) انتهى کلامه.

د حضرت ګنګوهی رائې:

ليکن حضرت اقدس ګنګوهی رحمه الله په تقرير بخاري لامع الدراري ج۳ص۲۵۳ کښې ليکلې دي، چه اقرب داده، چه اول قرآن مجيد په لغت قريش باندې نازل شو، بيا روستو د نبي کريم (صلى الله عليه وسلم) د طرف ته زياتوالې طلب کړې شو، نو په هغې باندې اضافه اوکړې شوه، او د يو نه زيات لغاتو باندې لوستلو اجازت ورکړې شو، دې اضافې او اجازت لره مجازا انزل سره تعبير اوکړې شو، او ددې نه قراءات سبعه مراد نه دي، بلکه دا قراءات خو لغت واحده دې، او د يو لغت په الفاظ مختلفه کښې څه تيسير کيدې شي، هرکله چه مقصود ددې نه تيسير دې، انتهى.

(خامس) (دحضرت شاه ولی الله صاحب رائې)

دلته کښې يوه رائې زمونږ د حضرت شاه ولي الله صاحب قدس سره ده، هغه داچه دلته د سبعه نه مراد تحديد نه دې، بلکه مراد تکثير دې (مشهوره ده، چه په اکائيو کښې د اووه(۷) عدد او په دهائيو کښې د اويا(۷۰) عدد د تکثير دپاره وي، او دا سبعة احرف ټولو معاني مذکوره سابقه ته شامل دې، يعنی دا تعدد دوجوه او اختلاف عام دې، که د لغات مختلفه په اعتبار سره وي، او که د قاريانو د قراءات مختلفه د قبيلې نه وي (چه کله د مخارج حروف په اعتبار سره وي، او کله د مده، ترخيم او ترقيق وغيره صفاتو په اعتبار سره وي) او که د الفاظ مترادفه په اعتبار سره وي، عرض دا چه دا ټول صورتونه او شکلونه د سبعة احرف په مصداق کښې داخل دي.

[١٤٧٦](٢) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، قَالَ: قَالَ الزُّهْرِيُّ: إِنَّمَا هَذِهِ الأَحْرُفُ فِي الأَمْرِ الْوَاحِدِ لَيْسَ تَخْتَلِفُ فِي حَلاَلٍ وَلاَ حَرَامٍ.

زهری رحمه الله فرمائي چه دا (اووۀ مختلف) قرائتونه د يو معنى او مفهوم حامل دي. د دې نه په حلالو او حرامو کښې څه اختلاف نشته دې.

[١٤٧٧](٣) حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا هَمَّامُ بْنُ يَحْيَى، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ يَعْمَرَ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ صُرَدٍ الْخُزَاعِيِّ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا أُبَيُّ، إِنِّي أُقْرِئْتُ الْقُرْآنَ، فَقِيلَ لِي: عَلَى

ـه.....اوکه دې نو په قسم اول کښې داخل دې. (ماخوذ از عنايات رحماني ص ۳۰ ج ۱، شرح شاطبية مصنفه حضرت قاري فتح محمد صاحب پاني پتي مهاجر مدني رحمه الله. مرسله حضرت مولانا زين العابدين صاحب المحدث الاعظمي)

(١) د دې جواب دا دې چه په چا باندې انزال شوې دې نو هغه محفوظ دې يعنی لغت قريش او هم د دې د حفاظت وعده فرمائيلې شوې دې. ۱۲

(٢): انظر ما قبله (صحيح)

(٣): تفرد به ابوداود، (تحفة الأشراف:٢٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٢٤/٥، ١٢٧، ١٢٨) (صحيح)

حَرْفٍ أَوْحَرْفَيْنِ؟، فَقَالَ الْمَلَكُ الَّذِي مَعِي: قُلْ: عَلَى حَرْفَيْنِ، قُلْتُ: عَلَى حَرْفَيْنِ، فَقِيلَ لِي: عَلَى حَرْفَيْنِ أَوْثَلَاثَةٍ؟، فَقَالَ الْمَلَكُ الَّذِي مَعِي: قُلْ: عَلَى ثَلَاثَةٍ، قُلْتُ: عَلَى ثَلَاثَةٍ، حَتَّى بَلَغَ سَبْعَةَ أَحْرُفٍ، ثُمَّ قَالَ: لَيْسَ مِنْهَا إِلَّا شَافٍ كَافٍ، إِنْ قُلْتَ سَمِيعًا عَلِيمًا عَزِيزًا حَكِيمًا مَالَمْ تَخْتِمْ آيَةَ عَذَابٍ بِرَحْمَةٍ، أَوْآيَةَ رَحْمَةٍ بِعَذَابٍ".

حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه فرمائی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: اې ابی! ما ته قران اولوستلې شو نو اووئیلې شو: په یو حرف باندې (لوستل خوښه وې) یا په دوو حرفونو باندې؟ نو هغې فرشتې کومه چه زما سره وه، هغې اووئیل چه اووایه: په دوو حروفو باندې. نو ما اووې په دوو حروفو باندې. بیا ماته اووئیلې شو په دوو حروفو باندې یا په دریو حروفو باندې؟ هغه فرشتې کومه چه زما سره وه هغې اووې اووایه په دریو حروفو باندې. ما اووې په دریو حروفو باندې.، تردې پورې چه خبره تر اووهٔ حروفو پورې اورسیدله. بیا ئې اووې ددې نه هر حرف شافی کافی دې. کهٔ چرې تهٔ دَ سمیعا علیما په ځائې باندې عزیزا حکیما اووائې نو صحیح دی، مګر ترڅو چه آیت دَ عذاب لره دَ آیت دَ رحمت سره، یا یو آیت دَ رحمت لره دَ څهٔ آیت دَ عذاب سره بدل نهٔ کړې. "

ان قلت سمیعا علیما عزیزا حکیما: یعنی که تهٔ د سمیعا علیما په ځائې عزیزا حکیما اولولې، نو هیڅ حرج په کښې نشته، د مسند احمد په روایت کښې دی، فان الله کذلک، الله تعالی هم دغسې دې، یعنی دا ټول د الله تعالی صفات دی، که د یو صفت په ځائې بل صفت ذکر کړې شی، نو هیڅ حرج نشته، مالم تختم آیة رحمة بعذاب او آیة عذاب برحمة، یعنی مثلاً که د رحمت آیت شروع وی، او تهٔ هغې لره په شدید العقاب باندې ختم کړې، یا د عذاب آیت شروع وی، او تهٔ هغې لره په غفور الرحیم باندې ختم کړې، نو دا صحیح نه دی، ځکه په دې سره نظم قرآن کښې هم خلل واقع کیږی، او په معنی کښې هم تغیر پیدا کیږی، په منهل کښې د علامه عینی رحمه الله نه نقل کړې شوې دی، چه دا ګنجائش په شروع کښې وو، لیکن هرکله چه په مصحف عثمان کښې په موجوده ترتیب قرآن باندې اجماع اوشوه، نو اوس بیا د هیڅا دپاره جائز نه دی، چه د سمیع علیم په ځائې عزیز حکیم، قصداً اووائی، او که بغیر د قصد نه د تغییر زبان د وجې نه داسې صادر شی، نو بیا هیڅ حرج نشته، لم تبطل صلوته.

[١٤٧٨]([1]) حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ عِنْدَ أَضَاةِ بَنِي غِفَارٍ "فَأَتَاهُ جِبْرِيلُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: إِنَّ اللَّهَ عَزَّوَجَلَّ يَأْمُرُكَ أَنْ تُقْرِءَ أُمَّتَكَ عَلَى حَرْفٍ، قَالَ: أَسْأَلُ اللَّهَ مُعَافَاتَهُ وَمَغْفِرَتَهُ إِنَّ أُمَّتِي لَا تُطِيقُ ذَلِكَ، ثُمَّ أَتَاهُ ثَانِيَةً، فَذَكَرَ نَحْوَ هَذَا حَتَّى بَلَغَ سَبْعَةَ أَحْرُفٍ، قَالَ: إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكَ أَنْ تُقْرِءَ أُمَّتَكَ عَلَى سَبْعَةِ أَحْرُفٍ، فَأَيُّمَا حَرْفٍ قَرَءُوا عَلَيْهِ فَقَدْ أَصَابُوا".

د حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه نه روایت دې چه نبی کریم ﷺ د قبیلهٔ بنو غفار د تالاب سره وو چه په هغه باندې جبرئیل علیه السلام نازل شو اووې فرمائیل: بې شکه الله تعالیٰ تاسو ته دا حکم کوی چه خپل امت ته په یو حرف سره قرآن لولئ. حضور ﷺ اوفرمائیل: زهٔ دَ الله تعالیٰ نه

[1]: صحیح مسلم/المسافرین ٤٨ (٨٢١)، سنن النسائي/الافتتاح ٣٧ (٩٤٠)، (تحفة الأشراف:٦٠)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٢٧/٥) (صحیح)

د عفو او مغفرت سوال کوونکی یم، ځکه چه زما امت ددې طاقت نۀ لري. " بیا جبرئیل ؑ په دویم ځل باندې راغې او د اول په شان ذکر ئې اوکړو، تردې پورې چه اووۀ حروفو ته اورسیدو. فرمائي الله تعالیٰ حکم کوی چه خپل امت ته (کلام الله لره) په اووۀ حروفو کښې لولئ، په کوم حرف چه هم هغوی لولی هغه به صحیح وی.

یو اشکال او جواب:

په دې باندې یو اشکال ذهن ته راځی، هغه دا چه نبی کریم (ﷺ) خو کوشش اوکړو، او د امت د آسانئ دپاره ئې مختلف لغاتو کښې د تلاوت کولو اجازت حاصل کړو، نو هرکله چه دا تیسیر (آسانی او سهولت) منصوص من الشارع شو، نو بیا روستنو خلقو لره ددې خلاف اجماع کول څرنګه صحیح شوه، ددې جواب دا کیدې شی، چه بې شکه د نبی کریم (ﷺ) په زمانه کښې خو ددې توسیع نه تیسیر حاصل شو، لیکن روستو بیا چه کله دې تیسیر د عمومی اختلاف او نزاع شکل اختیار کړو، چه خلاف مقصود وو، نو د حضرت عثمان رضی الله عنه په زمانه کښې د صحابه کرامو په مشورې سره په اتفاق رائې سره په یو لغت باندې استقرار اوشو، چه هغې سره نزاع ختمه شوه، او د تسکین او تیسیر باعث شو. (وکان هذا الاستقرار والاجماع بالالهام من الله تعالى و القائه فكان خيرا محضا) والله سبحانه و تعالى اعلم، الحمد لله على احسانه چه په دې باب باندې کلام پوره شوه، چه هغې لره آسانولو کښې او پوهه کښې راوستلو کښې مونږ ډیر زیات محنت اوکړو، الله تعالیٰ دې مونږ ته په قرآن مجید باندې د عمل کولو او د هغې پوره پوره قدر کولو توفیق راکړی، والله الموفق ولا حول و لا قوة الا بالله العلي العظيم.

بَابُ الدُّعَاءِ

باب: ۲۳- دَ دُعا آداب

اوس دلته کښې د کتاب الصلوة تر آخره پورې د دعاګانو ابواب راروان دی، ګویا مصنف د کتاب الصلوة اختتام په دعاګانو باندې کړې دې، دا باب ډیر زیات وسیع دې، په دې سره د مصنف غرض د دعاء فضیلت او اهمیت او دهغې آداب بیانول دی، په دې باب کښې ئې تقریبا شل احادیث راوړلې دی، اول حدیث د حضرت نعمان بن بشیر رضی الله عنه دې، چه دهغې الفاظ دادی

[۱۴۷۹] (١) حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ ذَرٍّ، عَنْ يُسَيْعٍ الْحَضْرَمِيِّ، عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الدُّعَاءُ هُوَ الْعِبَادَةُ، وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ سورة غافر آية ٦٠".

د حضرت نعمان بن بشیر رضی الله عنه نه روایت دې چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: دعا عبادت دې ستاسو رب فرمائیلې دی: ما ته آواز کوئ زۀ به ئې قبلوم.

قوله: عن النبی (صلی الله علیه وسلم) قال الدعاء هی العبادة قال ربکم ادعونی استجب لکم:

[١]: سنن الترمذي/تفسير البقرة ٣ (٢٩٦٩)، تفسير المؤمن ٤١ (٣٢٤٧)، الدعوات ١ (٣٣٧٢)، ن الكبري/ التفسير (١١٤٦٤)، سنن ابن ماجه/الدعاء ١ (٣٨٢٨)، (تحفة الأشراف: ١١٦٤٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٢٧١، ٢٧٦) (صحيح)

دا حدیث د سنن اربعه او د مسند احمد روایت دي، په دي کښې حضور (ﷺ) دعا لره عین عبادت گرزولې دې، او بیا ددې په تائید او دلیل کښې د قرآن مجید آیت شریف تلاوت فرمائیلې دې، اول خو د نبی کریم (ﷺ) ارشاد د امت دپاره کافی او وافی دې، بیا نبی کریم (ﷺ) خپل قول په کلام الهی سره هم مدلل کړو، چه هغې سره د دعاء اهمیت نور هم زیات شو.

لیکن شاید هیڅ یو مسئله داسې نشته، چه په هغې کښې د علماؤ اختلاف نه وی، (۱)

د دعاء باره کښې هم اختلاف دې، چه دعاء افضل ده، او که ترک دعاء او سکوت افضل دې، دا بحث به مونږ په اخر کښې بیانوؤ.

د احادیث الباب نه مستفاد کیدونکې اداب دعاء:

ددې باب د احادیثو نه چه کوم آداب دعاء مستفاد کیږی، په هغې کښې بعضې ډیر ښکاره دی (۱) د دعاء ابتداء داسې کول پکار دی، چه اول دې دعا کونکې د الله تعالی حمد او ثناء په ځائې راوړی، بیا صلوة النبی (ﷺ)، دهغې نه پس دې خپل مقصود د الله تعالی نه اوغواړی، (من الحدیث الثالث) (۲) اګرچه دعاء بغیر د رفع یدین نه هم کیدې شی، او همیشه د رفع یدین موقع هم نه وی، لیکن بهر حال په رفع یدین سره دعا کولو کښې اهتمام زیات معلومیږی، لکه ددې باب په لسم حدیث کښې دی: الله تعالی حیا کونکې دې، ددې خبرې نه حیا کوی، چه څوک بنده هغه طرف ته لاسونه خوارهٔ کړی، او الله تعالی هغې لاسونه لره خالی واپس کړی، (الحدیث العاشر) (۳) چه کله رفع یدین سره دعا اوکړې شی، نو د دعاء نه پس خپلو لاسونو لره په مخ او سترګو باندې راښکل پکار دی، د تفاؤل په طور باندې، چه ګویا مونږ ته څه خیز ملاؤ شوې دې، چه هغې لره مونږ خپلو سترګو سره لګوؤ، او دهغې قدر کوؤ، لکه چه ارشاد دې، ادعوا الله وانتم موقنون بالاجابة (حدیث۱۴) (۴) رفع یدین داسې کول چه د لاسونو تلی آسمان طرف ته وی، او دهغې شا زمکې طرف ته، د اکثر علماؤ رائې داده، او د بعضو علماؤ رائې، چه په هغې کښې حضرت شیخ ابن حجر مکی رحمه الله هم دې، داده، چه کومه دعا د جلب خیر او منفعت دپاره وی، په هغې کښې خو داسې کول پکار دی، او کومه دعا چه د فع دشر دپاره وی، په هغې کښې بهتره داده، چه ظهور کفین آسمان طرف ته وی، او بطون کفین زمکې طرف ته وی، او په دې کښې قلب د حال طرف ته اشاره ده، لکه چه د استسقاء په خطبه کښې تحویل رداء (یعنی څادر اَلته کول) کولې شی، (حدیث ۸، ۹) (۵) لیغزم المسالة: یعنی دعا عزم او پختګی سره غوختل پکار دی، داسې دې نه وائی، چه یا الله که تهٔ اوغواړې، نو داسې اوکړه، عرض دا چه د کمال احتیاج اظهار پکار دی، په دعاء کښې تعلیق بالمشیة لره بعضو مکروه او بعضو حرام لیکلې دې، لهذا ډیر

---

(۱) اوس اوس یوه خبره ذهن کښې راغله چه اخر دومره اختلاف ولې دې او ورسره دا جواب ذهن ته راغلو چه د دې اختلاف سبب د دلائلو او علم کم والې نه دې بلکه وسعت علم او کثرت ادله دې او کوم امام هم چه کوم قول اختیار کړې دې هغه سره د دې دلیل دې، سبحان الله! د شریعت جامعیت اود علم فراخی، د علم اندازه اولګوئ، زهٔ خو وایم چه کله جزئیات او مسائل فرعیه کښې د دلائلو او تحقیق دا حال دې نود عقائدو به څه حال وی. الحمد لله الذي هدانا للاسلام وما کنا لنهتدي لولا ان هدانا الله. ۱۲

زیات کوشش سره دعا غوختل پکار دی، او د الله تعالی نه د قبولیت پوره امید ساتل پکار دی، ځکه چه دا دعا د کریم ذات نه ده، د بعضو علماؤ نه منقول دی، چه سړی دې ذ خپل تقصیر احساس د دعاء نه منع نه کړی، ځکه چه الله تعالی خو د خپل بدترین مخلوق ابلیس دعا هم رد کړې نه ده، قال رب انظرنی الی یوم یبعثون قال انک من المنظرین، (٦) کان علیه الصلوة والسلام یستحب الجوامع من الدعاء، داسې دعاګانې اختیارول پکار دی، چه ښه جامع وی، یعنی د دارینو په مقاصدو باندې مشتمل وی، یا دا چه د ټولو مسلمانانو سره او ښځو دپاره وی، یا دا چه د دعا په ټولو آدابو باندې حاوی وی، ځکه چه دعا د احکم الحاکمین نه کولې شی، ددې وجې نه د فضول خبرو دعاګانې، یا داسې دعا چه په هغې کښې فضول الفاظ وی، د ادب نه خلاف دی، د ټولو نه جامع او مانع دعاګانې هغه کیدې شی، کومې چه ماثور او منقول دی، ځکه چه د حضور اقدس (ﷺ) برابر هیڅ یو انسان فصیح او بلیغ او زیات علم والا کیدې نشی، صاحب منهل یو څو جامع دعاګانې د نمونې په طور باندې لیکلې دی، (١) ربنا آتنا فی الدنیا حسنة و فی الآخرة حسنة و قنا عذاب النار (٢) اللهم اکفنی بحلالک عن حرامک واغننی بفضلک عمن سواک (٣) اللهم انی اسئلک الجنة وما قرب الیها من قول او عمل و اعوذ بک من النار و ما قرب الیها من قول او عمل.
(٤) اللهم انی اسئلک من الخیر کله عاجله و آجله ما علمت ومالم اعلم (من المنهل)

جامع ترین دوه ماثور دعاګانې:

زۀ وایم، علماؤ لیکلې دی، چه په دعاګانو کښې د ټولو نه جامع په مذکوره دعاګانو کښې اوله دعاء ربنا آتنا فی الدنیا حسنة الخ ده، او په ادعیه ماثوره من الحدیث کښې د ټولو نه جامع دعا هغه ده، کومه چه امام ترمذی د حضرت ابوامامه رضی الله عنه نه نقل کړې دې، هغوی فرمائي چه یو ځل مونږ حضور (ﷺ) ته عرض اوکړو، چه تاسو مونږ ته ډیرې دعاګانې ښودلې دی، لیکن هغه ټولې مونږ ته یادې نه دی، نو نبی کریم (ﷺ) اوفرمائیل چه زۀ تاسو ته داسې دعا ښایم، چه د ټولو دعاګانو جامع ده: اللهم انا نسالک من خیر ما سالک منه نبیک محمد (صلی الله علیه وسلم) و نعوذ بک من شر ما استعاذ منه نبیک محمد (صلی الله علیه وسلم) وانت المستعان وعلیک البلاغ ولا حول و لاقوة الا بالله، (قال الترمذی هذا حدیث حسن غریب، و فی تحفة الاحوذی جلد٤ ص٢٦٦ واخرجه الطبرانی فی الکبیر) ددې دعا په جامعیت کښې هیڅ کلام نشته، لکه چه خپله حضور (ﷺ) فرمائیلې دی، په تحفة الاحوذی کښې علامه شوکانی رحمه الله نقل کړې دی، ولا شئ اجمع ولا انفع من هذا الدعاء، زمونږ حضرت شیخ نورالله مرقده هم ددې دعاء ډیر زیات معتقد وو، او ددې به یې ډیر زیات ترغیب فرمائیلو، او حضرت ابوامامه رضی الله عنه چه ددې دعاء راوی دې، دهغه لوئې احسان ئې منلو، چه هغه د حضور (ﷺ) نه دومره جامع دعا زده کړه، او مونږ ته ئې راؤرسوله، ما د حضرت مولانا تهانوی رحمه الله په یو مکتوب کښې اولیدل، چه هغوی د مکتوب الیه په حق کښې دعائیه کلمات دارنګې لیکلې وو، الله تعالی دې تاته د دارینو حلاوت درنصیب کړی، په اصل کښې تنګی او مشقت هیڅ څیز نه دې، که په زړۀ کښې حلاوت وی، او حلاوت په صبر او

شکر باندې مرتب کیږي، پس زما په خیال دا دوه څیزونه بنیادي او معیاري دي، د حدیث دعاء ده: اللهم اجعلني صبورا و اجعلني شكورا،
او په حدیث کښې دي: ما اعطى احد عطاء اوسع من الصبر، د صبر میدان دومره وسیع دې، چه ټول مصیبتونه او د ناخوښه خبرې راغونډوي، (۷) يستجاب لاحدكم ما لم يعجل، په دعاء کښې تلوار کول پکار نه دي، چه دا اوائي، چه څومره ورځو نه دعا کوم، اوسه پورې قبوله نه شوه، که داسې سوچ کوي، یا ژبې سره وائي، نو بیا د قبولیت دعا هیڅ وعده نشته.

کومه دعا قابل قبول ده:

علامه قسطلاني په شرح بخاری کښې د قبولیت دعا باره کښې یوه نکته لیکلې ده، هغه دا چه د الله تعالی قول ادعوني استجب لكم، ماته آواز اوکړه زه اورم، په دې کښې اشاره ده دې خبرې طرف ته، چه کوم سړې الله تعالی نه دعا غواړي، لیکن د هغه په زړه کښې لږ شان د ذرې برابر اعتماد وي، په خپل مال باندې یا په خپل عزت باندې، یا په خپلو دوستانو او عزیزانو باندې، یا په خپل کوشش باندې، نو هغه فی الحقیقت الله تعالی لره صرف په خپلې ژبې سره رابللې دې، په زړه سره ئې نه دې رابللې، او د هغه د زړه اعتماد د خپل مقصود په تحصیل کښې غیر الله باندې دې، او که سړې الله تعالی لره په داسې وخت کښې راؤبلي، چه هغه وخت کښې دهغه زړه غیر الله طرف ته لږ شان هم متوجه نه وي، نو بیا ظاهره داده، چه دهغه دعاء به ضرور قبلیږي، انتهی کلامه، احقر وائي، چه په حدیث کښې دي، چه کوم سړې اسم اعظم سره دعا کوي، هغه ضرور قبلیږي، د حضرت جنید بغدادي نه منقول دي، چه چا دهغه نه د اسم اعظم باره کښې تپوس اوکړو، چه اسم اعظم کوم یو دې، نو هغوی ورته اوفرمائیل چه اسم اعظم لفظ د الله دې، لیکن ددې دپاره یو شرط دې، هغه داچه ان تقول الله و ليس في قلبك سواه، معلومه شوه، چه اصل څیز په دعاء کښې توجه، کمال احتیاج او افتقار الی الله دې.

دعاء افضله ده، او که ترک دعاء او تفویض (رضا بقضاء)

ددې نه پس پوهه شئ، چه د جمهور علماؤ رائې خو داده، چه دعاء غوختل سنت دي، او هغه عین عبادت دې، لیکن د بعضو صوفیانو دې سره اتفاق نشته، هغوی فرمائي چه ترک دعاء او تفویض اولی دې، علمه بحالي اولى من سوالي، دا حضرات فرمائي، چه تسلیم او رضابالقضاء اصل دې، او د بعضو رائې داده، چه د نورو دپاره خو دعاء اولی ده، او په خپل حق کښې تفویض اختیارول اولی دي، یا داسې اوایئ، چه که خپل ځان سره دعاء کښې نور هم شریک کړي، نو بیا خودعا کول اولی دي، ګنې تفویض اولی دې، او یو قول داډې، چه که په یو وخت کښې یو خاص باعث یا وجه د دعاء کولو دپاره اوموندلې شي، نو بیا دعاء اولی ده، ګنې په عامو حالاتو کښې ترک دعاء اولی ده، د جمهورو په مسلک باندې یو اشکال کیږي، چه په حدیث شریف کښې دي: من شغله ذكرى عن مسالتي اعطيته افضل ما اعطى السائلين، چه څوک زما په ذکر کښې دمشغولیدلو د وجې نه زما نه سوال اونه

کړې شی، نو هغه ته زهٔ د دعاکونکو نه هم زیاته ورکړه کوم، ددې حدیث نه په ظاهر کښې د ترک دعاء افضل کیدل معلومیږی، جواب دادې، چه او د کوم سړی حال چه دا وی، چه هغه د الله تعالی د جلال او صفاتو په معرفت کښې مستغرق اوسیږی، نو دا حالت دهغه په حق کښې د دعاء نه افضل دې، (قسطلانی) حافظ رحمه الله هم په فتح الباری کښې د کتاب الدعوات په شروع کښې ددې څیزونو نه بحث کړې دې، هغوی لیکلې دی:

د قائلین تفویض (ترک دعاء) دپاره دلیل:

یو جماعت وائی، چه ترک دعاء او سکوت اولی دې، او د آیت کریمه ادعونی استجب لکم په جواب کښې هغوی دا وائی، چه دلته د دعاء نه عبادت مراد دې، او ددې دپاره قرینه د آیت آخر دې، ان الذین یستکبرون عن عبادتی الآیة، ګنی دواړه فقرې به بې ربط پاتې شی، دغه شان دحدیث شریف الدعاء هو العبادة مطلب هم دادې، چه دعاء نوم د عبادت دې، پس په دې آیت د امر بالدعاء نه مقصود امر بالعبادت دې،

(جواب از طرف جمهور)

جمهور دا وائی، چه آیت کریمه په خپل ظاهر باندې دې، د دعاء نه هم دعاء مراد ده، پاتې شو اشکال د عدم ربط، نو دهغې نه جواب دادې، چه دعاء یو خاص قسم عبادت دې، او په آیت ثانیه کښې لفظ د عبادت مذکور دې، چه مطلق او عام دې، چه کله د عام انتفاء اوشی، نو د خاص انتفاء به په طریق اولی سره کیږی،

(د امام قشیری رائې)

مخکښې حافظ لیکلې دی، چه ابو القاسم قشیری (چه د مشاهیر صوفیاء او اکابر اولیاؤ نه دې) په خپله رساله (رساله قشیری) کښې په دې مسئله کښې اختلاف لیکلې دې، او مسلک جمهور یعنی اختیار د دعاء ته ئې ترجیح ورکړې ده، او دریم قول ئې دا نقل کړې دې، چه بعضې خلق وائی، چه اولی دادی، چه ژبې سره خو داعی وی، او زړهٔ سره راضی بقضاء وی، او بیا هغوی خپله رائې دا لیکلې ده، چه اولی دادی، چه کوم وخت سالک په خپل زړهٔ کښې اشاره د دعاء اومومی، نو دعاء اولی ده، او کوم وخت چه اشاره د ترک دعاء اومومی، نو هغه وخت کښې ترک دعاء اولی ده، په دې باندې حافظ ابن حجر رحمه الله فرمائې چه دا خو د لویو خلقو خبرې دی، د هغوی اشاره قلبی معتبر ده، د عامو خلقو په اعتبار سره اول قول بهتر دې، (الدعاء باللسا والرضاء بالقلب)

(د اکمال الشیم تبصره)

په اکمال الشیم شرح تبویب الحکم کښې د دعاء په مسئله کښې د صوفیانو په طریق باندې لوئې بحث کړې شوې دې، د دعاء حقیقت، دهغې اقسام، د عارف او غیر عارف په دعاء کښې فرق، دغه شان دعاء او ترک دعاء کښې کوم ته ترجیح ده، ډیر خائسته مضمون دې، دهغې مطالعه کول پکار دی، څو لکیرې دهغې نه دلته کښې نقل کوم، په حدیث کښې وارد دی، الدعاء مخ العبادة، لیکن هغه سالک چه هغه ته اوسه پورې د خپل نفس نه خلاصې نصیب شوې نه دې، هغه که دعاء او سوال لره مقصود اوګڼړی، نو دا دهغه خطاء ده، وجه

داده، چه تر څو پورې نفس موجود دې، په دعاء او سوال کښې هم نفسانیت موجود دې، چه نفس به د خپلو خوندونو او مزو سوال کوي، او د نظر او د زړه د توجه به نه هغه حاجت وي،او نه به د الله تعالی د بندګۍ هغه حالت وي.

د عارفینو دعاء د عبادت مغز دې:

په خلاف د عارفینو چه دهغوی دعاء البته د عبادت مغز دې، ځکه چه د عبادت مقصود اظهارافتقار او احتیاج دې، او دعاء او سوال کول، دا عین افتقار او احتیاج ظاهرول دی، پس دعارف کامل نفس فنا شوې وي، دهغه نفساني غرض هیڅ نه وي.الی اخره(اکمال الشیم ص۶۴)

[۱۴۸۰](١)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ زِيَادِ بْنِ مِخْرَاقٍ، عَنْ أَبِي نَعَامَةَ، عَنِ ابْنٍ لِسَعْدٍ، أَنَّهُ قَالَ: سَمِعَنِي أَبِي وَأَنَا أَقُولُ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ وَنَعِيمَهَا وَبَهْجَتَهَا، وَكَذَا، وَكَذَا، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ النَّارِ وَسَلَاسِلِهَا وَأَغْلَالِهَا، وَكَذَا، وَكَذَا، فَقَالَ: يَا بُنَيَّ، إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "سَيَكُونُ قَوْمٌ يَعْتَدُونَ فِي الدُّعَاءِ" فَإِيَّاكَ أَنْ تَكُونَ مِنْهُمْ، إِنَّكَ إِنْ أُعْطِيتَ الْجَنَّةَ أُعْطِيتَهَا وَمَا فِيهَا مِنَ الْخَيْرِ، وَإِنْ أُعِذْتَ مِنَ النَّارِ أُعِذْتَ مِنْهَا وَمَا فِيهَا مِنَ الشَّرِّ.

د حضرت سعد رضي الله عنه یو صاحب زاده فرمائي، چه زما پلار زما نه واوریدل او ما داسې دعا کوله: اې الله ! زهٔ ستانه دَ جنت سوال کووم او دَ هغې دَ نعمتونو او رونقونو او دا، او دا. او دَ جهنم نه پناه غواړم او دَ هغې دَ زنځیرونو او طوقونو نه او دَ هغې دَ داسې داسې مصیبتونو نه. نو هغوی اوفرمائیل: ځویه ! ما دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دی، هغوی صلی الله علیه وسلم فرمائیل: "عنقریب به څه خلق وی چه هغوی به په دُعا کښې مبالغه کوی." نو خیال ساتئ دَ هغوی نه مهٔ کیږئ. کهٔ چرې تاته جنت ملاوْ شو نو دَ هغې تمام خیرات تاته ملاوْ شو، او کهٔ چرې دَ جهنم نه بچ شوې نو دَ هغې دَ تمامو آفتونو نه بچ شولې.

قوله: سيكون قوم يعتدون في الدعاء: دا حدیث په کتاب الطهارة باب الاسراف في الوضوء کښې تیرې شوې دې، او د اعتداء في الدعاء معاني هم هلته تیر شوې دی.

[۱۴۸۱](٢)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ، حَدَّثَنَا حَيْوَةُ، أَخْبَرَنِي أَبُو هَانِئٍ حُمَيْدُ بْنُ هَانِئٍ، أَنَّ أَبَا عَلِيٍّ عَمْرَو بْنَ مَالِكٍ حَدَّثَهُ، أَنَّهُ سَمِعَ فَضَالَةَ بْنَ عُبَيْدٍ صَاحِبَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: سَمِعَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا يَدْعُو فِي صَلَاتِهِ لَمْ يُمَجِّدِ اللَّهَ تَعَالَى، وَلَمْ يُصَلِّ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "عَجِلَ هَذَا" ثُمَّ دَعَاهُ، فَقَالَ لَهُ أَوْ لِغَيْرِهِ: "إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ فَلْيَبْدَأْ بِتَحْمِيدِ رَبِّهِ جَلَّ وَعَزَّ وَالثَّنَاءِ عَلَيْهِ، ثُمَّ يُصَلِّي عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ يَدْعُو بَعْدُ بِمَا شَاءَ".

صحابئ رسول صلی الله علیه وسلم حضرت فضاله بن عبید رضي الله عنه بیان کوی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د یو کس نه واریدل چه هغه په مونځ کښې دُعا کوله، هغه دَ الله تعالیٰ حمد وثنا نهٔ وه کړې او نهٔ ئې دَ حضور صلی الله علیه وسلم دَ پاره درود وئیلې وو، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل دهٔ تیزی اوکړه." کله چه په تاسو کښې څوک مونځ لولی نو اول دې دَخپل رب حمد وثنا اوکړی، بیا دې دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ

(١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف:٣٩٤٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٧٢/١، ١٨٣) (حسن صحيح)

(٢): سنن الترمذي/الدعوات ٦٥ (٣٤٧٧)، سنن النسائي/السهو ٤٨ (١٢٨٥)، (تحفة الأشراف:١١٠٣١)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٨/٦) (صحيح)

پاره دورد اولولي، ددې نه پس چه د هغه څۀ خوښه شي دُعا دې اوکړي.

[۱۴۸۲](١)حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، عَنِ الْأَسْوَدِ بْنِ شَيْبَانَ، عَنْ أَبِي نَوْفَلٍ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَحِبُّ الْجَوَامِعَ مِنَ الدُّعَاءِ وَيَدَعُ مَا سِوَى ذَلِكَ".

د ام المومنین حضرت عائشي رضي الله عنها بیان دې چه رسول الله ﷺ به جامعه دُعا خوښوله او د هغې نه علاوه به ئې پریخودلې.

[۱۴۸۳](٢)حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا يَقُولَنَّ أَحَدُكُمُ: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي إِنْ شِئْتَ، اللَّهُمَّ ارْحَمْنِي إِنْ شِئْتَ لِيَعْزِمِ الْمَسْأَلَةَ، فَإِنَّهُ لَا مُكْرِهَ لَهُ".

د حضرت ابو هریره رضي الله عنه نه منقول دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: " په تاسو کښې دې څوک داسې دُعا بالکل نۀ کوی چه یا الله! مالره اوبخښې کۀ غواړې نو. یا الله په ما باندې رحم اوکړې کۀ غواړې نو. کوم څۀ چه غواړئ نو په عزیمت او پختګئ سره ئې غواړئ. الله لره هیڅ څوک نۀ شي مجبور کولې".

[۱۴۸۴](٣)حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَبِي عُبَيْدٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "يُسْتَجَابُ لِأَحَدِكُمْ مَا لَمْ يَعْجَلْ، فَيَقُولُ: قَدْ دَعَوْتُ فَلَمْ يُسْتَجَبْ لِي".

د حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه منقول دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: قبلولې به شي دُعا د یو کس ستاسو نه ترڅو چه هغه تیزی اونۀ کړی. یعنی داسې اووائی چه ما دُعا اوکړه مګر قبوله نۀ شوه.

[۱۴۸۵](٤)حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ أَيْمَنَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يَعْقُوبَ بْنِ إِسْحَاقَ، عَمَّنْ حَدَّثَهُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ كَعْبٍ الْقُرَظِيِّ، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا تَسْتُرُوا الْجُدُرَ، مَنْ نَظَرَ فِي كِتَابِ أَخِيهِ بِغَيْرِ إِذْنِهِ فَإِنَّمَا يَنْظُرُ فِي النَّارِ، سَلُوا اللَّهَ بِبُطُونِ أَكُفِّكُمْ وَلَا تَسْأَلُوهُ بِظُهُورِهَا، فَإِذَا فَرَغْتُمْ فَامْسَحُوا بِهَا وُجُوهَكُمْ". قَالَ أَبُو دَاوُد: رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ كَعْبٍ كُلُّهَا وَاهِيَةٌ، وَهَذَا الطَّرِيقُ أَمْثَلُهَا وَهُوَ ضَعِيفٌ أَيْضًا.

محمد بن کعب قرظی د حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روایت کوی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: دیوالونو لره (په کپړو وغیره سره) مۀ پټوئ. کوم کس چه د خپل رور په کتاب کښې (یا په تحریرکښې) د هغه د اجازت نه بغیر اوکتل نو هغه په اور کښې ګوری. دَ الله تعالیٰ نه چه غواړئ نو خپل تلی خوره وئ او غواړی ئې، دَ لاسونو په شا سره مۀ غواړئ او

---

١): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف:١٧٨٠٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٤٨/٦، ١٨٨، ١٨٩) (صحيح)

٢): صحيح البخاري/الدعوات ٢١ (٦٣٣٩)، والتوحيد ٣١ (٧٤٧٧)، سنن الترمذي/الدعوات ٧٨ (٣٤٩٧)، (تحفة الأشراف:١٣٨٧٢، ١٣٨١٣)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الذكر والدعا ٣ (٢٦٧٩)، سنن ابن ماجه/الدعاء ٨ (٣٨٥٤)، موطا امام مالك/ القرآن ٨ (٢٨)، مسند احمد (٢٤٣/٢، ٤٥٧، ٢٨٦) (صحيح)

٣): صحيح البخاري/الدعوات ٢٢ (٦٣٤٠)، صحيح مسلم/الذكر والدعاء ٢٥ (٢٧٣٥)، سنن الترمذي/الدعوات ١٢ (٣٣٨٧)، سنن ابن ماجه/الدعاء ٨ (٣٨٥٣)، (تحفة الأشراف:١٢٩٣٠)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/القرآن ٨ (٢٩)، مسند احمد (٤٨٧/٢، ٣٩٦) (صحيح)

٤): سنن لبن ماجه/إقامة الصلاة ١١٩ (٣٨٦٦)، (تحفة الأشراف:٦٤٤٨) (ضعيف)

کله چه تاسو د دعا نه فارغ شئ نو هغې لره په خپلو مخونو باندې راکاږئ." امام ابوداود رحمه الله فرمائي چه دا حديث د محمد بن کعب نه په څو سندونو سره مروی دې او ټول ضعيف دی. اودا مذکوره حديث په دغه ټولو کښې ښئه دې، مګردا هم ضعيف دې.

قوله: حدثنی عبدالله بن عباس رضی الله عنهما ان رسول الله (صلی الله علیه وسلم) قال لا تستر والجدر: په ديوالو باندې (دهغې د ښائسته کولو دپاره) پردې مه زوړندوې، ځکه چه په دې کښې اسراف او تفاخر دې، چه د متکبرينو طريقه ده، ليکن که دا زوړندول ضرورة او مصلحة وی، مثلا لدفع الحر والبرد، نو جائز دی، (منهل) احقر وائي، چه دلته کښې دوه څيزونه دی، يو سترجدار، يعنی ديوال لره ښائسته کولو دپاره په هغې باندې پرده وغيره زوړندول، هغه خو ظاهره خبره ده، چه د تفاخر او زينت دپاره وی، هغه خو بهرحال ممنوع دی، او دويم څيز تعليق الستر علی الباب، دا د عام ضرورت او مصلحت د وجې نه وی، مثلاً د حجاب د ضرورت دپاره، او ددې ثبوت د ډيرو احاديثو نه کيږي، مثلاً د مرض الوفات والا حديث کښې تير شو (باب الدعافی الرکوع والسجود) ان رسول الله (صلی الله علیه وسلم) کشف الستارة والناس صفوف خلف ابی بکر الحديث، دغه شان حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ته حضور (صلی الله علیه وسلم) اوفرمائيل : اذنک علی ان يرفع الحجاب الخ، رواه مسلم، دغه شان د حضرت ابوذر رضی الله عنه حديث مرفوع دې، من کشف سترا فادخل بصره فی البيت الخ رواه الترمذی، باقی دا وئيلې شي، چه د دروازې والا پرده هم قيمتی او پرتکلف پکار نه ده.

قوله: من نظر فی کتاب اخيه بغير اذنه فانما ينظر فی النار، کوم سړې چه د بل سړی په کتاب کښې بغير د هغه د اجازت نه ګوری، نو هغه په اور کښې ګوری، يعنی داسې څيز لره ګوری، چه اور ته د رسولو دپاره ذريعه او سبب دې، يا مطلب دادې، چه څرنګه اور طرف ته مسلسل کتلو سره نظر خرابيږي (ځکه چه دا نظر ته نقصان ورکوی) دغه شان ددې نه هم پرهيز کول پکار دی، د کتاب نه څه مراد دی؟ بعضو وئيلې دی، چه ددې نه هغه خط يا ليکل مراد دې، چه د چا ذاتی وی، او په هغې کښې د راز خبرې وی، صاحب منهل وائی، بلکه په دې کښې عموم دې، علمی کتابونه هم په دې کښې داخل دی، او دا کتمان علم نه دې، بلکه حفظ مال دې، کتاب د سړی خپل قيمتی مال دې، او کتمان علم خو دادې، چه د څه څيز تپوس ترې اوکړې شی، هغې لره د علم باجود نه ښکاره کوی.

قوله: فاذا فرغتم فامسحو بها وجوهکم: ددې حديث باره کښې مصنف فرمائي، چه دا حديث بجميع طرق ضعيف دې، ددې وجې نه بعضې علماء د دعاء نه پس د مسح الوجه باليدين قائل نه دی، صاحب منهل ليکلې دی، چه ددې حديث شواهد په روايات حديثيه کښې موجود دی، (لم ذکرها) ددې وجې نه جمهور ددې قائل دی، ان ربکم حی کريم، حيی بروزن علی، په دې کښې دوه يا ګانې دی اول مکسور ده او دويمه مشدّد. دا د حياء نه ماخوذ ده (د حيوه نه نه ده ماخوذ) ليکن حياء خو مقوله د انفعال ده په دې وجه ددې نه ددې لازمی معنی مراد ده، يعنی احسان او انعام، وهذا التوجيه مشهور فی مثل هذه الاوصاف التی اطلق علی الله تعالی مثل الرحمة والغضب،

قوله: ان یردهما صفرا: صفر بمعنی خالی، یقال بیت صفر ای خال عن المتاع ورجل صفر الیدین ای خال من الخیر (ترجمه) بې شکه الله تعالی ډیر لوئی کریم او حیادار دې، چه کله یو بنده هغه طرف ته لاس پورته کړی، نو ددې خبرې نه حیاء کوی، چه هغې لره خالی واپس کړی، سبحان الله څومره امید افزا حدیث دې، الله تعالی دې د عمل کولو توفیق راکړی.

[١٤٨٦]([1])حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ عَبْدِ الْحَمِيدِ الْبَهْرَانِيُّ، قَالَ: قَرَأْتُهُ فِي أَصْلِ إِسْمَاعِيلَ يَعْنِي ابْنَ عَيَّاشٍ، حَدَّثَنِي ضَمْضَمٌ، عَنْ شُرَيْحٍ، حَدَّثَنَا أَبُو ظَبْيَةَ، أَنَّ أَبَا بَحْرِيَّةَ السَّكُونِيَّ حَدَّثَهُ، عَنْ مَالِكِ بْنِ يَسَارٍ السَّكُونِيِّ ثُمَّ الْعَوْفِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا سَأَلْتُمُ اللَّهَ فَاسْأَلُوهُ بِبُطُونِ أَكُفِّكُمْ وَلَا تَسْأَلُوهُ بِظُهُورِهَا". قَالَ أَبُو دَاوُد: وَقَالَ سُلَيْمَانُ بْنُ عَبْدِ الْحَمِيدِ: لَهُ عِنْدَنَا صُحْبَةٌ، يَعْنِي مَالِكَ بْنَ يَسَارٍ.

د ابو بحریه سکونی مالک بن یسار سکونی عوفی نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: کله چه تاسو د الله نه سوال کوئ نو د خپل لاس په تلو باندې غواړئ، د لاسونو په پشت باندې مه غواړئ. امام ابوداود رحمه الله فرمائی چه سلیمان بن عبد المجید وئیلې دی چه زمونږ د علم مطابق مالک بن یسار ته د صحابیت شرف حاصل دې.

[١٤٨٧]([2])حَدَّثَنَا عُقْبَةُ بْنُ مُكْرَمٍ، حَدَّثَنَا سَلْمُ بْنُ قُتَيْبَةَ، عَنْ عُمَرَ بْنِ نَبْهَانَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَدْعُو هَكَذَا بِبَاطِنِ كَفَّيْهِ وَظَاهِرِهِمَا".

حضرت انس بن مالک رضی الله عنه فرمائی چه ما رسول الله ﷺ لره اولیدو، هغوی به د لاسونو د تلی په جانب سره او د لاسونو په شا طرف سره هم دعا کووله.

عن انس بن مالک قال رایت رسول الله (صلی الله علیه وسلم) یدعوا هکذا بباطن کفیه وظاهرهما: ظاهر کفین سره به حضور (ﷺ) د استسقاء په مانځه کښې دعا فرمائیله. کما تقدم فی محله، او بعضو محدثینو فرمائیلې دی، چه ظاهر کفین سره دعاء به نبی کریم (ﷺ) په نماز استسقاء کښې هم نه فرمائیله، بلکه صورت حال دادې، چه هغوی به استسقاء کښې مبالغه فی الرفع کوله، او لاسونه به ئې دومره پورته کړل، چه سر ته به اورسیدل، چه دهغې د وجې نه د لاسونو تلی به ښکته طرف ته شو، او دهغې شا به بره شوه،

[١٤٨٨]([3])حَدَّثَنَا مُؤَمَّلُ بْنُ الْفَضْلِ الْحَرَّانِيُّ، حَدَّثَنَا عِيسَى يَعْنِي ابْنَ يُونُسَ، حَدَّثَنَا جَعْفَرٌ يَعْنِي ابْنَ مَيْمُونٍ صَاحِبَ الْأَنْمَاطِ، حَدَّثَنِي أَبُو عُثْمَانَ، عَنْ سَلْمَانَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ رَبَّكُمْ تَبَارَكَ وَتَعَالَى حَيِيٌّ كَرِيمٌ يَسْتَحْيِي مِنْ عَبْدِهِ إِذَا رَفَعَ يَدَيْهِ إِلَيْهِ أَنْ يَرُدَّهُمَا صِفْرًا".

د حضرت سلمان فارسی رضی الله عنه نه روایت دې هغوی فرمائی: چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: "بې شکه ستاسو رب ډیر حیاء والا او سخی دې، بنده چه کله د هغه طرف ته لاس اوچتوی نو هغه ته حیا ورځی چه هغې لره خالی واپس کړی"

[1]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف:١١٢٠٩) (حسن صحيح)

[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف:١٣١٧) (صحيح)

[3]: سنن الترمذي/الدعوات ١٠٥ (٣٥٥٦)، سنن ابن ماجه/الدعاء ١٣ (٣٨٦٥)، (تحفة الأشراف:٤٤٩٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٤٣٨) (صحيح)

[۱۴۸۹] (۱) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا وُهَيْبٌ يَعْنِي ابْنَ خَالِدٍ، حَدَّثَنِي الْعَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَعْبَدِ بْنِ الْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "الْمَسْأَلَةُ: أَنْ تَرْفَعَ يَدَيْكَ حَذْوَ مَنْكِبَيْكَ أَوْ نَحْوَهُمَا، وَالِاسْتِغْفَارُ: أَنْ تُشِيرَ بِأُصْبُعٍ وَاحِدَةٍ، وَالِابْتِهَالُ: أَنْ تَمُدَّ يَدَيْكَ جَمِيعًا".

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه مروي دی چه سوال (د دعا ادب) دادي چه ته خپل لاس د خپلو اوګو پورې یا هغې ته قریب اوچت کړې . او استغفار دادې چه په خپلې یوې ګوتې سره اشاره اوکړې او ابتهال (عجز وانکساری) داده چه خپلو دواړو لاسونو لره اوږد کړې.

عن ابن عباس رضي الله عنهما قال المسئلة ان ترفع يديک حذو منکبيک و الاستغفار ان تشير باصبع واحدة والابتهال ان تمد يديک جميعا.

شرح حدیث :

په دې حدیث کښې د درې قسمه دعاګانو درې طریقې ذکر شوې دی، (۱) عام حالاتو کښې چه کومه دعا د خیر کولې شی، دهغې طریقه خو داده، چه رفع یدین به اوکړی حذاء منکبین، یعنی په هغې کښې به زیاته مبالغه نه کوی، (۲) هغه دعاء چه د معاصی او د خپلو ګناهونو نه استغفار دپاره وی، دهغې باره کښې دادی، چه د دعاء په وخت کښې به یوې ګوتې سره اشاره اوکړی، یا خو سبا للنفس الامارة والشیطین، لکه د کنځلو کولو په وخت کښې په غصه کښې چه سرې ګوته چلوی، یعنی د نفس اماره زورلو طرف ته اشاره، یا اشاره الی التوحید، یعنی خدائې وحده لا شریک طرف ته اشاره، چه اې الله زمونږ دعاګانې واوره (۳) څه ناګهانی آفت یا مصیبت راغلو، او دهغې د دفع کولو دپاره په زارۍ سره دعا کول، په دې کښې دې رفع یدین مبالغې سره اوکړی (مبالغه په لفظ مدسره پوهه کښې راځی، ددې نه مخکښې درفع لفظ وو) او اوبه وائی، یا الله یاالله.

[۱۴۹۰] (۲) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، حَدَّثَنِي عَبَّاسُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَعْبَدِ بْنِ عَبَّاسٍ بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ فِيهِ: وَالِابْتِهَالُ هَكَذَا: وَرَفَعَ يَدَيْهِ وَجَعَلَ ظُهُورَهُمَا مِمَّا يَلِي وَجْهَهُ.

عباس بن عبد الله بن معبد بن عباس دې مذکوره حدیث لره بیان کړو نو په هغې کښې ئې اووئیل چه ابتهال (عجز و انکساری او په دعا کښې مبالغه) داسې ده او (عملاً ئې) خپل لاسونه اوچت کړل او د هغې شا طرف ئې خپل مخ طرف ته کړو .

بهذا الحدیث قال فیه والابتهال هکذا: د ابن عباس رضي الله عنهما اول حدیث قولی وو، او دا فعلی دې، هغوی خپل لاسونه پورته کړل او خلقو ته ئې اوښودل، و جعل ظهورهما مما یلی وجهه: ظهور کفین ئې پورته او بطون کفین ئې ښکته طرف ته کړل، لکه چه مخکښې تیر شوې دی، چه د بعضو علماؤ رائې داده، چه په دعاء خیر کښې د لاسونو تلی مخ طرف ته کول پکار دی، او په دعاء دفع شر کښې ددې برعکس کول پکار دی، او دا هم ممکن ده، چه ددې نه مقصود دا نه وی، بلکه مبالغه فی الرفع مراد وی، چه دهغې صورت اوس مخکښې تیر شو.

---

(۱): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف:۵۳۵۶) (صحيح)
(۲): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف:۵۳۵۶) (صحيح)

[۱۴۹۱]([1])حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ فَارِسٍ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ حَمْزَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ الْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَعْبَدِ بْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ أَخِيهِ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: فَذَكَرَ نَحْوَهُ.

عباس بن عبد الله بن معبد بن عباس دَ خپل رور ابراهيم بن عبد الله نه، هغوی دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روايت کوی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : او دَ مذکوره روايت هم معنیٰ ئې بيان کړو .

[۱۴۹۲]([2])حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ حَفْصِ بْنِ هَاشِمِ بْنِ عُتْبَةَ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، عَنْ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ إِذَا دَعَا فَرَفَعَ يَدَيْهِ مَسَحَ وَجْهَهُ بِيَدَيْهِ".

سائب بن يزيد دَ خپل پلار نه روايت کوی چه نبی کريم ﷺ به کله دُعا کوله او خپل لاسونه به ئې پورته کول نو په خپل مخ باندې به ئې راښکل .

[۱۴۹۳]([3])حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ مَالِكِ بْنِ مِغْوَلٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَمِعَ رَجُلًا يَقُولُ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ أَنِّي أَشْهَدُ أَنَّكَ أَنْتَ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، الْأَحَدُ، الصَّمَدُ، الَّذِي لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ، فَقَالَ: "لَقَدْ سَأَلْتَ اللَّهَ بِالِاسْمِ الَّذِي إِذَا سُئِلَ بِهِ أَعْطَى، وَإِذَا دُعِيَ بِهِ أَجَابَ".

دَ عبد الله بن بريده رضی الله عنه نه روايت دې چه ددوی والد صاحب بيان کوی چه رسول الله ﷺ دَ يو کس نه واوريدل چه دُعا ئې کوله : {اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُکَ أَنِّي أَشْهَدُ أَنَّکَ أَنْتَ اللّٰهُ لَاإِلٰهَ إِلَّاأَنْتَ الْأَحَدُ الصَّمَدُ الَّذِي لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ} اې الله ! زهٔ ستانه سوال کووم په دې بناء باندې چه زهٔ دا ګواهی کووم چه هم تهٔ الله ئې . ستا نه سوا بل څوک معبود نشته دې . تهٔ يواځې ئې، بې نيازه ئې چه نهٔ دَ چانه پيدا دې او نهٔ ددهٔ نه څوک پيدا دی او هيڅ څوک ددهٔ هم لا (همسر) نشته دې . " نو نبی کريم ﷺ اوفرمائيل : " تا دَ الله نه په هغه نوم سره سوال کړې دې، چه هغې سره سوال اوکړې شی نو عنايت ئې فرمائی، او په هغې سره دُعا اوکړې شی نو قبلوی ئې .

[۱۴۹۴]([4])حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ خَالِدٍ الرَّقِّيُّ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ حُبَابٍ، حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ مِغْوَلٍ بِهَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ فِيهِ: "لَقَدْ سَأَلْتَ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ بِاسْمِهِ الْأَعْظَمِ".

مالک بن مغول هم دا حديث بيان کړې دې، په دې کښې ئې وئيلې دی : " بې شکه دهٔ دَ الله عز وجل نه په لوی نوم (اسم اعظم) سره سوال کړې دې "

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف:٥٣٥٦، ١٨٨٨٠) (صحيح)
[2]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف:١١٨٢٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٢٢١) (ضعيف)
[3]: سنن الترمذي/الدعوات ٦٤ (٣٤٧٥)، سنن ابن ماجه/الدعاء ٩ (٣٨٥٧)، (تحفة الأشراف:١٩٩٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥/٣٤٩، ٣٥٠، ٣٦٠) (صحيح)
[4]: انظر ما قبله، (تحفة الأشراف:١٩٩٨) (صحيح)

[١٤٩٥]()حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عُبَيْدِ اللهِ الْحَلَبِيُّ، حَدَّثَنَا خَلَفُ بْنُ خَلِيفَةَ، عَنْ حَفْصٍ يَعْنِي ابْنَ أَخِي أَنَسٍ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّهُ كَانَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسًا وَرَجُلٌ يُصَلِّي، ثُمَّ دَعَا: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِأَنَّ لَكَ الْحَمْدَ، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ الْمَنَّانُ بَدِيعُ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ، يَاذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ، يَاحَيُّ يَاقَيُّومُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَقَدْ دَعَا اللهَ بِاسْمِهِ الْعَظِيمِ الَّذِي إِذَا دُعِيَ بِهِ أَجَابَ، وَإِذَا سُئِلَ بِهِ أَعْطَى".

د حضرت انس ﷛ نه روایت دي چه هغه د رسول الله ﷺ سره ناست وو او یو کس مونځ کولو . هغه دُعا کوله : {اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِأَنَّ لَكَ الْحَمْدُ، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ الْمَنَّانُ بَدِيعُ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ، يَاذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ يَاحَيُّ يَاقَيُّوم} اې الله ! زهٔ ستانه سوال کووم ځکه چه تمام تعریفونه هم تالره دی، ستا نه سوا هيڅ معبود نشته دې، تهٔ بې انتهاء احسان کوونکې ئې، دَ زمکې او دَ آسمان بې دَ نمونې پیدا کوونکې ئې . اې دَ جلال او اکرام والا ذاته ! اې حی ذاته ! اې نګرانی کوونکی ذاته! ' نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل : په تحقیق سره دهٔ دَ الله نه دَ هغه په اسم اعظم سره سوال کړې دې، کله چه په دې سره دعا اوکړې شی نو قبلوی ئې، او کله چه په دې سره اوغوښتلې شی نو ورکړه کوی .

عن انس انه كان مع رسول الله (صلى الله عليه وسلم) جالسا.......... فقال النبى (صلى الله عليه وسلم) لقد دعا الله باسمه العظيم الخ، او ددې نه ورپسې حديث كښې راروان دی، اسم الله الاعظم فى هاتين الآيتين والهكم اله واحد لا اله الا هو الرحمن الرحيم و فاتحة و سورة آل عمران الم الله لا اله الا هو الحى القيوم.

د اسم اعظم بحث:

د ډیرو روایاتو نه معلومیږی، چه په اسماء الهیه کښې یو اسم اسم اعظم هم دې، چه دهغې خاصه داده، چه هغې سره کومه دعاء هم اوغوښتلې شی، هغه قبلیږی، لیکن ددې تعیین په هيڅ یو حدیث کښې نه دې راغلې، بلکه داسې راغلې دی، چه په دې آیت کښې دې، او په فلانې آیت کښې دې، ددې وجې نه ددې په تعیین کښې د علماؤ هم اختلاف پیدا شو، څو اقوال دی، بعضې دهغې نه دادی: (۱) الحی القیوم (۲) لا اله الا هو الحی القیوم (۳) رب (٤) لا اله الا هو رب العرش العظيم (۵) الله، د حضرت جنید بغدادی ﷫ نه منقول دی، چه اسم اعظم دلفظ الله دې، لیکن ددې دپاره یو شرط دې، هغه دا چه ان تقول الله و ليس فى قلبك سواه، یعنی کوم وخت چه لفظ د الله وائې، او الله تعالی ته آواز کوې، نو هغه وخت په زړهٔ کښې سوا د الله تعالی نه بل څه څيز نه وی.

او د بعضو علماؤ رائې داده، چه په حدیث کښې کوم د اسم اعظم لفظ راغلې دې، نو دلته کښې د افعل صیغه دتفضیل دپاره نه ده، بلکه د عظیم په معنی کښې ده، او ټول اسماء الهیه عظیم دی، بعضو ته په بعضو باندې هيڅ فوقیت او فضیلت نشته، کنی لازم به راشی، چه د اعظم نه علاوه کوم اسماء دی په هغې کښې څه نقص دې، (عیاذا بالله تعالی) لکه چه د اسم تفضیل مقتضی ده، بهر حال دا یو اختلافی مسئله ده، او دا اختلاف دهغې

---

[1]: سنن النسائي/السهو ۵۸ (۱۲۹۹)، (تحفة الأشراف:۵۵۱)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الدعوات ۱۰۰ (۳۵٤٤)، سنن ابن ماجه/الدعاء ۹ (۳۸۵۸)، مسند احمد (۱۲۰/۳، ۱۵۸، ۲٤۵) (صحيح)

قسم نه دی، کوم چه په تفضیل بعض القرآن علی بعض کښې تیر شوې دې، لیکن صحیح د جمهورو رائې ده، لکه چه د ظاهر احادیثو نه معلومیږی. صاحب منهل لیکلې دی، چه په اسماء الهیه کښې بعضو ته په بعضو باندې کوم فضیلت دې، دهغې علت مونږ ته معلوم نه دې، الله تعالی په هغې باندې ښه پوهیږی.

[۱۴۹۶]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي زِيَادٍ، عَنْ شَهْرِ بْنِ حَوْشَبٍ، عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "اسْمُ اللَّهِ الْأَعْظَمُ فِي هَاتَيْنِ الْآيَتَيْنِ وَإِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَنُ الرَّحِيمُ سورة البقرة آية ۱۶۳ وَفَاتِحَةِ سُورَةِ آلِ عِمْرَانَ الم ۱ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ ۲ سورة آل عمران آية ۱-۲".

شهر بن حوشب د حضرت اسماء بنت یزید رضی الله عنها نه روایت کوی چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: دَ الله تعالیٰ اسم اعظم په دې دوو آیتونو کښې دې: {وَإِلَٰهُكُمْ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ لَّا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَٰنُ الرَّحِيمُ} (البقره: ۱۶۳۹۳) او دَ سورهٔ آل عمران په دې ابتدائی آیتونو کښې {الٓمٓ اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ}

[۱۴۹۷]()حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: سُرِقَتْ مِلْحَفَةٌ لَهَا، فَجَعَلَتْ تَدْعُو عَلَى مَنْ سَرَقَهَا، فَجَعَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "لَا تُسَبِّخِي عَنْهُ". قَالَ أَبُو دَاوُد: لَا تُسَبِّخِي: أَيْ لَا تُخَفِّفِي عَنْهُ.

ام المؤمنین حضرت عائشه رضی الله عنها بیان کوی چه دَ هغې یو لحاف غلا کړې شو نو هغې غل ته بد دُعا اوکړه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: دَ هغه ګناه لره مهٔ سپکه وه. امام ابوداود رحمه الله فرمائی چه دَ "لا تسبخی" معنی "لا تخففی" ده، یعنی مهٔ سپکه وه مهٔ کمه وه.

تشریح: قوله: عن عطاء عن عائشة رضی الله عنها قالت سرقت ملحفة لها فجعلت تدعو علی من سرقها:

یو ځل د حضرت عائشې رضی الله عنها څادر پټ شو، هغې سارق ته هیرې کولې، په دې باندې نبی کریم (ﷺ) اوفرمائیل لا تسبخی عنه.

شرح حدیث:

د غل نه عذاب داخرت مهٔ سپکوه، یعنی ستا هغه ته بدې ردې وئیل د انتقام د قبیلې نه دې، او هرکله چه تهٔ دهغه نه دلته کښې انتقام واخلې، نو ظاهره خبره ده، چه د آخرت په عذاب کښې به تخفیف وی (لهذا که تهٔ هغه ته زیاته سزا ورکول غواړې، نو دهغې شکل دادې چه خاموش شه)

(**اشکال**): په دې باندې دا اشکال کیدې شی، چه دا خبره په ظاهر کښې د نبی کریم (ﷺ) د شفقت علی الامة خلاف ده، چه هغوی داسې مشوره ورکوی، چه هغې سره یو امتی ته په آخرت کښې زیات عذاب رسیږی،

(): سنن الترمذي/الدعوات ۶۵ (۳۴۷۸)، سنن ابن ماجه/الدعاء ۹ (۳۸۵۵)، (تحفة الأشراف: ۱۵۷۶۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۶۱/۶) (حسن لغيره)

(): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۱۷۳۷۷)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴۵/۶، ۱۳۶)، ويأتي برقم (۴۹۰۹) (حسن) (ملاحظه هو: ضعيف ابي داود ۹۰/۲، والصحيحة: ۳۴۱۳)

(**جواب**):ددې جواب دا کیدې شی، چه دلته کښې نبی کریم (ﷺ) د حکمت عملی او حسن تدبیر نه کار واخستلو، سمدستی خو نبی کریم (ﷺ) حضرت عائشې ﷞ ته دا خبره اوکړه، دې دپاره چه خبره زر دهغې پوهې ته راشی، او هغه دې لره قبوله کړی، او بیا چه کله غصه ئې ختمه شی، نو مشوره ورته ورکړی، چه معاف ئې کړه، فمن عفا و اصلح فاجره علي الله، وجه ددې داده، چه کله انسان په جوش کښې وی، نو هغه وخت کښې دهغه د منشاء نه خلاف نصیحت کار نه ورکوی، ددې وجې نه نبی کریم (ﷺ) دا طریقه اختیار کړه.

افاده شیخنا مولانا محمد زکریا قدس الله سره، او دا هم وئیلې شی، (کما ذکره فی البذل) چه د نبی کریم (ﷺ) مقصد په لاتسبخی سره دې طرف ته توجه راوستل وو، چه دا تهٔ کومې هیرې کوې، دا د انتقام د قبیلې نه دی، که انتقام دې د خپل حق نه کم واخستلو، نو بیا خو به د سارق نه په عذاب کښې صرف تخفیف کیږی، او که انتقام دې پوره واخستلو، نو معامله به برابر سرابر شی، او که چرته انتقام زیات شو، نو خپله به د آخرت په گرفت او مؤاخذه کښې راشې.

[۱۴۹۸]( )حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: اسْتَأْذَنْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْعُمْرَةِ، فَأَذِنَ لِي، وَقَالَ: "لَا تَنْسَنَا يَا أُخَيَّ مِنْ دُعَائِكَ"، فَقَالَ كَلِمَةً مَا يَسُرُّنِي أَنَّ لِي بِهَا الدُّنْيَا، قَالَ شُعْبَةُ: ثُمَّ لَقِيتُ عَاصِمًا بَعْدُ بِالْمَدِينَةِ فَحَدَّثَنِيهِ، وَقَالَ: "أَشْرِكْنَا يَا أُخَيَّ فِي دُعَائِكَ".

د حضرت عمر ﷛ بیان دې چه ما د رسول الله ﷺ نه د عمرې کولو رخصت اوغوښتو، هغوی ماته اجازت راکړو اووې فرمائیل: زما خوږه روره! مونږ لره په خپله دُعا کښې مهٔ هیره وه." هغوی ﷺ داسې لفظ اوفرمائیلو کهٔ چرې ماته دَ هغې په بدله کښې دُنیا هم ملاوهٔ شی نو ماته خوښه نهٔ ده. شعبه وائی چه زهٔ بیا ورستو دَ حضرت عاصم سره په مدینه کښې ملاوهٔ شوم نو هغوی ماته دا حدیث بیان کړو. دَ هغوی لفظ وو: زما عزیز روره! مونږ لره په خپله دعا کښې شریکه وه.

تشریح: **قوله**: عن عمر ﷛ قال استاذنت النبی (صلی الله علیه وسلم) فی العمرة فاذن لی و قال لا تنسنا یا اخي من دعالک:

ابن حجر ﷫ فرمائي چه دا هغه عمره ده، چه ددې هغوی په زمانه د جاهلیت کښې نذر منلې وو([۲])(منهل) احقر وائی، چه ددې عمرې دپاره دا ضروری نه ده، چه دې لره هغوی قصدا او مستقل د مدینې منورې نه کړې وی، دې دپاره چه دا سوال پیدا نه شی، چه د تاریخ او سیرت په کتابونو کښې ددې عمرې ذکر چرته دې؟ بلکه کیدې شی، چه د سفر دوران کښې چرته ایسار شوې وی، او د هلته نه مکې مکرمې ته تلې وی، او دا عمره ئې کړې وی، لکه چه حضور (ﷺ) د جعرانې نه کړې وه، والله تعالی اعلم.

[۱]): سنن الترمذي/الدعوات ۱۱۰ (۳۵۶۲)، سنن ابن ماجه/المناسك ۵ (۲۸۹۴)، (تحفة الأشراف:۱۰۵۲۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲۹/۱) (ضعیف)

[۲]) وفیه ان نذر الجاهلیة متعلق بالاعتکاف کما هو مصرح في الروایات لا بالعمرة. والله أعلم.

فقال كلمة ما يسرني ان لي بها الدنيا: نبي كريم (ﷺ) ماته داسې خبره اوکړه، چه هغه زما په نزد دومره قيمتي ده، چه که دهغې په بدله کښې ماته ټوله دنيا هم ملاؤ شي، نو دا ماته خوښه نه ده، هغه خبره يا خو هم دا جمله ده، کومه چه دلته په حديث کښې ذکر ده، يا خاص طور سره لفظ اخي، چه په دې کښې د ياء دمتکلم طرف ته اضافت دې، او يا ممکن ده (لکه چه صاحب منهل ليکلې دی) چه ددې نه علاوه څه بله خبره هم نبي کريم (ﷺ) هغوی ته ارشاد فرمائيلې وی، چه هغې لره عمر رضي الله عنه مصلحة نه وی ذکر کړی د تفاخر وغيره آفات نفس نه دبچ کيدلو دپاره، والله اعلم.

[۱۴۹۹]([۱])حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، حَدَّثَنَا الْأَعْمَشُ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، قَالَ: مَرَّ عَلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا أَدْعُو بِأُصْبُعَيَّ، فَقَالَ: "أَحِّدْ أَحِّدْ" وَأَشَارَ بِالسَّبَّابَةِ.

حضرت سعد بن ابی وقاص رضي الله عنه بيان کوی چه نبي کريم ﷺ په ما باندې تير شو او ما خپلې دوا ګوتې اوچتې کړې وې او دعا مې کووله نو حضور ﷺ اوفرمائيل: " په يو سره، په يو سره ." او په شهادت والا ګوتې سره ئې اشاره اوفرمائيله ."

تشريح: قوله: عن سعد بن ابی وقاص قال مر علی النبی (صلی الله عليه وسلم) وانا ادعو باصبعی: ددې نه په ظاهر کښې اشاره بالمسبحه مراد ده په تشهد کښې، په احاديثو کښې تشهد هم دعاء سره تعبير کړې شوې دې، او د اصبعين نه مراد د دواړو لاسونو مسبحه ګوتې دی، لا اصبعين من يد واحدة (کذا فی تقرير الکنکوهی) احد احد په اصل کښې وحد وو، واؤ لره همزې سره بدل کړې شو، دې صحابی چونکه په تشهد کښې دواړو ګوتو سره اشاره کوله، ددې وجې نه نبي کريم (ﷺ) اوفرمائيل، چه يوې ګوتې سره اشاره کوه.

فان الذی تدعوه واحد، ځکه چه وحدانيت طرف ته اشاره ده، دهغې سره مناسب يو ګوته ده.

تنبيه : دا باب او په دې باندې کلام الحمد لله ختم شو، يوه خبره ذهن ته راځی، خيال راغلو، چه هغې لره ليکل پکار دی، ممکنه ده، چه لوستونکو ته فائده اورسوی، هغه داچه کومه دعا په بې پرواهۍ او غفلت سره اوغوختلې شی، هغه د الله تعالی په نزد نه قبليږی، په حديث شريف کښې دی، ان الله تعالی لا يستجيب دعاء من قلب غافل لاه رواه الترمذی من حديث ابی هريرة مرفوعا، لهذا ددې خيال ساتل ډير ضروری دی، په خلاف د مونځ، چه هغه غفلت سره هم قبليږی، يا قبليدې شی، چه دهغې وجه په ظاهر کښې داده، چه د مونځ هيئت کذائيه عبادت دې، لاسونه تړل او اودريدل، بار بار ښکته کيدل، اشرف الاعضاء يعنی تندې په زمکه باندې کيخودل وغيره وغيره، دويمه خبره داده، چه په دعاء کښې د کوم حاجت سوال کولې شی، هغه خو پيش کيږی، ليکن دې سره سره دا خيال ساتل هم پکار دی، چه دعا لره د عبادت په نيت غوختل پکار دی، د امتثال امر هم نيت وی، د احتياج او افتقار الی الله صفت موجود وی، کومه دعا چه په داسې طريقې سره وی، په هغې باندې مداومت ساتل پکار دی، او د حصول غرض نه پس هم منقطع کول پکار نه دی، لکه

---

[۱]: سنن النسائي/السهو ۳۷ (۱۲۷۴)، (تحفة الأشراف: ۳۸۵۰)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الدعوات (۳۵۵۲) (صحيح)

چه د بندګۍ تقاضه ده) په اصل کښې د صوفياء کرامو منشاء هم داده، هغوی هم دا فرمائي چه دعا که غواړې، نو په دې کيفيت سره، صرف د نفس د خواهشاتو حصول ددې نه مقصود نه وی، او هم دا هغه دعاء ده، چه هغې ته مخ العبادة فرمائيلې شوې ده، والله الموفق لما يحب و يرضی.

بَابُ التَّسْبِيحِ بِالْحَصَى

باب ٢٤- (دَشمير په غرض سره) په کنکروباندې تسبيح ويل

او امام نسائی ترجمه قائمه کړې ده، باب عقد التسبيح، او په دې کښې هغوی د عبدالله بن عمرو بن العاص حديث ذکر کړې دې، رايت رسول الله (صلی الله عليه وسلم) يعقد التسبيح او په يو بل طريق کښې داسې دی، يعقدهن بيده، او دلته په دې باب کښې راروان دی، يعقد التسبيح بيمينه او د يسيره بنت ياسر په حديث مرفوع کښې راروان دی، وان يعقدن بالانامل فانهن مسئولات مستنطقات، د عقد ترجمه غوټه کول دی، ليکن دلته کښې مراد ددې نه عد يعني شمارل دی، ځکه چه بعضو وختونو کښې د شمارلو په وخت کښې تار وغيره کښې غوټه اچولې شی، ددې رواياتو نه معلوميږی، چه په انامل باندې شمار کول اولی دی، په نسبت سره تسبيح او وړو کاڼړو باندې شمارلو نه، دې دپاره چه د قيامت په ورځ دا ګواهی ورکړی، او دې دپاره چه د ذکر برکت هغوی ته حاصل شی، د نبی کريم (ﷺ) د قول او فعل نه خو عد بالانامل ثابت دې، او په کاڼړو او هډوکو باندې شمار کول د نبی کريم (ﷺ) د تقرير نه ثابت دی، کما في حديث الباب، و بين يديها نوی او حصی، دغه شان مخکښې کتاب کښې د کتاب النکاح په آخر کښې د ابوهريره رضي الله عنه باره کښې راوی وائی، وهو علی سرير له معه کيس فيه حصی او نوی وهو يسبح بها.

او دې احاديثو نه د اذکارو او تسبيحاتو په کاڼړو وغيره باندې شمارلو جواز ثابتيږی، او هم په دې باندې علماؤ سبحة مروجه (تسبيح) قياس کړې دې، ځکه چه په دې دواړو کښې فرق منظوم او غير منظوم دې، په منظوم کښې نور هم زيات سهولت دې، بلکه بعضو رواياتو کښې ددې تسبيح ترغيب راغلې دې، لکه په مسند الفردوس (للديلمی) کښې د سيدنا علی رضي الله عنه نه مرفوعا مروی دی: نعم المذکر السبحة، او علامه سيوطی رحمه الله خو دې باره کښې يو مستقل جزء تاليف کړې دې، المنحة فی السبحة، او په هغې کښې علامه سيوطی رحمه الله ددې په ثبوت کښې ډير آثار روايت ذکر کړې دی، په بذل کښې ليکلې دی، چه سبحه ته صوفياء سوط الشيطان وائی، او د حضرت جنيد بغدادی رحمه الله په لاس کښې آخره پوره تسبيح وو، چه په هغې باندې ئې ذکر کولو، او فرمائيل ئې: چه د کوم څيز په وجه مونږ دلته رارسيدلې يو، هغې لره ولې پريږدو، البته صاحب منهل د صاحب مدخل نه تسبيح باره کښې يو بل هدايت او تنبيه نقل کړې ده، چه په خپل ځائې صحيح ده، هغه دا چه سبحه لره په قاعده کښې استعمالول پکار دی، هغې لره د قلادې پشان زوړندول، يا د بنګړی پشان لاس کښې اچول، او دخبرو اترو په وخت کښې دې لره تاوهل، ګويا تسبيح هم

نولی او خبرې هم کوی، یا د معتاد طریقې نه علاوه لوئې لوئې او اوږدې اوږدې تسبیح جوړول وغیره دا ټول امور او طریقې غلطې او بدعت دې، او د شهرت غوختلو ځیزونه دی، الله تعالی دې ددې نه حفاظت را کړی.

[۱۵۰۰] (۱) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ صَالِحٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ وَهْبٍ، أَخْبَرَنِي عَمْرٌو، أَنَّ سَعِيدَ بْنَ أَبِي هِلَالٍ حَدَّثَهُ، عَنْ خُزَيْمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ بِنْتِ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، عَنْ أَبِيهَا، أَنَّهُ دَخَلَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى امْرَأَةٍ وَبَيْنَ يَدَيْهَا نَوًى أَوْ حَصًى تُسَبِّحُ بِهِ، فَقَالَ: "أُخْبِرُكِ بِمَا هُوَ أَيْسَرُ عَلَيْكِ مِنْ هَذَا، أَوْ أَفْضَلُ، فَقَالَ: سُبْحَانَ اللَّهِ عَدَدَ مَا خَلَقَ فِي السَّمَاءِ، وَسُبْحَانَ اللَّهِ عَدَدَ مَا خَلَقَ فِي الْأَرْضِ، وَسُبْحَانَ اللَّهِ عَدَدَ مَا خَلَقَ بَيْنَ ذَلِكَ، وَسُبْحَانَ اللَّهِ عَدَدَ مَا هُوَ خَالِقٌ، وَاللَّهُ أَكْبَرُ مِثْلُ ذَلِكَ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ مِثْلُ ذَلِكَ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ مِثْلُ ذَلِكَ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ مِثْلُ ذَلِكَ".

عائشه بنت سعد بن ابی وقاص د خپل پلار (حضرت سعد ﷺ) نه روایت کوی چه هغه د رسول الله ﷺ سره یوې ښځې ته راغې او د هغې ښځې مخې ته د کجورو هډوکی یا کنکرې وو او هغه ښځې به په هغې باندې تسبیح وئیلو . حضور ﷺ اوفرمائیلو :" آیا تاته زۀ هغه ځیز اونۀ ښایم چه هغه ستا د پاره ددې نه آسان یا افضل وی؟ نو حضور ﷺ اوفرمائیل : [سبحان الله عدد ما خلق السماء ...... الخ]الله لره تسبیح ده د هغه مخلوق په تعداد کښې کوم چه هغه په اسمان کښې پیدا کړې دې او الله لره تسبیح ده د هغه مخلوق په تعداد کښې کوم چه هغه په زمکه کښې پیدا کړې دې . الله لره تسبیح ده د هغه مخلوق په تعداد کښې کوم چه هغه ددې دواړو په مامین کښې پیدا کړې دې، الله لره تسبیح ده د هغه مخلوق په تعداد کښې کوم چه به هغه پیدا کوی. او الله اکبر ددې په مثل او الحمد لله ددې په مثل او لا اله الا الله ددې په مثل او ولا حول ولا قوة الا بالله ددې په مثل ."

قوله: انه دخل مع رسول الله (صلى الله عليه وسلم) على امراة و بين يديها نوى او حصى تسبح به، مسکن ده، چه ددې نه مراد حضرت جویریه ﷺ وی، چه دهغې قصه مخکښې هم راروانه ده. یا بل څوک وی، که هغه د نبی کریم (ﷺ) محرم وه، نو بیا خو هیڅ اشکال نشته، او که اجنبیه وه، نو کیدې شی، چه دا واقعه د قبل الحجاب وی، یا داسې اوایئ، چه دخول فی البیت، رؤیت لره مستلزم نه دې، (بذل)

[۱۵۰۱] (۲) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ دَاوُدَ، عَنْ هَانِئِ بْنِ عُثْمَانَ، عَنْ حُمَيْضَةَ بِنْتِ يَاسِرٍ، عَنْ يُسَيْرَةَ، أَخْبَرَتْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَمَرَهُنَّ أَنْ يُرَاعِينَ بِالتَّكْبِيرِ وَالتَّقْدِيسِ وَالتَّهْلِيلِ، وَأَنْ يَعْقِدْنَ بِالْأَنَامِلِ فَإِنَّهُنَّ مَسْئُولَاتٌ مُسْتَنْطَقَاتٌ".

حضرت یسیره ﷺ خبر ورکړې دې چه نبی کریم ﷺ دوی (صحابیاتو) ته حکم ورکړې وو چه دوی د الله تعالی د تکبیر (الله اکبر) تقدیس (سبحان الملک القدوس) او د تهلیل (لا اله الا الله) پابندی اختیار کړی او دا چه په خپلو ګوتو باندې ددې شمیر کوی ځکه چه ددې نه به سوال کولې شی او دا بل بللې شی.

(۱): سنن الترمذي/الدعوات ۱۱٤ (۳۵٦۸)، (تحفة الأشراف: ۳۹۵٤) (ضعيف)
(۲): سنن الترمذي/الدعوات ۱۲۱ (۳۵۸۳)، (تحفة الأشراف: ۱۸۳۰۱)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/۳۷۰، ۳۷۱) (حسن)

[۱۵۰۲] (¹) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ بْنِ مَيْسَرَةَ، وَمُحَمَّدُ بْنُ قُدَامَةَ فِي آخَرِينَ، قَالُوا: حَدَّثَنَا عَثَّامٌ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَعْقِدُ التَّسْبِيحَ"، قَالَ ابْنُ قُدَامَةَ: "بِيَمِينِهِ".

حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنه بیان کوی چه ما رسول الله ﷺ لره اولیدو چه هغوی په خپل لاس (ګوتو) سره د تسبیح شمیرکولو. (استاذ) ابن قدامه وضاحت کړي دي چه په خپل ښی لاس سره.

[۱۵۰۳] (²) حَدَّثَنَا دَاوُدُ بْنُ أُمَيَّةَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ مَوْلَى آلِ طَلْحَةَ، عَنْ كُرَيْبٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ عِنْدِ جُوَيْرِيَةَ وَكَانَ اسْمُهَا بَرَّةَ، فَحَوَّلَ اسْمَهَا، فَخَرَجَ وَهِيَ فِي مُصَلَّاهَا، وَرَجَعَ وَهِيَ فِي مُصَلَّاهَا، فَقَالَ: "لَمْ تَزَالِي فِي مُصَلَّاكِ هَذَا؟" قَالَتْ: نَعَمْ، قَالَ: "قَدْ قُلْتُ بَعْدَكِ أَرْبَعَ كَلِمَاتٍ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ لَوْ وُزِنَتْ بِمَا قُلْتِ لَوَزَنَتْهُنَّ: سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ عَدَدَ خَلْقِهِ وَرِضَا نَفْسِهِ وَزِنَةَ عَرْشِهِ وَمِدَادَ كَلِمَاتِهِ".

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما بیان دي چه رسول الله ﷺ د حضرت جویریې رضي الله عنها له خوا نه لاړو ... ددي نه وړاندي ددي نوم بره (نیک او صالحه) وو. او رسول الله ﷺ ددي نوم بدل کړي وو ... حضور ﷺ د هغي د خوا اووتلو او هغه په خپله مصلی باندي وه، حضور ﷺ بیا واپس تشریف راوړو نو (وي کتل چه) هغه لا په خپله مصلی باندي ده. حضور ﷺ پوښتنه اوکړه آیا ته د هغه وخت نه په مصلی باندي ئي؟ هغي اوفرمائیل: او. حضور ﷺ اوفرمائیل: ما ستا (د خوا نه د تللو نه) بعد څلور کلمات دري ځله وئیلي دی، که چرې هغه ستا د تسبیحاتو او ذکر سره وزن کړې شی نو دا (زما کلمات به) دروند شی. یعنی {سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ عَدَدَ خَلْقِهِ وَرِضَا نَفْسِهِ وَزِنَةَ عَرْشِهِ وَمِدَادَ كَلِمَاتِهِ} پاکی ده الله لره د هغه تعریفونو سره، دومره قدري څومره چه د هغه مخلوق دي او دومره قدري چه په هغي سره راضي شی، او د هغه د عرش د وزن برابر، او دومره قدري څومره چه د هغه د کلماتو سیاهی ده.''

[۱۵۰۴] (³) حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، حَدَّثَنَا الْأَوْزَاعِيُّ، حَدَّثَنِي حَسَّانُ بْنُ عَطِيَّةَ، قَالَ: حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ أَبِي عَائِشَةَ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ أَبُو ذَرٍّ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، ذَهَبَ أَصْحَابُ الدُّثُورِ بِالْأُجُورِ يُصَلُّونَ كَمَا نُصَلِّي وَيَصُومُونَ كَمَا نَصُومُ، وَلَهُمْ فُضُولُ أَمْوَالٍ يَتَصَدَّقُونَ بِهَا وَلَيْسَ لَنَا مَالٌ نَتَصَدَّقُ بِهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا أَبَا ذَرٍّ، أَلَا أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ تُدْرِكُ بِهِنَّ مَنْ سَبَقَكَ، وَلَا يَلْحَقُكَ مَنْ خَلْفَكَ إِلَّا مَنْ أَخَذَ بِمِثْلِ عَمَلِكَ؟" قَالَ: بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: "تُكَبِّرُ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، وَتَحْمَدُهُ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، وَتُسَبِّحُهُ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ، وَتَخْتِمُهَا بِلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، غُفِرَتْ لَهُ ذُنُوبُهُ وَلَوْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ".

---

¹): سنن الترمذي/الدعوات ٢٥ (٣٤١١)، ٧٢ (٣٤٨٦)، سنن النسائي/السهو ٩٧ (١٣٥٦)، (تحفة الأشراف: ٨٦٣٧) (صحيح)

²): صحيح مسلم/الذكر والدعاء ١٩ (٢١٤٠ و ٢٧٢٦)، (تحفة الأشراف: ٦٣٥٨)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الافتتاح ٩٤ (١٣٥٣)، سنن الترمذي/الدعاء ١٠٤ (٣٥٥٥)، سنن ابن ماجه/الأدب ٥٦ (٣٨٠٨)، مسند احمد (٢٥٨/١، ٣١٦، ٣٢٦، ٣٥٣) (صحيح)

³): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ١٤٥٨٨)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/المساجد ٢٦ (٥٩٥)، سنن ابن ماجه/اقامة الصلاة ٣٢ (٩٢٦)، موطا امام مالك/القرآن ٧ (٢٢)، سنن الدارمي/الصلاة ٩٠ (١٣٩٣) (صحيح)

حضرت ابوهریره ﷺ بیان کوی چه حضرت ابوذر ﷺ اوفرمائیل : اې د الله رسوله ! دې مال او دولت والا خو اجر او ثواب یوړو (او مونږ خالي لاس پاتې شو) هغوی مونځ کوی څنګه چه مونږ کوو روژې نیسی څنګه چه مونږ نیسو او د هغوی سره زائد اموال دی کوم چه هغوی صدقه کوی لیکن زمونږ سره نشته دې چه صدقه ئې کړو . رسول الله ﷺ اوفرمائیل : ابوذر ! آیا زۀ تاته داسې کلمات نۀ ښایم چه په هغې سره تۀ د خپل ځان نه مخکښې تلونکې بیا مومې او ورستو پاتیکیدونکی تالره بیا نۀ مومی .؟ ابو ذر ﷺ او فرمائیل او اې د الله رسوله ! حضور اوفرمائیل : د هر مونځ نه پس دری دیریش کرته الله اکبر دری دیرش کرته الحمد لله او دری دیرش کرته سبحان الله او ددې اختتام دې په لااله الا الله وحده لا شريك له له الملك وله الحمد وهو على كل شيئ قدير، باندې وی . په دې سره به د هغه ګناه اوبخښلې شی، اګر چه د سمندر د زګ برابر وی .''

تشریح: قوله: قال ابوذر یا رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ذهب اصحاب الدثور بالاجور:
دثور د دثر جمع ده، بمعنی دمال کثیر، او اجور د اجر جمع ده،

شرح حدیث:

د حدیث مضمون خو واضح دې، د صحابه کرامو مخښې ته چونکه هر وخت دار آخرت وو، دهغې په فکر کښې به اوسیدل، او په خپلو کښې به ئې په امور آخرت کښې تنافس او سیالی کوله، یعنی په اعمال صالحه کښې ئې د یو بل نه مخکښې کیدل غوختل، وفی ذلك فليتنافس المتنافسون، نبی کریم (ﷺ) اوفرمائیل : زۀ تاته داسې کلمات ښایم تدرک بهن من سبقک، چه دهغې په ذریعې سره به تۀ دهغې خلقو مرتبې ته اورسې، کوم چه ستا نه مخکښې دی یعنی په مرتبه کښې، ولا يلحقك من خلفك، او کوم خلق چه په مرتبه کښې ستا نه روستو دی، هغوی به تاته نشی رسیدلې، الا من اخذ بمثل عملك، خو داچه که هغوی هم ستا پشان عمل کول شروع کړی، یعنی دا کلمات لوستل شروع کړی، مخکښې هغه کلمات حدیث مذکور دی، دهر فرض مانځه نه پس دغه کلماتو لره په اهتمام سره وئیل پکار دی، سرسری طور سره نه، بلکه معنی طرف ته توجه ساتلو سره، او ددې خبرې اختیار دې، چه که د سنتو نه پس ئې لولی او که د فرضو او سنتو په مینځ کښې، نبی کریم (ﷺ) د دغې کلماتو ترغیب په ډیر احادیثو کښې عمومی طور سره هم فرمائیلې دی، او خصوصی طور سره خپلې نیازبینې لور سیدة نساء الجنة فاطمة الزهراء ﷺ ته هم، لکه چه د صحاح په روایاتو کښې مشهور دی، مشهور نوم د دغې کلماتو تسبیحات فاطمه دې، او بعضو احادیثو کښې دهغې نه په معقبات سره تعبیر کړې شوې دې، معقبات لا يخيب قائلهن، دا تسمیه یا خو ددې وجې نه ده، چه دا کلمات د مونځونو په عقب کښې یعنی د مونځونو نه پس وئیلی شی، او یا ددې وجې نه، چه دا کلمات په خپلو کښې یو بل پسې راځی یعنی لوستلو کښې، زۀ تاسو ټولو ته نصیحت کوم، چه کم ازکم د هر فرض مانځه نه پس دې لره ضرور لولئ، او دغه شان د شپې په کټ کښې سملاستلو نه پس او د اودۀ کیدو نه مخکښې، په دغه وخت کښې که څوک سترې والې لرې کولودپاره اولولی، نودهغې فائده

هم ورکوی، د ډیروخلقو تجربه ده، په حدیث کښې راځی، چه ددې ثواب ډیر زیات دې، او وخت پکښې ډیر کم خرچ کیږی، والله الموفق.

باب ما یقول الرجل اذا سلم

باب: ۲۵- سړې به د سلام نه پس کومه دُعا وائی

بعینه هم دا ترجمه د ترمذی شریف ده، او امام بخاری رحمه الله کتاب الصلوة کښې ترجمه قائمه کړې ده، باب الدعاء قبل السلام، او کتاب الدعوات کښې باب الدعاء بعد الصلوة، صاحب مشکوة باب قائم کړې دې، باب الذکر بعد الصلوة،

د فرض مونځونو نه پس دعاء سره متعلق ابحاث اربعه مفیده علمیه:

دلته کښې څو بحثونه دی، د فرض مانځه نه پس دعاء مشروع ده او که نه. د فرض مانځه نه پس ذکر (اوراد او تسبیحات) مشروع دی او که نه، که دا څیزونه مشروع دی، نو بیا سمدستی بعد السلام او که د رواتب نه پس، د فرض مانځه نه پس چه کومې دعا ګانې منقول دی هغه کومې دی، د فرض مانځه نه پس رفع یدین سره د امام او مقتدیانو په جمع دعا کول ثابت دی او که نه؟ دا ټول څلور بحثونه دی، چه ددې مقام شروح حدیث کتلو سره په پوهه کښې راغلې دی، او دا تجزیه به په دې مقام باندې پوهیدلو کښې معین وی.

بحث اول: (د فرض مونځونو نه پس دعا مشروع ده که نه؟)

مولانا ادریس صاحب کاندهلوی په التعلیق الصبیح کښې لیکلې دی، چه د دعاء بعد الصلوة امر خو په قرآن مجید کښې موجود دې، فاذا فرغت فانصب والی ربک فرغب، (علی تفسیر ابن عباس رضی الله عنهما ددې د انکار ګنجائش نشته، دغه شان ذکر بعد الصلوة هم مامور به من الله دې، فاذا قضیتم الصلوة فاذکروا الله قیاما و قعودا و علی جنوبکم الآیة، په فتح الباری(ج۱۱ ص ۱۱۵) کښې دی، وسئل الاوزاعی هل الذکر بعد الصلوة افضل ام تلاوة القرآن فقال لیس شئ یعد القرآن و لکن کان هدی السلف الذکر،اه حافظ ابن حجر رحمه الله د ترجمة البخاری "باب الدعاء بعد الصلوة" لاندې لیکلې دی چه په دې ترجمة سره مصنف رد فرمائې په هغې خلقو باندې، کوم چه دا وائی، چه د فرض مانځه نه پس دعا مشروع نه ده، لحدیث مسلم عن عائشة کان النبی (صلی الله علیه وسلم) اذا سلم لا یثبت الا قدر ما یقول اللهم انت السلام و منک السلام تبارکت یا ذالجلال والاکرام (ظاهره خبره ده، چه ددې کلماتو په وئیلو کښې یو منټ هم نه لګی، نو بیا چه کله د مانځه نه پس هغوی بالکل ایساریدل نه، نو بیا دعاء ئې څرنګه کوله) ددې جواب حافظ رحمه الله دا ورکړې دې، چه په دې حدیث کښې د راوی غرض دادې، چه د مانځه نه پس به نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) مستقبل قبله دومره ایساریدو، او که دعاء به ئې غوختله، نو ارخ به ئې بدل کړو، کما هو مصرح فی الروایات، د مطلق جلوس نفی مقصود نه ده، د حافظ ابن قیم باره کښې هم دا مشهوره ده، چه هغوی هم بعد المکتوبة د دعاء قائل نه دې، او نه دهغه شیخ ابن تیمیه رحمه الله ددې قائل وو، هغوی دا فرمائی چه په احادیثو کښې د مانځه متعلق کومې دعاګانې وارد دی، دهغې اصل محل بعد التشهد قبل

السلام دي، په هغې احاديثو كښي د دبر نه مراد آخر صلوة دي، بعد السلام نه دې، هغه وائی، چه ما خپل شيخ ابن تيميه رحمه الله ته دې باره كښې رجوع اوكړه، نو هغوی اوفرمائيل چه د حيوان دبر دهغه داخلی جزء دې، خارجی حصه نه ده، دغه شان دلته كښي هم دا مراد دې، او دويمه خبره داده، چه صلوة محل د رحمت دې، محل مناجات دې، لهذا اصل وخت د دعاء هم دغه دې، د مانځه نه خارج د دعاء څه موقع ده، البته دلته كښې يو لطيف نكته بله ده، هغه دا چه د مانځه نه پس چه كوم اذكار ماثوره لوستلې شی، دهغې نه پس مونځګزار كه صلوة او سلام هم اولولی، او بيا دعا اوغواړي، نو په دې كښې هيڅ خرج نشته، ليكن په دې صورت كښې دا دعاء بعد الصلوة نشوه، بلكه بعد الذكر شوه، يعنی د مانځه نه علاوه يو بل عبادت نه پس شوه، حافظ ابن حجر رحمه الله د علامه ابن قيم رحمه الله دا رائې قوت سره رد كړې ده، او د ډيرو احاديثو نه ئې دعاء بعد السلام ثابت كړې ده.

بحث ثانی: (**ذكر د فرائضو نه فورا پس اوكه د رواتبو نه پس؟**)

د مانځه نه پس د ذكر او تسبيحاتو په مشروعيت باندې د ټولو اتفاق دې، ددې نه هيڅوک انكار نه كوی، پاتې شوه دا خبره، چه اذكار به د رواتب نه پس وی او كه روستو، نو په دې كښې د جمهورو په نزد اطلاق دې، هيڅ تنګی نشته، لكه حافظ ابن حجر په فتح البارى جلد ١١ ص١١٥ كښې ليكلې دی: وفى هذه الاحاديث ان الذكر المذكور يلى الصلوة المكتوبة ولا يؤخر الى ان يصلى الراتبة لما تقدم والله اعلم، خپله د ابن قيم رحمه الله په نزد هم اذكار مشروعه بعد السلام لوستلې شی، لكه آية الكرسی او معقبات او معوذات، د ابن قيم كه اختلاف دې، نو په دعاء كښې دې، دغه شان زمونږ د حضرت شاه ولی الله صاحب دهلوی رحمه الله هم رائې ده، (كما فى معارف السنن) چه ټول اذكار او اوراد ماثوره د فرض مونځ نه پس قبل السنن لوستلې شی، ليكن د شيخ ابن الهمام رحمه الله رائې (كما فى فتح القدير) په ډير قوت سره داده، چه دې اذكارو لره د رواتب نه پس لوستل پكار دی، د مكتوباتو او رواتبو په مينځ كښې فصل كول پكار نه دې، مونږ خپل بعضې استاذان ليدلې دی، چه هغوی به تسبيح فاطمه بعد السلام لوستل، او دبعضو معمول د سنتو نه پس د لوستلو وو.

بحث ثالث: (**د فرض مونځ نه پس منقول دعاګانې**)

ترمذی شريف كښې د حضرت ابوامامه رضی الله عنه حديث دې، چه د نبی كريم (صلی الله عليه وسلم) نه تپوس اوكړې شو، چه كومه دعاء زيات قبوليت لری، نبی كريم (صلی الله عليه وسلم) اوفرمائيل، جوف الليل الآخر، و دبر الصلوت المكتوبات، يعنی د آخری شپې دعاء، او د فرض مونځونو نه پس دعاء، ذكر الامام النووی فى كتاب الاذكار ص٦٦، د مانځه نه پس ډيرې دعاګانې دلته په كتاب (سنن ابوداؤد) كښې ذكر دی، هغې ټولو لره حفظ كول پكار دی، څومره چه هم يادې شی نو بهتره ده، مصنف په دې باب كښې شپږ اووه دعاګانې ذكر كړې دی،

[١٥٠٥](۱)حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنِ الْمُسَيَّبِ بْنِ رَافِعٍ، عَنْ وَرَّادٍ مَوْلَى الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، كَتَبَ مُعَاوِيَةُ إِلَى الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ: أَيُّ شَيْءٍ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: إِذَا سَلَّمَ مِنَ الصَّلَاةِ، فَأَمْلَاهَا الْمُغِيرَةُ عَلَيْهِ، وَكَتَبَ إِلَى مُعَاوِيَةَ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، اللَّهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ".

د حضرت مغیره بن شعبه رضی الله عنه نه روایت دې چه حضرت معاویه رضی الله عنه، حضرت مغیره رضی الله عنه ته خط اولیکلو او تپوس ئې ترینه اوکړو چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به دَ مونځ نه دَ سلام ګرځولو نه پس څۀ فرمائیل: نو حضرت مغیره رضی الله عنه هغه ته اولیکل چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به دا لوستل: {(لَاإِلٰـهَ إِلَّااللهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيكَ لَهُ،لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُوَهُوَعَلَى كُلِّ شَيْئٍ قَدِيرٌ،اللّٰهُمَّ لَامَانِعَ لِمَاأَعْطَيْتَ وَلَامُعْطِيَ لِمَامَنَعْتَ وَلَايَنْفَعُ ذَاالْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ)} دَ الله نه سوا هیڅ څوک معبود نشته دې هغه احد دې هیڅ څوک دَ هغه سره شریک نشته دې. ملک هم دَ هغه دې تعریف هغه لره دې، او هغه په هر څیز باندې قادر دې. اې الله! څه چه تهٔ عنات اوفرمائې دَ هغې څوک بندوونکې نشته دې او څه چه تهٔ منع کړې دَ هغې څوک ورکوونکې نشته دې او هیڅ یو مالدار ته ستا په مقابله کښې دَ هغه مال فائده نهٔ شي ورکولې.

(۱) وراد کاتب د مغیره رضی الله عنه وائی، چه حضرت معاویه رضی الله عنه حضرت مغیره بن شعبه رضی الله عنه ته خط اولیکو، او تپوس ئې ترې اوکړو، چه حضور (صلی الله علیه وسلم) به د مانځه نه پس کومه دعا لوستله، نو مغیره په ما باندې په جواب کښې اولیکل، چه نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) به دا دعاء لوستله: لااله الا الله وحده لا شریک له له الملک وله الحمد وهو علی کل شئ قدیر اللهم لا مانع لما اعطیت ولا معطی لما منعت و لا ینفع ذا الجد منک الجد، (واخرجه الشیخان ایضا) بعضو روایاتو کښې دی، چه دا دعاء به رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د مانځه نه پس درې کرته لوستله.

[١٥٠٦](۲)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، قَالَ: حَدَّثَنَا ابْنُ عُلَيَّةَ، عَنِ الْحَجَّاجِ بْنِ أَبِي عُثْمَانَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ الزُّبَيْرِ عَلَى الْمِنْبَرِ، يَقُولُ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا انْصَرَفَ مِنَ الصَّلَاةِ، يَقُولُ: "لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ أَهْلُ النِّعْمَةِ وَالْفَضْلِ وَالثَّنَاءِ الْحَسَنِ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ".

ابو الزبیر فرمائی چه ما د حضرت زبیر رضی الله عنه نه په منبر باندې واوریدل چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم به کله دَ مانځهٔ نه سلام واړولو نو دا به ئې لوستل: {(لَاإِلٰـهَ إِلَّااللهُ وَحْدَهُ لَاشَرِيكَ لَهُ،لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَعَلَى كُلِّ شَيْئٍ قَدِيرٌ،لَاإِلٰـهَ إِلَّااللهُ،مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْكَرِهَ الْكَافِرُونَ،أَهْلُ النِّعْمَةِ وَالْفَضْلِ وَالثَّنَاءِ الْحَسَنِ،لَاإِلٰـهَ إِلَّااللهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْكَرِهَ الْكَافِرُونَ)} دَ الله نه سوا هیڅ څوک معبود نشته دې،

---

[1]: صحيح البخاري/الأذان ١٥٥ (٨٤٤)، والزكاة ٥٣ (١٤٧٧)، والدعوات ١٨ (٦٣٣٠)، والرقاق ٢٢ (٦٤٧٣)، والقدر ١٢ (٦٦١٥)، والاعتصام ٣ (٧٢٩٢)، صحيح مسلم/المساجد ٢٦ (٥٩٣)، سنن النسائي/السهو ٨٥ (١٣٤٢)، (تحفة الأشراف: ١١٥٣٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٢٤٥، ٢٤٧، ٢٥٠، ٢٥١، ٢٥٤، ٢٥٥)، سنن الدارمي/الصلاة ٨٨ (١٣٨٩) (صحيح)

[2]: صحيح مسلم/المساجد ٢٦ (٥٩٤)، سنن النسائي/السهو ٨٣ (١٣٤٠)، (تحفة الأشراف: ٥٢٨٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٤)، (صحيح)

هغه احد دي، ملک هم دَ هغه دي، هغه لره تعریف دي، او هغه په هر څيز باندې قادر دي، دَ الله نه سوا هيڅ څوک معبود نشته دي، مونږ خالص هم دَ هغه اطاعت کوو، اګر که کافرانو ته دا ناخوښه وي. «اې الله» هم ته دَ نعمت او فضل والا او دَ بهترين تعريف مستحق ئې. دَ الله نه سوا بل هيڅ څوک معبود نشته دي، مونږ خالص دَ هغه اطاعت کوو، اګر که کفارو ته دا ناخوښه وي.''

(۲) عبدالله بن زبير ﷺ په منبر باندې ناست وو، او وې فرمائيل، چه حضور (ﷺ) دَ مانځه نه فارغيدو نه پس دا دعاء لوستله. لااله الا الله وحده لا شريک له له الملک و له الحمد وهو على كل شئ قدير، لااله الا الله مخلصين له الدين ولو كره الكافرون اهل النعمة والفضل والثناء الحسن لا اله الا الله مخلصين له الدين ولو كره الكافرون (اخرجه الشيخان ايضا) او د مسلم په روايت کښې دی، يقول بصوته الاعلى يعنى دا دعاء به نبى كريم (ﷺ) لږ په اوچت آواز سره لوستله، د آخرى جملې مطلب دادې، چه مونږ خپل عبادت الله تعالى لره خالص کوؤ، او په هغې کښې غير لره نه شريکوؤ(نه شرک اکبر او نه شرک اصغر) اګر چه کافران خلق زمونږ دې اخلاص فى العبادات لره څومره هم ناخوښوی.

[١٥٠٧](١) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سُلَيْمَانَ الْأَنْبَارِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، قَالَ: كَانَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الزُّبَيْرِ يُهَلِّلُ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ، فَذَكَرَ نَحْوَ هَذَا الدُّعَاءِ، زَادَ فِيهِ: وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ لَا نَعْبُدُ إِلَّا إِيَّاهُ لَهُ النِّعْمَةُ، وَسَاقَ بَقِيَّةَ الْحَدِيثِ.

ابو الزبير فرمائی چه حضرت عبد الله بن زبير به دَ هر مانځه نه پس [لااله الا الله وحده...الخ] لوستلو او دَ مذکوره بالا حديث په مثل ئې دُعا ذکر کړه او دا اضافه ئې اوکړه: {(وَلَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، لَا نَعْبُدُ إِلَّا إِيَّاهُ، لَهُ النِّعْمَةُ)} او باقى حديث ئې بيان کړو.

[١٥٠٨](٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ وَهَذَا حَدِيثُ مُسَدَّدٍ، وَسُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْعَتَكِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا الْمُعْتَمِرُ، قَالَ: سَمِعْتُ دَاوُدَ الطُّفَاوِيَّ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبُو مُسْلِمٍ الْبَجَلِيُّ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ، قَالَ: سَمِعْتُ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: وَقَالَ سُلَيْمَانُ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ فِي دُبُرِ صَلَاتِهِ: "اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَرَبَّ كُلِّ شَيْءٍ، أَنَا شَهِيدٌ، أَنَّكَ أَنْتَ الرَّبُّ وَحْدَكَ لَا شَرِيكَ لَكَ، اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَرَبَّ كُلِّ شَيْءٍ، أَنَا شَهِيدٌ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُكَ وَرَسُولُكَ، اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَرَبَّ كُلِّ شَيْءٍ أَنَا شَهِيدٌ أَنَّ الْعِبَادَ كُلَّهُمْ إِخْوَةٌ، اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَرَبَّ كُلِّ شَيْءٍ اجْعَلْنِي مُخْلِصًا لَكَ، وَأَهْلِي فِي كُلِّ سَاعَةٍ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ اسْمَعْ وَاسْتَجِبْ، اللَّهُ أَكْبَرُ الْأَكْبَرُ، اللَّهُمَّ نُورَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ، قَالَ سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ: رَبَّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ، اللَّهُ أَكْبَرُ الْأَكْبَرُ، حَسْبِيَ اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ، اللَّهُ أَكْبَرُ الْأَكْبَرُ".

حضرت زيد بن ارقم ﷺ بيان کوی چه ما د نبی کريم ﷺ نه واوريدل چه هغوی به د مانځه نه پس دا لوستل: {اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَرَبَّ كُلِّ شَيْءٍ، أَنَا شَهِيدٌ، أَنَّكَ أَنْتَ الرَّبُّ وَحْدَكَ لَا شَرِيكَ لَكَ، اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَرَبَّ كُلِّ شَيْءٍ، أَنَا شَهِيدٌ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُكَ وَرَسُولُكَ، اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَرَبَّ كُلِّ شَيْءٍ أَنَا شَهِيدٌ أَنَّ الْعِبَادَ كُلَّهُمْ إِخْوَةٌ، اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَرَبَّ كُلِّ شَيْءٍ اجْعَلْنِي مُخْلِصًا لَكَ، وَأَهْلِي فِي كُلِّ سَاعَةٍ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ اسْمَعْ وَاسْتَجِبْ، اللَّهُ

(١): صحيح مسلم/المساجد ٢٦ (٥٩٤)، سنن النسائي/السهو ٨٤ (١٣٤١)، (تحفة الأشراف: ٥٢٨٥) (صحيح)

(٢): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٣٦٩٢)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٦٩/٤)، سنن النسائي/اليوم والليلة (١٠١) (ضعيف)

أَكْبَرُ الْأَكْبَرُ، اللَّهُمَّ نُورَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ، قَالَ سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ، رَبَّ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ، اللَّهُ أَكْبَرُ الْأَكْبَرُ، حَسْبِيَ اللَّهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ، اللَّهُ أَكْبَرُ الْأَكْبَرُ} " اې الله ! زمونږه ربه ! او د هر څيز ربه ! زۀ ګواه يم چه تۀ احد رب ئې، ستا هيڅ څوک شريک نشته دې . الله ! زمونږه ربه او د هر هر شئ ربه ! زۀ ګواه يم چه محمد ﷺ ستا بنده او رسول دې، اې الله ! زمونږ ربه ! او د هر هر څيز ربه ! زۀ ګواه يم چه ټول بندګان (د يو بل سره) رونړه دی . اې الله ! زمونږه ربه او د هر څيز ربه ! ما لره او زما اهل لره په هر ساعت کښې، په دنيا او آخرت کښې خپل مخلص اوګرځئ . اې د جلال او اکرام خاونده ! زما دُعا واورې او قبوله ئې کړې . الله د ټولو نه لوی دې، ډير زيات لوی، اې الله اد اسمانونو او د زمکې نور دې ...سليمان بن داود د نورپه ځائې باندې د رب ذکر کړې دې (يعنی) اې د آسمانونو او د زمکې ربه ... الله د ټولو نه لوی دې، ډير زيات لوی، ما لره الله کافی دې او هغه بهترين کار ساز دې . الله د ټولو نه لوی دې ډير زيات لوی . "

(۳) زيد بن ارقم رضی الله عنه فرمائي چه حضور (ﷺ) به د مانځه نه پس دا دعاء لوستله.

اللهم ربنا و رب كل شئ انا شهيد انک انت الرب وحدک لا شريک لک اللهم ربنا ورب كل شئ انا شهيد ان محمدا عبدک و رسولک اللهم ربنا و رب كل شئ انا شهيد ان العباد كلهم اخوة اللهم ربنا و رب كل شئ اجعلني مخلصا لک و اهلي في كل ساعة في الدنيا يا ذالجلال والاكرام، اسمع واستجب الله اكبر الله اكبر اللهم نور السموت والارض، قال سليمان بن داؤد رب السموت والارض الله اكبر الله اكبر حسبي الله و نعم الوكيل الله اكبر الله اكبر (اخرجه النسائي والدار قطني ايضا)

[۱۵۰۹]([1])حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ مُعَاذٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَمِّهِ الْمَاجِشُونِ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْأَعْرَجِ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي رَافِعٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَلَّمَ مِنَ الصَّلَاةِ، قَالَ: "اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ، وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ، وَمَا أَسْرَفْتُ، وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي، أَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ".

د حضرت علی بن ابی طالب رضی الله عنه نه روايت دې هغه فرمائي چه رسول الله ﷺ به کله د مونځ نه سلام اوګرځوو نو دا به ئې فرمائيل : {اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ، وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ، وَمَا أَسْرَفْتُ، وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي، أَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ} " اې الله ! ماته اوبخښې هغه تقصيرات، کوم چه ما وړاندې کړې دی، کوم چه ما ورستو کړې دی، کوم چه ما پټ کړې دی، او کوم چه ما ښکاره کړې دی او کوم چه ما د حد نه تجاوز کړې دې، او د کومو متعلق چه تۀ زما نه زيات باخبر ئې، هم تۀ مقدم (مخکښې کوونکې) ئې او هم موٗخر (ورستو کوونکې) ئې . (د نيکئ توفيق ورکوې يا محروم کوې ئې) ستا نه علاوه بل څوک معبود نشته دې . "

(٤) حضرت علی رضی الله عنه فرمائي چه نبی کريم ﷺ به د مانځه د سلام نه پس دا دعاء لوستله.

اللهم اغفرلي ما قدمت وما اخرت وما اسررت وما اعلنت وما اسرفت وما انت اعلم به مني انت المقدم والمؤخر لا اله الا انت (اخرجه مسلم ايضا والبخاری من حديث ابی موسى الاشعری)

[1]: انظر حديث رقم : ۷۶۰، (تحفة الأشراف:۱۰۲۲۸) (صحيح)

[١٥١٠]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ كَثِيرٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ طُلَيْقِ بْنِ قَيْسٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْعُو: "رَبِّ أَعِنِّي وَلَا تُعِنْ عَلَيَّ، وَانْصُرْنِي وَلَا تَنْصُرْ عَلَيَّ، وَامْكُرْ لِي وَلَا تَمْكُرْ عَلَيَّ، وَاهْدِنِي وَيَسِّرْ هُدَايَ إِلَيَّ، وَانْصُرْنِي عَلَى مَنْ بَغَى عَلَيَّ، اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي لَكَ شَاكِرًا لَكَ، ذَاكِرًا لَكَ، رَاهِبًا لَكَ، مِطْوَاعًا إِلَيْكَ مُخْبِتًا أَوْ مُنِيبًا، رَبِّ تَقَبَّلْ تَوْبَتِي، وَاغْسِلْ حَوْبَتِي، وَأَجِبْ دَعْوَتِي، وَثَبِّتْ حُجَّتِي، وَاهْدِ قَلْبِي، وَسَدِّدْ لِسَانِي، وَاسْلُلْ سَخِيمَةَ قَلْبِي".

دَ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي چه رسول الله ﷺ به دا دُعا لوستله : {"رَبِّ أَعِنِّي وَلَا تُعِنْ عَلَيَّ، وَانْصُرْنِي وَلَا تَنْصُرْ عَلَيَّ، وَامْكُرْ لِي وَلَا تَمْكُرْ عَلَيَّ، وَاهْدِنِي وَيَسِّرْ هُدَايَ إِلَيَّ، وَانْصُرْنِي عَلَى مَنْ بَغَى عَلَيَّ، اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي لَكَ شَاكِرًا لَكَ، ذَاكِرًا لَكَ، رَاهِبًا لَكَ، مِطْوَاعًا إِلَيْكَ مُخْبِتًا أَوْ مُنِيبًا، رَبِّ تَقَبَّلْ تَوْبَتِي، وَاغْسِلْ حَوْبَتِي، وَأَجِبْ دَعْوَتِي، وَثَبِّتْ حُجَّتِي، وَاهْدِ قَلْبِي، وَسَدِّدْ لِسَانِي، وَاسْلُلْ سَخِيمَةَ قَلْبِي } : " اې زما ربه! زما مدد اوکړې، زما خلاف دَ چا سره مد اونۀ فرمائې، (کوم چه ماله ستا دَ اطاعت نه منع کوي.) زما نصرت اوفرمائې او زما خلاف دَ هيچا سره نصرت اونۀ فرمائې، زما په حق کښې تدبير اوفرمائې او زما خلاف تدبير اونۀ فرمائې. زما رهنمائي اوفرمائې او هدايت زما دَ پاره آسان اوفرمائې. او څوک چه زما خلاف بغاوت کوي دَ هغوی په مقابله کښې زما مدد اوکړې. يا الله! ماله خپل شکرګزار جوړ کړې، خپل ذکر کوونکې مې جوړ کړې، ستانه يريدونکې، ازحد اطاعت ګزار او ډير زيات تواضع کوونکې مې جوړ کړې. اې زما ربه! زما توبه قبوله کړې، زما خطاګانې اوينځې. زما زړۀ ته هدايت اوفرمائې، (او په هدايت باندې ئې ثابت قدم اولرې) زما ژبې لره په حق باندې مستقيم اولرې او زما دَ زړۀ نه خيرې (بغض، حسد، او کينه وغيره) اوباسې."

(۵) حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي چه حضور (ﷺ) به دا دعاء غوختله،

رب اعنى ولا تعن على وانصرنى ولا تنصر على وامكرلى ولا تمكر على واهدنى و يسر هداى الى وانصرنى على من بغى على اللهم اجعلنى لک شاکرا، لک ذاکرا، لک راهبا، لک مطواعا، اليک مخبتا، او منيبا رب تقبل توبتى واغسل حوبتى، واجب دعوتى و ثبت حجتى واهد قلبى و سدد لسانى واسلل سخيمة قلبى (واخرجه الترمذى ايضا)

[١٥١١]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَحْيَى، عَنْ سُفْيَانَ، قَالَ: سَمِعْتُ عَمْرَو بْنَ مُرَّةَ بِإِسْنَادِهِ وَمَعْنَاهُ، قَالَ: "وَيَسِّرِ الْهُدَى إِلَيَّ" وَلَمْ يَقُلْ: هُدَايَ. قَالَ أَبُو دَاوُدَ: سَمِعَ سُفْيَانُ مِنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، قَالُوا: ثَمَانِيَةَ عَشَرَ حَدِيثًا.

عمرو بن مره په خپل سند سره دَ مذکوره بالا هم معنیٰ بيان کړې دې او [وَيَسِّرِ الْهُدَى إِلَيَّ] ئې وئيلې دی [هداى] ئې نۀ دی وئيلې.

[1]): سنن الترمذي/الدعوات ١٠٣ (٣٥٥١)، سنن ابن ماجه/الدعاء ٢ (٣٨٣٠)، سنن النسائي/ اليوم والليلة (٦٠٧، ٦٠٨)، (تحفة الأشراف:٥٧٦٥)، وقد أخرجه:مسند احمد (٢٢٧/١) (صحيح)

[2]): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف:٥٧٦٥) (صحيح)

[١٥١٢]([١])حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَاصِمٍ الأَحْوَلِ، وَخَالِدٍ الْحَذَّاءِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا سَلَّمَ، قَالَ: "اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ".

دَ ام المؤمنين حضرت عائشي رضي الله عنها نه منقول دي چه نبي كريم ﷺ به كله سلام اوګرځوو نو دا به ئې لوستل : {اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ} :" اې الله ته (سراسر) سلامتي يې. او هم ستا نه سلامتي (حاصليږي) .ته دَ ډيرو بركتونو والا ئې اې دَ جلال او اكرام خاونده . امام ابوداود رحمه الله فرمائي : چه سفيان دَ عمرو بن مره نه اوريدلي دي . او دَ محدثينو وينا ده چه هغوى ددۀ نه اتلس احاديث اوريدلي دي .

(٦) حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي چه حضور (ﷺ) به دَ مانځه دَ سلام نه پس دا دعاء غوختله، اللهم انت السلام و منک السلام تبارکت يا ذا الجلال والاكرام،

ترجمه: اې الله ته دَ هر عيب او نقص نه پاک او محفوظ يې، او دَ آفات دنيوى او آخروى نه سلامتي هم ستا دَ طرف نه ده، ستا دَ طرف نه خير او ښيګړه ښه ډيره او په كثرت سره ده، اې دعظمت او احسان والا ، او دَ مسلم او ترمذى درو ايت نه معلوميږى، چه دا دعاء به نبى كريم (ﷺ) قبلي ته مخامخ لوستله، او ددې نه مخكښې چه كوم حديث په كتاب كښې راروان دې، يعنى حديث ثوبان، په هغې كښې دومره زائد دې، چه نبى كريم (ﷺ) به ددې دعاء نه مخكښې درې ځله استغفار لوستلو ،دَ مسلم په روايت كښې دى، چه دَ اوزاعى نه تپوس اوكړې شو ، كيف الاستغفار نو هغوى اوفرمائيل : استغفرالله، استغفرالله.

[١٥١٣]([٢])حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا عِيسَى، عَنِ الأَوْزَاعِيِّ، عَنْ أَبِي عَمَّارٍ، عَنْ أَبِي أَسْمَاءَ، عَنْ ثَوْبَانَ مَوْلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَنْصَرِفَ مِنْ صَلَاتِهِ "اسْتَغْفَرَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ"، ثُمَّ قَالَ: "اللَّهُمَّ". فَذَكَرَ مَعْنَى حَدِيثِ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا.

دَ حضرت ثوبان رضي الله عنه (دا ازاد كړې شوې غلام دې دَ رسول الله ﷺ) نه منقول دى چه نبى كريم ﷺ به كله دَ مونځ نه پاسيدو او تلل به ئې غوښتل نو درې ځله به ئې استغفار (استغفر الله) فرمائيل بيا به ئې دَ هغې نه پس فرمائيل : [اللهم انت السلام ...... الخ] او دَ حضرت عائشه رضي الله عنها دَ حديث په مثل ئې بيان كړو .

امام ترمذى يوه بله دعا ذكر كړې ده، فرمائي: وروى انه كان يقول سبحان ربک رب العزة عما يصفون و سلام على المرسلين والحمد لله رب العالمين، (اخرجه ابويعلى الموصلى عن ابى هريرة رضي الله عنه قال قلنا لابى سعيد هل حفظت عن رسول الله (صلى الله عليه وسلم) شيئا كان يقول بعد ما سلم

[١]): صحيح مسلم/المساجد ٢٦ (٥٩٢)، سنن الترمذي/الصلاة ١٠٩ (٢٩٨)، سنن النسائي/السهو ٨٢ (١٣٣٩)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٣٢ (٩٢٤)، (تحفة الأشراف:١٦١٨٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦٢/٦، ١٨٤، ٢٣٥)، سنن الدارمي/الصلاة ٨٨ (١٣٨٧) (صحيح)

[٢]): صحيح مسلم/المساجد ٢٦ (٥٩١)، سنن الترمذي/الصلاة ١٠٩ (٣٠٠)، سنن النسائي/السهو ٨١ (١٣٣٨)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ٣٢ (٩٢٨)، (تحفة الأشراف:٢٠٩٩)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٧٥/٥، ٢٧٩)، سنن الدارمي/الصلاة ٨٨ (١٣٨٨) (صحيح)

(۸) او صاحب مشکوة په باب الذکر بعد الصلوة کښې يو حديث دا هم ذکر کړې دې، عن سعد بن ابی وقاص انه کان يعلم بنيه هؤلاء الکلمات ويقول ان رسول الله (صلی الله عليه وسلم) کان يتعوذ بهن دبر الصلوة اللهم انی اعوذبک من الجبن واعوذ بک من البخل واعوذ بک من ارذل العمر واعوذ بک من فتنة الدنيا وعذاب القبر، (رواه البخاری)
امام نووی رحمه الله په کتاب الاذکار کښې د مانځه نه پس دعاګانو کښې دا دعاګانې هم ذکر کړې دی، (۹) د کعب بن عجره رضی الله عنه نه روايت دې، چه حضور (صلی الله عليه وسلم) اوفرمائيل : معقبات لا يخيب قائلهن دبر کل صلوة، يعنی هغه کلمات چه دهغې لوستونکې ناکامه کيږی نه، د هر فرض مانځه نه پس ۳۳ کرته سبحان الله، ۳۳ کرته الحمد لله، ۳۴ کرته الله اکبر.
(۱۰) عقبه بن عامر رضی الله عنه فرمائي چه نبی کريم (صلی الله عليه وسلم) ماته حکم اوفرمائيلو ددې خبرې، چه د هر مانځه نه پس دې زۀ معوذتين لولم، او په يو روايت کښې بالمعوذات دې (دجمع صيغې سره) لهذا مناسب دی، چه دې دواړو سورتونوسره قل هو الله احد هم شامل کړی، قاله النووی.
(۱۱) د حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه نه روايت دې، چه يوه ورځ نبی کريم (صلی الله عليه وسلم) زما لاس اونيولو، او راته ئې اوفرمائيل والله انی لاحبک، او بيا ئې دا اوفرمائيل چه زۀ تاته وصيت کوم، چه دې دعاء لره د مانځه نه پس چرې هم پرينږده، اللهم اعنی علی ذکرک و شکرک و حسن عبادتک (دا آخری دواړه احاديث ددې کتاب په آئنده باب کښې راروان دی،
(۱۲) د حضرت انس رضی الله عنه نه روايت دې، چه حضور (صلی الله عليه وسلم) به مونځ پوره کيدو نه پس ښې لاس په تندی باندې کيخودو، او دا دعاء ئې لوستله، اشهد ان لا اله الا الله الرحمن الرحيم اللهم اذهب عنی الهم والحزن (۱۳) د حضرت انس رضی الله عنه نه روايت دې، چه نبی کريم (صلی الله عليه وسلم) به د مانځه نه فارغيدو نه پس دا دعاء لوستله، اللهم اجعل خير عمری آخره و خير عملی خواتمه، واجعل خير ايامی يوم القاک (۱٤) د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه نه روايت دې، چه نبی کريم (صلی الله عليه وسلم) به د مانځه نه پس دا دعاء لوستله، اللهم انی اعوذبک من الکفر والفقر وعذاب القبر، (دې دريو واړو احاديثو لره ابن السنی روايت کړې دې)

بحث رابع: (دفرض مونځ نه پس په هيئت اجتماعی او رفع يدين سره دعا ثابت ده که نه؟)

خلاصه ددې داده، چه د فرض مانځه نه پس بعد السلام رفع يدين سره دعاء کول د بعضې احاديث مرفوعه نه ثابت ده، چه دهغې تحقيق او حواله مخکښې مضمون کښې انشاء الله راروان دی، چه ظاهره خبره ده، دهغې د استحباب دپاره کافی ده، په دې باندې حضرت مولانا محمد يوسف بنوری رحمه الله په معارف السنن کښې کلام فرمائيلې دې، او ددې سلسلې روايات ئې مع حواله په کتاب مذکور کښې جمع کړې دی، او دغه شان مولانا عبدالرحمن مبارک پوری (مشهور اهل حديث) هم په تحفة الاحوذی شرح ترمذی کښې دغه روايات سره د سند نه ذکر کړې دی، او د بحث په ابتداء کښې هغوی دا ليکلې دی، چه د علماء اهل حديث په دې کښې اختلاف دې، چه د فرض مانځه نه پس رفع يدين سره د امام

او مقتدیانو یو ځائې دعاء کول ثابت دی او که نه؟ یو جماعت دې ته بدعت وائی، چه چرته په صحیح حدیث کښې د حضور (ﷺ) نه دا ثابت نه دی، او یو جماعت د جواز قائل دې، او هغې خلقو د پنځو احادیثو نه استدلال کړې دې:

١) عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله (صلی الله علیه وسلم) رفع یدیه بعد ما سلم وهو مستقبل القبلة فقال اللهم خلص الولید بن الولید وعیاش بن ابی ربیعة و سلمة بن هشام الخ، (ذکره الحافظ ابن کثیر فی تفسیره ص١٧٢، نقلا عن ابن ابی حاتم وابن جریر بسندیهما قلت و فی سنده علی بن زید بن جدعان وهو متکلم فیه)

٢) عن محمد بن یحیی الاسلمی قال رایت عبدالله بن الزبیر ورای رجلا رافعا یدیه قبل ان یفرغ من صلوة فلما فرغ منهما قال ان رسول الله (صلی الله علیه وسلم) لم یکن یرفع یدیه حتی یفرغ من صلوته، (ذکره السیوطی فی رسالته فض الوعاء وقال رجاله ثقات قلت و ذکره الحافظ الهیثمی فی مجمع الزوائد وقال رواه الطبرانی و رجاله ثقات انتهی.

٣) حدیث انس عن النبی (صلی الله علیه وسلم) انه قال ما من عبد بسط کفیه فی دبر کل صلوة ثم یقول اللهم الهی واله ابراهیم واسحق و یعقوب واله جبرئیل و میکائیل واسرافیل اسالک ان تستجیب دعوتی فانی مضطر و تعصمنی فی دینی فانی مبتلی و تنالنی برحمتک فانی مذنب و تنفی عنی الفقر فانی متمسکن، الا کان حقا علی الله ان لا یرد یدیه خائبین (اخرجه الحافظ ابوبکر ابن السنی فی عمل الیوم واللیلة) (قال صاحب التحفة) قلت فی سنده عبدالعزیز بن عبدالرحمن القرشی قال فی المیزان اتهمه احمد وقال النسائی وغیره لیس بثقة ، ا هـ .مختصرا.

٤) حدیث الاسود بن عبدالله العامری عن ابیه قال صلیت مع رسول الله (صلی الله علیه وسلم) الفجر فلما سلم انحرف و رفع یدیه و دعا، قال صاحب معارف السنن اخرجه ابن ابی شیبه فی مصنفه والاسود هذا ابن عبدالله بن حاجب بن عامر من رجال ابی داؤد ذکره الحبان فی الثقات وقال الذهبی محله الصدق کما فی التهذیب. ا هـ

٥) ما اخرجه الطبرانی فی الکبیر عن ابن عباس، وفی الاوسط عن ابن عمر رضی الله عنهما قال صلی رسول الله (صلی الله علیه وسلم) الفجر ثم اقبل علی القوم فقال اللهم بارک لنا فی مدینتنا و بارک لنا فی مدنا و صاعنا، ذکرها السمهودی فی الوفاء ج١ص٣٧، و رجالهما ثقات کما قاله (کذا فی معارف السنن ج٣ص١٢٣) لیکن په دې آخری روایت کښې د رفع یدین تصریح نشته، لیکن ظاهر هم دا معلومیږی، چه دا دعاء هم رفع یدین سره وه، ځکه چه د مانځه نه پس خلقو ته متوجه کیدلو سره وه، او په دعاء کښې رفع یدین د آداب دعاء نه دی.

صاحب تحفه لیکلی دی، چه د جواز قائلینو د عموماتو نه هم استدلال کړې دې، چه د صلوة مکتوبه نه پس دعاء کول مندوب او مرغب فیه ده، (قاله الحافظ فی الفتح اخرج الطبرانی من روایة جعفر بن محمد الصادق قال الدعاء بعد المکتوبة افضل من الدعاء بعد النافلة کفضل المکتوبة علی النافلة) او د نبی کریم (ﷺ) نه دعاء بعد المکتوبه ثابت هم ده، او رفع یدین مستقل د آداب دعاء نه دې، نو د حضور (ﷺ) نه په ډیرو احادیثو کښې رفع یدین فی الدعاء ثابت دې، او بعد المکتوبه رفع یدین فی الدعاء نه منع په هیڅ یو حدیث کښې ثابت نه ده، بلکه د رفع ثبوت موجود دې.

صاحب تحفة الاحوذي ددې سلسلې روايات حديثيه او په هغې باندې جرح او تعديل ذکر کولو نه پس په اخره کښې ليکلې دی، چه په دې باندې د علامه سيوطي رحمه الله يوه مستقله رساله هم شته، فض الوعاء فی احاديث رفع اليدين فی الدعاء، او قول راجح زما په نزد دادې، چه رفع يدين فی الدعاء بعد الصلوة جائز دې، په دې کښې هيڅ حرج نشته، انشاء الله تعالی، والله تعالی اعلم، ليکن په دې باندې شدت سره مواظبت کول د امر واجب پشان، او په پريخودونکې باندې نکير کول صحيح نه دی، انتهی کلامه.

هم دغه شان د حضرت مولانا الحاج الشاه اشرف علی تهانوی نور الله مرقده هم په دې کښې يو مستقل رساله په عربۍ کښې شته، استحباب الدعوات عقيب الصلوت، چه په اصل کښې تلخيص دې د يو مالکی عالم د تاليف "مسلک السادات الی سبيل الدعوات" چه دهغې ترجمه حضرت مولانا مفتی محمد شفيع رحمه الله کړې ده، چه د امداد الفتاوی جلد اول په آخر کښې ملحق ده، د اصل رسالې تاليف په سنه ۱۳۲۱ھ کښې اوشو، او حضرت تهانوی رحمه الله دهغې تلخيص په سنه ۱۳۵۴ھ کښې اوکړو، دهغې په خطبه کښې حضرت تهانوی رحمه الله ليکلې دی: په مسلک السادات الی سبيل الدعوات کښې عموما د احکام دعاء د تحقيق، او بالخصوص د دعاء مستحب کيدل د هر منفرد او امام او جماعت دپاره (د احاديث معتبره او د مذاهب اربعه د روايات فقهيه نه) ثابت ده، ما دهغې رسالې خلاصه اوليکله، دې دپاره چه دهغې بې باک خلقو ژبه بنده شی، چه د مانځه نه پس دعاء کولو باندې د بدعت حکم لګوی، احقر دهغې رسالې نه په دې پوهه شوې دې، چه رفع يدين سره دعاء بعد المکتوبه د بعضو صحيح احاديثو نه ثابت ده، يعنی احيانا، او په هغې باندې مداومت او مواظبت د امت د تعامل او توارث (په هغې رساله کښې د استصحاب حال لفظ دې) نه ثابت دی، او د ټولو مذاهب اربعه په کتب فقهيه کښې دهغې ثبوت ملاويږی، والله تعالی اعلم، الحمد لله علی احسانه مباحث اربعه پوره شو، نسال الله التوفيق لنا وللمسلمين و نسال الله ربنا رضاه والجنة آمين والحمد لله رب العالمين.

بَابٌ فِي الِاسْتِغْفَارِ

باب: ٣٦- د استغفار بيان

[١٥١٤] (١) حَدَّثَنَا النُّفَيْلِيُّ، حَدَّثَنَا مَخْلَدُ بْنُ يَزِيدَ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ وَاقِدٍ الْعُمَرِيُّ، عَنْ أَبِي نُصَيْرَةَ، عَنْ مَوْلًى لِأَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ، عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا أَصَرَّ مَنِ اسْتَغْفَرَ، وَإِنْ عَادَ فِي الْيَوْمِ سَبْعِينَ مَرَّةً".

د سيدنا ابو بکر صديق رضی الله عنه نه مروی دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: چا چه استغفار اختيار کړو هغهٔ دَ مُصر (دَ اصرار کوونکو) خلقو نه نهٔ دې، اګر کهٔ په يو ورځ کښې اويا کرته دَ ګناه اعاده اوکړی.

تشريح: قوله: عن ابی بکر ن الصديق قال قال رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ما اصر من استغفر

(١) سنن الترمذي/الدعوات ١٠٧ (٣٥٥٩)، (تحفة الأشراف:٦٦٢٨) (ضعيف)

وان عاد في اليوم سبعين مرة: قلت و اخرجه ايضا الترمذي وقال حديث غريب انما نعرفه من حديث ابي نصيرة ۱ هـ، په اصل کښې اصرار على المعصية (يوه ګناه بار بار کول) ډير سخت څيز دې، اګر که هغه معصيت صغيره ولې نه وي، او کومه ګناه چه کله کله صادريږي، هغه اګر که کبيره ولې نه وي، دومره سخته نه ده، ليکن په دې حديث کښې نبي کريم (ﷺ) دا فرمائي، چه استغفار دومره مؤثر څيز دې، چه هغه اصرار على المعصيت لره هم بې اثره او کالعدم کوي، حضرت په بذل کښې ليکلي دي، چه د استغفار نه مراد صرف تلفظ باستغفرالله نه دې، بلکه ندامت سره توبه کول مراد دي، ځکه چه د توبې او استغفار تحقق بغير د ندامت نه کيدې نشي، ددې حديث نه معلومه شوه، چه که څه ګناه د توبې نه پس هم صادره شي، يا صادريږي، نو بيا هم په دې خيال باندې توبه پريخودل نه ده پکار، چه د داسې توبې نه څه فائده؟ توبه په هر حال کښې فائده منده ده، لکه چه خپله په دې حديث کښې ذکر دي، مقصود ددې حديث نه دادې، چه د ګناهونو د کثرت باوجود د الله تعالى د رحمت نه مايوسه کيدل پکار نه دي، او دا مطلب نه دې، چه بار بار ګناه کوه، او بيا روستو توبه او استغفار کوه، توبه خو هله توبه وي، چه کله د آئنده نه کولو پخه اراده وي، بيا ددې باوجود هم که ګناه صادره شي، نو دوباره استغفار کول پکار دي، په حديث کښې دي: لولا انکم تذنبون لخلق الله خلقا يذنبون و يغفرلهم (رواه الترمذي عن ابي ايوب مرفوعا) ددې حديث نه مقصود هم ترغيب في الاستغفار دې وفي حديث آخر کلکم خطاؤن و خير الخطائين التوابون.

عن الاغر المزني رضي الله عنه قال قال رسول الله (صلى الله عليه وسلم) انه ليغان على قلبي واني لاستغفر الله في كل يوم مائة مرة، قلت والحديث اخرجه ايضا مسلم وروى مسلم عن بن عمر ان رسول الله (صلى الله عليه وسلم) قال يا ايها الناس توبوا الى الله فاني اتوب اليه في يوم مائة مرة.

[۱۵۱۵](¹)حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، وَمُسَدَّدٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، عَنِ الْأَغَرِّ الْمُزَنِيِّ، قَالَ مُسَدَّدٌ فِي حَدِيثِهِ، وَكَانَتْ لَهُ صُحْبَةٌ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّهُ لَيُغَانُ عَلَى قَلْبِي وَإِنِّي لَأَسْتَغْفِرُ اللَّهَ فِي كُلِّ يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ".

د حضرت اغر مزني رضي الله عنه نه مروي دي ... د مسدد په روايت کښې دي چه دوی ته شرف صحبت حاصل وو ... چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: "زما په زړهٔ باندې هم پرده غوندې راځي او زهٔ د الله هره ورځ سل ځله استغفار کووم."

شرح حديث:

انه ليغان على قلبي، غين بمعنى غيم (وريځ) زما زړهٔ خيرن کيږي، يعنى بعضې حاجات و ضروريات بشريه کښې مشغول کيدلو د وجې نه، او يا توجه الى الخلق او په مصالح امت کښې مشغول کيدلو د وجې نه زما د زړهٔ دا حالت شي (کوم چه په حديث کښې ذکر دې) حالانکه په دې دواړو کښې د اول خو کم ازکم مباح درجه ده، او ثاني خو عين عبادت دې، ليکن ظاهره خبره ده، چه د توجه الى الحق جل وعلا په مقابله کښې د توجه الى الخلق درجه

¹): صحيح مسلم/للذكر والدعاء ۱۲ (۲۷۰۲)، سنن النسائي/ في اليوم والليلة (٤٤٢)، (تحفة الأشراف:۲۱٦۲)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢١١/٤، ٢٦٠، ٤١١/٥) (صحيح)

کمه ده، اګرچه هغه هم اوچت عبادت دې، بلکه د نبی کریم (ﷺ) فرض منصبی دې.
ما د حضرت شیخ نه اوریدلې دی، چه حضرت مولانا محمد الیاس صاحب نورالله مرقده به فرمائیل، چه عوامو او هرقسم خلقو سره ملاویدلو او خبرو اترو کولو کښې ډیر زیات وخت لګی، چه هغې سره بعضې وخت کښې په زړهٔ کښې یو قسم تنګی او دروندوالې محسوسیږی، چه بیا روستو په ذکر او مراقبې سره لرې شی، او ظاهره خبره ده، چه څومره زړهٔ او باطن صاف او شفاف وی، هغومره زر به په هغې باندې د دوړې اثر ښکاره کیږی، څومره چه کپړه سپینه او صفا وی، هغومره په هغې باندې خیرن والې ښکاره کیږی، او د حضور (ﷺ) د باطن د صفایئ به څه وائې.
په بذل کښې د حضرت ګنګوهی رحمه الله د تقریر نه نقل کړې دی، و کان ترقیه کل لحظة یریه ان السابق منه کان معصیة و منقصة، یعنی حضور اکرم (ﷺ) هر وخت او هر ساعت په باطنی او روحانی ترقۍ باندې وو، (کما قال الله تعالی و للآخرة خیر لک من الاولی) نو ددې ترقۍ د وجې نه به چه هغوی کومې درجې ته اورسیدل، نو دهغې نه لاندې درجې تصور به چه کله هغوی ته راتلو، نو هغه به ئې په خپل حق کښې تقصیر ګڼړلو، او په هغې باندې به ئې استغفار فرمائیلو، او په عون المعبود کښې دی، علامه سیوطی رحمه الله فرمائې چه دا حدیث د هغې متشابهاتو نه دې، چه دهغې معنی معلومه نه ده، او اصمعی امام لغت ددې حدیث په تفسیر باندې اودریدو، او وې فرمائیل، چه که ددې تعلق د حضور (ﷺ) د زړه نه علاوه د بل چا زړه سره وو، نو ما به په دې باندې کلام کړې وو، علامه سندهی رحمه الله هم دا لیکلې دی، چه د حضور (ﷺ) د قلب اطهر په وجه ددې کلام حقیقت معلوم نه دې، د حضور (ﷺ) مرتبې پورې د چا وهم او ګمان رسیدلې شی، بس دومره وئیلې شی، چه هغوی ته به څه داسې حالت پیښیدو، چه استغفار طرف ته به داعی وو، چه په هغې باندې به هغوی هره ورځ استغفار کولو، نو بیا د نورو خلقو څه حال پکاردې، والله تعالی اعلم.

[١٥١٦]() حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ مَالِكِ بْنِ مِغْوَلٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سُوقَةَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "إِنْ كُنَّا لَنَعُدُّ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَجْلِسِ الْوَاحِدِ مِائَةَ مَرَّةٍ رَبِّ اغْفِرْ لِي وَتُبْ عَلَيَّ إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ".

حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنهما بیان کوی بې شکه مونږ به شمیر کولو چه رسول الله ﷺ به په یو یو مجلس کښې سل ځله دا کلمات فرمائیل: (رَبِّ اغْفِرْ لِي وَتُبْ عَلَيَّ إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ) " اې زما ربه ! مالره اوبخښې او (په خپل رحمت سره) زما طرف ته رجوع اوفرمائې. بې شکه تهٔ ډیرلو نه زیات رجوع فرمائیلو والا او رحم کوونکې ئې ".
عن ابن عمر رضی الله عنهما قال ان کنا لنعد لرسول الله (صلی الله علیه وسلم) فی المجلس الواحد مائة مرة رب اغفرلی و تب علی انک انت التواب الرحیم.
په یو مجلس کښې به مونږ د حضور (ﷺ) استغفار سل کرته شمارلو، په دې کښې د کثرت

[1]): سنن الترمذي/الدعوات ٣٩ (٣٤٣٤)، سنن النسائي/ اليوم والليلة (٤٥٨)، سنن ابن ماجه/الأدب ٥٧ (٣٨١٤)، (تحفة الأشراف:٨٤٢٢) وقد أخرجه: مسند احمد (٢١/٢) (صحيح)

استغفار ترغیب دې، چه هرکله نبی کریم (ﷺ) معصوم وو، او دهغې باوجود به هغوی دومره په کثرت سره استغفار فرمائیلو، نو زمونږ خه حال کیدل پکار دی، د استغفار دا کثرت به هغوی د تعلیم امت دپاره، او د فسبح بحمد ربک واستغفره د امتثال دپاره فرمائیلو، ددې حدیث نه دا هم مستفاد کیږی، چه نبی کریم (ﷺ) به استغفار احیانا آواز سره هم لوستلو، ځکه خو نورو خلقو شمارلو.

ما د خپل یو پخوانې استاذ نه اوریدلې دی، چه زۀ ګنګوه کښې د حضرت ګنګوهی رحمه الله په خدمت کښې دهغوی د وصال نه څو میاشتې مخکښې حاضر شوم، نو هغه وخت ما اولیدل، چه ګنګوهی صیب په خانقاه شریف کښې په کټ کښې تشریف فرما وو، او بالجهر ئې استغفار لوستلو، دا واقعه ما د عبرت دپاره لیکلې ده، چه اوګورئ، اول خو خپله سرور کائنات (ﷺ) د استغفار څومره اهتمام فرمائې، او بیا دغه شان زمونږ اکابر، بلکه د اکابرو اکابر، والله الموفق لما یحب و یرضی، باقی د استغفار معنی معافی غوښتل دی، لکه چه یو مجرم د حاکم مخکښې حاضر شی، او د خپل جرم اعتراف کولو نه پس معافی غواړی، او که په استغفار کښې دا حالت نه وی، صرف زبانی وی، نو بیا دا استغفار په خپله ګناه ده، چه دهغې دپاره د یو بل استغفار ضرورت دې، لکه رابعه بصریه فرمائې: استغفارنا یحتاج الی استغفارات کثیرة (الحصن الحصین)

[١٥١٧](١)حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ عُمَرَ بْنِ مُرَّةَ الشَّنِّيُّ، حَدَّثَنِي أَبِي عُمَرُ بْنُ مُرَّةَ، قَالَ: سَمِعْتُ بِلَالَ بْنَ يَسَارِ بْنِ زَيْدٍ مَوْلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبِي يُحَدِّثُنِيهِ، عَنْ جَدِّي، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَنْ قَالَ: أَسْتَغْفِرُ اللَّهَ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ، غُفِرَ لَهُ وَإِنْ كَانَ قَدْ فَرَّ مِنَ الزَّحْفِ".

حضرت زید رضی الله عنه (ازاد کرده غلام د نبی کریم ﷺ) د نبی کریم ﷺ نه اوریدلې دی: کوم کس چه دا وائی {أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ الَّذِي لَا إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ} نو هغه ته بخشش کولې شی اګر کۀ هغه د جهاد نه تښتیدلې هم وی."

[١٥١٨](٢)حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عَمَّارٍ، حَدَّثَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، حَدَّثَنَا الْحَكَمُ بْنُ مُصْعَبٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَلِيِّ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ حَدَّثَهُ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّهُ حَدَّثَهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ لَزِمَ الِاسْتِغْفَارَ، جَعَلَ اللَّهُ لَهُ مِنْ كُلِّ ضِيقٍ مَخْرَجًا، وَمِنْ كُلِّ هَمٍّ فَرَجًا، وَرَزَقَهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ".

حضرت ابن عباس رضی الله عنهما بیان کوی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل "چاچه د استغفار التزام اوکړو، الله تعالیٰ به د هغه د پاره د هرې تنګئ نه د وتلو لاره او د هر غم نه د راحت سامان پیدا کړی. او دداسې داسې مقاماتو نه به رزق مهیا کوی چه هغه به ددۀ په وهم او ګمان کښې هم نۀ وی.

(١): سنن الترمذي/الدعوات ١١٨ (٣٥٧٧)، (تحفة الأشراف:٣٧٨٥) (صحيح)
(٢): سنن النسائي/اليوم والليلة (٤٥٦)، سنن ابن ماجه/الأدب ٥٧ (٣٨١٩)، (تحفة الأشراف:٦٢٨٨)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٤٨/١) (ضعيف)

[۱۵۱۹] (¹) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ. ح حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ الْمَعْنَى، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ، قَالَ: سَأَلَ قَتَادَةُ أَنَسًا: أَيُّ دَعْوَةٍ كَانَ يَدْعُو بِهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكْثَرَ؟ قَالَ: "كَانَ أَكْثَرُ دَعْوَةٍ يَدْعُو بِهَا: اللَّهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ". وَزَادَ زِيَادٌ: وَكَانَ أَنَسٌ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَدْعُوَ بِدَعْوَةٍ دَعَا بِهَا، وَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَدْعُوَ بِدُعَاءٍ دَعَا بِهَا فِيهَا.

عبد العزيز بن صهيب بیان کوی چه حضرت قتاده د حضرت انس رضی الله عنه نه تپوس اوکړو چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم به کومه دعا زیاته کووله؟ هغوی اوفرمائیل هغوی صلی الله علیه وسلم به اکثر دا دعا زیاته کووله: { اللَّهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ } ؛اې الله ! اې زمونږه ربه! مونږته په دنیا کښې هر قسم خیر عنایت اوفرمائي او په آخرت کښې هم جمله حسنات مونږ ته عنایت اوفرمائي، او د اور د عذاب نه مو محفوظ کړې . زیاد مزید وئیلي دی چه حضرت انس رضی الله عنه به کله څۀ دُعا کول غوښتل نو هم په دې الفاظو سره به ئې دُعا کووله او کله چه به ئې څۀ (خاص) دُعا کووله نو په هغې کښې به ئې دا هم شاملوله .

سال قتادة انسا ای دعوة کان یدعو بها النبی (صلی الله علیه وسلم) اکثر: د حضرت انس رضی الله عنه نه سوال اوکړې شو ، چه حضور اکرم (صلی الله علیه وسلم) به کومه دعا په کثرت سره غوختله، نو هغوی جواب ورکړو، چه زیات تر به هغوی دا دعا غوختله: اللهم آتنا فی الدنیا حسنة و فی الآخرة حسنة و قنا عذاب النار، زیاد راوی وائی، چه د حضرت انس رضی الله عنه معمول دا وو، چه که هغه به مختصر شان صرف یوه دعا غوختله، نو په دې دعاء باندې به ئې اکتفاء کوله، او که ډیر دعاګانې به ئې غوختلې، نو نورو دعاګانو سره به هغوی دا دعاء هم ضرور لوستله، دا دعاء ډیره جامع ده، حضرت امام بخاری رحمه الله په دې دعاء باندې مستقل باب قائم کړې دې، باب قول النبی (صلی الله علیه وسلم) ربنا آتنا فی الدنیا حسنة، دا مخکښې تیر شوې دی، چه د قرآن مجید په دعاګانو کښې د ټولو نه زیاته جامع دعا هم داده، او د حدیث په دعاګانو کښې د ټولو نه جامع دعاء هغه ده، چه د حضرت ابوامامه رضی الله عنه نه مروی ده، چه دلته په باب الدعاء کښې تیره شوې ده، د حسنة په تفسیر کښې ډیر اقوال دی، د تفسیر په کتاب کښې کتل پکار دی.

[۱۵۲۰] (²) حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ خَالِدٍ الرَّمْلِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ شُرَيْحٍ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ بْنِ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ سَأَلَ اللَّهَ الشَّهَادَةَ صَادِقًا بَلَّغَهُ اللَّهُ مَنَازِلَ الشُّهَدَاءِ وَإِنْ مَاتَ عَلَى فِرَاشِهِ".

ابوامامه بن سهل بن حنیف د خپل پلار نه روایت کوی هغه فرمائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل : کوم شخص چه په رښتونی زړۀ سره د شهادت سوال اوکړو الله تعالیٰ به هغۀ لره د شهادت منازلو ته رسوی اګر کۀ هغۀ ته په خپله بستره باندې مرګ راشی .

¹): صحیح مسلم/الذکر والدعاء ۷ (۲۶۹۰)، سنن النسائي/عمل الیوم واللیلة ۳۰۷ (۱۰۵۶)، (تحفة الأشراف:۹۹۶، ۱۰۴۲)، وقد أخرجه: صحیح البخاري/تفسیر البقرة ۳۶ (۴۵۲۲)، والدعوات ۵۵ (۶۳۸۹)، مسند احمد (۱۰۱/۳) (صحیح)

²): صحیح مسلم/الإمارة ۴۶ (۱۹۰۹)، سنن الترمذي/الجهاد (۱۶۵۳)، سنن النسائي/الجهاد ۳۶ (۳۱۶۲)، سنن ابن ماجه/الجهاد ۱۵ (۲۷۹۷)، (تحفة الأشراف:۴۶۵۵)، وقد أخرجه: سنن الدارمي/الجهاد ۱۶ (۲۴۵۱) (صحیح)

[۱۵۲۱]()حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ الْمُغِيرَةِ الثَّقَفِيِّ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ رَبِيعَةَ الْأَسَدِيِّ، عَنْ أَسْمَاءَ بْنِ الْحَكَمِ الْفَزَارِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ عَلِيًّا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: كُنْتُ رَجُلًا إِذَا سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثًا نَفَعَنِي اللَّهُ مِنْهُ بِمَا شَاءَ أَنْ يَنْفَعَنِي، وَإِذَا حَدَّثَنِي أَحَدٌ مِنْ أَصْحَابِهِ اسْتَحْلَفْتُهُ، فَإِذَا حَلَفَ لِي صَدَّقْتُهُ، قَالَ: وَحَدَّثَنِي أَبُو بَكْرٍ، وَصَدَقَ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَا مِنْ عَبْدٍ يُذْنِبُ ذَنْبًا فَيُحْسِنُ الطُّهُورَ، ثُمَّ يَقُومُ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ يَسْتَغْفِرُ اللَّهَ إِلَّا غَفَرَ اللَّهُ لَهُ، ثُمَّ قَرَأَ هَذِهِ الْآيَةَ: وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللَّهَ سورة آل عمران آیه ۱۳۵ إِلَى آخِرِ الْآيَةِ".

سیدنا علی رضی الله عنه بیان کوي چه زهٔ داسې کس ووم چه کله به ما د نبی کریم ﷺ نه حدیث واورېدو نو الله تعالیٰ به چه د هغې نه څه غوښتل فائده به ئې ترینه راکوله. او کله چه به یو بل صحابی رضی الله عنه حدیث بیانولو، نو ما به د هغه نه قسم اخستلو او کله چه به هغه قسم اوخوړو نو ما به د هغه تصدیق کولو. فرمائی چه ما ته حضرت ابوبکر رضی الله عنه حدیث بیان کړو او هغوی رښتیا اووې، هغوی اوفرمائیل. چه ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل هغوی ﷺ فرمائیل: هیڅ یو بنده داسې نشته دې چه هغه څهٔ ګناه اوکړي، بیا اودس اوکړي په ښهٔ شان سره، بیا اودرېږي او دوه رکعته مونځ اوکړي او د الله تعالیٰ نه استغفار اوکړي، مګر الله تعالیٰ هغه لره معاف کوی. بیا حضور ﷺ دا آیت تلاوت اوفرمائیلو. {وَالَّذِينَ إِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً أَوْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ}[إِلَى آخِرِ الْآيَةِ]آل عمران :۱۳۵[-]" متقیان هغه خلق دی کهٔ چرې کله د څهٔ بې حیائۍ کار اوکړي یا په خپلو ځانونو باندې څهٔ ظلم اوکړي، نو الله لره یاده وی او د خپلو ګناهونو معافی غواړي. او د الله تعالیٰ نه سوا بل څوک دې چه هغه معافی اوکړي. او دا خلق سره د پوهې نه په قصد باندې دا نهٔ کوی او نهٔ اصرار کوی. "

عن اسماء بن الحکم قال سمعت علیا رضی الله عنه.........و حدثنی ابوبکر و صدق ابوبکر:

یعنی ماته دهغه د صدق پوره اعتقاد دې، (ددې وجې نه دهغه نه قسم نه شو اخستلې)

صلوة التوبه او صلوة الحاجة :

په دې حدیث باندې امام ترمذی ترجمه قائمه کړې ده، "باب الصلوة عند التوبة" او فرمائیلې دی، هذا حدیث حسن لا نعرفه الا من هذا الوجه. ۱ هـ.

هم دغه شان امام ترمذی یو بل باب قائم کړې دې، باب ما جاء فی صلوة الحاجة، او په هغې کښې امام ترمذی د حضرت عبدالله بن ابی اوفی رضی الله عنه حدیث ذکر کړې دې، په هغې کښې دادی، چه حضور (ﷺ) ارشاد اوفرمائیلو کوم سړي ته چه څه خاص حاجت وی، الله تعالی طرف ته، یا د هغه یوبنده طرف ته، نو هغه لره پکار دی، چه په ښه شان سره اودس اوکړی، بیا دوه رکعته مونځ اوکړی، دهغې نه پس د الله تعالی حمد او ثنا او درود شریف اولولی، او بیا دا دعا اولولی، لااله الا الله الحلیم الکریم سبحان الله رب العرش العظیم والحمد لله رب العالمین، اسالک موجبات رحمتک و عزائم مغفرتک والغنیمة من کل بر والسلام من کل اثم لا تدع لی ذنبا الا غفرته ولا هما الا فرجته ولا حاجة هی لک رضی الا قضیتها یا ارحم الراحمین.

[1]): سنن الترمذي/الصلاة ۱۸۲ (۴۰۶)، وتفسیر آل عمران ۴ (۳۰۰۶)، سنن النسائي/الیوم واللیلة (۴۱۴، ۴۱۵، ۴۱۶)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ۱۹۳ (۱۳۹۵)، (تحفة الأشراف: ۶۶۱۰)، وقد أخرجه: مسند أحمد (۱/۲، ۸، ۹، ۱۰) (صحیح)

[١٥٢٢]()حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ بْنِ مَيْسَرَةَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَزِيدَ الْمُقْرِءُ، حَدَّثَنَا حَيْوَةُ بْنُ شُرَيْحٍ، قَالَ: سَمِعْتُ عُقْبَةَ بْنَ مُسْلِمٍ، يَقُولُ: حَدَّثَنِي أَبُو عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحُبُلِيُّ، عَنِ الصُّنَابِحِيِّ، عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخَذَ بِيَدِهِ، وَقَالَ: "يَا مُعَاذُ، وَاللَّهِ إِنِّي لَأُحِبُّكَ، وَاللَّهِ إِنِّي لَأُحِبُّكَ، فَقَالَ: أُوصِيكَ يَا مُعَاذُ لَا تَدَعَنَّ فِي دُبُرِ كُلِّ صَلَاةٍ تَقُولُ: اللَّهُمَّ أَعِنِّي عَلَى ذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ"، وَأَوْصَى بِذَلِكَ مُعَاذٌ الصُّنَابِحِيَّ، وَأَوْصَى بِهِ الصُّنَابِحِيُّ أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ.

د حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه نه منقول دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ددوی لاس اونیولو اووې فرمائیل: اې معاذ! قسم په الله باندې! زما تاسره محبت دې " بیا ئې اوفرمائیل: اې معاذ! زۀ تاته وصیت کووم چه د هیڅ یو مونځ نه پس دا دُعا ترک نۀ کړې: {اللَّهُمَّ أَعِنِّي عَلَى ذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ}" اې الله په خپل ذکر کولو، شکر ادا کولو او په بهترین انداز کښې د عبادت کولو زما مدد اوکړې. چنانچه حضرت معاذ رضی الله عنه دا وصیت (خپل شاګرد) صنابحی ته اوکړو اوبیا صنابحی داوصیت (خپل شاګرد) ابوعبد الرحمن ته اوکړو.

تشریح: قوله: عن الصنابحي عن معاذ بن جبل ان رسول الله (صلی الله علیه وسلم) اخذ بیده وقال یا معاذ والله انی لاحبک........واوصی بذلک معاذ الصنابحي،

په منهل کښې لیکلي دی، چه په دې آخری جمله کښې اشاره ده دې طرف ته، چه دا حدیث مسلسل دې،[١] ه.، زۀ وایم، صرف دې سره خو تسلسل نه ثابتیږی، اګر چه دا صحیح ده، چه دا حدیث د خپلو بعضو طرقو په اعتبار سره مسلسل دې.

الحدیث المسلسل او دهغې تعریف:

حضرت شاه ولی الله محدث دهلوی رحمه الله دې حدیث لره په خپله رساله "الفضل المبین فی المسلسل من حدیث النبی الامین" کښې ذکر فرمائیلې دې، او په دې حدیث کښې تسلسل په دې خبره کښې دې، چه څرنګه حضور (صلی الله علیه وسلم) دا حدیث حضرت معاذ رضی الله عنه ته انا احبک فقل فرمائیلو سره واؤرولو، دغه شان حضرت معاذ رضی الله عنه خپل شاګر صنابحی (عبد الرحمن بن عیله) ته دا حدیث انا احبک فقل سره واؤرولو، او بیا دغه شان صنابحی خپل شاګرد ته دا حدیث هم په دې جملې (انا احبک فقل) سره واؤرولو، وهکذا الی آخره، تردې پورې چه حضرت شاه ولی الله رحمه الله ته خپل استاذ شیخ ابوطاهر مدنی دا حدیث دغه شان واؤرولو، بیا د شاه صاحب نه لاندې هم دا سلسله دغه شان روانه وه، حتی چه مونږ هم د خپل استاذ شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد زکریا کاندهلوی قدس سره نه دا حدیث په سنه ١٣٧٩ھ کښې، چه زما د مشکوة کال وو، دغه شان واؤریدو.

احادیث مسلسل په کثرت سره دی، او بعضې په هغې کښې داسې دی، چه دهغې تسلسل ناقص دې، په مینځ کښې منقطع شوې دې، لکه الحدیث المسلسل بالاولیة چه دهغې تسلسل په سفیان بن عیینه باندې نه دې، دهغې نه مخکښې صحابی پورې نشته، او دا هم ضروری

---

[١]: سنن النسائي/السهو ٦٠ (١٣٠٤)، وعمل اليوم والليلة ٤٦ (١٠٩)، (تحفة الأشراف:١١٣٣٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢٤٤/٥، ٢٤٥، ٢٤٧) (صحيح)

ده، چه یو حدیث د یو شیخ د سند په اعتبار سره مسلسل وی، هغه به د نورو اسانیدو په اعتبار سره هم مسلسل وی، پس دا حدیث دمعاذ د ابوداؤد دسند په اعتبار سره مسلسل نه دي.
او حدیث مسلسل هغه دي، چه دهغې د سند ټول رواة په یو خاص صفت کښې مشترک وی، یا چه د سند ټولو راویانو د یو خاص څیز التزام کړې وی، دهغې خاص صفت تعلق که د الفاظو اداء سره وی، لکه هر راوی د روایت په وخت کښې داسې اوائی، حدثنی فلان قال سمعت فلانا، د ابتداء سند نه آخره پورې، یا د راوی څه حالت سره دهغې تعلق وی، که هغه حالت قولی وی یا فعلی وی، د اول مثال حدیث الباب دې، او د ثانی مثال لکه قبض لحیه د حضرت انس رضي الله عنه په حدیث کښې دی، چه یو ځل حضور (ﷺ) د تقدیر باره کښې اوفرمائیل، چه بغیر ددې نه د ایمان حلاوت نه نصیب کیږی، لایجد العبد حلاوة الایمان حتی یومن بالقدر خیره شره حلوه و مره قال انس و قبض رسول الله (صلی الله علیه وسلم) علی لحیته وقال آمنت بالقدر، او هغه وخت نبی کریم (ﷺ) خپله ږیره مبارکه په موټی کښې راؤنیوله او وې فرمائیل، آمنت بالقدر، او بیا هر راوی دا حدیث خپل شاګرد ته دغسې واؤرولو اوریدلې مې دی، چه احادیث مسلسل اکثر ضعیف دی، او په هغې احادیثو کښې صحیح ترین حدیث المسلسل بقراءة سورة الصف دې، (قاله الحافظ)

[۱۵۲۳](۱)حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ سَلَمَةَ الْمُرَادِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنْ اللَّيْثِ بْنِ سَعْدٍ، أَنَّ حُنَيْنَ بْنَ أَبِي حَكِيمٍ حَدَّثَهُ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ رَبَاحٍ اللَّخْمِيِّ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، قَالَ: "أَمَرَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَقْرَأَ بِالْمُعَوِّذَاتِ دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ".

د حضرت عقبه بن عامر رضي الله عنه نه روایت دې هغوی فرمائی چه رسول الله ﷺ ماته حکم فرمائیلې وو چه د هر مانځه نه پس معوذات لوله.

[۱۵۲۴](۲)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَلِيِّ بْنِ سُوَيْدٍ السَّدُوسِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "كَانَ يُعْجِبُهُ أَنْ يَدْعُوَ ثَلَاثًا، وَيَسْتَغْفِرَ ثَلَاثًا".

حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه بیان کوی چه رسول الله ﷺ ته دا خبره خوښه وه چه د دعا کلمات درې درې واره اولوستلې شی او درې ځله استغفار اوکړې شی.

په دعاء کښې د تکرار استحباب:

عن عبدالله ان رسول الله (صلی الله علیه وسلم) کان یعجبه ان یدعو ثلاثا و یستغفر ثلثا، نبی کریم (ﷺ) ته دا خبره خوښه وه، چه هره دعا درې کرته اوغوختلې شی، ځکه چه په دې کښې د کمال احتیاج اظهار دې، او دا څیز په اهتمام باندې دلالت کوی، او د شان عبدیت سره ډیر مناسب دې، امام بخاری رحمه الله په دې باندې مستقل باب قائم کړې دې، باب تکرار الدعاء، او

(۱): سنن الترمذي/فضائل القرآن ۱۲ (۲۹۰۳)، سنن النسائي/السهو ۸۰ (۱۳۳۷)، (تحفة الأشراف: ۹۹۴۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (۴/۱۵۵، ۲۰۱) (صحيح)

(۲): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ۹۴۸۵)، وقد أخرجه: سنن النسائي/اليوم والليلة (۴۵۷)، مسند احمد (۱/۳۹۴، ۳۹۷)، (ضعيف)

په هغې کښې هغوی هغه حديث ذکر کړې دې، چه په هغې کښې په حضور (ﷺ) باندې د سحر کولو ذکر دې، (او نبی کريم (ﷺ) دهغې نه خبر کړې شوې هم دې) نو نبی کريم (ﷺ) دهغې د ازالې دپاره الله تعالى نه بار بار دعا غوختلې وه، (او ظاهري تدبير ئې هم فرمائيلې وو، چه د بخاري شريف په هم دغه باب کښې ذکر دې، او په هغې تدبير کښې ئې هم الله تعالى سره کامله رابطه وه) او هغوی ته الله تعالى شفاء عطاء اوفرمائيله، عن ابی موسى الاشعری رضي الله عنه قال كنت مع رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فى سفر فلما دنونا من المدينة كبر الناس ورفعوا اصواتهم:

نبی کريم (ﷺ) هغوی د ذکر بالجهر نه منع کړل، غالبا هغوی مبالغه فی الجهر کړې وه، ددې وجې نه نبی کريم (ﷺ) منع کړل، ګنی نفس جهر خو مشروع دې، لکه تلاوت قرآن بالجهر بالاجماع مشروع دې، دغه شان آمين او دعاء بالجهر هم، ليکن د جهر او سر خپلې مواقع وی، نه هر وخت کښې جهر اولی دې، او نه هر وخت کښې سر اولی دې، کله هغه او کله دا اولې دې، اوس په لاره کښې هغوی ذکر جهری شروع کړو، نبی کريم (ﷺ) هغوی دهغې نه منع کړل.

[١٥٢٥] (١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ دَاوُدَ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ هِلَالٍ، عَنْ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ، عَنِ ابْنِ جَعْفَرٍ، عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ عُمَيْسٍ، قَالَتْ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَلَا أُعَلِّمُكِ كَلِمَاتٍ تَقُولِينَهُنَّ عِنْدَ الْكَرْبِ، أَوْ فِي الْكَرْبِ: اللَّهُ، اللَّهُ رَبِّي لَا أُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا". قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا هِلَالٌ مَوْلَى عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ، وَابْنُ جَعْفَرٍ هُوَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ جَعْفَرٍ.

حضرت اسماء بنت عميس رضي الله عنها بيان کوی چه رسول الله ﷺ ماته اوفرمائيل: ايا زهٔ تاسو ته داسې کلمات اونهٔ ښايم کوم چه تهٔ دَ پريشانئ په حالت کښې لولې ... يعنی (اللهُ اللهُ رَبِّي لَا أُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا)" الله الله هم زما رب دې زهٔ دَ هغه سره هيڅ څيز شريک نهٔ جوړوم. امام ابوداود رحمه الله فرمائی چه دَ حديث راوی هلال، دا دَ عمر بن عبد العزيز مولىٰ (آزاد کرده غلام) دې او دَ ابن جعفر نه مراد عبد الله بن جعفر دې.

[١٥٢٦] (٢) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، عَنْ ثَابِتٍ، وَعَلِيِّ بْنِ زَيْدٍ، وَسَعِيدٍ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ، أَنَّ أَبَا مُوسَى الْأَشْعَرِيَّ، قَالَ: كُنْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ، فَلَمَّا دَنَوْا مِنَ الْمَدِينَةِ كَبَّرَ النَّاسُ وَرَفَعُوا أَصْوَاتَهُمْ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّكُمْ لَا تَدْعُونَ أَصَمَّ وَلَا غَائِبًا، إِنَّ الَّذِي تَدْعُونَهُ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ أَعْنَاقِ رِكَابِكُمْ"، ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا أَبَا مُوسَى، أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى كَنْزٍ مِنْ كُنُوزِ الْجَنَّةِ؟" فَقُلْتُ: وَمَا هُوَ؟ قَالَ: "لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ".

[١]): سنن النسائي/ اليوم والليلة (٦٤٧، ٦٤٩، ٦٥٠)، سنن ابن ماجه/الدعاء ١٧ (٣٨٨٢)، (تحفة الأشراف:١٥٧٥٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/ ٣٦٩) (صحيح) (الصحيحة ٢٧٥٥ وتراجع الألباني ١١٩)

[٢]): صحيح البخاري/الجهاد ١٣١ (٢٩٩٢)، والمغازي ٣٨ (٤٢٠٥)، والدعوات ٥٠ (٦٣٨٤)، ٦٦ (٦٤٠٩)، والقدر ٧ (٦٦١٠)، والتوحيد ٩ (٧٣٨٦)، صحيح مسلم/الذكر والدعاء ١٣ (٢٧٠٤)، سنن الترمذي/الدعوات ٣ (٣٣٧٤)، ٥٨ (٣٤٦١)، سنن النسائي/اليوم والليلة (٥٣٦، ٥٣٧، ٥٣٨)، سنن ابن ماجه/الأدب ٥٩ (٣٨٢٤)، (تحفة الأشراف:٩٠١٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤/٣٩٤، ٣٩٩، ٤٠٠، ٤٠٢، ٤٠٧، ٤١٧، ٤١٨) (صحيح)

حضرت ابو موسیٰ اشعري ﷺ بیان کوی چه زهٔ په یو سفر کښې د رسول الله ﷺ سره وم کله چه مونږ مدینې ته نزدې اورسیدو نو خلقو الله اکبر الله اکبر وئیل شروع کړل او خپل آوازونه ئې بلند کړل، نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل : اې خلقو ! تاسو چا کونړ یا غائب ته آواز نهٔ کوئ، بې شکه چا ته چه تاسو آواز کوئ هغه ستاسو او ستاسو د سورلو د گردنونو په درمیان کښې دې (یعنې انتهائی قریب دې، لهذا د چغې وهلو ضرورت نشته دې) ابو موسیٰ ! آیا زهٔ تاسو ته د جنت یوه خزانه اونهٔ ښایم؟ ما عرض اوکړو هغه څهٔ دی؟ وې فرمائیل : [لا حول ولا قوة الا بالله] د څهٔ بدئ نه بچ کیدل او لرې کیدل او د خیر همت بیا موندل د الله نه بغیر ممکن نهٔ دی .

او دا نهی، نهی ارشاد او شفقت ده، لکه په ورپسې روایت کښې راروان دی، یاایها الناس اربعوا علی انفسکم چه په خپل حال باندې رحم اوکړئ، یعنی دومره مشقت ولې اوچتوئ، یوخو د سفر اومسافت قطع کولو مشقت دې،اودویم د ذکر بالجهر مشقت دې.

د ذکر بالجهر ثبوت:

ددې کتاب په کتاب الجنائز باب الدفن باللیل کښې یو حدیث راروان دې، د حضرت جابر بن عبدالله نه روایت دې، چه دهغې مضمون دادې، چه حضور (ﷺ) د مدینې په قبرستان کښې د یو سړی دفن کولو دپاره خپله بنفس نفیس قبر ته کوز شو، مخکښې په روایت کښې دی، راوی وائی، چه مونږ اولیدل چه دا هغه سړې وو(د چا په قبر کښې چه حضور (ﷺ) کوز شوې وو) چه ذکر بالجهر ئې کولو، فاذا هو الرجل الذی کان یرفع صوته بالذکر (بذل ج۴ص۱۹۷)

ددې زمانې معتدل اهل حدیث هم په ذکر جهری باندې نکیر نه کوی، بلکه تحریک رأس عند الذکر باندې نکیر کوی، لیکن دې غریبانانو ته څه خبر دې، په اصل کښې ددې تعلق تجربې سره دې،اودا دعلاج په طور باندې دې،د ذکر تاثیر زیاتولو دپاره، او د صوفیانو سره ددې ماخذ د حدیث نه هم شته، آیا په تشهد کښې د کلمة التوحید په وخت کښې اشاره بالمسبحه مشروع نه ده، خصوصا د مالکیه په نزد خو په دې اشاره کښې تحریک اصبع یمینا و شمالا (یعنی په گوتو سره ښی اوگس طرف ته اشاره کول) هم مستحب دې.

ان الذی تدعونه بینکم و بین اعناق رکابکم: څوک چه تاسو رابلئ، هغه ستاسو او ستاسو د سورلو د څټونو په مینځ کښې دې.

شرح حدیث :

دا کنایه ده د غایت قرب نه، لیکن د قرب او بعد تعلق چونکه دمکان او جهت په اعتبار سره وی، او الله تعالی د مکان نه منزه دې، ددې وجې نه دا قرب په اعتبار د علم د الله تعالی سره دې، نه په اعتبار د ذات د الله تعالی سره، پس حاصل دا شو، چه الله تعالی ستاسو نه او ستاسو د احوالو نه دومره واقف او خبر دې، څرنگه چه داقرب ترین څیز نه څوک واقفیت وی.

ثم قال رسول الله (صلی الله علیه وسلم) یا ابا موسی الا ادلک علی کنز من کنوز الجنة فقلت و ما هو قال لا حول ولا قوة الا بالله: والحدیث اخرجه البخاری والترمذی ایضا، د کنز نه مراد داسې

عمل دي، چه د هغې په ذريعې سره په جنت کښې ثواب عظيم حاصل شي، د ثواب عظيم تشبيه خزانې سره ورکړې شو، ابن بطال ددې حديث په شرح کښې فرمائي: نبی کريم (ﷺ) خپل امت لره د بهتر نه بهتر حالت کښې ليدل غوختل، چه کله نبی کريم (ﷺ) اوليدل، چه دا خلق کلمهٔ اخلاص په اوچت اواز سره لولي، او په نيکۍ کښې کوشش کوی، نو نبی کريم (ﷺ) هغوی ته نور هم ددې کلمې تلقين اوفرمايه، دې دپاره چه توحيد سره سره ايمان بالقدر هم تازه شي، (ځکه چه د لاحول الخ حاصل ايمان بالقدر دې) احقر وائی، او دا هم وئيلې شی، چه په لاحول کښې چونکه اعتراف دتوفيق دې، چه دا تولي نيکې د الله تعالی په مدد سره او دهغه په توفيق سره دی، نو دا اعتراف دهغې نعمت شکر شو، او په شکر سره نعمت کښې زياتوالې کيږی، او هغه د زوال نه هم محفوظ کيږی.

[١٥٢٧](١) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ التَّيْمِيُّ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ، عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ، أَنَّهُمْ كَانُوا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُمْ يَتَصَعَّدُونَ فِي ثَنِيَّةٍ، فَجَعَلَ رَجُلٌ كُلَّمَا عَلَا الثَّنِيَّةَ نَادَى لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ، فَقَالَ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّكُمْ لَا تُنَادُونَ أَصَمَّ وَلَا غَائِبًا"، ثُمَّ قَالَ: "يَا عَبْدَ اللَّهِ بْنَ قَيْسٍ" فَذَكَرَ مَعْنَاهُ.

د حضرت ابو موسیٰ اشعری رضي الله عنه نه روايت دې چه هغه خلق د نبی کريم ﷺ سره وو او په يو غونډۍ باندې ختل يو سړې چه به کله هم په غونډۍ باندې ختلو نو په ښهٔ اوچت آواز سره به ئې وئيل: [لا اله الا الله والله اکبر] نو نبي کريم ﷺ اوفرمائيل: تاسو کوڼ يا غاب ته آواز نهٔ کوئ." (هغه ذات سميع او قريب دې، د چغو وهلو ضرورت نشته دې) بيا ئې اوفرمائيل: اې عبد الله بن قيس!" (ابو موسیٰ اشعری) او دَ مذکوره حديث هم معنیٰ ئې ذکر اوکړو.

[١٥٢٨](٢) حَدَّثَنَا أَبُو صَالِحٍ مَحْبُوبُ بْنُ مُوسَى، أَخْبَرَنَا أَبُو إِسْحَاقَ الْفَزَارِيُّ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ، عَنْ أَبِي مُوسَى بِهَذَا الْحَدِيثِ، وَقَالَ فِيهِ: فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا أَيُّهَا النَّاسُ، ارْبَعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ".

ابو عثمان د حضرت ابو موسیٰ اشعری رضي الله عنه نه هم دا حديث روايت کړې دې او په دې کښې ئې وئيلي دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: اې خلقو! په خپلو ځانونو باندې رحم اوکړئ (چغې مهٔ وهئ).

[١٥٢٩](٣) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ، حَدَّثَنَا أَبُو الْحُسَيْنِ زَيْدُ بْنُ الْحُبَابِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ شُرَيْحٍ الْإِسْكَنْدَرَانِيُّ، حَدَّثَنِي أَبُو هَانِئٍ الْخَوْلَانِيُّ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا عَلِيٍّ الْجَنْبِيَّ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ قَالَ: رَضِيتُ بِاللَّهِ رَبًّا وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ".

دَ حضرت ابو سعيد خدری رضي الله عنه بيان دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: څوک چه دا کلمات اووائی {رَضِيت بِالله رِبًّاوَبِالإِسْلَام دِينا، وَبِمُحَمَّد ﷺ رَسُولاً} " زهٔ دَ الله په ربوبيت باندې، دَ اسلام په دين کيدو باندې او دَ محمد ﷺ په رسول کيدو باندې راضی يم." نو ددهٔ دَ پاره

---

(١): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف:٩٠١٧) (صحيح)

(٢): انظر حديث رقم: ١٥٢٦، (تحفة الأشراف:٩٠١٧) (صحيح)

(٣): تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف:٤٢٦٨)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الإمارة ٣١ (١٨٨٤)، سنن النسائي/الجهاد ١٨ (٣١٣٣) (صحيح)

جنت واجب شو .''

[۱۵۳۰]()حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ الْعَتَكِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ صَلَّى عَلَيَّ وَاحِدَةً صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ عَشْرًا".

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه بيان دي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : كوم يو كس چه په باندې يو ځل درود وائى، الله تعالىٰ په هغه باندې لس رحمتونه نازله وى .''

من صلى علي واحدة صلى الله عليه عشرا: دا حديث او ددې نه ورپسې حديث په كتاب الاذان باب ما يقول اذا سمع المؤذن كښې تير شوې دى،

[۱۵۳۱]()حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ عَلِيٍّ الْجُعْفِيُّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ بْنِ جَابِرٍ، عَنْ أَبِي الْأَشْعَثِ الصَّنْعَانِيِّ، عَنْ أَوْسِ بْنِ أَوْسٍ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ مِنْ أَفْضَلِ أَيَّامِكُمْ يَوْمَ الْجُمُعَةِ، فَأَكْثِرُوا عَلَيَّ مِنَ الصَّلَاةِ فِيهِ فَإِنَّ صَلَاتَكُمْ مَعْرُوضَةٌ عَلَيَّ"، قَالَ: فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَكَيْفَ تُعْرَضُ صَلَاتُنَا عَلَيْكَ وَقَدْ أَرِمْتَ، قَالَ: يَقُولُونَ: بَلِيتَ، قَالَ: "إِنَّ اللَّهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى حَرَّمَ عَلَى الْأَرْضِ أَجْسَادَ الْأَنْبِيَاءِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِمْ".

حضرت اوس بن اوس رضي الله عنه بيان كوى چه نبى كريم ﷺ اوفرمائيل : ستاسو په افضلو ورځو كښې دَ جمعې ورځ دَ فضيلت والا ده، لهذا په دغه ورځ كښې په ماباندې په كثرت سره درود وائئ . بې شكه ستاسو درود په ما باندې پيش كولې شى .'' صحابهٔ كرامو رضي الله عنهم اوفرمائيل : اې دَ الله رسوله ! زمونږ درود به په تاسو باندې څنګه پيش كولې شى حالانكه ستاسو جسم به (په قبر كښې) بوسيده شوې وى؟ وې فرمائيل : بې شكه الله تعالىٰ دَ انبياؤ جسم په زمكه باندې حرام كړې دى .''

بَابُ النَّهْيِ عَنْ أَنْ يَدْعُوَ الْإِنْسَانُ عَلَى أَهْلِهِ وَمَالِهِ

باب: ۲۷ - خپل مال او اولاد ته بد دُعا كول منع دى

[۱۵۳۲]()حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عَمَّارٍ، وَيَحْيَى بْنُ الْفَضْلِ، وَسُلَيْمَانُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالُوا: حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ مُجَاهِدٍ أَبُو حَزْرَةَ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الْوَلِيدِ بْنِ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَدْعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ، وَلَا تَدْعُوا عَلَى أَوْلَادِكُمْ، وَلَا تَدْعُوا عَلَى خَدَمِكُمْ، وَلَا تَدْعُوا عَلَى أَمْوَالِكُمْ، لَا تُوَافِقُوا مِنَ اللَّهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى سَاعَةَ نَيْلٍ فِيهَا عَطَاءٌ فَيَسْتَجِيبَ لَكُمْ". قَالَ أَبُو دَاوُد: هَذَا الْحَدِيثُ مُتَّصِلٌ، عُبَادَةُ بْنُ الْوَلِيدِ بْنِ عُبَادَةَ لَقِيَ جَابِرًا.

حضرت جابر بن عبد الله بيان كوى چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل : '' خپل ځان ته بد دُعا مهٔ كوئ، خپل اولاد ته بددُعا مهٔ كوئ، خپلو خادمانو ته بددُعا مهٔ كوئ، او خپل مال ته بد دُعا مهٔ كوئ، هسې نه چه هغه دَ الله تعالىٰ دَ طرف نه دَ عطاء و قبوليت وخت وى (او دلته كښې تاسو بد دُعا كوئ چه الله تعالىٰ هغې لره) ستاسو دَ پاره قبولې كړى .امام ابوداود

۱): صحيح مسلم/الصلاة ۱۷ (۴۰۸)، سنن الترمذي/الصلاة ۲۳۵ (الوتر ۲۰) (۴۸۵)، سنن النسائي/السهو ۵۵ (۱۲۹۷)، (تحفة الأشراف:۱۳۹۷۴)، وقد أخرجه: مسند احمد (۲/۳۷۳، ۳۷۵، ۴۸۵)، سنن الدارمي/الرقاق ۵۸ (۲۸۱۴) (صحيح)

۲): انظرحديث رقم : ۱۰۴۷، (تحفة الأشراف:۱۷۳۶) (صحيح)

۳): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف:۲۳۶۱) (صحيح)

رحمه الله فرمائی چه دا حدیث متصل دې، عباده بن ولید بن عباده د حضرت جابر رضي الله عنه سره ملاقات کړې دې

لا تدعوا على انفسكم ولا تدعوا على اولادكم، بعضې وخت کښې سړې پریشانه وی، او خپل ځان ته یا خپل اولاد ته هیرې کوی، ددې نه په دې حدیث کښې منع راغلې ده، چه چرته داسې اونشی، چه ستاسو دا هیرې د استجابت په وخت کښې واقع شی او قبولې شی.

باب الصَّلَاةِ عَلَى غَيْرِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم

باب: د نبی ﷺ نه علاوه په بل چاباندې درود وئیل

[۱۵۳۳]()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنِ الْأَسْوَدِ بْنِ قَيْسٍ، عَنْ نُبَيْحٍ الْعَنَزِيِّ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ امْرَأَةً قَالَتْ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: صَلِّ عَلَيَّ وَعَلَى زَوْجِي، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "صَلَّى اللَّهُ عَلَيْكِ وَعَلَى زَوْجِكِ".

د حضرت جابر بن عبد الله رضي الله عنه نه روایت دې چه یوې ښځې نبی کریم ﷺ ته اووې: زما او زما د خاوند د پاره د رحمت دعا اوفرمائئ نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل: الله تعالیٰ دې په تا باندې او ستا په خاوند باندې خپل رحمتونه (او برکتونه) نازل اوفرمائی.

تشریح: قوله: عن جابر بن عبدالله ان امراة قالت للنبی (صلی الله علیه وسلم) صل علی و علی زوجی.......... صلی الله علیک و علی زوجک:

ترجمة الباب والا مسئلې باندې فقهی حیثیت سره مدلل کلام:

په دې کښې صلوة علی غیر النبی استقلالا اوموندلې شو، بعض علماء ومنهم الامام احمد ابن حنبل رحمه الله په نزد جائز دې، مستدلا بهذا الحدیث و بقوله تعالى وصل عليهم ان صلاتک سکن لهم، او د جمهورو په نزد جائز نه دې، په منهل کښې دی، قاضی عیاض په "شفاء" کښې فرمائې: صلوة و سلام انبیاء کرامو سره خاص دې، او په دلیل دخصوصیت کښې علماء دا دوه آیتونه پیش کوی، لا تجعلوا دعاء الرسول بینکم کدعاء بعضکم بعضا او یا ایها الذین آمنوا صلوا علیه و سلموا تسلیما.

(په غیر انبیاء باندې د صلوة وسلام حکم)

د غیر انبیاء یعنی صحابه کرام او تابعینو دپاره خو د آیات قرانیه د اشارې نه مستفاد کیږی، چه دهغوی په حق کښې دعاء ترضی و ترحم و غفران دې، قال الله تعالى: يقولون ربنا اغفر لنا و لاخواننا الذين سبقونا بالايمان، وقال تعالى: والذين اتبعوهم باحسان رضی الله عنهم و رضوا عنه، او صلوة علی غیر النبی استقلالا په صدر اول کښې رائج نه وو، بلکه دا ایجاد او احداث دې د روافضو او اهل تشیع، هغوی وائی، علی علیه الصلوة والسلام، د علی رضي الله عنه او حضور (ﷺ) په مینځ کښې د مساوات معامله کوی، او تشبه باهل البدع ممنوع دې، صاحب منهل لیکلې دی، په شعب الایمان للبیهقی او په سنن سعید بن منصور کښې د ابن

(۱): تفرد به ابوداود، (تحفة الأشراف:۳۱۱۸)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الشمائل (۱۷۹)، سنن النسائي/اليوم الليلة (۴۲۳) (صحيح)

عباس ﷺ نه موقوفا روایت دي، لا تجوز الصلوة والسلام علی غیر نبینا محمد من الانبیاء (یعنی د صلوة او سلام دواړو مجموعه د حضور (ﷺ) نه علاوه بل نبی دپاره جائز نه ده، نو د غیر نبی دپاره به څرنګه جائز شی، ملا علی قاری رحمه الله فرمائي: شاید دا دهغې آیتونو نه مستفاد دې، چه په هغې کښې د حضور (ﷺ) نه
علاوه د نورو انبیاء کرامو په حق کښې صرف د سلام صیغه استعمال شوې ده، سلام علی نوح فی العالمین، سلام علی ابراهیم، سلام علی موسی و هارون، سلام علی المرسلین، او د حضور (ﷺ) په حق کښې فرمائیلې شوي دی، صلوا علیه و سلموا تسلیما (صلوة او سلام دواړو لره جمع کړې شوې دې) لیکن حدیث الباب دجمهورو د مسلک نه خلاف دې، دغه شان هغه روایت هم چه په کتاب الزکوة باب دعاء المصدق لاهل الصدقة، کښې راروان دې، اللهم صل علی آل ابی اوفی، او دا خبره دې واضحه وی، چه امام ابوداؤد حنبلی دې، ددې وجې نه هغه مذهب احمد ترجمة الباب او حدیث الباب سره ثابت کړې دې.

(دحدیث الباب نه جواب)

د جمهورو د طرف نه ددې حدیث جواب دادې، چه صلوة چه په معنی د تعظیم او تکریم دې، هغه د حضور (ﷺ) سره خاص دې، او صلوة بمعنی دعاء و رحمت و برکت، دا د حضور (ﷺ) سره خاص نه دې (اګر چه د بعضو په نزد دا هم مکروه دې) او دویم جواب ددې حدیث نه دا ورکړې شوې دې، چه په غیر نبی باندې صلوة بالاستقلال زمونږ او ستاسو دپاره مکروه دې، لیکن که خپله حضور (ﷺ) داسې اوکړی، نو چونکه دا خپله د حضور (ﷺ) حق دې، ددې وجې نه هغوی ته اختیار دې، چه خپل حق نورو ته ورکړی.

د حضرت امام بخاری رحمه الله رائې:

امام بخاری رحمه الله هم دې سلسله کښې باب قائم کړې دې، هل یصلی علی غیر النبی (صلی الله علیه وسلم)، په دې باندې حافظ ابن حجر لیکلې دی، چه ددې غیر په مصداق کښې نور انبیاء کرام هم داخل دی، دغه شان ملائکه او عام مومنین هم، بیا ددې نه پس حافظ رحمه الله په هر یو باندې جدا جدا مستقل کلام کړې دې، یعنی صلوة علی الانبیاء، او صلوة علی الملائکة، او صلوة علی المؤمنین مع اختلاف علماء و دلائل، او ددې قسم ثالث په ذیل کښې ئې مختلف اقوال نقل کولو نه پس یو قول لیکلې دې، وقالت طائفة تجوز مطلقا (یعنی ولو استقلالا) وهو مقتضی صنیع البخاری الی آخر ما بسط من الدلائل، لهذا کوم مذهب چه د امام احمد دې، هغه د امام بخاری رحمه الله هم دې.

....

بَابُ الدُّعَاءِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ

باب: ۲۹ - دَغائبانه دُعا فضیلت

[۱۵۳٤](۱)حَدَّثَنَا رَجَاءُ بْنُ الْمُرَجَّى، حَدَّثَنَا النَّضْرُ بْنُ شُمَيْلٍ، أَخْبَرَنَا مُوسَى بْنُ ثَرْوَانَ، حَدَّثَنِي طَلْحَةُ بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ كَرِيزٍ، حَدَّثَتْنِي أُمُّ الدَّرْدَاءِ، قَالَتْ: حَدَّثَنِي سَيِّدِي أَبُو الدَّرْدَاءِ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "إِذَا دَعَا الرَّجُلُ لِأَخِيهِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ، قَالَتِ الْمَلَائِكَةُ: آمِينَ وَلَكَ بِمِثْلٍ".

ام الدرداء بیان کوی چه زما اقا ابو الدرداء ﷛ بیان کړې دي چه هغوی د رسول الله ﷺ نه اوریدلي وو: " کله چه یو کس دَ خپل رور دَ پاره غائبانه دُعا کوی نو فرشتې وائی " آمین " (اې الله! قبول ئې کړې) او تاته دې هم په مثل ددې حاصل وی. "

(د راویه تعارف)

حدثنی ام الدرداء قالت حدثنی سیدی ابوالدرداء: دا ام الدرداء د ابو الدرداء بی بی ده، ام الدرداء دده دی، یوه صغری چه تابعیه ده، چه دهغې نوم هجیمه دې، او وئیلې شوې دی چه جهیمه دې، او یوه ام الدرداء الکبری ده، چه دهغې نوم خیره بنت ابی حدرد دې، او دا صحابیه ده، دلته په سند کښې صغری مراد ده، نه کبری، بلکه دهغې نه خو په صحاح سته کښې هم هیڅ روایت نشته، (منهل) قالت الملائکة آمین ولک بمثل: والحدیث اخرجه مسلم ایضا، کوم سړې چه د بل دپاره دهغه پشې شا د خیر دعاء کوی، نو فرشتې دهغه په دعاء باندې آمین وائی، او وائی ولک بمثل، یعنی الله تعالی دې تاته هم دغه څیز نصیب کړی، شارحینو لیکلي دی، او د پشی شا په حکم کښې دا هم دی، چه چا دپاره سرا یعنی په پټه دعا اوکړې شی، چه هغه سړې ئې نه اوری، اګر چه په هغه په مجلس کښې وی، یا په هم هغه دسترخوان باندې وی.

د خپل ځان دپاره ملائکو نه ددعا کولو شکل:

ددې حدیث نه معلومیږی، چه که یو سړې خپل ځان دپاره څه معامله کښې په ملائکو باندې دعاء کول غواړی، نو دهغې صورت دادی، چه هم هغه دعاء دې د خپل رور مسلمان دپاره دهغه نه پشې شا اوکړی، منهل کښې لیکلي دی، چه د بعضو سلفو نه منقول دی، چه هغوی به هم داسې کول (یعنی کله به چه د خپل ځان دپاره د څیز دعا کول وو، نو اول به ئې هغه دعا د بل په نیت سره کوله)

[۱۵۳۵](۲)حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَمْرِو بْنِ السَّرْحِ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنِي عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ زِيَادٍ، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنَّ أَسْرَعَ الدُّعَاءِ إِجَابَةً دَعْوَةُ غَائِبٍ لِغَائِبٍ".

د حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص ﷛ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل: د

(۱): صحیح مسلم/الذکر والدعاء ۲۳ (۲۷۳۲)، (تحفة الأشراف:۱۰۹۸۸)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/المناسك ٥ (۲۸۹٥)، مسند احمد (۱۹٥/٥) (صحیح)

(۲): سنن الترمذي/البر والصلة ٥۰ (۱۹۸۰)، (تحفة الأشراف:۸۸٥۲) (ضعیف)

تولونه زياته زر قبليدونکی دعا داده چه انسان دعا دچا غير موجود دپاره غائبانه دعا اوکړي.
عن عبدالله بن عمرو بن العاص (رضی الله عنهما) ان رسول الله (صلی الله عليه وسلم) قال اسرع الدعاء اجابة دعوة غائب لغائب. ددې وجه داده، چه په داسې دعاء کښې اخلاص زيات وی، ددې وجې نه زر قبليږي. چ

[١٥٣٦] ()حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ الدَّسْتُوَائِيُّ، عَنْ يَحْيَى، عَنْ أَبِي جَعْفَرٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "ثَلَاثُ دَعَوَاتٍ مُسْتَجَابَاتٌ لَا شَكَّ فِيهِنَّ: دَعْوَةُ الْوَالِدِ، وَدَعْوَةُ الْمُسَافِرِ، وَدَعْوَةُ الْمَظْلُومِ".

حضرت ابوهريره رضی الله عنه فرمائي چې نبی کريم صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل: د دريو دعاګانو په قبليدو کښې شک نشته دې. د پلار دعا، د مسافر دعا، او د مظلوم دعا.

(نحوی تحقيق)

ثلث دعوات مستجابات لا شک فيهن: مستجابات يامرفوع دې او خبر دې د مبتداء دپاره، او لا شک فيهن يا خو د خبر دپاره تاکيد دې، ياخبر ثانی دې، او يا دا مستجابات مجرور دې، او د دعوات دپاره صفت دې، او لا شک فيهن دهغې دپاره خبر دې، دعوة الوالد و دعوة المسافر ودعوة المظلوم، په دې دعوت کښې دعاء بالخير او دعاء بالشر دواړه داخل دی، دغه شان که دا دعاء د خپل ځان دپاره وی، يا د بل دپاره وی، او د مظلوم نه مراد عام دې، که مسلم وی او که کافر وی، صالح وی او که فاجر وی، لکه د مسند ابوداؤد طيالسی په روايت کښې تصريح ده: وان کان فاجرا ففجوره علی نفسه، او په مسند احمد وغيره کښې دی، ولو کان کافرا (منهل)

بَابُ مَا يَقُولُ إِذَا خَافَ قَوْمًا

باب: ٣٠-١ انسان ته چه دچا نه يره وی نوکومه دعا به کوی؟

[١٥٣٧] ()حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ، حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ أَبَاهُ حَدَّثَهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا خَافَ قَوْمًا، قَالَ: "اللَّهُمَّ إِنَّا نَجْعَلُكَ فِي نُحُورِهِمْ، وَنَعُوذُ بِكَ مِنْ شُرُورِهِمْ".

حضرت ابو موسی اشعری رضی الله عنه بيان کوی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته به کله د يو قوم نه انديښنه وه نو داسې دعا به ئې فرمائيله: { اللَّهُمَّ إِنَّا نَجْعَلُكَ فِي نُحُورِهِمْ، وَنَعُوذُ بِكَ مِنْ شُرُورِهِمْ } " اې الله مونږ تالره د هغوی په مقابله کښې پيش کوو او د هغوی د شرارتونو نه په تاسره پناه غواړو.

تشريح: قوله: ان النبی (صلی الله عليه وسلم) کان اذا خاف قوما قال اللهم انا نجعلک فی نحورهم و نعوذ بک من شرورهم،

[1]: سنن الترمذي/البر والصلة ٧ (١٩٠٥)، والدعوات ٤٨ (٣٤٤٨)، سنن ابن ماجه/الدعاء ١١ (٣٨٦٢)، (تحفة الأشراف: ١٤٨٧٣)، وقد أخرجه: مسند احمد (٢/٢٥٨، ٣٤٨، ٤٣٤، ٤٧٨، ٥١٧، ٥٢٣) (حسن)

[2]: تفرد به أبوداود، (تحفة الأشراف: ٩١٢٧)، وقد أخرجه: سنن النسائي/ اليوم والليلة (٦٠١)، مسند احمد (٤/٤١٤، ٤١٥) (صحيح)

دلته کښې دا سوال پیدا کیږي، چه حضور (ﷺ) خو د جن او انس د شر نه محفوظ دي، نو بیا هغوی ته ویره څرنګه وه؟ جواب دادې، چه بهرحال نبی کریم (ﷺ) بشر وو، خوف د انسان د طبعیت خاصه ده، او یا دا وئیل پکار دی چه د نبی کریم (ﷺ) دا ویره د خپلو صحابه کرامو په اعتبار سره وه، او یا دا وئیل پکار دی، چه دا د تعلیم دامت دپاره وه، چه هغوی لره پکار دی، چه د خوف په وخت کښې دا دعاء لولی.

د حضور اکرم (صلی الله علیه وسلم) شجاعت:

ګنی د نبی کریم (ﷺ) د شجاعت او بهادرۍ خو دا حالت وو، چه په حدیث کښې راځی، چه یو ځل د شپې په وخت کښې مدینې والو څه شور واؤریدو، چه هغې سره تول اویریدل، چه دا څرنګه آواز دې، په دې باندې نبی کریم (ﷺ) د ابوطلحه رضی الله عنه په اس باندې خپلې تورې سره سور شو، او د مدینې منورې نه بهر اوتلو، ددې کتلو دپاره چه دا شور څنګه دې، او لږ وخت پس ئې واپس تشریف راؤړو، او وې فرمائیل، لم تراعوا، لم تراعوا، چه ویریږئ مهٔ، ویریږئ مهٔ، مونږ ورغلو او اومو لیدل، هیڅ خبره نشته، صلی الله تعالی علیه و علی آله واصحابه و بارک و سلم تسلیما کثیرا کثیرا.

بَابٌ فِي الاِسْتِخَارَةِ

باب: ۳۱-۰ د استخارې احکام او مسائل

دلته کښې څو بحثونه دی، (۱) د استخاره لغوی معنی (۲) استخاره کله کول پکار دی (۳) استخاره کوم وخته پورې کول پکار دیٰ (۴) د کومو کارونو دپاره استخاره کولې شی (۵) د استخارې نه مخکښې دوه رکعته ادا کولو مصلحت (۶) د استخارې نه پس څه کول پکار دی (۷) د استخارې حدیث د کومې درجې دې (۸) د استخارې مختصره طریقه.

امور ثمانیه متعلقه باستخاره :

د استخارې لغوی معنی

د استخارې لغوی معنی ده، دالله تعالی نه خیر طلب کول په هغې کار کښې چه د کوم اراده ئې کړې وی، او بعضو شارحینو داسې لیکلې دی، یعنی په دواړو کارونو کښې چه کوم کار د خیر وی، هغه د الله تعالی نه طلب کول، چه دهغې طریقه په حدیث شریف کښې دا بیان کړې شوې ده، چه د استخارې په نیت سره دوه رکعته نفل مونځ به اوکړی، او هغه دعاء به اولولی، کومه چه په حدیث کښې راروانه ده، او دهغې دعاء نه مخکښې دې د الله تعالی حمد او ثناء او په حضور (ﷺ) باندې صلوة او سلام اولیږی.

[۱۵۳۸](۱)حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْلَمَةَ الْقَعْنَبِيُّ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مُقَاتِلٍ، خَالُ الْقَعْنَبِيِّ وَمُحَمَّدُ بْنُ عِيسَى، الْمَعْنَى وَاحِدٌ، قَالُوا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي الْمَوَالِ، حَدَّثَنِي مُحَمَّدُ بْنُ الْمُنْكَدِرِ، أَنَّهُ سَمِعَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعَلِّمُنَا الِاسْتِخَارَةَ كَمَا يُعَلِّمُنَا السُّورَةَ مِنَ الْقُرْآنِ، يَقُولُ لَنَا: "إِذَا هَمَّ

[۱]: صحيح البخاري/التهجد ٢٥ (١١٦٢)، والدعوات ٤٨ (٦٣٨٢)، والتوحيد ١٠ (٧٣٩٠)، سنن الترمذي/الصلاة ٢٣٧ (٤٨٠)، سنن ابن ماجه/إقامة الصلاة ١٨٨ (١٣٨٣)، سنن النسائي/النكاح ٢٧ (٣٢٥٥)، (تحفة الأشراف:٣٠٥٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (٣٤٤/٣) (صحيح)

أَحَدُكُمْ بِالْأَمْرِ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ مِنْ غَيْرِ الْفَرِيضَةِ، وَلْيَقُلْ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْتَخِيرُكَ بِعِلْمِكَ وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ وَأَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ الْعَظِيمِ، فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلَا أَقْدِرُ وَتَعْلَمُ وَلَا أَعْلَمُ وَأَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ، اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الْأَمْرَ يُسَمِّيهِ بِعَيْنِهِ الَّذِي يُرِيدُ خَيْرًا لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَمَعَادِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي فَاقْدُرْهُ لِي وَيَسِّرْهُ لِي وَبَارِكْ لِي فِيهِ، اللَّهُمَّ وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُهُ شَرًّا لِي مِثْلَ الْأَوَّلِ فَاصْرِفْنِي عَنْهُ وَاصْرِفْهُ عَنِّي وَاقْدُرْ لِي الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ، ثُمَّ رَضِّنِي بِهِ، أَوْ قَالَ: فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ". قَالَ ابْنُ مَسْلَمَةَ، وَابْنُ عِيسَى: عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرٍ.

حضرت جابر رضی الله عنه په فرمائیل : چه رسول الله ﷺ به مونږ ته د استخارې تعلیم (په دومره اهتمام سره) فرمائیلو لکه د قرآن مجید یو سورت . حضور ﷺ به مونږ ته فرمائیل چه کله په تاسو کښې یو کس د څه کار اراده اوکړی نو هغه لره پکار دی چه د فرضو نه علاوه دوه رکعته اوکړی او دا دُعا اوکړی : { اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْتَخِيرُكَ بِعِلْمِكَ وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ وَأَسْأَلُكَ...... الخ} اي الله زهٔ ستا د علم په واسطې سره خیر او نیکی غواړم . او ستا د قدرت په واسطې سره قدرت طلب کووم . او ستا د فضل عظیم سوال کووم . بې شکه تهٔ قدرت لرې او زهٔ قدرت نهٔ لرم . تهٔ علم لرې او زهٔ نهٔ پوهیږم . أو تهٔ د تمامو غیبونو او د پوشیده امورو نه باخبر ئې . اي الله ! کهٔ چرې ستا په علم کښې دا معامله (دلته کښې به د خپل کار نوم واخلي) زما د دین، دنیا ، آخرت او د انجام په لحاظ سره بهتر وی نو دا زما په حق کښې مقدر کړې او دې لره زما د پاره آسان کړې او زما دپاره په دې کښې برکت پیدا کړې . او کهٔ چرې دا معامله (دلته کښې به د خپل کار نوم واخلي) ستا د علم مطابق زما د پاره بده ده د دین، دنیا ، آخرت او د انجام په لحاظ سره نو مالره ددې نه واړه وې او دې لره زما نه واړه وې او زما د پاره خیر مقدر کړې په کوم ځائې کښې چه هم وی بیا مالره په هغې باندې خوشاله کړې ." راوی وئیلې دی یا کیدې شی چه د [خیرا لی فی دینی ومعاشی ومعادی وعاقبة امری] په ځائې باندې ئې [فی عاجل امری وآجله] فرمائیلې دی " یعنی زما په معامله کښې دا په تیزئ سره یا په ورستووالی سره....بهتر وی " ابن مسلمه او ابن عیسیٰ دې سند لره په لفظ د "عن" سره بیانوی ."عن محمد بن المنکدر عن جابر"

اذا هم احدکم بالامر: ددې نه معلومه شوه، چه کوم څیز د مشورې او استخارې قابل وی، په هغې کښې استخاره د کار اراده کولو سره سمدستی کول پکار دی، دې دپاره چه د شروع نه د الله تعالی د طرف نه د امر خیر راهنمائی وی، ګنی که په استخاره کښې ناوخته کړې شی، نو کیدې شی، چه د نفس میلان دمخکښې نه یو طرف ته شی، او د استخارې نه روستو پوره فائده او راهنمائی حاصله نه شی، او استخاره د مباحات دپاره وی، (١)

(١) په صحیح بخاری کښې دی ﴿ کان یعلمنا الاستخارة فی الامور کلها ﴾ ابن ابی جمرة فرمائی : چه دا عام مخصوص عنه البعض دې ځکه چه د واجب یا مستحب په فعل کښې به استخاره نه وی او د حرام او مکروه د ترک دپاره به استخاره نه وی بلکه په مباح امر کښې یا په دې مستحب کښې چه د هغې په مقابل کښې یو بل مستحب مخې ته وی نو په دې کښې استخاره کیدې شی چه په دې کښې کوم اختیار کړی یا دا چه کوم یو اول اوکړی. حافظ ابن حجر(ح) فرمائی هم دغه شان امر واجب مخیر فیه یا هغه واجب کوم چه موسع وی. ١٢

د واجباتو او مستحباتو دپاره نه وی، البته چه کوم واجبات موسعه دی، چه په هغې کښې تاخیر جائز دې، په هغې کښې استخاره د تعیین وخت وغیره مصلحتونو دپاره کیدې شی، مثلا دا چه دا کار په دې کال کښې اوکړې شی، یا آئنده کال کښې، په عباداتو کښې استخاره د اصل فعل په اعتبار سره نه وی، بلکه د وخت یا حالت وغیره په اعتبار سره وی.
د استخارې نه پس په کوم څیز باندې چه انشراح صدر اوشی، هغې لره دنفسانی خواهشاتو نه بغیر اختیاراول پکار دی،که یو دوه کرته سره انشراح اونشی، نو اووهٔ کرته پورې کولې شی (لکه چه په یو حدیث مرفوع کښې وارد دی، چه هغې لره ابن السنی روایت کړې دې) (بذل) او حافظ ابن حجر په فتح الباری کښې لیکلې دی،
د استخارې نه پس څه کول پکار دی، په دې کښې اختلاف دې، (۱) ابن عبدالسلام فرمائي يفعل ما اتفق يعنی چه څه کیدې شی هغه دې اوکړی، (انشاء الله په هغې کښې به خیر وی) او امام نووی رحمه الله فرمائي د استخارې نه پس چه په کوم څیز باندې انشراح صدر وی، هغه دې اوکړی، حافظ خپله رائې هم دا لیکلې ده، چه که د استخارې نه پس انشراح په هغه څیز باندې وو، په کوم څیز کښې چه دهغه رغبت او خواهش د استخارې نه مخکښې وو، نو هغې لره دې نه کوی، علامه شامی رحمه الله لیکلې دی، چه د بعضو مشائخو نه منقول دی، چه د استخارې نه پس سړی لره پکار دی، چه په اودس کښې قبلې ته مخامخ اودهٔ شی، پس که په خوب کښې سپین والې یا شین والی اوینی، نو هغې کار لره دې اوکړی، په هغې کښې خیر دې، او که تور والې یا سور والې اوینی نو پوهه دې شی، چه په هغې کښې شر دې، او دهغې نه دې ځان اوساتی.
فليركع ركعتين من غير فريضة : د فرض مونځ نفی سره معلومه شوه، چه د سنت مانځه نه پس هم استخاره کولې شی، په شرط ددې چه په هغې کښې د استخارې نیت هم کړې شوې وی، ګنی نشی کولې، (قاله النووی) او بعضې علماء وائی، چه ددې دپاره مستقل مونځ کول پکار دې.
وليقل اللهم انى استخيرك بعلمك واستقدرك بقدرتك واسالك من فضلك العظيم فانك تقدر ولا اقدر و تعلم و لا اعلم وانت علام الغيوب اللهم فان كنت تعلم ان هذا الامر (يسميه بعينه الذى يريد) خيرا لى فى دينى و معاشى و معادى و عاقبة امرى فاقدره لى و يسره لى و بارك لى فيه اللهم وان كنت تعلمه شرا لى مثل الاول فاصرفنى عنه واصرفه عنى واقدر لى الخير حيث كان ثم ارضنى به او قال فى عاجل امرى و آجله.
دا دعاء یادول پکار دی، ددې وجې نه دلته مو نقل کړه، د مثل الاول مطلب دادې، چه داسې دې اوائی، فی دینی و دنیاوی او د آخری جملې مطلب دادې، چه تاته اختیار دې، چه که عاجل امری و آجله وائې، او که ددې په ځائې معاشی و عاقبة امری وائې.
علماؤ لیکلې دی، چه د صلوة الاستخاره په اول رکعت کښې سوره کافرون او په دویم رکعت کښې سوره اخلاص وئیل بهتر دی، او یا په اول رکعت کښې وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ وَيَخْتَارُ مَا كَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ سُبْحٰنَ اللهِ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ وَرَبُّكَ يَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُوْرُهُمْ وَمَا يُعْلِنُوْنَ او په دویم رکعت کښې وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا مُؤْمِنَةٍ اِذَا قَضَى اللهُ وَرَسُوْلُهٗ اَمْرًا اَنْ

يَكُوْنَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ اَمْرِهِمْ وَمَنْ يَّعْصِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا مُّبِيْنًا اوائی، او بعضې علماء فرمائي: چه اکمل داده، چه هغه سورتونه دې هم اولولی، او دا آيتونه هم.

د دعاء استخاره نه مخکښې دوه رکعته مونځ کولو کښې مصلحت علماؤ دا ليکلې دې، چه د استخارې مقصد دادې، چه مونږ ته د دين او دنيا دواړو خير حاصل شی، او ددې عظيم مقصد حاصليدل د بادشاه دروازه ټکولو نه بغير ممکن نه دی، او د دې دروازې ټکولو صورت د مانځه نه بغير هيڅ نشی کيدې، د استخارې دا حديث د صحيح مسلم نه علاوه باقی ټولو صحاح سته کښې موجود دې، امام ترمذی رحمه الله فرمائي، حديث حسن صحيح غريب لا نعرفه الا من حديث عبدالرحمن بن ابی الموال وهو شيخ مدنی ثقة روی عنه غير واحد من الائمة، ليکن امام احمد رحمه الله ددې حديث تضعيف کړې دې.

او دې لره ئې منکر ګرزولی دې، هغوی فرمائي چه دې حديث لره د ابن المنکدر نه ابن ابی الموال نه علاوه هيچا روايت کړې نه دې، ليکن تقريباً نورو ټولو امامانو دهغه توثيق کړې دې، ابن ابی عدی وائی، چه حديث الاستخاره د ډيرو صحابه کرامو نه مروی دې، ابوايوب، ابوسعيد، ابوهريره او ابن مسعود رضي الله عنهم وغيره، هغوی فرمائي او په هغې کښې په هيڅ يو حديث کښې هم د مانځه ذکر نشته، سوا د حديث ابوايوب نه، ولم يقيد برکعتين ولا بقوله من غير الفريضة (منهل) او د سعد بن ابی وقاص حديث مرفوع دې، من سعادة ابن آدم استخارته الله (اخرجه احمد و سنده حسن) او په ترمذی شريف کښې دی، من حديث ابی بکر الصديق رضي الله عنه ان النبی (صلی الله عليه وسلم) کان اذا اراد امرا قال اللهم خرلی واخترلی او په طبرانی کښې د حضرت انس رضي الله عنه په حديث مرفوع کښې دی، ماخاب من استخار (فتح الباری ج١١ ص١٥٥) ددې نه معلومه شوه، چه د استخارې يوه مختصره طريقه داده، چه تر څو پورې خپل مقصد حل شوې نه وی، دا دعاء کومه چه اوس تيره شوه، لوستل پکار دی، ما د خپل استاذ محترم حضرت مولانا اسعد الله صاحب رحمه الله نه په سبق کښې اوريدلې دی، ماخاب من استخار ولا ندم من استشار، ددې جزء اول خو د حديث نه ثابت دې، اوس نزدې تير شو، ليکن ددې جزء ثانی د تلاش باوجود چرته په روايت کښې ملاؤ نشو.

بَابٌ فِي الْاِسْتِعَاذَةِ

باب: ٣٢- د تعوذاتو بيان

دعاګانې په دوه قسمه دی، اول هغه چه د جلب منفعت د قبيلې نه دی، چه په هغې کښې امور خيرطلب کولې شی، ثانی هغه چه د فع مضرت د قبيلې نه دی، چه په هغې کښې د شر او ضرر نه پناه غوختلې شی، اوسه پورې مصنف قسم اول بيانول، او ددې ځائې نه قسم ثانی بيانوی.

فائده: غالبا په امام نسائی رحمه الله باندې د دفع مضرت طرف غالب وو، هغوی د سنن صغری په آخر کښې مستقل عنوان د باب الاستعاذه قائم کړې دې، او بيا دهغې لاندې ئې پنځوس بابونه د استعاذه په سلسله کښې قائم کړې دی، البته د نوع اول روايات او ادعيه هغوی په کتاب الصلوة کښې ذکر کړې دی، يعنی هغه دعاګانې چه د صلوة سره متعلق دی، که د

تشهد نه پس قبل السلام والا دعاګاني وي، او که بعد السلام والا.
په سنن ابوداؤد کښې کتاب الدعوات مستقل نشته، هغه زيات تر دعاګاني دلته د کتاب الصلوة په آخر کښې ذکر کړې دي، او څه دعاګانې ئې د خوب سره متعلق د کتاب الادب په ضمن کښې ذکر کړې دي.

د ټولو نه دزياتو دعاګانو ذخيره په کوم کتاب کښې ده؟

په صحاح سته کښې د ټولو نه د زياتو دعاګانو ذخيره زما په علم کښې په سنن ترمذی کښې ده، دترمذی کتاب الدعوات ډيرطويل دې، تقريباپه ديرشوصفحاتو باندې مشتمل دې، اودصحيح بخاری کتاب الدعوات تقريبا شلو صفحاتو کښې دې، بعضې محدثينو صرف په دعاګانو باندې هم مستقل تصنيفات کړې دي، چه مشهور او معروف دي.

يو خائسته نصيحت:

زما مشوره ورته اوايئ يا نصيحت، چه هر طالب علم لره پکار دی، چه هغه د ترمذی شريف کتاب الدعوات مخښې نه کيږدی، او ټولې دعاګانې دې د اول نه تر آخره پورې اولولی، او د قراءة دوران کښې کومه دعا چه د خپل حال سره زياته مناسبه اوګڼړی، يا کومه دعا چه ئې زياته خوښه شي، هغه ټولې دعاګانې دې په يوه کاپۍ (بياض) کښې نقل کړی، بيادې دهغې نه هغه دعاګانې يادې کړی، اوهغه دې لولی، والله الموفق وهو الميسر.

[١٥٣٩] (١) حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ، عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، قَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَعَوَّذُ مِنْ خَمْسٍ: مِنَ الْجُبْنِ، وَالْبُخْلِ، وَسُوءِ الْعُمُرِ، وَفِتْنَةِ الصَّدْرِ، وَعَذَابِ الْقَبْرِ".

حضرت عمر بن الخطاب ﷜ فرمائي چه نبي کريم ﷺ به د پنځو خبرو نه په الله پاک سره پناه غوښتله: بزدلی، بخيلی، انتهائی بوډاوالی او د لاچارئ د عمر نه، د سينې د فتنې نه (حسد، کينه، او بد اخلاق او عقائد) او د عذاب قبر نه."

[١٥٤٠] (٢) حَدَّثَنَا مُسَدَّدٌ، أَخْبَرَنَا الْمُعْتَمِرُ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبِي، قَالَ: سَمِعْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ، يَقُولُ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْعَجْزِ، وَالْكَسَلِ، وَالْجُبْنِ، وَالْبُخْلِ، وَالْهَرَمِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ".

حضرت انس بن مالک ﷜ روايت کوی چه رسول الله ﷺ به دا دعا فرمائيله {(اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُبِكَ مِنَ الْعَجْزِوَالْكَسَلِ وَالْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَالْهَرَمِ، وَأَعُوذُبِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَأَعُوذُبِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ)} "اې الله! زه په تاسره پناه غواړم د عاجز راتلو نه، د کسل منډئ او سستئ نه، د بزدلئ، بخيلئ، او د انتهائی بوډاوالی نه. او په تاسره پناه غواړم د قبر د

(١): سنن النسائي/الاستعاذة ٢ (٥٤٤٥)، سنن ابن ماجه/الدعاء ٣ (٣٨٤٤)، (تحفة الأشراف:١٠٦١٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٥٤/١)، (ضعيف).

(٢): صحيح البخاري/الجهاد ٢٥ (٢٨٢٣)، وتفسير سورة النحل ١ (٤٧٠٧)، والدعوات ٣٨ (٦٣٦٧)، ٤٢ (٦٣٧١)، صحيح مسلم/الذكر ١٥ (٢٧٠٦)، سنن النسائي/الاستعاذه ٦ (٥٤٥٤)، مسند احمد (١١٣/٣، ١١٧، ٢٠٨، ٢١٤، ٢٣١)، (تحفة الأشراف:٨٧٣)، وقد أخرجه: سنن الترمذي/الدعوات ٧١ (٣٤٨٠) (صحيح)

عذاب نه، او د زندګئ او د مرګ د فتنې نه ".

[١٥٤١]()حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ، وَقُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، قَالاَ: حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَ سَعِيدٌ الزُّهْرِيُّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ أَبِي عَمْرٍو، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: كُنْتُ أَخْدِمُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَكُنْتُ أَسْمَعُهُ كَثِيرًا، يَقُولُ: "اللَّهُمَّ أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ، وَالْحَزَنِ، وَضَلَعِ الدَّيْنِ، وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ" وَذَكَرَ بَعْضَ مَا ذَكَرَهُ التَّيْمِيُّ.

حضرت انس بن مالک رضی الله عنه فرمائی چه ما به د رسول الله ﷺ خدمت کولو، او ما به د رسول الله ﷺ نه په کثرت سره دا اوریدل چه هغوی به دا دعا فرمائیله: {(اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُبِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ وَضَلَعِ الدَّيْنِ وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ)} " اې الله زۀ په تاسره پناه غوارم د پریشانئ او د غم نه، د قرضې د بوج نه او د خلقو (ظالمانو) د غلبې نه او د زور آورئ نه." ددې نه علاوه څه نې هغه هم ذکر کړل کوم چه تیمی (معتمر بن سلیمان) په بره ذکر شوی حدیث کښې بیان کړې دی."

[١٥٤٢]()حَدَّثَنَا الْقَعْنَبِيُّ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ الْمَكِّيِّ، عَنْ طَاوُسٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُعَلِّمُهُمْ هَذَا الدُّعَاءَ كَمَا يُعَلِّمُهُمُ السُّورَةَ مِنَ الْقُرْآنِ، يَقُولُ: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ".

حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنهما بیان کوی چه رسول الله ﷺ به دوی ته دا دعا داسې ښودله لکه قرآن مجید: {(اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُبِكَ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ، وَأَعُوذُبِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَأَعُوذُبِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ، وَأَعُوذُبِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ)} " اې الله زۀ په تاسره پناه نیسم د جهنم د عذاب نه، د قبر د عذاب نه، د مسیح دجال د فتنې نه، او د زندګئ او د مرګ د فتنې نه."

[١٥٤٣]()حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى الرَّازِيُّ، أَخْبَرَنَا عِيسَى، حَدَّثَنَا هِشَامٌ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَدْعُو بِهَؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ النَّارِ، وَعَذَابِ النَّارِ، وَمِنْ شَرِّ الْغِنَى، وَالْفَقْرِ".

د ام المؤمنین حضرت عائشې رضی الله عنها بیان دې چه رسول الله ﷺ به په دې کلماتو سره دعا فرمائیله: {(اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُبِک مِنْ فِتْنَةِ النَّارِ وَعَذَابِ النَّارِ، وَمِنْ شَرِّ الْغِنَى وَالْفَقْرِ)} " اې الله! زۀ پناه غوارم په تاسره د اور د فتنې او د اور د عذاب نه، د مالدارئ د شر نه او د فقیرئ د شر نه."

[١٥٤٤]()حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا إِسْحَاقُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْفَقْرِ، وَالْقِلَّةِ، وَالذِّلَّةِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ أَنْ

---

[1]): صحيح البخاري/الدعوات ٤٠ (٦٣٦٩)، سنن الترمذي/الدعوات ٧١ (٣٤٨٤)، سنن النسائي/الاستعاذة ٧ (٥٤٥٥) (تحفة الأشراف: ١١١٥)، وقد أخرجه: مسند احمد (١٢٢/٣، ٢٢٠، ٢٢٦، ٢٤٠) (صحيح)

[2]): صحيح مسلم/المساجد ٢٥ (٥٩٠)، سنن النسائي/الجنائز ١١٥ (٢٠٦٥)، سنن الترمذي/الدعوات ٧٠ (٣٤٩٤)، (تحفة الأشراف: ٥٧٥٢)، وقد أخرجه: موطا امام مالك/ القرآن ٨ (٣٣)، مسند احمد (٢٤٢/١، ٢٥٨، ٢٩٨، ٣١١) (صحيح)

[3]): تفرد به ابوداود، (تحفة الأشراف: ١٧١٣٨)، وقد أخرجه: صحيح مسلم/الدعاء ٢٥ (٥٨٩)، سنن الترمذي/الدعوات ٧٢ (٣٤٨٩)، سنن النسائي/الاستعاذة ١٦ (٥٤٦٨) (صحيح)

[4]): سنن النسائي/الاستعاذه ١٣ (٥٤٦٢)، (تحفة الأشراف: ١٣٣٨٥)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الدعاء ٣ (٣٨٣٨)، مسند احمد (٣٠٥/٢، ٣٢٥، ٣٥٤) (صحيح)

أَظْلِمَ أَوْ أُظْلَمَ".

دَ حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دي چه رسول الله ﷺ به دا دعا کووله : {(اللَّهُمَّ! إِنِّي أَعُوذُبِكَ مِنَ الْفَقْرِ وَالْقِلَّةِ وَالذِّلَّةِ، وَأَعُوذُبِكَ مِنْ أَنْ أَظْلِمَ أَوْ أُظْلَمَ)} " اي الله ! زهٔ په تاسره پناه نیسم دَ محتاجئ نه، دَ قلت او دَ ذلت نه. او په تاسره پناه غواړم ددې خبرې نه چه زهٔ دَ ظلم ارتکاب اوکړم یا په ما باندې ظلم اوکړې شي.

[١٥٤٥] (١) حَدَّثَنَا ابْنُ عَوْفٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْغَفَّارِ بْنُ دَاوُدَ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: كَانَ مِنْ دُعَاءِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُبِكَ مِنْ زَوَالِ نِعْمَتِكَ، وَتَحْوِيلِ عَافِيَتِكَ، وَفُجَاءَةِ نِقْمَتِكَ، وَجَمِيعِ سَخَطِكَ".

دَ حضرت ابن عمر رضي الله عنه بیان دي چه دَ رسول الله ﷺ په دعاګانو کښې دا دعا وه : {(اللَّهُمَّ! إِنِّي أَعُوذُبِكَ مِنْ زَوَالِ نِعْمَتِكَ، وَتَحْوِيلِ عَافِيَتِكَ، وَفُجَاءَةِ نِقْمَتِكَ، وَجَمِيعِ سَخَطِكَ)} " اي الله زهٔ په تاسره پناه غواړم ددې خبرې نه چه ستا څه نعمت زائله شي یا ستا راکړې شوې صحت او عافیت واړولې شي یا څه ناګهاني عذاب راشي . او ستا دَ تمام غصې او دَ ناراضتیا نه پناه غواړم ."

[١٥٤٦] (٢) حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ، حَدَّثَنَا بَقِيَّةُ، حَدَّثَنَا ضُبَارَةُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي السُّلَيْكِ، عَنْ دُوَيْدِ بْنِ نَافِعٍ، حَدَّثَنَا أَبُو صَالِحٍ السَّمَّانُ، قَالَ: قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَدْعُو، يَقُولُ: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُبِكَ مِنَ الشِّقَاقِ، وَالنِّفَاقِ، وَسُوءِ الْأَخْلَاقِ".

دَ حضرت ابو هریره رضي الله عنه نه مروی دی چه رسول الله ﷺ به دُعا فرمائیله : {(اللَّهُمَّ! إِنِّي أَعُوذُبِكَ مِنَ الشِّقَاقِ وَالنِّفَاقِ وَسُوءِ الْأَخْلَاقِ)} " اي الله ! زهٔ په تاسره پناه غواړم ددې خبرې نه چه زهٔ (دَ حق) مخالفت اوکړم یا منافق او بد اخلاق جوړ شم ."

[١٥٤٧] (٣) حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، عَنِ ابْنِ إِدْرِيسَ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنِ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُبِكَ مِنَ الْجُوعِ فَإِنَّهُ بِئْسَ الضَّجِيعُ، وَأَعُوذُبِكَ مِنَ الْخِيَانَةِ فَإِنَّهَا بِئْسَتِ الْبِطَانَةُ".

حضرت ابو هریره رضي الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ به دا دُعا فرمائیله: {(اللَّهُمَّ! إِنِّي أَعُوذُبِكَ مِنَ الْجُوعِ فَإِنَّهُ [بِئْسَتِ] الْبِطَانَةُ)} " اي الله زهٔ په تاسره پنا غواړم دَ لوږې نه، بې شکه دا ډېر زیات بد هم خواب دې . او زهٔ په تاسره پناه غواړم دَ خیانت نه، بې شکه دَ پوشیده خصلتونو نه دا ډیر بد خصلت دې ."

[١٥٤٨] (٤) حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَخِيهِ عَبَّادِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ، أَنَّهُ سَمِعَ أَبَا هُرَيْرَةَ، يَقُولُ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُبِكَ مِنَ الْأَرْبَعِ: مِنَ

---

١): صحیح مسلم/الذکر والدعاء ٢٦ (٢٧٣٩)، (تحفة الأشراف: ٧٢٥٥) (صحیح)

٢): سنن النسائي/الاستعاذة ٢ (٥٤٧٣)، (تحفة الأشراف: ١٢٣١٤) (ضعیف)

٣): سنن النسائي/الاستعاذة ١٩ (٥٤٧١)، (تحفة الأشراف: ١٣٠٤٠)، وقد أخرجه: سنن ابن ماجه/الأطعمة ٥٣ (٣٣٥٤) (حسن)

٤): سنن النسائي/الاستعاذة ١٧ (٥٤٦٩)، سنن ابن ماجه/المقدمة ٢٣ (٢٥٠)، والدعاء ٢ (٣٨٣٧)، (تحفة الأشراف: ١٣٥٤٩) (صحیح)

عِلْمٍ لَا يَنْفَعُ، وَمِنْ قَلْبٍ لَا يَخْشَعُ، وَمِنْ نَفْسٍ لَا تَشْبَعُ، وَمِنْ دُعَاءٍ لَا يُسْمَعُ".

د عباد بن ابو سعید رضی الله عنه نه روایت دي چه هغوی د حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه واوریدل چه رسول الله ﷺ به دا دعا فرمائیله: {(اللَّهُمَّ! إِنِّي أَعُوذُبِكَ مِنَ الْأَرْبَعِ: مِنْ عِلْمٍ لَا يَنْفَعُ، وَمِنْ قَلْبٍ لَا يَخْشَعُ، وَمِنْ نَفْسٍ لَا تَشْبَعُ، وَمِنْ دُعَاءٍ لَا يُسْمَعُ)} "اې الله! زهٔ دَ څلورو څیزونو نه په تاسره پناه غواړم داسې علم چه فائده نهٔ ورکوی داسې زړهٔ چه په هغې کښې خشوع نه وی، داسې طبیعت کوم چه مړیږی نهٔ، او داسې دعا چه هغه قبلیږی نهٔ.

[۱۵٤۹]( )حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُتَوَكِّلِ، حَدَّثَنَا الْمُعْتَمِرُ، قَالَ: قَالَ أَبُو الْمُعْتَمِرِ: أُرَى أَنَّ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ حَدَّثَنَا، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، كَانَ يَقُولُ: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُبِكَ مِنْ صَلَاةٍ لَا تَنْفَعُ" وَذَكَرَ دُعَاءً آخَرَ.

د حضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه روایت دي چه رسول الله ﷺ به دا دعا فرمائیله: {(اللَّهُمَّ! إِنِّي أَعُوذُبِكَ مِنْ صَلَاةٍ لَا تَنْفَعُ)} "اې الله! زهٔ په تاسره پناه غواړم د داسې مونځ نه چه فائده نهٔ ورکوی." او یوه بله دعا ئې هم ذکر کړه."

[۱۵۵۰]( )حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ أَبِي شَيْبَةَ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ هِلَالِ بْنِ يَسَافٍ، عَنْ فَرْوَةَ بْنِ نَوْفَلٍ الْأَشْجَعِيِّ، قَالَ: سَأَلْتُ عَائِشَةَ أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ عَمَّا كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْعُو بِهِ، قَالَتْ: كَانَ يَقُولُ: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُبِكَ مِنْ شَرِّ مَا عَمِلْتُ، وَمِنْ شَرِّ مَا لَمْ أَعْمَلْ".

فروه بن نوفل اشجعی فرمائی چه ما د حضرت عائشې رضی الله عنها نه پوښتنه اوکړه چه رسول الله ﷺ به کومه دعا غوښتله؟ هغې رضی الله عنها اوفرمائیل چه رسول الله ﷺ به دا دعا کوله: {(اللَّهُمَّ! إِنِّي أَعُوذُبِكَ مِنْ شَرِّ مَا عَمِلْتُ وَمِنْ شَرِّ مَا لَمْ أَعْمَلْ)} "اې الله زهٔ په تاسره پناه غواړم دَ هغه اعمالو دَ شر نه کوم چه ما کړي دی او دَ هغه اعمالو دَ شر نه هم کوم چه ما نهٔ دی کړي"

کان یقول اللهم انی اعوذ بک من شر ما عملت و من شر مالم اعمل: او په بعضو روایاتو کښې من شر ما علمت ومن شر ما لم اعلم هم راغلې دې، دلته کښې دا سوال پیدا کیږی، چه کوم عمل شوې نه دې، دهغې شر چرته دې؟ چه دهغې نه پناه اوغوختلې شی، جواب ددې سوال به د حدیث دشرح نه معلوم شی.

شرح حدیث:

ماعملت ای من السیئات، وما لم اعمل ای من الحسنات، یعنی کوم نیک کارونه چه کول پکار وو، او ما اونه کړل، نو په دې نه کولو باندې چه کومه خرابی اوشر مرتب کیدې شی، دهغې نه پناه غواړم، او یا مطلب دادې، چه زهٔ د هر څیز د شر نه پناه غواړم، که په هغې کښې زما د عمل او کسب دخل وی، او که نه وی، مثلا په چا کښې صفت جبن دې، یا صفت بخل دې، چه غیر اختیاری او غیر کسبی دې، نو ددې صفت په وجه چه کومه خرابی مرتب کیدې شی، دهغې نه پناه غواړم، او یا دا اوایئ، چه بعضې وخت کښې د نورو د معصیت نه هم نقصان رسیږی، قال الله تعالى: واتقوا فتنة لا تصيبن الذين ظلموا منكم خاصة، لهذا دهغې

[1]: تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف:۸۸۷) (ضعيف)
[2]: صحيح مسلم/الذكر والدعاء ۱۸ (۲۷۱٦)، سنن النسائي/السهو ٦۳ (۱۳۰۸)، والاستعاذة ۵۷ (۵۵۲۷)، سنن ابن ماجه/الدعاء ۳ (۳۸۳۹)، (تحفة الأشراف:۱۷٤۳۰)، وقد أخرجه: مسند احمد (٦/۳۱، ۱۰۰، ۱۳۹، ۲۱۳، ۲۵۷، ۲۷۸) (صحيح)

نه هم د پناه غوختلو ضرورت دي.
او بعضې وخت کښې انسان کوشش سره د يو معصيت نه بچ شي، ليکن په دې بچ کيدلو باندې هم شر مرتب کيدې شي، هغه داسې چه مثلاً دې بچ کيدلو لره د الله تعالى فضل ګنړلو په ځائې خپل ذات طرف ته منسوب کړی، يا ددې معصيت نه بچ کيدلو نه پس خپل ځان د نورو نه افضل اوګنړی (دا ټول توجيهات کيدې شي)

[١٥٥١] (¹) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ حَنْبَلٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ. ح وحَدَّثَنَا أَحْمَدُ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، الْمَعْنَى عَنْ سَعْدِ بْنِ أَوْسٍ، عَنْ بِلَالٍ الْعَبْسِيِّ، عَنْ شُتَيْرِ بْنِ شَكَلٍ، عَنْ أَبِيهِ فِي حَدِيثِ أَبِي أَحْمَدَ شَكَلِ بْنِ حُمَيْدٍ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، عَلِّمْنِي دُعَاءً، قَالَ: "قُلْ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ سَمْعِي، وَمِنْ شَرِّ بَصَرِي، وَمِنْ شَرِّ لِسَانِي، وَمِنْ شَرِّ قَلْبِي، وَمِنْ شَرِّ مَنِيِّي".

شتير بن شکل (د ابواحمد يعني محمد بن عبد الله بن زبير په سند کښې ددې راوی نوم شکل بن حميد دې) د خپل پلار نه روايت کوی، هغه فرمائي چه ما اووې اې الله رسوله ! ماته څۀ دُعا اوښائئ. حضور ﷺ اوفرمائيل : {اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ سَمْعِي، وَمِنْ شَرِّ بَصَرِي، وَمِنْ شَرِّ لِسَانِي، وَمِنْ شَرِّ قَلْبِي، وَمِنْ شَرِّ مَنِيِّي} " اې الله ! زۀ په تاسره پناه غواړم د خپل غوږ د شر نه، د سترګې د شر نه، د ژبې د شر نه، د زړۀ د شر نه، او د مادۀ منويه د شر نه.

[١٥٥٢] (²) حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ، حَدَّثَنَا مَكِّيُّ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللهِ بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ صَيْفِيٍّ مَوْلَى أَفْلَحَ مَوْلَى أَبِي أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي الْيَسَرِ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَدْعُو: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَدْمِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ التَّرَدِّي، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْغَرَقِ، وَالْحَرَقِ وَالْهَرَمِ، وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ يَتَخَبَّطَنِي الشَّيْطَانُ عِنْدَ الْمَوْتِ، وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ أَمُوتَ فِي سَبِيلِكَ مُدْبِرًا، وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ أَمُوتَ لَدِيغًا".

د حضرت ابو اليسر نه مروی دی چه رسول الله ﷺ به دا دعا فرمائيله : {(اللَّهُمَّ! إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَدْمِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ التَّرَدِّي، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْغَرَقِ، وَالْحَرَقِ، وَالْهَرَمِ، وَأَعُوذُ بِكَ [مِنْ] أَنْ يَتَخَبَّطَنِيَ الشَّيْطَانُ عِنْدَ الْمَوْتِ، وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ أَمُوتَ فِي سَبِيلِكَ مُدْبِرًا، وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ أَمُوتَ لَدِيغًا)} " اې الله ! زۀ په تاسره پناه غواړم چه څۀ مکان يا ديوال په ما باندې راپروځی يا د څۀ بلند مقام نه راپروزم. زۀ په تاسره پناه غواړم، د غرق کيدو نه، او د سوزيدو نه يا د از حد بوډا کيدو نه، په تاسره پناه غواړم ددې خبرې نه چه د مرګ په وخت کښې مالره شيطان بدخواس کړی يا ددې خبرې نه چه په جهاد کښې مړ شم په داسې حال کښې چه زۀ شا کوونکی يم، يا ددې کيفيت نه چه د زهريله ښامار د چيچلو نه ماته مرګ راشي."

عن ابی اليسر ان رسول الله (صلى الله عليه وسلم) كان يدعو اللهم انى اعوذ بک من الهدم واعوذ بک من التردى واعوذ بک من الغرق والحرق والهرم واعوذ بک ان يتخبطنى الشيطن عند الموت:
او پناه غواړم زۀ په تاسره ددې خبرې نه چه مالره شيطان د مرګ په وخت کښې خطبی او ليونې جوړ کړی، او زما دين لره خراب او فاسد کړی، په دې حديث کښې د هدم او تردی

(¹): سنن الترمذي/الدعوات ٧٥ (٣٤٩٢)، سنن النسائي/الاستعاذة ٣ (٥٤٤٦)، ٩ (٥٤٥٧)، ١٠ (٥٤٥٨)، ٢٧ (٥٤٨٦)، (تحفة الأشراف: ٤٨٤٧)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٢٩/٣) (صحيح)
(²): سنن النسائي/الاستعاذة ٦٠ (٥٥٣٣)، (تحفة الأشراف: ١١١٢٤)، وقد أخرجه: مسند احمد (٤٢٧/٣) (صحيح)

وغیره امورو نه پناه غوختلې شوې ده، حالانکه دا څیزونه د اسباب شهادت نه دی؟ جواب دادې، چه دا څیزونه ډیر سخت دی، بعضې وخت کښې انسان ته په دې باندې صبر کول مشکل شی، نو شیطان ته د خپلو دپاره ښه موقع ملاؤ شی، او هغه سړی لره په ناشکری، او بې صبری کښې مبتلاء کړی، چه سراسر د دین دنقصان دی.

[۱۵۵۳](۱) حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ مُوسَى الرَّازِيُّ، أَخْبَرَنَا عِيسَى، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَعِيدٍ، حَدَّثَنِي مَوْلًى لِأَبِي أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي الْيَسَرِ، زَادَ فِيهِ "وَالْغَمِّ".

د حضرت ابو ایوب یو ازاد کړې شوې غلام، حضرت ابو الیسر رضی الله عنه روایت کوی ... په دې حدیث کښې د [الغم] اضافه هم ده.

[۱۵۵۴](۲) حَدَّثَنَا مُوسَى بْنُ إِسْمَاعِيلَ، حَدَّثَنَا حَمَّادٌ، أَخْبَرَنَا قَتَادَةُ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، كَانَ يَقُولُ: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبَرَصِ، وَالْجُنُونِ، وَالْجُذَامِ، وَمِنْ سَيِّئِ الْأَسْقَامِ".

د حضرت انس بن مالک رضی الله عنه نه مروی دی چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم به دا دعا کووله: {(اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُبِكَ مِنَ الْبَرَصِ وَالْجُنُونِ وَالْجُذَامِ وَسَيِّئِ الْأَسْقَامِ)} " اې الله! زهٔ په تاسره پناه غواړم د برص بیمارئ نه، د پاګل پن نه، او د جذام نه، او د بدو بیمارو نه."

ومن سيئ الاسقام: د سخت قسم مرضونو نه پناه غواړم، نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) د مطلق اسقام نه پناه نه ده غوختلې، بلکه د سیئ الاسقام نه ئې پناه غوختلې دې، علامه طیبی رحمه الله فرمائي چه په اصل کښې خبره داده، چه امراض او مصیبتونو باندې د الله تعالی د طرف نه اجر او ثواب ډیر زیات دې،(۳) لیکن کوم امراض چه ډیر سخت وی، لکه سل، استسقاء او امراض مزمنه طویله، نو په هغې کښې چونکه د جزع فزع (ژړا فریاد) او د بې صبری خطره وی، ددې وجې نه صرف دهغې نه عافیت طلب کړې شوې دې، او کوم امراض چه معمولی اوسپک وی، په هغې باندې چونکه صبر کول آسان دی، ددې وجې نه دهغې نه پناه نه ده غوختلې شوې، د دارآخرت ثواب عظیم حاصلولو دپاره.

[۱۵۵۵](۴) حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ الْغُدَانِيُّ، أَخْبَرَنَا غَسَّانُ بْنُ عَوْفٍ، أَخْبَرَنَا الْجُرَيْرِيُّ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: دَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ الْمَسْجِدَ، فَإِذَا هُوَ بِرَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ، يُقَالُ لَهُ: أَبُو أُمَامَةَ، فَقَالَ: "يَا أَبَا أُمَامَةَ، مَا لِي أَرَاكَ جَالِسًا فِي الْمَسْجِدِ فِي غَيْرِ وَقْتِ الصَّلَاةِ؟" قَالَ: هُمُومٌ لَزِمَتْنِي وَدُيُونٌ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: "أَفَلَا أُعَلِّمُكَ كَلَامًا إِذَا أَنْتَ قُلْتَهُ أَذْهَبَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ هَمَّكَ، وَقَضَى عَنْكَ دَيْنَكَ؟" قَالَ: قُلْتُ: بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: "قُلْ إِذَا أَصْبَحْتَ وَإِذَا أَمْسَيْتَ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ

---

۱): انظر ما قبله، (تحفة الأشراف: ۱۱۱۲٤) (صحيح)

۲): تفرد به ابوداود، (تحفة الأشراف: ۱۱۵۹، ۱٤۲٤)، وقد أخرجه: سنن النسائي/الاستعاذة ۳٦ (۵۵۰۸)، مسند احمد (۱۰۹۲/۳) (صحيح)

۳) لکه په یوحدیث کښې راځی چه په آخرت کښې کله اصحاب العاهات والمصائب ته دهغوی په مصائبو باندې اجر ملاویږی نو هغه وخت به اصحاب العافیه دا تمنا کوی چه کاش په دنیا کښې زمونږ د بدن غوښې په قینچیانو سره شوکولې شوې چه دهغې ثواب اوس دلته ملاؤ شوې وې.

۴): تفرد به أبو داود، (تحفة الأشراف: ٤۳٤۰) (ضعيف)

الْعَجْزِ وَالْكَسَلِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الْجُبْنِ وَالْبُخْلِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ غَلَبَةِ الدَّيْنِ وَقَهْرِ الرِّجَالِ". قَالَ: فَفَعَلْتُ ذٰلِكَ فَأَذْهَبَ اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ هَمِّي، وَقَضَى عَنِّي دَيْنِي.

حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان کوي چه نبی کريم ﷺ يوه ورځ جمات ته تشريف راوړرو نو څۀ ګوری چه يو انصاری سړی دی چه دَ هغه نوم ابوامامه وو، حضور ﷺ اوفرمائيل: اې ابوامامه! څۀ خبره ده چه زۀ تالره په جمات کښې وينم؟" هغوی اوويل اې دَ الله رسوله! مالره غمونو او قرضونو ګير کړې دی، نو حضور ﷺ اوفرمائيل آيا زۀ تاته داسې کلمات اونۀ ښايم، کۀ چرې تۀ هغې لره لولې نو الله تعالىٰ به ستا غمونو لره لرې کوی او ستا قرضونه به ادا کوی." (يعنی ستا دَ قرضونو دَ ادا کولو سبب به پيدا کوی) ما اوويل ولې نۀ اې دَ الله رسوله! حضور ﷺ اوفرمائيل:" دَ سحر او ماښام دا کلمات وايه: {اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُبِکَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحَزَنِ، وَأَعُوذُبِکَ مِنَ الْعَجْزِوَالْكَسَلِ، وَأَعُوذُبِکَ مِنَ الْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَأَعُوذُبِکَ مِنْ غَلَبَةِالدَّيْنِ وَقَهْرِالرِّجَالِ}" اې الله! زۀ په تاسره پناه نيسم دَ پريشانئ او دَ غم نه، دَ عاجز کيدو او دَ کسل مندئ نه، او ستا پناه نيسم دَ بزدلئ او دَ بخيلئ نه او په تاسره پناه غواړم دَ قرضې او دَ ظالمانو دَ غلبې نه." حضرت ابو امامه رضي الله عنه بيان کوی چه ما دا دُعا کول شروع کړل نو الله تعالىٰ زما پريشانو لره لرې کړل او دَ قرضونو (دَ ادا کولو) سبب ئې هم پيدا اوفرمائيلو."

ياابا امامة مالی اراک جالسا فی المسجد فی غير وقت الصلوة قال هموم لزمتنی و ديون يا رسول الله (صلى الله عليه وسلم)............ قل اذا اصبحت واذا امسيت اللهم انی اعوذ بک من الهم والحزن واعوذ بک من العجز والکسل واعوذ بک من الجبن والبخل و اعوذ بک من غلبة الدين و قهر الرجال، قال ففعلت ذلک فاذهب الله همی و قضی عنی دينی. دا دعاء د "دعاء اداء قرض" په نوم سره مشهور ده، لکه امام نووی رحمه الله دې حديث لره کتاب الاذکار کښې د "دعاء قضاء الدين" په عنوان سره ذکر کړې ده، او هغه دې لره صرف سنن ابوداؤد ته منسوب کړې ده، ددې نه علاوه هغوی يوه دعاء د اداء قرض آسانئ دپاره بله ذکر کړې ده، هغه دا چه يو مکاتب د حضرت علی رضي الله عنه خدمت کښې حاضر شو، او عرض ئې اوکړو، چه زۀ د اداء کتابت نه عاجزه شوې يم، زما مدد اوکړه، هغوی ورته اوفرمائيل، زۀ تاته هغه دعا ښايم، کومه چه حضور (ﷺ) ماته په تعليم کښې فرمائيلې وه، که په تاباندې د غر هومره قرض هم وی، نو الله تعالی به هغه ادا کړی، دا دعا لوله اللهم اکفنی بحلالک عن حرامک و اغننی بفضلک عمن سواک (رواه الترمذی) دغه شان په ترمذی شريف کښې د حضرت ابوهريره رضي الله عنه حديث دې، چه حضور (ﷺ) ماته اوفرمائيل لاحول ولا قوة الا بالله کثرت سره وايه، ځکه چه دا د جنت د خزانو نه دې، په دې باندې مکحول شامی فرمائي چه کوم سړې لاحول ولا قوة الا بالله ولا منجا من الله الا اليه لولی، دهغه نه به اويا قسمه نقصانات او ضررونه دفع شی، چه په هغې کښې ادنی درجه د فقر ده.

دا خبره زده کول پکار دی، چه د دعاء څه آداب او شرائط دی، چه په کتابونو کښې ذکر دی، امام نووی رحمه الله د "کتاب الاذکار" په آخر کښې یو باب د "آداب دعاء" په عنوان سره قائم کړې دې، په هغې کښې دا اختلاف لیکلې دې، چه دعاء افضله ده او که سکوت، هغوی فرمائي چه مذهب مختار چه په هغې باندې ټول فقهاء او محدثین او لوئې لوئې علماء سلفا و خلفا متفق دی، دادې، چه دعاء مستحب ده، دا بحث دلته په ډیر تفصیل سره د باب الدعاء په شروع کښې تیر شوې دې، امام نووی رحمه الله د امام غزالی رحمه الله داحیاء العلوم نه نقل کړې دی، آداب الدعاء عشرة، او بیا ئې هغې لره بیان کړې دی، او لیکلې دی، چه د دعاء د شرطونو نه داده، چه د سړی روزی او خوراک څکاک حلال وی، او په آدابو کښې د ټولو نه اهم او مؤثر حضور قلب دې، حضرت امام بخاری رحمه الله په دې سلسله کښې یو باب دا هم قائم کړې دې، باب الوضوء عند الدعاء، او په هغې کښې ئې دا حدیث ذکر کړې دې، چه حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه فرمائي چه یوه ورځ جناب رسول الله (ﷺ) اوبۀ طلب کړې، او اودس ئې اوکړو، او بیا ئې دواړه لاسونه پورته کړل، او دا دعاء ئې اوغوختله، اللهم اغفر لعبید ابی عامر، دا عبید د ابوموسی اشعری رضی الله عنه د ترۀ نوم وو، په یو غزوه کښې په غشی لګیدلې وو، او دهغې نه وفات شو، د وفات په وخت کښې هغه خپل وراره حضرت ابوموسی اشعری رضی الله عنه ته اوفرمائیل چه زما سلام د حضور (ﷺ) په خدمت کښې عرض کړه، او زما د طرف نه د استغفار درخواست اوکړه (حاشیه بخاری) ددې نه معلومه شوه، چه د دعاء د آدابو نه یو ادب اودس کول هم دی، (د یو خاص دعاء دپاره اهتمام په وخت کښې)

زۀ هم د خپل ځان دپاره او د خپلو والدینو دپاره که هغه والدین نسبی وی، یا روحانی وی، او د ټولو اصولو او فروعو او د اقاربو او احبابو دپاره د حضور (ﷺ) په وسیلې سره مغفرت تامه او الفوز بالجنة والنجاة من النار طلب کوم، اللهم منی الدعاء و علیک الاجابة.

وهذا آخر کتاب الصلوة، و به قد تم الجزء الثانی من الدر المنضود علی سنن ابی داؤد.

فالحمد لله اولا و آخرا والصلوة والسلام علی نبیه سرمدا و دائما.

محمد عاقل عفا الله عنه

۲۰ جمادی الاولی سنه ۱٤۱۷ھ یوم الجمعه.

ترجمه بشتو: ۲۵ ذی الحجة سنه ۱٤۳۳ھ

[الحمد لله ! جلد سوم ختم شو.]

أنوار الهلالين

لفواید قیودات الجلالین

پښتو ترجمه جلد اول

جمالین شرح جلالین

شارح: محمد جمال بلندشهری
مدرس د دارالعلوم دیوبند

پښتو مترجم: مولانا شاه فیصل
فاضل دارالعلوم اسلامیه چارسده، امداد العلوم پیښور، وفاق المدارس

خصوصیات

① لغوی تحقیق، چې ددې لفظ په لغت کښې څه معنی ده.
② صرفی تحقیق مثلاً دا کلمه د څه صیغه ده وغیره
③ نحوی تحقیق مثلاً دا کلمه په ترکیب کښې څه واقع شوې ده.
④ بلاغی تحقیق چې په دې اضافي قید کښې کومه بلاغی نکته ده.
⑤ فقهي تحقیق چې په دې اضافي قید سره کومې مسئلې ته اشاره ده.
⑥ د قراءت تحقیق چې په دې مقام کښې دا قراءت څنګه دي.
⑦ تقدیرات راویستل چې دلته کوم لفظ مقدر پروت دې.
⑧ د تقدیری عبارا تو وجه او سبب بیانول.

خورونکی
فیصل کتب خانه مدینه مارکیټ
محله جنګی پیښور موبائل نمبر: ۰۳۱۵۹۵۹۵۷۱۷